سره د قندهاری پښتو

صحیح مُسلم شریف

پښتو

تاج

تاج کمپنی لمیټډ

مَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا

هاغه څه چه دالله رسولۍ تلسوله درکړي
هغه واخلئ او چه د څه نه مو منع کړي د هغي نه ځان وساتئ

صحیح مُسلِم شریف

مع

مختصر شرح نووی مترجم

جلد دویم

ترجمه:

مولانا حبیب الرحمن

ایم۔ اے اسلامیات، فاضل رابطه المدارس
(جامع تفهیم القرآن مردان)

ناشران:

تاج کمپني لمیټډ

لاهور۔ کراچي۔ راولپنډي۔ پشاور

فهرست د مضامینو د صحیح مسلم مترجم مع شرح نووی جلد دویم

جلد دویم

جلد دویم

جلد دویم

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

كِتَابُ الزَّكٰوةِ

د زکٰوة مسئلے

زکٰوة په لغت کښې ز یاتولو او پاکولو ته وئیلے شی او په زکٰوة شرعی سره چونکه د مال ترقی او برکت راځی، او ورکونکے ئے د بخل د ګناهونو او ذلت نه پاکیږی ځکه ورته زکٰوة وئیلے شی، او ځنے خلقو وئیلے دی چه اجر ئے سوا کیږی ځکه ورته زکٰوة وائی، او ځنو وئیلے دی چه زکٰوة د خپل ورکونکی تزکیه کوی معنی د هغهٔ د ریښتونی ایمان ګواهی کوی لکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی: الصَّدَقَةُ بُرۡهَانٌ یعنی صدقه د ایمان ددعوے دلیل دے، او قاضی عیاض د مازری نه نقل کړے دی ، چه زکٰوة په شرعه کښې د مواساتو دپاره دے، او مواسات نهٔ شی کیدے مګر په زیات شوی مال کښې، ددے دپاره د نصاب په مال کښې چه هغه زیاتیدونکے وی ، لکه په نقد مال یا په زمینداره یا چارپایانو کښې زکٰوة واجب دے او ددے قسم مالونو کښې په اجماع سره زکٰوة واجب دے، او ددے نه سوا په نورو مالونو کښې اختلاف دے، لکه د کور سامان وغیره کښې.

عَنۡ أَبِي سَعِيدٍ الۡخُدۡرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيۡسَ فِيمَا دُونَ خَمۡسَةِ أَوۡسُقٍ صَدَقَةٌ وَلَا فِيمَا دُونَ خَمۡسِ ذَوۡدٍ صَدَقَةٌ وَلَا فِيمَا دُونَ خَمۡسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه د پنځو ټوکرونه په کم کښې زکٰوة نشته او نهٔ د پنځو اوښانو نه په کم کښې زکٰوة شته او نهٔ د پنځو اوقیو نه په کم کښې زکٰوة شته[1].

عَنۡ عَمۡرِو بۡنِ يَحۡيَى بِهَٰذَا الۡإِسۡنَادِ مِثۡلَهُ

عمرو بن یحیٰی په دے اسناد سره په مثل ددے روایت کړے دے.

عَنۡ يَحۡيَى بۡنِ عُمَارَةَ قَالَ سَمِعۡتُ أَبَا سَعِيدٍ الۡخُدۡرِيَّ يَقُولُ سَمِعۡتُ رَسُولَ

یحیٰی د ابوسعید خدری نه هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه په پنځو ګوتو سره ئے اشاره کوله او دغه

[1]: دوسق، صاع او رطل تحقیق: نووی فرمائیلے دی چه وسق یعنی ټوکرئ شپیتهٔ دړی وی، او هره دړئ پنځهٔ رطله او دریمه حصه د رطل په بغدادی حساب سره او د بغداد په رطل کښې څو قولونه دی د ټولو نه مشهور دادے چه رطل بغدادی یو سل اته ویشت درهمه او څلورمه حصه د یو درهم ده. او ځنو یو سل دیرش درهمه وئیلے دی. غرض دا چه د وسق په دغه حساب سره یو زر شپږ سوه رطله شو او حافظ ترمذی رحمه الله فرمائیلے دی چه پیمانه د نبی علیه السلام پنځهٔ رطله او د رطل د دریمے حصے ده او پیمانه د کوفے والاو اته رطله ده. ختم شو کلام د ترمذی رحمه الله.

اللهِ ﷺ يَقُولُ وَأَشَارَ النَّبِيُّ ﷺ بِكَفِّهِ بِخَمْسِ أَصَابِعِهِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ

حدیث ئے فرمائیلو کوم چه پورته ذکر شو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ

ابوسعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی د پنځو وسقو نه په کم کښې زکوٰة واجب نۀ دے. او نۀ د پنځوؤ اوښانو نه په کم کښې او نۀ د پنځوؤ اوقیؤ نه په کم کښې.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسَاقٍ مِنْ تَمْرٍ وَلَا حَبٍّ صَدَقَةٌ

ابوسعید خدری وائی رسول الله ﷺ فرمائیلے دی په پنځو وسقونو (یعنی توکرو یا تهیلو) نه په کمو کهجورو کښې زکوٰة نشته دے او نۀ دد ے نه په کمه غله کښې زکوٰة شته.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لَيْسَ فِي حَبٍّ وَلَا تَمْرٍ صَدَقَةٌ حَتَّى يَبْلُغَ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ وَلَا فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ وَلَا فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ فرمائیلے دی په دانو او کهجوو کښې زکوٰة نشته. ترهغې پورې چه پنځؤ وسقو ته رسیدلے نۀ وی. او نۀ د پنځو اوښانو نه په کمو کښې او نۀ د پنځؤ اوقیو نه په کمو سپینو زرو کښې زکوٰة شته[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا الثَّوْرِيُّ وَمَعْمَرٌ

د عبد الرزاق نه روایت دے چه دوی ته ثوری او معمر د اسمٰعیل

د اوقیه او درهم تحقیق : د اردو کتاب مترجم وائی پنځۀ وسقه د اندازے مطابق پنځۀ مَنَه شو. او مَن د څلويښتو سيرو دے. او امام نووی رحمه الله فرمائيلے دی چه اوقیه شرعیه په اجماع د محدثینو ،فقهاؤ او د لغت د خاوندانو څلويښت درهمه ده. او دغه اوقیه د حجاز ده. او اصحاب شافعیؤ په اجماع سره وئیلے دی چه هر درهم شپږم وسق دے. او لس درهمه اوؤ مثقاله او مثقاله په زمانه د جاهلیت او اسلام کښې یوشان پاتے دے.

د اردو کتاب مترجم وائی چه د پنځؤ اوقیو دوه سوه درهمه وی. او د تولو په حساب سره دوه سوه درهمه دوه پنځوس نیمے تولے وی او دا نصاب د سپینو زرو دے چه دد ے نه په کم کښې زکوٰة واجب نۀ دے.

[1] : هره اوقیه د څلويښتو درهمو ده نو د پنځؤ اوقیو دوه سوه درهمه شول. او په دے زمانه یعنی په ۱۳۷۰ھ کښې د پنځو اویو دوه پنځوس روپۍ کلدارے کیږی. او دریشت رياله فرانسه په مکه کښې کیږی. او مغربی رياله دویشت نیم کیږی. او د سرو زرو نصاب شل دیناره دے. او دینار د درے نیمو روپو وی. او درهم د پنځوؤ اوقیو نه څۀ زیات وی. او وسق د شپیتو پیمانو وی. او پیمانه څلور مُده وی او مُد دوه رطله او رطل د نیم سیر او نیم پاؤ وی. او سیر د اتیاؤ کلدارو وی. دا د روپو تفصیل د مولانا اسحٰق صاحب رحمه الله نه دے. او باقی عبد الله سراج محدث د مکے زادها الله شرفًا و تعظیمًا خبر ورکړے دے مترجم ته مولوی محمّد صاحب سهانپوری مکی الله جل جلاله د رحمت اوکړی په هغوی باندے په وخت د قرائت د مسلم.

عَنْ إِسْمَعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ بِهٰذَا الإِسْنَادِ مِثْلَ حَدِيثِ ابْنِ مَهْدِيٍّ وَيَحْيَى بْنِ آدَمَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ بَدَلَ التَّمْرِ ثَمَرٍ

بن امیه نه په دے سند سره د ابن مهدی او د یحیٰی بن آدم د حدیث په شان حدیث بیان کړۀ خو په دے کښې د تمر په بدله کښې ثمر لفظ دے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ قَالَ لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ صَدَقَةٌ وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ مِنَ الإِبِلِ صَدَقَةٌ وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ صَدَقَةٌ

جابر بن عبدالله د رسول الله ﷺ نه روایت کوی چه پیغمبر ؑ اوفرمائیل چه د پنځو اوقیو سپینو زرو نه په کم کښې زکوٰة نشته او نۀ د پنځو اوښانو نه په کم کښې زکوٰة شته او نۀ د پنځو وسقو کهجورو نه په کم کښې زکوٰة شته [1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَذْكُرُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيمَا سَقَتِ الأَنْهَارُ وَالْغَيْمُ الْعُشُورُ وَفِيمَا سُقِيَ بِالسَّانِيَةِ نِصْفُ الْعُشْرِ

جابر د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه هغوی فرمائیل کوم چه نهرونو او باران سره اوبۀ کولے شی په هغے کښې لسمه حصه زکوٰة دے. او کوم چه د اوښ په ذریعه راویستلے شی (یعنی په ارټ اوبۀ کولے شی) په هغے کښې شلمه حصّه ده [2].

---

[1]: ورق په زیر د راء سره مهمله سپینو زروته وائی. مضروب وی خواه غیر مضروب. او د اهل لغتو په دے کښې اختلاف دے چه اصل ددے څۀ دے؟ بعضے ئے د ټولو سپینو زرو دپاره استعمالوی. او بعض ورق هغے ته وائی چه په کومے باندے سکه وی او په بے سکے سپینو زرو باندے مجازاً ونیلے کیدے شی. د اکثرو لغت د خاوندانو دغه قول دے. او د سرو زرو نصاب په یو صحیح روایت کښې نۀ دے راغلے مگر په څنو احادیثو کښې شل مثقاله روایت کړے شوے دے. اگر چه هغه روایتونه ضعیف دی مگر اجماع پرے شوے ده. او امت هغه روایتونه قبول کړے دی. او دا د ټولو اتفاق شوے دے چه په څناورو او سرو زرو سپینو زرو باندے چه د کومے پورے پور-کال نوی تیر شوے زکوٰة نۀ واجبیږی سو د هغه ځیزونو نۀ په کومو کښې چه عشر اخستے شی او ددے حدیث نه شافعی رحمه الله دلیل نیولے دے چه کوم سپین زر چه د دوۀ سو درهمونه کم وی په هغے کښې زکوٰة نشته. او د شافعی رحمه الله دا هم قول دے چه په دراهمو مغشوشه یعنی کوټه روپو کښې هم زکوٰة واجب نۀ دے. د کومے پورے چه د هغے نه دوه پنځوس نیمو تولو ته نۀ وی رسیدلی کوم چه د سپینو زرو نصاب دے او دا حدیث د هغوی مؤید دے. (نووی رحمه الله)

[2]: دا حکم د زراعتونو دے چه کۀ چرے هغه د باران یا نهر په اوبو سره پیدا کیږی چه په هغے کښې محنت کم وی نو لسمه حصه زکوٰة دے پکښې او کۀ ددے نه علاوه په محنت اوبۀ کولے شی نو شلمه حصّه زکوٰة دے. او په دے باندے اجماع ده. مگر په دے کښې اختلاف دے چه کوم ځیزونه د زمکے نه پیدا کیږی لکه میوے غلے او ګلونه وغیره په دے ټولو کښې زکوٰة دے. سوا د وښو او لرګونه یا په خاصو ځیزونو کښې دی. غرض دا چه د ابوحنیفه رحمه الله په نز په دے ټولو کښې دے او جمهورو په څنو کښې زکوٰة خاص کړے دے لکه غنم، وریشے، جوار، کهجورے او انګور. او د حضرت عمر رضی الله، حضرت علی رضی الله عنه او حضرت عائشے رضی الله عنها دا قول دے چه په شنو ترکارو کښې زکوٰة نشته. او د عشری زمکے (په ثاء سره) ددے هم حکم د باران سره یو شان شوے دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي عَبْدِهِ وَلَا فَرَسِهِ صَدَقَةٌ

ابوهریرهؓ وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د مسلمان په غلام او آس باندے زکوٰة نشته [1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ فِي الْعَبْدِ صَدَقَةٌ إِلَّا صَدَقَةُ الْفِطْرِ

ابوهریرهؓ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه په غلام کښې زکات نشته مگر صدقه فطر ده [2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمَرَ عَلَى الصَّدَقَةِ فَقِيلَ مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ وَالْعَبَّاسُ عَمُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فَقِيرًا فَأَغْنَاهُ اللهُ وَأَمَّا خَالِدٌ فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِدًا قَدِ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتَادَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَمَّا الْعَبَّاسُ فَهِيَ عَلَيَّ وَمِثْلُهَا مَعَهَا ثُمَّ قَالَ يَا عُمَرُ أَمَا

ابوهریرهؓ وائی رسول الله ﷺ حضرت عمرؓ د زکات وصولولو دپاره اولیږلو. هغه چه راغے نو اوئے وئیل چه ابن جمیل او خالد بن ولیدؓ او عباسؓ د زکوٰة نه منع وکړه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ابن جمیل خو دے بدله اخلی چه هغه محتاج وو او الله جل جلاله هغه غنی کړو او په خالد باندے تهٔ زیاتے کوے ځکه چه هغهٔ خو د زغرے او وسلے پورے د الله په لاره کښې ورکړے دی (یعنی زکات به څنګه نهٔ ورکوی) پاتے عباسؓ نو د هغهٔ زکات او دومره نور ځما ذمه دے. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل اے عمره! ترهٔ خو د پلار

یعنی په دے کښې هم عشر ورکول دی. او عشری زمکه هغه ده چه هغې ته دپاسه نه د اوبه کولو حاجت نهٔ وی بلکه د هغې اونے په خپلو زیلو سره د زمکے نه لوندوالے راکاږی او شنے او تازه وی.

[1]: نووی وئیلے دی چه دا حدیث اصل دے د هغه خبرے چه په ضروری څیزونو کښې زکوٰة نشته لکه چه اسونه او غلامان دی. او دغه قول دے د تولو علماؤ د سلفو نه د خلفو پورے مگر ابوحنیفه رحمه الله او د هغهٔ شیخ حماد بن سلیمان او امام زفر رحمهما الله په دے کښې هم زکوٰة ته واجب وئیلے دی. دوی وائی چه کله اسونه نر او ماده یو ځائے وی یا یواځے ماده وی نو په هر یو کښې یو دینار زکات ورکول دی کهٔ داسے نهٔ وی نو د هغے قیمت د اوکړی او په هر دوه سوه درهمو کښې د پنځهٔ درهمه ورکړی.

[2]: امام نووی رحمه الله وائی چه دا دے نه ثابته شوه چه مالك لره د غلام د طرفنه صدقه فطر ورکول لازم دی خواه کهٔ غلام د خپل خدمت دپاره وی یا د تجارت دپاره. د امام مالك او شافعی رحمهما الله او د جمهورو دغه مذهب دے. او اهلِ کوفۀ وئیلے دی چه د تجارت په غلامانو کښې صدقهٔ فطر واجب نهٔ ده. او داؤد ظاهری رحمه الله قول دے چه په مالك باندے د غلام صدقه واجب نهٔ ده. بلکه غلام به د خپلے مزدورئ نه د مالك په اجازت ادا کوی. او قاضی عیاض د ابی ثور نه هم دغه نقل کړے دے. د شافعی رحمه الله او د جمهورو مذهب د مکاتب دپاره دادے چه نهٔ په دهٔ باندے فطر واجب دے او نهٔ د دهٔ د طرفه په مالك باندے. او د عطاء، مالك او ابی ثور رحمهم الله په نز په سیّد باندے واجب ده. او ځنے د شافعی رحمه الله ملګری هم د دے قائل دی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلو ,دی چه مُکاتب غلام دے د کومے پورے چه په دهٔ باندے یو درهم باقی دے. او مُکاتب هغه غلام دے چه هغهٔ ته خپل مالك وئیلی وی چه دومره روپئ مثلاً دوه سوه درهمه او ګټه ماله راکړه نو تهٔ به آزاد ئے.

شَعَرْتَ أَنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ | برابر دے[1].

[1]: نوی رحمه الله فرمائیلي دي چه د هغوی د خالد رضی الله عنه زکات او غوښتو په دے خیال چه کیدے شی دا د تجارت دپاره دی او زکات په دے کښی واجب دے. او حضرت صلّی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هغه خو د جهاد دپاره دی لوتر لوسه نې لا کال هم نه دے شوے. او یا دا مراد دے چه هغه ټول مال د الله په لاره کښی ورکړے دے نو زکات واجبه به ولے نه ادا کوی او ځنو ددے حدیث نه دلیل نیولے دے چه د تجارت په مال کښی زکات واجب دے. او د جمهورو هم دغه مذهب دے چه د تجارت په مال باندے زکات واجبیږی او داؤد ظاهری وئیلے دی چه د تجارت په مال کښی زکات واجب نه دے. ختم شو قول د نووی رحمه الله او شوکانی رحمه الله په الدرر البهیه کښی لیکلي دی چه په مالونو د تجارت کښی زکات واجب نه دے او جناب مولنا مولوی صدیق حسن صاحب رحمه الله په روضۃ السندیه کښی ددے په شرح کښی لیکلی دی چه د رسول الله صلّی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښی اگر چه تجارت جاری وو مگر څه دلیل چه د تجارت په مال کښی زکات واجب کړی وراد نه شو. او هغه چه کوم ابوداؤد او دار قطنی او بزار د جابر بن سمره رضی الله نه روایت کړے دے چه رسول الله صلّی الله علیه وسلم مونږ ته حکم فرمائیلے دے چه مونږ د زکات ورکوؤ د هغه مالونو نه چه خرڅولو دپاره دی نو دے ته ابن حجر رحمه الله په تلخیص کښی وئیلے دی چه ددے په سندونو کښی جهالت دے. او کوم چه حاکم او دار قطنی د عمران نه مرفوعًا روایت کړے دے چه په اوبښ کښی صدقه ده. او په بزه کښی صدقه ده او بُز په زاء نقطه دار سره ضعیف دے. حافظ ابن حجر رحمه الله دۀ ته په فتح الباری کښی ضعیف وئیلے دی. او وئیلے دی چه ددۀ ټولے لارے ضعیفے دی. او یو سند ته ئے دد؟ وئیلے دی چه څۀ مضائقه نشته (دا وئیل هم د ضعیف کیدونه خالی نه دی) او په داسے رایتونو سره حجت نه قائمیږی. او فرضیت قطعی نه شی ثابتیدے علی الخصوص په داسے کارونو کښی چه ډیر په کثرت سره جاری وی. او ابن دقیق العید وئیلے دی چه په مستدرک کښی چه کوم دا حدیث راغلے دے نو په هغے کښی دا لفظ دے چه په "بز" کښی صدقه ده. او بر په بے نقطے راء سره د غنمو په معنو کښی دے. اووئیلے دی چه اگر چه دار قطنی دے له په نقطه دار زاء سره روایت کړے دے. مگر لارے ددۀ کمزورے دی. او حاکم اگر چه ددے حدیث د سندونو تصحیح کړے ده. لکه چه په محلی شرح منهاج کښی دی. مگر کله چه په دے کښی احتمال راغے چه هغه لفظ په راء سره دے یا زاء نقطه دار سره نو د استدلال قابل پاتے نه شو. او د حاکم په مقابله کښی حافظ ابن حجر رحمه الله ددے تضعیف کړے دے. او د ابوهریره رضی الله عنه نه پورته روایت دے چه حضرت صلّی الله علیه وسلم فرمائیلے دی " د مسلمان په غلام کښی او آس کښی صدقه نشته " ددے نه معلومه شوه چه په هیڅ حال کښی صدقه نشته. او ابن منذر اگر چه نقل کړے دے چه د تجارت مال کښی زکات واجبیدو باندے اجماع شوے ده. مگر دا نقل د هغوی صحیح نه دے. ځکه چه اول خو ظاهر دا چه کومه یوه فرقه د اسلام د محدثینو ده ددے د وجوب نه انکار کوی بیا اجماع ددے په واجبیدو باندے څنګه کیدے شی. او دا چه کوم د خالد رضی الله عنه په روایت سره استدلال کړے دے چه د هغۀ نه ئے د تجارت د مال په خیال زکات طلب کړو (یعنی څنګه چه اوس د نووی رحمه الله په کلام کښی ددے فائدے په ابتداء کښی تیر شو) ددے نه معلومه شوه چه د تجارت په مال کښی زکات واجب دے. دا استدلال هم صحیح نه دے ځکه چه اول خو دا ثابته نه وه چه هغه مال د تجارت و. دویم د رسول الله پخپله اوفرمائیل چه هغه د الله په لار کښی وقف کړے دے. او روستو د وقف نه زکات نشته. دریم دا هم کیدے شی چه حضرت صلّی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه کله هغه دومره سخی زړۀ والا دے چه ټول مال ئے د الله په لار کښی ورکړے دے نو زکات به څنګه اوساتی. غرض دا چه ددے نه د تجارت په مالونو کښی د زکات وجوب نۀ شی ثابتیدے. غرض دا چه د زکات په وجوب باندے د زکات په مال کښی څۀ دلیل قطعی موجود نه دے. او په اصل اشیاؤ کښی براءت دے د کومے پورے چه د وجوب دلیل ثابت نۀ وی او د اجماع حجت کیدل ددے په مینځ کښی پخپله اختلاف دے چه په حصول المامول او ارشاد الفحول کښی ذکر دے (ختم شو کلام د مولانا صدیق حسن صاحب.

بَاب زَكَاةِ الْفِطْرِ

عَنْ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَضَ زَكَاةَ الْفِطْرِ مِنْ رَمَضَانَ عَلَى النَّاسِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ عَلَى كُلِّ حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى مِنَ الْمُسْلِمِينَ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ فَرَضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ أَوْ حُرٍّ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ

عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ فَرَضَ النَّبِيُّ ﷺ صَدَقَةَ رَمَضَانَ عَلَى الْحُرِّ وَالْعَبْدِ وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ قَالَ فَعَدَلَ النَّاسُ بِهِ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ

باب : د صدقهٔ فطر بیان

عبد الله بن عمرؓ وائی رسول الله ﷺ صدقهٔ فطر د رمضان نه پس په خلقو باندے یو صاع د کهجورے یا یو صاع د وریشو فرض کړے دے. په هر آزاد او غلامه ښځه او سړی باندے چه مسلمان وی [1].

ابن عمرؓ وئیلے دی مقرر کړے دی رسول الله ﷺ صدقهٔ فطر یو صاع (پیمانه) د کهجورے یا یو صاع د وریشو په هر غلام آزاد وړوکی او لوئے باندے.

نافع وئیلے دی چه عبد الله بن عمرؓ وئیلے دی چه رسول الله ﷺ حکم اوکړو د صدقه فطر د یو صاع کهجورے یا د یو صاع د وریشو. ابن عمرؓ وئیلے دی چه بیا خلقو دا تجویز اوکړو چه دوه مُده غنم په قیمت کښ ددے برابریږی [2].

د اردو کتاب مترجم وائی چه غرض دادے چه د تجارت په مال کښ د زکات فرضیت قطعیٰ نهٔ دے. ځکه اکابرو ددے تصحیح کړے ده چه منکر ددے کافر نهٔ دے. او دا موافقت د جمهورو کهٔ څوك ادا کړی نو د ثواب نه خالی نهٔ دے. مګر امام ئے جبراً وصولولو ته نهٔ شی رسیدے چه اخستل د مسلمان د مال په ناحقه لازم را نهٔ شی.

[1] : صدقهٔ فطر د جمهورو سلفو او خلقو په نزد فرض دے ددے حدیث د ظاهر په وجه سره او ځنے اهلِ عراق او مالکی ملګرو او ځنے د شافعی رحمه الله ملګرو وئیلے دی چه سنت دے واجب نهٔ دے. او امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائیلے دی چه واجب دے فرض نهٔ دے ځکه چه د هغوئ په مذهب کښ په واجبو او فرضو کښ فرق دے. او قاضی عیاضؒ وئیلے دی چه هغه منسوخ شوے دے کله چه زکات فرض شو او دا غلطه ده او صواب دادے چه هغه فرض او واجب دے (کذا قال النووی فی شرح) او په دے حدیث کښ اشاره ده چه د واجبیدو وخت د هغے د رمضان نه پس دے. دغه رنګے د شافعی رحمه الله قول دے چه د رمضان په آخری ورځ چه کله نمر پریوځی او د اختر شپه شروع شی هله واجبیږی. او د ابوحنیفه رحمه الله په نزد د اختر د صبا د راختو نه پس واجبیږی.

[2] : د جمهورو مذهب دغه دے چه صدقه فطر هم ورکول پکار دی. لکه چه په دے پورته حدیث کښ بیان شو او دغه روایتونو نه ثابته شوه چه ځنګه په ښار والاؤ باندے ددے وجوب دے دغه شان د کلی والاو او د ځنګلو په خلقو هم دے. او دغه مذهب دے د مالك رحمه الله او ابوحنیفه رحمه الله او شافعی رحمه الله او احمد رحمه الله او جمهور علماء د عطاء ، زهری رحمه الله ربیعه او لیث قول دے چه سوا د ښهر والاؤ په نورو باندے نهٔ واجبیږی. او ددے روایتونو نه دا هم معلومیږی چه څوك د خپل اهل وعیال د نفقے نه د اختر په ورځ زیات طاقت لری په باندے صدقه واجب ده. او دغه قول د امام شافعی رحمه الله. او د ابو حنیفه رحمه الله قول دے چه په چا باندے زکات

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فَرَضَ زَكَاةَ الْفِطْرِ مِنْ رَمَضَانَ عَلَى كُلِّ نَفْسٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ أَوْ رَجُلٍ أَوْ امْرَأَةٍ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ

عبد الله بن عمرؓ وئیلي دي چه رسول الله ﷺ مقرر کړه صدقهٔ لره د رمضان نه پس په هر یو مسلمان باندے کۀ آزاد وي یا غلام، ښځه وي یا سړے، وړوکے وي یا لوئے یو صاع د کهجورے یا یو صاع د وربشو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يَقُولُ كُنَّا نُخْرِجُ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ

ابوسعید خدریؓ به ویل چه مونږ به صدقهٔ فطر ویستلو (یعني د رسول الله ﷺ په زمانه کښې) یو صاع د طعام (یعني د غنمو) یا یو صاع د وربشو یا یو صاع د کهجورو یا د پنیر یا د انګورو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كُنَّا نُخْرِجُ إِذْ كَانَ فِينَا رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ زَكَاةَ الْفِطْرِ عَنْ كُلِّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ حُرٍّ أَوْ مَمْلُوكٍ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ فَلَمْ نَزَلْ نُخْرِجُهُ حَتَّى قَدِمَ عَلَيْنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا فَكَلَّمَ النَّاسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَكَانَ فِيمَا كَلَّمَ بِهِ النَّاسَ أَنْ قَالَ إِنِّي أَرَى أَنَّ مُدَّيْنِ مِنْ سَمْرَاءِ الشَّامِ تَعْدِلُ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ

ابوسعید خدریؓ وائي چه مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې صدقهٔ فطر د هر وړوکي،لوئے ، آزاد او غلام د طرفنه یو صاع د غنمو یا یو صاع د پنیر یا یو صاع د وربشو یا د انګورو یا د کهجورو ویستله. بیا چه کله معاویه حج لره یا عمرے له راغے نو خلقو ته ئے په منبر باندے وعظ اوکړو او په هغے کښې ئے اووے چه زۀ پیژنم چه دوه مُده (یعني نیم صاع) د شام د سرو غنمو برابر وي د یو صاع د کهجورے (یعني په قیمت کښې) بیا خلقو هغے لره واخستو. او ابوسعید اووے چه زۀ به هغه همیشه اوباسم کوم چه

اخستل روا دي په هغه باندے صدقه واجب نۀ ده.او د امام مالك رحمه الله او دهغهٔ په ملګرو کښې اختلاف دے او دد ے روایتونو نه دا هم ثابته ده. چه په بي بي باندے هم صدقه واجب ده چه هغه خپله صدقه د خپل مال نه ادا کړي او دغه مذهب دے د حنفيؒ. او د امام مالك رحمه الله او شافعي رحمه الله او د جمهورو دا قول دے چه خاوند د د هغے د طرفنه ادا کوي. او د باب په رومبی روایت کښې ئے فرمائیلے دي چه کوم مسلمان وي نو معلومه شوه چه کافر ترے اووتو. غرض دا چه نفقه د هغوي واجب ده او پلار کافر نو د هغوي د طرف صدقهٔ فطر ورکول واجب نۀ دي. اګر چه نفقه د هغوي واجب ده. او دغه مذهب دے د امام مالك رحمه الله. شافعي رحمه الله او جمهور علماؤ او د کوفیانو. او دا هم معلومه شوه چه د هر سړي د طرفنه یو صاع واجب دے. بیا کچرے علاوه د غنو او اوچو انګورو نه وي نو په اجماع سره یو صاع واجب دے.او کۀ چرے غنم او انګور وي نو د مالك او شافعي رحمهما الله په نز بیا هم یو صاع واجب دے. او د ابوحنیفه رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نز نیم صاع واجب دے. او د جمهورو حجت د ابوسعید رضي الله روایت دے چه مخکښې راځي چه په هغې کښې یو صاع د انګورو ذکر دے. او دغه شان یو صاع د طعام او طعام د اهل حجازو په اصطلاح کښې غنمو ته وائي. او د صاع بیان دد ے نه په مخکښې باب کښې شوے دے.

فَأَخَذَ النَّاسُ بِذَلِكَ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ فَأَمَّا أَنَا فَلَا أَزَالُ أُخْرِجُهُ كَمَا كُنْتُ أُخْرِجُهُ أَبَدًا مَا عِشْتُ

هغه وېستلو (يعني يو صاع د كومې پورې چه ژوندے يم

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ كُنَّا نُخْرِجُ زَكَاةَ الْفِطْرِ مِنْ ثَلَاثَةِ أَصْنَافٍ الْأَقِطِ وَالتَّمْرِ وَالشَّعِيرِ

ابوسعيدؓ فرمائي چه مونږ به صدقهٔ فطر وركوله د پنير لو كهجورو او وريشو نه

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ مُعَاوِيَةَ لَمَّا جَعَلَ نِصْفَ الصَّاعِ مِنَ الْحِنْطَةِ عَدْلَ صَاعٍ مِنْ تَمْرٍ أَنْكَرَ ذَلِكَ أَبُو سَعِيدٍ وَقَالَ لَا أُخْرِجُ فِيهَا إِلَّا الَّذِي كُنْتُ أُخْرِجُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ

ابوسعيد خدريؓ وئيلې دي چه كله معاويهؓ نيم صاع د كهجورې مقرر كړو د يو صاع د غنمو برابر . نو ابوسعيدؓ انكار اوكړو اووې وئيل چه زۀ خو به هغه وركوم كوم چه به مې د رسول اللهﷺ په زمانه كښې وركولو. يو صاع د كهجورو يا يو صاع د انګورو يا يو صاع د وريشو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِزَكَاةِ الْفِطْرِ أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ

عبد الله بن عمرؓ وئيلې دي رسول اللهﷺ حكم كړے دے چه صدقهٔ فطر مانځۀ ته د تلو نه مخكښې ادا كوئ [1].

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ أَمَرَ بِإِخْرَاجِ زَكَاةِ الْفِطْرِ أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ

عبد الله بن عمرؓ وئيلې دي چه رسول اللهﷺ حكم كړے دے چه صدقه فطر دې ادا كړې شي مخكښې د وتلو د خلقو نه د مانځۀ دپاره.

بَابُ إِثْمِ مَانِعِ الزَّكَاةِ

باب :دزكوٰة دنۀ وركولو عذاب

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

ابوهريرهؓ وائي چه رسول اللهﷺ فرمائيلې دي څوك د سرو سپينو زرو مالك

---

[1]: په دغه پورته روايتونو باندې حنفيؤ اعتماد كړے دے چه نيم صاع د غنمو وركول د هغوي په وراندې پوره دي. د معاويه رضي الله عنه د تجويز مطابق. او جمهور ددې په خلاف كښې دي. او فرمائي چه دا قول د صحابي رضي الله عنه دے. او ابوسعيد رضي الله عنه وغيره چه د ډيرې مودې پورې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې پاتې وو د حضرت معاويه رضي الله ئې خلاف اوكړو. او د حضرت صلى الله عليه وسلم چه كوم معمول وو هغه ئې په سند كښې راوړو. بيا د حضرت معاويه رضي الله عنه قول لره څنګه ترجيح وركيدے شي د حضور صلى الله عليه وسلم د زمانې په معمول باندې. دويم دا چه حضرت معاويه رضي الله عنه اووې چه دا خما رائې ده. او دا د اصولو قاعده ده چه كله د صحابؤ رضي الله عنهم اختلاف وي نو د چا قول اولى كيدے نۀ شي. ددے وجې نه اوس حديث او قياس دواړو ته كتل پكارې دي نو د دواړو نه ثابته شوه چه د يو صاع شرط كيدل په حديث كښې خو راغلې دي او قياس هم غواړي چه د انګورو، كهجورو برابر غنم هم دي او مستحب وخت ئې هغه دے چه عيدګاه ته د تلو نه مخكښې ادا كړې شي. لكه څنګه چه په حديث كښې راغلې دي.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلَا فِضَّةٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحُ مِنْ نَارٍ فَأُحْمِيَ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَيُكْوَى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِينُهُ وَظَهْرُهُ كُلَّمَا بَرَدَتْ أُعِيدَتْ لَهُ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ فَالْإِبِلُ قَالَ وَلَا صَاحِبُ إِبِلٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا وَمِنْ حَقِّهَا حَلَبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ أَوْفَرَ مَا كَانَتْ لَا يَفْقِدُ مِنْهَا فَصِيلًا وَاحِدًا تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَعَضُّهُ بِأَفْوَاهِهَا كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ فَالْبَقَرُ وَالْغَنَمُ قَالَ وَلَا صَاحِبُ بَقَرٍ وَلَا غَنَمٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ لَا يَفْقِدُ مِنْهَا شَيْئًا لَيْسَ فِيهَا عَقْصَاءُ وَلَا جَلْحَاءُ وَلَا عَضْبَاءُ

داسې نشته چه زكات د هغې نه وركوي مگر هغه به د قيامت په ورځ داسې وي چه د هغهٔ د سرو سپينو نه به تختې جوړولې شي او هغه به د جهنم په اُور كښې گرمولې شي بيا به پرې د هغهٔ تندې او ډډې او ملا (يعنې شا) داغلې شي او كله چه هغه يخيږي نو بيا به گرمولې شي په هغه ورځ چه مقدار د هغې پنځوس زره كاله دې بيا به دهٔ ته دغه عذاب وي تردې پورې چه فيصله اوشي د نورو خلقو او د هغوي څهٔ لاز اوځي د جنت يا د دوزخ په طرف د هغوي نه تپوس اوكړې شو چه يا رسول الله ﷺ بيا به د اوښانو څهٔ حال وي؟ هغوي اُوفرمائيل چه كومو اوښانو والاد خپلو اوښانو حق نهٔ وركوي او ددهٔ په حق كښې يو دا هم دې چه پۀ ترې واخلي په كومه ورځ نو په هغوي دي اوبهٔ څكوي (د عربو معمول وو چه په دريمه څلورمه ورځ به ئې اوښان اوبوله بوتلل هلته به مسكينان جمع وو. د اوښانو مالك به پۀ لوشل او او په هغوي به ئې څكول حالانكه دا واجب نهٔ دي مگر هغه د اوښانو يو حق دا هم گڼرلې دې كله چه د قيامت ورځ شي نو هغه به په يوه برابر زمكه پرمخې څملولې شي يو هغه اوښ به بنۀ څورب وي كړې راوستې شي چه د هغهٔ نه به څهٔ بچې هم باقي پاتې نهٔ وي او دهٔ لره په خپلو نوكونو سره غوبل كړي او په خائې به ئې اوچيچي. او چه كله ئې دغه يو څناور داسې غوبل كړي نو هغه بهلاز شي بل به راشي او دا عذاب به ورته تول پنځوس زره كاله ورځ وركيدې شي تردې پورې چه د بنديگانو فيصله اوشي او ددهٔ څهٔ لاز اوځي د جنت يا د دوزخ په طرف بيائې عرض اوكړو چه اې د الله رسوله ﷺ! د غواؤ او بزو به څهٔ حال وي؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل چه څوك د غوا او بزې خاوند داسې نشته چه هغه د هغې زكات نهٔ وركوي مگر كله چه د قيامت ورځ شي نو هغه به پرمخې څملولې شي په اواره زمكه باندې. او د هغهٔ غواگانې او بزې به تولې

تَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا وَتَطَؤُهُ بِأَظْلاَفِهَا كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولاَهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيُرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَالْخَيْلُ قَالَ الْخَيْلُ ثَلاَثَةٌ هِيَ لِرَجُلٍ وِزْرٌ وَهِيَ لِرَجُلٍ سِتْرٌ وَهِيَ لِرَجُلٍ أَجْرٌ فَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ وِزْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا رِيَاءً وَفَخْرًا وَنِوَاءً عَلَى أَهْلِ الإِسْلاَمِ فَهِيَ لَهُ وِزْرٌ وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ سِتْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَمْ يَنْسَ حَقَّ اللَّهِ فِي ظُهُورِهَا وَلاَ رِقَابِهَا فَهِيَ لَهُ سِتْرٌ وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ أَجْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لأَهْلِ الإِسْلاَمِ فِي مَرْجٍ وَرَوْضَةٍ فَمَا أَكَلَتْ مِنْ ذَلِكَ الْمَرْجِ أَوِ الرَّوْضَةِ مِنْ شَيْءٍ إِلاَّ كُتِبَ لَهُ عَدَدَ مَا أَكَلَتْ حَسَنَاتٌ وَكُتِبَ لَهُ عَدَدَ أَرْوَاثِهَا وَأَبْوَالِهَا حَسَنَاتٌ وَلاَ تَقْطَعُ طِوَلَهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ إِلاَّ كَتَبَ اللَّهُ لَهُ عَدَدَ آثَارِهَا وَأَرْوَاثِهَا حَسَنَاتٍ وَلاَ مَرَّ بِهَا صَاحِبُهَا عَلَى نَهْرٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ وَلاَ يُرِيدُ أَنْ يَسْقِيَهَا إِلاَّ كَتَبَ اللَّهُ لَهُ عَدَدَ مَا شَرِبَتْ حَسَنَاتٍ قِيلَ يَا رَسُولَ

راوستے شي یوه به پکښې باقي پاتې نهٔ شي او داسې به وي چه نهٔ به ئې ښکر کاږهٔ وي ښکرو وي او نهٔ به ئې ښکر مات وي او رابه شي او په خپلو ښکرونو او نوکونو سره به ئې اووهي او غوبل به ئې کړي کله چه دغه رومبي ئې ښهٔ غوبل کړي نو د هغې نه روستو به نور راشي. او دغه عذاب به وي دهٔ له په دغه پنځوس زره کاله ورځ باندے تردے پورے چه فیصله اوشي د بندیګانو او ددهٔ ځهٔ لار اوځي د جنت یا د دوزخ په طرف بیائے عرض اوکړو چه اے د الله جل جلاله رسوله! اسونه حضرت ﷺ اوفرمائیل اسونه په درے قسمه دي. یو خپل مالك باندے بار یعني وبال دے. دویم د خپل مالك عیب پټونکے دے. دریم د خپل مالك د ثواب سامان دے. اوس د هغهٔ د وبال والا آس حال واوره. چه هغه تړلے دے خلقو ته د ښودنې اولوییٔ دپاره. او د مسلمانانو سره دشمنیٔ دپاره نو دا د خپل مالك په حق کښې وبال دے. او کوم چه عیب پټونکے دے هغه آس دے چه هغهٔ ئې د الله جل جلاله په لاره کښې تړلے دے (یعني د جهاد دپاره) او د هغهٔ په سورلیٔ کښې د الله حق نهٔ هیروي. او نهٔ د هغهٔ په خوراك کښې کمے کوي نو دغه آس ددهٔ عیب پټونکے دے. او کوم چه د ثواب سامان دے دهغې به ځهٔ وائے هغه آس دے چه هغه د اهل اسلامو د مدد او حمایت دپاره د الله په لار کښې چرته په باغ یا چراګاه کښې ساتلے شوے دے. بیا چه دهٔ ځهٔ اوخوړل ددغه چراګاه یا باغ نه د هغې د شمار په برابر نیکئ ددهٔ د مالك دپاره اولیکلے شوے. او د هغې د لویو بولو او وړو بولو پورے په نیکو کښې اولیکلے شو. او کله چه هغه اوږده رسئ اوشلوی او په یو یا دوه ختانو باندے اوخیژي نو د هغهٔ د قدمونو او بولو له په شمار نیکئ لیکلے کیږي. او کله چه د هغهٔ مالك هغهٔ له په یوه نالیٔ باندے تیروي او هغه د هغې نه اُوبهٔ اوڅکي اګر کهٔ د مالك پرے د څکلو اراده هم نهٔ وي بیا

اللهِ فَالْحُمُرُ قَالَ مَا أُنْزِلَ عَلَيَّ فِي الْحُمُرِ شَيْءٌ إِلاَّ هٰذِهِ الآيَةَ الْفَاذَّةَ الْجَامِعَةَ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ

هم ددۀ دپاره د هغې د قطرو برابر نيكي ليكلې كيږي كومې چه ددۀ اَس څكلې دي (دا ثواب خو به بې ارادې اوبو څكلو كښې دې او كله چه ئې د اوبو څكلو په اراده سره بوځي نو ولې څۀ ثواب به نۀ مومي) بيا عرض او كړو چه اے د الله رسوله د خر په باره كښې راته اوفرمايه حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل د خرو په باره كښې په ما څۀ حكم نۀ دے نازل شوے. سوا ددې ايت چه بې مثل او جمع كونكے دے (فَمَنْ يَعْمَلْ د آخره پورې يعني چا چه د زرې برابر نيكي اوكړه هغه به هغې لره (د قيامت په ورځ) اووينى او چا چه د زرې برابر بدي اوكړه هغه به هغې لره اووينى [1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ صَاحِبِ كَنْزٍ لاَ يُؤَدِّي زَكَاتَهُ إِلاَّ أُحْمِيَ عَلَيْهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَيُجْعَلُ صَفَائِحَ فَيُكْوَى بِهَا جَنْبَاهُ وَجَبِينُهُ حَتَّى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَ عِبَادِهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ثُمَّ يُرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ

د ابوهريره ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي يو د خزانې خاوند داسې نشته چه هغه زكات نۀ وركوى مگر گرمه به كړے شي د جهنم په اُور كښې ددۀ هغه خزانه او تختې به ترې جوړولې شي. او بيا به پرې ددۀ دواړه ډډې او تندى داغلې كيږي تر هغې پورې چه الله پاك د خپلو بنديگانو څۀ فيصله اوكړي په هغه لويه ورځ چه اندازه ئې پنځوس زره كاله ده. بيا به ددۀ لار اوځي جنت ته د تلو يا دوزخ ته د تلو. او كوم اوښ والا چه داسې وي چه د هغۀ زكات نۀ وركوى نو هغه به په

[1] ددې حديث نه څو فائدې معلومې شوې. اول دا چه سزا د جنس گناه نه ده. دويم دا چه څوك د څۀ نعمت خداوندي حق ادا نۀ كړي هغه باعث وبال دے. دريم واجبيدل د زكات په غوايانو او غوگانو كښې. او ددې د وجوب دا روايت په ټولو روايتونو كښې زيات صحيح دے. څلورم دليل نيولې دے حنفيانو ددې حديث نه چه په اسونو كښې هم زكات واجب دے. او مذهب د هغوى دا دے چه كۀ ټول اسونه نران وى نو په هغې كښې زكات شته. او د امام مالك ؒ په مذهب كښې اختيار دے كۀ غواړي نو د هر يو اَس په بدله كښې يو دينار وركړي يا د د ټولو قسمت يو ځائې كړے او څلويښتمه حصه د پكښې وركړي. او د امام مالك او شافعي رحمهما الله او د جمهورو علماؤ په نزد په اسونو كښې زكات نشته. د رومبي حديث په موافق چه حضور ﷺ اوفرمائيل چه په مسلمان باندې د هغۀ د اَس زكات نشته دے. اوكوم حق چه په دې حديث كښې ذكر دے ددې نه د هغه خبر اخستل مراد دى او يو دوست كۀ او غواړي وركولې. پنځم فضيلت د مجاهد د اَس دے چه د يو زاهد، عابد، په گوټ كښې ناست، چله اوځكونكى سرى نه د هغۀ د اَس په زر چنده غوره دے. شپږم دليل نيولې دے په دې حديث سره چه رسول الله ﷺ له اجتهاد روا نۀ دے. هغۀ به هر حكم په وحى سره فرمائيلو ځكه د خرو په باره كښې هغوى اوفرمائيل چه په ما باندې څۀ وحى نۀ ده شوے مگر د جمهورو مذهب دا دے چه هغوى ته اجتهاد جائز وو. مگر د خرو په باره كښې دهغۀ اجتهاد دغه وو چه په دې كښې زكات فرض نۀ كړے شي.

وَإِمَّا إِلَى النَّارِ وَمَا مِنْ صَاحِبِ إِبِلٍ لاَ يُؤَدِّي زَكَاتَهَا إِلاَّ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ كَأَوْفَرِ مَا كَانَتْ تَسْتَنُّ عَلَيْهِ كُلَّمَا مَضَى عَلَيْهِ أُخْرَاهَا رُدَّتْ عَلَيْهِ أُولاَهَا حَتَّى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَ عِبَادِهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ثُمَّ يَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ وَمَا مِنْ صَاحِبِ غَنَمٍ لاَ يُؤَدِّي زَكَاتَهَا إِلاَّ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ كَأَوْفَرِ مَا كَانَتْ فَتَطَؤُهُ بِأَظْلاَفِهَا وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا لَيْسَ فِيهَا عَقْصَاءُ وَلاَ جَلْحَاءُ كُلَّمَا مَضَى عَلَيْهِ أُخْرَاهَا رُدَّتْ عَلَيْهِ أُولاَهَا حَتَّى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَ عِبَادِهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ ثُمَّ يَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ قَالَ سُهَيْلٌ فَلاَ أَدْرِي أَذَكَرَ الْبَقَرَ أَمْ لاَ قَالُوا فَالْخَيْلُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الْخَيْلُ فِي نَوَاصِيهَا أَوْ قَالَ الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا قَالَ سُهَيْلٌ أَنَا أَشُكُّ الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الْخَيْلُ ثَلاَثَةٌ فَهِيَ لِرَجُلٍ أَجْرٌ وَلِرَجُلٍ سِتْرٌ وَلِرَجُلٍ وِزْرٌ فَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ أَجْرٌ فَالرَّجُلُ يَتَّخِذُهَا فِي سَبِيلِ اللهِ وَيُعِدُّهَا

يوه اواره زمكه باندے څملولے شي او هغه اوښ به ښۀ څور راوستلے شي لكه څنګه چه په دنيا كښ څورب وو او هغه به د غوبل كړي. او كله چه په دوى كښ د روستني نمبر تير شي نو رومبى به پرے بيا واپس راشي (دغه صحيح دے) او په پورته روا كښ راغلے دي چه كله په دوى كښ رومبے د غوبل كولو نه لاړ ش روستے به راشي دا د راوى غلطي ده. څكه چه په دے كښ معن صحيح كيږي (نووى) تر دے پورې چه فيصله اوكړي الله پاك په لويه ورځ چه اندازه ئے پنځوس زره كاله ده. بيا به ده ته لار اوخى جن د تلو يا دوزخ ته او كوم بزو والا چه د بزو زكات نۀ وركوى نو هغ پرمخے څملولے شي په يوه اواره زمكه او هغه (بزه) به د دنيا پشان څ راستے شي او دے به په پنجو سره غوبل كړي او په ښكرونو ب اووهي نۀ به ئے ښكر كاږۀ وى او نۀ به بے ښكرو وى. كله چه پ باندے د روستنو وار تير شي نو رومبى به پرے بيا راشي. دا عذا به وركولے شي تر هغے پورې چه الله پاك د خپلو بنديګانو فيص اوكړي په هغه ورځ چه د هغے اندازه پنځوس زره كاله ستاسو د ش په حساب سره. بيا به د هغۀ څۀ لار اوځى د جنت په طرف يا د دوزخ طرف. سهيل وائى نۀ پوهيږم چه د غواګانو ذكر هم هغۀ ﷺ اوكړو يا نه بيا ئے عرض اوكړو يا رسول الله او د اسونو به څۀ حال وى؟ هغو اوفرمائيل د اسونو په تندى كښ غوره والے دے يائے اوفرمائيل چه اسونو په تندے كښ غوره والے تړلے دے. سهيل وائى ماته په د كښ شك دى چه هغوى اوفرمائيل چه په دوى كښ د قيامت د ور پورے غوره والے دے (يعنى د جهاد لوئے سامان اس دے او د دنيا دنيا غوره والے په جهاد كښ دے) بيائے اوفرمائيل اسونه په درے

لَهُ فَلَا تُغَيِّبُ شَيْئًا فِي بُطُونِهَا إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ أَجْرًا وَلَوْ رَعَاهَا فِي مَرْجٍ مَا أَكَلَتْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ بِهَا أَجْرًا وَلَوْ سَقَاهَا مِنْ نَهْرٍ كَانَ لَهُ بِكُلِّ قَطْرَةٍ تُغَيِّبُهَا فِي بُطُونِهَا أَجْرٌ حَتَّى ذَكَرَ الْأَجْرَ فِي أَبْوَالِهَا وَأَرْوَاثِهَا وَلَوِ اسْتَنَّتْ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ كُتِبَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ تَخْطُوهَا أَجْرٌ وَأَمَّا الَّذِي هِيَ لَهُ سِتْرٌ فَالرَّجُلُ يَتَّخِذُهَا تَكَرُّمًا وَتَجَمُّلًا وَلَا يَنْسَى حَقَّ ظُهُورِهَا وَبُطُونِهَا فِي عُسْرِهَا وَيُسْرِهَا وَأَمَّا الَّذِي عَلَيْهِ وِزْرٌ فَالَّذِي يَتَّخِذُهَا أَشَرًا وَبَطَرًا وَبَذَخًا وَرِيَاءَ النَّاسِ فَذَاكَ الَّذِي هِيَ عَلَيْهِ وِزْرٌ قَالُوا فَالْحُمُرُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مَا أَنْزَلَ اللهُ عَلَيَّ فِيهَا شَيْئًا إِلَّا هَذِهِ الْآيَةَ الْجَامِعَةَ الْفَاذَّةَ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ

قسمه دی یو خو د بنده دپاره ثواب دے. دویم پرده ده (د هغهٔ عیبونو) او دریم وبال او عذاب دے. کوم چه ثواب دے نو دغه د هغه بنده دپاره دے چه آس ئے ترلے وی د الله تعالی په لاړ کښې او تیار ئے ساتی (یعنی د جهاد دپاره) نو هغه چه څهٔ غیب کوی په خپله گیډه کښې الله ددهٔ د مالك دپاره ثواب لیکی (یعنی د هغهٔ دانه گیاه تول د ثواب موجب دی) او کهٔ چرے هغهٔ لره په یو چراگاه کښې اوسروی نو کوم څهٔ چه هغه اوخوړل الله ئے دهٔ لره په ثواب کښې اولیکی. یا د کوم نهر نه چه پرے اُوبهٔ اوڅکوی نو د هغے اُوبو کومے چه دهٔ څکلی دی یو ثواب دے د هغے په هره قطره باندے تردے پورے چه د هغهٔ په متیازو او گندگئ کښې ئے د ثواب ذکر اوفرمائیلو او کهٔ په یو یا دوه ختانو توپ اووهی نو په هر قدم باندے کوم چه دهٔ اخستے وی یو ثواب اولیکلے شی. او کوم چه د مالك دپاره پرده ده هغه آس دے چه هغه د احسان کولو او د خپلے خوبئ دپاره ترلے وی او د هغے د سورلئ حق نهٔ هیروی (یعنی د دوستانو په حق کښې ئے ورکوی او کله کله پرے غریبانان سوره وی) او نهٔ د هغے د گیډے (یعنی د اوبو دانو مصالحے خبر ئے اخلی) او ددهٔ په تکلیف او آرام کښې چه کوم وبال او عذاب دے هغه ددهٔ هغه آس دے چه دهٔ اوغورځولو. سرکشئ او شرارت دپاره او خلقو ته د ښودنے دپاره ترلے وی نو هغه په دهٔ باندے وبال دے. بیائے عرض اوکړو چه رسول الله ﷺ د خر حال اوفرمائی. حضرت ﷺ اوفرمائیل الله په ما باندے ددے په باره کښې څهٔ حکم نهٔ دے نازل کړے. مگر دا ایت جامع دے مثل فَمَنْ يَعْمَلْ الآية

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ قَالَ إِذَا لَمْ يُؤَدِّ الْمَرْءُ حَقَّ اللهِ أَوِ الصَّدَقَةَ فِي إِبِلِهِ وَسَاقَ

د ابوهریرهؓ نه هم دغه روایت مروی دے چه سهیل د خپل پکار نه پورته روایت کړو.

الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ سُهَيْلٍ عَنْ أَبِيهِ
عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الأَنْصَارِيَّ يَقُولُ
سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ صَاحِبِ إِبِلٍ لاَ
يَفْعَلُ فِيهَا حَقَّهَا إِلاَّ جَاءَتْ يَوْمَ
الْقِيَامَةِ أَكْثَرَ مَا كَانَتْ قَطُّ وَقَعَدَ لَهَا
بِقَاعٍ قَرْقَرٍ تَسْتَنُّ عَلَيْهِ بِقَوَائِمِهَا
وَأَخْفَافِهَا وَلاَ صَاحِبِ بَقَرٍ لاَ يَفْعَلُ
فِيهَا حَقَّهَا إِلاَّ جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَكْثَرَ
مَا كَانَتْ وَقَعَدَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ تَنْطَحُهُ
بِقُرُونِهَا وَتَطَؤُهُ بِقَوَائِمِهَا وَلاَ صَاحِبِ
غَنَمٍ لاَ يَفْعَلُ فِيهَا حَقَّهَا إِلاَّ جَاءَتْ يَوْمَ
الْقِيَامَةِ أَكْثَرَ مَا كَانَتْ وَقَعَدَ لَهَا بِقَاعٍ
قَرْقَرٍ تَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا وَتَطَؤُهُ بِأَظْلاَفِهَا
لَيْسَ فِيهَا جَمَّاءُ وَلاَ مُنْكَسِرٌ قَرْنُهَا وَلاَ
صَاحِبِ كَنْزٍ لاَ يَفْعَلُ فِيهِ حَقَّهُ إِلاَّ جَاءَ
كَنْزُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ يَتْبَعُهُ
فَاتِحًا فَاهُ فَإِذَا أَتَاهُ فَرَّ مِنْهُ فَيُنَادِيهِ خُذْ
كَنْزَكَ الَّذِي خَبَأْتَهُ فَأَنَا عَنْهُ غَنِيٌّ فَإِذَا
رَأَى أَنْ لاَ بُدَّ مِنْهُ سَلَكَ يَدَهُ فِي فِيهِ
فَيَقْضَمُهَا قَضْمَ الْفَحْلِ قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ
سَمِعْتُ عُبَيْدَ بْنَ عُمَيْرٍ يَقُولُ هَذَا
الْقَوْلَ ثُمَّ سَأَلْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ عَنْ

جابرؓ وائي چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چه كوم اوښ والا حق ادا نۀ كړي هغه به د قيامت په ورځ راوستے شي او هغه اوښ به هم د ډيرو نه ډير شوے راوستے شي او مالك د هغۀ به په پرمخے په زمكه باندے څملولے شي. او هغه به دۀ لره په خپلو خپو او نوكونو سره راكښي. او كوم غوا والاچه د هغے حق نۀ ادا كوي هغه به د قيامت په ورځ د ډيرونه ډيره راسوتلے شي او دۀ لره به اوغورځوی په زمكه پر مخے به ئے په ښكرو سره وهي او په خپو سره به ئے غوبل كوي. او كوم بزے والاچه د هغے حق نۀ ادا كوي هغه به هم د قيامت په ورځ د ډيرونه ډيره شوے راوستے شي او دۀ لره به پر مخے په زمكه باندے اوغورځوي او په خپلو ښكرو به ئے وهي او په خپو سره به ئے غوبل كوي. او په هغوی كښې به نۀ بے ښكرو وی او نۀ به پكښې مات ښكر والاوی. او كوم خزانے والاچه داسے وی چه د هغے حق نۀ ادا كوی هغه (خزانه) به د قيامت په ورځ د يو گنجي مار په شكل كښې راشي (يعنی چه د هغۀ به د زهرو د تيزئ په وجه د سر ويښتۀ غورځيدلی وی او هغه به په خپل طاقت باندے دومره اوډريدے شي چه د سور د سره پوری به د هغۀ خله رسي) او ددۀ نه روستو به لگيدلے وی خلۀ وازه كړے هر كله چه دۀ لره وهي چه واخله خپله خزانه كومه چه تا پټه ايخودے وه چه ما ته د هغے حاجت نشته دے (كيدے شي چه دا آواز د الله تعالى د طرفه وی) كله چه دی اوگوری چه اوس دا ما نۀ پريږدی نو د هغے په خلۀ كښې به لاس وركړي او هغه به ورله لاس داسی اوجوئی لكه څنگه چه اوښ جوول كوی. ابو الزبير وائي مونږ د عبيد بن عمير نه اوريدلے دی چه دغه خبره ئے كوله بيا مونږ د جابر نه تپوس اوكړو نو هغۀ راته هم د

ذٰلِكَ فَقَالَ مِثْلَ قَوْلِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ وَ قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ سَمِعْتُ عُبَيْدَ بْنَ عُمَيْرٍ يَقُولُ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ مَا حَقُّ الْإِبِلِ قَالَ حَلَبُهَا عَلَى الْمَاءِ وَإِعَارَةُ دَلْوِهَا وَإِعَارَةُ فَحْلِهَا وَمَنِيحَتُهَا وَحَمْلٌ عَلَيْهَا فِي سَبِيلِ اللهِ

عبید بن عمیر په شان اووے او ابوالزبیر وائی ما د عبید بن عمیر نه اوریدلے دی چه یو سړی عرض اوکړو چه اے د الله رسوله د اوبښ څۀ حق دے؟ حضرت اوفرمائیل چه دۀ لره په اوبو باندے یې اخستل (چه په دے کښې څناورو ته آرام وی او فقیرانو ته په کښې څۀ یې هم میلاؤ شی) او د هغې ډهول غوښتونکی ته ورکول (یعنی د اوبو څکلو) او د هغې نر لره د نطفے اخستلو دپاره غوښتونکی ته ورکول او هغه د الله په لار کښې د سورلۍ دپاره ورکول (یعنی په جهاد کښې)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ صَاحِبِ إِبِلٍ وَلَا بَقَرٍ وَلَا غَنَمٍ لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا إِلَّا أُقْعِدَ لَهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقَاعٍ قَرْقَرٍ تَطَؤُهُ ذَاتُ الظِّلْفِ بِظِلْفِهَا وَتَنْطَحُهُ ذَاتُ الْقَرْنِ بِقَرْنِهَا لَيْسَ فِيهَا يَوْمَئِذٍ جَمَّاءُ وَلَا مَكْسُورَةُ الْقَرْنِ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا حَقُّهَا قَالَ إِطْرَاقُ فَحْلِهَا وَإِعَارَةُ دَلْوِهَا وَمَنِيحَتُهَا وَحَلَبُهَا عَلَى الْمَاءِ وَحَمْلٌ عَلَيْهَا فِي سَبِيلِ اللهِ وَلَا مِنْ صَاحِبِ مَالٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاتَهُ إِلَّا تَحَوَّلَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ يَتْبَعُ صَاحِبَهُ حَيْثُمَا ذَهَبَ وَهُوَ يَفِرُّ مِنْهُ وَيُقَالُ هٰذَا مَالُكَ الَّذِي كُنْتَ تَبْخَلُ بِهِ فَإِذَا رَأَى أَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْهُ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي فِيهِ فَجَعَلَ يَقْضَمُهَا كَمَا يَقْضَمُ الْفَحْلُ

جابر بن عبد الله وئیلے دی چه نبی فرمائیلے دی کوم اوبښ او غوا او بزے والا چه د هغې زکات نۀ ورکوی هغه به د قیامت په ورځ په اواره زمکه باندے کیښنولے شی او نوکونو والا څناور به په نوکونو او ښکرو والا په خپلو ښکرو هغه برباد کړی. په دغه ورځ به یو څناور بے ښکرو نۀ وی او نۀ به په کښې د چا ښکر مات وی. مونږ عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! څۀ حق دے د هغوی؟ حضرت اوفرمائیل د هغې نارینه لره د نطفے دپاره ورکول او د هغې د ابو لوښے غوښتونکی ته ورکول او د اوبو څکلو په وخت هغوی لره لوشل (اوښانو لره په څلورمه پنځمه ورځ د اوبو څکلو دپاره راولی او هلته فقیران هم جمع کیږی بیا هلته لوشلو کښې څناور ته هم آرام وی او فقیرانو ته هم یې میلاویږی) او د الله په لار کښې د سورلۍ او بوجه دپاره ورکول او کوم د مال خاوند چه د خپل مال نه زکات نۀ ورکوی د هغې مال نه به د قیامت په ورځ یو ګنجے ښامار جوړ شی او په خپل مالك پسے به منډے وهی. کوم طرفته چه هغه تښتی دے به ورپسے منډے وهی. بیا به ورته اووئیلے شی چه دا ستا هغه مال دے چه تا به پرے بخل کوؤ (یعنی زکات صدقه فطر وغیره به د نۀ ادا کول) بیا هر کله چه

دی لووینی چه اوس د ے ښاماں نه ئه خلاصیږم نو د هغه په خله کښ به لاس ورلومندی هغه لژدها یعنی ښامار به ورله لاس دلسے لوړونی لکه چه څنګه اوښ ژول کوی.

بَابُ إِرْضَاءِ السُّعَاةِ

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ جَاءَ نَاسٌ مِنَ الْأَعْرَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا إِنَّ نَاسًا مِنَ الْمُصَدِّقِينَ يَأْتُونَنَا فَيَظْلِمُونَنَا قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ قَالَ جَرِيرٌ مَا صَدَرَ عَنِّي مُصَدِّقٌ مُنْذُ سَمِعْتُ هٰذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا وَهُوَ عَنِّي رَاضٍ

باب : د زکوٰة د تحصیلدانو د راضی کولو بیان

جریر وئیلے دی چه خلق د باندے اوسیدونکی راغلل د حضور ﷺ په خدمت کښ او عرض ئے اوکړو. چه ځنې تحصیلداران چه زمونږ خواله راځی نو په مونږ باندے زیاتے کوی (یعنی څناور د ښۀ نه ښۀ اخلی حالانکه متوسط اخستل پکار دی) جناب رسول الله ﷺ ورته وفرمائیل کۀ خپل زکوٰة غونډه و نکی خوشحاله کړئ. جریر وائی د کله نه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی نو یو تحصیلدار خما د خوانه نۀ دے تلے مګر خوشحاله[١].

بَابُ تَغْلِيظِ عُقُوبَةِ مَنْ لَا يُؤَدِّي الزَّكَاةَ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ فَلَمَّا رَآنِي قَالَ هُمُ الْأَخْسَرُونَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ قَالَ فَجِئْتُ حَتَّى جَلَسْتُ فَلَمْ أَتَقَارَّ أَنْ قُمْتُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي مَنْ هُمْ قَالَ هُمُ الْأَكْثَرُونَ أَمْوَالًا إِلَّا مَنْ قَالَ هٰكَذَا

باب : زکات نه ورکونکو ته د سختے سزا ورکولو بیان

ابوذر وئیلے دی چه زۀ د نبی ﷺ خواته اورسدم او هغوی د کعبے شریفے په سوری ته ناست وو کله چه ئے زۀ اولیدم نو اوئې فرمائیل د رب په کعبه مے د ے قسم وی دغه نقصان والا دی. بیا زۀ د هغوی خواله راغلم او کیناستم او څۀ ساعت مے نۀ وو شوے چه اودریدم او عرض مے اوکړو یا رسول الله خما پلار او مور د ستا نه قربان شی هغه څوک دی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه ډیر مال والا دی مګر چا چه خرچ کړو دلته او هلته او کوم ځائے چه مناسب وی. او ورکړو ئے د

---

[١] : یعنی د هغوی سره په نرمئ خبرے کوئ تکرار ورسره مۀ کوئ. کوم چه حق د زکات د ے هغه په خوشحالئ ادا کوئ او دد ے زیات والی نه د تحصیلدار هغه زیات والے مراد د ے چه په هغے سره فاسق نۀ وی ګنی نو د فسق په صورت کښ د عزل یعنی د عهد ے نه د محرومه کولو قابل د ے. او په دغه صورت کښ د شرعی حد نه زیات هغۀ ته ورکول روا نۀ دی.

وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا مِنْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ وَعَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ وَقَلِيلٌ مَا هُمْ مَا مِنْ صَاحِبِ إِبِلٍ وَلَا بَقَرٍ وَلَا غَنَمٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاتَهَا إِلَّا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْظَمَ مَا كَانَتْ وَأَسْمَنَهُ تَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا وَتَطَؤُهُ بِأَظْلَافِهَا كُلَّمَا نَفِدَتْ أُخْرَاهَا عَادَتْ عَلَيْهِ أُولَاهَا حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ

مخکښې نه لو د روستو نه لو د ښي طرفه لو د ګس طرفه لو دلسے خلق ډیر کم دی (یعنی کوم خلق چه ددین تائید لو د الله لو رسول الله ﷺ مرضی لووینی هلته ئې بے تکلیفه خرچ کوی) لو کوم لوښ والا، بزے والا چه د هغے زکات نه ورکوي د قیامت په ورځ به راوستے شی هغه ځناور د هغه تولو ورځو نه غټ او څورب لکه چه په دنیا کښې وو. او په خپلو ښکرو سره به دۀ لره وهی او په نوکونو به ئې غوبل کوی کله چه د هغوی د روستنی نمبر تیر شی نو رمبے به پرے بیا راشی دغه عذاب به ورکیدے شی تر هغې پورے چه د خلقو فیصله اوشی.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ وَكِيعٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا عَلَى الْأَرْضِ رَجُلٌ يَمُوتُ فَيَدَعُ إِبِلًا أَوْ بَقَرًا أَوْ غَنَمًا لَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهَا

د ابوذر نه روایت دے چه زۀ د نبی خوا له اورسیدم دغه وخت هغوی د خانه کعبے سورې ته تشریف فرما وو. بیا هغه د وکیع حدیث ئې بیان کۀ مګر په دے کښې دادی چه پیغمبر ﷺ اوفرمائیل. قسم دے په هغه ذات چه د هغۀ په قبضه کښې ځما سا ده. په مخ د زمکے داسے سړے نشته چه مړ شی او داسے اوښان، غواګانې او بزے پریدی چه د هغوی زکات ئې ورکړے نۀ وی. (مخکښې ئې هغه حدیث بیان کۀ)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا يَسُرُّنِي أَنَّ لِي أُحُدًا ذَهَبًا تَأْتِي عَلَيَّ ثَالِثَةٌ وَعِنْدِي مِنْهُ دِينَارٌ إِلَّا دِينَارٌ أُرْصِدُهُ لِدَيْنٍ عَلَيَّ

ابوهریره وئیلي دی چه نبی ﷺ فرمائیلي دی ځما دا ارزو نشته چه دا د اُحد غر دے ځما دپاره سرۀ زر شی او ددے ورځو نه زیات ځما سره یو دینار هم باقی پاتے شی. مګر هغه دینار چه هغه یو خپل قرض خواه له د ورکولو دپاره اوچت کړم.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَرَّةِ الْمَدِينَةِ عِشَاءً وَنَحْنُ نَنْظُرُ إِلَى أُحُدٍ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا ذَرٍّ قَالَ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ

ابوذر فرمائی چه زۀ د نبی کریم ﷺ سره وم د مدینے په کاڼرځنه زمکه کښې د غرمې نه پس او اُحد ته مو کتل دغه وخت ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے ابوذره! ما عرض اوکړو اے د الله رسوله حاضر یم حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ دا نۀ غواړم چه دا د اُحد غر دے د سرو زرو شی او ځما سره دے د درے ورځو پورے هم یو دینار بچ پاتے شی

مَا أُحِبُّ أَنَّ أُحُدًا ذَاكَ عِنْدِي ذَهَبٌ أَمْسَى ثَالِثَةً عِنْدِي مِنْهُ دِينَارٌ إِلاَّ دِينَارًا أَرْصُدُهُ لِدَيْنٍ إِلاَّ أَنْ أَقُولَ بِهِ فِي عِبَادِ اللهِ هٰكَذَا حَثًا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهٰكَذَا عَنْ يَمِينِهِ وَهٰكَذَا عَنْ شِمَالِهِ قَالَ ثُمَّ مَشَيْنَا فَقَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ قَالَ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِنَّ الأَكْثَرِينَ هُمُ الأَقَلُّونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلاَّ مَنْ قَالَ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا مِثْلَ مَا صَنَعَ فِي الْمَرَّةِ الأُولٰى قَالَ ثُمَّ مَشَيْنَا قَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ كَمَا أَنْتَ حَتّٰى آتِيَكَ قَالَ فَانْطَلَقَ حَتّٰى تَوَارٰى عَنِّي قَالَ سَمِعْتُ لَغَطًا وَسَمِعْتُ صَوْتًا قَالَ فَقُلْتُ لَعَلَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَ لَهُ قَالَ فَهَمَمْتُ أَنْ أَتْبَعَهُ قَالَ ثُمَّ ذَكَرْتُ قَوْلَهُ لاَ تَبْرَحْ حَتّٰى آتِيَكَ قَالَ فَانْتَظَرْتُهُ فَلَمَّا جَاءَ ذَكَرْتُ لَهُ الَّذِي سَمِعْتُ قَالَ فَقَالَ ذَاكَ جِبْرِيلُ أَتَانِي فَقَالَ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِكَ لاَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ قَالَ قُلْتُ وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ

مگر هغه دينار چه زۀ ئے د چا د قرض په وجه سره اوساتم او كۀ چرے دا سرۀ زر شي نو زۀ به ئے د الله ؑ په بنديگانو دغه شان له ويش كوم او په دكه لپه سره ئے خپلے مخے ته اشاره اوكړه او دغه شان ښي طرفته او گس طرفته ئے اشاره اوكړه. ابوذر فرمائي بيا مونږ روان شو. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل اے ابوذره ما عرض اوكړو اے د الله رسوله حاضر يم. حضرت ﷺ اوفرمائيل ډير مال والا دغه ثواب لره كم موندونكي دي د قيامت په ورځ (يعني د زهد د اوچتو درجونه محروم پاتے كيدونكي دي) مگر چا چه خرچ اوكړو داسي او داسے او كوم ځائے چه مناسب وي (حضور ﷺ بيا هغه شان اشاره اوكړه لكه څنگه چه ئے مخكښ كړے وه بيا مونږ روان شو او حضور ﷺ اوفرمائيل اے ابوذره! تۀ په دے خپل ځائے اودريږه لكه څنگه چه اوس ئے (يعني د دے ځائے نه چرته مۀ ځه) د كومے پورے چه زۀ راغلے نۀ يم بيا هغوى لاړل تر دے چه څما د نظر نه پناه شو. بيا ما څۀ گنړ گنړ او آواز واوريدو او په زړۀ كښ مے اووے چه كيدے شي رسول الله ﷺ ته څوك دشمن ميلاؤ شوى وي او د ورتلو اراده مے ورپسے اوكړه. په دے كښ راته ياد شو چه هغوى فرمائيلے وو چه څما د راتلو پورى دلته اودريږه. غرض دا چه زۀ د هغۀ په انتظار كښ پاتے شوم. بيا چه هر كله هغوى تشريف راوړو نو ما ورته د هغے آواز ذكر اوكړو كوم چه مے اوريدلے وو. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه هغه جبرائيل وو (په هغۀ دے سلامتي وي) هغه ماته راغے او ونے فرمائيل څوك چه ستا د امت نه مړ شي او هغه شريك كړے نۀ وي د الله ؑ سره څۀ څيز لره (يعني پنجه ، شده، جهنډے، نيزے، گرد، چيلے ، نبي او ولي، ديو او پيري لره) هغه به جنت ته ځي (يعني د گناهونو د سزا وركولو نه پس يا د اولياؤ ، انبياؤ

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ خَرَجْتُ لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي فَإِذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي وَحْدَهُ لَيْسَ مَعَهُ إِنْسَانٌ قَالَ فَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَكْرَهُ أَنْ يَمْشِيَ مَعَهُ أَحَدٌ قَالَ فَجَعَلْتُ أَمْشِي فِي ظِلِّ الْقَمَرِ فَالْتَفَتَ فَرَآنِي فَقَالَ مَنْ هٰذَا فَقُلْتُ أَبُو ذَرٍّ جَعَلَنِي اللهُ فِدَاءَكَ قَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ تَعَالَهْ قَالَ فَمَشَيْتُ مَعَهُ سَاعَةً فَقَالَ إِنَّ الْمُكْثِرِينَ هُمُ الْمُقِلُّونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا مَنْ أَعْطَاهُ اللهُ خَيْرًا فَنَفَحَ فِيهِ يَمِينَهُ وَشِمَالَهُ وَبَيْنَ يَدَيْهِ وَوَرَاءَهُ وَعَمِلَ فِيهِ خَيْرًا قَالَ فَمَشَيْتُ مَعَهُ سَاعَةً فَقَالَ اجْلِسْ هَا هُنَا قَالَ فَأَجْلَسَنِي فِي قَاعٍ حَوْلَهُ حِجَارَةٌ فَقَالَ لِي اجْلِسْ هَا هُنَا حَتّٰى أَرْجِعَ إِلَيْكَ قَالَ

په شفاعت سره یا د ارحم الرّاحمین د رحمت کامله په سبب سره د بخلو نه پس، ما اووے اګر که هغهٔ غلا او زنا کړے وی. جبرائیلؑ اووے اګر کهٔ هغهٔ غلا کړے وی او زنائے هم کړے وی[1].

ابوذرؓ وائی چه زهٔ یوه شپه را اووتم نو څهٔ ګورم چه رسول الله ﷺ یواځے روان وو. هیڅوك ورسره نشته نو زهٔ پوهه شوم چه حضور به پخپله د ځان سره څوك نهٔ وی ملګرے کړے (ګنی صحابوٗ کله هغه یواځے پریخودهٔ) نو زهٔ ورسره هم د سپوږمۍ په سوری باندے روان شوم (چه چرته حضور ﷺ مے او نهٔ وینی) نو هغوی چه ما طرفته مخ کړو نو اوئے لیدم او اوئے فرمائیل. دا څوك دے؟ ما عرض اوکړو ابوذر دے الله دے ما ستا نه قربان کړی. حضرت ﷺ اوفرمائیل ابوذره راځه بیا زهٔ د هغوی سره روان شوم لږ ساعت او هغهٔ اوفرمائیل کوم خلق چه په دنیا کښ ډیر مال والا دی هغه د قیامت په ورځ کمے درجے والا دی. مګر چاله چه الله مال ورکړی او هغه ئے په پوکی الوزوی ښی طرفته ګس طرفته مخے طرفته او شا طرفته او د نیکۍ کارونه پرے کوی (ابوذرؓ) وائی زهٔ د هغوی سره لږ روان وم. بیا هغوی اوفرمائیل تهٔ دلته کینه. او زهٔ ئے په یوه پاکه زمکه باندے کینولم چه د هغے نه چا پیره تورے ګټے وے. او راته ئے اوفرمائیل چه تهٔ دلته څما د راتلو پورے کینه او

[1]: په دے حدیث کښ ترغیب دے په صدقه باندے د خیر په ټولو کارونو کښ او اشاره ده دے طرفته چه د خیر د یو کار نه به ملا نهٔ نیسے. بلکه کومه خبره چه د ایمان د ترقۍ او د اسلام او عامه د خیر ښیګړے وی په دے ټولو کښ د زړهٔ په خوشۍ سره مال خرچ کوه. دا د ډیر مال شکریه ده. داسے نه چه په خواهشات نفسانی او تقاضائے شیطانی کښ ئے بے ځایه خرچ کړے. او ددے روایت نه پورته چه کوم تیر شوے دی د هغے نه معلومه شوه چه بے ضرورته د یوے خبرے د تاکید دپاره هم قسم خوړل صحیح دی. او په صحیح حدیثو کښ داسے قسمونه ډیر راغلی دی او د اهل سنتو یوه ډیره لویه مسئله ددے حدیث نه ثابته شوه د کومے نه چه معتزلوٗ انکار کړے دے. او هغه دادے چه کوم خلق کبیره ګناهونه کوی او د توحید په حالت کښ مر شی هغه به د دوزخ نه راووځی او جنت ته به ځی. اګر که څهٔ موده د خپلو ګناهونو په سبب په دوزخ کښ مقیم او په عذاب شی. او خوارج خو هم ددے نه انکار کړے دے. او معلومه شوه چه غلا او زنا په ټولو کبیره ګناهونو کښ زیات د بے حیایۍ خبرے دی.

فَانْطَلَقَ فِي الْحَرَّةِ حَتَّى لاَ أَرَاهُ فَلَبِثَ عَنِّي فَأَطَالَ اللَّبْثَ ثُمَّ إِنِّي سَمِعْتُهُ وَهُوَ مُقْبِلٌ وَهُوَ يَقُولُ وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَى قَالَ فَلَمَّا جَاءَ لَمْ أَصْبِرْ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ جَعَلَنِي اللهُ فِدَاءَكَ مَنْ تُكَلِّمُ فِي جَانِبِ الْحَرَّةِ مَا سَمِعْتُ أَحَدًا يَرْجِعُ إِلَيْكَ شَيْئًا قَالَ ذَاكَ جِبْرِيلُ عَرَضَ لِي فِي جَانِبِ الْحَرَّةِ فَقَالَ بَشِّرْ أُمَّتَكَ أَنَّهُ مَنْ مَاتَ لاَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ فَقُلْتُ يَا جِبْرِيلُ وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَى قَالَ نَعَمْ قَالَ قُلْتُ وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَى قَالَ نَعَمْ قَالَ قُلْتُ وَإِنْ سَرَقَ وَإِنْ زَنَى قَالَ نَعَمْ وَإِنْ شَرِبَ الْخَمْرَ

هغوی لاړل په هغه ګټو کښې تر دے چه ما بیا نه لیدو. او هلته د ډیرو وخته پورې حصار شو. بیا ما دا واوریدل چه هغوی دا وئیل او روان وو. چه اګر کۀ غلا او کړی او زنا او کړی (سبحان الله دا د کامل عشق او محبت فقره ده چه د صحابۀ د ژبے نه به زر اووته) ځوك وو په دغه تورو ګټو کښې ما خو ځوك اونۀ لیدل چه تا له ئے جواب درکوۀ حضرت ﷺ او فرمائیل دا جبرائیل علیه السلام وو چه په دغه ګټو کښې خما مخے ته راغے او اوئے فرمائیل چه امت له دے زیرے ورکړه چه په دوی کښې ځوك مړ شو او هغه د الله سره څۀ شے شریك نۀ وو ګرځولے نو هغه به جنت ته داخلیږی. ما اووے اے جبریله اګر کۀ هغه غلا او زنا کړے وی؟ هغوی علیه السلام اووے آو. ما دوباره بیا اووے اګر کۀ هغه غلا یا زنا کړے وی؟ هغوی اووی آو. ما په دریم ځل بیا اووے اګر کۀ هغه غلا یا زنا کړے وی؟ هغوی اووے آو. اګر کۀ هغه شراب هم ښکلے وی[1].

عَنِ الأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فَبَيْنَا أَنَا فِي حَلْقَةٍ فِيهَا مَلأٌ مِنْ قُرَيْشٍ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ أَخْشَنُ الثِّيَابِ أَخْشَنُ الْجَسَدِ أَخْشَنُ الْوَجْهِ فَقَامَ عَلَيْهِمْ فَقَالَ بَشِّرِ الْكَانِزِينَ بِرَضْفٍ يُحْمَى عَلَيْهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَيُوضَعُ عَلَى حَلَمَةِ ثَدْيِ أَحَدِهِمْ حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ نُغْضِ كَتِفَيْهِ وَيُوضَعُ عَلَى نُغْضِ كَتِفَيْهِ

احنف وئیلی دی چه زۀ مدینے ته راغلم او په یوه غنډه کښې ناست وم چه په هغے کښې د قریشو سردار وو چه یو سړے راغے غټے کپړے ئے اغوستے وے. سخت بدن والا او سخت مخ والا او د هغۀ په خوا کښې اودریدو او اوئے وئیل چه خوشخبری ورکړه د مال جمع کونکو ته د ګرمے ګټے چه د جهنم په اُور کښې به ګرمولے شی. او د هغۀ د سینے په ځوکه به کیښودے شی تر دے پورے چه د اُوګے هډوکی ته به شاته اوځی. او د اُوګے په هډوکی به کیښودے شی نو د سینو په ځوکو به مخے ته په بهیدو راووځی. او هغه ګټه دغه شان ګرمه به پورے

[1] نووی وئیلی دی دا دے نه د شرابو سخت بدوالے معلوم شو. ځکه چه د جبرائیل علیه السلام او نبی صلی الله علیه وسلم په ذهن کښې دا ډیر لږ ګناه وه او د غلا او زنا نه هم ډیر ناکاره وو. ځکه ئے دا دے ذکر د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حیرانتیا لرے کولو دپاره اوکړو.

حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ حَلَمَةِ ثَدْيَيْهِ يَتَزَلْزَلُ قَالَ فَوَضَعَ الْقَوْمُ رُءُوسَهُمْ فَمَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْهُمْ رَجَعَ إِلَيْهِ شَيْئًا قَالَ فَأَدْبَرَ وَاتَّبَعْتُهُ حَتَّى جَلَسَ إِلَى سَارِيَةٍ فَقُلْتُ مَا رَأَيْتُ هَؤُلَاءِ إِلَّا كَرِهُوا مَا قُلْتَ لَهُمْ قَالَ إِنَّ هَؤُلَاءِ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا إِنَّ خَلِيلِي أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَانِي فَأَجَبْتُهُ فَقَالَ أَتَرَى أُحُدًا فَنَظَرْتُ مَا عَلَيَّ مِنَ الشَّمْسِ وَأَنَا أَظُنُّ أَنَّهُ يَبْعَثُنِي فِي حَاجَةٍ لَهُ فَقُلْتُ أَرَاهُ فَقَالَ مَا يَسُرُّنِي أَنَّ لِي مِثْلَهُ ذَهَبًا أُنْفِقُهُ كُلَّهُ إِلَّا ثَلَاثَةَ دَنَانِيرَ ثُمَّ هَؤُلَاءِ يَجْمَعُونَ الدُّنْيَا لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا قَالَ قُلْتُ مَا لَكَ وَلِإِخْوَتِكَ مِنْ قُرَيْشٍ لَا تَعْتَرِيهِمْ وَتُصِيبُ مِنْهُمْ قَالَ لَا وَرَبِّكَ لَا أَسْأَلُهُمْ عَنْ دُنْيَا وَلَا أَسْتَفْتِيهِمْ عَنْ دِينٍ حَتَّى أَلْحَقَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ

راپورته خی راخی راوی وائی چه بیا خلقو سرونه ښکته کړل او نه مې په هغوی کښې څوك اوليدل چه هغوی له ئې جواب ورکړے وے بيا هغه کرځيدو او زۀ پسے شاته ګرځيدم (ولې به نه تلو دا د حديثو طلب کونکی دی) تردے پورے چه د يوے ستنې خواته کيناستو ما اووے چه خما خيال دے چه دا ټول خلق په دوی باندے ډير بد اولګيدل هغوی ؓ اووے چه دوی څۀ عقل نۀ لری (يعنی د دين) او خما دوست ابوالقاسم ﷺ زۀ اوغوښتم او زه لاړم نو اوئې فرمائيل چه تۀ دا اُحد وينې؟ ما د خان دپاسه نمر اوليدو او دا مې ګمان شو چه کيدے شی دے ما د خپل څۀ کار دپاره اُحد ته ليږل غواړی او ما عرض اوکړو چه آو وينم حضرت ﷺ اوفرمائيل چه زۀ دا نۀ غواړم چه دا دے غر برابر سرۀ زر دے خما سره وی او که وی هم مګر زۀ به ئې خرچ کوم مګر درے ديناره (يعنی درے د کومے چه پورته ذکر اوشو چه د قرض دپاره به ئې ساتم) بيا دا خلق دنيا جمع کوی او نور څۀ نۀ پوهيږی بيا ما هغوی ؓ ته اووے ستا د خپلو رونړو قريشو سره څۀ حال دے؟ چه ته د هغوی خواله د څۀ ضرورت دپاره نۀ ورځې او نۀ د هغوی نه څۀ اخلې. هغوی اووے خما دے ستا په رب قسم وی چه نۀ به زۀ د هغوی نه دنيا اوغواړم او نۀ به ترے دين کښې څۀ تپوس اوکړم (ځکه چه زۀ د دوی نه زيات پوهه يم) تردے پورے چه ميلاو به زۀ د الله او د هغۀ د رسول الله ﷺ سره[1].

---

[1] په دے حديث کښې د زهد او ددنيا نه د بې رغبتۍ تعليم دے. او د زکات نۀ ورکونکو دپاره تنبيه ده. او د جمهورو په نز د کنز چه د هغې بدوالے په قرآن کښې ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ﴾ راغلے دے او دغه شان په دے حديث کښې هغه دے چه د کوم مال زکات ورنۀ کړے شی او چه زکات ترے ورکړے شی بيا خو هغه کنز پاتے نۀ شو خواه کۀ هغه زيات وی او کۀ کم. او د حضرت ابوذر رضی الله عنه امير الزاهدين مذهب دا وو چه د خپل ضرورت اصلی نه زيات مال د بنده سره وی هغه ټول کنز دے دا فقره غلطه او فضول ده. هر کله د مال د جمع کولو په باره کښې منفرد (رائې) مذهب لری نو بيا ئې د جمهورو سره څنګه يوځائې کوی؟

عَنِ الْأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ كُنْتُ فِي نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَمَرَّ أَبُو ذَرٍّ وَهُوَ يَقُولُ بَشِّرِ الْكَانِزِينَ بِكَيٍّ فِي ظُهُورِهِمْ يَخْرُجُ مِنْ جُنُوبِهِمْ وَبِكَيٍّ مِنْ قِبَلِ أَقْفَائِهِمْ يَخْرُجُ مِنْ جِبَاهِهِمْ قَالَ ثُمَّ تَنَحَّى فَقَعَدَ قَالَ قُلْتُ مَنْ هٰذَا قَالُوا هٰذَا أَبُو ذَرٍّ قَالَ فَقُمْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ مَا شَيْءٌ سَمِعْتُكَ تَقُولُ قُبَيْلُ قَالَ مَا قُلْتُ إِلَّا شَيْئًا قَدْ سَمِعْتُهُ مِنْ نَبِيِّهِمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ مَا تَقُولُ فِي هٰذَا الْعَطَاءِ قَالَ خُذْهُ فَإِنَّ فِيهِ الْيَوْمَ مَعُونَةً فَإِذَا كَانَ ثَمَنًا لِدِينِكَ فَدَعْهُ

احنف بن قیس وائي چه زۀ د قریشو د څو کسانو سره ناست وم چه ابوذر راغې او اوئې فرمائيل زیرے ورکړئ د خزانے جمع کولو والا ره په داسے دا غونو سره چه د هغوی په ګیډه به لګولے شي او د هغوی د دوو تنو اوخي او د هغوی په ځناتو به لګی او په تندو به اوخي. بیا هغه یو طرف ته شو نو ما د خلقو نه تپوس اوکړو دا څوك دے؟ خلقو اووے دا ابوذر دے. نو زۀ د هغوی په طرف اودریدم او دا مے اووے چه دا څۀ وو چه تا اوس اوئیل او ما واؤریدل. هغوی اووے هغه مے اووے کوم چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے وو. بیا ما اووے چه تاسو څۀ فرمایئ دد عطاء په باره کښې (یعنی د کوم مال غنیمت نه چه میراث مسلمانانو ته ورکوی) هغوی اوفرمائيل ته هغے لره اخله چه په هغے کښې د خرچ دے. بیا هر کله دا ستا د دین قیمت شي نو بیائے پریږده (یعنے ورکونکے که ستا مداهنت فی الدین غواړی نو مۀ ئې اخله)

بَابُ الْحَثِّ عَلَى النَّفَقَةِ وَ تَبْشِيرِ الْمُنْفِقِ بِالْخَلَفِ

باب: د سخاوت ترغیب او خرچ کونکی ته د نعم البدل میلاویدو خوشخبری

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَا ابْنَ آدَمَ أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ وَقَالَ يَمِينُ اللهِ مَلْأَى وَقَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ مَلْآنُ سَحَّاءُ لَا يَغِيضُهَا شَيْءٌ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ

ابوهریره د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه الله تعالی فرمائی: اے آدم خویه! خرچ اوکړه چه زۀ هم په تا باندے خرچ اوکړم او رسول الله ﷺ فرمائی چه د الله لاس ډك دے د شیے او ورځ په خرچ کو سره څۀ کیدے نۀ شي[1].

---

[1] دد دے حدیث نه معلومه شوه چه په لاس یو څیز دے بلاکیف چه د الله پاك دپاره ثابت دے. او په دغے سره خرچ کوی او نیول کوی او تول کوی او د هغۀ دواړه لاسونه د قرآن نه ثابت دی. لکه چه فرمائی: "لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ" او فرمائی: "بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ" او په دے ایتونو سره او نور داسے ډیرو حدیثونو سره چه په هغے کښې د دواړو لاسونو ذکر دے په ښۀ شان سره ثابت شوے دے چه دا صفت د قدرت نه غیر دے ګنی د قدرت تنبیه مشکله ده. پس تاویل د هغے په قدرت سره باطل دے. او دا قول دے د جهیمیو او معتزلو. دغه رنګے تصریح کړے ده دے امام اعظم رحمه الله په خپله وصیت نامه کښې چه په فقه اکبر کښې مشهور دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ قَالَ لِي أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمِينُ اللهِ مَلْأَى لَا يَغِيضُهَا سَحَّاءُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْفَقَ مُذْ خَلَقَ السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ فَإِنَّهُ لَمْ يَغِضْ مَا فِي يَمِينِهِ قَالَ وَعَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ وَبِيَدِهِ الْأُخْرَى الْقَبْضُ يَرْفَعُ وَيَخْفِضُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه الله تعالی ماته فرمائيلے دی چه ته په خلقو باندے خرچ کوه زۀ به په تا باندے خرچ کوم او فرمائيلے دی چه د الله ښے لاس ډك شوے دے د شپے ورځے په خرچ کولو سره نۀ کميږی عجيبه ده غور خو اوکړه چه څومره څۀ خرچ کيږی د کله نه چه زمکه آسمان قائم شوے دی نو تر اوسه پورے لږ هم کم نۀ شو کوم چه د هغۀ په ښی لاس کښی دی او عرش د هغۀ په اوبو باندے دے او د هغۀ په دويم لاس کښی مرګ دے او چا له چه اوغواړی پورته کوی ئے او چاله چه اوغواړی لاندے کوی ئے[1]

بَابُ فَضْلِ النَّفَقَةِ عَلَى الْعِيَالِ وَالْمَمْلُوكِ وَإِثْمِ مَنْ ضَيَّعَهُمْ أَوْ حَبَسَ نَفَقَتَهُمْ عَنْهُمْ

باب: په اهل و عيال او غلام باندے د خرچ کولو فضيلت او د هغوی نفقه د منع کولو ګناه

عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ دِينَارٍ يُنْفِقُهُ

ثوبانؓ وائی چه رسول اللهﷺ فرمائيلے دی چه غوره اشرفی هغه ده چه سړے ئے په خپل کور والاؤ باندے خرچ کړی ځکه چه په دوی کښی

---

[1]: په دے حديث کښی وضاحت دے چه د الله تعالی دوه لاسونه دی او تاويل د لاسونو په قدرت سره باطل دے. او صحابؤ، تابعينو، د سلف صالحينو په دے باندے بغير د تاويل نه ايمان راوړے دے. او د محالاتو نه دے دا امر چه تاويل به ئے ضرور وی خو رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته نۀ دے بيان کړے تر دے چه د دنيا نه ئے تشريف يوړو. او په اصولو کښی ثابته شوے ده چه تاخير د بيان د هغۀ د وخت نه جائز نۀ دے. او دا هم مشکله ده چه د صحابؤ په غوږونو کښی د لفظ "يد" چه ترجمه ئے لاس ده پريوتے وے او د هغوی د عقيدو خلاف وے نو هغوی به د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د دے مراد لره چه په حقيقت کښی د دے لفظ سره جدا والے لری تپوس نۀ کوؤ. او سلفو صالحينو به د صحابؤ نه تپوس کوؤ. پس معلومه شوه چه دا تاويل باطل دے او په تقليد د فلاسفؤ په مسلمانانو کښی خور شوے دے. پس مؤمن کامل لره ضروری ده چه په دے تولو صفاتو باندے څنګه چه په کتاب او سنت کښی راغلے دی ايمان اولری او کيفيت ئے الله ته اوسپاری. دغه طريقه ده د سلفو صالحينو د صحابؤ د تابعينو او د ائمه مجتهدينو رضوان الله عليهم اجمعين او په دے روايت کښی چه کوم لفظ "قبضُ" راغلے دے دا په دوه طريقو روايت شو. يو د قاف او بے سره او دغه مشهور روايت دے او معنے د هغے مرګ ده لکه څنګه چه په ترجمه کښی ذکر شوے دے. دويم په فاء او ئے سره چه معنے ئے احسان عطاء او فراخه رزق دے. او د بلندئ او پستئ نه مراد فراخی او تنګی د رزق ده.

الرَّجُلُ دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ عَلَى دَابَّتِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ قَالَ أَبُو قِلَابَةَ وَبَدَأَ بِالْعِيَالِ ثُمَّ قَالَ أَبُو قِلَابَةَ وَأَيُّ رَجُلٍ أَعْظَمُ أَجْرًا مِنْ رَجُلٍ يُنْفِقُ عَلَى عِيَالٍ صِغَارٍ يُعِفُّهُمْ أَوْ يَنْفَعُهُمْ اللهُ بِهِ وَيُغْنِيهِمْ

خنې داسې وی چه د هغوی نفقه فرض ده لکه ښځه او معصوم اولاد، او په دے شان هغه دینار چه هغه سړے خرج کړی په خپله سورلئ باندے په لاره د الله کښې یعنې په جهاد کښې او هغه اشرفئ چه هغه خرج کړے شی په خپلو ملګرو باندے په لاره د الله کښې ابوقلابه وائی شروع ئې کړے ده د عیال نه بیا ابوقلابه وائی د دے نه زیات د ثواب حاصلونکے څوك دے د هغه سړی نه چه هغه په خپلو ماشومانو باندے خرچه کوی یا ورته نفع رسوی. الله پاك به د دے په سبب دوئ له نور هم مالدار کړی[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي رَقَبَةٍ وَدِينَارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِينٍ وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ أَعْظَمُهَا أَجْرًا الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ

ابوهریره وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه یوه اشرفئ تاسو د الله په لاره کښې خرچ کړه. یا مو یوه روپئ په خپل غلام باندے خرچ کړه (یا د یو غلام په ازادولو کښې مو ورکړه) او یوه روپئ مو مسکین ته ورکړه او یوه مو په خپل کور والاؤ خرچ کړه. نو په ثواب کښې د ټولو نه لویه هغه اشرفئ ده کومه چه ئې په خپل کور والاؤ خرچ کړه.

عَنْ خَيْثَمَةَ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا مَعَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو إِذْ جَاءَهُ قَهْرَمَانٌ لَهُ فَدَخَلَ فَقَالَ أَعْطَيْتَ الرَّقِيقَ قُوتَهُمْ قَالَ لَا قَالَ فَانْطَلِقْ فَأَعْطِهِمْ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يَحْبِسَ عَمَّنْ يَمْلِكُ قُوتَهُ

خیثمه وائی چه مونږ د عبد الله بن عمرو سره ناست وو چه د هغهٔ داروغه راغے هغوی ترے تپوس اوکړو چه تاسو غلامانو له خرچ ورکړے دے؟ هغهٔ اووے نه. هغوی ورته اووے ورکړه. ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه بنده له دومره ګناه پوره ده چه چا لره خرچ ورکول په دهٔ وی او دے هغې لره د خان سره اونیسی یعنی نهٔ ئے ورکوی.

بَابُ الِابْتِدَاءِ فِي النَّفَقَةِ بِالنَّفْسِ ثُمَّ أَهْلِهِ ثُمَّ الْقَرَابَةِ

باب : اول په خپل ځان بیا په خپل کور والاؤ بیا په رشته دارانو د خرچ کولو بیان

[1] د دے حدیث نه معلومه شوه چه ږومبئ سړی له په نفقات واجبه کښې خرچ کول ضروری دی. بیا په نفقات مستحبه کښې هر کله چه د واجباتو نه زیات شی.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَعْتَقَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي عُذْرَةَ عَبْدًا لَهُ عَنْ دُبُرٍ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَكَ مَالٌ غَيْرُهُ فَقَالَ لَا فَقَالَ مَنْ يَشْتَرِيهِ مِنِّي فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ الْعَدَوِيُّ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ فَجَاءَ بِهَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ ثُمَّ قَالَ ابْدَأْ بِنَفْسِكَ فَتَصَدَّقْ عَلَيْهَا فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ فَلِأَهْلِكَ فَإِنْ فَضَلَ عَنْ أَهْلِكَ شَيْءٌ فَلِذِي قَرَابَتِكَ فَإِنْ فَضَلَ عَنْ ذِي قَرَابَتِكَ شَيْءٌ فَهٰكَذَا وَهٰكَذَا يَقُولُ فَبَيْنَ يَدَيْكَ وَعَنْ يَمِينِكَ وَعَنْ شِمَالِكَ

جابر وائي يو سړي د خپل مرګ نه پس يو غلام آزاد کړو (يعني ورته ئې اووے چه ته ځما د مرګ نه پس آزاد ئې) او د هغې خبر رسول الله ﷺ ته اورسيدو نو هغه ﷺ اوفرمائيل ستا سره نور مال شته ددے نه سوا؟ هغه اووے نه بيا هغوی ﷺ اوفرمائيل څوك شته چه واخلي دا له ځما نه؟ نو نعيم هغه په اته سوه درهمه واخستو او درهم ئې حضرت ﷺ ته ورکړل حضرت ﷺ هغه درهم د غلام مالك ته ورکړل او ورته ئې اوفرمائيل رومبے په خپل ځان خرچ کوه او کچرے زياتي شو نو په کور والا او ماشومانو بچو باندے، او که د هغوی نه څه زيات شو نو په خپلو خپلوانو باندے. او که د هغوی نه څه زيات شو نو بيا اخوا ديخوا او اشاره کوله حضرت ﷺ خپلے مخے ته اوښي طرفته او ګس طرفته [1]

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُ أَبُو مَذْكُورٍ أَعْتَقَ غُلَامًا لَهُ عَنْ دُبُرٍ يُقَالُ لَهُ يَعْقُوبُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ اللَّيْثِ

د جابر نه روايت دے چه يو انصاری سړی چه هغه ته ئې ابومذکور ويلے کيدۀ هغه يو غلام مدبر کړو د هغه نوم يعقوب وو. نور مخکښ د ليث د حديث د معنی پشان ئې بيان کړو.

بَابُ فَضْلِ النَّفَقَةِ وَالصَّدَقَةِ عَلَى الْأَقْرَبِينَ وَالزَّوْجِ وَالْأَوْلَادِ وَالْوَالِدَيْنِ وَلَوْ كَانُوا مُشْرِكِينَ

باب: په رشته دارانو، په ښځه، په اولاد او مور او پلار د خرچ کولو فضيلت اګر که هغوی مشرکان وی

---

[1] نووي رحمه الله فرمائي په دے حديث کښ څو فائدے دی. يو خو پکښ د مال خرچ کولو ترتيب دے. دويم کله چه په بنده دوه خايه خرچ وي نو په هغې کښ چه د کومے تاکيد زيات وی نو هغه د مخکښ کوی. دريم چه کله مال د ضرورت نه زيات وی نو د خير په هر قسم کار کښ د خرچ کوی نه په يو خاص قسم کښ ـ څلورم معلومه شوه چه بيعه مدبر روا ده. او مدبر هغه غلام دے چه هغه ته مالك اووائی چه ځما د مرګ نه پس ته آزاد ئې. او دغه مذهب دے د امام شافعي رحمه الله چه بيعه مدبر روا ده. او د امام مالك رحمه الله او د هغۀ ملګرو په مذهب روا نه ده مګر هله چه په مالك باندے قرض وی. او دا حديث صفا په هغوی باندے حجت دے

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَكْثَرَ أَنْصَارِيٍّ بِالْمَدِينَةِ مَالاً وَكَانَ أَحَبُّ أَمْوَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرَحَى وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ قَامَ أَبُو طَلْحَةَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ اللهَ يَقُولُ فِي كِتَابِهِ لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَإِنَّ أَحَبَّ أَمْوَالِي إِلَيَّ بَيْرَحَى وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلَّهِ أَرْجُو بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللهِ فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللهِ حَيْثُ شِئْتَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَخْ ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ قَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ فِيهَا وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الأَقْرَبِينَ فَقَسَمَهَا أَبُو طَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ وَبَنِي عَمِّهِ

انس بن مالك وئيلي دي ابوطلحه انصاری په مدینه کښې ډېر مالدار وو. او هغهٔ ته په خپل مال کښې ډېر غوره د هغهٔ بیرحاء (یو باغ وو د مسجد نبوی مخې ته. رسول الله ﷺ به هغې ته تلو او په هغې کښې به ئې خوږې اُوبهٔ څکلې. انس وائي هر کله چه دا آیت نازل شو "هیڅ کله به اونهٔ رسیږئ تاسو نیکئ ته د کومې پورې چه خرچ نهٔ کړئ خپلو خوښو څیزونو لره د الله په لار کښې. نو ابوطلحه پاسیدو او رسول الله ﷺ ته ئې عرض اوکړو چه الله فرمائي چه تاسو نیکئ ته نهٔ شئ رسیدے د کومې پورے چه خپل محبوب مال خرچ نهٔ کړئ. او ما ته په خپل ټول مال کښې زیات محبوب بیرحاء دے. او هغه د الله په لار کښې صدقه دے. او زهٔ د الله نه دد ے د ثواب او په آخرت کښې ورسره دد ے د جمع کیدو امید واریم اوس چه ستا څنګه خوښه وی ورئے کړئ. رسول الله ﷺ اوفرمائیل څومره ښه دا خو د لوئے نفعې مال دے. دا د لوئے نفعې مال دے. تا چه څهٔ اووے ما واؤریدل او زهٔ دا مناسب ګڼړم چه تهٔ دے لره پخپلو عزیزانو تقسیم کړه. بیا ابوطلحه په خپلو عزیزانو او د ترهٔ په ځامنو تقسیم کړو[1].

عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ قَالَ أَبُو

حضرت انس وئیلي دي هر کله چه آیت مذکوره نازل شو ابوطلحه اووے وینو چه زمونږه پالونکے رزق ورکونکے زمونږه مال طلب کړے

---

[1] : نووی رحمه الله فرمائی دد ے نه څو مسئلے ثابتے شوے. اول دا چه "الله تعالی فرمائی" دا وئیل جائز دی. او مطرف بن عبد الله بن شخیر وئیلي دی چه دا روا نهٔ دی بلکه دا وئیل پکار دی چه الله فرمائیلي دی. او د مضارع صیغه وئیل روا نهٔ دی. غرض دا حدیث په هغې باند ے حجت د ے. دویمه دا معلومه شوه چه په صدقو او خیراتونو کښې د خاوندانو د علم او فضل نه مشوره اخستل مستحب دی. لکه چه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مشوره واخسته. او معلومه شوه چه عزیزانو او رشته دارانو له صدقه ورکول غوره دی په نسبت د نورو هر کله چه عزیزان او رشته داران محتاج وی. او دا هم معلومه شوه چه هر کله تږد ے خپلوان نهٔ وی نو لر ے خپلوانو له ئے ورکړه. څکه چه ابوطلحه رضی الله عنه هغه باغ په ابی بن کعب او حسان بن ثابت باند ے تقسیم کړو او هغوی ددهٔ سره په اووم نیکهٔ کښې میلاویږی. دغه رنګے په وړاند ے راځی.

طَلْحَةَ أَرَى رَبَّنَا يَسْأَلُنَا مِنْ أَمْوَالِنَا فَأُشْهِدُكَ يَا رَسُولَ اللهِ أَنِّي قَدْ جَعَلْتُ أَرْضِي بَيْرَحَى لِلهِ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْعَلْهَا فِي قَرَابَتِكَ قَالَ فَجَعَلَهَا فِي حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ

دے (او مونږ ته زيات د فخر خائے دے چه شهنشاه عالی جاه بے پرواه د يو ادنٰی غلام نه يو شے طلب کړی واواه خوش نصيبه پس زۀ گواه کوم تا له يا رسول الله چه ما خپله زمکه چه نوم ئے بيرحاء دے د الله نذر کړه. رسول الله ﷺ اوفرمائيل خپلو نږدے خلقو له ئے ورکړه بيا هغۀ په حسان بن ثابت او ابی بن کعب تقسيم کړه.

عَنْ مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّهَا أَعْتَقَتْ وَلِيدَةً فِي زَمَانِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ لَوْ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لِأَجْرِكِ

د ميمونه نه روايت دے چه هغے د رسول الله په زمانه کښں يوه وينځه آزاده کړه او د هغے ذکر ئے د رسول الله ﷺ په مخکښں اوکړو. نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل کۀ چرے دا تا خپل ماما له ورکړے وے نو لوئے ثواب به ئے وو[1].

عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَصَدَّقْنَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ قَالَتْ فَرَجَعْتُ إِلَى عَبْدِ اللهِ فَقُلْتُ إِنَّكَ رَجُلٌ خَفِيفُ ذَاتِ الْيَدِ وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ فَأْتِهِ فَاسْأَلْهُ فَإِنْ كَانَ ذٰلِكَ يَجْزِي عَنِّي وَإِلَّا صَرَفْتُهَا إِلَى غَيْرِكُمْ قَالَتْ فَقَالَ لِي عَبْدُ اللهِ بَلِ ائْتِيهِ أَنْتِ قَالَتْ فَانْطَلَقْتُ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ بِبَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجَتِي حَاجَتُهَا قَالَتْ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أُلْقِيَتْ عَلَيْهِ الْمَهَابَةُ قَالَتْ فَخَرَجَ عَلَيْنَا بِلَالٌ فَقُلْنَا لَهُ ائْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

زينب د عبد الله ؓ بی بی وئيلے دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه اے د ښځو ټوليه صدقه ورکړئ اگر کۀ د خپلو کالونه وی بی بی وائی بيا زۀ خپل خاوند عبد الله ته راغلم او ورته مے اووے چه تۀ مفلس ئے او لاس دی تش دے او رسول الله ﷺ فرمائيلے دی چه مونږه دے صدقه ورکړو نو تۀ لاړ شه او د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړه. چه کۀ زۀ ئے تا له درکړم او صدقه ادا شی نو خير دے او کۀ نه بل چاله ئے ورکړم نو (خما خاوند) عبد الله ؓ ما ته اووے تۀ پخپله لاړه شه او تپوس ترے اوکړه. بيا زۀ راغلم او د انصارو يوه زنانه د حضرت ﷺ په دروازه کښں ولاړه وه. د هغے هم دغه کار وو کوم چه خما وو. او د رسول الله ﷺ رعب ډير زيات وو (څکه مونږ په دروازه کښں اودريدو) چه په دے کښں بلال ؓ راااووتو. نو مونږ اووے تۀ رسول الله ﷺ ته ورشه او هغه خبر کړه چه دوه زنانه په دروازه کښں

[1]: او په بخاری کښں د صيلی په روايت کښں "اخواتك" راغلے دے يعنی کۀ دا تا خپلو خوندو ته ورکړے وی نو ثواب به ئے ډير وو او دواړه روايتونه صحيح دی او حضرت ﷺ دواړه پيرے دغه شان فرمائيلے دی او په دے کښں د مور د خپلوانو سره سلوک کول دی چه د مور حق لوئے دے.

فَأَخْبِرْهُ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ بِالْبَابِ تَسْأَلاَنِكَ أَتَجْزِيءُ الصَّدَقَةُ عَنْهُمَا عَلَى أَزْوَاجِهِمَا وَعَلَى أَيْتَامٍ فِي حُجُورِهِمَا وَلاَ تُخْبِرْهُ مَنْ نَحْنُ قَالَتْ فَدَخَلَ بِلاَلٌ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هُمَا فَقَالَ امْرَأَةٌ مِنَ الأَنْصَارِ وَزَيْنَبُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الزَّيَانِبِ قَالَ امْرَأَةُ عَبْدِ اللَّهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ لَهُمَا أَجْرَانِ أَجْرُ الْقَرَابَةِ وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ

ولاړے دی تپوس کوی چه کچرے خپلو خاوندانو له صدقه ورکړی نو ادا به شی او که نه. یائے هغه یتیمانو له ورکړی چه پالنه ئے دوی کوی. او حضرت ﷺ ته دا خبر مهٔ ورکوه چه مونږ څوك یو؟ زینب وائی بیا بلال لاړو او د رسول الله ﷺ نه ئے تپوس اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه څوك دی؟ نو بلال اوفرمائیل چه یوه د انصارو زنانه ده او بله زینب ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل کومه زینب ده؟ هغوی اووے د عبد الله بی بی. بیا حضور ﷺ بلال ته اوفرمائیل چه دوی له په دے کښې ده چنده ثواب دے یو د خپلوانو سره د ښهٔ سلوك او بل ثواب د صدقے.

عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ فَذَكَرْتُ لإِبْرَاهِيمَ فَحَدَّثَنِي عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللَّهِ بِمِثْلِهِ سَوَاءً قَالَ قَالَتْ كُنْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَرَآنِي النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ تَصَدَّقْنَ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ أَبِي الأَحْوَصِ

د زینب نه روایت دے راوی اووئیل ما ابراهیم ؒ ته ذکر اوکړو هغوی د ابی عبیده ؓ او عمر ؓ په واسطه د زینب نه بالکل دغه حدیث بیان کړو. زینب اووئیل زهٔ په جماعت کښې ووم نو زهٔ ئے اولیدم او اوئے فرمائیل. تاسو ښځے صدقه ورکوئ اګر که ستاسو کالو نه وی. مخکښې د ابی الاحوص د حدیث پشان حدیث بیان کړو.

عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلْ لِي أَجْرٌ فِي بَنِي أَبِي سَلَمَةَ أُنْفِقُ عَلَيْهِمْ وَلَسْتُ بِتَارِكَتِهِمْ هَكَذَا وَهَكَذَا إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ فَقَالَ نَعَمْ لَكِ فِيهِمْ أَجْرُ مَا أَنْفَقْتِ عَلَيْهِمْ

زینب د ام سلمه نه روایت کوی چه ما عرض اوکړو چه اے د الله رسوله ﷺ! ما لره د ابوسلمه په بچو باندے په خرچ کولو سره ثواب شته؟ او زهٔ هغوی لره پریخودونکے نهٔ یم چه اخوا دیخوا پریشانه شی ځکه چه هغه ځما ځامن دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل بیشکه کوم چه تهٔ په هغوی خرچ کوے په هغے کښې ثواب دے[1].

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا أَنْفَقَ

ابومسعود د نبی کریم ﷺ نه روایت کړے دے چه حضرت ﷺ و فرمائیل کوم مسلمان چه په خپل کور والاؤ باندے خرچ کوی. او

[1]: د زینب دد ے تولو روایتونو نه معلومیږی چه دا صدقه نفلی وه (نووی رحمه الله)

عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةً وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً

په هغې كښې د ثواب اميد لري نو هغه ده ده د پاره صدقه ده

عَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أُمِّي قَدِمَتْ عَلَيَّ وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَوْ رَاهِبَةٌ أَفَأَصِلُهَا قَالَ نَعَمْ

اسماء د ابوبكر لور) عرض اوكړو چه يا رسول الله ﷺ خما مور راغلې ده او هغه د دين بيزاره ده (په نورو روايتونو كښې راغلي دي چه هغه مشركه ده) ايا زهٔ د هغې سره ښهٔ سلوك او احسان اوكړم؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل آو

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ إِذْ عَاهَدَهُمْ فَاسْتَفْتَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَفَأَصِلُ أُمِّي قَالَ نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ

اسماء (د ابوبكر لور) عرض اوكړو چه يا رسول الله ﷺ خما مور راغلې ده او هغه مشركه ده په هغه زمانه كښې چه تا د قريش مكې سره صلح كړې وه. نو زهٔ د هغې سره احسان اوكړم؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل آو احسان كوه د خپلې مور سره.

بَابُ وُصُولِ ثَوَابِ الصَّدَقَةِ عَنِ الْمَيِّتِ إِلَيْهِ

باب: د مړي د طرفه د صدقې وركولو نه د هغې ثواب به دهٔ ته ملاويږي

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أُمِّيَ افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَلَمْ تُوصِ وَأَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ أَفَلَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا قَالَ نَعَمْ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روايت دے چه يو سړے راغے او هغه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو چه خما مور ناخاپه وفات شوه او د وصيت موقع ئې او نهٔ موندله او گمان دے كهٔ خبرې ئې كړې وې نو صدقه به ئې وركوله اوس كهٔ زهٔ صدقه وركړم نو هغې ته ئې ثواب رسي. حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل آو[1].

---

[1] ددې حديث نه معلومه شوه چه صدقه وركول د مړي د طرفه مړي لره نفع وركوي او په اتفاق د اهل سنت علماؤ ورته ثواب رسي. او دغه شان ددعا په رسيدو كښې هم اجماع ده او د قرضې په ادا كولو كښې هم او په دې ټولو باندې نصوص راغلي دي او دغه شان د قرضې هم دغه شان د نفلي حج هم كهٔ چرې وصيت هغه مړي كړې وي. او اختلاف دے په روژو كښې كومې چه د مړي په ذمه دي او په رانج مذهب كښې ددې جواز ښته څكه چه په احاديث صحيحه كښې راغلي دي او د اصحاب شافعيؤ په په مذهب كښې د قراءت قرآن ثواب مړي ته نهٔ رسي. او يو جماعت ئې په دې طرف دے چه هغه وائي رسيږي او د احمد بن حنبل رحمه الله مذهب دغه دے. او باقي د مونځ او ټولو عبادتونو ثواب د شافعيؤ او جمهورو په نز نهٔ رسي. او امام احمد رحمه الله فرمائيلي دي چه د حج په شان د ټولو ثواب رسي (كذا قال النووي رحمه الله). د اردو كتاب مترجم وائي چه د ثواب وجود به هله وي چه دغه مال حلال وي او څهٔ بدعت ورسره مخلوط نهٔ وي لكه دريمه، څلورمه، شپږمه، كال وغيره تاريخونه د خپل طرفه مقرر ول يا د خوراك قسمونه په خپل جهالت سره مقرر ول لكه د بي بي فاطمې رضي الله عنها منښته وغيره او نهٔ دا اندازه د خپل طرفه مقرر ول چه دا نذر به صرف ښځې خوري سړي به ئې نهٔ خوري دوه دشمنان به ئې نهٔ خوري او بيا په هغې كښې نيت خالص د الله رضا وي نهٔ دا چه په رورولي كښې مې نوم اوشي. چه واه د صاحب باوا دريمه ئې څومره په دوم

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ وَلَمْ تُوصِ كَمَا قَالَ ابْنُ بِشْرٍ وَلَمْ يَقُلْ ذٰلِكَ الْبَاقُونَ

هشام په بل اسناد سره دغه روايت كړے دے او د ابواسامهؓ په روايت كښې دادي چه هغوى وصيت نۀ دے كړے لكه چه د ابن بشر په روايت كښې دي او راويانو د هغې ذكر نۀ دے كړے.

بَاب بَيَانِ أَنَّ اسْمَ الصَّدَقَةِ يَقَعُ عَلٰى كُلِّ نَوْعٍ مِنَ الْمَعْرُوفِ

باب: په هره نيكۍ د صدقے اطلاق كيږي

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ

د حذيفه نه روايت دے چه ستا سو نبى كريم ﷺ فرمائيلے دي او ابن ابى شيبه د نبى ﷺ نه روايت كړے دے چه حضرت ﷺ فرمائيلي دي هره نيكي صدقه ده [1].

عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ الدِّيلِيِّ عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا رَسُولَ اللهِ ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالْأُجُورِ يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ وَيَتَصَدَّقُونَ بِفُضُولِ أَمْوَالِهِمْ قَالَ أَوَلَيْسَ قَدْ جَعَلَ اللهُ لَكُمْ مَا تَصَدَّقُونَ إِنَّ بِكُلِّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةً وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ صَدَقَةٌ وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ أَيَأْتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ

د ابو الاسواد ديلى نه روايت دے چه ابوذر وئيلے دي چه څو اصحاب د نبى كريم ﷺ خواله راغلۀ او عرض ئے اوكړو اے د الله رسوله! مالدارانو هر څۀ لوټ كړل ځكه چه هغه مونځ كوي لكه څنګه چه مونږ مونځ كوو، او روژه نيسى لكه څنګه چه مونږ روژه نيسو او صدقه وركوى د خپلو زياتو مالونو نه حضرت ﷺ اوفرمائيل تاسو لره هم الله پاك د صدقے سامان دركړے دے چه هر تسبيح صدقه ده او هر تكبير صدقه ده او هر تحميد صدقه ده او هر وار "لَا اِلٰهَ اِلَّا الله" وئيل صدقه ده. او د ښو خبرو ښودل صدقه ده او د بدو نه منع كول صدقه ده او د هر بنده د بدن په ټكړه كښې صدقه ده خلقو عرض اوكړو چه يا رسول الله ﷺ په مونږ كښې چه څوك د خپل بدن نه شهوت اوباسى (يعنى د خپلے بى بى سره صحبت كوي) نو

دام سره اوكړه. د دادا په څلويښتمه كښې ئے ښۀ حصے تقسيم كړے. او په مصارف صدقات دي خرچ كړے شي. غرض دا چه هر كله دا امر موجود وي نو هله به د ثواب رسيدو د وجوب تحقيق وي. بيا د ايصال خيال يعنى د رسيدو خيال هم كيدے شي ورنه دد ے امورو نه بغير هډو ثواب نۀ دے. نو د رسيدو څۀ ذكر دے. لكه چه اودس نۀ دي نو مونځ به څۀ اوشي.

[1]: يعنى د صدقه به شان په هره نيكۍ كښې ثواب دے او په يوه نيكۍ كښې هم بخل كول پكار نۀ دي.

لَهُ فِيهَا أَجْرٌ قَالَ أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِي حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ فِيهَا وِزْرٌ فَكَذٰلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرًا

هغې کښې هم ثواب دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل ولې نه دے. ګوره کۀ دا چرے په حرام ځائے کښې صرف شی نو ګناه شوه کۀ نا؟ دغه شان چه په حلال ځائے کښې صرف شی نو ثواب دے.

عَنْ عَائِشَةَ تَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهُ خُلِقَ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْ بَنِي آدَمَ عَلَى سِتِّينَ وَثَلَاثِ مِائَةِ مَفْصِلٍ فَمَنْ كَبَّرَ اللهَ وَحَمِدَ اللهَ وَهَلَّلَ اللهَ وَسَبَّحَ اللهَ وَاسْتَغْفَرَ اللهَ وَعَزَلَ حَجَرًا عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ شَوْكَةً أَوْ عَظْمًا عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ وَأَمَرَ بِمَعْرُوفٍ أَوْ نَهَى عَنْ مُنْكَرٍ عَدَدَ تِلْكَ السِّتِّينَ وَالثَّلَاثِ مِائَةِ السُّلَامَى فَإِنَّهُ يَمْشِي يَوْمَئِذٍ وَقَدْ زَحْزَحَ نَفْسَهُ عَنِ النَّارِ قَالَ أَبُو تَوْبَةَ وَرُبَّمَا قَالَ يُمْسِي

د مؤمنانو مور حضرت عائشه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی د هر بنده په بدن کښې درے سوه او شپیتۀ جوړونه دی پس چا چه د الله لوئی بیان کړه او د الله ثنائے بیان کړه. او لا اله الا الله ئے اووے او سبحان الله او استغفروا الله ئے اووے او د خلقو د لارے نه ئے ګټے یا ازغی یا هډوکی لرے کړل یا ئے ښۀ خبره اوښودله یا ئے د بدے خبرے نه منع کول اوکړل نو د دغه درے سوه او شپیتۀ جوړونو د شمار برابر به هغه په دغه ورځ روان وی او لرے به کړی خپل ځان لره د دوزخ د اور نه او ابوتوبه په خپل روایت کښې دا هم وئیلې دی چه ماښام کړی هغه په دغه حال کښې.

عَنْ مُعَاوِيَةَ أَخْبَرَنِي أَخِي زَيْدٌ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَوْ أَمَرَ بِمَعْرُوفٍ وَقَالَ فَإِنَّهُ يُمْسِي يَوْمَئِذٍ

حضرت معاویه هم روایت کړے دے په بل اسناد سره د هغې مثل صرف دومره دے چه "اَوْاَمَرَ" ئے اووے (یعنی د وَ په ځائے اَو اوئے) او اوئے وئیل چه هغه په دغه ورځ ماښام کوی[1].

عَنْ عَائِشَةَ تَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُلِقَ كُلُّ إِنْسَانٍ بِنَحْوِ حَدِيثِ مُعَاوِيَةَ عَنْ زَيْدٍ وَقَالَ فَإِنَّهُ يَمْشِي يَوْمَئِذٍ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی. هر انسان پیدا کړے شوے دے. راتلونکے مضمون د حدیث د معاویهؓ پشان دے. خو په دے کښې د یُمْسِی په ځائے باندے یَمْشِی دے.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ قِيلَ أَرَأَيْتَ

سعید بن ابوبرده د خپل پلار نه روایت کوی او هغه د خپل نیکۀ نه او هغه د رسول الله ﷺ نه چه په هر مسلمان باندے صدقه ده. بیائے عرض اوکړو چه کۀ څۀ ورسره نۀ وی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل په خپلو لاسو

[1]: د دے روایت نه معلومه شوه چه یو ے نیکۍ ته هم سپک کتل نۀ دی پکار. ولې چه ثابته شوه چه دا ټول د دوزخ نه خلاصے ورکولو والا دی.

إِنْ لَمْ يَجِدْ قَالَ يَعْتَمِلُ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ قَالَ قِيلَ أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ قَالَ يُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ قَالَ قِيلَ لَهُ أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ قَالَ يَأْمُرُ بِالْمَعْرُوفِ أَوِ الْخَيْرِ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ يُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ فَإِنَّهَا صَدَقَةٌ

دے محنت اوکړی لو دے ګټی لو پخپله دے هم نفع لوکړی لو صدقه دے هم ورکړی بیاترے عرض لوکړو چه کچرے عدا هم نه شی؟ حضرت ﷺ لوفرمائیل د افسوس لو لرمان کونکی مدد دے لوکړی بیاترے عرض اوکړو کۀ چری دا هم حضرت ﷺ اوفرمائیل د خیر یا د نیکۍ حکم دے کو اوکړو کۀ دا هم نۀ شی کولے نو حضرت ﷺ اوفرمائیل د اوساتی دا هم یو صدقه ده[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ قَالَ تَعْدِلُ بَيْنَ الِاثْنَيْنِ صَدَقَةٌ وَتُعِينُ الرَّجُلَ فِي دَابَّتِهِ فَتَحْمِلُهُ عَلَيْهَا أَوْ تَرْفَعُ لَهُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ قَالَ وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ وَكُلُّ خُطْوَةٍ تَمْشِيهَا إِلَى الصَّلَاةِ صَدَقَةٌ وَتُمِيطُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ

ابوهریره د رسول الله ﷺ نه ډیر روایتونه کړے دی یو دا هم دے چه حضرت ﷺ فرمائیلے دی چه د هر جوړ باندے صدقه واجبیږی په هره هغه ورځ چه نمر راخیژی نو د دوؤ بنیامو په مینځ کښې انصاف کو صدقه ده. د چا سره مدد کول دومره قدرے چه هغه باندے کیښنوی یا د هغۀ پیټے په سورلۍ باندے بار ک هم یو صدقه ده. او فرمائیلے دی چه ښکلے او پاکه خبره صدقه ده او د مانځۀ دپاره جماعت ته د تلو په وخت ایخودل دا هم یو صدقه ده او د تکلیف څیز دلارے نه کول دا هم یو صدقه ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُولُ الْآخَرُ اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا

ابوهریره وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کوم وخت چه بندیګان سحر کوی نو دوه فرښتے نازلے شی یوه دا وائی چه یا الله خرچ کولو والا لره نوره ورکړه. او دویمه وائی یا الله بخیل لره تباه کړه[2].

[1] د دے ټولو صدقونه نفلی صدقے مراد دی نۀ صدقهٔ واجبه.

[2] معلومه شوه چه بخیل ته فرښتے هم خیرے کوی نو کۀ بنیادم ورته خیرے اوکړی نو ولے بد ئے اوکړل.

عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تَصَدَّقُوا فَيُوشِكُ الرَّجُلُ يَمْشِي بِصَدَقَتِهِ فَيَقُولُ الَّذِي أُعْطِيهَا لَوْ جِئْتَنَا بِهَا بِالْأَمْسِ قَبِلْتُهَا فَأَمَّا الْآنَ فَلَا حَاجَةَ لِي بِهَا فَلَا يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا

د حارث بن وهب ؓ نه روايت دے چه ما اوريدلے دى د رسول الله ﷺ نه چه اونے فرمائيل چه صدقه وركوئ او نزدې ده چه داسے وخت به راشي چه بنده به خپله صدقه په لاس كښې نيولے راوړي او چا له چه ئے وركوي نو هغه به وائي كۀ چرے تا پرون راوړے وے نو ما به اخستے وه. مگر نن خو خما حاجت نشته غرض دا چه داسے به څوك نۀ وي چه هغه قبوله كړي [1].

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَطُوفُ الرَّجُلُ فِيهِ بِالصَّدَقَةِ مِنَ الذَّهَبِ ثُمَّ لَا يَجِدُ أَحَدًا يَأْخُذُهَا مِنْهُ وَيُرَى الرَّجُلُ الْوَاحِدُ يَتْبَعُهُ أَرْبَعُونَ امْرَأَةً يَلُذْنَ بِهِ مِنْ قِلَّةِ الرِّجَالِ وَكَثْرَةِ النِّسَاءِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ بَرَّادٍ وَتَرَى الرَّجُلَ

د ابوموسیٰ ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دى چه په خلقو باندے به يو داسے زمانه راشي چه بنده به خپله د سرو زرو صدقه چا پيره گرځوي او څوك به نۀ ميلاوېږي چه هغه قبوله كړي. او يو يو سړي ته به ليدلو والا اووينى چه په هغه پسے به څلوېښت ښځے لگيدلے وى او پناه به غواړي په دے سره د سړو د كميدونه او د ښځو د زياتيدو نه. او د ابن براد په روايت كښې دى چه اوبه گورے تۀ [2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكْثُرَ الْمَالُ وَيَفِيضَ حَتَّى يَخْرُجَ الرَّجُلُ بِزَكَاةِ مَالِهِ فَلَا يَجِدُ أَحَدًا يَقْبَلُهَا مِنْهُ وَحَتَّى تَعُودَ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دى چه قيامت به د هغے پورے نۀ راځي چه د كومے پورے مال ډير نۀ شي او راوانۀ بهيږي تردے چه خپل زكات يو بنده راواخلي او څوك داسے اونۀ مومي او هغه قبول كړي تردے پورے چه د عربو زمكه به د

[1] په دے حديث كښې اشاره ده چه په صدقه وركولو كښې سستي مۀ كوئ ځۀ چه وركول وى نن ئے وركوئ صبا ته ئے مۀ ساتئ. او يرول دى د آخرے زمانے د حال نه چه هغه وخت به د مال زياتوالے وى. او خزانے به د زمكے نه راوتلى پرتے وى او د بركتونو مياشت به وريږي. او دا به د ياجوج ماجوج د هلاكيدو نه پس وى هغه وخت به د عيسىٰ عليه السلام سره په پنړو گرځولو او د مهدى عليه السلام د دين په خدمت كولو سره به دے امت ته شرف حاصليږي.

[2] په دے حديث كښې خبر دے د لويو لويو جنگونو چه زيات درجه نارينه به پكښې قتل شي او ښځې به پاتے شي چه د خپلے سودا سلف او د كاروبار دپاره به څلوېښت ښځے د يو سړي نه زيات نۀ مومي. او دا حال به د دغه دجال ملعون نه پس وى. يا چه هر كله عيسىٰ عليه السلام دنيا ته تشريف راوړي او پروردگار د هغۀ په ديدار او فرحت آثار سره د امت مرحومه نظرونه بيا نوراني كړي. و د سروزرو قيد ئے د دے دپاره اولگوۀ چه هر كله د سرو زرو اخستونكے به څوك نۀ وي نو بيا د سپينو زرو او تانبے يعني د روپو او پيسو به څوك تپوس اوكړي

أَرْضُ الْعَرَبِ مُرُوجًا وَأَنْهَارًا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكْثُرَ فِيكُمُ الْمَالُ فَيَفِيضَ حَتَّى يُهِمَّ رَبَّ الْمَالِ مَنْ يَقْبَلُهُ مِنْهُ صَدَقَةً وَيُدْعَى إِلَيْهِ الرَّجُلُ فَيَقُولُ لَا أَرَبَ لِي فِيهِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقِيءُ الْأَرْضُ أَفْلَاذَ كَبِدِهَا أَمْثَالَ الْأُسْطُوَانِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ فَيَجِيءُ الْقَاتِلُ فَيَقُولُ فِي هَذَا قَتَلْتُ وَيَجِيءُ الْقَاطِعُ فَيَقُولُ فِي هَذَا قَطَعْتُ رَحِمِي وَيَجِيءُ السَّارِقُ فَيَقُولُ فِي هَذَا قُطِعَتْ يَدِي ثُمَّ يَدَعُونَهُ فَلَا يَأْخُذُونَ مِنْهُ شَيْئًا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَصَدَّقَ أَحَدٌ بِصَدَقَةٍ مِنْ طَيِّبٍ وَلَا يَقْبَلُ اللهُ إِلَّا الطَّيِّبَ إِلَّا أَخَذَهَا الرَّحْمَنُ بِيَمِينِهِ وَإِنْ كَانَتْ تَمْرَةً فَتَرْبُو فِي كَفِّ الرَّحْمَنِ حَتَّى تَكُونَ أَعْظَمَ مِنَ الْجَبَلِ كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ أَوْ فَصِيلَهُ

څرېدو ځائے او نهرونه شي[1].

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه قیام د هغے وخت پورې نۀ راځي د کومے پورې چه مال بهیدلے را وځي. او دومره به زیات شي چه مال والا به سوچ کوي چه صدقه به څوك واخلي. او کۀ یو سړی ته د صدقے ورکولو د اووئیلے شي نو هغه به اووائي چه ما ته دد ے حاجت نشته

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلي دي چه زمکه خپلے اینې ټکړې لره قے کړي. لکه څنګه چه لوئے ستنے وي دا د سر سپینو زرو او قاتل به راوستے شي او هغه به اووائي چه دد ے دپا قتل کوؤ. او د خپلولۍ قطع کونکے به حاضر کړے شي او هغ اووائي چه دد ے دپاره ما د خپلولۍ حق پریکړے وو. او غل به حا کړے شي نو هغه به اووائي چه دد ے دپاره ځما لاس پریکړے ش وو. بیا به ددغه مال د اخستو دپاره ورته اوئیلے شي لیکن هغ به ئے پریږدي او د هغے نه به څۀ شے هم وانخلي[2].

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلي د بنده چه صدقه ورکوي د پاك مال نه. او اللهؓ نۀ قبلوي م مال لره (یعنې حلال مال لره) بیا چه هر کله څوك د پاك صدقه ورکوي نو رحمٰنؓ په خپل ښي لاس کښې هغے لره اګر کۀ هغه یوه کهجوره هم وي (په عربو کښې دد ے نه لو نشته) او هغه د رحمٰنؓ په ورغوی کښې زیاتیږي تر دے پو

---

[1] یعنې د سرو د کموالي د وجے نه به په زمکه څوك کرونده نۀ کوي او زمکه به شاړه شي. چه د ځناورو د څرېدو نه سوا به د بل څ نۀ وي. او دا به د زیاتو جنګونو او د سختو قتلونو په سبب سره کیږي.

[2] په دے حدیث کښې دا خبر دے چه قیامت ته نزدے به زمکه خپلے خزانے رابرسیره کړي او هر بنده به د هغے بدوالے بیانوي او د

چه د غر په مقدار شی. لکه چه څوك د خپل آس بچی لره یا د اوښ بچی لره پالنه کوی (او هغه لوئیږی)[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَتَصَدَّقُ أَحَدٌ بِتَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ إِلَّا أَخَذَهَا اللهُ بِيَمِينِهِ فَيُرَبِّيهَا كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ أَوْ قَلُوصَهُ حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الْجَبَلِ أَوْ أَعْظَمَ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل کوم انسان چه د حلالے ګټے نه یوه کهجوره هم صدقه ورکړی نو الله تعالی هغے لره په خپل ښی لاس کښ اخلی او د هغے داسے پرورش کوی لکه په تاسو کښ څوك د آس بچی لره یا د اوښ بچی لره پالی تر دے پورے چه هغه د غر یا د دے نه هم لوئے شی.

عَنْ سُهَيْلٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ فِي حَدِيثِ رَوْحٍ مِنَ الْكَسْبِ الطَّيِّبِ فَيَضَعُهَا فِي حَقِّهَا وَفِي حَدِيثِ سُلَيْمَانَ فَيَضَعُهَا فِي مَوْضِعِهَا

د سهیل په دغه اسناد سره د روح په واسطه دا دی چه د حلالے ګټے نه وی او هغے لره په خپل حق کښ خرچ کړی او د سلیمان په واسطے سره دا دی چه په خپله موقع ئے خرچ کړی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ وَقَالَ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. اے خلقو الله تعالی پاك دے (یعنی د صفات حدوث او سمات نقص او زوال نه) او نهٔ قبلوی مګر پاك مال لره (یعنی حلال لره) او الله پاك مؤمنانو ته هغه حکم کړے دی کوم چه ئے پیغمبرانو ته کړے دے او فرمائیلی ئے دے چه اے رسولانو! خورئ پاك څیزونه او نیك عمل کوئ زهٔ ستاسو د کارونو نه خبریم او فرمائیلی دی چه اے مؤمنانو! خورئ پاکو څیزونو لره کوم چه مونږ تاسو ته درکړے دی. بیائے ذکر اوکړو د داسے سړی چه هغه اوږدے اوږدے سفرے کوی او دوړے پرے پریوتے وی. او بیا لاس د اسمان په طرف او چتوی او وائی چه اے ربه! اے ربه! حالانکه د هغهٔ خوراك حرام او څښاك ئے حرام او جامه ئے

[1]: دد ے نه معلومه شوه چه د الله پاك لاسونه شته او په هغے کښ څیزونو لره اخلی او پالنه او پرورش ئے کوی او بلاکیف په دی باندے ایمان راوړل د هر مؤمن دپاره ضروری دی او کوم کیفیت چه ددهٔ وهم کښ راځی د هغے نه د الله شانه ذات او صفات لره پاك او ګڼړی او دغه تصدیق د انبیاؤ دے او دد ے نه سوا نوری ویناګانے د فلاسفه ملاعنؤ دی. (نعوذ بالله منها)

حرامه او غذائے حرامه ده بیا به د هغهٔ دُعا څنګه قبوله شی [1].

بَابُ الْحَثِّ عَلَى الصَّدَقَةِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ أَوْ كَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ وَأَنَّهَا حِجَابٌ مِنَ النَّارِ

باب: د صدقے ترغیب اګر کهٔ د کهجورے یوه ټکره یا ښهٔ خبره وی. او صدقه د دوزخ نه پرده کونکے ده

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَتِرَ مِنَ النَّارِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَلْيَفْعَلْ

عدی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیل ئے. څوک چه طاقت لری ستاسو نه دد ے خبرے چه بچ شی د اُور نه اګر کهٔ هغه د کهجورے په ټکره هم وی پس وردے کړے هغے لره [2].

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ اللهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرَى إِلَّا النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ زَادَ ابْنُ حُجْرٍ قَالَ الْأَعْمَشُ وَحَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ عَنْ خَيْثَمَةَ مِثْلَهُ وَزَادَ فِيهِ وَلَوْ بِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ وَ قَالَ إِسْحَقُ قَالَ الْأَعْمَشُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ خَيْثَمَةَ

عدی اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه چه هغوی اوفرمائیل چه ستاسو کښې د هر بنده به د الله پاك سره خبرے کول وی په داسے شان چه د الله او ددهٔ په مینځ کښې به څوك ترجمان هم نهٔ وی. او بنده چه ښی طرفته ګوری نو د هغهٔ وړاندے روستو عمل به په نظر راځی او چه ګس طرفته ګوری نو هم به دغه په نظر راځی او چه وړاندے ګوری نو بل څهٔ به ئے په خیال کښې نهٔ وی سوا د اور نه او هغه به ددهٔ مخ ته وی. پس ځان اوساتئ د اور نه اګر کهٔ د یوے کهجورے په ټکره ورکولو سره هم وی او په یو روایت کښې ئے دا زیاته کړے ده اګر که یوه پاکه خبره ے هم کړے وی [3].

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ

عدیؓ وائی رسول الله ﷺ د دوزخ ذکر اوکړو او مخ ئے واړوو

---

[1] دا حدیث د ایمان او اسلام یوه لویه زیله ده. او دد ے نه معلومه شوه چه د بنده خوراك، جامه، کور، مکان ټول حلال کټل ضروری دی ورنه د الله د مقبولیت نه لاس وینځل پکار دی. او معلومه شوه چه حرام خوړونکے هم الله لره پورته ګنړی چه په دُعا کښې لاس د اسمان په طرف اوچتوی بیا چه څوك دد ے نه هم منکر دی هغه د حرام خورونه هم بدتر دی او د حلال خوړونکو نه هم بدتر دی.

[2] یعنی دغه نیمه کجوره به هم کمه نهٔ ګنړی او په خوشحالئ سره به ئے ادا کړی کهٔ چرے هغه هم د الله په در کښې قبوله شی نو د خلاصی دپاره پوره ده.

[3] دد ے نه معلومه شوه چه کلمه طیبه هم د خلاصی سبب د ے او د کلمے طیبے نه یا خو کلمه توحید مراد ده یا کومه خبره چه داسے وی چه په هغے سره د چا نیك بنده زړهٔ خوشحاله شی او هغه خوشحالی مباح یا مستحب وی او په د ے کښې صدقے طرفته رابلنه ده او تعلیم د ے چه په لږه صدقه ورکولو کښې د بنده شرم نهٔ کوی. او نهٔ د اخستو والاد هغهٔ نه شرم کوی.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّارَ فَأَعْرَضَ وَأَشَاحَ ثُمَّ قَالَ اتَّقُوا النَّارَ ثُمَّ أَعْرَضَ وَأَشَاحَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ كَأَنَّمَا يَنْظُرُ إِلَيْهَا ثُمَّ قَالَ اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ وَلَمْ يَذْكُرْ أَبُو كُرَيْبٍ كَأَنَّمَا وَقَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ

ئے مخ واړوو او اوئے فرمائيل بچ شئ تاسو د دوزخ نه بيائے مخ واړوو او ډير ئے مخ واړوو تر دے پورے چه خموږ گمان راغے چه گويا دے د هغے طرفته گورى بيائے اوفرمائيل بچ شئ تاسو د دوزخ نه اگر کۀ د کهجورے په يوه ټکړه ورکولو سره هم وى او کۀ دغه هم نۀ مومئ نو يوه ښۀ غونډے خبره چا ته اوکړئ هم پوره ده او د ابوکريب په روايت کښې د "گويا" لفظ نشته[1]

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ النَّارَ فَتَعَوَّذَ مِنْهَا وَأَشَاحَ بِوَجْهِهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ قَالَ اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ

عدى وائى چه رسول الله ﷺ د دوزخ ذکر اوکړو او د هغے نه ئے پناه اوغوښته او درے ځله ئے مخ واړوو او اوئے فرمائيل خان بچ کړئ تاسو د اور نه اگر کۀ د کهجورے په يوه ټکړه ورکولو سره هم وى او کۀ دا هم نۀ وى نو يوه ښۀ خبره اوکړئ.

عَنِ الْمُنْذِرِ بْنِ جَرِيرٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَدْرِ النَّهَارِ قَالَ فَجَاءَهُ قَوْمٌ حُفَاةٌ عُرَاةٌ مُجْتَابِي النِّمَارِ أَوِ الْعَبَاءِ مُتَقَلِّدِي السُّيُوفِ عَامَّتُهُمْ مِنْ مُضَرَ بَلْ كُلُّهُمْ مِنْ مُضَرَ فَتَمَعَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَا رَأَى بِهِمْ مِنَ الْفَاقَةِ فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ فَأَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ وَأَقَامَ فَصَلَّى ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ إِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ

منذر جرير د خپل پلار نه روايت کوى چه موږ د رسول الله ﷺ سره وو د ورځے په شروع کښې وائى چه څۀ خلق راغلل خپے ابله خپے او برېنډ بدن چه اغوستى ئے وو د څرمنے کوټونه يا اوږدۀ کوټونه چه گريوانونه کهولاؤ وو او تورے ئے اوګوته اوېزاندے وے اکثر څۀ بلکه ټول په هغوى کښې د قبيله مضر خلق وو. نو د رسول الله ﷺ د مخ مبارك رنګ بدل شو د هغوى د لوږے او برېنډ حالت په ليدو سره د ننه لاړو او بيا بهر رااووتو (يعنى پريشان شو سبحان الله څومره شفقت او همدردى وه پکښې) او بلال ته ئے حکم اوکړو چه اذان اوکړه او تکبير ئے اوکړو او مونځ ئے اوکړو او خطبه ئے اولوسته او په کښې ئے دا آيت اولوستو چه اے خلقو د الله ﷻ نه اوېرېږئ چه تاسو ئے پيدا کړى يئ (دائے څکه اولوستو چه معلومه شى چه ټول بنيادم په خپلو کښې رونړه رونړه دى) د

---

[1] سبحان الله دا د رسول الله ﷺ تعليم او طرز کلام وو چه دوستانو ته کمال دوېرے او خطر د دوزخ نه راشى او کيدے شى چه الله جل جلاله دغه وخت دوزخ د هغۀ مخے ته کړے وو يا دا هم څۀ لرے نه ده څکه چه دوزخ او جنت دواړه موجود دى. او کوم چه موجود وى د هغے ليدل څۀ گران نه دى موږ دا سے خلقو له ليدلے دى چه هغوى ډيرے پيرے د دوزخ او جنت په بيدارى کښې سيل کړے دے.

رَقِيبًا وَالْآيَةَ الَّتِي فِي الْحَشْرِ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ وَاتَّقُوا اللهَ تَصَدَّقَ رَجُلٌ مِنْ دِينَارِهِ مِنْ دِرْهَمِهِ مِنْ ثَوْبِهِ مِنْ صَاعِ بُرِّهِ مِنْ صَاعِ تَمْرِهِ حَتَّى قَالَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ بِصُرَّةٍ كَادَتْ كَفُّهُ تَعْجِزُ عَنْهَا بَلْ قَدْ عَجَزَتْ قَالَ ثُمَّ تَتَابَعَ النَّاسُ حَتَّى رَأَيْتُ كَوْمَيْنِ مِنْ طَعَامٍ وَثِيَابٍ حَتَّى رَأَيْتُ وَجْهَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَهَلَّلُ كَأَنَّهُ مُذْهَبَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ وَمَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ

إِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا پورے پیانے د سورت حشر آیات لولوستو چه اے ایماندارو د الله نه اویریږی او غور اوکړی چه تلسو د خپلو ځانونو دپاره مخکښې څه لیږلی ایخی دی چه صبا مو پکا رولشی میلمو د صدقاتو بازار گرم شو) او چا اشرفی ورکړه چا درهم چا یو لوگے د غنمو او چا یو لوگے د کهجورو ورکول شروع کړل ترد ے چه حضرت ﷺ اوفرمائیل کۀ یوه ټکړه هم د کهجورے وی هغه هم راوړی) بیا د انصارو نه یو سړی یوه تیلۍ راوړه چه د هغۀ لاسونه عاجز کیدل بلکه عاجز شوی وود هغه د نیولو نه (واه شاباش دومره مرانه الله دغسے توفیق تولو مسلمانانو له وکړی) بیا پرله پسے خلقو راوړل شروع کړل. ترد ے پورے چه ما دوه ډهیری اولیدل د غلے او کپړی ا ترد ے پوری (صدقات جمع شو) چه د رسول الله ﷺ مخ مبارك مالید چه په پرقیدو شروع شو گویا چه د سروزرو شو لکه کندن بیا رسو الله ﷺ اوفرمائیل څوك چه په اسلام کښې راغے او نیکه خبره (یعنی کتاب او سنت مطابق) ئے جاری کړه د هغۀ دپاره د خپل عمل ثواب د ے او کوم خلق چه پړے ددۀ نه پس عمل کوی (ددۀ په لیدا شوی کار) د هغے هم ثواب د ے بغیر دد ے چه د هغے خلقو څۀ ثوا کم شی او څوك چه په اسلام کښې راغے او بل چال چلن ئے اختیار کړ په دنیا پاتے کړو (یعنی د کومے نه چه کتاب او سنت منع فرمائیلے ده هغه باند ے د خپل عمل هم بار د ے او د هغه خلقو هم کوم چه ددۀ پس دغه عمل کوی بغیر دد ے چه د هغه خلقو بار ترے څۀ کم شی

۱: د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوشحالی د خلقو په همدردۍ لیدو سره راغله او د غریبانو پالنه او په خلقو باند ے د الله تعالی په کښې بے دریغه خرج کول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمانبرداری او د مسلمانانو شفقت په خپلو رونړو باند ے لیدل او په دا مقام کښې هر مسلمان لره بنیادی مبارکی پکار ده. او دد ے حدیث نه اهل بدعت چه هغوی ته په احادیثو پوهه نشته د ے په خپلو ناپا بدعاتو باند ے استدلال کوی. او وائی چه دا روایت مخصص د ے د "کل بدعة ضلالة" او مراد دد ے نه محدثات باطله دی او بدع مذم

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدْرَ النَّهَارِ بِمِثْلِ حَدِيْثِ ابْنِ جَعْفَرٍ وَفِي حَدِيْثِ ابْنِ مُعَاذٍ مِنَ الزِّيَادَةِ قَالَ ثُمَّ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ خَطَبَ

منذر بن جریر د خپل پلار نه راوی دے هغوی وائی چه موږ د ورځے په شروع کښں د رسول الله ﷺ په خدمت کښں حاضر وو مخکښں د جعفر د حدیث مطابق دے د معاذ په روایت کښں دا زیات دی بیائے د ماسپخین مونځ اوکړو بیائے خطبه اوفرمائیله.

عَنِ الْمُنْذِرِ بْنِ جَرِيْرٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَاهُ قَوْمٌ مُجْتَابِي النِّمَارِ وَسَاقُوا الْحَدِيْثَ بِقِصَّتِهِ وَفِيْهِ فَصَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ صَعِدَ مِنْبَرًا صَغِيْرًا فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ اللهَ أَنْزَلَ فِي كِتَابِهِ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ

منذر بن جریر د خپل پلار نه روایت کوی. چه هغوی اوونیل زهٔ د نبی ﷺ سره ناست وم یو ټولګے راغے د څرمن کوټونه ئے اچولے وو مخکښں د حدیث پورا قصه ئے بیان کړه. او په دے کښں دادی چه پیغمبر ﷺ د ماسپخین مونځ اوکړو او په وړوکی ممبر کیناستهٔ او د الله تعالی حمدوثنا ئے اوکړه بیا ئے اوفرمائیل اما بعد بیشکه الله تعالی په خپل کتاب کښں نازل کړی دی يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ.

عَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ جَاءَ نَاسٌ مِنَ الْأَعْرَابِ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ عَلَيْهِمُ الصُّوْفُ فَرَأَى سُوْءَ حَالِهِمْ قَدْ أَصَابَتْهُمْ حَاجَةٌ فَذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيْثِهِمْ

د جریر رضہ نه روایت دے وائی چه څهٔ خلق د بانډے د رسول الله ﷺ خواله راغله چه د هغوی جامے دوړئ وے حضرت ﷺ چه د هغوی

بدعاتو باندے استدلال کوی او وائی چه دا روایت مخصص دے د "کل بدعة ضلالة" او مراد ددےنه محدثات باطله دی او بدع مذمونه او غرض د هغوی سره دادے چه کوم بدعات ئے د خپل نفس موافق وی هغوی لره ددے کلیے نه خارج کړی جاری اوساتی حالانکه دا استدلال او تقریر د هغوی محض باطل دے په څو وجهو سره. اول دا چه حضرت صلی الله علیه وسلم د څهٔ نوی احداث ذکر نهٔ دے کړے چه هغه ددےحدیث احداث مخصص دی. دویم دا چه صحابو رضی الله عنهم دغه وخت څهٔ نوے خبره نه وه کړے چه په هغے باندے حضرت صلی الله علیه وسلم دا فرمائیلے وی. پس ددے نه نوے خبره مراد اخستل محض د سیاق وسباق کلام نه مخ اړولدی دریم دا چه د سن او سنت معنی طریقه مسلوکه ده په لغت کښں نهٔ احداث امر جدید. نو اوس په دے حدیث کښں دغه طریقه مسلوکه جاری کول مراد دی نهٔ دا چه څهٔ نوے خبره راویستل. څلورم دا چه په سوونو احادیثو کښں د احداث او بدعت بد والے او بدوالے دے بیا په دے کښں. رسول الله صلی الله علیه وسلم دے تهٔ حسن ولے فرمائیلے دی. او کله چه دا خبره ثابته شوه نو اوس دا ګنړل پکار دی چه کوم سنتو نه او مستحبات داسے دی چه په هغے باندے خلقو التفات او عمل پریخودے دے په هغے باندے چه چا عمل جاری کړو هغه سنت حسنه جاری کول شو. او دغه شان چه کوم محرمات او مکروهات شرعی رواج شوے دی. هغه په قول ثانی کښں داخل شو. په دے صورت کښں د کل محدثة بدعة تاویل هم نهٔ کول پرے وخی. او نهٔ په کلام شارع کښں منافات لازم راځی. اوس باقی پاتے شو هغه او مور چه هغه روستو د سلفو صالحینو په ضرورت جاری شول لکه د کلام الله اعراب وغیره. دے ته بدعت وئیل هم بے ادبی ده. لکه په ضرورت شرعی دے ته ملحق بالسنة وئیل پکار دی. دغه شان کوم امور چه بعینه په رسول الله صلی الله علیه وسلم او خیر القرون کښں اوموندے شی هغه سنت دی او د کومے په نظیر اوموندے ی او بعینه موندے شوی نهٔ وی هغے ته ملحق اووئیلے شی نو نهٔ منافات په کلام د شارع راځی او نهٔ د څهٔ کلیے تاویل کول پرے وخی او نهٔ خرابی لازم راځی. و ذلك تحقیق انیق.

قَدْ أَصَابَتْهُمْ حَاجَةٌ فَذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِهِمْ

بدحال او ليدهٔ چه محتاج دی بيانے تول حديث ذكر كړو

بَابُ الْحَمْلِ بِأُجْرَةٍ يُتَصَدَّقُ بِهَا وَالنَّهْيِ الشَّدِيدِ عَنْ تَنْقِيصِ الْمُتَصَدِّقِ بِقَلِيلٍ

باب: په مزدورانو هم صدقه كول پكار دی او د لږ صدقے كونكی د سپك گنړلو سخت ممانعت

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ أُمِرْنَا بِالصَّدَقَةِ قَالَ كُنَّا نُحَامِلُ قَالَ فَتَصَدَّقَ أَبُو عَقِيلٍ بِنِصْفِ صَاعٍ قَالَ وَجَاءَ إِنْسَانٌ بِشَيْءٍ أَكْثَرَ مِنْهُ فَقَالَ الْمُنَافِقُونَ إِنَّ اللهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَدَقَةِ هٰذَا وَمَا فَعَلَ هٰذَا الْآخَرُ إِلَّا رِيَاءً فَنَزَلَتِ الَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ إِلَّا جُهْدَهُمْ وَلَمْ يَلْفِظْ بِشْرٌ بِالْمُطَّوِّعِيْنَ

ابوسعيد وئيلے دی مونږ ته حكم اوشو د صدقے او مونږ به پيټے په سر اوړلو او صدقه مو وركړه. او عقيل نيم اوگے (يعنی دوه سيره) او يو بل سړی دد ے نه څهٔ زيات وركړه نو منافقانو اوئيل الله تعالیٰ ته دد ٔ د صدقے څهٔ پروانشته. او دے دويم خو صرف د ښودنے دپاره صدقه وركړے ده. بيا دا آيت نازل شو كوم خلق چه بد وائی په خوشحالئ سره صدقه وركونكو مؤمنانو ته. او هغه خلقو ته چه د هغوی سره نهٔ شی موندے مگر خپله مزدوری او د بشر په روايت كښې د مطوعين لفظ نشته[1].

بَابُ فَضْلِ الْمَنِيحَةِ

باب: د لنگ شاروی د مفت وركولو فضيلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ أَلَا رَجُلٌ يَمْنَحُ أَهْلَ بَيْتٍ نَاقَةً تَغْدُو بِعُسٍّ وَتَرُوحُ بِعُسٍّ إِنَّ أَجْرَهَا لَعَظِيمٌ

ابوهريرهؓ د نبی كريم ﷺ نه روايت كوی چه بيشكه څوك چه يو كور والاته يوه داسے اوښه وركړی چه هغه سحر او مابنام يو منگے پئ وركوی نو د هغے لوئے ثواب دے[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى فَذَكَرَ خِصَالًا وَقَالَ مَنْ مَنَحَ مَنِيحَةً غَدَتْ بِصَدَقَةٍ وَرَاحَتْ بِصَدَقَةٍ

ابوهريره د نبی كريم ﷺ نه روايت كوی چه هغوی د څو خبرو نه منع فرمائيلے ده. او فرمائيلی ئے دی چه چا منيحه وركړه د هغهٔ دپاره د يوے صدقے ثواب سحر اوشو او د يوے مابنام د سحر د هغے د

---

[1]: دد ے حديث نه د صحابؤ رضی الله عنهم ريښتونے اطاعت خلوص او فرمانبرداری معلوميږی چه د تنگئ باوجود سوا د مزدورئ نه نور څهٔ ورسره نهٔ وو بيا هم په فرمانبردارئ او سخاوت كښې سرگرم وو. او د مزدورئ نه به ئے صدقه وركوله. الله دِ د هغوی نه راضی شی.

[2]: دا ثواب دے د منيحه او منيحه په عربو كښې وئيلے شی پئ وركونكی ښناور ته څو ورځے وركول چه بيا پئ او څكی واپس شی يا بالكل ئے ورته اوغورځوی چه بيا نهٔ واپس كيږی.

صَبُوحِهَا وَغَبُوقِهَا

سحر په پیو ځکلو سره او د ماښام د هغې ماښام په پیو ځکلو سره.

بَاب مَثَلِ الْمُنْفِقِ وَالْبَخِيلِ

باب: د سخي او د بخیل مثال

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الْمُنْفِقِ وَالْمُتَصَدِّقِ كَمَثَلِ رَجُلٍ عَلَيْهِ جُبَّتَانِ أَوْ جُنَّتَانِ مِنْ لَدُنْ ثُدِيِّهِمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا فَإِذَا أَرَادَ الْمُنْفِقُ وَقَالَ الْآخَرُ فَإِذَا أَرَادَ الْمُتَصَدِّقُ أَنْ يَتَصَدَّقَ سَبَغَتْ عَلَيْهِ أَوْ مَرَّتْ وَإِذَا أَرَادَ الْبَخِيلُ أَنْ يُنْفِقَ قَلَصَتْ عَلَيْهِ وَأَخَذَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَوْضِعَهَا حَتَّى تُجِنَّ بَنَانَهُ وَتَعْفُوَ أَثَرَهُ قَالَ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَقَالَ يُوَسِّعُهَا فَلَا تَتَّسِعُ

ابوهریره د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه اوئے فرمائیل چه مثال د خرچ کونکی او صدقه ورکونکی (دلته د راوی نه غلطی شوے ده او صحیح دا ده چه مثال د بخیل او صدقه کونکی) پشان د هغه سړے دے چه په هغهٔ دوه کرتے یا دوه زرے وی (دلته راوی ته شك دے مگر دوه زرے صحیح دی) او دا دواړه د سینے نه د مرئ پورے بیا چه هر کله خرچ کونکے غواړی او دویم راوی وائی چه هر کله صدقه ورکونکے صدقه ورکول غواړی نو هغه زرهٔ کھولاؤ شی او د هغهٔ په ټول بدن باندے به خوره شی (دغه شان د صدقه ورکونکی زرهٔ کھولاویږی او د زرهٔ د اخلاصه د الله په لاره کښ خرچ کوی) او کله چه بخیل خرچ کول غواړی نو هغه زره په هغهٔ باندے تنګه شی او هره حلقه ئے په خپل ځائے باندے کلکه شی تر دے پورے چه پټ کړی د هغهٔ جوړونو لره. او وران کړی ددهٔ د قدمونو نخښے لره کوم چه په زمکه باندے وی. او ابوهریرهؓ واچی چه دے ئے د کھولاولو کوشش کوی مگر هغه نهٔ کھولاویږی.[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلَ الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ كَمَثَلِ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا جُنَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ قَدِ اضْطَرَّتْ

ابوهریره وائی د رسول الله ﷺ د بخیل او صدقه ورکونکی مثال بیان اوفرمائیلو چه ددوی مثال د هغه دوؤ سړو پشان دے چه په هغے دواړو باندے د اوسپنے دوه زره وی چه د هغوی دواړو لاس د هغوی په سینو کښ تړلی وی او د هغوی په غاړو کښ بیا چه کله صدقه

---

[1]: دا فقره (تر دے پورے چه پټ کړی د هغه جوړونو لره او وران کړی د هغے د قدم نشان لره) دا د سخی په شان کښ دی چه د هغهٔ زکات دومره کھولاؤ شی مگر دا د راوی نه غلطی شویده چه هغه د بخیل په شان کښ دی لکه چه په وړاندے روایت کښ دغه شان ذکر دی

أَيْدِيهِمَا إِلَى ثُدِيِّهِمَا وَتَرَاقِيهِمَا فَجَعَلَ الْمُتَصَدِّقُ كُلَّمَا تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ انْبَسَطَتْ عَنْهُ حَتَّى تُغَشِّيَ أَنَامِلَهُ وَتَعْفُو أَثَرَهُ وَجَعَلَ الْبَخِيلُ كُلَّمَا هَمَّ بِصَدَقَةٍ قَلَصَتْ وَأَخَذَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَكَانَهَا قَالَ فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بِإِصْبَعِهِ فِي جَيْبِهِ فَلَوْ رَأَيْتَهُ يُوَسِّعُهَا وَلَا تَوَسَّعُ

ورکونکې د صدقې د ورکولو اراده اوکړي نو هغه زره د هغه کهولاؤ ترډے پورے چه د هغه د ګوتو بندونه پټ کړي ، او د هغې په کهولاويدو سره د هغهٔ لاسونه هم کهولاؤ شي) او د هغهٔ د قدم نخښنه کومه چه په زمکه باندے وي هغه لره هم وران کړي (يعنی د سخي عيب په سخاوت سره پټ شي يا ئي ګناه معاف شي او هغه زره په زمکه باندے زوړنده شي او د هغهٔ د قدمونو نخښنے نه ورانوي) او د بخيل حال داسې دے چه کله د صدقې ورکولو اراده اوکړي نو د هغهٔ زره تنګه شي او هره حلقه د هغې په خپل ځائے باندے نتوځي. او راوي وائي چه ما رسول الله ﷺ اوليدو چه په خپل ګريوان کښې ئې په لاس سره اشاره کوله (ددے دپاره چه د اوريدونکو په ذهن کښې د هغې د تنګيدو تصويرونه جوړ شي) او کهٔ تهٔ ورته اوګورے نو هغه به وائي چه کهولاؤول غواړي او زره کهولاوېږي نه [1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ مَثَلُ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا جُنَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ إِذَا هَمَّ الْمُتَصَدِّقُ بِصَدَقَةٍ اتَّسَعَتْ عَلَيْهِ حَتَّى تُعَفِّيَ أَثَرَهُ وَإِذَا هَمَّ الْبَخِيلُ بِصَدَقَةٍ تَقَلَّصَتْ عَلَيْهِ وَانْضَمَّتْ يَدَاهُ إِلَى تَرَاقِيهِ وَانْقَبَضَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ إِلَى صَاحِبَتِهَا قَالَ فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فَيَجْهَدُ أَنْ يُوَسِّعَهَا فَلَا يَسْتَطِيعُ

ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د بخيل او صدقه ورکونکي مثال داسے دے لکه دوه سړي چه په هغوی باندے د اوسپنے زره وي بيا هر کله چه سخي اوغواړي او صدقه ورکړي نو د هغهٔ زره ددے پورې کهولاؤ شي چه د هغهٔ د قدمونو اثر وران کړي او کله چه بخيل اوغواړي چه صدقه ورکړي نو د هغهٔ زر تنګه شي او د هغهٔ لاس د هغهٔ په مرئ کښې اونخلي او هره حلقه چه خپله دويمه حلقه کښې ورشي. راوي وائي ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي چه اوئے فرمائيل بيا هغه کوشش کوي چه کهولاؤ شي مګر نهٔ کهولاوېږي.

[1]: ددے حديث نه ثابته شوه د رسول الله ﷺ کرته اغوستل. او بخاري دا باب جوړ کړے دے چه د کرتې ګريوان په سينه ساتل پکار دي خکه ددے قصے نه دغه شان کرته د نبي کريم ﷺ معلوميږي.

بَاب ثُبُوتِ أَجْرِ الْمُتَصَدِّقِ وَإِنْ وَقَعَتِ الصَّدَقَةُ فِي يَدِ غَيْرِ أَهْلِهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لَأَتَصَدَّقَنَّ اللَّيْلَةَ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ زَانِيَةٍ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى زَانِيَةٍ قَالَ اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى زَانِيَةٍ لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ غَنِيٍّ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ عَلَى غَنِيٍّ قَالَ اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى غَنِيٍّ لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ سَارِقٍ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ عَلَى سَارِقٍ فَقَالَ اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى زَانِيَةٍ وَعَلَى غَنِيٍّ وَعَلَى سَارِقٍ فَأُتِيَ فَقِيلَ لَهُ أَمَّا صَدَقَتُكَ فَقَدْ قُبِلَتْ أَمَّا الزَّانِيَةُ فَلَعَلَّهَا تَسْتَعِفُّ بِهَا عَنْ زِنَاهَا وَلَعَلَّ الْغَنِيَّ يَعْتَبِرُ فَيُنْفِقُ مِمَّا أَعْطَاهُ اللهُ وَلَعَلَّ السَّارِقَ يَسْتَعِفُّ بِهَا عَنْ سَرِقَتِهِ

باب : د صدقے ورکونکی دپاره ثواب دے اگر کۀ صدقه فاسق وغیره ته اورسی

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یو سړی اووے زۀ به نن شپه څۀ صدقه ورکوم او هغه خپله صدقه په لاس (د کور) بهر اووتو (دا صدقه پټه ورکول ئے خوښ وو نو د شپے رااووتو) او د یوے زناکارے ښځے په لاس کښ ئے ورکړه. بیا سحر په خلقو کښ دا خبره خوره شوه چه نن یو سړی د زناکارے ښځے په لاس کښ صدقه ورکړے ده هغۀ اووے یا الله تولے خوبئ تالره دی ځما هغه صدقه زناکارے له لاړه. بیا هغه اووے چه نن به نوره صدقه کوم. بیا (د شپے) رااووتو او یو غنی مالدار له ئے ورکړه سحر په خلقو کښ دا چرچا پورته شوه چه نن چا مالدار ته صدقه ورکړے ده. هغۀ اووے یا الله تالره دی تولے خوبیانے ځما هغه صدقه د مالدار په لاس کښ ورغله یه دربمه ورځ ئے بیا اووے چه زۀ به صدقه ورکوم. او چه کله (د شپے) رااووتو نو صدقه ئے د یو غل په لاسو کښ ورکړه سحر په خلقو کښ آواز پورته شو چه نن چا غل له صدقه ورکړه. هغۀ اووی یا الله تولے خوبئ تالره دی. ځما صدقے د زناکارے ښځے او د مالدار سړی او د غل په لاسونو کښ ورغلے. بیا هغۀ ته یو سړے راغے (یعنی فرښته) یا د هغه زمانے پیغمبر علیه السلام او هغۀ اووے ستا تولے صدقے قبولے شوے دی. د زناکارے ښځے هغه خو په دے نظر چه شائد هغه په دغه شپه د زنا نه بچ شوه (ځکه چه هغے د ګیډے دپاره زنا کوله) پاتے شو غنی د هغۀ صدقه ځکه قبوله شوه چه شاید هغۀ له شرم او غیرت راشی چه نور خلق صدقے ورکوی راشه چه زۀ هم ورکړم او هغه خرچ کوی د الله د ورکړی شوی مال نه او د غل صدقه ځکه قبوله شوه چه شاید هغه په

دغه شپه غلا اونه کړه (ځکه چه د نن خرڅه خوراغله) [1].

بَاب أَجْرِ الْخَازِنِ الأَمِيْنِ وَالْمَرْأَةِ إِذَا تَصَدَّقَتْ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ بِإِذْنِهِ الصَّرِيْحِ أَوِ الْعُرْفِيّ

باب: امانتدار خازن او ښځې له د صدقې ثواب ملاویدل هر کله چه د خپل خاوند په اجازت سره خواه صاف اجازت وی یا د رواج په طریقه، صدقه ورکړی

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْخَازِنَ الْمُسْلِمَ الأَمِيْنَ الَّذِيْ يُنْفِذُ وَرُبَّمَا قَالَ يُعْطِي مَا أُمِرَ بِهِ فَيُعْطِيْهِ كَامِلًا مُوَفَّرًا طَيِّبَةً بِهِ نَفْسُهُ فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِيْ أُمِرَ لَهُ بِهِ أَحَدُ الْمُتَصَدِّقِيْنَ

د ابوموسیٰ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه کوم خزانچی مسلمان او امانت دار وی چه خرچ کوی او کله به ئې فرمائیل ورکوی هغه چا ته چه حکم ئې شوے وی او پوره (یعنی تحریر بدے رشوت نه اخلی) او پوره خیرات ورکوی د خپل زړهٔ د خوشحالیٔ سره او چا ته چه حکم شوے وی هغهٔ ته ئې رسوی هغه هم یو صدقه ورکونکے دے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ طَعَامِ بَيْتِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ كَانَ لَهَا أَجْرُهَا بِمَا أَنْفَقَتْ وَلِزَوْجِهَا أَجْرُهُ بِمَا كَسَبَ وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذٰلِكَ لَا يَنْقُصُ بَعْضُهُمْ أَجْرَ بَعْضٍ شَيْئًا

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ښځه د خپل کور د غلې نه خرچ کوی بغیر د فساد نه (یعنی څومره چه دستور دے لکه فقیر ته ټکړه یا سوال کونکی ته یو موټے چه په هغې کښې د خاوند رضا د عادت نه معلومیږی) وی به هغې لره ثواب د هغې خرچ کولو او خاوند ته د هغې د ګټلو او خزانچی ته هم ددغې په مثل چه د یو په ثواب به د بل ثواب نهٔ کمیږی (یعنی هر یو ته به الله پاک یو ثواب ورکوی نهٔ چه د یو په ثواب کښې به بل شریکوی.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ كَانَ لَهَا أَجْرُهَا وَلَهُ مِثْلُهُ بِمَا اكْتَسَبَ وَلَهَا بِمَا أَنْفَقَتْ

د حضرت عائشې نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ښځه د خپل خاوند د کور نه بغیر د فساد نه خرچ کوی نو وی دے لره اجر د هغې او خاوند لره په مثل د دے په سبب د ګټلو او په واسطه د ښځې په سبب د هغې

---

[1]: دا صدقه نفلی وه چه په دے کښې د چا اینه لونده شی ثواب دے. مګر فرض زکات کهٔ غنی له ورکړے شو نو زکات نهٔ ادا کیږی.

وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذٰلِكَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْتَقِصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا

د خرچ كولو. او خزانچي ته هم په مثل دده سوا دده خبره نه چه كم كړے شي د اجر د هغوی نه څۀ شے.

عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى أَبِي اللَّحْمِ قَالَ كُنْتُ مَمْلُوكًا فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ أَأَتَصَدَّقُ مِنْ مَالِ مَوَالِيَّ بِشَيْءٍ قَالَ نَعَمْ وَالْأَجْرُ بَيْنَكُمَا نِصْفَانِ

عُميرؓ چه د ابی اللحلم آزاد كړے غلام دے هغوی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو چه زۀ د خپلو مالكانو د مال نه څۀ صدقه وركړم؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل. آو او ثواب د هغے تاسو دواړو لره دی نيم نيم[1].

عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى أَبِي اللَّحْمِ قَالَ أَمَرَنِي مَوْلَايَ أَنْ أُقَدِّدَ لَحْمًا فَجَاءَنِي مِسْكِينٌ فَأَطْعَمْتُهُ مِنْهُ فَعَلِمَ بِذٰلِكَ مَوْلَايَ فَضَرَبَنِي فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لَهُ فَدَعَاهُ فَقَالَ لِمَ ضَرَبْتَهُ فَقَالَ يُعْطِي طَعَامِي بِغَيْرِ أَنْ آمُرَهُ فَقَالَ الْأَجْرُ بَيْنَكُمَا

عُميرؓ چه ازاد كړے غلام دے د ابی اللحم هغوی وائی چه ځما مالك ما ته حكم اوكړو چه غوښه اوچه كړه او يو فقير راغے نو ما د هغے نه هغۀ ته د خوراك برابر وركړه او هر كله چه مالك خبر شو نو زۀ ئے اووهلم. او زۀ رسول الله ﷺ له راغلم او هغوی ته مے ذكر اوكړو (سبحان الله هغوی امان وو د كونډو يتيمانو او مظلومانو) حضرت ﷺ هغه رااوغوښتو او ورته ئے اوفرمائيل دے تاولے اووهو؟ هغوی عرض اوكړو چه دۀ ځما خوراك ځما د حكم نه بغير وركړے دے نو حضرت ﷺ اوفرمائيل ثواب تاسو دواړو لره دے[2].

---

[1]: د ابی اللحلم معنی د غوښے نه انكار كونكے دا صحابی رضی الله عنه وو د رسول الله صلی الله عليه وسلم او نوم د هغۀ عبد الله وو يا خلف يا حويرث او هغوی د جاهليت په ورځو كښې د اسلام نه مخكښې د هغه ځناورو غوښه خوړل پريخودی وو كوم چه به د بتانو د پاسه ايخودے شو. او دے په جنګ حنين كښې شهيد شوے وو.

لطيفه: سبحان الله د صحابو څۀ حال وو چه د اسلام نه مخكښې ئے هم يو فطري تقوىٰ لره. يو نن صبا د نوم مسلمانان دی چه په سوونو بزے شيخ سدو هضموی او ادركے قدرے پرے هم نۀ كوی. انا لله وانا اليه راجعون.

[2]: غرض دا چه اذن په دوه قسمه دے يو خو په ژبه سره مالك يا خاوند ونيلے وی چه دے سوال كونكی لره وركړه يا د ادت نه د مالك او د خاوند معلومه وی چه هغه سائل او فقير ته په وركولو سره ناراضه كيږی نه دا اذن عرفي دے. غرض دا چه د كومے پورے په دے دواړو كښې د څۀ قسم اذن نۀ وی نو د هغۀ په مال كښې بل لره خواه كۀ هغه بی بی وی يا وينځه يا غلام د څۀ قسم تصرف روا نۀ دے. او د عُمير رضی الله عنه نه چه كوم دغه فعل واقع شوے وو نو د هغۀ دا خيال وو چه مالك به دۀ لره منع نۀ كړی په دے خيال ئے وركړله روستو معلومه شوه چه هغه راضی نۀ وو. ځكه عُمير رضی الله عنه ته اجر ميلاؤ شو چه هغوی دا كار د مالك: رضا مندئ په خيال كړے وو. او ثواب دواړو لره دے ددے نه مراد دادے چه دواړو لره جدا جدا ثواب دے نۀ دا چه په يو ثواب كښې د دواړو حصه ده. ځنګه چه د ظاهر نه معلومه ده دغه تاويل ددے حديث معتبر دے.

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَصُمُ الْمَرْأَةُ وَبَعْلُهَا شَاهِدٌ إِلاَّ بِإِذْنِهِ وَلاَ تَأْذَنْ فِي بَيْتِهِ وَهُوَ شَاهِدٌ إِلاَّ بِإِذْنِهِ وَمَا أَنْفَقَتْ مِنْ كَسْبِهِ مِنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَإِنَّ نِصْفَ أَجْرِهِ لَهُ

ابوهريره د رسول الله ﷺ نه روايت كوى او څو احاديث ئے ذكر كړو چه په هغوى كښ يو دا هم دے. چه هغوى اوفرمائيل يوه ښځه دے روژه (نفلى) نۀ نيسى هر كله چه خاوند ددے موجود وى خو د هغۀ په حكم سره. او نۀ دے د هغۀ كورته څوك (محرم خپل) راولى مگر چه هغه حاضر وى (بيا هر كله چه هغه حاضر نۀ وى نو بدرجهٔ اولى د هغۀ بغير د حكم او د رضا چه ئے مخكښ نه معلومه نۀ وى چا لره كورته راوستل نۀ دى پكار) او هغه چه خرچ كوى د هغۀ د گټے نه بغير د هغۀ د (خاص) حكم نه (اگر كۀ حكم عرفى موجود دے) نو په دے كښ هم د هغے د سړى نيم ثواب دے (يعنى سړى ته د گټے او ښځے ته د صدقے)[1].

بَاب فَضْلِ مَنْ ضَمَّ إِلَى الصَّدَقَةِ غَيْرَهَا مِنْ أَنْوَاعِ الْبِرِّ

باب: د صدقے سره د نور د خير د كار د يوځائے كونكى فضيلت

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللهِ نُودِيَ فِي الْجَنَّةِ يَا عَبْدَ اللهِ هٰذَا خَيْرٌ فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلاَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلاَةِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ

ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دى چا چه خرچ كړه يوه جوړه (يعنى دوه پيسے يا دوه روپۍ يا دوه اشرفۍ) د خپل مال نه د الله ﷻ په لاره كښ نو آواز به كولے شى ورته په جنت كښ چه اے د الله ﷻ بنده دلته راشه ستا دپاره دلته خير او خوبى ده. بيا څوك چه د مانځۀ عاشق دے هغۀ ته به د مانځۀ د دروازے نه آواز كيږى. او څوك چه د جهاد عاشق دے هغۀ ته

[1]: يعنى نا محرم لره هډو راوستل نۀ دى پكار. او محرم لره چه كله د ښځى خاوند نۀ وى نو تلل راتلل منع دى. پاتے شوه دا چه كله هغه حاضر وى يعنى په كور كښ وى يا په ښهر كښ وى او د هغۀ مرضى هم معلومه شوے وى نو پرواه نشته. او د روژے نه مراد هغه روژه ده چه د هغے ورځ معين نۀ ده لكه نفل يا د قضاء روژه سوا د رمضان نه. او دا منع د روژے نه د امام شافعى رحمه الله په نزد منع تحريمى ده. يعنى د كومے پورے چه خاوند اجازت نۀ وى وركړے نو داسے روژه نيول حرام دى. او سبب ددے دا دے چه سړى ته ئے هر وخت دا حق دے چه كله غواړى ددے سره جماع كولے شى. او ښځى له ضرورى ده چه د هغۀ فرمانبردارى او كړى بغير د تاخير او تامل نۀ او د روژے په سبب سره په دے كار خير كښ خلل واقع كيږى. لهٰذا بغير د هغۀ د حكم نه جائز نۀ دى (سبحان الله ! په دے شريعت

مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ قَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا عَلَى أَحَدٍ يُدْعَى مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ كُلِّهَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ

به د جهاد دروازے نه او څوك چه د صدقے عاشق دے هغهٔ ته به د صدقے د دروازے نه او څوك چه د روژے عاشق دے هغهٔ به د روژے د دروازے نه. ابوبكر عرض اوكړو چه اے د الله رسوله ﷺ! چا ته چه د ټولو دروازونه آواز كولے شي هغهٔ له څهٔ كار كول ضروري وي؟ او څوك به داسے وي چه ددے ټولو دروازو نه ورته آواز كيږي؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل آو. او زهٔ (د الله په فضل سره) اميد لرم چه تهٔ به د هغوي نه ئے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللهِ دَعَاهُ خَزَنَةُ الْجَنَّةِ كُلُّ خَزَنَةِ بَابٍ أَيْ فُلُ هَلُمَّ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللهِ ذٰلِكَ الَّذِي لَا تَوَى عَلَيْهِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دي چا چه يوه جوړه د الله ﷻ په لاړ كښې خرچ كړه راغواړي به هغهٔ لره هر يو خزانچي د جنت د هرے دروازے اووائي به چه اے فلانيه راشه نو حضرت ابوبكر عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ په داسے بنده باندے خو بيا څهٔ خرابي نهٔ شي راتلے يا داسے سړي ته خو څهٔ مشكل نشته حضرت اوفرمائيل زهٔ اميد لرم چه تهٔ به هم د هغوي نهٔ ئے (يعني د جنت د ټولو دروازو نه به تاته آواز كولے شي)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَا قَالَ فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً قَالَ أَبُو بَكْرٍ أَنَا قَالَ فَمَنْ أَطْعَمَ

ابوهريره وائي چه رسول الله ﷺ وفرمائيل دي په تاسو كښې د چا نن روژه ده؟ ابوبكر اووے خما. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل څوك نن د جنازے سره تلے دے؟ ابوبكر اووے زهٔ. حضرت ﷺ اوفرمائيل چا نن په مسكين باندے خوراك خوړلے دے؟ ابوبكر اووے ما. بيا

---

[1]: د غسے خو هر مومن دا ټولے قسم نيكئ په ځائے راوړي مگر د هر سړي په طبيعت كښې د يو قسم نيكئ ذوق او شوق زيات وي لكه بهادر ته د جهاد، سخي ته د صدقے نو هغه به په دغه نيكئ والاؤ كښې شمارلے شي. او دے حديث ملا ماته كړه د روافضو چه هغوي طعن كوي په ابوبكر صديق رضى الله عنه باندے. يعني دا صفا نص او تصريح ده ددے خبرے چه خاتمه به د هغهٔ به خير او خوبئ باندے وي او په جنت كښې به بے د هرے دروازے خلق د ديدار مشتاقه وي كهٔ دے دلته راشي نو مونږ ته به پرے فخر وي بيا خه څوك د جنتيانو د فخر باعث لره بدگنري نو هغه د اور په آفت كښې اوغورځيدو خوار شو او د ريان معنٰى ده موړ او خوشحاله او تنده ماتونكے چه لكه روژه دار وږے اوسيږي ځكه هغه دروازه د هغوي دپاره خاص شوه.

مِنكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ أَنَا قَالَ فَمَنْ عَادَ مِنكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ أَنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ

حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك نن د مریض تپوس له تلے د[...] ابوبکر اووے زۀ. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا ټول کاروند[...] یو بنده کښې جمع شی هغه به ضرور جنت ته ځی[1].

بَابُ الْحَثِّ عَلَى الْإِنْفَاقِ وَكَرَاهَةِ الْإِحْصَاءِ

باب: د خرچ کولو ترغیب اوپه شمار شمارد ایخودو[...]

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْفِقِي أَوِ انْضَحِي أَوِ انْفَحِي وَلَا تُحْصِي فَيُحْصِيَ اللهُ عَلَيْكِ

اسماء د ابوبکر لور د رسول الله ﷺ خینه واچی چه ماته رس[...] اوفرمائیل چه خرچ کوه او شمارلے شمارلے ئے مۀ اږده. [...] هم تالره اوشماری (یعنی کم به درکړی)[2].

عَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْفَحِي أَوِ انْضَحِي أَوْ أَنْفِقِي وَلَا تُحْصِي فَيُحْصِيَ اللهُ عَلَيْكِ وَلَا تُوعِي فَيُوعِيَ اللهُ عَلَيْكِ

اسماء وائی چه رسول الله ﷺ دوی ته اوونیے چه خرچ کوه ا[...] شمارلے مۀ اږده. چرته الله هم تاته شمارلے شمارلے درنۀ ک[...] ئے په حفاظت حفاظت اږده چرته الله هم تاله په حفاظت [...] کړی (یعنی نۀ به ئے درکوی)

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهَا جَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا نَبِيَّ اللهِ لَيْسَ لِي شَيْءٌ إِلَّا مَا أَدْخَلَ عَلَيَّ الزُّبَيْرُ فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ أَنْ أَرْضَخَ مِمَّا يُدْخِلُ عَلَيَّ فَقَالَ ارْضَخِي مَا اسْتَطَعْتِ وَلَا تُوعِي فَيُوعِيَ اللهُ عَلَيْكِ

اسماء د ابوبکر لور د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغله ا[...] ئے اوکړو چه یا رسول الله ﷺ څما سره خو څۀ نشته مګر [...] زبیر ماله راکوی. نو ماته به څۀ ګناه وی کچرے زۀ د هغ[...] صدقه ورکړم. حضرت ﷺ اوفرمائیل څومره چه تۀ ورک[...] دومره صدقه ورکړه. او جمع کوه ئے مه ورنه الله به ئے [...] درنۀ کړی جمع به ئے کړی[3].

بَابُ الْحَثِّ عَلَى الصَّدَقَةِ وَلَوْ بِالْقَلِيلِ وَلَا تَمْتَنِعِ مِنَ الْقَلِيلِ لِاحْتِقَارِهِ

باب: د صدقے ترغیب اګر کۀ لږه وی. او لږه صد[...] سپکه ګڼړل هغے لره د ورکولو نه مۀ منع کوی[...]

---

[1] [...]ه دے، حدیث کښې څنے جاهلان وعظ کونکی چه کوم د جمعے د ورځے قید لګوی هغه محض بے اصل دے.

[2] د راوی شك دے چه انفقی ئے اووئے یا دد ے نه سوا بل لفظ ئے اووے.

[3] د زبیر رضی الله عنه د ورکولو نه دا مراد دے چه کوم هغے ته د خرچ دپاره ورکوی چه په دے کښې د هغے اختیار دے یا اذن ع[...] کیدل ضروری دی او د صدقے ورکولو دپاره لکه چه مونږ پورته بیان کړے دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دی چه اے مسلمانانو ښځو. ځوك دی ستاسو نه خپل ګاونډی لره كمزورے (يعنی سپك) نه ګڼری اګر كۀ د بزے يوه سوه وركړی (يعنی نۀ دی اخستونكے د كمزورې ګڼړلو په وجه د هغے نه انكار كوی او نۀ دی وركونكے د كم والی په وجه شرمنده كيږی چه نۀ ئے وركوی)

بَاب فَضْلِ إِخْفَاءِ الصَّدَقَةِ

باب : د صدقے د پټو وركولو فضيلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ الْإِمَامُ الْعَادِلُ وَشَابٌّ نَشَأَ بِعِبَادَةِ اللهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لَا تَعْلَمَ يَمِينُهُ مَا تُنْفِقُ شِمَالُهُ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دی اوۀ كسان داسے دی چه الله تعالی به ورله په خپل سوری كښې ځائے وركوی (يعنی د عرش د لاندے) په كومه ورځ چه د هغه د سوری نه سوا بل سورے به نۀ وی. يو عادل حاكم (چه د كتاب او سنت مطابق فيصله كوی خواه كۀ هغه بادشاه وی او كۀ كوتوال وغيره) دويم هغه ځوان چه د الله تعالی د عبادت په لاړ كښې وراندے وی. دريم هغه سړے چه د جماعت نه اوځی او زړۀ ئے په جماعت پسے لګيدلے وی. څلورم هغه بنده چه محبت كوی د الله تعالی د رضا دپاره يو ځائے كيږی او جُدا كيږی د الله په رضا. پنځم هغه پرهيزګاره سړے چه هغۀ لره يو نسب داره مالداره او حُسنداره ښځه د زنا دپاره راوغواړی او دے اووائی چه د الله نه ويريږم (او دے زنا ارنۀ كړی). شپږم ځوك چه صدقه داسے پټه وركړی چه ښے لاس ترے خبر نۀ شی چه ګس لاس څۀ خرچه اوكړه (دا تصحيف دے صحيح دا ده چه ګس لاس ترے خبر نۀ وی چه ښے لاس څۀ خرچ كړے دی). اووم هغه بنده چه اللهؓ په خانله ځائے كښې ياد كړی او اوښكے ئے توئی شی (يعنی د الله تعالی د محبت يا د يَرے نه).

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللهِ وَقَالَ وَرَجُلٌ

ابوهريره نه دغه روايت دے چه په دويم سند سره مروی دے. او په دے كښې دادی چه كوم سړے اوځی د جماعت نه او زړۀ دۀ د

مُعَلَّقٌ بِالْمَسْجِدِ إِذَا خَرَجَ مِنْهُ حَتَّى يَعُودَ إِلَيْهِ

بَاب بَيَانِ أَنَّ أَفْضَلَ الصَّدَقَةِ صَدَقَةُ الصَّحِيحِ الشَّحِيحِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ فَقَالَ أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى وَلَا تُمْهِلَ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ قُلْتَ لِفُلَانٍ كَذَا وَلِفُلَانٍ كَذَا أَلَا وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا فَقَالَ أَمَا وَأَبِيكَ لَتُنَبَّأَنَّهُ أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْبَقَاءَ وَلَا تُمْهِلَ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ قُلْتَ لِفُلَانٍ كَذَا وَلِفُلَانٍ كَذَا وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ

بَاب بَيَانِ أَنَّ الْيَدَ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ

جماعت سره لگیدلے وی تر څو پورے چه بیا واپس نهٔ وی راغلے

باب: د صحت مند او د ضرورت مند صدقے د افضل کیدو بیان

ابوهریره وائی د رسول الله ﷺ خواله یو سړے راغے او عرض ئے اوکړو یا رسول الله ﷺ غوره او په ثواب کښې لویه صدقه کومه ده؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه صدقه ورکړے چه ته روغ جوړ ئے او حرص ئے او یریدونکے ئے د محتاجۍ نه او امید لرے د امیرۍ هغه صدقه غوره ده. او په صدقه ورکولو کښې دومره حصار تیا مهٔ کوه چه کله روح په وتو کښې راشي نو وائې دا د فلانی دے دا فلانی له ورکړه او خو پخپله اوس د فلانی شوے دے (یعنی ستا د ساه ختو سره وارثان واخلی)[1].

ابوهریره وائی چه یو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ د کومے صدقے ثواب د ټولو نه لوئي دے نو هغوی اوفرمائیل ستا په پلار قسم تاله معلومول پکار دی چه صدقه ده چه د صحت، د مال غوښتل، د غربت د ویرے او د امید ژوند باوجود ئے ورکړې. او په هغے روسته کول نهٔ وی. تر دے پورے چه زنکدن ته نژدے شی نو وائی دا خو د فلانکی دے او هغه د فلانی دپاره. حالانکه هغه خو پخپله د فلانی شو

باب: د پاسه لاس غوره دے د لاندے لاس

---

[1]: داسے صدقه ورکول لکه د حلوائی په دکان د دادا جی د فاتحے مصداق دے.

[2]: په نورو احادیثو کښې د الله نه سوا په بل چا قسم خوړلو ته منع او شرک فرمائیلے دی او دلته کښې چه کوم د هغوی صلی الله علیه وسلم نه قسم د هغهٔ په پلار د خُلے نه اووتو دا د عادت په لار په ژبه جاری شو قصداً او ارادتاً نهٔ وو. قصداً داسے قسم خوړل منع دی.

السُّفْلَى وَأَنَّ الْيَدَ الْعُلْيَا هِيَ الْمُنْفِقَةُ وَأَنَّ السُّفْلَى هِيَ الْآخِذَةُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَذْكُرُ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ عَنِ الْمَسْأَلَةِ الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى وَالْيَدُ الْعُلْيَا الْمُنْفِقَةُ وَالسُّفْلَى السَّائِلَةُ

عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ أَوْ خَيْرُ الصَّدَقَةِ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ

عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَانِي ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي ثُمَّ قَالَ إِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ فَمَنْ أَخَذَهُ بِطِيبِ نَفْسٍ بُورِكَ لَهُ فِيهِ وَمَنْ أَخَذَهُ بِإِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ وَكَانَ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ أَنْ تَبْذُلَ الْفَضْلَ خَيْرٌ لَكَ وَأَنْ تُمْسِكَهُ شَرٌّ لَكَ وَلَا تُلَامُ عَلَى كَفَافٍ وَابْدَأْ بِمَنْ

نه. دپاسه لاس نه مراد خرچ کونکے او د لاندے لاس نه اخستونکے دے

د عبد الله ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل او هغوی په منبر باندے د صدقے ذکر کولو او ویل ئے چا نه د سوال نۀ کولو او اوئے فرمائیل چه د پاسه لاس غوره دے د لاندے لاس نه. او د پاسه لاس خرچ کونکے دے او لاندے لاس غوښتونکے دے.

د حکیم بن حزام ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه غوره صدقه هغه ده چه د هغے نه روستو صدقه ورکونکے غنی شی (یعنی داسی نه چه ټول مال ورکړی او پخپله دغسے پاتے شی) او د پاسه لاس غوره دے د لاندے لاس نه او صدقه مخکښې هغه چا ته ورکوئ چه د هغۀ نان نفقه په خپله ذمه ده (لکه وینځه، غلام، نوکر)

حکیم بن حزام وائی ما د نبی کریم ﷺ نه مال او غوښتو نو هغۀ راکړو ما بیا اوغوښتو نو بیائے راکړو. بیا مے اوغوښتو بیائے راکړو بیائے اوفرمائیل چه دا مال تازه تازه خوږ دے. نو چا چه واخستو دے لره بغیر د غوښتلو نه. یائے واخستو د ورکونکی نه په خوشحالیٔ سره نۀ په زبردستیٔ بیا بیا وینا کولو سره نو په هغے کښې برکت وی. او چا چه د نفس په ذلیله کیدو سره حاصل کړو (یعنی بنده ته ئے ځان عاجز کړو او سوال ئے اوکړو) په هغے کښې برکت نۀ وی او د هغے حال داسے وی چه خوری او مړیږی نه او دپاسه لاس غوره دے د لاندے لاس نه

د ابو امامه ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه اے د آدم ؑ خویه! کوم څیز چه ستا د ضرورت نه زیات وی هغے لره خرچ کوه دا غوره ده ستا دپاره او کۀ هغے لره دهم اوساتلو لکه څنګه چه د ضرورت موافق ساتړنو دا بده ده ستا دپاره. او په تا ملامتیا نشته د ضروری

تَعُوْلُ وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلٰى

خرچ په ايخودو باندے او صدقه مخکښې هغه چا ته ورکوه چه د هغ
خرچه ستا په ذمه وي. او دپاسه لاس غوره دے د لاندے لاس نه

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْمَسْأَلَةِ

باب : د سوال کولو ممانعت

عَنْ مُعَاوِيَةَ يَقُوْلُ إِيَّاكُمْ وَأَحَادِيْثَ إِلَّا حَدِيْثًا كَانَ فِيْ عَهْدِ عُمَرَ فَإِنَّ عُمَرَ كَانَ يُخِيْفُ النَّاسَ فِي اللهِ عَزَّ وَجَلَّ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُوْلُ مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ وَسَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّمَا أَنَا خَازِنٌ فَمَنْ أَعْطَيْتُهُ عَنْ طِيْبِ نَفْسٍ فَيُبَارَكُ لَهُ فِيْهِ وَمَنْ أَعْطَيْتُهُ عَنْ مَسْأَلَةٍ وَشَرَهٍ كَانَ كَالَّذِيْ يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ

حضرت معاويه فرمائى بچ شئ تاسو د حديث د روايت نه مگر هغ
حديثونه کوم چه د حضرت عمر په زمانه کښې وو ځکه چه حضرت ع
په خلقو لره يرولو د الله پاك نه. او اوريدلے دى ما د رسول الله ﷺ نه
فرمائيلے ئے وو په چا الله پاك د نيکئ اراده اوکړى نو هغۀ ته د دين پو
ورکړى. او ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلے دى چه فرمائيلے ئے وو زۀ
فقط خزانچي يم پس چه چا له زۀ د زړۀ په خوشحالئ سره څۀ ورکړ
(يعنى بغير د سوال نه) نو په هغے کښې برکت وى او چا لره چه زۀ
غوښتلو سره او تنګولو سره څۀ ورکړم د هغے حال داسے دے چه ګو
خوراك خورى او ګېډه ئے نه مړيږى[1].

عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُلْحِفُوْا فِي الْمَسْأَلَةِ فَوَاللهِ لَا يَسْأَلُنِيْ أَحَدٌ مِنْكُمْ شَيْئًا فَتُخْرِجَ لَهُ مَسْأَلَتُهُ مِنِّيْ شَيْئًا وَأَنَا لَهُ كَارِهٌ فَيُبَارَكَ لَهُ فِيْمَا أَعْطَيْتُهُ

د حضرت معاويه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دى تاسو
سوال کښې ضد مۀ کوئ ځکه چه په الله قسم ځمانه چه څوك اوغوا
څۀ شے او د هغۀ د سوال په سبب ځمانه هغه څيز خرچ کيږى او هغے
زۀ بد اوګنړم نو په هغے کښې به برکت څنګه راشى.

عَنْ عَمْرِو بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ وَدَخَلْتُ عَلَيْهِ فِيْ دَارِهِ بِصَنْعَاءَ فَأَطْعَمَنِيْ مِنْ جَوْزَةٍ فِيْ دَارِهِ عَنْ أَخِيْهِ قَالَ سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِيْ سُفْيَانَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى

عمرو بن دينار د وهب بن منبه نه روايت کړے دے او وئيلے دى چه ز
هغوى کورته لاړم په صنعاء کښې پس اوئے خوړل په ما باندے د غوز
نه چه وو په کور ددوى کښې او د هغۀ رور روايت کړے دے چه
اوريدلے دى د معاويه بن ابى سفيان نه دوئ وائى چه ما اوريدلے دى

[1]: د حضرت امير معاويه رضى الله عنه په زمانه کښې د يهودو نصرا و ملکونه فتح شو او روايات په اهل کتابو خلقو کښې په کثرت
خوارۀ شو ځکه هغه دا حکم اوکړو چه دحضرت عمر رضى الله عنه د زمانے د رواياتو په طرف رجوع اوکړئ چه هغه زمانه د ربط
ضبط وه. اوغير قومونه يکښې شريك نۀ وو او بعد د هغه نه بيا حديث جمع کړے شو. او علم جميع الوجوه محفوظ کړے شو.

اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فَذَكَرَ مِثْلَهُ

رسول الله ﷺ نه بیانئ روایت بیان کړو په مثل د هغې چه پورته تیر شو.

عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ وَهُوَ يَخْطُبُ يَقُولُ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَيُعْطِي اللهُ

حضرت معاویهؓ خطبه لوستله او روایت ئې اوکړو چه اوریدلې دی ما د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلې ئې وو په چا چه الله تعالی د نیکئ اراده اوکړي هغهٔ ته په دین کښې پوهه ورکړي او زهٔ تقسیمونکے یم او ورکونکے خو الله دے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ الْمِسْكِينُ بِهَذَا الطَّوَّافِ الَّذِي يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ فَتَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ قَالُوا فَمَا الْمِسْكِينُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الَّذِي لَا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ وَلَا يُفْطَنُ لَهُ فَيُتَصَدَّقَ عَلَيْهِ وَلَا يَسْأَلُ النَّاسَ شَيْئًا

ابوهریرهؓ وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی مسکین هغه نهٔ دے چه هغه چا پیره ګرځي او د خلقو نه چا پیره چورلي او یوه یا دوه نوړئ او یوه یا دوه کهجورے ترے واخلي واپس ئې کړي بیا خلقو عرض اوکړو چه مسکین څوك دے اے د الله رسوله؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چا ته چه دومره خرچ نهٔ میلاویږي چه د هغهٔ د بشري حق دپاره پوره وي او نهٔ ورته خلق مسکین وائي چه ورله صدقه ورکړي. او نهٔ هغه د چا نه څهٔ غواړي[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ الْمِسْكِينُ بِالَّذِي تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلَا اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ إِنَّمَا الْمِسْكِينُ الْمُتَعَفِّفُ اقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی مسکین هغه نهٔ دے چه هغه یوه یا دوه کهجورے یا یوه نمړئ یو دوه نمړئ او واپس کوي ئې مسکین هغه دے چه هغه سوال نهٔ کوي او کهٔ ستاسو زړهٔ اوغواړي نو دا آیت لولئ چه الله ﷻ فرمائي چه هغه د خلقو نه نهٔ غواړي په نښتلو سره.

---

[1]: دا دے حدیث نه معلومه شوه چه په دین کښې د پوهے پیدا کیدو نه زیات غوره والے نور څهٔ نشته چه په دے د بنیاد م دنیا او آخرت دواړه بنهٔ صحیح کیږي. نو هر مسلمان له په دے کښې زیات کوشش کول پکار دی. او معلومه شوه چه ورکونکے د الله نه سوا هیڅوك نشته. نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د لوئے مرتبے او اوچت منزلت تقسیمونکے دے. بیا دا کم عقل خلق کوم چه د اولیاؤ رحمهم الله او انبیاؤ علیهم السلام نه خپل حاجت غواړي اولاد او عزت ترے غواړي دا محض بے دینه او جاهلان دي.

[2]: ډیر اهل وعیال والا مسلمانان غریبان داسے هم دي چه د محنت او مشقت سره سره هغوی ته د خپلو ضروریاتو موافق نهٔ میلاویږي. او تنګ دست او قرضدارے وي هغوی ته صدقه ورکول او د هغوی تسلي کول د زړو مسکینانو د ورکولو نه غوره دي. هر مالدار له د دے خیال ساتل ضروري دي.

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَزَالُ الْمَسْأَلَةُ بِأَحَدِكُمْ حَتّٰى يَلْقَى اللّٰهَ وَلَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ

د عبد الله ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي په تاسو کښې چه کوم سړے همیشه دپاره سوال کوي تردے پورے چه د الله ؓ سره میلاویږي نو ددهٔ په مخ به یوه ټکړه هم د غوښې نهٔ وي یعنې په حشر کښې[1]

عَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَاهُ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ النَّاسَ حَتّٰى يَأْتِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ

حمزهؓ د خپل پلار نه اوریدلي دي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي بنده چه همیشه د خلقو نه سوال کوي تردے پورے چه د قیامت په ورځ به راوستے شي او ددهٔ په مخ باندے به یو پوټے غوښه نهٔ وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ

ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي څوك چه د خلقو نه مال غواړي د خپل مال زیاتولو دپاره (یعنې نهٔ د ضرورت او کفایت دپاره) نو هغه د اُور سکروټې غواړي بیائے خوښه ده کهٔ لږ اخلي یا زیات اخلي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَأَنْ يَغْدُوَ أَحَدُكُمْ فَيَحْطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَتَصَدَّقَ بِهِ وَيَسْتَغْنِيَ بِهِ مِنَ النَّاسِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ رَجُلًا أَعْطَاهُ أَوْ مَنَعَهُ ذٰلِكَ فَإِنَّ الْيَدَ الْعُلْيَا أَفْضَلُ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چه فرمائیلي ئے وو کهٔ څوك سحر لاړ شي او د لرګو یو ګیډے په خپله شا راوړي او د هغې نه صدقه ورکړي او خپل کار پرے هم اوکړي او د خلقو محتاجهٔ نهٔ شي دا د هغهٔ دپاره ډیره غوره ده د هغې نه چه د خلقو نه اوغواړي او پسے اوګرځي او هغه یا ورکړي یا ورنهٔ کړي او بیشکه دپاسه لاس غوره دے د لاندے لاس نه او مخکښې صدقه هغهٔ ته ورکوه چه په هغهٔ تهٔ ذمه وار ئې.

عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ أَتَيْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَقَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لَأَنْ يَغْدُوَ أَحَدُكُمْ فَيَحْطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَبِيعَهُ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ بَيَانٍ

قیسؓ نه روایت دے مونږ د ابوهریرهؓ خواله راغلو نو هغوی اووئې چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه په الله قسم کهٔ څوك سحر لاړ شي او په خپله شا باندے د لرګو ګیډے راوړي او خرڅ ئے کړي. مخکښې هغه روایت دی کوم چه پورته ذکر شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

ابوهریرهؓ وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي کهٔ څوك د لرګو ګیډے

[1] د غوښې نهٔ کېدل په مخ پورے عبارت دے ګویا د بے عزته کېدو او کمزورئ او ذلیله کېدو سره. یعنې سوال سبب د ذلت او بے عزتئ دے.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ يَحْتَزِمَ أَحَدُكُمْ حُزْمَةً مِنْ حَطَبٍ فَيَحْمِلَهَا عَلَى ظَهْرِهِ فَيَبِيعَهَا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ رَجُلًا يُعْطِيهِ أَوْ يَمْنَعُهُ

راوړی په خپله شا باندے او هغے لره خرخ کړی نو دا د هغهٔ په حق کښې غوره ده د سوال کولو نه او د چا بنده نه معلومه نهٔ ده چه هغه څهٔ ورکوی یا نهٔ ورکوی.

عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ عَنْ أَبِي مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي الْحَبِيبُ الْأَمِينُ أَمَّا هُوَ فَحَبِيبٌ إِلَيَّ وَأَمَّا هُوَ عِنْدِي فَأَمِينٌ عَوْفُ بْنُ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيُّ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعَةً أَوْ ثَمَانِيَةً أَوْ سَبْعَةً فَقَالَ أَلَا تُبَايِعُونَ رَسُولَ اللهِ وَكُنَّا حَدِيثَ عَهْدٍ بِبَيْعَةٍ فَقُلْنَا قَدْ بَايَعْنَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ ثُمَّ قَالَ أَلَا تُبَايِعُونَ رَسُولَ اللهِ فَقُلْنَا قَدْ بَايَعْنَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ ثُمَّ قَالَ أَلَا تُبَايِعُونَ رَسُولَ اللهِ قَالَ فَبَسَطْنَا أَيْدِيَنَا وَقُلْنَا قَدْ بَايَعْنَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ فَعَلَامَ نُبَايِعُكَ قَالَ عَلَى أَنْ تَعْبُدُوا اللهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَالصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَتُطِيعُوا وَأَسَرَّ كَلِمَةً خَفِيَّةً وَلَا تَسْأَلُوا النَّاسَ شَيْئًا فَلَقَدْ رَأَيْتُ بَعْضَ أُولَئِكَ النَّفَرِ يَسْقُطُ سَوْطُ أَحَدِهِمْ فَمَا يَسْأَلُ أَحَدًا يُنَاوِلُهُ إِيَّاهُ

ابوادریس خولانی د ابومسلم خولانی نه روایت کوی چه هغوی ما ته اووے چه روایت کړے دے ما ته یو دوست امانتدار او بیشکه هغه خما دوست او خما نزدے امانت دار دے عوف بن مالك اشجعی هغوی وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره نهه یا اتهٔ یا وو کسانو بیعت کړے وو نو مونږ عرض اوکړو چه مونږ خو ستا نه بیعت کړے دے اے د الله رسوله! بیا هغهٔ اوفرمائیل تاسو بیعت نهٔ کوئ د رسول الله ﷺ نه. مونږ عرض اوکړو چه مونږ خو ستا نه بیعت کړے دے اے د الله رسوله! بیائے اوفرمائیل تاسو بیعت نهٔ کوئ د رسول الله ﷺ نه. بیا مونږ خپل لاس اوچت کړو او عرض مو اوکړو چه مونږ خو اول بیعت کړے دے اوس د څهٔ خبرے بیعت اوکړو؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه عبادت کوئ د الله او د هغهٔ سره چا له شریك مهٔ جوړوئ او پنځهٔ وخته مونځ کوئ؟ او د الله تابعدار کوئ او یوه خبره ئے په پټه سره اووے چه د خلقو نه څهٔ مهٔ غواړئ. نو ما په هغوی کښې بعضو لره اولیدل چه د هغوی کوړه به پریوته (یعنی د اوښ نه) نو د چا نه ئی سوال نهٔ کوۀ چه دا را اوچته کړه.[1]

---

[1]: دا کمال د بیعت د پوره کولو وو. او د زیاتے درجے د پرهیزګارئ او اطاعت وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم او دا ډیره لویه درجه ده. او ابو مسلم کوم چه دد ے حدیث راوی دے هغه لوئے زاهد او کرامات د هغهٔ مشهور دی اسلام ئے راوړے وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې او اسود عنسی رور چه مردود چه دعوه د نبوت ئے کوله هغه دغے مردود لره اورته اوغورځوو. او هغه او نهٔ سوزیدو بیا لاچاره شو هغه ئے پریخودو. او هغه هجرت اوکړو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طرف راروان شو لاراسیدلے نهٔ وو چه حضور صلی الله علیه وسلم وفات شو. او د لویو لویو صحابو سره ئے ملاقات شوے دے. لکه ابوبکر صدیق رضی الله عنه

بَاب مَنْ تَحِلُّ لَهُ الْمَسْأَلَةُ

عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ مُخَارِقٍ الْهِلَالِيِّ قَالَ تَحَمَّلْتُ حَمَالَةً فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْأَلُهُ فِيهَا فَقَالَ أَقِمْ حَتَّى تَأْتِيَنَا الصَّدَقَةُ فَنَأْمُرَ لَكَ بِهَا قَالَ ثُمَّ قَالَ يَا قَبِيصَةُ إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ إِلَّا لِأَحَدِ ثَلَاثَةٍ رَجُلٍ تَحَمَّلَ حَمَالَةً فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَهَا ثُمَّ يُمْسِكُ وَرَجُلٌ أَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ اجْتَاحَتْ مَالَهُ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ أَوْ قَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ وَرَجُلٌ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ حَتَّى يَقُومَ ثَلَاثَةٌ مِنْ ذَوِي الْحِجَا مِنْ قَوْمِهِ لَقَدْ أَصَابَتْ فُلَانًا فَاقَةٌ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ أَوْ قَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ فَمَا سِوَاهُنَّ مِنَ الْمَسْأَلَةِ يَا قَبِيصَةُ سُحْتًا يَأْكُلُهَا صَاحِبُهَا سُحْتًا

باب : چا لره سوال جائز دے

قبیصهؓ وائی زۀ قرضدارے شومه د یو لوئے رقم (د دوو قبیلو د اصلاح وغیره دپاره یا د یو بل امر خیر په واسطه) او د رسول اللهﷺ خواله راغلم او د هغوی نه مے سوال اوکړو. حضرتﷺ اوفرمائیل تۀ اودریږه چه مونږ له د صدقو مال راشی نو مونږ به تاله د هغے نه څۀ درکړو. او بیائے راته اوفرمائیل اے قبیصه! سوال حلال نۀ دے مګر د درے سړو دپاره. یو هغه سړے چه هغه قرضدارے شی (په یو کار خیر کښې) نو حلالیږی دا لره سوال تر دے پورے چه دومره ماله ورته میلاؤ شی چه ګذاره ئے پرے صحیح شی. او بیا د سوال نه قلار شی. دویم هغه سړے چه مال ته ئے آفت رسیدلے وی او ضائع شوے وی. نو حلالیږی سوال د هغۀ دپاره تر دے پورے چه میلاؤ شی هغۀ ته دومره رقم چه ګذاره ئے پرے صحیح شی. راوی ته شك دے چه قوام ئے فرمائیلے دے یا سداد معنے د دواړو یوه ده. دریم هغه کس چه رسیدلے وی هغۀ ته لوږه او د دے سړی د عقل خاوندان د هغۀ د قوم ګواهی ورکړه چه بیشکه لوږه ورته رسیدلے ده هغۀ له هم سوال جائز دے د کومے پورے چه د خپل ګذران د صحیح کیدو موافق او نۀ مومی. او سوا دد دے خلقو نه یا قبیصهؓ سوال حرام دے. او دد دے نه سوا چه کوم سوال کونکے دے هغه حرام خوری.

بَاب جَوَازِ الْأَخْذِ بِغَيْرِ سُؤَالٍ وَ لَا تَطَلُّعٍ

باب : بغیر د سوال نه او د خواهش نه اخستل جائز دی

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ

سالم د خپل پلارؓ نه هغوی د حضرت عمرؓ نه روایت کړے دے

وغیره. او په دے باندے د محدثینو او مؤرخینو او ارباب سیر اتفاق دے او سمعانی په انصاب کښې چه کوم نقل کړے دی چه هغه د حضرت معاویه رضی الله عنه په زمانه کښې ایمان راوړے وو دا غلطه ده په اتفاق د مؤرخینو وغیرهم (النووی)

سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ قَدْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِينِي الْعَطَاءَ فَأَقُولُ أَعْطِهِ أَفْقَرَ إِلَيْهِ مِنِّي حَتَّى أَعْطَانِي مَرَّةً مَالًا فَقُلْتُ أَعْطِهِ أَفْقَرَ إِلَيْهِ مِنِّي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذْهُ وَمَا جَاءَكَ مِنْ هٰذَا الْمَالِ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ وَمَا لَا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ

چه حضرت عمرؓ وائي چه رسول الله ﷺ به ما ته ډير مال راكوو. او ما به ورته وئيل چه څمانه څوك زيات حاجتمند وى هغۀ له ئے وركړه. ترد ے پورے چه يوه ورځ ئے ماته څۀ مال راكړو. او ما عرض اوكړو چه چا ته څمانه زيات حاجت وى هغۀ له ئے وركړئ. حضرت ﷺ اوفرمائيل دا واخله او د هغه مال نه چه كوم ستا لاس له بغير د لالچ او غوښتلو نه راشى هغه اخله. او چه په د ے طريقه نۀ وى د هغے خيال هم مۀ كوه [1].

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعْطِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الْعَطَاءَ فَيَقُولُ لَهُ عُمَرُ أَعْطِهِ يَا رَسُولَ اللهِ أَفْقَرَ إِلَيْهِ مِنِّي فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ خُذْهُ فَتَمَوَّلْهُ أَوْ تَصَدَّقْ بِهِ وَمَا جَاءَكَ مِنْ هٰذَا الْمَالِ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ وَمَا لَا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ قَالَ سَالِمٌ فَمِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ لَا يَسْأَلُ أَحَدًا شَيْئًا وَلَا يَرُدُّ شَيْئًا أُعْطِيَهُ

سالم بن عبد الله د خپل پلارؓ نه روايت كوى چه رسول الله ﷺ به عمر بن خطابؓ له څۀ مال وركولو نو هغه به عرض كولو چه يا رسول اللهؐ دا چا داسے بنده له وركړه چه هغه څمانه زيات حاجتمند وى. نو يو ځل رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چه دا مال واخله او د ځان سره ئے كيږده يائے صدقه كړه. او كوم چه دد ے قسم مالونه تاله راځى چه د هغے نه تا خواهش ښكاره كړے وى او نۀ د غوښتلے وى نو هغه اخله او د خپل نفس تابعدارى مۀ كوه. سالم وائى چه ددغے په سبب به ابن عمرؓ د چا نه څۀ نۀ غوښتل او كۀ چا به څۀ وركولو نو واپس كول به ئے هم نه.

عَنِ ابْنِ السَّاعِدِيِّ الْمَالِكِيِّ أَنَّهُ قَالَ اسْتَعْمَلَنِي

د ابن ساعدىؓ نه روايت د ے چه هغوى وائى زۀ حضرت عمرؓ د صدقے

[1]: كيد ے شى دا متل دد ے حديث نه وتلے وى. مصرع: كوم خيز چه بے د سوال نه ميلاؤ شى هغه د خدائے وركړه ده دد ے حديث نه كمال ، زهد ، او بے رغبتى او لاطمعى او ايثار د حضرت عمر رضى الله عنه معلوميږى او په د ے كښ د علماؤ اختلاف د ے چه چا له مال راغے هغه له ئے قبلول پكار دى يا نه. او په د ے كښ در ے مذهبو نه دى صحيح او مشهور مذهب دا د ے چه سوا د باشاه نه نورو لره مال قبلول مستحب دى. او د جمهورو دغه قول د ے او عطيه د بادشاه چه ده د ے ته خنو حرام وئيلے دى او خنو ورته حلال. او صحيح داده چه د باشاه په عطيو كښ حرام مال غالب د ے. او غرض دا چه كۀ حرام مال پكښ غالب وى نو اخستل ئے روا نۀ دى. ورنه خير مباح دى. او داسے ده لكه يو داسى سرى له مال راغے چه هغه د هغے مستحق نۀ د ے او په هغے كښ حرام مال غالب نۀ د ے نو اخستل ئے روا دى. كۀ په اخستونكى كښ څۀ شرعى مانع موجود نۀ وى. او خنو د ے مباح ته واجب وئيلے دى خواه كۀ د بادشاه نه وى يا د بل چا نه او خنو د سلطان يعنى د باشاه عطيے ته مستحب وئيلے دى نۀ د بل چا هغے ته.

عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْهَا وَأَدَّيْتُهَا إِلَيْهِ أَمَرَ لِي بِعُمَالَةٍ فَقُلْتُ إِنَّمَا عَمِلْتُ لِلَّهِ وَأَجْرِي عَلَى اللَّهِ فَقَالَ خُذْ مَا أُعْطِيتَ فَإِنِّي عَمِلْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَمَّلَنِي فَقُلْتُ مِثْلَ قَوْلِكَ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُعْطِيتَ شَيْئًا مِنْ غَيْرِ أَنْ تَسْأَلَ فَكُلْ وَتَصَدَّقْ

عامل كړم. هر كله چه زۀ اوزګار شوم او د صدقې مال مې هغۀ له راوړو او ورمې كړو نو ما ته ئې د څۀ راكولو حكم اوكړو. ما اوويے ما خو د الله دپاره دا كار كړے دے. او مزدوري څما په الله ده. حضرت عمرؓ اوفرمائيل څۀ چه زۀ دركوم هغه اخله. يو ځل ما هم د رسول الله ﷺ په زمانه كښې صدقه حاصلوله او هغوی ما ته هم څۀ اجرت راكړو نو ما هم دغه شان ووېل څنګه چه تا اووے نو حضرت ﷺ ما ته اوفرمائيل كله چه بغير د غوښتلو تا ته څۀ ميلاويږي نو خوره او صدقه وركوه.

بَابُ كَرَاهَةِ الْحِرْصِ عَلَى الدُّنْيَا

باب: د دنيا د حرص مكروه والے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ قَلْبُ الشَّيْخِ شَابٌّ عَلَى حُبِّ اثْنَتَيْنِ حُبِّ الْعَيْشِ وَالْمَالِ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي بوډا د ژوند او مال په حرص ځوان دے[1].

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى وَادِيًا ثَالِثًا وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ وَيَتُوبُ اللهُ عَلَى مَنْ تَابَ

انسؓ وائي رسول الله ﷺ فرمائيلي دي كۀ د بنده د مال دوه كندے وي خو هم به هغه دريمه لټوي. او د بنيادم ګېډه نۀ ډكيږي مګر په خاورو سره او رجوع د رحمت كيږي د الله په هغه چا باندے چه هغه توبه اوباسي (يعني ځوك چه دنيا د حرص نه راواوړي د قناعت خزانه وركوي[2].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فَلَا أَدْرِي أَشَيْءٌ أُنْزِلَ أَمْ شَيْءٌ كَانَ يَقُولُهُ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ

د حضرت انسؓ نه روايت دے چه ما اوريدلے دي د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلي وو او دا ما ته معلومه نۀ ده چه دا په هغوی باندے نازل شوی وو او كۀ د خپله ځانه ئې فرمائيلي وو بيائې بيان كړو روايت د ابوعوانه چه پورته تير شو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَوْ أَنَّ لِابْنِ آدَمَ مِلْءَ وَادٍ مَالًا لَأَحَبَّ أَنْ يَكُونَ إِلَيْهِ مِثْلُهُ وَلَا

عبد الله بن عباسؓ نه روايت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه كۀ د بنيادم يو ميدان د مال نه ډك وي نو هم غواړي چه د دغے برابر د بل وي. او د بنيادم زړۀ د څۀ څيز نه نۀ ډكيږي سوا د خاورے نه او

[1]: دا مصرعه دد دے حديث موافق ده. ع: سرے چه كله بوډا شي نو حرص ئې ځوانيږي.
[2]: دا شعر دد دے حديث موافق دے ـ د دنيا تنګي او رندے سترګے يا په قناعت ډكيږي يا د قبر په خاورو.

يَمْلَأُ نَفْسَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ وَاللهُ يَتُوبُ عَلَى مَنْ تَابَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَلَا أَدْرِي أَمِنَ الْقُرْآنِ هُوَ أَمْ لَا وَفِي رِوَايَةِ زُهَيْرٍ قَالَ فَلَا أَدْرِي أَمِنَ الْقُرْآنِ لَمْ يَذْكُرِ ابْنَ عَبَّاسٍ

رجوع د رحمت کوی الله په هغهٔ چا باندے چه هغه توبه اوباسی ابن عباس وائی نهٔ پوهیږم چه دا د قران نه دی یا نهٔ دی او د زهیر په روایت کښں دادی چه زهٔ نهٔ پوهیږم چه د قرآن نه دی او د ابن عباس نوم ئے نه دے اخستے

عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ قَالَ بَعَثَ أَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ إِلَى قُرَّاءِ أَهْلِ الْبَصْرَةِ فَدَخَلَ عَلَيْهِ ثَلَاثُ مِائَةِ رَجُلٍ قَدْ قَرَءُوا الْقُرْآنَ فَقَالَ أَنْتُمْ خِيَارُ أَهْلِ الْبَصْرَةِ وَقُرَّاؤُهُمْ فَاتْلُوهُ وَلَا يَطُولَنَّ عَلَيْكُمُ الْأَمَدُ فَتَقْسُوَ قُلُوبُكُمْ كَمَا قَسَتْ قُلُوبُ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ وَإِنَّا كُنَّا نَقْرَأُ سُورَةً كُنَّا نُشَبِّهُهَا فِي الطُّولِ وَالشِّدَّةِ بِبَرَاءَةَ فَأُنْسِيتُهَا غَيْرَ أَنِّي قَدْ حَفِظْتُ مِنْهَا لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى وَادِيًا ثَالِثًا وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ وَكُنَّا نَقْرَأُ سُورَةً كُنَّا نُشَبِّهُهَا بِإِحْدَى الْمُسَبِّحَاتِ فَأُنْسِيتُهَا غَيْرَ أَنِّي حَفِظْتُ مِنْهَا يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ فَتُكْتَبُ شَهَادَةً فِي أَعْنَاقِكُمْ فَتُسْأَلُونَ عَنْهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ابو السود نه روایت دے چه ابوموسی اشعری د بصرے قاریانو لره رااوغوښتل او هغه ټول درے سوه قاریان د هغهٔ خواله راغلل او هغوی قران اولوستو. او ابوموسی هغوی ته اووے چه تاسو د بصرے د ټولو خلقو نه غوره یئ او د هغه ځائے قاریان یئ نو قران لولئ او د ډیرے مودے تیریدو سره سست نهٔ شئ چه ستاسو زړونه سخت شی لکه چه ستاسو نه د وړاندے خلقو زړونه سخت شوی وو. او مونږ یو سورت لوستلو چه هغه په اوږدوالی او سختو وعیدونو کښں د براءت برابر وو. بیا ما هغے لره هیر کړو مګر دومره خبره مے یاده ده چه کهٔ د یو سړی د مال دوه میدانونه وی بیا هم دریم لټون کوی. او د بندګانو ګیډه نهٔ ډکیږی مګر په خاورو سره. او مونږ یو سورت لوستلو او هغے لره مونږ په تسبیحاتو کښں د یو سورت برابر ګڼړلو. هغه را نه هم هیر شو مګر د هغے نه راته دا ایت یاد دے چه اے ایمان والاؤ ولے کوئ هغه خبره چه هغے لره کوئ نه او کومه خبره چه تاسو داسے وایئ چه هغے لره کوئ نه هغه به ستاسو په څټونو کښں لیکلے شوے د ګواهئ په شکل پرته وی چه د هغے به سوال کیږی د قیامت په ورځ [1]

بَابُ فَضْلِ الْقَنَاعَةِ وَالْحَثِّ عَلَيْهَا

باب : د قناعت فضیلت او د هغے ترغیب

---

[1] په دے ټولو حدیثو کښں د دنیا د حرص بدو والے دے ددنیا د ډیرو غوښتونکو. او یو شاعر څهٔ ښهٔ ویلے دی ـ د ددنیا خلق د الله د نعمتونو ناشکره دی شپه او ورځ لالهنده دی په رزق پسے۔

او خبردارے دے د حضرت صلی الله علیه وسلم انسان لره چه یه د مرګ نه نږ ګیډه نهٔ ډکیږی اګر کهٔ د سرو زرو په خښتو سره د هغهٔ کور ډک شی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْغِنٰى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلٰكِنَّ الْغِنٰى غِنَى النَّفْسِ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل مالداري په ډیر سامان کیدو سره نهٔ ده بلکه مالداري د ... مالداري ده [1].

بَاب التَّحْذِيرِ مِنَ الْإِعْتِرَارِ بِزِينَةِ الدُّنْيَا وَمَا يَبْسُطُ مِنْهَا

باب : د دنیا په فراخئ او په خائست باند ... مغروره کیږه مه

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يَقُولُ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ لَا وَاللهِ مَا أَخْشٰى عَلَيْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ إِلَّا مَا يُخْرِجُ اللهُ لَكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَيَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ فَصَمَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ كَيْفَ قُلْتَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَيَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْخَيْرَ لَا يَأْتِي إِلَّا بِخَيْرٍ أَوْ خَيْرٌ هُوَ إِنَّ كُلَّ مَا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ يَقْتُلُ حَبَطًا أَوْ يُلِمُّ إِلَّا آكِلَةَ الْخَضِرِ أَكَلَتْ حَتّٰى إِذَا امْتَلَأَتْ خَاصِرَتَاهَا اسْتَقْبَلَتِ الشَّمْسَ ثَلَطَتْ أَوْ بَالَتْ ثُمَّ اجْتَرَّتْ فَعَادَتْ فَأَكَلَتْ فَمَنْ يَأْخُذْ مَالًا بِحَقِّهِ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ

ابوسعید وائی چه رسول الله ﷺ اودریدو او خلقو ته ئے وعظ کو... فرمائیل چه په الله قسم اے خلقو! زهٔ ستاسو دپاره د څهٔ بل خطر ... ویریږم مګر د هغے نه چه هغه به الله تعالی رااوباسی ستاسو دپاره د ... زینت نو یو سړی عرض اوکړو چه یا رسول الله ولے د خیر نتیجه ... کیدے شی (یعنی د دنیا دولت او حکومت راتلل او د اسلام ترقی ... خو خیر دے د هغے نتیجه به بده څنګه وی) بیا رسول الله ﷺ چپ ... لږ ساعت پس ئے بیا اوفرمائیل تاسو څهٔ اووے؟ (بیائے د هغے سوال ... اوکړو چه چرته هیر شوے نهٔ وے نو مطابقت د جواب د سوال سره د ... په پوهه کښ رانغے) هغهٔ عرض اوکړو اے د الله رسوله ﷺ! ولے د ... نتیجه شر هم وی. مګر دومره خبره ده چه د بهار په ورځو کښ چه ک... ګیاه رااوتوکیږی (او هغے لره تاسو خیر ګنړی) هغه ئے نهٔ وژنی په هیضه ... او نهٔ ئے مرګ ته نږدے کوی مګر هر څریدونکے چه هغے لره اوخوری ترد ... پورے چه د هغهٔ تشی اوپړسیږی او چه د نمر مخے ته شی نو دستو ... پرے شروع شی یا متیازے کوی لږے لږے. بیا شخوند شروع کړی او ... بیا څریدو له ځی (تردے پورے چه په دے بے قرارئ کښ مړی شی) دغه ... حال د هغهٔ د مال دے چه څوك دے لره د حق سره اخلی په هغے کښ برکت

[1] یعنی سامان د دنیا ډیر دے مګر په بنیادم باندے حرص غالب دے کله هم امیر نهٔ دے او زړهٔ غنی دے نو بے د ماله هم بے پروا دے.

وَمَنْ يَأْخُذْ مَالاً بِغَيْرِ حَقِّهِ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الَّذِي يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَخْوَفُ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مَا يُخْرِجُ اللهُ لَكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا قَالُوا وَمَا زَهْرَةُ الدُّنْيَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ بَرَكَاتُ الأَرْضِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَهَلْ يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ قَالَ لاَ يَأْتِي الْخَيْرُ إِلاَّ بِالْخَيْرِ لاَ يَأْتِي الْخَيْرُ إِلاَّ بِالْخَيْرِ لاَ يَأْتِي الْخَيْرُ إِلاَّ بِالْخَيْرِ إِنَّ كُلَّ مَا أَنْبَتَ الرَّبِيعُ يَقْتُلُ أَوْ يُلِمُّ إِلاَّ آكِلَةَ الْخَضِرِ فَإِنَّهَا تَأْكُلُ حَتَّى إِذَا امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا اسْتَقْبَلَتِ الشَّمْسَ ثُمَّ اجْتَرَّتْ وَبَالَتْ وَثَلَطَتْ ثُمَّ عَادَتْ فَأَكَلَتْ إِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ فَمَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ وَوَضَعَهُ فِي حَقِّهِ فَنِعْمَ الْمَعُونَةُ هُوَ وَمَنْ أَخَذَهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ كَانَ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَلَسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ فَقَالَ إِنَّ مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ بَعْدِي مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا فَقَالَ رَجُلٌ أَوَيَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَسَكَتَ عَنْهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيلَ لَهُ مَا شَأْنُكَ تُكَلِّمُ

وی او څوك چه ئے په ناحقه سره اخلی د هغے مثال دغسے وی چه خوری او ګیډه ئے نۀ ډکیږی (لکه په دغه شنه کښ د څریدونکی)

ابوسعید خدری رضی الله عنه روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. زۀ د ټولو نه زیات د کوم څیز نه چه ستاسو په باره کښ یریږم هغه د دنیا خائست دے چه هغه به الله ستاسو دپاره پیدا کوی. صحابۇ عرض اوکړو هغه د دنیا خائست څۀ دے اے د الله رسوله! نو هغوی اوفرمائیل د زمکے برکتونه صحابۇ رضی الله عنهم عرض اوکړو. یا رسول الله! آیا خیر هم د شر سبب وی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل نا. خیر خو خیر راوړی. درے ځلے دا اوفرمائیل. او وے فرمائیل څۀ چه په سپرلی په موسم کښ پیدا کیږی هغه صرف شنکے خوړونکی لره وژنی یا ئے مرګ ته نزدے کوی چه هغه دومره اوخوری چه د هغے تشی اوپړسیږی بیا هغه نمر ته اودریږی بیا هغه جلاب یا متیازے کوی. بیا خوری او بیا هغه څۀ کوی. (تردے پورے چه د هغۀ د وژلو سبب اوګرځی) نو خبره دا ده چه مال یو شنکے او خوږ څیز دے. نو چا چه په جائز طریقے سره حاصل کړو او په جائز مصرف کښ خرچ کړو نو دا به د دۀ ښۀ مددګار وی. او چا چه په ناجائزه طریقے سره حاصل کړو هغه د هغه څاروی په شان دے چه خوری خو دۀ خیټه ډکیږی نه

د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه کیناستۀ رسول الله ﷺ په منبر باندے او مونږ هم د هغۀ نه ګیر چاپیره کیناستو نو هغوی اوفرمائیل. زۀ ستاسو د ټولو زیات د خپل ځان نه روستو د هغه څیز فکر کوم چه په تاسو به الله تعالی د دنیا خائست کهولاؤ کړی. نو یو سړی عرض اوکړو. آیا خیر د شر سبب کیدے شی اے د الله رسوله ﷺ! هغوی چپ شو. خلقو دے سړی ته اووے. تا ولے داسے خبره اوکړه چه رسول الله ﷺ

رَسُولَ اللهِ ﷺ وَلَا يُكَلِّمُكَ قَالَ وَرَأَيْنَا أَنَّهُ يُنَزَّلُ عَلَيْهِ فَأَفَاقَ يَمْسَحُ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ وَقَالَ إِنَّ هٰذَا السَّائِلَ وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ فَقَالَ إِنَّهُ لَا يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ يَقْتُلُ أَوْ يُلِمُّ إِلَّا آكِلَةَ الْخَضِرِ فَإِنَّهَا أَكَلَتْ حَتّٰى إِذَا امْتَلَأَتْ خَاصِرَتَاهَا اسْتَقْبَلَتْ عَيْنَ الشَّمْسِ فَثَلَطَتْ وَبَالَتْ ثُمَّ رَتَعَتْ وَإِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرٌ حُلْوٌ وَنِعْمَ صَاحِبُ الْمُسْلِمِ هُوَ لِمَنْ أَعْطٰى مِنْهُ الْمِسْكِينَ وَالْيَتِيمَ وَابْنَ السَّبِيلِ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَإِنَّهُ مَنْ يَأْخُذُهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ كَانَ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ وَيَكُونُ عَلَيْهِ شَهِيدًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

تاسره خبره اونکړه. او زمونږ خیال راغے چه په هغوی وحی راځی [...] دے کښې هغوی خوله اوچه کړه او اوئے فرمائیل هغه سوال کو[...] چرته دے. ګویا پیغمبر ﷺ د هغهٔ تعریف اوکړو. بیا ئے اوفرمائیل [...] خیر خو د شر سبب نه وی لیکن د سپرلی شنکے هغه خریٔ وتنګ[...] یا ئے مرګ ته نژدے کوی. هر کله چه هغه خوری خوری خپل[...] تشی اوپرسئ. بیا نمر ته مخامخ شی او نرے اوبهیږی او [...] کوی. بیا څریږی. او دا مال یو شین او خوږ څیز دے او د هغه [...] بنهٔ ملګرے دے چه دد دے نه مسکین، یتیم او مسافر له [...] ورکړی یا څنګه چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. او کوم سړے دا ما[...] د حق نه واخلی نو هغه د هغه سړی پشان دے چه خوری خو م[...] او دا مال به د قیامت په ورځ ددهٔ خلاف ګواه وی.[1]

بَاب فَضْلِ التَّعَفُّفِ وَالصَّبْرِ وَالْقَنَاعَةِ وَالْحَثِّ عَلٰى كُلِّ ذٰلِكَ

باب: د سوال نه د بچکیدو، د صبر او د قنا[...] فضیلت او دد دے ټولو ترغیب

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ نَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَاهُمْ ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ حَتّٰى إِذَا نَفِدَ مَا عِنْدَهُ قَالَ مَا يَكُنْ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ

ابوسعید خدری نه روایت دے څهٔ خلقو د انصارو څهٔ اوغوښ[...] رسول الله ﷺ نه نو حضرت هغوی ته ورکړل. بیائے اوغوښتل [...] ورکړل ترد پورے چه ختم شو هغه څهٔ چه د هغهٔ سره وو. نو حض[...] اوفرمائیل څما سره چه کوم مال وی هغه زهٔ ستاسو نه نهٔ منع کو[...] څوک چه د سوال نه ځان بچ کړی هغهٔ لره الله بچ ساتی او څوک چه ځ[...]

---

[1] په دے حدیث کښې حضرت صلی الله علیه وسلم خپل امت مرحومه لره ددنیا په زینت او کثرت سره اویرو. او هغه ئے اویرول چا له چه حلال مال لاس له راشی او د حق په لار کښې ئے خرچ کړی او دهغه لعنت دارو دنیادارو خو هډو ذکر نهٔ دے چه هغه حرام مال جمع کوی او خلے او ګیډے د أور نه ډکوی. یو سوال کونکی تپوس اوکړو چه د خیر انجام شر څنګه کیدے شی؟ حضرت اوفرمائیل آو دا صحیح ده مګر ددنیا د زینت مقصد دا نهٔ دے. بلکه په دے کښې د بندیګانو امتحان او فتنه ده. چه په دے کښې مشغول په زرګونو خلق الله تعالی لره هیر وی. او په خپلو کښې بغض او نفسانیت پیدا کوی. بیائے په دے باندی د شنے ګیاه مثال اوفرمائیلو چه په ظاهر خود اوبو وریدل او د شنے ګیاه راختل د ژوند سامان دے مګر د بد پرهیز څناورو لره دغه د هلاکت سبب دے.

اللهُ وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللهُ وَمَنْ يَصْبِرْ يُصَبِّرْهُ اللهُ وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ مِنْ عَطَاءٍ خَيْرٌ وَأَوْسَعُ مِنَ الصَّبْرِ

زړۀ لره بے پروا اوساتی الله هغۀ لره بے پروا کوی او څوك چه ځان په صبر عادت کړی الله په هغۀ صبر آسانه وی او يو څيز ورکول د الهی غوره اوفراخی والا د صبر نه زيات نشته [1]

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللهُ بِمَا آتَاهُ

د عبد اللهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه مراد ته اورسيدو او خلاصے ئے اوموندو هغه چا چه اسلام ئے راوړو . او د ضرورت مطابق ئے رزق ورکړو او الله پاك هغۀ لره په خپله ورکړے شوی روزئ قناعت ورکړو

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوتًا

حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ دعا اوکړه چه يا الله د محمد د ال روزی د ضرورت موافق اوساته [2]

بَابُ إِعْطَاءِ الْمُؤَلَّفَةِ وَ مَنْ يُخَافُ عَلَى إِيمَانِهِ إِنْ لَمْ يُعْطَ وَاحْتِمَالِ مَمْ سَأَلَ بِجَفَاءٍ لِجَهْلِهِ وَ بَيَانِ الْخَوَارِجِ وَ أَحْكَامِهِمْ

باب: مُؤَلَّفَةُ القلوب لره او داسے خلقو ته د ورکولو بيان چه هغوی ته د نۀ ورکولو په وجه دۀ ايمان ته خطره وی او د يو جاهل باندې چې په سختئ سره سوال کولو لره برداشت کول او د خوارجو او د هغوی د احکامو بيان

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَسَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْمًا فَقُلْتُ وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ لَغَيْرُ هَؤُلَاءِ كَانَ أَحَقَّ بِهِ مِنْهُمْ قَالَ إِنَّهُمْ خَيَّرُونِي أَنْ يَسْأَلُونِي

د حضرت عمرؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ څۀ د صدقے مال تقسيموۀ ما عرض اوکړو چه يا رسول اللهﷺ قسم دے په اللهؓ چه ددے مستحق نور خلق وو. حضرتﷺ اوفرمائيل چه دوی زۀ په دوو خبرو کښې مجبور کړم چه يا خو د ځما په بے حيايئ سره اوغواړی يا خو

---

[1] په دے حديث کښې د قناعت او صبر او ددنيا په تنگئ باندے د راضی کيدو تعليم او ترغيب دے.

[2] يعنی ددنيا د طوم وطرياق او ساز وبراق او د حمل اثقال تحمل مشاق او د زبردستئ د گنړے گونړے او د راجمع کيدو د خلقو او د ناحقے د زق زق او د معاملاتو د بق بق نه ئے محفوظ اوساته او ددے حديث نه معلومه شوه چه د ضرورت موافق ميلاويدل د فقراو غنی دواړو نه غوره دی. خير الامور اوسطها. او قوت د اهل لغتو په نز رمق ته وئيلے شی. او ددے نه ددنيا د کمے ساتلو فضيلت ثابت شو. او د کفايت کولو قوت په لايموت باندے.

بِالْفُحْشِ أَوْ يُبَخِّلُونِي فَلَسْتُ بِبَاخِلٍ

د د هغوی په وړاندے زۀ بخيل شم پس زۀ بخل کولو والا نۀ يم [۱].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ رِدَاءٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيظُ الْحَاشِيَةِ فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِيٌّ فَجَبَذَهُ بِرِدَائِهِ جَبْذَةً شَدِيدَةً نَظَرْتُ إِلَى صَفْحَةِ عُنُقِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ أَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ الرِّدَاءِ مِنْ شِدَّةِ جَبْذَتِهِ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ مُرْ لِي مِنْ مَالِ اللهِ الَّذِي عِنْدَكَ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَحِكَ ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ

د انس بن مالك رضی الله عنه نه روايت دے چه زۀ د رسول الله ﷺ سره روان وم. او هغوی يو د نجران (دا د يو ښهر نوم دے) څادر پسر کړے وو چه د هغے غاړے پيڼے وے. او هغوی ته د باندے يو سړے ميلاؤ شو او هغه ئے د څادر سره په زور راښکو دو. ما اوليدل چه د هغوی په څټ باندے د څادر د غاړے نخښنه جوړه شوے وه او جيئ پکښې ښخه شوه. د دغه زور سره د راښکو په سبب بيائے اووے اے محمد حکم اوکړه څما دپاره د هغه مال نه د څۀ راکولو چه د الله درکړے شوے ستا سره پس رسول الله ﷺ د هغۀ په طرف اوکتل او مسکے شو او حکم ئے اوکړو هغۀ لره د څۀ ورکولو [۲].

عَنْ إِسْحَقَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِهٰذَا الْحَدِيثِ وَفِي حَدِيثِ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ مِنَ الزِّيَادَةِ قَالَ ثُمَّ جَبَذَهُ إِلَيْهِ جَبْذَةً رَجَعَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ فِي نَحْرِ الْأَعْرَابِيِّ وَفِي حَدِيثِ هَمَّامٍ فَجَاذَبَهُ حَتَّى انْشَقَّ الْبُرْدُ وَحَتَّى بَقِيَتْ حَاشِيَتُهُ فِي عُنُقِ رَسُولِ اللهِ ﷺ

د اسحٰق نه په ذريعه د انس رضی الله عنه دغه روايت مروی دے او د عکرمه بن عمار رضی الله عنه په روايت کے دا مضمون زيات دے. چه دغه اعرابی داسے راښکو چه رسول الله ﷺ د غاړے د اعرابی سره اولګيدو، او د همام په روايت کښې دادی چه داسے ئے راښکو چه څادر مبارك ئے اوشليدو او غاړه د هغے د رسول الله ﷺ په غاړه کښې پاتے شوه. باقی مضمون هغه دے کوم چه پورته تير شو.

عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّهُ قَالَ قَسَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبِيَةً وَلَمْ يُعْطِ

د مسور بن مخرمه رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ قباګانے تقسيم کړے او مخرمه ته ئے پکښې يوه هم ور نۀ کړه بيا مخرمه اووے اے

---

[۱]: غرض دا چه هغوی خمانه ډير په احتياج سره سوال اوکړو په سبب د کمزروی ايمان او کۀ چرے ما هغوی له نۀ وے ورکړے نو بخيل به ئے راته وئيلو. د دے حديث نه معلومه شوه چه د جاهلانو او سختو زړونو والاو د کمزوری ايمان د خلقو سره خوشامندی کول ضروری دی د دے مصلحت په وجه هغوی ته مال ورکول روا دی.

[۲]: او د هغۀ په دغه کار باندے څۀ غصه اونۀ کړله. دا د هغوی د کامل اخلاقو او صبر کمال وو. د دے حديث نه معلومه شوه چه د جاهلانو په ګستاخئ او بے ادبئ باندے حلم او صبر او معاف کول او د هغوی د بے ادبه په بدله کښې د هغوی سره احسان کول پکار دی. او په ښو اخلاقو سره ورسره ميلاويدل پکار دی. لکه څنګه چه حضرت صلی الله عليه وسلم اوخندل او هغۀ ته ئے څۀ ورکړه هم اوکړه. او د دے حديث نه د مسکراهټ جواز هم ثابت شو.

مَخْرَمَةَ شَيْئًا فَقَالَ مَخْرَمَةُ يَا بُنَيَّ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ قَالَ ادْخُلْ فَادْعُهُ لِي قَالَ فَدَعَوْتُهُ لَهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ وَعَلَيْهِ قَبَاءٌ مِنْهَا فَقَالَ خَبَأْتُ هَذَا لَكَ قَالَ فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ رَضِيَ مَخْرَمَةُ

خما بچیه خما سره لاړ شه د رسول الله ﷺ پورے پس زۀ د هغۀ سره لاړم او هغوی اووے ته کورته لاړ شه او هغوی رااوغواړه. ما حضرت ﷺ رااوغوښتو. نبی ﷺ رااووتو او یوه قبا ورسره وه. اواوئے فرمائیل چه دا ما ستا دپاره پریخودے وه. بیا هغوی مخرمه اولیدو اواوئے فرمائیل مخرمه خوشحاله شوے.

عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ قَدِمَتْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبِيَةٌ فَقَالَ لِي أَبِي مَخْرَمَةُ انْطَلِقْ بِنَا إِلَيْهِ عَسَى أَنْ يُعْطِيَنَا مِنْهَا شَيْئًا قَالَ فَقَامَ أَبِي عَلَى الْبَابِ فَتَكَلَّمَ فَعَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَوْتَهُ فَخَرَجَ وَمَعَهُ قَبَاءٌ وَهُوَ يُرِيهِ مَحَاسِنَهُ وَهُوَ يَقُولُ خَبَأْتُ هَذَا لَكَ خَبَأْتُ هَذَا لَكَ

د مسورؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ له څۀ کوټونه راغلے وو او ما ته خما پلار مخرمه اووے اے خما بچیه خما سره لاړ شه کیدے شی چه مونږ ته هم د هغے نه څۀ راکړی. غرض دا چه خما پلار په دروازه کښې اودریدو او خبرے اوکړے نبی ﷺ د هغۀ آواز اوپیژندو او رااووتو او د هغۀ سره یو کوټ وو او حضرت ﷺ د هغے د ګلکارئ په طرف نظر کولو اوفرمائیلوئے چه دا ما ستا دپاره اوچت ایخودے وو دا ما ستا دپاره اوچت ایخودے وو.[1]

عَنْ سَعْدٍ أَنَّهُ أَعْطَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا وَأَنَا جَالِسٌ فِيهِمْ قَالَ فَتَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ رَجُلًا لَمْ يُعْطِهِ وَهُوَ أَعْجَبُهُمْ إِلَيَّ فَقُمْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ وَاللهِ إِنِّي لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا قَالَ أَوْ مُسْلِمًا فَسَكَتُّ قَلِيلًا ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَعْلَمُ مِنْهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللهِ إِنِّي لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا

د سعدؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ څو خلقو له څۀ مال ورکړو. او زۀ هم په هغے کښې ناست وم او هغۀ یو سړے پریخودو چه هغه خما په نزد تولو نه ښۀ وو نو زۀ د رسول الله ﷺ مخے ته اودریدم او عرض مے اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زۀ دے مؤمن ګنړم ته ده ته ولے نۀ ورکوے. زۀ دے په اللهؑ قسم چه مؤمن ګنړم. حضرت ﷺ اوفرمائیل کیدے شی چه مسلمان وی بیا زۀ لږ ساعت چپ پاتے شوم او بیا د هغۀ خوبئ کومه چه ما ته معلومه وه غلبه اوکړه او بیا مے عرض اوکړو. چه یا رسول الله ﷺ تاسو دۀ ته ولے نۀ ورکوئ. په اللهؑ قسم دے چه زۀ دے مؤمن ګنړم حضرت ﷺ اوفرمائیل کیدے شی چه مسلمان وی. بیا زۀ چپ شوم او بیا د هغۀ خوبئ کومه چه ما ته معلومه وه په ما باندے

[1] په دے کښې جود وسخا بذل وعطا د رسول الله صلی الله علیه وسلم معلومیږی او د خپلو یارانو خیال ساتل او د هغوی دلجوئ وه دا ما ستا دپاره اوچته ایخودے وه.

قَالَ أَوْ مُسْلِمًا فَسَكَتُّ قَلِيلًا ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَعْلَمُ مِنْهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللهِ إِنِّي لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا قَالَ أَوْ مُسْلِمًا قَالَ إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ خَشْيَةَ أَنْ يُكَبَّ فِي النَّارِ عَلَى وَجْهِهِ وَفِي حَدِيثِ الْحُلْوَانِيِّ تَكْرِيرُ الْقَوْلِ مَرَّتَيْنِ

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ يُحَدِّثُ بِهَذَا الْحَدِيثِ يَعْنِي حَدِيثَ الزُّهْرِيِّ الَّذِي ذَكَرْنَا فَقَالَ فِي حَدِيثِهِ فَضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ بَيْنَ عُنُقِي وَكَتِفِي ثُمَّ قَالَ أَقِتَالًا أَيْ سَعْدُ إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ أُنَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ قَالُوا يَوْمَ حُنَيْنٍ حِينَ أَفَاءَ اللهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَمْوَالِ هَوَازِنَ مَا أَفَاءَ فَطَفِقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي رِجَالًا مِنْ قُرَيْشٍ الْمِائَةَ مِنَ الْإِبِلِ فَقَالُوا يَغْفِرُ اللهُ لِرَسُولِ اللهِ يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَتْرُكُنَا وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ فَحُدِّثَ ذَلِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَوْلِهِمْ فَأَرْسَلَ إِلَى الْأَنْصَارِ

... تلسو دۀ لره ... بيا غلبه اوکړه او عرض مې اوکړو چه يا رسول الله ﷺ تلسو دۀ لره ورکوئ په الله ؓ قسم دے چه زۀ دۀ لره مؤمن ګڼرم. حضرت ﷺ اوفرمائيل کيدے شي چه مسلمان وی بيا په دريم ځل حضرت ﷺ اوفرمائيل چه اکثر يو له ورکوم او دويم خما په نزد هغۀ نه بنۀ وی په دے خيال سره کچرے زۀ هغۀ لره ورنۀ کړم نو دے پړمخے دوزخ ته روانيږی او د حلوانی روايت کښې دغه قول کوم چه درے ځله مروی دے دوه ځله دے [1].

د محمد بن سعد ؓ نه دغه روايت د زهری نه هم مروی دے په دے کښې خبره زياته ده چه رسول الله ﷺ خما د څټ او اوږے مينځ په لاس اووهلو او فرمائيل ولے جنګ کوے اے سعده! بيائے وړاندے دغه خبره اوفرمائيله دا حضرت ﷺ د محبت په وجه اوفرمائيل چه ولے تۀ خما سره جنګ کوے حالانکه د هغۀ ځۀ مجال وو چه د حضرت ﷺ سره ئے جنګ کړے وے.

انس ؓ نه روايت دے څو کسانو د انصارو د حنين په ورځ اووے هر کله الله پاك خپل رسول ﷺ ته د حوازن د مالونو نه ځۀ مال بغير د جنګ جهګړے ورا وبخښلو او رسول الله ﷺ څو کسانو د قريشو ته سل اوښان ورکړل نو د انصارو خلقو دا ويل شروع کړل چه الله ؓ د خپل رسول الله ﷺ معافی وکړی چه هغوی موږ پريږدی او قريشو لره ورکوی او زموږ تورو نه تر اوسه پورے د قريشو وينے ساسی. انس بن مالك ؓ وائی دغه خبر رسول الله ﷺ ته اورسيدو او هغه په انصارو پسے بلونکے اوليږو او ئے د څرمنے په يوتمبو کښې راجمع کړل بيا چه هر کله ټول راجمع شو رسول الله ﷺ تشريف راوړو او اوئے فرمائيل دا ځۀ خبره ده چه ستاسو طرفنه ما ته رارسيدلے ده نو په هغوی کښې عقلمندو خلقو اووے کوم چه ...

---

[1] په دے کښې صفا تصريح ده چه ضعف الايمان خلقو لره ځکه ورکوم چه هغه د تکليف موندو سره د ايمان نه واپس نۀ شي حالانکه کامل ايمان والا موجود دی چه هغه هيڅ کله د تکليف د يرے نه د دين نه اوړيدلو والا نۀ دی. او دغے ته مؤلفة القلوب وئيلے شي.

فَجَمَعَهُمْ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ فَلَمَّا اجْتَمَعُوا جَاءَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا حَدِيثٌ بَلَغَنِي عَنْكُمْ فَقَالَ لَهُ فُقَهَاءُ الْأَنْصَارِ أَمَّا ذَوُو رَأْيِنَا يَا رَسُولَ اللهِ فَلَمْ يَقُولُوا شَيْئًا وَأَمَّا أُنَاسٌ مِنَّا حَدِيثَةٌ أَسْنَانُهُمْ قَالُوا يَغْفِرُ اللهُ لِرَسُولِهِ يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَتْرُكُنَا وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي أُعْطِي رِجَالًا حَدِيثِي عَهْدٍ بِكُفْرٍ أَتَأَلَّفُهُمْ أَفَلَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالْأَمْوَالِ وَتَرْجِعُونَ إِلَى رِحَالِكُمْ بِرَسُولِ اللهِ فَوَاللهِ لَمَا تَنْقَلِبُونَ بِهِ خَيْرٌ مِمَّا يَنْقَلِبُونَ بِهِ فَقَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ رَضِينَا قَالَ فَإِنَّكُمْ سَتَجِدُونَ أَثَرَةً شَدِيدَةً فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوْا اللهَ وَرَسُولَهُ فَإِنِّي عَلَى الْحَوْضِ قَالُوا سَنَصْبِرُ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ لَمَّا أَفَاءَ اللهُ عَلَى

مونږ کښې پوهه خلق دي يا رسول الله هغوی خو څه هم نۀ دي ويلي. او څنې کم عمره خلق په مونږ کښې وائي چه الله د اوبخښي رسول الله ﷺ لره چه قريشو ته ورکوي او مونږ ته نۀ راکوي. او زمونږ تورے د هغوی وينے اوس هم توبوي پس رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه زۀ څنې داسې خلقو ته ورکوم چه هغه اوس هم کافر وو د هغوی د زړۀ د خوشحالئ دپاره. او تاسو خلق خوشحاليږئ نه په دے سره چه خلقو خو مال لره واخستو او خپلو کورونو ته لاړل او تاسو د الله رسول واخستو او خپلو کورونو ته څئ. البته قسم دے په الله باندے څۀ چه تاسو واخستل او کور ته څئ دا ډير غوره دی د هغه څۀ نه چه هغوی اخستی او کورته تلی دی (البته د رسول الله لمن د ټولے دنيا نه غوره ده) بيا ټولو انصارو اووے آو يا رسول الله ﷺ مونږ راضي شو. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل وراندے به په تاسو باندے ډير خلق مخکښې کولے شي (يعنې تاسو به پريږدي او نورو له به ورکوي) خو تاسو صبر کوئ تر دے پورې چه ملاقات اوکړئ د الله او د هغۀ د رسول ﷺ سره چه زۀ به په حوض (کوثر) ولاړيم هغوی اووے اوس مونږ صبر کوو. (بعون الله وقوته)[1].

د انس بن مالك نه دغه روايت په دويم سند سره مروی دے دد ے روايت په شان کوم چه پورته تير شو او په دے کښې ئے دومره زياته

[1]: نووي رحمه الله وائي چه قاضي عياض رحمه الله ذکر کړے دی چه په دے حديث کښې دا تصريح نشته چه رسول الله ﷺ هغوی لره خمس (يعنې پنځمه حصه) د ويستلو نه مخکښې ورکړه. يائے دوی په پنځمه کښې نۀ دے شمارلی. او د باقي روايتونو نه معلوميږي چه حضرت صلی الله عليه وسلم دوی لره په پنځمه حصه کښې برخه ورکړے وه. او دد ے نه معلوميږي چه امام ته د پنځمې حصے اختيار دے. څنګه چه غواړی خرچ کوی به ئے او چا له چه غواړي دد ےنه زياته ورکړي. يا يو سړی له د هغے نه ډير څۀ ورکړي او دغه شان امام ته اختيار دے چه پنځمې حصے لره د مؤمنانو په اصلاح کښې خرچ کړي. او کۀ غواړي نو چا مالدار له د د مصلحت په نظر سره ډير څۀ ورکړي او حضرت صلی الله عليه وسلم انصارو ته اوفرمائيل چه مخکښې کوم حاکمان راځي هغه به تاسو لره پريږدي او نورو لره به د دنيا مالونه ورکوي. نو تاسو لره ضروري دی چه د آخرت په نعمتونو باندے نظر اوساتئ. او خما سره په حوض کوثر باندے د يو ځائے کيدو خيال اوترئ. او د اوس نه د صبر عادت په ځان کښې اوغورځوئ.

رَسُولِهِ مَا أَفَاءَ مِنْ أَمْوَالِ هَوَازِنَ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ قَالَ أَنَسٌ فَلَمْ نَصْبِرْ وَقَالَ فَأَمَّا أُنَاسٌ حَدِيثَةٌ أَسْنَانُهُمْ

کړے ده چه انس وائی بیا مونږ خلق صبر نهٔ شو کولے. او په أُنَاس کښې ئے د مِثْلًا لفظ نهٔ دے وئیلے. باقی مضمون دغه دے. وئیلے مسلم چه روایت کړے دے مونږ ته زهیر بن حرب هغهٔ ته یعقوب ته د ابن شهاب وراره هغهٔ ته د هغهٔ تره هغهٔ ته انس بن مالک او کړے ئے دے حدیث په مثل د هغے (چه کوم ذکر شو) او په هغے هم دی چه انس اووے بیا مونږ صبر نهٔ شو کولے ځنګه چه روایت دے یونس د زهری نه (چه دد دے نه وړاندے تیر شو).

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ جَمَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَنْصَارَ فَقَالَ أَفِيكُمْ أَحَدٌ مِنْ غَيْرِكُمْ فَقَالُوا لَا إِلَّا ابْنُ أُخْتٍ لَنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ ابْنَ أُخْتِ الْقَوْمِ مِنْهُمْ فَقَالَ إِنَّ قُرَيْشًا حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ وَمُصِيبَةٍ وَإِنِّي أَرَدْتُ أَنْ أَجْبُرَهُمْ وَأَتَأَلَّفَهُمْ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَرْجِعَ النَّاسُ بِالدُّنْيَا وَتَرْجِعُونَ بِرَسُولِ اللهِ إِلَى بُيُوتِكُمْ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَسَلَكَ الْأَنْصَارُ شِعْبًا لَسَلَكْتُ شِعْبَ الْأَنْصَارِ

حضرت انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ انصارو لره یو ځائی جمع او ورته ئے اوفرمائیل چه تاسو کښې څوک غیر دے؟ هغوی اووے مګر یو ځمونږ د خور ځوئ حضرت اوفرمائیل د خور ځوئ په قوم داخل دے. بیائے اوفرمائیل قریشو اوس جاهلیت پریخودے او اوس مصیبت نه خلاصے موندلے دے. او زهٔ غواړم چه د هغوی فریاد اوکړم او د هغوی زړهٔ له تسلی ورکړم. او ولے تاسو خوشحالیږئ نه چه دنیا واخسته او لاړل او تاسو رسول الله ﷺ واخلئ او خپل کورته ځئ پاتے شو ځما محبت او خپلولی ستاسو سره نو هغه خو داسے ده) چه خلق د یو اوار میدان لاره اونیسی او انصار د یوے کندے (چه غرونو په مینځ کښې وی) نو زهٔ به د انصارو سره په هغه تنګه لاره ددوی ملګرتیا به چرته نهٔ پریږدم [1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمَّا فُتِحَتْ مَكَّةُ قَسَمَ الْغَنَائِمَ فِي قُرَيْشٍ فَقَالَتِ الْأَنْصَارُ إِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْعَجَبُ إِنَّ سُيُوفَنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ وَإِنَّ غَنَائِمَنَا تُرَدُّ عَلَيْهِمْ فَبَلَغَ ذٰلِكَ

د انس بن مالک نه روایت دے کله چه مکه فتح شوله نو غنیمت قریشو اوویشلے شو. او انصارو اووے دا لوېه د حیرانتیا خبره چه وینے زمونږه تورے بیوی او غنیمتونه دا خلق اوړی. نو دا حضرت ﷺ ته اورسیدو. نو حضرت ﷺ دوی لره راجمع کړل او

---

[1] په دے حدیث کښې غورهوالے د انصارو او محبت معلوم شو د هغوی سره.

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَمَعَهُمْ فَقَالَ مَا الَّذِي بَلَغَنِي عَنْكُمْ قَالُوا هُوَ الَّذِي بَلَغَكَ وَكَانُوا لَا يَكْذِبُونَ قَالَ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَرْجِعَ النَّاسُ بِالدُّنْيَا إِلَى بُيُوتِهِمْ وَتَرْجِعُونَ بِرَسُولِ اللهِ إِلَى بُيُوتِكُمْ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا أَوْ شِعْبًا وَسَلَكَتِ الْأَنْصَارُ وَادِيًا أَوْ شِعْبًا لَسَلَكْتُ وَادِيَ الْأَنْصَارِ أَوْ شِعْبَ الْأَنْصَارِ

ئې اوفرمائيل چه دا څۀ خبره ده چه ما ته ستاسو نه رارسيدلې ده. هغوی عرض اوکړو چه آو دغه خبره ده کومه چه تاته دررسيدلې ده او هغه خلقو چرته هم دروغ نۀ وئيل. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل ولې تاسو خوشحاليږئ نه چه نور خلق دنيا واخلی او کورونو ته ځی او تاسو د الله رسولؐ واخستو او خپل کور ته ځئ. او څما حال خو داد ے چه کچرے دا خلق د يو ميدان يا لوړے لار اختيار کړی او انصار د يوے کندے يا د ګټانو نو زۀ به د انصارو سره په دغه کندو کښ يا په دغه ګټانو کښ به ورسره روان يم.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ حُنَيْنٍ أَقْبَلَتْ هَوَازِنُ وَغَطَفَانُ وَغَيْرُهُمْ بِذَرَارِيِّهِمْ وَنَعَمِهِمْ وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ عَشَرَةُ آلَافٍ وَمَعَهُ الطُّلَقَاءُ فَأَدْبَرُوا عَنْهُ حَتَّى بَقِيَ وَحْدَهُ قَالَ فَنَادَى يَوْمَئِذٍ نِدَاءَيْنِ لَمْ يَخْلِطْ بَيْنَهُمَا شَيْئًا قَالَ فَالْتَفَتَ عَنْ يَمِينِهِ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ فَقَالُوا لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ أَبْشِرْ نَحْنُ مَعَكَ قَالَ ثُمَّ الْتَفَتَ عَنْ يَسَارِهِ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالُوا لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ أَبْشِرْ نَحْنُ مَعَكَ قَالَ وَهُوَ عَلَى بَغْلَةٍ بَيْضَاءَ فَنَزَلَ فَقَالَ أَنَا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ فَانْهَزَمَ الْمُشْرِكُونَ وَأَصَابَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَائِمَ كَثِيرَةً فَقَسَمَ فِي الْمُهَاجِرِينَ وَالطُّلَقَاءِ وَلَمْ

د انسؓ نه روايت د ے هر کله چه د حُنين ورځ اوشوه نو د هوازن او غطفان او د نورو قبيلو خلقو د خپلو اولادو او څناورو سره راغلل او د نبی کريم ﷺ سره لس زره غازيان وو او د مکے خلق هم چه هغې ته طلقا وائی بيا دا ټول په يو وار په شا اوتختيدل تر دے پورې چه حضرت ﷺ يوائے پاتې شو او په دغه ورځ ئې دوه آوازونه اوکړو او د هغې په مينځ کښ ئې څۀ اونۀ وے اول ئې ښی طرفته مخ کړو او چغه ئې کړه چه ا ے د انصارو ټوليه نو انصارو جواب ورکړو چه موږ حاضر يو ا ے د الله رسوله تۀ خوشحاله شه چه موږ ستا سره يو. بيائې ګس طرفته مخ کړو او آوازئې اوکړو چه ا ے د انصارو ټوليه نو هغوی جواب ورکړو او اوئې وئيل چه موږ حاضر يو ا ے د الله رسولهٔ خوشحاله شه چه موږ ستاسره يو. او حضرت ﷺ په دغه ورځ په يو سپين قچر باند ے سور وو او راکوز شو او اوئې فرمائيل چه زۀ د الله بنده يم (د بندګۍ د مقام نه اوچت څۀ د فخر مقام نشته. شيخ اکبر دد ے بنۀ ښائسته تصريح کړے ده چه د عبديت مقام خاص د ے د انبياؤ په واسطه بل چا ته په د ے مقام کښ مشارکت نشته سبحٰن الله د الله بنده کيدل څومره لوئې نعمت د ے) او د هغۀ رسول يم او مشرکانو شکست اوخوړو او د نبی ﷺ

يُعْطِ الْأَنْصَارَ شَيْئًا فَقَالَتِ الْأَنْصَارُ إِذَا كَانَتِ الشِّدَّةُ فَنَحْنُ نُدْعَى وَتُعْطَى الْغَنَائِمُ غَيْرَنَا فَبَلَغَهُ ذٰلِكَ فَجَمَعَهُمْ فِي قُبَّةٍ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ مَا حَدِيثٌ بَلَغَنِي عَنْكُمْ فَسَكَتُوا فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالدُّنْيَا وَتَذْهَبُونَ بِمُحَمَّدٍ تَحُوزُونَهُ إِلَى بُيُوتِكُمْ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ رَضِينَا قَالَ فَقَالَ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَسَلَكَتِ الْأَنْصَارُ شِعْبًا لَأَخَذْتُ شِعْبَ الْأَنْصَارِ قَالَ هِشَامٌ فَقُلْتُ يَا أَبَا حَمْزَةَ أَنْتَ شَاهِدٌ ذَاكَ قَالَ وَأَيْنَ أَغِيبُ عَنْهُ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ افْتَتَحْنَا مَكَّةَ ثُمَّ إِنَّا غَزَوْنَا حُنَيْنًا فَجَاءَ الْمُشْرِكُونَ بِأَحْسَنِ صُفُوفٍ رَأَيْتُ قَالَ فَصُفَّتِ الْخَيْلُ ثُمَّ صُفَّتِ الْمُقَاتِلَةُ ثُمَّ صُفَّتِ النِّسَاءُ مِنْ وَرَاءِ ذٰلِكَ ثُمَّ صُفَّتِ الْغَنَمُ ثُمَّ صُفَّتِ النَّعَمُ قَالَ وَنَحْنُ بَشَرٌ كَثِيرٌ قَدْ بَلَغْنَا سِتَّةَ آلَافٍ وَعَلَى مُجَنِّبَةِ خَيْلِنَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ قَالَ فَجَعَلَتْ خَيْلُنَا تَلْوِي خَلْفَ ظُهُورِنَا فَلَمْ نَلْبَثْ أَنِ انْكَشَفَتْ خَيْلُنَا وَفَرَّتِ الْأَعْرَابُ وَمَنْ نَعْلَمُ مِنَ النَّاسِ قَالَ فَنَادَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَالَ الْمُهَاجِرِينَ يَالَ الْمُهَاجِرِينَ ثُمَّ قَالَ يَالَ الْأَنْصَارِ يَالَ الْأَنْصَارِ

لاس له ډیر د غنیمت مال راغے. حضرت ﷺ هغه په مهاجرینو کښې تقسیم کړو او د مکے په خلقو کښې. او انصارو ته ئے په هغے کښې څۀ ورنۀ کړل نو انصارو اووے. چه په سختو وختونو کښې خو مونږ بللے شو او د غنیمت مال نورو له ورکولے شي. پس دا خبر حضرت ﷺ ته اورسیدو نو هغوی دوی له په یوه خیمه کښې راجمع کړل او ورته ئے اوفرمائیل اے د انصارو ټولیه څۀ خبره ده چه ستاسو نه ما ته رارسیدلے ده نو هغوی چپ پاتے شو. حضرت ﷺ اوفرمائیل اے د انصارو ټولیه! ولے تاسو خوشحاله نۀ یئ په دے باندے چه خلق دنیا واخلی اولاړ شي او تاسو محمد (ﷺ) له خپلو کورونو ته یوسئ هغوی اووے بیشکه یا رسول الله مونږ راضي شو. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل که خلق په یو کنډو روان دي او انصار په بل نو زۀ به د انصارو د کنډو په لاړ ځم. هشام وائی ما اووے اے ابوحمزه تۀ دغه وخت حاضر وے. هغوی اووے ما به هغه پریخودو نو چرته به تلم؟

حضرت انس ؓ نه روایت دے چه مونږ مکه فتح کړه (بعونه تعالی) او بیا مو جهاد اوکړو په حنین باندے او مشرکان ښۀ صفونه تړلی راغلل کوم چه ما اولیدل نو رومبی ئے د اسونو صفونه تړلی وو (یعنی د سورو) بیا د جنګیدونکو سړو بیا د ښځو. د هغے نه روستو بیا صف تړلے وو د بزو بیا د چارپایانو. او مونږ ډیر خلق وو چه شپږو زرو ته رسیدلی وو (او دا د راوی غلطی ده حقیقت کښې په دغه ورځ دولس زره نفر وو لکه چه په پورته روایت کښې تیر شو) او زمونږ د یو طرف په سورو باندے خالد بن ولید سالار وو او اچانک زمونږ اسونو په شا طرف ماتے شروع کړو. او مونږ او نۀ دریدو تردے پورے چه زمونږ اسونه لغړ شو. او د کلی خلقو تښتیدل شروع کړل او کوم خلق چه زۀ پیژنم او رسول الله ﷺ اوریل چه اے مهاجرینو بیائے مهاجرینو بیائے اوریل چه اے انصار

قَالَ قَالَ أَنَسٌ هٰذَا حَدِيثُ عِمِيَّةٍ قَالَ قُلْنَا لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَتَقَدَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَايْمُ اللهِ مَا أَتَيْنَاهُمْ حَتَّى هَزَمَهُمُ اللهُ قَالَ فَقَبَضْنَا ذٰلِكَ الْمَالَ ثُمَّ انْطَلَقْنَا إِلَى الطَّائِفِ فَحَاصَرْنَاهُمْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ رَجَعْنَا إِلَى مَكَّةَ فَنَزَلْنَا قَالَ فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي الرَّجُلَ الْمِائَةَ مِنَ الْإِبِلِ ثُمَّ ذَكَرَ بَاقِيَ الْحَدِيثِ كَنَحْوِ حَدِيثِ قَتَادَةَ وَأَبِي التَّيَّاحِ وَهِشَامِ بْنِ زَيْدٍ

اے انصار. او انس وائی دا حدیث د یو جماعت دے یا وائی دا حدیث خما د ترونو دے. بیا مونږ لووے حاضر یو مونږ اے د الله رسوله بیا رسول الله ﷺ ورمخکښې شو او انس وائی په الله قسم چه مونږ لا رسیدلی نه وو چه الله پاك هغوی له شکست ورکړو او مونږ د هغوی تول مال واخستو بیا مونږ د طائف په طرف لاړو ا وهغوی له مو د څلويښتو ورځو پورے گهير کړل او بيا مکے ته واپس راغلو او کوز شو او رسول الله ﷺ یو یو له سل سل اوښان ورکول او فرماتیل بیائے وړاندے باقی حدیث ذکر کړو لکه روایت د قتاده او ابوالتیاح او د هشام بن زید چه پورته تیر شو.

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ أَعْطَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ حَرْبٍ وَصَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ وَعُيَيْنَةَ بْنَ حِصْنٍ وَالْأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ كُلَّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ وَأَعْطَى عَبَّاسَ بْنَ مِرْدَاسٍ دُونَ ذٰلِكَ فَقَالَ عَبَّاسُ بْنُ مِرْدَاسٍ۔ شعر:

أَتَجْعَلُ نَهْبِي وَ نَهْبَ الْعُبَيْدِ
بَيْنَ عُيَيْنَةَ وَ الْأَقْرَعِ
فَمَا كَانَ بَدْرٌ وَلَا حَابِسٌ
يَفُوقَانِ مِرْدَاسَ فِي الْمَجْمَعِ
وَمَا كُنْتُ دُونَ امْرِئٍ مِنْهُمَا
وَمَنْ تَخْفِضِ الْيَوْمَ لَا يُرْفَعِ

قَالَ فَأَتَمَّ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ مِائَةً

د حضرت رافع بن خدیج نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ابوسفیان او صفوان او عیینه او اقرع دے تولو له سل سل اوښان ورکړل او عباس بن مراد له ئے ددے نه څه کم ورکړل. نو عباس دا اشعار اووئیل کوم چه پورته ذکر شو بیا هغوی سل اوښان پوره کړل. د اشعارو ترجمه: تاسو خما او خما د اس حصه چه د هغهٔ نوم عبید وو د عیینه او اقرع په مینځ کښې مقرر فرمایئ حالانکه عیینه او اقرع دواړه سری ددهٔ نه یعنې خما نه په یوه مجمع کښې هم مخکښې کیدے نهٔ شی. او زهٔ ددغه دواړو نه څهٔ کم نهٔ یم. او نن چه د چا خبره لاندے شوه هغه به بیا دپاسه نهٔ شی.

عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيدِ بْنِ مَسْرُوقٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ

د عمر بن سعید بن مسروق نه په بل سند سره دغه روایت دے نبی ﷺ د حنین غنیمتونه تقسیم کړل او ابوسفیان له ئے سل اوښان

فَأَعْطَى أَبَا سُفْيَانَ بْنَ حَرْبٍ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِهِ وَزَادَ وَأَعْطَى عَلْقَمَةَ بْنَ عُلَاثَةَ مِائَةً

عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيدٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي الْحَدِيثِ عَلْقَمَةَ بْنَ عُلَاثَةَ وَلَا صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ وَلَمْ يَذْكُرِ الشِّعْرَ فِي حَدِيثِهِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا فَتَحَ حُنَيْنًا قَسَمَ الْغَنَائِمَ فَأَعْطَى الْمُؤَلَّفَةَ قُلُوبُهُمْ فَبَلَغَهُ أَنَّ الْأَنْصَارَ يُحِبُّونَ أَنْ يُصِيبُوا مَا أَصَابَ النَّاسُ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَطَبَهُمْ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ أَلَمْ أَجِدْكُمْ ضُلَّالًا فَهَدَاكُمُ اللهُ بِي وَعَالَةً فَأَغْنَاكُمُ اللهُ بِي وَمُتَفَرِّقِينَ فَجَمَعَكُمُ اللهُ بِي وَيَقُولُونَ اللهُ وَرَسُولُهُ أَمَنُّ فَقَالَ أَلَا تُجِيبُونِي فَقَالُوا اللهُ وَرَسُولُهُ أَمَنُّ فَقَالَ أَمَا إِنَّكُمْ لَوْ شِئْتُمْ أَنْ تَقُولُوا كَذَا وَكَذَا وَكَانَ مِنَ الْأَمْرِ كَذَا وَكَذَا لِأَشْيَاءَ عَدَّدَهَا زَعَمَ عَمْرٌو أَنْ لَا يَحْفَظُهَا فَقَالَ أَلَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالشَّاءِ وَالْإِبِلِ وَتَذْهَبُونَ بِرَسُولِ اللهِ إِلَى رِحَالِكُمُ الْأَنْصَارُ شِعَارٌ وَالنَّاسُ دِثَارٌ وَلَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَأً مِنَ الْأَنْصَارِ وَلَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَشِعْبًا لَسَلَكْتُ وَادِيَ الْأَنْصَارِ وَشِعْبَهُمْ إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً

وركړل نور حديث ئے بيان كړو پشان د هغے او دومره خبره ئے زياته بيان كړه چه علقمه بن علاثه له ئے سل اوښان وركړل

د عمر بن سعيد نه روايت دے چه په دغه سند سره مروى شوے دے او په دے كښې علقمه بن علثه او د صفوان بن اميه ذكر نشته او نه پكښې د شعرونو ذكر شته

عبد الله بن يزيد وائى چه رسول الله ﷺ چه كله حُنين فتح كړو او غنيمت ئے تقسيم كړو او مؤلف القلوب لره ئے مال وركړو نو حضرت ته خبر راغے چه انصار غواړى چه څنګه نورو خلقو ته حصه ميلاؤ شوے ده دغه شان د مونږ ته هم ميلاؤ شى پس رسول الله ﷺ خطبه اولوسته او د الله حمد او ثنا ئے اووے او بيائے اوفرمائيل اے د انصارو ټوليه! ولے ما تاسو لره ګمراه نه وئ موندلى. بيا الله پاك تاسو ته څما په سبب هدايت اوكړو. او ولے ما تاسو محتاج نه وئ موندلى چه بيا الله پاك څما په سبب سره اميران كړئ. اوولے ما تاسو لره جدا جدا نه وئ موندلى .بي الله پاك څما په سبب سره تاسو جمع كړئ. (په انصارو كښې دوه غټے قبيلے وى يوه اوس او بله خزرج په دوى. كښې د سلو كالو راسے جنګ روان وو د حضرت په سبب الله هغه دښمنى ختم كړه) او هغوى به وئيلوچه ددے په مونږ د الله او رسول الله ﷺ ډير لوئے احسان دے (يعنى چه څۀ حضرت ﷺ كوى هغه حق دى مونږ په دے باندے راضى يو) بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل تاسو ما ته جواب نۀ راكوئ هغوى عرض اوكړو چه الله او رسول الله ﷺ ددے ډير احسان كړے دے بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل كۀ چرے تاسو غواړئ چه داسے داسے اووايه او كار داسے داسے

فَاصْبِرُوا حَتّٰى تَلْقَوْنِي عَلَى الْحَوْضِ

وی د خو ځیزونو حضرت ﷺ ذکراوکړو چه عمرو وائی ما هغه هیر کړو (دا خو نشی کیدے) بیا اوفرمائیل چه تاسو په دے نه خوشحالیږئ چه خلق بزے اوښان واخلی او خپلو کورونو ته لاړ شی او تاسو رسول الله ﷺ واخلئ او خپلو کورونو ته لاړ شئ بیا ئے اوفرمائیل انصار استر دے (یعنی زمونږ د بدن سره لګیدلی دی لکه چه استر لګیدلے وی) او باقی خلق ابره دی (یعنی په نسبت د انصارو زمونږ نه لرے دی لکه چه ابره بدن نه لرے وی) کچرے هجرت نه وے نو زهٔ به د انصارو یو سړے وم او کچرے خلق په میدان او کنډو باندے ځی نو زهٔ به د انصارو په وادئ او کنډو باندے روان یم. او ځما نه روستو خلق به تاسو روستو پاتے کوی (یعنی تاسو له به نهٔ ورکوی او نورو له به ورکوی) خو تاسو صبر کوئ د هغې پورې چه ځما سره په حوض کوثر باندے یو ځائے شئ.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ حُنَيْنٍ آثَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسًا فِي الْقِسْمَةِ فَأَعْطَى الْأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ وَأَعْطَى عُيَيْنَةَ مِثْلَ ذٰلِكَ وَأَعْطَى أُنَاسًا مِنْ أَشْرَافِ الْعَرَبِ وَآثَرَهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْقِسْمَةِ فَقَالَ رَجُلٌ وَاللهِ إِنَّ هٰذِهِ لَقِسْمَةٌ مَا عُدِلَ فِيهَا وَمَا أُرِيدَ فِيهَا وَجْهُ اللهِ قَالَ فَقُلْتُ وَاللهِ لَأُخْبِرَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ قَالَ فَتَغَيَّرَ وَجْهُهُ حَتّٰى كَانَ

عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے کله چه د حُنین ورځ اشوه رسول الله ﷺ ځو کسانو لره د غنیمت مال زیات ورکړو. دغه رنګے اقرع بن حابس ته ئے سل اوښان ورکړل او عیینه ته ئے هم دغه شان ورکړل او د عربو سردارانو لره ئے دغه شان ځهٔ ورکړو. او په تقسیم کښې ئے د نورو خلقو نه مخکښې کړل نو یو سړی اووے په الله قسم دا تقسیم داسے دے چه په دے کښې عدل نشته دے او په دے کښې د الله رضامندی مقصود نهٔ ده. نو ما په خپل زړهٔ کښې اووے چه په الله قسم زهٔ به د دے خبر رسول الله ﷺ ته ورکوم او زهٔ د هغهٔ خواله راغلم او خبر مے ورته ورکړو نو د هغهٔ د مخ رنګ د وینے په شان بدل شو. بیا ئے اوفرمائیل چه څوک به عدل کوی چه الله تعالی او د هغهٔ رسول عدل او نهٔ کړی. بیا ئے اوفرمائیل الله

كَالصِّرْفِ ثُمَّ قَالَ فَمَنْ يَعْدِلُ إِنْ لَمْ يَعْدِلِ اللهُ وَرَسُولُهُ قَالَ ثُمَّ قَالَ يَرْحَمُ اللهُ مُوسٰى قَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هٰذَا فَصَبَرَ قَالَ قُلْتُ لَا جَرَمَ لَا أَرْفَعُ إِلَيْهِ بَعْدَهَا حَدِيثًا

تعالی د په موسیٰ علیه السلام باندے رحم اوکړی چه هغه ددے نه زیات تنګ کړے شوے وو مګر هغهٔ صبر کړے وو او ما په خپل زړهٔ کښ اووے چه د نن پس به زهٔ حضرت ﷺ ته د څهٔ خبرے خبر نهٔ ورکوم (ځکه چه هغوی ته په دے کښ تکلیف وی)

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَسَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْمًا فَقَالَ رَجُلٌ إِنَّهَا لَقِسْمَةٌ مَا أُرِيدَ بِهَا وَجْهُ اللهِ قَالَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَارَرْتُهُ فَغَضِبَ مِنْ ذٰلِكَ غَضَبًا شَدِيدًا وَاحْمَرَّ وَجْهُهُ حَتّٰى تَمَنَّيْتُ أَنِّي لَمْ أَذْكُرْهُ لَهُ قَالَ ثُمَّ قَالَ قَدْ أُوذِيَ مُوسٰى بِأَكْثَرَ مِنْ هٰذَا فَصَبَرَ

د عبد اللهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ څهٔ مال اوویشلو او یو سړی اووے دا تقسیم داسے دے چه د اللهؓ رضامندی په دی کښ مقصود نهٔ ده. بیا زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم او پټ مے ورته اووے او د هغوی د ډیرے غصے نه د مخ مبارك رنګ سور شو. او ما افسوس اوکړو چه کاش ددے ذکر مے هیڅ کړے نهٔ وے نو بنه به وه بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل موسیٰ ته ددے نه زیات ضرر رسولے شوے وو او هغهٔ صبر کړے وو (موسیٰ به په پرده کښ پټ لمبل. جاهلانو اووے چه ددهٔ خُسیتین پرسیدلے دی یو ځل ئے په ګټه باندے جامے کیښودے هغه ئے ترے اوتښتولے. هغهٔ وریسی (لغړ) منډے کړے نو خلقو اولیدو چه څهٔ عیب پکښ نشته او هر کله چه هارونؑ وفات شو د هغهٔ جنازه ملائکو اسمان ته یوړه. جاهلانو اووے چه دهٔ هغهٔ لره په حسن سره اووژلو. آخر هغه په یو تخته باندے د اسمان د طرفنه ظاهر شو او دا اقرار ئے اوکړو چه موسیٰؑ زهٔ نهٔ یم وژلے. غرض دا چه په دی شان سره همیشه جاهلانو خلقو پیغمبرانوؑ او علماؤ لره بدنام کړے دی. د حدیثو خادمان او د رسول الله ﷺ د علم وارثان همیشه په صبر او تحمل سره خپل ژوند تیره وی)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ أَتٰى رَجُلٌ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په جعرانه کښ وو کله چه د حُنین نه واپس شو او د بلالؓ په کپره کښ څهٔ سپین زر وو او رسول

بِالْجِعْرَانَةِ مُنْصَرَفَهُ مِنْ حُنَيْنٍ وَفِي ثَوْبِ بِلَالٍ فِضَّةٌ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْبِضُ مِنْهَا يُعْطِي النَّاسَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ اعْدِلْ قَالَ وَيْلَكَ وَمَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ أَكُنْ أَعْدِلُ لَقَدْ خِبْتَ وَخَسِرْتَ إِنْ لَمْ أَكُنْ أَعْدِلُ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دَعْنِي يَا رَسُولَ اللهِ فَأَقْتُلَ هٰذَا الْمُنَافِقَ فَقَالَ مَعَاذَ اللهِ أَنْ يَتَحَدَّثَ النَّاسُ أَنِّي أَقْتُلُ أَصْحَابِي إِنَّ هٰذَا وَأَصْحَابَهُ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنْهُ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ

الله ﷺ به یو یو موټے اخستلو او خلقو له به ئے ورکولو. نو یو سړے راغے او هغهٔ اووے عدل کوه اے محمده! حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك به عدل کوی کهٔ چرے زهٔ عدل او نهٔ کړم. او تهٔ خو لوئے بدنصیبه او نقصان والا شوے کهٔ چرے زهٔ عدل او نهٔ کړم (یعنی تازه پیغمبر ﷺ گڼړلے وم او ایمان د په ما راوړے دے او کله چه زهٔ ظالم شوم نو ستا به کوم ځائے د اوسیدو وی) په دے باندے حضرت عمرؓ عرض اوکړو چه ما ته اوفرمایئ چه زهٔ دا منافق مړ کړم اے د الله رسوله حضرت ﷺ اوفرمائیل پناه په الله سره خلق به وائی چه زهٔ ځپلو دوستانو لره وژنم. (معلومه شوه چه د خلقو د ژبو نه هم بچ کیدل پکار دی) او دا سړے او ددهٔ ملګری به قران وائی خو د مرئ نه به ئے لاندے نهٔ کوزیږی (یعنی په زړهٔ به اثر نهٔ کوی) او د قران نه به داسے اوځی لکه غشے چه د ښکار نه اوځی (بعضے وخت په زور سره غشے اوویشتلے شی نو پورے راپورے اوځی او وینه قدرے پرے اونهٔ لګی)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَعَثَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ بِالْيَمَنِ بِذَهَبَةٍ فِي تُرْبَتِهَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَسَمَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَرْبَعَةِ نَفَرٍ الْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ الْحَنْظَلِيِّ وَعُيَيْنَةُ بْنُ بَدْرٍ الْفَزَارِيُّ وَعَلْقَمَةُ بْنُ عُلَاثَةَ الْعَامِرِيُّ ثُمَّ أَحَدُ بَنِي كِلَابٍ وَزَيْدُ

ابوسعید خدریؓ نه روایت دے چه حضرت علیؓ د یمن نه په خاوره کښې میلاؤ څهٔ سرهٔ زر رااولیږل (یعنی د کان نه چه څنګه وتلی وو هغه شان وو) رسول الله ﷺ ته او حضرت ﷺ هغے لره په څو سړو باندے اوویشل چه هغه اقرع بن حابس او عیینه بن بدر او علقمه بن علاثه عامری او یو سړے د بنی نبهان نه وو. په دے باندے قریش اوسوزیدل او اوئے وئیل چه تهٔ ئے د نجد سردارانو له ورکوے او مونږ له ئے نهٔ راکوے په دے باندے رسول الله ﷺ اوفرمائیل زهٔ ئے هغوی له په دے وجه ورکوم چه د هغوی په زړونو کښې د اسلام سره محبت پیدا

الْخَيْرِ الطَّائِيُّ ثُمَّ أَحَدُ بَنِي نَبْهَانَ قَالَ فَغَضِبَتْ قُرَيْشٌ فَقَالُوا أَتُعْطِي صَنَادِيدَ نَجْدٍ وَتَدَعُنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي إِنَّمَا فَعَلْتُ ذَٰلِكَ لِأَتَأَلَّفَهُمْ فَجَاءَ رَجُلٌ كَثُّ اللِّحْيَةِ مُشْرِفُ الْوَجْنَتَيْنِ غَائِرُ الْعَيْنَيْنِ نَاتِئُ الْجَبِينِ مَحْلُوقُ الرَّأْسِ فَقَالَ اتَّقِ اللهَ يَا مُحَمَّدُ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنْ يُطِعِ اللهَ إِنْ عَصَيْتُهُ أَيَأْمَنُنِي عَلَى أَهْلِ الْأَرْضِ وَلَا تَأْمَنُونِي قَالَ ثُمَّ أَدْبَرَ الرَّجُلُ فَاسْتَأْذَنَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فِي قَتْلِهِ يُرَوْنَ أَنَّهُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ ضِئْضِئِ هٰذَا قَوْمًا يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ يَقْتُلُونَ أَهْلَ الْإِسْلَامِ وَيَدَعُونَ أَهْلَ الْأَوْثَانِ يَمْرُقُونَ مِنَ الْإِسْلَامِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ عَادٍ

شی په دے کښې يو سړے راغے چه د هغهٔ ږيره ګڼړه وه او انګی ئے پړسيدلی وو. سترګې ئے ډوغلو ته پريوتے وے او تندے ئے راوتلے وو او سرئے خريلے وو او اوئے وئيل د الله ته اوويريږه اے محمده ! (دا حليه عجيبه فتنه انګيز ده ما ته دوه ځله ددے شکل والاؤ نه نقصان رارسيدلے دے الله د مونږ دداسے شکل نه بچ کړی) په دے باندے رسول الله ﷺ اوفرمائيل کهٔ زهٔ نافرمانی کوم نو بيا د الله اطاعت به څوك کوی. (معلومه شوه چه د نبی نه اوچته د چا درجه نشته) او الله تعالٰی زهٔ په زمکے والاؤ باندے امانت دار مقرر کړے يم او تاسو خلق امانت دار نهٔ پيژنئ بيا هغه سړے واپس لاړو يو سړی اجازت اوغوښتو د قوم نه د هغهٔ د قتل کولو خيال کولے شی چه هغه خالد بن وليد وو. او رسول الله ﷺ اوفرمائيل بيشکه ددهٔ د اصل نه يو قوم دے چه هغه خلق قرآن لولوی او د هغوی د مرئ نه لاندے نهٔ کوزيږی او اهل اسلام قتل کوی . او بت پرست پريږدی (د تولو بدعت کونکو دغه حال په نظر راځی چه پنجه پرست، شده پرست، تعزيه پرست، د قبر پرستو ملګری ، بيلمازه هجراګان، برواګان، د رنډيانو زناکارو دوستی لرونکی او وفادار، فاسقان ، فاجران، شرابيان، د خدا خرخونکی او سندرے ويونکی دی) دوی د اسلام نه داسی اوځی لکه غشے چه د ښکار نه اوځی. کچرے ما هغوی لره موندلے نو داسی به مے وژلو لکه چه عاد قتل شوے دی. (يعنی د جرړے نه به مے الوزولی وو لکه عاد چه باد برباد کړل)[1]

[1]: ددے حديث نه د حضرت علی رضی الله عنه فضيلت ثابتيږی چه هغوی خوارجو لره قتل کړل او ګويا حضرت علی رضی الله عنه هغه آرزو پوره کړه . د هغې بيان به مفصل راشی انشاء الله تعالٰی

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يَقُولُ بَعَثَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْيَمَنِ بِذَهَبَةٍ فِي أَدِيمٍ مَقْرُوظٍ لَمْ تُحَصَّلْ مِنْ تُرَابِهَا قَالَ فَقَسَمَهَا بَيْنَ أَرْبَعَةِ نَفَرٍ بَيْنَ عُيَيْنَةَ بْنِ حِصْنٍ وَالْأَقْرَعِ بْنِ حَابِسٍ وَزَيْدِ الْخَيْلِ وَالرَّابِعُ إِمَّا عَلْقَمَةُ بْنُ عُلَاثَةَ وَإِمَّا عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ كُنَّا نَحْنُ أَحَقَّ بِهَذَا مِنْ هَؤُلَاءِ قَالَ فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَا تَأْمَنُونِي وَأَنَا أَمِينُ مَنْ فِي السَّمَاءِ يَأْتِينِي خَبَرُ السَّمَاءِ صَبَاحًا وَمَسَاءً قَالَ فَقَامَ رَجُلٌ غَائِرُ الْعَيْنَيْنِ مُشْرِفُ الْوَجْنَتَيْنِ نَاشِزُ الْجَبْهَةِ كَثُّ اللِّحْيَةِ مَحْلُوقُ الرَّأْسِ مُشَمَّرُ الْإِزَارِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اتَّقِ اللهَ فَقَالَ وَيْلَكَ أَوَلَسْتُ أَحَقَّ أَهْلِ الْأَرْضِ أَنْ يَتَّقِيَ اللهَ قَالَ ثُمَّ وَلَّى الرَّجُلُ فَقَالَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا أَضْرِبُ عُنُقَهُ فَقَالَ لَا لَعَلَّهُ أَنْ يَكُونَ يُصَلِّي قَالَ خَالِدٌ وَكَمْ

ابوسعيد خدري نه روايت دے چه حضرت علي رسول الله ﷺ ته څه سره زر رااوليږل په يو څرمن کښې چه هغه د کيکر په پټ رنګ شوے وه لو د خاورے نه هم جدا شوی نه وو. نو حضرت هغه په دے څلورو سړو تقسيم کړل چه عيينه بن بدر او اقرع بن حابس او زيد خيل او څلورم علقمه بن علاثه وو يا عامر بن طفيل وو. نو يو سړی د دوی د ملګرو نه اووے چه مونږ دد ے خلقو نه زيات حقدار وو. او دا خبر هغوی ته اورسيدو او حضرت ﷺ اوفرمائيل ته ما امانتدار نه ګڼړے او زه د هغه چا امانتدار يم چه هغه د آسمان دپاسه دے يعنی الله تعالی دد ے نه معلومه شوه چه الله تعالی د آسمانونو دپاسه دے. نه داسے لکه چه ملاعون جهميه کوم چه مفسدان دين دی خيال کوی او د برق د بجلی پشان په اهل سنتو تيز راځی چه هغه ذات مقدس هر ځائے دے معاذ الله من ذلك . او دا ملاعين بيهوده د جهيميؤ عقيدے لره جان جهان ګڼړی او د انبياؤ عقيدے لره وهم او ګمان ګڼړی الله د دوی د شر نه هر بشر محفوظ اوساتی) راځی ماته خبر د اسمان سحر اوماښام نو يو سړے پاسيدو چه دواړه سترګے ئے ډوغول ته ننوتی وے دواړه انګی ئے پړسيدلی وو. او تندے ئے بوټ راوتے وو او سر ئے خريلے وو پاسيدو او د تهمت خبرے ئے اوکړے چه يا رسول الله د الله نه اويريږه. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه خرابی د وی تا لره ولے ته په زمکه والاؤ کښې د الله نه د يريدو زيات حقدار نه ئے (يعنی د ټولو نه زيات خو د الله نه د يريدو ته مستحق ئے چه د هغهٔ د رسول سره بے ادبی کوی بيا هغه سړے لاړو . او خالد بن وليد عرض اوکړو چه يا رسول الله زهٔ د دهٔ دا څټ او نهٔ وهم . حضرت ﷺ اوفرمائيل نه کيدے

مِنْ مُصَلٍّ يَقُولُ بِلِسَانِهِ مَا لَيْسَ فِي قَلْبِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَمْ أُومَرْ أَنْ أَنْقُبَ عَنْ قُلُوبِ النَّاسِ وَلاَ أَشُقَّ بُطُونَهُمْ قَالَ ثُمَّ نَظَرَ إِلَيْهِ وَهُوَ مُقَفٍّ فَقَالَ إِنَّهُ يَخْرُجُ مِنْ ضِئْضِئِ هٰذَا قَوْمٌ يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ رَطْبًا لاَ يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّيْنِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ قَالَ أَظُنُّهُ قَالَ لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ ثَمُودَ

شی چه د ے مونځ کوی ﴿معلومه شوه چه هغه به زبات په خدمت مبارك کښې حاضر نۀ وو کۀ نه دا سے حرکت به نۀ کوو﴾ خالد رضی الله عنه او وے ډیر مونځ کونکی داسے هم وی چه په خپله ژبه سره هغه خبرے کوی چه هغه د هغوی په زړۀ کښې نۀ وی په د ے باند ے رسول الله ﷺ اوفرمائیل ماته دا حکم نۀ د ے شو ے چه د چا زړۀ څیر ے کړم او ګورم نه دا چه د چا ګیډه اوشلوم. بیا هغوی دۀ طرفته اوکتل او هغه واپس شو لاړو بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل د دۀ د اصل نه به داسے خلق پیدا شی چه هغه به د الله کتاب په اسانۍ سره لولی. مګر د مرئ نه به ئے لاند ے نۀ کوزیږی ﴿دغه حال د بدعت والا د ے چه بے ترجمے به قران لولی مګر دا عقیده لری چه د قران په ترجمه سړے ګمراه کیږی. بیا د قران مضمون به ئے څنګه د مرئ نه ښکته شی﴾ اوځی به د دین نه لکه غشے چه اوځی د ښکار نه ﴿یعنی ټول اعمال صالحه خیراتونه او صدقی، مونځ، زکات، او روژه او حج ټول به په ځائے راوړی مګر د شرك او بدعت په سپیرۀ عقیدو ددوی دغه عملونه سوزیدلی دی﴾ یوه نیکی ئے قبوله نۀ ده لکه څنګه چه غشے د ښکار نه اوتو او وینه پوری اونښته. راوی وائی زۀ ګمان کوم چه هغه دا هم اوفرمائیل چه کۀ ما دوی اوموندل نو د ثمود د قوم په شان به ئے قتل کړم[1]

---

[1]: آخر حضرت علی رضی الله عنه هغه اوکړو جزاه الله عنا خیر الجزا آمین. او زید ته به ئے په جاهلیت کښې زید الخیل وئیلو. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په اسلام کښې د هغۀ نوم زید الخیر کیښودو. څکه په ځنے نسخو کښې زید الخیر راغلے د ے او دواړه صحیح دی. او د روایتونو نه ئے معلومه شوه چه څوك رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بد اووائی په شرعی حکم هغه کافر د ے قتلولے به شی او په هغه روایتونو کښې هغه قتل کوم چه مروی نۀ د ے د هغے وجه پخپله نبی صلی الله علیه وسلم اوښودله چه خلق به وائی چه رسول الله ﷺ خپلو یارانو لره وژنی. او دا امر به د خلقو د تختیدو او نفرت سبب شی. او هغوی د ټولو منافقانو سره ښۀ سلوك کوو دد ے د پاره چه د نورو هم مینه پیدا شی او کید ے شی چه هغه هم څو ورځے پس هدایت اومومی. او په دی روایتونو کښې په چا کښې اجازت غوښتی د حضرت عمر رضی الله عنه مروی دی او په چا کښې د خالد بن ولید رضی الله عنه او دواړه صحیح دی، څکه چه کید ے

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ وَعَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّهُمَا أَتَيَا أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ فَسَأَلَاهُ عَنِ الْحَرُورِيَّةِ هَلْ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُهَا قَالَ لَا أَدْرِي مَنِ الْحَرُورِيَّةُ وَلٰكِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَخْرُجُ فِي هٰذِهِ الْأُمَّةِ وَلَمْ يَقُلْ مِنْهَا قَوْمٌ تَحْقِرُونَ صَلَاتَكُمْ مَعَ صَلَاتِهِمْ فَيَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ حُلُوقَهُمْ أَوْ

ابوسلمهؒ او عطاءؒ دواړو نه روایت دے چه دوی د ابوسعید ؓ خواله راغلل او تپوس ئے اوکړو چه د حروریه په باره کښې تاسو د رسول الله ﷺ نه څۀ اوریدلے دی چه هغوی د هغې ذکر کوؤ. هغوی اووے زۀ نۀ پیژنم چه حروریه کوم خلق دی مګر ما د هغوی نه اوریدلے دی چه فرمائیلے ئے وو په دے امت کښې به یو قوم رااوځی او دائے نۀ وو فرمائیلے چه دد ے امت نه به وی غرض دا چه هغه به داسے وی چه کمزورے به ګڼړئ تاسو خپل مانځۀ لره د هغوی د مانځۀ په وړاندے او قرآن به لولی چه د هغوی د حلقونو یا د هغوی د مرئ نه به لاندے نۀ کوزیږی او ددین نه

شی چه دواړو اجازت غوښتلے وی د هغۀ د قتلولو. او نووی رحمه الله فرمائیلے دی چه د قرآن د مرئ د نۀ کوزیدو مطلب دادے چه سوا د الفاظو د تلاوت نه د هغې په معنے کښې به دوی لره څۀ حصه نۀ وی. او د نووی رحمه الله دا قول زمونږ د تصریح هم مؤید دے کومه چه مونږ پورته کړے ده چه مراد دد ے نه د قرآن د ترجمے نه نفرت دے. او دد ے حدیث نه هغه خلقو دلیل نیولے دی کوم چه خوارجو ته کافر وائی. قاضی عیاض رحمه الله فرمائیلے دی چه ما زری رحمه الله وئیلے دی چه د خوارجو په کفر کښې د علماؤ اختلاف دے. او دا مسئله ډیره مشکله ده ځکه چه داخلول کافر لره په دین کښې اوویستل مسلمان لره ددین نه زیات ګران امر دے. او د ابوبکر باقلانی اقوال په دے کښې مضطرب دی. او هغوی وئیلے دی چه دا امر ډیر مشکل دے. ځکه چه قوم د هغوی د کفر تصریح نۀ ده کړے او سبب د اشکال دادے چه معتزله وائی چه الله عالم دے مګر دۀ ته علم نشته. او ژوندے دے مګر دۀ لره حیات نشته او دد ے وجے نه د هغوی په کفر کښې شك پریوزی ځکه چه په شرعه کښې خو دا خبره معلومه ده چه څوك وائی چه عالم نۀ دے یا حق نۀ دے هغه کافر دے. او دا هم په دلیل قطعی سره معلومه شوے ده چه د یو ذات عالم کیدل په دے شان باندے چه هغۀ ته علم نۀ وی یا حي کیدل په دے شان باندے چه حیات نۀ وی محال دی. اوس کۀ مونږ دا اووایو چه معتزلۀ کله د علم الٰهی نفی اوکړه نو د الله د عالم کیدو نفی ئے اوکړه او دا په اجماع سره کفر دے. په دے صورت کښې به د هغۀ عالم کیدل فائده مند نۀ وی. او کۀ چرے دا اووایو چه هغه د علم نفی کوی او د الله پاك د عالم کیدو اقرار کوی نو هغه کافر نۀ شو اګر چه د علم په نفی سره د عالم کیدو نفی لازمیږی. غرض دغه مقام د اشکال دے دا کلام دے د مازری رحمه الله او مذهب د جمهورو علماؤ دادے چه د خوارجو تکفیر د او نه کړے سی او دغه قدریه او معتزله دی او ټول اهل اهواء او بدوع. او امام شافعی رحمه الله وئیلے دی چه زۀ ګواهی د ټول اهل هوا قبلوم. مګر د [illegible] یو جماعت دے د رافضیانو نه چه هغه د خپل هم مذهب ګواهئ لره دروغ کیدل جائز ګڼړی. ختم شو مضمون د نووی رحمه الله [illegible] تقدیم او تاخیر او د یو قسم اختصار سره. او په غنیة الطالبین کښې جناب مستطاب مولانا شاه عبد القادر جیلانی محبوب سبحانی رحمه الله فرمائی چه خطابیه منسوب دی ابی الخطاب طرفته او د هغوی عقیده ده چه په هره زمانه کښې یو نبی ناطق وی یو صامت یعنی چپ. او محمد نبی صلی الله علیه وسلم ناطق وو او حضرت علی رضی الله عنه نبی صامت! غرض د هغوی ګواهی مقبوله نۀ ده.

حناجرهم يمرقون من الدين مروق
السهم من الرمية فينظر الرامي إلى سهمه
إلى نصله إلى رصافه فيتمارى في الفوقة
هل علق بها من الدم شيء

عن أبي سعيد الخدري قال بينا نحن عند
رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يقسم
قسما أتاه ذو الخويصرة وهو رجل من بني تميم
فقال يا رسول الله اعدل قال رسول الله صلى
الله عليه وسلم ويلك ومن يعدل إن لم أعدل قد
خبت وخسرت إن لم أعدل فقال عمر بن
الخطاب رضي الله عنه يا رسول الله ائذن لي
فيه أضرب عنقه قال رسول الله صلى الله عليه
وسلم دعه فإن له أصحابا يحقر أحدكم صلاته مع
صلاتهم وصيامه مع صيامهم يقرءون القرآن لا
يجاوز تراقيهم يمرقون من الإسلام كما يمرق
السهم من الرمية ينظر إلى نصله فلا يوجد فيه
شيء ثم ينظر إلى رصافه فلا يوجد فيه شيء ثم
ينظر إلى نضيه فلا يوجد فيه شيء وهو القدح ثم
ينظر إلى قذذه فلا يوجد فيه شيء سبق الفرث
والدم آيتهم رجل أسود إحدى عضديه مثل
ثدي المرأة أو مثل البضعة تدردر يخرجون على

به داسے اوځی لکه غشے چه د ښکار نه چه ښکار کونکے ګوری
ققکار لرګی لره او غور کوی د هغے آخرے غاړے ته کوم چه دد
په مینځ کښې وو چه چرته د دے په څۀ څیز کښې وینه شته (نو ګو
چرته هم پکښې وینه نشته)

ابوسعید خدری نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره
هغوی څۀ تقسیمول چه د بنی تمیم یو سړے ذوالخویصره راغ
هغۀ اووے اے د الله رسوله عدل کوه پس رسول الله ﷺ اوفر
خرابی د وی تالره هر کله چه زۀ عدل او نۀ کړم نو څوك به کو
بالکل بدنصیبه او محرومه شوی که ما عدل او نۀ کړو په د
حضرت عمر عرض اوکړو چه اے د الله رسوله ما ته اجازت
چه ددۀ څټ اووهم. حضرت ﷺ اوفرمائیل پریږدوه ځکه چه د
څو یاران وی چه تۀ به سپك اوګنړے خپل مانځۀ لره د هغو
مانځۀ په وړاندے او خپلے روژی لره د هغوی د روژے په وړا
قرآن به لولی چه د مرئ نه به ئے لاندے نۀ کوزیږی. د اسلام
داسے اوځی لکه غشے د ښکار نه چه ګوری غشے وېښتو
هغے سوکے لره نو په هغے کښې به څۀ ډك نۀ وی بیا ګوری د
سوکے زیلے ته نو په هغے کښې هم څۀ نۀ وی. بیا ګوری د هغے وزر
نو په هغے کښې هم څۀ نۀ وی او غشے به د دغه ققکار د ګند
وینے نه اوځی. او نخښه د هغه جماعت داده چه په هغے کښې یو
سړے دے چه یو مټ به د هغۀ د ښځے د تی په شان وی
اوفرمائیل لکه د غوښے د یو ټوټے چه ډوه کړے شوے وی او

حِيْنِ فُرْقَةٍ مِنَ النَّاسِ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ فَأَشْهَدُ أَنِّي سَمِعْتُ هٰذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَشْهَدُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَاتَلَهُمْ وَأَنَا مَعَهُ فَأَمَرَ بِذٰلِكَ الرَّجُلِ فَالْتُمِسَ فَوُجِدَ فَأُتِيَ بِهِ حَتّٰى نَظَرْتُ إِلَيْهِ عَلٰى نَعْتِ رَسُولِ اللهِ ﷺ الَّذِي نَعَتَ

جماعت به هغه وخت رااوځي کله چه په خپلو کښې بے اتفاقي وی ابوسعید وائی چه زهٔ ګواهي ورکوم چه ما اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه او زهٔ ګواهي ورکوم چه حضرت علیؓ د هغهٔ سره جنګیدو او زهٔ ورسره وم او هغوی حکم اوفرمائیلو د هغهٔ د لټولو او هغه میلاؤ شو او د حضرت علیؓ خواله راوستے شو. او ما هغه اولیدو څنګه چه رسول الله ﷺ فرمائیلے وو هم هغه شان وو[1]

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ قَوْمًا يَكُونُونَ فِي أُمَّتِهِ يَخْرُجُونَ فِي فُرْقَةٍ مِنَ النَّاسِ سِيمَاهُمُ التَّحَالُقُ قَالَ هُمْ شَرُّ الْخَلْقِ أَوْ مِنْ أَشَرِّ الْخَلْقِ يَقْتُلُهُمْ أَدْنَى الطَّائِفَتَيْنِ إِلَى الْحَقِّ قَالَ فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُمْ مَثَلًا أَوْ قَالَ قَوْلًا الرَّجُلُ يَرْمِي

د ابوسعیدؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ د یو قوم ذکر اوکړو چه هغه به د هغوی په امت کښې وی او هغه خلق به نهٔ اوځی کوم وخت چه په خلقو کښې بے اتفاقي پیدا شي او نخښه به د هغوی سر خریلے وی او فرمائیلے دی حضرت ﷺ چه هغه د بدترین مخلوق دے قتل کوی به هغوی لره هغه خلق چه دد ے دواړو جماعتونو نه حق ته زیات نږدے وی. (او هغه جماعت د حضرتؓ علی وو) او د هغوی یو مثال حضور ﷺ بیان کړو یائے یوه خبره اوکړه چه بندهٔ کله په غشي اولی ښکار لره یا نخښے لره او

---

[1] چه دے روایتونو کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څو معجزے ښکاره دی چه د کومے هغوی د مخکښې نه خبر ورکړے وو او هم هغه شان واقع شوے. اول دا چه هغه فرمائیلے و چه د بے اتفاقئ په وخت به رااوځي دغه رنګے دغه شان اوشوه چه هر کله د حضرت علی رضی الله عنه مخالفت وو او دواړه په تحکیم باندے راضي شول کله چه یو جماعت د لسو زرو کسانو د دواړو لښکرو نه جدا شو او په دواړو ئے د کفر الزام اولګوؤ. او کله چه حضرت علیؓ زیرے ورکړو چه ما اوریدلے دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه کهٔ تاسو دغه جماعت سره جنګیږئ نو په هغوی کښې به لس هم بچ نهٔ شي او په تاسو کښې به هم لس او نهٔ وژلے شي. دغه رنګے دغه شان اوشوه. بیا مخکښې روایتونو کښې حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د هغوی قتل به هغه فرقه کوی چه هغه حق ته نږدے وی یعني د حضرت علی رضی الله فرقه. او هم هغوی قتل کړل او ددغه روایتونو نه معلومه شوه چه د حضرت ﷺ په حق باندے وو او کومو خلقو چه د هغوی سره خلاف کوو باغیان وو. او دا روایتونه حجت دے د اهل سنتو. او ددے روایتونو نه دا هم معلومه شوه چه امت د حضرت صلی الله علیه وسلم به د هغے نه پس باقي وی او په هغوی کښې به شوکت او قوت وی. او دا هم ثابته شوه چه فرقه مارقه به تشدد کوی او بے موقع چه هلته تشدد ضروری نهٔ دے او هم دغه شان اوشوه. او فرمائیلے ئے وو چه یو سړے به داسے وی او د هغهٔ حلیه به داسے وی چنانچه هم دغه شان رااووتو. او دا خبره داسے چه څوک فراست او عقل والاوی هیڅ کله په خپل فراست او عقل سره دا نهٔ شي وئیلے سوا د وحي الهي نه. په دے چه غور اوشي او د انصاف په نظر اوکتلے شي نو تصدیق د رسالت به کوی. ولله الحمد

جلد دویم

الرَّمِيَّةَ أَوْ قَالَ الْغَرَضَ فَيَنْظُرُ فِي النَّصْلِ فَلَا يَرَى بَصِيرَةً وَيَنْظُرُ فِي النَّضِيِّ فَلَا يَرَى بَصِيرَةً وَيَنْظُرُ فِي الْفُوقِ فَلَا يَرَى بَصِيرَةً قَالَ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ وَأَنْتُمْ قَتَلْتُمُوهُمْ يَا أَهْلَ الْعِرَاقِ

نظر کوی د غشی څوکے ته نو په هغه کښې څهٔ اثر او نهٔ وینی. او نظر کړ... د غشی لرګی ته نو څهٔ اثر او نهٔ وینی. او نظر کوی د غشی په لرګی ... هغه ځائے ته کوم چه په ګوتو کښې وی نو څهٔ اثر او نهٔ مومی. او سع... وائی اے عراقیانو! تاسو خو هغه لره قتل کړے دے (یعنی د حضرت علیؓ په ملګرتیا کښې)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَمْرُقُ مَارِقَةٌ عِنْدَ فُرْقَةٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَقْتُلُهَا أَوْلَى الطَّائِفَتَيْنِ بِالْحَقِّ

د ابوسعید خدریؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی یو... فرقه به جدا شی کله چه په مسلمانانو کښې دشمنی او نخلی. او هغ... به قتلوی هغه جماعت چه کوم زیات نژدے وو په دے دوا... جماعتونو کښې حق ته

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ تَكُونُ فِي أُمَّتِي فِرْقَتَانِ فَتَخْرُجُ مِنْ بَيْنِهِمَا مَارِقَةٌ يَلِي قَتْلَهُمْ أَوْلَاهُمْ بِالْحَقِّ

ابوسعیدؓ وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی ځما په امت کښې... دوه جماعتونه جوړ شی دد دے دواړو نه به یوه فرقه جدا شی... هغې لره به قتلوی هغه جماعت چه هغه حق ته نژدے وی.

عَنْ سُوَيْدِ بْنِ غَفَلَةَ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ إِذَا حَدَّثْتُكُمْ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَأَنْ أَخِرَّ مِنَ السَّمَاءِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقُولَ عَلَيْهِ مَا لَمْ يَقُلْ وَإِذَا حَدَّثْتُكُمْ فِيمَا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ فَإِنَّ الْحَرْبَ خَدْعَةٌ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ سَيَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ قَوْمٌ أَحْدَاثُ الْأَسْنَانِ سُفَهَاءُ الْأَحْلَامِ يَقُولُونَ مِنْ خَيْرِ قَوْلِ الْبَرِيَّةِ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُونَ

د سوید بن غفله نه روایت دے چه حضرت علیؓ فرمائیلی دی... چه زهٔ تاسو ته روایت کوم د رسول اللهﷺ نه نو کهٔ زهٔ د اسمان... را ارتاؤ شم نو دا دد دے نه غوره ده چه په رسول اللهﷺ باندے ه... خبره او وایم چه هغه نهٔ وی فرمائیلے او هر کله چه زهٔ ستاسو او... خپل مینځ کښې څهٔ خبره کوم نو پوهه شه چه په جنګ کښې حیله... فریب روا دے او ماد رسول اللهﷺ نه اوریدلے دی چه هغه... فرمائیلی وو په آخره زمانه کښې به یو قوم را اوځی چه د هغې خلق... کم عمره وی او کم عقل. خبرے خو به ټول مخلوق ته ښهٔ کوی ا... قرآن به داسې لولی چه د هغوی د مرئ نه لاندے به نهٔ کوزیږی ا...

مِنَ الدِّيْنِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاقْتُلُوهُمْ فَإِنَّ فِي قَتْلِهِمْ أَجْرًا لِمَنْ قَتَلَهُمْ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ددين نه به داسې اوځى لكه غشې د ښكار نه بيا هر كله چه تاسو د هغوى سره ميلاويږئ نو هغوى لره وژنئ ځكه چه د هغوى په وژلو سره به تاسو ته د قيامت په ورځ ثواب د الله سره ميلاويږى[1]

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِمَا يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّيْنِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ

د اعمش نه په دغه سند سره دا روايت مروى دے او په دے كښې دا مضمون نشته دے چه هغه به ددين نه داسې اوځى لكه غشې د ښكار نه

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ ذَكَرَ الْخَوَارِجَ فَقَالَ فِيهِمْ رَجُلٌ مُخْدَجُ الْيَدِ أَوْ مُودَنُ الْيَدِ أَوْ مَثْدُونُ الْيَدِ لَوْلَا أَنْ تَبْطَرُوا لَحَدَّثْتُكُمْ بِمَا وَعَدَ اللهُ الَّذِيْنَ يَقْتُلُونَهُمْ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ آنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِي وَرَبِّ الْكَعْبَةِ إِي وَرَبِّ الْكَعْبَةِ إِي وَرَبِّ الْكَعْبَةِ

حضرت علىؓ ذكر اوكړو د خوارجو او اوئې فرمائيل چه په دوى كښې به يو سړے وى چه د هغۀ لاس به ناقص وى يا به ئې تى د زنانه برابر وى او وئيلې دى چه كۀ تاسو فخر نۀ كوئ چه د هغې وعده كړے ده الله تعالى د هغوى د قتل كونكو سره د رسول اللهﷺ په ژبه [illegible] راوى وائى چه ما اووے تا اوريدلې دى د رسول اللهﷺ د ژبے مباركے نه؟ هغوى اووے آو قسم دِ وى په رب د كعبې آو قسم دِ وى په رب د كعبې آو قسم دِ وى په رب د كعبې

عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ كَانَ فِي الْجَيْشِ الَّذِيْنَ كَانُوْا مَعَ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الَّذِيْنَ سَارُوْا إِلَى الْخَوَارِجِ فَقَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَخْرُجُ قَوْمٌ مِنْ أُمَّتِي يَقْرَءُوْنَ الْقُرْآنَ لَيْسَ قِرَاءَتُكُمْ إِلَى

د زيد نه روايت دے چه هغه په لښكر كښې وو كوم چه د حضرت علىؓ سره په خوارجو باندے تلے وو هغوى وائى چه حضرت علىؓ اوفرمائيل اے خلقو ما اوريدلې د رسول اللهﷺ نه چه فرمائيلې ئې وو چه يو قوم به راواوځى ځما د امت نه چه قرآن به داسې لولى چه ستاسو لوستل به د هغوى په مخكښې هيڅ نۀ وى او نۀ به ستاسو مونځ د هغوى د مانځۀ په مخكښې څۀ مونځ وى او نۀ به ستاسو روژه د هغوى

[1] : ددے حديث نه معلومه شوه چه د صحابو رضى الله عنهم پخپله جهګړه كښې دا خبره نه وه چه په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندے دروغ اووائى بلكه په رسول الله صلى الله عليه وسلم پورے به ئې دروغ جوړول لوئې ګناه ګڼړلو. او د خپل هلاكت موجب به ئې ګڼړلو ځكه صحابه رضى الله عنهم ډير زيات عادلان وو چه يو په هغوى كښې ضعيف نشته نه قابل جرح.

قِرَاءَتِهِمْ بِشَيْءٍ وَلَا صَلَاتُكُمْ إِلَى صَلَاتِهِمْ بِشَيْءٍ وَلَا صِيَامُكُمْ إِلَى صِيَامِهِمْ بِشَيْءٍ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ يَحْسِبُونَ أَنَّهُ لَهُمْ وَهُوَ عَلَيْهِمْ لَا تُجَاوِزُ صَلَاتُهُمْ تَرَاقِيَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الْإِسْلَامِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ لَوْ يَعْلَمُ الْجَيْشُ الَّذِينَ يُصِيبُونَهُمْ مَا قُضِيَ لَهُمْ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاتَّكَلُوا عَنِ الْعَمَلِ وَآيَةُ ذَلِكَ أَنَّ فِيهِمْ رَجُلًا لَهُ عَضُدٌ وَلَيْسَ لَهُ ذِرَاعٌ عَلَى رَأْسِ عَضُدِهِ مِثْلُ حَلَمَةِ الثَّدْيِ عَلَيْهِ شَعَرَاتٌ بِيضٌ فَتَذْهَبُونَ إِلَى مُعَاوِيَةَ وَأَهْلِ الشَّامِ وَتَتْرُكُونَ هَؤُلَاءِ يَخْلُفُونَكُمْ فِي ذَرَارِيِّكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَاللهِ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ يَكُونُوا هَؤُلَاءِ الْقَوْمَ فَإِنَّهُمْ قَدْ سَفَكُوا الدَّمَ الْحَرَامَ وَأَغَارُوا فِي سَرْحِ النَّاسِ فَسِيرُوا عَلَى اسْمِ اللهِ قَالَ سَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ فَنَزَّلَنِي زَيْدُ بْنُ وَهْبٍ مَنْزِلًا حَتَّى قَالَ مَرَرْنَا عَلَى قَنْطَرَةٍ فَلَمَّا الْتَقَيْنَا وَعَلَى الْخَوَارِجِ يَوْمَئِذٍ عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ الرَّاسِبِيُّ فَقَالَ لَهُمْ أَلْقُوا الرِّمَاحَ وَسُلُّوا سُيُوفَكُمْ مِنْ جُفُونِهَا فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يُنَاشِدُوكُمْ كَمَا نَاشَدُوكُمْ يَوْمَ حَرُورَاءَ

د روژے په مخکښې څۀ روژے وی قرآن به لولی هغوی به دا ګنړی چه زمونږ په دے کښې فائده ده او هغه به ددوی ضرر وی مونځ به د هغوی د مرۍ نه نۀ کوزیږی او اوځی به د اسلام نه لکه غشے د ښکار نه . کۀ هغه لښکر کوم چه په هغوی پسی ځی او پیژنی دے زیری له چه د هغې بیان فرمائیلے شوے دے ستاسو د نبی ﷺ په ژبه مبارکه باندے نو اعتماد کوئ په دغه عمل باندے (دا اوګنړه چه اوس د عمل حاجت نشته دومره ثواب د هغوی په قتل کښې دے) او نخښه د هغوی داده چه په هغوی کښې یو سړے دے چه د هغۀ د مټ په سر باندے د ښځے د تیونو په شان دے. او په هغې باندے د سپین رنګ ویښتۀ دی. او حضرت علیؓ فرمائی تاسو ځئ د معاویه په طرف اهل شام باندے او هغوی له پریږدئ چه دا ستاسو نه روستو ستاسو اولاد او مالونو ته به ضرر ورکوی او زۀ د اللهؓ نۀ امید لرم چه دا هغه قوم دے چه ددے دپاره هغوی وینے بیولی دی حرام او لوټ کړی ئے دی ځاروو د خلقو لره نو په دوی باندے ورځئ د اللهؓ نوم اخلئ. سلمه بن کهیل وائی بیا ما ته زید د یو منزل بیان اوکړو تردے پورے چه اوئے ویل دوی چه تیر شو مونږ په یو پُل باندے (او هغه پُل وو د دبرخان دغه رنګے د نسائی په روایت کښې راغلے دی) بیا چه کله دواړه لښکرے یو ځائے شوے په دغه ورځ د خوارجو سپه سالار عبد الله بن وهب راسبی وو. او ده حکم ورکړو هغوی ته چه خپلے نیزے اوغورځوئ او تورے دمیان نه رااوباسئ. ځکه چه زۀ یریږم چه دا خلق په تاسو باندے داسے د غشو باران او نۀ کړی لکه څنګه چه د حرورا په ورځ

فَرَجَعُوا فَوَحَّشُوا بِرِمَاحِهِمْ وَسَلُّوا السُّيُوفَ وَشَجَرَهُمُ النَّاسُ بِرِمَاحِهِمْ قَالَ وَقُتِلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَمَا أُصِيبَ مِنَ النَّاسِ يَوْمَئِذٍ إِلاَّ رَجُلاَنِ فَقَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الْتَمِسُوا فِيهِمُ الْمُخْدَجَ فَالْتَمَسُوهُ فَلَمْ يَجِدُوهُ فَقَامَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِنَفْسِهِ حَتَّى أَتَى نَاسًا قَدْ قُتِلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ قَالَ أَخِّرُوهُمْ فَوَجَدُوهُ مِمَّا يَلِي الأَرْضَ فَكَبَّرَ ثُمَّ قَالَ صَدَقَ اللهُ وَبَلَّغَ رَسُولُهُ قَالَ فَقَامَ إِلَيْهِ عَبِيدَةُ السَّلْمَانِيُّ فَقَالَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اللهَ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ لَسَمِعْتَ هَذَا الْحَدِيثَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِي وَاللهِ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ حَتَّى اسْتَحْلَفَهُ ثَلاَثًا وَهُوَ يَحْلِفُ لَهُ

وو نو هغه واپس شو او خپلې نيزې ئې اوغورځولې او تورې ئې دمیان نه راواوويستې . او خلق هغوی ته وراوورسیدل او هغه ئې په خپلو نیزو سره تباه کړل او د حضرت علی رضی الله عنه د لښکر نه صرف دوه سړی په کار راغلل. بیا حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل چه تلاش کړی په دے کښې مخدج لره . نو هغه تلاش کړے شو خو او نه موندے شو. بیا حضرت علی رضی الله عنه پخپله پاسیدو او د قتل شوؤ خواله لاړو چه هغه د یو بل دپاسه پراته وو. او هغوی اوفرمائیل چه دوی لره لرے کړئ. بیائې هغه د زمکے سره لګیدلے اوموندو او علی رضی الله عنه الله اکبر اووے او بیائې اوفرمائیل چه رښتونے دے الله تعالی او پیغام رسونکے د هغهٔ رسول الله ﷺ . راوی وائی چه بیا عبیده سلمانی اودریدو او عرض ئې اوکړو چه اے امیر المؤمنین قسم دے په الله تعالی چه د هغهٔ نه سوا معبود نشته چه تا دا اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه هغوی اوفرمائیل چه آو قسم دے په الله چه نشته دے معبود سوا د هغهٔ نه تر دے پورے چه درے ځله ئې هغهٔ له قسم ورکړو او هغهٔ قسم اوخوړو په دے چه دا حدیث ما اوریدلے دے د رسول الله ﷺ نه [1].

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الْحَرُورِيَّةَ لَمَّا خَرَجَتْ وَهُوَ مَعَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالُوا لاَ

د عبید الله رضی الله عنه نه روایت دے چه آزاد شوے غلام وو د رسول الله ﷺ وائی چه حروریه کله اووتل او کله چه هغه د حضرت علی رضی الله عنه سره وو نو حروریه اووے لاحکم الا الله . یعنی حکم نشته دے د چا سوا د الله نه . نو حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل چه دا کلمه داسې ده چه حق دے مګر اراده د

---

[1] : دا قسم ورکول د هغهٔ صرف ددے دپاره وو چه د خلقو یقین راشی او په دے زیری سره خوشحاله شی. او معجزه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په ښهٔ طریقه معلومه شی. او دا هم معلومه شوه چه حضرت علی رضی الله عنه او د هغهٔ ملګری په حق باندے دی او هغه په دے جنګ کښې پستنه دی او برسر صواب دی.

حُكْمَ إِلاَّ لِلهِ قَالَ عَلِيٌّ كَلِمَةُ حَقٍّ أُرِيدَ بِهَا بَاطِلٌ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَفَ نَاسًا إِنِّي لأَعْرِفُ صِفَتَهُمْ فِي هٰؤُلاَءِ يَقُولُونَ الْحَقَّ بِأَلْسِنَتِهِمْ لاَ يَجُوزُ هٰذَا مِنْهُمْ وَأَشَارَ إِلَى حَلْقِهِ مِنْ أَبْغَضِ خَلْقِ اللهِ إِلَيْهِ مِنْهُمْ أَسْوَدُ إِحْدٰى يَدَيْهِ طُبْيُ شَاةٍ أَوْ حَلَمَةُ ثَدْيٍ فَلَمَّا قَتَلَهُمْ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ انْظُرُوا فَنَظَرُوا فَلَمْ يَجِدُوا شَيْئًا فَقَالَ ارْجِعُوا فَوَاللهِ مَا كَذَبْتُ وَلاَ كُذِبْتُ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا ثُمَّ وَجَدُوهُ فِي خَرِبَةٍ فَأَتَوْا بِهِ حَتّٰى وَضَعُوهُ بَيْنَ يَدَيْهِ قَالَ عُبَيْدُ اللهِ وَأَنَا حَاضِرُ ذٰلِكَ مِنْ أَمْرِهِمْ وَقَوْلِ عَلِيٍّ فِيهِمْ زَادَ يُونُسُ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ بُكَيْرٌ وَحَدَّثَنِي رَجُلٌ عَنِ ابْنِ حُنَيْنٍ أَنَّهُ قَالَ رَأَيْتُ ذٰلِكَ الأَسْوَدَ

هغهٔ دد ے نه باطله ده. او رسول الله ﷺ بیان کړے وو د څهٔ خلقو چه ما ته د هغې حال ښه معلومه دے او د هغوی نخښے په دغه خلقو کښې موندے شي. او هغوی په خپلو ژبو سره حق وائي. مګر هغه دد ے نه تجاوز نهٔ کوی. او اشاره اوکړو عبید الله د خپل حلق په طرف (یعني حقه خبره به ئے د حلق نه لاندے نهٔ کوزیږی) او د الله په مخلوق کښې لوئے دشمنان د الله د غه دی په دوی کښې یو سړے تک تور دے. او یو لاس د هغهٔ داسے دے لکه د بزے تے یا د تی سرئے اوفرمائیلو. بیا چه هر کله قتل کړو هغهٔ لره علی بن ابی طالب نو اوئے فرمائیل چه اوګورئ بیا اوکتلو نو هغه میلاؤ نهٔ شو بیا هغوی اوفرمائیل چه واپس شئ په قسم دے په الله باندے چه ما دروغ نهٔ دی وئیلے او نهٔ ما ته دروغ وئیلے شوی دی (یعني پیغمبر ﷺ ما ته دروغ نهٔ دی فرمائیلے او نهٔ ما تاسو ته دروغ اووے) دوه درے ځله ئے داسے اووے بیائے اوموندو هغه لره په یو کهنډر کښې او رائے وړلو هغه لره تر دے پورے چه کیښودو ئے لاش هغهٔ د حضرت علی په مخکښې. او عبید الله وائی چه زهٔ حاضر وم هغه ځائے چه دوی دا کار کوؤ. او حضرت علی د هغوی په حق کښې دا اوفرمائیل او د یونس په روایت کښې دومره خبره زیاته ده چه بکیر اووے او روایت کړے دے ما ته یو سړی د ابن حنین نه چه هغوی وائی چه ما لیدلے دے دغه تک تور لره.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ بَعْدِي مِنْ أُمَّتِي أَوْ سَيَكُونُ بَعْدِي مِنْ أُمَّتِي قَوْمٌ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لاَ يُجَاوِزُ حَلاَقِيمَهُمْ

ابوذر نه روایت دے چه فرمائیلے دی رسول الله ﷺ ځما نه پس به ځما په امت کښې یائے اوفرمائیل زر ده چه ځما نه پس به ځما په امت کښې هغه قوم پیدا شي چه قرآن به لولی او د حلقونو نه به ئے لاندے

يَخْرُجُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَخْرُجُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ ثُمَّ لَا يَعُودُونَ فِيهِ هُمْ شَرُّ الْخَلْقِ وَالْخَلِيقَةِ فَقَالَ ابْنُ الصَّامِتِ فَلَقِيتُ رَافِعَ بْنَ عَمْرٍو الْغِفَارِيَّ أَخَا الْحَكَمِ الْغِفَارِيِّ قُلْتُ مَا حَدِيثٌ سَمِعْتُهُ مِنْ أَبِي ذَرٍّ كَذَا وَكَذَا فَذَكَرْتُ لَهُ هَذَا الْحَدِيثَ فَقَالَ وَأَنَا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ الْخَوَارِجَ فَقَالَ سَمِعْتُهُ وَأَشَارَ بِيَدِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ قَوْمٌ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ بِأَلْسِنَتِهِمْ لَا يَعْدُو تَرَاقِيَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ

عَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَتِيهُ قَوْمٌ قِبَلَ الْمَشْرِقِ مُحَلَّقَةٌ رُءُوسُهُمْ

بَابُ تَحْرِيمِ الزَّكَاةِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ وَعَلَى آلِهِ وَهُمْ بَنُو هَاشِمٍ وَبَنُو الْمُطَّلِبِ دُونَ غَيْرِهِمْ

نۀ کوزیږي ددین نه به هغه داسې اوځي لکه غشے د ښکار نه او بیا به نۀ شي راتلے هغه په دین کښې. هغه د ټول مخلوق نه بدتر دي. ابن صامت وائي چه بیا زۀ میلاو شوم د رافع بن عمرو غفاري سره چه د حکم غفاري رور دے او ما اووے ولے دا هغه حدیث دے کوم چه ما د ابوذرؓ نه داسې اوریدلے دے؟ او ذکر کړو ما دے حدیث لره نو هغوی اووے ما اوریدلے دا د رسول الله ﷺ نه

سهل بن حنیف وویل ایا اوریدلے دے تا د نبی ﷺ نه چه د خوارجو ذکر ئې کوو اوریدلے دی ما د نبی کریم ﷺ نه او اشاره ئې کوله د مشرق په طرف او فرمائیل ئې چه هغه داسې قوم دے چه په خپلو ژبو سره قرآن لولي او کوزیدل نشته د هغې د مرئ نه او هغه د دین نه داسې اوځي لکه غشے د ښکار نه او روایت کړے دے مونږ ته ابوکامل هغوی د عبد الواحد نه هغوی د سلیمان نه په دغه اسناد سره. او په دے کښې دا دي چه حضرت ﷺ اوفرمائیل اوځي به د هغوی نه ځۀ قومونه

سهل د نبی ﷺ نه روایت کړے دے چه هغوی فرمائیلي دي یو قوم به را اوځي د مشرق د طرفه چه سرونه به ئې خریلي وي.

باب: په رسول الله ﷺ او د هغوی په اولاد او په بنو هاشم او بنو عبد المطلب زکوٰۃ حرام دے

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ أَخَذَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ كِخْ كِخْ ارْمِ بِهَا أَمَا عَلِمْتَ أَنَّا لاَ نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ

ابوهريرهؓ به وئيلو چه حسن بن علیؓ د صدقے يوه كهجوره خپله خله كښ واچوله نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل توكه توكه او غورځوه دے لره ولے تۀ نۀ پوهيږے؟ چه مونږ د صدقے نۀ خورو [1].

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ أَنَّا لاَ تَحِلُّ لَنَا الصَّدَقَةُ

د شعبه نه په دے اسناد كښ روايت دے او په دے كښ دادی چه حضرت ﷺ اوفرمائيل زمونږ د پاره صدقه حلاله نۀ ده.

عَنْ شُعْبَةَ فِي هَذَا الإِسْنَادِ كَمَا قَالَ ابْنُ مُعَاذٍ أَنَّا لاَ نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ

د شعبه نه په دے روايت كښ دادی چه حضرت ﷺ اوفرمائيل مونږ صدقه نۀ خورو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنِّي لأَنْقَلِبُ إِلَى أَهْلِي فَأَجِدُ التَّمْرَةَ سَاقِطَةً عَلَى فِرَاشِي ثُمَّ أَرْفَعُهَا

د حضرت ابوهريرهؓ نه مروی دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی زۀ چه خپل كورته لاړ م او په خپله بستره باندے كهجورے پرتے اوموموم او اوچتے ئے كړم چه اوئے خورم. بيا اويريږم چه چرته د صدقے

[1]: ددے نه معلومه شوه چه د څۀ نه لويو له بچ كيدول واجب دی د هغے نه وړو يعنی ماشومانو لره هم بچ كول واجب دی او د هغوی مشرانو لره ضروری ده او دے نه حرام والے د صدقے په حضرت صلّی الله عليه وسلم او د هغۀ په اولاد باندے ثابت شو. او هغه بنو هاشم او بنو عبد المطلب دی او دا مذهب دے د امام شافعی رحمه الله او كوم چه ددۀ موافق دی. او دغه قول دے د څنے مالكيؤ او امام مالك رحمه الله او د ابوحنيفه رحمه الله قول دے چه هغه صرف بنو هاشم دی. او قاضی عياض رحمه الله وئيلے دی چه څنے علماؤ په ټول قريش په دے كښ داخل دی. او اصبغ مالكی رحمه الله وئيلے دی چه هغه اولاد ددے د قصئ. او د ليل د شافعی رحمه الله دادے چه رسول الله صَلّی الله عليه وسلم فرمائيلے دی چه بنی هاشم او بنی عبد المطلب يو دی او حضرت حصه د ذوی القربیٰ په دوی كښ تقسيم كره. او دا حكم د زكات مقروضه دے. او په نفلی صدقه كښ د امام شافعی رحمه الله درے قولو نه دی. اصح دادے چه هغه هم هغوی باندے حرام دے او د هغوی اولاد لره حلال دے او دويم قول ئے دادے چه په دواړو باندے حرام دی او دريم قول په دواړو باندے حلال دی. او د بنی هاشم اود بنی عبد المطلب د ازاد شو مريانو كښ هم د شافعی رحمه الله دوه قولو نه دی. او صحيح پكښ دادے چه په هغوی باندے هم حرام دی ددے حديث په رو سره او كوم چه د ابو رافع نه مخكښ راځی. او دويم دادے چه په هغوی باندے حلال دی او د كوفيانو او ابوحنيفه رحمه الله قول هم دغه دے چه حرام دی او مالكيه رحمه الله هم دغسے وائی. او مالك رحمه الله د اباحت بيان كړے دے او د عویٰ كړے ده ابن بطال مالكی رحمه الله چه دا اختلاف صرف په آزاد شو مريانو د بنی هاشم كښ دے. او د هغوی صلّی الله عليه وسلم نه سوا د نورو په آزاد شوؤ مريانو كښ اختلاف نشته يعنی هغوی لره حلال دی بالاجماع او دا خبره د هغوی څۀ نۀ ده بلكه د ملګرو شافعيؤ په نز بنی هاشم او بنی عبد المطلب د دواړو په غلامانو باندے حرام دے او په دوی كښ د چا فرق نشته دے. نووی رحمه الله

لَأَكَلْتُهَا ثُمَّ أَخْشَى أَنْ تَكُونَ صَدَقَةً فَأُلْقِيهَا

نه وی نو اوئے غورځوم[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ تَمْرَةً فَقَالَ لَوْلَا أَنْ تَكُونَ مِنَ الصَّدَقَةِ لَأَكَلْتُهَا

د انس بن مالك نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ یوه کهجوره اوموندله نو حضرت ﷺ اوفرمائیل کۀ چرے د صدقے نۀ وی نو ما به خوړلے وه[2].

عَنْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ حَدَّثَهُ قَالَ اجْتَمَعَ رَبِيعَةُ بْنُ الْحَارِثِ وَالْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَا وَاللهِ لَوْ بَعَثْنَا هٰذَيْنِ الْغُلَامَيْنِ قَالَا لِي وَلِلْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَاهُ فَأَمَّرَهُمَا عَلَى هٰذِهِ الصَّدَقَاتِ فَأَدَّيَا مَا يُؤَدِّي النَّاسُ وَأَصَابَا مِمَّا يُصِيبُ النَّاسُ قَالَ فَبَيْنَمَا هُمَا فِي ذٰلِكَ جَاءَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ فَوَقَفَ عَلَيْهِمَا فَذَكَرَا لَهُ ذٰلِكَ فَقَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ

د عبد المطلب بن ربیعه نه روایت دے چه جمع شول ربیعه بن حارث او عباس بن عبد المطلب او دواړو اووے چه په الله قسم مونږ ليږو دے دواړو هلکانو لره یعنی ما لره او فضل بن عباس لره د رسول الله ﷺ په خدمت کښ او دا دواړه لاړ شی او عرض به اوکړی چه حضرت ﷺ هغوی لره تحصیلداران جوړ کړی په هغه زکاتونو باندے او دا دواړه ئے حضرت ﷺ لره راوړی او ادا کوی ئے لکه څنګه چه ئې نور خلق ادا کوی او څۀ به دوی ته میلاویږی. لکه چه څنګه نورو خلقو ته میلاویږی. غرض دا چه دا خبرے وغیره کیدے چه علی ابن ابی طالب راغے. او د هغوی په مخکښ اودریدو او هغوی دواړو حضرت علیؓ ته دغه ذکر اوکړو. حضرت علیؓ اوفرمائیل مۀ ليږئ قسم دے په الله باندے چه حضرت ﷺ داسے نۀ شی کولے (ځکه چه تاسو ته معلومه

---

[1] : اوس عوام څۀ بلکه په خواصو کښ هم ددے خلاف روان دے تفصيل د هغے دا دے چه شارع په طهارت ظاهری کښ تخفيف فرمائيلے دے چه د کومے پورے پليتی معلومه نۀ وی تطهير واجب نۀ دے په خلاف د طهارت د لقمے چه ددے نه د بچ کيدو صرف احتمال کافی دے. او د خلقو قاعده ددے نه خلاف ده چه حرامه نوړئ سره د یقین هم نۀ پريږدی او په طهارت ظاهری کښ هغۀ وساوس پيدا کړی چه معاذ الله.

[2] : نووی رحمه الله وائی ددے آیتونو نه دینداری ثابته شوه ځکه چه دا کهجوره په مجرد احتمال سره نۀ حراميږی. مګر د هغے پريخودل ئے د دينداری په لار سره اوفرمائيل. او معلومه شوه چه داسے لږ او کم قيمته څيزونه پريوتلی ميلاؤ شی نو هغے لره رسول ضروری نۀ دی مګر هغے لره په استعمال کښ راويستل مناسب دی او هغوی د صدقے د يرے نه پريخودو او نۀ په دے خيال سره چه موندلے څيز دے. او دا حکم متفق عليه دے او وجه ددے داده چه نۀ مالك ددا سی څيز د ميلاويدو تلاش کوی او نۀ ئے په ضايع کيدو سره څۀ غم کوی.

لاَ تَفعَلاَ فَوَاللهِ مَا هُوَ بِفَاعِلٍ فَانتَحَاهُ رَبِيعَةُ بنُ الحَارِثِ فَقَالَ وَاللهِ مَا تَصنَعُ هٰذَا إِلاَّ نَفَاسَةً مِنكَ عَلَينَا فَوَاللهِ لَقَد نِلتَ صِهرَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَمَا نَفِسنَاهُ عَلَيكَ قَالَ عَلِيٌّ أَرسِلُوهُمَا فَانطَلَقَا وَاضطَجَعَ عَلِيٌّ قَالَ فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ الظُّهرَ سَبَقنَاهُ إِلَى الحُجرَةِ فَقُمنَا عِندَهَا حَتَّى جَاءَ فَأَخَذَ بِآذَانِنَا ثُمَّ قَالَ أَخرِجَا مَا تُصَرِّرَانِ ثُمَّ دَخَلَ وَدَخَلنَا عَلَيهِ وَهُوَ يَومَئِذٍ عِندَ زَينَبَ بِنتِ جَحشٍ قَالَ فَتَوَاكَلنَا الكَلاَمَ ثُمَّ تَكَلَّمَ أَحَدُنَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَنتَ أَبَرُّ النَّاسِ وَأَوصَلُ النَّاسِ وَقَد بَلَغنَا النِّكَاحَ فَجِئنَا لِتُؤَمِّرَنَا عَلَى بَعضِ هٰذِهِ الصَّدَقَاتِ فَنُؤَدِّيَ إِلَيكَ كَمَا يُؤَدِّي النَّاسُ وَنُصِيبَ كَمَا يُصِيبُونَ قَالَ فَسَكَتَ طَوِيلاً حَتَّى أَرَدنَا أَن نُكَلِّمَهُ قَالَ وَجَعَلَت زَينَبُ تُلمِعُ عَلَينَا مِن وَرَاءِ الحِجَابِ أَن لاَ تُكَلِّمَاهُ قَالَ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الصَّدَقَةَ لاَ

ده چه زکات په سیدانو باندے حرام دے) پس حضرت علیؓ ته ربیعه بن حارث بد وئیل شروع کړل او اوئې وئیل چه په الله قسم دے چه ته زمونږ سره دا څۀ کوے نو د حسد د لاسه کوے. او په الله قسم دے چه تا ته کوم شرف د رسول اللهﷺ د زوم والی حاصل دے نو د هغې خو مونږ ستاسو سره څۀ حسد نۀ کوؤ. بیا علیؓ اوفرمائیل چه ښه ده دے دواړو لره اولیږه او مونږ دواړه لاړو او حضرت علیؓ سملاستو. بیا چه هر کله رسول اللهﷺ د ماسپخین مونځ ادا کړو نو مونږ دواړه په جلدئ سره حجرے ته د حضرتﷺ نه مخکښ اورسیدو او د حجرے په خوا کښ اودریدو. تر دے پورے چه حضرتﷺ تشریف راؤړو او زمونږ د دواړو غوږو نه ئې اونیول (دا شفقت او محبت وو چه هلکان په دے سره خوشحالیږی) او حضرتﷺ اوفرمائیل چه ظاهر کړئ کوم چه تاسو په زړۀ کښې منګی راوړی دی. او بیا حضرتﷺ او ورسره مونږ دواړه حجرے ته لاړو. او په دغه ورځ حضرتﷺ د مؤمنانو د مور بی بی حضرت زینبؓ په کور کښې وو. بیا مونږ یو بل ته اووے چه ته اووایه بیا یو زمونږ نه عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ ته د ټولو نه زیات رحم کونکے او زیات احسان کونکے ئې د خپلوانو سره. او مونږ نکاح ته رسیدلی یو (یعنی ځوانان شوی یو) او دد ے د پاره دلته راغلی یو چه تاسو مونږ لره په هغه زکاتونو باندے تحصیلداران کړئ چه مونږ هم تاسو لره تحصیل راوړو لکه څنګه چه نور خلق راوړی. او مونږ ته هم څۀ میلاؤ شی لکه څنګه چه نورو ته میلاویږی (دد ے د پاره چه زمونږ د نکاح خرچ رااوځی) بیا حضرتﷺ د ډیرے وخته پورے چپ وو دد ے

تَنْبَغِي لِآلِ مُحَمَّدٍ إِنَّمَا هِيَ أَوْسَاخُ النَّاسِ ادْعُوَا لِي مَحْمِيَةَ وَكَانَ عَلَى الْخُمُسِ وَنَوْفَلَ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ قَالَ فَجَاءَاهُ فَقَالَ لِمَحْمِيَةَ أَنْكِحْ هٰذَا الْغُلَامَ ابْنَتَكَ لِلْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ فَأَنْكَحَهُ وَقَالَ لِنَوْفَلِ بْنِ الْحَارِثِ أَنْكِحْ هٰذَا الْغُلَامَ ابْنَتَكَ لِي فَأَنْكَحَنِي وَقَالَ لِمَحْمِيَةَ أَصْدِقْ عَنْهُمَا مِنَ الْخُمُسِ كَذَا وَكَذَا قَالَ الزُّهْرِيُّ وَلَمْ يُسَمِّهِ لِي

پورے چه مونږ غوښتل چه بيا څۀ اووايو او د مؤمنانو مور بي بي حضرت زينب مونږ ته د پردے نه شاته اشاره كوله چه لوس څنمفوايئ: بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل چه زكات د ال محمد لائق نۀ دے دا خو د خلقو خيرے دے (كيدے شي چه دا متل د دغه خائے نه وي چه مال دولت د لاسو خيرے دے) مگر تاسو ما لره محميه رااوغواړئ (دا نوم وو د هغۀ د خزانچي) او هغه د خمس دپاسه مقرر وو او رااوغواړئ نوفل بن حارث بن عبد المطلب لره. راوي وائي چه بيا دا دواړه حاضر شول او هغۀ محميه ته اوفرمائيل چه تۀ خپله لور دي هلك فضل بن عباس ته واده كړه. او نوفل بن حارث ته ئے اوفرمائيل چه تۀ خپله لور دے هلك ته واده كړه (يعني ماته) يعني عبد المطلب بن ربيعه ته كوم چه د حديث راوي دے) غرض څما نكاح ئے اوكړه او محميه ته ئے اوفرمائيل چه دد دے دواړو مهر د خمس نه اوكړه دومره زهري وائي چه ماته عبد الله بن عبد الله څما شيخ شمار د مهر نۀ دے خودلے[1].

عَنْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَاهُ رَبِيعَةَ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَالْعَبَّاسَ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ

عبد المطلب بن ربيعه نه روايت دے چه د هغۀ پلار ربيعه او عباس بن عبد المطلب دواړو عبد المطلب بن ربيعه او فضل بن عباس ته اووے چه تاسو دواړه لاړ شئ رسول

[1] په قران مجيد كښې ئے بلوغ ته نكاح فرمائيلے ده إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ دغه شان په دے روايت كښې هم دے او حضرت زينب رضي الله عنها به پخپله كپړه يا لاس سره اشاره كړے وي. څكه چه لمح په لغت كښې دغے ته وائي. او دد دے حديث نه معلومه شوه چه د زكات مال په سيدانو مطلقًا حرام دے. خواه كۀ د څۀ خدمت په عوض كښې ئے وركړي يا ئے داسي وركړي. غرض دا چه كوم اتۀ اسباب د زكات د قبلولو دي په دے تولو كښې يوه وجه وي نو هغه لره اخستل دد دے روا نۀ دي. او دغه صحيح ده د اصحاب شافعيو [illegible] او احاديث هم ددغے په تاكيد كښې دي. څنے خلقو چه كوم اجازت وركړے دے په اجرت د حاصلولو كښې هغه ضعيف [illegible] مذهب [illegible] باطل دے. او دا حديث ښكاره دغے مذهب لره رد كوي. او دے مال ته چه ئے خيرے اوفرمائيلو په دے كښې ئے علت د هغے د حرمت [illegible] بيان كړو او هغه خيرے دد دے وجهے نه دے په زكات ويستو سره باقي مال پاك شي. لكه چه الله تعالى فرمائي خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ الخ

قَالَا لِعَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيعَةَ وَلِلْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ ائْتِيَا رَسُولَ اللهِ ﷺ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ مَالِكٍ وَقَالَ فِيهِ فَأَلْقَى عَلِيٌّ رِدَاءَهُ ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَيْهِ وَقَالَ أَنَا أَبُو حَسَنٍ الْقَرْمُ وَاللهِ لَا أَرِيمُ مَكَانِي حَتَّى يَرْجِعَ إِلَيْكُمَا ابْنَاكُمَا بِحَوْرِ مَا بَعَثْتُمَا بِهِ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ ثُمَّ قَالَ لَنَا إِنَّ هٰذِهِ الصَّدَقَاتِ إِنَّمَا هِيَ أَوْسَاخُ النَّاسِ وَإِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلَا لِآلِ مُحَمَّدٍ وَقَالَ أَيْضًا ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ادْعُوَا لِي مَحْمِيَةَ بْنَ جَزْءٍ وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي أَسَدٍ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اسْتَعْمَلَهُ عَلَى الْأَخْمَاسِ

الله ﷺ له. او حدیث ئې بیان داسې لکه چه پورته ذکر شو او په دې کښې دادی چه حضرت علیؓ خپل څادر اوغوړوو او سملاستو او اوئې وئیل چه زۀ پلار یم د حسن او سید یم قسم دې په الله چه د دې ځائې نه نۀ ځم د کومې پورې چه ستا ځامن واپس شوی نۀ وی او ستا د خبرې جواب ئې راوړې نۀ وی کوم چه تا رسول الله ﷺ په وینا لیږلی دی. بیا ئې اوفرمائیل چه دا خیرې دې د خلقو او د محمد ﷺ او د آل محمد ﷺ دپاره جائز نۀ دې او اوئې فرمائیل راولئ مالره محمیه بن جزء لره او هغه یو سړې وو د اسد د قبیلې چه حضرت ﷺ هغه تحصیلدار کړې وو په خمسونو باندې.

بَاب إِبَاحَةِ الْهَدِيَّةِ لِلنَّبِيِّ ﷺ وَلِبَنِي هَاشِمٍ

باب: حضور اکرم ﷺ او بنو هاشم دپاره هدیه حلاله ده

عَنْ جُوَيْرِيَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا فَقَالَ هَلْ مِنْ طَعَامٍ قَالَتْ لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ مَا عِنْدَنَا طَعَامٌ إِلَّا عَظْمٌ مِنْ شَاةٍ أُعْطِيَتْهُ مَوْلَاتِي مِنَ الصَّدَقَةِ فَقَالَ قَرِّبِيهِ فَقَدْ بَلَغَتْ مَحِلَّهَا

د مؤمنانو مور بی بی حضرت جویریهؓ د رسول الله ﷺ بی بی خبر ورکړې دې چه رسول الله ﷺ کورته راغې او اوئې فرمائیل څۀ خوراك شته؟ هغوی عرض اوکړو چه نه په الله قسم دې اې د الله رسوله! زمونږ سره د خوراك څۀ نشته دې مګر څو هډوکی د بزې چه ځما آزادې وینځې ته په صدقه کښې میلاو دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل راوړه ځکه چه صدقه خو خپل ځائې ته رسیدلې ده[1].

---

[1]: یعنی هر کله چه صدقه چاته ورکول ووهغۀ ته اورسیده او هغه بل ته ورکړه نو اوس حرام والې د هغې کوم چه په سیدانو باندې وو باقي پاتې نۀ شو. ځکه چه اوس هغه هدیه شوه او صدقه پاتې نۀ شوه. او په دې کښې دلیل دې د شافعي رحمه الله او د هغۀ د موافقینو چه غوښه د قربانۍ چه هر کله چا واخسته نو اوس ئې دۀ لره خرڅول صحیح دی. او کچرې داسې یو بنده ته په هدیه کښې ورکړې شوه

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَهْدَتْ بَرِيرَةُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَحْمًا تُصُدِّقَ بِهِ عَلَيْهَا فَقَالَ هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ

د انسؓ نه روایت دے چه هدیه ورکړه بریرهؓ رسول اللهﷺ لره غوښه چه هغه هغې ته چا په صدقه کښې ورکړے وه نو حضرتﷺ واخستله او ونې فرمائیل دے لره صدقه ده او مونږ لره هدیه ده.

عَنْ عَائِشَةَ وَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمِ بَقَرٍ فَقِيلَ هَذَا مَا تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ فَقَالَ هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه څه د غوا غوښه نبیﷺ له راوړے شوه. او چا اووے چه دا غوښه د صدقے ده چه بریرهؓ ته میلاؤ شوے وه. حضرتﷺ اوفرمائیل په هغې باندے صدقه ده او مونږ لره هدیه[1].

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَتْ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ قَضِيَّاتٍ كَانَ النَّاسُ يَتَصَدَّقُونَ عَلَيْهَا وَتُهْدِي لَنَا فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَلَكُمْ هَدِيَّةٌ فَكُلُوهُ

د مؤمنانو مور حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه هغوی فرمائیلے دی چه د بریرے د مقدمے نه درے شرعی حکمونه ثابت شو. خلقو به هغې لره صدقه ورکوله او مونږ ته به ئے هدیه راکوله. مونږ رسول اللهﷺ ته ددے ذکر اوکړو نو هغهٔ اوفرمائیل په هغې باندے صدقه ده او تاسو لره هدیه ده نو خورئ ئے[2].

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ ذَلِكَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَهُوَ لَنَا مِنْهَا هَدِيَّةٌ

د حضرت عائشےؓ نه دغه روایت مروی دے مگر په دے کښې ئے دا فرمائیلے دی چه دغه زمونږ دپاره د هغې د طرفه هدیه ده.

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ بَعَثَ إِلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ مِنَ الصَّدَقَةِ فَبَعَثْتُ إِلَى عَائِشَةَ مِنْهَا بِشَيْءٍ فَلَمَّا جَاءَ

د ام عطیهؓ نه روایت دے چه هغوی ویلے دی ماته رسول اللهﷺ په صدقه کښې یوه بزه رااولیږله. نو ما د هغې نه لږه شان غوښه حضرت عائشےؓ له اولیږله. بیا حضورﷺ د حضرت عائشےؓ کورته تشریف

چه هغهٔ له صدقه اخستل صحیح نهٔ وو نو هم دهٔ لره حلاله شوه. او څنے مالکیؤ وئیلے دی چه بیعه د دغے غوښې روا نهٔ ده. مگر د لیل د هغې معلوم نهٔ دے. او په ظاهره ددے روایت نه خلاف معلومیږی (نووی رحمه الله)

[1]: ددے حدیث نه معلومه شوه چه حضرت صلی الله علیه وسلم د غوا غوښه خوړلے ده او دا روایت په دے مسلم کښې دے.

[2]: دلته یو حکم بیان شو دویمه دا ده چه ولاء هغې ته دے چه آزاد ئے کړے او وینځه چه کله آزاده شی نو هغې ته د خپل خاوند سره د اوسیدو اختیار دے.

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَائِشَةَ قَالَ هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ قَالَتْ لاَ إِلاَّ أَنَّ نُسَيْبَةَ بَعَثَتْ إِلَيْنَا مِنَ الشَّاةِ الَّتِي بَعَثْتُمْ بِهَا إِلَيْهَا قَالَ إِنَّهَا قَدْ بَلَغَتْ مَحِلَّهَا

راورو او اوئې فرمائيل چه ستا سره د خوراك څهٔ شته هغوی عرض اوكړو چه نه مگر نسيبې (يعنى ام عطيې) موږ له څهٔ غوښه راليږلې ده د هغه بزې نه چه تا هغوى ته ليږلې وه. حضرت اوفرمائيل هغه خپل ځائې ته رسيدلې ده [1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ سَأَلَ عَنْهُ فَإِنْ قِيلَ هَدِيَّةٌ أَكَلَ مِنْهَا وَإِنْ قِيلَ صَدَقَةٌ لَمْ يَأْكُلْ مِنْهَا

ابوهريرهؓ نه روايت دے چه د رسول اللهﷺ عادت مبارك دا وو چه كله به غله راغله نو تپوس به ئې اوكړو كچرے هديه به وه نو خوړه به ئې او كچرے صدقه به وه نو نهٔ به ئې خوړله [2].

بَابُ الدُّعَاءِ لِمَنْ أَتَى بِصَدَقَةٍ

باب: صدقه راوړونكى ته د دُعا كولو بيان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ قَالَ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِمْ فَأَتَاهُ أَبِي أَبُو أَوْفَى بِصَدَقَتِهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى

عبد الله بن ابى اوفىؓ نه روايت دے چه د رسول اللهﷺ عادت مبارك دا وو چه كله به يو قوم صدقه راوړله نو حضرتﷺ به هغوى دپاره دُعا فرمائيله يا الله رحمت اوكړه په دوى باندے بيا راغے څما پلار ابو اوفى صدقه ئې راوړه نو حضرتﷺ اوفرمائيل يا الله رحمت اوكړه په اولاد د ابواوفى باندے [3].

---

[1]: يعنى صدقه د ام عطيې دپاره وه هغې ته رسيدلې ده. اوس ستا دپاره هديه ده. تاسو ئې خورئ او په ما ئې خوروئ.

[2]: دا تپوس كول د هغهٔ د ديندارئ په وجه سره وو او هر كله چه به خلقو ته بنه معلومه نهٔ وه چه حضرتﷺ صدقه نهٔ خورى. او ددے نه اصل د خوړلو څكلو تپوس كول روا شو.

[3]: دا دعا كول د هغهٔ په موجب ددے ايت شريف وو چه الله فرمائيلې دى وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ او مشهور مذهب د علماؤ دغه دے چه دا دعا د زكات وركونكى دپاره مستحب ده. او ظاهر دا قول دے چه واجب ده. او خنې شافعى ملګرى هم په دے طرف دى او جمهورو ونيلې دى چه دا امر د ايت مبارك خمونږ دپاره مستحب دے څكه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم معاذ لره د يمن په طرف اوليګلو د زكات د اخستو دپاره او هغهٔ ته ئې ددُعا حكم نهٔ دے وركړے او جواب د هغې دا دے چه ددُعا حكم هغوى ته د قران مجيد نه پخپله معلوم وو. او جمهورو د هغې په جواب كښې ونيلې دى چه د نبى صلى الله عليه وسلم دُعا هغوى لره د تسكين باعث وه په خلاف د نورو خلقو او امام شافعى رحمه الله ددُعا په باره كښې ونيلې دى چه مستحب داده چه داسې اووائى ٠ أَجَرَكَ اللهُ فِيمَا أَعْطَيْتَ وَجَعَلَكَ طَهُورًا أَوْ بَارَكَ لَكَ فِيمَا أَبْقَيْتَ ٠ مگر د كومې پورے چه دا الفاظ د څهٔ روايت نه ثابت نهٔ وى يواځې قول د چا ثبوت د استحباب نهٔ شى كيدے او د تحصيل دار دا اوئيل چه ٠ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى فُلَانٍ ٠ دے ته جمهورو شافعيۇ مكروه ونيلې دى او دغه مذهب د ابن عباس رضى الله عنه د امام مالك رحمه الله او ابن عيينه او د سلفو د يو جماعت دے او يو جماعت دے ته جائز ونيلې دى ددے حديث په روايت سره

بَاب إِرْضَاءِ السَّاعِي مَا لَمْ يَطْلُبْ حَرَامًا

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا أَتَاكُمُ الْمُصَدِّقُ فَلْيَصْدُرْ عَنْكُمْ وَهُوَ عَنْكُمْ رَاضٍ

باب: تحصیلدارانو لره د راضی ساتلو بیان

د جرير رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دى كله چه زكات وصولونكي تاسو ته راشى نو پكار ده چه خوشحاله لاړ شى[1]

مُتَرجم: حافظ حبیب الرّحمٰن مردان

مصحِّح: مولانا عبدالوافی پیبنوړ

ناشر: تاج کمپنی پرائیویٹ لمتیډ

او چا چه ورته مكروه وئيلي دى چه د صلوت لفظ د انبياؤ نه بغير بل چا لره روا نۀ دے مگر د انبياؤ په سلسله كښ دد ے دپاره چه صلوة په رومبنۍ ژبه كښ د انبياؤ سره مخصوص وو لكه د عزوجل لفظ چه دے د الله پاك دپاره او داسے څوك نۀ شى وئيلے چه محمد عَزَّ وَجَلَّ اگر چه هغه هم عزيز او جليل دے. دغه شان دا نۀ شى وئيلے چه ابوبكر صلى الله عليه وسلم. او اگر چه معنى دد ے هم صحيح ده. او زمونږ د ملگرو په دے كښ اختلاف دے چه دا نهى تنزيهى ده يا تحريمى يا يواځے ادب دے. او قول اصح او مشهور دا دے چه دا مكروه دى په كراهت تنزيهى سره ځكه چه دا نخښه د بدعت د خاوندانو ده. او د هغوى د شعار زمونږ منع كړے شوى يو. او اتفاق په دے باندے دے چه د انبياؤ نه د غير دپاره لفظ صلوة په شراكت د انبياؤ جائز دے لكه چه راغلے دى اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ وَاَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّاتِهِ وَاَتْبَاعِهِ. او شيخ ابو محمد جوينى چه د شافعيه ملگرو نه دے هغوى وئيلے دى چه سلام هم په معنى د صلوة دے. او دے لره يواځے استعمال نۀ كړئ سوا د انبياؤ نه. ځكه چه الله پاك صلوة او سلام لره قرين كړے دے مثلاً داسے نۀ دى وئيل پكار چه فلانے عليه السلام (مثلاً اووائى چه عبد الكريم عليه السلام فرمائيلے دى) مگر د مخاطبے په طور سره ژوندو او مړو ته وئيل صحيح دى. لكه اووائى السلام عليكم يا السلام عليك والله اعلم (نووى رحمه الله)

[1]: مقصود د حديث دا دے چه د حكماء فرمانبردارى كوئ هغه راضى ساتئ په خبرو اترو او خوشامنده كښ هغه خفه كوئ مه ځكه په دے كښ اصلاح ذات البين ده او اجماع د مسلمانانو ده. او دا ټول حكمونه د هغے پورے دى چه ستاسو نه په ظلم او تكليف سره څۀ شے نۀ طلب كوى.

كِتَابُ الصِّيَامِ

د روژے مسئلے[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ وَصُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی کله چه رمضان راشی نو د جنت دروازے کھولاؤ شی او د دوزخ دروازے بندے شی. او شيطانان په زنځيرونو کښں کلك اوتړلے شی شيطانانو لره[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا كَانَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ

حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی کله چه رمضان راشی نو دروازے د رحمت کھولاویږی او د دوزخ دروازے بندیږی او شیطان زنځیرونو کښں تړلے کیږی.

بَاب وُجُوبِ صَوْمِ رَمَضَانَ لِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ وَالْفِطْرِ لِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ وَأَنَّهُ إِذَا غُمَّ فِي أَوَّلِهِ أَوْ آخِرِهِ أُكْمِلَتْ عِدَّةُ الشَّهْرِ ثَلَاثِينَ يَوْمًا

باب: په دے بیان کښں چه روژه هم د میاشتے په لیدو نیسیٔ او اختر هم د میاشتے په لیدو کویٔ. او کۀ وریځ وی نو دیرش ورځے پوره کړیٔ

---

[1]: صوم او صیام په لغت کښں د مطلق امساك په معنے کښں دی. او په شرع کښں امساك مخصوص دے په زمانه مخصوص کښں بنده مخصوص لره د هغے د شرائطو سره.

[2]: دا حدیث دلیل دے د یو لوئے صحیح مذهب او په دے طرف تلی دی محققین او بخاری او هغه داد ے چه صرف رمضان وئیل روا دی بغیر د میاشتے د لفظ نه. او په دے کښں کراهت نشته دے. او په دے کښں درے مذهبو نه دی. اول دا چه په هیڅ حال کښں صرف رمضان وئیل روا نۀ دی. او دا قول د ملګرو د مالك او د دغه خلقو دعوه کړے ده چه رمضان نوم دے د الله تعالی پس دد ے اطلاق په غیر باند ے بلاقید روا نۀ دے. او د اکثرو ملګرو د شافعی او ابن باقلانی قول داد ے چه دلته یو قرینه ده چه دد ے نه معلومیږی چه دلته الله پاك مراد نۀ دے او میاشته مراد ده پس په دے کښں کراهت نشته او کۀ قرینه نۀ وی نو مکروه دے. غرض دا چه لکه خلق وائی مونږ د رمضان روژه اوساتله. په رمضان کښں مو د شپے قیام اوکړو دا مکروه نۀ دی مګر دا وئیل چه رمضان راغے یا رمضان لاړو دا مکروه دی او دا دویم قول دے. او دریم هغه دے چه په کوم طرف بخاری وغیره تلی دی چه خواه کۀ قرینه وی یا نۀ وی د رمضان اطلاق بلاکراهت روا دے. او دغه صحیح او ثواب دے او دا اول دواړه مذهبونه فاسد دی. او کھولاویدل او بندیدل د دروازو او قید کیدل د شیطانانو حقیقت دے. مجاز نۀ دے دغه مذهب حق دے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ رَمَضَانَ فَقَالَ لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوُا الْهِلَالَ وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ فَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْكُمْ فَاقْدِرُوا لَهُ

روایت دے د عبد الله بن عمر نه چه نبی کریم ﷺ د رمضان ذکر لوکړو او اشاره ئے اوکړه په دوارو لاسونو (یعنی په ګوتو سره)، او لونے فرمائیل چه میاشت داسے وی، داسے وی، داسے وی بیا ئے بنده کړه ګوتو خپله درے خله (یعنی د یو کم دیرشو ورځو وی) او اونے فرمائیل روژه نیسئ چه میاشت اووینئ او ماتوئ ئے (یعنی اختر کوئ) چه میاشت اووینئ بیا کچرے وریخ راشی په تاسو باندے نو دیرش پوره کوئ[1]

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَضَانَ فَقَالَ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ الشَّهْرُ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا وَقَالَ فَاقْدِرُوا لَهُ وَلَمْ يَقُلْ ثَلَاثِينَ

د عبید الله نه روایت دے په همدے سند سره چه رسول الله ﷺ د رمضان ذکر اوکړو او اونے فرمائیل چه میاشت د یو کم دیرشو هم وی او په لاس ئے اشاره اوکړه چه داسے داسے او اونے فرمائیل چه دد ے اندازه کوئ او د دیرشو لفظ ئے نه دے فرمائیلے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الشَّهْرُ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا وَقَبَضَ إِبْهَامَهُ فِي الثَّالِثَةِ

ابن عمر اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلے ئے وو میاشت داسے داسے وی او په دریم ځل ئے غټه ګوته کمه کړله (یعنی د یو کم دیرشو هم وی).

عَنِ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ

ابن عمر د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه فرمائیلے وو چه میاشت د یو کم دیرشو ورځو هم وی[2]

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ الشَّهْرُ هَكَذَا وَهَكَذَا عَشْرًا وَعَشْرًا وَتِسْعًا

عبد الله بن عمر نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ فرمائیلے دی میاشت داسے ده داسے ده داسے ده. یعنی د لسو او لسو او نهو ورځو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ

عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی

---

[1] یعنی که چرے مثلاً په یو کم دیرشمه د شعبان وریخ شی نو دیرش د شعبان پوره کړئ او بعد د هغے نه روژه اونیسئ دغه شان که په یو کم دیرشمه د رمضان وریخ شی نو په سبب د وریځے او میاشتے اونه لیدو دیرش روژے پوره کړئ او روستو د هغے نه وروکے اختر اوکړئ او جمهورو دد ے حدیث دغه معنے کړے ده. او احادیث او روایتونه هم د دغے مؤید دی.

[2] دد ے نه دا هم معلومه شوه چه که رمضان یو کم د دیرشو ورځو هم راشی خو اجر ئے نه کمیږی ځکه چه هغه هم پوره میاشت ده نه نیمګړے.

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشَّهْرُ كَذَا وَكَذَا وَكَذَا وَصَفَّقَ بِيَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ بِكُلِّ أَصَابِعِهِمَا وَنَقَصَ فِي الصَّفْقَةِ الثَّالِثَةِ إِبْهَامَ الْيُمْنَى أَوِ الْيُسْرَى

میاشت داسے داسے داسے وه. او خپل دواړه لاسونه ئے ده ځله اووهل او ټولے گوتے ئے کھولاؤ وے او په دریم ځل ئے غټه گوته د ښی لاس یا د کس لاس کمه کړه (یعنی بده ئے کړه او اشاره راغله دیرشو ته)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ وَطَبَّقَ شُعْبَةُ يَدَيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ وَكَسَرَ الْإِبْهَامَ فِي الثَّالِثَةِ قَالَ عُقْبَةُ وَأَحْسِبُهُ قَالَ الشَّهْرُ ثَلَاثُونَ وَطَبَّقَ كَفَّيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ

د عبدالله ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه میاشت د یو کم دیرشو وی. او شعبه دواړه لاسونه یو ځائے کړل او اشاره ئے اوکړه دری ځله او په دریم ځل ئے غټه گوته بنده کړه. او عقبه وائی چه زۀ گمان کوم چه هغوی وئیلے دی چه میاشت د دیرشو (ورځو) وی او دواړه ورغوی ئے درے ځله میلاؤ کړل.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسُبُ الشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا وَعَقَدَ الْإِبْهَامَ فِي الثَّالِثَةِ وَالشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا يَعْنِي تَمَامَ ثَلَاثِينَ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ فرمائیلے دی چه مونږ خلق آمیان یو نۀ لیکلے شو او نۀ حساب کوؤ خو داسے وی داسے وی داسے وی. او په دریم ځل ئے گوته بنده کړه او میاشت داسے وی داسے وی داسے وی یعنی دیرش ورځے پوره وی [1]

عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ قَالَ سَمِعَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا رَجُلًا يَقُولُ اللَّيْلَةَ لَيْلَةُ النِّصْفِ فَقَالَ لَهُ مَا يُدْرِيكَ أَنَّ اللَّيْلَةَ النِّصْفُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَأَشَارَ بِأَصَابِعِهِ الْعَشْرِ مَرَّتَيْنِ وَهٰكَذَا فِي الثَّالِثَةِ

سعد بن عبیدهؒ نه روایت دے چه ابن عمر یو سړی نه واؤریدل چه وئیل ئے نن شپه نیمه میاشت برابر شوه نو عبد اللهؓ ورته اوفرمائیل چه تا څنګه اوپیژنده چه نیمۀ میاشت اوشوه؟ ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلے ئے وو میاشت داسے وی او دوه ځله ئے په خپلو گوتو سره اشاره اوکړه. او دغه شان ئے په دریم ځل اشاره اوکړه په ټولو گوتو باندے او بنده ئے کړه یا ئے ښکته کړه خپلے غټے

[1]: قربان د هغه امی نبی ﷺ نه چه خپل امت مرحونه لره ئے داسے تعلیم ورکړو چه د ټول جهان د حساب کونکو استاد دے او یوے لوے شان خبرے لره ئے په کومه کومه طریقه د هغوی په ذهن کښں کیښنوده. او الله پاك دی په محدثینو رحمت اوکړی چه هغوی څنګه د هغوی د تعلیماتو او ارشاداتو حفاظت اوکړو. او یوے یوے خبری لره ئے په ګڼرو سندونو سره او په مختلفو طریقو سره چه په کوم شان سره شوے وے په خانسته انداز سره یادے اوساتلے. او داسے حفاظت ئے اوکړو چه یو امت ته هم نصیب شوے نۀ دے. الحمد لله علی ذلك.

وَأَشَارَ بِأَصَابِعِهِ كُلِّهَا وَحَبَسَ أَوْ خَنَسَ إِبْهَامَهُ

ګوتې لره.[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْهِلَالَ فَصُومُوا وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَصُومُوا ثَلَاثِينَ يَوْمًا

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه نبي كريم ﷺ فرمائيلي دي چه روژه نيسئ د مياشتې په ليدو سره او افطار يعنې ما توی نی د مياشتې په ليدو سره. او كچرے وريځ شی نو شمار پوره كوئ (يعنې د ديرشو)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقَدَّمُوا رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ وَلَا يَوْمَيْنِ إِلَّا رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صَوْمًا فَلْيَصُمْهُ

ابوهريرهؓ وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي د رمضان نه مخكښې يوه يا دوه روژے مه نيسئ مګر هغه سړے چه هغه هميشه يو ورځ روژه نيسي او هم هغه ورځ پكښې راغله نو خير هغه دے اونيسي د خپلې مقرر ورځې په وجه (مثلاً د زيارت او د جمعې په ورځ هميشه روژه نيسي. او په يو كم ديرش يا په ديرشم تاريخ د شعبان دغه ورځ راغلې. نو هغه به نيسي)

عَنِ الزُّهْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْسَمَ أَنْ لَا يَدْخُلَ عَلَى أَزْوَاجِهِ شَهْرًا قَالَ الزُّهْرِيُّ فَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا مَضَتْ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً أَعُدُّهُنَّ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ بَدَأَ بِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّكَ أَقْسَمْتَ أَنْ لَا تَدْخُلَ عَلَيْنَا شَهْرًا وَإِنَّكَ دَخَلْتَ مِنْ تِسْعٍ وَعِشْرِينَ أَعُدُّهُنَّ فَقَالَ إِنَّ الشَّهْرَ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ

زهري وائي چه نبي ﷺ قسم خوړلے وو. چه زۀ به د يوے مياشتې پورے د خپلو بيبيانو خواله نۀ ورځم بيا خبر راكړو ما لره عروه د حضرت عائشےؓ د خبرے چه هغه فرمائي چه كله يو كم ديرش تيرے شوے نو ما شمارلے چه رسول الله ﷺ تشريف راؤړو او حضرت عائشهؓ فرمائي چه مخكښې ئے زما خواله تشريف راؤړو (دا په فخر سره حضرت عائشےؓ ارشاد اوفرمائيلو په دے كښې كمال د محبت د رسول الله ﷺ د هغې سره ثابت شو) بيا ما عرض اوكړو چه يا رسول الله ﷺ تاخو قسم خوړلے وو چه زۀ به د يوے مياشتې پورې ستاسو خواله نۀ درځم او ما ورځې شمارلے چه تا په يو كم ديرشم ورځ تشريف راؤړو. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل مياشت د يو كم ديرشو هم وی.

عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ

جابرؓ فرمائي چه ډډه اوكړه رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو نه يوه

[1] يعنې تا خنګه اوپيژنده چه نن شپه نيمه مياشت برابر شوه؟ خكه چه مياشت كله د يو كم ديرشو هم وی. بيا چه د كومے پورې مياشت ختمه شوے نۀ وی او معلومه شوی نۀ وی چه د يو كم دير شو ده يا د دير شو ده. د هغې پورې به خنګه معلومه شی چه نيمه به په كومه شپه وی.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَزَلَ نِسَاءَهُ شَهْرًا فَخَرَجَ إِلَيْنَا فِي تِسْعٍ وَعِشْرِينَ فَقُلْنَا إِنَّمَا الْيَوْمُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ فَقَالَ إِنَّمَا الشَّهْرُ وَصَفَّقَ بِيَدَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَحَبَسَ إِصْبَعًا وَاحِدَةً فِي الْآخِرَةِ

مياشت او بيا رااوتو زمونږ په طرف په يو كم ديرشمه ورځ ده. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل مياشت دومره هم وي. او دواړه لاسونه ئې درےځله ميلاؤ كړل او بنده ئې كړه ګوته په آخر ځل كښې (يعنى د يو كم ديرشو اشاره ئې اوفرمائيله)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ اعْتَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ شَهْرًا فَخَرَجَ إِلَيْنَا صَبَاحَ تِسْعٍ وَعِشْرِينَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّمَا أَصْبَحْنَا لِتِسْعٍ وَعِشْرِينَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّهْرَ يَكُونُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ ثُمَّ طَبَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْهِ ثَلَاثًا مَرَّتَيْنِ بِأَصَابِعِ يَدَيْهِ كُلِّهَا وَالثَّالِثَةَ بِتِسْعٍ مِنْهَا

حضرت جابر وائى چه ډډه اوكړه رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو نه د يوے مياشتے پورے او رااووتو د يوكم ديرشمے په سحر نو څنے خلقو عرض اوكړو چه اے د الله رسوله! نن خو زمونږ د يوكم ديرشمے ورځ سحر دے. حضرت ﷺ اوفرمائيل مياشت د يوكم ديرشو هم وي. بيائے يو ځائے كړل خپل دواړه لاسونه درےځله دوه ځله خو د ټولو ګوتو سره او په دريم ځل د نهو ګوتو سره.

بَابُ بَيَانِ أَنَّ لِكُلِّ بَلَدٍ رُؤْيَتَهُمْ وَأَنَّهُمْ إِذَا رَأَوُا الْهِلَالَ بِبَلَدٍ لَا يَثْبُتُ حُكْمُهُ لِمَا بَعُدَ عَنْهُمْ

باب : په هر ښار كښې د هغه ښار ليدل معتبر دى. او د لرے د ښار ليدل د هغه ځائے دپاره معتبر نۀ دى

عَنْ كُرَيْبٍ أَنَّ أُمَّ الْفَضْلِ بِنْتَ الْحَارِثِ بَعَثَتْهُ إِلَى مُعَاوِيَةَ بِالشَّامِ قَالَ فَقَدِمْتُ الشَّامَ فَقَضَيْتُ حَاجَتَهَا وَاسْتُهِلَّ عَلَيَّ رَمَضَانُ وَأَنَا بِالشَّامِ فَرَأَيْتُ الْهِلَالَ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ ثُمَّ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فِي آخِرِ الشَّهْرِ فَسَأَلَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ثُمَّ ذَكَرَ الْهِلَالَ فَقَالَ مَتَى رَأَيْتُمُ الْهِلَالَ فَقُلْتُ رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ أَنْتَ رَأَيْتَهُ فَقُلْتُ نَعَمْ وَرَآهُ النَّاسُ

كريب لره ام الفضل بنت حارث د معاويه په طرف شام ته اوليږلو. هغوى وائى چه زۀ هشام ته لاړمه او د هغوى كار مے اوكړو. او د روژے مياشت مے په شام كښې د جمعے په شپه اوليده (يعنى د زيارت په مابنام) بيامدينے ته راغلم د مياشتے په آخره كښې او عبدا لله بن عباس خما نه تپوس اوكړو او ذكر ئے اوكړو د سپوږمۍ چه تاسو كله ليدلے وه. ما اووے د جمعے په شپه هغوى اووے تا پخپله ليدلے وه ما اووے آو نورو خلقو هم ليدلے وه او روژه نيولے وه حضرت معاويه او نورو خلقو. نو ابن عباس اوفرمائيل چه مونږ خو

وَصَامُوا وَصَامَ مُعَاوِيَةُ فَقَالَ لَكِنَّا رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ السَّبْتِ فَلَا نَزَالُ نَصُومُ حَتَّى نُكْمِلَ ثَلَاثِينَ أَوْ نَرَاهُ فَقُلْتُ أَوَلَا تَكْتَفِي بِرُؤْيَةِ مُعَاوِيَةَ وَصِيَامِهِ فَقَالَ لَا هَكَذَا أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشَكَّ يَحْيَى بْنُ يَحْيَى فِي نَكْتَفِي أَوْ تَكْتَفِي

د خالي په شپه لیدلے وه لو پورهدیرش روژے به نیسو یا به سپوږمۍ اووینو. نو ما اووے تاسو د معاویه ؓ لیدل کافي نهٔ ګڼړئ او د هغهٔ روژه نیول؟ هغوی اوفرمائیل نه دغسے حکم کړے دے مونږ ته رسول الله ﷺ لو یحیٰی خونړے د یحیٰی ته شك دے چه نکتفی نړے ونیلے وو یا تکتفی[1]

بَاب بَيَانِ أَنَّهُ لَا اعْتِبَارَ بِكِبَرِ الْهِلَالِ وَصِغَرِهِ وَأَنَّ اللهَ تَعَالَى أَمَدَّهُ لِلرُّؤْيَةِ فَإِنْ غُمَّ فَلْيُكْمَلْ ثَلَاثُونَ

باب: د میاشتے د لونړے ورے کیدو اعتبار نشته. او هر کله چه وریخ وی نو د دیرشو شمار پوره کوئ

عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا لِلْعُمْرَةِ فَلَمَّا نَزَلْنَا بِبَطْنِ نَخْلَةَ قَالَ تَرَاءَيْنَا الْهِلَالَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ لَيْلَتَيْنِ قَالَ فَلَقِينَا ابْنَ عَبَّاسٍ فَقُلْنَا إِنَّا رَأَيْنَا الْهِلَالَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ لَيْلَتَيْنِ فَقَالَ أَيَّ لَيْلَةٍ رَأَيْتُمُوهُ قَالَ فَقُلْنَا لَيْلَةَ كَذَا وَكَذَا فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ مَدَّهُ لِلرُّؤْيَةِ فَهُوَ لِلَيْلَةِ

ابوالبختری ؓ وائی چه مونږ عمرے ته اووتلو او کله چه بطن نخلے ته اورسیدو (چه د یو مقام نوم دے) نو تولو سپوږمۍ ته کتل شروع کړل. چا اووے چه د دریو شپو ده (یعنی د لوئی والی په سبب) او څنو اووے چه د دوو شپو ده. بیا مونږ میلاؤ شو د ابن عباس ؓ سره او هغوی ته مو ذکر اوکړو چه مونږ سپوږمۍ اولیده چا اووے چه د دریو شپو ده. او چا اووے چه د دوو شپو ده. بیا هغهٔ زمونږ نه تپوس اوکړو چه تاسو په کومه شپه لیدلے وه؟ نو مونږ اووے په فلانۍ فلانۍ شپه. هغوی اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه الله پاك هغه غته کړے وه د لیدلو دپاره او هغه د هغه شپے وه

---

[1]: ددے حدیث نه معلومه شوه چه د میاشتے لیدل عام نهٔ وی یعنی کوم ښهر والاچه نړے اووینی هغه به روژه نیسی یا به اختر کوی. او نورو لره د هغوی په لیدو باندے اعتبار ضروری نهٔ دے. او دغه مذهب د شافعی ملګرو په نزد صحیح دے. بلکه نووی لیکلی دی چه د کومے پورے (یعنی د کوم حده پورے) چه مانځهٔ کښ قصر نهٔ کیږی د هغے پورے د میاشتے د لیدو اعتبار هم دے. او بعضو ونیلے دی چه کهٔ چرے مطلع متفق وی نو نورو لره اعتبار ضروری دے. او بعضو ونیلے دی چه کهٔ د یو مالك پورے اتفاق وی نو اعتبار دے ګنی نهٔ دے. او د بعضو قول دے چه لیدل د یو ځائے د ټولے زمکے د مخ دپاره ده. او هغوی ددے حدیث دا جواب ورکړے دے چه ابن عباس ؓ دغه یو سړے ګواهی نهٔ ده قبوله کړے. مګر ظاهر حدیث په دے باندے دلیل دے چه هغوی د لرے ځائے د لیدو اعتبار نهٔ دے کړے (نووی)

رأيتموه

په کومه شپه چه تاسو اولیده [1].

بَاب بَيَانِ مَعْنَى قَوْلِهِ شَهْرَا عِيدٍ لَا يَنْقُصَانِ

باب : دوه میاشتې د اختر ناقصې نۀ وی

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ شَهْرَا عِيدٍ لَا يَنْقُصَانِ رَمَضَانُ وَذُو الْحِجَّةِ

ابوبکرهؓ وائی نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه دوه میاشتې د اخترونو ناقصه کیدے نشی یوه د رمضان شریف او بله د ذولحجې [2].

بَاب بَيَانِ أَنَّ الدُّخُولَ فِي الصَّوْمِ يَحْصُلُ بِطُلُوعِ الْفَجْرِ

باب : روژه د صبا د راختو نه شروع کیږی

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ قَالَ لَهُ عَدِيُّ بْنُ حَاتِمٍ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَجْعَلُ تَحْتَ وِسَادَتِي عِقَالَيْنِ عِقَالًا أَبْيَضَ وَعِقَالًا أَسْوَدَ أَعْرِفُ اللَّيْلَ مِنَ النَّهَارِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ وِسَادَتَكَ لَعَرِيضٌ إِنَّمَا هُوَ سَوَادُ اللَّيْلِ وَبَيَاضُ النَّهَارِ

عدی بن حاتمؓ وائی چه کله دا ایت نازل شو حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ يعنی خورئ او څښئ د هغې پورې چه ښکاره شی هغه سپین تار د تور تار نه د سحر نو عدیؓ عرض اوکړو چه اے د الله رسولهٔ زۀ د خپلې تکیه د لاندے دوه رسئ لرم یوه سپینه او بله توره د هغې نه زۀ پیژندے شم شپې او ورځې لره. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل ستا تکیه ډیره لنډه ده او د توقې په وزن ئے ورته اوفرمائیل چه دومره لنډه ده چه د هغې د لاندے نه صبا کیږی) په دے ایت کښې خو تور والے د شپې او سپین والے د ورځې مراد دے [3].

---

[1] : ددے نه معلومه شوه چه د ورېے لوئے کیدو اعتبار نشته کله چه اولیدے شی د هغه شپې ده. خواه کۀ د یو کم دیرشو وی یا د دیرشو ورځو وی.

[2] : صحیح او معتبره معنی خو ددے دغه ده چه ددے دواړو میاشتو ثواب په څۀ شان سره کمیږی خواه کۀ د یو کم دیرشو وی او خواه کۀ د دیرشو وی. غرض دادے چه د یو تاریخ په کمیدو سره ثواب نۀ کمیږی او بعضو ویلے دی چه په یو کال کښې دواړه میاشتې د یو کم دیرشو نۀ شی کیدے. کۀ یوه د یو کم دیرشو وی نو بل به د دیرشو وی. او خنو ویلی دی چه دواړه په ثواب کښې برابر دی. د یو بل نه کمے نۀ دی. یعنی کۀ په رمضان کښې روژے دی نو په لوئے اختر کښې د حج مناسك دی. او دا ټول قولونه ضعیف دی صحیح هغه دے کوم چه وړاندے ذکر شو.

[3] : غرض دادے چه د تار نه مراد شپه او ورځ ده او کیدے شی چه د عدیؓ په ژبه کښې دا چرته استعمال شوے نۀ وی. خکه پرے هغه دهوکه شو او عبیده وائی چه دخیط ابیض نه صبح صادق مراد دے. او ددے ایت او روایت نه معلومه شوه چه د صبح صادق نه اول تو له شپه ده او ددے نه د ورځې شروع ده. غرض دا چه په صبح صادق او شپه کښې څۀ فاصل نشته او دغه مذهب د جمهورو علماؤ دے او هم دغه مذهب صحیح دے.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ يَأْخُذُ خَيْطًا أَبْيَضَ وَخَيْطًا أَسْوَدَ فَيَأْكُلُ حَتّٰى يَسْتَبِينَهُمَا حَتّٰى أَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ مِنَ الْفَجْرِ فَبَيَّنَ ذٰلِكَ

د سهل بن سعد نه روایت دے چه کله دا ایت نازل شو چه كُلُوا وَاشْرَبُوا الخ وائي چه یو سړے وو چه هغه به نیولے وو دوه تارونه سپین او تور او بیا به ئے خوراك کوو د سحر د رنړا پورے تر دے پورے چه نازل کړو الله پاك مِنَ الْفَجْرِ بیا هغه نه التباس د ظاهر شو.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ قَالَ فَكَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَرَادَ الصَّوْمَ رَبَطَ أَحَدُهُمْ فِي رِجْلَيْهِ الْخَيْطَ الْأَسْوَدَ وَالْخَيْطَ الْأَبْيَضَ فَلَا يَزَالُ يَأْكُلُ وَيَشْرَبُ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُ رِئْيُهُمَا فَأَنْزَلَ اللّٰهُ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنَ الْفَجْرِ فَعَلِمُوا أَنَّمَا يَعْنِي بِذٰلِكَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ

د سهل بن سعد نه روایت دے کله چه دا ایت نازل شو كُلُوا وَاشْرَبُوا نو بنده چه به کله د روژے نیولو اراده کوله نو دوه تارونه به ئے په خپلو خپو کښې غوټه کړل یو سپین او بل تور او خوراك څکاك به ئے کوو ترهغه وخته پورے چه هغهٔ ته به په لیدو کښې د تور او سپین فرق معلوم شو. بیا الله پاك ددے نه پس د مِنَ الْفَجْرِ لفظ رااولیږو نو هله خلقو ته معلومه شوه چه د تارونو نه مراد شپه او ورځ ده [1].

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ بِلَالًا يُؤَذِّنُ بِلَيْلٍ فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى تَسْمَعُوا تَأْذِينَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ

عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه بلال د شپے اذان ورکوی (ددے دپاره چه د تهجد کونکي خوراك له لاړ شي او د پیشمني نه فارغ شي) نو تاسو خورئ او څکئ ترهغے پورے چه د ابن ام مکتوم اذان واورئ (او هغه نابینا وو. هله چه به خلقو اووے چه صبا شو، صبا شو کله به ئے اذان کوو)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُؤَذِّنَانِ بِلَالٌ وَابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ الْأَعْمٰى فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ بِلَالًا يُؤَذِّنُ

د عبد لله بن عمر نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ دوه مؤذنان وو بلال او ابن مکتوم نابینا. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل بلال د شپے اذان کوی خو تاسو خورئ او څکئ تر هغے پورے چه اذان اوکړی ابن ام مکتوم . او راوی

[1]: ددے روایتونو نه دا هم معلومه شوه چه صبح صادق د تار په شان په عرض شرق کښې مستطیل وی. او کوم چه د عمود په شان اوچت وی هغه صبح کاذب دے او هغه په شپه کښې داخل دے.

بِلَيْلٍ فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يُؤَذِّنَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ قَالَ وَلَمْ يَكُنْ بَيْنَهُمَا إِلاَّ أَنْ يَنْزِلَ هٰذَا وَيَرْقَى هٰذَا

وانې چه دده دوارو په اذان كښې څۀ ډير وخت په مينځ كښې نۀ وو. خو دومره قدر وو چه دے به راكوز شو نو هغه به اوختو[1].

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَمْنَعَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ أَذَانُ بِلاَلٍ أَوْ قَالَ نِدَاءُ بِلاَلٍ مِنْ سُحُورِهِ فَإِنَّهُ يُؤَذِّنُ أَوْ قَالَ يُنَادِي بِلَيْلٍ لِيَرْجِعَ قَائِمَكُمْ وَيُوقِظَ نَائِمَكُمْ وَقَالَ لَيْسَ أَنْ يَقُولَ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَصَوَّبَ يَدَهُ وَرَفَعَهَا حَتّٰى يَقُولَ هٰكَذَا وَفَرَّجَ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ

عبد الله بن مسعود ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل څوك د تاسو نه د بلال ؓ په اذان اوريدو سره د خوراك نه څكه چه هغه اذان كوى د شپے چه واپس شى هغه څوك چه په مانځۀ ولاړ وى ستاسو نه اوبيدار شى خوب كونكى او اوئے فرمائيل چه سحر هغه نۀ دے چه هغه داسے وى او نيغ ئے كړو خپل لاس لره (يعنى كومه رڼا چه د نيزے په شان اوچته وى هغه صبح صادق نۀ دے) د كومے پورے چه هغه داسے نۀ وى او خورے ئے كړے گوتو خپلو لره (يعنى د كومے پورى چه په غاړو د اسمان باندے خورے شوى نۀ وى هغه صبح صادق نۀ دے)

عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ بِهٰذَا الإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ الْفَجْرَ لَيْسَ الَّذِي يَقُولُ هٰكَذَا وَجَمَعَ أَصَابِعَهُ ثُمَّ نَكَسَهَا إِلَى الأَرْضِ وَلٰكِنِ الَّذِي يَقُولُ هٰكَذَا وَوَضَعَ الْمُسَبِّحَةَ عَلَى الْمُسَبِّحَةِ وَمَدَّ يَدَيْهِ

د سليمان تيمى ؓ نه په دے اسناد سره مروى دے دغه روايت كوم چه پورته تير شو مگر په دے كښې داسے دى چه حضرت ﷺ اوفرمائيل چه صبا هغه نۀ دے چه هغه داسے وى او خپلے تولے گوتے ئے جمع كړے او د زمكے په طرف ئے ښكته كړے (يعنى كومه رڼا چه د پاسه نه لاندے طرفته راشى هغه صبح صادق نۀ دے) بلكه صبح صادق هغه دے چه هغه داسے دے او هغه د كلمے گوته د كلمے په گوته باندے كيښوده او دواړه لاسونه ئے خوارۀ كړل (يعنى اشاره ئے اوكړه چه د اسمان په غاړو كښې خوره شى).

عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَانْتَهٰى حَدِيثُ الْمُعْتَمِرِ عِنْدَ قَوْلِهِ يُنَبِّهُ نَائِمَكُمْ

د سليمان تيمى ؓ نه په دے سند سره دغه روايت مروى شوى دے او ختم شو روايت د معتمر تر دے پورے چه هغوى اوفرمائيل اذان د

[1]: مراد دا دے چه بلال ؓ په اذان كوو مخكښې د صبا نه او انتظار به ئے كوو د صبا د ختو. او هلته به حصار وو څۀ به ئے لوستلو. بيا چه به كله راكوز شو نو عبد الله بن ام مكتوم ته به ئے خبر وركړو چه تۀ اذان اوكړه. بيا ابن ام مكتوم به اودس وغيره اوكړو او وراوبه ختو او د طلوع فجر يعنى د صبا د ختو نه مخكښې به ئے اذان اوكړو.

وَيَرْجِعُ قَائِمَكُمْ وَقَالَ إِسْحَاقُ قَالَ جَرِيرٌ فِي حَدِيثِهِ وَلَيْسَ أَنْ يَقُولَ هٰكَذَا وَلٰكِنْ يَقُولُ هٰكَذَا يَعْنِي الْفَجْرَ هُوَ الْمُعْتَرِضُ وَلَيْسَ بِالْمُسْتَطِيلِ

بلالؓ دد ے دپاره د ے. چه ويښ کړي اودو لره او واپس کړي ستاسو تهجد کونکو لره . او اسحاق وائي چه جرير ونيلے دي په خپل حديث کښې او صبا هغه نهٔ د ے چه هغه داسے د ے (يعنې نيغ) ليکن صبا هغه د ے چه هغه داسے وي (يعنې خور شو ے وي).

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ يَقُولُ سَمِعْتُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَغُرَّنَّ أَحَدَكُمْ نِدَاءُ بِلَالٍ مِنَ السَّحُورِ وَلَا هٰذَا الْبَيَاضُ حَتّٰى يَسْتَطِيرَ

سمره خوې د جندبؓ ونيلے دي چه ما اوريدلے دي د محمد رسول اللهﷺ نه چه فرمائيلے ئے وو . څوك دې د بلالؓ په اذان سره د پيشمنى کولو نه پس نهٔ بس کوي. او نهٔ دا سپين والے (چه د نيزے په شان اوچت د ے) صبا د ے بلکه صبا هغه د ے چه هغه خور شي.

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَغُرَّنَّكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ وَلَا هٰذَا الْبَيَاضُ لِعَمُودِ الصُّبْحِ حَتّٰى يَسْتَطِيرَ هٰكَذَا

سمرهؓ وائي رسول اللهﷺ فرمائيلے دي دهوکه دِ نهٔ کړي تاسو لره اذان د بلالؓ او دا سپين والے د سحر ستنے د کومے پورے چه هغه په دې شان خوره شوې نهٔ وي.

بَاب فَضْلِ السَّحُورِ وَاسْتِحْبَابِهِ

باب : د پيشمنى فضيلت

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً

د حضرت انسؓ نه روايت د ے رسول اللهﷺ فرمائيلے دي پيشمنے کوئ په پيشمنى کښې برکت د ے.

عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ فَصْلُ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وَصِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ أَكْلَةُ السَّحَرِ

د حضرت عمرو بن عاصؓ نه روايت د ے رسول اللهﷺ فرمائيلے دي زمونږ او د اهل کتابو په روژه کښې د پيشمنى د نوړئ فرق د ے.

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ تَسَحَّرْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قُمْنَا إِلَى الصَّلَاةِ قُلْتُ كَمْ كَانَ قَدْرُ مَا بَيْنَهُمَا قَالَ خَمْسِينَ آيَةً

زيدؓ وائي پيشمنے اوکړو مونږ د رسول اللهﷺ سره. بيا پاسيدو د سحر مانځهٔ ته . ما اووے د دواړو په مينځ کښې څومره وخت اوشو. هغوی اووے د پنځوسو اٰيتونو برابر.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا

د سهل بن سعدؓ نه روايت د ے چه رسول اللهﷺ فرمائيلے دي هميشه به خلق په خبر باندے وي د کومے پورے چه روژه زر

يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ

عَنْ أَبِي عَطِيَّةَ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَمَسْرُوقٌ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْنَا يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ رَجُلَانِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدُهُمَا يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ وَالْآخَرُ يُؤَخِّرُ الْإِفْطَارَ وَيُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ قَالَتْ أَيُّهُمَا الَّذِي يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ قَالَ قُلْنَا عَبْدُ اللهِ يَعْنِي ابْنَ مَسْعُودٍ قَالَتْ كَذٰلِكَ كَانَ يَصْنَعُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَادَ أَبُو كُرَيْبٍ وَالْآخَرُ أَبُو مُوسٰى

عَنْ أَبِي عَطِيَّةَ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَمَسْرُوقٌ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَقَالَ لَهَا مَسْرُوقٌ رَجُلَانِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِلَاهُمَا لَا يَأْلُو عَنِ الْخَيْرِ أَحَدُهُمَا يُعَجِّلُ الْمَغْرِبَ وَالْإِفْطَارَ وَالْآخَرُ يُؤَخِّرُ الْمَغْرِبَ وَالْإِفْطَارَ فَقَالَتْ مَنْ يُعَجِّلُ الْمَغْرِبَ وَالْإِفْطَارَ قَالَ عَبْدُ اللهِ فَقَالَتْ هٰكَذَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ

بَابُ بَيَانِ وَقْتِ انْقِضَاءِ الصَّوْمِ وَخُرُوجِ النَّهَارِ

ماتوی.

د ابی عطیه رحمه الله نه روایت دے چه هغوی وئیلے دی زهٔ او مسروق رحمه الله د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شو. او عرض مو اوکړو چه اے د مسلمانانو مورا دوه سړی دی د اصحابو د رسول الله ﷺ نه چه یو خو په اول وخت کښې روژه ماتوی او هم په اول وخت کښې مونځ کوی. دویم په روژه ماتولو او مانځهٔ کښې ناوخته کوی. نو هغې تپوس اوکړو چه هغه څوك دے چه په اول وخت کښې روژه ماتوی او په اول وخت کښې مونځ کوی ؟ نو مونږ اووے هغه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دے. او هغې اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ به هم دغه شان کول. زیاته کړے ده ابوکریب په خپل روایت کښې چه وائی دویم ابوموسٰی وو [1].

ابی عطیه رحمه الله وائی چه زهٔ او مسروق رحمه الله د حضرت عائشے رضی الله عنها خواله لاړو. نو مسروق رحمه الله هغے ته اووے چه دوه صحابه د محمد ﷺ چه دواړه د خیر طالبان دی. یو په دوئ کښې د ماښام مونځ او په روژه ماتی کښې جلتی کوی او دویم د ماښام په مانځهٔ او روژه ماتی کښې روسته والے کوی. نو حضرت عائشے رضی الله عنها اووئیل. په مانځهٔ او روژه ماتی کښې جلتی څوك کوی؟ مسروق رحمه الله ورته اووے عبد الله رضی الله عنه. نو حضرت عائشے رضی الله عنها اوفرمائیل. دغه شان رسول الله ﷺ کول.

باب : د روژے د وخت د ختمیدو او د ورځے د ختمیدو بیان

[1]: ددے حدیث نه معلومه شوه چه په اول وخت کښې روژه ماتول او په اول وخت کښې مونځ کول هم مسنون دی. او هدایت دے د رسول الله مقبول ﷺ او هر تابعدار د سنتو لره دا لازم دی.

عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ وَأَدْبَرَ النَّهَارُ وَغَابَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ لَمْ يَذْكُرِ ابْنُ نُمَيْرٍ فَقَدْ

د عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه کله شپه راغله او ورځ لاړه او نمر پریوتو نو روژه ماته کړه. او د ابن نمیر په روایت کښې د فَقَدْ لفظ نشته[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ فَلَمَّا غَابَتِ الشَّمْسُ قَالَ يَا فُلَانُ انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ عَلَيْكَ نَهَارًا قَالَ انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا قَالَ فَنَزَلَ فَجَدَحَ فَأَتَاهُ بِهِ فَشَرِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ مِنْ هَاهُنَا وَجَاءَ اللَّيْلُ مِنْ هَاهُنَا فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ

عبدالله ؓ وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو په سفر کښې د رمضان په میاشت کښې بیا هر کله چه نمر پریوتو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل اے فلانیه کوز شه او زمونږ دپاره ستوان په اوبو کښې حل کړه هغوی عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ اوس خو په تا باندے ورځ ده (یعنی د صحابی دا خیال وو چه د نمر د پریوتو نه پس چه کوم سور والے وی هغه ختم شی نو هله ورځ ختمه شوه حالانکه دا غلطه ده) او زمونږ دپاره ستوان حل کړه بیا هغه کوز شو او ستوان ئے حل کړل او حضور ﷺ له ئے راوړل او حضور ﷺ اُڅکل او په لاس سره ئے اشاره اوکړه چه کله نمر پریوځی دے طرفته (یعنی نمر پریواتهٔ ته) او شپه راشی دے طرفنه (یعنی د نمر راختو نه) پس د روژه دار روژه پرانستے شوه.

عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَلَمَّا غَابَتِ الشَّمْسُ قَالَ لِرَجُلٍ انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ أَمْسَيْتَ قَالَ انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا قَالَ إِنَّ عَلَيْنَا نَهَارًا فَنَزَلَ فَجَدَحَ لَهُ فَشَرِبَ ثُمَّ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ قَدْ أَقْبَلَ مِنْ هَاهُنَا وَأَشَارَ بِيَدِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ

د عبد الله ؓ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کښې وو نو هر کله چه نمر پریوتهٔ نو هغوی ﷺ یو سړی ته اووے چه کوز شه او زمونږ دپاره ستوان حل کړه. هغهٔ عرض اوکړو چه په مونږ خو ورځ ده. بیا هغه کوز شو او ستوان ئے حل کړل نو هغوی ﷺ اُڅکل او بیا ئے اوفرمائیل مشرق طرف ته ئے په لاس سره اشاره کوله چه هر کله تاسو اوګورئ شپه چه ددغه طرف نه راغله نو روژه دار دے روژه ماتوی.

عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللهُ

شیبانی د ابن ابی اوفی نه دغه روایت بیان کړے دے لکه د ابن

---

[1] یعنی د نمر د پریوتو نه پس دِبیا په روژه ماتولو کښې تاخیر نهٔ کوی لکه چه بعضے وسوسے والاوائی لږ اودریږئ چه بے تابی او څهٔ بے صبری ده. او په دے نهٔ پوهیږی چه روژه ماتول په اول وخت کښې مسنون دی. او د نمر پریوتل او د شپے راتلل او د ورځے تلل دا درے واړه په وخت کښې کیږی مګر حضور ﷺ د وضاحت دپاره درے واړه جمع اوفرمائیل او بعضے مقام داسے وی چه د نمر پریوتل نهٔ معلومیږی نو هلته تیره د روژے ماتولو وخت ښائی

عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَدِيثِ ابْنِ مُسْهِرٍ وَعَبَّادٍ وَعَبْدِ الْوَاحِدِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ أَحَدٍ مِنْهُمْ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ وَلاَ قَوْلُهُ وَجَاءَ اللَّيْلُ مِنْ هَا هُنَا إِلاَّ فِي رِوَايَةِ هُشَيْمٍ وَحْدَهُ

مسهر او عباد او عبد الواحد روايتونه چه پورته ذكر شوی دي او په هغې كښې په يو كښې دا نشته چه هغه مياشت د رمضان وه (يعنې په دے سند كښې دغه ذكر نشته) او نه پكښې دا قول شته چه كله راغله شپه دد ے طرفنه مگر دا ذكر صرف د هُشَيم په روايت كښې دے.

بَاب النَّهْيِ عَنِ الْوِصَالِ

باب : د وصال ممانعت

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْوِصَالِ قَالُوا إِنَّكَ تُوَاصِلُ قَالَ إِنِّي لَسْتُ كَهَيْئَتِكُمْ إِنِّي أُطْعَمُ وَأُسْقَى

د عبد اللهؓ نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ منع فرمائيلے ده د وصال نه (يعنې په روژه باند ے د روژ ے نيولو نه چه په مينځ كښې ئے خوراك او نۀ كړی) نو خلقو عرض اوكړو چه حضور ﷺ نه خو وصال كوی. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه زۀ ستاسو په شان نۀ يم په ما باند ے خورولے او څكولے شی (يعنې د پروردگار د طرفنه)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاصَلَ فِي رَمَضَانَ فَوَاصَلَ النَّاسُ فَنَهَاهُمْ قِيلَ لَهُ أَنْتَ تُوَاصِلُ قَالَ إِنِّي لَسْتُ مِثْلَكُمْ إِنِّي أُطْعَمُ وَأُسْقَى

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه نبی ﷺ په رمضان كښې روژه ئے په روژه اونيوله نو خلقو هم روژه په روژه نيول شروع كړل نو هغۀ دوی لره منع كړل خلقو اووے پيغمبر ﷺ خو وصال كوی. نو هغوی اوفرمائيل زۀ ستاسو په شان نۀ يم په ما خوراك او څكاك كيږی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَقُلْ فِي رَمَضَانَ

ابن عمرؓ د نبی ﷺ نه دغسے روايت بيان كړے دے. مگر په دے كښې د رمضان ذكر نشته

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوِصَالِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَإِنَّكَ يَا رَسُولَ اللهِ تُوَاصِلُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَيُّكُمْ مِثْلِي إِنِّي أَبِيتُ يُطْعِمُنِي رَبِّي وَيَسْقِينِي فَلَمَّا

ابوهريرهؓ وائی چه منع اوفرمائيله رسول الله ﷺ د وصال نه نو يو سړی عرض اوكړو چه يا رسول الله ﷺ ته خو وصال كوے. نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل په تاسو كښې څما برابر څوك دے. زۀ خو شپه داسے تيروم چه په ما باند ے څما پروردگار خوروی او څكوی. بيا خلق قلار نۀ شو (دا كمال د محبت او اطاعت وو د رسول الله ﷺ د صحابوؓ او هغوی د ے منع لره په لاړ د شفقت اوگڼړله) د وصال نه نو

أَبَوْا أَنْ يَنْتَهُوا عَنِ الْوِصَالِ وَاصَلَ بِهِمْ يَوْمًا ثُمَّ يَوْمًا ثُمَّ رَأَوُا الْهِلَالَ فَقَالَ لَوْ تَأَخَّرَ الْهِلَالُ لَزِدْتُكُمْ كَالْمُنَكِّلِ لَهُمْ حِينَ أَبَوْا أَنْ يَنْتَهُوا

حضرت ﷺ د هغوی سره وصال اوکړو یوه ورځ بیا په دویمه ورځ بیا سپوږمۍ اولیدے شوه. او حضور ﷺ اوفرمائیل کهٔ چرے سپوږمۍ نهٔ وے ښکاره شوے نو ما به زیات وصال کړے وے او دا فرمائیل د هغهٔ د زجر یعنی رټنے او توبیخ په وجه وو کله چه هغه قلار نهٔ شو د وصال نه[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكُمْ وَالْوِصَالَ قَالُوا فَإِنَّكَ تُوَاصِلُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِنَّكُمْ لَسْتُمْ فِي ذٰلِكَ مِثْلِي إِنِّي أَبِيتُ يُطْعِمُنِي رَبِّي وَيَسْقِينِي فَاكْلَفُوا مِنَ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ

ابوهریرهؓ وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل لرے شئ د وصال نه نو چا عرض اوکړو چه تاسو خو وصال کوئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو ځما برابر نهٔ یئ زهٔ خو شپه شوګیره کوم په دے مزه کښ چه اوخوروی او څکوی ځما پروردګار په ما باندے. او تاسو دومره کارونه په ځائے راوړئ چه د هغے په تاسو کښ طاقت وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَاكْلَفُوا مَا لَكُمْ بِهِ طَاقَةٌ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د وصال نه منع اوفرمائیله او باقی هغه مضمون دے کوم چه عمارهؒ د ابوزُرعه نه روایت کړے دے.

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ فَجِئْتُ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ وَجَاءَ رَجُلٌ آخَرُ

د انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په رمضان کښ مونځ کولو (یعنی د شپے) نو زهٔ راغلم او د هغوی نه یو ډډے ته اودریم. او بل سړے راغے هغه هم اودریدو تردے پورے چه یوه جمع جوړه شوه

---

[1]: علماء د وصال په نهی باندے متفق دی. او هغه روژه په روژه باندے نیول دی بغیر ددے نه چه په مینځ کښ ئے اوخوری او څکی. او امام شافعی او د هغهٔ ملګرو تصریح کړے ده ددے په کراهت باندے او صحیح داده چه دا کراهت تحریمی دے. او یو قول د تنزیهی هم دے مګر نهی باندے جهمور علماء قائل دی. او قاضی عیاض وائی چه علماء مختلف دی په حدیثو د وصال کښ. پس خنو وئیلے دی چه نهی ددے نه په وجه د رحمت او شفقت ده په امت باندے. او یو تولی د سلفو وصال فرمائیلے دے بیا چه څوك قادر وی هغهٔ لره پروا نشته. او ابن وهب او احمد او اسحٰق د وصال جواز فرمائیلے دی د پیشمنی پورے. بیا قاضی عیاض رحمه الله د اکثرو خلقو نه ددے کراهت نقل کړے دے. او خطابیؒ وغیره وئیلے دی چه وصال د رسول الله ﷺ د خصائصو نه دے او حرام دے په امت باندے. او کومو خلقو چه د جواز قول اخستے دے هغوی استدلال کړے دی چه په بعضے لاروِ مسلم کښ راغلے دی چه حضرت ﷺ خلقو لره په سبب د رحمت منع فرمائیلے دی. او دا روایت هم چه د هغے په دلیل کښ فائده ده ددے په جواز باندے دلالت کوی. ګنی صحابه چرته هم ددے مرتکب نهٔ شو کیدے د نهی نه روستو.

فَقَامَ أَيْضًا حَتّٰى كُنَّا رَهْطًا فَلَمَّا حَسَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّا خَلْفَهُ جَعَلَ يَتَجَوَّزُ فِي الصَّلَاةِ ثُمَّ دَخَلَ رَحْلَهُ فَصَلَّى صَلَاةً لَا يُصَلِّيهَا عِنْدَنَا قَالَ قُلْنَا لَهُ حِينَ أَصْبَحْنَا أَفَطِنْتَ لَنَا اللَّيْلَةَ قَالَ فَقَالَ نَعَمْ ذَاكَ الَّذِي حَمَلَنِي عَلَى الَّذِي صَنَعْتُ قَالَ فَأَخَذَ يُوَاصِلُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَاكَ فِي آخِرِ الشَّهْرِ فَأَخَذَ رِجَالٌ مِنْ أَصْحَابِهِ يُوَاصِلُونَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَالُ رِجَالٍ يُوَاصِلُونَ إِنَّكُمْ لَسْتُمْ مِثْلِي أَمَا وَاللهِ لَوْ تَمَادَّ لِي الشَّهْرُ لَوَاصَلْتُ وِصَالًا يَدَعُ الْمُتَعَمِّقُونَ تَعَمُّقَهُمْ

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ وَاصَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَوَّلِ شَهْرِ رَمَضَانَ فَوَاصَلَ نَاسٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَبَلَغَهُ ذٰلِكَ فَقَالَ لَوْ مُدَّ لَنَا الشَّهْرُ لَوَاصَلْنَا وِصَالًا يَدَعُ الْمُتَعَمِّقُونَ تَعَمُّقَهُمْ إِنَّكُمْ لَسْتُمْ مِثْلِي أَوْ قَالَ إِنِّي لَسْتُ مِثْلَكُمْ إِنِّي أَظَلُّ يُطْعِمُنِي رَبِّي وَيَسْقِينِي

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ نَهَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوِصَالِ رَحْمَةً لَهُمْ فَقَالُوا إِنَّكَ

(یعنی د لسو نه کمه) بیا چه کله هغوی زمونږ ملګرتیا اومونده نو مونږ ئے اسان لوستل شروع کړل (سبحان الله څومره محبت ئے وو د امت سره) بیائے خپل کورته تشریف یوړو. او داسے مونږ ئے اوکړه (یعنی اوږد) چه زمونږ سره ئی نهٔ کولو. بیا مونږ سحر دد ے ذکر اوکړو چه تاته د شپے زمونږ د اقتداء څهٔ خبر اوشو. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه آو په دے وجه خو ما اوکړو هغه چه څهٔ مے کول (یعنی مونږ مے لنډ کړو) بیا هغوی وصال شروع کړو او هغه ورځ د میاشتے آخره ورځ وه. نو نورو خلقو هم وصال شروع کړو. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل څهٔ حال دے د خلقو چه وصال کوی. تاسو ځما په شان نهٔ یئ په الله قسم دے کهٔ چرے میاشت زیاته وے نو ما به داسے وصال کړے وو چه زیاتی کونکو به خپل زیاتے پریخودے وو.

انس ؓ وائی رسول الله ﷺ د رمضان په آخر کښ وصال اوکړو او نورو خلقو هم اوکړو. او حضرت ﷺ ته خبر اورسیدو نو هغهٔ اوفرمائیل کهٔ چرے میاشت اوږده وے نو ما به داسے وصال کړے وو چه د حد نه تیریدونکو به خپل زیاتے پریخے وے (یعنی کمزوری شوی به وو او حقیقت داد ے چه مونږ ټول د هغهٔ نه کمزوری یو) نو تاسو ځما برابر نهٔ یئ. یائے اوفرمائیل چه زهٔ ستاسو په شان نهٔ یم (رښتیا ده چه نسبت خاک را به عالم پاک) زهٔ داسے اوسیږم چه ځما رب په ما خوروی او څکوی.

د حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه هغے فرمائیلی دی منع کړے دی خلقو لره رسول الله ﷺ د وصال نه د رحمت په نظر سره. او عرض اوکړو خلقو چه تاسو خو وصال کوئ نو حضرت ﷺ

تُوَاصِلُ قَالَ إِنِّي لَسْتُ كَهَيْئَتِكُمْ إِنِّي يُطْعِمُنِي رَبِّي وَيَسْقِينِي

بَاب بَيَانِ أَنَّ الْقُبْلَةَ فِي الصَّوْمِ لَيْسَتْ مُحَرَّمَةً عَلَى مَنْ لَمْ تُحَرِّكْ شَهْوَتَهُ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ إِحْدَى نِسَائِهِ وَهُوَ صَائِمٌ ثُمَّ تَضْحَكُ

عَنْ سُفْيَانَ قَالَ قُلْتُ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ أَسَمِعْتَ أَبَاكَ يُحَدِّثُ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ فَسَكَتَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ نَعَمْ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُنِي وَهُوَ صَائِمٌ وَأَيُّكُمْ يَمْلِكُ إِرْبَهُ كَمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْلِكُ إِرْبَهُ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ وَهُوَ صَائِمٌ وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ وَلَكِنَّهُ أَمْلَكُكُمْ لِإِرْبِهِ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ

اوفرمائيل زهٔ ستاسو په شان نهٔ يم . په ما څما رب خوروی او څکوی (دلته مؤلفؒ بياض پريخے دے)[1].

باب : روژه په خله ښکلول جائز دی په شرط ددے سره چه شهوت نه وی

دامّ المؤمنين حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ به خپله يوه بی بی صاحبه ښکلوله. او هغوی به روژه دار وو. بی بی صاحبے دا فرمائيل او خندل ئے.

سفيان وائی ما د قاسم د ځوئ عبد الرحمٰن نه تپوس اوکړو چه ولے تا د خپل پلار نه اوريدلے دی چه هغه د حضرت عائشےؓ د ژبے بيان کوؤ چه رسول اللهﷺ به هغه ښکلو له په روژه کښې؟ هغه د لږ ساعت دپاره چپ وو بيائے اووے چه آو.

ام المؤمنين حضرت عائشهؓ فرمائي چه رسول اللهﷺ به زهٔ ښکلولم او هغوی به روژه دار وو او څوك خپل شهوت داسے قابو كولے شی لكه هغوی چه به قابو كولو.

د اُمّ المؤمنين حضرت عائشهؓ نه روايت دے وائی چه رسول اللهﷺ به د روژے په حالت كښې ښکلول كولو. او هغوی به خپل حاجت لره ښهٔ په قابو كښې ساتلو والاوو.

د اُمّ المؤمنين حضرت عائشهؓ نه روايت دے فرمائی چه رسول اللهﷺ به مباشرت (يعنی ښکلول غاړه وتل) كولو او هغه به روژه نيولے وه.

---

[1] : سبحان الله د محدثينو د احتياط په څهٔ اووے چه د ډيرو كالو داسے د مؤلف په كتاب كښې دا شعر راروان دے نو دے لره نقل كوی او د خپل طرفنه پكښې تصرف نهٔ كوی. دا چا بل چا ته كوم ځائے نصيب كيږی. په زادالمعاد كښې ابن قيم دوصال په تحقيق كښې پوره خبرے كړے دی چه د زياتو دلته امكان نشته. چا ته چه مزيد تحقيق يعنی پوره معلومات پكار وی هغه د اوګوری.

عَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ انْطَلَقْتُ أَنَا وَمَسْرُوقٌ إِلَى عَائِشَةَ فَقُلْنَا لَهَا أَكَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ قَالَتْ نَعَمْ وَلَكِنَّهُ كَانَ أَمْلَكَكُمْ لِإِرْبِهِ أَوْ مِنْ أَمْلَكِكُمْ لِإِرْبِهِ شَكَّ أَبُو عَاصِمٍ

اسودؓ وائی زۀ او مسروقؓ د حضرت عائشےؓ په خدمت کښې حاضر کښې حاضر شو. او مونږ تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ به په روژه کښې مباشرت کولو. هغوی او فرمائیل چه آو. مګر هغوی ډیر خپل حاجت لره قابو کولو والاوو.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ

د عروهؓ نه روایت دے چه خبر کړے دے هغۀ لره حضرت عائشےؓ چه رسول الله ﷺ به هغه ښکلو له او هغوی به روژه دار وو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُقَبِّلُ فِي شَهْرِ الصَّوْمِ

حضرت عائشهؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ به ښکلول کول د روژے په میاشت کښې.

عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهُ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُقَبِّلُ الصَّائِمُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَلْ هَذِهِ لِأُمِّ سَلَمَةَ فَأَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ ذَلِكَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَتْقَاكُمْ لِلَّهِ وَأَخْشَاكُمْ لَهُ

عمر بن ابوسلمهؓ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه روژه دار ښکلول کولے شی. حضور ﷺ ورته اوفرمائیل د ام سلمهؓ نه تپوس اوکړه. ام سلمهؓ خبر ورکړو چه آو! رسول الله ﷺ هم ښکلو کوی بیا عمر بن ابو سلمهؓ عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ الله تعالی خو ستا رومبی روستی ګناهونه ټول معاف کړے دی. نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه خبر شه زۀ ستاسو د ټولو نه زیات د اللهؓ نه یریدونکے او خوف کونکے یم[1].

---

[1]: غرض ددے روایتونو نه ښکلول د رسول الله ﷺ او جواز د هغه د امت دپاره ثابت شو. او ابوداؤد چه د کوم د حضرت عائشے نه روایت کړے دے چه حضرت ﷺ به د هغے ژبه چوپله. په دے کښې مصدع راوی ضعیف دے. چه سعدی وئیلے دی چه هغه کوږ دلارے نه واپس شوی دے او دغه شان محمد بن دینار هم په دے کښې ضعیف دے چه یحیٰی هغۀ ته ضعیف وئیلے دے. او ابن ماجه او احمد چه کوم د میمونے نه روایت کړے دے چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو د هغه سړی او ښځے په باره کښې چه روژه دار وی او هغوی ښکلول او په دے کښې ابویزید ضبنی راوی دے او ابویزید مجهول دے.او د رسول الله ﷺ نه مطلقًا جواز د ښکلولو ذکر دے د چا خوان او زوړ قید پکښې نۀ دے صحیح شوے د هغوی نه او د هغے فرق د یو صحیح حدیث نه ثابت نۀ دے. او په دے باب کښې چه کوم روایت ابوداؤد ذکر کړے دے د ابوهریره نه چه یو سړی د حضور ﷺ نه تپوس اوکړو چه مباشرت صائم له روا دے یا نه نو حضرت ﷺ اجازت ورکړو. بل تپوس اوکړو نو هغه ئے منع کړو. بیا چه کوم ته ئے رخصت ورکړے وو هغه بوډا وو او چا له چه ئے منع کړے وو هغه ځوان وو. په دی کښې اسرائیل راوی دے. او اګر چه ددۀ نه بخاری او مسلم احتجاج کوی مګر د اسرائیل او اعرج په مینځ کښې ابوالعنبس عدوی کوفی دے او هغه داسے سړے دے چه ددۀ د حدیث اخستو نه محدثین ساکت شوے دی. او نوم د هغۀ حارث بن عبید دے. غرض دا فرق هم د تسلیمولو قابل نۀ دے کذا في زاد المعاد. او نووی فرمائیلے دی چه د امام شافعي او د هغۀ

بَاب صِحَّةِ صَوْمِ مَنْ طَلَعَ عَلَيْهِ الْفَجْرُ وَهُوَ جُنُبٌ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ فِي قَصَصِهِ مَنْ أَدْرَكَهُ الْفَجْرُ جُنُبًا فَلَا يَصُمْ فَذَكَرْتُ ذَٰلِكَ لِعَبْدِ الرَّحْمَٰنِ بْنِ الْحَارِثِ لِأَبِيهِ فَأَنْكَرَ ذَٰلِكَ فَانْطَلَقَ عَبْدُ الرَّحْمَٰنِ وَانْطَلَقْتُ مَعَهُ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى عَائِشَةَ وَأُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فَسَأَلَهُمَا عَبْدُ الرَّحْمَٰنِ عَنْ ذَٰلِكَ قَالَ فَكِلْتَاهُمَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصْبِحُ جُنُبًا مِنْ غَيْرِ حُلُمٍ ثُمَّ يَصُومُ قَالَ فَانْطَلَقْنَا حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى مَرْوَانَ فَذَكَرَ ذَٰلِكَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمَٰنِ فَقَالَ مَرْوَانُ عَزَمْتُ عَلَيْكَ إِلَّا مَا ذَهَبْتَ إِلَى أَبِي هُرَيْرَةَ فَرَدَدْتَ عَلَيْهِ مَا يَقُولُ قَالَ فَجِئْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ وَأَبُو بَكْرٍ حَاضِرُ ذَٰلِكَ كُلِّهِ قَالَ فَذَكَرَ لَهُ

باب: په روژه کښې کۀ په جُنُب صبا شي نو روژه صحيح ده

ابوهريرهؓ په خپلو روايتونو کښې وئيلے وو. چه په چا د جنابت په حالت کښې صبا شي هغه دے روژه نۀ نيسي (دا مقوله د ابوبکر بن عبد الرحمٰن) نو ما عبد الرحمٰن ته اووے چه خما پلار وو هغه دد ے نه انکار اوکړو او مونږ دواړه (يعنې ابوبکر او عبد الرحمٰن) د حضرت عائشےؓ او ام سلمهؓ خواله لاړو او عبد الرحمٰن د هغوی نه تپوس اوکړو. نو هغوی دواړو اوفرمائيل چه رسول اللهﷺ ته په حالت د جُنابت کښې صبا کيدو او بيا به ئے روژه نيوله او جُنابت به ئے بغير د احتلام نه شوے وو (ځکه چه انبياؤ ته احتلام نۀ کيږي يعنې د بيبيانو په صحبت سره ئے جنابت راځی) ابوبکرؓ وائی بيا مونږ د مروان خواله لاړو. او عبدالرحمٰن هغۀ ته ذکر اوکړو نو مروان اووے زۀ تاسو له قسم درکوم چه تاسو د ابوهريرهؓ خواله لاړشئ او د هغۀ د خبرے جواب ورکړئ بيا مونږ د ابوهريرهؓ خواله راغلو او ابوبکر په دے ټولو خبرو کښې حاضر وو. او عبد الرّحمٰن ورته دد ے ذکر اوکړو نو ابوهريرهؓ

د ملګرو مذهب دادے چه ښکلول په روژه کښې حرام نۀ دی داسے سړی له چه د هغۀ شهوت په حرکت کښې نۀ راځی مګر پرينښودل ئے اولی دی او مکروه نۀ دی ښکلول د هغوی په نز. او د چا چه شهوت په حرکت کښې راځی هغه لره ښکلول حرام دی او يره وی ددۀ چه جماع به اوکړی. او بعضو ددۀ په حق کښې مکروه وئيلے دی. او قاضی عياض وئيلے دی چه دد ے د جواز قائل دے يو جماعت د صحابۆ او تابعينو نه او دغه مذهب دے د اسحٰق او د احمد او ابوداؤد . او مطلق مکروه ورته امام مالك وئيلے دی . او ابن عباس او ابوحنيفه او ثوری اوزاعی او شافعی وئيلے دی چه خوان لره مکروه دی او بوډا لره مباح دی او د امام مالك نه هم يو روايت دغسے دے. او روايت کړے دے ابن وهب د مالك نه د جواز دد ے په روژه نفلی کښې نۀ په فرض کښې او په دے باندے اتفاق دے چه په ښکلولو سره روژه نۀ باطليږی. مګر هله په انزال اوشی (يعنې منی اوځی) او احتجاج ئے کړے دے په دے باندے دد ے حديث نه چه په سنن کښې مشهور دے چه فرمائيلے دی حضورﷺ چه عجيبه ده ګوره کۀ خوله خلے ته اوبۀ واچوی. او مراد دادے چه لکه څنګه خلے ته اوبۀ اچول مقدمه ده د څکلو او د روژے باطلونکی نۀ دی. دغه شان ښکلول مقدمه ده د جماع او د روژے باطلونکی نۀ شی ګرځيدے

عَبْدُ الرَّحْمٰنِ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَهُمَا قَالَتَاهُ لَكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ هُمَا أَعْلَمُ ثُمَّ رَدَّ أَبُو هُرَيْرَةَ مَا كَانَ يَقُولُ فِي ذٰلِكَ إِلَى الْفَضْلِ بْنِ الْعَبَّاسِ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ سَمِعْتُ ذٰلِكَ مِنَ الْفَضْلِ وَلَمْ أَسْمَعْهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَرَجَعَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَمَّا كَانَ يَقُولُ فِي ذٰلِكَ قُلْتُ لِعَبْدِ الْمَلِكِ أَقَالَتَا فِي رَمَضَانَ قَالَ كَذٰلِكَ كَانَ يُصْبِحُ جُنُبًا مِنْ غَيْرِ حُلُمٍ ثُمَّ يَصُومُ

اووے. دے دوارو بیبیانو تاسو ته دا اوفرمائیل هغوی اووے آو نو ابوهریره ؓ دد ے قول نسبت فضل بن عباس ؓ ته اوکړو. او ابوهریره ؓ اووے چه دا خبره ما د فضل نه اوریدلے وه. او دا ماد نبی کریم ﷺ نه نۀ ده اوریدلے. غرض دا ابوهریره ؓ د خپلے خبرے نه واپس شو کومه چه به هغه په دے مسئله کښې کوله بیا ما (دا مقوله ده د ابن جریج عبد الملك ته اووے آیا دےدوارو بیبیانو د رمضان روژے ته اووے هغوی اووے چه داسے اوفرمائیل بیبیانو چه سحر کیدو به په هغوی د جنابت په حالت کښې بغیر د احتلام نه او بیا به هغوی روژه نیوله [1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ كَعْبٍ الْحِمْيَرِيِّ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ حَدَّثَهُ أَنَّ مَرْوَانَ أَرْسَلَهُ إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا يَسْأَلُ عَنِ الرَّجُلِ يُصْبِحُ جُنُبًا أَيَصُومُ فَقَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصْبِحُ جُنُبًا مِنْ جِمَاعٍ لَا

د عبد الله بن کعب ؓ نه روایت دے چه ابوبکر بن عبد الرحمٰن هغوی ته بیان کړے دے چه مروان هغوی لره اولیږل د ام سلمه په طرف چه په کوم سړی صبا شی په جنابت کښې چه هغه به روژه نیسی او کۀ نه؟ هغوی اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ به صبا کوو په جنابت کښې د جماع په وجه نۀ د احتلام په وجه او بیا به ئے نۀ روژه

[1]: ابوهریره دد ے قول نسبت د فضل ته اوکړو الخ یعنی ابوهریره د فضل نه مرفوعًا روایت کړے دے چه څوك جُنُب وی او په هغۀ صباشی نو هغه دے روژه نۀ نیسی. او مذهب صحیح دادے چه روژه صحیح ده. ځکه چه الله پاك فرمائیلے دی چه مباشرت کوئ د ښځو سره او لټوئ هغه څۀ چه الله ستاسو دپاره لیکلی دی او خورئ او څکئ د هغے پورې چه ظاهر شی سپین تار د صبا د آخره پورے. پس هر کله چه د صبا پورې مباشرت یعنی جماع جائز شوه نو خامخا د صبا د راختو نه پس غسل شو. اوس پاتے شو جواب د فضل د روایت نو د هغے څو جوابونه دی. اول دا چه هغه خبره غوره ده چه رسول الله ﷺ به د صبا د ختو نه پس خپل دا بیان د جواز دپاره وو. مگر غوره د صبا نه مخکښې لامبل دی. دویم دا کیدے شی چه د فضل په روایت کښې د جُنُب نه هغه سړے مراد وی چه هغه جماع کوی پس د راختلو د صبا نه نو بیشکه د هغۀ روژه نۀ کیږی اوس په دے کښې موافقت راغے او تعارض هم پاتے نۀ شو. او دریم دا چه د فضل روایت منسوخ دے او د هغه وخت خبره ده چه کله جماع د شپے حرامه وه. بیا چه کله دا آیت نازل شو کوم چه مونږ پورته بیان کړو هله دا امر منسوخ شو. او ابن منذر وائی چه دا جواب ډیر ښۀ دے (خلاصه دا چه اوس خبره صحیح دغه چه جُنُب کچرے د صبا راختو نه پس غسل اوکړی نو هم ئے روژه صحیح ده. او په دے باندے دلیل دے: قران مجید او حدیث شریف دواړو او دغه مذهب دے د جماهیر اصحابو او تابعینو او رجوع کړے ده دد ے طرفته ابوهریره اگر چه مخکښې د فساد صوم قائل وو او دغه حکم دے د حیض او د نفاس چه هر کله وینه د ښځے د شپے بنده شی او د صبا د راختو نه پس غسل اوکړی نو روژے د هغوی صحیح دی.

مِنْ حُلُمٍ ثُمَّ لَا يُفْطِرُ وَلَا يَقْضِي

ماتوله او نه به ئې قضاء راوړله (يعنی روژه به ئې صحيح ګڼړله)[1]

عَنْ عَائِشَةَ وَأُمِّ سَلَمَةَ زَوْجَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمَا قَالَتَا إِنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُصْبِحُ جُنُبًا مِنْ جِمَاعٍ غَيْرِ احْتِلَامٍ فِي رَمَضَانَ ثُمَّ يَصُومُ

حضرت عائشه او حضرت ام سلمه د دواړو بيبيانو د رسول الله ﷺ نه روايت دے دوی دواړه فرمائی چه رسول الله ﷺ به صبا کوو په جنابت کښ بغير د احتلام نه په رمضان کښ او بيا به ئې روژه نيوله

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَفْتِيهِ وَهِيَ تَسْمَعُ مِنْ وَرَاءِ الْبَابِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ تُدْرِكُنِي الصَّلَاةُ وَأَنَا جُنُبٌ أَفَأَصُومُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا تُدْرِكُنِي الصَّلَاةُ وَأَنَا جُنُبٌ فَأَصُومُ فَقَالَ لَسْتَ مِثْلَنَا يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ فَقَالَ وَاللهِ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَعْلَمَكُمْ بِمَا أَتَّقِي

د حضرت عائشے نه روايت دے چه يو سړی د نبی کريم ﷺ نه تپوس اوکړو او حضرت عائشے د دروازے شاته اوريده. غرض دا چه اے الله رسوله! په ما د مانځۀ وخت راشی او زۀ جنب يم آيا زۀ به روژه نيسم؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل په ما هم د مانځۀ وخت راشی او زۀ جنب يم بيا زۀ روژه اونيسم هغۀ عرض اوکړو چه يا د الله رسوله! تاسو او مونږ برابر نه يو. ځکه چه الله پاک تا ته وړاندے روستو ګناهونه بخلی دی. حضرت ﷺ اوفرمائيل قسم دے په الله پاک چه زۀ اميد لرم چه زۀ ستاسو نه زيات د الله نه ويريدونکے يم او تاسو د ټولو نه زيات پوهه يم په هغه څيزونو چه د هغے نه بچ کيدل ضروری دی. (غرض دا د سوال کونکی دا ګمان شو چه کيدے شی دا حکم د حضور ﷺ سره خاص دے مګر هغوی اوفرمائيل چه دا حکم ځما او ستاسو دپاره يو شان دے. او ددے حديث نه معلومه شوه چه بنده په څۀ حالت کښ د تکليف شرعی نه او لوازم عبديت نه بهر نۀ شی کيدے. او حضرت ﷺ اوفرمائيل چه زۀ اميد لرم. دا کمال عبديت دے ورنه په

[1] : ددے نه رد راغلے په هغه قول چه د حسن بصری او نخعی طرفته ئے نسبت دے. چه په نفلی روژه کښ خو دا امر جائز دے او په فرض کښ روا نۀ دے او د هغۀ قول هم کوم چه د سالم بن عبد الله او حسن بصری او حسن بن صالح په طرف منسوب دے چه روژه خو به نيسی مګر قضا به ئے هم راوړی. غرض دا چه اوس په دے مسئله کښ اختلاف ختم شوے دے. او اتفاق راغلے دے په دے باندے چه څوک جنب شی او د صبا د ختو نه پس غسل اوکړی نو روژه د هغۀ صحيح ده. خواه کۀ فرض وی يا نفل. او نۀ په هغۀ باندی قضاء شته او نۀ څۀ بله بلا.

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنِ الرَّجُلِ يُصْبِحُ جُنُبًا أَيَصُومُ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُصْبِحُ جُنُبًا مِنْ غَيْرِ احْتِلَامٍ ثُمَّ يَصُومُ

واقع کېږي د حضرت ﷺ مرتبه د ټول جهان نه علم و اتقىٰ دے)

د سليمانؓ نه روايت دے چه د ام سلمهؓ نه هغوی تپوس اوکړو چه کوم سړے صبا کړي په جنابت کښې هغه به روژه نيسي؟ هغوی اوفرمائيل چه رسول الله ﷺ به صبا کوو په جنابت کښې بغير د احتلام نه او بيا به ئې روژه نيوله

بَابُ تَغْلِيظِ تَحْرِيمِ الْجِمَاعِ فِي نَهَارِ رَمَضَانَ عَلَى الصَّائِمِ

باب: په روژه دار باندے په رمضان کښې د ورځے د جماع کولو د سخت حرمت بيان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَلَكْتُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَمَا أَهْلَكَكَ قَالَ وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي فِي رَمَضَانَ قَالَ هَلْ تَجِدُ مَا تُعْتِقُ رَقَبَةً قَالَ لَا قَالَ فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ قَالَ لَا قَالَ فَهَلْ تَجِدُ مَا تُطْعِمُ سِتِّينَ مِسْكِينًا قَالَ لَا قَالَ ثُمَّ جَلَسَ فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ فَقَالَ تَصَدَّقْ بِهَذَا قَالَ أَفْقَرَ مِنَّا فَمَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا أَهْلُ بَيْتٍ أَحْوَجُ إِلَيْهِ مِنَّا فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ ثُمَّ قَالَ اذْهَبْ فَأَطْعِمْهُ أَهْلَكَ

ابوهريرهؓ وائي چه يو سړے رسول الله ﷺ له راغے. او اوئې وئيل چه زهٔ هلاك شوم يا رسول الله ﷺ، حضور ﷺ اوفرمائيل چا هلاك کړو تا له؟ هغهٔ غرض اوکړو چه زهٔ په خپله بي بي باندے پريوتم په رمضان کښې (يعني جماع مې اوکړه) حضور ﷺ اوفرمائيل چه ته يو غلام يا يو وينځه ازادولے شے؟ هغهٔ اووے نه حضور ﷺ اوفرمائيل دوه مياشتے پرله پسے روژے نيولے شے؟ هغهٔ اووے نه حضور ﷺ ورته اووے په شپيتو مسکينانو باندے غله خورلے شے؟ هغهٔ اووے نه بيا هغه ناست وو. تر دے پورے چه حضور ﷺ له يوه توکرئ د کهجورو راغله حضور ورته اوفرمائيل. خه دا دے صدقه ورکړه مسکينانو ته هغوی اووی خما نه زيات څوك مسکين دے؟ د مدينے څوك کور والا خما نه زيات محتاج نشته دے نو نبي ﷺ په خندا شو تر دے پورے چه د هغهٔ غابښونه مبارك ښکاره شو اووے فرمائيل چه دا واخله او په خپل عيال باندے ئې اوخوروه[1].

---

[1]: د دے حديث نه معلومه شوه چه څوك د رمضان په ورځو کښې جماع اوکړي او د رمضان روژه په جماع سره ماته کړي. نو په هغهٔ باندے کفاره واجب ده. او نووی فرمائيلي دی چه دغه مذهب دے زمونږ او مذهب دے د کافه علماؤ، هر کله چه جماع قصداً واقع شی نو کفاره د ښځے دغه ده چه يو څټ آزادول چه هغه مؤمن او مسلمان وی. او د عيبونو نه پاك وی. چه هغه په محنت او خدمت کښې خلل

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمٍ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ رِوَايَةِ ابْنِ عُيَيْنَةَ وَقَالَ بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ وَهُوَ الزِّنْبِيلُ وَلَمْ يَذْكُرْ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ

محمد بن مسلم زهری په دغه اسناد سره دا حدیث روایت کړے دے لکه څنګه چه ابن عیینه روایت کړے دے او په دے کښ ئے وئیلی دی چه عرق (یعنی توکری) هغه خاص زنبیل دے او په دے کښ د حضور ﷺ د خندا ذکر نشته دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا وَقَعَ بِامْرَأَتِهِ فِي رَمَضَانَ فَاسْتَفْتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً قَالَ لَا قَالَ وَهَلْ تَسْتَطِيعُ صِيَامَ شَهْرَيْنِ قَالَ لَا قَالَ فَأَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا

ابوهریرهؓ وائی چه یو سړی جماع اوکړه د رمضان په ورځ کښ او د نبی کریم نه ے تپوس اوکړو نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه یو غلام یا وینځه ازادولے شے؟ هغهٔ اووے نه بیائے اوفرمائیل دوه میاشتے روژے نیولے شے؟ هغهٔ اووئیل نه بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل په شپیتو مسکینانو غله اوخوروه [1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ رَجُلًا أَفْطَرَ فِي رَمَضَانَ أَنْ يُعْتِقَ رَقَبَةً أَوْ يَصُومَ شَهْرَيْنِ أَوْ يُطْعِمَ سِتِّينَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ حکم اوکړو یو سړی ته چه هغه روژه ماته کړے وه په رمضان کښ چه ازاد کړه یو غلام لره یا دوه میاشتے روژے اونیسه یا شپیتهٔ مسکینانو

انداز کیږی نه مثلاً ګوډ یا شل نهٔ وی. بیا کهٔ دد ے طاقت ئے نهٔ وی نو دوه میاشتے پرله پسے روژے نیول دی بیا کهٔ چرے دا هم نهٔ شی کیدے نو طعام شپیتو مسکینانو ته او هر مسکین ته یو سیر غله ورکول دی چه په عربئ کښ ورته مُد وائی بیا کهٔ چرے دد ے درے واړو طاقت ئے نهٔ وی نو د شافعی دوه قوله نه دی. اول دا چه په دهٔ باند ے څهٔ واجب نهٔ دی. او کهٔ دد ےنه پس ئے طاقت هم اوشی بیا پر ے هم څهٔ واجب نهٔ دی. او دد ے دلیل دا حدیث دے. چه په دے کښ چه سائل کومه خپله کمزوری بیان کړه. نو حضور ﷺ ورته دا اونهٔ فرمائیل چه ستا کله طاقت اوشی نو بیا به کفاره ادا کړے. او دویم قول دادے چه په وخت د استطاعت په دهٔ باند ے د کفار ے ادا کول واجب دی. او دے ته نووی صحیح او مختار وئیلے دی. او دلیل د هغے دادے چه حضور ﷺ له کله توکرئ د کهجورو راغله. نو هغوی اوفرمائیل چه دد ےنه صدقه ورکړه حالانکه مخکښ د هغهٔ د نهٔ طاقت په دریو خبرو کښ ظاهره شوے ده. دد ے نه معلومه شوه چه په شان د تولو د ورکولو په وخت د ادا کولو طاقت ضروری دے. او کفاره د هغهٔ په ذمه باقی پاتے شوه. او عرق کوم چه په حدیث کښ راغلے دے هغه د فقهاؤ په نز پنځلس اوګی دے چه شپیتهٔ مده ترے جوړیږی. پس هر مسکین له یو مد ورکول ضروری دی.

[1] دد ے حدیث نه حنفیو استدلال کړے دے چه کفاره په رمضان کښ کافر غلام ازادول هم روا دی او دغه شان د ظهار په کفاره کښ. او د مؤمن څټ ازادول صرف د قتل په کفاره کښ ضروری دی ځکه چه په دے کښ د ایمان شرط منصوص قرانی دے. مګر د جمهورو مذهب دادے چه په ټولو کفارو کښ د مؤمن څټ ازادول ضروری دی. ځکه چه کوم ځائے مطلب رقبه ذکر دے. هغے لره محمول کوی په رقبه مؤمنه باند ے دد ے قید په لحاظ سره چه په قران کښ د قتل په کفاره کښ ذکر دی. او قاعده د اصولو دغه ده چه مطلق لره په مقید باند ے محمول کوی. کذا قال النووی فی شرحه مسلم.

مِسْكِينًا

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ احْتَرَقْتُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَ قَالَ وَطِئْتُ امْرَأَتِي فِي رَمَضَانَ نَهَارًا قَالَ تَصَدَّقْ تَصَدَّقْ قَالَ مَا عِنْدِي شَيْءٌ فَأَمَرَهُ أَنْ يَجْلِسَ فَجَاءَهُ عَرَقَانِ فِيهِمَا طَعَامٌ فَأَمَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِهِ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا تَقُولُ أَتَى رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ وَلَيْسَ فِي أَوَّلِ الْحَدِيثِ تَصَدَّقْ تَصَدَّقْ وَلَا قَوْلُهُ نَهَارًا

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقُولُ أَتَى رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فِي رَمَضَانَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ احْتَرَقْتُ احْتَرَقْتُ فَسَأَلَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَأْنُهُ فَقَالَ أَصَبْتُ أَهْلِي قَالَ تَصَدَّقْ فَقَالَ وَاللهِ يَا نَبِيَّ اللهِ مَا لِي شَيْءٌ وَمَا أَقْدِرُ عَلَيْهِ قَالَ اجْلِسْ فَجَلَسَ فَبَيْنَا هُوَ عَلَى ذَلِكَ أَقْبَلَ رَجُلٌ يَسُوقُ حِمَارًا عَلَيْهِ

لره طعام ورکړه.

د حضرت عائشې نه روایت دے چه هغوی فرمائیلي دي چه یو سړے راغے رسول الله ﷺ ته اواوئے وئیل چه زۀ اوسوم حضرت ﷺ اوفرمائیل ولے؟ هغۀ عرض اوکړو ما جماع اوکړه په رمضان کښې د ورځے د خپلے ښځے سره. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل صدقه ورکړه صدقه ورکړه. هغۀ عرض اوکړو خما سره خو څۀ موجود نشته دے. په دے وخت حضرت له دوه بورئ رالے د خوراك دپاره (یعنی غله یا کهجوره) حضرت ﷺ اوفرمائیل دا صدقه ورکړه [1].

د مومنانو مور حضرت عائشه فرمائیلي دي چه یو سړے رسول الله ﷺ له راغےاو دے حدیث لره ئے ذکر کړو لکه چه پورته بیان شو. مګر دے په اول کښې صدقه ورکړه صدقه ورکړه نشته دے او نۀ د ورځے لفظ پکښې شته.

حضرت عائشه فرمائی چه یو سړے راغے نبی کریم ﷺ ته په جماعت کښې په رمضان کښې او عرض ئے اوکړو یا رسول الله ﷺ! زۀ اوسوم زۀ اوسوم حضرت ﷺ اوفرمائیل څۀ حال دے ددۀ . هغۀ عرض اوکړو چه ما د خپلے بی بی سره صحبت اوکړو . حضرت ﷺ اوفرمائیل صدقه ورکړه. هغۀ عرض اوکړو په الله قسم دے اے د الله نبی ﷺ خما سره څۀ نشته دے او نۀ زۀ څۀ ورکولے شم حضرت ﷺ اوفرمائیل کینښنه هغه کینښناستو. اوهغه په دے حال کښې وو چه یو سړے راغے او د غلے بار کړے یو خر ورسره وو.

---

[1] : صدقه ورکړه یعنی هغه شپیته مسکینانو باندے غله خوړول لکه چه پورته ذکر شو. په نورو روایتونو کښې ددے صدقے

طَعَامٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ الْمُحْتَرِقُ آنِفًا فَقَامَ الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَصَدَّقْ بِهٰذَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَغَيْرَنَا فَوَاللهِ إِنَّا لَجِيَاعٌ مَا لَنَا شَيْءٌ قَالَ فَكُلُوهُ

حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه سوزیدو والا کوم ځائے دے. کوم چه اوس دلته وو؟ نو هغه اودریدو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل دا واخله او صدقه ورکړه هغهٔ عرض اوکړو چه ولې خما نه سوا دده مستحق بل څوك دے ؟ په الله قسم چه مونږ اوږی یو او زمونږ سره څهٔ شے نشته دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل واخله دا اوخورئ.

بَاب جَوَازِ الصَّوْمِ وَالْفِطْرِ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ لِلْمُسَافِرِ فِي غَيْرِ مَعْصِيَةٍ إِذَا كَانَ سَفَرُهُ مَرْحَلَتَيْنِ فَأَكْثَرَ

باب : په رمضان کښې مسافر لره روژه نیول او ماتول دواړه جائز دی هر کله چه منزل دوه منزله یا ددوؤ منزلو نه زیات وی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَامَ الْفَتْحِ فِي رَمَضَانَ فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ الْكَدِيدَ ثُمَّ أَفْطَرَ قَالَ وَكَانَ صَحَابَةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَّبِعُونَ الْأَحْدَثَ فَالْأَحْدَثَ مِنْ أَمْرِهِ

د عبدالله بن عباس رضی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اووتلو په کوم کال چه مکه فتح شوه په رمضان کښې او حضور ﷺ روژه نیولے وه . تر دے پورے چه کدید ته اورسیدو (دا د یو مقام نوم دے چه هلته یو نهر دے او د مدینې نه اووه منزله لرے دے او ددغه ځائے نه مکه دوه ځلوېښت میله لرے ده) نو روژه ئے ماته کړه. او د صحابه کرامو رضی عادت وو چه د رسول الله ﷺ د هرے نوے نوے خبرے تابعداری به ئے کوله[1].

---

[1]: په سفر کښې په روژه نیولو کښې د علماؤ اختلاف دے. چنانچه د اهل ظاهرو مذهب دے چه په رمضان کښې په سفر کښې روژه نیول صحیح نهٔ دی. او کهٔ چا اونیوله هم نو صحیح نهٔ ده. قضاء راوړل پرے واجب دی. دلیل د هغوئ ظاهر آیت او حدیث دے. او حدیث دادے چه حضرت ﷺ فرمائیلے دی. لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصِّيَامُ فِي السَّفَرِ او په دویم حدیث کښې راغلے دی چه په سفر کښې روژے نیولو والا ته حضور ﷺ عصاه یعنی نافرمان فرمائیلے دی. او د جماهیرو علماؤ او د ټولو خاوندانو د فتوے قول دے چه مسافر له روژه روا ده . او کهٔ چرے اونیسی نو صحیح کیږی. او په دے کښې هم اختلاف دے چه روژه غوره ده یا ئے ماتول یا دواړه برابر دی. پس د امام مالك او ابوحنیفه او شافعی او د اکثرو خلقو قول دے چه روژه غوره ده هغه چا لره چه طاقت ئے وی او بے ضرره ئے نیولے شی. او کهٔ چرے ضرر ورته ورکوی نو ماتول ئے غوره دی او دلیل د هغوی دادے چه روژه ساتلے ده په سفر کښې رسول الله ﷺ او عبد الله بن رواحه وغیره صحابه کرامو رضی الله عنه . او په ډیرو روایتونو کښې روژه د صحابه کرامو نه ذکر ده. او ددے دپاره هم روژه غوره ده چه ددے نه برامت ذمه فی الحال حاصلیږی. او د سعد بن مسیب او اوزاعی او حامد او اسحق وغیره نورو قول دے چه افطار بهر حال غوره دے . او بعضو یو قول د امام شافعی هم دغه شان نقل کړے دے مگر هغه قول غریب دے. او د هغے

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ قَالَ يَحْيَى قَالَ سُفْيَانُ لَا أَدْرِي مِنْ قَوْلِ مَنْ هُوَ يَعْنِي وَكَانَ يُؤْخَذُ بِالْآخِرِ مِنْ قَوْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د زهري نه په دغه اسناد سره پشان دد ے مروي د ے يحيٰی وائي چه سفيان اووي چه زهٔ نهٔ پوهيږم چه دا قول د چا د ے (د رسول الله آخري قول اخستلے شي) يعني اول قول منسوخ کيږي.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ قَالَ الزُّهْرِيُّ وَكَانَ الْفِطْرُ آخِرَ الْأَمْرَيْنِ وَإِنَّمَا يُؤْخَذُ مِنْ أَمْرِ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِالْآخِرِ فَالْآخِرِ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَصَبَّحَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَكَّةَ لِثَلَاثَ عَشْرَةَ لَيْلَةً خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ

زهري په د ےسند سره وئيلے دي چه روژه نهٔ نيول او افطار كول د رسول الله ﷺ آخري خبره ده . او د رسول الله ﷺ په آخري خبره باند ے عمل ضروري د ے. او زهري وائي چه صبا کړو رسول الله په ديارلسمه د رمضان په مکه کښ.

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ حَدِيثِ اللَّيْثِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَكَانُوا يَتَّبِعُونَ الْأَحْدَثَ فَالْأَحْدَثَ مِنْ أَمْرِهِ وَيَرَوْنَهُ النَّاسِخَ الْمُحْكَمَ

د زهري نه په د ے اسناد سره مروي د ے چه هغوي په شان د ليث د حديث روايت کر ے د ے او ابن شهاب وئيلے دي چه صحابوؓ به د حضور ﷺ د نو ے نه نو ے خبره به ئې اختيارو له . او نو ے خبر ے لره به ئې ناسخ او محکمه گنړله (يعني هغوي روژه نيولے وه او بيائې ماته کړه نو افطار لره ناسخ گنړي او روژ ے ساتلو لره منسوخ گنړي)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ سَافَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ عُسْفَانَ ثُمَّ دَعَا بِإِنَاءٍ فِيهِ شَرَابٌ فَشَرِبَهُ نَهَارًا لِيَرَاهُ النَّاسُ ثُمَّ أَفْطَرَ حَتَّى دَخَلَ مَكَّةَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَصَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَفْطَرَ فَمَنْ شَاءَ صَامَ وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ

عبد الله بن عباسؓ وئيلے دي سفر اوکړو رسول الله ﷺ په رمضان کښ او روژه ئې اونيوله ترد ے پور ے چه عسفان ته اورسيدو بيا حضرت ﷺ يوه پياله را اوغوښته او په هغې کښ څکلو څيز وو او هغه ئې د ورځې اوڅکله دد ے دپاره چه ټول خلق ئې اووينی بيا به ئې خوراك کوو ترد ے پوري چه مکے ته رااورسيدو. ابن عباسؓ وائي چه رسول الله ﷺ روژه هم نيوله او افطار ئې هم کوو. پس د چا زړهٔ چه غواړي روژه د ے نيسي او د چا زړهٔ چه غواړي خوراك د ے کوي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ لَا تَعِبْ

عبد الله بن عباسؓ وائي مونږ بد نهٔ وايو هغهٔ ته چه روژه نيسي

دليلونه هم دغه روايت دي کوم چه د اهل ظاهرو دلائل دي. او دليل ئې د حمزه بن عمرو اسلمي حديث د ے چه د مسلم په آخر باب کښ راځي . او د بعضو قول د ے چه افطار روژه دواړه برابر دي. او صحيح قول د اکثرو خلقو قول د ے.

عَلٰی مَنْ صَامَ وَلَا عَلٰی مَنْ أَفْطَرَ قَدْ صَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ وَأَفْطَرَ

(یعنی په سفر کښې او نۀ هغۀ ته چه خوراك کوی. او رسول الله ﷺ په سفر کښې روژه هم نیولې ده او خوراك ئې هم کړے دے[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَامَ الْفَتْحِ إِلٰى مَكَّةَ فِي رَمَضَانَ فَصَامَ حَتّٰى بَلَغَ كُرَاعَ الْغَمِيمِ فَصَامَ النَّاسُ ثُمَّ دَعَا بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ فَرَفَعَهُ حَتّٰى نَظَرَ النَّاسُ إِلَيْهِ ثُمَّ شَرِبَ فَقِيلَ لَهُ بَعْدَ ذٰلِكَ إِنَّ بَعْضَ النَّاسِ قَدْ صَامَ فَقَالَ أُولٰئِكَ الْعُصَاةُ أُولٰئِكَ الْعُصَاةُ

جابرؓ وائی رسول الله ﷺ رااووتو په کوم کال چه مکه فتح شوه. په رمضان کښې د مکے په طرف او روژه ئې نیولې وه تر دے پورے چه کراع غمیم ته اورسیدۀ (کراع غمیم د یو مقام نوم دے چه د مدینے نه اووه منزله لرے یا زیات دے) او خلقو هم روژه نیولې وه.بیا حضور ﷺ د اوبو یوه پیاله اوغوښته او هغه ئې اوچته کړه تر دے پورے چه خلقو د هغۀ طرفته اوکتل. بیا حضور ﷺ اوڅکله . بیا خلقو د هغے نه پس حضور ﷺ ته عرض اوکړو چه څنې خلق روژه دار دی حضرت ﷺ اوفرمائیل دغه نافرمانه دی دغه نافرمانه دی[2].

عَنْ جَعْفَرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فَقِيلَ لَهُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ شَقَّ عَلَيْهِمُ الصِّيَامُ وَإِنَّمَا يَنْظُرُونَ فِيمَا فَعَلْتَ فَدَعَا بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ بَعْدَ الْعَصْرِ

جعفرؒ په دے اسناد سره دغه روایت کړے دے او په دے کښې ئې دومره خبره زیاته کړے ده چه خلقو حضور ﷺ ته عرض اوکړو چه په خلقو باندے روژه سخته ده. او انتظار کوی چه تاسو به څۀ کوئ. بیا حضور ﷺ یوه پیاله د اوبو رااوغوښته روستو د مازیګر نه (مخکښې هغه مضمون دے)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فِي سَفَرٍ فَرَأَى رَجُلًا قَدِ اجْتَمَعَ النَّاسُ عَلَيْهِ وَقَدْ ظُلِّلَ عَلَيْهِ فَقَالَ مَا لَهُ قَالُوا رَجُلٌ صَائِمٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ أَنْ تَصُومُوا فِي السَّفَرِ

جابر بن عبد اللهؓ فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ په سفر وو چه په یو سړی باندے ئې د خلقو ګڼره اولیده او په هغۀ باندے ئې سوری کړے وو. حضور ټپوس اوکړو چه دۀ له څۀ شوے دی خلقو عرض اوکړو چه دا یو روژه دار دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل په سفر کښې روژه نیول ښۀ نۀ دی[3].

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَزَادَ قَالَ

د شعبه نه په دغه اسناد سره د دے په شان روایت دے. او زیات کړے

[1]: په دے روایتونو کښې د جمهورو د مذهب دلیل دے چه روژه او افطار دواړه روا دی.

[2]: کیدے شی دا دے نه هغه خلق مراد وی چه هغوی له روژه ضرر ورکوی.

[3]: یعنی کله چه ضرر شی او خبره دا سے نوبت ته اورسی نو بیا ئې څۀ مزه ده.

شُعْبَةُ وَكَانَ يَبْلُغُنِي عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ أَنَّهُ كَانَ يَزِيدُ فِي هٰذَا الْحَدِيثِ وَفِي هٰذَا الْإِسْنَادِ أَنَّهُ قَالَ عَلَيْكُمْ بِرُخْصَةِ اللهِ الَّذِي رَخَّصَ لَكُمْ قَالَ فَلَمَّا سَأَلْتُهُ لَمْ يَحْفَظْهُ

دی اووئیلې دی شعبه چه ما ته خبر راکړے شوے دے د یحیی ابن ابی کثیر نه چه هغه به زیاتے کوو په دے حدیث کښې او په دغه اسناد کښې چه حضرت ﷺ فرمائیلې دی د الله رخصت قبول کړئ کوم چه ئے تاسوله درکړے دے او راوی وئیلې دی چه بیا ما د هغهٔ نه تپوس اوکړو نو هغهٔ ته یاد نهٔ وو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ لِسِتَّ عَشْرَةَ مَضَتْ مِنْ رَمَضَانَ فَمِنَّا مَنْ صَامَ وَمِنَّا مَنْ أَفْطَرَ فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ

ابوسعید خدری وئیلې دی چه جهاد اوکړو مونږ د رسول الله ﷺ سره په شپاړسمه (ورځ) د رمضان نو په مونږ کښې د چا روژه وه او چا ماته کړے وه. او روژه دار به خوړلو والا ته عیب نهٔ وے او نهٔ به خوړلو والا روژه دارو ته عیب وئیلو.

عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ هَمَّامٍ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ التَّيْمِيِّ وَعُمَرَ بْنِ عَامِرٍ وَهِشَامٍ لِثَمَانِ عَشْرَةَ خَلَتْ وَفِي حَدِيثِ سَعِيدٍ فِي ثِنْتَيْ عَشْرَةَ وَشُعْبَةَ لِسَبْعَ عَشْرَةَ أَوْ تِسْعَ عَشْرَةَ

د قتادهؓ نه په دے اسناد سره د همام د روایت په شان مروی دے مګر د تیمی او عمر بن عامر او د هشام په روایت کښې اتلسم تاریخ او د سعید په روایت کښې دولسم او د شعبه په روایت کښې اوولسم یا نولسم تاریخ ذکر دے[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نُسَافِرُ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي رَمَضَانَ فَمَا يُعَابُ عَلَى الصَّائِمِ صَوْمُهُ وَلَا عَلَى الْمُفْطِرِ إِفْطَارُهُ

ابوسعیدؓ وائی مونږ سفر کوؤ د رسول الله ﷺ سره په رمضان مبارک کښې نو نهٔ به روژه دار په روژه باندے چا عیب لګوؤ. او نهٔ د روژه ماتونکی په ماتولو باندے[2].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ فَمِنَّا الصَّائِمُ وَمِنَّا الْمُفْطِرُ فَلَا يَجِدُ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ يَرَوْنَ أَنَّ مَنْ وَجَدَ قُوَّةً فَصَامَ فَإِنَّ ذٰلِكَ حَسَنٌ وَيَرَوْنَ

ابوسعید خدریؓ وائی مونږ د رسول الله ﷺ سره په رمضان کښې جهاد کوؤ. او څوك به په مونږ کښې روژه دار وو. او چا به روژه ماته کړے وه او نهٔ به روژه دار په بے روژے باندے غصه کوله او نهٔ به بے روژے والا په روژه دار باندے. او په دے پوهه وو چه په چا کښې قوت وی هغه دی روژه نیسی دا هم ښه ده. او څوك چه کمزورے

---

[1]: د دولسم نه واخله د نولسم پورے کیدے شی هغه اوږد شوے وی. بیا چا اول تاریخ بیان کړے دے او چا آخر تاریخ بیان کړے دے.
[2]: د دے مسلم نه انصاف د صحابه کرامو ظاهر دے. او دغه د مومنانو لاز ده. او دغه مذهب دلائلو ته نژدے دے. کهٔ څوك غواړی په رخصت باندے د عمل کوی. او څوك چه طاقت لری هغه د ئے نیسی او په دین کی حرج نشته.

أَنَّ مَنْ وَجَدَ ضَعْفًا فَأَفْطَرَ فَإِنَّ ذٰلِكَ حَسَنٌ

وی هغه دی روژه نه نیسی پس دا هم ښه ده.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَا سَافَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَصُومُ الصَّائِمُ وَيُفْطِرُ الْمُفْطِرُ فَلَا يَعِيبُ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ

ابوسعید او جابر بن عبد الله دواړه وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره سفر کوو او روژه دار به روژه نیولے وه. او روژه ماتونکو به خوراك کوؤ. او یو چا به په بل چا باندے څۀ عیب نۀ لګوؤ.

عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ صَوْمِ رَمَضَانَ فِي السَّفَرِ فَقَالَ سَافَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي رَمَضَانَ فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ

حمید وائی د انس نه چا تپوس اوکړو په سفر کښې د رمضان د روژے په باره کښې. هغوی اووے چه سفر کوؤ مونږه د رسول الله ﷺ سره په رمضان کښې نو نۀ به بد وئیل روژه دار په مفطر باندے. او نۀ مفطر په روژه دار باندے څۀ بد وئیل.

عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ خَرَجْتُ فَصُمْتُ فَقَالُوا لِي أَعِدْ قَالَ فَقُلْتُ إِنَّ أَنَسًا أَخْبَرَنِي أَنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوا يُسَافِرُونَ فَلَا يَعِيبُ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ فَلَقِيتُ ابْنَ أَبِي مُلَيْكَةَ فَأَخْبَرَنِي عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بِمِثْلِهِ

حمید وائی رااووتم زۀ په سفر کښې او ما روژه نیولے وه. نو خلقو اووے تۀ دوباره روژه اونیسه (یعنی سفر کښې روژه دے صحیح نۀ ده) نو ما اووے انس خبر راکړے دے چه د رسول الله ﷺ ملګرو به سفر کوؤ. او روژه دار به بے روژے لره نۀ ملامت کوؤ. او نۀ به بے روژے روژه دار ملامت کوؤ. بیا میلاؤ شوم زۀ د ابومُلیکهؓ سره او خبر راکړو ماله هغوی د حضرت عائشے نه پشان دد ے.

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ فَمِنَّا الصَّائِمُ وَمِنَّا الْمُفْطِرُ قَالَ فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فِي يَوْمٍ حَارٍّ أَكْثَرُنَا ظِلًّا صَاحِبُ الْكِسَاءِ وَمِنَّا مَنْ يَتَّقِي الشَّمْسَ بِيَدِهِ قَالَ فَسَقَطَ الصُّوَّامُ وَقَامَ الْمُفْطِرُونَ فَضَرَبُوا الْأَبْنِيَةَ وَسَقَوُا الرِّكَابَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

انس وائی چه مونږ د نبی کریم ﷺ سره وو په سفر کښې نو په مونږ کښې چا روژه نیولے وه او چا نۀ وه نیولے او په یو منزل کښې کوز شو د ګرمۍ په ورځ کښې. او د ټولو نه زیات په سوری هغه (شوك) وو چه د چا سره څادر وو. او ډیر خو داسے وو چه په لاسونو به ئے د نمر نه ځان پناه کوو. او روژه دار چه څومره وو ټول په منزل باندے لاړل پریوتل او چا چه روژه نۀ وه نیولے هغوی خیمے اولګولے او په اوښانو باندے ئے اوبۀ اوڅکلے. او رسول الله ﷺ اوفرمائیل روژه نۀ نیونکو

ذَهَبَ الْمُفْطِرُونَ الْيَوْمَ بِالْأَجْرِ

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فِي سَفَرٍ فَصَامَ بَعْضٌ وَأَفْطَرَ بَعْضٌ فَتَحَزَّمَ الْمُفْطِرُونَ وَعَمِلُوا وَضَعُفَ الصُّوَّامُ عَنْ بَعْضِ الْعَمَلِ قَالَ فَقَالَ فِي ذٰلِكَ ذَهَبَ الْمُفْطِرُونَ الْيَوْمَ بِالْأَجْرِ

عَنْ قَزَعَةَ قَالَ أَتَيْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ مَكْثُورٌ عَلَيْهِ فَلَمَّا تَفَرَّقَ النَّاسُ عَنْهُ قُلْتُ إِنِّي لَا أَسْأَلُكَ عَمَّا يَسْأَلُكَ هٰؤُلَاءِ عَنْهُ سَأَلْتُهُ عَنِ الصَّوْمِ فِي السَّفَرِ فَقَالَ سَافَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مَكَّةَ وَنَحْنُ صِيَامٌ قَالَ فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ قَدْ دَنَوْتُمْ مِنْ عَدُوِّكُمْ وَالْفِطْرُ أَقْوَى لَكُمْ فَكَانَتْ رُخْصَةً فَمِنَّا مَنْ صَامَ وَمِنَّا مَنْ أَفْطَرَ ثُمَّ نَزَلْنَا مَنْزِلًا آخَرَ فَقَالَ إِنَّكُمْ مُصَبِّحُو عَدُوِّكُمْ وَالْفِطْرُ أَقْوَى لَكُمْ فَأَفْطِرُوا وَكَانَتْ عَزْمَةً فَأَفْطَرْنَا ثُمَّ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُنَا نَصُومُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ فِي السَّفَرِ

عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها أَنَّهَا قَالَتْ سَأَلَ حَمْزَةُ بْنُ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيُّ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَنِ الصِّيَامِ فِي

نن لوئے ثواب واخستو[1].

انس وائی چه رسول الله ﷺ په سفر کښې وو او ځنې صحابه کرام روژه دار وو او ځنو روژه نهٔ وه نیولې بیا روژه نهٔ نیونکو خدمت ته ملا اوتړله او محنت ئے اوکړو او روژه دار خلق کمزوری شو د ځنې کارونو نه . نو دغه وخت حضور ﷺ اوفرمائیل چه نن روژه خوړونکو خلقو ثواب اوګټلو.

د قزعه نه روایت دے چه هغوی وائی زهٔ د ابوسعید خواله راغلم او په هغهٔ باندے د خلقو ګڼړه وه بیا چه خلق لړے شو د هغهٔ نه نو ما ورته اووے زهٔ ستا نه هغه تپوس نهٔ کوم کوم چه دا خلق کوی. او ما د هغهٔ نه په سفر کښې د روژے تپوس اوکړو. هغوی اوفرمائیل مونږ سفر کوو د رسول الله ﷺ سره د مکے په طرف او مونږ روژه دار وو. وائی چه بیا په یو منزل کښې کوز شو او حضرت ﷺ اوفرمائیل. تاسو اوس دشمن ته نږدے شوی یئ او په روژه ماتولو کښې به ستاسو طاقت ډیر زیات شی پس رخصت اوشو د روژے ماتولو. بیا بعضو زمونږ نه روژه اوساتله او بعضو ماته کړله بیا مونږ په وړاندے منزل کښې کوز شو او حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو صبا د خپل دشمن سره میلاویدونکی یئ نو روژه ماتول به ستاسو طاقت سوا کړی پس تاسو ټول روژه ماته کړئ او دا فرمائیل د هغهٔ قطعی حکم وو. بیا مونږ ټولو روژه ماته کړه. بیا ددے نه پس (یعنی ددشمن د مقابلے نه روستو) مونږ خپل لښکر اولیدو چه روژه به مونیوله د رسول الله ﷺ سره په سفر کښې.

حضرت عائشه فرمائی حمزه بن عمرو د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو په سفر کښې د روژے نیولو په باره کښې. حضرت ﷺ

[1] معلومه شوه چه په سفر کښې د ملګرو خدمت کول هم لوئے ثواب دے.

السَّفَرِ فَقَالَ إِنْ شِئْتَ فَصُمْ وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيَّ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي رَجُلٌ أَسْرُدُ الصَّوْمَ أَفَأَصُومُ فِي السَّفَرِ قَالَ صُمْ إِنْ شِئْتَ وَأَفْطِرْ إِنْ شِئْتَ

عَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَجِدُ بِي قُوَّةً عَلَى الصِّيَامِ فِي السَّفَرِ فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هِيَ رُخْصَةٌ مِنَ اللهِ فَمَنْ أَخَذَ بِهَا فَحَسَنٌ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَصُومَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ قَالَ هَارُونُ فِي حَدِيثِهِ هِيَ رُخْصَةٌ وَلَمْ يَذْكُرْ مِنَ اللهِ

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ حَتَّى إِنْ كَانَ أَحَدُنَا لَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ مِنْ شِدَّةِ الْحَرِّ وَمَا فِينَا صَائِمٌ إِلَّا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ

بَاب اسْتِحْبَابِ الْفِطْرِ لِلْحَاجِّ بِعَرَفَاتٍ يَوْمَ عَرَفَةَ

عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّ نَاسًا تَمَارَوْا عِنْدَهَا يَوْمَ عَرَفَةَ فِي صِيَامِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ هُوَ صَائِمٌ وَقَالَ

اوفرمائیل كهٔ غواړے روژه لونیسه او كهٔ غواړے مهٔ نیسه

د حضرت عائشے نه روایت دے چه حمزه بن عمرو اسلمی ؓ تپوس اوکړو د نبی کریم ﷺ نه چه زهٔ دیرے پرله پسے روژے نیسم نو په سفر کښې به هم زهٔ روژے نیسم؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل كهٔ دے خوښه وی نیسه او كهٔ خوښه دے نهٔ وی مهٔ نیسه[1]

حمزه اسلمی ؓ عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زهٔ په ځان کښې طاقت مومم د روژے په سفر کښې نو كهٔ زهٔ چرے روژه نیسم په سفر کښې نو ولے څهٔ گناه به وی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل دا رخصت دے د الله ؒ د طرفنه پس چا چه دا قبول کړو ښهٔ ئے اوکړل او څوك چه روژه نیول غواړی نو په هغهٔ باندے څهٔ گناه نشته. او هارون په خپل روایت کښې د الله ؒ د طرفنه ذکر نهٔ دے کړے.

ابو درداء ؓ وائی رااووتو مونږ د رسول الله ﷺ سره په رمضان کښې په سخته گرمئ کښې تردے پورے چه چا به زمونږ نه خپل لاس د گرمئ د سختئ نه په سر باندے ایخودے وو. او څوك په مونږ کښې روژه دار نهٔ وو. سوا د رسول الله ﷺ او د عبد الله بن رواحه ؓ نه.

باب: حاجی لره د د عرفے په ورځ په عرفات کښې روژه نهٔ نیول مستحب دی

ام الفضل ؓ د حارث لور وائی چه د هغے سره څهٔ خلقو د عرفے په ورځ تکرار اوکړو (په عرفات کښې) د رسول الله ﷺ د روژے په باره کښې. چا اووے چه حضرت ﷺ روژه دار دے چا اووے نهٔ دے. بیا هغوی د پیو

[1]: په دے حدیث کښې هم صفا د جمهورو په مذهب دلالت دے چه خوښه ئے وه كهٔ په سفر کښې روژه نیسی او كهٔ نهٔ نیسی.

بَعْضُهُمْ لَيْسَ بِصَائِمٍ فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ بِقَدَحِ لَبَنٍ وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَى بَعِيرِهِ بِعَرَفَةَ فَشَرِبَهُ

يوه پياله د هغې په خدمت کښې اوليږله او هغوی ﷺ په عرفات کښې په خپل اوښ باندې وقوف کړې وو. پس هغوی اوڅکله[1].

عَنْ أَبِي النَّضْرِ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَى بَعِيرِهِ وَقَالَ عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى أُمِّ الْفَضْلِ

د ابوالنضر نه په دې اسناد سره هم روايت مروی دې مګر په دې کښې دا ذکر نشته چه هغه په خپل اوښ باندې وقوف کړې وو. او په سند کښې دا دی چه روايت دې د عمير نه چه غلام دې د ام الفضل

عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أُمَّ الْفَضْلِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا تَقُولُ شَكَّ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي صِيَامِ يَوْمِ عَرَفَةَ وَنَحْنُ بِهَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ بِقَعْبٍ فِيهِ لَبَنٌ وَهُوَ بِعَرَفَةَ فَشَرِبَهُ

عمير د ابن عباس رضی الله عنهما د غلام نه روايت دې چه هغو د ام الفضل نه اوريدلې دی شك اوكړو اصحابو د رسول الله ﷺ په ورځ د عرفې د رسول الله ﷺ د روژې نيولو په باره کښې بيا هغوی د پيو يوه پياله رااوليږله او هغوی په عرفات کښې وو بيا ئې هغه اوڅکله.

عَنْ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ إِنَّ النَّاسَ شَكُّوا فِي صِيَامِ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَوْمَ عَرَفَةَ فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ مَيْمُونَةُ بِحِلَابِ اللَّبَنِ وَهُوَ وَاقِفٌ فِي الْمَوْقِفِ فَشَرِبَ مِنْهُ وَالنَّاسُ يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ

ميمونه رضی الله عنها د نبی کريم ﷺ بی بی د مسلمانانو مور فرمائی چه خلقو شك اوكړو د رسول الله ﷺ د روژې نيولو په باره کښې د عرفې په ورځ (په ميدان د عرفات کښې) پس اوليږله ميمونې د پيو يوه لوټه او هغوی وقوف کړې وو په موقف کښې او هغوی اوڅکله. او ټولو خلقو هغه ته کتل[2].

بَابُ صَوْمِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ

باب: د عاشورې د روژې بيان

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَتْ

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی قريشو به د عاشورې په ورځ روژه نيوله د

---

[1]: نووی فرمائيلې دی مذهب د امام شافعی او مالك او ابوحنيفه او جمهور علماؤ دغه دې چه روژه نه نيول په عرفه کښې مستحب دی حاجيانو لره. او ابن منذر دغه حکايت کړې دې چه د ابوبكر صديق او عمر بن خطاب او عثمان او ابن عمر او ثوری رحمه الله نه. او ويلی دی ابن زبير او حضرت عائشې به روژه نيوله او د عمر بن خطاب او د عثمان نه هم دغه مروی دی او د اسحق ميلان هم دې طرف ته وو. او عطاء به په يخنئ کښې روژه نيوله او په ګرمئ کښې به ئې نه نيوله او قتاده په روژه کښې څه مضائقه نه ده ليدلې كۀ په دُعا کښې ضعيف نه وو. او جمهورو احتجاج کړې دې د رسول الله ﷺ په روژې نه نيوۀ سره او ددې نه ئې استدلال کړې دې چه په هغې کښې مطلق ذکر دې چه د عرفې روژه د دوو کالو کفاره ده. او جمهورو په دغه حديثونو سره ددې نه دا مراد اخستې دې څوك چه په عرفات کښې نه وی.

[2]: ددې روايتونو نه څو حکمونه ثابت شول. اول مستحب کيدل د افطار په عرفات کښې. دويم مستحب کيدل د وقوف په سورلئ باندې او دغه صحيح دې په مذهب د شافعی کښې. دريم جواز په ولاړې د شکلو او په سورلئ باندې هم. څلورم مباح قبول د هديې د هغه په واسطه

قُرَيْشٌ تَصُومُ عَاشُورَاءَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ فَلَمَّا هَاجَرَ إِلَى الْمَدِينَةِ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ فَلَمَّا فُرِضَ شَهْرُ رَمَضَانَ قَالَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ

جاهلیت په ورځو کښې او رسول الله ﷺ به هم نیوله بیا چه کله هغوی مدینې ته هجرت اوکړو نو روژه ئې اونیوه او دد ے ورځے د روژے حکم ئې اوفرمائیلو بیا چه کله رمضان فرض شو. نو حضور ﷺ اوفرمائیل اوس که څوک غواړی د عاشورے روژه د ے نیسی او که غواړی نه د ے نیسی[1].

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي أَوَّلِ الْحَدِيثِ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ وَقَالَ فِي آخِرِ الْحَدِيثِ وَتَرَكَ عَاشُورَاءَ فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ وَلَمْ يَجْعَلْهُ مِنْ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَرِوَايَةِ جَرِيرٍ

د هشام نه په دی اسناد سره دغه روایت د ے او اول په حدیث کښې دا نشته چه رسول الله ﷺ به د عاشورے روژه نیوله او د حدیث په آخر کښې ئې دا اووے چه هغوی د عاشوری روژه پریخوده بیا چه د چا زړهٔ غواړی روژه د ے نیسی او چه د چا زړهٔ نهٔ غواړی نهٔ د ے نیسی. او د ے خبرے لره ئې د رسول الله ﷺ قول نهٔ د ے ګرځولے لکه چه د جریر په روایت کښې وو.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ يَوْمَ عَاشُورَاءَ كَانَ يُصَامُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ مَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ

حضرت عائشهؓ فرمائی چه د عاشورے روژه د جاهلیت (په زمانه کښې) نیولے شوه بیا چه کله اسلام راغے نو اوس که د چا خوښه وی هغه د ے ئې نیسی او که خوښه ئې نهٔ وی نهٔ د ے نیسی[2].

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِصِيَامِهِ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَ يَوْمَ

حضرت عائشهؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ حکم فرمائیلو دد ے ورځ د روژے (یعنی د عاشورے) کله چه رمضان فرض شوے نهٔ وو. بیا چه کله رمضان فرض شو نو دا حکم اوشو چه د چا زړهٔ غواړی هغهٔ دی د رمضان روژه نیسی. او که د چا زړهٔ غواړی هغه د نهٔ

---

[1]: نووی وائی علماؤ اتفاق کړے د ے چه اوس د عاشورے روژه سنت ده واجب نهٔ ده. او په اول د اسلام کښې د دی څهٔ حکم وو؟ په د ے کښې اختلاف د ے. یعنی د رمضان د فرض کیدو نه مخکښې خو د ابوحنیفه قول د ے چه واجب وه. او د شافعی په ملګرو کښې اختلاف د ے. مشهور قول دا د ے چه همیشه سنت وه چرته هم واجب شوے نهٔ وه. مګر استحباب دد ے مؤکد وو. بیا چه هر کله رمضان فرض شو نو دا مستحب شوه مؤکد پاتے نهٔ شوه.

[2]: که د چا خوښه وی هغه د ئې نیسی او که خوښه ئې نهٔ وی نهٔ د ئې نیسی دد ے نه حنفیه استدلال کوی په نهٔ واجب کیدو باند ے او شافعیه استدلال کوی په نهٔ مؤکد کیدو باند ے. او په هر حال اوس هغه سنت مستحب دی یعنی شیر مؤکد دی.

عَاشُورَاءَ وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ

عَنْ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ قُرَيْشًا كَانَتْ تَصُومُ عَاشُورَاءَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِصِيَامِهِ حَتَّى فُرِضَ رَمَضَانُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَاءَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ شَاءَ فَلْيُفْطِرْهُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْهُمَا أَنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوا يَصُومُونَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَأَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ صَامَهُ وَالْمُسْلِمُونَ قَبْلَ أَنْ يُفْتَرَضَ رَمَضَانُ فَلَمَّا افْتُرِضَ رَمَضَانُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ عَاشُورَاءَ يَوْمٌ مِنْ أَيَّامِ اللهِ فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ ذُكِرَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَوْمُ عَاشُورَاءَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ كَانَ يَوْمًا يَصُومُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَصُومَهُ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَرِهَ فَلْيَدَعْهُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ فِي يَوْمِ عَاشُورَاءَ إِنَّ هَذَا يَوْمٌ كَانَ يَصُومُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَصُومَهُ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَتْرُكَهُ فَلْيَتْرُكْهُ وَكَانَ عَبْدُ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَا يَصُومُهُ إِلَّا أَنْ يُوَافِقَ صِيَامَهُ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ

نیسی.

حضرت عائشهؓ فرمائی چه قریشو د عاشورے روژه نیوله په جاهلیت کښ. بیا رسول الله ﷺ هم حکم اوفرمائیلو ددے روژے د نیوو تردے پورے چه رمضان فرض شو. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه څوك غواړی په کښ دے روژه نیسی او که غواړی نه دے نیسی.

عبد الله بن عمرؓ فرمائی چه اهل جاهلیت به د عاشورے روژه نیوله او رسول الله ﷺ به هم نیوله او مسلمانانو به هم د رمضان د فرض کیدو نه مخکښ نیوله بیا چه کله رمضان فرض شو نو نبی کریم ﷺ وفرمائیل چه عاشوره د الله د ورځو نه یوه ورځ ده د چا چه خوښه شی په دے کښ دے روژه اونیسی او څوك چه غواړی پریږدی دے ئے.

عبد الله بن عمر خبر ورکړے دے چه د رسول الله په مخکښ د عاشورے ذکر اوشو. نو حضورؐ اوفرمائیل چه په دے ورځ به اهل جاهلیت روژه نیوله. پس چه د چا زړه نه غواړی هغه دے پریږدی.

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه اوریدلے دی هغوی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلے ئے وو. چه د عاشورے ورځ داسے ده چه په دی کښ اهل جاهلیت روژه نیوله پس د چا زړه چه غواړی روژه دے نیسی. او د چا زړه چه غواړی پس پریږدی. او عبد اللهؓ به روژه نه نیوله مگر کله چه به موافق راغله د هغه ورځو چه په هغے کښ د هغه روژه نیول عادت وو.

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه د نبی ﷺ په خوا کښ د

ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ صَوْمُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ فَذَكَرَ مِثْلَ حَدِيثِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ سَوَاءً

عاشورے د روژے ذکر اوشو. مخکښې د ليث بن سعد د روايت په شان حديث بيان کړو.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ دَخَلَ الْأَشْعَثُ بْنُ قَيْسٍ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ وَهُوَ يَتَغَدَّى فَقَالَ يَا أَبَا مُحَمَّدٍ ادْنُ إِلَى الْغَدَاءِ فَقَالَ أَوَلَيْسَ الْيَوْمُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ قَالَ وَهَلْ تَدْرِي مَا يَوْمُ عَاشُورَاءَ قَالَ وَمَا هُوَ قَالَ إِنَّمَا هُوَ يَوْمٌ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ قَبْلَ أَنْ يَنْزِلَ شَهْرُ رَمَضَانَ فَلَمَّا نَزَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ تُرِكَ وَقَالَ أَبُو كُرَيْبٍ تَرَكَهُ

عبد الرحمن بن يزيد وائي اشعث بن قيس د عبد الله خواله راغے او هغهٔ ناشته کوله د سحر نو وے وئيل اے ابو محمد راشه ناشته اوکړه نو هغوی اووے چه ولے نن د عاشوری ورځ نهٔ ده؟ نو عبد الله اووے تهٔ پيژنے د عاشورے ورځ څنګه ده. نو اشعث اووے هغه څنګه ورځ ده؟ نو عبد الله اووے رسول الله ﷺ به په دے ورځ روژه نيوله. د رمضان د فرض کيدو نه مخکښې بيا چه کله د رمضان فرضيت نازل شو. نو هغه روژه ئے پريخوده. د ابوکريب په روايت کښې دے چه هغه ئے پريخوده.

عَنْ قَيْسِ بْنِ سَكَنٍ أَنَّ الْأَشْعَثَ بْنَ قَيْسٍ دَخَلَ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَهُوَ يَأْكُلُ فَقَالَ يَا أَبَا مُحَمَّدٍ ادْنُ فَكُلْ قَالَ إِنِّي صَائِمٌ قَالَ كُنَّا نَصُومُهُ ثُمَّ تُرِكَ

قيس وائي اشعث د عبد الله خواله راغے او هغهٔ غله خوړله د عاشورے په ورځ هغوی اووے اے ابو محمد راشه ناشته اوکړه نو هغوی اووے زهٔ روژه داريم هغوی اووے مونږ به روژه نيوله په دی کښې خو بيا مو پريخودله.

عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ دَخَلَ الْأَشْعَثُ بْنُ قَيْسٍ عَلَى ابْنِ مَسْعُودٍ وَهُوَ يَأْكُلُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَقَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ إِنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ فَقَالَ قَدْ كَانَ يُصَامُ قَبْلَ أَنْ يَنْزِلَ رَمَضَانُ فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ تُرِكَ فَإِنْ كُنْتَ مُفْطِرًا فَاطْعَمْ

علقمه وائي اشعث د ابن مسعود خواله راغے. او هغهٔ د عاشورے په ورځ غله خوړله نو هغوی اووے اې ابو عبد الرحمن نن د عاشورے ورځ ده. نو هغوی اووے ددے روژه به نيولے کيدله مخکښې د رمضان نه بيا چه کله رمضان فرض شو نو هغه پريخودے شوه پس کچرے ستا روژه نهٔ وی نو خوره.

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ وَيَحُثُّنَا عَلَيْهِ وَيَتَعَاهَدُنَا عِنْدَهُ فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ لَمْ

جابر بن سمره وائي رسول الله ﷺ حکم فرمائيلو د عاشورے د روژے او د هغے ترغيب ئے ورکولو. او ددے خيال به ساتلو هغوی زمونږ دپاره بيا چه کله رمضان فرض شو. بيا نهٔ هغوی دے حکم فرمائيلے دے. او نهٔ ئے فرمائيلے ده. او نهٔ ددے خيال ساتلے هغوی

بِأَمْرِنَا وَلَمْ يَنْهَنَا وَلَمْ يَتَعَاهَدْنَا عِنْدَهُ

زمونږ دپاره.

عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ خَطِيبًا بِالْمَدِينَةِ يَعْنِي فِي قَدْمَةٍ قَدِمَهَا خَطَبَهُمْ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَقَالَ أَيْنَ عُلَمَاؤُكُمْ يَا أَهْلَ الْمَدِينَةِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِهٰذَا الْيَوْمِ هٰذَا يَوْمُ عَاشُورَاءَ وَلَمْ يَكْتُبِ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ وَأَنَا صَائِمٌ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَصُومَ فَلْيَصُمْ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُفْطِرَ فَلْيُفْطِرْ

حمید بن عبد الرّحمن وائی چه اوریدلے دی ما د معاویه بن ابوسفیان نه چه هغوی خطبه لوستله په مدینه کښې په خپلو یو خل راتلو کښې هر کله چه هغوی مدینے ته راغلے وو. او د عاشورے د ورځے په خطبه کښې ئے اووے چه اے اهل مدینه ستاسو علماء کوم خائے دی؟ ما اوریدلے د رسول الله ﷺ نه چه دے ورځے ته ئے فرمائیلے وو چه دا د عاشورے ورځ ده. الله دد ے روژه په تاسو باند ے فرض کړے نۀ ده. او زۀ روژه دار یم پس څوك چه غواړی روژه د ے نیسی. او څوك چه غواړی افطاری دی کوی.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي مِثْلِ هٰذَا الْيَوْمِ إِنِّي صَائِمٌ فَمَنْ شَاءَ أَنْ يَصُومَ فَلْيَصُمْ وَلَمْ يَذْكُرْ بَاقِيَ حَدِيثِ مَالِكٍ وَيُونُسَ

د زهری نه په د ے اسناد سره روایت د ے حضرت معاویه ؓ دا واؤریدل د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلے ئے وو. چه د نن ورځ دپاره خما روژه ده. او بیا چه څوك غواړی روژه دی نیسی. او باقی حدیث د مالك او یونس هغوی نه دی بیان کړے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَوَجَدَ الْيَهُودَ يَصُومُونَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَسُئِلُوا عَنْ ذٰلِكَ فَقَالُوا هٰذَا الْيَوْمُ الَّذِي أَظْهَرَ اللّٰهُ فِيهِ مُوسٰى وَبَنِي إِسْرَائِيلَ عَلٰى فِرْعَوْنَ فَنَحْنُ نَصُومُهُ تَعْظِيمًا لَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ أَوْلٰى بِمُوسٰى مِنْكُمْ فَأَمَرَ بِصَوْمِهِ

د عبد الله بن عباس ؓ نه روایت د ے چه هر کله رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راوړو نو یهود ئے اولیدل چه د عاشورے د ورځے روژه به ئے نیوله. او خلقو د هغوی نه تپوس اوکړو چه تاسو ولے دا روژه نیسئ؟ نو هغوی اووے چه دا هغه ورځ ده چه په د ے ورځ الله پاك موسیٰ ؑ او بنی اسرائیلو له په فرعون باند ے غلبه ورکړے وه. ځکه نن مونږ د هغے د تعظیم دپاره روژه نیسو (یعنی د الله پاك) نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل مونږ ته ستاسو نه زیات دوست او نږد ے د ے موسیٰ ؑ بیا حکم اوکړو حضرت ﷺ دد ے روژ ے د نیولو.

عَنْ أَبِي بِشْرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فَسَأَلَهُمْ عَنْ ذٰلِكَ

د ابو بشر نه په د ے اسناد سره دغه روایت مروی د ے مگر په د ے کښې دا دی چه حضرت ﷺ تپوس اوکړو د یهودو نه دد ے روژ ے د سبب

عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ يَوْمًا تُعَظِّمُهُ الْيَهُودُ وَتَتَّخِذُهُ عِيدًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ صُومُوهُ أَنْتُمْ

ابو موسیٰؓ وائی د عاشورے د ورځے تعظیم به یهودو کوؤ. او هغے لره به ئے اختر ګرځولو. نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل تاسو په دے ورځ روژه نیسئ.

عَنْ قَيْسٍ فَذَكَرَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَزَادَ قَالَ أَبُو أُسَامَةَ فَحَدَّثَنِي صَدَقَةُ بْنُ أَبِي عِمْرَانَ عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ أَهْلُ خَيْبَرَ يَصُومُونَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ يَتَّخِذُونَهُ عِيدًا وَيُلْبِسُونَ نِسَاءَهُمْ فِيهِ حُلِيَّهُمْ وَشَارَتَهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصُومُوهُ أَنْتُمْ

د قیسؓ نه دد ے اسناد سره مروی دے چه په دے کښې دا مضمون زیات دے. چه ابواسامهؓ وائی چه روایت کړے دے ماته صدقه بن ابوعمران د قیس بن مسلم نه هغوی د طارق نه. هغوی د ابوموسیٰؓ نه چه ابوموسیٰ وائی د خیبر یهودو به روژه نیوله د عاشورے د ورځے او دا ورځ به ئے د اختر ګرځوله او خپلو ښځو ته به ئے کالی اچولی وو. او هغوی به ئے سنګار کړے او سنبال کړے وے نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل تاسو خلق هم روژه نیسئ[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وَسُئِلَ عَنْ صِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ فَقَالَ مَا عَلِمْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَامَ يَوْمًا يَطْلُبُ فَضْلَهُ عَلَى الْأَيَّامِ إِلَّا هَذَا الْيَوْمَ وَلَا شَهْرًا إِلَّا هَذَا الشَّهْرَ يَعْنِي رَمَضَانَ

د حضرت عبد الله بن عباسؓ نه سوال اوکړے شو د عاشورے د ورځے. نو هغوی اوفرمائیل زۀ نۀ پوهیږم چه رسول اللهﷺ روژه نیولے وی د یوے ورځے د نورو ورځو نه بغیر دد ے ورځے د بزرګئ د تلاش کولو او نۀ د یوے میاشتے سوا د رمضان (یعنی په ورځو کښې ئے د عاشورے او په میاشتو کښې ئے د رمضان میاشت بزرګه ګڼړله).

عَنِ الْحَكَمِ بْنِ الْأَعْرَجِ قَالَ انْتَهَيْتُ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ رِدَاءَهُ فِي زَمْزَمَ فَقُلْتُ لَهُ أَخْبِرْنِي عَنْ صَوْمِ عَاشُورَاءَ فَقَالَ إِذَا رَأَيْتَ هِلَالَ الْمُحَرَّمِ فَاعْدُدْ وَأَصْبِحْ يَوْمَ التَّاسِعِ صَائِمًا قُلْتُ هَكَذَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ

حکم بن اعرج وائی زۀ د ابن عباسؓ خواله لاړم او هغوی تکیه لګولے وه ناست وو په خپل څادر باندے د زم زم په غاړه پس ما اووے خبر کړئ ما لره د عاشورے د ورځے نه هغوی اوفرمائیل چه کله تاسو د محرم میاشت اووینئ نو د هغه ورځے نه تاریخونه شمارئ بیا چه کله نهم تاریخ شی نو په دغه ورځ روژه اونیسئ ما

[1] د پورته روایتونو نه دا معلومه شوه چه رسول الله په مکه کښې هم روژه نیوله د عاشورے بیا چه کله مدینے ته راغے نو یهودو ئے اولیدل اونیول دد ے رڅے ئے شروع کړو. کیدے شی چه په دے مینځ کښې ئے پریخودے وی. یا د یهودو د قول په مطابق وحی نازله شوی وی. یا په یهودو کښې چه کوم مسلمانان شوی وو د هغوی تصدیق حضور کړے وی. یا په تواتر دد ے علم هغوی ته اوشو د یهودو نه او صرف د یو یو په خبر هغوی روژه نۀ ده نیولے.

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ قَالَ نَعَمْ
اووے محمد ﷺ به داسے كول؟ هغوى آو ¹.

عَنِ الْحَكَمِ بْنِ الْأَعْرَجِ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ رِدَاءَهُ عِنْدَ زَمْزَمَ عَنْ صَوْمِ عَاشُورَاءَ بِمِثْلِ حَدِيثِ حَاجِبِ بْنِ عُمَرَ
حكم بن اعرج وائى تپوس اوكړو د ابن عباس نه او هغوى د زمزم په خوا كښې تكيه لګولې وه ناست وو د عاشورے په ورځ. بيائے بيان كړو روايت په مثل د روايت د حاجب بن عمر

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَقُولُ حِينَ صَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ يَوْمٌ تُعَظِّمُهُ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فَإِذَا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ صُمْنَا الْيَوْمَ التَّاسِعَ قَالَ فَلَمْ يَأْتِ الْعَامُ الْمُقْبِلُ حَتَّى تُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عبد الله بن عباس ونيلے دى هر كله چه روژه نيولے وه رسول الله ﷺ د عاشورے د ورځے. او حكم ئے اوكړو ددے روژے د نيولو. نو خلقو عرض اوكړو چه يا رسول الله ﷺ دا ورځ خو داسے ده چه ددے تعظيم كوى يهود او نصارىٰ. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل كله چه وړاندے كال راشى نو انشاء الله تعالى مونږ به نهم تاريخ روژه نيسو. آخر دا چه وړاندے كال لا نۀ وو راغلے چه هغوى وفات شو.

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَئِنْ بَقِيتُ إِلَى قَابِلٍ لَأَصُومَنَّ التَّاسِعَ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ قَالَ يَعْنِي يَوْمَ عَاشُورَاءَ
عبد الله بن عباس وائى چه فرمائيلے دى رسول الله ﷺ كچرے زۀ باقى پاتے شوم د راتلونكى كاله پورے نو روژه به نيسم زۀ په نهم تاريخ باندے. او د ابوبكر په روايت كښې دادى چه هغوى وائى مراد ددے نه د عاشورے ورځ ده.

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ أَنَّهُ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ
سلمه بن اكوع وائى چه رسول الله ﷺ د اسلم د قبيلے نه يو سړے

---

¹: د ابن عباس نه هم روايت دے چه رسول الله ﷺ به د عاشورے د ورځے روژه نيوله. نو خلقو عرض اوكړو چه ددے ورځے تعظيم خو يهود او نصرٰى كوى. كۀ آئنده يعنى په راتلونكى كال دا ورځ راغله. نو مونږ به انشاء الله تعالى په نهم تاريخ روژه نيسو. بيا د هغوى انتقال اوشو. غرض دا چه د هغوى مذهب دغه دے چه عاشوره په نهم تاريخ ده. او د مشاهيرو علماء او سلفو خلفو مذهب دادے چه عاشوره په لسم تاريخ ده. او دغه قول دے د سعيد بن مسيب او حسن بصرى او مالك، او احمد، او اسحق رحمهم الله، او د ظاهر حديثو او دغه مقتضائے لفظ دے خكه چه عاشوره د عشرے نه مشتق دے او عشره لسو ته وئيلے شى. او د امام شافعى او د هغۀ د ملګرو او احمد او اسحق او نورو علماؤ قول دے چه د نهم او لسم تاريخ دواړو روژه مستحب ده. خكه چه حضور د لسم تاريخ روژه نيولے وه. او د نهم تاريخ ئے نيت كړے وو چه په دے كښې وفات شو. او په حديث د مسلم كښې تير شوے دى چه غوره روژه د رمضان نه پس صيام شهر الله محرم دے او علماؤ وئيلے دى چه د نهم تاريخ د روژے د ميلاويدو نه غرض دا وو چه يواځے د لسم تاريخ په روژه كښې د يهودو مشابهت وو.

اللهِ ﷺ رَجُلًا مِنْ أَسْلَمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَأَمَرَهُ أَنْ يُؤَذِّنَ فِي النَّاسِ مَنْ كَانَ لَمْ يَصُمْ فَلْيَصُمْ وَمَنْ كَانَ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ صِيَامَهُ إِلَى اللَّيْلِ

اولیږو د عاشورې په ورځ لو هغه حکم ئې اوکړو چه خلقو ته آواز اوکړه. چه چا روژه نه وي نیولې هغه د لونیسي او چا چه خوړلي وي هغه د شپې پورې خوراك څکاك نه کوي

عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ قَالَتْ أَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ عَاشُورَاءَ إِلَى قُرَى الْأَنْصَارِ الَّتِي حَوْلَ الْمَدِينَةِ مَنْ كَانَ أَصْبَحَ صَائِمًا فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ وَمَنْ كَانَ أَصْبَحَ مُفْطِرًا فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ فَكُنَّا بَعْدَ ذَلِكَ نَصُومُهُ وَنُصَوِّمُ صِبْيَانَنَا الصِّغَارَ مِنْهُمْ إِنْ شَاءَ اللهُ وَنَذْهَبُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَنَجْعَلُ لَهُمُ اللُّعْبَةَ مِنَ الْعِهْنِ فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ عَلَى الطَّعَامِ أَعْطَيْنَاهَا إِيَّاهُ عِنْدَ الْإِفْطَارِ

ربیع د معوذ د لور نه روایت دے هغوی وائي رسول الله ﷺ د عاشورې په سحر حکم اولیږو د مدینې نه چاپیره د انصارو کلو ته. چه چا روژه نیولې وي هغه د خپله روژه پوره کړي او چا چه سحر خوارك کړے وي هغه د باقي ورځ پوره کړي (یعنی اوس د څه نه خوري) بیا دد ے نه روستو به مونږ روژه نیوله او په خپلو ماشومانو هلکانو به مو هم روژه ساتله او که الله ﷻ به اوغوښته او جماعت ته به تلو. او د خپلو هلکانو دپاره به مو ګوډیانې خوړے کړے وے د وړئ نه بیا چه به کوم یو د دوی نه ژړل نو هغوی ته به مو دغه د لوبو دپاره ورکولې. تر دے پورے چه د روژے ماتولو وخت به راغے [1]

عَنْ خَالِدِ بْنِ ذَكْوَانَ قَالَ سَأَلْتُ الرُّبَيِّعَ بِنْتَ مُعَوِّذٍ عَنْ صَوْمِ عَاشُورَاءَ قَالَتْ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُسُلَهُ فِي قُرَى الْأَنْصَارِ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ بِشْرٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَنَصْنَعُ لَهُمُ اللُّعْبَةَ مِنَ الْعِهْنِ فَنَذْهَبُ بِهِ مَعَنَا فَإِذَا سَأَلُونَا الطَّعَامَ أَعْطَيْنَاهُمُ اللُّعْبَةَ تُلْهِيهِمْ حَتَّى يُتِمُّوا

خالد بن ذکوان تپوس اوکړو د ربیع بنت معوذ بن عفراء نه د عاشورے د روژے په باره کښې نو هغوی اووے. قاصد اولیږو رسول الله ﷺ د انصارو کلو ته او ذکر ئې کړو حدیث پشان د بشر مګر په دے کښې ئې دومره وئیلي دي چه جوړولې به مونږ د هلکانو ګوډیانې د وړئ نه او هغه به مونږ د ځان سره اوړلې. بیا چه به کله هغوی غله غوښتله نو مونږ به ورله هغه ګوډیانې ورکولې او هغه به مو غافله کول ترے پورے چه

[1] مراد دد ے دواړو روایتونو دا دے چه څوك روژه دار وي هغه د ئې پوره کړي او چا چه خوړلي دي هغه د دغه ورځ دا د ابو په وجه د روژه ماتي د وخته پورے څه نه خوري. لکه د شك د ورځې په روژه کښې چه څه خوراك شوے وي او بیا معلومه شي. چه دا ورځ د رمضان ده هغوی له هم د مابنامه پورې څه خوړل نه دي پکار. او په وړو هلکانو ئې دد ے دپاره روژه نیوله چه عادت واخلي اګر چه هغه غیر مکلف دي.

صومهم

بَاب تَحْرِيمِ صَوْمِ يَوْمَيِ الْعِيدَيْنِ

عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ مَوْلَى ابْنِ أَزْهَرَ أَنَّهُ قَالَ شَهِدْتُ الْعِيدَ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَجَاءَ فَصَلَّى ثُمَّ انْصَرَفَ فَخَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ إِنَّ هَذَيْنِ يَوْمَانِ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صِيَامِهِمَا يَوْمُ فِطْرِكُمْ مِنْ صِيَامِكُمْ وَالْآخَرُ يَوْمٌ تَأْكُلُونَ فِيهِ مِنْ نُسُكِكُمْ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ صِيَامِ يَوْمَيْنِ يَوْمِ الْأَضْحَى وَيَوْمِ الْفِطْرِ

عَنْ قَزَعَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ مِنْهُ حَدِيثًا فَأَعْجَبَنِي فَقُلْتُ لَهُ آنْتَ سَمِعْتَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأَقُولُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَمْ أَسْمَعْ قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ لَا يَصْلُحُ الصِّيَامُ فِي يَوْمَيْنِ يَوْمِ الْأَضْحَى وَيَوْمِ الْفِطْرِ مِنْ رَمَضَانَ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ نَهَى

هغوی به خپله روژه پوره کړله.

باب: د وروکی او د لوئی اختر په ورځ روژه نیول حرام دی

ابوعبیده غلام د ابن ازهر وائی حاضر شومه زهٔ په اختر کښې د عمر بن خطاب رضی الله عنه سره او هغه راغی او مونځ ئې اوکړو بیا فارغ شو او خطبه ئې اولوسته خلقوته. او اوئې فرمائیل چه دا دواړه ورځې داسې دی چه منع کړې ده رسول الله ﷺ په دې کښې د روژې نیولو نه او دا ئن ورځ ستاسو د افطار ده روستو د رمضان نه او دویمه ورځ داسې ده چه تاسو د خپلو قربانو غوښې خوړې شئ[1].

د ابوهریره نه روایت دې چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده د دوو ورځو د روژې نه چه یو د قربانئ اختر او بل د روژې اختر دې.

قزعه د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت کړې دې چه هغوی وائی واؤریدو ما د هغوی نه یو حدیث لره چه خما ډیر خوښ شو. او ما هغوی ته اووې اې دا تا اوریدلې د رسول الله ﷺ نه؟ نو هغوی اووې زهٔ به په رسول الله ﷺ باندې هغه خبره کوم چه هغهٔ هغه نهٔ وی فرمائیلې او کومه چه ما د هغوی نه نهٔ وی اوریدلې. هغوی اووې چه اوریدلې دی ما د حضور ﷺ نه چه فرمائیلې ئې وو روژه صحیح نهٔ ده په دې دواړو ورځو کښې. یو په اختر د قربانئ او بل په اختر د روژې کښې.

ابوسعید خدری رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده د دوو

[1] : روژه نیول د وروکی اختر او لوئې اختر په ورځ حرامه ده په اجماع سره په هر حال کښې خواه که هغه روژه د نذر وی یا د نفل یا د کفارې وغیره وی. او کهٔ خاص د دې په طرف تعین او کړی. او نذر اوکړی قصداً نو د امام شافعی او جمهورو په نزد نذر د هغه متعلقه کیدې نهٔ شی. او نهٔ پرې د هغې قضا لازمیږی او د ابوحنیفه په د نذر لازمیږی او قضاء د هغې واجب ده. او کهٔ په دغه ورځ روژه او نیسی نو نذر پوره کیږی او دا د تولو ائمو خلاف ده (کذا قال النووی)

عَنْ صِيَامِ يَوْمَيْنِ يَوْمِ الْفِطْرِ وَيَوْمِ النَّحْرِ

ورځو د روژو نه چه یو وروکے اختر دے او بل لوئے اختر دے.

عَنْ زِيَادِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَقَالَ إِنِّي نَذَرْتُ أَنْ أَصُومَ يَوْمًا فَوَافَقَ يَوْمَ أَضْحَى أَوْ فِطْرٍ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَمَرَ اللهُ تَعَالَى بِوَفَاءِ النَّذْرِ وَنَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمِ هَذَا الْيَوْمِ

زیاد ابن جبیرؒ وائی یو سړے د ابن عمرؓ خواله راغے او ورته ئے اووے ما نذر کړے دے چه یوه ورځ روژه به نیسم او هغه ورځ چه موافق وی د قربانۍ د اختر یا د روژے د اختر. نو ابن عمرؓ اوفرمائیل چه الله پاك د نذر پوره کولو حکم فرمائیلے دے. او نبی کریم ﷺ د دے ورځے د روژے نیولو نه منع فرمائیلے ده[1].

بَابُ تَحْرِيمِ صَوْمِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ

باب: په ایّام تشریق کښې روژه نیول حرام دی

عَنْ نُبَيْشَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَيَّامُ التَّشْرِيقِ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ

نبیشهؓ وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی د تشریق ورځے د خوړلو او څکلو ورځے دی.

عَنِ ابْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ بَعَثَهُ وَأَوْسَ بْنَ الْحَدَثَانِ أَيَّامَ التَّشْرِيقِ فَنَادَى أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَأَيَّامُ مِنًى أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ

کعبؓ وائی چه رسول الله ﷺ دوی لره او آوس بن حدثانؓ لره په ایام تشریق کښې اولیږل چه آواز اوکړی چه جنت ته به سوا د مؤمن څوك نه ځی. او د منی ورځے د خوراك څکاك دی.

عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ طَهْمَانَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَنَادَيَا

د ابراهیم بن طهمان نه دغه مضمون روایت شوے دے مگر په دے کښې داده چه هغوی دواړو آواز اوکړو.

بَابُ كَرَاهَةِ صِيَامِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مُنْفَرِدًا

باب: یواځے د جُمعے په ورځ د روژے د نیولو کراهت

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وَهُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ أَنَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صِيَامِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَقَالَ نَعَمْ وَرَبِّ هَذَا الْبَيْتِ

د محمد بن عباد بن جعفرؒ نه روایت دے وائی چه تپوس اوکړو ما د جابرؓ نه او هغوی طواف کولو د بیت الله شریف نه. چه آیا منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ د جمعے د ورځے د روژے نیولو نه؟ هغوی اووے چه آو قسم دے ددے کور په رب باندے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ

ابوهریرهؓ وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك دی یواځے د

---

[1]: یعنی ابن عمرؓ د هغهٔ د جواب نه ورکړه اوکړه او بیان ئے اوفرمائیلو چه په دے کښې د لیلونه معارض دی. او څوك چه د اختر نذر معین کړی د هغې تحقیق پورته اوس بیان شوے دے.

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَصُمْ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَّا أَنْ يَصُومَ قَبْلَهُ أَوْ يَصُومَ بَعْدَهُ

جمعے د ورځے روژه نهٔ نيسی مګر د هغے نه مخکښ دِ هم نيسی يا د هغے نه روستو د هم نيسی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَخْتَصُّوا لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ بِقِيَامٍ مِنْ بَيْنِ اللَّيَالِيْ وَلَا تَخُصُّوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِيَامٍ مِنْ بَيْنِ الْأَيَّامِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي صَوْمٍ يَصُومُهُ أَحَدُكُمْ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ فرمائيلے دی څوك دِ نهٔ خاص كوی د جمعے شپے لره په نورو تولو شپو كښ د بيدارئ او مانځهٔ سره او نهٔ د خاص كوی د هغے ورځ لره په تولو ورځو كښ د روژے سره. مګر دا چه روژه نيسی هغه هميشه او په هغے كښ جمعه راشی [1].

[1]: نوويؒ فرمائيلے دی چه د جمهور ملګرو د شافعی دغه قول دے چه خاص د جمعے په ورځ نيول مكروهه دی. مګر كهٔ داسے وی چه په يو تاريخ كښ هميشه چا روژه نيوله او په دغه ورځ جمعه راغله نو څهٔ باك نشته دے. او دغه شان مثلاً كهٔ چا نذر او منلو چه په كومه ورځ بيمار صحت اوموندو نو روژه به نيسم. او هغه د جمعے په شپه صحت اوموندو نو څهٔ پرواه نشته. يائے يوه روژه د هغے نه مخكښ يا روستو اونيوله نو هم مكروه نهٔ دی. او امام مالكؒ چه كوم په مؤطا كښ وئيلے دی چه ما د چا د علم د خاوند نه نهٔ دی اوريدلے چه هغه د جمعے د ورځے د روژے نه منع كول كړی وی خو كيدے شی هغهٔ ته دا حديثونه رسيدلی نهٔ وی. پس هغه معذور دیؒ. او مونږ لره اتباع د حديث ضروری ده. نهٔ اتباع د چا امام او خاص كر چه د حديث نه خلاف وی. چنانچه داؤدیؒ كوم چه د امام مالكؒ په شاګردانو كښ دے هغوی دا تصريح كړے ده چه دا حديث به هغوی ته رسيدلے نهٔ وی كهٔ رسيدلے وے نو هغه به د دے خلاف چرته هم نهٔ وو كړے او دغه ګمان په تولو امامانو دے چه كوم مسائل د هغوی د حديث نه خلاف دی نو كيدے شی هغوی ته دغه حديث رسيدلی نهٔ وی ورنه په هغوی كښ يو هم قصداً د حديثو مخالفت نهٔ دے كړے. او د امت دپاره دا ضروری ده چه كله د معصوم نبی ﷺ حديث ميلاؤ شی (بشرطيكه هغه حديث صحيح ، صريح او متعارض نهٔ وی. ۱۲ عارف) نو بيا دِ د چا تقليد نهٔ كوی. دغه د مؤمنانو لاره ده او دغه لار د منصيفينو ده. اګر كهٔ متعصبين ئے ډير بد ګنړی او حكمت په دے منع والی كښ كيدے شی دا وی چه دا ورځ د دعا او ذكر او عبادت او د لمبلو ده. او مانځهٔ له د وخت تلو ده. خكه روژه نهٔ نيول په دے ورځ غوره شو. چه دا وظائف په ښه طريقه سره ادا شی او دا ورځ ګويا نظير دے د عرفے د عرفات والا وو دپاره چه په دے ورځ هم حاجيانو لره روژه نهٔ نيول اولی دی. پس په دے كښ هم روژه نهٔ نيول مستحب دی. او هر كله چه ئے يوه ورځ مخكښ يا روستو د هغے نه روژه اونيوه. نو دا روژے لكه چه كفاره شوه د هغه وظيفو چه په هغے كښ په سبب د روژے قصور راغلے وو. پس كراهت ختم شو. او په دے حديث كښ تصريح ده چه خاص والے د جمعے د شپے دی هم نهٔ كوی چه په دے شپه كښ به قيام كوی او مونځ به كوی او په نورو شپو كښ به نهٔ كوی او د دے نه د صلوة الرغائب بدعت كيدل معلوم شو. الله تعالی دِ داسے احداث كونكی برباد كړی. او معلومه شوه چه دغه مونځ بدعت او جهالت دے او د سر نه د خپو پورے ګمراهی ده. او په دے كښ ډير منكرات او محدثات دی د يو جماعت د امامانو نه د دے په مذمت او قباحت كښ تصانيف د خانه كړے دی. او دی لره ئے د سر نه د خپو پورے فسق او ګمراهئ او ضلالت او موجب د رسوايئ ليكلی دی. او د دے مرتكب لره ئے د سر نه د خپو پورے ضال او اهل ضال ليكلے دے. انتهیٰ ما فی النووی بنوع تغير.

بَاب بَيَانِ نَسْخِ قَوْلِهِ تَعَالَى وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ

باب: آيت وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ د منسوخ كيدو بيان

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ كَانَ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُفْطِرَ وَيَفْتَدِيَ حَتَّى نَزَلَتِ الْآيَةُ الَّتِي بَعْدَهَا فَنَسَخَتْهَا

سلمه بن الاكوع وائي هر كله چه دا آيت نازل شو. وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ. يعني د كومو خلقو چه طاقت شته د روژے هغه د فديه وركوي د هرے روژے په بدله كښې يو مسكين ته غله وركول نو چا چه به غوښته روژه به ئے نۀ نيوه په رمضان كښې او فديه به ئے وركوله او دغه حكم وو تر دے پورے چه د هغے نه روستو دا آيت نازل شو. او دے دغے آيت لره منسوخ كړو يعني اوس چه طاقت ئے وي ضرور به روژه نيسي او فديه وركول صحيح نۀ دي.

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ كُنَّا فِي رَمَضَانَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَاءَ صَامَ وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ فَافْتَدَى بِطَعَامِ مِسْكِينٍ حَتَّى أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ

سلمه بن اكوع وائي چه مونږ به په رمضان كښې د رسول الله ﷺ په زمانه كښې دا عادت لرلو چه چا به غوښته روژه به ئے نيوله او چا چه به غوښته روژه به ئے نۀ نيوه او فديه به ئے وركوله په يو مسكين باندے غله خوړل تر دے پورے چه د هغے نه پس دا آيت نازل شو. فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ [1].

د اردو كتاب مترجم وائي دغه حكم دے د هغه اورادو او وظائفو كوم چه خلقو د خانه جوړ كړے دي. او د شارع عليه السلام نه د هغے څۀ سند نشته دے. لكه دُعائے گنج العرش، د رود تاج، درود لكهي او دعائے سيفي، او درود اكبر وغيره

[1]: يعني دا دے نه د روستو آيت نه هغه فديے والا آيت منسوخ شو. او د جمهورو دغه قول دے لكه د سلمه په روايت كښې چه دي. او د ابن عمر او جمهورو دغه عمل دے چه څوك طاقت د روژے نۀ لري په سبب د بوډاوالي هغه د فديه وركوي. او د يو جماعت د سلفو او مالك او ابوثور او داؤد قول دے. چه فديه وركول مطلقًا منسوخ شوے دي خواه كۀ بوډا وي يا ځوان او كۀ بوډا داسے وي چه د روژے طاقت نۀ لري په هغۀ باندے مسكين ته غله وركول واجب نۀ دي. او مالك او د هغۀ د پاره غلے وركولو ته مستحب وئيلے شي. او قتاده عنه وائي دا رخصت وو د بوډا د پاره كوم چه به طاقت د روژے لرلو بيا هغه رخصت منسوخ شو. او د هغه چا په حق كښې دا رخصت باقي پاتے شو څوك چه طاقت نۀ لري. او ابن عباس وغيره وئيلے دي چه نازل شوے دے دا آيت د فديے او د بوډا بيمار د پاره چه هغه روژه نۀ شي ساتلے. او هغوي له فديه وركول پكار دي. او په دې صورت لكه چه لفظ دلالت محذوف وي: وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ او په دے صورت كښې به آيت محكم وي منسوخ به نۀ وي مگر مريض چه كله صحت اومومي نو قضا به راوړي مگر په بوډا باندے قضا ئے واجب نۀ ده. صرف فديه پوره ده. او د اكثرو علماؤ قول دي چه د بيمار فديه وركول ضروري نۀ دي صرف قضاء په

بَاب جَوَازِ تَأْخِيرِ قَضَاءِ رَمَضَانَ مَالَمْ يَجِيءْ رَمَضَانُ آخَرُ

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا تَقُولُ كَانَ يَكُونُ عَلَيَّ الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَ فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقْضِيَهُ إِلاَّ فِي شَعْبَانَ الشُّغْلُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْبِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَذٰلِكَ لِمَكَانِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ فَظَنَنْتُ أَنَّ ذٰلِكَ لِمَكَانِهَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْيَى يَقُولُهُ

عَنْ يَحْيَى بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرَا فِي الْحَدِيثِ

باب : د یو رمضان په قضا کښې د بل رمضان پورے د روستے کولو بیان

ابو سلمهؓ وائی اوریدلے دی ما د حضرت عائشےؓ نه چه فرمائیلے ئے وو چه څما نه به د رمضان کومے روژے قضاء شوے نو ما به قضاء نهٔ نیولے مگر په شعبان کښې. او وجه ددے دا وه چه زهٔ به مشغوله وم د رسول اللهﷺ په خدمت کښې (او موقعه د نیولو به مے نهٔ موندهٔ)

د یحیٰیؒ نه هم دغه روایت ذکر شوے دے په سند سره مگر په دے کښې دادی چه دا تاخیر د قضاء روژے د شعبانه پورے د رسول اللهﷺ د خدمت په سبب وو.

د یحیٰیؒ نه روایت دے په دغه اسناد سره او په دے کښې یحیٰی وئیلے دی چه زهٔ گمان کوم چه دا تاخیر هغے ته د رسول اللهﷺ د خدمت په سبب سره راغلے وی.

د یحیٰی نه دغه روایت مروی شوی دے مگر په دے کښې د رسول

دهٔ باندے واجب ده. چه د صحت نه پس به ئے قضا راوړی. او زید بن اسلم او زهری او مالكؒ وئیلی دی چه دا آیت محکم دے او د مریض په حق کښې نازل شوے دے چه هغه به روژه نهٔ نیسی. او بیا چه کله ښه شی او قضاء رانهٔ وړی. تر دے پورے چه دویم رمضان راشی او بیا به د دویم رمضان روژے اونیسی. او پس د رمضان نه به قضا هم ادا کوی او فدیه به هم ورکوی او فدیه د هرے روژے په بدله کښې یو مُد غَنم دی. چه هغه یو سیر ته نژدے دی. مگر کوم مریض چه داسے وی چه په یو رمضان کښې ترے روژه قضاء شوه او ناجوړتیا د هغهٔ دویم رمضان ته برابر اورسیده. نو هغه به فدیه نهٔ ورکوی ضرف د قضاء د روژے کافی ده. او په دے تولو صورتونو کښې د يُطِيقُونَه ضمیر د روژے په طرف راجع دے. او حسن بصریؒ وغیره وئیلے دی چه ضمیر ددے راجع دے په طرف د فدیے یعنی کوم خلق چه د اطعام طاقت لری هغه دِ فدیه ورکوی او د روژے په طرف راجع نهٔ دے او اِطْعَامُ د هغوی په نز دا آیت منسوخ دے. او عام او د جمیع علماؤ قول دے. چه اطعام د هرے روژے یو مُد دے او ابوحنیفه دوه مُد وئیلے دی. او د صاحبینوؒ هم دغه قول دے. او اشهب مالکیؒ وئیلے دی چه یو مُد او دریمه حصه د مُد ده. د اهل مدینے نه سوا او د جمهورو علماؤ قول دے چه هغه مرض چه په هغے کښې افطار روا دے داسے کیدل ضروری دی چه په روژه سره په دے کښې مشقت وی او خنو علماؤ وئیلی دی چه هر مریض لره افطار روا دے. کذا قال القاضی عیاض علی مانقله النووی.

الشُّغُلُ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

الله ﷺ د خدمت او مشغولیت ذکر نښته دے.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ إِنْ كَانَتْ إِحْدَانَا لَتُفْطِرُ فِي زَمَانِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَمَا تَقْدِرُ عَلَى أَنْ تَقْضِيَهُ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ حَتَّى يَأْتِيَ شَعْبَانُ

حضرت عائشهؓ وائي چه زمونږ نه يوه دلسے وه چه روژے به ئے نۀ نيوه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې او قضاء به ئے نۀ نيوه. د رسول الله ﷺ سره تر دے پورے چه شعبان به راغے [1].

بَابُ قَضَاءِ الصِّيَامِ عَنِ الْمَيِّتِ

باب: د مړی نه د قضاء روژے د نیولو بیان

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ

د حضرت عائشےؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوک چه مړ شی او په هغۀ بانديے روژے پاتے شی نو د هغۀ ولی به د هغۀ د طرفه روژے نیسی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنَّ أُمِّي مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ

ابن عباسؓ وائی يوه ښځه د رسول الله ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوکړو چه خما مور مړه ده او په هغے باندے د يو مياشتے روژے وے. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه ښه ده ګوره

---

[1]: یعنی جناب د مؤمنانو مور رضی الله عنها به همیشه د حضرت ﷺ په خدمت کښې حاضره وه. او هر وخت به تابعداره اوسیدله. چه د رسول الله ﷺ خدمت په ځائے راوړی او دا معلومه نۀ وه چه هغه به څۀ وخت د هغے اراده فرمائیله. او اجازت د روژے به ئے په دی وجه نۀ اخستو چه کیدے شی حضرت ﷺ اجازت خو راکړی مگر بیا هغوی ته حاجت شی او ددے په وجه ورته تکلیف اورسی. دا کمال د ادب وو د هغوی او کمال د رضامندیٔ د رسول الله ﷺ وو. او د علماؤ اتفاق دے په دے باندے چه ښځے له نفل روژه جائز نۀ ده هر کله چه د هغے خاوند په کور کښې وی. مگر د هغۀ په اجازت سره. او د مؤمنانو مور حضرت عائشه به په شعبان کښې ځکه فرصت موندلو. چه په شعبان کښې به حضور ﷺ اکثر پخپله روژے نیولے. او تاخیر د قضاء د مودے هم ختمیدو ته رسیدلے وو. او مذهب د امام مالك او ابوحنیفه او احمد او د جمهور سلفو او خلفو رحمهم الله دغه دے چه قضاء د رمضان د تاخیر سره جائز ده یعنی دا واجب نۀ ده چه په اول د شوال کښې به دا پوره کوی. بلکه په پوره کال کښې چه کله غواړی ادا دی ئے کړی. او دا فرض دی د خپلے ذمے نه چه کله غواړی او غورځوی. او دغه خلقو قول دے چه تاخیر ددے د شعبان نه روستو روا نۀ دے ځکه چه ددے نه پس رمضان داسے میاشت ده چه په هغے کښې قضاء نۀ شی کیدے. او د داؤد ظاهری مذهب دے. چه د اختر د دویمے ورځے نه د قضاء روژو نیول ضروری دی. او روایت د مؤمنانو د مور حضرت عائشے په داؤد باندے حجت دے. او جمهورو وئیلے دی چه البته جلتی کول په قضاء کښې مستحب دی. او چا چه د رمضان په میاشت کښې د څۀ عذر په سبب روژه اونۀ نیوه او هغه عذر د هغۀ مثلاً بیماری یا حیض یا نفاس وغیره دومره اوږد شو چه هغه پکښې مړ شو یا مړه شوه نو په هغۀ باندے نۀ روژه شته او نۀ فدیه او نۀ به د هغۀ د طرف نه بل څوک روژه نیسی او نۀ به فدیه ورکوی او څوک چه د رمضان قضاء روژے نیسی نو مستحب دی چه پرله پسے ئے اونیسی او که جدا جدائے هم اونیولے نو د جمهورو په نز جائز دی. ځکه چه د روژے اطلاق په دے باندے هم دے.

فَقَالَ أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَيْهَا دَيْنٌ أَكُنْتِ تَقْضِينَهُ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ فَدَيْنُ اللهِ أَحَقُّ بِالْقَضَاءِ

چه په هغې باندے څۀ قرضه وی نو تۀ به ئے ادا کړے هغې عرض اوکړو. آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه بیا خو د الله پاك قرضه د هر څۀ مخکښ ادا کول ضروری دی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أُمِّي مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ أَفَأَقْضِيهِ عَنْهَا فَقَالَ لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكَ دَيْنٌ أَكُنْتَ قَاضِيَهُ عَنْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَدَيْنُ اللهِ أَحَقُّ أَنْ يُقْضَى قَالَ سُلَيْمَانُ فَقَالَ الْحَكَمُ وَسَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ جَمِيعًا وَنَحْنُ جُلُوسٌ حِينَ حَدَّثَ مُسْلِمٌ بِهَذَا الْحَدِيثِ فَقَالَا سَمِعْنَا مُجَاهِدًا يَذْكُرُ هَذَا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

ابن عباس ؓ وائی یو سړے نبی کریم ﷺ له راغے او عرض ئے اوکړو چه اے د الله رسوله ﷺ خما مور مړه شوے ده. او په هغې باندے د یوے میاشتے روژے دی. آیا زۀ د هغې قضاء اونیسم؟ حضور ﷺ اوفرمائیل کۀ چرے ستا په مور باندے قرضه وے نو تا به ادا کوله کۀ نه؟ هغۀ اووے . آو. ادا کوله به مے. حضور ﷺ اوفرمائیل بیا خو ضرور د الله قرض ادا کول پکار دی . او سلیمان وائی چه حکم او سلمه بن کهیل دواړه وائی چه مونږ ناست وو هر کله چه مسلم دا حدیث بیان کړو نو هغوی دواړو اووے چه اوریدلے دی مونږ د مجاهد نه چه هغه بیانولو دغه روایت لره د ابن عباس ؓ نه

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ؓ قَالَ جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أُمِّي مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ نَذْرٍ أَفَأَصُومُ عَنْهَا قَالَ أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكِ دَيْنٌ فَقَضَيْتِيهِ أَكَانَ يُؤَدِّي ذَلِكِ عَنْهَا قَالَتْ نَعَمْ قَالَ فَصُومِي عَنْ أُمِّكِ

سعید ابن جبیر ؒ د ابن عباس ؓ نه روایت کړے دے چه یوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کښ راغله او عرض ئے اوکړو یا رسول الله ﷺ خما مور مړه شوه او په هغې باندے د نذر روژه وه. آیا زۀ د هغې د طرف نه روژه اونیسم؟ بیا حضور ﷺ دغه قرض والا خبره بیان اوفرمائیله کومه چه مخکښ تیره شوه.

عَنْ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ بَيْنَا أَنَا جَالِسٌ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ إِنِّي تَصَدَّقْتُ عَلَى أُمِّي بِجَارِيَةٍ وَإِنَّهَا مَاتَتْ قَالَ فَقَالَ وَجَبَ أَجْرُكِ وَرَدَّهَا عَلَيْكِ الْمِيرَاثُ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ كَانَ عَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ أَفَأَصُومُ عَنْهَا قَالَ

بریده ؓ وائی چه مونږ ناست وو د رسول الله ﷺ سره چه یوه ښځه راغله او عرض ئے اوکړو چه ما یوه وینځه په خیرات کښ ورکړے وه خپلے مور له او خما هغه مور مړه شوه. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ستا ثواب اوشو. او بیا هغه وینځه په سبب د میراث تاله راغله هغې عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ خما په مور باندے د یوے میاشتے روژے وے آیا زۀ د هغې د طرفه روژے نیولے شم؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه آو. روژے

صُومِي عَنْهَا قَالَتْ إِنَّهَا لَمْ تَحُجَّ قَطُّ أَفَأَحُجُّ عَنْهَا قَالَ حُجِّي عَنْهَا

نیسه د هغې د طرفه هغهٔ عرض لوکړو خما مور حج نهٔ وو کړے حضرت ﷺ اوفرمائیل د هغې د طرفه حج هم اوکړه [1]

بَاب نَدْبِ لِلصَّائِمِ إِذَا دُعِيَ إِلَى الطَّعَامِ وَلَمْ يُرِدِ الْإِفْطَارَ أَوْ شُوتِمَ أَوْ قُوتِلَ أَنْ يَقُولَ إِنِّي صَائِمٌ

باب: کهٔ چرے روژه دار ته د خوراك دعوت ورکړے شي او د روژے د ماتولو اراده نهٔ لري ، یا دهٔ ته کنځل اوکړے شي یا د دهٔ سره جنګ اوکړے شي نو دهٔ له دا ویل پکار دي چه زهٔ روژه یم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى طَعَامٍ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي هر کله چه خوك د خوراك د پاره اوغوښتے شي او د هغهٔ روژه وي نو او د وائي چه زهٔ روژه یم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رِوَايَةً قَالَ إِذَا

ابوهریرهؓ روایت کړے دے چه کوم بنده روژه اونیسي هغه به

---

[1] : د امام شافعيؒ یو قول دا دے چه مستحب دي ولي د مړي لره د مړي د طرفه روژے نیول او کله چه ولي روژه او نیوه نو دا طعام مسکین څهٔ ضرورت پاتے نهٔ شو. او د مړي ذمه خلاصه شوه. او دغه قول صحیح او مختار دے. او دے قول ته دغه د شافعيؒ ملګرو صحیح او محقق وئیلے دے. کوم چه د فقهې او حدیث دواړو جامع دي. او دغه قول موافق دے د هغه حدیثونو چه هغه صحیح دي او صریح په دے باندے دلالت کوي. او کوم چه په حدیث کښ راغلے دي چه خوك مړ شي او په هغهٔ باندے روژے وي نو د هغهٔ د طرفه غله اوخوروله شي. دا حدیث ثابت نهٔ دے او کهٔ چرے ثابت هم شي نو د هغې تطبیق په دے شان دے چه دواړه حکم جائز دي او ولي مختار دے یعني ولي لره اختیار دے کهٔ روژے نیسي او کهٔ طعام ورکوي. او د ولي نه مراد نژدے بنده دے. خواه کهٔ عصبه وي یا خواه کهٔ وارث وي یا کهٔ بل خوك وي او د دے روایتونو نه څو امور معلوم شو.

اول: جواز د روژے د مړي د طرفه.

دویم: د پردئ ښځے خبره اوریدل په ضرورت شرعي کښ.

دریم: صحت د قیاس ځکه چه هغوي حقوق الهي لره په حقوقو د بندګانو باندے یعني دین باندے قیاس کړو او په دے سره د مړي د طرفه د قرض ورکول هم ثابت شو او په دے باندي د امت اجماع ده. او د قرض ادا کول کهٔ د خپلوانو نه بغیر د بل چا د طرفه وي هم روا دي.

څلورم: دا هم معلومه شوه چه کوم څیز چه په چا باندے صدقه کړے او بیا هغه په میراث کښ واپس تاله راشي نو د هغې اخستل بے د کراهت نه روا دي په خلاف د دے چه داسے څیز لره واخلے چه دا منع دے.

پنځم: معلومه شوه چه نیابت د مړي په حج کښ جائز دے. او دغه شان نیابت د هغه چا چه هغه داسے بیمار وي چه امید د صحت نهٔ لري.

أَصْبَحَ أَحَدُكُمْ يَوْمًا صَائِمًا فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ فَإِنِ امْرُؤٌ شَاتَمَهُ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ إِنِّي صَائِمٌ

فحش گوئی نهٔ کوی او نهٔ به جهالت کوی. او کهٔ څوک دهٔ ته بدے اووائی یا ورسره جنګ کوی. نو وائی دِ ورته چه زهٔ روژه یم زهٔ روژه یم [1].

بَاب فَضْلِ الصِّيَامِ

باب : د روژے فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصِّيَامَ هُوَ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَخِلْفَةُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ

ابوهریرهؓ د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه الله تعالی فرمائلی دی چه هر عمل د بنیادم د هغهٔ دپاره دے مګر روژه خاص ځما دپاره ده او زهٔ به د هغے بدله ورکوم او قسم دے په هغه خدائے چه روح د محمدؐ د هغهٔ په لاس کښ دے چه د روژه دار د خلے بوئ په نزد د الله تعالی د مشکو نه هم زیات خوشبودار دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصِّيَامُ جُنَّةٌ

ابوهریرهؓ وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلے دی چه روژه ډهال دے [2].

عَنْ أَبِي صَالِحٍ الزَّيَّاتِ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصِّيَامَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ فَإِذَا

د ابو صالح زیات نه روایت دے چه هغوی اوریدلے دی د ابوهریرهؓ نه چه ویل ئے چه فرمائیلے دی رسول اللهﷺ چه الله پاک فرمائی هسے خو هر عمل د بنیادم د هغهٔ دپاره دے مګر روژه چه ده هغه خاص ځما دپاره ده او زهٔ به پخپله د هغے بدله ورکوم او روژه ډهال دے بیا چه هر کله د چا روژه وی نو په دغه ورځ د کنځل نهٔ کوی او آواز د نهٔ اوچتوی

---

[1] : یعنی هغهٔ ته به خبر ورکړی چه زهٔ د کنځلو وئیلو لائق نهٔ یم او کهٔ په دعوت کښ ئے څوك او غواړی نو دغه عذر د روژے دِ ورته بیانوی. بیا کهٔ هغه نهٔ منی او خامخائے غواړی نو تلل لازم دی او خوراك به نهٔ کوي او روژه ددهٔ دِ نهٔ خوړلو عذر دے. او د چا چه روژه نهٔ وی هغهٔ ته په خوړلو کښ څهٔ عذر نشته. او هغهٔ له خوړل لازم دی. او د شافعیؒ د ملګرو دا هم قول دے چه کهٔ د کور خاوند سختی کوی او روژه نفل وی نو ماتول ئے مستحب دی او کهٔ روژه واجب وی نو ماتول ئے حرام دی او ددے نه دا هم معلومه شوه چه ښکاره کول د نفل عبادت کهٔ هغه روژے وی یا مونځ وغیره په وخت د ضرورت جائز دی. او کهٔ د ظاهرولو ئے ضرورت نهٔ وی نو بیا پټول د هغے مستحب دی او په دی کښ حسن معاشرت او اصلاح ذات البین او د زړهٔ خوشحالی ده د دوستانو. او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه څوك درسره جنګ کوی نو هغهٔ ته وایئ چه زهٔ روژه یم په دے کښ د هغهٔ د زیاتی نه قلاریدل دی او غالبًا هغه چپ کیږی. او د کنځلو وئیلو نه هر سړی له بچ کیدل ضروری دی مګر روژه دار ته نور هم زیات تاکید دے ددے نه د خان ساتلو.

[2] : یعنی بچ کوی بنده لره د شهوت د غضب د فساد نه.

كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلَا يَرْفُثْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَسْخَبْ فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ وَلِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ يَفْرَحُهُمَا إِذَا أَفْطَرَ فَرِحَ بِفِطْرِهِ وَإِذَا لَقِيَ رَبَّهُ فَرِحَ بِصَوْمِهِ

او که څوك ورته کنځل اوکړي يا ورسره جنګ کوي نو دے د ورته وائي چه زه روژه يم او قسم دے په هغه پروردګار چه د محمد ﷺ روح د هغه په لاس کښ دے چه بيشکه د روژه دار د خلے بوئ د الله په نزد د قيامت په ورځ د مشکو د خوشبوئ نه زيات غوره دے. او روژه دار لره دوه خوشحالئ دي چه په هغے سره هغه خوشحاليږي يو خو خوشحاليږي هغه د روژے ماتولو په وخت دويم خوشحاليږي په هغه چه کله ميلاؤ شي د خپل رب سره د خپلے روژے په سبب

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ الْحَسَنَةُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِي لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ فَرْحَةٌ عِنْدَ فِطْرِهِ وَفَرْحَةٌ عِنْدَ لِقَاءِ رَبِّهِ وَلَخُلُوفُ فِيهِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ

ابوهريره رضی الله عنه وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دي چه هر عمل د بنده په دے شان دوچند کيږي چه يوه نيکي د لسو پورې رسيږي تر دے چه د اوو سو (۷۰۰) پورے زياتيږي. او الله تعالى فرمائي مګر روژه چه ده نو هغه خاص ځما د پاره ده او زه به د هغے بدله ورکوم. ځکه چه ځما بنده خپل خواهشونه او خوراکونه ځما د پاره پريږدي او روژه دار لره دوه خوشحالئ دي يوه خوشحالي د هغه د روژے ماتولو په وخت او دويمه خوشحالي د الله سره د ملاقات په وخت او البته د روژه دار د خلے بوئ الله پاك ته د مشکو د بوئ نه زيات خوښ دے [1].

[1]: د الله پاك د پاره روژه خاص ده يعني په دے کښ چونکه په ظاهر کښ څۀ صورت نشته يو عام امر دے. ځکه په دے کښ رياء او سمعه ته دخل ډير کم دے. او نفس ته په دے کښ مطلق حصه نشته. او يو قسم له تشبيه ده د ملائيکو سره بلکه د رب العالمين سره چه د خوړلو څکلو نه بے پرواه کيدل د هغۀ شان دے او دا دے نه لوئے عظمت د روژے معلوم شو. او د روژه دار د خلے بوئ لره ئے د مشکو نه زيات خوشبودار فرمائيلے دے لکه د شهيدانو د وينے په باره کښ فرمائي چه رنګ به د هغے د وينے وي او بوئ به ئے د مشکو وي او قسم ئے اوکړو د الله پاك د لاس نه معلومه شوه چه د الله پاك لاس ونه شته. او نۀ منونکے د هغے منکر د حديثو دے. او د هغۀ لاس داسے دي لکه څنګه چه د هغۀ ذات دے. يعني کيفيت د هغۀ د ذات چا ته معلوم نۀ دے. او تاويل د هغۀ په قدرت وغيره سره باطل دے. او قول دے د معتزلؤ او قدريؤ. لکه چه وصيت کړے دے امام اعظم رح په فقه اکبر کښ او په دغه تاويل سره ابطال د هغۀ د صفت لازميږي. عرض دا چه مسلمان د ايمان خاوند له ضروري دي چه لاس او قدم او پنډئ وغيره کوم چه په قرآن او حديث کښ راغلے دي د دے ټولو په ظاهر معنے باندے ايمان ساتل او د هغے کيفيت الله ته سپارل او بلا تاويل او بے تعطيل په هغه باندے ايمان راوړل هم د سلفو طريقه ده. او حضرت ﷺ به قسم اکثر دغه شان خوړلو. بيا چرته په يو روايت کښ د يو صحابي نه دا روايت نشته چه هغوي تپوس کړے يا حيران شوے وي په لاس باندے د الله پاك. يا حضرت ﷺ څۀ تاويل صحابؤ ته خودلے وي. يا چا سلفو يا صحابؤ يا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ إِنَّ الصَّوْمَ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ إِنَّ لِلصَّائِمِ فَرْحَتَيْنِ إِذَا أَفْطَرَ فَرِحَ وَإِذَا لَقِيَ اللهَ فَرِحَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ

ابوهریره او ابو سعید وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله پاك فرمائی روژه ما لره ده او زهٔ به ددے بدله ورکوم او روژه نیونکی له دوه خوشحالئ دی. اول دا چه کله روژه ماتوی نو خوشحالیږی او دویم چه کله ملاقات اوکړی د الله سره نو هغه وخت خوشحالیږی او قسم دے په هغه پروردګار چه روح د محمد ﷺ د هغهٔ په لاس کښ دے چه د روژه دار د خلے بوی د الله په نزد د مشکو نه زیات پاك دے [1]

عَنْ ضِرَارِ بْنِ مُرَّةَ وَهُوَ أَبُو سِنَانٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ قَالَ وَقَالَ إِذَا لَقِيَ اللهَ فَجَزَاهُ فَرِحَ

د ضرار نه دغه روایت مروی شوے دے او په دے کښ دادی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه کله ملاقات اوکړی د الله پاك سره او الله پاك دهٔ لره بدله ورکړی نو هغه به خوشحاله شی.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ الرَّيَّانُ يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَدْخُلُ مَعَهُمْ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ يُقَالُ أَيْنَ الصَّائِمُونَ فَيَدْخُلُونَ مِنْهُ فَإِذَا دَخَلَ آخِرُهُمْ أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ

سهل بن سعد وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. په جنت کښ یو دروازه ده چه ورته ریان وائی (یعنی سیراب کونکے) او په هغے به خی روژه دار د قیامت په ورځ او څوك به ددوی نه سوا هغے ته نهٔ شی داخلیدے. او آواز به اوشی چه روژه دار کوم ځائے دی. بیا به هغوی ټول په دے کښ داخلیږی نو هر کله چه ددوی آخرنے انسان پکښ داخل شی نو هغه به بنده شی او هیڅوك به هغے ته نهٔ شی تلے [2].

تابعینو څهٔ تاویل کړے وی. غرګ دا چه د صحابو او تابعینو نه یو حرف هم ددے په تاویل کښ مروی نهٔ دے. حالانکه ټول دے ایتونو او احادیثو لره په عوام او خواصو کښ بلا تکلف روایت کړے شوی راغلے دی. نو کوم هغه خلق چه په معنے پوهیږی هغه صحیح دی او دغه مراد د الهی او مقصود د رسالت پناهی ده. ورنه شارع علیه السلام له ضروری وه چه کهٔ چرے نور څهٔ مراد ئے وے نو هغه به ئے بیان کړے وے. وَمَنِ ادَّعَى خِلَافَ هٰذَا فَعَلَيْهِ الْبَيَانُ.

[1] : د روژے ماتولو په وخت دا خوشحالی ده چه د پروردګار په تائید او توفیق سره دومره بنکلے عبادت سر ته اورسیدو او نعمتونه دنیاوی فی الحال حلال شو. او د آخرت د مزو امیدوار جوړ شو. او د الله پاك د ملاقات په وخت دا خوشحالی وی چه الله تعالی په خپل فضل اوکرم سره دا عبادت قبول کړو او د کوم اجر او ثواب وعده چه شوے وه هغه پوره شوله.

[2] . په څنے روایتونو کښ راغلی دی چه هر کله پکښ د دوی نه اخر بنیادم داخل شی نو هله به بندیږی او دا وهم دے. دغه رنګے تصریح کړے ده ددے قاضی عیاض (نووی) او په دے کښ لوئے فضیلت او کرمات د روژے ذکر شو.

بَاب فَضْلِ الصِّيَامِ فِي سَبِيلِ اللهِ لِمَنْ يُطِيقُهُ بِلَا ضَرَرٍ وَلَا تَفْوِيتِ حَقٍّ

باب : د مجاهد د روژے فضیلت

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ عَبْدٍ يَصُومُ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ إِلَّا بَاعَدَ اللهُ بِذَلِكَ الْيَوْمِ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفًا

ابوسعید وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه یو بنده داسے نشته چه هغه یوه ورځ روژه اونیسی د الله په لاره کښں (یعنی په جهاد کښں) مگر لری به کړی الله پاك ددغے ورځے په برکت سره د هغه مخ لره د اویاؤ کالو د لارے په مسافت سره د دوزخ نه.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ بَاعَدَ اللهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفًا

ابوسعید وائی چه اوریدلے ما د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلے ئے وو. چه څوك د الله په لاره کښں یوه ورځ روژه اونیسی لرے به کړی الله پاك د هغه مخ نه د اویاؤ کالو د لارے په مسافت د دوزخ نه[1].

بَاب جَوَازِ صَوْمِ النَّافِلَةِ بِنِيَّةٍ مِنَ النَّهَارِ قَبْلَ الزَّوَالِ

باب : د نفلی روژے نیت په ورځ کښں د زوال نه مخکښں جائز دے

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ يَا عَائِشَةُ هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا عِنْدَنَا شَيْءٌ قَالَ فَإِنِّي صَائِمٌ قَالَتْ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُهْدِيَتْ لَنَا هَدِيَّةٌ أَوْ جَاءَنَا

د مسلمانانو مور حضرت عائشه فرمائی چه ماته یوه ورځ رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے عائشے ستاسو سره د خوراك څۀ شته؟ نو ما عرض اوکړو. یا رسول الله څۀ نشته دے. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ روژه یم او بیائے بهر ته تشریف یوړو او مونږ له څۀ حصه راغله د هدیے په طور یا زمونږ کورته څۀ میلمانۀ راغلل (چه په هغوی باندے زیاته حصه د هغه هدیے خرچ شوه. او څۀ لږه غوندے ما د حضور ﷺ دپاره پټه کینښوده) فرمائی چه په دے کښں رسول الله ﷺ واپس کورته راغے

[1]: د فی سبیل الله نه هر ځائے جهاد مراد دے. او دغه روژه د هغه چا غوره ده چه هغه طاقت لری ددے چه سره د روژے نیولو د الله عزوجل په کاروبار کښں سست نۀ شی.

زور" قالت فلما رجع رسول الله صلى الله عليه وسلم قلت يا رسول الله أهديت لنا هدية أو جاءنا زور وقد خبأت لك شيئا قال ما هو قلت حيس قال هاتيه فجئت به فأكل ثم قال قد كنت أصبحت صائما قال طلحة فحدثت مجاهدا بهذا الحديث فقال ذاك بمنزلة الرجل يخرج الصدقة من ماله فإن شاء أمضاها وإن شاء أمسكها

عن عائشة أم المؤمنين قالت دخل علي النبي صلى الله عليه وسلم ذات يوم فقال هل عندكم شيء فقلنا لا قال فإني إذن صائم ثم أتانا يوما آخر فقلنا يا رسول الله أهدي لنا حيس فقال أرينيه فلقد أصبحت صائما فأكل

باب أكل الناسي وشربه وجماعه لا يفطر

ما ووے چه یا رسول الله! مونږ له څۀ حصه د هدیے په طور یا راغلل مونږ ته څو میلمانۀ. او ما د هغے هدیے نه لږه ستا دپاره پټه کړے ده حضرت ﷺ تپوس اوکړو هغه څۀ دی؟ ما اووے حیس (حیس هغه خوراك دے چه د کهجورے او غوړو او د اوچو ماستو د میلاویدو نه جوړیږی) او حضرت ﷺ اوفرمائیل راؤړه. بیا ما راؤړه او هغوی اوخوړه . بیائے اوفرمائیل زۀ د سحر نه روژه وم . ابو طلحه رضی الله عنه وائی ما دا حدیث 1
مجاهد ته بیان کړو. نو هغوی اووے دا داسے خبره ده (یعنی نفل روژه ماتول) لکه چه څوك صدقه اوباسی د خپل مال نه نو هغۀ له اختیار دے کۀ چا لۀ ئے ورکوی او کۀ بیائے د ځان سره ساتی.

د مؤمنانو مور حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه یوه ورځ نبی کریم ﷺ ځما خواله راغے. او اوئے فرمائیل چه ستاسو سره څۀ شته؟ مونږ اووے هیڅ نشته حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ روژه یم. بیا چه په دویمه ورځ زمونږ خواله راغے. نو ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! مونږ له په هدیه کښې حیس راغلے دے نو حضرت ﷺ اوفرمائیل ماته ئے اوښایئ. او زۀ د سحر نه روژه وم او بیائے هغه اوخوړه[1].

باب: په هیره سره د خوراك، څکاك او په جماع روژه نۀ ماتیږی

---

[1]: ددے حدیثو نو نه معلومه شوه چه نیت د نفل روژے د ورځے هم جائز دے د کومے پورې چه نمر زوال موندلے نۀ وی. او دغه د جمهورو مذهب دےاو په دے کښې دا هم تصریح ده چه د نفل روژے د ورځے ماتول او خوړل صحیح دی. او دغه مذهب دے. د امام شافعی رحمه الله او لکه څنګه چه ئے شروع کول د انسان په مرضئ وو دغه شان ئے ختمول هم ددۀ په اختیار کښې دی. او دغه قول دے د یو جماعت د صحابؤ رضی الله عنهم نه او د احمد او اسحاق رحمهما الله او ددغه ټولو خلقو په نز ددے پوره کول مستحب دی. او د امام ابوحنیفه او مالك رحمهما الله په نز ئے ماتول جائز نۀ دی. او ماتونکے ئے ګنهګاریږی. او د حسن بصری رحمه الله او د امام نخعی رحمه الله او د مکحول رحمه الله قول دے چه قضاء د هغے واجب ده په هغه چا باندے چه هغه بے د عذر نه ماته کړی وی او ابن عبد البر رحمه الله وئیلے دی چه اجماع ده په دی باندے چه چا د عذر په سبب ماته کړه مثلاً بیماری یا حیض وغیره. په هغه باندے قضاء نشته.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ

ابوهريره وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی څوك چه په هيره سره څه اوخوری اوڅکی او هغه روژه وی نو هغه د خپله روژه پوره کړی. ځکه چه په دهٔ باندے الله تعالی خوړل اوڅکل اوکړل [1].

بَابُ صِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَيْرِ رَمَضَانَ

باب : د رمضان نه علاوه د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د روژو بيان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هَلْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ شَهْرًا مَعْلُومًا سِوَى رَمَضَانَ قَالَتْ وَاللهِ إِنْ صَامَ شَهْرًا مَعْلُومًا سِوَى رَمَضَانَ حَتَّى مَضَى لِوَجْهِهِ وَلَا أَفْطَرَهُ حَتَّى يُصِيبَ مِنْهُ

عبد الله بن شقيق وائی ما د حضرت عائشے نه تپوس اوکړو چه نبی کريم ﷺ د رمضان نه سوا چرته د پوره مياشتے روژے نيولی وے. نو هغوی اوفرمائيل چه په الله قسم دے د يوے مياشتے پوره روژے هغوی نهٔ دی نيولی سوا د رمضان شريف نه تر دے پورے چه د دنيا نه ئے تشريف يوړو. او نهٔ ئے چرته پوره مياشت افطار کړے وو. تر دے پورې چه يو ورځ به ئے په هغے کښ روژه نهٔ وی نيولی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ شَهْرًا كُلَّهُ قَالَتْ مَا عَلِمْتُهُ صَامَ شَهْرًا كُلَّهُ إِلَّا رَمَضَانَ وَلَا أَفْطَرَهُ كُلَّهُ حَتَّى يَصُومَ مِنْهُ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عبد الله بن شقيق حضرت عائشے ته عرض اوکړو چه نبی کريم به چرته د مياشتے د پوره ورځو روژے نيولے؟ نو هغوی اوفرمائيل زهٔ نهٔ يم خبر چه هغوی سوا د رمضان نه چرته د بلے مياشتے پوره روژے نيولی دی. او نهٔ ئے چرته پوره مياشت خوراك کړے دے تر دے پورے چه يو ورځ دو ئے پکښ روژه نهٔ وی نيولی. تر دے پورے چه هغوی د دنيا د گلزار نه تشريف يوړو. سلام دِ وی د الله تعالی او رحمت په هغوی باندے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ حَمَّادٌ وَأَظُنُّ أَيُّوبَ قَدْ سَمِعَهُ مِنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ

عبد الله بن شقيق وائی ما تپوس اوکړو د حضرت عائشے نه د نبی کريم ﷺ د روژو په باره کښ نو هغے اوفرمائيل چه هغوی به روژے

---

[1] : دغه مذهب دے د اکثرو خلقو چه روژه دار کله په هيره سره خوړل څکل اوکړی يا جماع اوکړی نو د هغهٔ روژه نهٔ ده تلے! او دغه قول دے د امام شافعی او ابوحنيفه او د داؤد. او ربيعة او مالك وئيلی دی چه روژه ماته شوه او په دهٔ باندے قضاء او کفاره پرے نشته او عطاء او اوزاعی او ليث رحمهم الله وئيلی دی چه په جماع کښ خو قضاء شته او په خوړلو کښ قضاء نشته. او د احمد قول دے چه په جماع کښ قضاء او کفاره دواړه دی او په خوړلو کښ څهٔ نشته. (نووی رحمه الله)

قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنْ صَوْمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كَانَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ قَدْ صَامَ قَدْ صَامَ وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ قَدْ أَفْطَرَ قَدْ أَفْطَرَ قَالَتْ وَمَا رَأَيْتُهُ صَامَ شَهْرًا كَامِلًا مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِينَةَ إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَمَضَانَ

نیولے تردے پورې چه مونږ به اووے بنۀ روژے ئے اونیوے بنۀ روژے ئے اونیوے. او افطار به ئے کوو داسے چه مونږ به اووے ډیرے ورځے افطار ئے اوکړو ډیرے ورځے افطار ئے اوکړو اوفرمائی چه ما حضرت ﷺ چرته نۀ دے لیدلے چه پوره میاشت ئے روژه نیولی وی. د کله نه چه هغوی مدینے ته تشریف راوړے دے مگر د رمضان روژه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي الْإِسْنَادِ هِشَامًا وَلَا مُحَمَّدًا

د عبدا لله بن شقیق ؒ نه دغه مضمون روایت شوے دے او په دے سند کښ د هشام او محمد ذکر نشته په راویانو کښ.

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ لَا يُفْطِرُ وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ لَا يَصُومُ وَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَكْمَلَ صِيَامَ شَهْرٍ قَطُّ إِلَّا رَمَضَانَ وَمَا رَأَيْتُهُ فِي شَهْرٍ أَكْثَرَ مِنْهُ صِيَامًا فِي شَعْبَانَ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے ؓ نه روایت دے چه هغوی فرمائیلے دی چه رسول الله ﷺ به تردے پورے روژے نیولے چه مونږ به اووے چه اوس افطار نۀ کوی. او دومره افطار به ئے کوو چه مونږ به اووے چه اوس روژه نۀ نیسی. او ما په پوره میاشت روژو نیولو چرته نۀ دے لیدلے سوا د رمضان نه او په بله یوه میاشت کښ مے د شعبان نه په زیاتو روژو نیولو نۀ دے لیدلے.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنْ صِيَامِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كَانَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ قَدْ صَامَ وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ قَدْ أَفْطَرَ وَلَمْ أَرَهُ صَائِمًا مِنْ شَهْرٍ قَطُّ أَكْثَرَ مِنْ صِيَامِهِ مِنْ شَعْبَانَ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ كُلَّهُ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ إِلَّا قَلِيلًا

ابوسلمه ؓ وائی ما تپوس اوکړو د حضرت عائشے ؓ نه چه رسول الله ﷺ به روژے څنگه نیولے. هغوی اوفرمائیل دومره روژے به ئے نیولے چه مونږ به اووے چه حضرت ډیرے روژے اونیوے او دومره افطار به ئے کوۀ چه مونږ به اووے چه حضرت ﷺ ډیر افطار اوکړو. او ما هغوی لره چه څومره په شعبان کښ په روژو نیولو لیدلے دے دومره مے په بله میاشت کښ نۀ دے لیدلے. لکه هغوی به پوره شعبان نیولے پوره شعبان به ئې روژے نیولے سوا د څو ورځو نه

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

ابوسلمه ؓ د حضرت عائشے ؓ نه روایت کوی چه هغوی فرمائیلے دی. چه رسول الله ﷺ به چرته په یوه میاشت کښ هم د ټول کال د شعبان

وَسَلَّمَ فِي الشَّهْرِ مِنَ السَّنَةِ أَكْثَرَ صِيَامًا مِنْهُ فِي شَعْبَانَ وَكَانَ يَقُولُ خُذُوا مِنَ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ فَإِنَّ اللهَ لَنْ يَمَلَّ حَتَّى تَمَلُّوا وَكَانَ يَقُولُ أَحَبُّ الْعَمَلِ إِلَى اللهِ مَا دَاوَمَ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ وَإِنْ قَلَّ

نه زياتې روژې نه نيوې. لو فرمائيل به ئې چه دومره عبادت کوئ: څومره چه په تلسو کښې طاقت وي. پس بيشکه الله پاك په ثواب ورکولو سره نه ستړې کيږي لو تلسو به په عبادت کولو کولو ستړي شئ: او فرمائيلي ئې وو د تولو نه زيات غوره عمل د الله پاك په نز هغه دے چه هغه هميشه کيږي اګر که لږ ولې نه وي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ مَا صَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا كَامِلًا قَطُّ غَيْرَ رَمَضَانَ وَكَانَ يَصُومُ إِذَا صَامَ حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ لَا وَاللهِ لَا يُفْطِرُ وَيُفْطِرُ إِذَا أَفْطَرَ حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ لَا وَاللهِ لَا يَصُومُ

د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ چرته د يوے مياشتې پوره روژے نه دي نيولي سوا د رمضان نه لو د هغوی عادت مبارك وو چه روژے به ئې نيولې تر دے پورے چه ويونکی به اووے چه په الله قسم اوس افطار نه کوي او افطار به ئې کوو تر دے پورے چه ويونکی به اووے چه په الله قسم اوس روژه نه نيسي [1].

عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ شَهْرًا مُتَتَابِعًا مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِينَةَ

شعبه د ابي بشر نه هم روايت کړے دے په دے اسناد سره او په دے کښې داده چه پرله پسې ئې د يوے مياشتې روژے نه دي نيولي. د کله نه چه ئې مدينې منورے ته تشريف راوړے دے باقي مضمون هغه دے.

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حَكِيمٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ سَأَلْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ عَنْ صَوْمِ رَجَبٍ وَنَحْنُ يَوْمَئِذٍ فِي رَجَبٍ فَقَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ لَا يُفْطِرُ وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ لَا يَصُومُ

عثمان ، د حکيم انصاري ځوئ رضي الله عنه نه روايت دے چه هغوی د سعيد بن جبير نه تپوس اوکړو د رجب د روژو په باره کښې او دا سوال ئې د رجب په مياشت کښې اوکړو نو سعيد رحمه الله وائي ما د ابن عباس رضي الله عنه نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئې وو چه رسول الله ﷺ به روژے نيولې تر دے پورے چه مونږ به اووے چه اوس افطار نه کوي. او افطار به ئې کوو تر دے پورے چه مونږ به اووے اوس روژه نه نيسي.

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَصُومُ حَتَّى يُقَالَ قَدْ

انس رضي الله عنه وائي رسول الله ﷺ به تر دے پورے روژے نيولې چه خلقو به وئيل چه بنه روژے ئې اونيوے بنه روژے ئې اونيوے او تر دے

[1]: د دے نه هم معلومه شوه چه دولس مياشتې متواتر روژے نيول د سنتو خلاف دي. او د دے لره محبوب ګنړل بدعت دے او د رسول الله ﷺ د طريقې خلاف دي. او دا قسم خوړل د قائل د عادت په لاره دے. د دے ته الله تعالى فرمائي: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ. يعني په دے کښې مواخذه نشته.

صَامَ قَدْ صَامَ وَيُفْطِرُ حَتّٰى يُقَالَ قَدْ أَفْطَرَ قَدْ أَفْطَرَ

پورے به ئے افطار کولو چه خلقو به وے بنۀ افطار ئے اوکړو بنۀ افطار ئے اوکړو[1]

بَابُ النَّهْيِ عَنْ صَوْمِ الدَّهْرِ لِمَنْ تَضَرَّرَ بِهِ أَوْ فَوَّتَ بِهِ حَقًّا أَوْلَمْ يُفْطِرِ الْعِيدَيْنِ وَالتَّشْرِيقَ وَبَيَانِ تَفْضِيلِ صَوْمِ يَوْمٍ وَإِفْطَارِ يَوْمٍ

باب: د د پرله پسے ټول عمر د روژے ممانعت د هغه سړی دپاره چه نقصان ورته رسوی یا د حق د فوت کیدو یا په اخترو کښې او په ورځو د تشریق کښې هم نۀ بوزه کوی. او یو ورځ د روژے د نیولو او یو ورځ د بوزه کیدو فضیلت

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ أُخْبِرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يَقُوْلُ لَأَقُوْمَنَّ اللَّيْلَ وَلَأَصُوْمَنَّ النَّهَارَ مَا عِشْتُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْتَ الَّذِيْ تَقُوْلُ ذٰلِكَ فَقُلْتُ لَهُ قَدْ قُلْتُهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّكَ لَا تَسْتَطِيْعُ ذٰلِكَ فَصُمْ وَأَفْطِرْ وَنَمْ وَقُمْ وَصُمْ

عبدالله ؓ وائی رسول الله ﷺ ته خبر اورسیدو چه زۀ وایم چه ټوله شپه به ویښ یم. او همیشه به د ورځے روژه نیسم د کومے پورے چه ژوندے یم (سبحان الله څومره شوق وو د عبادت او په ځوانئ کښې دا شوق دا د رسول الله ﷺ د صحبت او خدمت تاثیر وو) نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل تا داسے وئیلے دی ما عرض اوکړو چه آو یا رسول الله ﷺ ما داسے وئیلے دی بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل ته ددے طاقت نۀ شے لرلے. نو ته روژے هم نیسه او بوزه کیږه هم. او خوب هم کوه او د شپے مونځ هم کوه. او په هر میاشت کښې درے ورځے روژے نیسه ځکه چه هره

---

[1] : ددے حدیثونو نه څو خبرے معلومے شوے:

اول دا مستحب دی چه یوه میاشت د روژے نه خالی پاتے نۀ شی.

دویم دا چه د نفل روژے څۀ زمانه معلومه نۀ ده کله چه غواړے نیولے شی. سوا د رمضان او اخترونو او ایام تشریق نه چه په دے ورځو کښې روژه منع ده.

دریم دا چه د شعبان په میاشت کښې هغوی په نسبت د بلے میاشت زیاتے روژے نیولے.

څلورم دا چه یوه میاشت کښې ئے سوا د رمضان نه پوره روژے نۀ دی نیولی چه چرته به امت ته به مے د واجب کیدو شبه راشی. او د رمضان پشان به ئے فرض کړی یا چه پشان د رمضان ئے لازم اونۀ ګنړی. او د رجب د روژے نه نهی ثابته شوے نۀ ده د رسول الله ﷺ نه او نۀ استحباب او تخصیص او څنګه چه نفل روژے په نورو وختونو کښې مستحب دی دغه شان په رجب کښې هم دی. او په سنن ابوداؤد کښې دومره راغلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه مندوب دی خما روژے د حرام په میاشتو کښې. او رجب هم په هغې کښې داخل ده. کذا قال النووي رحمه الله في شرح مسلم

مِنَ الشَّهْرِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنَّ الْحَسَنَةَ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا وَذٰلِكَ مِثْلُ صِيَامِ الدَّهْرِ قَالَ قُلْتُ فَإِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ صُمْ يَوْمًا وَأَفْطِرْ يَوْمَيْنِ قَالَ قُلْتُ فَإِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ صُمْ يَوْمًا وَأَفْطِرْ يَوْمًا وَذٰلِكَ صِيَامُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامِ وَهُوَ أَعْدَلُ الصِّيَامِ قَالَ قُلْتُ فَإِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا لَأَنْ أَكُونَ قَبِلْتُ الثَّلَاثَةَ الْأَيَّامَ الَّتِي قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَهْلِي وَمَالِي

عَنْ يَحْيٰى قَالَ انْطَلَقْتُ أَنَا وَعَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ حَتّٰى نَأْتِيَ أَبَا سَلَمَةَ فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهِ رَسُولًا فَخَرَجَ عَلَيْنَا وَإِذَا عِنْدَ بَابِ دَارِهِ مَسْجِدٌ قَالَ فَكُنَّا فِي الْمَسْجِدِ حَتّٰى خَرَجَ إِلَيْنَا فَقَالَ إِنْ تَشَاءُوا أَنْ تَدْخُلُوا وَإِنْ تَشَاءُوا أَنْ تَقْعُدُوا هَا هُنَا قَالَ فَقُلْنَا لَا بَلْ نَقْعُدُ هَا هُنَا فَحَدِّثْنَا قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا. قَالَ كُنْتُ

نیکی په لس دومره لیکلے شی. نو دا لکه همیشه روژے شوے (خکه چه درے خله لس لس دیرش شی) بیا ما عرض اوکړو چه زهٔ ددے نه زیات طاقت لرم اے د الله رسوله حضرت ﷺ اوفرمائیل بنه ده یوه ورځ روژه نیسه او دوه ورځے بوزه کیږه. بیا ما عرض اوکړو چه زهٔ ددے نه هم زیات طاقت لرم اے د الله رسوله نو حضرت ﷺ اوفرمائیل بنه ده یوه ورځ روژه نیسه او یوه ورځ بوزه کیږه. او دا روژه ده د حضرت داؤد علیه السلام (یعنی د هغوی دا عادت وو او دا د ټولو روژونه مزیداره او درمیانه ده) بیا ما عرض اوکړو چه زهٔ ددے نه هم زیات طاقت لرلے شم. حضرت ﷺ اوفرمائیل ددے روژونه غوره یوه روژه هم نشته دے. عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمائی کهٔ ما دا فرمان د رسول الله ﷺ قبول کړے وے چه درے ورځے په هره میاشت کښې روژه نیسه نو دا ماته د خپل کور د مال متاع نه هم زیات خوږ معلومیږی او دا فرمائیل د هغوی په بوډا والی کښې وو چه هر کله کمزوری ورته محسوس شوه.

د یحیٰی نه روایت دے چه زهٔ او عبدالله بن یزید دواړه د ابوسلمه رضی الله عنه خواله لاړو. او یو کس مو په هغوی پسے اولیږو او هغوی د کور نه رااووتو او د هغوی د دروازے سره یو جماعت وو. کله چه هغوی رااووتو نو مونږ ټول په جماعت کښې وو. او هغوی اووے کهٔ غواړئ چه کور ته ورځو یا دلته کینئ، مونږه اووے دلته کینو. او تهٔ مونږ ته احادیث بیان کړه. هغوی اووے روایت کړے دے ماته عبد الله بن عمرو بن عاص وئیلے دی چه ما به همیشه روژے نیولے. او هره شپه به مے قرآن لوستلو (یعنی ټوله شپه) اووائی چه یا خو خما ذکر اوشو نبی ﷺ ته یا هغوی په ما پسے څوك رااولیږو. غرض دا چه زهٔ د هغوی په خدمت

أَصُومُ الدَّهْرَ وَأَقْرَأُ الْقُرْآنَ كُلَّ لَيْلَةٍ قَالَ فَإِمَّا ذُكِرْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِمَّا أَرْسَلَ إِلَيَّ فَأَتَيْتُهُ فَقَالَ لِي أَلَمْ أُخْبَرْ أَنَّكَ تَصُومُ الدَّهْرَ وَتَقْرَأُ الْقُرْآنَ كُلَّ لَيْلَةٍ فَقُلْتُ بَلَى يَا نَبِيَّ اللهِ وَلَمْ أُرِدْ بِذٰلِكَ إِلاَّ الْخَيْرَ قَالَ فَإِنَّ بِحَسْبِكَ أَنْ تَصُومَ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ فَإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا قَالَ فَصُمْ صَوْمَ دَاوُدَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّهُ كَانَ أَعْبَدَ النَّاسِ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ وَمَا صَوْمُ دَاوُدَ قَالَ كَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا قَالَ وَاقْرَأِ الْقُرْآنَ فِي كُلِّ شَهْرٍ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ فَاقْرَأْهُ فِي كُلِّ عِشْرِينَ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ فَاقْرَأْهُ فِي كُلِّ عَشْرٍ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ فَاقْرَأْهُ فِي كُلِّ سَبْعٍ وَلاَ تَزِدْ عَلَى ذٰلِكَ فَإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا قَالَ فَشَدَّدْتُ

کښې حاضر شوم. او هغوی اوفرمائیل چه ولې زۀ خبر نۀ یم چه تۀ همیشه روژے نیسے او توله شپه قرآن لولې. ما اووے آو یا رسول الله ﷺ او زۀ په دے سره نیکی غوارم (یعنی ریا او سمعه مے مقصود نۀ ده) بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه تاله دومره پوره ده چه په هره میاشت کښې درے ورځ روژے نیسه ما عرض اوکړو چه اے د الله نبیٔ زۀ د دے نه زیات طاقت لرلے شم نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ستا د بی بی حق دے په تا باندے او ستا د ملاقات والاؤ حق دے په تا باندے او ستا د جسم هم حق دے په تا باندے نو د دے د پاره تۀ د داؤد علیه السلام روژه اختیار کړه. چه هغه د الله تعالی نبیٔ وو او د تولو خلقو نه زیات عبادت کونکے وو. هغوی وائی ما عرض اوکړو چه اے د الله نبی د داؤد علیه السلام روژه څنګه وه؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه یوه ورځ به ئے روژه نیوه او یوه ورځ به ئے خوړله او حضرت ﷺ اوفرمائیل چه قرآن کریم په هره میاشت کښې یو ځل ختموه. ما عرض اوکړو چه زۀ د دے نه زیات طاقت لرم اے د الله تعالی نبیٔ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په شل ورځے کښې ئے ختموه. ما عرض اوکړو چه زۀ د دے نه زیات طاقت لرم اے د الله تعالی نبیٔ. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په لس ورځے کښې ئے ختموه. ما عرض اوکړو چه اے د الله تعالی نبیٔ زۀ د دے نه هم زیات طاقت لرم نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په اووه ورځو کښې ئے ختموه او د دے نه زیات ئے مۀ لوله (ځکه چه د دے نه په کم کښې تدبر او تفکر په قرآن کښې ممکن نۀ دے) ځکه چه ستا د بی بی حق دے په تا باندے او ستا د ملاقات کونکو حق دے په تا باندے او ستا د بدن حق دے په تا باندے او ما سختی کوله او څما د پاسه سختی راغله او نبی ﷺ ماته اوفرمائیل چه تۀ نۀ

فَشُدِّدَ عَلَيَّ قَالَ وَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ لَا تَدْرِي لَعَلَّكَ يَطُولُ بِكَ عُمُرٌ قَالَ فَصِرْتُ إِلَى الَّذِي قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا كَبِرْتُ وَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ قَبِلْتُ رُخْصَةَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

پوهیږے. کیدے شی چه ستا عمر اوږد شی (نو دومره بار به په تا باندے گران شی، او ددین په کارونو کښې به درنه خلل راشی. سبحان الله دا د هغوی شفقت او په انجام نظر وو. او اخر دغسے اوشوه) عبد اللهؓ وائی چه بیا زۀ هغه حال ته اورسیدم د کومے چه حضور ﷺ ما ته ذکر کړے وو. او هر کله چه زۀ بوډا شوم نو دا تمنا مے اوکړله چه کاش ما د نبی رُخصت قبول کړے وے.

عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِيهِ بَعْدَ قَوْلِهِ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنَّ لَكَ بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرَ أَمْثَالِهَا فَذَلِكَ الدَّهْرُ كُلُّهُ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ قُلْتُ وَمَا صَوْمُ نَبِيِّ اللهِ دَاوُدَ قَالَ نِصْفُ الدَّهْرِ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي الْحَدِيثِ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ شَيْئًا وَلَمْ يَقُلْ وَإِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلَكِنْ قَالَ وَإِنَّ لِوَلَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا

د یحییٰؒ نه په دی اسناد سره هم روایت مروی شوے دے او په دے کښې د درے ورځو روژو نه پس دا خبره زیاته ده چه هره نیکی لس دومره کیږی او دا په ثواب کښې د همیشه روژے دی. او په حدیث کښې دا هم دی چه عبد اللهؓ وائی چه ما عرض اوکړو چه د داؤد نبی الله روژه څنګه وه؟ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل د تولو ورځو نیمه (یعنی دغه یوه ورځ روژه او یوه ورځ بوزه) او په دے روایت کښې د قراءت د قرآن مجید مطلق ذکر نشته دے. او د ملاقات کونکو حق هم مذکور نه دے. او دا دی چه ستا سو د بچو په تا سو حق دے.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ وَأَحْسَبُنِي قَدْ سَمِعْتُهُ أَنَا مِنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ اقْرَأِ الْقُرْآنَ فِي كُلِّ شَهْرٍ قَالَ قُلْتُ إِنِّي أَجِدُ قُوَّةً قَالَ فَاقْرَأْهُ فِي عِشْرِينَ لَيْلَةً قَالَ قُلْتُ إِنِّي أَجِدُ قُوَّةً قَالَ فَاقْرَأْهُ فِي سَبْعٍ وَلَا تَزِدْ عَلَى ذَلِكَ

ابوسلمهؓ د عبد اللهؓ نه روایت کړے دے چه هغوی وائی ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل په هره میاشت کښې یو ځل قرآن ختموه. ما اووے په ما کښې نور هم طاقت شته حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په شل ورځے کښې ئے ختموه. ما اووے په ما کښې نور هم طاقت شته حضرت ﷺ اوفرمائیل په اووه ورځو کښې ختم کوه. او ددے نه زیات قرأت مۀ کوه [1].

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَبْدِ اللهِ

د ابوسلمهؒ نه روایت دے چه عبدالله بن عمروؓ ته رسول الله ﷺ

[1]: ددے روایتونو نه معلومه شوه چه په یوه شپه کښې ختم چه کوم په رمضان شریف کښې رواج دے او حافظانو لره په دی باندے ناز دے دا د سنتو خلاف او په حقیقت کښې بدعت دے. او په دے باندے ناز د سر نه تر خپو پورے حماقت دے.

بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ ؓ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ اللهِ لَا تَكُنْ بِمِثْلِ فُلَانٍ كَانَ يَقُومُ اللَّيْلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ بَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِّي أَصُومُ أَسْرُدُ وَأُصَلِّي اللَّيْلَ فَإِمَّا أَرْسَلَ إِلَيَّ وَإِمَّا لَقِيتُهُ فَقَالَ أَلَمْ أُخْبَرْ أَنَّكَ تَصُومُ وَلَا تُفْطِرُ وَتُصَلِّي اللَّيْلَ فَلَا تَفْعَلْ فَإِنَّ لِعَيْنِكَ حَظًّا وَلِنَفْسِكَ حَظًّا وَلِأَهْلِكَ حَظًّا فَصُمْ وَأَفْطِرْ وَصَلِّ وَنَمْ وَصُمْ مِنْ كُلِّ عَشَرَةِ أَيَّامٍ يَوْمًا وَلَكَ أَجْرُ تِسْعَةٍ قَالَ إِنِّي أَجِدُنِي أَقْوَى مِنْ ذٰلِكَ يَا نَبِيَّ اللهِ قَالَ فَصُمْ صِيَامَ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامِ قَالَ وَكَيْفَ كَانَ دَاوُدُ يَصُومُ يَا نَبِيَّ اللهِ قَالَ كَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا وَلَا يَفِرُّ إِذَا لَاقَى قَالَ مَنْ لِي بِهٰذِهِ يَا نَبِيَّ اللهِ قَالَ عَطَاءٌ فَلَا أَدْرِي كَيْفَ ذَكَرَ صِيَامَ الْأَبَدِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا صَامَ مَنْ صَامَ الْأَبَدَ لَا صَامَ مَنْ صَامَ الْأَبَدَ لَا صَامَ مَنْ صَامَ الْأَبَدَ

اوفرمائیل چه اے عبد الله داسی نه چه ته د فلانی په شانے شے چه هغه به د شپې پاڅیدهٔ بیا هغه دغه پاڅیدل پریخودل (یعنی د ډیرو بیداریدو نه چرته مغلوب نهٔ شے)

عبدالله بن عمرو ؓ به وئیل چه نبی کریم ﷺ ته خبر اورسیدو چه زهٔ پرله پسے روژے نیسم او ټوله شپه مونځ کوم نو هغوی چا لره په ما پسے رااولیږلو یا زهٔ پخپله د هغوی سره میلاؤ شوم نو هغوی اوفرمائیل چه زهٔ خبر شوی یم چه ته پرله پسے روژے نیسے او په مینځ کښې ئے افطار نهٔ کوے او ټوله شپه مونځ کوے نو داسے مهٔ کوه. ځکه چه ستا د سترګو هم څهٔ حصه ده. او ستا د ذات هم څهٔ حصه ده. او ستا د بی بی هم پس ته روژه نیسه او افطار هم کوه. او مونځ هم کوه او اوده کیږه هم او په هره لسمه ورځ یوه روژه نیسه چه تاته به په دے سره د نهو ورځو ثواب هم میلاویږی. نو ما عرض اوکړو چه اے د الله نبی ﷺ زهٔ په ځان کښې ددے نه زیات طاقت وینمه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه خیر د داؤد ؑ روژه نیسه ما اووے د هغهٔ روژه څنګه وه اے د الله نبی؟ حضرت ؐ اوفرمائیل هغه به په یوه ورځ روژه نیوه او یوه ورځ به ئے افطار کوؤ. او کله چه به د دښمن سره مقابله وه نو چرته به نهٔ تختیدو (یعنی د جهاد فی سبیل الله نه) نو عبد الله ؓ اووے دا د دشمن نه نهٔ تختیدل مونږ ته کله نصیب کیدے شی اے د الله تعالٰی نبی (یعنی دا خو دلوئے قوت او شجاعت خبره ده) عطاءؒ وائی کوم چه د حدیث راوی دے چه بیا زهٔ نهٔ وم خبر چه د همیشه روژو ذکر څنګه راغے او نبی ﷺ په هغے باندے اوفرمائیل څوک چه همیشه روژے نیسی هغه روژه نهٔ ده نیولے (یعنی مطلق ثواب ئے نشته) څوک چه همیشه روژه نیسی هغه هډو روژه نهٔ ده نیولے څوک چه همیشه روژه نیسی هغه هډو روژه نهٔ ده نیولے.

قَالَ مُسْلِمٍ أَبُو الْعَبَّاسِ السَّائِبُ بْنُ فَرُّوخَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ ثِقَةٌ عَدْلٌ

مسلمؒ د کتاب مؤلف فرمائی چه روایت کړے دے ما ته محمد بن هاتم هغهٔ ته محمد بن بکر هغهٔ ته ابن جریج په دے اسناد سره او وائی چه ابوالعباس شاعر دهٔ لره خبر ورکړے دے مسلم فرمائی چه ابوالعباس سائب ابن فروخ مترجم ابوالعباسؒ پور ته راوی وو خکه مسلمؒ د هغهٔ توثیق اوفرمائیلو.

عَنْ حَبِيبٍ سَمِعَ أَبَا الْعَبَّاسِ سَمِعَ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو إِنَّكَ لَتَصُومُ الدَّهْرَ وَتَقُومُ اللَّيْلَ وَإِنَّكَ إِذَا فَعَلْتَ ذٰلِكَ هَجَمَتْ لَهُ الْعَيْنُ وَنَهِكَتْ لَا صَامَ مَنْ صَامَ الْأَبَدَ صَوْمُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنَ الشَّهْرِ صَوْمُ الشَّهْرِ كُلِّهِ قُلْتُ فَإِنِّي أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ فَصُمْ صَوْمَ دَاوُدَ كَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا وَلَا يَفِرُّ إِذَا لَاقَى

د حبیبؒ نه روایت دے چه هغوی د ابوالعباسؒ نه او هغوی د عبد الله بن عمروؓ نه اوریدلے دی چه ما ته رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه اے عبد الله ته همیشه روژے نیسے او توله شپه ویښ ئے نو د سترګو نه به د اوښکے روانے شی او کمزورے به شے. او خوك چه همیشه روژه نیسی هغه هډو روژه نهٔ ده نیولے. او په هره میاشت کښ درے ورځے روژے نیول لکه پوره میاشت روژه نیول دی (یعنی د ثواب په حقله) نو ما عرض اوکړو چه زهٔ د دے نه زیات طاقت لرم نو حضرتؐ اوفرمائیل بنه ده نو صوم داؤدی نیسه او هغه داده چه داؤدؑ به یوه ورځ روژه نیوه او یوه ورځ به ئی افطار کوو. او کله چه به دشمن ته مخامخ شو نو چرته به نهٔ تختیدو (یعنی د دومره قوت سره به ئے هم روژه همیشه نهٔ نیوه لکه څنګه چه تا اختیار کړے ده)

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَمْ أُخْبَرْ أَنَّكَ تَقُومُ اللَّيْلَ وَتَصُومُ النَّهَارَ قُلْتُ إِنِّي أَفْعَلُ ذٰلِكَ قَالَ فَإِنَّكَ إِذَا فَعَلْتَ ذٰلِكَ هَجَمَتْ عَيْنَاكَ وَنَفِهَتْ نَفْسُكَ لِعَيْنِكَ حَقٌّ وَلِنَفْسِكَ حَقٌّ وَلِأَهْلِكَ حَقٌّ قُمْ وَنَمْ وَصُمْ وَأَفْطِرْ

عبد الله بن عمروؓ وائی ما ته رسول اللهﷺ اوفرمائیل ولے زهٔ خبر نهٔ یم چه تهٔ توله شپه ویښ ئے او همیشه د ورځے روژه نیسے؟ ما عرض اوکړو چه آو. داسے کوم حضرتﷺ اوفرمائیل چه کچرے تهٔ داسے کوے نو سترګے به د اوښکے شروع کړی او ځان به د ستړے شی. او ستا د سترګو او د روح هم آخر په تا باندے څهٔ حق شته او ستا د کور والاهم. نو تهٔ بیداری هم کوه. اوده کیږه هم. روژه هم نیسه او افطار هم کوه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَبَّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ صِيَامُ دَاوُدَ وَأَحَبَّ الصَّلَاةِ إِلَى اللهِ صَلَاةُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيَقُومُ ثُلُثَهُ وَيَنَامُ سُدُسَهُ وَكَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا

عبد الله بن عمروؓ وائی ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د هر قسمه روژو نه الله ته زیاته خوږه روژه د داؤدؑ روژه ده. او د تولو نه غوره مونځ ورته د داؤد علیه السلام مونځ دے (یعنی دشپے) چه هغه به اوده وو د نیمے شپے پورے او ویښ به شو په دریمه حصه کښ او بیا به اوده شو (یعنی د تهجد مونځ نه پس) په شپږمه حصه کښ د شپے او یوه ورځ به ئے روژه وه او یوه ورځ به ئے افطار کوؤ.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ صِيَامُ دَاوُدَ كَانَ يَصُومُ نِصْفَ الدَّهْرِ وَأَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ صَلَاةُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَرْقُدُ شَطْرَ اللَّيْلِ ثُمَّ يَقُومُ ثُمَّ يَرْقُدُ آخِرَهُ يَقُومُ ثُلُثَ اللَّيْلِ بَعْدَ شَطْرِهِ قَالَ قُلْتُ لِعَمْرِو بْنِ دِينَارٍ أَعَمْرُو بْنُ أَوْسٍ كَانَ يَقُولُ يَقُومُ ثُلُثَ اللَّيْلِ بَعْدَ شَطْرِهِ قَالَ نَعَمْ

عبد الله بن عمروؓ وائی چه نبی ﷺ فرمائیلے دی چه په روژه کښ غوره روژه د الله تعالی په نز د داؤد علیه السلام روژه ده. چه هغه به په نیمه زمانه کښ روژه نیوله او د تولو نه غوره مونځ د هغوی مونځ دے. چه هغوی به د نیمے شپے پوری مخکښ اوده کیدو او بیا به پاڅیدو او په آخر کښ به بیا اوده کیدو . او د نیمے نه پس چه به پاڅیدو نو د دریمے حصے د شپے پورے به ئے مونځ کولو (ابن جریج راوی وائی چه ما تپوس اوکړو د عمرو بن دینار نه (دا د هغوی شیخ دے په دے روایت کښ) چه اے عمرو بن اوس دا وئیلے وو چه بیا به پاڅیدو او مونځ به ئے کوؤ د دریمے حصے د شپے پورے نو هغوی اووے چه آو.

عَنْ أَبِي قِلَابَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو الْمَلِيحِ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ أَبِيكَ عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو فَحَدَّثَنَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذُكِرَ لَهُ صَوْمِي فَدَخَلَ عَلَيَّ فَأَلْقَيْتُ لَهُ وِسَادَةً مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ فَجَلَسَ عَلَى الْأَرْضِ وَصَارَتِ الْوِسَادَةُ بَيْنِي وَبَيْنَهُ فَقَالَ لِي أَمَا يَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ خَمْسًا قُلْتُ يَا

ابو قلابه وائی ما ته ابو الملیح خبر راکړے دے چه زۀ ستا د پلار سره د عبد الله بن عمروؓ خواله لاړم او هغوی بیان اوکړو چه د رسول الله ﷺ په مخکښ ځما د روژو ذکر اوشو چه هغوی ځما خواله تشریف راوړو. او ما د هغوی د پاره تکیه کیخوده چه هغه د څرمنے وه او د کهجورے د پوك نه ډکه شوے وه بیا حضرت ﷺ په زمکه کیناستو او هغه تکیه ځما او د هغوی په مینځ کښ راغله بیا هغوی ما ته اوفرمائیل چه تاله درے روژے په هره میاشت کښ پوره نۀ دی؟ ما عرض اوکړي چه یا رسول الله ﷺ (یعنی زۀ ددے نه زیات طاقت لرلے شم) بیا هغوی

رَسُولَ اللهِ قَالَ سَبْعًا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ تِسْعًا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أَحَدَ عَشَرَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا صَوْمَ فَوْقَ صَوْمِ دَاوُدَ شَطْرَ الدَّهْرِ صِيَامُ يَوْمٍ وَإِفْطَارُ يَوْمٍ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ صُمْ يَوْمًا وَلَكَ أَجْرُ مَا بَقِيَ قَالَ إِنِّي أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ صُمْ يَوْمَيْنِ وَلَكَ أَجْرُ مَا بَقِيَ قَالَ إِنِّي أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَكَ أَجْرُ مَا بَقِيَ قَالَ إِنِّي أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ صُمْ أَرْبَعَةَ أَيَّامٍ وَلَكَ أَجْرُ مَا بَقِيَ قَالَ إِنِّي أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ صُمْ أَفْضَلَ الصِّيَامِ عِنْدَ اللهِ صَوْمَ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو بَلَغَنِي أَنَّكَ تَصُومُ النَّهَارَ وَتَقُومُ اللَّيْلَ فَلَا تَفْعَلْ فَإِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَظًّا وَلِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حَظًّا وَإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَظًّا صُمْ وَأَفْطِرْ صُمْ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَذٰلِكَ صَوْمُ الدَّهْرِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ بِي قُوَّةً قَالَ فَصُمْ صَوْمَ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ صُمْ يَوْمًا وَأَفْطِرْ يَوْمًا فَكَانَ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي

حضرت ﷺ اوفرمائیل پنځۀ پوره دی. ما عرض لوکړو یا رسول اللهؐ حضرت اوفرمائل لووه پوره دی ما عرض لوکړو یا رسول اللهؐ حضرتؐ اوفرمائیل یولس ما عرض لوکړو یا رسول الله حضرت ﷺ اوفرمائیل د داؤد علیه السلام د روژے برابر یوه وروژه نشته چه هغوی نیمے ورځے روژه نیولے ده په دی شان چه یوه ورځ به ئے روژه وه او یوه ورځ به بوزه وو.

عبد الله بن عمروؓ وائی چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل چه یوه ورځ روژه نیسه او تالره د نورو ورځو هم ثواب دے. عبد اللهؓ اووے زۀ ددے نه زیات طاقت لرم. حضرت ﷺ اوفرمائیل دوه ورځے روژه نیسه او تالره د باقی ورځو هم ثواب دے. هغوی بیا اووے زۀ ددے نه هم زیات طاقت لرم. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه څلور ورځے روژه نیسه او تالره د باقی ورځو هم ثواب شته هغوی عرض اوکړو چه زۀ ددے نه هم زیات طاقت لرم. حضرتؐ اوفرمائیل چه د ټولو روژونه غوره روژه نیسه او هغه د الله په نز د داؤدؑ روژه ده. چه هغوی به یوه ورځ روژه نیوله او یوه ورځ به بوزه وو.

عبد الله بن عمروؓ وائی چه ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زۀ خبر شوے یم چه تۀ همیشه د ورځے روژے نیسے او توله شپه مونځ کوے خو داسے مۀ کوه. ځکه چه ستا د بدن په تا باندے حق دے. او ستا د سترګو هم حصه ده او ستا د بی بی هم په تا باندے حصه ده. تۀ روژه نیسه او بوزه کوه. او په هره میاشت کښ درے ورځے روژه نیسه پس دغه همیشه روژه ده (د ثواب په حقله) ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ په ما کښ خو طاقت ددے نه زیات دے نو حضرت ﷺ اوفرمائیل روژه نیسه تۀ د داؤد علیه السلام یوه ورځ روژه نیسه او یوه ورځ افطار کوه. نو عبد اللهؓ په آخری عمر کښ اووے چه کاش ما دغه

أَخَذْتُ بِالرُّخْصَةِ | رخصت قبول کړے وے نو ښه به وه [۱].

[۱] : د عبد الله بن عمرو ؓ دے تولو روایتونو نه څو امور ثابت شو. اول رفق او نرمي او شفقت د رسول الله ﷺ په خپل امت مرحومه باندے. او ارشاد د هغوی د خیر او اصلاح دپاره او تعلیم د تلقین د حضرت ﷺ د هغوی د آرام او راحت دپاره. او کمال اهتمام د جناب رسالتماب ﷺ په دی باره کښې او منع کول زیات د تعمق او استغراق نه په عبادات شاقه کښې چه هغه مانع کیږی د ادا کولو د حقوقو د آخرت نه او سنت همیشه متوسط دی لکه چه ایمان او اسلام په تولو دینونو کښې متوسط دے. او دا چه کوم فرمائیلے دی چه د فلانے بنده په شان نهٔ شے چه هغه به د شپے پاڅیدو او بیائے پاڅیدل پریخودو دد ے نه معلومه شوه چه الله پاك بد ونیلے دی په هغه خلقو چه هغوی به عبادات په ډیر محنت سره کول او بیا د هغے نه ویزاره شول او پریخودل ئے لکه چه فرمائی · وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا الآية.

دویم دا چه په دے روایتونو کښې د صوم د هر نهی راغلے ده. او ظاهری مذهب دغه دے چه صوم د هر یعنی همیشه روژه منع ده په لحاظ د دغه روایتونو او د جمهورو په تر کهٔ په ورځو د منهی عنه کښې یعنی په اخترونو او د تشریق په ورځو کښې روژه نهٔ نیسی نو روا ده. او مذهب د شافعی دادے چه کهٔ تولے ورځے روژے نیسی سوا د دغه پنځهٔ ورځو نه نو کراهت پکښې نشته دے. بلکه مستحب دی مگر شرط پکښې دادی چه په نورو حقوقو کښې ئے کمے نهٔ وی. او کهٔ په حقونو د معاش وغیره کښې کمے وی نو مکروه ده. او د هغے دلیل حدیث د حمزه بن عمرو دے چه هغوی عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ پرله پسے روژے نیسم نو آیا په سفر کښې به هم نیسم؟ حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه ستا خوښه ده کهٔ غواړے نو نیسه او دے لره بخاری او مسلم روایت کړے دے. غرض دا چه کهٔ چرے دا مکروه وے نو حضرت ﷺ به اجازت نهٔ ورکوؤ علی الخصوص په سفر کښې. او د ابن عمر نه هم روایت دے چه هغوی به پرله پسے روژے نیولے یعنی د عمر بن خطاب خوئ او دغسے ابو طلحه او حضرت عائشه رضی الله عنها او د اکثرو خلقو نه مروی دے. او دا چه کوم چه حدیث کښې راغلے دی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه څوك همیشه روژه نیسی هغه روژه نهٔ ده نیولے. دد ےئے ډیر خوابو نه ورکړے دی اول دا چه مراد دد ے نه هغه سړے دے چه هغه په دغه پنځهٔ ورځو کښې هم روژه نیسی. او دا جواب د حضرت عائشے مروی دے. دویم جواب دادے چه مراد دد ے نه هغه سړے مراد دے چه د هغهٔ نه په نورو واجبو حقونو کښې خلل واقع کیږی. او مسلم ذکر کړے دی چه عبد الله بن عمرو بن عاص په آخر کښې ستومانه شو او ضعیف هغه ته هم راغے نو رسول الله ﷺ دا ګنړله چه دهٔ ته به ضعف راځی پس نهی د هغه چا سره خاص ده چه هغهٔ ته کمزوری راشی. او حضرت ﷺ دا هم فرمائیلے وو چه دا به ستا نه او نهٔ کړے شی. په دے کښې د هغهٔ د عجز په طرف اشاره وه. باقی پاتے شو توله شپه مونځ کول دے ته نووی علی الاطلاق مکروه لیکلی دی. ځکه چه په توله شپه بیداری کښې ضرر یقینی دے په خلاف د روژے او څوك چه توله شپه بیدار وی نو خامخا به هغه د ورځے اوده کیږی نو په دے کښې به نور حقوق ضرور تلف کیږی. او کهٔ د ورځے هم مطلق اوده نهٔ شی نو مرګ یقینی دے. او په دے احادیثو کښې تصریح ده چه روژه د داؤد علیه السلام غوره روژه ده. او دغه مذهب دے د متولی چه د ملګرو د شافعی نه دے. چه د هغوی په نز د همیشه روژے نه داؤدی روژه غوره ده. او ځنو علی الدوام یعنی همیشه روژے ته غوره ونیلے دی او وائی چه دا روایتونه د عبد الله بن عمرو بن عاص په واسطه خاص دی مگر د احادیثو نه د اول قول ترجیح معلومیږی یعنی داؤدی روژه افضل الصیام ده. او په قراءت او ختم قرآن کښې صحابه رضی الله عنهم مختلف وو. ځنو به په یوه میاشت کښې ختم کوؤ ځنو به شل ورځو کښې. ځنو به په لس ورځو کښې ځنو په اووهٔ او ځنو به درے ورځو کښې ځنو به یو په شپه او یو په ورځ کښې او ځنو په هره کښې او ځنو به په یوه شپه او یوه ورځ کښې دری ختمونه کول او د دوی د نومونو تفصیل نووی په خپل کتاب اداب القراء کښې په ښهٔ طریقه سره لیکلی دی او مذهب مختار دادی چه په کوم باندے همیش والے کیدے شی هغه اولی دے او څومره قدرے چه په کښې خوند باقی وی او زړهٔ تر ے ویزاره نهٔ شی. او کهٔ دد ے سره زیات قراءت هم اوشی نو نور علی نور دے. او عبد الله بن عمرو چه کوم د رخصت د قبلولو آرزو اوکړه دد ی نه معلومه شوه چه بهتر عبادت هغه دے چه په هغے باندے تول عمر قیام اوکړے شی او دغه منطوق

بَاب اسْتِحْبَابِ صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَصَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ وَعَاشُورَاءَ وَالِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ

عَنْ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ ﷺ أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يَصُومُ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ قَالَتْ نَعَمْ فَقُلْتُ لَهَا مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ كَانَ يَصُومُ قَالَتْ لَمْ يَكُنْ يُبَالِي مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ يَصُومُ

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ أَوْ قَالَ لِرَجُلٍ وَهُوَ يَسْمَعُ يَا فُلَانُ أَصُمْتَ مِنْ سُرَّةِ هَذَا الشَّهْرِ قَالَ لَا قَالَ فَإِذَا أَفْطَرْتَ فَصُمْ يَوْمَيْنِ

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَجُلٌ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ كَيْفَ تَصُومُ فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فَلَمَّا رَأَى عُمَرُ غَضَبَهُ قَالَ رَضِينَا بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ غَضَبِ اللَّهِ وَغَضَبِ رَسُولِهِ فَجَعَلَ عُمَرُ يُرَدِّدُ هَذَا الْكَلَامَ حَتَّى سَكَنَ غَضَبُهُ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ بِمَنْ يَصُومُ الدَّهْرَ كُلَّهُ قَالَ لَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ أَوْ قَالَ لَمْ يَصُمْ وَلَمْ يُفْطِرْ

باب : په هره میاشت کښې د دریو روژو او د ورځې د عرفې او د ورځې د عاشورې، او د ګل او د زیارت د روژو د مستحب کیدو بیان

معاذه عدویه تپوس اوکړو د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رضی الله عنها نه چه اے رسول الله ﷺ به په هره میاشت کښې درے روژے نیولے؟ هغوی اوفرمائیل چه آو. بیائے تپوس اوکړو چه په کومو ورځو کښې؟ هغوی اوفرمائیل څۀ پرواه به ئے نۀ کوله چه په کومو ورځو کښې د میاشتې به ئے نیولے [1].

عمران بن حصین رضی الله عنه وئیلے دی چه نبی ﷺ هغۀ ته اوفرمائیل یائے بل چا ته اوفرمائیل او دۀ واوریدل. غرض حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اے فلانیه ! تا د دے میاشتې په مینځ کښې روژے نیولی دی ؟ هغوی اووے نه حضرت ﷺ اوفرمائیل بیا چه کله تۀ بوزه کړے نو دوه ورځې نورے روژه اونیسه

د ابو قتاده رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړے رسول الله ﷺ له راغےاو عرض ئے اوکړو چه تاسو روژه څنګه نیسئ؟ په دے خبره حضور ﷺ غصه شو (یعنی څکه چه دا سوال بے موقع وو دۀ لره لازم و چه دا سوال ئے کړے وے چه زۀ روژه څنګه اونیسم) بیا چه کله حضرت عمر رضی الله عنه د هغۀ غصه اولیده نو عرض ئے اوکړو چه مونږ راضی یو د الله په معبود کیدو باندے او د اسلام په دین باندے او د

دے د احادیث صحیحو. او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه ستا د اولاد په تا باندے حق دے. د دے نه معلومه شوه چه پلار له تعلیم د اولاد ضروری دے. او کۀ پلار رنۀ وی نو بیا په مور باندے اولاد له تعلیم ورکول ضروری دی او هغوی لره په دے کښې اجر دے.

[1]: د دے نه مستحب کیدل په هره میاشت کښې د درے روژو نیول ثابت شو.

قَالَ كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمَيْنِ وَيُفْطِرُ يَوْمًا قَالَ وَيُطِيقُ ذٰلِكَ أَحَدٌ قَالَ كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا قَالَ ذَاكَ صَوْمُ دَاوُدَ قَالَ كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمَيْنِ قَالَ وَدِدْتُ أَنِّي طُوِّقْتُ ذٰلِكَ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ثَلَاثٌ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَمَضَانُ إِلٰى رَمَضَانَ فَهٰذَا صِيَامُ الدَّهْرِ كُلِّهِ صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ وَصِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ

محمد (ﷺ) په نبی کیدو باندے او پناه غواړو مونږ د الله او د هغهٔ د رسول د غصے نه. غرض دا حضرت عمرؓ بار بار دا کلمات ونیل ترڅو پورې چه د حضور ﷺ غصه ختمه شوه. بیا حضرت عمرؓ عرض اوکړو یا رسول الله ځوك چه همیشه روژے نیسی هغه څنګه دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل نهٔ هغهٔ روژه اونیوه او نهٔ بوږه شو. بیائے عرض او د یو کال روستنی دګناهونو کفاره شی. او د عاشورے د روژے نه امید لرم چه د یو کال رومبو ګناهونو کفاره شی[1].

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنْ صَوْمِهِ قَالَ فَغَضِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رَضِينَا بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا وَبِبَيْعَتِنَا بَيْعَةً قَالَ فَسُئِلَ عَنْ صِيَامِ الدَّهْرِ فَقَالَ لَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ أَوْ مَا صَامَ وَمَا أَفْطَرَ قَالَ فَسُئِلَ عَنْ صَوْمِ يَوْمَيْنِ وَإِفْطَارِ يَوْمٍ قَالَ وَمَنْ يُطِيقُ ذٰلِكَ قَالَ وَسُئِلَ عَنْ صَوْمِ يَوْمٍ وَإِفْطَارِ يَوْمَيْنِ قَالَ لَيْتَ أَنَّ اللهَ قَوَّانَا لِذٰلِكَ قَالَ وَسُئِلَ عَنْ صَوْمِ يَوْمٍ وَإِفْطَارِ يَوْمٍ قَالَ ذَاكَ صَوْمُ أَخِي

د ابو قتادهؓ نه دغه مضمون روایت کړے شوے دے چه د حضرت ﷺ نه د هغوی د روژو تپوس اوکړے او حضرت ﷺ غصه شو. بیا حضرت عمرؓ عرض اوکړو چه مونږ راضی یو د اللهؓ په معبود کیدو باندے او د اسلام په دین باندے او د محمد (ﷺ) په نبی کیدو باندے او مونږ د بیعت نه چه دغه بیعت دے او سوال اوشو د همیشه روژو نیولو په باره کښې نو حضرت ﷺ اوفرمائیل هغهٔ نهٔ روژه اونیوه او نهٔ بوږه شو. بیا سوال اوشو د دوه ورځے روژے او یوه ورځ بوږه کیدو په باره کښې نو حضرت ﷺ اوفرمائیل دا د طاقت په چا کښې دے. بیا سوال اوشو د دوه ورځ بوږه او یوه ورځ د روژے په باره کښې. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل کاش الله تعالی د مونږ له داسی قوت راکړی. او سوال اوشو د یوے ورځے روژے او یوه ورځے افطار په باره کښې نو حضرت ﷺ اوفرمائیل دا څما د رور داؤد علیه السلام روژه ده او

[1]: ددے حدیث نه د عرفے او د عاشورے د ورځے فضیلت معلوم شو او په هره میاشت کښې د درے روژو نیولو نه معلومه شوه چه د تول کال د روژو ثواب میلاویږی.

دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ وَسُئِلَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الِاثْنَيْنِ قَالَ ذَاكَ يَوْمٌ وُلِدْتُ فِيهِ وَيَوْمٌ بُعِثْتُ أَوْ أُنْزِلَ عَلَيَّ فِيهِ قَالَ فَقَالَ صَوْمُ ثَلَاثَةٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَمَضَانَ إِلَى رَمَضَانَ صَوْمُ الدَّهْرِ قَالَ وَسُئِلَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ فَقَالَ يُكَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِيَةَ وَالْبَاقِيَةَ قَالَ وَسُئِلَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ فَقَالَ يُكَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِيَةَ وَفِي هَذَا الْحَدِيثِ مِنْ رِوَايَةِ شُعْبَةَ قَالَ وَسُئِلَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ فَسَكَتْنَا عَنْ ذِكْرِ الْخَمِيسِ لَمَّا نُرَاهُ وَهْمًا

سوال اوشو د گل د روژے نو حضرت ﷺ اوفرمائیل په دغه ورځ زهٔ پیدا شوی یم او په دغه ورځ نبی شوے وم یاتے اوفرمائیل چه په دغه ورځ په ما باندے وحی نازله شوے ده. او اوئے فرمائیل چه درے روژے په هره میاشت کښې او د یو رمضان نه د بل رمضانه پورے روژے نیول دا صوم دهر دے.او د عرفے د روژے په باره کښې ترے سوال اوشو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل د یو کال تیر شوی او د یو کال راتلونکی د گناهونو کفاره ده. او د عاشورے د روژے په باره کښې ترے تپوس اوشو نو اوئے فرمائیل د یو تیر شوی کال کفاره ده. مسلم ؒ فرمائیلي دی په دغه حدیث کښې د شعبه په روایت کښې چه تپوس اوشو د هغوی نه د گل او د زیارت د روژے په باره کښې نو مونږ د زیارت ذکر نهٔ دے کړے ځکه چه په دے کښې وهم دے [1].

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنْ صَوْمِ الِاثْنَيْنِ فَقَالَ فِيهِ وُلِدْتُ وَفِيهِ أُنْزِلَ عَلَيَّ

د ابو قتادهؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړے شو د دوشنبے د روژې په باره کښې نو حضرتؐ اوفرمائیل په دغه ورځ زهٔ پیدا شوے یم او په دغه ورځ په ما باندے وحی نازله شوے ده.

---

[1]: په دے روایت کښې مسلم ؒ فرمائیلي دی چه مونږ د زیارت ذکر لره وهم اوګنړلو په دے وجه مو ذکر نهٔ کړو. او وجه ددے دا ده چه د گل په سوال کښې کهٔ د زیارت هم ذکر اوشی نو مخکښې چه کوم ذکر شوے دی چه زهٔ په دغه ورځ پیدا یم او په دغه ورځ نبی شوے یم. دے ته ربط نهٔ پاتے کیږی ځکه چه دا تول د گل په ورځ شوے دی. او قاضی عیاض وئیلي دی چه ممکنه ده چه روایت د گل صحیح وی. او د زیارت ذکر هم په دے کښې وی مګر ولادت د هغهٔ د گل سره متعلق دے. او کفاره د گناهونو چه کومه په حدیث شریف کښې ذکر ده مراد ددے نه صغیره گناهونه دی. او کهٔ صغیره گناهونه نهٔ وی نو په کبیره کښې څهٔ سپکوالے راځی. او کهٔ صغیره کبیره دواړه نهٔ وی نو په عباداتو بره درجے اوچتیږی او درے روژے چه کومے په هره میاشت کښې ذکر شوے دی دے ته ایّام بیض وائی.او د یو جماعت د صحابوؓ او تابعینوؒ نه روایت دے چه ایّام بیض د میاشتے دیارلسم څوارلسم او پنځلسم تاریخونه دی. چه په دے کښې په حضرت عمرؓ او ابن مسعودؓ او ابوذرؓ روژه نیوله. او ځنو ورته د میاشتے آخرے ورځے وئیلي دی او ځنو په نزد درے ورځے اولنی په دے کښې حسن دے. او حضرت عائشےؓ او ځنے علماؤ اختیار کړے دیٔ چه په یوه میاشت کښې هفته او یکشنبه او دوشنبه روژه نیسیٔ او په دویمه کښې دی سه شنبه چار شنبه او پنجشنبه نیسیٔ. غرض په دے شان نور هم ډیر اقوال دی او د پیغمبر ﷺ عادت مبارك دا وو چه ددے دپاره به ئے ورځ نهٔ مقرر کوله. لکه چه پورته د حضرت عائشےؓ نه روایت شوے دی.

بَاب صَوْمِ سَرَرِ شَعْبَانَ

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ أَوْ لِآخَرَ أَصُمْتَ مِنْ سَرَرِ شَعْبَانَ قَالَ لَا قَالَ فَإِذَا أَفْطَرْتَ فَصُمْ يَوْمَيْنِ

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لِرَجُلٍ هَلْ صُمْتَ مِنْ سَرَرِ هَذَا الشَّهْرِ شَيْئًا قَالَ لَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَإِذَا أَفْطَرْتَ مِنْ رَمَضَانَ فَصُمْ يَوْمَيْنِ مَكَانَهُ

باب : د اول د شعبان د روژو بیان

د عمران بن حصین نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هغهٔ ته اوفرمائیل چه تا د شعبان په شروع کښې څهٔ روژے نیولی دی؟ هغوی اووے نه حضرت ﷺ اوفرمائیل کله چه تهٔ د بوژے ورځ ختمه کړے نو دوه روژے اونیسه [1].

عمران بن حصین وائی چه نبی ﷺ یو سړی ته اوفرمائیل چه دد دے میاشتے په آخر کښې تا روژے نیولی دی؟ (یعنی په شعبان کښې) هغهٔ اووے نه حضرت ﷺ اوفرمائیل کله چه تهٔ د رمضان د روژو نه فارغ شے نو دوه روژے اونیسه د هغے په عوض کښې.

بَاب فَضْلِ صَوْمِ الْمُحَرَّمِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَهْرُ اللهِ الْمُحَرَّمُ وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ صَلَاةُ اللَّيْلِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَرْفَعُهُ قَالَ سُئِلَ أَيُّ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ بَعْدَ الْمَكْتُوبَةِ وَأَيُّ الصِّيَامِ أَفْضَلُ بَعْدَ شَهْرِ رَمَضَانَ فَقَالَ أَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ الصَّلَاةُ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ وَأَفْضَلُ الصِّيَامِ

باب : د مُحَرَّم د روژے فضیلت

ابوهریره وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه غوره په ټولو روژو کښې د رمضان نه پس د محرم روژے دی چه هغه د الله میاشت ده. او غوره مونځ روستو د فرض مانځهٔ نه د تهجد مونځ دے [2].

د ابوهریره نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ نه چا تپوس اوکړو چه د فرض مانځهٔ نه پس کوم مونځ غوره دے. او روستو د رمضان د میاشتے نه کومے روژے غوره دی؟ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه مونځ د شپے او

---

[1] : د سرر معنی اوزاعی او ابوعبیده او جمهورو علماؤ د میاشتے آخر ته وئیلے دی ځکه چه هغه د استرار نه مُشتق دے او استرار پټول دی او په دے ورځو کښې سپوږمۍ پټیږی او د خنو قول دے چه مراد ددے نه د میاشتے مینځ دے او ابوداؤد د اوزاعی نه نقل کړی دی چه مراد ددے نه اول د میاشت دے . او ددے نه معلومه شوه چه د چا عادت وی د میاشتے په آخرو ورځو کښې د روژے نیولو هغه نے د رمضان نه مخکښې هم نیولے شی او د چا چه عادت نهٔ وی هغهٔ له یوه یا دوه ورځے مخکښې د رمضان نه روژه نیول منع دی.

[2] : هدے حدیث نه د محرم د روژو او د تهجدو فضیلت ثابت شو او ددے نه دا هم معلومه شوه چه د شپے نفل د ورځے د نفلو نه غوره دی. او په دے باندے د علماؤ اتفاق دے.

بعد شهر رمضان صيام شهر الله المحرم

روژے د محرم غوره دی.

بَاب اسْتِحْبَابِ صَوْمِ سِتَّةِ أَيَّامٍ مِنْ شَوَّالٍ إِتْبَاعًا لِرَمَضَانَ

باب : د وړوکی اختر د شپږو روژو فضیلت

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ

د ابو ایوب انصاریؓ نه روایت دے چه رسول اللهؐ فرمائیلے دی څوك چه د رمضان روژے اونیسی او بیا وریسے شپږ روژے د وړوکی اختر اونیسی. نو دۀ ته به د همیشه روژو ثواب میلاویږی [1].

بَاب فَضْلِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَالْحَثِّ عَلَى طَلَبِهَا وَبَيَانِ مَحَلِّهَا

باب : د شبِ قدر فضیلت او د تعین ذکر

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رِجَالًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْمَنَامِ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ فَمَنْ كَانَ مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ

د عبد الله بن عمروؓ نه روایت دے چه څو اصحابو د رسول اللهؐ ته اوښودلے شو په خوب کښ شب قدر په آخری هفته کښ یعنی د رمضان او رسول اللهؐ اوفرمائیل چه ستاسو خوبونه زۀ وینمه چه موافق او مطابق وی د رمضان د اوو آخرو تاریخونو پس څوك چه د دے شپے تلاش کونکے وی هغه د نے په دغه تاریخونو کښ تلاش کوی

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ

عبدالله بن عمرؓ د رسول اللهؐ نه روایت کړے دے چه رسول اللهؐ فرمائیلے دی تلاش کوئ شب قدر لره په اوو شپو آخرو کښ

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ رَأَى رَجُلٌ أَنَّ لَيْلَةَ الْقَدْرِ لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَى رُؤْيَاكُمْ فِي الْعَشْرِ

سالم د خپل پلار نه روایت کړے دے چه یو سړی په اوویشتمه شپه قدر اولیدو نو نبیؐ اوفرمائیل چه زۀ وینم چه خوب ستاسو په آخر لسو کښ واقع شوے دے نو دے لره د آخر لسو په طاق شپو

---

[1] د دے روایت نه استحباب د دغه روژو ثابت شو او دغه مذهب دے د امام شافعیؒ او احمدؒ او داؤدؒ او د هغوی د ملګرو او د امام مالكؒ او ابوحنیفهؒ په نزد دا مکروه دی او مالكؒ په موطاء کښ وئیلے دی چه ما چا اهل علم لره نۀ دے لیدلے چه هغه دا روژے نیولی وی او دا روایتونه په هغے باندے حجت دی او د رسول اللهؐ د قول په مخکښ د بل چا قول نه شی اوریدے او د نمر مخے ته ډیوه بلول حماقت دے

الْأَوَاخِرِ فَاطْلُبُوهَا فِي الْوِتْرِ مِنْهَا

كښې تلاش كوئ

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِلَيْلَةِ الْقَدْرِ إِنَّ نَاسًا مِنْكُمْ قَدْ أُرُوا أَنَّهَا فِي السَّبْعِ الْأُوَلِ وَأُرِيَ نَاسٌ مِنْكُمْ أَنَّهَا فِي السَّبْعِ الْغَوَابِرِ فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْغَوَابِرِ

سالم د خپل پلار نه اوريدلې دي چه هغوی وائي اوريدلې دی ما د رسول اللهؐ نه چه فرمائيلې ئې وو چه څۀ خلقو ستاسو نه شبِ قدر لره په اوؤ رومبنو تاريخونو كښې ليدلې دے يعني په خوب كښې لو څۀ خلقو په اوؤ آخرو تاريخونو كښې ليدلې دے نو تاسو ئې په آخر لسو تاريخونو كښې تلاش كوئ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ ؓ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ يَعْنِي لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَإِنْ ضَعُفَ أَحَدُكُمْ أَوْ عَجَزَ فَلَا يُغْلَبَنَّ عَلَى السَّبْعِ الْبَوَاقِي

عبد الله بن عمر ؓ فرمائيلې وو چه رسول الله ﷺ فرمائيلې دي لټوئ شب قدر لره په آخرو لسو كښې بيا كچرې د چا نه سستي اوشي يا عاجز شي نو په اوؤ آخرو شپو كښې د سستي نۀ كوی

عَنِ ابْنِ عُمَرَ ؓ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ مَنْ كَانَ مُلْتَمِسَهَا فَلْيَلْتَمِسْهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ

ابن عمر ؓ نه روايت دے چه فرمائيلې دي رسول الله ﷺ د شبقدر لټونكو لره په آخری لسو تاريخونو كښې لټول پكار دي

عَنِ ابْنِ عُمَرَ ؓ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ تَحَيَّنُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ أَوْ قَالَ فِي التِّسْعِ الْأَوَاخِرِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلې دي لټوئ شب قدر لره په آخر لسو كښې يائې اوفرمائيل په آخره هفته كښې

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرِيتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ ثُمَّ أَيْقَظَنِي بَعْضُ أَهْلِي فَنُسِّيتُهَا فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْغَوَابِرِ وَقَالَ حَرْمَلَةُ فَنَسِيتُهَا

ابوهريره ؓ د رسول الله ﷺ نه روايت كړے دے چه حضرت ﷺ اوفرمائيل ما ته په خوب كښې شب قدر اوښودلې شو بيا چا خما كور والا زۀ راويښ كړم نو خما نه هغه هير كړے شو او د حرمله په روايت كښې دي چه ما هغې لره هير كړلو

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجَاوِرُ فِي الْعَشْرِ الَّتِي فِي وَسَطِ الشَّهْرِ فَإِذَا كَانَ مِنْ حِينِ تَمْضِي عِشْرُونَ لَيْلَةً وَيَسْتَقْبِلُ إِحْدَى وَعِشْرِينَ يَرْجِعُ إِلَى مَسْكَنِهِ وَرَجَعَ مَنْ كَانَ يُجَاوِرُ مَعَهُ ثُمَّ إِنَّهُ

ابوسعيد خدري ؓ وائي رسول الله ﷺ اعتكاف كولو د مياشتې د مينځ په لسو كښې (يعني د رمضان) بيا چه كله شل شپې تيرے شوے د رمضان او يويشتمه راتلونكې وه نو خپل كور ته واپس راغې او كوم چه د هغوی سره اعتكاف كونكي وو هغه به هم كور ته راغلل بيائې په يوه مياشت كښې دغه شان اعتكاف اوكړو. او په كومه شپه كښې چه كور ته راتلل خطبه ئې اولوسته او خلقو ته ئې حكم اوكړو كوم چه الله ته

أَقَامَ فِي شَهْرٍ جَاوَرَ فِيهِ تِلْكَ اللَّيْلَةَ الَّتِي كَانَ يَرْجِعُ فِيهَا فَخَطَبَ النَّاسَ فَأَمَرَهُمْ بِمَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ قَالَ إِنِّي كُنْتُ أُجَاوِرُ هٰذِهِ الْعَشْرَ ثُمَّ بَدَا لِي أَنْ أُجَاوِرَ هٰذِهِ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ فَمَنْ كَانَ اعْتَكَفَ مَعِي فَلْيَبِتْ فِي مُعْتَكَفِهِ وَقَدْ رَأَيْتُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ فَأُنْسِيتُهَا فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فِي كُلِّ وِتْرٍ وَقَدْ رَأَيْتُنِي أَسْجُدُ فِي مَاءٍ وَطِينٍ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ مُطِرْنَا لَيْلَةَ إِحْدَى وَعِشْرِينَ فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ فِي مُصَلَّى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ وَقَدِ انْصَرَفَ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ وَوَجْهُهُ مُبْتَلٌّ طِينًا وَمَاءً

منظور وو. بیائے اوفرمائیل چه ما په دے عشره کښ اعتکاف کوؤ. بیا ما ته مناسب معلومه شوه چه زهٔ د په دے آخری لسو کښ هم اعتکاف اوکرم پس څما سره چه کوم اعتکاف کونکی وی هغه د د شپے د خپل اعتکاف په ځائے کښ پاتے شی (او کورته د نهٔ ځی) او ما په خوب دے شب قدر لره اولیدو پس هیر شو هغه څما نه نو دے لره په آخری لسو طاق شپو کښ لټوئ. او زهٔ په خپل خوب کښ وینم چه سجده کوم په اوبو او خټو کښ (یعنی دد ے شپے په آخر کښ به داسی کیږی او دا خبره د خوب هغوی ته یاده وه) بیا ابوسعید خدری وائی چه په یویشتمه شپه په مونږ باندے باران اووریدو او د حضرت ﷺ د جماعت په مصلی باندے سسوړے اوشو او ما هغوی اولیدل هر کله چه حضرت ﷺ د سحر د مانځهٔ نه سلام اوګرځوو چه د هغوی مبارک مخ په خټو او اوبو باندے لړلے وو [1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجَاوِرُ فِي رَمَضَانَ الْعَشْرَ الَّتِي فِي وَسَطِ الشَّهْرِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَلْيَثْبُتْ فِي مُعْتَكَفِهِ وَقَالَ وَجَبِينُهُ مُمْتَلِئًا طِينًا وَمَاءً

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په میاشت د رمضان په لسو ورځو کښ اعتکاف کوؤ. مخکښ هم هغسے حدیث بیان کړو خو په دے دادی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه چا نه زمونږ سره اعتکاف کړے دے هغه د د خپل اعتکاف په ځائے کښ ثابت پاتے شی او په آخر کښ ئے اووے چه د حضرت ﷺ تندے په خټو او اوبو سره لړلے وو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ مِنْ رَمَضَانَ ثُمَّ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ فِي قُبَّةٍ تُرْكِيَّةٍ عَلَى

ابوسعید خدری وائی رسول الله ﷺ اعتکاف اوفرمائیلو په رومبو لسو ورځو کښ د رمضان بیائے اعتکاف اوفرمائیلو د میاشت په لسو ورځو کښ په یوه ترکئ قبه کښ (دد ے نه د کفارو څیزونو استعمال روا شو) چه د هغے په دروازه باندے یو پوزے لګیدلے وو (د پردے دپاره) نو

[1] دد ے حدیث نه معلومه شوه چه مونځ کونکے به خپل تندی په مانځهٔ کښ د ننه نهٔ پاکوی.

سُدَّتِهَا حَصِيرٌ قَالَ فَأَخَذَ الْحَصِيرَ بِيَدِهِ فَنَحَّاهَا فِي نَاحِيَةِ الْقُبَّةِ ثُمَّ أَطْلَعَ رَأْسَهُ فَكَلَّمَ النَّاسَ فَدَنَوْا مِنْهُ فَقَالَ إِنِّي اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ أَلْتَمِسُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ ثُمَّ أُتِيتُ فَقِيلَ لِي إِنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَعْتَكِفَ فَلْيَعْتَكِفْ فَاعْتَكَفَ النَّاسُ مَعَهُ قَالَ وَإِنِّي أُرِيتُهَا لَيْلَةَ وِتْرٍ وَإِنِّي أَسْجُدُ صَبِيحَتَهَا فِي طِينٍ وَمَاءٍ فَأَصْبَحَ مِنْ لَيْلَةِ إِحْدَى وَعِشْرِينَ وَقَدْ قَامَ إِلَى الصُّبْحِ فَمَطَرَتِ السَّمَاءُ فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ فَأَبْصَرْتُ الطِّينَ وَالْمَاءَ فَخَرَجَ حِينَ فَرَغَ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ وَجَبِينُهُ وَرَوْثَةُ أَنْفِهِ فِيهِمَا الطِّينُ وَالْمَاءُ وَإِذَا هِيَ لَيْلَةُ إِحْدَى وَعِشْرِينَ مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ تَذَاكَرْنَا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَأَتَيْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَكَانَ لِي صَدِيقًا فَقُلْتُ أَلَا تَخْرُجُ بِنَا إِلَى النَّخْلِ فَخَرَجَ وَعَلَيْهِ خَمِيصَةٌ فَقُلْتُ لَهُ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَقَالَ نَعَمْ اعْتَكَفْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَشْرَ الْوُسْطَى مِنْ رَمَضَانَ فَخَرَجْنَا صَبِيحَةَ

حضرت ﷺ هغه پوزے په خپل لاس لرے کړو او د قبے په یو گوټ کښې ئے کیښودو. بیائے خپل سر بهر کړو او خلقو ته ئے خبرے شروع کړے. او خلق هغوی ته نږدے راغلو. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ما په اولو لسو شپو کښې اعتکاف کوو او دا شپه مے پکښې تلاش کوله بیا ما د مینځ په لسو شپو کښې اعتکاف کوو. نو څما خواله څوك راغے (یعني فرشته) او ما ته اووئیلے شو چه دغه شپه په آخر لسو شپو کښې ده. پس څوك چه خوښوی ستاسو نه هغه دی بیا اعتکاف اوکړی یعنی په آخری لسو کښې دی هم معتکف شی. بیا خلق معتکف شول. او حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ما ته ښودلے شوے ده چه هغه په طاق شپو کښې ده. او زۀ په دغه سحر لره په اوبو او خاورو کښې سجده کوم. بیا چه هر کله د یویشتمے شپے سحر شو او حضرت ﷺ د سحر پورې مونځ کولو او د شپے باران او وریدو او جماعت اوسیدو او ما اولیدل خاورے او اوبو لره بیا چه هر کله حضرت ﷺ د سحر د مانځهٔ کولو نه پس رااووتو نو د هغهٔ په تندی او پوزه باندے د خاورے او اوبو نخښه وه. او هغه شپه یویشتمه وه. او د آخری لسو شپه وه.

د ابوسلمهؓ نه روایت دے چه هغوی وائی مونږ په خپلو کښې ذکر اوکړو د شب قدر نو زۀ د ابوسعید خدریؓ خواله راغلم او هغه څما دوست وو. او ما هغهٔ ته اووے چه ته زمونږ سره کهجورو باغ ته نهٔ شے تلے نو هغه یو څادر پسر کړے را اووتو او ما اووے تا څهٔ اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه چه ذکر ئے کړے وی د شب قدر؟ هغوی اووے چه آو ما اعتکاف اوکړو د رسول الله ﷺ سره د مینځ په لسو کښې د رمضان او مونږ د شلم تاریخ په سحر رااووتو (د اعتکاف نه) بیا خطبه اولوسته په مونږ باندے رسول الله ﷺ او وئے فرمائیل چه ما ته اوښودلے شو

عِشْرِينَ فَخَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي أُرِيتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ وَإِنِّي نَسِيتُهَا أَوْ أُنْسِيتُهَا فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ كُلِّ وِتْرٍ وَإِنِّي أُرِيتُ أَنِّي أَسْجُدُ فِي مَاءٍ وَطِينٍ فَمَنْ كَانَ اعْتَكَفَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْيَرْجِعْ قَالَ فَرَجَعْنَا وَمَا نَرَى فِي السَّمَاءِ قَزَعَةً قَالَ وَجَاءَتْ سَحَابَةٌ فَمُطِرْنَا حَتَّى سَالَ سَقْفُ الْمَسْجِدِ وَكَانَ مِنْ جَرِيدِ النَّخْلِ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ فِي الْمَاءِ وَالطِّينِ قَالَ حَتَّى رَأَيْتُ أَثَرَ الطِّينِ فِي جَبْهَتِهِ

عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَفِي حَدِيثِهِمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ انْصَرَفَ وَعَلَى جَبْهَتِهِ وَأَرْنَبَتِهِ أَثَرُ الطِّينِ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ اعْتَكَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ مِنْ رَمَضَانَ يَلْتَمِسُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ قَبْلَ أَنْ تُبَانَ لَهُ فَلَمَّا انْقَضَيْنَ أَمَرَ بِالْبِنَاءِ فَقُوِّضَ ثُمَّ أُبِينَتْ لَهُ أَنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فَأَمَرَ بِالْبِنَاءِ فَأُعِيدَ ثُمَّ خَرَجَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهَا كَانَتْ

شب قدر او ما هیر کړو هغې لره یا هیر کړے شو څما نه. پس تاسو هغې لره د آخری لس طاق تاریخونو په شپه کښې لټوئ او اوئې فرمائیل چه زۀ خپل ځان لره وینم چه په اوبو او خاورو کښې سجده کوم. بیا چا چه اعتکاف کړے وو د رسول الله ﷺ سره هغه دِ واپس شی یعنی د خپل اعتکاف ځائے ته او مونږ خلق بیا د اعتکاف ځائے ته راغلو. او مونږ په آسمان کښې چرته د وریځے ټکړه نۀ لیدله چه په دے کښې وریځ راغله او په مونږ باندے باران اووریدو تردے پورے چه د جماعت چت بهیدل شروع شو او د کهجورو په څانګو سره تړلے شوے وو. او د سحر د مانځۀ تکبیر اوشو او ما حضرت ﷺ اولیدو چه سجده ئے کوله په اوبو او ختو کښې (یعنی څۀ چه ئې په خوب کښې لیدلی وو هغه صحیح شو) تردے پورے چه اولیدو ما اثر د ختو د حضرت ﷺ په تندی کښې.

د یحیی بن ابو کثیر ؒ نه په دغه اسناد سره روایت مروی شوے دے او په دے کښې دادی چه اولیدو ما رسول الله ﷺ لره چه هر کله واپس کیدو یعنی د سحر د مانځۀ نه نو د هغوی په تندی او په پوزه باندے د ختو اثر وو.

ابوسعید خدری ؓ وائی چه اعتکاف اوکړو رسول الله ﷺ په مینځ د لسو د رمضان کښې مخکښې د دے نه چه ظاهر شو شب قدر په هغوی باندے. بیا چه هر کله د مینځ لس شپے تیرے شوے نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه خیمے کهولاؤ کړئ بیا هغوی ته معلومه شوه چه هغه په آخری لسو کښې دے نو حکم ئې اوکړو د خیمو اولګولے شوے. بیا حضرت ﷺ رااووتو او اوئې فرمائیل اے خلقو! ما ته شب قدر معلوم شوے وو. او زۀ رااووتم چه تاسو خبر کړم. بیا

أُبِينَتْ لِي لَيْلَةُ الْقَدْرِ وَإِنِّي خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بِهَا فَجَاءَ رَجُلَانِ يَحْتَقَّانِ مَعَهُمَا الشَّيْطَانُ فَنُسِّيتُهَا فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ الْتَمِسُوهَا فِي التَّاسِعَةِ وَالسَّابِعَةِ وَالْخَامِسَةِ قَالَ قُلْتُ يَا أَبَا سَعِيدٍ إِنَّكُمْ أَعْلَمُ بِالْعَدَدِ مِنَّا قَالَ أَجَلْ نَحْنُ أَحَقُّ بِذَلِكَ مِنْكُمْ قَالَ قُلْتُ مَا التَّاسِعَةُ وَالسَّابِعَةُ وَالْخَامِسَةُ قَالَ إِذَا مَضَتْ وَاحِدَةٌ وَعِشْرُونَ فَالَّتِي تَلِيهَا ثِنْتَيْنِ وَعِشْرِينَ وَهِيَ التَّاسِعَةُ فَإِذَا مَضَتْ ثَلَاثٌ وَعِشْرُونَ فَالَّتِي تَلِيهَا السَّابِعَةُ فَإِذَا مَضَى خَمْسٌ وَعِشْرُونَ فَالَّتِي تَلِيهَا الْخَامِسَةُ وَقَالَ ابْنُ خَلَّادٍ مَكَانَ يَحْتَقَّانِ يَخْتَصِمَانِ

يو دوه سړي په خپلو کښې په جهګړه راغلو او د هغوی سره شيطان هم وو. بيا ځما هير شو. خو تاسو لټوئ دے لره په آخری لسو د رمضان کښې. او لټوئ دے لره د نهم، اووم او پنځم تاريخ په شپو کښې. راوی وائی ما ابوسعيد ؓ ته اووے چه ته په شمار ښه پوهيږے زمونږ نه نو هغوی اووے چه آو مونږ ددے زيات مستحق يو په نسبت ستاسو بيا ما تپوس اوکړو چه د نهم، اووم او پنځم نه څۀ مراد دے؟ هغوی اوفرمائيل چه کله يويشتمه تيره شی د هغے نه پس چه کومه راشی دويشتمه. ددغے دويشتمے شپے نه نهمه شپه مراد ده. او کله چه دريشتمه تيره شی او د هغے نه پس چه کومه څليرشتمه راشی د هغے نه اوومه مراد ده. او چه کله پنځويشتمه تيره شی او د هغے نه پس چه کومه شپه راشی يعنی شپږويشتمه دغه مراد دے د پنځمے نه او خلاد يَحْتَقَّانِ په ځائے يختصمان وئيلے دی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُنَيْسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرِيتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ ثُمَّ أُنْسِيتُهَا وَأَرَانِي صُبْحَهَا أَسْجُدُ فِي مَاءٍ وَطِينٍ قَالَ فَمُطِرْنَا لَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ فَصَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْصَرَفَ وَإِنَّ أَثَرَ الْمَاءِ وَالطِّينِ عَلَى جَبْهَتِهِ وَأَنْفِهِ قَالَ وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُنَيْسٍ يَقُولُ ثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ

عبد الله بن انيس ؓ وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه ما ته اوښودے شو شب قدر او بيا ځما نه هير شو او ما اوليدل چه په دغه سحر زۀ په اوبو او خټو کښې سجده کوم. او راوی وائی چه باران او وريدو په مونږ باندے په دريشتمه شپه او مونځ اوکړو زمونږ سره رسول الله ﷺ او هر کله چه ئے مونځ اوکړو (يعنی د سحر) او رااوګرځيدو نو په تندی او پوزه باندے ئے د اوبو او د خټو اثر وو. او عبد الله بن انيس ؓ به دريشتمے شپے ته شب قدر وئيلو.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ الْتَمِسُوا وَقَالَ وَكِيعٌ تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے نه روايت دے چه رسول الله فرمائيلی دی خه لټوئ شب قدر په روستو لسو (شپو) د رمضان کښې. د ابن نمير په روايت کښې د اِلْتَمِسُوا او د وکيع په روايت

مِنْ رَمَضَانَ

عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ يَقُولُ سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقُلْتُ إِنَّ أَخَاكَ ابْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ مَنْ يَقُمِ الْحَوْلَ يُصِبْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَقَالَ رَحِمَهُ اللهُ أَرَادَ أَنْ لَا يَتَّكِلَ النَّاسُ أَمَا إِنَّهُ قَدْ عَلِمَ أَنَّهَا فِي رَمَضَانَ وَأَنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ وَأَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ ثُمَّ حَلَفَ لَا يَسْتَثْنِي أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ فَقُلْتُ بِأَيِّ شَيْءٍ تَقُولُ ذٰلِكَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ قَالَ بِالْعَلَامَةِ أَوْ بِالْآيَةِ الَّتِي أَخْبَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا تَطْلُعُ يَوْمَئِذٍ لَا شُعَاعَ لَهَا

کښې د تحرّی لفظ دے.

زر بن حُبیش وئیلي وو. چه ما د ابی بن کعبؓ نه تپوس اوکړو چه ستا رور ابن مسعودؓ خو وائی چه څوك تول کال برابر ویښ پاتې شی هغه به شب قدر اومومی. هغوی اووے الله د رحمت اوکړی په هغوی باندے او دے وینا نه د هغوی غرض دا وو چه خلق په دغه یوه شپه باندے اعتماد او نۀ کړی ،بلکه همیشه په عبادت کښې مشغول اوسی، او هغۀ ته ښه معلومه وه چه هغه په رمضان کښې ده. او هغه په آخری لسو کښې دے. او هغه اوویشتمه شپه ده. بیا به هغه په دے باندے قسم خوړلو او انشاء الله به ئے هم نۀ وئیلو (یعنی داسې ئے په خپل قسم باندے یقین وو) اووئیل به ئے چه هغه اوویشتمه شپه ده نو ما هغۀ ته اووے چه تۀ اے ابو منذره ولے دا دعوه کوے؟ هغوی اووے چه د یوے نخښې یا علامت د وجې نه چه د هغې خبر راکړے دے مونږ ته رسول اللهﷺ او هغه دا دے چه د دے په سحر چه کوم نمر راخیژی نو په هغې کښې شعاع ګانې نۀ وی (مګر دا علامت روستو د زوال د شپې نه ظاهریږی)

عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ أُبَيٌّ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَاللهِ إِنِّي لَأَعْلَمُهَا قَالَ شُعْبَةُ وَأَكْبَرُ عِلْمِي هِيَ اللَّيْلَةُ الَّتِي أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقِيَامِهَا هِيَ لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ وَإِنَّمَا شَكَّ شُعْبَةُ فِي هٰذَا الْحَرْفِ هِيَ اللَّيْلَةُ الَّتِي أَمَرَنَا بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَحَدَّثَنِي بِهَا صَاحِبٌ لِي عَنْهُ

زر بن حُبیش د ابی بن کعبؓ نه روایت کړے دے چه ابی وائی د شب قدر په باب کښې چه قسم دے په اللهؓ چه زۀ هغې لره ښه پیژنم. شعبهؒ وائی چه اکثر روایتونه ماته داسې رارسیدلی دی چه هغه دغه شپه وه. چه په هغې حکم اوفرمائیلو مونږ ته رسول اللهﷺ د ویښیدلو او هغه اوویشتمه شپه ده. او شك کړے دے شعبه په دے بیان کښې چه حکم کړے دے مونږ ته رسول اللهﷺ د ویښیدو په دے شپه کښې اووائی چه د دا عبارت ما ته څما یو دوست بیان کړو د عبده نه چه هغه د دۀ شیخ دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ تَذَاكَرْنَا لَيْلَةَ الْقَدْرِ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيُّكُمْ يَذْكُرُ حِينَ طَلَعَ الْقَمَرُ وَهُوَ مِثْلُ شِقِّ جَفْنَةٍ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه یو خل مونږ د رسول اللهﷺ په مخکښې د شب قدر ذکر اوکړو نو حضرتﷺ اوفرمائیل چا ستاسو نه یاد ساتلے دے شب قدر؟ په دے شپه کښې دے چه راخیژی سپوږمئ او هغه داسے وی لکه یوه ټکره د رکیبئ[1]

---

[1]: شب قدر ته شب قدر خکه وائی چه په دے کښې اندازه د رزقونو او عمرونو فرښتو ته لیکلے ورکولے شی. کوم چه په دے کال کښې کیدونکے وی. او فرښتو ته معلومه کړے شی څۀ چه په دے کال کښې کیدونکی وی. او د معتبرو خلقو اجماع ده چه هغه شپه د قیامته پورے باقی ده په دے امت کښې . او د هغے په محل کښې البته اختلاف دے. او خنو وئیلے دی چه هغه په هر کال کښې بدلیږی او په دے صورت کښې په ټولو احادیثو کښې تطبیق راتلے شی. او په کوم حدیث کښې چه کوم تاریخ مذکور دے جائز دے چه په دغه کال کښې په دغه تاریخ واقع شوے وی. نو په روایتونو کښې تعارض پاتے نۀ شو. او دا دے پشان قول دے د امام مالكؒ او ثوریؒ او احمدؒ او د ابوثورؒ وغیره نورو چه دے ټولو وئیلے دی چه شب قدر د رمضان په آخری لسو شپو کښې بدلیږی رابدلیږی. او یو قول ضعیف دا دے چه د ټول کال په شپو کښې بدلیږی رابدلیږی. مګر دا قول د احادیث په روئ سره ډیر لرے معلومیږی. او د خنو قول دے چه هغه یوه شپه معین ده چه بدلیږی نه. او په دے کښې څو قولو نه دی. یو دا چه شب قدر په ټول کال کښې یوه شپه ده او دا قولِ دے د ابن مسعودؓ او ابوحنیفه او د صاحبینو رحمهم الله. او دویم دا دے چه هغه شپه په ټول رمضان کښې ده. او دا قول د ابن عمرؓ او د یو جماعت د صحابؤ دے. او دریم دا دے چه شب قدر په آخر لسو کښې د رمضان دے. او څلورم دا قول دے چه شب قدر په آخر لسو شپو کښې په طاق شپو کښې دے. او پنځم قول ضعیف دا دے چه هغه په جفت شپو کښې دے مګر دا د حدیث صحیح نه خلاف دے. اګر چه د حدیث د ابوسعید دده مشعر دے. او یو قول دادے چه شب قدر په دریشتمه شپه دے د رمضان. او یو قول دادے چه په اوویشتمه شپه دے د رمضان. او دا قولِ د ابن عباسؓ دے. او خنو اولسم او خنو یویشتم او خنو په دریشتم کښې د لیتولو وئیلے دی. او دا قول د حضرت علیؓ او ابن مسعودؓ نه مروی شوے دے. او خنو دریشتم وئیلے دی او دا قول د اکثرو صحابؤ وغیره نورو دے. او یو قول ضعیف د څلیریشتمے شپے هم دے. او دا د بلالؓ او ابن عباسؓ او حسنؒ او قتادهؒ په طرف منسوب دے. او یو قول د اوویشتمے شپے دے. او دا قول د صحابؤ د یو جماعت دے. او خنو اولسم وئیلے دی او دا د زید بن ارقمؓ او ابن مسعودؓ په طرف منسوب دے. او بعضو نولسم وئیلے دے چه هغه د ابن مسعودؓ او حضرت علیؓ نه نقل دے. او بعضے وائی چه آخره شپه د رمضان ده. او قاضی عیاضؒ وائی چه یو قول شاذ دا دے چه هغه مرفوع شوے دے اوس باقی نشته دے او دا قول خطا دے. او د شعاع نه مراد هغه بریښناکے لښے دی چه نمر ته د کتونکو په سترګو کښې اوړدے په نظر راځی. او هغه په نمر کښې د شب قدر په سحر نۀ وی. دا یوه نخښه ده چه الله تعالی مقرر کړے ده. او قاضی عیاضؒ وائی چه لیدل د شب قدر د حقیقت ممکن نۀ دی دا غلط ده. څکه چه لیدل د هغے د صالحینو د خبرونو نه ثابت دی چه هغه په کثرت سره مروی دی. او معتبره په دے ټولو اقوالو کښې د فقیر په نز اوویشتمه شپه ده. او د ابن عباسؓ نه یوه نکته هم په دے باره دا روایت شوے ده چه د لیلة القدر لفظ په قرآن کښې درے خله راغلے دے په سور أَنْزَلْنَهُ کښې او په لیلة القدر کښې نهه حرفونه دی نو نهه چه درے خله اووئیلے شی نو اویشت ترے جوړیږی او په دے کښې اشاره ده چه شب قدر په اوویشتمه شپه دے او ابی بن کعبؓ به په دے باندے قسم خوړلو. دغه رنګے روایت د هغوی پورته ذکر شوے دے. او د هغے نخښه هم هغوی بیان کړے ده. والله اعلم.

كِتَابُ الْاِعْتِكَافِ

داعتکاف بیان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَعْتَكِفُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ

د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په آخری لسو کښ د رمضان اعتکاف فرمائیلو [1]. [2].

---

[1] : په لغت کښ د اعتکاف معنی د قید او وخت تیرول او لزوم دے. او په شرعه کښ وقفه د مسلمان په جماعت کښ په صفت مخصوصه. او اعتکاف ته جوار هم وئیلے شی.

[2] : ددے حدیث نه استحباب د اعتکاف ثابت شو. او په دے باندے د مسلمانانو اجماع ده. او دا چه واجب نهٔ دے او دا هم معلومه شوه چه په آخری لسو کښ د رمضان متاکد دے. او مذهب د امام شافعیؒ او د هغهٔ د ملګرو دادے چه د اعتکاف دپاره روژه شرط نهٔ ده. بلکه د افطار په حالت کښ اعتکاف روا دے. او یو ساعت هم کیدے شی بلکه د یوے لحظے او د هغوی په نز ضابطه د هغے داده چه دومره حصاریدل څومره چه په رکوع کښ د طمانیت دپاره حصاریدل وی. او ددے نه څهٔ زیات وی پس هغه اعتکاف دے. او د هغوی صحیح مذهب دغه دے او دغه قول مشهور دے. نو جماعت ته په راتلونکو والاؤ باندے لازم دی چه کله راشی او د مانځهٔ انتظار کوی نو نیت د اعتکاف د اوکړی ددے دپاره چه ثواب اومومی. پس کچرے بهر رااووتو نو بیاچه کله داخل شی نو دوباره به نیت کوی. او د نیت نه مراد دا نهٔ دے چه په ژبه سره به څهٔ وائی دغه خو بدعت دے. او کهٔ ددنیا څهٔ خبره یا څهٔ کار اوکړی مثلاً ګندل وغیره اوکړی نو اعتکاف نهٔ فاسدیږی او د مالكؒ او ابوحنیفهؒ قول دے چه په اعتکاف کي روژه شرط ده. او اعتکاف د افطار کونکی صحیح نهٔ دے. او دغه خلقو د هغه روایتونو نه دلیل نیولے دے چه په هغے کښ د حضور نه اعتکاف په رمضان کښ ذکر دے. او شافعی رحمه الله د هغه حدیث نه دلیل نیولے دے چه په هغے کښ د نبی نه د اول شوال د اعتکاف ذکر دے. دغه رنګے هغه روایت وراندے راځی. او هغے لره بخاری او مسلم دواړو ذکر کړے دے او استدلال ئے کړے دے د حضرت عمرؓ د حدیث نه. چه هغوی عرض اوکړو چه یا رسول الله ! ما د جهالت په ورځو کښ د اعتکاف نذر منلے وو. نو حضرت ورته اوفرمائیل خپل نذر پوره کړه. او په دے کښ د روژے ذکر نشته دے. غرض دا چه ددے روایتونو نه معلومه شوه چه روژه د اعتکاف د صحیح کیدو شرط نهٔ دے مګر په جماعت کښ کول ئے شرط دے. ځکه چه صحابو او ازواج مطهراتو په جماعتونو کښ اعتکاف کړے دے. حالانکه په دے کښ حرج او مشقت ظاهر دے. او دغه مذهب دے د امام مالكؒ او امام شافعیؒ او احمدؒ او ابوداؤد او د جمهورو چه بغیر د جماعت نه جائز نهٔ دے او د ابوحنیفهؒ قول دے چه ښځے کوم خائے د مانځهٔ دپاره په خپل کور کښي مقرر کړے وی په هغے کښ اعتکاف روا دے. او سړی له په خپل کور کښ په دغه ځائے کښ روا نهٔ دے. او د امام شافعیؒ یو زوړ قول هم دغه دے بیا په دے اختلاف دےچه عام جماعت شرط دے یا جامع چه کوم ځائے جمعه کیدے شی. د امام شافعیؒ او مالكؒ او جمهورو دا قول دے چه په هر جماعت کښ جائز دے او د امام احمدؒ قول دے چه جامعه مسجد ضروری دے چه په هغے کښ جمعه کیږی. او د ابوحنیفهؒ قول دے چه داسی جماعت وی چه ټول مونځونه په هغے

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ قَالَ نَافِعٌ وَقَدْ أَرَانِي عَبْدُ اللهِ الْمَكَانَ الَّذِي كَانَ يَعْتَكِفُ فِيهِ رَسُولُ اللهِ ﷺ مِنَ الْمَسْجِدِ

عبد الله بن عمر وائی چه رسول الله ﷺ به په آخری لسو کښې د رمضان اعتکاف فرمانیلو نافع وائی ماته په جماعت کښې عبد الله هغه ځائے اوښودو کوم ځائے چه به رسول الله ﷺ اعتکاف کولو.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ

حضرت عائشه د مؤمنانو مور فرمائی چه نبی ﷺ به همیشه په آخری لسو د رمضان کښې اعتکاف فرمانیلو تردے پورے چه هغوی وفات شو. بیا به د هغوی نه پس د هغه بیبیانو صاحبانو اعتکاف فرمانیلو.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ صَلَّى الْفَجْرَ ثُمَّ دَخَلَ مُعْتَكَفَهُ وَإِنَّهُ أَمَرَ بِخِبَائِهِ فَضُرِبَ أَرَادَ الِاعْتِكَافَ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ فَأَمَرَتْ زَيْنَبُ بِخِبَائِهَا فَضُرِبَ وَأَمَرَ غَيْرُهَا مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخِبَائِهِ

د حضرت عائشې نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه به کله د اعتکاف اراده کوله نو د سحر مونځ به ئے ادا کړو او د اعتکاف په ځائے کښې به داخل شو. او یو ځل هغوی حکم اوفرمانیلو د خپلے خیمے لګولو یعنی په جماعت کښې او هغه اولګولے شوه او هغوی په آخر لسو کښې اراده اوکړه د رمضان بیا زینب وائی هغې هم خیمه اولګوله. او بیبیانو اووئیل چه هغوی هم خیمے اولګولے. بیا چه کله رسول الله ﷺ د سحر مونځ اوکړو نو ټولے

کښې کیږی. او زهری او نورو خلقو قول دے چه په کومے کښې جمعه کیږی. او حذیفه بن یمان صحابی نه روایت دے چه دریو جماعتونو نه سوا اعتکاف بل ځائے صحیح نه دے. یو د مدینے طیبے مسجد نبوی. دویم مسجد اقصیٰ. دریم مسجد الحرام. مګر دا قول شاذ دے. او اجماع ده په دے باندے چه د اعتکاف د زیاتے مودے څۀ حد نشته.

د اردو کتاب مترجم وائی چه په اجماع د امت سره دا امر ثابت دے چه اعتکاف عبادت دے. او عبادت خاص دے د حق تعالی دپاره او کله چه دا دے په عام جماعت کښې جائز کیدل مختلف فیه دی. حالانکه هغه د الله کور دے بیا د مشائخو په قبر باندے خو به په اوله درجه ناجائز وی. او چونکه عبادت دے ځکه په قبرونو باندے د مړی د تعظیم دپاره محض شرك دے. اګر که نوم د هغې بدل واخلی او دا هم معلومه شوه چه اعتکاف ته جوار هم ویلے شی نو د مجاور او د معتکف معنی یوه شوه. او مجاور د قبرونو البته معتکف د قبرونو شو او دا شرك دے. معاذ الله من ذالك. او دے له عبادت او موجب د نزاکت ګنړلو والاد الله په مخلوق کښې ډیر جاهل دے او لرے د بندیګانو د شرائع د انبیاء علیهم السلام نه. او دا په دے زمانه کښې داسے بلاعامه ده چه د چارپایانو په شان د عوامو خو څۀ ذکر دے چه په خلقو کښې خاصان خلق هم ددے نه غافله دی. و ذلك لجهلهم بالشريعة وحقيقة العبادة.

فَضُرِبَ فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْفَجْرَ نَظَرَ فَإِذَا الْأَخْبِيَةُ فَقَالَ آلْبِرَّ تُرِدْنَ فَأَمَرَ بِخِبَائِهِ فَقُوِّضَ وَتَرَكَ الِاعْتِكَافَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ حَتَّى اعْتَكَفَ فِي الْعَشْرِ الْأَوَّلِ مِنْ شَوَّالٍ

خیمے ئې اولیدلے او اوئې فرمائیل چه دے خلقو څۀ د نیکئ اراده کړے ده (په دے کښې د ریا بوئ موندے شي) او هغوی حکم اوکړو چه خما خیمه د کهولاؤ کړے شی. او اعتکاف ئې پریخودو په رمضان کښې تردے پورے چه بیائې په لسو اولو کښې د ورو کي اختر اعتکاف اوکړو[1].

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمَعْنَى حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ وَعَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ وَابْنِ إِسْحَقَ ذِكْرُ عَائِشَةَ وَحَفْصَةَ وَزَيْنَبَ أَنَّهُنَّ ضَرَبْنَ الْأَخْبِيَةَ لِلِاعْتِكَافِ

یحیٰی د عمره نه هغوی د حضرت عائشے نه روایت کړے دے پشان دغه حدیث کوم چه پورته تیر شو . او ابن عیینه او عمرو بن حارث او ابن اسحاق ذکر کړے دے چه هغه خیمے حضرت عائشے او حضرت حفصے او حضرت زینب لګولے وے[2].

بَابُ الِاجْتِهَادِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ

باب : د رمضان په آخری لسو ورځو کښې زیات عبادت کول پکار دی

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ أَحْيَا اللَّيْلَ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ وَجَدَّ وَشَدَّ الْمِئْزَرَ

د مؤمنانو مور حضرت عائشه فرمائی چه د رسول الله ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ دا عادت مبارك وو چه کله به آخری لس ورځے د رمضان راغلے. نو هغوی به توله شپه بیداری کوله او کور والا به ئې بیدارول او زیات کوشش کول په عبادت کښې او ملا د همت تړل به ئې شروع کړل[3].

---

[1]: ددے حدیث نه امام شافعی استدلال کړے دے چه روژه په اعتکاف کښې شرط نه ده. نووی رحمه الله لفظ يُرِدْنَ لیکلی دی چه د هغے معنے مخاطب شوه هغه خپلے خیمے لره د اوچتولو حکم اوکړو.

[2]: دے اهتمام ته رسول الله ﷺ خیال اوکړو چه په دے کښې د نفسانیت شامل والے راغے او حقانیت پاتے نۀ شو. بلکه د یو په لیدو سره بل هم شروع اوکړه. ځکه هغوی خپل اعتکاف موقوف کړو. او د ورو کي اختر په میاشت کښې ئې د هغے عوض پوره کړو.

[3]: یعنی د معمول د عبادتونو نه به ئې زیات کوشش کول شروع کړو او توله شپه به ویخ وو . ددے حدیث نه زیاتوالے د عبادت په لسو آخری شپو ورځو کښې د رمضان ثابت شو. او د تولے شپے د رونړولو چه کوم کراهت ذکر دے مراد دهغے نه همیشه بیداری ده. نۀ خاص په دے لسو ورځو کښې.

عَنْ عَائِشَةَ ؓ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مَا لَا يَجْتَهِدُ فِي غَيْرِهِ

حضرت عائشه ؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ به د رمضان په آخری لسو کښې په عبادت کښې دومره کوشش کوؤ چه نورو ورځو کښې به ئے نۀ کوؤ.

بَاب صَوْمِ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ

باب: د ذوالحجې د لسو ورځو د روژو بیان

عَنْ عَائِشَةَ ؓ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ صَائِمًا فِي الْعَشْرِ قَطُّ

حضرت عائشه فرمائی ما خو چرته رسول الله ﷺ لره د عشره ذی الحجه په روژو نۀ دے لیدلے.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَصُمِ الْعَشْرَ

حضرت عائشه فرمائی چه حضرت ﷺ چرته د عشرے روژه نۀ ده نیولے[1].

---

[1]: د عشرے نه دلته د لوئے اختر د میاشتے رومبئ نهه ورځے مراد دی او علماء وائی چه دد ے حدیث نه ددغه ورځو د روژو کراهت معلومیږی. حالانکه هغه مکروه نۀ دی بلکه مستحب دی. دغه رنګے نهم تاریخ د هغے عرفه ده. او ددے د روژے په فضیلت کښې احادیث مخکښې تیر شوی دی او په بخاری شریف کښې راغلے دی چه حضور ﷺ فرمائیلے دی چه څنګه نیک عملونه په لسو ورځو او لنو کښې د ذی الحجې کښې غوره دی دومره په نورو ورځو کښې نۀ دی. غرض دا چه کوم فرمائیلے دی جناب عائشے صدیقے چه په دےعشره کښې حضرت ﷺ روژه نۀ ده نیولے. د هغے تاویل ضروری دے چه کیدے شی د څۀ عارضے یا مرض په وجه ئے نۀ وی نیولی. یا په طریق د وجوب ئے نۀ وی نیولی. یائے نیولی وی مګر هغوی ترے خبر شوے نۀ وی او په دے تاویل باندے یو روایت هم دلالت کوی. هلنیده خوئے د خالد چه هغه د خپلے ښځے نه او د خنو بیبیانو د رسول الله ﷺ نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ به روژه نیوله د نهمے ذی الحجه او عاشورے په ورځ او درے ورځے په هره میاشت کښې د آخر حدیثه پورے. او روایت کړے دے ابوداؤد او دا لفظ د ابوداؤد دے . او حمد او په نسائ کښې دا مضمون مروی شوے دے.

كِتَابُ الْحَجِّ

د حج مسئلې

بَاب مَا يُبَاحُ لِلْمُحْرِمِ بِحَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ وَمَا لَا يُبَاحُ وَبَيَانِ تَحْرِيمِ الطِّيبِ عَلَيْهِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ ﷺ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ مِنَ الثِّيَابِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا تَلْبَسُوا الْقُمُصَ وَ لَا الْعَمَائِمَ وَ لَا السَّرَاوِيلَاتِ وَ لَا الْبَرَانِسَ وَ لَا الْخِفَافَ إِلَّا أَحَدٌ لَا يَجِدُ النَّعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ وَلَا تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ وَلَا الْوَرْسُ

باب: حج یا د عمرې مُحرم لره د احرام په حالت کښې کومې جامې اغوستل مباح دی او کوم مباح نهٔ دی[1]

عبدالله بن عمر وائی چه يو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه محرم به کوم قسم کپړې اغوندی؟ نو حضرت ﷺ اوفرمائيل قميص مهٔ اغوندئ، نهٔ به پټکې وهئ، نهٔ به پرتوګ اغوندئ نهٔ به د باران کوټ اچوئ، نهٔ به موزې پخپو کوئ، مګر هغه څوک چه هغه چپل نهٔ مومی نو هغه د موزې پخپو کوی. مګر د ګيټو نه ئې لاندې پرې کړئ او مهٔ هغه کپړې اغوندئ چه په هغې زعفران لګيدلې وی. يا په ورس کښې رنګ شوی وی[2].

---

[1]: حج په فتح د حاء سره مصدر دې. او په زير او زير دواړو سره اسم دې. او په اصل لغت کښې په معنې د قصد دې. او په عمل باندې هم ددې اطلاق کيږی. او د عمرې اصل معنې زيارت دې او حج فرض عين دې چه هر مکلف او مسلمان باندې چه هغه طاقت لری ددې په طرف د توبنې او د سورلئ د لارې او د عمرې په وجوب کښې د علماؤ اختلاف دې. بعضو وئيلې دی چه واجب ده او بعضو وئيلې دی چه مستحب ده. او د شافعی دې په باره کښې دوه قولونه دی. صحيح دا دې چه واجب ده. او اجماع ده په دې باندې چه حج او عمره په انسان په عمر کښې يو ځل واجبيږی مګر دا چه څوک ئې نذر کړی بيا د هغې وفاهم واجبيږی. مګر کله چه په مکه کښې داخل شی يا د حرم په حدودو کښې د څهٔ کار دپاره چه هغه بار بار نهٔ شی کيدې کهٔ دپاره د تجارت وی يا د زيارت وی نو په وجوب دا حرام کښې د حج او د عمرې اختلاف دې، او صحيح قول دامام شافعی دا دې چه مستحب دی چه هر کله داخل شی او احرام او تړی د عمرې په دې شرط چه د جنګ دپاره نهٔ خی. يا په پټه نهٔ وی تلې. او په دې کښې اختلاف دې چه وجوب د حج مع التراخی دې يا علی الفور. نو د امام شافعی او ابويوسف او د يو جماعت قول دې چه وجوب د هغې مع التراخی يعنی د تاخير سره دې. مګر کله چه خبره داسې حالت ته اورسی چه ګمان ددهٔ په تاخير سره سفوت کيدو راشی نو دغه وخت علی الفور واجبيږی. او د ابوحنيفه او مالك او د نورو فقهاؤ مذهب دې چه علی الفور واجبيږی.

[2]: اجماع ده په دې باندې د تولو علماؤ چه په دې کپړو کښې يوه هم د احرام په حالت کښې اغوستل روا نهٔ دی بلکه حرام دی. غرض دا دې چه کومه کپړه ګنډلې شوې وی او د تول بدن نه چاپيره وی لکه موزه شوه يا بنين، دستانې، يا پټکې وغيره شو دا ئې منع فرمائيلې دی. او په باران کوټ کښې هغه کپړه شامل شوې ده چه هغه سر پټوی لکه پټکې وغيره يا ټوپی. دا په موزو کښې راخی، او

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ قَالَ لَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ الْقَمِيصَ وَلَا الْعِمَامَةَ وَلَا الْبُرْنُسَ وَلَا السَّرَاوِيلَ وَلَا ثَوْبًا مَسَّهُ وَرْسٌ وَلَا زَعْفَرَانٌ وَلَا الْخُفَّيْنِ إِلَّا أَنْ لَا يَجِدَ نَعْلَيْنِ

سالم د خپل پلار نه روایت کړے دے چه هغوی وائی چه د رسول الله ﷺ نه چا تپوس اوکړو چه محرم به څهٔ اغوندی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه قمیص، پټکے ، باران کوټ ، او پردوړ به نهٔ اغوندی نهٔ هغه کپړه چه په هغے زعفران او ورس لګیدلی وی. نهٔ موزے او کهٔ چرے نعلین نهٔ وی نو موزے د په خپو کوی. او هغےلره به د

هغه کپړه چه هغه خپے پټوی لکه پائتابه «د کپړے ګنډلے شوے څپلې» چه په موزه باندے د هغے د حفاظت دپاره اغوندی. ترد ے پورے چه په سر باندے پټیٔ تړل هم حرام دی. او کچرے ضرورت وی مثلاً په سر ئے درد وی یا زخم وی نو اودے تړی او فدیه د ورکړی. دا ټول حکم د سړو دپاره دے په خلاف د ښځو چه هغوی لره ګنډلے کپړه اغوستل او ټول بدن پټول مباح دی. سوا د مخ نه چه د هغے پټول حرام دی خاه په هر قسم پټونکی څیز سره چه وی. او په لاسونو پټولو کښ په دستانو سره اختلاف دے . د امام شافعیؒ هم په دے کښ دوه قولو نه دی صحیح دادے چه حرام دی. او ورس او زعفران چه ئے کوم منع فرمائیلے دی نو په دے کښ ټولے خوشبویانے داخلے شوے. او ورس یو قسم واښهٔ دے خوشبودار په یمن کښ کیږی. غرض دا خوشبویانے هر قسم سړو او ښځو دواړو لره منع دی. او مراد ددے نه هغه څیزونه دی چه هغه خاص د خوشبویٔ دپاره استعمالیږی او باقی پاتے شوے فواکه او میوے لکه ترنج ، منړے، ګلونه او غوټیٔ دی ، د هغے اسعمال حرام نهٔ دے. ځکه چه ددے نه خوشبویٔ مقصود نهٔ وی او حکمت ددے څیزونو نه په منع کولو کښ دادے چه د دولت مندیٔ او امیریٔ او انانیت او تکلف بویٔ لرے شی. او د خشوع خضوع او تذلل او عجز او نیاز او عبدیت خویٔ پکښ راشی. او دا امر معین شوی دے په مراقبه کښ او مشاهده باندے او بچ شی د منکرات او محظوراتو نه. او یاد ورته راشی د مرګ او د کفن اغوستو او د قیامت د راتلو چه په دغه ورځ به خلق بربنډ سر او خپیالے خپے اولغړ. او په دے روایت کښ ذکر شوی دی چه کوم مخکښ راغی په هغے کښ د کټ کولو ذکر نشته. او علماؤ په دے کښ اختلاف کړے دے . ددے وجے نه امام احمدؒ فرمائیلے دی چه پیزار یعنی چپل وغیره نهٔ مومی نو د موزو دِغه شان اغوستل جائز دی کټ کول ئے ضروری نهٔ دی ځکه چه په دے کښ ضائع کول د مال دی او هغوی وائی چه حدیث د ابن عمرؓ چه په هغے کښ د کټ کولو حکم دے منسوخ دے د ابن عباسؓ او جابرؓ په روایت سره چه په هغے کښ د کټ کیدو حکم نشته. او د امام مالك او ابوحنیفه او شافعی رحمهم الله او د جمهورو علماؤ قول دے چه په خپو کول د موزو بغیر د کټ کولو صحیح نلدی. او حدیث د ابن عباسؓ او جابرؓ مطلق دے. او حدیث د ابن عمر مقید دے او حمل د مطلق په مقید باندے ضروری دے. او زیات د ثقۂ مقبول دے. او اضاعت د مال به هله وو چه حکم د شارع نهٔ وے. او هر کله چه حکم د شارع شوے دے نو ادا کول ئے واجب شو. بیا داِ مسئله مختلف فیه ده. چه څوك موزے پخپو کړی او نعلین نهٔ مومی په هغهٔ باندے فدیه شته یا نشته؟ نو د امام مالكؒ او شافعیؒ قول دے چه په دهٔ څهٔ واجب نهٔ دی کچرے واجب وے نو رسول الله ﷺ به فرمائیلے وو. او ابوحنیفهؒ او د هغهٔ ملګری وائی چه په دهٔ باندے فدیه ده لکه په ضرورت د سر خریلو کښ چه فدیه ده او په ورس او زعفرانو کښ ټولے خوشبویانے راغلے چه په اجماع د امت سره حرامے دی ځکه چه خوشبوئی د جماع رغبت راوستونکے ده ځکه ددے په حرام والی کښ ښځه او سړے دواړه برابر دی. غرض دا چه محرمات د احرام اوهٔ دی. ګنډلے شوے جامه چه تفصیل ئے تیر شو، خوشبوئی ، ویښتهٔ او نوکونه لرے کول، په ږیره او سر کښ تیل لګول ، نکاح کول، جماع او د هر قسم استمتاع او منی ویستل چه په څهٔ شان سره وی، تلف کول د ښکار

فَلْيَقْطَعْهُمَا حَتَّى يَكُونَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ

ګیتو پورې کټ کړي (چه د ښپلۍ پشان وي)[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ يَلْبَسَ الْمُحْرِمُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِزَعْفَرَانٍ أَوْ وَرْسٍ وَقَالَ مَنْ لَمْ يَجِدْ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ

عبد الله بن عمر وائی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده محرم لره د زعفرانو او ورسو د رنګ کړې شوې کپړې د اغوستو نه. او فرمائیلې دي چه څوك نعلین او نۀ مومی هغه دِ موزې په خپو کړی او کټ دِ کړی هغې لره د پړکو لاندې.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ وَهُوَ يَخْطُبُ يَقُولُ السَّرَاوِيلُ لِمَنْ لَمْ يَجِدِ الْإِزَارَ وَالْخُفَّانِ لِمَنْ لَمْ يَجِدِ النَّعْلَيْنِ يَعْنِي الْمُحْرِمَ

عبد الله بن عباس وائی ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه خطبه ئې ورکوله او اوئې فرمائیل پاجامه د هغه چا دپاره ده چه تهبند نۀ مومی. او موزه د هغه چا دپاره ده چه هغه نعلین نۀ مومی یعنی محرم وی[2].

عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَجِدْ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ وَمَنْ لَمْ يَجِدْ إِزَارًا فَلْيَلْبَسْ سَرَاوِيلَ

جابر وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دي چه څوك پیزار نۀ مومی نو موزې دِ پخپو کړی او چه څوك لنګ یعنی تهبند اونۀ مومی هغه دې پرتوګ واغوندی.

عَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِالْجِعْرَانَةِ عَلَيْهِ جُبَّةٌ وَعَلَيْهَا خَلُوقٌ أَوْ قَالَ أَثَرُ صُفْرَةٍ فَقَالَ كَيْفَ تَأْمُرُنِي أَنْ أَصْنَعَ فِي عُمْرَتِي قَالَ وَأُنْزِلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَحْيُ فَسُتِرَ بِثَوْبٍ وَكَانَ يَعْلَى يَقُولُ وَدِدْتُ أَنِّي أَرَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ نَزَلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ

یعلی وائی چه یو سړې نبی ﷺ له راغې او هغوی په جعرانه کښې وو او هغۀ یوه جُبه اغوستې وه او په هغې څۀ خوشبوئ لګیدلې وه. یا وائی چه څۀ اثر د زردئ وو. او هغوی عرض اوکړو چه تا ماته په عمره کښې څۀ حکم فرمائیلې وو؟ او په دې کښې په هغوی باندې وحی نازلیدل شروع شو. او هغوی کپړه واغوستله. او یعلی به وئیل چه خما آرزو وه چه زۀ دِ نبی ﷺ اووینم په هغه وخت چه په دۀ وحی نازلیږی. بیا اووې حضرت عمرؓ چه ولې تۀ غواړې چه زۀ د اووینم

---

[1] سوال کونکی تپوس کړې وو چه څۀ به اغوندی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه دا به نۀ اغوندی او ددې نه سوا چه څۀ ئې زړۀ غواړی هغه دِ اغوندی په دې کښې امت لره آسانی ده. او دائره د اباحت وسیع پاتې کیږی.

[2] دغه روایت سند دې د امام احمدؒ چه موزه به بې کټ کولو پخپو کوی.

قَالَ فَقَالَ أَيَسُرُّكَ أَنْ تَنْظُرَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ قَالَ فَرَفَعَ عُمَرُ طَرَفَ الثَّوْبِ فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ لَهُ غَطِيطٌ قَالَ وَأَحْسَبُهُ قَالَ كَغَطِيطِ الْبَكْرِ قَالَ فَلَمَّا سُرِّيَ عَنْهُ قَالَ أَيْنَ السَّائِلُ عَنِ الْعُمْرَةِ اغْسِلْ عَنْكَ أَثَرَ الصُّفْرَةِ أَوْ قَالَ أَثَرَ الْخَلُوقِ وَاخْلَعْ عَنْكَ جُبَّتَكَ وَاصْنَعْ فِي عُمْرَتِكَ مَا أَنْتَ صَانِعٌ فِي حَجِّكَ

رسول الله ﷺ لره چه په هغوی وحی نازلیږی؟ بیا حضرت عمرؓ د کپړے یو طرف اوچت کړو او ما اولیدو هغوی لره چه ساه ئے تله راتله او خنړارے ئے کوؤ. راوی وائی زۀ ګمان کوم چه هغوی اووے لکه چه د ځوان اوښ ساه بے کوره شی. بیا چه کله د هغوی نه وحی ختمه شوه نو اوئے فرمائیل کوم ځائے دے هغه تپوس کونکے د عمرے؟ اواوئے فرمائیل اووینځه اثر د زیړوالی د خپلے کپړے وغیره نه یائے اوفرمائیل اثر د خوشبوئ وغیره . او اوباسه قمیص خپل او په عمره کښې هغه عمل کوه کوم چه په حج کښې کوے[1].

عَنْ يَعْلَى قَالَ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ رَجُلٌ وَهُوَ بِالْجِعْرَانَةِ وَأَنَا عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ وَعَلَيْهِ مُقَطَّعَاتٌ يَعْنِي جُبَّةً وَهُوَ مُتَضَمِّخٌ بِالْخَلُوقِ فَقَالَ إِنِّي أَحْرَمْتُ بِالْعُمْرَةِ وَعَلَيَّ هَذَا وَأَنَا مُتَضَمِّخٌ بِالْخَلُوقِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ مَا كُنْتَ صَانِعًا فِي حَجِّكَ قَالَ أَنْزِعُ عَنِّي هَذِهِ الثِّيَابَ وَأَغْسِلُ عَنِّي هَذَا الْخَلُوقَ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ مَا كُنْتَ صَانِعًا فِي حَجِّكَ فَاصْنَعْهُ فِي عُمْرَتِكَ

یعلی وائی نبی ﷺ له یو سړے اغے او هغوی په جعرانه کښې وو. او یعلی وائی چه زۀ د هغوی سره وم. او هغه سائل چه کوم راغلے وو کرته ئے اغوستے وه. او په هغے ئے خوشبوئ لګولے وه. او هغۀ عرض اوکړو چه ما د عمرے احرام تړلے دے. او په دی هم ما خوشبوئی لګولے ده. نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ته په حج کښې څنګه کوے نو هغۀ اووے زۀ دا کپړے اوباسمه او دا خوشبوئی وینځم او لرے ئے کړم. حضرت ﷺ اوفرمائیل څۀ چه ته په حج کي کوے دغه په عمره کښې کوه[2].

---

[1] : ددے حدیث نه معلومه شوه چه خوشبوئ محرم لره حرامه ده خواه کۀ په حالت د احرام کښې ئے اولګوی یائے مخکښې لګولے وی او دا هم ثابته شوه چه کپړه محرم لره منع ده. او دا هم ثابته شوه چه کۀ څوك خوشبوئ په هیره سره یا په خطایئ سره اولګوی نو زر د هغے لرے کول پکار دی او د چا نه چه په هیره یا خطایئ سره اولګی په هغۀ باندے کفاره نشته دے. او دا مذهب دے د شافعیؒ او دغه قول دے د عطاء او ثوری او اسحق او داؤد، او د امام مالك او ابوحنیفه او مزنی او احمد رحمهم الله په یو روایت صحیح کښې دی چه فدیه په دۀ باندے واجب ده. او صحیح قول د مالك دادے چه فدیه هله واجبیږی چه هیرونکی باندے یا د ناپوهئ نه په خوشبوئ لګونکی باندے چه هر کله خوشبوئ د ډیر وخته پورے پاتے شی.

[2] . معلومه شوه چه دغه سړے د حج د ارکانو نه واقف وو. نو دۀ لره دومره قدرے فرمائیل پوره وو.

عَنْ يَعْلَى كَانَ يَقُولُ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَيْتَنِي أَرَى نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ يُنْزَلُ عَلَيْهِ فَلَمَّا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِعْرَانَةِ وَعَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبٌ قَدْ أُظِلَّ بِهِ عَلَيْهِ مَعَهُ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فِيهِمْ عُمَرُ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ عَلَيْهِ جُبَّةُ صُوفٍ مُتَضَمِّخٌ بِطِيبٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ تَرَى فِي رَجُلٍ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ فِي جُبَّةٍ بَعْدَ مَا تَضَمَّخَ بِطِيبٍ فَنَظَرَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاعَةً ثُمَّ سَكَتَ فَجَاءَهُ الْوَحْيُ فَأَشَارَ عُمَرُ بِيَدِهِ إِلَى يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ تَعَالَ فَجَاءَ يَعْلَى فَأَدْخَلَ رَأْسَهُ فَإِذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْمَرُّ الْوَجْهِ يَغِطُّ سَاعَةً ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ فَقَالَ أَيْنَ الَّذِي سَأَلَنِي عَنِ الْعُمْرَةِ آنِفًا فَالْتُمِسَ الرَّجُلُ فَجِيءَ بِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا الطِّيبُ الَّذِي بِكَ فَاغْسِلْهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَأَمَّا الْجُبَّةُ فَانْزِعْهَا ثُمَّ اصْنَعْ فِي عُمْرَتِكَ مَا تَصْنَعُ فِي حَجِّكَ

یعلی به همیشه حضرت عمرؓ ته وئیل چه چرته ما اولیدے رسول اللهﷺ لره هر کله چه په هغوی وحی نازلیږی. بیا چه هر کله حضورﷺ په جعرانه کښې وو. او دپاسه پرے د یوے کپړے سورے جوړ کړے شوے وو. او ورسره څۀ صحابه وو چه په هغوی کښې حضرت عمرؓ هم وو. چه یو سړے راغے او کُرته ئے اغوستے وه او څۀ خوشبوئی پرے هم لګیدلے وه او هغۀ عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ ستا څۀ حکم دے د هغه چا دپاره چه هغه احرام اوتړی د عمرے په یوه کُرته کښې چه په کښې خوشبوئی هم وی او حضرتﷺ د هغۀ طرفته نظر اوکړو لږ ساعت او چپ پاتے شو. بیا په هغوی باندے وحی راغله. او اشاره اوکړه حضرت عمر په خپل لاس سره یعلی ته چه راشه او یعلی راغے او خپل سرئے په هغه کپړه کښې دننه کړو او نبیﷺ ئے اولیدو چه د هغوی مخ مبارك سور شوے وو او اوږده اوږده ساه ئے اخستله بیا هغه کیفیت ختم شو د هغوی نه او حضرتﷺ اوفرمائیل چه کوم خائے دے هغه سائل چه ځما نه ئے د عمرے د حکم اوس تپوس کړے وو. بیا هغه تلاش کړے شو او راوستے شو. حضرتﷺ ورته اوفرمائیل چه خوشبو خو اووینځه درے ځله (چه اثر ئے پاتے نۀ شی) او جبه اوباسه او باقی هغه کوه په خپله عمره کښې کوم څۀ چه په حج کښې کوے.

عَنْ يَعْلَى أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِالْجِعْرَانَةِ قَدْ أَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ وَهُوَ مُصَفِّرٌ لِحْيَتَهُ وَرَأْسَهُ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي

یعلی وائی چه رسول اللهﷺ په جعرانه کښې وو چه یو سړے راغے او هغۀ اهلال کړے وو سره د عمرے او د هغۀ په ږیره کښې زر دی لګیدلے وه یعنی د خوشبوئی. او په هغۀ باندے یوه کُرته وه. بیا

أَحْرَمْتُ بِعُمْرَةٍ وَأَنَا كَمَا تَرَى فَقَالَ انْزِعْ عَنْكَ الْجُبَّةَ وَاغْسِلْ عَنْكَ الصُّفْرَةَ وَمَا كُنْتَ صَانِعًا فِي حَجِّكَ فَاصْنَعْهُ فِي عُمْرَتِكَ.

هغهٔ عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ ما احرام تړلے دے د عمرے او زهٔ په دے حال کښ یم څنګه چه تهٔ ما وینے. بیا حضرت ﷺ هغه حکم ورکړو کوم چه ئے مخکښ ذکر شو.

بَاب مَوَاقِيتِ الْحَجِّ

باب : د حج د میقات بیان

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ وَقَّتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ ذَا الْحُلَيْفَةِ وَلِأَهْلِ الشَّامِ الْجُحْفَةَ وَلِأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنَ الْمَنَازِلِ وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمَ قَالَ فَهُنَّ لَهُنَّ وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِنَّ مِمَّنْ أَرَادَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَمَنْ كَانَ دُونَهُنَّ فَمِنْ أَهْلِهِ وَكَذَا فَكَذَلِكَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ يُهِلُّونَ مِنْهَا

عبد الله بن عباس فرمائی چه میقات مقرر کړو رسول الله ﷺ د اهل مدینے دپاره ذوالحُلیفه او د اهل شام دپاره جُحفه او د اهل نجد دپاره قرن او د اهل یمن دپاره یلملم او دا ټول میقاتونه د هغے خلقو دپاره هم دی چه هغوی په دغه ملکونو کښ اوسیږی او د هغوی دپاره هم دی چه هغوی د نورو ملکونو نه دغلته راځی. کوم چه د حج اراده لری یا د عمرے. بیا چه څوك ددغه میقاتونو په دننه اوسیدونکی وی یعنی مکے ته نزدے نو هغوی د هلته نه احرام تړی تر دے پورے چه اهل مکه د مکے نه اهلال خواهش کړی[1].

---

[1] : ذوالحلیفه کوم چه د مدینے والاؤ میقات دے. د مکے نه پس نسبت د نورو میقاتونو ډیر لرے دے. او دا میقاتونه د حرم حدونه دی. چه د دے نه په دننه ښکار کول داونونه پانړے شوکول وغیره امور منع دی. او ذوالحُلیفه د مکے نه نهه لس منزله دے. او د مدینے نه شپږ میله لرے واقع دے. او جُحفه د اهل شام او اهل مصر دوارو میقات دے. او دے ته مهیعه هم وئیلے شی. او هغه د مکے نه درې منزله دے. یلملم یو غر دے د تهامه د غرونو نه. او د اهل هند میقات دغه دے چه په جهاز کښ ئے احرامونه تړلے شی. کله چه د هغے مقابل ته اورسی او اهل نجد والا میقات قرن منازل دے. او هغه د مکے نه دوه منزله دے. او دا د ټولو میقاتونو نه نزدے دی د مکے طرفته. او ذات عرق میقات دے د اهل عراق او هغه مخکښ راغی. او د علماؤ په دے کښ اختلاف دے چه هغه رسول الله ﷺ مقرر فرمائیلے دی یا د حضرت عمر په اجتهاد سره مقرر شوے دے. او امام شافعی په خپل د اُم یو کتاب کښ تصریح کړے ده د توقیت د عمر رضی الله عنه او په بخاری کښ هم دغه شان تصریح ده. او چا چه توقیت د نبی ﷺ زعم کړے دے د هغوی دلیل روایت د جابر دے. مګر د هغے په مرفوع کیدو کښ کلام دے. او دار قطنی د هغے تضعیف هم کړے دے خکه چه عراق د نبی ﷺ په زمانه مبارکه کښ فتح شوے نهٔ وو. مګر دا تعلیل د دار قطنی معقول نهٔ دے. خکه چه شام هم د هغه په وخت کښ فتح شوے نهٔ وو. او اجماع ده د علماؤ چه دا مواقیت شرعی دی. او د امام مالك او ابوحنیفه او شافعی او احمد رحمهم الله او د جمهورو قول دے چه کهٔ څوك د دے نه مخکښ لاړ، او احرام ئے اونړو نو ګنهګار شو. او په دهٔ باندے دم لازم راغے او حج د دهٔ صحیح شو. او د عطاء او نخعی قول دے چه په دهٔ باندے څهٔ واجب نهٔ دی. او سعید بن جبیر وائی چه د دهٔ حج نهٔ دے شوے. او غرض د مواقیت مقرر کولو نه دغه دے چه څوك د

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ يُهِلُّ أَهْلُ الْمَدِينَةِ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ وَأَهْلُ الشَّامِ مِنَ الْجُحْفَةِ وَأَهْلُ نَجْدٍ مِنْ قَرْنٍ قَالَ عَبْدُ اللهِ وَبَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ وَيُهِلُّ أَهْلُ الْيَمَنِ مِنْ يَلَمْلَمَ

عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی چه مدينے والا د ذی الحُليفه نه احرام تړی او اهل شام د جُحفه نه او اهل نجد د قرن نه. عبد الله ويلی دی چه ما ته دا حديث رارسيدلی دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی چه اهل يمن د يلملم نه اهلال کوی (يعنی احرام تړی)

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ مُهَلُّ أَهْلِ الْمَدِينَةِ ذُو الْحُلَيْفَةِ وَمُهَلُّ أَهْلِ الشَّامِ مَهْيَعَةُ وَهِيَ الْجُحْفَةُ وَمُهَلُّ أَهْلِ نَجْدٍ قَرْنٌ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ وَزَعَمُوا أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ وَلَمْ أَسْمَعْ ذَلِكَ مِنْهُ قَالَ وَمُهَلُّ أَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمُ

عمر بن خطاب وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيل ئے چه د اهل مدينه ميقات ذوالحُليفه دے او اهل شام مهيعه چه ورته جُحفه وائی. او د اهل نجد قرن. عبد الله وائی چه ذکر اوکړو چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی چه ميقات د اهل يمن يلملم دے. مګر ما د هغوی نه پخپله نۀ دی اوريدلی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَهْلَ الْمَدِينَةِ أَنْ يُهِلُّوا مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ وَأَهْلَ الشَّامِ مِنَ الْجُحْفَةِ وَأَهْلَ نَجْدٍ مِنْ قَرْنٍ وَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ وَأُخْبِرْتُ أَنَّهُ قَالَ وَيُهِلُّ أَهْلُ الْيَمَنِ مِنْ يَلَمْلَمَ

عبد الله بن عمر وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی مدينے والا د ذوالحُليفے نه او شام والا د جُحفے نه او نجد والا به د قرن نه احرام تړی. او عبد الله بن عمر وائی ماته خبر شوے دے چه يمن والا د يلملم نه

حج او د عمرے اراده اوکړی نو ددغے مواقيت نه ورته مخکښې اوړيدل حرام دی غير د احرام نه او کۀ چرے وړاندے شو نو دم به پرے لازم راځی. او ملګرو شافعيۀ رحمهم الله وئيلے دی کچرے بيا ميقات ته واپس راشی مخکښې د حج او عمرے کولو نه نو په دے سره دم ساقط کيږی. او څوك چه د حج او د عمرے اراده نۀ لری په هغۀ باندے احرام واجب نۀ دے د مکے دداخليدو دپاره صحيح قول د شافعيۀ دغه دے. خواه هغه دداسے حاجت دپاره خی. چه هغه مکرر وی يعنی باربار وی. لکه لرګی وړل يا وابنۀ راوړل يا داسے وی چه هغه باربار نۀ وی لکه نور تجارتونه چه دی. او څوك چه د ميقات نه بغير د احرام نه واوړيدو او اراده ئے د مکے دتلو نۀ وه بيائے په زړۀ کښې راغله چه احرام اوتړم نو ددغه ځائے نه د احرام اوتړی کوم ځائے ته چه رسيدلے دے. بيائے کۀ چرے دغلته احرام اونۀ تړلو او مخکښې لاړۀ نو ګنهګار شو او دم پرے لازم شو. او کۀ د هغه ځائے نه ئے احرام اوتړو د کوم ځائے نه چه ئے مکے ته دداخليدو اراده کړے وه نو په دۀ باندے دم نشته. او ددغه ميقاته پورے واپس کيدل هم ضروری نۀ دی. دغه مذهب دے د شافعيۀ او د جمهورو. او د احمد او اسحٰق رحمهما الله قول دے چه دۀ لره ضروری دی چه د ميقاته پورے واپس لاړ شی. او د هغه ځائے نه احرام اوتړی او راشی.

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ يُهِلُّ أَهْلُ الْمَدِيْنَةِ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ وَيُهِلُّ أَهْلُ الشَّامِ مِنَ الْجُحْفَةِ وَيُهِلُّ أَهْلُ نَجْدٍ مِنْ قَرْنٍ قَالَ ابْنُ عُمَرَ وَذُكِرَ لِي وَلَمْ أَسْمَعْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ وَيُهِلُّ أَهْلُ الْيَمَنِ مِنْ يَلَمْلَمَ

سالم د خپل پلار نه روایت کړے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی مدینے والاد ذوالحلیفے نه او شام والاد جحفے نه او نجد والابه قرن نه اهلال کوی. او ابن عمر وائی چه ما ته رارسیدلی دی او ما د رسول الله ﷺ نه نهٔ دی اوریدلی چه هغه فرمائیلے دی چه احرام به تړی یمن والاد یلملم نه

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يُسْأَلُ عَنِ الْمُهَلِّ فَقَالَ سَمِعْتُ أَحْسَبُهُ رَفَعَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ مُهَلُّ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ وَالطَّرِيْقُ الْآخَرُ الْجُحْفَةُ وَمُهَلُّ أَهْلِ الْعِرَاقِ مِنْ ذَاتِ عِرْقٍ وَمُهَلُّ أَهْلِ نَجْدٍ مِنْ قَرْنٍ وَمُهَلُّ أَهْلِ الْيَمَنِ مِنْ يَلَمْلَمَ

جابر بن عبد الله نه د میقات په باره کښې تپوس اوکړے شو نو هغوی اووے اوریدلے دی ما د مدینے والو میقات ذوالحلیفه ده. او د بلے لارے نه جُحفه ده او د عراق والو ذاتِ عرق . او د نجد والو قرن او د یمن والو یلملم.

بَابُ التَّلْبِيَةِ وَصِفَتِهَا وَ وَقْتِهَا

باب : د لَبَّيكَ ويلو وخت او د هغے طريقه

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ تَلْبِيَةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ قَالَ وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَزِيْدُ فِيْهَا لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ بِيَدَيْكَ لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ

عبد الله بن عمر وائی چه لبیک وئیل د رسول الله ﷺ دا وو د لبیک نه د لاشریک لک پورے یعنی حاضر یمه زهٔ ستا په خدمت کښې یا الله حاضر یمه زهٔ ستا په خدمت کښې حاضر یمه زهٔ . نشته دے هیڅوک شریک تالره او حاضر یمه زهٔ. بیشکه ټول تعریفونه او نعمتونه تالره دی او بادشاهی ستا ده او ستا څوک شریک نشته او عبد الله بن عمر به په دے کښې دا کلمات زیاتی لوستل. د لبیک نه د آخره پورے یعنی زهٔ حاضر یم ستا په خدمت کښې او حاضر یم ستا په خدمت کښې او سعادت خاص ستا د طرفنه دے. او خیر ستا په دواړو لاسونو کښې دے. حاضر یم ستا په مخکښې او رغبت کوم ستا په طرف او عمل خاص تالره دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ إِذَا

عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ کله سور

اسْتَوَتْ بِهِ رَاحِلَتُهُ قَائِمَةً عِنْدَ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ أَهَلَّ فَقَالَ لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ قَالُوا وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ يَقُولُ هَذِهِ تَلْبِيَةُ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ قَالَ نَافِعٌ كَانَ عَبْدُ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَزِيدُ مَعَ هَذَا لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ بِيَدَيْكَ لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يُهِلُّ مُلَبِّدًا يَقُولُ لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَا يَزِيدُ عَلَى هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ وَإِنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يَرْكَعُ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ النَّاقَةُ قَائِمَةً عِنْدَ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ أَهَلَّ بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ

شو په اوښه باندے او هغے هغوی واغستو او د ذوالحلیفے جماعت ته نزدے نیغه اودریدله نو حضرت ﷺ د لبیك آواز اوکړه. بیائے هغه لبیك ذکر کړو کوم چه پورته تیر شو. او عبد الله بن عمر فرمائیلے وو چه دا لبیك خو د رسول الله ﷺ دے. او په دے کښې ئے دغه الفاظ زیات کړی وو کوم چه پورته ذکر شو مګر په هغے کښې د لبیك لفظ په شروع کښې دوه ځله وو. او په دے کښې دری ځله دے[1].

عبد الله بن عمر اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه چه لبیك به ئے وئیلو تلبیه د کړے شوے په سر کښې او وئیل به ئے د لبیك نه تر آخره پورے او عبد الله وائی چه رسول الله ﷺ په ذوالحلیفه کښې دوه رکعته اوکړل بیا چه کله د هغوی اوښے هغوی لره واخستو او نیغه اودریده د ذوالحلیفے د جماعت په خوا کښې نو په دغه کلماتو سره حضرت ﷺ د لبیك آواز اوکړو. او عبدالله ؓ وئیلے دی چه عمر بن خطاب به د رسول الله ﷺ ددغه کلماتو لبیك به ئے وئیل او ددے نه پس به ئے

---

[1]: ددے صیغے د تلبیے نه صفا معلومه شوه چه د الله لاسونه شته او ددے د تثنیے نه معلومه شوه چه مراد اخستل ترے د قدرت باطل دی. او کومو خلقو چه دعوه کړے ده چه تثنیه ددے د تاکید دپاره ده. دا قول د هغوی د ټول اهل لغت او اهل ادب نه خلاف دے. ځکه چه د تاکید دپاره لفظ دوه ځله تکرار کیدے شی بیا حروف تاکید پکښې لګولے شی. دا نه چه د واحد نه تثنیه جوړه کړے شی. غرض دا چه په دے صفاتو کښې لکه لاس او قدم او پنډئ او جنت شو د محدثینو او صحابؤ رضی الله عنهم او تابعینو او اسلاف د صالحینو د ټولو مذهب دغه دے. چه په دے باندے ایمان راوړل او دے لره په ظاهری معنی باندے محمول کول او نفی کول د هغے د تشبیه او تمثیل نه او د تاویل او تعطیل په طرف نه تلل.

د رسول الله ﷺ د حج طریقه

بْنُ عُمَرَ ؓ يَقُوْلُ كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ؓ يُهِلُّ بِإِهْلَالِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مِنْ هٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ وَيَقُوْلُ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ

دا کلمات زیاتول د لبیك نه آخره پورے. او معنے دد ے تولو پورته تیرے شوے [1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ الْمُشْرِكُوْنَ يَقُوْلُوْنَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ قَالَ فَيَقُوْلُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلَكُمْ قَدْ قَدْ فَيَقُوْلُوْنَ إِلَّا شَرِيْكًا هُوَ لَكَ تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا وَهُمْ يَطُوْفُوْنَ بِالْبَيْتِ

عبد الله بن عباس وائی چه مشرکینو به وئیل لبیك لا شریك لك نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خرابی دی وی تاسو لره دد ے ځائے پورے ئے پریږدوی دد ے ځائے پورے ئے پریږدوی (یعنی مخ په وړاند ے مهٔ وایئ) او هغوی به دد ے په وړاند ے وئیل چه مګر یو شریك د ے تالره چه یا الله ته د هغه مالك ئے او هغه د څهٔ شی مالك نهٔ د ے. غرض دا به ئے وئیل او طواف به

[1]: رسول الله ﷺ چه کله د حج اراده اوکړه نو په مدینه کښ ئے د ماسپخین د مانځهٔ نه پس خطبه اولوسته او د حج د احکامو تعلیم ئے ورکړو. او ظاهره داده چه هغه ورځ د هفتے وه او ابن حزم وئیلے دی چه د زیارت وه. او په د ے کښ یو بحث طویل د ے چه ذکر کړے د ے ابن قیم او په زاد المعاد کښ. بیا هغوی سر مبارك غوړ کړو او ګومنز ئے کړو او ږیره مبارکه هم. او تهبند ئے واغوستو او څادر ئے په سر کړو. او د ماسپخین او مازیګر په مینځ کښ د مدینے نه روان شو. او په ذی الحلیفه کښ کوز شو او د مازیګر دوه رکعته ئے اوکړل او د شپے هلته پاتے شو او د ماښام او ماسختن او سحر او ماسپخین غرض دا چه پنځهٔ مونځونه ئے هلته ادا کړل. او تولے بیبیانے رضی الله عنهن د هغوی سره وے او په دغه شپه هغوی د تولو سره صحبت اوکړو او په آخر کښ ئے یو د جنابت غسل اوکړو. او کله چه ئے د احرام اراده اوکړه نو دویم غسل ئے اوکړو او ابن حزم د ے لره نهٔ د ے ذکر کړے. او د خلقو نه په هیره پاتے شو. او په خطمی سره هغوی سر اووینځلو. او بیا پر ے حضرت عائشے په خپل لاس خوشبوئی اولګوله ذریره او دا یوه خوشبوئی ده چه په هغے کښ مشك وی. ترد ے پور ے چه هغه پرق د مشکو د هغوی د سر په لاز او په ږیره مبارکه کښ په نظر راتلو. او هغے لره حضرت ﷺ پاتے کړلو او ئے نهٔ وینځلو. بیا هغوی لنګ واغوستلو او څادر ئے پسر کړو. او د ماسپخین دوه رکعته ئے ادا کړل او د لبیك آواز ئے اوکړو په مصله باند ے د حج او د عمر ے دواړو دپاره. او دد ے ځائے نه لبیك شروع شو. او چونکه باربار به هغوی وئیلو خکه چه چا د کوم ځائے نه اوریدلے د هغه ځائے نه ئے روایت کړے د ے. خو شروع د لبیك ددغه ځائے نه وه.او دوه رکعته د احرام د حضرت ﷺ نه منقول نهٔ دی سوا د ماسپخین د دوو رکعتونه او د احرام نه مخکښ ئے د خپلے بدنے په غاړه کښ هار واچوؤ او د ښی طرفنه ئے ورله کوَب څیر ے کړه چه د ے ته شعار وائی او وینه د هغے نه روانه شوه.او احرام د هغوی د قران وو او دغه صحیح مذهب د ے. چنانچه د شلو نه زیات روایتونه په د ے باند ے په صراحت دلالت کوی (کذا فی زاد المعاد)

بَاب أَمْرِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ بِالْإِحْرَامِ مِنْ عِنْدِ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ يَقُولُ بَيْدَاؤُكُمْ هٰذِهِ الَّتِي تُكَذِّبُونَ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فِيهَا مَا أَهَلَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِلَّا مِنْ عِنْدِ الْمَسْجِدِ يَعْنِي ذَا الْحُلَيْفَةِ

عَنْ سَالِمٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ

نی کوؤ د بیت الله نه [1].

باب: مدینے والو لره د مسجد ذو الحُلیفه نه د احرام تړلو حکم

عبد الله بن عمر وئیلے دی چه دا بیداء ستاسو هغه مقام دے کوم ځائے کښې چه دروغ تړئ تاسو په رسول الله ﷺ باندے. او هغوی لبیك نهٔ وو وئیلے مګر د ذوالحلیفے د جماعت د نږدے نه [2].

سالم وائی چه ابن عمر رضی الله عنه ته چه به کله اووئیلے شو چه احرام د بیداء نه

[1]: ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه مشرکانو د مکے خپل شریکان هم د الله ج برابر نهٔ ګنړل. بلکه الله پاك به ئے د هر شیز مالك ګنړلو. بیا هم هغوی ته اواز کول او سفارشی او وکیل ئے ګرخول د الله پاك په بارګاه کښې د هغوی شرك کیدو لره او همیشه همیشه په دوزخ کښې د غورځولو دپاره کافی وو. ددے نه معلومه شوه چه څوك خپل حمایتی وکیل او سفارشی او پیژنی او بیا هم د چا عبادت کوی او هغه ته د لرے لرے نه چغے وهی نو هغه هم مشرك کیږی. ځکه چه دے به د الله تعالی برابر نهٔ ګنړے. او ددے دپاره به نبی ورته په لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ باندے فرمائیلو چه ددے ځائے پورې ئے پریږدوئ او شریك مهٔ ګرځوئ مګر هغوی لعینانو به دا کله اوریدل. او ددے حدیثونو نه مشروعیت د لبیك ثابت شو او هغه د حج او عمرے دپاره داسے دے لکه تکبیر اولی چه د مانځهٔ دپاره دے. او ددے په وجوب کښې اختلاف دے. او د امام شافعی رحمه الله وغیره قول دے چه دا سنت دی او د حج د صحیح کیدو شرط نهٔ دے. او کچرے دا پریخودے شو نو حج صحیح دے. او په دهٔ باندے دم لازم نهٔ دے. مګر فضیلت پریخودے شو. او د ځنے شافعیو رحمهم الله ملګرو قول دے چه واجب دے. او کهٔ څوك ئے پریږدی نو دم پرے واجب دے. او حج ئے صحیح کیږی. او بعضو وئیلے دی چه هغه د احرام د صحت شرط دے او حج او احرام بے دے نه نهٔ صحیح کیږی. او امام مالك وائی چه واجب خو نهٔ دے مګر په پریخودو باندے ئے دم لازمیږی. او حج صحیح کیږی. او په هر حال په اوچت آواز سره لبیك وئیل مستحب دی. او مستحب دی چه کله ئے وائی نو درے ځله دے وائی او په مینځ کښې به ئے څهٔ خبرے نهٔ کوی. او ښځے لره په اوچت آواز سره وئیل ضروری نهٔ دی. او د احوال د بدلیدو په وخت لبیك وئیل ضروری دی. لکه سحر ماښام د کیناستلو او دهٔ کیدلو او سوریدلو او ګرزیدلو په وخت او حاجی به تلبیه وائ د کومے پورے چه یوم نحر یعنی په لسم تاریخ کښې چه د جمرے عقبے ویشتل ئے شروع کړے نهٔ وی، یا طواف افاضه کچرے طواف ئے په رمی باندے مقدم کړے وی یا د سر د خریلو پورې د وائ د کومو خلقو په نزد چه حلق هم په نسك کښې داخل دے او په عمره کښې چه ئے د کومے پورے طواف شروع کړے نهٔ وی او په هر حالت کښې په ښځه او سړی باندے مستحب دی خواه کهٔ حائضه وی یا جنب یا محدث.

[2]: بیداء یو ځنډ دے د ذوالحلیفه مخے ته جماعت ته نږدے د مکے په لاره کښې. او بیداء هغے ته وائی په هغے کښې څهٔ اثر د بیا بانیت وی او هرے بنجرے زمکے ته بیداء وئیلے شی. مګر دلته دغه مقام خاص مراد دے. عرض دا چه عبد الله بن عمر فرمائی چه تاسو خلقو ته پته ده چه احرام ئے ددے نه تړلے دے. حالانکه حضرت ﷺ لبیك د جماعت د خوانه وئیلے وو بلکه په خپله مصلے باندے ئے وئیل شروع کړی وو. لکه څنګه چه مونږ پورته لیکلی دی.

عَنْهُمَا إِذَا قِيلَ لَهُ الإِحْرَامُ مِنَ الْبَيْدَاءِ قَالَ الْبَيْدَاءُ الَّتِي تَكْذِبُونَ فِيهَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَهَلَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِلاَّ مِنْ عِنْدِ الشَّجَرَةِ حِينَ قَامَ بِهِ بَعِيرُهُ

دے نو هغوی به اوفرمائیل چه هغه بیداء چه په هغے باندے تاسو دروغ تړئ په رسول الله ﷺ پورے. حضرت ﷺ خو لبیك ونیلے دی ددغے اونے خوا ته کوم ځائے کښ چه د هغوی اوښ هغوی پورے تړلے او نیغ ئے هلته اودرولے وو.

بَاب بَيَانِ اَنَّ الاَفْضَلَ اَنْ يُحرِمَ حِيْنَ تَنْبَعِثُ به رَاحِلَتَه مُتَوَجِهًا اِلَى مَكَّةَ لاَ عقِبَ الركْعَتَيْنِ

باب: هر کله چه اوښ مکے طرفته مخ کړو او پاڅیدۀ هغه وخت د احرام د تړلو بیان

عَنْ عُبَيْدِ بْنِ جُرَيْجٍ أَنَّهُ قَالَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ رَأَيْتُكَ تَصْنَعُ أَرْبَعًا لَمْ أَرَ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِكَ يَصْنَعُهَا قَالَ مَا هُنَّ يَا ابْنَ جُرَيْجٍ قَالَ رَأَيْتُكَ لاَ تَمَسُّ مِنَ الأَرْكَانِ إِلاَّ الْيَمَانِيَيْنِ وَرَأَيْتُكَ تَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ وَرَأَيْتُكَ تَصْبُغُ بِالصُّفْرَةِ وَرَأَيْتُكَ إِذَا كُنْتَ بِمَكَّةَ أَهَلَّ النَّاسُ إِذَا رَأَوُا الْهِلاَلَ وَلَمْ تُهْلِلْ أَنْتَ حَتَّى يَكُونَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ أَمَّا الأَرْكَانُ فَإِنِّي لَمْ أَرَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمَسُّ إِلاَّ الْيَمَانِيَيْنِ وَأَمَّا النِّعَالُ السِّبْتِيَّةُ فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ النِّعَالَ الَّتِي

عبید بن جریج عبد الله ابن عمر ته اووے اے ابوعبد الرحمٰن ما تا لره په څلورو خبرو کولو لیدلے دے چه ستا په نورو یارانو کښ مے چا لره په دے کولو نۀ دے لیدلے عبد الله او فرمائیل چه هغه څۀ دی؟ اے د جریج ځویه او هغوی اووے چه اول خو زۀ تا لره وینم چه تۀ د کعبے د گوټونو له د طواف په وخت کښ لاس نۀ وروړے مگر هغه دوه گوټونو له چه د یمن په طرف دی. دویم دا چه تۀ سبتی پنړے پخپو کوے. دریم دا چه ږیره رنګ کوے په زردئ سره (یعنی په زعفران او ورس وغیره سره څلورم هر کله چه تۀ په مکه کښ ئے نو خلق د سپوږمۍ په لیدو لبیك وائی. او تۀ په یوم الترویه یعنی په اتم تاریخ د ذی الحجے د میاشتے لبیك وائی. نو عبدالله جواب ورکړو چه واړه ارکان خو ما نۀ دے لیدلے چه رسول الله ﷺ مسه کړی وی سوا د هغے نه چه د یمن په طرف دی. او سبتی پنړے چه دی نو ما نۀ دے لیدلے رسول الله ﷺ لره چه داسے پنړے ئے پخپو کړے وی چه په هغے ویښته نۀ وی او په هغے کښ به ئے اودس کوۀ (یعنی د اودس نه پس به ئے په لمدو خپو پخپو کولے) نو

لَيْسَ فِيهَا شَعَرٌ وَيَتَوَضَّأُ فِيهَا فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَلْبَسَهَا وَأَمَّا الصُّفْرَةُ فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْبُغُ بِهَا فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَصْبُغَ بِهَا وَأَمَّا الْإِهْلَالُ فَإِنِّي لَمْ أَرَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهِلُّ حَتَّى تَنْبَعِثَ بِهِ رَاحِلَتُهُ

زۀ هم غوره گنړم چه دغه شان پڅپو کړم. پاتے شوه زردی نو ماليدلے دے رسول الله ﷺ لره چه په دے سره به ئے رنگ ورکوو (يعنی وېښتو لره يا کپړو لره) نو زۀ هم غوره گنړم چه په دے سره رنگ ورکړم. او لبيك چه دے نو ما نۀ دے ليدلے رسول الله ﷺ لره چه هغوی لبيك وئيلے وی مگر هر کله چه په اوښه به هغوی سور شو. او اوښه به پاڅيده (يعنی د ذوالحليفے د جماعت د خوانه)[1].

عَنْ عُبَيْدِ بْنِ جُرَيْجٍ قَالَ حَجَجْتُ مَعَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ بَيْنَ حَجٍّ وَعُمْرَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ مَرَّةً فَقُلْتُ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ لَقَدْ رَأَيْتُ مِنْكَ أَرْبَعَ خِصَالٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِهٰذَا الْمَعْنَى إِلَّا فِي قِصَّةِ الْإِهْلَالِ فَإِنَّهُ خَالَفَ رِوَايَةَ الْمَقْبُرِيِّ فَذَكَرَهُ بِمَعْنًى سِوَى ذِكْرِهِ إِيَّاهُ

عبيد ابن جريج وائی ما د عبد الله ابن عمر ملگرتيا اوکړه په حج کښ نزدے د دولسو حجونو او عمرو او ما هغوی ته ددغه څلورو خبرو ذکر اوکړو او هغه دغه مضمون روايت کړے دے کوم چه پورته تير شو مگر د اهلال په باره کښ هغوی د مقبری خلاف روايت اوکړو او مضمون ئے روايت کړو. سوا د هغه مضمون نه کوم چه پورته تير شوے دے.

---

[1]: د امام مالك او شافعي او جمهورو دا مذهب دے چه غوره دی لبيك وئيل کله چه سورلۍ خپله اودروی او متوجه شی د مکے په طرف. او د امام ابوحنيفه مذهب دے چه د مانځۀ نه پس به لبيك وائی يعنی مخکښ د سوريدو نه. او رسول الله ﷺ خاص د خپلے مصلے نه لبيك شروع کړے دے. دغه رنگے تصريح ددے د زاد المعاد نه پورته تيره شوه. او د رکن يمانين نه يو رکن يمانی مراد دے او هغه گوټ چه په هغے کښ حجر اسود لگيدلے دے او تغليبا دے دواړو ته رکن يمانی وئيلے شی. او دوه رکنونه د هغے بالمقابل کوم چه د حطيم طرفته دی. هغے ته شامیين وئيلے شی. دغه رنگے د راتلونکے نقشے د هاشيے نه په خوبۍ ما هره ده. او رکن يمانين دواړه په بنائے ابراهيم باندے باقی دي يعنی په هغه باندے جوړ شوے دی کوم چه ابراهيم عليه السلام ايخودلی وو په خلاف د شامیينو چه ددے طرفنه کعبه وړوکے کړے شوے ده او ددے وجے نه حضرت ﷺ هغه نۀ دے مسه کړے. او اوس اتفاق راغلے دے د فقهاؤ د رکن شامیين په نۀ مسه کولو باندے. او سبتی پڼړے هغه دی چه د هغے څرمن د باشت کړے شوے وی او وېښته ترے تاو کړے شوے دی. او ابن عمر به په زير رنگ سره خپله ږيره وينځله. او ابو داؤد روايت کړے دے چه رسول الله ﷺ به خپله ږيره په زعفران ورس سره وينځله چه هغه د يو زير رنگ واښۀ دے. او چونکه رسول الله ﷺ چه به کله د حج سفر شروع کړو نو هله به ئے احرام تړلو. څکه عبدالله بن عمر قياس کړے دے چه په اتم تاريخ خلق منی ته ځی ددغه ورځے نه د حج ابتداء کيږی. نو ابتداء او احرام هغه ددغه ورځے نه پکار دے د هغے نه د مخکښ ورځے نه او امام شافعی او د هغۀ ملگری او ځنے ملگری د امام مالك په دے باره کښ د ابن عمر موافق دی. او نورو خلقو وئيلے دی چه افضل د اول د ذی الحجه نه لبيك وئيل دی او په اجماع د امت په دواړه قسمه جائز دی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ وَانْبَعَثَتْ بِهِ رَاحِلَتُهُ قَائِمَةً أَهَلَّ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ

عبد الله بن عمر وائی چه رسول الله ﷺ چه هر کله په رکاب کښې خپه کیښوده او د هغوی اوښه پاڅیده په ذوالحُلیفه کښې نو هله ئے لبیك اووے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يُخْبِرُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهَلَّ حِينَ اسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ قَائِمَةً

عبد الله بن عمر خبر ورکړے دے چه نبی ﷺ لبیك اووے هر کله چه هغوی په خپله اوښه باندے سور شو او هغه اودریده.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ رَكِبَ رَاحِلَتَهُ بِذِي الْحُلَيْفَةِ ثُمَّ يُهِلُّ حِينَ تَسْتَوِي بِهِ قَائِمَةً

عبد الله بن عمر وائی چه رسول الله ﷺ شپه په ذوالحُلیفه کښې تیره کړه د حج په ابتداء کښې او مونځ ئے اوکړو د هغے په جماعت کښې.

بَاب اسْتِحْبَابِ الطِّيبِ قُبَيْلَ الْإِحْرَامِ فِي الْبَدَنِ

باب : د احرام نه مخکښې په بدن خوشبوئی لګول مستحب دی

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ طَيَّبْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحُرْمِهِ حِينَ أَحْرَمَ وَلِحِلِّهِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ

حضرت عائشه فرمائی ما خوشبوئی اولګوله رسول الله ﷺ له د هغوی د احرام دپاره هر کله چه ئ احرام اوتړو او د هغوی د اهلال دپاره مخکښې د طواف افاضه نه[1].

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ طَيَّبْتُ

حضرت عائشه فرمائی ما خوشبوئی اولګوله رسول الله ﷺ له د

[1]: ددے نه معلوم شو مستحب کیدل د خوشبویئ د استعمال مخکښې د احرام نه. او جائز شو باقی پاتے کیدل د خوشبویئ او د هغے د اثر روستو د احرام تړلو نه. او دا حرام دی چه په حالت د احرام کښې ابتداء اوکړی د خوشبویئ دغه مذهب دے د شافعیه او د ډیرو خلقو د صحابو رضی الله عنهم او د تابعینو رحمهم الله او د جماهیر محدثینو او فقهاؤ. لکه سعد او ابن عباس او ابن زبیر او معاویه رضی الله عنهم او حضرت عائشه او ام حبیبه او ابوحنیفه او ثوری او ابو یوسف او احمد او ابوداؤد رحمهم الله وغیره دی. او بعضو ددے خلاف کړے دے مگر قوی مذهب دغه دے او چا چه تاویلات کړے دی د حضرت عائشے د روایت هغه قوی نهٔ دی. او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه د هغوی د احلال دپاره مخکښې د طواف نه. ددے نه معلومه شوه چه روستو د ویشتلو دجمرهٔ عقبه نه د خوشبویئ استعمال مباح دے او سر خریل هم روا دی. اگر کهٔ طواف افاضه ئے نهٔ وی کړے. او دا مذهب دے د شافعی او تولو علماؤ مگر امام مالك دی ته مکروه وئیلے دی مخکښې د طواف افاضه نه او دا حدیث په هغوی باندے حجت دے.

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحِلِّهِ وَلِحُرْمِهِ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ طَيَّبْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِي بِذَرِيرَةٍ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ لِلْحِلِّ وَالْإِحْرَامِ

عَنْ عُرْوَةَ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بِأَيِّ شَيْءٍ طَيَّبْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ حُرْمِهِ قَالَتْ بِأَطْيَبِ الطِّيبِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللهِ ﷺ بِأَطْيَبِ مَا أَقْدِرُ عَلَيْهِ قَبْلَ أَنْ يُحْرِمَ ثُمَّ يُحْرِمُ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ طَيَّبْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحُرْمِهِ حِينَ أَحْرَمَ وَلِحِلِّهِ قَبْلَ أَنْ يُفِيضَ بِأَطْيَبِ مَا وَجَدْتُ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ الطِّيبِ فِي مَفْرِقِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَلَمْ يَقُلْ خَلَفٌ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَلَكِنَّهُ قَالَ وَذَاكَ طِيبُ إِحْرَامِهِ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ لَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى

هغوی د احرام دپاره هر کله چه ئے احرام اوتړو او د هغوی د اهلال دپاره مخکښې د طواف افاضه نه

حضرت عائشه فرمائی چه ما رسول الله ﷺ لره په خپلو لاسونو خوشبوئی لګولې ده د ذریرے نه (چه هغه یو قسم خوشبوئی ده. نووی رحمه الله لیکلی دی چه د هند نه راځی) په حجة الوداع کښې د احرام او حل دپاره.

عُروه د حضرت عائشے نه تپوس اوکړو چه تا به رسول الله ﷺ له د احرام په وخت کښې کومه خوشبوئ لګوله؟ هغے اوفرمائیل د ټولو نه بهترینه خوشبوئی (یعنی مشك لکه چه مخکښې راځی)

حضرت عائشه فرمائی چه څومره قدرے ښه خوشبوئی به میلاویده ما به لګوله رسول الله ﷺ لره مخکښې د احرام نه. نو بیا به ئے احرام تړلو.

حضرت عائشه فرمائی چه ما خوشبوئی لګولې ده رسول الله ﷺ له د احرام نه مخکښې او د هغوی د احرام د کهولاویدو په وخت مخکښې د دے نه چه هغه طواف افاضه اوکړو. مزیداره خوشبوئی چه څومره به مے مونده.

حضرت عائشه فرمائی لکه چه زهٔ اوس نظار کوم د رسول الله ﷺ د سر د ویښتو د مینځ په لار کښې د خوشبوئی په چمك او هغوی احرام تړلے وو او خلف چه راوی دے هغوی دا نهٔ دی وئیلی چه هغوی احرام تړلے وو. مګر دائے وئیلے دی چه هغه خوشبوئی وه د هغوی د احرام (یعنی کومه چه ئے د احرام نه مخکښې لګولے وه

حضرت عائشه ؓ فرمائی چه زهٔ لکه چه ګورم د رسول الله ﷺ د سر د

وَبِيصِ الطِّيبِ فِي مَفَارِقِ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَهُوَ يُهِلُّ

ويختو د مينځ لارے کښې پرق د خوشبويۍ ته او هغوی لبيك وئيل

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُحْرِمَ يَتَطَيَّبُ بِأَطْيَبِ مَا يَجِدُ ثُمَّ أَرَى وَبِيصَ الدُّهْنِ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ بَعْدَ ذَلِكَ

حضرت عائشه فرمائی چه رسول الله ﷺ چه به کله د احرام تړلو اراده کوله نو قيمتی نه قيمتی خوشبوئی چه کومه به ميلاويده لګوله به ئے. او بيا به ما د تيلو هغه پرق د هغوی په سر او ږيره مبارکه کښې د احرام تړلو نه پس ليدلو.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ الْمِسْكِ فِي مَفْرِقِ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَهُوَ مُحْرِمٌ

حضرت عائشه فرمائی چه لکه چه زۀ اوس وينم چمك د مشکو د حضرت ﷺ د سر د ويختو د مينځ په کربنه کښې او هغوی په احرام کښې دے.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يُحْرِمَ وَيَوْمَ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ بِطِيبٍ فِيهِ مِسْكٌ

حضرت عائشه فرمائی چه ما به خوشبوئی لګوله نبی ﷺ له مخکښې د احرام نه او د قربانۍ په ورځ يعنی د ويشتلو د جمرۀ عقبې نه پس، مخکښې د طواف افاضه کولو د بيت الله شريف نه او په دغه خوشبوئی کښې به مشك وو.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُنْتَشِرٍ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ الرَّجُلِ يَتَطَيَّبُ ثُمَّ يُصْبِحُ مُحْرِمًا فَقَالَ مَا أُحِبُّ أَنْ أُصْبِحَ مُحْرِمًا أَنْضَخُ طِيبًا لَأَنْ أَطَّلِيَ بِقَطِرَانٍ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَفْعَلَ ذَلِكَ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَأَخْبَرْتُهَا أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ مَا أُحِبُّ أَنْ أُصْبِحَ مُحْرِمًا أَنْضَخُ طِيبًا لَأَنْ أَطَّلِيَ بِقَطِرَانٍ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَفْعَلَ ذَلِكَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ أَنَا طَيَّبْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عِنْدَ إِحْرَامِهِ ثُمَّ طَافَ فِي نِسَائِهِ ثُمَّ أَصْبَحَ مُحْرِمًا

محمد بن منتشر وائی ما د عبدالله بن عمر نه تپوس اوکړو چه کوم سړے خوشبوئی اولګوی او سحر احرام اوتړی نو د هغۀ دپاره څۀ حکم دے؟ نو هغوی اووے چه زۀ بنۀ نه ګنړم چه سحر د احرام اوتړم په داسے حال کښې چه زۀ خوشبوئی لرے کړم. او کۀ زۀ تارکول په خپل ځان دپاسه پورے کړم نو ماته دد دے نه غوره معلوميږی. چه زۀ خوشبوئی اولګوم. بيا زۀ د حضرت عائشے خواله لاړم او هغے ته مے دا هر څۀ اووے نو حضرت عائشے اوفرمائيل چه ما خوشبوئی اولګوله رسول الله ﷺ له د هغوی د احرام په خواه کښې او حضرت ﷺ د خپلو ټولو بيبيانو سره صحبت اوکړو او بيائے سحر احرام اوتړلو.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ ثُمَّ يُصْبِحُ مُحْرِمًا يَنْضَخُ طِيبًا

حضرت عائشهؓ فرمائی چه ما خوشبوئی لګولے وه رسول اللهﷺ له او هغهٔ په خپلو بيبيانو ګرځيدهٔ (يعنی د تولو سره ئے صحبت کولو) بيا به ئے سحر احرام اوترو او خوشبوئی به ترينه تلله[1].

بَاب تَحْرِيمِ الصَّيْدِ الْمَأْكُولِ الْبَرِّيِّ عَلَى الْمُحْرِمِ بِحَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ أَوْ بِهِمَا

باب: د مُحرم دپاره د ځنګلی ښکارونو حُرمت

عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ اللَّيْثِيِّ أَنَّهُ أَهْدَى لِرَسُولِ اللهِ ﷺ حِمَارًا وَحْشِيًّا وَهُوَ بِالْأَبْوَاءِ أَوْ بِوَدَّانَ فَرَدَّهُ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَلَمَّا أَنْ رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا فِي وَجْهِي قَالَ إِنَّا لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكَ إِلَّا أَنَّا حُرُمٌ

صعب بن جثامه رسول اللهﷺ له يو ځنګلی خر په مدينه کښې ورکړو. او هغوی په ابواء يا ودان کښې وو (چه د يو مقام نوم دے) او حضرتﷺ واپس کړو هر کله چه حضورﷺ اوليدو د هغهٔ په مخکښې خفګان لره نو اوئے فرمائيل چه مونږ په څۀ بله وجه نۀ دے واپس کړے فقط دومره خبره ده چه مونږ خلقو احرام تړلے دے.

عَنِ الْحَكَمِ أَهْدَى الصَّعْبُ بْنُ جَثَّامَةَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ رِجْلَ حِمَارِ وَحْشٍ وَفِي رِوَايَةِ شُعْبَةَ عَنِ الْحَكَمِ عَجُزَ حِمَارِ وَحْشٍ يَقْطُرُ دَمًا وَفِي رِوَايَةِ شُعْبَةَ عَنْ حَبِيبٍ أُهْدِيَ لِلنَّبِيِّ ﷺ شِقُّ حِمَارِ وَحْشٍ فَرَدَّهُ

حکم وائی صعب د حمار وحشی خپه په هديه کښې ورکړه او شعبه د حکم نه روايت کړے دے چه د ډوډئ غوښه وه چه وينه ترے څڅيدله او د شعبه روايت د حبيب نه داسے دے چه يوه ټکړه ئے د حمار وحشی په هديه کښې ورکړه. او بيا پيغمبرﷺ هغے لره واپس کړه.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَدِمَ زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ يَسْتَذْكِرُهُ كَيْفَ أَخْبَرْتَنِي عَنْ لَحْمِ صَيْدٍ

عبد الله بن عباس وائی زيد بن ارقم راغے او عبد الله هغه ته ياد کړل او اوئے وئيل چه تا ولے خبر ورکړے وو د ښکار د غوښے کومه چه رسول اللهﷺ ته هديه ورکړے شوے وه. او هغوی احرام تړلے وو؟

---

[1]. او قطران يو تور تيل دی چه په کشتو باندے مبتلے کيږی او اوس هغے ته ډانبر وائی. غرض دا چه دے تولو روايتونو نه ښه معلومه شوه چه پاتے کيدل د هغه خوشبوئ چه د احرام نه مخکښې لګيدلی وی. مضر نۀ دی. او د شروع نه چه خوشبوئی نۀ لګوی و ذالك المقصود.

أَهْدَى إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ حَرَامٌ قَالَ قَالَ أَهْدَى لَهُ عُضْوٌ مِنْ لَحْمِ صَيْدٍ فَرَدَّهُ فَقَالَ إِنَّا لَا نَأْكُلُهُ إِنَّا حُرُمٌ

هغوی اووے چه هدیه ورکړے شوے وه د یو اندام د ښکار د غوښے او حضرت ﷺ واپس کړه او اوئے فرمائیل چه مونږ خو احرامونه تړلی دی[1]

عَنْ أَبِي مُحَمَّدٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا قَتَادَةَ يَقُولُ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْقَاحَةِ فَمِنَّا الْمُحْرِمُ وَمِنَّا غَيْرُ الْمُحْرِمِ إِذْ بَصُرْتُ

د ابومحمد ازاد کړی غلام ابوقتاده وئیلے دی چه ما د ابوقتاده نه اوریدلے دی چه وئیلے ئے وو چه را اووتو مونږ د رسول الله ﷺ سره تردے پورے چه اورسیدو مونږ قاحه ته (قاحه یو میدان دے د سقیانه په یو منزل او مدینے نه درے منزله لرے) او ځنے خلق په مونږ کښې محرم وو

---

[1] اتفاق دے دعلماؤ په دے باندے چه محرم لره د ځنګل ښکار کول حرام دی او امام شافعی رحمه الله وغیره وئیلے دی چه د ښکار مالك کیدل په اخستو هم حرام دی او دغه شان په هبه سره او د میراث په وجه سره په مالك کیدو کښې اختلاف کړے دے. باقی پاتے شوه د ښکار غوښه. که محرم پخپله ښکار کړے وی یا دده دپاره بل ښکار کړے وی نو حرام دے. برابره خبره ده که دده په حکم ښکار شوے وی یا بغیر دده د حکم نه. اوس کچرے چا حلال د خپل ځان دپاره ښکار کړے دے او محرم لره ئے د ورکولو اراده نه ده کړه بیائے محرم لره هم د هغے غوښے نه هدیه ورکړه یائے پرے ورخرخه کړه. نو دهٔ لره حرامه نهٔ ده.او دا مذهب د شافعی او مالك او د داؤد. او ابوحنیفه وئیلے دی چه خوك یے د مرستے د مجرم نه د محرم دپاره ښکار اوکړی هغه حلال دے. او یو جماعت وئیلے دی چه په محرم باندے د ښکار غوښه مطلقًا حرامه ده. په څهٔ شان سره حلاله نهٔ ده. برابره خبره ده که پخپله ښکار کړے وی یا بل چا دهٔ دپاره یا د ځان دپاره کړے وی. غرض دا چه په هر طور حرام دے. او قاضی عیاض دا قول د حضرت علی او ابن عمر او ابن عباس نه نقل کړے دے او هغوی استدلال کړے دے ددے ایت د ظاهر نه وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا. چه هغوی وئیلے دی چه د صید نه مراد هغه ځناور دے کوم چه په ذریعه د ښکار لاس له راغلے دے چه حضور ﷺ د هغهٔ هدیه واپس کړه او بیان ئے اوفرمائیلو چه مونږ خلق محرم یو. او دائے نهٔ دی فرمائیلے چه تا ځما دپاره ښکار اوکړو ځکه ئے مونږ واپس کوؤ. او احتجاج کړے دے امام شافعی او د هغوی موافقینو د ابوقتاده د روایت نه چه په مسلم کښې مخکښې راځی ځکه چه ابوقتاده چه کوم ښکاره کړے وو او هغه حلال وو هغے لره رسول الله ﷺ نورو محرمینو ته اوفرمائیل چه خوری دا حلال دے. او په یو روایت کښې راغلی دی چه حضرت ﷺ تپوس اوکړو چه ستاسو سره ددے نه پاتے شوی څهٔ شته؟ هغوی عرض اوکړو چه آو ددے خپے شته. حضرت ﷺ هغه واخستے او ترے نه خوراك وکړو. او سنن ابی داؤد، او ترمذی، او نسائی د جابر نه روایت کړے دے چه نبی ﷺ فرمائیلے دی. چه ښکاره د ځنګل تاسو لره حلال دے. د کومے پورې چه تاسو پخپلهٔ یا ستاسو په واسطه ښکار کړے شوے نهٔ وی. او موافقت د ابوقتاده او صعب په روایت کښې داسے دے چه د صعب روایت په دے باندے محمول کړے شی چه هغه د محرمانو دپاره ښکار کړے وو او ابوقتاده د خپل ځان دپاره نو په دے صورت کښې مذهب د شافعی ډیر صحیح او قوی شو. او په ټولو روایتونو کښې موافقت هم شو. او ایت قرانی لره حمل کړئ په خپله ښکار کونکی باندے او په هغه چا باندے چه هغه د محرم دپاره ښکار کړے وی او دا فرامائیل د حضرت ﷺ صعب رضی الله عنه ته چه مونږ محرم یو ددے منافی نهٔ دے چه احتمال دے چه هغوی د حضرت دپاره ښکار کړے وی (نووی)

بِأَصْحَابِي يَتَرَاءَوْنَ شَيْئًا فَنَظَرْتُ فَإِذَا حِمَارُ وَحْشٍ فَأَسْرَجْتُ فَرَسِي وَأَخَذْتُ رُمْحِي ثُمَّ رَكِبْتُ فَسَقَطَ مِنِّي سَوْطِي فَقُلْتُ لِأَصْحَابِي وَكَانُوا مُحْرِمِينَ نَاوِلُونِي السَّوْطَ فَقَالُوا وَاللهِ لَا نُعِينُكَ عَلَيْهِ بِشَيْءٍ فَنَزَلْتُ فَتَنَاوَلْتُهُ ثُمَّ رَكِبْتُ فَأَدْرَكْتُ الْحِمَارَ مِنْ خَلْفِهِ وَهُوَ وَرَاءَ أَكَمَةٍ فَطَعَنْتُهُ بِرُمْحِي فَعَقَرْتُهُ فَأَتَيْتُ بِهِ أَصْحَابِي فَقَالَ بَعْضُهُمْ كُلُوهُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا تَأْكُلُوهُ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَامَنَا فَحَرَّكْتُ فَرَسِي فَأَدْرَكْتُهُ فَقَالَ هُوَ حَلَالٌ فَكُلُوهُ

او ځنې غیر محرم چه په دی کښې ما خپلو یارانو لره اولیدل چه هغوی څۀ څیز ته ګوری هر کله چه ورته ما اوکتل نو هغه یو وحشی خر وو. او ما په خپل اس باندے زین کیښودو او خپله نیزه مے واخسته او سور شوم. نو ځما لخته ځما نه ښکته پریوته ما خپلو دوستانو ته اووے چه هغوی محرم وو چه ځما دا لخته ما ته رااوچته کړئ هغوی اووے په الله قسم مونږ ستا څۀ مدد نۀ شو کولے. بیا زۀ راکوز شوم او کوړه مے رااوچته کړه او بیا سور شوم او د شا د طرفنه هغه خرته اورسیدم او هغه د خټ لاندے وو په نیزه مے اووهلو او حلال مے کړو او د خپلو ملګرو خواله مے راوړو. په هغوی کښې ځنو اووے خورئ ځنو اووے مۀ خورئ او نبی ﷺ زمونږ نه مخکښې وو. پس ما خپل اس ورمخکښې کړو او د هغوی خواته اورسیدم او د هغوی نه مے تپوس اوکړو. هغوی اوفرمائیل چه هغه حلال دے اوئے خورئ.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِبَعْضِ طَرِيقِ مَكَّةَ تَخَلَّفَ مَعَ أَصْحَابٍ لَهُ مُحْرِمِينَ وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ فَرَأَى حِمَارًا وَحْشِيًّا فَاسْتَوَى عَلَى فَرَسِهِ فَسَأَلَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُنَاوِلُوهُ سَوْطَهُ فَأَبَوْا عَلَيْهِ فَسَأَلَهُمْ رُمْحَهُ فَأَبَوْا عَلَيْهِ فَأَخَذَهُ ثُمَّ شَدَّ عَلَى الْحِمَارِ فَقَتَلَهُ فَأَكَلَ مِنْهُ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ وَأَبَى بَعْضُهُمْ فَأَدْرَكُوا رَسُولَ اللهِ ﷺ فَسَأَلُوهُ عَنْ

د ابوقتاده نه مروی دے چه هغوی د رسول الله ﷺ سره وو د مکے په یوه لاره کښې او هغوی د خو ملګرو سره د حضرت ﷺ نه روستو پاتے شو او هغوی غیر محرم وو. او ملګری ئے محرم وو. بیا هغوی یو وحشی خر اولیدو. او په خپل اس سور شو او د ملګرو نه ئے کوړا اوغوښته خو چا ورله ورنۀ کړه. نیزه ئے اوغوښته چا ور نۀ کړه. بیا هغوی پخپله رااخسته او اس ئے اوزغلوؤ او هغه وحشی خر ئے اووژلو. او د ملګرو نه ئے چا اوخوړو او چا او نۀ خوړو. بیا چه هر کله د حضرت ﷺ خواته اورسیدو او د هغوی نه مو تپوس اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه خو یو خوراك دے چه اللهؒ تاسو له

ذٰلِكَ فَقَالَ إِنَّمَا هِيَ طُعْمَةٌ أَطْعَمَكُمُوهَا اللهُ

عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي حِمَارِ الْوَحْشِ مِثْلَ حَدِيثِ أَبِي النَّضْرِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ هَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ انْطَلَقَ أَبِي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فَأَحْرَمَ أَصْحَابُهُ وَلَمْ يُحْرِمْ وَحُدِّثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ عَدُوًّا بِغَيْقَةَ فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَبَيْنَمَا أَنَا مَعَ أَصْحَابِهِ يَضْحَكُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ إِذْ نَظَرْتُ فَإِذَا أَنَا بِحِمَارِ وَحْشٍ فَحَمَلْتُ عَلَيْهِ فَطَعَنْتُهُ فَأَثْبَتُّهُ فَاسْتَعَنْتُهُمْ فَأَبَوْا أَنْ يُعِينُونِي فَأَكَلْنَا مِنْ لَحْمِهِ وَخَشِينَا أَنْ نُقْتَطَعَ فَانْطَلَقْتُ أَطْلُبُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرَفِّعُ فَرَسِي شَأْوًا وَأَسِيرُ شَأْوًا فَلَقِيتُ رَجُلًا مِنْ بَنِي غِفَارٍ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ فَقُلْتُ أَيْنَ لَقِيتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَرَكْتُهُ بِتَعْهِنَ وَهُوَ قَائِلٌ السُّقْيَا فَلَحِقْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَصْحَابَكَ يَقْرَءُونَ عَلَيْكَ

درکړو.

عطاء د قتاده نه د ځنګلی خر په باره کښې دغه مضمون روایت کړے دے کوم چه د ابوالنضر نه دد ے نه پورته تیر شو. مګر د زید بن اسلم په روایت کښې دا هم دی چه حضرت ﷺ تپوس اوکړو چه د هغې په غوښه کښې څۀ لږه شته ستاسو سره؟

عبد الله بن ابی قتاده وائی څما پلار د رسول الله ﷺ سره وو د حدیبیې په کال او صحابؤ احرام تړلےوو او هغوی نۀ وو او رسول الله ﷺ ته خبر اوشو چه دشمن په غیقه کښې دے او حضرت ﷺ لاړو. ابو قتاده وائی چه زۀ د خپلو ملګرو سره وم چه ځنې خلقو به څما په طرف کتل او خندل به ئې. او ما چه اوکتل نو څما مخې ته یو ځنګلی خر وو ما په هغۀ حمله اوکړه او هغه مې په نیزه اووهو. او خپلو خلقو نه مې مدد اوغوښتو او چا (په سبب د احرام) څما مدد او نۀ کړو. بیا مونږ د هغې غوښه اوخوړه او یره شوه چه مونږ په لاره کښې د رسول الله ﷺ نه پاتې نۀ شو. او زۀ د هغوی د تلاش دپاره روان شوم او کله خپل اس په منډه کړم او کله په قدم قدم روان یم. چه یو سړے د بنی غفار راته میلاؤ شو. په توره شپه کښې او ما د هغۀ نه تپوس اوکړو چه تا ته رسول الله ﷺ کوم ځائې میلاؤ شو؟ هغۀ اووے چه ما خو هغوی لره په تعهن کښې پریخودے دے (دا نوم دے د یو مقام او هغه د اوبو یو نهر دے د سقیانه په درے میله فاصله باندے او اوسقیا یو کلے دے د مدینې نه دری منزله لرے د مکې په لاره کښې) او هغوی په سقیا کښې د غرمې دمه کول غوښتله غرض دا چه زۀ د هغوی سره میلاؤ شوم او عرض مې اوکړو چه یا رسول الله ﷺ ستا صحابهؓ په تا

السَّلَامَ وَرَحْمَةَ اللهِ وَإِنَّهُمْ قَدْ خَشُوا أَنْ يُقْتَطَعُوا دُونَكَ انْتَظِرْهُمْ فَانْتَظَرَهُمْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَصَدْتُ وَمَعِي مِنْهُ فَاضِلَةٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْقَوْمِ كُلُوا وَهُمْ مُحْرِمُونَ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجًّا وَخَرَجْنَا مَعَهُ قَالَ فَصَرَفَ مِنْ أَصْحَابِهِ فِيهِمْ أَبُو قَتَادَةَ فَقَالَ خُذُوا سَاحِلَ الْبَحْرِ حَتَّى تَلْقَوْنِي قَالَ فَأَخَذُوا سَاحِلَ الْبَحْرِ فَلَمَّا انْصَرَفُوا قِبَلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْرَمُوا كُلُّهُمْ إِلَّا أَبَا قَتَادَةَ فَإِنَّهُ لَمْ يُحْرِمْ فَبَيْنَمَا هُمْ يَسِيرُونَ إِذْ رَأَوْا حُمُرَ وَحْشٍ فَحَمَلَ عَلَيْهَا أَبُو قَتَادَةَ فَعَقَرَ مِنْهَا أَتَانًا فَنَزَلُوا فَأَكَلُوا مِنْ لَحْمِهَا قَالَ فَقَالُوا أَكَلْنَا لَحْمًا وَنَحْنُ مُحْرِمُونَ قَالَ فَحَمَلُوا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِ الْأَتَانِ فَلَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا كُنَّا أَحْرَمْنَا وَكَانَ أَبُو قَتَادَةَ لَمْ يُحْرِمْ فَرَأَيْنَا حُمُرَ وَحْشٍ فَحَمَلَ عَلَيْهَا أَبُو قَتَادَةَ فَعَقَرَ مِنْهَا أَتَانًا

باندے سلام او رحمت لیږی. او د هغوی سره یره ده چه دشمن هغوی لره ستا نه لرے جدا نۀ کړی نو ته د هغوی انتظار اوکړه. نو حضرت ﷺ انتظار اوکړو. بیا ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ ما ښکار کړے دے او د هغے نه څۀ خما سره بچ پاتے دے. نو هغوی خلقو ته اوفرمائیل چه خوری. او هغوی ټولو احرامونه تړلی وو.

عبد الله بن ابوقتاده روایت کړے دے د خپل پلار نه چه هغوی وائی رااووتو رسول الله ﷺ او مونږ ورسره رااووتو د حج دپاره. او ابوقتاده وائی چه حضرت ﷺ بله لاز اونیوه او خپلو څنو صحابو ته ئے اوفرمائیل چه تاسو د دریاب د غاړے لاز اونیسئ او په دوی کښ ابوقتاده هم وو تردے پورے چه یو ځائے به شئ خما سره او هغه خلقو د دریاب د غاړے لاز اونیوه. بیا چه هر کله اوګرځیدو د رسول الله ﷺ په طرف نو هغه خلقو احرام اوتړو ټولو خلقو سوا د قتاده نه چه هغو احرام او نۀ تړلو. غرض دا چه هغوی په لاره باندے روان وو. چه هغوی څو وحشی خرونه اولیدل او ابوقتاده په هغوی باندے حمله اوکړه او یو وحشی خرۀ ئے پکښ د هغوی نه حلال کړو. او ټول ملګری کوز شو او د هغے غوښه ئے اوخوړله بیا وائی هغوی چه مونږ غوښه اوخوړه او مونږه محرمان وو. او باقی غوښه مو د هغے د ځان سره واخسته بیا چه هر کله مونږ د رسول الله ﷺ خواله اورسیدو نو عرض مو اوکړو چه یا رسول الله مونږ خو احرامونه تړلی وو. او ابوقتاده احرام نۀ وو تړلے. بیا مونږ څو وحشی خرۀ اولیدل او ابوقتاده پرے حمله اوکړه او یوئے ترے حلال کړو. بیا مونږ کوز شو او ټولو د هغے غوښه اوخوړه. او بیائے اووے مونږ د ښکار

فَنَزَلْنَا فَأَكَلْنَا مِنْ لَحْمِهَا فَقُلْنَا نَأْكُلُ لَحْمَ صَيْدٍ وَنَحْنُ مُحْرِمُونَ فَحَمَلْنَا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا فَقَالَ هَلْ مِنْكُمْ أَحَدٌ أَمَرَهُ أَوْ أَشَارَ إِلَيْهِ بِشَيْءٍ قَالَ قَالُوا لَا قَالَ فَكُلُوا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا

غوښه اوخوړه او احرامونه مو تړلی دی او باقی غوښه د هغے مونږ د ځان سره دلته راوړے ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه چا ستاسو نه ورته د هغے د ویشتو حکم کړے وو یائے د هغے په طرف ئے اشاره کړے وه نو هغوی اوفرمائیل چه نه حضرت ﷺ اوفرمائیل پس خورئ کومه غوښه چه د هغے باقی پاتے ده.

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهَبٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ فِي رِوَايَةِ شَيْبَانَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمِنْكُمْ أَحَدٌ أَمَرَهُ أَنْ يَحْمِلَ عَلَيْهَا أَوْ أَشَارَ إِلَيْهَا وَفِي رِوَايَةِ شُعْبَةَ قَالَ أَشَرْتُمْ أَوْ أَعَنْتُمْ أَوْ أَصَدْتُمْ قَالَ شُعْبَةُ لَا أَدْرِي قَالَ أَعَنْتُمْ أَوْ أَصَدْتُمْ

د عثمان بن عبد الله نه دد ے اسناد سره دغه مضمون مروی شوے دے. او د شیبان په روایت کښ دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په تاسو کښ چا د هغے د ښکار حکم کړے وو چه په دے باندے د حمله اوکړے شی. یائے د هغے طرفته اشاره کړے وه؟ او د شعبه په روایت کښ دی چه تاسو اشاره اوکړه یا مو مدد اوکړو یا تاسو ښکار اوکړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ الْحُدَيْبِيَةِ قَالَ فَأَهَلُّوا بِعُمْرَةٍ غَيْرِي قَالَ فَاصْطَدْتُ حِمَارَ وَحْشٍ فَأَطْعَمْتُ أَصْحَابِي وَهُمْ مُحْرِمُونَ ثُمَّ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْبَأْتُهُ أَنَّ عِنْدَنَا مِنْ لَحْمِهِ فَاضِلَةً فَقَالَ كُلُوهُ وَهُمْ مُحْرِمُونَ

عبد الله بن ابوقتاده وائی چه د هغهٔ پلار خبر ورکړے دے چه هغوی جهاد کوؤ د رسول الله ﷺ سره د حدیبیه په غزا کښ. نو نورو خلقو د عمرے احرام اوتړو سوا ځما نه او ما یو وحشی خر ښکار کړو او په خپلو ملګرو مے اوخوړو او هغوی احرامونه تړلی وو. بیا زهٔ د رسول الله ﷺ په خدمت کښ حاضر شوم او هغوی له مے خبر ورکړو چه زمونږ سره د هغے څهٔ غوښه پاتے ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل خورئ، او هغوی احرامونه تړلی وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُمْ خَرَجُوا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ مُحْرِمُونَ وَأَبُو قَتَادَةَ

عبد الله بن ابوقتاده د خپل پلار نه روایت کړے دے چه هغوی اووتو د رسول الله ﷺ سره او هغوی ټول محرم وو. او ابوقتادهؓ غیر محرم وو او بیان ئے کړو حدیث او په دے کښ دا هم ده چه رسول

مُحِلٌّ وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَفِيهِ فَقَالَ هَلْ مَعَكُمْ مِنْهُ شَيْءٌ قَالُوا مَعَنَا رِجْلُهُ قَالَ فَأَخَذَهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَأَكَلَهَا

الله ﷺ اوفرمائیل ستاسو سره په دے کښې څه شته؟ هغوی اووے زمونږ سره د دے خپے شته بیا واخستے حضرت ﷺ هغے لره او ئې وخوړلے [1].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا مَعَ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ وَنَحْنُ حُرُمٌ فَأُهْدِيَ لَهُ طَيْرٌ وَطَلْحَةُ رَاقِدٌ فَمِنَّا مَنْ أَكَلَ وَمِنَّا مَنْ تَوَرَّعَ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ طَلْحَةُ وَفَّقَ مَنْ أَكَلَهُ وَقَالَ أَكَلْنَاهُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عبد الرحمٰن وائی چه مونږ د طلحه سره وو احرام تړلے شوی او یوه مرغۍ د ښکار هغوی له په هدیه کښې ورکړے شوه (یعنی پخه شوے) پس څنو زمونږ نه اوخوړه او څنو ترے پرهیز اوکړو. بیا چه کله طلحه اوده شو. او بیا ویخ شو نو د هغه خلقو موافق شو چه هغوی خوړلے وه او هغوی اووے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره داسے غوښه خوړلے ده.

بَاب مَا يُنْدَبُ لِلْمُحْرِمِ وَغَيْرِهِ قَتْلُهُ مِنَ الدَّوَابِّ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ

باب: په حِلّ او حَرَم کښې مُحرِم او غیر مُحرِم کوم څناور وژلے شی

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَرْبَعٌ كُلُّهُنَّ فَاسِقٌ يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ الْحِدَأَةُ وَالْغُرَابُ وَالْفَأْرَةُ وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ قَالَ فَقُلْتُ لِلْقَاسِمِ أَفَرَأَيْتَ الْحَيَّةَ قَالَ تُقْتَلُ بِصُغْرٍ لَهَا

حضرت عائشه د نبی ﷺ بی بی مطهره فرمائی چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی وو څلور څیزونه شریر دی چه په حل او حرم کښې قتلولے شی. ټپس او کارغۀ او منګك او خوږونکے سپے (راوی) وائی ما د قاسم د خپل شیخ نه ټپوس اوکړو چه آیا نۀ وینے تۀ مار ته خو هغوی اوفرمائیل چه مړ د کړے شی په ذلت سره [2].

---

[1] غرض دے تولو روایتونو نه معلومه شوه چه کۀ څوك غیر محرم په خپله واسطه ښکار اوکړی او د محرم په هغے کښې حکم اشاره او نصرت نۀ وی نو د هغے خوړل محرم له هم روا دی. هر کله چه د هغے غوښه محرم له هدیه ورکړے شی او دغه مذهب دے د امام شافعی لکه چه مونږ پوره ته بیان کړی دی او دغه صحیح دے.

[2] او د لړم هم حکم راغلے دے. غرض دا شپږ څیزونه منصوص دی. او د جمهورو علماؤ اتفاق دے په دی باندے چه دوی د قتل کړے شی په حل او حرم او په احرام کښې. او اتفاق دے په دے باندے چه کوم په معنی کښې دد دے پشان دی هغه هم په دے کښې داخل دی او اختلاف دے په دے کښې چه هغه معنی څه ده؟ د امام شافعی قول دے چه کوم څیزونه خوړلے شی او نۀ هغه پیدا وی د خوړونکو وغیره نه. نو دهغے قتل جائز دے محرم لره. او د هغے فدیه ورکول ضروری نۀ دی. او امام مالك وائی چه هغه ضرر رسول

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ خَمْسٌ فَوَاسِقُ يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ الْحَيَّةُ وَالْغُرَابُ الْأَبْقَعُ وَالْفَأْرَةُ وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ وَالْحُدَيَّا

د حضرت عائشې نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي پنځهٔ خيزونه شرير دي چه په حل او حرم کښ وژلے شي. لکه مار او برګ کارغهٔ او منګك او خوړونکے سپے او شرمخ.

عَنْ زَيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ مَا يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ مِنَ الدَّوَابِّ فَقَالَ أَخْبَرَتْنِي إِحْدَى نِسْوَةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَمَرَ أَوْ أُمِرَ أَنْ يَقْتُلَ الْفَأْرَةَ وَالْعَقْرَبَ وَالْحِدَأَةَ وَالْكَلْبَ الْعَقُورَ وَالْغُرَابَ

زيد بن جبير وائي چه يو سړي تپوس اوکړو د ابن عمر نه چه مُحرِم کوم ځناور وژلے شي نو هغوی اووئيل چه ما ته د رسول الله ﷺ يوے بی بی محترمے ويلی دي چه حضور ﷺ فرمائيلی دي چه ما ته حکم راکړے شو چه قتل د کړے شي منګك او لړم او تپس او خوړونکے سپے او کارغهٔ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ سُئِلَ مَا يَقْتُلُ الرَّجُلُ مِنَ الدَّوَابِّ وَهُوَ مُحْرِمٌ قَالَ حَدَّثَتْنِي إِحْدَى نِسْوَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَأْمُرُ بِقَتْلِ الْكَلْبِ الْعَقُورِ وَالْفَأْرَةِ وَالْعَقْرَبِ وَالْحُدَيَّا وَالْغُرَابِ وَالْحَيَّةِ قَالَ وَفِي الصَّلَاةِ أَيْضًا

د عبد الله بن عمر نه يو سړي تپوس اوکړو چه محرم کوم کوم ځناور وژلے شي؟ نو عبد الله اوفرمائيل چه ما ته د رسول الله ﷺ يوے بی بی محترمے دا حديث بيان کړے دے چه رسول الله ﷺ د خوړونکی سپی او منګك او کارغهٔ او مار او لړم د وژلو دپاره به ارشاد فرمائيلو او وئيلے دي چه په مانځهٔ کښ هم د دارنګے (اووژلے شي)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكٍ وَابْنِ جُرَيْجٍ وَلَمْ يَقُلْ أَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا ابْنُ جُرَيْجٍ

ابن عمر د نبی ﷺ نه دغه مضمون په شان د حديث د مالك او ابن جريج روايت کړے دے او په دے راويانو کښ چا دا نهٔ دی وئيلے چه روايت دے د نافع نه او هغه راوی دے د ابن عمر ﷺ چه ابن عمر ﷺ وائي چه اوريدلے دی ما د رسول الله ﷺ نه مګر ابن جريج

دي غرض دا چه کوم ضرر رسونکے وی د هغے قتل روا دے. او کوم چه موذی نه وی د هغے قتل روا نهٔ دے. او په کلب کښ اختلاف دے. ځنے وائی چه دد دے نه هم سپے مراد دے. او ځنے وائی چه هر حمله کونکے ځناور ترے مراد دے. دغه رنګے په لغت کښ هر يو درنده ته کلب العقور وئيلے شي. غرض دا چه د اوزاعی او ابوحنيفه او حسن بن صالح وائی چه دد دے نه هم سپے مراد دے او شرمخ په دے کښ داخل دے. او امام زفر رحمه الله ترے صرف شرمخ مراد اخستے دے. او د جمهورو قول دے چه هر حمله کونکے درنده ترے مراد دے. لکه شرمخ او زمرے وغيره. او دا قول دے د زيد بن اسلم او سفيان ثوری او ابن عيينه او شافعی او احمد رحمهم الله اوغير د دوی نه.

وَحْدَهُ وَقَدْ تَابَعَ ابْنَ جُرَيْجٍ عَلَى ذَٰلِكَ ابْنُ إِسْحٰقَ

یواځې. او د ابن جریج اتباع کړې ده په دے بیان کښې د ابن اسحٰق

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ خَمْسٌ لَا جُنَاحَ فِي قَتْلِ مَا قُتِلَ مِنْهُنَّ فِي الْحَرَمِ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ

حضرت عبد الله بن عمرؓ وائی چه اوریدلے دی ما د رسول اللهﷺ نه چه فرمائیلے ئے وو څه ګناه نشته د پنځو خناورو په وژلو کښې بیانے پشان ددغے بیان اوکړو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ خَمْسٌ مَنْ قَتَلَهُنَّ وَهُوَ حَرَامٌ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ فِيهِنَّ الْعَقْرَبُ وَالْفَأْرَةُ وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ وَالْغُرَابُ وَالْحُدَيَّا وَاللَّفْظُ لِيَحْيَى بْنِ يَحْيَى

عبد الله بن عمرؓ وائی چه رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه پنځهٔ خناور دی چه هغې لره چا په حالت د احرام کښې اووژل په هغهٔ باندے څهٔ ګناه نشته. په دوی کښې یو لړم دے او منګك او خوروونکے سپے او کارغهٔ او شرمخ دی.

بَابُ جَوَازِ حَلْقِ الرَّأْسِ لِلْمُحْرِمِ إِذَا كَانَ بِهِ أَذًى وَوُجُوبِ الْفِدْيَةِ لِحَلْقِهِ وَبَيَانِ قَدْرِهَا

باب: د عذر د وجے نه د محرم د سر د خرولو جواز او د فدیے د واجب کیدو او د فدیے د مقدار بیان

عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ أَتَى عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ وَأَنَا أُوقِدُ تَحْتَ قَالَ الْقَوَارِيرِيُّ قِدْرٍ لِي وَ قَالَ أَبُو الرَّبِيعِ بُرْمَةٍ لِي وَالْقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلَى وَجْهِي فَقَالَ أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّ رَأْسِكَ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاحْلِقْ وَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ أَوْ أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ أَوِ انْسُكْ نَسِيكَةً قَالَ أَيُّوبُ فَلَا أَدْرِي بِأَيِّ ذٰلِكَ بَدَأَ

کعب بن عجره وائی ځما خواله رسول اللهﷺ راغے په حدیبیه کښې او ما د کتوئ نه لاندے اُور له پوکے ورکولو. او سپږے ځما په مخ راتلے. حضرتﷺ اوفرمائیل ستا سر خو سپږو ډیر زیات تنګ کړے دے. ما اووے آو. حضرتﷺ اوفرمائیل تهٔ سر اوخریه او درے ورځے روژے اونیسه یا شپږو مسکینانو له ډوډئ ورکړه. یا یوه قربانی اوکړه. ابوایوب وائی ماته یاد نهٔ دی چه مخکښې ئے کوم څیز اوفرمائیلو.

عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ فِيَّ أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ

کعب بن عجرهؓ وائی چه دا آیت فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ ځما په حق کښې نازل شوے دے او زهٔ د رسول اللهﷺ خواله راغلم او حضرتﷺ راته اووے

قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَقَالَ ادْنُهْ فَدَنَوْتُ فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ قَالَ ابْنُ عَوْنٍ وَأَظُنُّهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأَمَرَنِي بِفِدْيَةٍ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ مَا تَيَسَّرَ

نږدے راشه او زهٔ نږدے راغلم بيائے اوفرمائيل تالره ستا دا سپږے ډير تنګوی. ابن عون وائی چه زهٔ ګمان کوم چه هغوی اووے آو. بيائے ما ته د فديے حکم اوفرمائيلو کهٔ روژه وی خواه کهٔ صدقه وی خواه کهٔ قربانی وی. کوم چه ورته آسانه وی[1].

عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ وَقَفَ عَلَيْهِ وَرَأْسُهُ يَتَهَافَتُ قَمْلًا فَقَالَ أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاحْلِقْ رَأْسَكَ قَالَ فَفِيَّ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ أَوْ تَصَدَّقْ بِفَرَقٍ بَيْنَ سِتَّةِ مَسَاكِينَ أَوِ انْسُكْ مَا تَيَسَّرَ

کعب بن عجرهؓ وائی رسول الله ﷺ خما په خوا کښې اودریدو او خما د سر نه سپږے توئيدے او اوئے فرمائيل چه آيا تالره سپږے تنګوی؟ ما اووے آو. حضرتؐ اوفرمائيل سر اوخريه او دا آيت خما په حق کښې نازل شو . بيا ما ته حضرت ﷺ اوفرمائيل درے روژے اونيسه يا يوه ټکرئ خيرات ورکړه يعنی د غلے ډکه شپږو مسکينانو ته يا قربانی اوکړه چه کومه درته آسانه وی.

عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ وَهُوَ بِالْحُدَيْبِيَةِ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ مَكَّةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَهُوَ يُوقِدُ تَحْتَ قِدْرٍ وَالْقَمْلُ يَتَهَافَتُ عَلَى وَجْهِهِ فَقَالَ أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ هَذِهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاحْلِقْ رَأْسَكَ وَأَطْعِمْ فَرَقًا بَيْنَ سِتَّةِ مَسَاكِينَ وَالْفَرَقُ ثَلَاثَةُ آصُعٍ أَوْ صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ أَوِ انْسُكْ نَسِيكَةً قَالَ ابْنُ أَبِي

کعب وائی چه نبی کريم ﷺ ددوی په خوا تيريدهٔ هر کله چه د مکے د داخليدو نه مخکښې په حديبيه کښې وو او هغوی احرام تړلے وو او هغهٔ د کټوئ نه لاندے اور بلوؤ.او سپږے ددوی په مخ راغورځيدے. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه اے تا لره سپږے تنګوی؟ نو هغوی اووے آو. نو اوئے فرمائيل چه سر اوخريه او يوه ټوکرئ د غلے په شپږو مسکينانو تقسيم کړه. او يوه ټوکرئ درے اوړيه ده (اود صاع تحقيق په کتاب الزکات کښې تير شو) يا درے روژی اونيسه يا يوه قربانی اوکړه . د ابن ابی نجيح په روايت کښې

[1]: دا آيت په سَيَقُولُ سپاره کښې دے . معنی ئےداده چه څوک ناجوړه شی ستاسو نه يا تکليف شی ورته په سر کښې (او هغه سر اوخروی، نو فديه د هغے روژے دی. يا صدقه ده يا قربانی او تفصيل به ددے مخکښې راشی. ان شاء الله

نَجِيحٍ أَوِ اذْبَحْ شَاةً

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَعْقِلٍ قَالَ قَعَدْتُ إِلَى كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَسَأَلْتُهُ عَنْ هٰذِهِ الْآيَةِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ فَقَالَ كَعْبٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نَزَلَتْ فِيَّ كَانَ بِي أَذًى مِنْ رَأْسِي فَحُمِلْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ وَالْقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلَى وَجْهِي فَقَالَ مَا كُنْتُ أُرَى أَنَّ الْجَهْدَ بَلَغَ مِنْكَ مَا أَرَى أَتَجِدُ شَاةً فَقُلْتُ لَا فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ قَالَ صَوْمُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ أَوْ إِطْعَامُ سِتَّةِ مَسَاكِينَ نِصْفَ صَاعٍ طَعَامًا لِكُلِّ مِسْكِينٍ قَالَ فَنَزَلَتْ فِيَّ خَاصَّةً وَهِيَ لَكُمْ عَامَّةً

دی چه یوه چیلۍ ذبحه کړه[1].

عبد الله بن معقل وائی چه زۀ د کعب سره کینښناستم په هغه وخت هغه په جماعت کښې وو نو ما د هغوی نه ددے ایت په باره کښې تپوس اوکړو فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ نو کعب اووے دا خما په باره کښې نازل شوے دے. خما په سر کښې یو تکلیف وو . زۀ د حضور ﷺ خواله بوتلے شوم او حالت دا وو چه سپږے خما په مخ ګرځیدے. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ وینم چه تاته ډیر تکلیف دے. نو آیا (د خرولو نه پس د فدیے دپاره) ستا سره چیلۍ شته؟ نو ما اووے. نه. نو دا ایت نازل شو فَفِدْيَةٌ الخ حضرت ﷺ اوفرمائیل دریو ورځو. اوخوراك شپږو مسکینانو له،هر مسکین ته روژے د نیم اوګے. کعب اوئیل دا ایت خاص خما دپاره. لیکن حکم ستاسو د ټولو دپاره عام دے[2].

باب: جَوَازِ الْحِجَامَةِ لِلْمُحْرِمِ

باب : د محرم دپاره د ښکر لګولو جواز

---

[1]: قربانی د هغوی د خلوص اوښکلی ښائسته ایمان نه خه ښره د هغوی رضی الله عنه د غریبۍ او سادګۍ الله پاك د هغوی طرفته رجوع اوفرمائیله او د هغوی دپاره ئے د عرش عظیم نه فرمان عمیم الاحسان نازل کړو. غرض دا چه د هغوی د سپږو په ټول وسرونو باندے احسان دے.

[2]: ددے ټولو روایتونو نه معلومه شوه چه د نسك نه مراد یوه بزه ده او ټول روایتونه په مقصود کښې موافق دی. او هغه مقصود دغه دے چه د سر د خریلو محتاج شی د څۀ ضرر په وجه سره. مثلاً په سر کښې سپږے اوشی یا بل څۀ مرض پرے راشی په حالت د احرام کښې نو هغه دِ اوخروی او فدیه دِ ورکړی یعنی درے روژے دِ اونیسی یا دِ درےاوګی طعام په شپږو مسکینانو باندے اوخوروی. او ایت دولړه متفق دی په دے کښې چه په دے دریو خبرو کښې هغه اختیار مند دے کومه چه ورته آسانه وی هغه دِ په ځائے راوړی. او علماء ټول متفق دی ددے په ظاهر باندے په عمل کولو کښې. مګر ابوحنیفه او سفیان ثوری رحمهما الله چه د هغوی نه نقل دی چه نیم اوګے په غنمو کښې دے. او په کهجورو او جوارو وغیره کښې یو اوګے هر مسکین ته ورکول پکار دِی. او دا د احادیث نه خلاف دے. او دا احادیث په دی باندے حجت دے چه په هغے کښې رسول الله ﷺ فرمائیلے دی ثَلَاثَةَ أَوْصُعٍ مِنْ تَمْرٍ یعنی درے اوګی دی د کهجورو. او د حسن بصری وغیره نه نور اقوال ذکر دی مګر ټول ددے احادیث په رُو سره مردود دی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ؓ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ

عبد الله بن عباسؓ نه روايت دے چه نبی ﷺ ښكر اولګوو د مكے په لاره كښې او هغوى احرام تړلے وو.

عَنِ ابْنِ بُحَيْنَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ بِطَرِيقِ مَكَّةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَسْطَ رَأْسِهِ

ابن بحينه وئيلے دى چه نبى ﷺ په ښكر لګوو د مكے په لاره كښې د خپل سر په مينځ كښې او هغوى به احرام تړلے وو[1].

بَابُ جَوَازِ مُدَاوَاةِ الْمُحْرِمِ عَيْنَيْهِ

باب : محرم لره د سترګو علاج كول جائز دى

عَنْ نُبَيْهِ بْنِ وَهْبٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِمَلَلٍ اشْتَكَى عُمَرُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ عَيْنَيْهِ فَلَمَّا كُنَّا بِالرَّوْحَاءِ اشْتَدَّ وَجَعُهُ فَأَرْسَلَ إِلَى أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ يَسْأَلُهُ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ أَنِ اضْمِدْهُمَا بِالصَّبِرِ فَإِنَّ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حَدَّثَهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّجُلِ إِذَا اشْتَكَى عَيْنَيْهِ وَهُوَ مُحْرِمٌ ضَمَّدَهُمَا بِالصَّبِرِ

د وهب ځوئے نبيه وائى چه مونږ راووتو د ابان بن عثمان سره او كله چه ملل ته اورسيدو (دا نوم دے د يو ځائے چه د مدينے نه اتيش ميله لرے دے د مكے په لاره كښې) نو د عمر بن عبيد الله سترګے خوږ شوے. بيا چه هر كله روحاء ته راغے نو درد ډير زيات شو. نو ابان بن عثمان ته ئے خوك رااوليږه. هغوى اووے چه مُصَبّر پرے لګوه. ځكه چه د رسول الله ﷺ نه عثمانؓ روايت كړے دے چه هر كله د سړى سترګے خوږ شى او هغه احرام تړلے وى نو حضرت ﷺ اوفرمائيل په هغے باندے د مصبر لګوى[2].

---

[1] : د دے روايتونو په سبب اجماع كړے ده علماؤ د ښكر لګولو په جواز باندے. خواه كۀ په سر كښې ئے لګوى يا په بل ځائے كښې هر كله چه ضرورت شى. اګر كۀ ويښتۀ كټ شى. او د ويښتو په كټ كيدو كښې فديه شته. او كچرے ويښتۀ كټ نۀ شو نو فديه نشته. غرض دا چه بغير د ضرورت نه حرام دى كچرے د ويښتو پريكولو خيال ئے وى. او كۀ د ويښتو ځائےؔ نۀ وى بغير د ضرورت نه هم وى روا دى او دغه مذهب دى د شافعيؒ او د جمهورو او په دے كښې فديه نشته. او د ابن عمرؓ او مالكؒ نه په دى صورت كښې كراهت متقول دے. او دا حديث محمول دے په دے باندے چه حضرت ﷺ ته به ضرورت شو. او په دے حديث كښې د احرام د مسئلو يوه قاعده ده چه سر خريل او كپړے اغوستل او قتل او ښكار وغيره محرمات مباح دى په وخت د ضرورت او دحاجت په وخت په دے تولو كښې فديه واجب ده.

[2] : اتفاق د عالمانو دے چه موافق د دے حديث مالش كول د مصبر وغيره چه په هغے كښې خوشبوئى نۀ وى. د دوايئ دپاره روا دى او په دے كښې فديه نشته. او كۀ ضرورت شى د خوشبودارے دوايئ نو لګوى دے او فديه دِ وركړى. او رانجۀ لګول د ښائست دپار مكروه دى. د شافعيؒ په نز او احمد او اسحق رحمهما الله او يو جماعت ترے بالكل منع كړے ده. او د مالكؒ په دے كښې دوه قولونه دى. او په دے كښې د فديے په واجبيدو كښې ډ هغۀ دوه قولونه دى.

عَنْ نُبَيْهِ بْنِ وَهْبٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ مَعْمَرٍ رَمِدَتْ عَيْنُهُ فَأَرَادَ أَنْ يَكْحُلَهَا فَنَهَاهُ أَبَانُ بْنُ عُثْمَانَ وَأَمَرَهُ أَنْ يَضْمِدَهَا بِالصَّبِرِ وَحَدَّثَ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ فَعَلَ ذٰلِكَ

نُبیه وائی د عمران بن عبید الله سترګے خوږ شوے. او رانجهٔ لګول ئے غوښتل. ابان هغهٔ لره منع کړو او د مصبر د لګول ئے ورته اوښودل. او روایت ئے اوکړو د عثمان بن عفان نه چه نبی ﷺ دغه شان کړے دی.

بَابُ جَوَازِ غَسْلِ الْمُحْرِمِ بَدَنَهُ وَرَأْسَهُ

باب : محرم لره سر او بدن وینځل روا دی

عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُنَيْنٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ وَالْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّهُمَا اخْتَلَفَا بِالْأَبْوَاءِ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ يَغْسِلُ الْمُحْرِمُ رَأْسَهُ وَقَالَ الْمِسْوَرُ لَا يَغْسِلُ الْمُحْرِمُ رَأْسَهُ فَأَرْسَلَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ إِلَى أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ أَسْأَلُهُ عَنْ ذٰلِكَ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ بَيْنَ الْقَرْنَيْنِ وَهُوَ يَسْتَتِرُ بِثَوْبٍ قَالَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ مَنْ هٰذَا فَقُلْتُ أَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ حُنَيْنٍ أَرْسَلَنِي إِلَيْكَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ أَسْأَلُكَ كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ فَوَضَعَ أَبُو أَيُّوبَ يَدَهُ عَلَى الثَّوْبِ فَطَأْطَأَهُ حَتَّى بَدَا لِي رَأْسُهُ ثُمَّ قَالَ لِإِنْسَانٍ يَصُبُّ اصْبُبْ فَصَبَّ عَلَى رَأْسِهِ ثُمَّ حَرَّكَ رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا رَأَيْتُهُ

ابراهیم د خپل پلار نه روایت کړے دے چه عبد الله بن عباس او مسور بن مخرمه ددے دواړو اختلاف راغے په ابواء کښې. ابن عباس اووے چه محرم سر وینځلے شی مسور اووے چه نهٔ شی وینځلے. نو عبد الله وائی زهٔ ابن عباس اولیږلم د ابوایوب انصاری په خدمت کښې چه د هغوی نه تپوس اوکړم نو ما هغهٔ لره اوموندو چه د کوهی د دوو لرګو په مینځ کښې ئے لمبل. او هغوی د یوے کپړے په پرده کښې وو. ما پرے سلام اوغورځوو. او هغوی تپوس اوکړو څوك ئے؟ ما اووے چه زهٔ عبد الله بن حنین یم. او عبد الله بن عباس زهٔ تاله رالیږلے یم. چه زهٔ تپوس اوکړم چه رسول الله ﷺ به په احرام کښې څنګه سر وینځلو پس ابوایوب خپل دواړه لاسونه په کپړه باندے کیښودل او سر ئے ښکته کړو تردے پورې چه ماته په نظر راغے. او هغه سړی ته ئے اووے چا چه په هغهٔ باندے اوبهٔ اچولے چه اوبهٔ واچوه. بیا هغوی خپل سر لره خوزه وو او په خپلو لاسونو ئے وراندے روستو مګلو. بیائے اووے ما دغه شان رسول الله ﷺ لره

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ

لیدلے دے.[1]

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فَأَمَرَّ أَبُو أَيُّوبَ بِيَدَيْهِ عَلَى رَأْسِهِ جَمِيعًا عَلَى جَمِيعِ رَأْسِهِ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ فَقَالَ الْمِسْوَرُ لِابْنِ عَبَّاسٍ لَا أُمَارِيكَ أَبَدًا

زید بن اسلم په دے سند سره دغه روایت کړے دے او ونیلے ئے دی چه ابو ایوب خپل دواړه لاسونه راښکودل په خپل ټول سره باندے شاته او مخے ته. او مسور ابن عباس ته اووے. چه زهٔ به د نن نه پس ستا سره تکرار نهٔ کوم.

بَابُ مَا يُفْعَلُ بِالْمُحْرِمِ إِذَا مَاتَ

باب : محرم چه مړ شي نو څهٔ به کوے؟

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَّ رَجُلٌ مِنْ بَعِيرِهِ فَوُقِصَ فَمَاتَ فَقَالَ اغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْهِ وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ فَإِنَّ اللهَ يَبْعَثُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا

د عبد الله بن عباس نه روایت دے چه یو سړے اوښ نه رااوغورځیدو او څټ ئے مات شو او مړ شو. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل دهٔ له غسل ورکړئ په اُوبو او د بیرے په پاڼو سره او کفن کړئ دهٔ لره په خپلو دواړو کپړو کښې او سر ورله مهٔ پټوئ ځکه چه الله تعالی به دهٔ لره د قیامت په ورځ پورته کوی د لبیك په آواز کولو سره.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ؓ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ وَاقِفٌ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِعَرَفَةَ إِذْ وَقَعَ مِنْ رَاحِلَتِهِ قَالَ أَيُّوبُ

عبد الله بن عباس ؓ وائی چه یو سړے د رسول الله ﷺ سره په عرفات کښې ولاړ وو چه د خپل اوښ نه راپریوتو. او ایوب ؒ وائی چه د هغهٔ

[1] په دے حدیث کښې څو فائدے دی اول خو محرم لره لمبل جائز دی. دویم سر وینځل ورله روا دی. په دے شان چه ویښتهٔ غوځ نهٔ شی. دریم د خبرو احد قبلول چه دا په صحابو کښې مشهور او معروف وو. څلورم رجوع کول سنتو ته کله چه اختلاف واقع وی. او پریخودل د اجتهاد او قیاس هر کله چه روایت صحیح ، صریح، غیر متعارض وی. او دغه لازم دی په ټول امت باندے. او دغه د مؤمنانو لاره ده د صحابؤ رضی الله عنهم او تابعینو او د سلفو صالحینو رحمهم الله. پنځم د سلام جائز کیدل په اودس کونکی او غسل کونکی باندے په خلاف دد ے نه چه په لوئی بول یا متیازے کوی. شپږم جائز کیدل امداد غوښتل په اودس او په غسل وغیره کښې. اووم دد ے نه د مسئلے د تپوسلو طریقه معلومه شوه چه هر کله د چا عالم نه تپوس کوی نو دا تپوس دے او کړی چه څهٔ دے په دے کښې د خدائے حکم؟ یا څهٔ دے د رسول الثقلین ؟ یا څهٔ ده وینه د حضرت ﷺ ؟ یا څهٔ عمل وو په دے باره کښې د خلفاء راشدینو ، صحابؤ او د تابعینو او د مجتهدینو امامانو. او په خپله رائے او انانیت باندے به عمل نهٔ کوے چه دا سراسر خسران او بدنصیبی ده. او اتفاق کړے دے علماؤ په دے چه محرم لره خپل سر واجب دی د جنابت په وخت او باقی پاتے شو غسل صرف د آرام او راحت او د یخوالی او دپاره د آرام دے کښې مذهب د شافعیؤ او جمهورو جواز دے بلاکراهت. او جائز دی د شافعیؤ په نز سره وینځل د بیرے په پاڼو سره یا خطمی سره په دے شان چه ویښتهٔ غوځ نشی. او د کومے پورے چه ویښتهٔ غوځ نهٔ شی فدیه نشته او مالك ؒ او ابو حنیفه ونیلے دی چه هغه حرام دی او د فدیے موجب دی مګر دا روایتونه په هغوی باندے حجت دی.

فَأَوْقَصَتْهُ أَوْ قَالَ فَأَقْعَصَتْهُ وَقَالَ عَمْرٌو فَوَقَصَتْهُ فَذُكِرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ اغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْنِ وَلَا تُحَنِّطُوهُ وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ قَالَ أَيُّوبُ فَإِنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا وَقَالَ عَمْرٌو فَإِنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُلَبِّي

ختې مات شو او رسول الله ﷺ ته د هغې ذکر اوکړے شو. نو حضرت اوفرمائیل غسل ورکړئ دۀ لره په اوبو او د بیرو په پاڼړو سره او کفن کړئ دۀ لره په دوو کپړو کښې او خوشبوئ پرے مۀ لګوئ او سر ورله مۀ پټوئ ابوایوب وائي چه الله پاك به دۀ لره پورته کوی د قیامت په ورځ د لبیك آواز کولو والا او عمرو وئیلے دی آواز کولو سره.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ أَقْبَلَ رَجُلٌ حَرَامٌ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا وَزَادَ لَمْ يُسَمِّ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ حَيْثُ خَرَّ

د ابن عباس نه دغه مضمون مروی شوے دے صرف دومره فرق دے چه هغوی وائي اوچتولے به شی د قیامت په ورځ د لبیك وئیلو سره. او سعید بن جبیر د هغه ځائے نوم نۀ دے اخستے چرته چه هغه پریوتے وو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلًا أَوْقَصَتْهُ رَاحِلَتُهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ فَمَاتَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْهِ وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ وَلَا وَجْهَهُ فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا

د ابن عباس نه روایت دے چه یو سړی لره د هغۀ اوښې لاندے راګوزار کړو هغه محرم وو. نو مړ شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دۀ لره په اوبو او د بیرے په پاڼړو غسل ورکړئ او په دوؤ کپړو کښې ئے کفن کړئ او ددۀ مخ او سر مۀ پټوئ دے به د قیامت په ورځ تلبیه ویونکے پاسی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَجُلًا كَانَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْرِمًا فَوَقَصَتْهُ نَاقَتُهُ فَمَاتَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْهِ وَلَا تَمَسُّوهُ بِطِيبٍ وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّدًا

د ابن عباس نه روایت دے چه یو سړی د رسول الله ﷺ سره احرام تړلے وو. د هغۀ اوښې هغه راګوزار کړو او هغه مړ شو. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل دۀ له غسل ورکړئ په اوبو او د بیرے په پاڼړو سره او په دوؤ کپړو کښې ئے کفن کړئ او خوشبوئی پرے مۀ لګوئ او مۀ ورله سر پټوئ. ځکه دے به د قیامت په ورځ په سر کښې تلبید کړے شوے پاسی (تلبید د څۀ څیز نه ویښتو یو ځائے کولو ته وئیلے شی دد ے نه استحباب د تلبید ثابت شو)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَجُلًا وَقَصَهُ بَعِيرُهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُغْسَلَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَلَا يُمَسَّ طِيبًا وَلَا يُخَمَّرَ رَأْسُهُ فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّدًا

ابن عباس حديث بيانوي چه يو سړے د نبي ﷺ خواله راغے او هغه محرم وو. او د خپلے اوښے نه اوغورځيدو او د هغهٔ څټ مات شو. نبي ﷺ حكم اوكړو چه په اوبو او د بيرے په پاڼړو سره دهٔ له غسل وركړئ او په دوؤ كپړو كښې ئے كفن كړئ او خوشبوئي پرے مهٔ لګوئ. او سر ئے د كفن نه بهر پاتے كړئ. شعبه وائي بيا ماته خما شيخ داسے روايت اوكړو چه سر او مخ دواړه ئے بهر كړئ. ځكه دے به د قيامت په ورځ تلبيد كړے شوے پاسي[1]

بَابُ جَوَازِ اشْتِرَاطِ الْمُحْرِمِ التَّحَلُّلَ بِعُذْرِ الْمَرَضِ وَنَحْوِهِ

باب : د مُحرم د حلال والي شرط كول د څهٔ بيمارئ وغيره په وجه سره جائز دي

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ضُبَاعَةَ بِنْتِ الزُّبَيْرِ فَقَالَ لَهَا أَرَدْتِ الْحَجَّ قَالَتْ وَاللهِ مَا أَجِدُنِي إِلَّا وَجِعَةً فَقَالَ لَهَا حُجِّي وَاشْتَرِطِي وَقُولِي اللَّهُمَّ مَحِلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي وَكَانَتْ تَحْتَ الْمِقْدَادِ

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه رسول الله ﷺ تشريف راوړو د ضباعه بنت زبير خواله او ورته ئے اوفرمائيل چه تا د حج اراده كړے ده؟ هغوي اووے چه آو قسم دے په الله چه زهٔ اكثر بيماره يم نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه حج اوكړه او شرط اوكړه او داسے اووايه چه اے الله احرام كهولا وول خما هغه ځائے دي كوم ځائے چه تهٔ ما اودروے. او هغوي د مقداد په نكاح كښې وه.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ النَّبِيُّ ﷺ عَلَى ضُبَاعَةَ بِنْتِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ

د حضرت عائشه فرمائي چه رسول الله ﷺ تشريف راوړو ضباعه بنت زبير رضي الله عنها خواله نو هغے اووے يا رسول الله ﷺ ! زهٔ د حج اراده لرم

[1] : ددے تولو روايتونو نه د مذهب د امام شافعي رحمه الله او د احمد او د اسحق رحمهما الله تائيد كيږي چه محرم كله مړ شي دهٔ ته به توره كپړه مهٔ اغوندئ او نهٔ به ورله سر پټوئ نهٔ به پرے خوشبوئي لګوئ او مالك او اوزاعي او ابوحنيفه رحمهم الله وغيره نورو وئيلے دي چه ددے حكم په مثل د غير محرم دے. او د بيرے د پاڼړو سره د غسل وركولو استحباب هم ثابت شو. او محرم او غير محرم دواړه په دے كښې برابر دي. او دا مذهب دي د شافعي رحمه الله او طاؤس او عطاء او مجاهد او ابن منذر رحمهم الله او د نورو فقهاؤ. او منع كړے ده مالك رحمه الله او نورو خلقو.

اللهِ إِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ وَأَنَا شَاكِيَةٌ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ حُجِّي وَاشْتَرِطِي أَنَّ مَحِلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي

ليکن زۀ بيماره يم نبي ﷺ اوفرمائيل حج اوکړه او دا شرط اوکړه چه خما احرام کهولاويدل به هغه ځائے وي چرته چه ته ما اودروے.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا مِثْلَهُ

د حضرت عائشې نه ددغې پشان روايت دے (کوم چه پورته تير شو

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ ضُبَاعَةَ بِنْتَ الزُّبَيْرِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنِّي امْرَأَةٌ ثَقِيلَةٌ وَإِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ فَمَا تَأْمُرُنِي قَالَ أَهِلِّي بِالْحَجِّ وَاشْتَرِطِي أَنَّ مَحِلِّي حَيْثُ تَحْبِسُنِي قَالَ فَأَدْرَكَتْ

ابن عباس وائي چه ضباعة بنت زبير د رسول الله ﷺ خواله راغله او اوئے ويل چه زۀ يوه درون بارے ښځه يم او د حج اراده کوم نو تاسو ماته څۀ حکم کوئ نو حضرت ﷺ اوفرمائيل د حج احرام اوتړه او ورسره دا شرط اوکړه چه اے الله! خما احرام کهولاويدل به په هغه ځائے کښ وي چرته چه ته ما (د بيمارئ وغيره په وجه سره) منع کړے ابن عباس اووئيل بيا هغوی حج اوکړو (اود احرام د کهولاولو ضرورت رانغے)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ ضُبَاعَةَ أَرَادَتِ الْحَجَّ فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَشْتَرِطَ فَفَعَلَتْ ذَلِكَ عَنْ أَمْرِ رَسُولِ اللهِ ﷺ

ابن عباس وائي چه ضباعه د حج اراده اوکړه او نبي ﷺ حکم اوفرمائيلو هغې ته چه په خپل احرام کښ شرط اوکړي او هغوی د حضرت ﷺ په حکم سره دغه شان اوکړو [1]

بَابُ إِحْرَامِ النُّفَسَاءِ وَاسْتِحْبَابِ

باب د حائضې او د نفاس والا ښځې احرام او د احرام

[1] ددے حديث نه معلومه شوه. چه چا ته د څۀ مرض دوره کيږي او هغې يره وي لکه دمه او تبه وغيره مرضونه چه دي. نو دۀ لره جائز دي چه د احرام تړلو په وخت دا شرط اوکړي چه کچرے زۀ ناجوړه شوم نو احرام به پرانزم. بيا د د بيمارئ په وخت احرام کهولاؤ کړي. او دغه قول دے حضرت عمر بن خطاب او علي او ابن مسعود رضي الله عنهم او د نورو صحابؤ او د تابعينو رحمهم الله نه د يو جماعت لو دغه قول دے د احمد او اسحق او ابوثور رحمهم الله او دغه صحيح روايت دے د شافعي نه. او حجت ددغه ټولو خلقو دا حديث دے د ضباعه. او د ابوحنيفه او مالك رحمهما الله او نورو تابيعينو قول دے چه اشتراط روا نۀ دے. او هغوی دے حديث لره په يو قضيه خاص کښ محمول کړے دے. او وئيلے ئے دي چه دا د هغوی دپاره خاص وو. او قاضي عياض وغيره نورو خلقو دے حديث ته ضعيف وئيلے دے. او اصيلي وئيلے دي چه د اشتراط په باره کښ يو اسناد د حديث نه دے شوے. او نسائي وئيلے دي چه چا دا روايت مرفوع کړے نۀ دے سوا د معمر زهري نه. حالانکه دا قول د قاضي عياض او د اصيلي غلط فاحش دے. او نووي ددے په تغليط باندے تصريح کړے ده. او دا حديث صحيح مشهور دے په صحيح بخاري رحمه الله کښ او مسلم او ترمذي او ابوداؤد او نسائي او د حديثو په ټولو کتابونو کښ چه په هغې باندے اعتبار او اعتماد کولے شي. او په ګڼړو طريقو سره په ډيرو سندونو مختلفو سره د صحابؤ رضي الله عنهم نه مروي شو. او صرف مسلم چه په کومه طريقه سره بيان کړے دے دغه ددے تصحيح او اثبات له پوره دي. او هر کله چه حديث صحيح شو. اشتراط روا شو او دعوی د تخصيص بے دليله ده.

اغْتِسَالِهَا لِلْإِحْرَامِ وَكَذَا الْحَائِضِ

• دپاره د هغوی د غسل د مستحب کیدو بیان

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ نُفِسَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ بِمُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ بِالشَّجَرَةِ فَأَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

حضرت عائشه فرمائی چه نفاس راغے اسماء لور د عمیس ته د محمد بن ابوبکر د پیدا کیدو سره د ذوالحُلیفے په سفر کښې پس حکم اوکړو رسول الله ابوبکر ته چه دے ته اووایه چه اولاهبی او لبیك اووائی[1].

---

[1] د دے حدیث نه معلومه شوه چه احرام د نفاسے او حائضے صحیح دے. او د احرام دپاره دوی لره غسل کول مستحب دی. او د امام شافعی او مالك او ابوحنیفه رحمهم الله او د جمهورو په نز دا غسل مستحب دے. او دحسن او اهل ظاهرو په نز واجب دے. او حائضه او نفاسه ټول افعال په ځائے راوړے شی سوا د طواف او ددوو رکعتونو د طواف نه او د دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه دوه رکعتونه د احرام واجب نۀ دی او نۀ مروی شوے دی د رسول الله نه تصریح ده د دے ابن قیم رحمه الله زاد المعاد کښې.

د رسول الله ﷺ د حج باقی کیفیت

او تلبیه اووے رسول الله ﷺ د غسل سره او غسل بکسر عین هغه شے دے چه په هغے سره سر وینځلے شی. لکه خطمی وغیره او د ویښتو یو ځائے کول دی په څۀ لیسدار څیز سره چه ویښته ګډوډ نۀ وی. او حضرت ﷺ په مصله باندے لبیك اووے او روستو د ماسپخین نه په خپله اوښه باندے سور شو. او بیائے لبیك اووے بیا چه کله بیدا ته اورسیدو لبیك ئے اووے. ابن عباس وائی چه په الله قسم دے چه حضرت ﷺ واجب کړو حج لره په خپله مصلے کښې او اهلال ئے اوکړو او کله چه په اوښه باندے سور شو او اوښه پاسیده اودریده نو بیائے اهلال اوکړو او کله چه د بیداء په خټ باندے ورختلو نو هم ئے اهلال اوکړو او کله به حضرت ﷺ د حج او عمرے سره اهلال فرمائیلو او کله به ئے صرف د حج سره چه عمره د هغے یو جز دے. او د دے وجے نه دا قول ثابت شو چه هغه قارن وو. او په دغه وجه سره شبه راغله چه حضرت ﷺ متمتع وو. او شبه شوه چه حضرت ﷺ افراد کړے وو. او ابن حزم وئیلے دی چه دا ټول د ماسپخین نه مخکښې وو او حالانکه دا وهم دے او صحیح دا ده چه هغه قارن وو. او دا ټول روستو د ماسپخین نه شوی وو. او حضرت ﷺ اهلال د ماسپخین نه پس اوکړو او د دے څوك قائل نشته دے چه احرام هغۀ د ماسپخین نه مخکښې تړلے وو. او ابن عمر وائی چه د اوښے د خوانه ئے اهلال شروع کړو هر کله چه اوښه د هغوی اودریده. او انس وائی چه د ماسپخین مونځ حضرت ﷺ اوکړو او سور شو او دا دواړه حدیثونه صحیح بخاری کښې دی. او د دواړو روایتونو د میلاویدو نه معلومیږی چه حضرت ﷺ د ماسپخین نه پس اهلال اوکړو او بیائے په لبیك سره آواز اوچت کړو. او د هغوی آواز صحابؤ واوریدو. او د الله په امر ئے حکم اوکړو چه خپل آوازونه د تلبیے وئیلو سره اوچتوی. او د حضرت ﷺ سورلیٔ په حج کښې اوښ وو د پالان نۀ محمل وو نۀ هودج یعنی کجاوه نۀ عماری. او زنبیل د توشے لاندے تړلے وو. او د محرم په محمل او کجاوه او عماری باندے په سوریدو کښې اختلاف دے. او د دے په جواز کښې د امام محمد دوه قولونه دی. یو دا چه جائز دی او دغه مذهب دے د امام شافعی او ابوحنیفه. او دویم دا چه منع دی او دا مذهب دے د مالك. بیا رسول الله ﷺ اختیار مند کړو د خپلو صحابؤ لره په نُسُك ثلاثه باندے یعنی په افراد او تمتع او قران کښې بیائے ترغیب ورکړو کله چه مکے نه نزدے اورسیدو چه حج قران لره فسخ کړئ او عمره په ځائے راوړئ احرامونه کهولاو کړئ د کومو خلقو سره چه ښاروے نشته دے. بیائے مروه ته نزدے د هغے حکم حتمی اوفرمائیلو او په ذی الحُلیفه کښې د اسماء بنت عمیس د ابوبکر صدیق د بی بی حمل اوزیږیدو او محمد بن ابی بکر پیدا شو. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل هغے ته کوم چه په دے باب کښې تیر شو (زاد المعاد). او د دوی د قیصے نه



عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا بَكْرٍ يَأْمُرُهَا أَنْ تَغْتَسِلَ وَتُهِلَّ

بَاب بَيَانِ وُجُوهِ الْإِحْرَامِ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَأَهْلَلْنَا بِعُمْرَةٍ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيُهِلَّ بِالْحَجِّ مَعَ الْعُمْرَةِ ثُمَّ لَا يَحِلُّ حَتَّى يَحِلَّ مِنْهُمَا جَمِيعًا قَالَتْ فَقَدِمْتُ مَكَّةَ وَأَنَا حَائِضٌ لَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ وَلَا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَشَكَوْتُ ذَلِكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انْقُضِي رَأْسَكِ وَامْتَشِطِي وَأَهِلِّي بِالْحَجِّ وَدَعِي الْعُمْرَةَ قَالَتْ فَفَعَلْتُ فَلَمَّا قَضَيْنَا الْحَجَّ أَرْسَلَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

باب : د احرام د قسمونو بیان

حضرت عائشه فرمائي چه راووتو مونږ د رسول الله ﷺ سره د حجة الوداع په كال كښ او لبيك اوويلو مونږ د عمرے . بيا اوفرمائيل رسول الله ﷺ د چا سره چه قرباني شته هغه دِ د حج او عمرے دواړو دپاره لبيك اووائي او په مينځ كښ به احرام نۀ پرانزي ترد ے پورے چه د دواړو نه فارغ شي او حلال شي. حضرت عائشه فرمائي چه بيا زۀ هر كله مكے ته راغلمه نو حائضه وم نۀ مے طواف اوكړو د بيت الله نه مے منډے اووهلے صفا مروه كښ . او دد ے شكايت مے رسول الله ﷺ ته اوكړو نو هغوی اوفرمائيل تۀ د خپل سر ويښته كهولاؤ كړه او ګومنز كړه. او د حج احرام اوتړه او عمره پريږده. فرمائي چه بيا ما دغه شان اوكړل. بيا چه كله مونږ د حج نه فارغ شو . نو اوليږلم زۀ رسول الله ﷺ د عبد الرحمن بن ابوبكر سرۀ د تنعيم په طرف او ما د

درے مسئلے معلومے شوے. اول غسل د محرم دويم دا چه حائضه به د خپل احرام دپاره غسل كوی. دريم دا چه احرام صحيح دے د حائضے دپاره . بيا چه هر كله حضرت ﷺ روا ن شو او لبيك ئے وئيلو . او صحابۇ په لبيك كښ چه څنګه غوښته زياته وو كمۇو او حضرت ﷺ نۀ منع كول او سند فرمائي بيا چه كله روحاء ته اورسيدل هلته ورته يو څنګلی خر حلال شوے ميلاؤ شو. حضرت ﷺ اوفرمائيل دا پريږدوئ چه دد ے ويشتونكے راشي. ترد ے پورے چه هغه راغے. او هغۀ اووے يا رسول الله ﷺ دا خر ستا په اختيار كښ دے. حضرت ابوبكر رضی الله عنه ته حكم اوكړو چه دے لره اوويشه. دد ےنه ثابته شوه چه محرم لره د هغه ښكار خوړل حلال دی چه هغه ددۀ په واسطه نۀ وی ښكار كړے شوے. او صاحب د هغے چا چه دغه ښكار كړے وو. كيد ے شي چه د ذوالحُليفه نه نۀ وو تير شوے لكه چه ابوقتاده غير محرم وو (او حال د هغوی مخكښ تير شوے دے) او دد ے قيصے نه معلومه شوه چه په هبه كښ د وهبت ونيل ضروری نۀ دی. بلكه هر څنګه لفظ چه هم وی هبه ښكار د ښكاری ملك كيد ے شي څكه چه هغه ئے د تختيدو نه اوباسی. او د هغه چا ملك كيږی چه څوك ئے په زخمی وغيره كيدو سره د تختيدو نه راواړوی. نۀ د هغه چا چه هغه ئے اوومومی. او معلومه شوه چه غوښه د څنګلی خر حلاله ده. او معلومه ښوه چه وكيل كول په تقسيم كښ روا دی. او معلومه شوه چه تقسيمونكے يو كيدل پكار دی. (زاد المعاد)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ إِلَى التَّنْعِيمِ فَاعْتَمَرْتُ فَقَالَ هٰذِهِ مَكَانُ عُمْرَتِكِ فَطَافَ الَّذِيْنَ أَهَلُّوْا بِالْعُمْرَةِ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حَلُّوْا ثُمَّ طَافُوْا طَوَافًا آخَرَ بَعْدَ أَنْ رَجَعُوْا مِنْ مِنًى لِحَجِّهِمْ وَأَمَّا الَّذِيْنَ كَانُوْا جَمَعُوْا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَإِنَّمَا طَافُوْا طَوَافًا وَاحِدًا

هغه ځائے نه عمره اوکړه. اونے فرمائیل چه دا ستا د عمرے ځائے دے. بیا طواف اوکړو هغه خلقو چه اهلال ئے کړے وو د عمرے د بیت الله نه چا پیره او منډے ئے اووهلے په صفا او مروه کښې بیائے احرام کهولاؤ کړو. او بیائے طواف اوکړو دوباره د دے نه پس چه حج ئے کړے وو او واپس راغلل د منی نه. او کومو خلقو چه حج او عمره په یو ځائے کړے وو (یعنی قاریان وو) هغوی یو طواف اوکړو (د عمرے او حج دواړو دپاره)[1].

---

[1]: دا احادیث تول په جواز تمتع او افراد او قران باندے دال دی او اجماع ده په دے باندے چه دا درےواړه قسمونه د حج روا دی. او هغه نهی کومه چه د حضرت عمر او حضرت عثمان نه مروی دی ترد دے توضیح به وراندے راشی.

افراد: دا دے چه احرام اوتړی صرف د حج او د هغے نه فارغ شی.

تمتع: دا دے چه احرام اوتړی د عمرے په میاشتو د حج کښې او د هغے نه فارغ شی او بیا په دغه کال حج اوکړی.

قران: دا دے چه دد دے دواړو احرام یو ځائے اوتړی.

او دغه شان کۀ یو سړی د عمرے احرام اوتړو او بیائے د عمرے د طواف نه مخکښې د حج احرام اوتړو نو هم قارن شو. او کۀ چرے احرام ئے د حج اوتړو او وریسے ئے احرام د عمرے اوتړو نو ددۀ دپاره د شافعی دوه قولونه دی. اصح قول د هغۀ دا دے چه دۀلره د عمرےاحرام صحیح نۀ دے. او دویم قول ئے دا دے چه صحیح دے. او هغه قارن کیږی په شرط دد دے چه د احرام د عمرے د حج د احرام د کهولاویدو نه مخکښې اوتړی. او یو قول دے چه مخکښې د وقوف عرفات نه ئے اوتړی. او یو قول دے چه مخکښې د فعل فرض نه ئے اوتړی. او یو قول دے چه مخکښې د طواف قدوم نه ئے اوتړی او اختلاف کړےدے علماؤ چه په دے دریؤ کښې غوره کوم یو دے. نو د شافعی او مالك او اکثرو خلقو قول دے چه غوره افراد دے بیا تمتع بیا قران. او د امام احمد او نورو فقهاؤ قول دے چه غوره تمتع دے. او د ابوحنیفه دویم قول دے د شافعی او د نووی په نز صحیح غوره والے د افراد دے بیا د تمتع او بیا د قِران دے. او د رسول الله په حج کښې هم د علماؤ اختلاف دے چه حضرت مفرد وو یا متمتع وو یا قارن وو.

د اردو کتب مترجم وائی چه ابن قیم دغه قول اختیار کړےدے چه حضرت قارن وو او قران غوره دے. او په زاد المعاد کښې ئے دے لره بنۀ په قوی دلائلو سره ثابت کړے دے. انتهٰی. بیا نووی فرمائیلے دی چه هره فرقه د خپل مذهب موافق د رسول الله حج لره گرځوی. او صحیح دا دے چه مخکښې هغه مفرد وو او بیائے احرام د عمرے هم اوتړو د هغے نه روستو او داخل ئے کړو هغے لره په حج کښې او قارن شو. دد دے نه پس نووی دلائل د دریؤ مذهبونو ذکر کړے دی او ترجیح ئے ورکړے ده قول د شافعی لره چه افراد غوره دے. بیائے دد دے نه پس وجه د صحابؤ د اختلاف بیان کړے ده. کوم چه د رسول الله ﷺ په حج کښې واقع شوے وو. چه خلاصه د هغے دا ده چه اول احرام حضرت د افراد اوکړو ځکه ورته مفرد وائی بیائے حکم د تمتع ورکړو ځکه متمتع شو. او یواځے د حج د احرام ئے د عمرے پخپله هم په دے کښې پیوست کړو ځکه ورته قارن اووئیلے شو. غرض دا چه په دویم حالت کښې حضور په قران کښې وو او په دے کښې اخبار دے د هغه وخت چه حضور حکم اوکړو خپلو ملگرو ته چه د عُمرے احرام کهولاؤ کړی: د چا سره چه قربانی نۀ وی. او د چا سره چه هدی

وي هغه دِ قارن پاتے شي. په دے معنی سره چه هغوی عمرے لره د حج سره يو ځائے کړي او هغه احرام ئے کهولاؤ نهٔ کړو ځکه چه د هغوی سره هدي وه او حضور ﷺ دے دپاره عمرے لره په حج کښې داخله کړه چه په دے کښې د زړهٔ ساتنه د صحابوؓ او تسکين وو او د هغوی دپاره د اطمينان موجب وو ځکه چه د هغوی په نزد د مودے راسے د حج په مياشتو کښې عمره په ځائے راوړل ډير بد وو او په سبب د هدي د موجود والي حضرت ﷺ د دوستانو احرام کهولاؤ نهٔ کړو. او د دے عذر لره ئے بيان اوفرمائيلو. غرض دا چه حضور ﷺ په آخر حج کښې قارن شو او متفق شوے دي په دے باندے علماء چه جائز دي ملاوول د حج په عمره باندے او خنے خلقو په طور د شذوذ په دے کښې اختلاف کړے دے او ددے مانع شوے دي او وئيلے ئے دي چه يو احرام په بل احرام باندے داخليدے نهٔ شي. لکه چه يو مونځ د بل مانځهٔ سره ميلاويدے نهٔ شي. او اختلاف ئے کړے دے عمرے لره د حج سره په ميلاويدو کښې او دے ته د رائے خاوندانو جائز وئيلے دي. او دغه قول دے د شافعي ددے روايتونو په رُو سره. او خنے خلقو دے لره منع کړے ده. او د نبی ﷺ سره ئے خاص کړے ده. ځکه چه دغه وخت د عمرے ضرورت وو د حج په مياشتو کښې (مگر نووی دغه ضرورت لره نهٔ دے بيان کړےاو کومو خلقو چه وئيلے دي چه حضور ﷺ متمتع وو. ددے مطلب د هغوی دا دے چه حضور ﷺ د حج په مياشتو کښې په عمرے سره تمتع يعني برخورداري او منده. او په دے صورت کښې په ټولو حديثونو کښې تتبيق راتلے شي. او حضرت عائشےؓ مخکښې خو د حج احرام تړلے وو لکه چه په زياتو رواياتو سره مروي دي. روستو ددے نه حضور ﷺ هغے ته حکم اوکړو چه حج فسخ کړه او عمره اوکړه لکه چه نورو ملګرو ته ئے حکم اوفرمائيل د چا سره چه هدي نهٔ وه ځکه چه د حضرت عائشےؓ په احرام کښې راويانو اختلاف کړے دے. څوک وائي د عمرے وو او څوک وائي د حج وو. او په دے روايت کښې تصريح ده ددے خبرے چه هر کله هغوی حائضه شوه نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل چه خپله عمره پريږده. او د حج احرام اوتړه او په دے صورت کښې په ټولو روايتونو کښې تطبيق راتلے شي چه د چا د حج احرام وئيلے دے هغوی په اعتبار د اول احرام وئيلے دے او چا چه عمرے وئيلے دے هغوی په اعتبار د آخر احرام وئيلے دے. او دا چه ئے کوم اوفرمائيل چه خپله عمره پريږده ددے نه دا امر نهٔ دے چه دا باطل کړه. بلکه مطلب دا دے چه اوس ددے افعال روستو کړه تر دے پورے چه پاکه شے. او د حج افعال په ځائے راوړل شروع کړه. ځکه چه افعال د حج له وقوف عرفات دے يو ويشتل د شيطانانو دي. او دا حيض په حالت کښې هم کيدے شي. په خلاف د طواف د عمرے لونئے فعل دے. او په جماعت کښې د ننه دے بيا د حائضے نه هغه څنګه کيدے شي چنانچه مؤيد دے ددے تاويل هغه روايت چه هغه مروي دے د ابن طاؤسؒ نه او هغه روايت کړے دے د خپل پلار نه او هغه د حضرت عائشےؓ نه چه هغوی احرام تړلے وو د عمرے او هر کله چه مکے ته راغله نو مخکښې د طواف نه حائضه شوه. او د حج احرام ئے اوتړو. او مناسك د حج ئے ادا کړل او حضور ﷺ د منٰی نه د واپسئ په ورځ هغے ته اوفرمائيل چه تهٔ چه کوم اوس طواف او سعی کوے په دے کښې د حج او عمرے دواړو طواف او سعی ادا کيدے شي. غرض دا چه ددے نه ښهٔ واضحه شوه چه عمره باقي ده. باطله او لغوه نهٔ ده. او په دويم روايت کښې چه کوم راغلے دي چه حضرت ﷺ هر کله هغے لره د عبد الرّحمٰن سره تنعيم ته اوليږله او ورته ئے اوفرمائيل چه دا ستا د عمرے ځائے دے. نو ددے مطلب دا دے چه حضرت عائشےؓ اراده لوکړه چه عمره د هغے د حج نه جدا شي. لکه څنګه چه د نورو مؤمنانو د ميانډو وغيرهن اوشو. يا لکه د هغه صحابوؓ چه هغوی د خان سره هدي نهٔ وه راوستے. او هغوی حج لره په عمرے کولو فسخ کړو او بيائے احرام لره کهولاؤ کړو او د حج احرام ئے جدا شولو. نو هغوی هم اراده اوکړه چه خما عمره هم جدا شي. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه تنعيم نه يوه عمره واخله او دا د هغه عمرے په ځائے ده کومه چه تا کړے وه. او دا چه ئے کوم اووے چه کومو خلقو حج او عمرے لره جمع کړو الخ ددے نه معلومه شوه چه قارن لره يو طواف کول د بيت الله شريف کافي دي د حج او د عمرے دواړو د طرفنه او عمره د هغهٔ په حج کښې شامليږي او امام شافعي ددے قائل دے. او دا منقول دي د ابن عمر او جابر او عائشه او مالك او احمد او اسحٰق او داؤد نه. او ابوحنيفه وائي چه لازم دي لره دوه طوافونه او دوه سعی او دغه منقول دي د علی بن ابي طالب او ابن مسعود او شعبي او نخعي رضي الله عنهم نه (کله من النووی بالاختصار)

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ حَتَّى قَدِمْنَا مَكَّةَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ مَنْ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ وَلَمْ يُهْدِ فَلْيَحْلِلْ وَمَنْ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ وَأَهْدَى فَلَا يَحِلُّ حَتَّى يَنْحَرَ هَدْيَهُ وَمَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ فَلْيُتِمَّ حَجَّهُ قَالَتْ عَائِشَةُ ؓ فَحِضْتُ فَلَمْ أَزَلْ حَائِضًا حَتَّى كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ وَلَمْ أُهْلِلْ إِلَّا بِعُمْرَةٍ فَأَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ أَنْقُضَ رَأْسِي وَأَمْتَشِطَ وَأُهِلَّ بِحَجٍّ وَأَتْرُكَ الْعُمْرَةَ قَالَتْ فَفَعَلْتُ ذَلِكَ حَتَّى إِذَا قَضَيْتُ حَجَّتِي بَعَثَ مَعِي رَسُولُ اللهِ ﷺ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ وَأَمَرَنِي أَنْ أَعْتَمِرَ مِنَ التَّنْعِيمِ مَكَانَ عُمْرَتِي الَّتِي أَدْرَكَنِي الْحَجُّ وَلَمْ أَحْلِلْ مِنْهَا

د حضرت عائشې ؓ نه روایت دے چه رااوتو مونږ د رسول الله ﷺ سره په حجة الوداع کښې. او چا د حج اهلال اوکړو هر کله چه مکے ته راغلو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چا چه د عمرے اهلال اوکړو او قربانی ئې نۀ ده راوستې هغه د احرام کھولاؤ کړی. او چا چه د عمرے احرام کړے دے او قربانی ئې راوستې ده هغه د احرام نۀ کھولاؤ وی او کومې پورې چه ئې قربانی د نحر کړے نۀ وی او چا چه د حج اهلال کړے دے هغه د حج پوره کړی. حضرت عائشه وائی ما ته حیض راغې او زۀ د عرفې د ورځې پورې حائضه وم او ما د عمرے اهلال کړے وو. بیا ما ته حضرت ﷺ اوفرمائیل چه کونسې پرانزه او سر گومنز کړه او د حج اهلال اوکړه او عمره پریږدوه. ما دغه شان اوکړل. کله چه حج اوشو نو څما سره ئې عبد الرحمٰن ؓ اولیږو چه زۀ د تنعیم نه عمره رااوگرځومه. هغه عمره چه هغې لره ما پوره کړے نۀ وه. او د حج احرام مے ترلے وو ددے د احرام د کھولاویدو نه مخکښې[1].

عَنْ عَائِشَةَ ؓ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ وَلَمْ أَكُنْ سُقْتُ الْهَدْيَ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ مَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيُهْلِلْ بِالْحَجِّ مَعَ عُمْرَتِهِ ثُمَّ لَا يَحِلَّ حَتَّى يَحِلَّ مِنْهُمَا جَمِيعًا قَالَتْ فَحِضْتُ فَلَمَّا دَخَلَتْ لَيْلَةُ عَرَفَةَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي كُنْتُ أَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ فَكَيْفَ أَصْنَعُ بِحَجَّتِي قَالَ انْقُضِي رَأْسَكِ وَامْتَشِطِي وَأَمْسِكِي عَنِ الْعُمْرَةِ

حضرت عائشه وائی رااووتو مونږ په حجة الوداع کښې او ما د عمرے اهلال اوکړو او هدی مے نۀ وه راوستلے او حضور ﷺ اوفرمائیل د چا سره چه هدی وی هغه د حج او عمرے دواړو اهلال اوکړی او احرام د نۀ پرانزی د کومې پورې چه د دواړو نه فارغ شوے نۀ وی. او زۀ حائضه شوم. بیا چه هر کله د عرفې شپه شوه نو ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ! ما د عمرے اهلال کړے وو نو اوس حج څنګه اوکړم؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل سر کھولاؤ کړه او گومنز ئې کړه. د عمرے د افعالو نه قلار شه د حج اهلال اوکړه. بیا

[1] مطلب ددے د ډیر تفصیل سره مخکښې تیر شو دے.

وَأَهِلِّي بِالْحَجِّ قَالَتْ فَلَمَّا قَضَيْتُ حَجَّتِي أَمَرَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ فَأَرْدَفَنِي فَأَعْمَرَنِي مِنَ التَّنْعِيمِ مَكَانَ عُمْرَتِي الَّتِي أَمْسَكْتُ عَنْهَا

عَنْ عَائِشَةَ ؓ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَقَالَ مَنْ أَرَادَ مِنْكُمْ أَنْ يُهِلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُهِلَّ بِحَجٍّ فَلْيُهِلَّ وَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُهِلَّ بِعُمْرَةٍ فَلْيُهِلَّ قَالَتْ عَائِشَةُ ؓ فَأَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ بِحَجٍّ وَأَهَلَّ بِهِ نَاسٌ مَعَهُ وَأَهَلَّ نَاسٌ بِالْعُمْرَةِ وَالْحَجِّ وَأَهَلَّ نَاسٌ بِعُمْرَةٍ وَكُنْتُ فِيمَنْ أَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ

عَنْ عَائِشَةَ ؓ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ مُوَافِينَ لِهِلَالِ ذِي الْحِجَّةِ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مَنْ أَرَادَ مِنْكُمْ أَنْ يُهِلَّ بِعُمْرَةٍ فَلْيُهِلَّ فَلَوْلَا أَنِّي أَهْدَيْتُ لَأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ قَالَتْ فَكَانَ مِنَ الْقَوْمِ مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنْهُمْ مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ قَالَتْ فَكُنْتُ أَنَا مِمَّنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ فَخَرَجْنَا حَتَّى قَدِمْنَا مَكَّةَ فَأَدْرَكَنِي يَوْمُ عَرَفَةَ وَأَنَا حَائِضٌ لَمْ أَحِلَّ مِنْ عُمْرَتِي فَشَكَوْتُ ذَلِكَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ دَعِي عُمْرَتَكِ وَانْقُضِي رَأْسَكِ وَامْتَشِطِي وَأَهِلِّي بِالْحَجِّ قَالَتْ فَفَعَلْتُ فَلَمَّا كَانَتْ لَيْلَةُ الْحَصْبَةِ وَقَدْ قَضَى اللَّهُ حَجَّنَا أَرْسَلَ مَعِي عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ فَأَرْدَفَنِي وَخَرَجَ بِي إِلَى التَّنْعِيمِ فَأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ فَقَضَى اللَّهُ حَجَّنَا وَعُمْرَتَنَا وَلَمْ يَكُنْ فِي ذَلِكَ

چه هر کله ما حج اوکړو . عبد الرّحمٰن ته حکم اوکړو هغوی زۀ په اوبښ باندے شاته کینولم او عمره مے اوکړه رائے ورم. د هغے عمرے په ځائے چه د هغے د افعالو په ځائے راوړلو نه زۀ قلاره شوے وم.

حضرت عائشه فرمائی چه مونږ راااووتو د رسول الله ﷺ سره او هغوی اوفرمائیل کۀ څوك غواړی د حج او د عمرے دواړو اهلال د اوکړی. او څوك چه خوښه وی صرف د حج اهلال د اوکړی او د چا چه خوښه وی د عمرے . او رسول الله ﷺ د حج اهلال اوکړو اود حضور ﷺ سره نورو خلق هم اوکړو او خنو د حج او عمرے دواړو اهلال اوکړو. او خنو صرف د عمرے اهلال اوکړو او زۀ په دغه خلقو کښې وم چه چا د عمرے اهلال کړے وو.

حضرت عائشه فرمائیلے دی را اووتو مونږ په حجة الوداع کښې د ذی الحجے هلال ته نږدے او رسول الله ﷺ اوفرمائیل د چا چه اراده وی د عمرے هغه د اهلال اوکړی او کۀ چرے څما سره هدی نۀ وے نو ما به د عمرے اهلال کړے وو. بیا چه په هغوی کښې د عمرے اهلال اوکړو او چا د حج اهلال اوکړو. او زۀ (یعنی عائشه) په هغوی کښې ووم چا چه د عمرے اهلال کړے وو. بیا چه هر کله مکے ته راغلو او د عرفے ورځ شوه. نو زۀ حائضه شوم. او لاتر اوسه مے د عمرے نه احرام نۀ وو کهولاؤ کړے .بیا مے حضرت ﷺ ته عرض اوکړو. حضور ﷺ راته اوفرمائیل عمره پریږدوه. او د حج اهلال اوکړه. بیا ما دغه شان اوکړو .بیا چه کله شپه محصب شوه او الله څما حج پوره کړو نو څما سره حضور ﷺ عبد الرّحمٰن بن ابوبکر اولیږو. هغوی زۀ د ځان نه روستو کینولم او تنعیم ته ئے یوړمه او ما اهلال د عمرے اوکړو او الله تعالیٰ څما حج او عمره دواړه پوره

هَدْيٌ وَلَا صَدَقَةٌ وَلَا صَوْمٌ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ وَأَهَلَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِالْحَجِّ فَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ فَحَلَّ وَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ أَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَلَمْ يَحِلُّوا حَتَّى كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نَرَى إِلَّا الْحَجَّ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِسَرِفَ أَوْ قَرِيبًا مِنْهَا حِضْتُ فَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي فَقَالَ أَنَفِسْتِ يَعْنِي الْحَيْضَةَ قَالَتْ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ إِنَّ هَذَا شَيْءٌ كَتَبَهُ اللهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ فَاقْضِي مَا يَقْضِي الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لَا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتَّى تَغْتَسِلِي قَالَتْ وَضَحَّى رَسُولُ اللهِ

کړل او نه په دے کښې قرباني واجب شوه نه صدقه او نه روژه[1].

حضرت عائشه فرمائي چه مونږ د حجة الوداع په کال د رسول الله ﷺ سره اووتو. نو په مونږ کښې څه د عمرے احرام اوتړلو او څه د حج او د عمرے دواړو. او څه صرف د حج. او رسول الله ﷺ د حج احرام اوتړلو. نو څه چه د عمرے احرام تړلے وو نو هغهٔ احرام کهولاؤ کړو. او څه چه د حج او د عمرے دواړو دپاره احرام تړلے وو هغوی احرام کهولاؤ نه کړو تر دے پورے چه د نحر ورځ راغله (یعنی د ذوالحجة لسم تاریخ)

حضرت عائشه فرمائي مونږ راااووتو د حضرت ﷺ سره او خیال مو نهٔ وو مګر د حج (ځکه چه عمره د حج په ورځو کښې بده ګڼړلے شوه د جهالت په ورځو کښې چه حضرت ﷺ دغه خیال ختم کړو) کله چه سرف ته راغلو نو زهٔ حائضه شومه او په ژړا شومه. حضرت ﷺ راغلے او تپوس ئے اوکړو چه ولے تا ته حیض شوے دے؟ ما اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل دا خو د آدم د لونړو دپاره الله تعالی لیکلی دی بس اوس ته د حج کار کوه سوا د طواف نه چه هغه به د غسل نه روستو کول وی. او حضرت ﷺ د خپلو بیبیانو د طرف نه د غوا

[1]: دد ے روایتونو نه معلومه شوه چه دهٔ بنیادم په یو څناور باندے کیناستل روا دی کهٔ چرے څناور کښې طاقت د وړو وی. او معلومه شوه چه درے واړه قسمونه د مناسك حج روا دی. افراد، تمتع او قران. او په دے باندے د ټول اهل اسلام اجماع ده. او شپ مُحصّب روستو د ایام تشریق نه دے. په کومه شپه چه په مُحَصَّب کښې حضور شپه تیر کړه او منی ته ئے سفر اوکړو او تاریخ د مدینے نه د روانیدو پوره بیان شوے دے. او دا چه کوم حضرت عائشے اوفرمائیل چه نهٔ په هغے کښې قرباني اوشوه نهٔ صدقه او نهٔ روژه دا مشکله ده ځکه چه په قران او تمتع دواړو کښې قرباني واجب ده. او تاویل دد ے دادے چه ددغے قربانئ نه مراد هغه قرباني ده چه په سبب د ار تکاب محظوراتو لازمیږی لکه د احرام په حالت کښې خوشبوئی لګول یا مخ پټول یا ښکار کول یا ویښتهٔ ویستل یا نوکونه پرېکول وغیره دی. غرض دا چه مطلب دا دے چه په دے وجوهاتو سره څهٔ قرباني نهٔ لازمیږی. او دا تاویل مختار دے نووی په دغے باندی ډیر تصریح کړه ده.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نِسَائِهِ بِالْبَقَرِ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَذْكُرُ إِلَّا الْحَجَّ حَتَّى جِئْنَا سَرِفَ فَطَمِثْتُ فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي فَقَالَ مَا يُبْكِيكِ فَقُلْتُ وَاللهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي لَمْ أَكُنْ خَرَجْتُ الْعَامَ قَالَ مَا لَكِ لَعَلَّكِ نَفِسْتِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ هٰذَا شَيْءٌ كَتَبَهُ اللهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ افْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لَا تَطُوفِي

قرباني اوکړله[1]

د مؤمنانو مور حضرت عائشه صد فرمائي چه مونږ رااووتو د رسول الله ﷺ سره نهٔ وو څهٔ خيال زمونږ مګر د حج کولو بيا چه هر کله سرف ته راغلو نو زهٔ حائضه شومه او رسول الله ﷺ ځما خواله راغې او ما ژړل حضرت ﷺ د ژړا د سبب تپوس اوکړو ما عرض اوکړو چه کاش په دے کال نهٔ وے راغلے حضرت ﷺ اوفرمائيل شائد تاته حيض شويدے. ما عرض اوکړو آو. حضرت ﷺ اوفرمائيل دا څيز خو الله پاک د ادم عليه السلام د ټولو لونړو دپاره ليکلے ده. اوس تهٔ هغه کار کوه کوم چه حاجيان کوي. بغير د دے نه چه طواف مهٔ کوه د بيت الله شريف

[1] : دد ے نه معلومه شوه چه حائضے او نفاسے لره ټول کارونه د حج سوا د طواف نه روا دي لکه چه پورته ذکر شو. او سرف يو مقام دے مکے ته نژدے په څو ميله باندے. او دد ے حديث نه استدلال نيولے دے بخاري چه حيض په ټولو ښځو باندے راځي. په خلاف د هغه چا چه هغوی قائل دي چه دا بلا د بني اسرائيلو نه شروع شوے ده. او بخاري په دے باندے انکار کړے دے او استدلال د بخاري صحيح دے. او معلومه شوه چه حائضے لره غسل مسنون دے لکه چه د احرام غسل دے او معلومه شوه چه طواف د حائضے صحيح نهٔ دے. او دا په اتفاق سره منلے شوے ده مګر دد ے په علت کښې اختلاف دے. به سبب اختلاف د راشتراط طهارت در طواف (په سبب د اختلاف په شرط د پاکوالي په طواف کښې). پس امام مالك او شافعي او احمد وئيلے دي چه طهارت د طواف شرط دے. او ابو حنيفه وائي شرط نهٔ دے او دغه د داؤد د مذهب دے دا چه د چا په نيز طهارت د طواف شرط دے د هغوی په نز د پاکوالي د نشوالي په سبب د حائضے طواف باطل دے. او چا چه طهارت شرط کړے نهٔ دے هغوی وائي چه حائضه د طواف نه ځکه منع شوے ده چه دے لره په جماعت کښې اودريدل پريوځي. او دا چه کوم فرمائيلے دي چه حضور قرباني اوکړه د بيبيانو رضی الله عنهن د طرفنه په دےکښې احتمال دے چه حضرت تپوس کړے وي ځکه چه قرباني د بل د طرفنه بے د هغهٔ د تپوس نه صحيح کيدے نشي. او امام مالك دد ے حديث نه استدلال کړے دي چه قرباني د غوا د اوښ نه افضله يعني غوره ده. او د شافعي په نز اوښ غوره دے. ځکه چه حضرت فرمائيلے دي چه څوك د جمعے په ورځ په اول وخت کښې جماعت ته راشي هغه داسې دے لکه د اوښ قرباني کولو والا. او دد ے نه شافعي استدلال کړے دے. او دد ے روايتونو نه معلومه شوه چه حج په ښځه باندے واجب دے. چه د لارے استطاعت لري او د محرم سره ملګري کيدل هم په استطاعت کښې داخل دي يا نهٔ دي. په دے کښې اختلاف دے. او په دې باندے اجماع ده چه خاوند د نفلي حج نه ښځه منع کولے شي. پاتے شو فرض حج نو د جمهورو قول دے چه نهٔ شي منع کولے. او د شافعي دوه قولونه دي. يو د جمهورو موافق دے او اصح قول د هغهٔ دا دے چه هغه علی الفور واجب نهٔ دے. او ملګرو شافعيؤ تصريح کړے ده چه ښځے له مستحب خو دغه امر دے چه د خاوند سره حج اوکړي. لکه چه په احاديث صحيحه کښې راغلے دي. او اوس چونکه زمانه د فتنے ده لهٰذا کهٔ دد ے په وجوب باندے فتوی ورکړے شي نو هم به شايد په نظر د مصلحت لرے نهٔ وي.

بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرِي قَالَتْ فَلَمَّا قَدِمْتُ مَكَّةَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ اجْعَلُوهَا عُمْرَةً فَأَحَلَّ النَّاسُ إِلَّا مَنْ كَانَ مَعَهُ الْهَدْيُ قَالَتْ فَكَانَ الْهَدْيُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَذَوِي الْيَسَارَةِ ثُمَّ أَهَلُّوا حِينَ رَاحُوا قَالَتْ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ طَهَرْتُ فَأَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَفَضْتُ قَالَتْ فَأُتِيَنَا بِلَحْمِ بَقَرٍ فَقُلْتُ مَا هَذَا فَقَالُوا أَهْدَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نِسَائِهِ الْبَقَرَ فَلَمَّا كَانَتْ لَيْلَةُ الْحَصْبَةِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ يَرْجِعُ النَّاسُ بِحَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ وَأَرْجِعُ بِحَجَّةٍ قَالَتْ فَأَمَرَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ فَأَرْدَفَنِي عَلَى جَمَلِهِ قَالَتْ فَإِنِّي لَأَذْكُرُ وَأَنَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ أَنْعَسُ فَيُصِيبُ وَجْهِي مُؤْخِرَةَ الرَّحْلِ حَتَّى جِئْنَا إِلَى التَّنْعِيمِ فَأَهْلَلْتُ مِنْهَا بِعُمْرَةٍ جَزَاءً بِعُمْرَةِ النَّاسِ الَّتِي اعْتَمَرُوا

نه د کومې پورې چه پاکه شوې نه نے فرمائي چه بیا هر کله مونږ مکې ته راغلو نو رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته اوفرمائیل چه په دې احرام عمره اوکړئ پس خلقو احرام کهولاؤ کړو یعنی د عمرې کولو نه پس مګر د چا سره چه هدي وه او د نبي ﷺ سره هدي وه او د ابوبکر او عمر سره او د مالدرانو سره هم بیا هغوی احرامونه اوتړل یعنی چا چه کهولاؤ کړې وو، بیا روان شو یعنی حج ته فرمائي حضرت عائشه هر کله چه ورځ د قربانۍ شوه نو زهٔ پاکه شوم او ماته حضرت ﷺ حکم اوفرمائیلو نو طواف افاضه مې اوکړو او مونږ له دغوا غوښه راوړې شوه نو ما اونیل دا څهٔ دي؟ خلقو اووې دا رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو د طرفه غوا قربانۍ کړې وه بیا چه هر کله شپه د محصب اوشوه نو ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ خلقو حج او عمره اوکړه او واپس شو او ما صرف حج اوکړو. بیا حضرت عبد الرّحمٰن بن ابوبکر رضی الله عنه ته حکم اوفرمائیلو هغوی زهٔ په خپل اوښ باندې شاته کیښنولم او فرمائي چه ما ته ښهٔ یاد دي چه زهٔ په هغه ورځو وړه جینۍ وم. او ماته به خوب جوته راکوله او څما مخ به د کجاوې د روستو لرګي سره لګیدلو. تر دې پورې چه تنعیم ته اورسیدو او د هغه ځائے نه مې د عمرې احرام اوتړلو د هغه عمرې په بدله کښې کومه چه نورو خلقو کړې وه [1].

[1] امام ابن قیم رحمه الله په زاد المعاد کښې فرمائیلي دي چه فقهاؤ په دې مسئله کښې اختلاف کړے دے چه د هغې بنا قصه د حضرت عائشې ده. او هغه مسئله داده چه هر کله ښځه د عمرې احرام اوتړي او حائضه شي او طواف نهٔ شي کولے مخکښې د وقوف عرفات نه نو احرام د عمرې به مات کړي. او د حج مفرد اهلال به اوکړي یا به حج د عمرې سره میلاؤ کړي او قارن به شي. پس فقهائے کوفه لکه امام اعظم او د هغوی ملګري چه دي هغوی وائي چه عمره به ماته کړي او حج به د عمرې سره میلاؤ کړي. دا مذهب دے د محدثینو لکه امام احمد او د هغوی اتباع چه دي. او کوفیانو د عروه د روایت نه استدلال کړے دے چه په هغې کښې مذکور دي چه حضرت حضرت عائشې ته اوفرمائیل چه ته خپله عمره پریږده او کونسۍ پرانژه او په آخر کښې ئے اوفرمائیل چه دا ستا د عمرې بدله ده. او دا روایت سره د ترجیح پورته تیر شوے دے. غرض دا چه دا روایت دلالت کوي چه هغوی متمتع وه. او دلالت کوي چه هغوی عمره پریخوده او د حج احرام ئے اوتړو. او کچرې هغوی په خپل احرام باندې باقي پاتې وې نو ګومنز کول خو د هغوی روا نهٔ وو. او د دغې وجې نه چه هر کله هغوی د

تنعيم نه راغله او عمره ئے راوړه نو حضرت ورته اوفرمائيل دا ستا د عمرے بدله ده. اوس کچرے اوله عمره باقي وے نو حضرت به دا ولے فرمائيل چه دا د هغے بدله ده. بلکه د تنعيم عمره به خان له يوه عمره وه. او محديثينو ددے دا جواب ورکړے دے. چه کچرے تاسو تأمل اوکړو په دے راويت کښ او ټول الفاظ او عبارات کوم چه په دے کښ به مختلفو طريقو مروي شوے دي په دے مو غور اوکړو نو ښيپ به درته واضحه شي چه هغوي قارن وو. او هغوي عمره پريخودے نه وه. چنانچه د مسلم په روايتونو کښ ددے خبرے تصريح ده چه ره کله حضرت عائشے اد حج طواف اوکړو نو رسول الله ورته اوفرمائيل چه دا طواف ستا د حج او عمرے دواړو دپاره کافي دے. او هغوي عرض اوکړو چه خما په زړۀ کښ شك دے چه ما تراوسه حج نۀ دے کړے او طواف مے نۀ دے کړے په دے وجه چه حضرت عبد الرّحمٰنؓ ته اوفرمائيل چه دوي لره تنعيم ته بوځئ. او د طاؤس په روايت کښ هم دغسي دي چه حضرت د منٰي نه د رخصت کيدو په ورځ اوفرمائيل چه ستاسو دا طواف (يعني طواف افاضه) د حج او عمرے دواړو دپاره کافي شو. اغرض دا نصوص ښکاره د ليلونه دي چه هغوي قارن وو. او حج او عمره دواړه هغوي ادا کړل. چنانچه پورته تصريح شوے ده او مونږ ذکر کړے دي او دال دي دا نصوص چه قارن له يو طواف او يوه سعي کافي ده. او په ښکاره دليل دے چه هغوي عمره پريخودے نۀ ده. او احرام د هغوي باقي وو مگر د هغے افعال په ځائے راوړل ئے روستو کړو. او دا چه ئے کوم اوفرمائيل چه خپل سر کهولاؤ کړو او گومنز ئے کړو. په دے کښ البته اشکال شته دے په حل کولو کښ د فقهاؤ خلور مسلکونه دي.

اول مسلك: دا دے چه دا قول دليل دے د عمرے د پريخودو له ځنگه چه د حنفيؤ قول دے.

دويم مسلم: چه دا قول د ليل د ددے خبري چه محرم لره خپله گومنز کول روا دي. او د گومنز کولو د منع کيدو نه نۀ څۀ دليل د کتاب نه شته او نۀ د ستن نه او نۀ د اجماع امت نه. او دا قول د ابن حزم وغيره دے.

دريم مسلك: دادے چه دا لفظ رد کول او دا وئيل چه لفظ صرف عروه بيان کړے دے او د ټولو راويانو خلاف ئے وئيلے دے. او طاؤس او اسود او قاسم وغيره نورو دا روايت بيان کړے دے. مگر چا دا لفظ نۀ دے وئيلے چه حضرت د سر کهولاوولو او گومنز کولو فرمائيلے دي. او دے جماعت وئيلے دي چه حماد د زيد نه هغوي د هشام نه هغوي د خپل پلار عروه نه روايت کړے دے چه عروه وئيلے دي ما ته څو کسانو بيان کړے دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه تۀ خپله عمره پريږدوه او سر کهولاؤ کړه او گومنز ئے کړه. غرض دا چه ددے حديث نه معلومه شوه چه د سر کهولاويدو خبره عروه په خپله د حضرت عائشے نه نۀ ده اوريدلے.

څلورم مسلك: دادے چه د عمرے پريخودلو نه مراد دادے چه دے لره په خپل مال باندے پريږده. او دا امر مراد نۀ دے چه بالکل ئے پريږده اوددے دوه دليلونه ډير پاخۀ دي. اول دا فرمائيل د حضرت د طواف افاضه په وخت چه دا طواف ستاسو د حج او عمرے دواړو دپاره کافي دے. ددے نه معلومه شوه چه عمره بالکل باطله ده. دويم دا فرمائيل د هغوي کافي دي چه كُونِي فِي عُمْرَتِكِ يعني په خپله عمره کښ اوسيږه. او د تنعيم د عمري په باره کښ چه کوم حضرت اوفرمائيل چه دا ستاسو د عمرے ځائے دے. ددے نه مراد دادے چه حضرت ام المؤمنين محبوبه سيد المرسلين دا غوښتل چه يوه عمره مفرد په ځائي راوړي. او حضور هغوي له خبر ورکړو چه طواف ستاسو د حج او عمرے دواړو دپاره کافي شو. او عمره په حج کښ داخله شوه. ليکن هغوي بار بار اووے چه لکه څنگه چه د نورو مياندو د مؤمنانو عمره اوشوه يا د هغه خلقو چه د چا سره هدي نۀ وه چه د هغوي د عمرے احرام جدا او د حج احرام جدا وو. دغه شان دِ خما هم يوه عمره د احرام سره اوشي. بيا چه ئے هر کله د تنعيم نه عمره راوړه نو حضرت اوفرمائيل دا داسے عمره ده څنگه چه تا غوښتله. او په دے کښ هم اختلاف دے چه حضرت عائشے د هر څۀ نه مخکښ د څۀ احرام تړلے وو نو په دے کښ هم دوه قولونه دي. اول دا چه د عمرے مفر داحرام وو او دغه صحيح دے ځکه چه په صحيح حديث کښ راغلے دي چه حضرت صحابۀ لره ددرے قسمه حج اجازت ورکړے وو او فرمائيلے ئے وو کۀ خما سره هدي نۀ وے نو ما به هم د عمرے

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَبَّيْنَا بِالْحَجِّ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِسَرِفَ حِضْتُ فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ الْمَاجِشُونِ غَيْرَ أَنَّ حَمَّادًا لَيْسَ فِي حَدِيثِهِ فَكَانَ الْهَدْيُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَذَوِي الْيَسَارَةِ ثُمَّ أَهَلُّوا حِينَ رَاحُوا وَلَا قَوْلُهَا وَأَنَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ أَنْعَسُ فَيُصِيبُ وَجْهِي مُؤْخِرَةَ الرَّحْلِ

د عائشے نه مونږ د حج تلبیه اووئیله تردے پورے چه هر کله مونږ سَرف ته اورسیدو نو زهٔ حائضه شوم. رسول الله ﷺ خما خواله تشریف راؤړو او ما ژړل. نور مخکښې د ماجشون د حدیث په شان مضمون بیان شوے. مگر په دے کښې دا نشته چه هدی د رسول الله ﷺ سره او د ابوبکر او عمر سره او د مالدارانو سره وه هم بیا دغه خلقو اهلال اوکړو هر کله چه لاړو. او نهٔ دا ذکر شته چه حضرت عائشے فرمائیلی دی چه زهٔ کم عمره جینئ وم. پریشانئ به ورم لو خما مخ به د کجاوے د لرګی سره لګیدلو.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْرَدَ الْحَجَّ

عبد الرّحمٰن بن قاسم د پلار نه او هغه د حضرت عائشے نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ افراد اوکړو د حج.[1]

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهِلِّينَ بِالْحَجِّ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ

حضرت عائشه فرمائی چه رااووتو مونږ د رسول الله ﷺ سره د حج د لبیک وئیلو سره د حج په میاشتو کښې په وختونو او مواضع د حج کښې (یا د ممنوعات شرعیه حج نه بچ شوی) او د حج په شپو کښې (مراد دے نه دا

احرام تړلے وو. او دا چه کوم حضرت اوفرمائیل چه عمره به وی او د حج احرام اوتړه دا هم په دے باندے دلیل دے. او دویم قول دادے چه هغوی اول د حج مفرد احرام تړلے وو. چنانچه ابن عبد البر وئیلے دی چه دا رایت د قاسم بن محمد او اسود بن یزید او عروه دے تولو خلقو د حضرت عائشے نه هغه خبره چه هغه دلالت کوی چه هغوی احرام د حج تړلے وو نهٔ د عمرے بیا ئے دلائل د هغوی بیان کړلو او مذهب اول ئے ثابته کړه او په آخر کښې ئے اووے چه محرم لره اګر چه وینبهٔ ویستل منع دی مګر ګومنز کول چا منع کړی دی او په ګومنز کولو کښې اختلاف دے او هغه البته د اجتهاد خائے دے (زاد المعاد)

[1]: د حضرت عائشے او ابن عمر نه چه کوم دا مروی دے چه رسول الله افراد کړے د حج. ددے درے معانے کیدے شی اول دا چه صرف د حج اهلال ئے کړے وی. دویم: دا چه په عمل کښې ئے افراد کړے وی یعنی د حج او عمرے دواړو د پاره ئے طواف او یوه سعی په خائے راوړی وی. او دریم دا چه دغه یو حج ئے کړے وی. د هجرت نه پس او دویم حج ئے نهٔ وی کړے په خلاف د عمرے په هغه ئے څلور پیرے کړے ده. او صحیح معنی د افراد حج دغه دویمه معنی ده. او دلته د ابن عمر په قول کښې دغه معنی مراد ده چه افعال ددواړو په یو خائے راوړے شی او په دے سره په ټولو روایتونو کښې تطبیق هم راتلے شی. او د حضرت د شان لائق هم دے په دے نظر سره حضرت په خپل امت باندے مهربانی او آسانی غوښتله او ددے آسانئ په لاړ سره حضور حضرت عائشے ته هم فرمائیلے وو چه ستا دا طواف (یعنی طواف افاضه) حج او عمرے دواړو لره کافی دے. او په دے صورت کښې د هغه روایتونو تاویل کول نهٔ پریوځی په کومو کښې چه د قران او تمتع تصریح راغلے ده (زاد المعاد)

وَفِي حُرُمِ الْحَجِّ وَلَيَالِي الْحَجِّ حَتَّى نَزَلْنَا بِسَرِفَ فَخَرَجَ إِلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ مِنْكُمْ هَدْيٌ فَأَحَبَّ أَنْ يَجْعَلَهَا عُمْرَةً فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلَا فَمِنْهُمُ الْآخِذُ بِهَا وَالتَّارِكُ لَهَا مِمَّنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ فَأَمَّا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ مَعَهُ الْهَدْيُ وَمَعَ رِجَالٍ مِنْ أَصْحَابِهِ لَهُمْ قُوَّةٌ فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي فَقَالَ مَا يُبْكِيكِ قُلْتُ سَمِعْتُ كَلَامَكَ مَعَ أَصْحَابِكَ فَسَمِعْتُ بِالْعُمْرَةِ قَالَ وَمَا لَكِ قُلْتُ لَا أُصَلِّي قَالَ فَلَا يَضُرُّكِ فَكُونِي فِي حَجِّكِ فَعَسَى اللهُ أَنْ يَرْزُقَكِيهَا وَإِنَّمَا أَنْتِ مِنْ بَنَاتِ آدَمَ كَتَبَ اللهُ عَلَيْكِ مَا كَتَبَ عَلَيْهِنَّ قَالَتْ فَخَرَجْتُ فِي حَجَّتِي حَتَّى نَزَلْنَا مِنًى فَتَطَهَّرْتُ ثُمَّ طُفْنَا بِالْبَيْتِ وَنَزَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُحَصَّبَ فَدَعَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ فَقَالَ اخْرُجْ بِأُخْتِكَ مِنَ الْحَرَمِ فَلْتُهِلَّ بِعُمْرَةٍ ثُمَّ لِتَطُفْ بِالْبَيْتِ فَإِنِّي أَنْتَظِرُكُمَا هَا هُنَا قَالَتْ فَخَرَجْنَا فَأَهْلَلْتُ ثُمَّ طُفْتُ

قول د الله تعالى دے اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمَاتٌ او د امام شافعي رحمه الله او د جمهورو علماؤ په نزد د صحابؤ او تابعينو نه او د اسلاف صالحينو نه د حج مياشتے، شوال ، ذيقعده او لس شپے د ذي الحجے دي چه تماميږي د قربانۍ د شپے د صبا پورے يعنى د لسم تاريخ د صبا پورى او د امام مالك نه هم دغه مروى دے او مشهور روايت د مالك دا دے چه هغه شوال او ذيقعده او د ذي الحجه ټوله مياشت ده. او دغه مروى دے د ابن عباس نه او د ابن عمر نه او مشهور روايت دد ے دواړو دغه دے چه هغه مونږ پورته د جمهورو نه نقل کړو) تر دے پورے چه په سرف کښ كوز شو او حضرت ﷺ د صحابؤ په طرف اووتو او اوئے فرمائيل چه د چا سره هدى نه وى نو ځما په نزد غوره داده چه هغوى په دے احرام عمره اوکړى او د چا سره چه هديه نۀ وى هغوى د نۀ كوى پس ځنے خلقو په دے باندے عمل اوكړو او ځنو او نۀ كړو. (ځكه چه امر د وجوب په طور باندے نۀ وو بلكه د استحباب په طور باندے وو) حالانكه د هغوى سره هدى نۀ وه (مگر بيا هم هغوى رضى الله عنها احرام د حج تړلے وو او نيت ئے هم خاص د حج پاتے وو) او د رسول الله ﷺ سره خو هدى وه او د هغه خلقو سره هم چه د هغوى طاقت د هدى وو او رسول الله ﷺ ځما خواله تشريف راوړو او ما ژړل حضرت ﷺ اوفرمائيل ته ولے ژاړے؟ ما عرض اوكړو چه تاسو ملګرو ته څۀ اوفرمائيل ما واؤريدل چه تا د عمرے حكم وركړو (او زۀ د هغے د ادا كولو نه په سبب د حيض مجبوره يم) حضرت ﷺ اوفرمائيل ولے؟ ما عرض اوكړو چه زۀ مونځ نه شم كولے (دد ے نه معلومه شوه چه حيض ته بے نمازى راغله وئيل مستحب دى چه په دے كښ حياء او تهذيب دى، او دا اصطلاح كيدے شى دد ے حديث نه وتلى وى) حضرت ﷺ اوفرمائيل تا له څۀ نقصان دے؟ ته په حج كښ

بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَجِئْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي مَنْزِلِهِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ فَقَالَ هَلْ فَرَغْتِ قُلْتُ نَعَمْ فَآذَنَ فِي أَصْحَابِهِ بِالرَّحِيلِ فَخَرَجَ فَمَرَّ بِالْبَيْتِ فَطَافَ بِهِ قَبْلَ صَلَاةِ الصُّبْحِ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَدِينَةِ

مشغوله اوسیره (یعنی اوس د عمرے په افعالو کښې تاخیر کوه اګر که احرام د عمرے دے) نو د الله نه امید دے چه تاته به هغه هم عنایت اوفرمائی. او خبره خو داده چه آخر ته د آدم علیه السلام اولاد نے او الله تعالی ستا دپاره هم لیکلی دی کوم څه ئے چه د هغوی تولو دپاره لیکلی دی (ددے نه معلومه شوه چه تخصیص د حیض او ابتداء د هغے د بنی اسرائیلو نه باطله ده) بیا فرمائی چه زهٔ حج ته اووتم او مونږ چه په منیٰ کښې کوز شو نو زهٔ پاکه شوم او طواف مے اوکړو د بیت الله نه. او رسول الله ﷺ په محصب کښې کوز شو. او عبد الرحمٰن بن ابوبکر ته ئے اوفرمائیل چه خپله خور د حرم نه باهر بوزه چه احرام اوتړی (ددے نه استدلال کړے دے هغه خلقو چه هغه قائل دی چه مکے والا هر کله چه عمره کوی نو په حل کښې یعنی د حرم نه باهر د ځی او احرام د تړی او روانهٔ دی چه دغلته د حرم نه احرام تړی او که په حرم کښې هم احرام اوتړی او بیا حل ته لاړ شی د طوف نه مخکښې نو هم کافی کیږی او په دهٔ باندے دم واجب نهٔ دے. او که په دم کښې احرام اوتړی هم او حل ته لاړ نهٔ شی او طواف او سعی او حلق اوکړی نو په دے کښې دوه قولونه دی. یو دا چه عمره ددهٔ صحیح نهٔ ده د کوم پورے چه د حل په طرف نهٔ وے وتلے بیا به طواف او سعی او حلق کوی. او دویم دادے چه عمره صحیح ده مګر په دهٔ دم لازمیږی (یعنی د یوے بزے) ځکه چه دهٔ میقات پریخودلو. او علماؤ وئیلی دی چه د حل په طرف وتل واجب دی. ددے دپاره چه نسک د هغے په حل او حرم دواړو کښې اوشی. لکه چه حاجی دواړو ته ځی او په عرفات کښې وقوف کوی او هغه په حل کښې دے بیا په مکه کښې داخلیږی د طواف دغیره دپاره. دا د شافعی رحمه الله د مذهب تفصیل دے. او دغه وئیلی دی جمهورو علماؤ چه واجب دی وتل د حل په طرف د عمری د احرام دپاره د کوم

طرفنه چه حل نږدے وی. او د امام مالک هم دغه مذهب دے چه احرام د عمرے د تنعیم نه دے او د معتمدینو میقات دغه دے مګر دا قول شاذ او مردود دے او د جمهورو دغه قول دے چه ټول طرفونه د حل برابر دی خوا تنعیم وی یا څهٔ بل (نووی) او طواف اوکړی د بیت الله. او وے فرمائیل چه زهٔ ستاسو د دواړو دلته انتظار کونکے یم. حضرت عائشه صدیقه فرمائی چه بیا مونږ دواړه اووتو. او ما لبیک اووے او د بیت الله طواف مے اوکړو او د صفا مروه سعی مے اوکړه. او مونږ راغلو د رسول الله خواله او حضرت په هغه منزل کښې وو په شپه کښې. بیا حضرت اوفرمائیل تهٔ فارغه شوے ما اووے چه آو بیا حضرت خپلو صحابؤ ته د تلو آواز اوکړو او راااووتو او په بیت الله بلندے تیر شو او طواف مو اوکړو (دا طواف وداع وو) او د سحر د مانځهٔ نه مخکښې بیا مدینے ته روان شو[1].

---

[1] : لو حضرت د صحابؤ په طرف اووتو او اوئے فرمائیل چا سره چه هدی نهٔ وی. الخ. په زاد المعاد کښې دی چه رومبے رسول الله صحابؤ له اختیار ورکړو په نسک ثلاثه کښې. بیا چه هر کله مکے ته نزدی اورسیدو نو حکم ئے اوکړو چه کومو خلقو د حج او قران احرام تړلے دے او هدی ورسره نهٔ وی هغه دِ دغه احرام فسخ کړی د عمرے سره. بیا هر کله مروه ته اورسیدل نو په طریق د وجوب ئے هغوی ته حکم اوکړو.

قوله اواوئے فرمائیل چه خپلے خور لره د حرم نه باهر بوزه الخ. په زاد المعاد کښې دی چه د رسول الله په عمر کښې یوه هم داسې عمره نشته دی چه حضرت د مکے نه بهر وتلے وی او د حل نه ئے د عمرے احرام تړلے وی. لکه چه نن صبا خلق ئے کوی. او د هغوی تولے عمرے دغه وے کومے چه په مکه کښې د بهر نه د راتلونکو والاوی (یعنی په دے باندے قیاس کول د مکے والاؤ د عمرے چه هغوی اوسیدونکی د مکے دی. او هغوی ته حکم ورکول چه حل ته لاړ شئ احرام اوتړئ قیاس مع الفارق دے) او حالانکه رسول الله د وحی نازلیدو نه پس دیارلس کاله په مکه کښې مقیم وو. مګر هیڅکله د حضرت نه دا مروی شوی نهٔ دی چه هغوی په دغه موده کښې چرته د حرم نه بهر حل ته تلی دی او د عمرے احرام ئے تړلے دے او حضرت چه کومه عمره کړے ده هغه ئے مشروع ګرځولے ده. هغه د هغه سړی عمره ده چه د بهر نه مکے ته راغلے وی. نهٔ د هغه چا چه په مکه کښې اوسیږی چه هغه بهر ته راااوځی او احرام اوتړی او دا د هغوی په زمانه کښې هغوی سره وو او وجه د حضرت عائشے د فعل دا وه چه هغے د عمرے احرام تړلے وو او حائضه شوه. او حضرت ورته حکم اوکړو چه په عمره سره حج میلاو کړه او هغوی قارنه شوه. او حضرت اوفرمائیل چه ستا دا طواف او عمرے دواړو دپاره کافی شو. نو هغوی په دی خفه شوه چه نورو بیبینا خو حج او عمره دواړه په مستقل (یعنی جدا جدا احرام سره) ادا کړے دی ځکه چه هغه متمتعات وے او هغوی ته حیض هم نهٔ وو راغلے. او هغوی قران هم نهٔ وو کړے. او زهٔ په داسے عمرے سره خم چه

عَنْ أُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا | د ام المؤمنین حضرت عائشے فرمائي چه ځنے خلقو زمونږ

هغه د حج په دوران کښې شوے ده. په دے سره هغه خفه شوه. نو حضرت د هغې ورور ته حکم اوکړو چه د تنعیم نه ئې په عمرے کولو سره راوله چه د دے زړهٔ خوشحاله شي. او حالانکه نهٔ رسول الله د هغه ځائے نه عمره کړے وه چه په دغه حج کښې او نهٔ چا صحابي چه د هغوی سره وو. (انتهی)

غرض د دے کلام نه دا دے چه نن صبا چه کوم د مکے خلق د احرام او عمرے د پاره حل ته تلل واجب ګڼړي. او احرام د هغه په زمکه د ننه نهٔ پیژنی دا خلاف ده. او د قیصے د حضرت عائشے نه استدلال د هغوی باطل دے ځکه چه فعل لره عموم نهٔ دے علی الخصوص هر کله چه د دے فعل یو علت خاص او موندے شي. او هغه مونږ پورته بیان کړے دی. او کلیه د رسول الله زمونږ د پاره علی العموم موجوده ده چه حضرت اوفرمائیل چه څوك اراده لري د حج او د عمرے او د میقات د ننه وی هغه د د هغه ځائے نه کوم ځائے کښې چه اوسیږی لبیك آواز پورته کړی تر دے پورے چه اهل مکه د مکے نه. او دا لفظ په حدیث کښې په سندونو متعدده سره په "باب المَوَاقیت" کښې د مسلم د پاسه تیر شو پس مکے والا لره د عمرے د احرام د پاره حل ته تلل ضروري نهٔ دی وَذٰلِكَ المقصود

او په مسك الختام کښې دی چه صاحب سب وئیلي دی چه اهل مکه عام دی خو لکه ساکنان مکه وی یا مجاور ان د مکے یا واردان د مکے وی. او که احرام ئې د حج د پاره تړلے وی یا د عمرے د پاره. او د دے نه معلومه شوه چه میقات د عمری د اهل مکو د پاره خاص مکه ده. لکه چه د حج هم دغه مکه ده. او دغه شان د قارن هم خاص مکه ده. مګر محب طبری وئیلي دی چه زهٔ نهٔ پوهیږم چه چا مکے ته د عمرے میقات وئیلي وی. او جواب د هغهٔ دا دے چه حضور پخپله میقات د عمرے دغه مکه مقرر کړے ده د دے حدیث په رُو سره (چه د هغې تکره مونږ د مسلم نه اوس لیکلې وه) او د ابن عباس نه مروی دی چه هغوی اوفرمائیل اے اهل مکه څوك چه ستاسو نه عمره ادا کول غواړی نو هغوی له پکار دی چه د خپل ځائے او د هغې په مینځ کښې د بطن محسر نه ئې اوکړی. او دائے هم وئیلي دی چه د اهل مکو نه چه څوك د عمرے اراده کوی هغه د تنعیم ته ځی او د حرم نه د بهر کیږی. پس دا آثار موقوف دی. او حدیث مرفوع د صحیح مقابل کیدے نهٔ شي. د دے نه پس حضرت عائشے د تنعیم د تلو دغه وجه بیان کړے ده کومه چه مونږ پورته بیان کړله بیا وائی په دے حدیث کښې د حضرت عائشے نه دا ثابته نهٔ ده چه عمره بغیر د حل د تلو نه صحیح نهٔ ده د هغه چا د پاره چه هغه په مکه کښې اوسیږی. او هر کله چه په دے کښې دا احتمال راااووتو نو هغه نور هم د مسلم د حدیث ذکر کړی شوی مقابل او برابر کیدے نهٔ شي. او طاؤس وئیلي دی چه زهٔ نهٔ پوهیږم چه کوم خلق د تنعیم نه عمره راوړی هغه ثواب مومی یا عذاب؟ خلقو اووے عذاب په ولے مومی؟ هغوی اووے بیت الله او د هغې طواف پریږدی او څلور میله لاړ شي او په دغه موده کښې دوه سوه طوافونه کولے شي او هر طواف د هغهٔ د دے تلو راتلو بے معنی نه غوره او افضل دے. اګر چه دا کلام د هغوی په تفضیل کښې د طواف دے په عمره باندے.

د اردو کتاب مترجم وائی چه تا هم دلالت کوی د دے آمد ورفت په بے معنی کیدو او بلا وجه په نهٔ شي کیدو باندے. (انتهی ما قال المترجم)

او امام احمد رحمه الله وئیلي دی چه ځنے خلقو عمرے ته په مکه کښې د طواف کولو نه افضل وئیلي دی. خنو په مکه کښې اوسیدلو او طواف ته افضل وئیلي دی. او د احمد رحمه الله ملګرو په نز عمره د مکے کله چه د مکے نه احرام اوتړی نو صحیح ده مګر په دے باندے دم لازمیږی. ځکه چه د دهٔ د میقات نه احرام لره پریخودو. او صاحب مسك الختام وئیلي دی چه واجب وئیل دم ته په دے باندے بے دلیله دی. انتهی ما قال فی مسك الختام

غرض دا چه حقیر په نز د مختار دغه د دے چه مکے والا ته احرام د عمرے د مکے نه تړل په قول د رسول الله ﷺ جائز دی. او د هغې په وجوب باندے څهٔ دلیل نشته چه هغه دی حل ته را اوځی. او قضیه د حضرت عائشے یو اځې وجوب نهٔ شي کیدے.

قَالَتْ مِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ مُفْرَدًا وَمِنَّا مَنْ قَرَنَ وَمِنَّا مَنْ تَمَتَّعَ

نه د حج مفرد اهلال كړے وو. او څنو د قران كړے وو او څنو د تمتع[1].

عَنْ عَمْرَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا تَقُولُ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِخَمْسٍ بَقِينَ مِنْ ذِي الْقَعْدَةِ وَلَا نَرَى إِلَّا أَنَّهُ الْحَجُّ حَتَّى إِذَا دَنَوْنَا مِنْ مَكَّةَ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ إِذَا طَافَ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ أَنْ يَحِلَّ قَالَتْ عَائِشَةُ فَدُخِلَ عَلَيْنَا يَوْمَ النَّحْرِ بِلَحْمِ بَقَرٍ فَقُلْتُ مَا هٰذَا فَقِيلَ ذَبَحَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ أَزْوَاجِهِ قَالَ يَحْيَى فَذَكَرْتُ هٰذَا الْحَدِيثَ لِلْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ فَقَالَ أَتَتْكَ وَاللهِ بِالْحَدِيثِ عَلَى وَجْهِهِ

عمره وائي ما د حضرت عائشے نه اوريدلے دے چه فرمائيلے ئے وو مونږ رااووتو د رسول الله ﷺ سره كله چه پنځۀ تاريخونه د ذيقعدے باقي پاتے شو. او مونږ د حج خيال كوو. تردے پورے چه مكے ته نزدے راغلو نو حضرت ﷺ حكم اوفرمائيلو چه د چا سره هدى نۀ وى هغه د د طواف او سعى نه پس احرام كهولاؤ كړى (يعني حج د عمره كړى) حضرت عائشه فرمائي چه مونږ له د نحر په ورځ (يعني لسم تاريخ) د غوا غوښه راغله. ما ووے دا څۀ دى؟ خلقو اووے دا رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو د طرفنه ذبح كړے ده. بيا ما دا حديث قاسم بن محمدؒ ته ذكر كړو (دا قول د يحيٰى دے) هغوى اووے تا ته ئے بنه برابر لكه چه څنګه وو دغه شان روايت كړے دے.

عَنْ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ يَصْدُرُ النَّاسُ بِنُسُكَيْنِ وَأَصْدُرُ بِنُسُكٍ وَاحِدٍ قَالَ انْتَظِرِي فَإِذَا طَهُرْتِ فَاخْرُجِي إِلَى التَّنْعِيمِ فَأَهِلِّي مِنْهُ ثُمَّ الْقَيْنَا عِنْدَ كَذَا وَكَذَا قَالَ أَظُنُّهُ قَالَ غَدًا وَلٰكِنَّهَا عَلَى قَدْرِ نَصَبِكِ أَوْ قَالَ

د ام المؤمنين حضرت عائشے نه روايت دے چه هغوى عرض اوكړو چه يا رسول الله ﷺ خلق د مكے نه واپس كيږى د دوؤ عبادتونو سره (يعني حج او عمره د جدا جدا ادا كولو سره) حضرت ﷺ اوفرمائيل انتظار اوكره هر كله چه ته پاكه شے نو تنعيم ته لاړه شه او لبيك اووايه او بيا څما سره په فلانى فلانى مقام كښې ميلاؤ شه. زۀ ګمان كوم چه حضرت ﷺ اوفرامائيل د پرونى ورځے او

[1] يعني رومبے ئے د عمرے اهلال كړے وو بيائے د حيض په وجه عمره پريخوده او د حج اهلال ئے اوكړو د مكے نه. او دا اوئيل صحيح شو چه هغه حج له راغلے وه. څكه چه حيض ئے شوے هم نۀ وے نو د عمرے نه پس به ئے ضرور حج ادا كوؤ. لكه تمتع ته چه وئيلے شى چه حج له راغلے دے. اګر چه اول احرام د هغۀ د عمرے نۀ وى.

نَفَقَتِكِ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نَرَى إِلَّا أَنَّهُ الْحَجُّ فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ تَطَوَّفْنَا بِالْبَيْتِ فَأَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْيَ أَنْ يَحِلَّ قَالَتْ فَحَلَّ مَنْ لَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْيَ وَنِسَاؤُهُ لَمْ يَسُقْنَ الْهَدْيَ فَأَحْلَلْنَ قَالَتْ عَائِشَةُ فَحِضْتُ فَلَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ فَلَمَّا كَانَتْ لَيْلَةُ الْحَصْبَةِ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ يَرْجِعُ النَّاسُ بِعُمْرَةٍ وَحَجَّةٍ وَأَرْجِعُ أَنَا بِحَجَّةٍ قَالَ أَوَ مَا كُنْتِ طُفْتِ لَيَالِيَ قَدِمْنَا مَكَّةَ قَالَتْ قُلْتُ لَا قَالَ فَاذْهَبِي مَعَ أَخِيكِ إِلَى التَّنْعِيمِ فَأَهِلِّي بِعُمْرَةٍ ثُمَّ مَوْعِدُكِ مَكَانَ كَذَا وَكَذَا قَالَتْ صَفِيَّةُ مَا أُرَانِي إِلَّا حَابِسَتَكُمْ قَالَ عَقْرَى حَلْقَى أَوَ مَا كُنْتِ طُفْتِ يَوْمَ النَّحْرِ قَالَتْ بَلَى قَالَ لَا بَأْسَ انْفِرِي قَالَتْ عَائِشَةُ فَلَقِيَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ

ثواب ستا دد ے عمر ے ستا د تکلیف او د خرچ موافق دے[1].

حضرت عائشه فرمائی چه مونږ اووتو د رسول الله ﷺ سره او زمونږ د حج نه سوا څۀ بله اراده نۀ وه. بیا چه هر کله مونږ مکے ته راغلو او د بیت الله طواف مو اوکړو. او رسول الله ﷺ حکم اوفرمائیلو چه د چا سره هدی نۀ وی هغه د احرام کهولاؤ کړی. غرض دا چه هغه خلقو کهولاؤ کړو لو د حضور ﷺ بیبیانو هدی نۀ وے راوستے نو هغوی هم احرام کهولاؤ کړو. حضرت عائشه صدیقه فرمائی چه زۀ حائضه شوم او ما طواف اونۀ کړو. بیا چه هر کله شپه د حصبے شوه نو ما حضرتؐ ته عرض اوکړو چه خلق خو د حج او عمر ے کولو سره واپس کیږی او زۀ به صرف حج اوکړم حضرت ﷺ اوفرمائیل په کومو شپو چه مونږ مکے ته راغلے وو تا طواف نۀ وو کړے؟ ما عرض اوکړو چه نه حضرت ﷺ اوفرمائیل بنه ده تۀ د خپل رور سره تنعیم ته لاړه شه او د عمر ے احرام اوتړه او بیا ځما او ستا د میلاویدو فلانے ځائے دے. په دے کښ صفیے اووے چه زۀ خیا کوم چه کیدے شی تاسو ټول حصار کړم (یعنی ما ته هم حیض راغے. او د طواف وداع په انتظار کښ به ځما دپاره حصاریږی) حضرت ﷺ اوفرمائیل خواره شے ګنجے ولے د قربانۍ په ورځ طواف نۀ وو کړے؟ (یعنی طواف افاضه) هغوی عرض اوکړو چه ولے نه (او دا فرمائیل د حضرت ﷺ په طور د روزمره عربۍ او د بول چال وو لکه په ژبه کښ استعمالیږی نه په طریق د خیرو او نۀ د اصلی معنی په مراد سره لکه تربت یداك او قاتله الله چه استعمالیږی او په لاره د بے تکلفۍ او اختلاط وو. او د بی بی صاحبے دا خیال وو چه کیدے شی د طواف وداع دپاره به مونږ ته انتظار

[1] یعنی حضرت اوفرمائیل چه د هغه ځائے نه په واپسئ کښ په فلانی وخت او فلانی مقام باند ے زمونږ سره یو ځائے شه دد ے نه معلومه شوه چه د عبادت ثواب د تکلیف او مشقت او نفقے موافق کمیږی، او زیاتیږی. مګر د نفقے نه هغه نفقه مراد ده چه هغه په شرع کښ منع وی او تکلیف هغه چه حد د رهبانیت او د بدعت ته او نۀ رسی.

مُصْعِدٌ مِنْ مَكَّةَ وَأَنَا مُنْهَبِطَةٌ عَلَيْهَا أَوْ أَنَا مُصْعِدَةٌ وَهُوَ مُنْهَبِطٌ مِنْهَا و قَالَ إِسْحٰقَ مُتَهَبِطَةٌ وَمُتَهَبِطٌ

كول پريوځي. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل چه طواف وداع حائضے ته معاف دے، حضرت اوفرمائيل څۀ پرواه نشته سفر كوئ. حضرت صديقه محبوبه د رسول الله ﷺ فرمائي بيا يو ځائے شوم زۀ د رسول الله ﷺ سره چه په لوړه باندے ختلو د مكے نه او زۀ راكوزيدم په هغه باندے يا زۀ ختمه او هغوی راكوزيدل[1].

---

[1] : ددے حديث نه معلومه شوه چه طواف وداع په حائضه باندے واجب نۀ دے. او نۀ هغے له انتظار د طهر د هغے دپاره ضروری دے. او نۀ په هغے حائضے ددے په وجه دم لازميږی. دغه مذهب دے د شافعي او د ټولو علماؤ كافةً مگر كوم چه نقل كړے دے قاضی عياض خلاف د ځنے سلفو هغه قول شاذ او مردود دے. انتهٰى. په زاد المعاد كښې زمونږ شيخ ابن القيم فرمائي چه دا عمره كومه چه حضرت صديقه محبوبه د محبوب الله د تنعيم نه راوړے وه په دے كښې د فقهاؤ امت څلور مسلكونه دی:

اول دا چه دغه عمره صرف د هغے د زړۀ د خوشحالولو دپاره وه. او هغے ته خو طواف او سعی د هغے د عمرے او حج دواړو دپاره كافی شوی وو.

دويم دا چه هر كله هغه حائضه شو ه نو حضرت حكم اوفرمائيل چه عمره پريږدوه. او حج مفرد په ځائے راوړه. بيا د حج نه پس نے د هغے د قضا راگرځولو حكم وركړو. او عمره د تنعيم قضاوه د رومنۍ عمرے. دا مسلك دے د ابوحنيفه او د هغوی د اتباع كونكو. او ددے قول موافق دا عمره په هغوی باندے واجب وه. او د قول اول په روئی سره جائز وه. او كومه متمتعه چه حائضه شی د هغے ددے دواړو قولونو موافق حال دے چه يا خو به حج په عمره سره ميلاؤ كړی قارنه (يعنی حجِ قران كونكے) به شی. يا به عمره پريږدی مفرده به شی او بيا به د هغے قضا راوړی.

دريم دا چه هر كله عائشه قارنه شوه نو يوه عمره مفرده جدا په ځائے راوړل پرے ضروری شو. ځكه چه عمره د قارن عمرے د اسلام نه كافی نۀ ده. او دا روايت دے د احمد د دواړو روايتونو نه.

څلورم دا چه هغوی مفرده وه. او د طواف قدوم نه په سبب د حيض پاتے شو او افراد ئے په ځائے راوړو تردے پورے چه پاكه شوه. او حج ئے پوره كړو. او دا عمره د تنعيم عمره د اسلام وه. او دا مسلك دے د قاضی اسماعيل بن اسحٰق وغيره. مالكيۇ نه او دا مسلك د اردو كتاب د مترجم په تر زيات ضعيف دے په نسبت د نورو مسلكونو. تنصيص كړے دے ددے ضعف باندے ابن قيم وغيره (انتهٰى)

په هر حال ددے عمرے او ددے روايت نه د جناب صديقے لوئے لوئے اصول د مناسكو معلوم شو. جزائے خير دِ وركړی الله زمونږ مورته او اوچته دِ كړے درجه د هغے په اعلی عليين كښې. آمين

اول دا معلومه شوه چه قارن لره يو طواف او يوه سعی پوره ده د عمرے او حج دواړو دپاره.

دويم د اچه طواف قدوم او طواف ودام ساقط كيږی د ذمے د حائضے نه. افعال د صفيے چه جناب عائشے صديقے بيان كړو هغه اصل زيله ده ددے مسئلے.

دريم دا چه داخلول او شاملول د حج په عمره باندے حائضے لره جائز دی. او ولے به نۀ وی چه هغه ډيره زياته ددے محتاجه ده ځكه چه معذوره ده.

څلورم دا چه حائضه به ټول افعال په ځائے راوړی سوا د طواف نه.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُلَبِّي لَا نَذْكُرُ حَجًّا وَلَا عُمْرَةً وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِمَعْنَى حَدِيْثِ مَنْصُوْرٍ .

حضرت عائشه صدیقه فرمائی چه اووتو مونږ د رسول الله سره په لبیك وئیلو باندے . نۀ مو خاص اراده د حج وه او نۀ خاص د عمرے او بیان کړے دے راوی باقی حدیث په مثل د روایت د منصور کوم چه پورته ذکر شو[1].

پنځم دا چه تنعیم په حل کښې دے.

شپږم دا چه د دوو عمرو په یو کال کښې بلکه په یوه میاشت کښې په ځائے راوړل روا دی.

اووم دا چه تمتع هر کله چه د حج د فوت کیدو یره لری نو هغه له راو دی چه حج په عمره باندے داخل کړی او دا روایت دد ے مسئلے اصل دے.

اتم دا چه د مکے د عمرے دپاره دا روایت اصل دے او څوك چه دے لره مستحب ګنړی د هغهٔ په لاس کښې دد ے روایت نه سوا بل دلیل نشته ځکه چه نبی چرته د مکے نه په بهروتلو سره عمره نۀ ده کړے نۀ یو صحابی کوم چه د هغوی سره وو. سواد جناب صدیقے نه او عمره مکے والاؤ هغه روایت لره د خپل دے قول دلیل ګرځولے دے چه مکے والا لره د احرام د عمرے دپاره حل ته تلل ضروری دی. حالانکه په دی کښې څۀ د بهرتلو په وجوب باندے هیڅکله دلالت نشته دے. ځکه چه عمره د جناب صدیقے یا خو عمره د قضاء وه د هغه عمرے په بدله کښې کومه چه هغوی پریخودے وه. دهغه خلقو د قول موافق کوم چه د ے ته واجب وائی. لکه څنګه چه مونږ پورته وضاحت کړے دے چه یا هلته تلل صرف د هغے د زړهٔ د ساتنے دپاره وو د هغه قول موافق په کوم کښې چه هغے قارنه وائی. حالانکه طواف د سعی د هغے دواړو ته کافی شوی وو. (صرح بذلك كلها ابن القيم فى زاد المعاد)

[1] وئیلے دی زمونږ محقق زمان شیخ ابن قیم علیه الرحمة والغفران په زاد المعاد کښې مطلق احرام تړل د رسول الله بل تعین د نسك نه یو دا قول دے د امام شافعی رحمه الله د هغه د دوو قولونو نه چه وضاحت کړے دے هغوی د هغهٔ په کتاب اختلاف حدیث کښې د هغے نه پس ئے مفصل قول د شافعی نقل کړے دے. او تصریح کړے ده شیخ مذکوره په دے کتاب کښې ځائے په ځائے په دے باندے چه رسول الله قارن وو. او د محدثینو په نز دغه صحیح دے. او کوم چه قائل دی چه د هغهٔ احرام مطلق وو بغیر د تعین د نسك نه د هغوی د اعذارو نه دا روایت هم دے د جناب صدیقے چه د هغے لاندے مونږ لیکلی دی چه دا روایت په بخاری کښې هم مروی شوے دے . او طاؤس هم دے مضمون لره روایت کړے دے. چه مونږ رااووتو د رسول الله سره او هغوی نۀ د حج او نۀ د عمرے نوم اخستلو او د حکم الهی منتظر وو چه حکم الهی د صفا او مروه په مینځ کښې نازل شو او جابر هم روایت کړے دے چه مونږ هغه عمل کوو کوم چه حضور کوو. او حضرت لبیك اووے د توحید سره بیائے ذکر کړه تلبیے لره. بیائے د هغے جواب ورکړے دے چه په دے روایتونو کښې یوه داسے خبره مروی نۀ ده چه هغه دد ے روایتونو مخالف وی. چه په هغے کښې تعین د هغوی د نسك مذکور دے. اوس واوره چه روایت د طاؤس خو مرسل دے. او هغه معارض نۀ شی کیدے د هغه صحیح متصل الاسنادو روایتونو چه هغه د تعین د ثبوت په باب کښې مروی شوے دی. او د طاؤس د روایت اتصال سند نۀ چرته د طریق صحیح نه معلومیږی نۀ د حسن نه او کچرے صحیح هم وی نو د کوم حکم الهی چه هغوی منتظر وو هغه د میقات نه مخکښې حضرت ته اورسیدو او د حضرت خواله د پروردګار عالم د طرفنه یوه فرښته راغله. او هغے اووے چه په دے مبارکه وادئ کښې مونځ ادا کره. او اووایه عمره ده د حج سره یو ځائے .غرض دا چه دا حکم الهی هغوی ته مخکښې د احرام نه رااورسیدو او هغوی د قران احرام اوتړلو. او طاؤس په خپل روایت کښې وئیلے دی چه حکم الهی په هغوی باندے د صفا او مروه په مینځ کښې نازل شو. او دا حکم بل دی د هغه حکم اول نه سوا چه په هغوی په

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَرْبَعٍ مَضَيْنَ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ أَوْ خَمْسٍ فَدَخَلَ عَلَيَّ وَهُوَ غَضْبَانُ فَقُلْتُ مَنْ أَغْضَبَكَ يَا رَسُولَ اللهِ أَدْخَلَهُ اللهُ النَّارَ قَالَ أَوَمَا شَعَرْتِ أَنِّي أَمَرْتُ النَّاسَ بِأَمْرٍ فَإِذَا هُمْ يَتَرَدَّدُونَ قَالَ الْحَكَمُ كَأَنَّهُمْ يَتَرَدَّدُونَ أَحْسِبُ وَلَوْ أَنِّي اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا سُقْتُ الْهَدْيَ مَعِي حَتَّى أَشْتَرِيَهُ ثُمَّ أَحِلُّ كَمَا حَلُّوا

د مؤمنانو مور حضرت عائشه صديقه فرمائي چه رسول الله ﷺ د ذی الحجې په څلورمه يا پنځمه راغے او ځما خواله ئے تشريف راوړو د غصے نه ډك وو. ما عرض اوكړو چه تاسو چا غصه كړى يئ؟ اے د الله رسوله ﷺ! هغه دِ الله په دوزخ كښې اوغورځوی. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه ته نۀ ئے خبره چه ما خلقو ته د يو كار حكم وركړے دے او هغوی په دے كښې تردد كوی. حكم وائی چه زۀ خيال كوم چه حضرت ﷺ اوفرمائيل ګويا هغوی تامل كوی او اوئے فرمائيل چه كچرے مخكښې پوهه وے په خپل كار په كوم چه زۀ روستو پوهه شوم نو ما به هدی د ځان سره نۀ راوسته (ددے نه معلومه شوه چه انبياؤ ته علم غيب نشته) او دلته په مكه كښې به مے اخستے وه. او دغه خلقو چه څنګه احرام كهولاؤ كړے دغه شان به ما

وادئ عقيق كښې نازل شوے وو (يعنی مخكښې د احرام نه) او دا حكم كوم چه په صفا مروه باندے نازل شو دا د فسخ حج حكم دے. چه حضرت صحابه كرامو ته حكم اوكړو چه حج لره د عمرے په كولو فسخ كړئ د چا سره چه هدی نۀ وی. او دلته كښې حضرت اوفرمائيل چه كچرے مخكښې زۀ پوهيدے په خپل كار باندے په كوم چه زۀ په آخر كښې پوهه شوم نو هدی به مے د ځان سره نۀ راوړه (يعنی آرزو ئے اوكړه د احرام د كهولاوولو مګر په سبب د هدے راوړلو باندے مجبور وو) او دا آرزو ددے دپاره وه چه په دے كښې د امت آسانی او د صحابؤ د زړۀ ساتنه او د هغوی موافقت وو) او دلته حضرت د حج د فسخ كولو حكم د وجوب په طور وركړو. او هر كله چه صحابؤ تأمل اوكړو نو حضرت حكم اوفرمائيلو هغه كوئ د كومے چه زۀ تاسو ته حكم دركوم. باقی پاتے شو دا فرمائيل د مؤمنانو د مور حضرت عائشے چه نۀ مو خيا لرلو د حج نه د عمرے دا كچرے محفوظ وی نو ددے مطلب دادے چه دا خبره د احرام نه مخكښې وه او كۀ نۀ وی نو د هغۀ په كلام كښې به مخالفه وی چه په نورو رواياتو صحيحو كښې راغلے دی چه څۀ خلقو زمونږ نه د حج او څۀ خلقو د عمرے احرام تړلے وو. او حضرت پخپله هم د عمرے احرام تړلے وو. او دا د هغوی نه چرته مروی نۀ دی چه د مكے پورې خمونږ دغه حال وو. دا محض باطل دے يقيناً او كومو خلقو چه د رسول الله لبيك اوريدلے دے او د هغوی د حج او عمرے بيان ئے كړے دے. د هغوی روايتونه ولے رد كولے شی. او كۀ دا روايت د حضرت عائشے نه صحيح هم وی نو انتها درجه به د هغے دا وی چه هغے ته به د صحابؤ لبيك كوم چه په ميقات باندے شوے وی ياد نۀ وو او سړی په نسبت د ښځو ددے نه زيات واقف دی. (مګر ددے وينا ضرورت نشته ځكه چه مور بی بی زمونږ پخپله وضاحت كړے دے چه ځنو زمونږ نه د عمرے احرام تړلے وو او ځنو د حج) او د جابر رضی الله عنه نه چه كوم مروی دے چه حضرت د توحيد لبيك اووے نو په دے كښې نۀ الفاظ د لبيك مروی دی. نۀ د عدم تعيين نسك او په رواياتو د اثبات د تعيين كښې د يو زيات والے دے. او زياتوالے د ثقاتو مقبول دے. (انتهٰی)

هم کهولاؤ کړے وو[1].

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَرْبَعٍ أَوْ خَمْسٍ مَضَيْنَ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ بِمِثْلِ حَدِيثِ غُنْدَرٍ وَلَمْ يَذْكُرِ الشَّكَّ مِنَ الْحَكَمِ فِي قَوْلِهِ يَتَرَدَّدُونَ

حضرت عائشه فرمائی چه نبی اکرم ﷺ څلورم یا په پنځم ذی الحجه تشریف راوړو. مخکښې د غندر راوی د حدیث پشان مضمون دے مګر په دے کښې د حکم راوی د شك ذکر کړے شوے نهٔ دے د تامل په ذکر کښې[2].

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا أَهَلَّتْ بِعُمْرَةٍ فَقَدِمَتْ وَلَمْ

حضرت عائشه فرمائی چه هغوی احرام د عمرے اوتړو او راغله لو

---

[1] د رسول الله ﷺ غصه په دے نظر سره وه چه د هغوی په حکم کښې تردد کول د ایمان کار نهٔ دے. او د ایماندارئ خبره دغه ده چه امر په دین کښې د هغوی حکم معلوم شی. نو هر یو امتی لره هغه په زړهٔ سره منل او هغې لره غوره او افضل ګنړل ضروری دی. او په هغې باندے عمل کول اولی او انسب دی. او دغه مضمون دے دد ے ایت فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا او دا حکم عام دے ټول اهل اسلام لره د قیامته پورے او د تامل او د تردد ځائے بل اجتهاد او اهل علم وغیره خبرے دی. چه په هغې کښې احتمال د خطا موجود دے. په قول او عمل د رسول الله خبری لره محل د تردد او تامل ګنړل د ایمان نقصان دے او زوال د یقین دے او د شریعت بے ادبی ده. او دے حدیث نه معلومه شوه چه څوك د رسول الله په حکم کښې ذره تردد هم کوی د هغه دپاره خیرے کول چه الله د دے جهنمی کړی روا دی. ځکه چه حضرت عائشے خیرے اوکړے او رسول الله هغې لره منع نهٔ کړه. او دد ے حدیث نه معلومه شوه چه افسوس کول ددین د یو کار په فوت کیدو باندے روا دے. او په وَلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ کښې داخل نهٔ دے. او نهٔ په دے حدیث کښې کوم چه حضرت فرمائیلے دے چه د اګر لفظ وئیل د شیطان دروازه کهولاوول دی. او معلومه شوه چه دا ایت او حدیث مطلب دا دے چه ددنیا د نعمتونو په فوت کیدو باندے د افسوس نهٔ کوی چه کهٔ ما داسے کړے وے نو داسے به شوے وے. او دد ے تقریر په حدیثو او ایت کښې مطابقت راغے.

[2] غرض د اچه دد ے روایتونو نه معلومه شوه. چه حضور په څلورم تاریخ د ذی الحجے په مکه کښې داخل شو. او په نهه یا لس ورځو کښې اورسیدو. اووتل د هغوی مونږ پورته ذکر کړے دی. فَلَا نُعِيدُ. او په ذی طوی کښې چه هغے ته اٰبَاءَ الزهراء وئیلے شی د اتوار په شپه کوز شو. او د سحر مونځ ئے هلته ادا کړو. بیائے د اتوار په ورځ غسل اوکړو او مکے ته روان شو. او په ورځ کښې د اعلائے مکے نه په ثنية العلياء سره چه حجون ته نزدے دے، مکے ته داخل شو (ثنيه خټ عليا اوچت اولوړ په حجون کښې وړاندے ځائے حطی ده بیا جیم دا د یو ځائے نوم دے) او په عمره کښې د مکے دلاندے طرفنه داخلیدلو او په حج کښې د پورته طرفنه داخل شو. او اووتل په لاندے طرف سره بیا په جماعت کښې د څاښت په وخت داخل شو. او طبرانی وائی چه هر کله د هغوی نظر په بیت الله پریوتو نو دُعا به ئے غوښتله. اَللّٰهُمَّ زِدْ بَيْتَكَ تَشْرِيفًا وَتَعْظِيمًا وَتَكْرِيمًا وَمَهَابَةً بیا چه به هر کله جماعت ته داخل شو نو تحية المسجد به ئے نهٔ لوستل په دے واسطه چه د مسجد الحرام تحية طواف دے. او هر کله چه به د حجر اسود مخے ته راغلو نو هغې ته به ئے استلام اوکړو (استلام حج اسود په لاس سره مسه کول او بیا لاس ښکلول یا په لرګی سره مسه کول او بیا لرګی ښکلولو ته وائی). او د حجر اسود نه د رکن یمانی په طرف نه بلکه د باب کعبے په طرف لاړو او طواف ئے شروع کړو او لاسونه ئے اوچت نهٔ کړلو او نهٔ ئے په ژبه سره د طواف نیت اوکړو. او نهٔ ئے تکبیر اووے لکه چه د مانځهٔ دپاره وئیلے شی. لکه چه عوام د سنتو نه ناخبره خلق ئے کوی.

تَطُفْ بِالْبَيْتِ حَتّٰى حَاضَتْ فَنَسَكَتِ الْمَنَاسِكَ كُلَّهَا وَقَدْ أَهَلَّتْ بِالْحَجِّ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّفْرِ يَسَعُكِ طَوَافُكِ لِحَجِّكِ وَعُمْرَتِكِ فَأَبَتْ فَبَعَثَ بِهَا مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ إِلَى التَّنْعِيمِ فَاعْتَمَرَتْ بَعْدَ الْحَجِّ

طواف نے نۀ وو کړے چه حائضه شوله بیائے ټول مناسك د حج ادا کړل د حج احرام نے اوتړو. او حضرت ﷺ اوفرمائیل د منی نه د کوچ په ورځ چه ستا طواف د حج او عمرې دواړو دپاره کافی شو. هغوی په دے خبره خپله خوشحالي ظاهره نۀ کړه. نو حضرت ﷺ د عبد الرّحمٰن سره اولیږله تنعیم ته چه روستو د حج نه عمره وکړی[1].

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا حَاضَتْ بِسَرِفَ فَتَطَهَّرَتْ بِعَرَفَةَ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجْزِئُ عَنْكِ طَوَافُكِ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَنْ حَجِّكِ وَعُمْرَتِكِ

حضرت عائشه حائضه شوه په سرف کښې او طهارت اوکړو هغوی (یعنی غسل نے اوکړو د وقوف دپاره) په عرفه کښې. او رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل تالره طواف ستا د صفا او د مروه د حج او عمرے دواړو دپاره پوره دے (د طواف نه سعی مراد ده).

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ أَيَرْجِعُ النَّاسُ بِأَجْرَيْنِ وَأَرْجِعُ بِأَجْرٍ فَأَمَرَ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ أَنْ يَنْطَلِقَ بِهَا إِلَى التَّنْعِيمِ قَالَتْ فَأَرْدَفَنِي خَلْفَهُ عَلَى جَمَلٍ لَهُ قَالَتْ فَجَعَلْتُ أَرْفَعُ خِمَارِي أَحْسُرُهُ عَنْ عُنُقِي فَيَضْرِبُ رِجْلِي بِعِلَّةِ الرَّاحِلَةِ قُلْتُ لَهُ وَهَلْ تَرَى مِنْ أَحَدٍ قَالَتْ فَأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ ثُمَّ أَقْبَلْنَا حَتّٰى انْتَهَيْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِالْحَصْبَةِ

د حضرت عائشے نه روایت دے چه ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ خلق به د دوو ثوابونو اخستو سره واپس شی او زۀ به د یو نو حضرت ﷺ حکم اوکړو عبد الرّحمٰن ته چه دا د تنعیم پورے یوسه هغوی زۀ په خپل اوښ باندے د ځان نه شاته کینولم. او ما خپل پړونے د غاړے نه لرے کړو. او عبد الرّحمٰن (په دے خیال سره چه بے پردګی ولے کوی) زۀ په خپو باندے وهلم په داسے وهلو سره چه بنده وے ګنی اوښ وهی او ما به هغوی ته وئیلو چه دلته تۀ څوك وینے هم (یعنی دلته څوك نشته دے ځکه ما خپل سر ښکاره کړے دے) بیا فرمائی ما احرام اوتړو د عمرے او بیا مونږ واپس راغلو او د رسول الله ﷺ پورے راورسیدو او حضرت ﷺ په حصبه کښې وو[2].

---

[1]: په دے روایت کښې وضاحت شوے دے چه هغوی عمره نۀ ده پریخودے. صرف د هغے په اعمالو کښې په سبب د حیض روستو والے راغے او معلومه شوه چه قارن لره یو طواف او سعی د عمرے او حج دواړو دپاره کافی کیږی. او معلومه شوه چه په عمره باندے حج لره داخلول جائز دی. او معلومه شوه چه د تنعیم عمره صرف د هغوی د خوشحالی دپاره وه. ورنه طواف خو دواړو ته کافی وو.

[2]: په دے روایتونو کښې یو قسم له اختلاف معلومیږی. ځکه چه د حضرت عائشے واپس راتلل خو په یو روایت کښې داسے ذکر شوی دی چه کله هغه راغله نو حضرت په لوړ ځائے ختلو او عائشه کوزیده دویم هغوی کوزیدو او بی بی راختله. او په یو کښې داسے دی چه هغه

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهُ أَنْ يُرْدِفَ عَائِشَةَ فَيُعْمِرَهَا مِنَ التَّنْعِيمِ

د عبد الرّحمٰن بن ابوبكر ؓ نه روايت دے چه نبی ﷺ هغوی ته حکم اوکړو چه حضرت عائشه د ځان نه شاته (په اوښ باندے کینښنوم) او لاړ شی چه هغوی د تنعيم نه عمره راوړی.

عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ أَقْبَلْنَا مُهِلِّينَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحَجٍّ مُفْرَدٍ وَأَقْبَلَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بِعُمْرَةٍ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِسَرِفَ عَرَكَتْ حَتَّى إِذَا قَدِمْنَا طُفْنَا بِالْكَعْبَةِ وَالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَأَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَحِلَّ مِنَّا مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ قَالَ فَقُلْنَا حِلُّ مَاذَا قَالَ الْحِلُّ كُلُّهُ فَوَاقَعْنَا النِّسَاءَ وَتَطَيَّبْنَا بِالطِّيبِ وَلَبِسْنَا ثِيَابَنَا وَلَيْسَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ عَرَفَةَ إِلَّا أَرْبَعُ لَيَالٍ ثُمَّ أَهْلَلْنَا يَوْمَ التَّرْوِيَةِ ثُمَّ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَوَجَدَهَا تَبْكِي فَقَالَ مَا شَأْنُكِ قَالَتْ شَأْنِي أَنِّي قَدْ

جابر وائی چه موږ احرامونه تړلی راغلو د رسول الله ﷺ سره په حج مفرد کښ (کیدے شی ددهٔ او د ځنے صحابؤ احرام دغسے وو او حضرت ﷺ خو قارن وو) او راغله جناب عائشه صديقه د عمرے د احرام سره. تردے پورے چه سرف ته اورسیدو نو حضرت عائشه حائضه شوه بیا چه هر کله موږ مکے ته راغلو طواف اوکړو موږ د کعبے او د صفا او مروه او حکم اوکړو موږ ته رسول الله ﷺ چه د چا سره هدی (قربانی) نهٔ وی هغه د احرامونه کهولاؤ کړی. موږ اووے څنگه حِل دے؟ نو حضرت ﷺ اوفرمائيل بالكل حلال كيدے شی نو بیا موږ احرامونه بالکل کهولاؤ کړل. راوی وائی چه بیا موږ پریوتو د ښځو سره (یعنی جماع مو شروع کړه) او خوشبوئی مو اولګوله او کپړے مو واچولے. او زموږه او د عرفے په مینځ کښ د څلورو شپو فرق باقی وو. بیا د تروے په ورځ (یعنی په اتم تاريخ د ذالحجے موږ احرامونه اوتړل یعنی د حج بیا رسول الله ﷺ د حضرت عائشے خواله راغے. او هغوی ئے په ژړا اوموندہ او تپوس ئے ترے اوکړو ستا څهٔ حال دے؟ هغوی عرض

راغله نو حضرت په خپل منزل کښ وو په محصب کښ او هغوی دد ے نه پس د تلو حکم اوکړو او بیائے طواف اوکړو د بیت الله نه او په يو کښ دادی چه هر کله هغوی راغله نو حضرت ئے په حصبه کښ اوموندو. او تطبيق په دے کښ اصل دادے چه حضرت د ايام تشریق په آخری شپو کښ یوه شپه هغے [illegible] عمرے په طرف رخصت کړه. او ورته ئے اوفرمائيل چه موږ به دلته میلاویږو چه محصب کښ او روستو د هغوی د روانیدو نه حضرت اراده اوکړه چه د طواف افاضے نه فارغ شی او حضرت ﷺ د مؤمنانو مور چه د هغوی سره څهٔ وخت میلاویږی چه هغوی فارغ شوے وی او محصب ته راغلے وی. او دا چه کوم فرمائیلے دی د مؤمنانو مور چه بیا حضرت د سفر کولو حکم ورکړو. په دے بیان کښ تقديم وتاخير شوے دے. غرض دا چه طواف د رسول الله د حضرت عائشے د روانیدو نه پس وو. او حضرت ﷺ د هغے د راتلو نه [illegible] طواف نه اوزګار شوے وو او په دے کښ دا هم وضاحت دے چه حضرت عائشه ئے د زړهٔ د خوشحالی د پاره تنعیم ته نیږلئی وهٔ. ورنه طواف د هغے د حج او عمرے دواړو د پاره پوره وو.

حِضْتُ وَقَدْ حَلَّ النَّاسُ وَلَمْ أَحْلِلْ وَلَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ وَالنَّاسُ يَذْهَبُونَ إِلَى الْحَجِّ الْآنَ فَقَالَ إِنَّ هٰذَا أَمْرٌ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلٰى بَنَاتِ آدَمَ فَاغْتَسِلِي ثُمَّ أَهِلِّي بِالْحَجِّ فَفَعَلَتْ وَوَقَفَتِ الْمَوَاقِفَ حَتّٰى إِذَا طَهَرَتْ طَافَتْ بِالْكَعْبَةِ وَالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ قَالَ قَدْ حَلَلْتِ مِنْ حَجِّكِ وَعُمْرَتِكِ جَمِيعًا فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أَجِدُ فِي نَفْسِي أَنِّي لَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ حَتّٰى حَجَجْتُ قَالَ فَاذْهَبْ بِهَا يَا عَبْدَ الرَّحْمٰنِ فَأَعْمِرْهَا مِنَ التَّنْعِيمِ وَذٰلِكَ لَيْلَةَ الْحَصْبَةِ

اوکړو چه زۀ حائضه شوے یم خلقو احرامونه پرانستے دی ما نۀ دے پرانستے نۀ مے د بیت الله طواف کړے دے. او خلق اوس حج ته ځی. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل دا خو یو څیز دے چه الله پاك د اٰدم علیه السلام د تولو لونړو دپاره لیکلے دے. پس ته غسل اوکړه (یعنی د احرام دپاره) او د حج احرام اوتړه. هغوی هم دغسے اوکړل او د وقوف په ځایونو کښں ئے وقوف اوکړو. تر دے پورے چه پاکه شوله نو طواف ئے اوکړو د بیت الله نه او د صفا مروه. او حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ستا احرام پوره شو د حج او عمرے دواړو دپاره نو هغوی عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زۀ په خپل زړۀ کښں یوه خبره لرم چه ما طواف نۀ دے کړے د کومے پورے د حج نه فارغه شوے نۀ یم. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل اے عبد الرّحمٰن! دے لره تنعیم ته بوځه چه عمره راوړی او دا معامله په هغه شپه اوشوله هر کله چه په محصب کښں حصار وو[1].

---

[1]: (الف) په دے ټولو روایتونو کښں دا وضاحت په ښه طریقه اوشول چه حیض د جناب صدیقے په سرف کښں وو. مګر دا نۀ دی راغلی چه پاکوالے ئے کوم ځائے راغے. پس مجاهد د حضرت عائشے نه روایت کړے دے چه هغوی په عرفات کښں پاکه شوے وه. او عروه د هغے نه روایت کړے دے چه د عرفے ورځ راغله او هغوی حائضه وه. او ابن حزم وئیلے دی عدی چه په عرفه کښں دپاکیدو نه مراد دادے چه په عرفات کښں ئے د وقوف دپاره غسل اوکړو او حیض ئے تر اوسه باقی وو. پس په دے دواړو روایتونو کښں تطبیق راغے. بیا عروه د هغے نه روایت کړے دے چه هغے فرمائیلے دی چه زۀ حائضه وم د عرفے په ورځے. او مجاهد هم دغے انتها لره بیان کړې ئے دے، غرض قول محقق دا اوګرځیدو چه د عرفے پورے ئے حیض وو. او د عرفات د وقوف دپاره ئی غسل اوکړو. او د قربانئ په ورځ ئے حیض ختم شو. دغه تصریح کړے ده ابن قیم په زاد المعاد کښں او دغه صحیح ده.

قوله بیا د ترویے په ورځ ئے احرام اوتړو دغه مذهب دے د امام شافعی چه څوك په مکه کښں وی او اراده د حج اوکړی. هغۀ لره مستحب دی چه د ترویے په ورځ احرام اوتړی. نۀ چه د هغے نه د مخکښں.

قوله پس ته غسل اوکړه الخ یعنی غسل د احرام وکړه چه مستحب دے غسل د احرام دپاره خواه کۀ ښځه حائضه وی یا پاکه او دا حکم دے هر سړی او ښځے لره. او حضرت اوفرمائیل چه ستا احرام پوره شو د حج د عمرے دواړو دپاره.

(ب) ددے نه درے مسئلے رااووتے. اول دا چه حضرت عائشه قارنه وه. عمره ئے بالکل پریخودے نۀ وه. دویم دا چه قارن لره یو طواف او یوه سعی پوره ده. او دغه مذهب دے د امام شافعی او د جمهورو. دریم دا چه سعی او د صفا او مروه د صحیح طواف نه پس پکار ده. او د طواف نه مخکښں نۀ شی کیدے. ځکه چه هغوی د مؤمنانو مور لره چه څنګه د طواف نه په سبب د حیض منع کړه دغه شان ئے د سعی نه هم منع کړه. او د هفتے په ورځ د حضرت عائشے حیض شروع شوے وو. او د بلے هفتے د ورځې پورے وو. چه دغه

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا فِي حَجَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهَلَّتْ بِعُمْرَةٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ اللَّيْثِ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ قَالَ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا سَهْلًا إِذَا هَوِيَتِ الشَّيْءَ تَابَعَهَا عَلَيْهِ فَأَرْسَلَهَا مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ فَأَهَلَّتْ بِعُمْرَةٍ مِنَ التَّنْعِيمِ قَالَ مَطَرٌ قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ فَكَانَتْ عَائِشَةُ إِذَا حَجَّتْ صَنَعَتْ كَمَا صَنَعَتْ مَعَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جابرؓ نه روایت دے چه حضرت عائشې صدیقېؓ د نبی ﷺ سره په حج کښې د عمرے احرام تړلے وو. او حدیث روایت شوے دے پشان د لیثؒ د حدیث او دومره قدرے ئې زیات بیان کړے دے چه رسول الله ﷺ د نرم زړۀ خاوند وو هر کله چه به حضرت ﷺ ته صدیقې څۀ فرمائش کولو نو هغوی به منلو، دا کمال د رسول الله ﷺ د اخلاقو وو. چه د خپلو بیبیانو خاطر داری به ئې کوله او د هغوی فرمائیشونه به ئې د الله پاك د نافرمانۍ نه بغیر پوره کول او د جناب صدیقې خاطر داری خو د ټولو نه زیاته وه الله پاك د هغې درجه بلنده کړی په اعلی علیین کښې او د هغې نه د راضی شی او مونږ د هغې په پیزار کړ خولو کښې قبول کړی امین یا رب العالمین غرض دا چه اوئې لیږله هغې لره د عبد الرّحمٰن بن ابی بکر سره او هغې د تنعیم نه عمره اوکړه مطر چه راوی دے هغوی د ابوالزبیر نه روایت کړے دے چه هغوی وئیلے دی چه حضرت عائشې به چه کله حج کوو نو دغه شان به ئې کولو. لکه څنګه چه به ئې د رسول الله ﷺ سره په حج کښې کړے وو.

عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهِلِّينَ بِالْحَجِّ مَعَنَا النِّسَاءُ وَالْوِلْدَانُ فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ طُفْنَا بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيَحْلِلْ قَالَ قُلْنَا أَيُّ الْحِلِّ قَالَ الْحِلُّ كُلُّهُ قَالَ فَأَتَيْنَا النِّسَاءَ وَلَبِسْنَا الثِّيَابَ وَمَسِسْنَا الطِّيبَ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ أَهْلَلْنَا بِالْحَجِّ وَكَفَانَا الطَّوَافُ الْأَوَّلُ بَيْنَ الصَّفَا

جابر وائی چه مونږ اوو تو د رسول الله ﷺ سره د حج په لبیك وئیلو زمونږ سره ښځې او بچی هم وو. بیا چه کله مکې ته راغلو نو د بیت الله طواف مو اوکړو او د صفا مروه سعی مو اوکړه. او رسول الله ﷺ مونږ ته اوفرمائیل د چا سره چه هَدی نۀ وی هغه د احرام کهولاؤ کړی او حلال د شی مونږ اووے څنګه حلالیدل؟ حضرت ﷺ اووے پوره حلالیدل بیا مونږ ښځو ته راغلو (یعنی جماع مو اوکړه) او کپړے مو واغوستے او خوشبوئی مو اولګوله بیا هر کله چه اتم تاریخ شو د حج لبیك مو اووئیلو او کافی والے اوکړو مونږ په سعی د صفا او مروه چه هغه مونږ

ورځ د قربانۍ وه. خکه چه د عرفې په ورځ په حجة الوداع کښې جمعه وه. او د ذی الحجې په دریم تاریخ ئې حیض شروع شوے وو. او د هجرت په لسم کال کښې دا حج اوشو دا ذکر کړے دے ابن حزم په کتاب حجة الوداع کښې.

وَالْمَرْوَةِ فَأَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَشْتَرِكَ فِي الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ كُلُّ سَبْعَةٍ مِنَّا فِي بَدَنَةٍ

مخکښې کړے وه. او حکم اوکړو مونږ ته رسول الله ﷺ چه شریك شی: په اوښ او غوا کښې اووۀ سړی[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ أَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَحْلَلْنَا أَنْ نُحْرِمَ إِذَا تَوَجَّهْنَا إِلَى مِنًى قَالَ فَأَهْلَلْنَا مِنَ الْأَبْطَحِ

جابر وئیلے دی چه حکم اوکړو مونږ ته نبیﷺ هر کله چه مونږ احرامونه کهولاؤ کړی وو. چه کله مونږ منی ته خو یعنی په اتم تاریخ نو احرامونه اوتړئ. نو لبیك اووے مونږ د حج د ابطح نه[2].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ لَمْ يَطُفِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا أَصْحَابُهُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ إِلَّا طَوَافًا وَاحِدًا

د جابر بن عبد الله نه روایت دے وائی چه طواف نۀ دے کړے رسول الله ﷺ او نۀ د هغوی صحابؤ په صفا او مروه کښې مګر یو ځل زیاته کړے ئے ده د محمد بن بکر په روایت کښې چه دغه طواف اول

---

[1] : دے حدیث نه معلومه شوه چه حج د وړوکی نابالغه هلك هم صحیح دے او دغه مذهب دے د امام مالك او امام شافعی او د احمد او د ټولو علماؤ د صحابؤ او تابعینو او کوم خلق چه د هغوی نه روستو دی. ټول قائل دی چه حج د هغۀ صحیح دے. او هغه هم ثواب مومی. او د بالغ د حج احکام په دۀ باندے جاری کیږی مګر دومره ده چه په اسلام سره فرض له کافی نۀ دے. او هر کله چه بالغ شی نو بیا به پرے حج فرض وی په دے شرط چه د لارے د تلو طاقت ئے وی. لکه څنګه چه په نورو باندے فرض کیږی.
او دا چه ئے اوفرمائیل چه پوره والے اوکړو مونږ ه سعی کولو د صفا او مروه. دد ے نه معلومه شوه چه قارن کله چه سعی او کړله نو د طواف افاضه نه پس هغۀ ته د سعی کولو ضرورت نشته دے. په خلاف د متمتع چه هغۀ له د طواف افاضه نه پس بیا په دویم ځل سعی ضروری ده.
او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه په اوښ او غوا کښې اووۀ اووۀ کسان شریك شو. دد ے نه معلومه شوه چه غوا او اوښ اووۀ بنیادمو له پوره دے. او لکه چه یوه غوا او یو اوښ د اووۀ بزو برابر دے . او معلومه شوه چه شریکیدل په قربانۍ کښې او هدیه کښې روا دی. او دغه قول دے د امام شافعی او د هغۀ د موافقینو محدثینو چه د هغوی په نز په اوښ کښې شریك کیدے شی. خواه کۀ هغه په یو کور کښې وی یا جدا جدا اوسیږی خواه کۀ ټول مفترض وی یا متنفل. خواه کۀ هغه ټول ئے د تقرب په نیت سره کوی خواه کۀ څنے د هغوی نه ئے د غوښے خوړلو په نیت سره کوی. او دغه مذهب مروی دے د ابن عمر او انس نه. او دغه قول دے د احمد . او امام مالك وائی چه کۀ چرے هغه قربانی د فرض په نیت ذبح شوے وی نو د ټولو پکښې شراکت روا دے او کۀ د نفلو په طور شوے وی نو روا نۀ دے.او ابو حنیفه وئیلے دی کۀ د قربت الهی په نیت وی نو شرکت روا دے برابره خبره ده کۀ د قربت په قسم کښې اختلاف وی یا اتفاق. مګر په هر حال ټول قرابت غواړی او کۀ چرے څنے په هغوی کښې د غوښے اراده کوی نو شرکت روا نۀ دے. مګر دد ے ټولو نه مذهب د شافعی صحیح معلومیږی د کومے پورے چه د جواز په نشوالی باندے څۀ دلیل قائم نۀ وی. او براءت اصلیه د هغوی د مذهب سره لګیدلے دے. د کومے پورے چه څۀ دلیل معارض او نۀ موندے شی او د صحابؤ نه هم دغه منقول دے.

[2] : ابطح ګیتو والا زمکے ته وئیلے شی او دلته د ابطح نه یو خاص میدان مراد دے چه هغه محصب ته نژدے دے. او دد ے روایت نه شافعی استدلال کړے دے چه متمتع لره مستحب دغه دی چه د حج احرام په اتم تاریخ باندے اوتړی . او دغه حکم دے د هغه چا چه د مکے نه حج له ځی. او مالك وغیره وئیلے دی چه مستحب دا دی چه اول د ذی حجه نه احرام اوتړی.

زَادَ فِي حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ بَكْرٍ طَوَافَهُ الْأَوَّلَ
عَنْ عَطَاءٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فِي نَاسٍ مَعِي قَالَ أَهْلَلْنَا أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ خَالِصًا وَحْدَهُ قَالَ عَطَاءٌ قَالَ جَابِرٌ فَقَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صُبْحَ رَابِعَةٍ مَضَتْ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ فَأَمَرَنَا أَنْ نَحِلَّ قَالَ عَطَاءٌ قَالَ حِلُّوا وَأَصِيبُوا النِّسَاءَ قَالَ عَطَاءٌ وَلَمْ يَعْزِمْ عَلَيْهِمْ وَلَكِنْ أَحَلَّهُنَّ لَهُمْ فَقُلْنَا لَمَّا لَمْ يَكُنْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ عَرَفَةَ إِلَّا خَمْسٌ أَمَرَنَا أَنْ نُفْضِيَ إِلَى نِسَائِنَا فَنَأْتِيَ عَرَفَةَ تَقْطُرُ مَذَاكِيرُنَا الْمَنِيَّ قَالَ يَقُولُ جَابِرٌ بِيَدِهِ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى قَوْلِهِ بِيَدِهِ يُحَرِّكُهَا قَالَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِينَا فَقَالَ قَدْ عَلِمْتُمْ أَنِّي أَتْقَاكُمْ لِلَّهِ وَأَصْدَقُكُمْ وَأَبَرُّكُمْ وَلَوْلَا هَدْيِي لَحَلَلْتُ كَمَا تَحِلُّونَ وَلَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمْ أَسُقِ الْهَدْيَ فَحِلُّوا فَحَلَلْنَا وَسَمِعْنَا

وو [1].

عطاءؒ وائی اوریدلے دي ما د جابر بن عبد الله نه او ځما سره څو کسان ملګری وو. چه هغوی اووے لبیك اووے مونږ ټولو صحابؤ د محمد ﷺ صرف د حج دپاره . او عطاء وائی چه جابر وئیلے دی چه بیا راغے نبی ﷺ په څلورمه ورځ د ذی الحجے سحر او مونږ ته ئے حکم اوفرمائیلو چه مونږ د احرامونه کھولاؤ کړو. عطاءؒ وائی حضرت ﷺ اوفرمائیل چه احرامونه پرانزئ او د خپلو ښځو خواله ورشئ. عطاءؒ وائی دا حکم د هغوی د وجوب په طور نۀوو. بلکه احرام پرانستل ئے هغوی ته جائز کړلو. بیا مونږ اووے چه اوس په عرفه کښې پنځۀ ورځے باقی دی چه حکم اوشو مونږ ته چه مونږ د صحبت اوکړو د خپلو ښځو سره او عرفات ته د لاړ شو. په دے شان سره چه زمونږ د اعضائے تناسل نه دمنی څڅیږی. عطاءؒ وائی چه جابر په خپل لاس سره اشاره کوله او زۀ لکه چه اوس وینم د هغوی لاس لره چه خوزووئے (یعنی صحابؤ دد ے عذر په وجه په احرام پرانستلو کښې حصار شو) نو نبی ﷺ زمونږ په مینځ کښې اودریدو او اوئے فرمائیل چه تاسو ښه پوهیږئ چه زۀ ستاسو د ټولو نه زیات نیك یم (بیا ځما د حکم په ځائے کولو کښې تاسو پرانزئ او کچرے ماته د مخکښې نه دا خبره معلومه وے چه روستو معلومه شوه. نو ما به هدیه د ځان سره نۀ راوسته غرض دا چه بیا صحابؤؓ احرامونه کھولاؤ کړل او مونږ ټولو د حضرت ﷺ

---

[1]: یعنی رسول الله ﷺ قارن وو. او قارن له یو خل سعی کول پوره دی د صفا او د مروه. او کوم چه متمتع وی. هغوی له دوه ځله سعی کول ضروری دی. او په دے کښې صاف صراحةً مذهب د شافعی دے چه څوك قارن وی هغه له یو طواف او په سعی پوره ده او هغه د طواف افاضه په وخت. او دغه مذهب دے د ابن عمر او جابر بن عبد الله او جناب عائشه صدیقه او د طاؤسؒ او د حسن بصری او مجاهد او مالك او بن ماجشون او احمد او اسحق او داؤد بن منذر . او په دے طرف تلی دی ابن تیمیه او ابن قیم او دغه قوی دے چه ډیر داسے احادیث په دے باندے دلیلونه دی. او یو جماعت د دوی خلاف کړے دے اووئیلے دی چه دۀ لره دوه طوافونه او دوه سعی ضروری دی. او قائل دی دد ے شعبی او نخعی او جابر بن زید او عبد الرحمٰن بن اسود او ثوری او حسن بن صالح او ابوحنیفه. او مخکښې شوے دے دا قول د علی او ابن مسعود نه. او ابن منذر وئیلے دی چه د حضرت علی کرم وجهه نه دا قول ثابت نۀ دے.

وَأَطَعْنَا قَالَ عَطَاءٌ قَالَ جَابِرٌ فَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنْ سِعَايَتِهِ فَقَالَ بِمَ أَهْلَلْتَ قَالَ بِمَا أَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهْدِ وَامْكُثْ حَرَامًا قَالَ وَأَهْدَى لَهُ عَلِيٌّ هَدْيًا فَقَالَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلِعَامِنَا هَذَا أَمْ لِأَبَدٍ فَقَالَ لِأَبَدٍ

خبره واوریده او په زړۀ سره مو اومنله عطاءؒ وائی چه جابرؓ وئیلے دی چه بیا حضرت علی راغے (مالونه د صدقو ئے حاصل کړی وو د کومو دپاره چه حضرت ﷺ هغوی لیږلے وو او په حقیقت کښې هلته په امیرئ تلے وو یمن ته نۀ د صدقاتو د تحصیل دپاره او کیدے شی چه عاملانو ورته سپارلی وی چه دا حضرت ﷺ ته اورسوه. ورنه د صدقو مالونه اخستل بنوهاشم لره روا نۀ دی) بیا حضرت علی ته اوفرمائیل چه تا څنګه احرام اوتړو هغوی عرض اوکړو چه کوم اهلال د نبی ﷺ دے (یعنی ما په لبیك کښې دغه اووے چه کوم لبیك د حضرت ﷺ وی هغه څما دے دا هغه خبره ده چه د امام په نیت مے نیت دے) نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه قربانی اوکړه او محرم اوسیږه. او د حضرت ﷺ دپاره هدی راوستله حضرت علی او سراقه بن مالك بن جعشم اووے چه یا رسول الله ﷺ آیا دا حکم (یعنی د حج فسخ کول په عمره باندے) زمونږ ددے کال دپاره دے یا همیشه دپاره دا امر جائز شو؟ نو رسول الله ﷺ اوفرامائیل چه همیشه دپاره دے[1].

---

[1] په بل روایت کښې راغلے دی چه سراقه بن جعشم پاڅیدو او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ﷺ دا زمونږ ددے کال دپاره دی یا د همیشه دپاره؟ نو رسول الله ﷺ د یو لاس ګوتے د بل لاس په ګوتو کښې ورکړے او اوئے فرمائیل دا خله شوه عمره په حج کښې دوباره ئے هم دغه لوفرمائیل او اوئے فرمائیل بلکه همیشه دپاره دے. او نووی وئیلے دی چه علماؤ په دے کښې اختلاف کړے دے او ددے ئے څلور معانے ویستلی دی. اوله او اصح معنی ئے داده. او جمهور هم ددے قائل دی. چه معنی ددے داده چه د حج په ورځو کښې عمره په ځائے راوړل جائز دی د قیامته پورے (حالانکه د جاهلیت په ورځو کښې په ایام حج کښې عمره کول ډیر بد ګڼرلے شو) غرض دا چه حضرت ﷺ ته د جاهلیت عادت باطلول منظور وو. چه هغوی به د حج په میاشتو کښې عمرے لره ممنوع ګڼړله.

دویمه معنی داده چه قران روا دے. او تقدیر ددے کلام دا دے چه داخل شو افعال د عمرے په افعالو د حج کښې د قیامت پورے

دریم تاویل د ځنے خلقو داد ے چه هغوی وائی چه عمره واجب نۀ ده او معنے د هغوی داده چه عمرے وجوب د حج په فرضیت سره ساقط کړے شوے دے. او دا ضعیف بلکه باطل دے. او سیاق صفا دلالت کوی چه دا تاویل غلط دے.

څلورم داد ے چه تاویل کړے دے ځنے اهل ظاهرو چه مراد د هغے نه داد ے چه فسخ د حج په عمری کولو سره جائز شوے دے د قیامته پورے او دے ته نووی ضعیف وئیلے دے. ختم شو کلام د نوویؒ. او شیخ ابن قیم په زاد المعاد کښې دے څلورم قول لره په

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ أَهْلَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ أَمَرَنَا أَنْ نَحِلَّ وَنَجْعَلَهَا عُمْرَةً فَكَبُرَ ذٰلِكَ عَلَيْنَا وَضَاقَتْ بِهِ صُدُورُنَا فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا نَدْرِي أَشَيْءٌ بَلَغَهُ مِنَ السَّمَاءِ أَمْ شَيْءٌ مِنْ قِبَلِ النَّاسِ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ أَحِلُّوا فَلَوْلَا الْهَدْيُ الَّذِي مَعِي فَعَلْتُ كَمَا فَعَلْتُمْ قَالَ فَأَحْلَلْنَا حَتّٰى وَطِئْنَا النِّسَاءَ وَفَعَلْنَا مَا يَفْعَلُ الْحَلَالُ حَتّٰى إِذَا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ وَجَعَلْنَا مَكَّةَ بِظَهْرٍ أَهْلَلْنَا بِالْحَجِّ

جابر بن عبد الله ﷺ وئیلې دي چه لبیك اووے مونږ د رسول الله ﷺ سره د حج. بیا چه هر کله مونږ مکے ته راغلو نو حضرت ﷺ حکم ورکړو چه احرامونه کهولاؤ کړئ او په دے احرام عمره اوکړئ یعنی حج لره د عمرے په کولو فسخ کړئ او دا خبره په مونږ باندے گرانه شوه او زمونږ سینے په دے سره تنگے شوے. او دا خبر رسول الله ﷺ ته اورسیده پس نۀ پوهیږم زۀ چه هغوی ته څۀ حکم د اسمانه نازل شو یا څۀ خبره ورته د خلقو نه اورسیده. عرض دا چه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اے خلق احرام کهولاؤ کړئ او کۀ څما سره هدی نۀ وے نو ما به هم هغه کولو کوم چه تاسو کوئ (یعنی عمره به مے کړے وه او حج به مے فسخ کړے وو او احرام بهمے کهولاؤ کړے وو) بیا خو مونږ احرامونه کهولاؤ کړل تردے پورے چه صحبت او کړو مونږ د ښځو سره او تول کارونه مو اوکړل کوم چه بے احرام والا کوی (یعنی خوشبوئی مو اولگوله گنډلے

احسن وجوه سره ثابت کړے دے. او خلاصه د هغوی د تقریر دا ده چه روایت کړے دے دے فسخ لره د رسول الله نه څوالس صحابۀ کرامو چه حضرت عائشه او حفصه . او علی او فاطمه او جابر بن عبد الله او ابوسعید خدری او براء بن عازب او عبد الله بن عمر او انس بن مالك او ابو موسیٰ اشعری او عبد الله بن عباس او ستره بنت سعید جهمی او سراقه بن مالك مدلجی دی بیائے د هغوی روایات صحیح حسنه نقل کړے دی. او د سراقه بن مالك بن جعشم په روایت کښ مذکور دی چه هغوی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه دا زمونږ ددے کال دپاره دے. او حضرت ﷺ اوفرمائیل چه همیشه دپاره دے. نقل کړے وئیلے دی چه ددے لفظ په آخر کښ وضاحت اوشو چه کوم خلق قائل دی چه دا د صحابو خاصه وه. د هغوی قول باطل دے. ځکه چه رسول الله ﷺ صفا فرمائیلے دی چه دا همیشه دپاره دے. او د براء بن عازب په روایت کښ دا هم دی. چه رسول الله ﷺ په دغه خلقو باندے غصه هم اوفرمائیله چه په احرام پرانستو کښ ئے تأمل کولو. او دے نه پس ئے اووے چه دا مذهب دے د اهل بیت. او د حبرامت د ابن عباس او د هغۀ د یارانو او د موسیٰ اشعری او امام احمد بن حنبل او عبد الله بن حسن عنبری چه د بصرے قاضی وو او د اهل ظاهرو. سلمه بن شبیب امام احمد بن حنبل ته اووے چه ستا تول خبرے ښے دی مگر یوه خبره هغوی اووے. هغه څۀ. سلمه اووے چه تاسو د فسخ حج په عمره سره قائل یئ. امام صاحب اوفرمائیل چه اے سلمه ماتۀ عقل والا گنړله. څما سره یو لس حدیثونه صحیح د رسول الله ﷺ موجود دی په دے باره کښ. زۀ هغے لره ستا د قول په سبب څنگه پریږدم. بیا ابن قیم درے عذرونه بیان کړے دی چه هغه خلق په دے کښ پیش کوی. اول دا چه منسوخ دے. دویم دا چه د صحابو سره مخصوص دے. دریم څنے روایتونه ددے معارض دی. بیائے ددے درے خله جوابات خو ورکړے دی او په ښۀ طریقه ئے جواز د حج فسخ کولو په عمرے سره ثابت کړے دے. او حق ددغے سره دے. او د اهل ظاهرو دغه مذهب صحیح او موافق د روایاتو دے (فَمَنْ شَاءَ فَلْيَرْجِعْ اِلَيه ولينظر بعين الانصاف اله زاد المعاد)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ حَجَّ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ سَاقَ الْهَدْيَ مَعَهُ وَقَدْ أَهَلُّوا بِالْحَجِّ مُفْرَدًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحِلُّوْا مِنْ إِحْرَامِكُمْ فَطُوْفُوْا بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَقَصِّرُوْا وَأَقِيْمُوْا حَلَالًا حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ فَأَهِلُّوْا بِالْحَجِّ وَاجْعَلُوْا الَّتِي قَدِمْتُمْ بِهَا مُتْعَةً قَالُوْا كَيْفَ نَجْعَلُهَا مُتْعَةً وَقَدْ سَمَّيْنَا الْحَجَّ قَالَ افْعَلُوْا مَا آمُرُكُمْ بِهِ فَإِنِّي لَوْلَا أَنِّي سُقْتُ الْهَدْيَ لَفَعَلْتُ مِثْلَ الَّذِي أَمَرْتُكُمْ بِهِ وَلَكِنْ لَا يَحِلُّ مِنِّي حَرَامٌ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ فَفَعَلُوْا

جامے مو واغوستے جماع مو اوکړه بیا چه کله اتم تاریخ شو او د مکے نه مونږ په شاشو منٰی ته (یعنی منٰی ته لاړو) نو د حج لبیك مو اووے.

جابر بن عبد الله انصاری حج اوکړو د رسول الله ﷺ سره په کوم کال چه د هغوی سره هدی وه (یعنی په حجة الوداع کښ ځکه چه د هجرت نه پس حضرت ﷺ دغه یو حج کړے دے) او ځنے خلقو صرف د حج مفرد احرام تړلے وو. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو احرام کهولاؤ کړئ او طواف اوکړئ د بیت الله نه او د صفا او مرٔوه سعی اوکړئ او ویښتهٔ کم کړئ او حلال شئ بیا چه هر کله د ترویے ورځ شی (یعنی اتم تاریخ د ذی الحجے) نو لبیك اووایئ د حج دپاره او تاسو چه کوم احرام تړلے راغلے یئ هغے لره په متعه سره اوغورځوئ (یعنی اګر کهٔ دغه احرام د حج دے مګر عمره اوکړئ کهولاؤ ئے کړئ او بیا حج اوکړئ نو دا به متعه شی) خلقو عرض اوکړو چه مونږ ولے دے لره معته کړو حالانکه مونږ نوم د حج اخستے دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه کار کوئ چه د هغے زهٔ تاسو ته حکم اوکړم ځکه چه کهٔ ما هدی د ځان سره نهٔ وے راوړے نو ما به هم دغسے کول څنګه چه تاسو ته حکم درکوم مګر دا چه ځما احرام نهٔ شی کهولاویدے د کومے پورے چه قربانی خپل محل ته رسیدلے نهٔوی (یعنی ذبح شوے نهٔوی) بیا خلقو په هغے عمل اوکړو[1].

---

[1] په دے بیان کښ مضمون وړاندے روستو شوے دے. اصل دا دے چه دا تولے خبرے اترے چه د عمرے کولو او احرام کهولاوولو په باره کښ د صحابؤ نه اوشوے هغه د عمری نه مخکښ صرف شوے وے. لکه څنګه چه په نورو روایتونو کښ راغلے دی. اګر چه دے لره راوی دلته روستو بیان کړی دی. مګر اصل خبره هم هغه ده چه د خبرو اترو په اول کښ شوے وه. غرض دا چه په دے روایت کښ دا وضاحت دے چه مخکښ خلقو د حج مفرد احرام تړلے وو. بیائے عمره اوکړه او احرامٔے کهولاؤ کړو او دغه فسخ د حج په عمره دے. او د دے تفصیل پوره بنهٔ بیان شوے دے چه د قیامته پورې دا فسخ روا ده. او صحیح مذهب په قول د ابن قیم دغه دے. او نووی وئیلے دی چه په دے کښ خلقو اختلاف کړے دے. ځنو وئیلے دی چه دا فسخ خاص وو د صحابؤ سره او د هغے نه پس بل چا لره روا نهٔ دے. او هغوی له هم د دغه کال نه سوا په نورو کلونو کښ روا نهٔ دے پاتے شوے. او دا قول دے د مالك او شافعي او د ابوحنیفه او د جمهورو سلفو او خلفو. او ځنو وئیلے دی چه د قیامته پورے د دے جواز باقي پاتے دے. چه څوك احرام د حج اوتړی او راشی او

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ﷺ قَالَ قَدِمْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهِلِّيْنَ بِالْحَجِّ فَأَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَجْعَلَهَا عُمْرَةً وَنَحِلَّ قَالَ وَكَانَ مَعَهُ الْهَدْيُ فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَجْعَلَهَا عُمْرَةً

جابر بن عبد الله رض وئيلي دي چه راغلو مونږ د رسول الله ﷺ سره د حج د لبيك وئيلو سره. او حضرت ﷺ حكم اوفرمائيلو مونږ ته چه مونږ هغې لره عمره اوكړو او احرام دِ كهولاؤ كړو او د هغوى سره قربانى وه ځكه حضرت ﷺ هغې لره عمره كولے نۀ شوه.

عَنْ أَبِيْ نَضْرَةَ قَالَ كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَأْمُرُ بِالْمُتْعَةِ وَكَانَ ابْنُ الزُّبَيْرِ يَنْهٰى عَنْهَا قَالَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ فَقَالَ عَلٰى يَدَيَّ دَارَ الْحَدِيْثُ تَمَتَّعْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَامَ عُمَرُ قَالَ إِنَّ اللهَ كَانَ يُحِلُّ لِرَسُوْلِهٖ مَا شَاءَ بِمَا شَاءَ وَإِنَّ الْقُرْآنَ قَدْ نَزَلَ مَنَازِلَهٗ فَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ كَمَا أَمَرَكُمُ اللهُ وَأَبِتُّوْا نِكَاحَ هٰذِهِ النِّسَاءِ فَلَنْ أُوْتٰى بِرَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً إِلٰى أَجَلٍ إِلَّا رَجَمْتُهٗ بِالْحِجَارَةِ

ابونضره وئيلي دي چه ابن عباس خو به مونږ ته حكم كولو د متعې او ابن زبير به هغه منع كولو . او ما د هغې ذكر اوكړو جابر ته نو هغوى اووے دا حديث خو ځما دلاسه په خلقو كښې خور شوے دے. او مونږ متعه كړے ده د رسول الله ﷺ سره. بيا چه كله حضرت عمر خليفه شو نو هغوى اووے چه الله تعالى د خپل رسول ﷺ دپاره چه څۀ غوښتل حلال كړى وو چه په كوم سبب سره به ئے غوښتلو. او د قران هر يو حكم په خپل خپل ځائے باندے نازل شوے دے. نو پوره كوئ تاسو حج او عمره لره. د الله پاك دپاره. څنګه چه تاسو ته الله پاك حكم دركړے دے. او قطعى او دائمى اوګرځوئ هميشه دپاره نكاح د هغه ښځو (يعنى چه د هغوى سره متعه كړے شوے ده يعنى د يوے معينے مُدے په شرط سره نكاح شوے وى) او ځما خواله كۀ څوك داسے سړے راغے چه هغه د معين مدے پورے نكاح كړے وى نو زۀ به هغه ضرور په ګټو اوولم

عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فِي الْحَدِيْثِ فَافْصِلُوْا حَجَّكُمْ مِنْ عُمْرَتِكُمْ فَإِنَّهٗ أَتَمُّ لِحَجِّكُمْ وَأَتَمُّ لِعُمْرَتِكُمْ

د قتاده رض په دے اسناد سره دغه روايت مروى دے او په دے كښې دا هم دى چه حضرت عمر اوفرمائيل جدا كړئ حج لره د خپلے عمرے نه ځكه چه په دے كښې حج هم پوره شوه او ستاسو عمره هم

هديه د خان سره راښه ولى هغه دِ عمره اوكړى او احرام دِ كهولاؤ كړى. بيا دِ د ترويے په ورځ د حج احرام اوتړى. او دا قول دے د امام احمد بن حنبل امير المؤمنين او د يو جماعت د اهل ظاهرو نه. او دغې لره اختيار كړے دے ابن قيم او دغه مروى دے د څوار لسو صحابهٔ كرامو نه چه حضرت د فسخ كولو حكم وركړو. او سراه بن جعشم د هغوى نه تپوس اوكړو چه دد دے كال دپاره دا حكم دے ؟ نو هغوى اوفرمائيل چه نه د قيامت د ورځې پورے دے. او دد ے خواهش كړے وو رسول الله مګر په سبب د هديے د ليګلو ناچاره وو.

پوره شوه (يعنی هر يو لره په سفر کښې جدا جدا په خانی راوړی)[1]

[1] نووي وائي د مازري نه منقول دي چه حضرت عمر چه د کومې متعې نه منع کړې ده هغه څه ده؟ ځينې وائي چه مراد د دې نه فسخ کول د حج دي د عمرې په طرف او ځا وئيلي دي چه په مياشتو د حج کښې مطلق عمره په خانې راوړل او بيا دغه کال کښې حج هم کول دي. او د دې څخه منع کړو چه ترغيب ورکړو هغوی د افراد چه هغه افضل يعني غوره دې او چونکه اوس په لاره کښې امن راغلی دې نو بهتره دا ده چه خلق په دغه يو سفر کښې دواړه نسکه په خانې راته وړی. نه په دې وجه هغوی فرمائيلي دي چه تمتع حج نې باطل گڼړلو. يا د هغې د حرمت قائل وو. او د قاضي عياض قول دې چه ظاهر حديث د جابر او عمران او ابو موسی په دې باندې دليل دې چه حضرت عمر حج نړه منع کول په عمره کولو سره د دې نه منع فرمائيلي ده. او د دې دباره حضرت عمر به په دې باندې وهلو لو صرف په تمتع باندې به نې نه وهلو ځکه په دې باندې چه څوک په مياشتو د حج کښې عمره په خانې راوړي او وهل د حضرت عمر به د دې خيال سره وو چه د هغوی او نورو صحابو دا خيال کولو چه فسخ د حج په عمره سره دا خاص وو د هغې کلام سره په کوم کښې چه حضرت حج کړې وو. او ابن عبدالبر وئيلي دي چه په دې کښې اختلاف نشته چه کوم تمتع په دې ايت کښې مذکور دې فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ د دې نه دغه مراد دې په مياشتو د حج کښې عمره اوکړی د حج نه مخکښې. او بيا په دغه کال حج هم اوکړی او په متمتع کښې قران هم داخل دې ځکه چه په دې کښې هم يو قسم له برخور داری ده چه په دغه يو سفر کښې چه څوک د خپل وطن نه اووتو نو دواړه نسکونې په خپل راوړل. او په تمتع کښې هم دا داخل دی چه د حج احرام په عمرې کولو سره کهولاؤ کړی چه هغې ته فسخ حج په عمره وئيلي شی يعنی دا ټول معنې په دې ايت کښې کيدې شی) ختم شو کلام د قاضي عياض. نووي وئيلي دي چه خما په نز غوره دا ده چه حضرت عمر او حضرت عثمان وغيره نورو چه کومه منع فرمائيلي ده د متعې نه د هغې نه مراد دغه امر دې چه په مياشتو د حج کښې عمره اوکړی او بيا په دغه کال حج هم اوکړی. او د دې نهی نه نهی تحريم او بطلان مراد نه دې بلکه نهی د اولويت ده. چه هغوی وئيلي دي چه اولی دا ده چه دواړه جدا جدا لوکړی او غرض ئې د افراد ترغيب ورکول وو. او اوس اجماع شوې ده د علماؤ چه افراد او تمتع او قران بغير د کراهت نه بلا تحمل روا نه دی. او اختلاف د هغې په افضليت کښې دې چه غوره کوم يو دې. نو پوره ته د دې بحث اوشو باقی پاتې شوه د حضرت عمر متعه نکاح لره منع فرمائيل کوم چه په دې کښې ذکر دې. نو هغه د يوې مُدې معيينې پورې نکاح کول دی او دا په اول د اسلام کښې مباح وه بيا منسوخ شوه د خيبر په ورځ. بيا مباح شو په مکه کښې بيا منسوخ شو د فتح په ورځو کښې. او د هغې حرمت تر اوسه پورې راروان دې تر قيامته پورې به روان وی. او په زمانه اول کښې په دې کښې څه اختلاف وو (ځکه څه د حرمت روايتونه ځنې خلقو ته نه وو رسيدلی) بيا هغه اختلاف د فع شو او ټولو د دې په حرمت باندې اجماع اوکړه نو تفصيل د دې په کتاب النکاح کښې راشي انشاء الله تعالی او علامه ابن قيم په زاد المعاد کښې وئيلي دي چه روايت کړې دې اعمش د فضيل بن عمرو نه هغوی د سعيد بن جبير نه هغوی د ابن عباس نه چه تمتع کړې دې رسول الله نو عروه اووې چه منع کړې ده ابوبکر او عمر د متعې نه نو ابن عباس او وې زه ګورم چه نوس به دا خلق هلاک شی. زه خو وايم چه فرمائيلي دي رسول الله او دې وائی چه وئيلي دي ابوبکر او عمر بيا عروه ابن عباس ته اووې چه ته پوهيږې نه چه د متعې رخصت ورکوې. نو ابن عباس اووې لاړ شه د خپلې مور نه تپوس اوکړه اې وروکيه عروه. بيا عروه اووې ابوبکر او عمر خو چرته متعه نه ده کړې (يعني د متع حج) ابن عباس اوفرمائيل په الله قسم دې زه تاسو لره وينمه چه تاسو ته هيڅ بيانوم د رسول الله او تاسو وايئ چه ابوبکر او عمر وئيلي دی. بيا ئې اووې چه هغه خلقو سنت د رسول الله ﷺ ستا نه زيات پيژندلو او ستا نه زيات د سنتو پيروکار وو. او جواب ورکړې دې ابومحمد بن حزم د عروه د خبرې چه مونږ وئيلي دي عروه ته چه ابن عباس د رسول الله سنتو لره زيات پيژندلو. او دغه شان د ابوبکر او عمر د حال نه هم ستا نه زيات واقف وو. او ستا نه په هر حال غوره وو او د دې دريو په نز ستا نه اول وو. او دا د دې دواړه هغوی ته زيات نژدې وو په نسبت ستا چه په دې کښې يو مسلمان لړ غوندې شک هم

نۀ شی کولے. او د مؤمنانو مور حضرت عائشه هم ستا نه زیات علم والاوه او ستا نه زیاته رښتونے وه. بیا ئے د ثوری په سند سره د حضرت عائشے روایت بیان کړو چه هغوی اووے څوك امیر د موسم شوے دے؟ خلقو اووے ابن عباسؓ نو هغوی اوفرمائیل چه هغه د تولو خلقو نه زیات پیژندونکے دے د حج احکامو لره. او ابو محمد بن حزم وئیلے دی چه نور روایان چه ډیر افضل او زیات عالمان او رښتونی لو واتی دی د عروه نه هغوی د عروه خلاف بیان کړے بیائے د بزار په طور سره روایت اوکړو د ابن عباس نه چه تمتع کړے دے رسول الله ﷺ او ابوبکر او عمر او مخکښې چه چا ددے نه منع کړے ده هغه معاویه دے. او روایت ئے اوکړو د عبدالرزاق په طریق سره د ابن عباس نه چه تمتع کړے دے رسول الله او ابوبکر د وفات د موندو پورے. او حضرت عمر او حضرت عثمان هم شان کړے دی. او مخکښې چه چا ددے نه منع کړے ده هغه معاویه دے. ابن قیم فرمائیلے دی چه دا حدیث د ابن عباس چه ئے روایت کړے ده په کومه ځائے کښې چه د معاویه ذکر دے هغه وېستلے دی احمد په خپل مسند کښې او ترمذی حسن وئیلے دی دے ته. بیائے ذکر کړل روایتونه د حضرت عمر چه په هغے کښې ذکر دی. چه حضرت عمر فرمائیلے دی کچرے زۀ عمره کوم نو حج به کوم او تمتع به کوم او ثابت کړے ئے دی هغے لره په اسنادو معتبرو متعددو سره. بیائے ذکر کړے دے جواب د ابن تیمیه چه فرمائیلے دی هغوی چه حضرت عمر البته چرته منع نۀ ده کړے د متعے نه بلکه دائے فرمائیلے دی چه پوره حج ستاسو او پوره عمره داده. چه دواړه ځانله ځانله په ځائے راوړئ. او اختیار کړے دی هغوی غوره او مورو لره او هغه دادی چه هر یو لره د عمرے او حج نه د جدا جدا سفر سره ادا کړی چه د خپل ښهر نه روان شی د مکے پورے راشی. او دا د قران او تمتع خاص نه چه په یو سفر کښې د دواړو ادائی راشی د حج او عمرے نه غوره دے. او تنصیص کړے دے ددے احمد او ابوحنیفه او مالك او شافعی. او فقهاؤ هم. او دا هغه افراد دی چه په ځائے ئے راوړی دی ابوبکر او عمر او حضرت عمر به دغے لره غوره کولو د خلقو دپاره او دغه شان وئیلے دی حضرت علی کرم الله وجهه چنانچه حضرت عمر او حضرت علی به دغه تفسیر کولو دے ایت وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ پوره کول د هغوی دادے چه احرام اوتړئ د هر یو دپاره د خپل کور نه. او په جدا جدا سفر کښې ئے په ځائے راوړئ هر یو لره څکه چه رسول الله حضرت عائشے ته اوفرمائیل چه ثواب ستاسو په قدر د تکلیف ستاسو دے. غرض دا چه هر کله عمره اوکړی او حاجی واپس شی خپل کور ته. او بیا د هغه ځائے نه احرام اوتړی او راشی حج اوکړه. او هغه عمره د حج د میاشتو نه مخکښې وی. نو دا دواړه نسك پوره شول یا عمره ئے اوکړه مخکښې د حج د میاشتے نه او بیا په مکه کښې پاتے شو او حج ئے اوکړو. نو دا پوره حج او عمره شو. غرض دا چه دا مذهب د حضرت عمر مختار دے او په دے کښې خلقو غلطیانے کړے دی چه هغوی د متعے نه منع کړے ده. او څوك دا ګنړی چه متعه فسخ لره منع کوی او چا دا ګنړلے ده چه د ترك اولی په نظر سره ئے منع کړے دی (لکه چه د نووی په قول کښې چه پورته تیر شو) او دا هغه چا خیال کړے دے د چا په نز چه افراد غوره دے. او چا معارض کړے دے روایات د نهی لره په روایات د استحباب باندے. چنانچه دواړه قسمه روایات د حضرت عمر نه پورته ذکر شول. او چا دا ګنړلے ده چه په دے مسئله کښې د هغه دوه قوله نه دی لکه څنګه چه په نورو مسئلو کښې د هغه دوه قوله نه دی. او چا نهی لره قول قدیم ګنړلے دے او بیائے روایاتو د جواز سره رجوع ګنړلے ده. لکه چه د ابن حزم مسلك دے. او چا د هغوی منع لره د هغوی رائے خیال کړے دے. لکه چه روایت دے د اسود بن یزدی نه چه زۀ او حضرت عمر په وقوف کښې وو د عرفات چه هغوی یو سړے اولیدو چه وېښته ئے ښه ګومنز کړی وو او خوشبوئی تړے نه ختله نو حضرت عمر ورته اوفرمائیل چه ته محرم ئے؟ هغه اووے آو. حضرت عمر اوفرمائیل چه د محرم داسے شکل وی؟ د هغه وېښتۀ په خاورو خړ په مخ رابنتکه وی. هغه اووے زۀ متمتع وم او ځما ښځه ځما سره ده. او ما خاص نن ددے ځائے نه احرام تړلے دے. نو حضرت عمر حکم اوفرمائیلو چه څوك دی تمتع نۀ کوی (الحدیث) او ددے نه واضحه شوه چه دا د هغوی رائے وه. ابن حزم وئیلے دی چه رسول الله د شپے د خپلو تولو بیبیانو سره جماع اوړه او بیا سحر ئے احرام اوتړو. او په دے کښې خو د هیچا اختلاف نشته. چه جماع حلاله ده د احرام نه یوه لحظه مخکښې هم.

بَاب حَجَّةِ النَّبِيِّ ﷺ

عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ فَسَأَلَ عَنِ الْقَوْمِ حَتَّى انْتَهَى إِلَيَّ فَقُلْتُ أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ فَأَهْوَى بِيَدِهِ إِلَى رَأْسِي فَنَزَعَ زِرِّي الْأَعْلَى ثُمَّ نَزَعَ زِرِّي الْأَسْفَلَ ثُمَّ وَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ غُلَامٌ شَابٌّ فَقَالَ مَرْحَبًا بِكَ يَا ابْنَ أَخِي سَلْ عَمَّا شِئْتَ فَسَأَلْتُهُ وَهُوَ أَعْمَى وَحَضَرَ وَقْتُ الصَّلَاةِ فَقَامَ فِي نِسَاجَةٍ مُلْتَحِفًا بِهَا كُلَّمَا وَضَعَهَا عَلَى مَنْكِبِهِ رَجَعَ طَرَفَاهَا إِلَيْهِ مِنْ صِغَرِهَا وَرِدَاؤُهُ إِلَى جَنْبِهِ عَلَى الْمِشْجَبِ فَصَلَّى بِنَا فَقُلْتُ أَخْبِرْنِي عَنْ حَجَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بِيَدِهِ فَعَقَدَ تِسْعًا فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَثَ تِسْعَ سِنِينَ لَمْ يَحُجَّ ثُمَّ أَذَّنَ فِي النَّاسِ فِي الْعَاشِرَةِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجٌّ فَقَدِمَ الْمَدِينَةَ بَشَرٌ كَثِيرٌ كُلُّهُمْ يَلْتَمِسُ أَنْ يَأْتَمَّ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَعْمَلَ مِثْلَ عَمَلِهِ فَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتَّى أَتَيْنَا ذَا الْحُلَيْفَةِ فَوَلَدَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ

باب : د نبی ﷺ د حج بیان

جعفر بن محمدؒ د خپل پلار نه روایت کوی چه هغوی وئیلے دی چه مونږ د جابر بن عبد الله کور ته لاړو او هغوی د ټولو خلقو نه تپوس اوکړو. تردے پورے چه خما نمبر راغې. نو ما اووے زۀ محمد بن علی یم د امام حسین نمسے. نو هغوی خما په طرف په (شفقت سره) لاس رااوږد کړو. او خما په سر ئے کیښودو او خما (د قمیص) پورته تڼۍ ئے پرانسته بیائے لاندې تڼۍ پرانسته او بیائے د خپل لاس ورغوے خما د سینے د دواړو تیونو په مینځ کښې کیښودو. او زۀ په دغه ورځو ځوان هلك وم. بیائے اووے شاباش خوشحاله اوسې اے خما وراره. او تپوس کوه خما نه چه څۀ غواړې بیا ما د هغۀ نه تپوس اوکړو او هغوی ړوند وو او په دے کښې د مانځۀ وخت راغې. او هغوی پاڅیدو او یو څادر ئے په سر کړو چه کله به ئے د هغې څادر دواړه غاړے په دواړو اوګو باندے ایخودۀ نو شګنه به غورځیدو د هغه څادر د وړوکوالۍ په سبب سره. او د هغوی لوئې څادر په تپائی پروت وو. بیا هغوی مونږ ته مونځ راکړو (یعنی امامت) او ما ورته اووے چه خبر کړه ما له د رسول الله ﷺ د حج نه (یعنی د حجة الوداع نه) نو جابر په خپل لاس سره اشاره اوکړه د نهو او اوئې وئیل چه رسول الله ﷺ د نهو کالو پورے په مدینه کښې پاتے شو او حج ئے نۀ وو کړے بیا په لسم کال په خلقو کښې آواز اوشو چه رسول الله ﷺ حج له روانیدونکے دے. بیا د مدینې ډیر خلق راجمع شو. او ټولو دا غوښته چه د محمد رسول الله ﷺ پیروی اوکړی او هم هغسے کار اوکړی (په حج کولو کښې) لکه څنګه چه حضرت ﷺ کوی. غرض مونږ ټول خلق د حضور ﷺ سره اووتو. تردے چه ذوالحلیفے ته نو اوزیږولو اسماء بنت عمیس محمد د ابوبکرؓ ځوے. او هغوی حضرت ﷺ ته پیغام اولیږو

عُمَيْسٍ مُحَمَّدَ بْنَ أَبِي بَكْرٍ فَأَرْسَلَتْ إِلَى
رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ
أَصْنَعُ قَالَ اغْتَسِلِي وَاسْتَثْفِرِي بِثَوْبٍ
وَأَحْرِمِي فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ رَكِبَ
الْقَصْوَاءَ حَتَّى إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ عَلَى
الْبَيْدَاءِ نَظَرْتُ إِلَى مَدِّ بَصَرِي بَيْنَ يَدَيْهِ
مِنْ رَاكِبٍ وَمَاشٍ وَعَنْ يَمِينِهِ مِثْلَ ذٰلِكَ
وَعَنْ يَسَارِهِ مِثْلَ ذٰلِكَ وَمِنْ خَلْفِهِ مِثْلَ
ذٰلِكَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
بَيْنَ أَظْهُرِنَا وَعَلَيْهِ يَنْزِلُ الْقُرْآنُ وَهُوَ
يَعْرِفُ تَأْوِيلَهُ وَمَا عَمِلَ بِهِ مِنْ شَيْءٍ
عَمِلْنَا بِهِ فَأَهَلَّ بِالتَّوْحِيدِ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ
لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ
الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ
لَكَ وَأَهَلَّ النَّاسُ بِهٰذَا الَّذِي يُهِلُّونَ بِهِ
فَلَمْ يَرُدَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ شَيْئًا مِنْهُ وَلَزِمَ رَسُولُ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلْبِيَتَهُ قَالَ جَابِرٌ
رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَسْنَا نَنْوِي إِلَّا الْحَجَّ
لَسْنَا نَعْرِفُ الْعُمْرَةَ حَتَّى إِذَا أَتَيْنَا
الْبَيْتَ مَعَهُ اسْتَلَمَ الرُّكْنَ فَرَمَلَ ثَلَاثًا
وَمَشَى أَرْبَعًا ثُمَّ نَفَذَ إِلَى مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ

حضرت ﷺ اوفرمائیل چه غسل اوکړه او د یوے کپړے نه لنګ اووهلو احرام اوتړه بیا رسول الله ﷺ دوه رکعته مونځ اوکړو په جماعت کښې او سور شو په قصواء اوښه باندے . ترد یپورے چه هر کله حضرت ﷺ نے واخستو او نیغه شوه په بیداء باندے (هغه یو مقام دے د ختې په مثل) نو ما اوکتل د مخے طرفنه نو د کومے پورے چه ځما نظر لاړو د هغے پورے پیاده او سوارۀ په نظر راتلو او ښی طرفته مے هم دومره ګڼړه اولیده او ګس طرفته مے هم دومره ګڼړه اولیده او روستو هم دغه شان ګڼړه وه. او رسول الله ﷺ زمونږ په مینځ کښې وو. او په هغه باندے قران شریف نازلیدو روان وو او حضرت ﷺ په دے حقیقت ښه پوهه و. او کوم کار چه به هغوی کوؤ هغه به مونږ هم کوؤ. بیا هغوی د توحید سره لبیك اووئیلو او اوئے وئیلو لبیك د لاشریك لك پورے. او معنی د دے مخکښې بیان شوے ده. او خلقو هم دغه لبیك اووئیلو کوم چه اوس خلق وائی (یعنی د حضرت ﷺ لبیك کښې ئے څۀ لفظ زیات اووئیلو او حضرت ﷺ هغوی منع نۀ کړو) او حضرت ﷺ لبیك په مخه وئیلو او جابر وائی چه مونږ د حج نه سوا بله څۀ اراده نۀ لرله او عمره هډو چا پیژنده هم نه (بلکه د جاهلیت په ورځو کښې به د حج په ورځو کښې په عمره کولو خلقو ډیر بد ګڼړلو) ترد ے پورے چه مونږ بیت الله ته د هغوی سره راغلو د خپلو مس کولو رکن ته (یعنی حجر اسود ته) او په طواف کښې په ورو ورو قدمونو او پهلوانئ سره په رومبو دریو چکرو کښې روان وو. او څلورو چکرو روستنو کښې د عادت موافق او چورلیدو. بیا مقام ابراهیم له راغے او دا ایت ئے اولوستو ۔ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرَاهِيْمَ مُصَلًّى ۔ یعنی مقرر کړئ مقام ابراهیم لره ځائے د مانځۀ او مقام ئے د خپل ځان او د بیت الله په مینځ کښې کړو. بیا ځما پلار وئیل او زۀ نۀ پوهیږم چه هغوی ذکر کړے

عَلَيْهِ السَّلَامِ فَقَرَأَ وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى فَجَعَلَ الْمَقَامَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ فَكَانَ أَبِي يَقُولُ وَلَا أَعْلَمُهُ ذَكَرَهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ وَقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الرُّكْنِ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ خَرَجَ مِنَ الْبَابِ إِلَى الصَّفَا فَلَمَّا دَنَا مِنَ الصَّفَا قَرَأَ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللهُ بِهِ فَبَدَأَ بِالصَّفَا فَرَقِيَ عَلَيْهِ حَتَّى رَأَى الْبَيْتَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَوَحَّدَ اللهَ وَكَبَّرَهُ وَقَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ أَنْجَزَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ ثُمَّ دَعَا بَيْنَ ذَلِكَ قَالَ مِثْلَ هَذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ نَزَلَ إِلَى الْمَرْوَةِ حَتَّى إِذَا انْصَبَّتْ قَدَمَاهُ فِي بَطْنِ الْوَادِي سَعَى حَتَّى إِذَا صَعِدَتَا مَشَى حَتَّى أَتَى الْمَرْوَةَ فَفَعَلَ عَلَى الْمَرْوَةِ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا حَتَّى إِذَا كَانَ آخِرُ طَوَافِهِ عَلَى الْمَرْوَةِ فَقَالَ لَوْ أَنِّي اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمْ

وی مګر نبی ﷺ ته به ئے ذکر کړے وی چه هغوی دوه رکعته اوکړل او په هغوی کښې قُلْ هُوَ اللهُ اَحَد او قُلْ یٰاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ اولوستل بیا واپس شو حضرت ﷺ حجر اسود ته او هغه ئے ښکل کړو بیا راووتو په هغه دروازه چه د صفا په طرف ده. بیا چه هر کله صفا ته نژدے شو (دا د یو غر نوم دے چه د کعبے د دروازے نه شل پنځویشت قدمه لرے دے) نو دا آیت ئے اولوستو اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللهِ (یعنی صفا او مروه دواړه د الله د نشانونو نه دی) او اوئے فرمائیل حضرت ﷺ چه مونږ شروع کوو په هغه څه سره او حضرت ﷺ صفا ته او ختو تر دے پورے چه بیت الله ئے اولیدو او د قبلے طرفته ئے اوکتل او د الله توحید ئے بیان کړو او د هغه لوئی ئے بیان کړه (یعنی د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله نه د هَزَمَ الْاَحْزَابَ وَحْدَه پورے اووے (یعنی څوك معبود ، د عبادت لائق سوا د الله نه چه هغه یو دے هغه پوره کړے ده خپله وعده (یعنی د دین د خورلو او د خپل پیغمبر ﷺ د مدد) او مدد کړے هغه د خپل غلام (یعنی د محمد رسول الله ﷺ) او یواځے شکست ورکړے دے هغه ټولو لښکرو له بیائے د دے نه پس دُعا اوکړه او بیائے داسے اووے. بیائے دُعا اوکړه غرض درے پیرے ئے دغه شان اوکړو. بیا راکوز شو. او د مروه په طرف لاړو تر دے پورے چه د هغوی قدم د میدان په مینځ کښې کوز شو نو منډے ئے کړے تر دے پورے چه مروه ته اورسیده بیائے په مروه باندے هم دغه شان اوکړو لکه چه په صفا باندے ئے کړی وو) یعنی هغه کلمات ئے اووے او قبلے ته ئے مخ کړو اودریدو او دعائے اوغوښته تر دے پورے چه هر کله طواف ختم شو په مروه باندے (یعنی اووه چکره پوره شو) نو حضرت ﷺ اوفرمائیل که ما ته چرے د مخکښې نه معلومه وے خپل کار کوم چه روستو معلوم شو نو ما به هدی د ځان سره نه وه راوستے (او هم په دے مکه کښې به مے

أَسُقِ الْهَدْيَ وَجَعَلْتُهَا عُمْرَةً فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ لَيْسَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيَحِلَّ وَلْيَجْعَلْهَا عُمْرَةً فَقَامَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَلِعَامِنَا هٰذَا أَمْ لِأَبَدٍ فَشَبَّكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَابِعَهُ وَاحِدَةً فِي الْأُخْرَى وَقَالَ دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ مَرَّتَيْنِ لَا بَلْ لِأَبَدٍ أَبَدٍ وَقَدِمَ عَلِيٌّؓ مِنَ الْيَمَنِ بِبُدْنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا مِمَّنْ حَلَّ وَلَبِسَتْ ثِيَابًا صَبِيغًا وَاكْتَحَلَتْ فَأَنْكَرَ ذٰلِكَ عَلَيْهَا فَقَالَتْ إِنَّ أَبِي أَمَرَنِي بِهٰذَا قَالَ فَكَانَ عَلِيٌّؓ يَقُولُ بِالْعِرَاقِ فَذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحَرِّشًا عَلَى فَاطِمَةَ لِلَّذِي صَنَعَتْ مُسْتَفْتِيًا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا ذَكَرَتْ عَنْهُ فَأَخْبَرْتُهُ أَنِّي أَنْكَرْتُ ذٰلِكَ عَلَيْهَا فَقَالَ صَدَقَتْ صَدَقَتْ مَاذَا قُلْتَ حِينَ فَرَضْتَ الْحَجَّ قَالَ قُلْتُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أُهِلُّ بِمَا أَهَلَّ بِهِ رَسُولُكَ قَالَ فَإِنَّ مَعِيَ الْهَدْيَ فَلَا تَحِلُّ قَالَ فَكَانَ جَمَاعَةُ الْهَدْيِ الَّذِي قَدِمَ بِهِ عَلِيٌّؓ مِنَ الْيَمَنِ وَالَّذِي أَتَى بِهِ النَّبِيُّ

اخستے وہ) او په خپل دد ے احرام د حج باند ے به مے عمره کړے وه. نو اوس د چا سره چه هدی نهٔ وی هغه دِ احرامونه پرانژی (او یعنی طواف او سعی خو اوشوه او د عمر ے افعال پوره شو) او په د ے احرام دِ عمره اوکړی. بیا سراقه بن مالك بن جعشم پاسیدو او عرض ئے اوکړو چه یا رسول اللهﷺ! په د ے حج باند ے عمره کول زمونږ دد ے کال سره خاص دی یا کهٔ همیشه دپاره اجازت د ے؟ حضرتﷺ اوفرمائیل همیشه دپاره اجازت د ے او همیشه دپاره د ے. او حضرت علی د یمن نه د نبیﷺ اوښ اخستے راغے. او حضرت فاطمه ئے اولیدله چه په هغه خلقو کښ وه چا چه احرام کھولاؤ کړے وو او رنګینے کپړے ئے اغوستے و ے او رانجهٔ ئے لګولي وو نو حضرت علی بد اوګڼړل نو هغوی اوفرمائیل چه څما پلار حکم فرمائیلے د ے. بیا راوی وائی چه حضرت علی کرم الله وجهه په عراق کښ فرمائیلو چه زهٔ د رسول اللهﷺ خواله لاړم په غصه کښ د حضرتؓ فاطمے د احرام کھولاویدو په سبب سره چه هغوی کړے وو د تپوس دپاره د رسول اللهﷺ نه د هغے خبر ے کومه چه هغے ذکر کړے وه. او حضرتﷺ مے خبر کړو چه ما بد اوګڼړه د ے لره نو حضرتﷺ اوفرمائیل فاطمه ربنتیا وائی (یعنی هم ما هغوی له د احرام د پرانستو حکم ورکړے د ے) بیا حضرتﷺ اوفرمائیل تا وئیلے وو چه ما وئیلے وو چه د حج اراده د کوله؟ نو ما عرض اوکړو چه ما وئیلے وو یا الله زهٔ اهلال کوم د هغه چه اهلال ئے کړے د ے ستا رسول اللهﷺ نو حضرتﷺ اوفرمائیل څما سره هدی (قربانی) ده (څکه ما احرام کھولاؤ نهٔ کړو) اوس تهٔ هم احرام مهٔ پرانژه. وئیلے دی جابر چه بیا هغه اوښ چه حضرت علی د یمن نه راوستے وو او کوم چه نبیﷺ سره راغلے وو چه یو ځائے شو، سل اوښان شو. جابرؓ وائی بیا خلقو احرامونه کھولاؤ کړل او

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِائَةً قَالَ فَحَلَّ النَّاسُ كُلُّهُمْ وَقَصَّرُوا إِلَّا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ تَوَجَّهُوا إِلَى مِنًى فَأَهَلُّوا بِالْحَجِّ وَرَكِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِهَا الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ وَالْفَجْرَ ثُمَّ مَكَثَ قَلِيلًا حَتَّى طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَأَمَرَ بِقُبَّةٍ مِنْ شَعَرٍ تُضْرَبُ لَهُ بِنَمِرَةَ فَسَارَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَشُكُّ قُرَيْشٌ إِلَّا أَنَّهُ وَاقِفٌ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ كَمَا كَانَتْ قُرَيْشٌ تَصْنَعُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَجَازَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَى عَرَفَةَ فَوَجَدَ الْقُبَّةَ قَدْ ضُرِبَتْ لَهُ بِنَمِرَةَ فَنَزَلَ بِهَا حَتَّى إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ أَمَرَ بِالْقَصْوَاءِ فَرُحِلَتْ لَهُ فَأَتَى بَطْنَ الْوَادِي فَخَطَبَ النَّاسَ وَقَالَ إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ تَحْتَ قَدَمَيَّ مَوْضُوعٌ وَدِمَاءُ الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعَةٌ وَإِنَّ أَوَّلَ دَمٍ أَضَعُ مِنْ دِمَائِنَا دَمُ ابْنِ

ویښتهٔ مو کټ کړل مګر نبی ﷺ او چا سره چه قربانی وه (هغه محرم پاتے شو) بیا چه هر کله د ترویے ورځ شوه (یعنی اتم تاریخ د ذی الحجے) نو خلق منٰی ته لاړل او د حج لبیك ئے اووے. او رسول الله ﷺ هم سور شو او په منٰی کښ ئے د ماسپخین او مازیګر او ماښام او ماسختن او د سحر (یعنی پنځهٔ مونځونه) اوکړل بیا لږ ساعت حصار شو تردے پورې چه نمر راوختو او حکم اوفرمائیلو حضرت ﷺ د خیمے چه د ویښتونه جوړه وه چه اودِ لګولے شی په نمره کښ (دا یو مقام نوم دے) او رسول الله ﷺ روان شو. او قریشو یقین وو چه حضرت ﷺ به مشعر الحرام کښ وقوف کوی لکه چه د ټولو قریشو عادت وو د جاهلیت په ورځو کښ او حضرت ﷺ د هغے نه مخکښ لاړو تردے پورے چه عرفات ته اورسیدو او هغوی خپله خیمه په نمره کښ اولګوله او هلته په هغے کښ کوز شو. تردے پورے چه هر کله نمر زوال اوموندو حضرت ﷺ حکم اوکړو قصواء اوښه راوستے شوه او حضرت ﷺ د وادئ مینځ ته اورسیدو. او حضرت ﷺ خلقو ته خطبه اولوسته او اوئے فرمائیل چه ستاسو وینه او مالونه په یو بل باندے حرام دی لکه چه نن ورځے حرمت دے ددے میاشتے دننه ددے ښهر دننه او هر څیز د جاهلیت د زمانے د دواړو خپو لاندے کیخودے شو (یعنی د هغه څیزونو څهٔ اعتبار پاتے نهٔ شو) او د جاهلیت وینے بے اعتبار شوے او ړومبئ هغه وینه کومه چه زهٔ د خپلو وینو نه معاف کوم د ابن ربیعه وینه ده چه هغوی پئ ځنبلو په بنی سعد کښ او هغوی لره هذیل قتل کړے وو (غرض دا زهٔ د هغے بدله نهٔ اخلم) دغه شان د جاهلیت د زمانے سود ټول پریخودے شو (او ړومبے کوم سود چه مونږ خپل ددے ځائے د سود نه پریږدو (او طلب ئے نهٔ کوؤ) د عباس بن عبد المطلب سود دے ددے دپاره چه هغه ټول معاف کړے شو. او تاسو

رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ كَانَ مُسْتَرْضِعًا فِي بَنِي سَعْدٍ فَقَتَلَتْهُ هُذَيْلٌ وَرِبَا الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ وَأَوَّلُ رِبًا أَضَعُ رِبَانَا رِبَا عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَإِنَّهُ مَوْضُوعٌ كُلُّهُ فَاتَّقُوا اللهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللهِ وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ فَإِنْ فَعَلْنَ ذَلِكَ فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَقَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ كِتَابُ اللهِ وَأَنْتُمْ تُسْأَلُونَ عَنِّي فَمَا أَنْتُمْ قَائِلُونَ قَالُوا نَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ فَقَالَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ يَرْفَعُهَا إِلَى السَّمَاءِ وَيَنْكُتُهَا إِلَى النَّاسِ اللَّهُمَّ اشْهَدْ اللَّهُمَّ اشْهَدْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ أَذَّنَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا ثُمَّ رَكِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَى الْمَوْقِفَ فَجَعَلَ بَطْنَ نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ إِلَى الصَّخَرَاتِ وَجَعَلَ حَبْلَ الْمُشَاةِ بَيْنَ يَدَيْهِ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَلَمْ

خلق اوس د الله تعالٰی په امان سره اخستی دی او حلال کړے دے تاسو لره دوی ستر د الله په نوم سره. او ستاسو حق په دوی باندے داد ے چه ستاسو په بسترو (یعنی ستاسو په کور کښ) چه د هغهٔ راتلل ستاسو برداشت نهٔ وی. بیا کهٔ چرے هغه داسے کوی نو اوئے وهئ داسی چه هغوی زخمی نهٔ شی. (یعنی هډوکے وغیره ئے مات نهٔ شی څهٔ اندام ئے ضائع نهٔ شی په حسن او صورت کښ ئے فرق را نهٔ شی چه ستاسو پتے خراب نهٔ شی) او د هغوی حق په تاسو باندے دومره دے چه د هغوی ډوډئ کپړه د دستور موافق ستاسو په ذمه ده. او زهٔ ستاسو په مینځ کښ یو داسے څیز لره پریږدم چه هغه کهٔ چرے تاسو مضبوط اونیسئ نو چرته به ګمراه نهٔ شئ د الله کتاب او ستاسو نه به سوال کیدے شی (په قیامت کښ) او څما خال به درنه تپوسلے شی بیا به تاسو څهٔ وایئ؟ تولو عرض اوکړو چه مونږ به ګواهی ورکوؤ چه بیشکه تا د الله پیغام مونږ ته رااورسوؤ او د رسالت حق د ادا کړو. او د امت خیر خواهی د اوکړه. بیا حضرت ﷺ اشاره اوکړه د شهادت په ګوته چه حضرت هغے لره د اسمان طرفته اوچتوله او د خلقو طرفته ئے رابنکته کوله او فرمائیلو ئے چه یا الله ګواه شه یا الله ګواه شه درے ځله ئے دا اوفرمائیل دغسے اشاره به ئے کوله بیا اذان او تکبیر اوشو او د ماسپخین مونځ ئے اوکړو. او بیا اقامت اوشو او د مازیګر مونځ ئے اوکړو. او ددے دواړو په مینځ کښ ئے څهٔ نهٔ دی لوستلی. (یعنی سنت وغیره) بیا سور شو رسول الله ﷺ تردے پورے چه راغے د خپلو اودریدو ځائے ته بیائے د اوښے ګیډه د ګټو طرفته کړه او تنګه لارئے خپلے مخے ته کړه. او قبلے ته ئے مخ کړو او اودریدو تردے پورے چه نمر ډوب شو او زیړ والے ئے لږ لږ ختم شو او د نمر ټکئ ډوبه شوه. او اسامه لره ئے خپلے اوښے شاته کینښنوؤ. او واپس شو او واګے

يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَذَهَبَتِ الصُّفْرَةُ قَلِيلًا حَتَّى غَابَ الْقُرْصُ وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ خَلْفَهُ وَدَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ شَنَقَ لِلْقَصْوَاءِ الزِّمَامَ حَتَّى إِنَّ رَأْسَهَا لَيُصِيبُ مَوْرِكَ رَحْلِهِ وَيَقُولُ بِيَدِهِ الْيُمْنَى أَيُّهَا النَّاسُ السَّكِينَةَ السَّكِينَةَ كُلَّمَا أَتَى حَبْلًا مِنَ الْحِبَالِ أَرْخَى لَهَا قَلِيلًا حَتَّى تَصْعَدَ حَتَّى أَتَى الْمُزْدَلِفَةَ فَصَلَّى بِهَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِأَذَانٍ وَاحِدٍ وَإِقَامَتَيْنِ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا شَيْئًا ثُمَّ اضْطَجَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ وَصَلَّى الْفَجْرَ حِينَ تَبَيَّنَ لَهُ الصُّبْحُ بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى أَتَى الْمَشْعَرَ الْحَرَامَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَدَعَاهُ وَكَبَّرَهُ وَهَلَّلَهُ وَوَحَّدَهُ فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى أَسْفَرَ جِدًّا فَدَفَعَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَأَرْدَفَ الْفَضْلَ بْنَ عَبَّاسٍ وَكَانَ رَجُلًا حَسَنَ الشَّعْرِ أَبْيَضَ وَسِيمًا فَلَمَّا دَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتْ بِهِ ظُعُنٌ يَجْرِينَ فَطَفِقَ الْفَضْلُ يَنْظُرُ إِلَيْهِنَّ فَوَضَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د قصواءئے دومره قدرے راښکودے وے چه سر د هغے د کجاوے د مخکښې مورك سره لګيدلے وو (مورك هغه ځائے دے چه د سور ښيادم خپے چه په زوړند حالت کښې ستړے شی نو په دغه مورك کښې ئے کيږدی) او حضرت ﷺ په ښی لاس سره اشاره کوله چه اے خلقو رو په آرام سره ځئ. او کله چه به د شګو په ډهيرئ باندے راغے (چه هلته به قدمونه کم اخستے شو) نو واګے به ئے لږے سستے کړے تردے پورے چه اوښه به اوختله آخر مزدلفے ته اورسيدو او هلته ئے د ماښام او ماسختن مونځ اوکړو په يو اذان سره (کوم چه ئے د ماښام نه مخکښې اووے) او د دوو تکبيرونو سره او ددے دواړو فرضو په مينځ کښې ئے نفل څۀ او نۀ کړو. (يعنی سنت وغيره ئے او نۀ کړل) بيا حضرت ﷺ اودۀ شو تردے پورے چه صبا رااوختو بيائے د سحر مونځ ادا کړو (سبحان الله څنګه ښکلی خادمان دی د رسول الله ﷺ چه شپه او ورځ د هغوی اودۀ کيدو پاسيدو ويخيدو او خوړلو څښلو باندے نظر دے. او د هغوی د هر فعل مبارك ياداشت او حفاظت دے ورسره الله د رحمت اوکړی په هغوی باندے هر کله چه سحر ښه ظاهر شو د اذان او تکبير سره ئے مونځ اولوستو بيا په قصواء اوښه باندے سور شو او مشعر الحرام ته راغے. او هلته ئے قبلے ته مخ کړو او د الله تعالی نه ئے دُعا اوغوښته او الله اکبر ئے اووے او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ئے اووے. او د هغۀ توحيد ئے اووے او هلته حصار شو تردے پورے چه ښه رڼا شوه او د نمر د ختو نه مخکښې حضرت ﷺ د هغه ځائے نه واپس شو. او فضل بن عباس ئے د ځان سره (په اوښه) شاته کينښنوۀ. او فضل ؓ ښۀ ويختو والا سور سپين ښکلے ځوان وو. بيا چه هر کله حضرت ﷺ روان شو نو يو جماعت د ښځو داسے روان وو چه په يو يو اوښ باندے يوه يوه ښځه سوره وه. او تولے روانے وے. او فضل ؓ هغوی

وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى وَجْهِ الْفَضْلِ فَحَوَّلَ الْفَضْلُ وَجْهَهُ إِلَى الشِّقِّ الآخَرِ يَنْظُرُ فَحَوَّلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ مِنَ الشِّقِّ الآخَرِ عَلَى وَجْهِ الْفَضْلِ يَصْرِفُ وَجْهَهُ مِنَ الشِّقِّ الآخَرِ يَنْظُرُ حَتَّى أَتَى بَطْنَ مُحَسِّرٍ فَحَرَّكَ قَلِيلًا ثُمَّ سَلَكَ الطَّرِيقَ الْوُسْطَى الَّتِي تَخْرُجُ عَلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرَى حَتَّى أَتَى الْجَمْرَةَ الَّتِي عِنْدَ الشَّجَرَةِ فَرَمَاهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ مِنْهَا مِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ رَمَى مِنْ بَطْنِ الْوَادِي ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمَنْحَرِ فَنَحَرَ ثَلَاثًا وَسِتِّينَ بِيَدِهِ ثُمَّ أَعْطَى عَلِيًّا فَنَحَرَ مَا غَبَرَ وَأَشْرَكَهُ فِي هَدْيِهِ ثُمَّ أَمَرَ مِنْ كُلِّ بَدَنَةٍ بِبَضْعَةٍ فَجُعِلَتْ فِي قِدْرٍ فَطُبِخَتْ فَأَكَلَا مِنْ لَحْمِهَا وَشَرِبَا مِنْ مَرَقِهَا ثُمَّ رَكِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَفَاضَ إِلَى الْبَيْتِ فَصَلَّى بِمَكَّةَ الظُّهْرَ فَأَتَى بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَسْقُونَ عَلَى زَمْزَمَ فَقَالَ انْزِعُوا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَوْلَا أَنْ يَغْلِبَكُمُ النَّاسُ عَلَى سِقَايَتِكُمْ لَنَزَعْتُ مَعَكُمْ فَنَاوَلُوهُ دَلْوًا فَشَرِبَ مِنْهُ

طرفته کتلو نو حضرت ﷺ د فضل په مخ باندے لاس کیخودو (او په ډیره سره ئے ورته څۀ او نۀ وے، سبحان الله دا د اخلاقو خبره وه او نهی عن المنکر ئے په څومره خوبئ سره ادا کړو) او فضل خپل مخ بل طرفته اوګرځوؤ او کتل ئے کول (دا د هغوی د کمال او اطمینان وجه وه د رسول الله ﷺ په اخلاقو باندے) نو رسول الله ﷺ خپل لاس دیخوا رااوګرځوو لو د هغۀ په مخ ئے کیښودو نو فضل بیا بل طرفته مخ اوګرځوو او (ښځو) ته ئے کتل تردے پورے چه بطن محسر ته اورسیدل بیائے اوښے لږه لږ حرکت ورکړو. او د مینځ لار ئے واخسته چه جمره کبرٰی ته وتلے وه. تردے پورے چه د هغه جمرے خواله راغے کومه چه د اونے خواته وه (او دغے ته جمره عقبه وائی) او اووۀ ګیټئ ئے هغے لره اوویشتو او په هره ګیټئ باندے ئے الله اکبر وئیلو. داسے ګیټئ چه په تینګرئ سره ویشتلے شی (او د لوبیا ددانے برابر وی) او د وادئ په مینځ کښ اودریدو او ویشتلے ئے (چه منٰی او عرفات او مزدلفه ئے ښی طرفته او مکه ئے ګس طرفته راغله. بیا د قربانئ ځائے ته راغے او درے شپیتۀ اوښان ئے په خپل لاس مبارك قربانی کړل (قربان دست و باز ویت شوم) باقی ئے حضرت علی ته ورکړل هغوی قربانی کړل او شریك کړو حضرت ﷺ هغۀ لره په خپله قربانئ کښ بیائے حکم اوکړو چه د هر یو اوښ نه یوه ټکړه واخلئ او په یوه کټوئ کښ ئے واچوله او پخه کړے شوه. بیا حضرت ﷺ او حضرت علی دواړو د هغے نه غوښه اوخوړه او د هغے خوروائے اوڅکله بیا سوارۀ شول او بیت الله طرفته راغلل او طواف افاضه ئے اوکړو او د ماسپخین (مونځ ئے) په مکه کښ اوکړو او د بنی عبد المطلب خواله راغے چه هغه خلقو به زمزم باندے اوبۀ څکلے. حضرت ﷺ اوفرمائیل اوبۀ ډکے کړئ اے د عبد المطلب اولاده. کچرے څما دا خیال نۀ وے چه خلق به ګنړه جوړه کړی او

تاسو له به اوبهٔ ډکولو له نهٔ درکوی. نو زهٔ به هم ستاسو سره شریك وم او بهٔ به مې ډکولې (یعنی هر کله چه حضرت ﷺ ډکولې نو سنت کیدلو بیا به تول امت په ډکولو اخته وو او د دوی ځکل به پاتې شوی وو) بیا هغه خلقو یو ډول حضرت ﷺ ته ورکړو او هغوی ترې نه اوبهٔ اوڅکلې[1].

---

[1] په دې حدیث کښې لوئې لوئې فائدې دی او ډیر قواعد د اسلام دی او دا حدیث د مسلم د یواځې حدیثونو نه دے چه په بخاری کښې نشته دے. او ابوداؤد په مثل د مسلم روایت کړے دے. او ابوبکر بن منذر یو کتاب تصنیف کړے دے صرف د دے فائدو کښې او د دے حدیث نه ئې د یو نیم سل نه زیاتې مسئلې ویستلې دی. او کهٔ څوك غور اوکړی نو د دے نه به پکښې هم زیاتې اومومی. اوس په دے لړه غونډے تکره کښې هغه فائدې چه په هغې باندې د تنبیه احتیاج دی مونږ هغې لره ذکر کوو.

اول: د اچه (جعفر بن محمد د خپل پلار نه روایت کوی چه هغوی وائی چه مونږ د جابر بن عبدالله رضی الله عنه خواله لاړو نو هغوی د تول وخلقو نه تپوس اوکړو نو هر کله چه څوك ملاقات له راشی نو د هر یو خاطر د اوشی د هغهٔ د مرتبې موافق لکه چه د صدیقه نه مروی دے چه د خلقو د مرتبې خیال ساتئ.

دویم: (ما اووے محمد بن علی رضی الله عنه د امام حسین رضی الله عنه نمسے یم نو هغوی خما په طرف په ډیر شفقت سره لاس را اوږد کړو. په دے کښې تعظیم او خاطر داری ده د اهل بیتو رضی الله عنهم لکه چه حضرت جابر رضی الله عنه ئې تسلی اوکړه چه محمد بن علی نمسے دے د امام حسین رضی الله عنه.

دریم: (جابر رضی الله عنه هغوی ته اوفرمائیل مرحبا خوشحاله اوسې او شاباش د دے نه معلومه شوه چه څوك راشی د هغهٔ د زړهٔ د خوشحالولو دپاره څهٔ خبره کول پکار دی)

څلورم: نرمی او اخلاق او انس ورکول او هغوی لره په محبت سره حوصله ورکول چه د څهٔ تپوس کوی او یره نهٔ کوی څکه حضرت جابر رضی الله عنه د هغهٔ په سینه باندې لاس کیښودو او بیائې اوفرمائیل چه تپوس کوه.

پنځم: (صاحب زاده محمد چه کوم دا اووے چه په هغه ورځو زهٔ ځوان وم. د دے نه معلومه شوه چه وجه د هغهٔ سره د زیات محبت کولو او د زړهٔ ساتلو دغه وه. چه هغه کم عمره او وړوکې وو. او د بوډاگانو سره دا خبره چه په سینه باندې لاس ایخودل ضروری نهٔ دی او دا خاطر داری به سبب وی هغوی لره د حدیث مطلب یادولو.

شپږم: هغه یعنی جابر رضی الله عنه نابینا و وبه دے کښې د مانځهٔ وخت راغې. د دے نه معلومه شوه چه امامت د ړوند روا دے. او د دے په جائز کیدو کښې اختلاف نشته. مګر په غوره والی کښې ئې د امام شافعی رحمه الله درې قولونه دی.

اول: دا چه امام ړوند د سترګو والا امام نه غوره دے. څکه چه د هغه نظر بل خوا نهٔ پریوځی. او خیال ئې نهٔ بدلیږی.

دویم: دا چه سترګو والا غوره دے څکه چه هغه د پلیتو نه ځان ښهٔ بچ کولے شی.

دریم: دا چه دواړه برابر دی او دغه قول ډیر صحیح دے. او دغه منصوص دے د امام شافعی رحمه الله نه.

اووم: دا چه د کور والا امام کیدل غوره دی اګر کهٔ نابینا هم وی.

اتم: دا چه (هغه اودریدو څادر ئې پسر کړو) مونځ جائز دے په یوے کپړے، سره اګر کهٔ نورے کپړے هم موجودے وی لکه چه د هغه لوئې څادر پروت وی.

نهم: د تپایئ وغیره په کور کښ ساتل جائز دی. بیائے مونږ ورکړو آوازئے اوکړو ددے دپاره چه خلق د حج تیاری اوکړی او مناسك او د حج احکام ښهٔ ایزده کړی او د حضرت خبرے او وصیتونه ښه یاد کړی. او خلقو ته ئے اورسوی. او دعوت د اسلام او شوکت د ایمان ښه ظاهر کړے شی.

لسم: ددے نه معلومه شوه چه امام لره مستحب دی چه هر کله په یو لوئے کار باندے ځی نو چه خلقو لره خبر کړی چه د هغوی د ملګرتیا دپاره تیار شی.

یولسم: معلومه شوه چه تولو خلقو د حج احرام تړلے وو. ځکه جابر رضی الله اووے چه هر بنده هغه کول کوم چه نبی کړی وو. بیا چه هر کله حضرت کومو خلقو چه هدی نهٔ وه راوستلے هغوی ته د فسخ حج په عمرے حکم اوفرمائیل نو د خلقو حصارتیا اوکړه ترد ے پورے چه حضرت غصه شو او عذرئے اوکړو چه ځما سره هدی ده ګنی ما به هم احرام کهولاؤ کړے وو. او معلومه شوه چه علی رضی الله عنه او ابوموسیٰ رضی الله عنه هم دغه د حج احرام تړلے وو. کوم چه د حضرت احرام وو. انتهٰی. غرض دا چه مونږ خلقو نه واخله او سور شو په قصواء اوښه باندے " پورے ددی مسئلے نه څو مسئلے معلومے شوے چنانچه

دولسمه: خبره داده چه غسل د احرام حائضے او نفاسے ښځے لره هم مستحب دے.

دیارلسم: نفاسے ښځے له مستحب دی لنګ تړل یعنی چه څهٔ کپړه په اندام نهانی باندے کیږدی او په دے کښ اختلاف نشته

څوارلسم: معلومه شوه چه د احرام تړلو په وخت حضرت دوه رکعته کړی دی. او نووی رحمه الله دے ته مستحب وئیلے دی. اووئیلے دی چه دا مذهب دی د کافه علماؤ چه د احرام په وخت دوه رکعته مستحب دی سوا د حسن بصری رحمه الله وغیره نه او کوم خلق چه د استحباب قائل دی هغوی وائی چه که څوك ئے او نهٔ کړی نو په هغهٔ باندے څهٔ دم وغیره نهٔ لازمیږی او نهٔ هغهٔ ګنهګاریږی مګر یوفضیلت ترے فوت شو. او په کومو وختونو کښ چه مونځ منع دے نو مشهوره دا ده چه دغه وخت به مونځ د احرام د تړلو نه کوی. او ځنې شافعی رحمه الله ملګری وائی چه کوی به او حسن بصری رحمه الله وغیره وئیلے دی چه ددغه دوه رکعتونو کول چه د کوم فرض مانځهٔ نه پس مستحب دی کهٔ نهٔ دی نو نهٔ وی. او ابن قیم رحمه الله په زاد المعاد کښ فرمائیلے دی چه هغه لوئے محقق او د حدیثو حافظ دے چه حضرت په ذوالحلیفه کښ د ماسپخین دوه رکعته اوکړل او لبیك ئے د حج او عمری دواړو اووے او دا مونځ د ماسپخین فرض وو او د احرام دوه رکعته کول د هغوی نه چرته هم ثابته نهٔ دی سوا د ماسپخین د فرضو نه او د جابر رضی الله عنه د روایت نه هم ظاهر دغه معلومیږی. چه حضرت دوه رکعته اوکړل پس غالبه ده چه دا د ماسپخین دوه رکعته وی او د احرام نهٔ وی چنانچه ځنو روایتونو کښ راغلے دی. چه حضرت په مدینه کښ د ماسپخین څلور رکعته اوکړل او په ذی الحلیفه کښ ئے دوه. پس دا رکعتونه د ماسپخین وو. او قول د ابن قیم رحمه الله قوی معلومیږی. غرض دا چا چه په تولو روایتونو کښ غور نهٔ دے کړے هغوی دا ګنړی چه دا د احرام وو. او قصواء د حضرت د اوښے نوم وو.

(ترد ے پورے چه کله ئے هغوی واخستو "نه واخله" هغه مونږه هم اوکړو پورے) قوله. سوارهٔ او پیاده ددهٔ سره.

پنځلسمه: مسئله دا ثابته شوه چه په حج کښ سورا وپیاده دواړه قسمه تلل روا دی. او دا مسئله داسے ده چه د تولو په دے باندے اتفاق دے. او دلائل د کتاب او سنت په دے کښ موجود دی چنانچه الله تعالی شانه فرمائی: وَأَذِّنْ فِي الْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ (پاره ۱۷ سورهٔ حج) او اختلاف دے د علماؤ په دے کښ چه غوره کوم یو دے نو د امام شافعی او مالك او جمهورو قول دے چه په سورلئ باندے تلل غوره دی. ځکه چه په دے کښ د رسول الله تابعداری ده. او ددے دپاره هم چه په کښ د مناسکو ادا کول آسان وی. او ددے د پاره هم چه په دے کښ خرچ زیات کیږی. او څومره چه خرچ زیات وی دومره ثواب زیات دے. ځکه چه

هغه د الله پاك په لاره كښې دے. او د داؤد قول دے چه پيدل تلل غوره دى چه په دى چه په دے كښې مشقت زيات دے. او دا قول صحيح نه دے. ځكه چه مشقت مطلوب نه دے. بلكه تابعدارى د رسول الله مطلوب ده.

شپاړسمه: مسئله داده چه دائے كوم چه اووے چه په حضرت باندے قران نازليدو. ددے وجے نه ثابته شوه چه كوم عمل د هغوى د طرفنه روايت وى هغے لره اختيارول ضرورى دى او هم هغه دين دے. نه هغه قول د فعل چه د رائے نه ويستلے شوے وى چه هغه هيڅكله قابل اخذ نه دے او نه هغه دين كيدےشى.

* يعنى كومو صحابو رضى الله عنهم چه د حضرت په لبيك باندے څه زيات اووے. او حضرت هغوى لره منع نه كړو ددے نه معلومه شوه چه تلبيه زياته ويل جائز دى.

اولسمه: دا معلومه شوه چه په لبيك كښې زيات والے هغوى منظور كړو. او دا چه ئے كوم اووے د توحيد سره ددےنه معلومه شوه چه مشركانو خلقو چه كومے د شرك خبرے زياتولے هغوى لره حضرت اوويستل او اكثرو علماؤ وئيلى دى چه فقط دومره غوندے لبيك وئيل خومره چه د حضرت نه ثابت دے مستحب دے. او دغه قول دى د امام مالك رحمه الله او شافعى رحمه الله.

* تردے پورى چه كله مونږ د بيت الله نه چه د صفا په طرف دے پورے ددے څو مسئلے معلومے شوے چنانچه:

اتلسم: دادے چه په طواف قدوم كښې حضرت درے خله رمل اوكړو او څلور چكره ئے د دستورپه مطابق اولګول او ددے نه ثابته شوه چه طواف قدوم سنت دے. او په دے باندے د ټول امت اتفاق دے.

نولسم: دا چه طواف اووه چكره دى.

دا چه رمل په دريو رومبنو چكرو كښې سنت دے. او رمل په پهلوانئ پهلوانئ سره تلو ته وائى او چكر ته شوط وئيلے شى. او د شافعى د ملګرو قول دے. چه په يو طواف كښې خواه كۀ د حج وى يا د عمرے رمل سنت دے. او د حج او عمرے نه سوا چه كوم طواف دے په هغے كښې رمل سنت نه دے. څو قولو نه مشهور دى. اصح قول دادے چه په تادئ تلل په هغه طواف كښې سنت دى د كومے نه روستو چه سعى ده ورنه نه دے. او دا صورت په طواف افاضه او طواف قدوم كښې كيدےشى. ددے دواړو نه پس سعى كيدےشى. او په طواف وداع كښې نه شى كيدے. او دويم قول دادے چه په تادئ د نه څى مګر په طواف قدوم كښې خواه د هغےنه پس د سعى اراده وى يا نه وى. او دغه شان په طواف عمره كښې تادى ځكه چه په عمره كښې ددےنه روستو څۀ طواف نشته دے. او دغه شان سنت دے اضطباع.

يويشتم: مسئله د اضطباع داده چه د څادر مينځ لاندے د ترخ نه او غورخوى. او دواړه سرونه يو د مخكښې نه يو د روستو نه واخلى او په ګسه اوګه باندے ئے واچوى اوښى اوګه كهولاؤ پاتے شى. چه په دے كښې يوه بهادرى موندلےشى. او اضطباع هم په هغه طواف كښې سنت ده په كوم كښې چه رمل سنت دے. او اصل رمل دادے چه هر كله رسول الله په عمره قضاء كښې مكے ته تشريف راوړو. نو د مكے مشركانو اووے چه دوى لره د مدينے تپ نرى كړى دى. او سست شوےدى. نو حضرت خپلو ملګرو ته حكم اوكړو چه دغه شان طواف كوئ چه په كافرو باندے رعب راشى. او بهادرى او طاقت د مسلمانانو په دوى باندے غالب او ظاهر شى. او روستو ددے علت لرے كيدو نه هم دا حكم په حجة الوداع كښې باقى پاتے وو. اوس هغه د قيامته پورے سنت شو په خلاف د حصے د مؤلفة القلوب چه هغه د رسول الله په وخت كښې وه اوس نه ده پاتے.

دويشتمه: مسئله داده چه څۀ وخت د طواف نه فارغ شے نو د مقام ابراهيم نه روستو راشه او دوه ركعته د طواف ادا كړه. او په دے كښې اختلاف دے چه دا واجب دى يا سنت او د شافعى رحمه الله په دے كښې درے قولونه دى. اول او د ټولو نه صحيح او كلك دادے چه دا سنت دى.

دويم دا چه واجب دے. دريم دا چه كۀ طواف واجب دے نو دا ركعتونه هم واجب دي. او كۀ طواف سنت دے نو دا هم سنت دي بهر حال كۀ چا دا اونۀ كړل نو طواف د هغوی نه باطليږي. او مسنون دغه دي چه دے لره د مقام ابراهيم نه روستو ادا كړي. او كۀ هلته ځائے ميلاؤ نۀ شي نو په حجر كښ (يعني په حطيم كښ دِ ئے ادا كړي) او كۀ هلته ميلاؤ نۀ شي نو په جماعت كښ او كۀ په جماعت كښ هم او نۀ شي نو په حرم كښ او كۀ خپل وطن ته لاړ شي او هلته ئے اوكړي نو هم روا دي. او كۀ څو خله پوره طواف (يعني اووۀ اووۀ چكره) او كړي بيا د هر طواف دپاره دوه دوه ركعته ادا كړي نو هم د شافعيؒ ملګرو په نز جائز دي. مګر خلاف اولی دي او مكروه نۀ دي او دا دے قائل دي مسور بن مخرمه او عائشه رضي الله عنها او طاؤس رضي الله عنه او عطاء او سعيد بن جبير رضي الله عنه او احمد او اسحٰق او ابويوسف رحمهم الله . او مكروه وئيلے دي دے ته ابن عمر رضي الله عنه او حسن بصري او زهري او مالك او ثوري او ابوحنيفه او ابو ثوري او محمد بن حسن او ابن منذر رحمهم الله او نقل كړے دي دے لره قاضي عياض د جمهورو فقهاؤ نه.

دريشتمه: مسئله دا چه د طواف په ركعتونو كښ په رومبي ركعت كښ: قُلْ يٰاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ او په دويم ركعت كښ: قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد لوستل سنت دي.

څليرښتمه: مسئله دا دے حديث نه دا ثابته شوه چه د طواف قدوم نه پس سنت دي چه كله د دوه ركعته مونځ نه پس فارغ شو نو بيا حجر اسود لره مسحه كړو او په باب الصفا را اووتو او په دغه باندے اتفاق دے. چه دا مسحه كول واجب نۀ دي او كچرے مسحه نۀ كړے شي نو څۀ دم نۀ لازميږي او دغه د امام شافعي رحمه الله قول دے.

پنځويشتمه: مسئله دا ده چه په دے روايت كښ قل هو الله مخكښ كړے دے او قل يا أيها الكفرون روستو نو معلومه شوه چه په رومبي ركعته كښ ئے قل هو الله اولوستله او په دويم كښ قل يا ايها الكفرون او ددے نه ثابته شوه چه وړاندے روستو تونه لوستل روا دي؟ اګر چه ځنې جاهلان په دے كښ تعجب كوي او په ځنې روايتونو كښ ددے برعكس هم راغلي دي. لكه چه مونږ په درويشتمه مسئله كښ ليكلي دي. او ابن قيم رحمه الله په زاد المعاد كښ فرمائيلے دي چه په طواف قدوم كښ اختلاف دے. چه رسول الله ﷺ پيدل كړے يا په سورلۍ باندے او د جابر رضي الله عنه دا حديث دلالت كوي چه طواف قدوم پيدل او په كومو روايتونو كښ چه په حجة الوداع كښ په اوښ باندے طواف كول راغلي دي كيدے شي د هغے نه مراد طواف افاضه وي. او ابن حزم چه كوم د صفا مروه په طواف كښ وئيلي دي چه حضرت ﷺ په اوښ باندے سور وو نو درے خله ئے منډه وركړه. او څلور خله (يعني څلور چكره) په معمول اوچليدو. دا د هغۀ غلطي ده په حقيقت كښ دا منډه وهل درے خله او څلور چكره په قلاره وهل دا طواف په بيت الله كښ واقع شوے دے نۀ په سعي بين الصفا والمروه كښ. بيائے وئيلے دي چه په صفا او مروه كښ هر ځل بطن وادئ (يعني د مينځ په زور ځائے كښ چه هلته ئے دوه شنې ستنې اودرولي دي) كښ منډه وهل مسنون دي. او په باقي لاره په قلاره تلل اووئيلے دي چه ما د خپل استاد شيخ ابن تيميه قدس الله روحه نه تپوس اوكړو نو هغوی اووے چه دا د ابن حزم رحمه الله هير دي. او دا هير داسے دي لكه چه چا وئيلے دي چه حضرت ﷺ څوارلس چكرے اووهلے د صفا او مروه په مينځ كښ او هغه دا اوګڼله چه كيدے شي تلو او راتلو دواړو ته يوه سعي وئيلے شي او دغے اووۀ واره كول پكار دي. حالانكه دا ښكاره غلطه ده. څكه چه كۀ داسے وے نو سعي به په صفا باندے ختميده د كوم ځائے نه چه شروع شوے وه. او دا په ښۀ طريقه ثابته ده چه حضرت ﷺ سعي په مروه باندے ختم كړه او د صفا نه ئے شروع كړے وه.

(بيا چه هر كله صفا ته نژدے په رسيدو سره طواف ختم شو په مروه باندے) ددے ډير مناسبت معلوم شو. چنانچه:

شپږویشتمه: مسئله داده چه سعی د صفا نه شروع کول پکار دی. او دغه قول دے د شافعي او مالك رحمهما الله او د جمهورو لو په نسائی کښې راغلی دی چه حضرت صحابؤ رضی الله عنهم ته حکم اوفرمائیلو چه شروع کوئ د هغه ځائے نه د کوم ځائے نه شروع کړے ده الله. او اسناد د هغې صحیح دے.

اوویشتمه: مسئله داده چه په صفا او مروه باندے ختل پکار دی او په دے ختلو کښې اختلاف دے. جمهور شافعیؤ وئیلی دی چه ختل سنت دی نۀ شرط او نۀ واجب دی. کۀ څوك په دے باندے او نۀ ختو نو سعی ئے صحیح شوه مگر فضیلت ترے فوت شو. او د ابوحفص بن وکیل شافعي قول دے چه سعی صحیح اونۀ شوه. او صواب دغه قول اول دے. مگر ضروری ده چه د صفا په درز کښې پوندے اولگوی او سعی شروع کړی. او د مروه په درز کښې به د خپو گوتے اولگوی ختم به ئے کړی چه سعی ناقصه نۀ شی.

اتۀ ویشتمه: مسئله دا ده چه دومره ختل مستحب دی چه کعبه ورته ښکاره شی کچرے ممکنه وی ورنه خیر دے.

یوکم دیرشمه: مسئله دا ده چه مستحب دی بلکه مسنون دی چه په صفا باندے اودریږی او دغه ادعیات اولولی او دُعا اوکړی او قبلے ته مخ کړی او درے ځله ذکر اوکړی او درے ځله دُعا اولولی. او خنو وئیلی دی چه درے ځله ذکر او دوه ځله به دُعا اوکړی مگر اول قول صحیح دے. او په دے دُعا کښې اشاره ده چه په جنگ احزاب کښې تول د عربو قبائل په مدینه باندے راختلی وو. او الله پاك هغوی لره اوزغلول. او دا جنگ چه ورته خندق وئیلے شی په څلورم یا په پنځم کال کښې د هجرت د وروکی اختر په میاشت کښې واقع شوے وو.

دیرشمه: مسئله داده چه د وادیِ په مینځ کښې منډه وهل مستحب دی او باقی تلله به د عادت موافق کوی او دغے منډے ته سعی وئیلے شی او په هر چکر کښې چه کله د وادیِ مینځ ته اورسی (نو د هغه دوارو ستنو په مینځ کښې) نو منډه به کړی. او کۀ چا دے لره پریخودو نو فضیلت ترے فوت شو. او دا مذهب دے د شافعي رحمه الله او د هغوی د موافقینو. او امام مالك رحمه الله وئیلی دی چه چا منډه نۀ کړه په هغۀ باندے اعاده واجب ده. او یو بل روایت هم د هغوی نه راغلی دے.

یو دیرشمه: مسئله داده چه مروه ته اورسی هم به دغه ذکر او دُعا کوی کومه چه ئے په صفا باندے کړے ده او دا متفق علیه مسئله ده.

دوه دیرشمه: مسئله داده چه معلومه شوه چه د حضرت سعی په مروه باندے ختمه شوه. نو د صفا نه مروه ته تلل دا هم یو چکر شو او د هغه ځائے نه بیا صفا ته راتلل هم یو چکر دے. دغه شان اووۀ چکرے لگول پکار دی. او دغه مذهب دے د جمهورو سلفو او خلف صرف د دوه سړو په غلطئ او خطا سره زمونږ خلاف کړے دے اووئیلی دی چه د صفا نه تلل او بیا ورته راتلل یو چکر شو دغه شان اووۀ چکره دی چه د جمهورو په حساب سره څوارلس چکره جوړیږی، ضروری دی. او دا قول د هغوی د حدیث نه رد کړے شوے دے. څکه چه په دے صورت کښې سعی په صفا باندے ختمیږی او په حدیث کښې ذکر دی چه په مروه باندے ختمه شوه. او هغه دوه سړی ابن بنت شافعي رحمه الله او ابوبکر صیرفیؒ دی د ملگرو د شافعیؤ نه. او اوس عمل د تول امت د جمهورو موافق دے. او ابن قیم رحمه الله په زاد المعاد کښې دد دے صاحبانو قول ته خطا وئیلے دی.

قوله ماته کچرے د مخکښې نه معلومه وے، تر، چا سره چه قربانی وه، پورے. دد دے نه معلومه شوه چه انبیاؤ ته علم غیب نۀ شی کیدے د کومے پورے چه الله پاك د یوے خبرے خبر په ذریعه د وحی یا الهام صحیح سره ور نۀ کړی دهغے پورے معلومول د هغوی کار نۀ دے. او دا هم معلومه شوه چه حضرت آرزو اوکړه چه کۀ خماسره قربانی نۀ وے نو د حج احرام به مے په عمره فسخ کړے وو. چه په دے کښې آسانی او سهولت دے. د امت دپاره. او د حضرت عادت مبارك دا وو چه کله به هغوی ته اختیار ورکړے شو په دوه خبرو کښې د یوے کولو نو د حضرت به هغه اختیاروله چه کومه به زیات آسانه وه. اوس په دے سره باطل شو قول

د هغه خلقو چه د حج د فسخ کولو قائل نهٔ دي. په عمره کولو سره. او لوئے تائید اوشو د ظاهریؤ د مذهب چه د حج فسخ کولو په عمره سره قائل دي. او دے مانعین دوه لوئے لوئے عذرونه پیش کوی.

اول دا چه هر کله چه صحابؤ رضی الله عنهم کښې اختلاف راغے ددے په جواز او عدم جواز کښې نو احتیاط دغه دے چه فسخ به نهٔ کوی. او ددے جواب خو دومره پورے دے چه احتیاط به هله وو په پریخودلو د فسخ کښې چه سنت د رسول الله سنت ظاهر شو. او د هغوی د قیامته پورے اوفرمائیل د سراقه بن جعشم رضی الله عنه په جواب کښې نو اوس احتیاط په تابعدارئ د سنتو کښې دے نهٔ په پریخودلو د سنتو کښې. او

دویم دا دے د صحیحینو په متعدده روایتونو کښې دا امر مذکور شوے دے چه حضرت په میقات باندے اجازت ورکړے وو. چه څوك غواړی د عمرے احرام د اوکړی خه څوك غواړی د حج اوکهٔ څوك غواړی د حج او عمرے دواړو احرام د اوتړی. بیا د دغے نه معلومه شوه چه عمره د حج په میاشتو کښې جائز شوه. اوس د فسخ څهٔ ضرورت پاتے شو.

دریم دا چه حضرت په ښه طریقه وضاحت اوکړو او صفائے اوفرمائیل چه د چا سره هدیه نشته هغه د احرام کهولاؤ کړی. او د چا سره چه قربانی شته هغه د په احرام کښې پاتے شی. او حضرت دغه آرزو اوکړه چه کهٔ ځما سره قربانی نهٔ وے نو ما به احرام کهولاؤ کړے وے. غرض دا چه په دواړه قسمه محرماتو کښې هغوی فرق اوکړو نو په ښهٔ طریقه ثابته شوه چه احرام هیڅکله مانع د فسخ نهٔ دے بلکه هدي د ځان سره راوړل مانع د فسخ دی. او تاسو چه کوم علت د فسخ بیانوئ (یعنی ددے دپاره چه صحابؤ رضی الله عنهم ته معلومه شی چه د حج په ورځ و کښې عمره صحیح ده) دا په هر محرم کښې موندلے شی. او داسی نشته دے چه په یو محرم کښې موندے شی او په بل کښې نهٔ شی موندے. حالانکه رسول الله قربانئ لره فارق گرځولے ده. چه چا راوستے وی هغه د فسخ کوی نهٔ او چا چه نهٔ ده راوستے هغه د فسخ کړی. او کچرے هغه علت وی کوم چه تاسو وایئ نو تولو لره د فسخ حکم ورکیدے شی. غرض دا چه په دے شان یو سل جوابونه مانعین یعنی منع کونکو د فسخ ته علامه ابن قیم رحمه الله په زاد المعاد کښې ورکړے دی (فمن اراد الزیادة فلیرجع الیه) او دا چه کوم ذکر شو یعنی علم غیب نه کیدل.

دریم دیرشمه: مسئله ده ددے حدیث او د جواز د فسخ د حج.

څلور دیرشمه: مسئله ده، او دا چه کوم دی چه حضرت علی رضی الله بد اوگنړل الخ ددے نه معلومه شوه چه خاوند خپله ښځه په خلاف شرع کار باندے رټلے شی اگر کهٔ د پیغمبر لور وی. بیا د نورو به څهٔ وے. او د حضرت علی رضی الله عنه خو دغه خیال راغے بیا چه کله د حضرت اجازت ورته معلومه شو نو چپ شو.

پنځه دیرشمه: مسئله داده چه د حضرت علی رضی الله عنه د لبیك نه معلومه شوه چه کهٔ څوك داسے احرام اوتړی چه یاالله! ځما احرام هغه دے کوم چه د فلانی بنده احرام دے نو دا روا دی.

شپږ دیرشمه: مسئله داده چه راوی چه کوم اووے چه هغوی وینښته کټ کړل. نو ددے نه معلومه شوه چه کټ کول هم روا دی او کومنز کول افضل دی سرو لره. مگر صحابؤ رضی الله عنهم دلته په غوره والی باندے څکه عمل او نهٔ کړو چه کچرے خرولے نو د حج په وخت به ئے مطلق وینښته نهٔ وو څکهٔ ئے دلته په کټ کولو باندے کفایت اوکړو او حلق ئے اونهٔ کړو.

اوهٔ دیرشمه: بیا چه هر کله د ترویے ورځ شوه نو د دواړو (ماسپخین او مازیگر) په مینځ کښې ئے څهٔ او نهٔ لوستل ددے نه څو مسئلے معلومے شوے چنانچه سره د مسائل سابقو.

اتۀ دیرشمه: مسئله داده چه حضرت د حج دپاره په اتم تاریخ د منی اراده اوکړه. دد ے نه معلومه شوه چه څوك په مکه کښې وی هغه د په اتم تاریخ احرام تړی او دغه مذهب د ے د امام شافعی رحمه الله او د هغه د وافقینو چه د هغوی په نز افضل دغه د ے دد ے حدیث په رُوسره.

نهٔ دیرشمه: مسئله داده چه ئے کوم اوفرمائیل چه حضرت هم سور شو دد ے نه دا مسئله معلومه شوه چه په هغه ځائے کښې سوریدل افضل دی د پیدل تلو نه لکه څنګه چه د حج په نورو لارو کښې سوریدل غوره دی د پیدل تلو نه او امام نووی رحمه الله دغ ے ته صحیح وئیلے دی او د امام شافعی رحمه الله یو قول ضعیف دا هم د ے چه پیدل تلل غوره دی.

څلویښتمه: مسئله داده چه په منی کښې په دغه شپه یعنی د نهم تاریخ د شپے پاتے کیدل سنت دی. او دا پاتے کیدل مسنون دی څهٔ رکن یا واجب نهٔ دی. او کهٔ چا د ے لره پریخودل نو دم پر ے نهٔ واجبیږی او په د ے باند ے اجماع ده.

یو څلویښتمه: مسئله داده چه کوم وائی چه هر کله نمر راوختو دد ے نه ثابته شوه چه د منی نه د نهٔ اوخی د کومے پور ے چه نمر راختے نهٔ وی او په د ے باند ے په اتّفاق اجماع ده.

دوه څلویښتمه: مسئله داده چه په نمره کښې کوزیدل مستحب دی. او سنت دادی چه په عرفات کښې داخل نهٔ شی. د هغے پور ی چه نمر زوال موندلے نهٔ وی. بیا چه کله نمر زوال اومومی نو د ماسپخین او مازیګر مونځ به دواړه په یو ځائے ادا کړی بیا به په عرفات کښې داخل شی. څکه په نمره کښې کوزیدل مسنون شو بیا چه د چا سره خیمه وی او د لګوی او د زوال نه مخکښې به غسل اوکړی د وقوف عرفات دپاره. بیا چه کله زوال اوشی امام به د خلقو سره مسجد ابراهیم علیه السلام ته لاړ شی. او هلته به دوه وړے وړے خطبے اولولی. او دویمه خطبه به ډیره وړه وی. بیا به دد ے نه پس د ماسپخین دواړه مونځو نه په یو ځائے ادا کړی. بیا چه د مانځهٔ نه فارغ شی نو موقف ته به لاړ شی.

درے څلویښتمه: مسئله داده چه معلومه شوه چه محرم لره په خیمه کښې یا د بل سوری لاند ے کیښناستل صحیح دی.

څلور څلویښتمه: مسئله داده چه د خیمو ایخودل روا دی خواه کهٔ خیمه د ویختو وی یا د بل څهٔ څیز. اونمره یو ځائے د ے د عرفات په خوا کښې او په عرفات کښې داخل نهٔد ے. قوله قریشو یقین کولو ، دد ے مطلب داد ے چه قریشو به د تولو عربو خلاف کول چه د عروب خلق به عرفات ته لاړل وقوف به ئے کوو. او قریش به په مزدلفه کښې ولاړ وو اووئیل به ئے چه مونږ د الله پاك کور والا یو مونږ د حرم نه بهر نهٔ شو تلے او مزدلفه په حرم کښې ده. پس رسول الله په فرمان واجب الاذعان د قران عرفات ته لاړو او وقوف ئے اوکړو. لکه څنګه چه الله تعالی فرمائیلے دی ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ یعنی بیا راکوزیږئ د هغه ځائے نه د کوم ځائے نه چه خلق راکوزیږی یعنی د عرفات نه

پنځمه څلویښتمه : مسئله داده قوله ترد ے پور ے چه نمر زوال اوموندو ، دد ے نه دا مسئله ثابته شوه چه په عرفات کښې داخلیدل مخکښې د مانځهٔ د ماسپخین او مازیګر نه د سنتو نه خلاف دی.

قوله . حضرت چه د وادئ مینخ ته اورسیدهٔ "الخ دا وادی عُرنه ده . چه په د ے کښې د عین پیش د را زبر او دد ے نه روستو نون د ے. او عُرنه عرفات کښې داخل نهٔ د ے د امام شافعی رحمه الله په نز . او د تولو علماؤ هم دا قول د ے مګر امام مالك فرمائی چه دا په عرفات کښې داخل د ے.

شپږ څلویښتمه: مسئله داده قوله " بیائے خطبه اولوسته "دد ے نه دا مسئله معلومه شوه چه خطبه دلته مستحب ده امام لره د عرفے په ورځ او دا په اتفاق د امت مسنون ده. او د جمهورو دغه قول د ے او خلاف کړ ے د ے مسئله کښې مالکیؤ او مذهب د شافعی رحمه الله داد ے چه په حج کښې څلور خطبے سنت دی.

اوله : د ذی حجه په اوم تاریخ د کعبې په خوا کښې روستو د ماسخپین نه.

دویمه : دغه چه کومه ذکر شوه په عرنه کښې د عرفات په ورځ.

دریمه : په یوم نحر کښې یعنې په لسم تاریخ.

څلورمه : د کوچ په ورځ د منی نه کومې ته یوم نفر اول وئیلې شي ، او هغه د ایام تشریق دویمه ورځ ده یعنی دولسم تاریخ او شافعي ملګرو وئیلي دي چه په دے تولو خایونو کښې دغه یوه خطبه ده او د عرفات په ورځ دے کښې دوه دي. او دغه شان دا تولے خطبے پس د مانځۀ د ماسپخین نه دي. مګر خطبه د عرفات چه هغه مخکښې د ماسپخین د مانځۀ نه ده. او په هره خطبه کښې د مانځۀ د ضروري احکامو تعلیم ورکول ضروري دي.

قوله ' او ستاسو وينه او مالونه ' الخ په دے کښې نے لوئے تاکید او فرمائیلو لکه څنګه چه د عربو خلقو ته ددغے ورځے حرمت او ددغه میاشتے حرمت او ددغے ښهر د مکے حرمت په ښه شان له معلوم وو. هم دغه شان د یو بل وژل ، مال لوټ کول ، تکلیف رسول حضرت حرام اوفرمائیل او ددے نه ثابته شوه.

اوۀ څلوېښتمه : مسئله دا چه نظیر ورکول او مثال بیانول او تشبیه ورکول صحیح دي. لکه څنګه چه حضرت دلته د مال او جان د حرمت تشبیهه ورکړه.

قوله ' هر څیز د جاهلیت د ورځو څما د خپو لاندے دے ' الخ ددے نه مقصود دادے چه اخستل خرڅول او معاملات داسے چه هغه تر اوسه قبضه شوي نۀ دي. او وينه داسے چه د هغے بدله نۀ ده اخستے شوے او سود هغه چه وصول کړے شوے نۀ دے. ددے مطالبه اوس نۀ کول پکار دي. او دا تول باطل اولغوه شو. او محققینو د ابن ربیعه نوم لیکلے دے چه ایاس وو خوئ د ربیعه هغه خوئ د حارث هغه خوئ د عبد المطلب او څنو د هغۀ نوم حارثه وئیلے دے . او دا هلك ورکوتے وو او په کورونو کښې به د زنګونانو په سر ګرځیدو. او د بنی سعد او بني لیث په مینځ کښې جنګ اونختو او دے پکښې په یوه ګټه اولږیدو او مړ شو. او دا قول دے د زبیر بن بکار.

اتۀ څلوېښتمه : مسئله داده او دا چه نے کوم اوفرمائیل ' د الله نه او یریږئ په ښځو ' الخ ددے نه دا مسئله ثابته شوه چه د ښځو سره په ښه سلوك او اخلاقو او محبت او نرمئ سره وخت تیرول ضروري دي. او په دے باره کښې ډیر احادیث راغلي دي. او ډیر پرولي دي حضرت د هغوی د حق تلفئ نه او فرمائیلي دي چه په تاسو کښې د تولو نه غوره هغه دے چه هغه د ښځو سره په ښه شان اوسیږي. او د امام نووي رحمه الله په دے باره کښې یو کتاب دے ریاض الصالحین. او دا چه کوم فرمائیلي دي ' حلال کړے دے تاسو د هغوی ستر لره ' الخ یعني الله پاك فرمائیلي دي: فَإِمۡسَاكٌۢ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ تَسۡرِيحُۢ بِإِحۡسَٰنٍ په دے حکم د الله سره د هغوی فرجونه پتاسو باندے حلال شوي دي نو ددے خیال ساتئ او دوی له تکلیف مۀ ورکوئ او د دوی حق تلفي مۀ کوئ یا مراد ددے نه د توحید کلمه ده : لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِ ولے چه مسلمانه ښځه غیر مسلمان له جائز نۀ ده . یا مراد ددینه دا ایت دے فَٱنكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ یا مراد ددے کلمه نه ایجاب او قبول دے . او دا کلمه خاص الله ښودلے ده. او دا چه نے کوم اوفرمائیل ستاسو په بسترو باندے الخ ددے نه زنا مراد نۀ ده څکه چه په هغے کښې خو رجم دے ، یعنی د ګټو په ویشتلو سره وژل ، بلکه مراد دادے چه د چا غیر سره تخلیه نۀ کوي یا بغیر د خاوند د اجازت نه څوك کور ته نۀ راولي. خواه کۀ سړے وي یا ښځه وي. پردے وي یا د بی بی د محارمو نه وي. غرض دا چه بغیر د خاوند د اجازت نه چالره کور ته راوستل نۀ دي پکار. بیا خواه کۀ اجازت په ژبه سره اوموندے شي یا خواه کۀ په عرف او عادت سره.

نهه څلوېښتمه : مسئله داده چه وهل د تنبیه او تادیب دپاره جائز دي. مګر چه داسے وهل وي چه په هغے سره سخت ضرر او نۀ رسیږي او کۀ چرے داسے نے اووهله چه په هغے کښې سخت ضرر نۀ وو. او اتفاقا هغه مړه شوه نو په دۀ باندے (یعنی په خاوند باندے) دیت دے او د ښځے په خاوند باندے ددے ادا کول واجب دي. او خاوند به د خپل مال نه کفاره ورکوي.

پنځوستمه : مسئله داده "قوله ودي" د هغوي الخ معلومه شوه چه خرڅه د ښځې اوخوړل څکل او جامې پیزار د دستور موافق په خاوند باندې واجب دي. او دا مسئله اجماعي ده. او د چا په دې کښې اختلاف نشته

یو پنځوستمه : وصیت اوکړو حضرت د قرآن په کلك نیولو سره. او اوئې فرمائیل چه تر کومې پورې دۀ لره مو نیولې وي گمراه به نۀ شئ. او حد ئې بیان کړو ددې د تمسك پورې. معلومه شوه چه چا قرآن پریخودو یعنې ددې په اوامرو ئې عمل نۀ کوو او ددې د نواهي نه ئې خان نۀ بچ کوو. ددې د وعدو امید ئې نۀ لرلو. او ددې د وعیدونو نه ئې یره نۀ کوله د الله په صفاتو ئې یقین نۀ لرلو. لو هغه گمراه شو. دا حال دې د هغه چا چه د قرآن په معنی او مطلبونو پوهیږي، او عمل نۀ کوي بیا د هغه چا د حال تپوس اوکړه چه هغه بدبخته د قل هُو الله په معنی نۀ پوهیږي. او بیا د هغۀ بدبخته شقي ازلي به څۀ اووې چه د هغۀ مردود او ملعون دا خیال دې چه د قرآن په ترجمه لوستو سره بنده گمراه کیږي. یا دا وائي چه بې د فقهې نه په قرآن سره بنده گمراه کیږي. یا دا خیال کوي چه بې د فقهې نه په حدیثو چلیدو باندې گمراه کیږي (دا ضرور ده چه د فقهاؤ او د مجتهدینو نه مستغني کیدل صرف په حدیث تلونکې اکثر گمراه کیږي. عارف) غرض دا تولې شعبې د ضلالت او گمراهۍ دي الله پاك ددې نه هر مسلمان اوساتي.

دوه پنځوستمه مسئله : مسئلې دا چه حضرت خبر ورکړو چه ستاسو نه به ځما د حال مطابق سوال کیږي. دا خبر ورکړو حضرت د قیامت په سوال سره چه د هر امت او هر نبي علیه السلام نه به کیږي. او د مقدمې پیشې د حضرت عیسیٰ علیه السلام په قرآن شریف کښې او د مقدمې پیشې د حضرت نوح علیه السلام په حدیث کښې ددغه جنس نه ده.

درې پنځوستمه : مسئله دا چه حضرت اشاره اوکړه اسمان طرفته او اوئې فرمائیل چه یا الله الخ ددې نه معلومه شوه چه الله پاك جل جلاله په خپل مقدس ذات سره د عالم د پاسه دې. او دغه د رسول الله عقیده وه. او ددغې وجې نه حضرت اشاره حسي اوکړه ددې په طرف او باطل شو مذهب د خبیثان امت او گرفتاران د جهمیت چه هغه قائل دي چه الله تعالی هر ځائې دې یا گمان کوي چه لکه څنگه چه په عرش باندې دې. یا مدعي دې چه لکه څنگه د عالم د پاسه دې د غسې لاندې هم دې. او معلومه شوه چه دغه عقیده د صحابو رضی الله عنهم کومه چه د سرور نامدار خاتم الانبیاءٴ وه. څکه چه کۀ د یو صحابي خیال به هم د هغوي موافق رانغې نو د بجلۍ د پرق پشان به ئې د حضرت نه د هغې تپوس اوکړو او د هغوي په جواب باصواب کښې به ئې خپله اصلاح ددین او دنیا گڼړله او د حضرت قول ذي شان لره ئې روح د جهان او نور د ایمان تصور کولو. او ظاهره ده چه داسې اجماع د صحابو رضی الله عنهم لکه چه په عرفات کښې چرته په څۀ سبب شوې ده. غرض ددې حدیث نه اطفال جهمیه یتیمانان کړې شو او افراخ فلاسفه ئې بې موره بې پلاره کړل. او معتزله او منکران صفات لره چه د هغوي اقوال شذر مذر واقع شوې دي.

څلور پنځوستمه : مسئله دا چه حضرت ماسپخین او مازیگر په یو ځائې ادا کړو. او د امت په دې باندې اجماع ده، چه دا جمع دلته جائز ده. او مشروع ده. مگر ددې په سبب کښې اختلاف دې چا وئیلې دي چه سبب ددې په ځائې راوړل نسك دې. او دا مذهب د ابوحنیفه رحمه الله او بعضې ملگرو د شافعي رحمه الله دې او اکثرو شافعیو وئیلې دي چه سبب ددې سفر دې او ددغه خلقو قول دې چه څوك دغه ځائې اوسیږي یا په مکه کښې وي چه هغه د دوؤ منزلو نه کم ده نو ددۀ جمع روانه ده لکه څنگه چه ورله قصر روا نۀ دې.

پنځۀ پنځوستمه : مسئله دا چه کوم انسان جمع کړي دوؤ مونځونو لره. نو دۀ لره لازم دي چه په ترتیب سره ئې ادا کړي. یعنې ماسپخین بیا مازیگر او د رومبي مونځ دپاره اذان او اقامت او دویم دپاره فقط اقامت به اووائي او ددوي په مینځ کښې به څۀ نۀ لولي او په دې کښې د شافعیو رحمهم الله اتفاق دې او دغه صحیح دې.

شپږ پنځوستمه : "بیا سور شو رسول الله" الی آخر الحدیث. اوس مسائل واوری.

اوۀ پنځوستمه: قوله "بیا راغے د خپلو اودریدو ځائے ته" دد ے نه دا معلومه شوه چه مستحب دی چه کله د ماښځه نه فارغ شی نو زر د خپل د اودریدو ځائے ته راشی.

اتۀ پنځوستمه: داسے پوره شوے چه وقوف په سورلۍ افضل دے. او دد ے حدیث نه دغه ثابتیږی چه په دے کښې د شوافعو درے قولو نه دی اصح د هغوی نه دا د ے چه په سورلۍ باندے غوره دے. او دویم دا چه پے د سورلۍ نه غوره دے. دریم دا چه دواړه برابر دی. مګر په سورلۍ باندے فعل د نبی دے. او پے د سورلۍ نه تقریر دے. او فعل د تقریر نه غوره دے پس اول قول بهتر دے.

نهه پنځوستمه: داسے پوره شوے چه وقوف د هغه ګټو په خوا کښې افضل دے. او هغه ګټے خورے دی د جبلِ رحمت په لمن کښې. او جبلِ رحمت د عرفات په مینځ کښې دے. غرض دا چه موقف مستحب دغه دے. او دا چه کومه په خلقو کښې مشهوره ده چه جبل رحمت ته ختل د قربت موجب دی او ځنے کم عقل داګنړی چه پے دد ے دختو نه وقوف صحیح نهٔ دے. دغه کم عقل دی او د جبل رحمت ختلو لره اولی ګنړل د مفت زحمت دے. بلکه ټول عرفات میدان موقف دے. او مستحب او غوره دغه موقف د نبی دے.

شپیتمه: مسئله دا چه معلومه شوه چه د قبلے په طرف مخ کول د وقوف په وخت مستحب دی.

یو شپیتمه: داسے پورے شوے چه وقوف د ماښامه پورے کول پکار دی. چه نمر لاښهٔ شان سره ډوب شی. او د نمر د ډوبیدو نه پس به مزدلفے ته لاړ شی. او/کهٔ څوك مخکښې د نمر د ډوبیدو نه مزدلفے ته لاړ شی نو وقوف او حج خو دده پوره شو مګر دم پرے راغے د وجوب په لاره یا داستحباب په طور سره او په دے کښې د شافعی رحمه الله دوه قولو نه دی. صحیح قول ئے دادے چه دم سنت دے او دویم دادے چه واجب دے او بنا دد ے په دے باندے ده چه آیا په وقوف کولو والا باندے شپه او ورځ دواړه جمع کول واجب دی. او بنا دد ے صحیح تر قول دغه دے چه سنت دی. پاتے شوه د وخت خبره نو هغه د عرفے د ورځے د نمر د زوال نه واخله د ویمے ورځ د صبا د ختو پورے دے یعنی د قربانئ د ورځ د صبا پورے څوك چه په دغه وخت کښې لږ ساعت هم اودریدو د هغه وقوف او شو او حج ورته میلاؤ شو ورنه نو فوت شو. او دا مذهب دے د امام شافعی رحمه الله او جمهور علماؤ او د امام مالك رحمه الله قول دے چه صرف د ورځے وقوف صحیح نهٔ دے بلکه لږ شان شپه ورسره شاملول ضروری دی. او کهٔ یواځے د شپے په وقوف ئے اکتفاء اوکړه نو صحیح شوه. او یواځے د ورځے په وقوف ئے اکتفاء اوکړه نو وقوف صحیح نهٔ شو. او امام احمد رحمه الله وئیلی دی چه د وقوف وخت د عرفے د سحر نه شروع کیږی. او په دے باندے د تمام امت اجماع ده چه اصل وقوف ډیر لوئے رکن دے. د حج نو دا کچرے پاتے شو نو حج او نهٔ شولو او پے د وقوف نه حج نه صحیح کیږی.

دوه شپیتمه: مسئله "او اسامه ئے روستو کینښوۀ" دد ے نه دا مسئله ثابته شوه چه په یو ښاور باندے د دوه بنیادمو کیناستل صحیح دی کچرے ښاور ئے طاقت لری. او په دے باب کښې ډیر روایتونه راغلے دی.

قوله "سره د هغے یعنی د اوښے د کجاوے د مورك سره اولګیدو" مورك هغه ځائے دے چه د کجاوے مخے ته وی او کله چه د سور بنده خپے په زنګیدو زنګیدو ستړے شی نو اوچتے ئے کړی او په دغه مورك کښې ئے کیږدی دد ے نه ثابته شوه یوه بله مسئله چه پوره شوے دد ے نه.

درے شپیتمه: مسئله چه سور بنده لره ضروری دی چه د پیدل خلقو سره نرمی کوی. او د دوی په مینځ کښې به سورلۍ نهٔ زغلوی چه هغوی تره دود شی او چغے چغارے یا شور او غوغا جوړه شی. دد ے وجے نه حضرت واګے راښکودے روان وو.

څلور شپیتمه: مسئله چه ثابته شوه چه د عرفات نه واپس کیږی نو په قلاره قلاره په آرام د راځی د تیز تلو حاجت نشته دے دا د سنتو خلاف دی.

قوله: اخر مزدلفې لره اورسيدو' او مزدلفه مشهو رځائې دے. سرحد د هغې مشهور دے او د عرفات نه درے كوسه لرے دے. او مزدلفې نه ثابته شوے مسئلے چه :.

پنځمه شپيتمه: مسئله داسې پوره شوه چه د شپې حضرت هلته پاتې شو. او د شپې هلته پاتې كيدل د حنفيانو په نز واجب دى او د امام احمد رحمه الله په نز هم او د ځنې شافعيو رحمهم الله هم دغه قول دے. او د بعضې شافعيو په نز فرض دى

شپږ شپيتمه: مسئله دا چه حضرت د ماښام او ماسختن مونځ په دوؤ اقامتونو او يو اذان سره اوكړو. لكه څنګه چه ئے د ماسپخين او مازيګر مونځ په عرفات كښې كړے وو. او دا مذهب دے د شافعي رحمه الله او زفر او د نور امامانو . او د ابوحنيفه رحمه الله په نز داده دے چه په ماسختن كښې اقامت ضروري نه دے. ځكه چه هغه پخپل وخت باندے دے. په خلاف د عرفات د مازيګر چه هغه په غير وخت كښې وو.

اوۀ شپيتمه: مسئله دا چه سنت دغه دي چه د عرفات نه كله واپس شي نو ماښام به روستو كړي او د ماسختن سره به ئے يو ځائې ادا كړي. او دا جمع جائز دے. او په دے باندے اجماع ده د ټول امت چه دلته جمع تاخير ضروري دے. او په دے كښې اختلاف دے چه سبب دد ے څۀ دے؟ نو د ابوحنيفه رحمه الله او د يو جماعت قول دے چه دا سبب د نسك دے. او د اهل مكې او اهل مزدلفې او اهل منى او نورو خلقو لره هم جائز دے. اوس صحيح داده چه دا جمعه په سبب د سفر ده. او هغه مسافر لره روا دى. چه هغه د قصر د فاصلې اراده لري او هغه دوه منزلونه دي. يو قول د شافعي رحمه الله داد ے چه جائز ده جمع په هر سفر كښې خواه كۀ هغه سفر لږ وي يا ډير وي دا مضمون دے د نووي رحمه الله په شرح د مسلم كښې.او په علمګيرئ كښې دى چه د مزدلفې د جمع دپاره خطبه او سلطان او جماعت شرط نه دے. او احرام هم شرط نه دے. بخلاف د جمع د عرفې ، كذا في المصفى . او نووي رحمه الله وئيلي دي چه كۀ چا د عرفات په زمكه كښې يا د مزدلفې په لاز كښې د ماښام مونځ اوكړو او په جمع ئے د ماسختن د مانځۀ سره او نۀ كړو نو روا دى مګر خلاف ئے افضل دے . او خبره داده چه دا د رسول الله نه ثابته شوے نۀ ده . او په هر حال اطاعت د هغوى واجب دے. په امت باندے او دغه مذهب دے د صحابؤ رضى الله عنهم او تابعينو رحمهم الله او د اوزاعي او اشهب او ابويوسف رحمهم الله هم دغه قول دے ا و د ملګرو د حديث هم چه كچرے پخپل خپل وخت ئے ادا كړو نو هم روا دى. او ابوحنيفه رحمه الله وغيره كوفيانو وئيلي دي چه په مزدلفه كښې جمع ضروري ده او ددغې نه مخكښې چرته روا نۀ ده. او امام مالك رحمه الله هم وئيلي دي چه مخكښې د مزدلفې نه روا نۀ دے مګر چا ته چه ياد هغه سورلئ نه څۀ عذر راشي مګر هغه له هم ضروري ده چه د ماښام مونځ پس د شفق د ډوبيدو نه ادا كړي او

اتۀ شپيتمه: مسئله دا چه ددے دواړو په مينځ كښې ثابته شوه چه سنت به نۀ ادا كوي، مګر په دے كښې اختلاف دے چه دا نۀ كول د سنتو شرط دے د جمع يا نۀ دے. د شافعي ملګرو رحمهم الله په نز صحيح دغه دے چه شرط نۀ دے بلكه سنت مستحبه دے او ځنې ملګرو د شافعي رحمهم الله وئيلي دي چه شرط دے.

قوله ددے نه پس چه كوم ذكر شوے دي چه بيا هغوى سملاستل او

نهه شپيتمه: مسئله دا چه د شپې هلته پاتې كيدل واجب دي. يا سنت دي. صحيح قول د شافعي رحمه الله داد ے چه كۀ څوك د شپې هلته پاتې نۀ شو نو حج دهغۀ صحيح شو او ګنهګار شو او دم پرے لازم شو يعني واجب شو او دويم قول داد ے چه دد ے په پريخودو كښې ګناه نشته او نۀ پرے دم واجبيږي مګر هلته د شپې پاتې كيدل مستحب دي او د يو جماعت قول دے چه هغه ركن دے او بغير دد ے نه حج صحيح كيدے نۀ شي. لكه څنګه چه د وقوف عرفات نه بغير حج نۀ شي صحيح كيدے . او دا قول دے د امام شافعي رحمه الله د نسئ او د ابوبكر بن محمد بن اسحٰق بن خزيمه او د علقمه او اسود او شعبي او نخعي او د حسن بصري رحمه الله او

اويايمه: مسئله دا شوه چه په مزدلفه كښې مونځ وختي كول پكار دي د سحر ځكه چه په دے ورځ مناسك ډير وي.

یو اویایمه : مسئله دا چه دسحر مانځهٔ کښې اذان او اقامت دواړه مسنون دي. او دغه شان د مسافر په مونځونو کښې او په دے کښې ډیر حدیثونه وارد شوے دي. چه رسول الله ﷺ به په سفر کښې هم اذان کوو لکه څنګه چه به ئے په حضر کښې کولو.

قوله "بیا لاړو تردے پورے چه مشعر الحرام ته راغے" او دے نه

دوه اویایمه : مسئله دا چه معلومه شوه چه دلته وقوف هم په سورلۍ باندے افضل دے د پیدل نه لکه چه پورته تیر شو. او دے نه معلومه شوه چه مشعر الحرام هغه ښتے ستنے دي او جمهورو مفسرینو او اهل سیَر وئیلے دي چه مشعرا الحرام توله مزدلفه ده.

درے اویایمه : مسئله دا چه معلومه شوه دلته هم وقوف کول په مناسك حج کښې داخل دي او په دے کښې څهٔ اختلاف نشته دے. مګر اختلاف په دے کښې دے چه دا دے خائے نه به کله ځي. نو د ابن مسعود رضی الله عنه او ابن عمر رضی الله عنه او ابوحنیفه رحمه الله او شافعي رحمه الله او د جمهورو علماؤ رحمهم الله قول دے چه دلته به په ولاړه دُعا کوي او په ذکر کښې به مشغول وي تردے پورے چه سحر رڼا شي لکه څنګه چه په دے حدیث کښې دي. او امام مالك رحمه الله وئیلې دي چه دا دے خائے نه د رڼا کیدو نه مخکښې د ځي.

څلور اویایمه مسئله : قوله "د فضل په مخ ئے لاس کیښودو" دے نه معلومه شوه چه د پردو ښځو نه سترګے پټول پکار دي.

پنځهٔ اویایمه مسئله : معلومه شوه چه طاقت لرے د ګناه نه د منع کولو پخپل لاس سره نو منع کړه په خپل لاس سره څکه چه حضرت ﷺ خپل لاس د هغه په مخ کیښودو.

قوله چه بطن محسر ته اورسیدل. دے ته د دے وجے نه وائي چه فیل ، اصحاب فیل هلته اودریدلے وو. او اودریدلو ته په عربۍ کښې حسر وئیلے شي.

شپږ اویایمه مسئله : قوله . بیائے اوښه لږه روانه کړه " دے نه معلومه چه ملګرو شافعیو وئیلے دي چه د بطن محسر نه زرتیریدل پکار دي او دا تول سنت دي د هغه مقام د سنتو نه او هغه د یو غشي د پټي پورے دے. یا د سست رسیدو د مسافت پورے.

اوهٔ اویایمه مسئله : قوله د مینځ لارئے واخسته. دے نه معلومه شوه چه د واپسۍ په وخت د عرفات نه په دے لاره سره په منی کښې داخلیدل سنت دي. او دا د هغے لارے نه سوا ده په کومه باندے چه حضرت ﷺ عرفات ته تلے وو. او دا داسے خبره لکه هغوی چه مکے ته د تلو په وخت د اثنیته العلیا په لاړ تلي وو او د وتلو او په بله لاړ به راتلو یا په استسقاء کښې د څادر په التِه کولو کښې. غرض دا تولے خبرے په طور د تفاول اوشوے.

اتهٔ اویایمه مسئله : قوله . د جمرے عقبے نه. دے نه معلومه شوه چه سنت دغه دي چه هر کله د مزدلفے نه راځي نو منی ته رااورسي نو اول به جمره عقبه اوولي او د دے مخکښې به څهٔ نه کوي. او دا اویشتل دهٔ به په منی کښې د کوزیدو نه مخکښې وي. غرض دا چه د دغه ویشتلو نه فارغ شي بیا به کوز شي.

نهٔ اویایمه مسئله : قوله . او اوهٔ ګټي الخ دے نه معلومه شوه چه اوهٔ ګیټۍ به اولي د لوبیا د دانے برابر . نهٔ د دے نه غټے او نهٔ وړے . او کهٔ د دے نه لوئے وړے وي بیا هم کافي دي مګر چه ګټے وي او د امام شافعي رحمه الله او جمهورو په نز د رنجو په ګټه ، ګوګړو ، او سرو سپینو زرو وغیره سره ویشتل صحیح نهٔ دي. او دغه شان چه کومو څیزونو ته حج نهٔ شي وئیلے، او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نز چه د زمکے د اجزاؤ نه چه کوم څیز وي په هغے صحیح دي. او پوره شو د دے نه

اتیایمه : مسئله یعنی معلومه شوه چه په هر ګیټۍ به تکبیر وائي. یعنی الله اکبر او معلومه شوه چه یوه یوه ګیټۍ به جدا جدا اولي او دا ثابته ده د احادیثو نه. او په بطن وادیٔ کښې به ولاړ وي لکه چه مونږ پورته وضاحت کړے دے. او ځنو وئیلے دي چه قبلے طرفته به مخ کړي او ولاړ به وي لکه چه مونږ پورته وضاحت کړے دے. او د قربانۍ په ورځ دغه ویشتل د جمره عقبے مشروع دي نور څهٔ نهٔ دي. او په دے باندے د تولو مسلمانانو اجماع ده. او دا ویشتل په نسك کښې په اجماع مسلمانانو داخل دي. او مذهب د شافعي

عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ | جعفر بن محمد وائي ځما پلار ځما نه بیان اوکړو چه زهٔ د جابرؓ خواله

رحمه الله دا دے چه دا رمَی واجب ده رکن نهٔ دے. پس کچرے د چا نه پاتے شوه تردے پورے چه ورځے د ویشتلو اووتے نو ګنهګار شو او دم پرے لازم شو. او حج ئے صحیح شوے دے. او مالك رحمه الله وئیلے دی چه حج ئے فاسد شو. او واجب دی اوهٔ ګیتئ کچرے یوه پکښ هم کمه شوه نو شپږ نهٔ شی کافی کیدے.

قوله "بیا د قربانئ ځائے ته راغئ" دد ے نه معلومه شوه چه هدی ډیره راوستل مستحب دی چه د حضرت سل اوښان هدی وو. او پوره شوے.

یو اتیایمه: مسئله یعنی ثابته شوه چه مستحب دی ذبح کول د هدئے په خپل لاس سره او نیابت هم په اجماع د امت سره جائز دے. هر کله چه نائب مسلمان وی.

دوه اتیایمه: مسئله یعنی معلومه شوه چه مستحب دی زر ذبح کول د قربانئ اګر کهٔ ډیرے وی او د ذبح تول کار د قربانئ په ورځ مستحب دے. او رسول الله دری شپیتهٔ اوښان چه د هغوی سره راغلے وو هغوی خو هغه پخپله ذبح کړل او باقی چه د حضرت علی سره راغلے وو هغوی ته ئے د ذبح کولو دپاره ورکړو کوم چه هغه د یمن نه راوستے وو. غرض دا تول پوره سل شو.

درے اتیایمه: مسئله. "بیائے اوفرمائیل چه د هر اوښ نه یوه ټکړه" الخ دد ے نه دا مسئله معلومه شوه چه د هرے قربانئ نه څهٔ خوړل سنت دی او چونکه د هرے یوے نه خوړ مشکل وو نو حضرت دا طریقه اختیار کړه. او دد ے په سنت کیدو باندے د تولو علماؤ اتفاق دے.

څلور اتیایمه مسئله: قوله "او طواف افاضه ئے اوکړو" الخ دد ے نه دا معلومه شوه چه طواف افاضه رکن دے. او دا په اجماع مسلمین سره د حج ډیر لوئے رکن دے. او اول وخت دد ے د قربانئ د شپے د نیمے نه دے د شافعیو په نز او غوره وخت ئے د ویشتلو د جمره عقبے نه پس دے. او د ذبح او د سر خرئیلو نه روستو او په دے کښ د یوم نحر یعنی قربانئ ورځ زیاتیږی او د قربانئ په توله ورځ کښ چه کله غواړے بلا کراهته ئے ادا کوه. او د قربانئ د ورځ نه زیات تاخیر کول مکروه دی. او د یوم تشریق نه تاخیر کول ډیر زیات مکروه دی. او آخر وخت د هغے چه دے د کومے پورے چه بنده ژوندے وی مګر په دے شرط چه رستو د وقوف عرفات نه وی. او کهٔ د وقوف عرفات نه ئے مخکښ اوکړی نو روا نهٔ دے. او د تولو علماؤ اتفاق دے. چه په طواف افاضه کښ نهٔ رمل شته دے نهٔ اضطباع. او کهٔ چیرته د طواف وداع په نیت سره طواف اوکړو او طواف افاضه دهٔ په ذمه وو نو دا د طواف افاضه په ځائے شو او په دے کښ نص دے د شافعي لکه چه په چا باندے حج د اسلام وی او هغه نیت د قضا یا په اراده حج په ځائے راوړی نو هغه د حج اسلام په ځائے کیدے شی. او ابوحنیفه او اکثرو علماؤ وئیلے دی چه طواف افاضه د څهٔ بل طواف په نیت سره نهٔ شی صحیح کیدے. او طواف افاضه ته طواف زیارت او طواف صدر او طواف الغرض او طواف الرکن هم وئیلے شی.

پنځهٔ اتیایمه: مسئله یعنی معلومه شوه چه اوبهٔ د کول او څکول لوئے فضیلت لری. چه خواهش اوکړو حضرت د هغے مګر دد ے یرے نه چه د بنی عبد المطلب خدمت به واخستے شی په ځائے به ئے رانهٔ وړی. او معلومه شوه دد ے نه چه بعض مستحبات پریخودل د څهٔ مصلحت په وجه روا دی.

شپږ اتیایمه: مسئله چه ثابت شو فضیلت د زمزم د اوبو د څښلو، او ډیر روایتونه په دے باره کښ راغلے دی. او دا یو مشهور کوهے دے د بیت الله شریف نه په اتهٔ دیرش لاسه باندے. او ماء زمزم نه مشتق دے چه ډیرو اوبو ته وئیلے شی. او د حضرت علی نه روایت دے چه د زمکے د تولو کوهیانو نه غوره اب زمزم دے او د تولو نه بدتر برهوت. ختمه شوه شرحه دد ے حدیث او مونږ اختصار اوکړو په دے شرح کښ ورنه دد ے فائدے ډیرے زیاتے دی. ونحمد الله علی اتمامه

جلد دویم

أَتَيْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ فَسَأَلْتُهُ عَنْ حَجَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ حَاتِمِ بْنِ إِسْمَعِيلَ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ وَكَانَتِ الْعَرَبُ يَدْفَعُ بِهِمْ أَبُو سَيَّارَةَ عَلَى حِمَارٍ عُرْيٍ فَلَمَّا أَجَازَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ بِالْمَشْعَرِ الْحَرَامِ لَمْ تَشُكَّ قُرَيْشٌ أَنَّهُ سَيَقْتَصِرُ عَلَيْهِ وَيَكُونُ مَنْزِلَهُ ثَمَّ فَأَجَازَ وَلَمْ يَعْرِضْ لَهُ حَتَّى أَتَى عَرَفَاتٍ فَنَزَلَ

لاړم او د هغوی نه مې د رسول الله ﷺ د حج تپوس اوکړو. نو هغوی بیان کړو حدیث لکه چه حاتم بن اسماعیل بیان کړے وو. او په دے کښې ئے دومره زیاته کړه چه د عربو قاعده وه (یعنی د جاهلیت په ورځو کښې) چه ابوسیاره (دا د یو سړی کنیت دے) هغوی لره د مزدلفے نه واپس راوړلو (او عرفات ته ئے وړلو) بیا چه هر کله رسول الله ﷺ د مزدلفے نه مخکښې لاړو نو د قریشو یقین وو چه حضرت ﷺ به په مشعرالحرام کښې اودریږی او دغه به د حضرت ﷺ منزل وی او حضرت ﷺ د هغے نه هم مخکښې لاړو او د دے سره ئے تعرض اونۀ کړو. تر دے پورے چه عرفات ته اورسیدو (یعنی عرفات ته نژدے) او هلته کوز شو[1].

عَنْ جَعْفَرٍ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ جَابِرٍ فِي حَدِيثِهِ ذٰلِكَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَحَرْتُ هَاهُنَا وَمِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ فَانْحَرُوا فِي رِحَالِكُمْ وَوَقَفْتُ هَاهُنَا وَعَرَفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ وَوَقَفْتُ هَاهُنَا وَجَمْعٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ

د جابر نه په دے حدیث کښې دا زیاته ده چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ما دلته قربانی اوکړه او منیٰ ټوله د قربانۍ ځائے دے. نو تاسو د خپلو کوزیدو په ځائے کښې قربانی کوئ. او ما دلته وقوف اوکړو او عرفه ټول د وقوف ځائے دے او مشعر الحرام او مزدلفه ټول د وقوف ځایونه دی. او ما دلته وقوف اوکړو[2].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ لَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ أَتَى الْحَجَرَ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ مَشَى عَلَى يَمِينِهِ فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا

د جابر نه په دے کښې دا سے روایت مروی دے چه هر کله رسول الله ﷺ مکے ته راغے. حجر اسود ئے ښکل کړو. او په دریو چکرو کښې ئے رمل اوکړو او په څلورو کښې د عادت موافق روان وو[3].

---

[1] : یعنی د قریشو خیال وو چه حضرتؐ به په مزدلفه کښې وقوف کوی لکه چه به هغوی پرے وقوف د جاهلیت په ورځو کښې کولو حضرت د هغے نه مخکښې لاړو او د عرفات په خوا کښې کوز شو او د زوال نه روستو ئے په عرفات کښې وقوف اوکړو. لکه چه پورته بیان شو.

[2] : دائے کمال د نرمۍ او اسانۍ دپاره د امت اوفرمائیلو ورنه هر سړی ته تکلیف وی. او د حضرتؐ په موقف او منحر کښې هغه ګڼړه ګونړه وه چه د اوښ په عوض کښې بنیادم قربانیدو.

[3] : د دے ټول مفصل بیان پورته تیر شوے دے.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ قُرَيْشٌ وَمَنْ دَانَ دِينَهَا يَقِفُونَ بِالْمُزْدَلِفَةِ وَكَانُوا يُسَمَّوْنَ الْحُمْسَ وَكَانَ سَائِرُ الْعَرَبِ يَقِفُونَ بِعَرَفَةَ فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ أَمَرَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ نَبِيَّهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْتِيَ عَرَفَاتٍ فَيَقِفَ بِهَا ثُمَّ يُفِيضَ مِنْهَا فَذٰلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ

حضرت عائشهؓ فرمائی چه قریشو او د هغوی پیروکارو په مزدلفه کښې قیام کوو. او ځان ته به ئے حمس نوم وئیلو (ابو لهیثم وئیلے دی چه دا نوم دے دقریشو او د هغوی د اولاد او د کنانه او جدیله د قیس ددے وجے نه هغوی حمس ایخودو په خپل دین کښې یعنی تشدد او سختی به ئے کوله) او باقی د عربو خلقو به په عرفه کښې وقوف کولو بیا چه کله اسلام راغے. الله پاک خپل نبی ﷺ ته حکم اوفرمائیلو چه عرفات ته راشه او وقوف اوکړه او د هغه ځائے نه واپس شه او دغه مطلب دے ددے ایت ثُمَّ أَفِيضُوا. یعنی واپس کیږی د هغه ځائے نه د کوم ځائے نه چه نور خلق واپس کیږی.

عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَتِ الْعَرَبُ تَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرَاةً إِلَّا الْحُمْسَ وَالْحُمْسُ قُرَيْشٌ وَمَا وَلَدَتْ كَانُوا يَطُوفُونَ عُرَاةً إِلَّا أَنْ تُعْطِيَهُمُ الْحُمْسُ ثِيَابًا فَيُعْطِي الرِّجَالُ الرِّجَالَ وَالنِّسَاءُ النِّسَاءَ وَكَانَتِ الْحُمْسُ لَا يَخْرُجُونَ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ وَكَانَ النَّاسُ كُلُّهُمْ يَبْلُغُونَ عَرَفَاتٍ قَالَ هِشَامٌ فَحَدَّثَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ قَالَتِ الْحُمْسُ هُمُ الَّذِينَ أَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيهِمْ ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ قَالَتْ كَانَ النَّاسُ يُفِيضُونَ مِنْ عَرَفَاتٍ وَكَانَ الْحُمْسُ يُفِيضُونَ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ يَقُولُونَ لَا نُفِيضُ إِلَّا مِنَ الْحَرَمِ فَلَمَّا نَزَلَتْ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ رَجَعُوا إِلَى عَرَفَاتٍ

هشام د خپل پلار نه روایت کړے دے چه عربو خلقو به طواف کوو د بیت الله شریف نه په بربنډه سره مګر حمس. حمس قریش دی او د هغوی اولاد. غرض دے خلقو به په بربنډه طواف کوؤ. مګر هر کله چه قریشو هغوی له کپړے ورکولے. سړو سړو لره او ښځو ښځو لره به کپړے ورکولے او د حمس مزدلفے نه به بهر نه تلو. او ټول خلق به د عرفات پورے تلل. هشام وائی ځما پلار ما ته خبر راکړے دے چه حضرت عائشے صدیقے اوفرمائیل دغه حمس دے دکوم باره کښې چه الله فرمائیلے دی ثُمَّ أَفِيضُوا الخ حضرت عائشے اوفرمائیل. چه خلق خو د عرفات نه واپس کیږی او حمس د مزدلفے نه واپس کیږی. هغوی به وئیل چه مونږ هم د حرم نه واپس کیږو لیکن کله چه نازل شو أَفِيضُوا الخ نو د هغے نه روسته عرفات ته لاړل.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ يُحَدِّثُ عَنْ

محمد بن جبیرؒ د خپل پلار نه روایت کوی چه هغوی وائی چه ځما

أَبِيهِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ أَضْلَلْتُ بَعِيرًا لِي فَذَهَبْتُ أَطْلُبُهُ يَوْمَ عَرَفَةَ فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا مَعَ النَّاسِ بِعَرَفَةَ فَقُلْتُ وَاللهِ إِنَّ هٰذَا لَمِنَ الْحُمْسِ فَمَا شَأْنُهُ هَاهُنَا وَكَانَتْ قُرَيْشٌ تُعَدُّ مِنَ الْحُمْسِ

اوبښ چرته ورک شو او زهٔ د هغې د لټولو دپاره د عرفې په ورځ اووتم نو څهٔ ګورم چه رسول اللهﷺ د خلقو سره په عرفات کښې ولاړ دے. نو ما اووے چه په الله قسم دا خو د حمس خلق دی. دوی له څهٔ شوے دی چه ددے ځائے پورے راغلل (یعنی قریش خو د مزدلفې نه مخکښې نهٔ تلل) او قریش به په حمس کښې شماریدل (چه هغه خلق به د مزدلفې نه بهر نهٔ تلل)

بَاب جَوَازِ تَعْلِيقِ الْإِحْرَامِ وَهُوَ أَنْ يُحْرِمَ بِإِحْرَامٍ كَإِحْرَامِ فُلَانٍ

باب : یو سړے په خپل احرام کښې اووائی چه کوم د فلانی سړی احرام دے هغه څما احرام دے ددے د جائز کیدو بیان [1]

عَنْ أَبِي مُوسٰى قَالَ قَدِمْتُ عَلٰى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُنِيخٌ بِالْبَطْحَاءِ فَقَالَ لِي أَحَجَجْتَ فَقُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ بِمَ أَهْلَلْتَ قَالَ قُلْتُ لَبَّيْكَ بِإِهْلَالٍ كَإِهْلَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَقَدْ أَحْسَنْتَ طُفْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَأَحِلَّ قَالَ فَطُفْتُ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ أَتَيْتُ امْرَأَةً مِنْ بَنِي قَيْسٍ فَفَلَتْ رَأْسِي ثُمَّ أَهْلَلْتُ بِالْحَجِّ قَالَ فَكُنْتُ أُفْتِي بِهِ النَّاسَ حَتّٰى كَانَ فِي خِلَافَةِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا أَبَا مُوسٰى أَوْ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسٍ رُوَيْدَكَ

ابو موسیٰ وائی چه زهٔ راغلم د رسول اللهﷺ خواله او هغوی اوبښ کیښنولے په بطحائے مکه کښې وو. او ما ته ئې اوفرمائیل تا د حج نیت کړے دے؟ ما اووے آو. حضرتﷺ اوفرمائیل څهٔ احرام د تړلے دے؟ ما عرض اوکړو چه ما وئیلے دے لبیک پشان د لبیک د رسول اللهﷺ. حضرتﷺ اوفرمائیل خو مره ښهٔ د اوکړل. اوس د بیت الله طواف اوکړه او د صفا مروه او احرام کهولاؤ کړه (ځکه چه ددوی سره قربانی خو هیڅ وه هم نه) بیا ما طواف اوکړو د بیت الله او د صفا مروه. او د قبیله بن قیس د یوے ښځې خواله راغلم هغې څما د سر سپږے اولیدے. یا ما د حج لبیک اووے او خلقو ته به مے هم دا فتویٰ ورکوله (چه څوک بے د قربانئ نه د حج په نیت راشی هغه د عمره اوکړی او احرام د کهولاؤ کړی او بیا د د ترویے په ورځ د حج احرام اوتړی) تر دے پورے چه کله حضرت عمر خلیفه شو نو یو سړی ما ته اووے اے ابوموسیٰ یائې اووے اے عبد الله

[1] لکه چه حضرت علی وئیلے وو چه کوم احرام د رسول الله دے هغه څما دے. او حضرتﷺ دے لره جائز اوګڼړل

بَعْضَ فُتْيَاكَ فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثَ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ فِي النُّسُكِ بَعْدَكَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ كُنَّا أَفْتَيْنَاهُ فُتْيَا فَلْيَتَّئِدْ فَإِنَّ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَادِمٌ عَلَيْكُمْ فَبِهِ فَأْتَمُّوا قَالَ فَقَدِمَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ إِنْ نَأْخُذْ بِكِتَابِ اللهِ فَإِنَّ كِتَابَ اللهِ يَأْمُرُ بِالتَّمَامِ وَإِنْ نَأْخُذْ بِسُنَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَحِلَّ حَتَّى بَلَغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ

بن قیس ته خپلې بعضې فتوې لره منع اونیسه ځکه چه تاته معلومه نۀ ده چه امیر المؤمنین ستا نه روستو کومه نوې خبره په نسک کښې راوباسی (معلومه شوه چه د صحابو عقیده وه چه د خلفاؤ خبرې احداث گڼرله او نو پیدا خیال ئې کوؤ او په سنتو کښې ئې داخلنه گڼرلو. دا دے وجې نه حضرت عمر هم په جماعت سره تراویح چه دے لره هغۀ پخپله مقرر کړے وے نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ وویل حالانکه اصل تراویح د سنتو نه ثابتے وے بلکه اصل د جماعت ئې هم ثابت وو. مگر صرف همیشوالے پرے حضرت ﷺ نۀ وو کړے. او دهمیشوالی حکم حضرت عمر ورکړو. دغه قدرے تغیر چه د هغه د طرفه وو هغۀ ته غوره راغلې چه دے لره په سنتو کښې داخل کړی سبحان الله څومره ادب وو د رسول الله ﷺ سره د صحابو بیا ابو موسیٰ اووے اے خلقو چاله چه ما فتویٰ ورکړے ده (یعنی د احرام د کهولاؤلو) هغه د لږ صبر اوکړی ځکه چه امیر المؤمنین راتلونکے دے پس تاسو د هغۀ تابعداری اوکړئ راوی وائی بیا راغے حضرت عمر او ما هغوی ته ذکر اوکړو. نو هغوی اووے که چرے مونږ د الله په کتاب باندے چلیږو نو هغه د پوره حج او عمرے په ځائے راوړلو حکم فرمائیلے دے. او که د رسول الله ﷺ په سنتو باندے چلیږو نو رسول الله ﷺ احرام نۀ دے کهولاؤ کړے د کومے پورې چه قربانی خپل ځائے ته رسیدلے نۀ وی.[1]

---

[1] او د چا سره چه قربانی وی یا نۀ وی غرض حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه دلته د رسول الله ﷺ د فعل خیال اوکړو. او د قول خیال ئې اوکړو چه حضرت ﷺ په تولو صحابو ته حکم ورکړو چه د چا سره هدی نۀ وی احرام کهولاؤ کړی او بعضې شارحان حدیث دده تاویل کړے دے چه د امنع کول د حضرت عمر د اخذ بالاولی په لاره سره وو چه خواهش د هغۀ دا وو چه خلق حج په جدا سفر سره او عمره په جدا سفر سره په ځائے راوړی. او دغے ته هغوی پوره خیال کوول. اگر چه هغه خیال هر څنگه وو.

مسلم وائی او بیان کړے دے مونږ ته دا روایت عبید الله بن معاذ ، هغوی ته معاذ د هغوی پلار ، هغوی ته شعبه په دے سند سره دده پشان.

عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُنِيخٌ بِالْبَطْحَاءِ فَقَالَ بِمَ أَهْلَلْتَ قَالَ قُلْتُ أَهْلَلْتُ بِإِهْلَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَلْ سُقْتَ مِنْ هَدْيٍ قُلْتُ لَا قَالَ فَطُفْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حِلَّ فَطُفْتُ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ أَتَيْتُ امْرَأَةً مِنْ قَوْمِي فَمَشَطَتْنِي وَغَسَلَتْ رَأْسِي فَكُنْتُ أُفْتِي النَّاسَ بِذَلِكَ فِي إِمَارَةِ أَبِي بَكْرٍ وَإِمَارَةِ عُمَرَ فَإِنِّي لَقَائِمٌ بِالْمَوْسِمِ إِذْ جَاءَنِي رَجُلٌ فَقَالَ إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثَ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ فِي شَأْنِ النُّسُكِ فَقُلْتُ أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ كُنَّا أَفْتَيْنَاهُ بِشَيْءٍ فَلْيَتَّئِدْ فَهَذَا أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ قَادِمٌ عَلَيْكُمْ فَبِهِ فَأْتَمُّوا فَلَمَّا قَدِمَ قُلْتُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَا هَذَا الَّذِي أَحْدَثْتَ فِي شَأْنِ النُّسُكِ قَالَ إِنْ نَأْخُذْ بِكِتَابِ اللهِ فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ وَإِنْ نَأْخُذْ بِسُنَّةِ نَبِيِّنَا عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَحِلَّ حَتَّى نَحَرَ الْهَدْيَ .

عن ابو موسیٰؓ وائی زهٔ د رسول اللهﷺ خواله راغلم او هغوی د مکے په ګیتو والا زمکه کښ اوښ کیښنولے وو (یعنی هغه ئے منزل کړے وو) او حضرتؐ ځما نه تپوس اوکړو آیا تا په څهٔ اهلال کړے دے؟ ما عرض اوکړو کوم اهلال چه د نبیﷺ دے. حضرتﷺ اوفرمائیل ته د قربانئ سره راغلے ئے. ما اووے نه نو حضرتﷺ اوفرمائیل د بیت الله شریف او د صفا مروه طواف اوکړه او احرام کهولاؤ کړه. او ما طواف اوکړو او دغه شان بیا قوم د یوے ښځی خواله راغلم هغے ځما سر اووینځلو او ګومنځ ئے کړو. غرض دا چه ما خلقو ته په دغه فتویٰ ورکول شروع کړه د ابوبکرؓ او د عمرؓ د خلافت په زمانه کښ. بیا زهٔ د حج په ورځ ولاړ وم چه یو سړے ځما خواله راغے او اوئے وئیل تا ته معلومه نهٔ ده چه امیر المؤمنین د نسك په باره کښ کومه یوه خبره نوے راویستے ده. نو ما اووے. اے خلقو! چا ته چه ما فتویٰ ورکړے وه د کوم څیز (یعنی د احرام د کهولاؤلو) نو هغه د انتظار اوکړی. نو امیر المؤمنین اوس ستاسو خواله راروان دے. نو تاسو صرف د هغوی تابعداری کوئ بیا هر کله چه امیر المؤمنین تشریف راؤړو نو ما هغوی ته عرض اوکړو چه تاسو په نسك کښ کومه نوے خبره راوخکلے ده هغه څهٔ ده. نو هغوی اوفرمائیل. کهٔ چرے مونږ د الله په کتاب څو نو الله تعالیٰ فرمائی چه حج او عمره لره پوره کړئ د اللهؒ دپاره. او کهٔ چرے مونږ د خپل نبیﷺ په سنتو ځو نو نبیﷺ احرام نهٔ دے کهولاؤ کړے تر څو پورے چه قربانی نهٔ وه کړے[1].

[1] : غرض دا دے چه منع کول د حضرت عمر فاروق په طور د حرمت نهٔ وه چه فسخ ئے احرام لره ګڼړو یائے تمتع لره باطل خیال کوو بلکه د دغه منع کولو علت به پخپله په وړاندے روایت کښ راشی.

عن أَبِي موسى رضي الله عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَنِي إِلَى الْيَمَنِ قَالَ فَوَافَقْتُهُ فِي الْعَامِ الَّذِي حَجَّ فِيهِ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ يَا أَبَا مُوسَى كَيْفَ قُلْتَ حِينَ أَحْرَمْتَ قَالَ قُلْتُ لَبَّيْكَ إِهْلَالًا كَإِهْلَالِ النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ هَلْ سُقْتَ هَدْيًا فَقُلْتُ لَا قَالَ فَانْطَلِقْ فَطُفْ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ أَحِلَّ ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ شُعْبَةَ وَسُفْيَانَ

ابوموسیٰ وائی چه زهٔ رسول الله ﷺ یمن ته لیږلے وم او زهٔ په هغه کال راغلم په کوم کال چه حضرت ﷺ حج کوو نو رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائیل. اے ابوموسیٰ هر کله چه تا احرام تړلو نو څهٔ د وئیلے وو. ابوموسیٰ اووئیل چه ما وئیلے وو لبیك څما احرام هغه دے کوم چه د نبی ﷺ دے نو حضرت ﷺ اوفرمائیل آیا تا هدی راوستے ده نو ما اووے نا نو حضرت ﷺ اوفرمائیل. لاړ شه. بیت الله او د صفا او د مروه طواف اوکړه . بیا احرام کهولاؤ کړه. مخکښې د شعبه او د سفیان د حدیث په شان حدیث ئے بیان کړو.

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّهُ كَانَ يُفْتِي بِالْمُتْعَةِ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ رُوَيْدَكَ بِبَعْضِ فُتْيَاكَ فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثَ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ فِي النُّسُكِ بَعْدُ حَتَّى لَقِيَهُ بَعْدُ فَسَأَلَهُ فَقَالَ عُمَرُ قَدْ عَلِمْتُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ فَعَلَهُ وَأَصْحَابُهُ وَلَكِنْ كَرِهْتُ أَنْ يَظَلُّوا مُعْرِسِينَ بِهِنَّ فِي الْأَرَاكِ ثُمَّ يَرُوحُونَ فِي الْحَجِّ تَقْطُرُ رُءُوسُهُمْ

د ابوموسیٰ نه روایت دے چه هغه فتویٰ ورکوله د متعے (څنګه چه پورته تیر شو چه حج لره عمره کړه او فسخ ئے کړه او بیا د ترویے په ورځ د حج احرام اوتړله) نو یو سړی اووے. تهٔ خپلے بعضے فتوے منع کړه . څکه چه تاته معلومه نهٔ ده چه امیر المؤمنین کومه خبره په نسك کښې راوخکلے ده . بیا هغه د حضرت عمر سره میلاؤ شو او د هغوی نه ئے تپوس اوکړو . هغوی اووے تهٔ پوهیږے چه نبی داسے کړی دی او د هغوی صحابؤ هم (د حج په ورځو کښې مطلق عمره په ځائے د راوړلو لره او بیا په دغه کال حج کولو ته هم متعه وائی) مګر زهٔ چه کومه متعه کوم نو څکه چه ماته ښهٔ نهٔ ښکاری چه خلق د ښځو سره جماع د کیکر په اونو کښې اوکړی بیا حج ته ځی چه د سرونو نه ئے اُوبهٔ څاځی (او په

دے حال کښې عرفات ته لاړ شي[1]

بَابُ جَوَازِ التَّمَتُّعِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ كَانَ عُثْمَانُ يَنْهَى عَنِ الْمُتْعَةِ وَكَانَ عَلِيٌّ يَأْمُرُ بِهَا فَقَالَ عُثْمَانُ لِعَلِيٍّ كَلِمَةً ثُمَّ قَالَ عَلِيٌّ لَقَدْ عَلِمْتَ أَنَّا قَدْ تَمَتَّعْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَجَلْ وَلَكِنَّا كُنَّا خَائِفِينَ

عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ اجْتَمَعَ عَلِيٌّ وَعُثْمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا بِعُسْفَانَ فَكَانَ عُثْمَانُ يَنْهَى عَنِ الْمُتْعَةِ أَوِ الْعُمْرَةِ فَقَالَ عَلِيٌّ مَا تُرِيدُ إِلَى أَمْرٍ فَعَلَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنْهَى عَنْهُ فَقَالَ عُثْمَانُ دَعْنَا مِنْكَ فَقَالَ إِنِّي لَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَدَعَكَ فَلَمَّا أَنْ رَأَى عَلِيٌّ ذَلِكَ أَهَلَّ بِهِمَا جَمِيعًا

د تمتّع د جائز کیدو بیان

عبد الله بن شقیق وائی چه حضرت عثمان به منع کوله د تمتع نه او حضرت علی به د هغې حکم کولو. نو حضرت عثمان حضرت علی ته څۀ اووے. نو حضرت علی اووے تاته معلومه ده چه مونږ تمتع کړے ده د رسول الله ﷺ سره (یعنی د حج تمتع) نو هغوی اووے چه آو مګر مونږ دغه وخت یریدو[2].

سعید بن مسیب وائی چه حضرت علی او حضرت عثمان دواړه په عسپان (چه د یو مقام نوم دے) کښې یو ځائے شو. عثمان د متعے نه منع کول کولو (یعنی په ایّام د حج کښې چه هغه تمتع دے) نو حضرت علی ورته اووے. څۀ اراده ده ستا د هغه کار سره چه پخپله نبی کړے دے. او تۀ د هغې نه منع کول کوے؟ نو عثمان اووے تۀ مونږ پریږده زمونږ په حال باندے. حضرت علی اوفرمائیل زۀ تا نۀ شم پریخودے. بیا چه هر کله حضرت علی دا حال اولیدو، نو د حج او عمرے دواړو لبیک ئے اووے.

[1]: دا عذر بیان کړو حضرت عمر چه هغۀ ته غوره ښکاره شو چه خلق په عرفات کښې د نورو حاجیانو پشان په دړو ګنده وی، او د حاجیانو ښۀ والے لکه دادے چه سر ګډ وډ او خشوع او خضوع په هغوی کښې ظاهره وی او د عاجزئ سامان په هغوی باندے ښکاره وی نۀ د راحت او آرام علاماتونه په هغوی باندے ظاهر وی. او امر ظاهر دے چه دا علت د حدیث مرفوع منصوص په مقابله کښې هیڅ نۀ دے. خکه چه د احرام نه یو لحظه مخکښې هم د هر قسمه زینت حلال دے. او د ښځو سره جماع وغیره صحیح ده. او خوشبوئی لګول روا دی.

[2]: یعنی منع کول د حضرت عثمان هم تنزیها نۀ وو او نۀ تحریما. او دا فرمائیل د هغوی چه مونږ یریدلو. مراد دے نه عمره قضاء ده چه مخکښې د فتح نه شوے ده. او چونکه دغه عمره هم په ذیقعده کښې وه. لهذا په دے باندے د تمتع اطلاق صحیح دے. مسلم وئیلے دی او بیان کړے دے ما ته دغه روایت یحیٰی بن حارثی هغۀ نه خالد یعنی ابن الحارث هغۀ ته شعبه د دغې اسناد سره په مثل د دے.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ ؓ قَالَ كَانَتِ الْمُتْعَةُ فِي الْحَجِّ لِأَصْحَابِ مُحَمَّدٍ ﷺ خَاصَّةً

ابوذرؓ وائی د تمتع حج خاص وو د صحابو د نبی ﷺ دپاره[1].

عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَتْ لَنَا رُخْصَةً يَعْنِي الْمُتْعَةَ فِي الْحَجِّ

ابوذر وئیلے دی تمتع په حج کښ خاص زمونږ دپاره وو[2].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي الشَّعْثَاءِ قَالَ أَتَيْتُ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيَّ وَإِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيَّ فَقُلْتُ إِنِّي أَهُمُّ أَنْ أَجْمَعَ الْعُمْرَةَ وَالْحَجَّ الْعَامَ فَقَالَ إِبْرَاهِيمُ النَّخَعِيُّ لَكِنْ أَبُوكَ لَمْ يَكُنْ لِيَهُمَّ بِذٰلِكَ قَالَ قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ بَيَانٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ مَرَّ بِأَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِالرَّبَذَةِ فَذَكَرَ لَهُ ذٰلِكَ فَقَالَ إِنَّمَا كَانَتْ لَنَا خَاصَّةً دُونَكُمْ

عبد الرحمٰن بن ابی الشعثاء وئیل چه راغلم زهٔ د ابراهیم نخعی او ابراهیم تیمی خواله او اومے ویل چه زهٔ جمع کرم حج او عمره دواړه په دے کال کښ. نو ابراهیم نخعی اووے چه ستاسو پلار خو چرته داسے اراده نهٔ کوله. او قتیبه وائی چه روایت کړے دے مونږ ته جریر، هغوی ته بیان، هغوئ ته ابراهیم تیمی، هغوتی ته د هغهٔ پلار چه هغه د ابوذر سره "ربذه" ته تلے وو او هغوی ته ئے د حج او عمرے په یو ځائے کولو ذکر اوکړو. نو هغوی اووے چه زمونږ خلقو دپاره خاص وو او ستاسو په دپاره نشته دے (یعنی د صحابؤ نه سوا د نورو دپاره روا نهٔ دی)[3].

عَنِ الْفَزَارِيِّ قَالَ سَعِيدٌ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ عَنْ غُنَيْمِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ سَأَلْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ الْمُتْعَةِ فَقَالَ فَعَلْنَاهَا وَهٰذَا

فزاری روایت کړے دے چه سعید وئیلے دی روایت کړے دے ما ته مروان د معاویه خوئ چه خبر راکړے دے مونږ ته سلیمان تیمی د غنیم بن قیس نه چه هغوی وئیلے دی چه ما د سعد بن ابی وقاص نه تپوس اوکړو د متعے. نو هغوی اووئیل چه مونږ متعه کړے ده.

---

[1] : دا اثر معارض نهٔ شی کیدے د رسول الله د ارشاد سرا ارشاد چه هغوی سراقه بن جعشم ته اوفرمائیل تمتع همیشه دپاره جائز دے.

[2] : یعنی د حج په ورځ کښ عمره په ځائے راوړل یا احرام د حج په عمره کولو فسخ کول او بیا حج کول او د متعه حج خصوصیت محض د هغوی رائے دے مخالف د نصوصِ محمدیه. نو حجت نهٔ شی کیدے.

[3] : دا د ابوذر رائے او تجویز دے او د راوی روایت حجت دے. او رائے حجت نهٔ دے. او دلائل د جواز د فسخ حج په عمره سره مونږ مخکښ د څلور دیرشمے مسئلے په تشریح کښ بیان کړے دے.

يَوْمَئِذٍ كَافِرٌ بِالْعُرُشِ يَعْنِي بُيُوتَ مَكَّةَ

او معاويه په دغه ورځو كافر وو د مكے په كورونو كښ[1].

عَنْ مُطَرِّفٍ قَالَ قَالَ لِي عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ إِنِّي لَأُحَدِّثُكَ بِالْحَدِيثِ الْيَوْمَ يَنْفَعُكَ اللهُ بِهِ بَعْدَ الْيَوْمِ وَاعْلَمْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَعْمَرَ طَائِفَةً مِنْ أَهْلِهِ فِي الْعَشْرِ فَلَمْ تَنْزِلْ آيَةٌ تَنْسَخُ ذَلِكَ وَلَمْ يَنْهَ عَنْهُ حَتَّى مَضَى لِوَجْهِهِ ارْتَأَى كُلُّ امْرِئٍ بَعْدُ مَا شَاءَ أَنْ يَرْتَئِيَ

مطرف وائي چه ما ته عمران بن حصين ﷺ اووئيل چه زۀ تاته نن يو حديث بيان كړم چه الله تعالى تاته د نن نه پس ددے څۀ فائده دركړي او پوهه شه چه رسول الله ﷺ د خپل كور والؤ نه د يو جماعت عمره اوكړله د ذى الحجے په عشره كښ او بيا په دے څۀ آيت نازل نۀ شو چه دے حكم لره ئے منسوخ كړے وے. او نۀ ددے دوارو كښ ئے عمره منع اوفرمايا. تردے پورے چه دد نيا نه لاړو. بيا د حضرت ﷺ نه روستو د چا چه څۀ زړۀ غوارى په خپله رائے ئے وائي.

عَنِ الْجُرَيْرِيِّ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ ابْنُ حَاتِمٍ فِي رِوَايَتِهِ ارْتَأَى رَجُلٌ بِرَأْيِهِ مَا شَاءَ يَعْنِي عُمَرَ

د جريرى نه په دے سند سره هم دا حديث مروى دے. او ابن حاتم په روايت كښ دادى چه بيا يو سړى په خپله رائے چه به څۀ غوښتل وئيل ئے. يعنى حضرت عمر[2].

---

[1]: د كافر كيدو دوه معنى دى. اول دا چه عرب وائي اِكْتَفَرَ الرَّجُلُ هر كله چه يو سړے په كلى كښ اوسيږى نو خكه ورته كفو كلى وئيلے شى. غرض په دے صورت كښ مطلب دا شو چه حضرت معاويه په مكه كښ وو او مونږ متعه اوكړه بله معنى داده. چه هغه هم ايمان نۀ وو راوړے او په دين جاهليت باندے وو. او دغه معنى ئے صحيح ده چه قاضى عياض وغيره دغے لره اختيار كړے ده. او مراد د متعے نه عمرة القضاء ده چه په اوم كال د هجرت كولو اوشوه. او حضرت معاويه په اتم كال كښ هر كله چه مكه فتح شوه نو هله ئے ايمان راوړے دے. او يو قول ضعيف دادے چه روستو د عمرة القضاء نه په دغه اوم كال ئے ايمان راوړے دے. مگر اول قول د هغوى د اسلام په باب كښ صحيح دے. او باقى عمره كومه چه د عمرة القضاء نه روسته اوشوه. په هغے كښ خو حضرت معاويه د رسول الله ﷺ سره وو او د اسلام په دولت سره مشرف شوے وو (نووى)

مسلم وئيلے دى او بيان كړے دے مونږ ته دغه روايت ابوبكر او شيبه رحمهما الله او هغوى ته يحيى بن سعيد رحمه الله هغوى ته سليمان تيمى په دغه اسناد سره. او د هغوى په روايت كښ دى يعنى معايه اووئيلے دى روايت كړے دے مونږ ته عمرو ناقس هغوى ته ابو احمد زبيرى هغۀ ته سفيان اووئيلے دى روايت كړے دے مونږ ته محمد هغوى ته روح بن عباده هغوى ته شيبه هغوى ټولو د سليمان نه په دغه اسناد سره په مثل ددغه دوارو روايتونو او د سفيان په روايت كښ المتعة فى الحج زيات دے يعنى دا سوال د مذكور حج د متعے وو.

[2]: ددے روايتونو نه د عمران مقصود دادے چه عمره ادا كول د حج په ورځو كښ او دغے ته تمتع وئيلے شى جائز او روا دے. او په حضرت عمر باندے هغوى انكار اوكړو چه هغوى په خپل رائے سره منع كول كولو. حالانكه د قرآن شريف نه او د حضرت محمد ﷺ د

عَنْ مُطَرِّفٍ قَالَ قَالَ لِي عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ أُحَدِّثُكَ حَدِيثًا عَسَى اللهُ أَنْ يَنفَعَكَ بِهِ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ بَيْنَ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ ثُمَّ لَمْ يَنْهَ عَنْهُ حَتَّى مَاتَ وَلَمْ يَنْزِلْ فِيهِ قُرْآنٌ يُحَرِّمُهُ وَقَدْ كَانَ يُسَلَّمُ عَلَيَّ حَتَّى اكْتَوَيْتُ فَتُرِكْتُ ثُمَّ تَرَكْتُ الْكَيَّ فَعَادَ

مطرف وائی چه ما ته عمران بن حصین اووے چه زۀ تاته یو حدیث بیان کرم کیدے شی الله عزوجل تاته فائده اورسوی او هغه دادے چه رسول الله ﷺ حج او عمره یوځائے کړل او بیائے د هغے نه منع اونۀ فرمائیله تردے پورے چه وفات ئے اوفرمایۀ او نۀ په دے باره کښ څۀ قرآنی آیت نازل شو چه د هغے نه ددوی جمع کول حرام وی او همیشه به ئے ځما دپاره سلام فرمائیلو د کومے پورے چه ما داغ نۀ وو لګولے هر کله چه مے داغ واخستو نو سلام ئے موقوف کړو. بیا چه مے داغ اخستل پریښودل نو بیائے سلام فرمائیلو په ما باندے[1].

عَنْ مُطَرِّفٍ قَالَ بَعَثَ إِلَيَّ عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ فِي مَرَضِهِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ فَقَالَ إِنِّي كُنْتُ مُحَدِّثَكَ بِأَحَادِيثَ لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَنفَعَكَ بِهَا بَعْدِي فَإِنْ عِشْتُ فَاكْتُمْ عَنِّي وَإِنْ مُتُّ فَحَدِّثْ بِهَا إِنْ شِئْتَ إِنَّهُ قَدْ سُلِّمَ عَلَيَّ وَاعْلَمْ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَمَعَ بَيْنَ حَجٍّ وَعُمْرَةٍ ثُمَّ لَمْ يَنْزِلْ

مطرف اووے چه ماته عمران بن حصین د یو قاصد په ذریعه پیغام رااولیږو. په هغه بیمارۍ کښ چه په هغے کښ د هغوی وفات راغلے وو. او اوئے وئیل زۀ تاته یو څو احادیث بیانوم کیدے شی چه ځما نه پس الله پاك تا لره په دے سره نفع در کړی. بیا کۀ چرے زۀ ژوندے وم (یعنی د مرض نه مے صحت اوموندو) نو تۀ به دا ځما په نوم سره نۀ بیانوے بلکه پټ به ئے ساتے. او کۀ چرے زۀ مړ شوم نو بیا کۀ غواړې بیانوه ئے. اوله خبره داده چه په ما باندے سلام کړے شوے دے (یعنی د فرښتو) دویم دا چه ما ته ښۀ معلومه ده چه نبی ﷺ حج او عمره دواړه یو ځائے

فرمان نه ددے جواز معلوم شو په دے مقام کښ غور کول پکار دی. چه حضرت عمر سره ددے چه خاص خلیفه دے د رسول الله ﷺ او د خلافت راشدۀ د مسند ښائست ورته بخښلے شوے دے. مګر هر کله چه د هغوی رائے د رسول معصو ﷺ خلاف راغے نو سلفو په هغے باندے انکار اوکړو. بیا د نورو خبره چه هر کله د رسول الله ﷺ معصوم د حدیث خلاف وی نو بیا ولے د انکار قابله نۀ شی ګرځیدے. او منع کول د حضرت عمر د مشعے نه په دے نظر سره نۀ وو چه متعه روا نۀ ده. بلکه صرف په دے خیال سره چه افراد لره په متعه باندے ترجیح ده. بیائے هم د هغوی د رائے نه انکار اوکړو.

[1] یعنی مطلب دا دے چه عمران بن حصین صحابی ته مرض د بواسیرو وو او فرښتو به په هغوی باندے سلام کولو د کومے پورے چه هغوی داغ نۀ وو اخستے او زیات تکلیف به ئے د بیمارۍ په وجه تیرولو په آخر کښ چه ئے هر کله داغ اولګوۀ نو فرشتو سلام موقوف کړو. هر کله چه ئے پریخودو او د داغ اخستلو نه قلار شو نو فرښتو بیا سلام کول شروع کړل (نووی شرح مسلم)

فِيهَا كِتَابُ اللهِ وَلَمْ يَنْهَ عَنْهَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَجُلٌ فِيهَا بِرَأْيِهِ مَا شَاءَ

کړې دی (یعنی د حج په ورځو کښې) او بیا په دے باره کښې نۀ خو قرآن نازل شوے دے او نۀ حضرت ﷺ دد ے جمع نه منع فرمائیلے ده. او دغه سړی چه څۀ غوښتل هغه ئې پخپل رائے سره وئیلے دی[1].

عَنْ مُطَرِّفٍ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ تَمَتَّعْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَنْزِلْ فِيهِ الْقُرْآنُ قَالَ رَجُلٌ بِرَأْيِهِ مَا شَاءَ

د مطرف نه مروي دی چه عمران هغوی ته اووے چه متعه اوکړه مونږ د رسول الله ﷺ سره او نۀ نازل شو په دے کښې قرآن (یعنی دد ے په نهی کښې) بیا فلانی سړی پخپل رائے سره چه څۀ غوښتل هغه به ئې وئیل. او وئیلے دی[2].

عَنْ أَبِي رَجَاءٍ قَالَ قَالَ عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ نَزَلَتْ آيَةُ الْمُتْعَةِ فِي كِتَابِ اللهِ يَعْنِي مُتْعَةَ الْحَجِّ وَأَمَرَنَا بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ لَمْ تَنْزِلْ آيَةٌ تَنْسَخُ آيَةَ مُتْعَةِ الْحَجِّ وَلَمْ يَنْهَ عَنْهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى مَاتَ قَالَ رَجُلٌ بِرَأْيِهِ بَعْدُ مَا شَاءَ

ابو رجاء راوی دے چه عمران بن حصین اووئیل چه په کتاب الله کښې ایت د متعے یعنی د متعے د حج نازل شو. او رسول الله ﷺ مونږ دد ے حکم اوکړو. بیا داسے ایت نازل نۀ شو د متعے د حج لره منسوخ کوو. او نۀ رسول الله ﷺ ممانعت اوفرمائۀ تردے پورے چه د رسول الله ﷺ وفات اوشو. لیکن د هغے نه روستو یو سړی به چه په خپله رائے څۀ غوښتل اوئې وئیل[3].

بَاب وُجُوبِ الدَّمِ عَلَى الْمُتَمَتِّعِ

باب: په متمتع د قربانئ د واجبیدو بیان

---

[1] دد ے روایت نه معلومه شوه چه د هیچا رائے د نبی ﷺ د حدیث نه نۀ شي مقدم کیدلے. او معلومه شوه چه خبرے د فرښتو د پیغمبر نه بغیر بل څوك هم اوریدلے شي.

[2] او وئیلے دی امام مسلم چه روایت کړے دے ما ته حجاج بن شاعر هغوی ته عبید بن عبدالمجید هغوی ته اسماعیل بن مسلم هغوی ته محمد بن واسع هغوی ته مطرف بن عبد الله بن شخیر هغوی ته عمران بن حصین دغے حدیث لره متعه کړے ده نبی ﷺ او متعه کړے ده مونږ د هغوی سره.

[3] مسلم وائی روایت کړے دے ما ته محمد بن حاتم، هغوی ته یحیٰی، هغوی ته عمران بن قصیر، هغوی ته ابورجاء، هغوی ته عمران بن حصین پشان دد ے حدیث. مګر دومره فرق دے چه وئیلے دی چه اوکړل مونږه (یعنی متعه د حج) د رسول الله ﷺ سره. او دا ئې اونۀ وے چه حکم کړے دے مونږ ته رسول الله ﷺ دد ے (یعنی څنګه چه په پورته روایت کښې د حکم ذکر دے. دغسے په دے کښې نشته)

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ تَمَتَّعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ وَأَهْدَى فَسَاقَ مَعَهُ الْهَدْىَ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ وَبَدَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ وَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَكَانَ مِنَ النَّاسِ مَنْ أَهْدَى فَسَاقَ الْهَدْىَ وَمِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُهْدِ فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ قَالَ لِلنَّاسِ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ أَهْدَى فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ مِنْ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى يَقْضِيَ حَجَّهُ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْكُمْ أَهْدَى فَلْيَطُفْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَلْيُقَصِّرْ وَلْيَحْلِلْ ثُمَّ لِيُهِلَّ بِالْحَجِّ وَلْيُهْدِ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا فَلْيَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ وَطَافَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ فَاسْتَلَمَ الرُّكْنَ أَوَّلَ شَيْءٍ ثُمَّ خَبَّ ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ مِنَ السَّبْعِ وَمَشَى أَرْبَعَةَ أَطْوَافٍ ثُمَّ رَكَعَ حِينَ قَضَى طَوَافَهُ بِالْبَيْتِ عِنْدَ الْمَقَامِ

د سالم بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه عبد الله بن عمرؓ اوفرمائیل چه متعه اوکړه رسول اللهؐ په حجة الوداع کښې د عمرے سره په حج کښې میلاؤ شوے. او قربانی ئے اوکړه. او د قربانئ څاروے ئے د ځان سره د ذوالحُلیفه نه بوتلو. او په شروع کښې حضرتؐ لبیك د عمرے اووے. بیائے لبیك د حج اووے. او دغه شان خلقو هم د هغوی سره لبیك اووے عمرے او د حج سره او په خلقو کښې چه د چا سره قربانی وه هغوی د قربانئ څاروے د ځان سره راوستے وو او د چا سره قربانی نهٔ وه. بیا چه هر کله حضرتؐ مکے ته اورسیدو نو خلقو ته ئے اوفرمائیل چه چا قربانی راستے وی هغه په څهٔ څیز سره حلال نهٔ دے هغه به د حج د کولو پورےؐ په حالت د احرام کښې وی. او د چا سره چه قربانی نشته هغه د بیت الله طواف اوکړی او د صفا مروه سعی دِ اوکړی خپل ویښتهٔ دِ کټ کړی او احرام دِ کهولاؤ کړی. بیا دِ د حج لبیك اووائی یعنی په اتم تاریخ او پکار ده چه د حج نه به قربانی اوکړی. بیا چه چا ته قربانی میلاؤ نهٔ شی هغه دِ درے روژے اونیسی په حج کښې او اوهٔ روژے دِ بیا خپل کورته د رسیدو نه پس اونیسی او جناب رسول اللهؐ چه هر کله مکے ته راغے نو د هر څهٔ نه مخکښې ئے حجر اسود ښکل کړو بیائے درے چکره په پهلوانئ او د پوندو په زور سره د بیت الله نه طواف اوکړو (یعنی کومے ته چه رمل وئیلے شی) او بیائے څلور چکره طواف اوکړو (د عادت موافق په تلو سره) بیائے دوه رکعته اوکړل هر کله چه د طواف نه فارغ شو. او هغه دوه رکعته ئے د مقام

رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَانْصَرَفَ فَأَتَى الصَّفَا فَطَافَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ سَبْعَةَ أَطْوَافٍ ثُمَّ لَمْ يَحْلِلْ مِنْ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى قَضَى حَجَّهُ وَنَحَرَ هَدْيَهُ يَوْمَ النَّحْرِ وَأَفَاضَ فَطَافَ بِالْبَيْتِ ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ وَفَعَلَ مِثْلَ مَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَهْدَى وَسَاقَ الْهَدْيَ مِنَ النَّاسِ

ابراهيم په خوا کښې ادا کړل. بيائے سلام اوګرځوو او په صفا باندے تشريف فرماشو او د صفا او مروه په مينځ کښې ئے اوه ځله طواف اوکړو بيائے هيڅ يو څيز لره په خپل ځان باندے حلال نۀ کړو د هغه څيزونو نه چه هغه ئے په سبب د احرام په ځان باندے حرام کړی وو. تردے پورے چه د حج نه بالکل فارغ شو او د قربانۍ په ورځ ئے خپله قرباني پخپله ذبح کړه يعنی په لسم تاريخ کښې او بيا مکے ته واپس راغے او طواف افاضه ئے اوکړو د بيت الله نه بيائے هر څيز لره پخپل ځان باندے حلال کړو کوم چه ئے په احرام سره په ځان حرام کړی وو. او کومو خلقو چه قربانۍ د ځان سره راوړے وے هغوی هم دغه شان اوکړو څنګه چه رسول الله ﷺ کړی وو[1].

[1]: متعه اوکړه رسول الله مراد ددے نه دادے چه رومبے ئے د حج احرام اوتړو. بيائے د عمرے او د قاضی عياض رحمه الله دغه قول دے. او د لغت د مخه دا هم تمتع شو او دغه د خلقو د متعے نه هم مراددے. چه مخکښې هغوی احرام د حج تړلے وو. بيائے عمره اوکړه احرام ئے کھولاؤ کړو. بيائے حج اوکړو د مکے نه په احرام تړلو سره دغه د لغت د مخه متعه او تمتع شو. قوله: خپل ويښتۀ ئے کټ کړل الخ.ددے نه معلومه شوه چه ويښتۀ کټ کول يائے خريل دا هم په مناسك د حج کښې شامل دی. او دغه مذهب د جمهورو علماؤ دے. او صحيح مذهب د شافعی دے. او دے لره د حج مناسك نه ګڼړل ضعيف مذهب دے اګر چه حلق يعنی خرئيل د ويښتو غوره دی. مګر دلته حضرت د کټ کولو حکم ځکه ورکړو چه د حج نه پس خرئيل وی نو ويښتۀ به پاتے نۀ شی.او پکار ده چه پس د حج نه قربانی اوکړی الخ. مراد ددے نه قربانی د تمتع ده. چه متمتع باندے واجب ده. او ددے د وجوب شرطونه د فقهے په کتابونو کښې مذکور دی.قوله: چا ته چه قربانی ميلاؤ نۀ شی هغه دِ درےروژے اونيسی. او دا درے روژےاولی دی د عرفے نه مخکښې دِ ئےاونيسی او د حج د احرام تړلو نه پس هر کله چه د عمرے نه فارغ شی او کۀ د عمرے او د حج د احرام نه مخکښې ئےاونيسی نو هم پوره دی د صحيح مذهب د مخه. او کۀ چرے د عمرے د احرام نه پس او مخکښې د فراغت د عمرے نه ئے اونيسی نو صحيح مذهب د شافعی دادے چه هغه کافی نۀ دی. او د امام مالك د ملګرو قول هم داسے دے. او د ثوری او ابوحنيفه په نز کافی دی او کچرے اختر او ايّام تشريق هر څۀ تير شو نو د هغے قضاء د شافعيؤ په نز واجب ده. او د ابوحنيفه قول دے چه اوس هغه درے روژے نيولے شی بلکه دِ هغے قربانی ورکول کۀ طاقت ئے وی ضروری دی. باقی پاتے شوے اوۀ روژے هغه چه وطن ته لاړ شی او دِ نيسی. لو ددے حديث نه معلومه شوه چه طواف قدوم مستحب دے او ددے په رومبو دريو چکرو کښې رمل کول هم مستحب دی. او د رمل

بَاب بَيَانِ أَنَّ الْقَارِنَ لَا يَتَحَلَّلُ إِلَّا فِي وَقْتِ تَحَلُّلِ الْحَاجِّ الْمُفْرِدِ

باب: د قارن ، د مفرد د احرام د کهولاؤلو په وخت خپل احرام نهٔ پرانزئ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ حَفْصَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ مَا شَأْنُ النَّاسِ حَلُّوا وَلَمْ تَحْلِلْ أَنْتَ مِنْ عُمْرَتِكَ قَالَ إِنِّي لَبَّدْتُ رَأْسِي وَقَلَّدْتُ هَدْيِي فَلَا أَحِلُّ حَتَّى أَنْحَرَ

د عبد الله بن عمر نه مروی دی چه ام المؤمنین حضرت حفصے عرض اوکړو. چه اے د الله تعالی رسوله ﷺ . خلقو خپل احرامونه کهولاؤ کړل. او تاسو د عمرے کولو نه پس احرام ولے کهولاؤ نهٔکړو؟ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ما د خپل سر وېښتهٔ په خطمی وغیره سره یو ځائے کړے دی. او د خپلے قربانئ په غاړو کښں مے هارونه اچولے دی. پس زهٔ احرام نهٔ پرانزم. ترڅو پورے چه قربانی ذبح نهٔ کړم[1].

عَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَأْنُ النَّاسِ حَلُّوا وَلَمْ تَحِلَّ مِنْ عُمْرَتِكَ قَالَ إِنِّي قَلَّدْتُ هَدْيِي وَلَبَّدْتُ رَأْسِي فَلَا أَحِلُّ حَتَّى أَحِلَّ مِنَ الْحَجِّ

حضرت حفصه وائی چه ما نبی ﷺ ته عرض اوکړو چه څهٔ خبره ده چه خلق خو حلال شو (یعنی عمره ئے پرانسته) او تاسو د عمرے احرام کهولاؤ نهٔ کړو. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل. د دے وجے نه چه ما د ځان سره هدي راوستے ده او د سر تلبید مے کړے دے نو زهٔ به حج کوم احرام به پرانیزم[2].

معنی په دے حدیث کښں پورته بیان شوه او معلومه شوه چه د طواف دوه رکعتونه د مقام ابراهیم شاته ادا کول مستحب دی. (نووی شرح مسلم) او وئیلے دی مسلم علیه الرحمة چه روایت کړے دے ما ته عبد الملك بن شعیب هغوی ته د هغوی پلار هغوی ته د هغوی نیکهٔ او هغوی ته عقیل هغوی ته ابن شهاب هغوی ته عروه چه جناب عائشے صدیقے خبر ورکړے دے هغوی ته د رسول الله په تمتع سره. لکه چه خبر راکړے دے مالره سالم د رسول الله د تمتع نه.

[1] وئیلے دی مسلم او روایت کړے دے مونږ ته دغه حدیث ابن نمیر هغوی ته خلاد بن مخلد ، هغوی ته مالك ، هغوی ته ناف ، هغوی ته ابن عمر ، هغوی ته حفصے چه هغوی عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ : څهٔ سبب دے چه تا احرام کهولاؤ نهٔ کړو. پشان د پورته روایت.

[2] او وئیلے دی مسلم علیه الرحمة چه روایت کړے دے مونږ ته ابوبکر بن ابی شیبه، هغوی ته اسامه، هغوی ته عبید الله هغوی ته نافع هغوی ته ابن عمر چه حفصے عرض اوکړو چه یا رسول الله او روایت ئے کړے دے په مثل د مالك د حدیث او په دے کښں دا دی چه احرام نهٔ پرانیزم د کومے پورے چه قربانی ذبح نهٔ کړم.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أَزْوَاجَهُ أَنْ يَحْلِلْنَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ قَالَتْ حَفْصَةُ فَقُلْتُ مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَحِلَّ قَالَ إِنِّي لَبَّدْتُ رَأْسِي وَقَلَّدْتُ هَدْيِي فَلَا أَحِلُّ حَتَّى أَنْحَرَ هَدْيِي

عبد الله د حضرت عمر لخت جگر وائی چه بیان کړے دے مونږ ته حفصے چه نبی ﷺ خپلو بیبیانو ته حکم اوفرمائیلو چه احرامونه کھولاؤ کړئ د حجة الوداع په کال کښې بی بی حفصے عرض اوکړو چه تاله څوك منع کوی د احرام د پرنستلو نه؟ حضرت اوفرمائیل چه ما د خپل سر ویښتو لره په خطمی وغیره سره یو ځائے کړے دی او د خپلے قربانۍ په غاړه کښې مے هار اچولے دے. پس احرام نه پرانزم د کومے پورے چه قربانی ذبح نه کړم[۱]

بَاب بَيَانِ جَوَازِ التَّحَلُّلِ بِالْإِحْصَارِ

باب: حاجی په وخت د رابندیدو احرام کھولاوولے شی

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا خَرَجَ فِي الْفِتْنَةِ مُعْتَمِرًا وَقَالَ إِنْ صُدِدْتُ عَنِ الْبَيْتِ صَنَعْنَا كَمَا صَنَعْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ فَأَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَسَارَ حَتَّى إِذَا ظَهَرَ عَلَى الْبَيْدَاءِ الْتَفَتَ إِلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ مَا أَمْرُهُمَا إِلَّا وَاحِدٌ أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ أَوْجَبْتُ الْحَجَّ مَعَ الْعُمْرَةِ فَخَرَجَ حَتَّى إِذَا جَاءَ الْبَيْتَ طَافَ بِهِ سَبْعًا وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ سَبْعًا لَمْ يَزِدْ عَلَيْهِ وَرَأَى

د نافع نه روایت دے چه عبد الله بن عمر را اووتو د فتنے په ورځو کښې د عمرے کولو دپاره او اوئے وئیل کچرے زۀ منع کړے شوم د بیت الله نه نو داسے به کوم څنګه چه مونږ د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښې کړی وو. بیا رااووتو د عمرے احرام ئے اوکړو او لاړو تر دے پورے چه بیداء ته اورسیدو (کوم ځائے چه د رسول الله ﷺ لبیك اکثرو صحابو واوریدلے وو په حج الوداع کښې) او خپلو ملګرو ته ئے اووے چه د حج او عمرے حکم یو شان دے د دواړو دپاره اهلال کولے شئ. نو زۀ تاسو لره ګواه کوم چه ما په ځان باندے حج هم د عمرے سره واجب کړو. او لاړو تر دے پورے چه بیت الله شریف ته اورسیدو او هلته ئے اوۀ ځله طواف

---

[۱]: نووی فرمائی چه دد دے تولو روایتونو نه معلومه شوه چه رسول الله قارن وو. او قارن چه د کومے پورے د وقوف عرفات او د شیطانانو د ویشتلو نه فاغ شوے نه وی. د هغے پورے احرام نه شی پرانستلے. او ددے نه دا هم معلومه شوه چه تلبید کول یعنی ویښتۀ په څۀ لیس دار څیز سره لګه ګوند یا السی وغیره یو ځائے کول مستحب دی او د قربانۍ په غاړه کښې هار اچول هم مستحب دی او دا دواړه په اتفاق سره مسنون دی.

أَنَّهُ مُجْزِئٌ عَنْهُ وَأَهْدَى

اوکړو. او اوۀ ځله ئے د صفا او مروه په مینځ کښې سعی اوکړه. او ددے نه ئے زیات څۀ اونۀ کړل. او دغے لره ئے کافی اوګڼړل او قربانی ئے اوکړه[1].

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبْدِ اللهِ وَسَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللهِ كَلَّمَا عَبْدَ اللهِ حِينَ نَزَلَ الْحَجَّاجُ لِقِتَالِ ابْنِ الزُّبَيْرِ قَالَا لَا يَضُرُّكَ أَنْ لَا تَحُجَّ الْعَامَ فَإِنَّا نَخْشَى أَنْ يَكُونَ بَيْنَ النَّاسِ قِتَالٌ يُحَالُ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْبَيْتِ قَالَ فَإِنْ حِيلَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ فَعَلْتُ كَمَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَعَهُ حِينَ حَالَتْ كُفَّارُ قُرَيْشٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ أَوْجَبْتُ عُمْرَةً فَانْطَلَقَ حَتَّى أَتَى ذَا الْحُلَيْفَةِ فَلَبَّى بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ قَالَ إِنْ خُلِّيَ سَبِيلِي قَضَيْتُ عُمْرَتِي وَإِنْ حِيلَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ فَعَلْتُ كَمَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَعَهُ ثُمَّ تَلَا لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ثُمَّ سَارَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِظَهْرِ الْبَيْدَاءِ قَالَ مَا أَمْرُهُمَا إِلَّا وَاحِدٌ إِنْ حِيلَ بَيْنِي وَبَيْنَ الْعُمْرَةِ حِيلَ

د نافع نه روایت دے چه عبد الله بن عبد الله او سالم بن عبد الله دے دواړو عبد الله بن عمر ته اووے په کومو ورځو چه حجاج بن یوسف ظالم، د ابن زبیر سره جنګ له راغلے وو چه کچرے تاسو په دے کال حج او نۀ کړئ نو څۀ ضرر دے؟ ځمه چه مونږ یریږو چه داسے نه چه په خلقو کښې جنګ اوشی. او تاسو بیت الله ته لاړ نۀ شئ. نو هغوی اووے کچرے زۀ لاړ شم نو هغه شان به کوم څنګه چه رسول الله ﷺ کړے دی. کله چه د قریشو کفارو هغوی منع کړو د بیت الله نه او زۀ د هغوی سره وم. بیا عبد الله بن عمر اووے چه تۀ ګواه شه چه ما عمره په ځان باندے واجب کړه. او روان شو تردے پورې چه ذوالحلیفے ته اورسیدو او د عمرے لبیک ئے اووے بیائے اووے چه کچرے ځما لار ما ته ازاده وه نو زۀ به عمره په ځائے راوړم. او کۀ ځما او د بیت الله په مینځ کښې څوك حائل شو نو داسے به کوم لکه څنګه چه رسول الله ﷺ کړے دی او زۀ د هغوی سره وم بیائے دا ایت والوستو چه لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ الخ یعنی تاسو لره ښۀ تابعداری ده په رسول الله ﷺ کښې. بیا روان شو تردے پورې چه د بیداء په شا باندے اورسیدو نو اوئے وئیل چه د حج او عمرے دواړو دغه یو حکم دے. او کچرے زۀ

[1] : قوله : لکه څنګه چه مونږ د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښې کړی وو الخ یعنی هر کله چه رسول الله ﷺ د حدیبئے په کال د کافرو په شرارت سره منع کړے شو نو حضرت ﷺ احرام کهولاؤ کړو دغسے کۀ چرے مونږه منع کړے شو نو په لاره کښې به احرام کهولاؤ. او ددے حدیث نه معلومه شوه چه قارن لره دغه وو طواف او یوه سعی د حج او عمرے دواړو دپاره پوره دے. او دغه مذهب دے د امام شافعي اود جمهورو.

بَيْنِي وَبَيْنَ الْحَجِّ أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ أَوْجَبْتُ حَجَّةً مَعَ عُمْرَةٍ فَانْطَلَقَ حَتَّى ابْتَاعَ بِقُدَيْدٍ هَدْيًا ثُمَّ طَافَ لَهُمَا طَوَافًا وَاحِدًا بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ لَمْ يَحِلَّ مِنْهُمَا حَتَّى حَلَّ مِنْهُمَا بِحَجَّةٍ يَوْمَ النَّحْرِ

د خپلې عمرې نه منع کړے شوم نو د حج نه به هم منع کیږم. زهٔ تاسو له ګواه کوم چه ما حج هم د خپلې عمرې سره واجب کړو. بیا لاړو تر دے پورے چه د قدید نه قرباني واخسته او د حج او عمرے دواړو دپاره ئې یو طواف اوکړو د بیت الله نه او یوه ئې د صفا مروه سعی اوکړه او احرام ئې کھولاؤ نهٔ کړو تر دے پورے چه د حج نه فارغ شو او د قربانۍ په ورځ ئې د دواړو نه احرام کھولاؤ کړو.

عَنْ نَافِعٍ قَالَ أَرَادَ ابْنُ عُمَرَ الْحَجَّ حِينَ نَزَلَ الْحَجَّاجُ بِابْنِ الزُّبَيْرِ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ هَذِهِ الْقِصَّةِ وَقَالَ فِي آخِرِ الْحَدِيثِ وَكَانَ يَقُولُ مَنْ جَمَعَ بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ كَفَاهُ طَوَافٌ وَاحِدٌ وَلَمْ يَحِلَّ حَتَّى يَحِلَّ مِنْهُمَا جَمِيعًا

نافع وائی چه ابن عمر د حج اراده اوکړه په کوم کال چه حجاج په ابن زبیر حمله اوکړه. وړاندے ئې د مخکښنۍ قصے په شان حدیث بیان کړو. او د حدیث په آخر کښې ئې اوونیل چه حج او عمره جمع کړی دده یو طواف کافی دے. او احرام مهٔ پرانزئ تر دے پورے چه د دواړو نه فارغ شئ نو احرام پرانزئ.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَرَادَ الْحَجَّ عَامَ نَزَلَ الْحَجَّاجُ بِابْنِ الزُّبَيْرِ فَقِيلَ لَهُ إِنَّ النَّاسَ كَائِنٌ بَيْنَهُمْ قِتَالٌ وَإِنَّا نَخَافُ أَنْ يَصُدُّوكَ فَقَالَ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ أَصْنَعُ كَمَا صَنَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ أَوْجَبْتُ عُمْرَةً ثُمَّ خَرَجَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِظَاهِرِ الْبَيْدَاءِ قَالَ مَا شَأْنُ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ إِلَّا وَاحِدٌ اشْهَدُوا قَالَ ابْنُ رُمْحٍ أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ أَوْجَبْتُ حَجًّا مَعَ عُمْرَتِي وَأَهْدَى هَدْيًا اشْتَرَاهُ بِقُدَيْدٍ ثُمَّ انْطَلَقَ يُهِلُّ بِهِمَا جَمِيعًا حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ فَطَافَ بِالْبَيْتِ

د نافع نه روایت دے چه ابن عمر د حج اراده اوکړه په کوم کال چه حجاج په ابن زبیر حمله اوکړه نو هغوی ته اوونیلے شو چه په خلقو کښې جنګ کیدو والا دے. او زمونږ یره ده چه هغوی به تا منع کړی. نو ابن عمر اوونیل لَقَدْ كَانَ لَكُمْ الخ یعنی ستاسو دپاره هم د رسول الله ﷺ تابعداری ډیره ښه ده. زهٔ به هغه څهٔ کوم څهٔ چه رسول الله ﷺ کړی دی زهٔ تاسو ګواه کوم چه ما په ځان عمره واجب کړے ده. بیا هغه لاړهٔ. تر دے پورے چه هغه بیداء ته اورسیدهٔ نو اوئې وئیل چه د حج او د عمرے طریقه یوه ده. ابن رمح ویلی دی چه ابن عمر اوئیل چه زهٔ تاسو ګواه کوم چه د عمرے سره حج واجب کړے دے او هَدي ئې بوتله چه د قدید نه ئې اخستے وه. بیا لاړهٔ او د دواړو دپاره ئې احرام اوتړهٔ. تر دے پورے چه مکے ته راغے او د بیت

وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَلَمْ يَزِدْ عَلَى ذٰلِكَ وَلَمْ يَنْحَرْ وَلَمْ يَحْلِقْ وَلَمْ يُقَصِّرْ وَلَمْ يَحْلِلْ مِنْ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتّٰى كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ فَنَحَرَ وَحَلَقَ وَرَأٰى أَنْ قَدْ قَضٰى طَوَافَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ بِطَوَافِهِ الْأَوَّلِ وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ كَذٰلِكَ فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

الله او د صفا او د مروه یو خل طواف اوکړو او نه ئے قرباني اوکړه او نه ئے سر اوخرووو نه ئے کټ کړو او نه ئے څهٔ څیز حلال کړو کوم چه د احرام په وجه حرام کړی وو. تر دے پورے چه د نحر ورځ شوه (یعنی د ذوالحجے لسم تاریخ) او قرباني اوکړه او سر ئے اوخرووو او خیال ئے اوکړو چه د حج او د عمرے دپاره هغه اول طواف کافي شو. او عبد الله بن عمر وائي چه داسے رسول الله ﷺ کړی وو.

وئیلے دی مسلم چه روایت کړے دے مونږ ته ابوالربیع زهراني او ابوکامل دواړو وئیلے دی چه روایت کړے دے مونږ ته حماد. او وئیلے دی مسلم چه روایت کړے دے ما ته زهیر چه د حرب ځوئ دے. هغوی وائي روایت کړے دے ما ته حماد او اسماعیل دے دواړو روایت کړے دے د ایوب نه هغوی د نافع نه او هغوی د ابن عمر نه تو له دغه قیصه کومه چه پورته ذکر شوه. او د نبی ﷺ ذکر ئے صرف د حدیث په شروع کښې کړے دے. هر کله چه خلقو ابن عمر ته وئیلے وو چه چرته خلق د منع نهٔ کړی. هغوی په جواب کښې اووے چه کهٔ منع ئے کړم نو زهٔ به هغه څهٔ کوم څهٔ چه رسول الله ﷺ کړے دی لکه څنګه چه د لیث په روایت کښې پورته تیر شو.

بَاب فِي الْإِفْرَادِ وَالْقِرَانِ

باب : د افراد او قران بیان

عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ فِي رِوَايَةِ يَحْيٰى قَالَ أَهْلَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِالْحَجِّ مُفْرَدًا وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَوْنٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ أَهَلَّ بِالْحَجِّ مُفْرَدًا

نافع د عبد الله بن عمر نه روایت کوی چه هغوی وائي چه لبیک اووے مونږ د رسول الله ﷺ سره یواځے د حج او د ابن عون په روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ یواځے د حج لبیک وئیلے وو.

عَنْ أَنَسٍ ؓ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

انس ؓ وائي اوریدلے دی ما د رسول الله ﷺ نه چه د حج او عمرے

وَسَلَّمَ يُلَبِّي بِالْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ جَمِيعًا قَالَ بَكْرٌ فَحَدَّثْتُ بِذَلِكَ ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ لَبَّى بِالْحَجِّ وَحْدَهُ فَلَقِيتُ أَنَسًا فَحَدَّثْتُهُ بِقَوْلِ ابْنِ عُمَرَ فَقَالَ أَنَسٌ مَا تَعُدُّونَنَا إِلاَّ صِبْيَانًا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ لَبَّيْكَ عُمْرَةً وَحَجًّا

دواړو لبيك ئې وئيلو. بكر وائي ما دغه حديث ابن عمر ته بيان كړو نو هغوي اووې يواځې د حج لبيك ئې وئيلې وو. بيا زۀ د انس سره ميلاؤ شوم او هغوي ته مې اووې چه ابن عمر خو داسې وائي. انس اووې تاسو خلق مونږ لره معشومان ګڼړئ ما پخپله اوريدلې دي د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيل لبيك دې د حج او د عمرې.

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ بَيْنَهُمَا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ قَالَ فَسَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ أَهْلَلْنَا بِالْحَجِّ فَرَجَعْتُ إِلَى أَنَسٍ فَأَخْبَرْتُهُ مَا قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَقَالَ كَأَنَّمَا كُنَّا صِبْيَانًا

د انس نه روايت دې چه هغوي اوليدۀ نبي ﷺ چه حضرت ﷺ حج او عمره دواړه جمع كړل. بكر وائي چه بيا ما د ابن عمر نه تپوس اوكړو نو هغوي اووې چه مونږ د حج احرام اوتړلو. بيا زۀ د انس خواله راغلم او هغوي ته مې اووې څۀ چه ابن عمر ويلي دي نو انس اووې. لكه مونږ معشومان وو (يعني نۀ پوهيدو)[1].

بَابُ اسْتِحْبَابِ طَوَافِ الْقُدُومِ لِلْحَاجِّ وَالسَّعْيِ بَعْدَهُ

باب: د حاجي دپاره طواف قدوم او د هغې نه روستو سعي مستحب ده

عَنْ وَبَرَةَ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ ابْنِ عُمَرَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ أَيَصْلُحُ لِي أَنْ أَطُوفَ بِالْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ آتِيَ الْمَوْقِفَ فَقَالَ نَعَمْ فَقَالَ فَإِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ لاَ تَطُفْ بِالْبَيْتِ حَتَّى تَأْتِيَ الْمَوْقِفَ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ فَقَدْ حَجَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَطَافَ بِالْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَ الْمَوْقِفَ فَبِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَحَقُّ أَنْ تَأْخُذَ

وبره وائي چه زۀ د ابن عمر سره ناست وم چه يو سړې راغې او اوئې وئيل چه ما له طواف كول مخكښې د وقوف عرفات نه صحيح دي؟ ابن عمر اووې چه آو. هغه سړي اووې ابن عباس خو وئيلې دي چه د كومې پورې عرفات ته نۀ وې تلې د هغې پورې د طواف نۀ كوې ابن عمر اووې چه جناب رسول الله ﷺ حج اوكړو او د بيت الله شريف طواف ئې اوكړو عرفات ته د تلو نه مخكښې نو د رسول الله ﷺ قول اخستل

---

[1]: تطبيق په دې تولو روايتونو كښې دا دې چه اول احرام حضرت ﷺ د حج مفرد تړلې وو بيائې ورسره د عمرې هم ميلاؤ كړو او قارن شو او دغه مذهب صحيح او مختار دې د محدثينو او محققينو چه حضرت ﷺ اول مفرد وو بيا قارن شو. او په روايت د ابن عمر كښې د ابتدائې احرام بيان دې چه هر كله مفرد وو. او په روايت د انس كښې د آخر چه هغوي قارن وو.

أَوْ بِقَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ إِنْ كُنْتَ صَادِقًا

عَنْ وَبَرَةَ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَطُوفُ بِالْبَيْتِ وَقَدْ أَحْرَمْتُ بِالْحَجِّ فَقَالَ وَمَا يَمْنَعُكَ قَالَ إِنِّي رَأَيْتُ ابْنَ فُلَانٍ يَكْرَهُهُ وَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيْنَا مِنْهُ رَأَيْنَاهُ قَدْ فَتَنَتْهُ الدُّنْيَا فَقَالَ وَأَيُّنَا أَوْ أَيُّكُمْ لَمْ تَفْتِنْهُ الدُّنْيَا ثُمَّ قَالَ رَأَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ وَطَافَ بِالْبَيْتِ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَسُنَّةُ اللَّهِ وَسُنَّةُ رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَقُّ أَنْ تَتَّبِعَ مِنْ سُنَّةِ فُلَانٍ إِنْ كُنْتَ صَادِقًا

غوره دی یا د ابن عباس کهٔ چرے ته رښتونے ئے[1].

وبره وائی چه یو سړی د ابن عمر نه تپوس اوکړو چه زهٔ طواف اوکړم د بیت الله نه او ما د حج احرام تړلے دے؟ نو هغوی اووے چه د طواف نه تاڅوك منع کولے شی. هغوی اووے چه ما د فلانی څوئ لره اولیدو (یعنی ابن عباس لره) چه هغوی دے لره مکروه ګڼړی. او تاسو د هغوی نه زیات مونږ ته خوارهٔ یئ. او زهٔ هغوی لره وینم چه دنیا غافل کړے دی. نو ابن عمر اوفرمائیل چه په مونږ او تاسو کښې څوك داسے دے چه هغهٔ لره دنیا غافله کړے نهٔ دے. بیا اووے ابن عمر چه مونږ رسول الله ﷺ لیدلے دے چه هغوی د حج احرام اوکړو. او په صفا مروه کښې ئے سعی اوکړه. او سنت د الله او د رسول غوره دی د تابعداری دپاره د فلانی د سنتو نه کچرے ته په رښتیا سره ایماندار ئے[2].

[1]: د ابن عمر د قول نه طواف قدوم د حاجی دپاره ثابت شو او په عرفات کښې د وقوف کولو نه مخکښې مشروع دے. او دغه قول دے د ټولو علماؤ سوا د ابن عباس نه نورو ټولو علماؤ ونیلے دی چه دا طواف قدوم سنت دے واجب نهٔ دے. مګر ځنے شافعی ملګری ددے د وجوب قائل دی چه کهٔ څوك ئے پریږدی نو قربانی به ورکوی او مشهور دغه دے چه سنت دے. او ددے په پریخودو سره قربانی لازمه نهٔ ده. او د وقوف عرفاته پورے کهٔ چا اونهٔ کړو نو فوت شو او روستو د وقوف نه کهٔ چرے په دے نیت سره ئے هم اوکړی خو طواف قدوم نهٔ دے شوے. او قدوم معنی د راتلو ده. حاجی د راتلو سره دا طواف کوی ځکه دے ته طواف قدوم وئیلے شی. او چا چه روستو د وقوف عرفات نه د طواف قدوم په نیت سره طواف اوکړو نو طواف افاضه ادا شو او نیت ئے لغو شو. او کهٔ د طواف افاضه نه روستو ئے اوکړی نو طواف نفل به شی او نیت به بیا هم لغوه شی او د طواف قدوم ډیر نومونه دی. طواف قادم او طواف درود. او طواف وارد، او طواف تحیه او په عمره کښې طواف قدوم نشته. بلکه په عمره کښې چه کوم طواف کیدے شی هغه دد ے رکن دے. اګر کهٔ د قدوم په نیت سره ئے هم اوکړی. بلکه نیت به ددهٔ لغوه کیږی او رکن به ادا کیږی. لکه مثال په طور په یو بنده باندے حج واجب شوے دے او هغه د نفل په نیت سره کوی نو واجب به ادا کیږی او نیت به بے کاره کیږی. او دا چه اوفرمائیل ابن عمر چه کهٔ ته رښتونے ئے. یعنی کهٔ ته په ایمان کښې رښتونے ئے. او په نبی باندے یقین په رښتونے طریقه سره لرے نو د رسول الله ﷺ د قول په موجود والی کښې به د بل چا د قول په طرف ګورے هم نهٔ. کهٔ ابن عباس وی یا کهٔ د هغهٔ پلار عباس ولے نهٔ وی.

[2]: ابن عمر دا چه کوم اووے چه څوك داسے دے چه هغه دنیا غافله کړے نهٔ ده دا د هغوی زهد او تقوی وه او د نفس د ماتولو په وجه ئے اوفرمائیل.

بَابُ بَيَانِ أَنَّ الْمُحْرِمَ بِعُمْرَةٍ لَا يَتَحَلَّلُ بِالطَّوَافِ قَبْلَ السَّعْيِ وَأَنَّ الْمُحْرِمَ بِحَجٍّ لَا يَتَحَلَّلُ بِطَوَافِ الْقُدُومِ وَكَذٰلِكَ الْقَارِنُ

عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ قَالَ سَأَلْنَا ابْنَ عُمَرَ عَنْ رَجُلٍ قَدِمَ بِعُمْرَةٍ فَطَافَ بِالْبَيْتِ وَلَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ أَيَأْتِي امْرَأَتَهُ فَقَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَطَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعًا وَصَلَّى خَلْفَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ سَبْعًا وَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ قَالَ لَهُ سَلْ لِي عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ عَنْ رَجُلٍ يُهِلُّ بِالْحَجِّ فَإِذَا

باب: د عمرے کونکی احرام د سعی نه مخکښ او د مُفرِد او د قارن د طوافِ قدوم نه مخکښ نهٔ پرانزی

عمرو بن دینار ؒ وائی چه مونږ تپوس اوکړو د ابن عمر نه چه یو سړی عمره راوړه. او د بیت الله شریف طواف ئے اوکړو. او د صفا مروه په مینځ کښ ئے طواف او نهٔ کړو. آیا هغه د خپلے بی بی سره صحبت کولے شی؟ نو هغوی اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ مکے ته راغے. او اوهٔ چکره ئے د بیت الله طواف اوکړو. او د مقام ابراهیم نه ئے روستو مونځ اوکړو دوه رکعته او د صفا مروه په مینځ کښ ئے اووهٔ خله سعی اوکړه. او تاسو لره د رسول الله ﷺ تابعداری غوره ده[1].

د محمد بن عبد الرّحمٰن ؓ نه روایت دے چه یو سړی د عراق والاؤ نه هغوی ته اووے چه د عروه بن زبیر ؓ نه ځما دپاره دا تپوس اوکړه. چه کوم سړے د حج لبیك اووائی او د بیت الله طواف اوکړی نو هغه حلال شو

[1]: مراد دد ے نه دا دے چه احرام د هغوی نهٔ وو کهولاؤ شوے د کومے پورے چه هغوی په عمره کښ د سعی نه فارغ شوی نهٔ وو او تاسو له دغه متابعت د هغوی ضروری دے. غرض دا چه د کومے پورے ئے په عمره کښ د صفا مروه سعی نهٔ وی کړے د هغے پورے احرام نهٔ شی پرانستے. او دغه سړی د خپلے بی بی سره صحبت وغیره نهٔ شی کولے. او څومره چه په احرام کښ حرام شوے دی هغه یو دهٔ لره حلال نهٔ دے. او دا قول څنګه چه د ابن عمر دے. دغه مذهب دے د ټولو علماؤ. مګر قاضی عیاض چه کوم د ابن عباس نه روایت کړے دے او د اسحق بن راهویه نه. چه دے دواړو وئیلے دی چه روستو د طواف نه احرام کهولاؤیږی او دا مذهب ضعیف او د سنتو مخالف دے. امام مسلم وئیلے دی چه بل روایت کړے دی مونږ ته یحیٰی بن یحیٰی، او ابوالربیع د حماد نه، او وئیلے دی مسلم چه روایت کړے دے مونږ ته عبد بن حمید هغوی ته خبر ورکړے دے محمد بنبکر هغوی ته جریج، دے ټولو ته روایت رسیدلے دے د عمرو بن دینار ؒ نه هغوی ته د ابن عمر نه هغوی ته د نبی ﷺ نه په مثل د ابن عیینه د روایت (یعنی چه پورته ذکر شو)

طَافَ بِالْبَيْتِ أَيَحِلُّ أَمْ لَا فَإِنْ قَالَ لَكَ
لَا يَحِلُّ فَقُلْ لَهُ إِنَّ رَجُلًا يَقُولُ ذٰلِكَ
قَالَ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لَا يَحِلُّ مَنْ أَهَلَّ
بِالْحَجِّ إِلَّا بِالْحَجِّ قُلْتُ فَإِنَّ رَجُلًا كَانَ
يَقُولُ ذٰلِكَ قَالَ بِئْسَ مَا قَالَ فَتَصَدَّانِي
الرَّجُلُ فَسَأَلَنِي فَحَدَّثْتُهُ فَقَالَ فَقُلْ لَهُ
فَإِنَّ رَجُلًا كَانَ يُخْبِرُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ فَعَلَ ذٰلِكَ وَمَا
شَأْنُ أَسْمَاءَ وَالزُّبَيْرِ قَدْ فَعَلَا ذٰلِكَ قَالَ
فَجِئْتُهُ فَذَكَرْتُ لَهُ ذٰلِكَ فَقَالَ مَنْ هٰذَا
فَقُلْتُ لَا أَدْرِي قَالَ فَمَا بَالُهُ لَا يَأْتِينِي
بِنَفْسِهِ يَسْأَلُنِي أَظُنُّهُ عِرَاقِيًّا قُلْتُ لَا
أَدْرِي قَالَ فَإِنَّهُ قَدْ كَذَبَ قَدْ حَجَّ
رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَأَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ
أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ أَنَّهُ
تَوَضَّأَ ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ ثُمَّ حَجَّ أَبُو بَكْرٍ
فَكَانَ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ الطَّوَافُ
بِالْبَيْتِ ثُمَّ لَمْ يَكُنْ غَيْرُهُ ثُمَّ عُمَرُ مِثْلَ
ذٰلِكَ ثُمَّ حَجَّ عُثْمَانُ فَرَأَيْتُهُ أَوَّلُ شَيْءٍ
بَدَأَ بِهِ الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ ثُمَّ لَمْ يَكُنْ
غَيْرُهُ ثُمَّ مُعَاوِيَةُ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ
ثُمَّ حَجَجْتُ مَعَ أَبِي الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ

یا نه (یعنی احرام د هغهٔ پرانستے شو یا نه) بیا کهٔ چرے هغوی تاسو ته اووائی چه نهٔ دے حلال شوے نو تهٔ ورته اووایه چه یو سړے وائی چه حلال شوے دے. محمدؒ وائی بیا ما د عروهؓ نه تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه نهٔ دے حلال شوے هغه سړے چا چه لبیك د حج وئیلے دی د کومے پورے چه حج پوره نهٔ کړی ما اووے چه یو سړے وائی چه حلال شوے دے نو هغوی اوفرمائیل ډیر بد وائی بیا هغه عراقی خما اسره میلاؤ شو او خما نه ئے تپوس اوکړو نو ما هغهٔ ته (یعنی د عروه جواب) بیان کړو. نو هغهٔ اووے چه هغوی ته اووایه چه هغه دا وائی چه یو سړی خبر ورکړے دے چه رسول الله ﷺ دغه شان کړے دی. او اسماء او زبیر هم داسے کول. محمدؒ وائی زهٔ بیا د عروهؓ خواله لاړم او هغوی ته مے دا دے خبرے ذکر اوکړو نو هغوی اوفرمائیل هغه څوك سړے دے؟ ما اووے زهٔ هغه نهٔ پیژنم. هغوی اوفرمائیل دے خما خواله ولے نهٔ راځی چه تپوس اوکړی زهٔ دے عراقی ګنړم. ما اووے زهٔ ئے نهٔ پیژنم (د دغه وخته پورے کیدے شی چه دوی ته معلومه نهٔ وه چه دا عراقی دے روستو به معلوم شوے وی) بیا عروه اووے چه دے دروغ وائی رسول الله ﷺ چه کوم حج کړے د هغے خبر ما ته حضرت عائشے راکړے دے. چه د هر څهٔ نه مخکښ چه حضرت ﷺ په مکه کښ داخل شو نو اودس ئے اوکړو او د بیت الله طواف ئے اوکړو (د دے نه ثابت شو اودس کول او د امت اجماع ده چه اودس طواف دپاره مشروع دے مګر په دے کښ اختلاف دے چه واجب دے یا شرط صحت د طواف د امام مالك شافعی او احمد قول دے چه شرط دے یعنی بغیر د اودس نه طواف صحیح نهٔ دے. او د ابوحنیفه قول دے چه مستحب دے او شرط نهٔ دے. او د جمهورو دلیل دغه حدیث

فَكَانَ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ ثُمَّ لَمْ يَكُنْ غَيْرُهُ ثُمَّ رَأَيْتُ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارَ يَفْعَلُونَ ذَلِكَ ثُمَّ لَمْ يَكُنْ غَيْرُهُ ثُمَّ آخِرُ مَنْ رَأَيْتُ فَعَلَ ذَلِكَ ابْنُ عُمَرَ ثُمَّ لَمْ يَنْقُضْهَا بِعُمْرَةٍ وَهَذَا ابْنُ عُمَرَ عِنْدَهُمْ أَفَلاَ يَسْأَلُونَهُ وَلاَ أَحَدٌ مِمَّنْ مَضَى مَا كَانُوا يَبْدَءُونَ بِشَيْءٍ حِينَ يَضَعُونَ أَقْدَامَهُمْ أَوَّلَ مِنَ الطَّوَافِ بِالْبَيْتِ ثُمَّ لاَ يَحِلُّونَ وَقَدْ رَأَيْتُ أُمِّي وَخَالَتِي حِينَ تَقْدَمَانِ لاَ تَبْدَأَانِ بِشَيْءٍ أَوَّلَ مِنَ الْبَيْتِ تَطُوفَانِ بِهِ ثُمَّ لاَ تَحِلاَّنِ وَقَدْ أَخْبَرَتْنِي أُمِّي أَنَّهَا أَقْبَلَتْ هِيَ وَأُخْتُهَا وَالزُّبَيْرُ وَفُلاَنٌ وَفُلاَنٌ بِعُمْرَةٍ قَطُّ فَلَمَّا مَسَحُوا الرُّكْنَ حَلُّوا وَقَدْ كَذَبَ فِيمَا ذَكَرَ مِنْ ذَلِكَ

دے. او د ابن عباس رضی الله عنه دغه قول دے دلیل دے چه ترمذی وغیره روایت کړے دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه طواف د بیت الله مونځ دے. مګر الله تعالی په دے کښې کلام روا کړے دے او اګر چه صحیح دغه دے چه دا روایت موقوف دے. او قول د ابن عباس هم دغه دے. مګر هر کله چه قول د صحابی مشهور کړے شی او څوک چه په هغے انکار او نه کړی نو حجت دے علی الخصوص او بیا چه فعل د نبی ﷺ هم په هغے باندے دال وی نو بیا د هغے په حجت کښې څه مقال دے، بیا حج او کړو حضرت ابوبکر او هغوی هم مخکښې طواف او کړو د بیت الله او نه وو څه سوا د هغے نه (دلته کښې چه کوم متن لم یکن غیره دے او مخکښې هم څو ځایه دغه لفظ راغلے دے قاضی عیاض وائی دے ته چه داد کتاتب غلطی ده. صحیح دا ده چه لم یکن عُمرة یعنی بیا ابوبکر طواف او کړو د خپل حج او عمره ئے او نه کړله چه عمره او کړی او احرام پرانزی او د حج احرام بیا دوباره د مکے نه او تړی لکه چه د بعضو مذهب دے او دغه قول دے د ابن قیم او دلایل دے مونږ پوره ته بیان کړے دی. او د دغه سائل هم مذهب دغه وو. او نووی فرمائیلی دی چه د غیره لفظ غلط نه دے بلکه لفظ او معنی دواړه صحیح دے. یعنی لَمْ یَکُنْ غَیْرُه په شَد د یاء سره دے یعنی بیائے طواف او کړو حضرت ابوبکر دے لره بدل نه کړو چه حج ئے عمره کړے وے یائے قران کړے وے، بیا حضرت عمر هم دے په مثل او کړو. بیا عثمان حج او کړو او هغوی هم ما اولیدل چه مخکښې ئے د بیت الله طواف او کړو او دے لره ئے بدل نه کړو بیا معاویه او عبد الله بن عمر هم. بیا ما د خپل پلار زبیر سره حج او کړو نو هغوی هم مخکښې طواف او کړو د بیت الله او بیائے هغے لره بدل نه کړو. بیا ما مهاجرین او انصار

هم په دغه شان کولو اوليدل بيا ما د تولو په آخر کښې چه څوک په دا سې
کولو باندے اوليدو هغه ابن عمر وو چه هغوی هم حج لره په عمره کولو
مات نۀ کړلو. او ابن عمر خو د دوی سره موجود دے. دا خلق د هغوی
نه ولے تپوس نۀ کوی. او دغه شان څومره خلق چه تیر شوی دی تولو چه
به هر کله په مکه کښې قدم ايخودلو نو ړومبے به ئے د بيت الله طواف
کولو او بيا به ئے احرام نۀ پرانستلو دے نه معلومه شوه چه په طواف
قدوم سره احرام نۀ کھولاويږی او معلومه شوه چه د بهر سړی چه هر کله
په حرم کښې داخل شی نو ړومبے به طواف کوی تحية المسجد به نۀ ادا
کوی. او دا تولے خبرے متفق عليه دی) او ما خپله مور او ترور ليدلے
دی چه کله به ئے مکے له تشريف راوړو نو اول به ئے د بيت الله شريف
طواف کوو او بيا به ئے احرام نۀ کھولاوه وو. (يعنی چه د کومے پوری به د
حج او عمرې نه فارغ شوے نۀ وے) او څما مور ماته خبر راکړے دے
چه هغوی راغله او د هغے خور (يعنی حضرت عائشه) زبير او فلانی
فلانی عمره اوکړه او بيائے کله حجر اسود ښکل کړو يعنی مسه کړو نو
حلالے شوے (يعنی روستو د پوره کولو د طواف او د سعی نه) او هغه
عراقی چه کوم وئيلے دی دروغ ئے وئيلے دی په دے مسئله کښې[1].

---

[1]: دا چه ئے کوم اووی چه څما مور ماله خبر راکړے دے. هغه راغله او د هغے خور وغيره او حجر اسود ئے مسه کړو او حلالے شوے. او مراد د دے مسه کونکو نه د حضرت عائشے نه سوا نور خلق دی. ځکه چه دا په دغه ورځو حائضه وه. او هغوی خو طواف روستو د وقوف عرفات نه کړے دے. په حجة الوداع کښې. او دغه شان کوم قول چه د اسماء په وړاندے روايت کښې راځی په هغے کښې د هغے نه سوا نور خلق دی. او د قاضی عياض هم دغه قول دے. او مقصود د دے نه دغه دے چه نبی د حجة الوداع نه خبر ورکړو. او ظاهره وه چه دا د هغه خلقو عمره وه چا چه حج فسخ کړو او عمره او عمره ئے اوکړه او د حضرت د حال استثناء ئے په دے وجه اونکړه چه قصه د هغوی مشهوره وه. او بيا دغه احتمال دے چه کيدے شی دا حلا د هغه عمرے وی کومه چه جناب عائشے صديقے د تنعيم نه راوړے وه او هر چا چه دا خيال کړے دے چه دا قصه د حجة الوداع نه سوا د بل وخت وه هغه خطا شوے دی. ځکه چه په حديث کښې تصريح ده چه دا بيان د حجة الوداع دے. او دا چه ئے کوم اوفرمائيل چه کله ئے حجر اسود مسه کړو حلالے شوے. د دے نه دا

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا قَالَتْ خَرَجْنَا مُحْرِمِينَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيَقُمْ عَلَى إِحْرَامِهِ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيَحْلِلْ فَلَمْ يَكُنْ مَعِي هَدْيٌ فَحَلَلْتُ وَكَانَ مَعَ الزُّبَيْرِ هَدْيٌ فَلَمْ يَحْلِلْ قَالَتْ فَلَبِسْتُ ثِيَابِي ثُمَّ خَرَجْتُ فَجَلَسْتُ إِلَى الزُّبَيْرِ فَقَالَ قُومِي عَنِّي فَقُلْتُ أَتَخْشَى أَنْ أَثِبَ عَلَيْكَ

د اسماء بنت ابوبکرؓ نه روایت دے چه هغوی فرمائیلی دی مونږ احرام تړلی رااووتو او رسول اللهﷺ اوفرمائیل د چا سره چه قربانی وی هغه د په خپل احرام باندے قائم پاتے شی. او د چا سره چه قربانی نه وی هغه د احرام کھولاؤ کړی او خما سره قربانی نه وه نو ما احرام کھولاؤ کړو او د زبیر سره قربانی وه (دا دد ے خاوند وو) نو هغوی احرام کھولاؤ نه کړو. اسماء وائی بیا ما خپلی کپړے واغوستے او رااووتم او د زبیر سره کیښناستم نو هغوی اوو ے چه خما د خوانه پاسه (خکه چه زهٔ په احرام کښ یم) دا د احتیاط او د تقوی خبره ده چه کیدے شی د بی بی په طرف مائیله شم (او په شهوت سره چیړ چهاړ اوشی) نوما هغوی ته اوو ے چه ولے تهٔ یریږ ے چه زهٔ به ستا دپاسه راپریوزم ؟ (دا هغوی په ظرافت سره اوو ے چه د سړیتوب باوجود د ښځو نه ولے یریږ ے)

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا قَالَتْ قَدِمْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهِلِّينَ بِالْحَجِّ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ جُرَيْجٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَقَالَ اسْتَرْخِي عَنِّي اسْتَرْخِي عَنِّي فَقُلْتُ أَتَخْشَى أَنْ أَثِبَ عَلَيْكَ

اسماء بنت ابوبکر وائی چه مونږ د رسول اللهؐ سره د حج لبیك وے. بیا د جریج د حدیث په شان مضمون ئے بیان کړو مگر په دے کښ دا دی (کله چه اسماء کپړے بدلے کړے د زبیر خواله راغله) هغوی اوو ے. تهٔ خما نه لرے شه. تهٔ خما نه لرے شه نو ما اوو ے ولے تهٔ یریږ ے چه زهٔ به په تا باندے راپریوزم.

عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ مَوْلَى أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا

د ابو الاسود نه روایت دے چه عبد الله چه غلام د اسماء بنت ابوبکر دے، هغوی ته بیان کړے دے. چه اسماء چه په همیشه د حجون په

مراد نهٔ دے چه مخکښ د سعی نه حلالے شوے. بلکه دا مراد دد ے چه هر کله ئے حجر اسود مسه کړو او طواف او سعی ئے ختمه کړه او د حلق او قصر نه فارغ شو نو حلالے شولے. او دا مضمون په دے عبارت کښ مقدر دے. خکه چه اجماع ده د مسلمانانو په دے باندے چه مخکښ د طواف د پوره کولو نه حلالیدل نشته او د جمهورو مذهب دے چه د طواف نه پس سعی هم ضروری ده. او راوی دے تفسیر لره په سبب د شهرت پریخود ے دے اگر کهٔ د خنی سلفو نه منقول دی چه سعی واجب نهٔ ده. او دد ے قائلینو له دد ے حدیث نه حجت نهٔ شی کید ے. خکه چه دا حدیث په اجماع د امت سره مؤول دے (نووی)

حَدَّثَهُ أَنَّهُ كَانَ يَسْمَعُ أَسْمَاءَ كُلَّمَا مَرَّتْ بِالْحَجُوْنِ تَقُوْلُ صَلَّى اللهُ عَلَى رَسُوْلِهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ نَزَلْنَا مَعَهُ هَاهُنَا وَنَحْنُ يَوْمَئِذٍ خِفَافُ الْحَقَائِبِ قَلِيلٌ ظَهْرُنَا قَلِيلَةٌ أَزْوَادُنَا فَاعْتَمَرْتُ أَنَا وَأُخْتِي عَائِشَةُ وَالزُّبَيْرُ وَفُلَانٌ وَفُلَانٌ فَلَمَّا مَسَحْنَا الْبَيْتَ أَحْلَلْنَا ثُمَّ أَهْلَلْنَا مِنَ الْعَشِيِّ بِالْحَجِّ قَالَ هَارُوْنُ فِي رِوَايَتِهِ أَنَّ مَوْلَى أَسْمَاءَ وَلَمْ يُسَمِّ عَبْدَ اللهِ

طرف تله (حجون په فتح قريب د مكے د بلندئ په طرف او هر كله چه تلونكے په محصب باندے خيژی نو هغه بنی طرفته راځی) نو فرمائيل به ئے چه الله تعالىٰ د رحمت اوكړی په خپل رسول الله ﷺ باندے چه مونږ د هغوی سره دلته كوز شوی وو. او زمونږ سره په دغه ورځ بوجونه كم وو. او سورلئ لږے وے او توښه لږه وه (يعنی د عربو سادگی او ددنيا نه ازادگی وه) ما او خما خور جناب عائشه او زبير فلانی فلانی عمره كړے وه بيا چه هر كله مونږه بيت الله شريف مسه كړو (يعنی طواف او سعی مو پوره كړه نو حلال شو. بيا مو په دريمه پيره د حج احرام اوتړو. او هارون په خپل روايت كښ فرمائيلی دی چه روايت كړے دے غلام د اسماء او د هغوی نوم ئے عبد الله نهٔ دے اخستے.

عَنْ مُسْلِمٍ الْقُرِّيِّ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنْ مُتْعَةِ الْحَجِّ فَرَخَّصَ فِيهَا وَكَانَ ابْنُ الزُّبَيْرِ يَنْهَى عَنْهَا فَقَالَ هَذِهِ أُمُّ ابْنِ الزُّبَيْرِ تُحَدِّثُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِيهَا فَادْخُلُوا عَلَيْهَا فَاسْأَلُوهَا قَالَ فَدَخَلْنَا عَلَيْهَا فَإِذَا امْرَأَةٌ ضَخْمَةٌ عَمْيَاءُ فَقَالَتْ قَدْ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا

د مسلم قری نه روايت دے چه ما د ابن عباس نه تپوس اوكړو د تمتع متعلق نو هغوی اجازت راكړو. او ابن زبير ددے نه منع فرمائيله. نو ابن عباس اوفرمائيل چه دا د ابن زبير مور موجوده ده چه روايت كوی چه رسول الله ﷺ ددے اجازت وركړے دے پس تاسو خلق د هغوی خواله لاړ شئ او د هغوی نه تپوس اوكړئ. هغوی اوئيل چه بيا مونږ د هغوی خواله لاړو او هغه مو اوليده چه هغه يوه خربه ښځه ده اوړنده هم ده. پس هغوی اوفرمائيل چه بيشكه اجازت وركړے دے د تمتع رسو الله ﷺ.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ فَأَمَّا عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَفِي حَدِيثِهِ الْمُتْعَةُ وَلَمْ يَقُلْ مُتْعَةُ الْحَجِّ وَأَمَّا ابْنُ جَعْفَرٍ فَقَالَ قَالَ شُعْبَةُ قَالَ مُسْلِمٌ

شعبه په دغه اسناد سره دا مضمون روايت كړے دے او د عبد الرحمٰنؒ په روايت كښ صرف لفظ د ے او متعه د حج مذكور نهٔ دهٔ. او د ابن جعفر په روايت كښ دی چه هغوی اووے چه شعبه وائی چه

لَا أَدْرِي مُتْعَةُ الْحَجِّ أَوْ مُتْعَةُ النِّسَاءِ

مسلم وئیلې دي چه دا متعه د حج ده یا متعه د ښځو[1].

عَنْ مُسْلِمٍ الْقُرِّيِّ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ أَهَلَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعُمْرَةٍ وَأَهَلَّ أَصْحَابُهُ بِحَجٍّ فَلَمْ يَحِلَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا مَنْ سَاقَ الْهَدْيَ مِنْ أَصْحَابِهِ وَحَلَّ بَقِيَّتُهُمْ فَكَانَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ فِيمَنْ سَاقَ الْهَدْيَ فَلَمْ يَحِلَّ

مسلم د ابن عباس نه واوریدل چه فرمائیلې ئې وو چه لبیک اووې نبي ﷺ د عمرې او لبیک اووې د حضرت ﷺ صحابؤ د حج. بیا نۀ احرام کهولاؤ کړو نبي ﷺ او نۀ هغه خلقو د حضرت ﷺ د صحابؤ نه چا چه هدي ئې راوستې وه. او باقي خلقو عمره اوکړه او احرام ئې کهولاؤ کړو. او طلحه بن عبید الله په هغه خلقو کښې وو د چا سره چه قرباني وه نو هغوی احرام نۀ وو کهولاؤ کړې[2].

بَابُ جَوَازِ الْعُمْرَةِ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ

باب: د حج په میاشتو کښې د عمرې د جائز کیدو بیان

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانُوا يَرَوْنَ أَنَّ الْعُمْرَةَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ مِنْ أَفْجَرِ الْفُجُورِ فِي الْأَرْضِ وَيَجْعَلُونَ الْمُحَرَّمَ صَفَرًا وَيَقُولُونَ إِذَا بَرَأَ الدَّبَرْ وَعَفَا الْأَثَرْ وَانْسَلَخَ صَفَرْ حَلَّتِ الْعُمْرَةُ لِمَنِ اعْتَمَرْ فَقَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ صَبِيحَةَ رَابِعَةٍ مُهِلِّينَ بِالْحَجِّ فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً فَتَعَاظَمَ ذَلِكَ عِنْدَهُمْ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الْحِلِّ

د عبد الله بن عباس نه روایت دې چه هغوی فرمائیلې دي چه د جاهلیت (یعنی د اسلام د زمانې نه مخکښې) خلقو به د حج په ورځو کښې عمره ادا کول د زمکې دپاسه لوئې ګناه ګنړله او د محرم میاشت به ئې صفرې له ورکوله (یعنی د دې دپاره چه دد ې میاشتې برابرد حرام د میاشتو نه چه به کومې راتلې چه هغه ذیقعده، ذوالحجه، محرم دي نو هغه به پریدل او غلا به ئې نۀ شوه کولې. ځکه ئې دا شرارت رااوستو چه د محرم په ځائې ئې صفره اولیکله او بیا لوټ به ئې په کښې کوو. او هر کله چه به د صفرې میاشت راغله نو د محرم پښان به ئې د هغې ادب کو. او دغه وه چه په قرآن کښې ورته الله پاك د مشرکانو عادت فرمائیلې دې) وئیل به ئې چه هر کله د اوښانو شاګانې ښې شي (یعنی کومې چه د

---

[1]: مګر په پورته روایت کښې صفا وضاحت راغلې دې چه د ابن عباس نه هغوی د متعې د حج تپوس کړې وو. او په وړاندې روایت کښې هم دغه د حج د متعې بیان دې.

[2]: مسلم وئیلې دي چه روایت کړې دې مونږ ته دغه حدیث محمد بن بشار هغوی ته محمد یعنی ابن جعفر هغوی ته شعبه په دغه اسناد سره مګر په دې کښې دا دي چه طلحه بن عبید الله په هغه خلقو کښې وو چا چه قرباني نلوه لیږلې او یو بل سړې هم په هغوی کښې وو. نو دوی دوارو احرام کهولاؤ کړو.

قَالَ الْحِلُّ كُلُّهُ

حج د سفر په سبب لګيدلې دي او زخمي شوې دي، او دلاړو نه د حاجيانو اوښانو د قدمونو نخښې ورانې شي. د صفرې مياشت ختمه شي. نو هله عمره جائز ده عمرې کولو والا ته بيا چه هر کله رسول الله ﷺ او د هغوی ملګري په څلورم تاريخ د ذی الحجې احرام ترلی په مکه کښې داخل شو نو حضرت ﷺ هغوی ته حکم اوفرمائيلو چه دد ې حج په احرام باندې عمره اوکړئ (لکه چه مذهب د ابن قيم وغيره دې چه پوره د دلائلو سره تير شو) پس دا خلقو ته ډيره ناشنا خبره ښکاره شوه او غرض ئې اوکړو يا رسول الله ﷺ مونږ څنګه حلال شو (يعنې پوره او که نيم چه د ښځې څيزونه نه خان بچ ساتو) نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل چه پوره حلال شئ (يعنې د ښځه څيزو نه د پرهيز ضرورت نشته)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ أَهَلَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِالْحَجِّ فَقَدِمَ لِأَرْبَعٍ مَضَيْنَ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ فَصَلَّى الصُّبْحَ وَقَالَ لَمَّا صَلَّى الصُّبْحَ مَنْ شَاءَ أَنْ يَجْعَلَهَا عُمْرَةً فَلْيَجْعَلْهَا عُمْرَةً

د عبد الله بن عباس نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د حج لبيك اووې . بيا چه هر کله د ذی الحجه څلور تاريخونه اووتل او حضرت ﷺ د سحر مونځ اوکړو . بيا چه هر کله د سحر د مانځۀ نه فارغ شو نو اووئې فرمائيل کۀ د چا زړۀ غواړی نو ددې حج په دې احرام باندې د عمره ادا کړی[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَدِمَ

د عبد الله بن عباس ؓ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ او د هغوی

---

[1]: مسلم وائی چه روايت کړې دې مونږ ته دغه حديث ابراهيم بن دينار هغوی ته روح، ونيلې مسلم روايت کړې دې مونږ ته ابوداؤد مبارکی ، هغوی ته ابوشهاد ، او ونيلې دی مسلم روايت کړې دې مونږ ته محمد بن مثنّیٰ هغوی ته يحيیٰ بن کثير دې تولو روايت کړې دې د شعبه نه په دې اسناد سره. مګر روح او يحيیٰ بن کثير دواړو مونږ ته اووې. لکه څنګه چه نضر ونيلې وو. (يعنې په پوره روايت کښې چه اهلال اوکړو رسول الله د حج) او د ابوشهاب په روايت کښې دادی چه را اووتو مونږ د رسول الله سره د حج په لبيك ونيلو سره. او ددې تولو راويانو په روايت کښې دا مضمون دې چه حضرت ﷺ د سحر مونځ په بطحاء کښې اوکړو سوا د جهضمی د روايت نه چه په هغې کښې ددې ذکر نشته

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ لِأَرْبَعٍ خَلَوْنَ مِنَ الْعَشْرِ وَهُمْ يُلَبُّونَ بِالْحَجِّ فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً

ملګری په څلورم تاریخ د ذی الحجے مکے ته راغلل د حج په لبیك وئیلو سره. بیا حضرت ﷺ هغوی ته حکم اوفرمائیلو چه اوګرځوئ هغے لره په عمره سره.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ بِذِي طُوًى وَقَدِمَ لِأَرْبَعٍ مَضَيْنَ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُحَوِّلُوا إِحْرَامَهُمْ بِعُمْرَةٍ إِلَّا مَنْ كَانَ مَعَهُ الْهَدْيُ

د عبد الله بن عباس نه روایت دے چه مونځ اوکړو رسول الله ﷺ د سحر په ذی طوی کښې (دا مکے ته نزدے یوه وادی ده) او مکے ته راغلے کله چه د ذی الحجے څلورم تاریخ تیر شو. او خپلو ملګرو ته ئے حکم اوفرمائیلو چه د خپل حج احرام په عمره بدل کړئ مګر د چا سره چه قربانی وی (هغوی د احرام نه پرانزی)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذِهِ عُمْرَةٌ اسْتَمْتَعْنَا بِهَا فَمَنْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ الْهَدْيُ فَلْيَحِلَّ الْحِلَّ كُلَّهُ فَإِنَّ الْعُمْرَةَ قَدْ دَخَلَتْ فِي الْحَجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا عُمره په کومے چه مونږ نفع واخسته پس د چا سره چه قربانی نۀ وی هغه د دغه شان د حج په احرام عمره اوکړی. او کهولاؤ دِئے کړی ځکه چه عمره د حج په ورځ کښې روا شوه د قیامته پورے[1].

عَنْ شُعْبَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا جَمْرَةَ الضُّبَعِيَّ قَالَ تَمَتَّعْتُ فَنَهَانِي نَاسٌ عَنْ ذٰلِكَ فَأَتَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذٰلِكَ فَأَمَرَنِي بِهَا قَالَ ثُمَّ انْطَلَقْتُ إِلَى الْبَيْتِ فَنِمْتُ فَأَتَانِي آتٍ فِي مَنَامِي فَقَالَ عُمْرَةٌ مُتَقَبَّلَةٌ وَحَجٌّ مَبْرُورٌ قَالَ فَأَتَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي رَأَيْتُ فَقَالَ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ سُنَّةُ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د شعبه نه روایت دے چه هغوی د ابوجمره ضبعی نه اوریدلے دی چه ما تمتع کوو او منع کړو خلقو مالره ددے نه پس زۀ د ابن عباس خواله راغلم او د هغوی نه مے تپوس اوکړو پس هغوی ما ته حکم اوکړو په دے سره بیا زۀ د بیت الله خواله لاړم اوودۀ شوم. او په خوب کښې وینم چه یو سړے راغے او هغۀ اووے چه عمره هم مقبوله ده. او حج هم مقبول دے. ما ابن عباس ته خوب بیان کړو هغوی اوفرمائیل توله بزرګی الله لره ده. توله بزرګی الله لره ده. دا سنت دی د ابوالقاسم ﷺ (یعنی بیا به څنګ قبوله نۀ وی)

بَابُ تَقْلِيدِ الْهَدْيِ وَإِشْعَارِهِ عِنْدَ

باب: د قربانۍ د څاروی د کوب څیرل او د هغے په

[1] رد راغے په دے حدیث سره د اهل جاهلیت د قول چه هغوی به د حج په ورځو کښې عمره کول بد ګڼړل.

الإِحْرَامِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ ثُمَّ دَعَا بِنَاقَتِهِ فَأَشْعَرَهَا فِي صَفْحَةِ سَنَامِهَا الْأَيْمَنِ وَسَلَتَ الدَّمَ وَقَلَّدَهَا نَعْلَيْنِ ثُمَّ رَكِبَ رَاحِلَتَهُ فَلَمَّا اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ بِالْحَجِّ

مرئ کښې د هارد اچولو بیان

د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د ماسپخین مونځ اوکړو په ذوالحلیفه کښې او خپله اوښه ئے رااوغوښتله (یعنی د قربانئ) او د هغے د کوب په ښی طرف ئے نښه اوکړه یعنی زخمی ئے کړه او وینه ئے ترے صفا کړه او د هغے په غاړه کښې ئے د دوؤ پیزارونو یو هار زوړند کړو (دا تقلید شو) بیا په خپله سورلئ باندے سور شو. او هر کله اوښے هغوی واخستل او په بیداء باندے برابر اودریدهٔ نو حضرت ﷺ لبیك اووئیلو (یعنی اګر چه د مانځهٔ نه پس ئے هم لبیك وئیلے وو مګر ذلته ئے هم اووے)[1].

بَابُ قَوْلِهِ لِابْنِ عَبَّاسٍ مَا هَذِهِ الْفُتْيَا

باب : د احلال په باره کښې د ابن عباس رض د فتوے

---

[1]: دا زخمی کول د قربانئ د څاروی ددے دپاره دی چه پیژندے شی چه دا څاروے د قربانئ دے ددے دپاره چه څوك دے ته ضرر او نهٔ رسوی او واپس ئے نهٔ کړی او ددے روایتونو د مخه دا مستحب دی. او بعض خلق چه دے ته کوم بدعت وئیلے دے دا قول د هغوی مردود دے. او د صحیح حدیثو خلاف دے. کیدے شی دا حدیث هغوی ته رسیدلے نهٔ وی او دے ته اشعار وائی. ددے اشعار ځائے د تولو علماؤ د سلفو او خلفو په نز ښئ طرف دے د کوب د اوښ. او امام مالك وئیلے دی چه ګس طرف دے او په دے روایت کښې د هغوی رد دے. او د بزو په غاړه کښې هار اچول په نز د شافعی او د تولو سلفو او خلفو مسنون دی سوا د امام مالك نه چه هغه ددے قائل نهٔ دے او کیدے شی هغوی ته دا احادیث صحیحه رسیدلی نهٔ وی حالانکه احادیث صحیحه په دے باب کښې ډیر دی او هغه حجت دی. او د حدیث صحیحه په مخکښې د بل چا قول حجت نهٔ دے. او په دے باندے اتفاق دے چه بزے لره یا ګډے لره اشعار ضروری نهٔ دے ځکه چه ضعیف دے او د غوا دپاره مستحب دے د امام شافعی په نز او دغه شان هار اچول هم او دواړو څیزونو لره جمع کول ځنګه چه د اوښ دپاره وی دغه شان د غوا دپاره هم دی د شافعیؤ په نز. او ددے حدیث نه معلومه شوه چه دا هم چه حضرت ﷺ په خپله اوښه باندے سور شو او دا اوښهٔ د هغے نه سوا وه کومه چه ئے اشعار کړے وه. او سوریدل په حج کښې افضل دی د پیدل تلو نه. او ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د اوښ په غاړه کښې د دوؤ پیزارونو هار اچول هم مستحب دی او دغه مذهب دے د تولو علماؤ او کچرے تار یا څرمن یا بل څهٔ ئے پرے واچول نو هم روا دی. او ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه حضرت ﷺ سور شو په خپله اوښه. او دا اوښه ددے نه سوا وه چه د هغے ئے اشعار کړے وو. او سوریدل په حج کښې افضل دی د پیاده تلو نه. وئیلے دی مسلم او روایت کړے دے مونږ ته دغه حدیث محمد بن مثنٰی، هغوی ته معاذ، هغوی ته هشام د هغوی پلار، هغوی ته قتاده په دے سند سره دغه مضمون چه د شعبه په روایت کښې دے. مګر په دے کښې دا دی چه نبی ﷺ هر کله چه ذوالحُلیفه ته راغے او د ماسپخین د مانځهٔ ذکر ئے نهٔ دے کړے.

الَّتِي قَدْ تَشَغَّفَتْ أَوْ تَشَغَّبَتْ بِالنَّاسِ

عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا حَسَّانَ الْأَعْرَجَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي الْهُجَيْمِ لِابْنِ عَبَّاسٍ مَا هَذَا الْفُتْيَا الَّتِي قَدْ تَشَغَّفَتْ أَوْ تَشَغَّبَتْ بِالنَّاسِ أَنَّ مَنْ طَافَ بِالْبَيْتِ فَقَدْ حَلَّ فَقَالَ سُنَّةُ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ رَغِمْتُمْ

عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي حَسَّانَ قَالَ قِيلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ هَذَا الْأَمْرَ قَدْ تَفَشَّغَ بِالنَّاسِ مَنْ طَافَ بِالْبَيْتِ فَقَدْ حَلَّ الطَّوَافُ عُمْرَةٌ فَقَالَ سُنَّةُ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ رَغِمْتُمْ

عَنْ عَطَاءٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ لَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ حَاجٌّ وَلَا غَيْرُ حَاجٍّ إِلَّا حَلَّ قُلْتُ لِعَطَاءٍ مِنْ أَيْنَ يَقُولُ ذَلِكَ قَالَ مِنْ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ قَالَ قُلْتُ فَإِنَّ ذَلِكَ بَعْدَ الْمُعَرَّفِ فَقَالَ كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ هُوَ بَعْدَ الْمُعَرَّفِ وَقَبْلَهُ وَكَانَ يَأْخُذُ ذَلِكَ مِنْ أَمْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

بيان

د قتادهؒ نه روايت دے چه ما د ابوحسان اعرج نه اوریدلی دی چه یو سړی د بنی هجیم د قبیلے نه اووے چه اے ابن عباس! دا څهٔ فتویٰ تاسو ورکیئ چه په هغے کښې خلق مشغول شوے دی. یا په کومے کښې چه خلق ګړبړ کوی چه طواف اوکړو د بیت الله (یعنی د حاجیانو نه او دے طواف نه طواف قدوم مراد دے) نو هغه حلال شو. نو هغوی اوفرمائیل دا ستاسو د نبیﷺ سنت دی. اګر چه ستاسو په پوزه کښې خاورے ولګی شی (یعنی کهٔ ستاسو خلاف وی نو هم ئے کوئ)

د قتادهؒ نه روایت دے چه ابوحسان وئیلے دی چه چا ابن عباس ته اووے چه دا مسئله داسے ده چه په خلقو کښې ډیره خوره شوے ده. چه چا طواف اوکړی د بیت الله هغه حلال شو او په دغه احرام د عمره اوکړه (یعنی اګر کهٔ احرام د حج وی) نو هغوی اوفرمائیل چه دا سنت ستاسو د نبیﷺ دی اګر کهٔ ستاسو په پوزه کښې خاورے ولګی شی.

د عطاءؒ نه روایت دے چه ابن عباسؓ به فتویٰ ورکوله چه چا د بیت الله طواف اوکړو (یعنی د هر څهٔ نه مخکښې مکے ته د راتلو سره) هغه حلال شو خواه کهٔ حاجی وی یا غیر حاجی (یعنی معتمر وی) ما عطاءؒ ته اووے چه دا خبره به ئے د کوم ځائے نه کوله؟ هغوی وویل د دے ایت نه چه الله پاک فرمائیلے دی: چه بیا ځائے د دے قربانئ د رسیدو د بیت الله پورے دے. نو ما اووے چه دا خو د عرفات د راتلو نه روستو دے هغوی اووے چه د ابن عباس قول دا دے چه محل د هغے بیت الله دے. خواه کهٔ روستو د عرفات نه وی یا مخکښې د هغے نه وی او هغوی دا خبره د فعل مبارک د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَمَرَهُمْ أَنْ يَحِلُّوا فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ

نبی کریم ﷺ نه راوستلے ده. چه حضرت ﷺ پخپله حکم اوفرمائیلو چه خلق دی احرامونه کهولاؤ کړی په حجة الوداع کښ[1].

بَاب التَّقْصِيرِ فِي الْعُمْرَةِ مِنْ شَعْرِهِ وَأَنَّه لاَ يَجِبُ حَلْقُهُ وَأَنَّه يَسْتَحِبُّ كَوْنُ حَلْقِهِ أَوْ تَقْصِيرِهِ عِنْدَ الْمَرْوَةِ

باب: عمره کونکے خپل ویښته کټ کولے هم شی. خرئیلے ئے واجب نۀ دی. او مستحب دی چه کټاکول وی یا لنډول، د مروه په خوا کښ وی

عَنْ طَاوُسٍ قَالَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ لِي مُعَاوِيَةُ أَعَلِمْتَ أَنِّي قَصَّرْتُ مِنْ رَأْسِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى

د طاؤس نه روایت دے چه ما ته ابن عباس ذکر اوکړو چه ماته معاویه اووے چه زۀ خو تاله خبر درکوم چه ما د رسول الله ﷺ د سر

---

[1] : نووی وئیلے دی چه د ابن عباس مذهب هم دغه دے چه حاجی هم هر کله چه طواف اوکړی د بیت الله نه نوهغه لره عمره کول او احرام کهولاوول پکار ردی. او دا مذهب د حضرت ابن عباس د جمهورو د مذهب خلاف دے کۀ سلف دی خواه کۀ خلف ځکه چه د ټولو علماؤ قول داد ے چه حاجی یواځے په طواف حلالید ے نۀ شی. بلکه د کومے پورې چه د وقوف عرفات او د جمرو د ویشتلو نه او سر خریلو او طواف زیارت کولو نه فارغ شوے نۀ وی هغه محرم دے. او د دریو څیزونو په ځائے را ورو سره په دوه قسمه حل حاصلیږی. یعنی پوره چه ټول څیزونه پرے حلال کړے شی هغه د دریواړه دادی رمی یعنی ویشتل د جمره عقبے او حل او طواف. او دد ے طواف نه طواف زیارت مراد دے. کوم چه د وقوف عرفات نه پس وی. اوویشتل د جمرے او حلق کچرے اوکړی او طواف زیارت ئے نۀ وی کړے نو هر څۀ په دۀ حلال شو سوا د ښځے نه او په دے ایت کښ د ابن عباس د قول څۀ دلیل نشته ځکه چه دا ایت مضمون صرف دومره دے چه د قربانۍ محل بیت العتیق دے. (یعنی هلته ذبح کولے شی او په دے کښ د احرام د نۀ کهولاویدو مطلق ذکر نشته. او استدلال د هغوی د نبی د حکم کولو نه په حجة الوداع کښ خپلو یارانو ته چه احرام کهولاؤ کړئ پس دا هم داسے دے چه د هغوی په مذهب باند ے دۀ لره دلالت نشته ځکه چه حضرت ﷺ د حج د فسخ کولو چه کوم حکم ورکړے وو هغه ددغے کال دپاره وو. دا خلاصه د تقریر ده د نووی .او د ابن قیم مختار دغه دے کوم چه د ابن عباس مذهب دے چه هر حاجی ته د فسخ اجازت دے مگر چا چه قربانی راوستے وی. لکه څنګه چه په حدیث کښ ذکر دی، او دا فرمائیل د نووی چه اجازت د فسخ خاص وو د حجة الوداع د کال دپاره نو ښکاره د حدیثو نه خلاف دے بلکه پورته ذکر شو چه سراقه بن مالك تپوس اوکړو چه حکم د فسخ چه کوم تاسو ورکوئ دا دد ے کال دپاره دے یا همیشه دپاره؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه همیشه دپاره دے. او دا روایت په صحیح بخاری وغیره کښ راغلے دے.غرض دا چه خاص کول د فسخ دد ے کال سره لکه څنګه چه نووی لیکلی دی ناشنا خبره ده. نو د حدیثو د مخه مذهب د ابن عباس دے چه هغه هم د ټول امت دپاره فسخ کول د حج په عمره سره جائز ګڼړی. او ابوموسیٰ اشعری به فتوی ورکوله دد ے د فسخ په تولہ موده د خلافت د ابوبکر کښ او څۀ ورځے په شروع د خلافت د حضرت عمر کښ ترد ے پورے چه حضرت عمر دد ے نه مانع شو بیا نۀ شی بدلیدے حکم د رسول معصوم ﷺ د عمر په منع کولو سره. او په زاد المعاد کښ دی چه رجوع هم دحضرت عمر دد ے نه منع ثابته شوه. فَمَنْ شَاءَ زِيَادَةَ الاطِّلَاعِ فَلْيَرجِعْ اليه.

اللهِ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عِندَ الْمَروَةِ بِمِشْقَصٍ فَقُلْتُ لَهُ لَا أَعْلَمُ هٰذَا إِلَّا حُجَّةً عَلَيكَ

وېښته د مروه په خوا کښې د غشي په نرۍ سر کټ کړې دي ما هغوی ته اووې چه ماته د دې علم نشته مګر دا په تا باندې حجت دې.

عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ أَخْبَرَهُ قَالَ قَصَّرْتُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِمِشْقَصٍ وَهُوَ عَلَى الْمَرْوَةِ أَوْ رَأَيْتُهُ يُقَصَّرُ عَنْهُ بِمِشْقَصٍ وَهُوَ عَلَى الْمَرْوَةِ

حضرت طاؤسؒ د حضرت ابن عباس نه روایت کړې دې چه معاویه هغوی ته خبر ورکړو چه ما په مروه کښې د رسول اللهﷺ وېښته کټ کړې دي د غشي په څوکه باندې یا ما حضرتﷺ په مروه باندې اولیدو چه حضرتﷺ وېښته کټ کول د غشي په څوکه سره په مروه کښې[1]

بَابُ جَوَازِ التَّمَتُّعِ فِي الْحَجِّ وَالْقِرَانِ

باب: په حج کښې تمتع او قران دواړه جائز دي

عَنْ أَبِي سَعِيدٍؓ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ نَصْرُخُ بِالْحَجِّ صُرَاخًا فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ أَمَرَنَا أَنْ نَجْعَلَهَا عُمْرَةً إِلَّا مَنْ سَاقَ الْهَدْيَ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ وَرُحْنَا إِلَى مِنًى

د ابوسعیدؓ نه روایت دې چه مونږ رااووتو د رسول اللهﷺ سره د حج په وئیلو سره بیا چه کله مکې ته راغلو نو حضرتﷺ اوفرمائیل چه مونږ په دې احرام کښې د حج باندې عمره کوو مګر هغه خلق چه د چا سره قربانی ده بیا چه هر کله د ذی الحجې اتم تاریخ شو او تولو مکې ته لاړل نو لبیك ئې اووې د حج (یعنی په مینځ کښې ئې عمره

---

[1] : دد ې حدیث نه معلومه شوه چه وېښته کټ کول هم روا دي په حج او عمره کښې اګر چه خرېل ئې غوره دي. و په تمتع کښې غوره داده چه د عمرې نه پس ئې کټ کړي او د حج نه پس ئې اوخروي چه د دواړو حق په ښۀ طریقه ادا شي. او دا هم معلومه شوه چه قصر او حلق د مروه سره وي په عمره کښې چه دغه مروه خاص ځائے دے د عمری نه د حلالیدو لکه څنګه چه حاجی له قصر او حلق په منی کښې مستحب دے. او کۀ په حرم کښې چرته بل ځائے هم وی نو روا دی. او دا روایت د معاویه چه هغوی د حضرت وېښتۀ کټ کول یائې په کټ کولو اولیدو عمره په جعرانه کښې ده. ځکه چه په حجة الوداع کښې حضرتﷺ په منی کښې سر اوخرئیلو او ابوطلحه د هغوی مبارك وېښتۀ تقسیم کړل. او حدیث د معاویه په عمره قضاء باندې هم محمول کیدے نۀ شي. ځکه چه په عمره قضاء د هجرت په اووم کال کښې شوی ده. او د دغه وخته پورې حضرت معاویه ایمان راوړے نۀ وو ځکه چه هغوی خو په اتم کال د هجرت ایمان راوړے وو. دغه قول صحیح دے او چا چه دے روایت لره په حجة الوداع کښې ګڼړلے دے لویه غلطی ئې کړې ده او دویمه غلطی دا شوې ده د هغه خلقو نه چه د حضرت حج لره ئې تمتع اوګڼړلو. حالانکه حضرت قارن وو. لکه څنګه چه په متعددو روایتونو کښې پورته ذکر شو چه د حضرت سره قربانی وه ځکه حضرت احرام کهولاؤ نۀ کړو مګر د وقوف عرفات او د حج د فراغت نه پس.

أَهْلَلْنَا بِالْحَجِّ

عَنْ جَابِرٍ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَا قَدِمْنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ وَنَحْنُ نَصْرُخُ بِالْحَجِّ صُرَاخًا

عَنْ أَبِي نَضْرَةَ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ فَأَتَاهُ آتٍ فَقَالَ إِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَابْنَ الزُّبَيْرِ اخْتَلَفَا فِي الْمُتْعَتَيْنِ فَقَالَ جَابِرٌ فَعَلْنَاهُمَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نَهَانَا عَنْهُمَا عُمَرُ فَلَمْ نَعُدْ لَهُمَا

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ عَلِيًّا قَدِمَ مِنَ الْيَمَنِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَ أَهْلَلْتَ فَقَالَ أَهْلَلْتُ بِإِهْلَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلَا أَنَّ مَعِي الْهَدْيَ لَأَحْلَلْتُ و حَدَّثَنِيهِ حَجَّاجُ بْنُ الشَّاعِرِ

عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي إِسْحَقَ وَعَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ وَحُمَيْدٍ أَنَّهُمْ سَمِعُوا أَنَسًا قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ أَهَلَّ بِهِمَا جَمِيعًا

کړے او احرام ئے کهولاؤ کړے وو[1].

د جابر او ابوسعید دواړو نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره مکے ته راغلو د حج لبیك په ډیر اوچت اواز وئیلو سره.

د ابونضرهؒ نه روایت دے چه زهٔ د جابر سره وم چه یو سړے راغے او اوئے وئیل چه ابن عباس او ابن زبیر په متعو کښې اختلاف کوی یعنی یو په متعه د نساء کښې او بل په متعه د حج کښې نو جابر اووے چه مونږه دواړه متعے د رسول الله ﷺ په مخکښې کړی دی بیا حضرت عمر د دے دواړو لره منع اوفرمائیلے نو مونږ او نهٔ کړے[2].

د انسؓ نه روایت دے وائی چه حضرت علیؓ د یمن نه راغے او نبی ﷺ د هغوی نه تپوس اوکړو چه تا څنګه احرام تړلے وو؟ هغوی اووے ما داسے لبیك اووے چه کوم د نبی ﷺ لبیك وی هغه څما لبیك دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه څماسره کچرے قربانی نهٔ وے نو ما به عمره کړے وه او احرام به مے پرانستے وو یعنی اوس ته هم احرام مهٔ پرانزه لکه څنګه چه زهٔ نهٔ پرانزم.

یحیٰی ، عبد العزیز او حمید نه روایت دے چه د انس نه اوریدلے دی وائی چه اوریدلی ما د رسول الله ﷺ چه هغوی لبیك اووئیلو د حج او عمرے دواړو.

[1]: ددے حدیث نه معلومه شوه چه لبیك په زوره وئیل مستحب دے او دا حکم دے سړو دپاره او ښځے به ئے په دومره آواز سره وائی چه پخپله ئے اوری. او سړو لره په زوره وئیل د ټولو علماؤ په نز مستحب دی.

[2]: منع کول د حضرت عمر د متعه د حج په دے وجه وو چه د هغوی غرض دا وو چه غوره دا ده چه حج او عمره دواړه په جدا سفر کښې په ځائے راوړے شی. نو دا منع په دی نظر سره وه چه غوره والے ترك کولے شی. اګر په تمتع ئے هم جائز ګڼړلو . او د متعه نساء منع کول ئے په دے نظر سره وو چه هغه د قیامته پورے حرام کړے شوے دے. د رسول الله په ارشاد مبارك سره مګر د دے د حرمت نه ځنے صحابه خبر وو څکه هغوی ددے حرمت لره مشهور کړے دے.

لَبَّيْكَ عُمْرَةً وَحَجًّا لَبَّيْكَ عُمْرَةً وَحَجًّا

عَنْ حَنْظَلَةَ الْأَسْلَمِيِّ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُهِلَّنَّ ابْنُ مَرْيَمَ بِفَجِّ الرَّوْحَاءِ حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا أَوْ لَيَثْنِيَنَّهُمَا

د حنظله اسلمیؓ نه روایت دے چه هغوی د ابوهریره نه اوریدلے دی چه نبی ﷺ فرمائیلے وو چه قسم دے په هغه پروردګار چه خما روح د هغهٔ په لاس کښې دے چه البته بلا شك وشبه عیسیٰ بن مریم به د روحاء په کندو کښې چه د مکے او مدینے په مینځ کښې دی د حج یا عمرې لبیك وائی، یا به قران کوی او یو ځائے به د دواړو لبیك وائی[1].

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ قَالَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ

د ابن شهاب نه په دغه سند سره هم دغسے مضمون روایت دے. مګر په دے کښې نَفْسِیْ په ځائے نَفْسُ مُحَمَّدٍ دے[2].

بَابُ بَيَانِ عَدَدِ عُمَرِ النَّبِيِّ ﷺ وَزَمَانِهِنَّ

باب : د نبی ﷺ د عُمرو او د هغوی د وختونو بیان

عَنْ قَتَادَةَ أَنَّ أَنَسًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ اعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرٍ كُلَّهُنَّ فِي ذِي الْقَعْدَةِ إِلَّا الَّتِي مَعَ حَجَّتِهِ عُمْرَةً مِنَ الْحُدَيْبِيَةِ أَوْ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةً مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةً مِنْ جِعْرَانَةَ حَيْثُ قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةً مَعَ حَجَّتِهِ

قتاده د انس نه روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ څلور عمرے اوکړے او ټولې ئے په ذی قعده کښې مګر کومه چه د حج سره اوشوه چه یوه عمره ئے په حدیبیه ذی قعده کښې، دویمه ددے نه په وریسے کال د ذی قعده کښې، دریمه عمره کومه چه ئے د جعرانے نه راوړه، کوم ځائے چه ئے د حنین د لوټ تقسیم اوکړو، او څلورمه هغه کومه چه د حج سره اوشوه.

عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسًا كَمْ حَجَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَجَّةً وَاحِدَةً وَاعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرٍ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ هَدَّابٍ

قتاده د انس نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ څومره حجونه کړے دی؟ هغوی اوفرمائیل چه یو حج او څلور عمرے ئے کړے دی. باقی مضمون هغه دے کوم چه په پورته روایت کښې تیر شو.

---

[1] : دا به قیامت ته نژدے وی کله چه عیسیٰ علیه السلام د اسمان نه راکوز شی. ددے نه معلومه شوه چه د قرآن حکم به تر قیامته پورے وی او منسوخ نهٔ شو او معلومه شوه چه عیسیٰ علیه الصلوٰة والسلام به ضرور نازلیږی. او معلومه شوه چه په دے شریعت به عمل کوی.

[2] : ونیلے دی مسلم او روایت کړے دے ما ته حرمله هغوی ته ابن وهب هغوی ته یونس هغوی ته ابن شهاب هغوی ته حنظله بن علی اسلمی او هغوی د ابوهریره نه اوریدلے دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه قسم دے په هغه پروردګار چه خما روح د هغهٔ په لاس کښې دے. وړاندے هغه مضمون دے کوم چه په پورته روایت کښې دواړو راویانو بیان کړے دے.

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ قَالَ سَأَلْتُ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ كَمْ غَزَوْتَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَبْعَ عَشْرَةَ قَالَ وَحَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا تِسْعَ عَشْرَةَ وَأَنَّهُ حَجَّ بَعْدَ مَا هَاجَرَ حَجَّةً وَاحِدَةً حَجَّةَ الْوَدَاعِ قَالَ أَبُو إِسْحٰقَ وَبِمَكَّةَ أُخْرٰى

د ابو اسحق نه روایت دے چه ما د زید بن ارقم نه تپوس لوکړو چه ته د رسول الله ﷺ سره په څومره جهادونو کښې شریك شوے ئې؟ هغوی اووے په اولسو کښې. او هغوی ماته بیان اوکړو چه رسول الله ﷺ نولس جهادونه کړی دی او د هجرت نه روسته ئې یو حج کړے دے چه ورته حجة الوداع وائی. او ابواسحق وائی چه دویم حج په هغه وخت کښې کړے وو کله چه په مکه کښې وو. یعنی مخکښې د هجرت نه

عَنْ عَطَاءٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَابْنُ عُمَرَ مُسْتَنِدَيْنِ إِلٰى حُجْرَةِ عَائِشَةَ وَإِنَّا لَنَسْمَعُ ضَرْبَهَا بِالسِّوَاكِ تَسْتَنُّ قَالَ فَقُلْتُ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَجَبٍ قَالَ نَعَمْ فَقُلْتُ لِعَائِشَةَ أَيْ أُمَّتَاهُ أَلَا تَسْمَعِينَ مَا يَقُولُ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَتْ وَمَا يَقُولُ قُلْتُ يَقُولُ اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَجَبٍ فَقَالَتْ يَغْفِرُ اللهُ لِأَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ لَعَمْرِي مَا اعْتَمَرَ فِي رَجَبٍ وَمَا اعْتَمَرَ مِنْ عُمْرَةٍ إِلَّا وَإِنَّهُ لَمَعَهُ قَالَ وَابْنُ عُمَرَ يَسْمَعُ فَمَا قَالَ لَا وَلَا نَعَمْ سَكَتَ

د عطاء نه روایت دے چه خبر راکړو ماله عروه چه زهٔ او حضرت عمر دواړه د عائشے حجرے ته تکیه لګولے ناست وو او جناب عائشے صدیقے مسواك کولو او مونږ د هغے د مسواك آواز اوریدلو. پس ما اووے اے ابوعبدالرّحمٰن (دا د عبد الله بن عمر کنیت دے) ولے نبی ﷺ په رجب کښې عمره کړے وه؟ هغوی اووے آو. ما جناب عائشے صدیقے ته عرض اوکړو چه اے څما مور تاسو واؤریدل چه عبد الرّحمٰن څهٔ اووے؟ هغے اووے څهٔ وائی؟ ما اووے هغوی وائی چه نبی ﷺ په رجب کښې عمره کړے ده. نو جناب عائشے اوفرمائیل چه الله دِ اوبخښی ابو عبد الرّحمٰن لرهٔ قسم دے څما په روح چه حضرت محمد ﷺ چرته هم په رجب کښې عمره نهٔ ده کړے. او هر کله چه به حضرت ﷺ عمره کوله نو ابوعبد الرّحمٰن به د هغوی سره وو او ابن عمر دا خبره واؤریده. او نهٔ ئے آو اوکړل او نهٔ چپ پاتے شو.

عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَعُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ الْمَسْجِدَ فَإِذَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ جَالِسٌ إِلٰى حُجْرَةِ عَائِشَةَ وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ الضُّحٰى فِي الْمَسْجِدِ فَسَأَلْنَاهُ عَنْ صَلَاتِهِمْ فَقَالَ بِدْعَةٌ فَقَالَ لَهُ عُرْوَةُ يَا أَبَا عَبْدِ

د مجاهد نه روایت دے چه هغوی وئیلے دی زهٔ او عروه دواړه مسجد نبوی ته لاړو او عبدالله بن عمر د حضرت عائشے صدیقے د حجرے په خواه کښې ناست وو. او خلقو په جماعت کښې د څاښت مونځ ادا کولو. نو ما د عبدالله نه تپوس اوکړو چه دا مونځ څنګه دے؟ هغوی اوفرمائیل چه بدعت دے (یعنی دد ے په جماعت کښې ادا کول او پشان د فرض

الرَّحْمَنِ كَمِ اعْتَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَرْبَعَ عُمَرٍ إِحْدَاهُنَّ فِي رَجَبٍ فَكَرِهْنَا أَنْ نُكَذِّبَهُ وَنَرُدَّ عَلَيْهِ وَسَمِعْنَا اسْتِنَانَ عَائِشَةَ فِي الْحُجْرَةِ فَقَالَ عُرْوَةُ أَلَا تَسْمَعِينَ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ إِلَى مَا يَقُولُ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ فَقَالَتْ وَمَا يَقُولُ قَالَ يَقُولُ اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ عُمَرٍ إِحْدَاهُنَّ فِي رَجَبٍ فَقَالَتْ يَرْحَمُ اللهُ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ مَا اعْتَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا وَهُوَ مَعَهُ وَمَا اعْتَمَرَ فِي رَجَبٍ قَطُّ

مانځهٔ ئې اهتمام كول بدعت دے) بيا هغوی ته عروه اووے چه اے ابوعبد الرّحمٰنؓ! رسول اللهﷺ څومره عمرے کړے دی؟ هغوی لو فرمائيل چه څلور چه يوه په هغے کښې په رجب کښې ده پس مونږ ته بده معلوميده چه مونږ دهٔ لره دروغژن کړو يا پرے رَدّ اوکړو. او د جناب عائشے صديقے د مسواك كولو آواز مونږ اوريدو چه هغو په حجره کښې وو. نو عروه اووے چه تاسو اورئ اے د مؤمنانو مور څهٔ چه ابو عبدالرّحمٰنؓ وائی. هغوی تپوس اوکړو څهٔ وائی؟هغهٔ اووے چه هغوی وائی چه رسول اللهﷺ څلور عمرے کړے دی يوه په رجب کښې نو جناب عائشے صديقے اوفرمائيل چه الله دِ رحمت اوکړی په ابو عبدالرّحمٰن باندے رسول اللهﷺ يوه عمره داسے نهٔ ده کړے چه په هغے کښې دوی د هغوی سره نهٔ وو.او په رجب کښې هغوی يوه عمره هم نهٔ ده کړے[1].

[1]: ددے ټولو روايتونو حاصل دادے چه رسول اللهﷺ څلور عمرے کړے دی يوه په ذيقعده کښې د حديبيے په کال او د هجرت شپږم کال کښې چه ددغے عمرے نه كافرانو منع کړو بغير ددے نه په طواف او سعی ئے کړے وو او دا هم په عمرو کښې شمار کړلے شوه. او دويمه په مذكوره مياشت او په كال اووم هجری کښې ئے کړے وه. او دا عمره د رومبئ عمرے قضاء ده. او دريمه په مذكوره مياشت د اتم هجرئ په كال چه په دغه كال مكه فتح شوے وه. او څلورمه هغه چه د حجة الوداع سره اوشوه. چه احرام د هغے په ذی قعده کښې تړلے شوے وو او اعمال د هغے په ذی حجه کښې ادا شول او د رجب په مياشت کښې ئے هيڅ عمره نهٔ ده کړے. علماؤ وئيلے دی چه د عبد الله بن عمر هير شوے دی يائے شك راغلے وو. ځکه چه جناب عائشے صديقے د هغوی خبره رَد اوفرمائيله نو هغوی چپ پاتے شو. او حضرت محمد دا ټولے عمرے په ذی قعده (يعنی خالی) کښې ځکه اوکړے چه د كفارو رسم مات شی. چه هغوی به د حج په ورځو کښې عمرے لره بده ګڼرله چنانچه پورته تير شوے دی. او روستو د هجرت نه خو حضرتﷺ دغه يو حج کړے دے. او مخکښې د هجرت نه په مسلم کښې هم دغه يو حج مروی دے. او په نورو كتابونو کښې دوه هم راغلے دی. او د زيد بن ارقم په روايت کښې هم وئيلے دی. او ددے نه سوا نور هم اقوال شته دے چه هغه د غزا په كتابونو کښې مشهور دی. او دا چه جناب عائشے صديقے اوفرمائيل لَعَمْرِی يعنی قسم دے خما په روح او د عربو بول چال دے. او بعضو په دے سره لَعَمْرِی وئيلو ته جائز وئيلے دی. او د امام مالك په نز دا مكروه دی. ځکه چه په دے کښې تعظيم دے د غير الله او مشابهت دے د الله تعالی سره د هغه نه د غير. او صلوة ضُحی ته بدعت وئيل په دے نظر سره و چه د هغے دپاره اجتماع كول او په جماعتونو کښې په شان د فرض مونځ په اهتمام سره ادا كول بدعت دے. اګر کهٔ اصل ددے په سنت سره ثابت دے. ددے نه معلومه شوه چه کهٔ د يو شی اصل هم ثابت وی هغه هم د يو هيئت شرعی په بدل

بَاب فَضْلِ الْعُمْرَةِ فِي رَمَضَانَ

عَنْ عَطَاءٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يُحَدِّثُنَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِامْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ سَمَّاهَا ابْنُ عَبَّاسٍ فَنَسِيتُ اسْمَهَا مَا مَنَعَكِ أَنْ تَحُجِّي مَعَنَا قَالَتْ لَمْ يَكُنْ لَنَا إِلَّا نَاضِحَانِ فَحَجَّ أَبُو وَلَدِهَا وَابْنُهَا عَلَى نَاضِحٍ وَتَرَكَ لَنَا نَاضِحًا نَنْضِحُ عَلَيْهِ قَالَ فَإِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فَاعْتَمِرِي فَإِنَّ عُمْرَةً فِيهِ تَعْدِلُ حَجَّةً

عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِامْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ يُقَالُ لَهَا أُمُّ سِنَانٍ مَا مَنَعَكِ أَنْ تَكُونِي حَجَجْتِ مَعَنَا قَالَتْ نَاضِحَانِ كَانَا لِأَبِي فُلَانٍ زَوْجِهَا حَجَّ هُوَ وَابْنُهُ عَلَى أَحَدِهِمَا وَكَانَ الْآخَرُ يَسْقِي عَلَيْهِ غُلَامُنَا قَالَ فَعُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً أَوْ حَجَّةً مَعِي

باب: په رمضان المبارك کښې د عمرے فضیلت

د عطاءؒ نه روایت دے وائی چه د ابن عباس نه اوریدلے دی چه رسول اللهﷺ د انصارو یوے بی بی ته اوفرمائیل او ابن عباس د هغې نوم هم واخستو مګر ځما نه هیر شو. چه ولے تۀ زمونږ سره حج له نۀ ځے؟ نو هغوی عرض اوکړو چه زمونږ سره د اوبو راوړو دپاره صرف دوه اوښان وو پس په یو باندے ځما خاوند او ځما ځوئے حج له لاړو. او یو اوښ ئے زمونږ دپاره پاتے کړو چه په هغې باندے مونږه اوبۀ راوړو. نو حضرتﷺ اوفرمائیل بنه ده چه کله رمضان راشی نو تۀ یو عمره اوکړه د هغۀ ثواب هم د حج کولو برابر دے[1].

د عطاء نه روایت دے چه ابن عباس اوئیل چه نبیﷺ یوه انصاری ښځه چه هغې ته ئے ام سنان وئیله، ته اووے چه زمونږ سره حج ولے اونکړو. نو هغې عرض اوکړو چه ځما د خاوند دوه اوښان وو په یو هغۀ او د هغۀ ځوئے حج ته تلے دی. او په بل زمونږ غلام اوبۀ راوړی نو حضرتﷺ اوفرمائیل چه عمره په رمضان کښې د حج برابره ده. یا اوئے فرمائیل زمونږ سره د حج برابر دے.

بَاب اسْتِحْبَابِ دُخُولِ مَكَّةَ مِنَ الثَّنِيَّةِ الْعُلْيَا وَالْخُرُوجِ مِنْهَا مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلَى

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

باب: مکے ته راننوتل په اوچته لاره او خروج په لاندے لار سره مستحب دی

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ چه به کله د مدینے

ورکولو سره بدعت کیږی. غرض دا چه په سنتو کښې د فرضو غوندے اهتمام او په مستحبو کښې د واجبو پشان انتظام او د مکروهاتو نه د حرامو پشان پرهیز. او د حلالو نه د مکروهاتو په شان احتراز دا ټول ځیزونو لره په بدعاتو کښې داخلوی.

[1] یعنی ثواب ئے اګر کۀ د حج برابر دے. مګر دا نۀ ده چه فرض حج د دۀ د زمے نه ګنی او غور خیدو. او په دغه ښځه باندے حج فرض نۀ وو چه د هغۀ سره سورلی نۀ وه.

وَسَلَّمَ كَانَ يَخْرُجُ مِنْ طَرِيقِ الشَّجَرَةِ وَيَدْخُلُ مِنْ طَرِيقِ الْمُعَرَّسِ وَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ دَخَلَ مِنَ الثَّنِيَّةِ الْعُلْيَا وَيَخْرُجُ مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلَى

نه وتلو نو د شجرے په لار به وتلو. او د معرس په لاره به داخليدلو. (معرس يو مقام دے د مدينے نه شپږ ميله لرے) او هر کله چه به مکے ته داخليدو نو د زمکے د پورته حصه نه به داخليدو او کله چه به وتلو نو د زمکے د لاندے حصے نه به وتلو[1].

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ فِي رِوَايَةِ زُهَيْرٍ الْعُلْيَا الَّتِي بِالْبَطْحَاءِ

د عبيد الله نه په دے سند سره دغه مضمون روايت شوے دے او په روايت کښې د زهير دادی چه داخل شو حضرت ﷺ په مکه کښې دپاسه حصے نه چه په بطحاء کښې ده (او هغه د يو خائے نوم دے د محصّب په مېنځ کښې او دا هغه اوچته حصه ده چه دده نه د مکے مقابرو ته راکوزيږی)

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا جَاءَ إِلَى مَكَّةَ دَخَلَهَا مِنْ أَعْلَاهَا وَخَرَجَ مِنْ أَسْفَلِهَا

د عائشے صديقے نه روايت دے چه رسول الله ﷺ چه به کله مکے ته راغے نو داخل به شو د پورته طرفنه . او چه وتلو به نو د لاندے د طرفنه به وتلو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَامَ الْفَتْحِ مِنْ كَدَاءٍ مِنْ أَعْلَى مَكَّةَ قَالَ هِشَامٌ فَكَانَ أَبِي يَدْخُلُ مِنْهُمَا كِلَيْهِمَا وَكَانَ أَبِي أَكْثَرَ مَا يَدْخُلُ مِنْ كَدَاءٍ

د عائشے صديقے نه روايت دے چه جناب رسول الله ﷺ په کوم کال چه مکه فتح شوه د کداء د طرفنه داخل شو چه مکے د بلندئ طرف دے (کداء په همزه او مد سره يو اوچت خائے دے د مکے اوچت طرفته. او کدا بغير د مد نه يو اوچت خائے دے د مکے لاندے طرفته) هشام وئيلے دی چه څما پلار به د دواړو طرفونو نه داخليدل او اکثر به د کداء د طرفه داخليدو.

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمَبِيتِ بِذِي طُوًى عِنْدَ إِرَادَةِ دُخُولِ مَكَّةَ وَالِاغْتِسَالِ لِدُخُولِهَا وَدُخُولِهَا نَهَارًا

باب: په ذی طوی کښې د شپے پاتے کيدل او غسل کول او د ورځے مکے ته داخليدل مستحب دی

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د شپے په ذی ←

[1]: او دغه مستحب دی مکے د تلو نکو والا دپاره. او لاره بدلول مستحب دی د ښهرونه د وتلو والا دپاره.

وَسَلَّمَ بَاتَ بِذِي طَوًى حَتَّى أَصْبَحَ ثُمَّ دَخَلَ مَكَّةَ قَالَ وَكَانَ عَبْدُ اللهِ يَفْعَلُ ذٰلِكَ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ سَعِيدٍ حَتَّى صَلَّى الصُّبْحَ قَالَ يَحْيَى أَوْ قَالَ حَتَّى أَصْبَحَ

طوی کښې پاتې شو (ذی طوی یو مشهور مقام دے د مکې په خوا کښې) د سحر د وخت پورې بیا په مکه کښې داخل شو او عبد الله به هم داسې کول. او د ابن سعید په روایت کښې دی چه ذی طوی کښې حضرت ﷺ د سحر مونځ اوکړو.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ لَا يَقْدَمُ مَكَّةَ إِلَّا بَاتَ بِذِي طَوًى حَتَّى يُصْبِحَ وَيَغْتَسِلَ ثُمَّ يَدْخُلُ مَكَّةَ نَهَارًا وَيَذْكُرُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ فَعَلَهُ

د نافع نه روایت دے چه ابن عمر به مکې ته نه تلو د کومې پورې چه به په ذی طوی کښې د شپې پاتې شوې نه وو. بیا چه به هر کله هلته سحر شو نو غسل به ئې اوکړو او د ورځې به داخل شو. او وئیل به ئې چه نبی ﷺ هم دغه شان کړې دی.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَنْزِلُ بِذِي طَوًى وَيَبِيتُ بِهِ حَتَّى يُصَلِّيَ الصُّبْحَ حِينَ يَقْدَمُ مَكَّةَ وَمُصَلَّى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِكَ عَلَى أَكَمَةٍ غَلِيظَةٍ لَيْسَ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي بُنِيَ ثَمَّ وَلٰكِنْ أَسْفَلَ مِنْ ذٰلِكَ عَلَى أَكَمَةٍ غَلِيظَةٍ

د نافع نه روایت دے چه عبد الله هغوی ته اووے چه رسول الله ﷺ به کوزیدلو په ذی طوی کښې او د شپې نه هلته وو تر دے پورې چه د سحر مونځ به ئې هلته اوکړو نو هله به مکې ته راتلو. او د رسول الله ﷺ د مانځهٔ ځائے اوچت یو غټ ځائے دے. چه هغه اوچت ځائے په هغه جماعت کښې نشته چه هلته جوړ دی. مګر د هغې نه لاندې دے په یو غټه اوچته حصه.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَقْبَلَ فُرْضَتَيِ الْجَبَلِ الَّذِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجَبَلِ الطَّوِيلِ نَحْوَ الْكَعْبَةِ يَجْعَلُ الْمَسْجِدَ الَّذِي بُنِيَ ثَمَّ يَسَارَ الْمَسْجِدِ الَّذِي بِطَرَفِ الْأَكَمَةِ وَمُصَلَّى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْفَلَ مِنْهُ عَلَى الْأَكَمَةِ السَّوْدَاءِ يَدَعُ مِنَ الْأَكَمَةِ عَشْرَةَ أَذْرُعٍ أَوْ نَحْوَهَا ثُمَّ يُصَلِّي مُسْتَقْبِلَ الْفُرْضَتَيْنِ مِنَ الْجَبَلِ الطَّوِيلِ

د نافع نه روایت دے چه عبد الله هغوی ته خبر ورکړے دے چه رسول الله ﷺ مخ کړو په طرف د دوارو اوچتو حصو د زمکې ته نو د دے غر کوم غر چه دهغوی او د کعبې په مینځ کښې وو. او هغه جماعت کوم چه هلته جوړ دے او ګس طرفته ئې کړو د هغه جماعت نه چه د کمر په غاړه دے. او د رسول الله ﷺ د مانځهٔ ځائے د هغه تورے اوچتې حصې د زمکې نه لاندې دے. او د هغه تورے اوچتې حصې د زمکې نه لس لاسونه لرے یا د دے نه کم یا زیات. بیا به ئې مونځ کولو او مخ کړے به ئې وو د هغه دوارو اوچتو حصو د زمکې په طرف د هغه اوږد غر چه ستا او د کعبې په مینځ کښې دے.

الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْكَعْبَةِ ﷺ

اللہ د رحمت او سلام اولیږی په هغوی[1].

بَابُ اسْتِحْبَابِ الرَّمَلِ فِي الطَّوَافِ فِي الْعُمْرَةِ وَفِي الطَّوَافِ الْأَوَّلِ مِنَ الْحَجِّ

باب : د عمرے په طواف کښې او د حج د طواف په اول کښې رَمَل مستحب دے

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا طَافَ بِالْبَيْتِ الطَّوَافَ الْأَوَّلَ خَبَّ ثَلَاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا وَكَانَ يَسْعَى بِبَطْنِ الْمَسِيلِ إِذَا طَافَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُ ذَلِكَ

د ابن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه هر کله رومبے طواف کوو د بیت الله نه نو درے خله زر زر تلو او وارۀ وارۀ قدمونه ئے ایخودل او څلور ځله (یعنی چکره) د عادت موافق روان وو. او د سیلاب د راتلو په ځائے کښې به ئے منډے کړے کله چه به ئے سعی کوله په صفا او مروه کښې. او ابن عمر به هم داسے کول.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا طَافَ فِي الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ أَوَّلَ مَا يَقْدَمُ فَإِنَّهُ يَسْعَى ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ بِالْبَيْتِ ثُمَّ يَمْشِي أَرْبَعَةً ثُمَّ يُصَلِّي سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ يَطُوفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ

د ابن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه هر کله په حج یا عمره کښې په رومبی ځل طواف کولو نو درے چکره به ئے منډے وهلے او څلور چکره به (د عادت موافق) روان وو. او دوه رکعته مونځ به ئے اوکړو بیا به ئے سعی کوله د صفا او د مروه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ يَقْدَمُ مَكَّةَ إِذَا اسْتَلَمَ الرُّكْنَ الْأَسْوَدَ أَوَّلَ مَا يَطُوفُ حِينَ يَقْدَمُ يَخُبُّ ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ مِنَ السَّبْعِ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه ما رسول الله ﷺ لیدلے دے په هغه وخت کښې چه مکے ته راغے او حجرِ اسود ئے مسحه کړو. او رومبے طواف چه به ئے کولو نو درے چکره به ئے زر زر وارۀ وارۀ قدمونه ایخودل د اوۀ چکرونو نه.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَمَلَ مِنَ الْحَجَرِ إِلَى الْحَجَرِ وَذَكَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَهُ

د نافع نه روایت دے چه ابن عمر د حجر د حجر اسود پورے رمل اوکړو او اوئے وئیل چه رسول الله ﷺ هم دغه شان کول.

---

[1] د دے ټولو روایتونو نه معلومه شوه چه په مکه کښې د داخلیدو په وخت لمبل مستحب دی. او د شپے په ذی طوی کښې پاتے کیدل چه د هغے په لاره کښې پریوځی ورنه د هغے د لرے والی اندازه د اوکړی. او د شافعیو په نز د غسل سنت دے. او کچرے غسل نۀ شی کولے نو څنو وئیلے دی رسول الله د جعرانے په عمره کښې د شپے داخل شو. او څنو وئیلے دی هغه بیان د جواز د پاره وو غوره دغه د ورځے تلل دی.

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ أَرَأَيْتَ هٰذَا الرَّمَلَ بِالْبَيْتِ ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ وَمَشْيَ أَرْبَعَةِ أَطْوَافٍ أَسُنَّةٌ هُوَ فَإِنَّ قَوْمَكَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُ سُنَّةٌ قَالَ فَقَالَ صَدَقُوا وَكَذَبُوا قَالَ قُلْتُ مَا قَوْلُكَ صَدَقُوا وَكَذَبُوا قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ مَكَّةَ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ إِنَّ مُحَمَّدًا وَأَصْحَابَهُ لَا يَسْتَطِيعُونَ أَنْ يَطُوفُوا بِالْبَيْتِ مِنَ الْهُزَالِ وَكَانُوا يَحْسُدُونَهُ قَالَ فَأَمَرَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْمُلُوا ثَلَاثًا وَيَمْشُوا أَرْبَعًا قَالَ قُلْتُ لَهُ أَخْبِرْنِي عَنِ الطَّوَافِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ رَاكِبًا أَسُنَّةٌ هُوَ فَإِنَّ قَوْمَكَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُ سُنَّةٌ قَالَ صَدَقُوا وَكَذَبُوا قَالَ قُلْتُ وَمَا قَوْلُكَ صَدَقُوا وَكَذَبُوا قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثُرَ عَلَيْهِ النَّاسُ يَقُولُونَ هٰذَا مُحَمَّدٌ هٰذَا مُحَمَّدٌ حَتّٰى خَرَجَ الْعَوَاتِقُ مِنَ الْبُيُوتِ قَالَ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُضْرَبُ النَّاسُ

د ابوطفیل نه روایت دے وائی چه ما ابن عباس ؓ ته اووے چه خبر راکړه ماله د بیت الله د طواف چه په هغے کښې درے خله رمل کول او څلور خله (د معمول مطابق) تلل سنت دی؟ ځکه چه ستاسو خلق وائی چه هغه سنت دی. نو هغوی اووے چه هغوی د روغږن هم دی او رښتونے هم. ما اووے دد ے څه مطلب دے؟ هغوی اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ چه کله مکے ته تشریف راوړو. نو مشرکانو اووے چه محمد او د هغوی ملګری طواف نه شی کولے د ضعف او د کمزورتیا په وجه او حضرت ﷺ سره حسد ساتلو. نو حضرت ﷺ حکم اوکړو چه درے خله رمل اوکړئ او څلور چکره د عادت موافق اولګوئ (غرض دا دے چه هغوی دا فعل چه کوم سنت مؤکده اوګڼړو دا د هغوی دروغ او باقی خبره رښتونے وه) بیا ما اووے چه خبر راکړه مونږ له د صفا مروه چه په مینځ کښې د سعی کولو په سورلئ باندے چه هغه سنت دی چه ستاسو خلق دے ته سنت وائی؟ هغوی اوفرمائیل چه هغوی رښتونے هم دی او دروغږن هم ما اووے دد ے څه مطلب دے. هغوی اوفرمائیل رسول الله ﷺ چه کله مکے ته تشریف راوړو نو د خلقو ګڼړه ګڼړه دومره جوړه شوه چه پیغلے جینئ ښځے بهر رااووتے او خلقو اووے چه دا محمد دے او دا محمد دے. او رسول الله ﷺ خوش اخلاقی داسے وه چه د هغوی په وړاندے خلق نه وهلے کیدل. (یعنی اخوا شه، بچ شئ، طرفته شئ، ځنګه چه د دنیا د امیرانو دپاره کیږی د حضرت ﷺ دپاره نه کیدل) بیا چه هر کله خلق ډیر ګڼړ شو نو حضرت ﷺ سور شو. او پیدل سعی کول غوره دی (یعنی دومر دروغ شو چه کوم څیز په ضرورت

بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَمَّا كَثُرَ عَلَيْهِ رَكِبَ وَالْمَشْيُ وَالسَّعْيُ أَفْضَلُ

کیدو هغې ته ئې بلا ضرورت سنت اووے. باقي رښتیا دي چه حضرت ﷺ سعي په سورلئ کړے ده[1].

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ أُرَانِي قَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَصِفْهُ لِي قَالَ قُلْتُ رَأَيْتُهُ عِنْدَ الْمَرْوَةِ عَلَى نَاقَةٍ وَقَدْ كَثُرَ النَّاسُ عَلَيْهِ قَالَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ذَاكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يُدَعُّونَ عَنْهُ وَلَا يُكْرَهُونَ

د ابو طفیل نه روایت دے چه دوی ابن عباس ته اووے زهٔ خیال کوم چه ما رسول الله ﷺ لره لیدلی دے. هغوی اووے چه ما ته بیان کړه. ابو طفیل اووے ما دومره په خواه کښې په یوه اوبنه باندے اولیدو او د خلقو په هغوی باندے ګنړه وه. نو ابن عباس ﷺ اووے چه آو هم هلته وو رسول الله ﷺ دد ے دپاره چه د صحابو عادت وو چه خلق به ئې د هغوی د خوا نه نهٔ شړل او نهٔ به ئې لرے کول.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ مَكَّةَ وَقَدْ وَهَنَتْهُمْ حُمَّى يَثْرِبَ قَالَ الْمُشْرِكُونَ إِنَّهُ يَقْدَمُ عَلَيْكُمْ غَدًا قَوْمٌ قَدْ وَهَنَتْهُمُ الْحُمَّى وَلَقُوا مِنْهَا شِدَّةً فَجَلَسُوا مِمَّا يَلِي الْحِجْرَ وَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْمُلُوا ثَلَاثَةَ أَشْوَاطٍ وَيَمْشُوا مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ لِيَرَى الْمُشْرِكُونَ جَلَدَهُمْ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّ الْحُمَّى قَدْ وَهَنَتْهُمْ هَؤُلَاءِ أَجْلَدُ مِنْ كَذَا وَكَذَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَلَمْ يَمْنَعْهُ أَنْ يَأْمُرَهُمْ أَنْ يَرْمُلُوا الْأَشْوَاطَ كُلَّهَا إِلَّا الْإِبْقَاءُ

د عبد الله بن عباس نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ او د هغوی ملګری مکے ته راغلل او د مدینے تبے (بخار) هغوی لره ضعیف کړی وو. او مشرکانو به وئیل چه صبا به ستاسو خواله داسے خلق راځی چه هغوی بخار کمزوری او ناتوان کړے دی او ډیر کمزورے شوے دی. او مشرکین د حطیم په خوا کښې کیښناستل. او نبی ﷺ خپلو ملګرو ته حکم اوکړو چه په دریو چکرو کښې رمل اوکړئ او په مینځ د حجر اسود او رکن یمانی کښې د عادت موافق تلل کوئ. چه مشرکانو ته د هغوی طاقت او قوت معلوم شو نو مشرکانو اووے چه تاسو خو وئیلے وو چه هغوی لره بخار (بتو) ناتوان کړے دی. دا خو داسے داسے طاقتور دی چه څهٔ به ئې اووے. ابن عباس وائی چه حضرت دوی لره چه کوم په اوؤ چکرو

[1]: مسلم وئیلے دی چه روایت کړے دے موږ ته محمد بن مثنّی هغوی ته یزید هغوی ته جریری د دغې اسناد سره دد ے روایت په شان. مګر په دے کښې دادی چه ابن عباس فرمائیلے دی چه د مکے خلق حاسدان وو او دائے نهٔ دی وئیلے چه هغوی د حضرت سره د حسد ساتلو.

عَلَيْهِمْ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّمَا سَعَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَمَلَ بِالْبَيْتِ لِيُرِيَ الْمُشْرِكِينَ قُوَّتَهُ

کښې د رمل حکم ورنکړو نو د دے دپاره چه چرے ستړے نهٔ شی[1].

د ابن عباس نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د بیت الله په طواف کښې د دے دپاره رمل کوو چه مشرکان خلق د هغوی طاقت اووینی (یعنی اوس ضروری نهٔ دے نهٔ مسنون دے او د هغوی مذهب دے).

بَابُ اسْتِحْبَابِ اسْتِلَامِ الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ فِي الطَّوَافِ

باب: په طواف کښې دواړه رکن یمانی مسحه کول مستحب دی

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ لَمْ أَرَ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَمْسَحُ مِنَ الْبَيْتِ إِلَّا الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ لره ما د دغه دواړو ګوټونو د یمن په طرف په بښکلولو لیدلے دے[2].

---

[1] : د دے حدیثونو نه د رمل مستحب کیدل معلوم شو. او معنی د رمل هم دا ده چه زر زر واړهٔ واړهٔ قدمونه ایخودل. او تویونه وهل ضروری نهٔ دی. چه په دے سره بهادری او چُستی او قوت معلوم شی. او د ا د عمرے په طواف کښې او د حج هم په یو طواف کښې مسنون دی او صحیح قول د شافعی دا دے چه رمل د حج هغه طواف کښې کول پکار دی چه د هغے نه روستو سعی وی او په دے باندے اتفاق دے. چه رمل ښځو لره مسنون نهٔ دے. لکه څنګه چه په صفا مروه کښې هغوی لره منډے وهل ضروری نهٔ دی صرف د عادت موافق تلل ورله کافی دی . او کچرے چا رمل پریخودو نو سنت پاتے شو. او څهٔ جرمانه په دهٔ باندے نشته. او د ځنې مالکی ملګرو په نیز په دهٔ باندے یوه قربانی ده . او د ځنو په نیز نشته. او د سیلاب د راتلو په خائے کښې منډه وهل ضروری دی هلته دوه شنے ستنے لګولے شوے دی او د هغے په مینځ کښې به په منډه سره ځی.او هر کله چه درے چکره د طواف پوره شی نو په څلورو چکرو کښې د عادت موافق ځی. په مینځ کښې به د عادت موافق روان وی او د اوم کال د عمره قضاء حکم دے. او په حجة الوداع کښې حضرت ﷺ پوره په درے چکرو کښې رمل کړے دے. اوس دا روایت د حجة الوداع ناسخ دے او هغه منسوخ. غرض دا چه په دریو چکرو کښې رمل دے او د حضرت ابن عباس قول دے یعنی مذهب دے چه رمل د جناب رسول الله ﷺ د ضرورت په سبب سره وو چه کافرو باندے کمزوری د مسلمانانو ښکاره نهٔ شی او روستو د اوچتیدو د ضرورت نه سنت پاتے نهٔ شو. مګر د جمهورو صحابؤ او تابعینو په نیز همیشه سنت دی په درے چکرو کښې. او د طواف هر یو خل چکر ته شوط وئیلے شی. او د عبد الله بن زبیر مذهب دے چه په اووهٔ واړه چکرو کښې رمل سنت دے او د حسن بصری او ثوری او عبد الملک بن ماجشون په نیز کچرے رمل ترک کړی نو قربانی به ورکوی. او د امام مالک هم مخکښې دغه قول وو. بیائے د دے نه رجوع کړے ده.

[2] : کعبه مربع یعنی څلورو ګوټونو والا یو مستطیل یعنی اوږد مکان دے. او دوه ګوټونه د دے یمن طرفته دی چه ورته رکن یمانیین وئیلے شی او دوه ګوټونه د شام په طرف دی چه ورته شامیین وئیلے شی او د رکن شامی په طرف حطیم واقع دے او دا دواړه شامی ګوټونه نه ښکلولے شی او نه مسه کولے شی بلکه د حطیم د دیوال نه بره طرفته طواف کیږی چه د حطیم ځائے هم په طواف کښې داخل شی ځکه چه دا ځائے په کعبه کښې دننه دے مګر د کعبے د جوړولو په وخت بهر پاتے شوے دے. په خلاف د دواړو یمانی ګوټونو چه هغوی ښکلولے شی

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُ مِنْ أَرْكَانِ الْبَيْتِ إِلَّا الرُّكْنَ الْأَسْوَدَ وَالَّذِي يَلِيهِ مِنْ نَحْوِ دُورِ الْجُمَحِيِّينَ

سالم د خپل پلار نه روايت کړے دے چه هغوی وئیلے دی رسول اللهﷺ د بيت الله د څلورو ګوټونو نه رکن اسود (هغه کومے ته چه مونږ پوره ته رکن یمانی لیکلی دی) او د هغې سره په خواه کښې ګوټ لره چه د بنی جمح د کورونو په طرف دے استلام کولو[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ ذَكَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَسْتَلِمُ إِلَّا الْحَجَرَ وَالرُّكْنَ الْيَمَانِيَ

د عبد الله نه روايت دے چه رسول اللهﷺ به صرف حجر اسود او رکن یمانی لره مسحه کولو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَا تَرَكْتُ اسْتِلَامَ هَذَيْنِ الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيَ وَالْحَجَرَ مُذْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُمَا فِي شِدَّةٍ وَلَا رَخَاءٍ


د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه د کله نه ما رسول اللهﷺ لره لیدلے دے د رکن یمانی او حجر اسود په استلام کولو سره. د هغه وخت نه ما نۀ دے پرېخودے نۀ په سختئ کښې او نۀ په آرام کښې (یعنی کۀ هر څومره ګڼړه چه وی زۀ استلام نۀ پرېږدم)

عَنْ نَافِعٍ قَالَ رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يَسْتَلِمُ

د نافعؒ نه روايت دے وائی چه ما ابن عمرؓ لره اوليدو چه حجر اسود

په یو ګټ کښې حجر اسود لګیدلے دے. او دویم ګټ ته رکن یمانی وئیلے شی. دا دواړه ګوټونه د ابراهیم علیه السلام د جوړولو موافق دی. په خلاف د شامیانو. چنانچه کیفیت د هغه نقشے په دے لاندے نقشه کښې په دماغو کښې ایخودلے شی.

دے دوارو ګوټونو ته رکن شامی وائی



دے دوارو ګوټونو ته رکن یمانی وائی او په طواف کښې یو ښکلولے او نۀ مسه کولے شو

[1] : د استلام معنی مسحه کول. او حجر اسود لره مسحه کول او ښکلول دواړه پکار دی او رکن یمانی لره صرف مسحه کول دی او باقی دواړه کومے نۀ مسحه کولے او نۀ ښکلولے شی ځکه چه هغه په بنائے ابراهیم باندے واقع نۀ دی، دغه مذهب دے د جمهورو او ځنے سلفو دے ښکلولو ته هم مستحب وئیلے دی. چنانچه د امام حسین او امام حسن او ابن زبیر او جابر بن عبد الله او انس بن مالك او عروه بن زبیر او د ابو الشعثاء دغه مذهب ده چه څلور واړه رکنونه د مسحه کړے شی او قاضی ابو الطیب وئیلے دی چه د امت اجماع شوے ده چه دغه دواړه به نۀ مسحه کوی. او وئیلے ئے دی چه په دے کښې د اصحابو مخکښې اختلاف وو بیا د ټولو اجماع راغله چه دغه دواړه ګوټونه به مسحه کوو (نووی)

الْحَجَرَ بِيَدِهِ ثُمَّ قَبَّلَ يَدَهُ وَقَالَ مَا تَرَكْتُهُ مُنْذُ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ

ئے په خپل لاس سره مسحه کړو او لاس ئے بیا ښکل کړو. او اوئے وئیل د کله نه چه ما رسول الله ﷺ په داسې کولو لیدلے دے د هغه وخت نه ما دا نۀ دے پریخودے.

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ الْبَكْرِيِّ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ لَمْ أَرَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُ غَيْرَ الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ

د ابوطفیل بکری نه روایت دے چه اوریدلے دی دابن عباس نه چه وئیلے ئے وو چه ما د رسول الله ﷺ په ښکلولو نۀ دے لیدلے سوا ددغه دوه ؤ رکن یمانیو نه.

بَاب اسْتِحْبَابِ تَقْبِيلِ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ فِي الطَّوَافِ

باب: په طواف کښې حجر اسود لره ښکلول مستحب دی

عَنْ سَالِمٍ أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ قَالَ قَبَّلَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ الْحَجَرَ ثُمَّ قَالَ أَمَ وَاللهِ لَقَدْ عَلِمْتُ أَنَّكَ حَجَرٌ وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ زَادَ هَارُونُ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ عَمْرٌو وَحَدَّثَنِي بِمِثْلِهَا زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ أَسْلَمَ

سالم د خپل پلار نه روایت کړے دے چه ښکل کړو عمر ابن خطاب حجر اسود لره. او اوئے وئیل چه په الله قسم دی چه زۀ پیژنم چه تۀ یوه کڼه ئے. کچرے ما رسول الله ﷺ ستا په ښکلولو نۀ وے لیدلے نو ما به چرته هم نۀ وے ښکل کړے. هارون په خپل روایت کښې دا زیاته کړه چه په دغه مثل ما ته روایت کړے دے زید بن اسلم د خپل پلار اسلم نه.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ رَأَيْتُ الْأَصْلَعَ يَعْنِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يُقَبِّلُ الْحَجَرَ وَيَقُولُ وَاللهِ إِنِّي لَأُقَبِّلُكَ وَإِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ وَأَنَّكَ لَا تَضُرُّ وَلَا تَنْفَعُ وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبَّلَكَ مَا قَبَّلْتُكَ وَفِي رِوَايَةِ الْمُقَدَّمِيِّ وَأَبِي كَامِلٍ رَأَيْتُ الْأُصَيْلِعَ

د عبد الله بن سرجس نه روایت دے چه ما اصلع لره (یعنی چه د چا په سر باندے ویښته نۀ وی) اولیدو. مراد ددے نه حضرت عمر دے (ددے نه معلومه شوه چه لقب د چا کچرے مشهور شی او هغه ئے بد نۀ ګڼړی نو په هغے سره یادول ئے صحیح دی اګر که بل سړے ئے بد ګڼړی) چه ښکلوؤ ئے حجر اسود لره او وئیل ئے چه په الله قسم دے چه زۀ تا ښکلوم او تا پیژنم چه تۀ یوه کڼه ئے نۀ چا ته ضرر رسولے شے نۀ نفع ورکولے شې (ددے قول نه د بت پرستو او قبر پرستو نیا عره شوه چه هغوی قبرونو وغیره لره په دے خیال سره ښکلوی چه دا زمونږ مرادونه

پوره کوی د دے وجے نه چه هر کله چه حجر اسود کوم چه یمین الله دے د هغې ښکلول هم د رسول الله ﷺ په تابعداری سره دی نه په دے خیال چه دا ضرر رسان یا نفع ورکونکے دے. نو بیا نور څیزونه د هغې ښکلول چرته ثابت نه دی بلکه منع دی. د دے خیال ناپاک سره به څنګه جائز شی) او وړاندے مضمون هغه دے کوم چه پورته ذکر شو.

عَنْ سُوَيْدِ بْنِ غَفَلَةَ قَالَ رَأَيْتُ عُمَرَ قَبَّلَ الْحَجَرَ وَالْتَزَمَهُ وَقَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَ حَفِيًّا

د سُوید نه روایت دے چه ما حضرت عمر اولیدو چه هغوی ښکل کړو حجر اسود لره او خان ئے ورسره جخت کړو. او اوئے فرمائیل چه ما رسول الله ﷺ لیدلے دے چه هغوی به ډیر تا لره خوښولو.

عَنْ سُفْيَانَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ قَالَ وَلٰكِنِّي رَأَيْتُ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَ حَفِيًّا وَلَمْ يَقُلْ وَالْتَزَمَهُ

د سفیان نه په دغه اسناد سره دغه روایت مروی دے خو په دے کښں دادی چه ما ابوالقاسم لره خوښونکے اولیدهٔ. او په دے کښں د جخت کولو ذکر نشته[1].

بَابُ جَوَازِ الطَّوَافِ عَلَى بَعِيرٍ وَغَيْرِهِ وَاسْتِلَامِ الْحَجَرِ بِمِحْجَنٍ وَنَحْوِهِ لِلرَّاكِبِ

باب : په سورلئ طواف کول ناجائز دی. او حجر اسود لره په لخته وغیره سره مسحه کولے شی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلَى بَعِيرٍ يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ

د ابن عباس نه روایت دی چه رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښں په اوښں باندے سور وو او طواف ئے کوو او حجر اسود ئے په خپله لخته سره مسحه کولو[2].

عَنْ جَابِرٍ قَالَ طَافَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د جابرؓ نه روایت دے وائی چه طواف اوکړو رسول الله ﷺ د بیت الله

---

[1]: د دے روایتونو نه معلومه شوه چه حجر اسود ښکلول مستحب دی.

[2]: محجن هغه لختے ته وئیلے شی چه د هغې یو طرفته سر کوږ وی چه په اوښں سور بنده د اوښں نه غورځیدلے څیز په هغې سره د زمکے نه اوچتوی. او په دویم سر سره ئے اوښں شړی. او د ګڼړے په وخت کچرے رکن مسحه نه کړے شی نو په لخته وغیره سره ئے مسحه کړی او هغې لره بیا ښکل کړی. او د دے نه معلومه شوه چه حجة الوداع وئیل صحیح دی. او کوم خلق چه د دے نه منع کوی هغوی په غلطئ باندے دی.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَيْتِ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلَى رَاحِلَتِهِ يَسْتَلِمُ الْحَجَرَ بِمِحْجَنِهِ لِأَنْ يَرَاهُ النَّاسُ وَلِيُشْرِفَ وَلِيَسْأَلُوهُ فَإِنَّ النَّاسَ غَشُوهُ

نه پخپله اوښه باندے په حجة الوداع کښې او حجر اسود به ئے پخپله لخته سره مسحه کوؤ دد ے دپاره چه خلق هغوی اووینی او شرف ورته حاصل شی او د هغوی نه د مسائلو تپوس اوکړی خکه چه خلق د هغوی چاپیره شوی وو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلَى رَاحِلَتِهِ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِيَرَاهُ النَّاسُ وَلِيُشْرِفَ وَلِيَسْأَلُوهُ فَإِنَّ النَّاسَ غَشُوهُ وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ خَشْرَمٍ وَلِيَسْأَلُوهُ فَقَطْ

د جابر نه روایت د ے چه نبی ﷺ په حجة الوداع کښې په خپله اوښه د بیت الله او د صفا او د مروه طواف اوکړو. دد ے دپاره چه خلق حضرت ﷺ اووینی. او دد ے دپاره چه حضرت ﷺ اوچت شی. او دد ے دپاره چه خلق د حضرت ﷺ نه مسئلے معلومے کړی. خکه چه خلقو حضرت ﷺ لره پټ کړ ے وو. او د ابن خشرم په روایت کښې د وَلِيَسْأَلُوهُ لفظ نهٔ د ے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ حَوْلَ الْكَعْبَةِ عَلَى بَعِيرِهِ يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ كَرَاهِيَةَ أَنْ يُضْرَبَ عَنْهُ النَّاسُ

د عائشے صدیقے نه روایت د ے چه طواف اوکړو نبی ﷺ په حجة الوداع کښې د کعبے نه چاپیره په خپله اوښه باند ے او رکن به ئے مسحه کوؤ. او دد ے دپاره سور شو چه خلقو لره د خپلے خوانه بیرته کول پر ے نهٔ وځی.

عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ يَقُولُ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ وَيَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ مَعَهُ وَيُقَبِّلُ الْمِحْجَنَ

د ابو الطفیل نه روایت د ے چه ما رسول الله ﷺ اولیدو چه طواف ئے کوؤ او رکن به ئے په خپله لخته سره مسحه کوؤ او هغه لخته به ئے ښکلوله.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّهَا قَالَتْ شَكَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِّي أَشْتَكِي فَقَالَ طُوفِي مِنْ وَرَاءِ النَّاسِ وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ قَالَتْ فَطُفْتُ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَئِذٍ يُصَلِّي إِلَى جَنْبِ

د ام سلمه نه روایت د ے چه ما شکایت اوکړو رسول الله ﷺ ته چه زهٔ ناجوړه یم. حضرت ﷺ اوفرمائیل د ټولو خلقو نه روستو په سورلئ باند ے طواف کوه. پس هغوی اووے چه ما طواف کولو او حضور ﷺ سورة والطور لوستلو په مانځهٔ کښې د بیت الله شریف په

الْبَيْتِ وَهُوَ يَقْرَأُ بِالطُّورِ وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ

بَاب بَيَانِ أَنَّ السَّعْيَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ رُكْنٌ لَا يَصِحُّ الْحَجُّ إِلَّا بِهِ

عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَ قُلْتُ لَهَا إِنِّي لَأَظُنُّ رَجُلًا لَوْ لَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ مَا ضَرَّهُ قَالَتْ لِمَ قُلْتُ لِأَنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ فَقَالَتْ مَا أَتَمَّ اللَّهُ حَجَّ امْرِئٍ وَلَا عُمْرَتَهُ لَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَلَوْ كَانَ كَمَا تَقُولُ لَكَانَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لَا يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَهَلْ تَدْرِي فِيمَا كَانَ ذَاكَ إِنَّمَا كَانَ ذَاكَ أَنَّ الْأَنْصَارَ كَانُوا يُهِلُّونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ لِصَنَمَيْنِ عَلَى شَطِّ الْبَحْرِ يُقَالُ لَهُمَا إِسَافٌ وَنَائِلَةُ ثُمَّ يَجِيئُونَ فَيَطُوفُونَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ يَحْلِقُونَ فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ كَرِهُوا أَنْ يَطُوفُوا بَيْنَهُمَا لِلَّذِي كَانُوا يَصْنَعُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ قَالَتْ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ

يو طرف کښې[1].

باب: د صفا او د مروه په مينځ کښې سعی د حج رکن دے. د دے نه بغير حج نۀ صحيح کيږی

د عروهؓ نه روايت دے چه ما حضرت عائشے ته اووے چه گمان کوم کۀ څوك د صفا او مروه سعی او نۀ کړی نو څۀ ضرر نۀ دے. هغوی اوفرمائيل ولے؟ ما اووے ځکه چه الله تعالی فرمائی چه صفا او مروه د الله پاك د قدرت نخښے دی څۀ گناه نشته په دے کښې په طواف نۀ کولو سره. حضرت عائشےؓ اوفرمائيل چه دا خبره نۀ ده بلکه خبره داده چه حج نۀ شی پوره کيدے د هيچا او نۀ عمره هيچا کومے پورے چه طواف اونۀ کړی د صفا او مروه (يعنی سعی او نۀ کړی) او کچرے داسے وے څنگه چه تۀ وائے نو اللهؐ به داسے فرمائيلے وو چه څۀ گناه نشته په دے کښې په طواف نۀ کولو سره. او تا ته پته شته چه دا ايت څنگه او په څۀ حال کښې نازل شوے دے کيفيت د هغے داد ےچه د جاهليت په ورځو کښې د درياب په غاړه دوه بتان وو د يو نوم اساف او د بل نوم نائله وو او خلق د هغے خواله تلو او بيا به راغلو سعی به ئے کوله په صفا او مروه باندے او بيا به ئے سر او خرئيلو. بيا چه کله اسلام راغے نو مسلمانانو په دغه ځائے کښې سعی کول بد گڼړلو (يعنی دائے د مشرکانو قدم گڼړلو) بيا الله پاك دا ايت نازل کړه ځکه ئے داسے اوفرمائيل چه صفا او مروه د شعائر الله نه دی. او په دے کښې طواف

---

[1]: حضرت ؓ هغوی ته د خلقو نه روستو د طواف حکم ځکه اوفرمائيلو چه ښځو لره د سړو نه لرے اوسيدل لازم دی. بله دا چه خلقو ته د هغوی د خناورو نه تکليف او نۀ رسی. او د دے تولو روايتونو نه ثابته شوه چه په سورلی باندے طواف صحيح دے خاص کر بيمار لره. د دے دپاره بخاری دغسے يوۀ باب قائم کړے دے چه بيمار لره په سورلی باندے طواف صحيح دے.

وَجَلَّ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ إِلَى آخِرِهَا قَالَتْ فَطَافُوا

کول گناه نه ده نو بیا خلقو سعی کول شروع کړه (عرض دا چه اوس سعی واجب ده او ترك د هغې روا نه دے)

عَنْ عُرْوَةَ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ مَا أَرَى عَلَيَّ جُنَاحًا أَنْ لَا أَتَطَوَّفَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ قَالَتْ لِمَ قُلْتُ لِأَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ الْآيَةَ فَقَالَتْ لَوْ كَانَ كَمَا تَقُولُ لَكَانَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لَا يَطَّوَّفَ بِهِمَا إِنَّمَا أُنْزِلَ هٰذَا فِي أُنَاسٍ مِنَ الْأَنْصَارِ كَانُوا إِذَا أَهَلُّوا أَهَلُّوا لِمَنَاةَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَلَا يَحِلُّ لَهُمْ أَنْ يَطَّوَّفُوا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَلَمَّا قَدِمُوا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْحَجِّ ذَكَرُوا ذٰلِكَ لَهُ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى هٰذِهِ الْآيَةَ فَلَعَمْرِي مَا أَتَمَّ اللهُ حَجَّ مَنْ لَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ

د عروه نه روایت دے وائی چه ما حضرت عائشے ته عرض اوکړو چه که څوك طواف او نه کړی په صفا او مروه کښې نو زۀ دا ګڼړم چه څۀ ګناه پکښې نشته هغوی اوفرمائیل ولې؟ ما اووے ځکه چه الله پاك فرمائی چه صفا او مروه د الله د نخښو نه دی بیا ګناه نۀ ده چه څوك په دے کښې طواف اوکړی. نو هغوی اوفرمائیل کچرے دا خبره وے نو الله پاك به داسے فرمائیلے وو چه که څوك طواف نۀ کوی نو څۀ ګناه نشته او دا ایت خو د انصارو په خلقو کښې نازل دے چه هغه خلقو چه به هر کله لبیك وئیلو نو د لبیك آواز به ئے اوکړو د مناة په نوم سره د جاهلیت په ورځو کښې او ووئیل به ئے چه مونږ له په صفا او مروه کښې سعی کول صحیح نۀ دی بیا چه هر کله د رسول الله ﷺ سره حج له راغلو نو دے ذکر اوشو. بیا الله تعالی دا ایت نازل کړو. پس قسم دے خما په ژوند باندے چه پوره به نۀ شی حج د هغه چا چه هغه د صفا او مروه سعی او نۀ کړی[1].

---

[1]: دذے حدیث نه د علم کمال او تفقه ثابت شو زمونږ د مور جناب عائشے چه ښه پوهه هغوی دد ے ایت مطلب باندے په ظاهر کښې خو دا معلومیږی چه سعی نۀ واجب ده نۀ ضروری ده. او نۀ د سبب نزول نه دد ے معلومیږی مگر هغه خلقو چه هر کله په دے کښې عیب اوګنړو نو هله په دے طریقه ارشاد اوشو. غرض دا چه یو شے واجبیږی مگر هر کله چه بنده هغې لره بد اوګنړی نو هغې ته اووائی چه په دے کښې څۀ عیب نشته. غرض ئے دا وی چه د هغۀ خیال رد کړی. او وجوب دد ے چه څنګه دے هم هغسے به وی. او دد ے مثال داسے دے لکه چه چا د مازیګر مونځ نۀ وے کړے او نمر ډوبیدل نزدے شی او هغه دا خیال کوی چه د نمر د ډوبیدو په وخت مونځ روا نۀ دے. نو دۀ ته اووئیلے شی چه دد ے وخته په مونځ کولو کښې څۀ ګناه نشته. نو دد ے مطلب دا نۀ دے چه مونځ واجب او فرض پاتے نۀ شو. او دا چه په پورته روایت کښې ذکر شو چه اساف او نائله دوه بتان وو د دریاب په غاړه دے ته قاضی عیاض غلطه وئیلے ده. او صحیح خبره داده چه په نورو روایتونو کښې راغلے دی چه هغه خلقو به د مناة په نوم سره لبیك وئیلو. او دا مشهوره ده چه مناة یو بت وو چه عمرو بن لحی د دریاب په غاړه اودرولے و په مشلل کښې د قدید سره او دغه شان راغلے دی په روایت د مؤطا کښې. او ازد غسان به ددغو په نوم لبیك وئیلو په حج کښې. او ابن کلیمی وائی چه مناة یو ګټه وه چه هذیل به د هغې عبادت کوو په قدید کښې. او اساف

عن عروة بن الزبير قال قلت لعائشة زوج النبي صلى الله عليه وسلم ما أرى على أحد لم يطف بين الصفا والمروة شيئا وما أبالي أن لا أطوف بينهما قالت بئس ما قلت يا ابن أختي طاف رسول الله صلى الله عليه وسلم وطاف المسلمون فكانت سنة وإنما كان من أهل لمناة الطاغية التي بالمشلل لا يطوفون بين الصفا والمروة فلما كان الإسلام سألنا النبي صلى الله عليه وسلم عن ذلك فأنزل الله عز وجل إن الصفا والمروة من شعائر الله فمن حج البيت أو اعتمر فلا جناح عليه أن يطوف بهما ولو كانت كما

د عروه نه روایت دے چه ما عائشے رض بی بی د رسول الله ﷺ ته اووے چه زهٔ دا گنړم چه څوك سعی او نهٔ کړی په صفا او مروه کښ په هغوی باندے څهٔ گناه نشته. او زهٔ خو پروا نهٔ لرم کهٔ سعی او نهٔ کړم په دے کښ. نو هغوی اوفرمائیل چه بد اووے تا اے خما خوریه (اے خما د خور خویه) رسول الله ﷺ او مسلمانانو تولو سعی کړے ده. او دا سنت دی (دلته د سنتو نه مراد واجب دی) او حقیقت دد ے داد ے چه د عربو دستو وو چه چا به د مناة بدبخت چه په مشلل کښ وو لبیك اووے هغوی به سعی نهٔ کوله په صفا او مروه کښ. بیا چه هر کله اسلام راغے. نو مونږ خلقو د جناب رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو نو الله تعالی دا آیت مبارك نازل کړو چه بیشکه صفا او مروه د الله تعالی د نخښو نه دی. بیا چه څوك حج کوی یا عمره راوړی په هغهٔ باندے څهٔ گناه نشته چه په دے کښ سعی کوی. او کچرے

او نائله دا چرته هم ددریاب په غاړه نه وو بلکه د هغوی حقیقت دا مشهور دے چه هغوی سړے او ښځه وو. اساف څوئ د بقاء وو او نائله لور د زئب وه او هغے ته به ئے بنت سهل هم وئیله او دا دواړه جُرهم قبیلے نه وو. او هغوی په کعبه کښ دننه زنا کړے وه. نو الله تعالی هغوی مسخ کړل او گټے ئے کړے. او د کعبے په خوا کښ په زمکه خښے ولاړے وے. یا په صفا مروه باندے چه خلق ئے وینی او عبرت ترے نه اخلی. او ځنو وئیلے دی چه قصیٔ بن کلاب هغوی د هغه ځائے نه بدل کړو او یوئے د کعبے سره یو ځائے کیښودو. او دویم ئے په زمزم باندے کیښودو او د هغے په خواه کښ ئے قربانی اوکړه او د هغوی د عبادت حکم ئے ورکړو. بیا چه هر کله مکه فتح شوه نبی   هغه مات کړل. او دے قصے له چه کوم مونږ اوږده کړله نو د لوئے فائدے دپاره یعنی چه څنګه حال د اساف او نائلے شو. او عرض د رومبو خلقو دد ے د ایخودلو نه دا وو چه خلق د الله پاك نه اوویریږی او د خانه کعبے ادب کوی. شیطان ترے په څهٔ ورځے پس دا غرض هیر کړو او خپل مطلب ئے رااوویستو چه د هغوی عبادت ئے پرے شروع کړو او مخلوق ئے په شرك کښ اخته کړلو بیا نبی هغے لره مات کړو. چه د شرك بدوالے او د مشرکانو اهانت ظاهر شی. دغه حال دے د صالحینو د قبرونو او د هغوی د اثار او مقاماتو او چلو چه هر کله خلق د هغوی زیارت کول د سنتو موافق پریږدی او د هغوی د قبرونو په لیدو سره د خپل مرگ یادول پریږدی. بلکه هغوی ته سجدے او نذرونه او منتونه او نیازونه اچول شروع کړل او د معبودِ برحق په شان د هغوی عبادت کول شروع کړی. نو متبعانو د نبی   لره ضروری دی چه د هغوی گنبدونه مات کړی. او د هغوی قبرونه د زمکے برابر هوار کړی چه نګونه منهدم او بناؤرے کړی. اګر کهٔ په زرګونو مشرکان پرے را پریوځی او چغے وهی. او په لکونو قبر پرست شور جوړ کړی.

تَقُولُ لَكَانَتْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لَا يَطَّوَّفَ بِهِمَا قَالَ الزُّهْرِيُّ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِأَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ فَأَعْجَبَهُ ذٰلِكَ وَقَالَ إِنَّ هٰذَا الْعِلْمُ وَلَقَدْ سَمِعْتُ رِجَالًا مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ يَقُولُونَ إِنَّمَا كَانَ مَنْ لَا يَطَّوَّفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ مِنَ الْعَرَبِ يَقُولُونَ إِنَّ طَوَافَنَا بَيْنَ هٰذَيْنِ الْحَجَرَيْنِ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ و قَالَ آخَرُونَ مِنَ الْأَنْصَارِ إِنَّمَا أُمِرْنَا بِالطَّوَافِ بِالْبَيْتِ وَلَمْ نُؤْمَرْ بِهِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ قَالَ أَبُو بَكْرِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ فَأُرَاهَا قَدْ نَزَلَتْ فِي هٰؤُلَاءِ وَهٰؤُلَاءِ

دغه خبره وے کومه چه تا اوے نو داسے به ئے فرمائیلے وو چه گناه نشته په هغوی باندے چه سعی نۀ کوی په دے کښ. زهری وائی چه ما دا روایت ابوبکر بن عبد الرّحمٰن ته بیان کړو نو هغوی ډیر غوره کړو او هغوی اووے چه علم د دغے نوم دے (یعنی کوم چه عائشے ددے آیت نه اوګنړو) او وئیلے دی ابوبکر چه ما اوریدلے دی د ډیرو خلقو نه چه د علم خاوندان وو وئیل به ئے چه دا طواف نۀ کولو والا په صفا او مروه کښ د عربو خلق وو چه وئیل به ئے ددے دواړو ګټو په مینځ کښ طواف کول د جاهلیت کار وو. او د نورو خلقو قول وو چه مونږ ته د بیت الله د طواف حکم شوے دے. او په صفا او مروه کښ د منډو وهلو حکم نۀ دے شوے. هر کله چه الله تعالی دا آیت نازل کړو چه صفا او مروه دواړه د الله پاک د نخښو نه دی. دا آیت د آخره پورے ابوبکر اووے چه زۀ هم دغه خیال کوم چه ددغه دواړو جماعتونو په واسطه دا آیت نازل شو.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِهِ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ فَلَمَّا سَأَلُوا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا كُنَّا نَتَحَرَّجُ أَنْ نَطُوفَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا قَالَتْ عَائِشَةُ قَدْ سَنَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّوَافَ بَيْنَهُمَا فَلَيْسَ لِأَحَدٍ أَنْ يَتْرُكَ الطَّوَافَ بِهِمَا

د عروه نه روایت دے چه ما د حضرت عائشے نه تپوس اوکړو. مخکښ هغسے حدیث بیان کړو. مګر په دے کښ اوئیل چه هر کله خلق د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! چه مونږ ته دلته طواف کول بد بنکاره کیږی. نو الله پاک دا آیت نازل کړو. إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ. حضرت عائشه فرمائی چه بیاسنت اوګرځولو دے سعی لره رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. اوس چا لره ددے پریخودل روا نۀ دی.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ

د عروه نه روایت دے چه جناب عائشے صدیقے خبر ورکړے دے

الْأَنْصَارَ كَانُوا قَبْلَ أَنْ يُسْلِمُوا هُمْ وَغَسَّانُ يُهِلُّونَ لِمَنَاةَ فَتَحَرَّجُوا أَنْ يَطُوفُوا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَكَانَ ذَلِكَ سُنَّةً فِي آبَائِهِمْ مَنْ أَحْرَمَ لِمَنَاةَ لَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَإِنَّهُمْ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ حِينَ أَسْلَمُوا فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي ذَلِكَ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ

چه د انصارو او غسان قاعده وه چه هغوی به اسلام نه مخکښ د مناة دپاره لبيك ونيلو او په صفا او مروه کښ به ئے سعی کول بد گڼړل. او دغه طريقه وه د هغوی د پلار نيکهٔ. چه چا به د مناة دپاره احرام اوتړو هغوی به په صفا او مروه کښ سعی نهٔ کوله او هر کله چه هغه خلق مسلمانان شو نو هغوی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو نو الله تعالی دا ايت نازل کړو چه صفا او مروه د الله پاك د نخښو نه دی پس څوك چه د بيت الله حج يا عمره کوی نو هغوی لره ګناه نشته چه سعی اوکړی په دے دواړو کښ. او چا چه په خوشحالئ سره نيکی کړے ده الله پاك د هغې قدردان او پوهه دے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتِ الْأَنْصَارُ يَكْرَهُونَ أَنْ يَطُوفُوا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ حَتَّى نَزَلَتْ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا

د انس نه روايت دے هغوی وائی چه انصارو د صفا او د مروه سعی بده ګڼړله تر دے پورے چه دا ايت نازل شو. إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ الخ

بَابُ بَيَانِ أَنَّ السَّعْيَ لَا يُكَرَّرُ

باب : سعی دوباره نهٔ کيږی

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ لَمْ يَطُفِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا أَصْحَابُهُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ إِلَّا طَوَافًا وَاحِدًا

د جابر نه روايت دے چه سعی نهٔ ده کړے رسول الله ﷺ او نهٔ د هغوی ملګرو په صفا او مروه کښ مګر يو ځل.

مسلم ؒ فرمائيلی دی چه روايت کړے دے موږ ته عبد بن حميد هغوی ته ابن جريج په دغه سند سره په مثل د روايت ذکر کړے شوی. او په دے کښ دادی چه لس ځل ئے طواف کړے وو(يعنی د صفا او مروه کوم چه ئے په رومبی ځل کړے وو)[1].

---

[1]: دد ے حديث نه معلومه شوه چه په حج او عمره کښ سعی بس يو ځل کول پکار دی او دوباره کول نهٔ دی پکار خکه چه بدعت دے او دد ے نه دا هم ثابته شوه چه جناب رسول الله قارن وو ځکه چه قارن لره يو طواف او يوه سعی کافی ده.

بَاب اسْتِحْبَابِ إِدَامَةِ الْحَاجِّ التَّلْبِيَةَ حَتَّى يَشْرَعَ فِي رَمْيِ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ رَدِفْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَاتٍ فَلَمَّا بَلَغَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشِّعْبَ الْأَيْسَرَ الَّذِي دُونَ الْمُزْدَلِفَةِ أَنَاخَ فَبَالَ ثُمَّ جَاءَ فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ الْوَضُوءَ فَتَوَضَّأَ وُضُوءًا خَفِيفًا ثُمَّ قُلْتُ الصَّلَاةَ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ الصَّلَاةُ أَمَامَكَ فَرَكِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَى الْمُزْدَلِفَةَ فَصَلَّى ثُمَّ رَدِفَ الْفَضْلُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ جَمْعٍ

باب: حاجي د جمره عقبه شروع كولو پورے به لبيك وائي

د اسامه بن زيدؓ نه روايت دے چه زۀ د جناب رسول اللهؐ سره په سورلئ باندے روستو يعني شاته كېښناستم. بيا چه هر كله هغوى ګس كندۀ ته اورسيدۀ مزدلفے ته نزدے نو اوښ ئے كېښناوۀ. او بول ئے اوكړے او راغے ما په هغوى باندے اوبۀ واچولے نو هغوى سپك غوندے اودس اوكړو. بيا ما عرض اوكړو چه د مانځۀ وخت راغے يا رسول اللهؐ! حضرتؐ اوفرمائيل مونځ ستاسو مخكښ دے. بيا حضرتؐ سور شو او مزدلفے ته راغے. او مونځ ئے اوكړو او بيائے د مزدلفے په سحر فضل د ځان سره روستو كېښنولو. كريب وئيلے دی چه خبر راكړو ما له عبد الله بن عباس د فضل نه چه جناب رسالت مآب رسول اللهؐ برابر لبيك وئيلو تر دے پورے چه په جمره باندے اورسيدل (يعني جمرے عقبے ته)[1]

---

[1] ددے حديث نه معلومه شوه چه د عرفات نه په سورلئ باندے واپس كيدل مستحب دی. او په يوه سورلئ باندے د دوو كسانو كېښناستل هم روا دی خو هله چه په سورلئ كښ د ورلو طاقت وی. او د بزرګانو شاته په سورلئ باندے كېښناستل د ادب نه خلاف نۀ دی. قوله: ما په هغوى باندے اوبۀ واچولے. ددے نه معلومه شوه چه په اودسۀ كښ كله كله د بل بنده نه مدد اخستل روا دی. مګر عادت د ئے نۀ جوړ وی لكه څنګه چه د هغوى عادت نۀ وو. او اسامه چه كوم اووے چه د مانځۀ وخت راغے. مراد دادے نۀ د مابنام مونځ دے چه هغوى خيال اوكړو چه د عادت خلاف نن مونځ ناوخته شو. نو حضرتؐ اوفرمائيل چه مونځ ستاسو مخكښ دے. يعني نن ورځ د مابنام مونځ په مزدلفه كښ كول مشروع دی. ددے نه معلومه شوه چه د خپل مشر كۀ څۀ هير شو او يادئے كړو ورته لكه چه اسامه خيال اوكړو چه د حضرتؐ مونځ هير شو او ياد ئے كړو ورته او حضرتؐ اوفرمائيل چه نن ورځ په مابنام او ماسخوتن كښ جمع تاخير كول دی. او په مزدلفه كښ جمع كول ددے دواړو مونځونو په اجماع د مسلمانانو سنت دی. او د امام مالك يو قول شاذ دے چه كۀ چا په لاره كښ د مابنام مونځ اوكړو نو راګرځول د هغے واجب دی. او د نورو قول دے چه كۀ په لاره كښ ئے اوكړو نو روا خو دی مګر د سنتو نه خلاف اوشو. او معلومه شوه چه لبيك به حاجی د هغے پورے وائی تر څو چه ئے د جمره عقبے ويشتل شروع كړی نۀ وی د قربانئ د ورځے د سحره پورے او دغه مذهب دے د امام شافعی او ثوری او د ابوحنيفه او ابوثور او جمهورو علماؤ او د صحابؤ او د تابعينو او د تولو فقهاؤ د ښهرونو او د كلو، او د حسن بصری قول دے چه د عرفے د سحره پورے به لبيك وايئ. بيا چه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْدَفَ الْفَضْلَ مِنْ جَمْعٍ قَالَ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ الْفَضْلَ أَخْبَرَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَزَلْ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ

د عبد الله بن عباس نه روایت دے چه نبی ﷺ د خانه شاته کینوو فضل لره د مزدلفے نه او راوی وئیلی دی چه خبر راکړے دے ماته ابن عباس چه خبر ورکړے دے هغوی ته فضل چه نبی ﷺ به لبیك وئیلو د ویشتلو د جمرے عقبے پورے[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ وَكَانَ رَدِيفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي عَشِيَّةِ عَرَفَةَ وَغَدَاةِ جَمْعٍ لِلنَّاسِ حِينَ دَفَعُوا عَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ وَهُوَ كَافٌّ نَاقَتَهُ حَتَّى دَخَلَ مُحَسِّرًا وَهُوَ مِنْ مِنًى قَالَ عَلَيْكُمْ بِحَصَى الْخَذْفِ الَّذِي يُرْمَى بِهِ الْجَمْرَةُ وَقَالَ لَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى الْجَمْرَةَ

د ابن عباس نه روایت دے چه فضل بن عباس کوم چه روستو ناست وو د رسول الله ﷺ نه هغوی فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ د عرفے ماښام او د مزدلفے په سحر خلقو ته اوفرمائیل چه په آرام سره ځئ او حضرت ﷺ خپله اوښه نیولے په دمه دمه روان وو تر دے چه محسّر ته داخل شو او محسّر په منٰی کښ دے نو هلته حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په گوتو سره د ویشتلو گیټے اوچتے کړی په هغے سره جمره اولی او وائی چه رسول الله ﷺ برابر لبیك وئیلو تر دے پورې چه جمرے ئے په گیټو اوویشتله مسلم وئیلے دی او روایت کړے دے مونږ ته دا حدیث زبیر بن حرب هغوی ته ابن جریج هغوی ته ابوالزبیر په دے سند سره مگر په دے کښ ئے دا ذکر نه دے کړے چه جناب رسول مقبول ﷺ وئیلو تر دے پورے چه جمرے ئے په گیټو اوویشتے او دا خبره ئے زیاته بیان کړے ده چه نبی ﷺ اشاره کوله په لاس سره (یعنی کله چه ئے په گیټو اوچتولو حکم ورکوو چه لکه څنګه په گوتو سره نیولی بنده گیټۍ اولی (یعنی داسے گیټۍ اوچتول)

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ وَنَحْنُ بِجَمْعٍ سَمِعْتُ الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ

د عبد الرحمٰن بن یزید نه روایت دے وائی چه عبد الله مونږ ته په مزدلفه کښ وئیلے وو چه ما اوریدلے دی د هغوی نه په چا چه سورهٔ

هر کله د سحر مونځ اوکړی نو موقوف ئے کړی. او د ورځے د نمر د زوال پورے لبیك وایی. او هر کله چه وقوف عرفات شروع کړی نو موقوف دے کړی او د امام احمد او اسحٰق او د بعضے سلفو قول دے چه د کومے پورے د جمرے عقبے نه فارغ نه شی، چرته لاړ نشی او دلیل د امام شافعی او د جمهورو دا حدیث دے، چه کوم اوس ترجمه شوے ده. او راتلونکے روایت هم د دے تائید کونکے دے.

[1]: د احمد او اسحٰق دلیل دغه روایت دے او جمهور د دے جواب ورکوی چه د دے نه مراد دا دے چه د کومے پورے ویشتل ئے شروع نه کړل

الْبَقَرَةِ يَقُولُ فِي هٰذَا الْمَقَامِ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيدَ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ لَبّٰى حِينَ أَفَاضَ مِنْ جَمْعٍ فَقِيلَ أَعْرَابِيٌّ هٰذَا فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ أَنَسِيَ النَّاسُ أَمْ ضَلُّوا سَمِعْتُ الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ يَقُولُ فِي هٰذَا الْمَكَانِ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ

بقره نازله شوے ده چه هغوی به په دے مقام کښې لبیك وئیل[1].

د عبد الرّحمٰن بن يزيد نه روایت دے چه عبد الله بن مسعود لبیك اووے کله چه د مزدلفے نه واپس شو. نو خلقو لووے چه کیدے شی دا خوك د كلي سړے دے (يعني چه اوس لبیك وائی) نو عبدالله بن مسعود اوفرمائیل چه ولے خلقو هیر کړل (يعني سنت د رسول الله ﷺ) یا گمراه شول ما پخپله اوریدلے دی د هغوی نه په چا چه سورة بقره نازل شوے ده چه هغوی په دے ځائے کښې لبیك وئیل.

مسلم وئیلے دی چه دا روایت بیان کړے دے موږ ته حسن حلوانی هغوی روایت کړے دے د یحیٰی بن آدم نه ، هغوی د سفیان ، هغوی د حصین نه په دے اسناد سره. او وئیلے دی مسلم چه روایت کړے دے ما ته یوسف بن حماد ، هغوی ته زیات بکائی، هغوی ته حصین ، هغوی ته کثیر بن مدرك هغوی د کثیر بن مدرك ، د هغوی نه عبد الرّحمٰن بن يزيد او اسود بن يزيد، دواړو وئیلی دی اوریدلے دی موږ د عبد الله بن مسعود نه چه فرمائیلے ئے چه مزدلفه کښې چه اوریدلے دی ما د هغوی نه په چا باندے چه سورة بقره نازل شوے ده په دے ځائے کښې ئے لبیك وے. بیا هغوی لبیك اووے او موږ خلقو هم د هغوی سره لبیك وے.

بَابُ التَّلْبِيَةِ وَالتَّكْبِيرِ فِي الذَّهَابِ

باب: د لبیك او د تكبير د وئیلو بیان هر كله چه د

---

[1]: دغه مذهب دی د جمهورو خنگه چه مخکے ته تیر شو. او دد ے نه معلومه شوه چه سورة بقره او سورة نساء وئیل صحیح دی او هم دغه مذهب دے د جمهورو صحابو او تابعینو . او قول د عبدالله ابن مسعود چه په دے حدیث کښې ذکر شو چه هغوی اووے ما اوریدلے دی دے لره د هغه چا نه چه سورة بقره پرے نازله شوے ده په دے کښې ئے د سورة بقرے تخصیص خکه اوکړو چه په دے کښې زیات مناسك د حج ذکر کړے شوی دی.

مِنْ مِنًى إِلَى عَرَفَاتٍ فِي يَوْمِ عَرَفَةَ

منی نه عرفات ته ځی د عرفې په ورځ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ غَدَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ مِنْ مِنًى إِلَى عَرَفَاتٍ مِنَّا الْمُلَبِّي وَمِنَّا الْمُكَبِّرُ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه مونږ سحر لاړو د منی نه عرفات ته د رسول الله ﷺ سره نو چا به زمونږ نه لبیک وئیلو او چا به تکبیر وئیلو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَدَاةِ عَرَفَةَ فَمِنَّا الْمُكَبِّرُ وَمِنَّا الْمُهَلِّلُ فَأَمَّا نَحْنُ فَنُكَبِّرُ قَالَ قُلْتُ وَاللهِ لَعَجَبًا مِنْكُمْ كَيْفَ لَمْ تَقُولُوا لَهُ مَاذَا رَأَيْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو د عرفې په سحر. نو چا به په مونږ کښې الله اکبر وئیلو او چا به لَآ اِلٰهَ اِلاَّ الله وئیلو او مونږ په هغې کښې وو چا چه به الله اکبر وئیلو. ما هغوی ته اووے چه لویه د حیرانیدو خبره ده. تا د هغوی نه دا تپوس ولے اونۀ کړو چه رسول الله ﷺ د په څۀ کولو اولیدلو (سبحان الله؛ عاشق د سنتو داسے وی چه هغوی اووے چه د رسول الله ﷺ د فعل تپوس د ولے اونۀ کړو چه هغوی څۀ فرمائیل)

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ الثَّقَفِيِّ أَنَّهُ سَأَلَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ وَهُمَا غَادِيَانِ مِنْ مِنًى إِلَى عَرَفَةَ كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ فِي هَذَا الْيَوْمِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَ يُهِلُّ الْمُهِلُّ مِنَّا فَلَا يُنْكَرُ عَلَيْهِ وَيُكَبِّرُ الْمُكَبِّرُ مِنَّا فَلَا يُنْكَرُ عَلَيْهِ

د محمد بن ابوبکر ثقفی نه روایت دے چه هغوی د انس بن مالک نه تپوس اوکړو او هغوی دواړو د منی نه عرفات ته تلو. چه تاسو خلقو څۀ کولو په نن ورځ جناب رسول الله ﷺ سره؟ نو انس اووے چه چا به زمونږ نه لَآ اِلٰهَ اِلاَّ الله وئیلو او هغه به چا نۀ منع کولو. او چا به زمونږ نه الله اکبر وئیلو او هغه هم چا نۀ منع کولو[1].

بَابُ الْإِفَاضَةِ مِنْ عَرَفَاتٍ إِلَى الْمُزْدَلِفَةِ وَاسْتِحْبَابِ صَلَاتَيِ

باب: د عرفات نه مزدلفې ته د واپس کیدو او په دغه شپه د ماښام او ماسختن

---

[1]: دے روایتونو نه معلومه شوه چه تکبیر او تهلیل دواړه مستحب دی کله چه بنده د منی عرفات ته ځی د عرفې په ورځ او لبیک دے دواړو نه غوره دے. او په دے روایتونو سره د هغوی قول رد کړے شو چه وائی چه لبیک وئیل د پریږدی روستو د سحر نه د عرفې په ورځ.

الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ جَمِيعًا بِالْمُزْدَلِفَةِ فِي هٰذِهِ اللَّيْلَةِ

مونځ په یو ځائے د کولو او د مستحب کیدو بیان

عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ دَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَةَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ نَزَلَ فَبَالَ ثُمَّ تَوَضَّأَ وَلَمْ يُسْبِغِ الْوُضُوءَ فَقُلْتُ لَهُ الصَّلَاةَ قَالَ الصَّلَاةُ أَمَامَكَ فَرَكِبَ فَلَمَّا جَاءَ الْمُزْدَلِفَةَ نَزَلَ فَتَوَضَّأَ فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثُمَّ أَنَاخَ كُلُّ إِنْسَانٍ بَعِيرَهُ فِي مَنْزِلِهِ ثُمَّ أُقِيمَتِ الْعِشَاءُ فَصَلَّاهَا وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا

کریب چه د ابن عباس آزاد کړے غلام دے هغوی د اسامه نه روایت کړےدے چه هغوی وئیلی دی واپس شو محمد ﷺ د عرفات نه تردے پورے چه کله د کنډو خواله راغے کوز شو او متیازے ئے اوکړے. او سپک غوندے اودس ئے اوکړو پوره ئے نه ما اووے د مانځهٔ وخت شوے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل مونځ ستاسو مخکښ دے. او بیا سور شو او مزدلفے ته راغے. او کوز شو او په پوره طریقه سره ئے مونځ اوکړو. بیاد مانځهٔ تکبیر او د مانبام مونځ ئے اوکړو. بیا هر یو خل خپل اوښ کوم ځائے چه وو هلته کیښنوؤ. بیا تکبیر اوشو او د ماسختن مونځ ئے اوکړو او د دوے مونځونو په مینځ کښ ئے څهٔ اونهٔ لوستل (یعنی سنت ئے اونهٔ کړل)

عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ انْصَرَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الدَّفْعَةِ مِنْ عَرَفَاتٍ إِلَى بَعْضِ تِلْكَ الشِّعَابِ لِحَاجَتِهِ فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ مِنَ الْمَاءِ فَقُلْتُ أَتُصَلِّي فَقَالَ الْمُصَلَّى أَمَامَكَ

د کریب نه روایت دے چه اسامه بن زید وائی چه واپس شو رسول الله ﷺ د عرفات نه او په یوه کنده کښ کوز شو د حاجت دپاره. او په هغوی باندے د اودس په وخت اوبهٔ واچولے ما اووے تاسو مونځ کوئ نواوئے فرمائیل د مانځهٔ ځائے ستاسو مخکښ دے (یعنی په مزدلفه کښ دے او باقی تفصیل د دے حدیث د اسامه پورته تیر شوے دے)

عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ يَقُولُ أَفَاضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَاتٍ فَلَمَّا انْتَهَى إِلَى الشِّعْبِ نَزَلَ فَبَالَ وَلَمْ يَقُلْ أُسَامَةُ أَرَاقَ الْمَاءَ قَالَ فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ

کریب ، د ابن عباس آزاد کړے شوی غلام نه روایت دے چه ما اوریدلے دی د اُسامه بن زید نه هغهٔ وئیل واپس شو رسول الله ﷺ د عرفات نه بیا هر کله چه اورسیدهٔ یوے کندے ته، نو کوز شو د سورلئ نه او بول ئے اوکړے. (په دے حدیث کښ اسامه نهٔ دی وئیلی چه ما اوبهٔ واچولے او وئیلی دی چه

وُضُوءًا لَيْسَ بِالْبَالِغِ قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ
اللهِ الصَّلَاةَ قَالَ الصَّلَاةُ أَمَامَكَ قَالَ ثُمَّ
سَارَ حَتّٰى بَلَغَ جَمْعًا فَصَلَّى الْمَغْرِبَ
وَالْعِشَاءَ

عَنْ كُرَيْبٍ أَنَّهُ سَأَلَ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ كَيْفَ
صَنَعْتُمْ حِيْنَ رَدِفْتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشِيَّةَ عَرَفَةَ فَقَالَ جِئْنَا
الشِّعْبَ الَّذِيْ يُنِيْخُ النَّاسُ فِيْهِ لِلْمَغْرِبِ
فَأَنَاخَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
نَاقَتَهُ وَبَالَ وَمَا قَالَ أَهْرَاقَ الْمَاءَ ثُمَّ دَعَا
بِالْوَضُوْءِ فَتَوَضَّأَ وُضُوْءًا لَيْسَ بِالْبَالِغِ
فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ الصَّلَاةَ فَقَالَ الصَّلَاةُ
أَمَامَكَ فَرَكِبَ حَتّٰى جِئْنَا الْمُزْدَلِفَةَ فَأَقَامَ
الْمَغْرِبَ ثُمَّ أَنَاخَ النَّاسُ فِيْ مَنَازِلِهِمْ وَلَمْ
يَحُلُّوْا حَتّٰى أَقَامَ الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ فَصَلَّى ثُمَّ
حَلُّوْا قُلْتُ فَكَيْفَ فَعَلْتُمْ حِيْنَ أَصْبَحْتُمْ
قَالَ رَدِفَهُ الْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ وَانْطَلَقْتُ أَنَا
فِيْ سُبَّاقِ قُرَيْشٍ عَلٰى رِجْلَيَّ

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَتَى النَّقْبَ
الَّذِيْ يَنْزِلُهُ الْأُمَرَاءُ نَزَلَ فَبَالَ وَلَمْ
يَقُلْ أَهْرَاقَ ثُمَّ دَعَا بِوَضُوْءٍ فَتَوَضَّأَ
وُضُوْءًا خَفِيْفًا فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ

حضرت ﷺ اوبه اغوښتے او سپک اودس ئے اوکړو. نو ما اووے یا رسول الله ﷺ مونځ؟ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل مونځ ستاسو مخکښې دے بیا حضرت ﷺ لاړ تردے پورے چه مزدلفے ته اورسیده، نو د ماښام او ماسختن مونځ ئے یو ځائے اوکړل.

د کریب نه روایت دے چه هغه د اسامه بن زید نه تپوس اوکړو کله چه ته د رسول الله ﷺ نه روستو سور شوے نو څه څه مو اوکړل د عرفے په ماښام باندے. هغوی اووے چه مونږ د هغه کندے پورے راغلو کوم ځائے چه خلق اوښان کینوی د ماښام د پاره. پس رسول الله ﷺ اوښه کینولو او کوز شو او بول ئے اوکړے. او د اوبو ورکولو ذکر اسامه نه دے کړے. بیائے د اوداسه اوبه اوغوښتے او سپک غوندے اودس ئے اوکړو پوره نه (یعنی هر اندام ئے یو یو ځل اووینځو او ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ مونځ؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل مونځ ستاسو مخکښې دے. بیا حضرت ﷺ سور شو تردے پورے چه مونږ مزدلفے ته راغلو او د ماښام د مانځه تکبیر اوشو او خلقو اوښان کینول او کهولاؤ ئے نه کړل تردے پورے چه د ماسختن تکبیر اوشو او حضرت ﷺ د ماسختن مونځ هم اوکړو او بیائے اوښان کهولاؤ کړل. ما ووے بیا تاسو سحر څه څه اوکړه؟ هغوی اووے چه بیا فضل بن عباس د هغوی سره روستو سور شو او زه د قریشو په لار پیدل روان شوم.

د اسامه بن زید نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هر کله هغه کندے ته تشریف راؤړو چرته چه امیران کوزیږی نو حضرت ﷺ راکوز شو او بول ئے اوکړے. (په دے روایت کښې اسامه نه دی وئیلی چه اوبه ئے واچولے. بیا حضرت ﷺ د اودس اوبه اوغوښتے. او سپک اودس ئے اوکړو ما عرض اوکړو. یا رسول الله ﷺ مونځ. نو حضرت ﷺ

الصَّلَاةَ فَقَالَ الصَّلَاةُ أَمَامَكَ

اوفرمائیل مونځ ستاسو مخکښې دے.

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ كَانَ رَدِيفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَفَاضَ مِنْ عَرَفَةَ فَلَمَّا جَاءَ الشِّعْبَ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَى الْغَائِطِ فَلَمَّا رَجَعَ صَبَبْتُ عَلَيْهِ مِنَ الْإِدَاوَةِ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ رَكِبَ ثُمَّ أَتَى الْمُزْدَلِفَةَ فَجَمَعَ بِهَا بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ

د اسامه بن زید نه روایت دے چه هغه د رسول الله ﷺ سره په اوښه شاته ناست وو کله چه د عرفات نه واپس شو. نو کله چه حضرت ﷺ کندے ته اورسیدۀ، اوښه ئے کیښنوله بیا حضرت ﷺ د لویو بولو دپاره تشریف یوړو. هر کله ئے تشریف راوړو نوما په وړوکی مشک هغوی ته اوبۀ واچولے. حضرت ﷺ اودس اوکړو. بیا سور شو او مزدلفے ته ئے تشریف راوړو او هلته حضرت ﷺ د ماښام او د ماسختن مونځونه یوځائے اوکړل.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَاضَ مِنْ عَرَفَةَ وَأُسَامَةُ رِدْفُهُ قَالَ أُسَامَةُ فَمَا زَالَ يَسِيرُ عَلَى هَيْئَتِهِ حَتَّى أَتَى جَمْعًا

د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د عرفات نه واپس شو. او اسامه د حضرت ﷺ سره روستو سور شو. او اسامه وائی چه حضرت ﷺ روان وو تر دے پورے چه مزدلفے ته اورسیدو.

عَنْ هِشَامٍ قَالَ سُئِلَ أُسَامَةُ وَأَنَا شَاهِدٌ أَوْ قَالَ سَأَلْتُ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْدَفَهُ مِنْ عَرَفَاتٍ قُلْتُ كَيْفَ كَانَ يَسِيرُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَفَاضَ مِنْ عَرَفَةَ قَالَ كَانَ يَسِيرُ الْعَنَقَ فَإِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ

هشام د خپل پلار نه روایت کړے دے چه د هغوی په وړاندے چا د اسامه نه تپوس اوکړو، یا هغوی تر ے پخپله تپوس اوکړو. او جناب رسول الله ﷺ اسامه لره په خپله اوښه سور کړے وود عرفات نه چه رسول الله ﷺ څنګه روان وو؟ یعنی اوښه ئے په کوم حال سره شړله هغوی او وے په خوږ چال سره ئے چلوله بیا هر کله چه به ئے کهولاؤ ځائے بیاموندو یعنی چه هلته به ګڼړه کمه وه نو هلته به ئے لږه شان تیزه کړه.

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِي حَدِيثِ حُمَيْدٍ قَالَ هِشَامٌ وَالنَّصُّ فَوْقَ الْعَنَقِ

د هشام بن عروه نه دد ے اسناد سره دغه مضمون مروی شوے دے مګر د حمید په روایت کښې دا دی چه هشام اووے چه نص کوم چه د اوښے چال دے هغه د عنق نه تیز دے.

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِالْمُزْدَلِفَةِ

د ابوایوب نه روایت دے چه هغوی مونځ اوکړو په حجة الوداع کښې د رسول الله ﷺ سره د ماښام او ماسختن مونځ یو ځائے په مزدلفه کښې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِالْمُزْدَلِفَةِ جَمِيعًا

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهؐ د ماښام او د ماسختن مونځ یو ځائے په جمع سره ادا کړو په مزدلفه کښې.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ جَمَعَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ لَيْسَ بَيْنَهُمَا سَجْدَةٌ وَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثَلَاثَ رَكَعَاتٍ وَصَلَّى الْعِشَاءَ رَكْعَتَيْنِ فَكَانَ عَبْدُ اللهِ يُصَلِّي بِجَمْعٍ كَذٰلِكَ حَتّٰى لَحِقَ بِاللهِ تَعَالٰى

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ د ماښام او ماسختن مونځ یو ځائے اوکړو په مزدلفه کښې. او ددوی په مینځ کښې ئے یو رکعت هم او نۀ کړو. او د ماښام ئے درے رکعته او د ماسختن ئے دوه رکعته اوکړل. او عبد الله به هم د آخره عمره پورے په مزدلفه کښې دغه شان کول.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ أَنَّهُ صَلَّى الْمَغْرِبَ بِجَمْعٍ وَالْعِشَاءَ بِإِقَامَةٍ ثُمَّ حَدَّثَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ صَلَّى مِثْلَ ذٰلِكَ وَحَدَّثَ ابْنُ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَنَعَ مِثْلَ ذٰلِكَ

د سعید بن جبیرؓ نه روایت دے چه هغوی د ماښام او ماسختن مونځ په یو تکبیر سره ادا کړو. او بیان ئے اوکړو چه ابن عمر به هم دغسے کول. او ابن عمر وائی چه رسول الله ﷺ به هم دغه شان کول.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ أَفَضْنَا مَعَ ابْنِ عُمَرَ حَتّٰى أَتَيْنَا جَمْعًا فَصَلّٰى بِنَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ هٰكَذَا صَلّٰى بِنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فِي هٰذَا الْمَكَانِ

د سعید ابن جبیرؓ نه روایت دے وائی چه مونږ واپس شو د عبد الله ابن عمر سره او راغلو مزدلفے ته او هلته مو د ماښام او ماسختن مونځ په یو تکبیر سره ادا کړو او اوئے وئیل چه په دے شان دلته رسول الله ﷺ زمونږ سره مونځ ادا کړے وو[1].

بَابُ اسْتِحْبَابِ زِيَادَةِ التَّغْلِيسِ بِصَلَاةِ الصُّبْحِ يَوْمَ النَّحْرِ بِالْمُزْدَلِفَةِ

باب: سحر وختی د سحر د مونځ د کولو بیان په مزدلفه کښې د اختر په سحر

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى صَلَاةً إِلَّا لِمِيقَاتِهَا إِلَّا صَلَاتَيْنِ صَلَاةَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ

د عبد الله نه روایت دے چه ما به رسول الله ﷺ کله لیدو نو مونځ به ئے په خپل وخت باندے ادا کوو مګر دوه مونځونه یو د ماښام او ماسختن چه په مزدلفه کښې حضرتؐ په یو ځائے ادا کړی او د هغې په

---

[1] ددے روایتونو نه معلومه شوه چه د ماښام په مانځهٔ کښې قصر نشته دے. بلکه هغه به همیشه درے ادا کیږی او سنت طریقه دغه ده چه کرم ځائے کښې جمع شی دوه مونځونه هلته په مینځ کښې سنت نۀ شی کولے.

وَصَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَئِذٍ قَبْلَ مِيقَاتِهَا

سحرئے د سحر مونځ د خپل وخت نه مخکښ ادا کړو.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ قَبْلَ وَقْتِهَا بِغَلَسٍ

د اعمش ؒ نه دد ے اسناد سره دغه روایت مروی د ےاو د ے کښ دا هم دی چه د سحر مونځ ئے د وخت نه مخکښ ادا کړو په تیاره کښ[1].

بَاب اسْتِحْبَابِ تَقْدِيمِ دَفْعِ الضَّعَفَةِ مِنَ النِّسَاءِ وَغَيْرِهِنَّ مِنْ مُزْدَلِفَةَ

باب: کمزورو او ښځو لره د مزدلفے نه وختی روانول مستحب دی

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ اسْتَأْذَنَتْ سَوْدَةُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ تَدْفَعُ قَبْلَهُ وَقَبْلَ حَطْمَةِ النَّاسِ وَكَانَتْ امْرَأَةً ثَبِطَةً يَقُولُ الْقَاسِمُ وَالثَّبِطَةُ الثَّقِيلَةُ قَالَ فَأَذِنَ لَهَا فَخَرَجَتْ قَبْلَ دَفْعِهِ وَحَبَسَنَا حَتَّى أَصْبَحْنَا فَدَفَعْنَا بِدَفْعِهِ وَلَأَنْ أَكُونَ اسْتَأْذَنْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا اسْتَأْذَنَتْهُ سَوْدَةُ فَأَكُونَ أَدْفَعُ بِإِذْنِهِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ مَفْرُوحٍ بِهِ

د حضرت عائشے نه روایت د ے فرمائی چه سوده اجازت اوغوښتو د رسول الله ﷺ نه د مزدلفے په شپه چه ستاسو نه د مخکښ منٰی ته واپس شی او د خلقو د ګنړے ګوڼے نه د مخکښ اوځی. او هغه لره ځربه بی بی وه. راوی وائی چه هغوی هغے ته اجازت ورکړو. او هغه روانه شوله مخکښ د رسول الله ﷺ د واپس کیدونه او مونږه تول پاتے شو ترد ے پور ے چه صبا شو په مونږ باند ے او د حضرت ﷺ سره واپس شو او کچر ے ماهم اجازت غوښتلے و ے د رسول الله ﷺ نه لکه چه سوده اجازت اخستے وو. او د حضرت ﷺ په اجازت سره روانه شوله نو ښه وه. او هغه دد ے نه غوره وه د کومے په سبب سره چه زۀ خوشحالیدمه

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَتْ سَوْدَةُ امْرَأَةً ضَخْمَةً ثَبِطَةً فَاسْتَأْذَنَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُفِيضَ مِنْ جَمْعٍ بِلَيْلٍ فَأَذِنَ لَهَا فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَلَيْتَنِي كُنْتُ

د جناب عائشے صدیقے نه روایت د ے چه هغوی فرمائیلے دی چه سوده ډیره درند بار ے بی بی وه. پس هغوی د رسول الله ﷺ نه اجازت واخستو چه د مزدلفے نه په شپه شپه کښ روانه شی (یعنی منٰی ته) نو حضرت هغے له اجازت ورکړو. پس حضرت

---

[1]: غرض دا مراد نۀ د ے چه د صبا د راختو نه مخکښ ئے اوکړو. بلکه مراد داد ے چه د صبا د راختو نه پس ئے د نورو ورځو نه مخکښ اوکړو. چنانچه په بخاری کښ د عبد الله بن مسعود نه مروی دی په هغوی د صبا د راختو نه پس په مزدلفه کښ مونځ ادا کړو او اوئے وئیل چه رسول الله هم د سحر مونځ په د ے وخت کړ ے وو. چه د جمهورو مذهب د ے. چه په تولو ورځو کښ مونځ په اول وخت کښ ادا کول مستحب دی او خاص کر نن ورځ په مزدلفه کښ نور زیات وختی کول ضروری دی ځکه چه حاجیانو ته نن لمبل وینځل لوئے لوئے کارونه دی او دغه وجه ده د نن ورځے ډیر وختی د مونځ د ادا کولو.

اسْتَأْذَنَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا اسْتَأْذَنَتْهُ سَوْدَةُ وَكَانَتْ عَائِشَةُ لَا تُفِيضُ إِلَّا مَعَ الْإِمَامِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ وَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ اسْتَأْذَنْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا اسْتَأْذَنَتْهُ سَوْدَةُ فَأُصَلِّي الصُّبْحَ بِمِنًى فَأَرْمِي الْجَمْرَةَ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَ النَّاسُ فَقِيلَ لِعَائِشَةَ فَكَانَتْ سَوْدَةُ اسْتَأْذَنَتْهُ قَالَتْ نَعَمْ إِنَّهَا كَانَتْ امْرَأَةً ثَقِيلَةً ثَبِطَةً فَاسْتَأْذَنَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَذِنَ لَهَا

عَنْ عَبْدِ اللهِ مَوْلَى أَسْمَاءَ قَالَ قَالَتْ لِي أَسْمَاءُ وَهِيَ عِنْدَ دَارِ الْمُزْدَلِفَةِ هَلْ غَابَ الْقَمَرُ قُلْتُ لَا فَصَلَّتْ سَاعَةً ثُمَّ قَالَتْ يَا بُنَيَّ هَلْ غَابَ الْقَمَرُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَتِ ارْحَلْ بِي فَارْتَحَلْنَا حَتَّى رَمَتِ الْجَمْرَةَ ثُمَّ صَلَّتْ فِي مَنْزِلِهَا فَقُلْتُ لَهَا أَيْ هَنْتَاهْ لَقَدْ غَلَّسْنَا قَالَتْ كَلَّا أَيْ بُنَيَّ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذِنَ لِلظُّعُنِ

عائشې وفرمائيل كاش چه ماهم د حضرت ﷺ نه اجازت اخستلې وو. د جناب عائشې صديقې عادت دا وو چه هغه به د مزدلفې نه د امام سره واپس كيدله.

د جناب عائشې صديقې نه روايت دے چه ما دا ارزو اوكړه چه ما هم اجازت اختسے وے د رسول الله ﷺ نه لكه څنګه چه سوده اجازت اخستے وو. او د سحر مونځ ئے په منیٰ كښ ادا كړو. او د خلقو د راتول ونه ئے روميے جمره اوويشتله. نو چا حضرت عائشې ته عرض اوكړو چه ولې سوده اجازت اخستے وو؟ هغوى اووے آو. هغه څربه وه. نو د جناب رسول الله ﷺ نه ئے اجازت طلب كړو او هغوى ورته اجازت وركړو.

عبد الله، چه آزاد كړے شوے غلام دے نه روايت دے هغوى وئيلي دى چه ما ته بى بى اسماء اوفرمائيل او هغه د مزدلفې د كور په خوا كښې ولاړه وه. چه ولې سپوږمۍ ډوبه شوه؟ ما اووے نۀ ده نو هغوى لږ ساعت مونځ اوكړو او بيائے ما ته اووے چه اے ځما بچيه! سپوږمۍ ډوبه شوه؟ ما اووے آو. هغوى اوفرمائيل چه ځما سره لاړ شه نو مونږ روان شو تر دے پورے هغوى جمرے لره په ګيټو اوويشتله بيائے مونځ اوكړو په خپل منزل كښ بيا ما هغې ته اووے اے بى بى! مونږ ډير وختى راغلو. هغوى اوفرمائيل پرواه نشته اے ځما خوږه! نبى ﷺ ښځو لره اجازت وركړے دے د وختى تلو[1].

---

[1]: د دے حديثونو د مخه حلقو اختلاف كړے دے. چه د شپے څومره وخت پاتے كيدل پكار دى په مزدلفه كښ پس د امام شافعى قول دے. چه هلته پاتے كيدل د شپے واجب دى. او كۀ څوك دے پريږدى نو په دۀ باندے قربانى واجب ده. مګر حج د هغۀ صحيح دے. او دغه قول دے د كوفې د فقهاؤ. او د يو جماعت قول دے چه هغه سنت دے. چه كۀ چا پريخودو نو د دے د فضيلت نه محروم پاتے شو. باقى نۀ په دۀ ګناه شته نۀ قربانى. او دا قول دے د شافعى او يو جماعت په دے طرف تلے دے. او يو جماعت وئيلي دى چه دغه حج ئے صحيح نۀ دے! ر دا د نخعى وغيره نه منقول دى او دوه سرى شافعى مذهبى هم په دے طرف تلي دى او هغه ابو عبد الرّحمٰن نسے

عَنْ عَطَاءٍ أَنَّ ابْنَ شَوَّالٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى أُمِّ حَبِيبَةَ فَأَخْبَرَتْهُ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ بَعَثَ بِهَا مِنْ جَمْعٍ بِلَيْلٍ

عطاء ته ابن شوال خبر ورکړو چه هغه د اُمّ حبیبې خواله لاړو نو هغوی اوئیل چه زهٔ نبی ﷺ د مزدلفې نه د شپې روانه کړم.

عَنْ سَالِمِ بْنِ شَوَّالٍ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ قَالَتْ كُنَّا نَفْعَلُهُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُغَلِّسُ مِنْ جَمْعٍ إِلَى مِنًى وَفِي رِوَايَةِ النَّاقِدِ نُغَلِّسُ مِنْ مُزْدَلِفَةَ

د سالم بن شوال نه روایت دے چه ام حبیبې اوفرمائیل چه مونږ به همیشه داسې کولو د نبی په زمانه مبارکه کښې چه په تیارهٔ کښې به د مزدلفې نه منیٰ ته تلو. او په روایت کښې کوم چه د ناقد نه مروی دے داسې دی چه مونږ به په تیره کښې د مزدلفې نه وتلو.

عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فِي الثَّقَلِ أَوْ قَالَ فِي الضَّعَفَةِ مِنْ جَمْعٍ بِلَيْلٍ

د عبد الله نه وایت دے وائی چه ما د ابن عباس نه اوریدلے دی چه فرمائیلې ئے وو زهٔ رسول الله ﷺ د سامان سره اولیږلم یائے داسې اووے چه د ضعیفانو سره ئے ملګرے اولیږلم د مزدلفې نه د شپې.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ أَنَا مِمَّنْ قَدَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ضَعَفَةِ أَهْلِهِ

د ابن عباس نه روایت دے چه زهٔ په هغو کښې وم کوم چه مخکښې لیږلی وو رسول الله د خپل کور په ضعیفانو کښې.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَعَثَ بِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَحَرٍ مِنْ جَمْعٍ فِي ثَقَلِ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ أَبَلَغَكَ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ بَعَثَ بِي بِلَيْلٍ

د ابن عباس نه روایت دے چه زهٔ اولیږلم رسول الله ﷺ په آخری شپه د مزدلفې نه د سامان سره . ما اووے ولې تاته خبر رارسیدلے دے چه هغوی داسې وئیلې دی چه زهٔ ئے اولیږلم د شپې نه . روای وائی چه نا مګر داسې ئې اووے چه سحر لره (یعنی د شپې په آخر کښې ئے اولیږلم بیا ما د

دے د شافعي . او د ابوبکر بن خزیمه او عطاء او زاعی نه مروی دی چه هغوی وئیلې دی چه په مزدلفه کښې د شپې پاتے کیدل نهٔ رکن دے نهٔ واجب دی نهٔ سنت نهٔ مستحب بلکه هغه یو منزل دے لکه چه نور منزلونه دی. کهٔ غواړی نو پاتے دِ شی کهٔ نهٔ غواړی نهٔ دِ پاتے کیږي. او دا قول محض باطل دے. او په دے کښې اختلاف دے چه څومره پاتے کیدل یعنی څومره وخت حصاریدل واجب دی. پس صحیح قول د امام شافعي دا دے چه یوه ګهنټه د شپې د نیمې پورې او یو قول د هغوی دا دے چه زیاته حصه د شپې به هلته اوباسی. او دریم قول د هغوی دا دے چه صرف یوه ګهنټه د نیمې شپې د دویمې حصې د دغه شپې یا روستو د هغې نه د نمر د راختو پورې . او د امام مالك نه هم درے روایتونه دی . یو خو دا چه ټوله شپه به هلته تیروی. دویم دا چه زیاته حصه د شپې به تیروی دریم دا چه لږ شان وخت د شپې به تیروی. او دد ے حدیث نه خوش خلقي د حضرت اسماء او د هغه زمانې د ښځو معلومیږي. چه هغوی به خپلو غلامانو لره د خامنو برابر ساتل په خبرو اترو کښې. نهٔ دا چه د هغوی سره به ئې د سپکاوی خبرے کولې او بدعمله او ناتجربه کار به ئې ورته وئیلو. او وئیلې دی مسلم روایت کړے دے ما ته دا حدیث علي بن خشرم هغوی ته عیسیٰ هغوی ته ابن جریج په دغه سند سره . او د هغوی په روایت کښې دا دی. چه اسماء اوفرمائیل اے بچیه! نبی ﷺ اجازت ورکړے وو خپلې بی بی صاحبې ته.

طَوِيلٍ قَالَ لاَ إِلاَّ كَذٰلِكَ بِسَحَرٍ قُلْتُ لَهُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَمَيْنَا الْجَمْرَةَ قَبْلَ الْفَجْرِ وَأَيْنَ صَلَّى الْفَجْرَ قَالَ لاَ إِلاَّ كَذٰلِكَ

هغوی نه تپوس اوکړو چه ابن عباس دا هم وئیلے دی چه په ګیتو اوېشته مونږ جمرے لره د سحر نه مخکښ او مونځ ئے کوم ځائے اوکړو. هغوی اووے نا دائے څهٔ نهٔ دی وئیلی. فقط دومره ئے وئیلے دی کوم چه پورته اووئیلے شو)

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يُقَدِّمُ ضَعَفَةَ أَهْلِهِ فَيَقِفُونَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ بِالْمُزْدَلِفَةِ بِاللَّيْلِ فَيَذْكُرُونَ اللهَ مَا بَدَا لَهُمْ ثُمَّ يَدْفَعُونَ قَبْلَ أَنْ يَقِفَ الْإِمَامُ وَقَبْلَ أَنْ يَدْفَعَ فَمِنْهُمْ مَنْ يَقْدَمُ مِنًى لِصَلاَةِ الْفَجْرِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَقْدَمُ بَعْدَ ذٰلِكَ فَإِذَا قَدِمُوا رَمَوْا الْجَمْرَةَ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ أَرْخَصَ فِي أُولٰئِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سالم بن عبد الله خبر ورکړے دے چه عبد الله بن عمر د خپلو ملګرو نه ضعیفو خلقو لره مخکښ اولیږل چه هغوی به په مشعر الحرام کښ چه په مزدلفه کښ دے وقوف اوکړی د شپے او الله پاک به یاد کړی د کومے پورے چه غواړی بیا به د امام د وقوف کولو نه مخکښ واپس شی او د امام د واپس کیدو نه روستو خو به څوک د هغوی د سحر د مانځهٔ په وخت منی ته اورسیدلو او څوک به د هغوی نه روستو اورسیدلو او ابن عمر به دا وینا کوله چه جناب رسول الله ﷺ داسے ضعیفانو ته ددے اجازت ورکړے دے[1].

بَاب رَمْيِ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي وَتَكُونُ مَكَّةُ عَنْ يَسَارِهِ وَيُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ

باب: جمرے عقبے لره د بطن وادی نه ویشتل پکار دی. هر کله چه مکه ګس طرفته وی. او د هرے ګیتیٔ سره تکبیر وئیل پکار دی

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ رَمَى عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ قَالَ فَقِيلَ لَهُ إِنَّ أُنَاسًا يَرْمُونَهَا مِنْ فَوْقِهَا فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ هٰذَا وَالَّذِي لاَ

د عبد الرحمٰن نه روایت دے وائی چه عبد الله ابن مسعود به د آخرے جمرے ګیتیٔ د نالے د مینځ نه ویشتلے او په ګیتیٔ به ئے الله اکبر وئیلو. نو هغوی ته چا اووے چه خلقو خو به د پورته نه دے لره په ګیتو ویشتلو. نو عبد الله اوفرمائیل چه قسم دے په هغه معبود چه د هغهٔ نه سوا بل معبود نشته چه دا مقام (د کوم

[1]: المشعر الحرام د فقهاؤ په نز یو غر دے په مزدلفه کښ. او د مفسرینو په نز او اهل سیرو په نز دا ټوله مزدلفه ده او ددے تولو روایتونو نه معلومه شوه چه ښځو او جینکو لره مخکښ په شپه کښ لیږل د مزدلفے نه چه د ګڼړے ګوڼړے د حاجیانو نه مخکښ د شیطانانو د ویشتلو نه فارغ شی روا دی.

إِلٰه غَيْرُهُ مَقَامُ الَّذِيْ أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ

خائے نه چه ما ویشتلی دی، د هغه چا دے چه سورة بقره پرےنازل شوے ده (یعنی د نبی ﷺ).

عَنِ الْأَعْمَشِ قَالَ سَمِعْتُ الْحَجَّاجَ بْنَ يُوسُفَ يَقُوْلُ وَهُوَ يَخْطُبُ عَلَى الْمِنْبَرِ أَلِّفُوا الْقُرْآنَ كَمَا أَلَّفَهُ جِبْرِيلُ السُّوْرَةَ الَّتِيْ يُذْكَرُ فِيهَا الْبَقَرَةُ وَالسُّوْرَةَ الَّتِيْ يُذْكَرُ فِيهَا النِّسَاءُ وَالسُّوْرَةَ الَّتِيْ يُذْكَرُ فِيهَا آلُ عِمْرَانَ قَالَ فَلَقِيتُ إِبْرَاهِيمَ فَأَخْبَرْتُهُ بِقَوْلِهِ فَسَبَّهُ وَقَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ يَزِيدَ أَنَّهُ كَانَ مَعَ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ فَأَتَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ فَاسْتَبْطَنَ الْوَادِيَ فَاسْتَعْرَضَهَا فَرَمَاهَا مِنْ بَطْنِ الْوَادِيْ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ قَالَ فَقُلْتُ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ إِنَّ النَّاسَ يَرْمُوْنَهَا مِنْ فَوْقِهَا فَقَالَ هٰذَا وَالَّذِيْ لَا إِلٰهَ غَيْرُهُ مَقَامُ الَّذِيْ أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ

د اعمش نه روایت دے وائی چه ما د حجاج بن یوسف نه واؤریدل چه هغهٔ په خطبه کښں وئیل چه د قران شریف هغه ترتیب اوساتئ کوم چه جبرائیل علیه السلام ساتلے دے. چه هغه سورت د مخکښں وی کوم کښں چه د بقری ذکر دے. بیا هغه چه په هغې کښں د نساء ذکر دے. بیا هغه چه په هغې کښں د الِ عمران ذکر دے. اعمش وائی چه بیا زهٔ د ابراهیم سره میلاؤ شوم او هغوی ته مې د دے خبرے خبر ورکړو. نو هغوی هغهٔ ته بد اووے. او بیائے اووے چه روایت کړے دے ما ته عبد الرّحمٰن بن یزید چه هغه د عبد الله بن مسعود سر او په جمره عقبه باندے راغې او د نالۍ په مینځ کښں اودریدو او جمرهٔ ئے مخے ته کړه. او اووهٔ ګیټئ ئے اوویشته د نالئ د مینځ نه او په هره ګیټئ به ئے الله اکبر وئیلو. راوی وائی چه بیا ما هغوی ته اووے چه اے ابوعبدِ الرّحمٰن (دا د عبد الله بن مسعود کنیت دے) خلق خو پورته اودریږی او ګیټئ اولی نو هغوی اووے چه دا ځائے په هغه معبود قسم چه د هغهٔ نه سوا بل معبود نشته دے. د هغه چا دے په چا باندے چه سورة بقره نازل ده[1].

[1]: د حجاج بن یوسف عرض کچرے د ترتیب نه ترتیب د آیتونو وی نو صحیح دے چه ترتیب د آیاتونو پخپله نبی کړے دے او توقیفی دے یعنی د شارع د طرفنه دے چه په دے کښں د چا رائے ته دخل نشته. او په دے باندے اجماع دهٔ. د ټولو مسلمانانو او کچرے ترتیب د سورتونو مراد وی نو دا ترتیب د امامانو او قاریانو په په رائے سره شوے دے او د شارع د طرفنه نه دے. او قاضی عیاضؒ وئیلے دی چه دلته په حجاج سورة النساء لره د آل عمران نه مخکښں ذکر کړو نو د ادلیل دے ددے چه هغو ته ترتیب د آیاتونو مقصود وو چه هغه ترتیب د آیاتونو بدل نهٔ کړی خکه چه دا شارع د طرنه دے. او اعمش چه ابراهیم ته دا خبره بیان کړه نو د هغوی غرض دا وو چه سورة بقره یا سورة النساء په قول د حجاج صحیح نهٔ دی په دے باندے هغوی رد اوکړو. او داسے روایت ئے اوکړو چه عبد الله ابن مسعود وئیلے دی پخپله چه سورة بقرے ته خو دا وئیل روا دی او ددے روایت نه معلومه شوه چه د جمرے عقبې ویشتل په دے شان مستحب دی چه د نالۍ په ویخ کښں د جمرے لاندے اودریږی او مکه ئے ګس طرفته راشی او منی ئے ښی طرفته راشی او د جمرے عقبې طرفته مخ کړی او ووهٔ ګیټئ اولی. او په هره ګیټئ باندے الله اکبر وائی دغه صحیح مذهب دے د

عَنِ الْأَعْمَشِ قَالَ سَمِعْتُ الْحَجَّاجَ يَقُولُ لَا تَقُولُوا سُورَةَ الْبَقَرَةِ وَاقْتَصَّا الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ مُسْهِرٍ

د اعمش نه روایت دے چه ما د حجاج نه اوریدلے دی چه دا سے مه وایه سورة بقره. او بیان ئے کړو حدیث په شان د ابن مسهر یعنی هغه روایت کوم چه پورته تیر شو.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيدَ أَنَّهُ حَجَّ مَعَ عَبْدِ اللهِ قَالَ فَرَمَى الْجَمْرَةَ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ وَجَعَلَ الْبَيْتَ عَنْ يَسَارِهِ وَمِنًى عَنْ يَمِينِهِ وَقَالَ هٰذَا مَقَامُ الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ

د عبد الرّحمٰن بن یزید نه روایت دے چه حج او کړو مونږ د عبد الله سره او جمره مو په اووګیټو اوویشته او کعبه مو ګس طرفته کړه او منی مو ښی طرفته کړه. او اوئے وئیل چه دا ځائے د هغه چا دے په چا باندے چه سورة بقره نازل ده.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَلَمَّا أَتَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ

د شعبه نه په دے اسناد سره دغه روایت مروی دے او په دے کښ دا سے دی چه په جمره عقبه باندے راغے. باقی مضمون دوړاندے په شان دے.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ قِيلَ لِعَبْدِ اللهِ إِنَّ نَاسًا يَرْمُونَ الْجَمْرَةَ مِنْ فَوْقِ الْعَقَبَةِ قَالَ فَرَمَاهَا عَبْدُ اللهِ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي ثُمَّ قَالَ مِنْ هَا هُنَا وَالَّذِي لَا إِلٰهَ غَيْرُهُ رَمَاهَا الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ

د عبد الرّحمٰن نه روایت دے چه عبد الله ته اووئیلے شو چه خلق د ناڵئ د پاسه نه جمرے اولی. عبد الرّحمٰن اووئیل چه عبد الله د وادئ د بطن ویشتل کړی دی. بیا ئے اوے چه په هغه ذات قسم چه د هغهٔ نه سوا بل معبود نشته، دد ے ځائے نه هغه ذات ویشتل کړی دی په چا چه سورة بقره نازله شوے ده.

بَابُ اسْتِحْبَابِ رَمْيِ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ رَاكِبًا

باب: د قربانئ په ورځ رَمی د جمرے عقبے په حالت د سوریدو کښ کول مستحب دی

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا يَقُولُ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي عَلَى رَاحِلَتِهِ يَوْمَ النَّحْرِ وَيَقُولُ لِتَأْخُذُوا مَنَاسِكَكُمْ فَإِنِّي لَا

د ابوالزبیرؒ نه روایت دے چه هغوی د جابرؓ نه اوریدلے دی چه هغی وفرمائیل وو چه ما اولیدو نبی ﷺ لره چه جمره عقبه ئے ویشتله د خپلے اوښے نه د قربانئ په ورځ او فرمائیل ئے چه ایزده کړئ ځما نه د

شافعیؒ او دغه قول دے د جمهورو. او دد ے روایت نه د هغه جاهلانو بے وقوفی هم معلومه شوه کوم چه په مانځهٔ کښ د سورتونو ترتیب لره واجب ګنړی. او کچرے چا په اول رکعت کښ روستے سورت اولوستو او په دویم کښ ئے روميے نو اعتراض په دے ترتیب سره سورتونو نازل شوے دی په کوم ترتیب سره چه په مصحف عثمانی کښ موجود دی. او بله دا چه د هر رکعت حکم جدا جدا دے. او هر یو قرامت جدا دے. بیا په دے کښ ترتیب څهٔ معنی لری؟

أَدْرِي لَعَلِّي لَا أَحُجُّ بَعْدَ حَجَّتِي هٰذِهِ

عَنْ يَحْيَى بْنِ حُصَيْنٍ عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَ سَمِعْتُهَا تَقُولُ حَجَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ فَرَأَيْتُهُ حِينَ رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ وَانْصَرَفَ وَهُوَ عَلَى رَاحِلَتِهِ وَمَعَهُ بِلَالٌ وَأُسَامَةُ أَحَدُهُمَا يَقُودُ بِهِ رَاحِلَتَهُ وَالْآخَرُ رَافِعٌ ثَوْبَهُ عَلَى رَأْسِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الشَّمْسِ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْلًا كَثِيرًا ثُمَّ سَمِعْتُهُ يَقُولُ إِنْ أُمِّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُجَدَّعٌ حَسِبْتُهَا قَالَتْ أَسْوَدُ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللهِ تَعَالَى فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا

عَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَتْ حَجَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ فَرَأَيْتُ أُسَامَةَ وَبِلَالًا وَأَحَدُهُمَا آخِذٌ بِخِطَامِ نَاقَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ رَافِعٌ ثَوْبَهُ يَسْتُرُهُ مِنَ الْحَرِّ حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ

خپل حج مناسك خكه چه زهٔ نه پوهيږم چه د ے نه پس حج اوكړم[1].

د يحيٰى نه روايت د ے چه هغهٔ د خپلې نيا ام الحصين نه اوريدلے دي چه فرمائيلې ئې وو چه حج اوكړو ما د رسول الله ﷺ سره په حجة الوداع كښې نو ما حضرت ﷺ اوليدهٔ چه جمره عقبه ئې په ګيټو اوويشتله او واپس شو په داسې حال كښې چه سور وو په خپله اوښه باند ے او د حضرت ﷺ سره بلال او او اسامه هم وو. يو خو د حضرت ﷺ د اوښې واګې راښكود ے نيولې. او بل خپله كپړه د رسول الله ﷺ په سر مبارك باند ے نيولې وه. د ګرمئ په وجه سره. بيا ام حصين اوو ے چه حضرت ﷺ ډير ے خبر ے اوفرمائيلې او بيا ما واوريدل چه فرمائيل ئې كچر ے پتاسو باند ے يو غلام غوږونه پر ے شو ے حاكم شي. زهٔ خيال كوم چه ام حصين دا هم اوو ے چه تور غلام وي. او اوئې وئيل چه تاسو ته د الله د كتاب موافق حكم دركوي نو هم د هغهٔ اورئ او تابعداري ئې كوئ.

د ام الحصين رضي الله عنها نه روايت د ے چه ما حج اوكړو د نبي ﷺ سره حجة الوداع نو اوليدل ما اسامه او بلال. يو په دوي كښې د نبي ﷺ د اوښې مهار نيولې وو. او دويم خپله كپړه ئې نيولې وه حضرت ﷺ لره ئې د ګرمئ نه پرده كړ ے ده. ترد ے پور ے چه حضرت ﷺ د جمر ے عقبې رمي اوكړه.

---

[1]: دغه مذهب د ے د امام شافعي چه څوك په سورلئ لاړ شي منى ته اورسي. هغه د د دغه سورلئ نه ګيټئ اولي. او كچر ے د سورلئ نه كوز شو او اوئې ويشتلے نو هم روا دي. او څوك چه منى ته پيدل راشي هغه له په منى كښې پيدل ويشتل د جمرو پكار دي د قربانئ په ورځ او روستو د ے نه د ايام تشريق په دوو ورځو كښې يعني يولسمه او دولسمه كښې خو سنت دغه دي چه تولې جمر ے پيدل اولي او په دريمه ورځ ئې د سورلئ نه اولي او دغه شان په سورلئ سور لاړ شي دغه مذهب د ے د شافعي او مالك اود غيرهما. او د احمد او اسحق په نزد په يو نحر كښې پيدل ويشتل مستحب دي. او ابن منذر وئيلے دي چه ابن عمر او ابن زبير او سالم به پيدل جمر ے ويشتلے او په د ے باند ے اجماع ده چه په كومه طريقه ئې اولي صحيح دي. خو چه ګيټئ په جمرو اولګي.

وئیلي دي مسلمؒ چه نوم د ابوعبد الرحیم خالد بن ابو یزید دے او هغه ماما دے د محمد بن سلمه او روایت کړے دے هغوی ته وکیع او حجاج اعور.

بَاب اسْتِحْبَابِ كَوْنِ حَصَى الْجِمَارِ بِقَدْرِ حَصَى الْخَذْفِ

باب : ګیټئ د متر د دانې برابر کیدل مستحب دی

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَى الْجَمْرَةَ بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه ما رسول اللهﷺ لیدلے دے چه هغوی جمره په داسې ګیټو ویشتله چه په تینګرئ غورځولے شوے[1].

بَاب بَيَانِ وَقْتِ اسْتِحْبَابِ الرَّمْيِ

باب : د رمی دپاره کوم وخت مستحب دے

عَنْ جَابِرٍ قَالَ رَمَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ ضُحًى وَأَمَّا بَعْدُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ

د جابر نه روایت دے چه رسول اللهﷺ ګیټئ اوویشتے په جمره باندے د نحر یعني قربانئ په ورځ د څاښت په وخت کښې. او د هغے نه پس په نورو ورځو کښې چه کله به نمر زوال اوموندو[2].

---

[1]: نووئؒ فرمائیلي دي چه دد ے نه ثابته شوه چه مستحب دي چه ګیټئ د لوبیا ددانې برابر وي او که دد ے نه لوئے اولي هم روا دي مګر مکروه دي.

[2]: نووي فرمائیلي دي چه دغه مستحب دي چه په لسم تاریخ د څاښت په وخت جمره اولي. او د ایام تشریق نه په دوه ورځو یعني په یولسم تاریخ ئے د نمر د زوال موندو نه پس اولي. او په دیارلسم تاریخ هم دغه شان اوکړي. او مذهب د شافعي او مالك او احمد او جمهورو علماؤ دادے چه په دے دریو ورځو د تشریق کښې مخکښې د زوال نه ویشتل د جمرو روا نه دي. او سنت د هغوی دا حدیث دے. او د طاؤسؒ او عطاءؒ قول دے چه په دے درے ورځو کښې هم مخکښې د زوال نه روا دي. او ابوحنیفه او اسحق بن راهویه وئیلي دي چه البته په دریمه ورځ مخکښې روا دي. او دلیل د شافعيؒ خو دغه روایت دے. او رسول الله خو فرمائیلي دي چه طریقے د حج ځما نه ایزده کړئ. پس په کوم وخت چه هغوی کړے دي هغه اولي دے. او جمرے درے دي او مستحب دي چه هر کله رومبئ جمره اولي نو لږ ساعت به مخ په قبله اودریږي دُعا به اوغواړي او ددریمے جمرے د ویشتلو نه پس به نه حصاریږي. داسے مروي شوي دي په صحیح روایت کښې د ابن عمر نه او دغه مضمون دي په بخاري کښې او په دغه دُعا کښې رفع یدین یعني لاسونه پورته کول مستحب دي. او د شافعي او جمهورو علماؤ مذهب دے. او د امام مالك قول دے چه که چا دغه وقوف او دُعا پریخودله نو څۀ ګناه پرے نشته. مګر د ثوري نه منقول دي چه هغه به په چا فقیر باندے غله اوخوروي یا به یوه قرباني اوکړي. او وئیلي دي مسلم چه روایت کړے دے

بَاب بَيَانِ أَنَّ حَصَى الْجِمَارِ سَبْعٌ

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الِاسْتِجْمَارُ تَوٌّ وَرَمْيُ الْجِمَارِ تَوٌّ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ تَوٌّ وَالطَّوَافُ تَوٌّ وَإِذَا اسْتَجْمَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَجْمِرْ بِتَوٍّ

باب: د کیتو شمار اووۀ دے

د جابر نه روایت دے چه رسول الله فرمائیلی دی چه لوټے اخستل د استنجا دپاره طاق دی. او کیتۍ د جمرو طاق دی. او سعی د صفا او مروه طاق ده او طواف د کعبے طاق دے (یعنی دا درے واړه اووۀ اووۀ دی) او ددے دپاره ضروری ده چه څوك د استنجا دپاره لوټے اخلی نو چه طاق اخلی (یعنی درے یا پنځۀ په کومه چه پاکوالے بنۀ راشی یعنی که پاکوالے په څلورو راشی نو هم د ورسره پنځمه ملګری کړی چه طاق شی) او څنوبے وقوفو د سفهاؤ په نوم فقهاؤ چه کوم دا لیکلی دی چه لوټے به د خپل طهارت په وخت دری خله څنډے دا بدعت او بے اصل او لغوه حرکت دے. او طاق اخستل د لوټو د جمهور علماؤ په نز مستحب دی.

بَاب تَفْضِيلِ الْحَلْقِ عَلَى التَّقْصِيرِ وَجَوَازِ التَّقْصِيرِ

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ قَالَ حَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَلَقَ طَائِفَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ وَقَصَّرَ بَعْضُهُمْ قَالَ عَبْدُ اللهِ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَحِمَ اللهُ الْمُحَلِّقِينَ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ قَالَ وَالْمُقَصِّرِينَ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللهِ

باب: سر خرئیل غوره دی او لنډول جائز دی

د نافع نه روایت دے چه رسول الله ﷺ سر اوخرئیلو او یو جماعت د هغوی د اصحابو نه هم اوخرئیلو او بعضو صرف ویښتۀ کټ کړل. عبدالله وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه الله د رحم اوکړی په سر د خرئیلو والا باندے یو ځل ئے دُعا اوکړه یا دوه ځله بیائے اوفرمائیل چه په قینچی کولو والا باندے هم.

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دُعا اوکړه چه یا الله رحم اوکړه په سر خرئیلو والؤ باندے خلقو عرض اوکړو چه په قینچی کولو والا باندے یا رسول الله ﷺ نو بیا حضرت ﷺ دُعا

مونږ ته دغه حدیث علی او خبر ورکړے دے هغوی ته عیسیٰ او خبر ورکړے ؤ الخ هغوی ته ابن جریج هغوی ته ابوالزبیر چه هغوی اوریدلے دی د جابر بن عبد الله نه چه فرمائیلے وو چه مثل د ذکر شوی حدیث.

قَالَ اللّٰهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِيْنَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِيْنَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ وَالْمُقَصِّرِيْنَ

اوکړه چه یا الله رحمت اوکړه په سر خرئیلو والاباندے. خلقو عرض اوکړو چه په کټ کولو والاباندے هم یا رسول الله ﷺ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په کټ کولو والاباندے هم.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَحِمَ اللّٰهُ الْمُحَلِّقِيْنَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِيْنَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ رَحِمَ اللّٰهُ الْمُحَلِّقِيْنَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِيْنَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ رَحِمَ اللّٰهُ الْمُحَلِّقِيْنَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِيْنَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ وَالْمُقَصِّرِيْنَ

د ابن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. الله د په سر خرونکو رحمت اوکړی. خلقو عرض اوکړو او په کټ کونکو یا رسول الله ؛ حضرت ﷺ اوفرمائیل . الله تعالی دے په خرونکو رحمت اوکړی. خلقو عرض اوکړو او په کټ کونکو یا رسول الله ﷺ ، حضرت ﷺ اوفرمائیل الله د په خرونکو رحمت اوکړی. خلقو بیا عرض اوکړو او په کټ کونکو یا رسول الله ﷺ ، نو حضرت ﷺ اوفرمائیل په کټ کونکو باندے هم.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِيْنَ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلِلْمُقَصِّرِيْنَ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِيْنَ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلِلْمُقَصِّرِيْنَ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِيْنَ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلِلْمُقَصِّرِيْنَ قَالَ وَلِلْمُقَصِّرِيْنَ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دُعا اوکړه چه یا الله بخنه اوکړه په سر د خرئیلو والاباندے . چا عرض اوکړو چه په کټ کولو والاباندے یا رسول الله ؛ بیائے اوفرمائیل یا الله بخښنه اوکړه سر د خرئیلو والاته بیا عرض اوشو چه یا رسول الله ﷺ په ویښتو کټ کولو والاباندے هم. بیائے اوفرمائیل چه یا الله بخښنه اوکړه سر خرئیلو والاته بیا خلقو عرض اوکړو چه په ویښتو کټ کولو والا باندے هم. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په کټ کولو والاباندے هم.

وئیلے دی مسلم روایت کړے دے ما ته امیه هغوی ته یزید، هغوی ته روح هغوی ته علاء هغوی ته د هغهٔ پلار هغوی ته ابوهریره هغوی روایت کړے دے د جناب رسول الله ﷺ نه هغه مضمون کوم چه ابوزرعه د ابوهریره نه پورته روایت کړو.

عَنْ يَحْيَى بْنِ الْحُصَيْنِ عَنْ جَدَّتِهِ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ

یحیٰی د خپلے نیا نه روایت کړے دے چه هغوی په حجة الوداع کښ د نبی ﷺ نه واوریدل چه هغوی د سر خرئیلو والاد پاره درے خله

الْوَدَاعِ دَعَا لِلْمُحَلِّقِينَ ثَلَاثًا وَلِلْمُقَصِّرِينَ مَرَّةً وَلَمْ يَقُلْ وَكِيعٌ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ

دُعا اوکړه او د وېښتو کټ کولو والاد پاره ئے يو خل او د وکيع په روايت کښ د حجة الوداع لفظ نشته دے[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ حَلَقَ رَأْسَهُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ سر خرئيلے وو په حجة الوداع کښ.

بَاب بَيَانِ أَنَّ السُّنَّةَ يَوْمَ النَّحْرِ أَنْ يَرْمِيَ ثُمَّ يَنْحَرَ

باب : د قربانۍ په ورځ سنت دا دی چه اول رمی اوکړی بيا قرباني اوکړی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى مِنًى فَأَتَى الْجَمْرَةَ فَرَمَاهَا ثُمَّ أَتَى مَنْزِلَهُ بِمِنًى وَنَحَرَ ثُمَّ قَالَ لِلْحَلَّاقِ خُذْ وَأَشَارَ إِلَى جَانِبِهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ الْأَيْسَرِ ثُمَّ جَعَلَ يُعْطِيهِ النَّاسَ

د انس بن مالك نه روايت دے چه رسول الله ﷺ چه کله منی ته تشريف راوړو نو رومبے جمره عقبے له لاړو او په ګيټو ئے اوويشته بيائے خپل قيام ګاه ته تشريف راوړو په منی کښ کوز شو قرباني ئے اوکړه بيائے حجام ته اووے چه واخله او اشاره ئے اوکړه ښی طرفته په سر کښ او بيا ګس طرفته او بيائے خلقو له ورکول شروع کړل (يعنی خپل وېښته مبارك)

---

[1]: نووي ونيلے دی چه د علماؤ اجماع ده چه حلق يعنی سر خرئيل غوره دی د وېښتو کټ کول روا دی. مګر کوم چه ابن منذر د حسن بصری نه نقل کړی دی چه هغوی وائی چه رومبی په حج کښ خرئيل ضروری دی. او کټ کول روا نه دی. او کچرے دا قول د هغوی ثابت هم شی نو اجماع او نصوص صريحه دا روايات صحيحه په مخکښ مردود دے. او زمونږ مذهب دا دے چه حلق او تقصير دواړه د حج او د عمرے د مناسکو نه دی. او د هغے د ارکانو يو رکن دے. او دغه قول دے د کافی علماؤ. او لاتدے درجه د خرئيلو او د لنډولو دپوره کيدو د امام شافعی په نز درے وېښتهٔ دی. او د امام ابوحنيفه په نز د سر څلورمه حصه ده. او د امام ابويوسف صاحب په نز پوره نيم سر دے او د مالك او احمد صاحب په نز د سر زياته حصه ده. او د امام مالك نه په يو روايت کښ تول سر هم راغلے دے. او د تول سر د خرئيلو په غوره والی باندے تول متفق دی يا کهٔ د تول سر وېښتهٔ لنډول وی. او د ښځو په حق کښ لنډول دی خرئيل نشته دے. او کهٔ چا ليونۍ او خرئيلو نو هم نسك ادا شو. خو صرف هغے ته به خرئيلی ونيلے شی. او اتفاق دے په دے باندے کهٔ حلق وی يا تقصير وی خو روستو د شيطانانو د ويشتلو نه به وی او د قربانۍ نه پس به وی کچرے قربانی ورسره وی. او د طواف افاضه نه به مخکښ وی کهٔ حاجی قارن وی يامفرد. او ابن جهم چه کوم ونيلے دی چه قارن به حلق نهٔ کوی ترڅو پورے چی د طواف او سعی نه فارغ شوے نهٔ وی. يعنی د طواف افاضه نه خو دا قول باطل او مردود دے. او د حضرت نه د طواف افاضه نه مخکښ حلق ثابت شوے دے.

نووی ونيلے دی چه مونږ مقدمه په شرح کښ ذکر کړے ده چه ابراهيم بن سفيان چه د مسلم شاګرد دے هغهٔ نه دے کتاب په اوريدو کښ درے مقام باقی پاتے شوے دی. چه اول مقام د هغوی نه دا دے په کتاب الحج کښ او دا ځائے هغه دے (يعنی کوم ځائے کښ په ترجمه کښ چه د ابراهيم ذکر دے هغه د مسلم بن حجاج نه روايت کوی) او مخکښ د دغه مقام نه په اول او اخر باندے تنبيه راغلے ده. عرض دا چه اول د هغه مقام دغه دے کوم ځائے نه چه د ابن عمر روايت شروع شو چه رسول الله اوفرمائيل رحمت د اوکړی الله په سر خرئيلو والا باندے.

وحَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ وَابْنُ نُمَيْرٍ وَأَبُو كُرَيْبٍ قَالُوا أَخْبَرَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ أَمَّا أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ فِي رِوَايَتِهِ لِلْحَلاَّقِ هَا وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الْجَانِبِ الأَيْمَنِ هَكَذَا فَقَسَمَ شَعَرَهُ بَيْنَ مَنْ يَلِيهِ قَالَ ثُمَّ أَشَارَ إِلَى الْحَلاَّقِ وَإِلَى الْجَانِبِ الأَيْسَرِ فَحَلَقَهُ فَأَعْطَاهُ أُمَّ سُلَيْمٍ وَأَمَّا فِي رِوَايَةِ أَبِي كُرَيْبٍ قَالَ فَبَدَأَ بِالشِّقِّ الأَيْمَنِ فَوَزَّعَهُ الشَّعَرَةَ وَالشَّعَرَتَيْنِ بَيْنَ النَّاسِ ثُمَّ قَالَ بِالأَيْسَرِ فَصَنَعَ بِهِ مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ قَالَ هَا هُنَا أَبُو طَلْحَةَ فَدَفَعَهُ إِلَى أَبِي طَلْحَةَ

روایت کړے دے مونږ ته ابوبکر بن ابوشیبه او ابن نمیر او ابو کریب درے واړه وائی چه روایت کړے دے مونږ ته حفص بن غیاث هغوی د هشام نه په دے اسناد سره اوس واورئ چه ابوبکر په خپل روایت کښں وئیلی دی چه حضرت ﷺ اشاره اوفرمائیله حجام ته دلته او اشاره ئے اوکړه پخپل لاس سره وائی چه بیائے اشاره اوکړه حجام ته د سر د ګس طرف نو د هغه طرف ویښتهٔ ئے اوخرئیل نو ام سلیم ته ئے ورکړه او د ابوکریب په روایت کښں دی چه د ښی طرفنه ئے شروع اوکړه او یو یو دوه دوه ویښتهٔ ئے په خلقو کښں تقسیم کړل بیائے ګس طرفته اشاره اوکړه او د هغے سره ئے هم داسے اوکړل یعنی اوئے خرئیل بیائے اوفرمائیل چه دلته ابوطلحه شته پس هغوی له ئے ورکړل.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْبُدْنِ فَنَحَرَهَا وَالْحَجَّامُ جَالِسٌ وَقَالَ بِيَدِهِ عَنْ رَأْسِهِ فَحَلَقَ شِقَّهُ الأَيْمَنَ فَقَسَمَهُ فِيمَنْ يَلِيهِ ثُمَّ قَالَ احْلِقِ الشِّقَّ الآخَرَ فَقَالَ أَيْنَ أَبُو طَلْحَةَ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ

د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ جمره عقبه اوویشته او بیا راغے نو اوښں ئے ذبح کړو او نائی هلته ناست وو حضرت ﷺ ورته اشاره اوفرمائیله پس ښی طرفته سر ئے اوخرئیلو او هغه ویښتو لره ئے تقسیم کړل په هغه خلقو کښں چه هغوی ته نزدے وو. بیائے اوفرمائیل چه اوس دا دویم طرف اوخریه بیائے اوفرمائیل چه ابوطلحه کوم خائے دے؟ هغه ویښتهٔ ئے هغوی ته عنایت کړل[1].

---

[1]: دد ے روایتونو نه معلومه شوه چه د حج د عملونو نه د قربانۍ په ورځ کله چه د مزدلفے نه واپس شی منی ته راشی نو څلور عملونه ضروری دی. رومبی ویشتل د جمره عقبے ، دویم د قربانۍ ذبح کول، دریم سر خرئیل یا وروکے کول، څلورم بیا مکے ته تلل او طواف افاضه کول او د هغے نه پس سعی کول کچری د طواف قدوم نه پس ئے نهٔ وی کړے او کهٔ د طواف قدوم نه پس ئے کړے وی نو دوباره مکروه بلکه بدعت دے لکه څنګه چه پورته ذکر شو. دد ے څلورو عملونو لره په دغه ترتیب سره په ځائے راوړل سنت دی. او کچرے چا وړاندے روستو اوکړل دے لره نو روا دی د هغه صحیح احادیثو چه په مسلم کښں به روستو دد ے نه راشی. او دا مستحب دی چه کله منی ته راشی نو مخکښں به بل خوا نهٔ خی بلکه د سورلۍ نه به جمره عقبه اولی او بیا به په خپل منزل کښں کوز شی. او په دے شان مستحب دی چه د قربانۍ نحر او ذبح د په منی کښں اوشی اګر کهٔ په حرم کښں هر چرته چه وی خو روا دے . او دا هم معلومه شوه چه سر

بَاب جَوَازِ تَقْدِيمِ الذَّبْحِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ وَقَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُونَهُ فَجَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَمْ أَشْعُرْ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَنْحَرَ فَقَالَ اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ ثُمَّ جَاءَهُ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَمْ أَشْعُرْ فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ فَقَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ قَالَ فَمَا سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ وَلَا أُخِّرَ إِلَّا قَالَ افْعَلْ وَلَا حَرَجَ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ يَقُولُ وَقَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ فَطَفِقَ نَاسٌ يَسْأَلُونَهُ فَيَقُولُ الْقَائِلُ مِنْهُمْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي لَمْ أَكُنْ أَشْعُرُ أَنَّ الرَّمْيَ قَبْلَ النَّحْرِ فَنَحَرْتُ قَبْلَ الرَّمْيِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ

باب: د رمی نه مخکښې ذبح جائز ده

د عبدالله بن عمرو نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په ورځ د منی کښې د حجة الوداع په ورځ لوریدو چه خلق د هغوی نه مسئلے اوتپوس کوی. نو یو سړے راغے او هغه عرض اوکړو چه یا رسول الله! زۀ نۀ ووم خبر او سر مے اوخرو د قربانئ کولو نه مخکښې. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل اوس قربانی ذبح کړه. څۀ حرج نشته بیا یو بل راغے او هغه عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زۀ نۀ ووم خبر او قربانی مے ذبح کړه د ګیټو ویشتلو نه مخکښې. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل اوس ګیټئ اوله څۀ پرواه نشته. غرض دا چه د هغوی نه به د کوم عمل د تقدیم او تاخیر تپوس اوکړے شو نو فرمائیل به ئے چه څۀ پرواه نشته اوس ئے اوکړه.

د عبد الله بن عمرو بن عاص نه روایت دے. چه رسول الله ﷺ پخپله اوښه باندے سور ولاړ وو او خلقو ترینه د مسئلو تپوسونه شروع کړل. نو یو اووے یا رسول الله ﷺ ماته پته نۀ وه چه ویشتل د قربانئ کولو نه مخکښې ضرور دی او د جمرو ویشتلو نه مخکښې ما قربانی اوکړه. نو حضرت ﷺ ورته

خرئیل غوره دی او مستحب دی چه د ښی طرفنه ئے شروع کړی سر خرونکے خپل سر لره او دغه مذهب دے د شافعیؤ او د جمهورو په خلاف د ابوحنیفه چه هغوی وائی چه سر خرئیلو والا د ګس طرف مخکښې اوخروی. او دا هم معلومه شوه چه د نبی وینښتۀ مبارک تبرک دی او دے لره ساتل جائز دی مګر په سند متصل سره چه معلوم وی چه د اخاص د هغوی وینښتۀ دی. او دا چه کوم خلق په دے زمانه کښې د وینښتو مبارکو دعوه کوی د هغوی دعوه صحیح نۀ ده. ځکه چه د هغوی سند متصل خو څۀ چه منقطع هم بلکه معطل هم نۀ دے قوی خو څۀ چه ضعیف هم نۀ دے پس د نبی نه بغیر د بل چا وینښتو ته د نبی وئیل نا حق وبال په بیعه اخستل دی. او ګویا غیر نبی لره د نبی برابرول په خپل میزانِ خرد کښې تلل دی، وَمَا هٰذَا اِلَّا ضَلَالٌ بَعِيْد. او په دے کښې اختلاف دے چه حجام خرونکے وو او د هغۀ نوم څۀ وو چه هغه د رسول الله خدمت کړے وو په حجة الوداع کښې نو صحیح او مشهوره خو دا ده چه دا معمر بن عبد الله عدوی دے او په بخاری کښې هم دغه دے چه خلقو وئیلے دی چه هغه معمر بن عبد الله دے. او ځنو وئیلے دی چه هغه خراش بن امیه بن ربیعه کلیبی دے په پیش د کاف سره طه د کلیب بن حبشیه طرفته ئے نسبت دے (نووی)

صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَارْمِ وَلَا حَرَجَ قَالَ وَطَفِقَ آخَرُ يَقُولُ إِنِّي لَمْ أَشْعُرْ أَنَّ النَّحْرَ قَبْلَ الْحَلْقِ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَنْحَرَ فَيَقُولُ انْحَرْ وَلَا حَرَجَ قَالَ فَمَا سَمِعْتُهُ يُسْأَلُ يَوْمَئِذٍ عَنْ أَمْرٍ مِمَّا يَنْسَى الْمَرْءُ وَيَجْهَلُ مِنْ تَقْدِيمِ بَعْضِ الْأُمُورِ قَبْلَ بَعْضٍ وَأَشْبَاهِهَا إِلَّا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ افْعَلُوا ذٰلِكَ وَلَا حَرَجَ

اوفرمائيل چه اوس رمی اوکړه پروا نشته. او بل ورته اووے چه ما ته پته نهٔ وه چه قربانی مخکښ د سر خرئيلو نهٔ ده. او ما سر اوخروو مخکښ د قربانئ نه. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه اوس قربانی اوکړه چه هغه به د انسان هير شوےوو نو د هغهٔ په شان به حضرت ﷺ دغه اوفرمائيل چه اوس ئےاوکړه او څهٔ حرج نشته دے.

امام مسلمؒ وئيلی دی . او روايت کړے دے مونږ ته حسن حلوانی هغوی ته يعقوب هغوی ته د هغهٔ پلار هغوی ته صالح هغوی ته ابن شهاب په مثل د يونس د حديث کوم چه د زهری نه مروی شو د آخره پورے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ بَيْنَا هُوَ يَخْطُبُ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ فَقَالَ مَا كُنْتُ أَحْسِبُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَّ كَذَا وَكَذَا قَبْلَ كَذَا وَكَذَا ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كُنْتُ أَحْسِبُ أَنَّ كَذَا قَبْلَ كَذَا وَكَذَا لِهٰؤُلَاءِ الثَّلَاثِ قَالَ افْعَلْ وَلَا حَرَجَ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه نبی ﷺ د قربانئ په ورځ خطبه اولوستله او يو سړے اودريدو او هغهٔ اووے يا رسول اللهؐ! ما ته معلومه نهٔ وه چه دا کار ددے کار نه مخکښ کول پکار وو. بيا دويم راغے او اوئےوئيل . يا رسول اللهؐ ما دا ګنړله چه دا کار ددے دريو کارونو نه اول وو. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل اوس اوکړه او څهٔ حرج نشته.

او وئيلی دی مسلم چه روايت کړے دے مونږ ته دا حديث عبد بن حميد هغوی ته محمد بن بکر . اووئيلی دی مسلم چه روايت کړے دے مونږ سعيد بن يحيیٰ اموی هغوی ته د هغوی پلار او دے تولو روايت کړے د ابن جريج نه په دغه اسناد سره مګر د ابن جريج روايت په مثل د روايت د عيسیٰ دی. مګر په قول د هغوی کښ دا درے څيزونه (يعنی رمی او نحر او حلق) ذکر نهٔ دی. او د يحيیٰ په روايت کښ داسے دےچه يو اووے حلق اوکړو ما مخکښ د

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَتَاهُ رَجُلٌ يَوْمَ النَّحْرِ وَهُوَ وَاقِفٌ عِنْدَ الْجَمْرَةِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ فَقَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ وَأَتَاهُ آخَرُ فَقَالَ إِنِّي ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ وَأَتَاهُ آخَرُ فَقَالَ إِنِّي أَفَضْتُ إِلَى الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ قَالَ فَمَا رَأَيْتُهُ سُئِلَ يَوْمَئِذٍ عَنْ شَيْءٍ إِلَّا قَالَ افْعَلُوا وَلَا حَرَجَ

قربانۍ نه او نحر مے اوکړو مخکښې د رمی نۀ او دے پشان د عبد الله بن عمرو نه روایت دے چه اوریدلے دی ما د رسول الله نه د قربانۍ په ورځ چه یو سړے راغے او حضرت ﷺ د جمرے په خوا کښې ولاړ وو پس هغه عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ما سر او خرووو د ګیتو د ویشتلو نه مخکښې. حضرت ﷺ اوفرمائیل اوس ګیتۍ اووله او څۀ باك نشته او بل راغے هغۀ اووے چه ما ذبح کړے ده د رمی نه مخکښې. حضرت ﷺ اوفرمائیل اوس رمی اوکړه او څۀ باك نشته دے. دریم راغے چه ما طواف افاضه د بیت الله اوکړو د رمی کولو نه مخکښې حضرت ﷺ اوفرمائیل اوس رمی اوکړه او څۀ باك نشته. راوی وئیلے دی چه په دغه ورځ دحضرت ﷺ نه چه د کومو څیزونو چه وړاندے روستو شوی وو تپوس اوشو نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه اوس ئے اوکړه څۀ حرج نشته[1].

[1]: د قربانۍ په ورځ ځلور کارونه دی. اول ویشتل د جمرے عقبے، بیا قربانی کول، بیا سر خرئیل، طواف افاضه کول. او سنت دغه دی چه دا ټول کارونه په دغه ترتیب سره په ځائے راوړل سنت دی او دغه مذهب دے د سلفو او شافعیو او دلیل د هغوی دغه روایات دی او د هغوی قول دے چه کۀ چا په دے کښې څۀ کار لره وړاندے روستو کړو نو روا دی. او په هغۀ باندے فدیه نشته دے. او نۀ پرے دم. یعنی قربانی لازمیږی. او د ابوحنیفه او مالك او سعید بن جبیر او حسن بصری او قتاده دا قول دے چه قربانی په هغۀ باندے لازم ده. او یو قول شاذ د ابن عباس هم داسے دے مګر په دے تولو باندے باب حجت دی او ظاهر د دے لفظ نۀ کوم چه حضرت اوفرمائیل چه څۀ حرج نشته دا معلومیږی چه په دۀ نۀ ګناه شته نۀ بل څۀ څیز د قربانۍ پرے لازمیږی. یعنی واجبیږی او کۀ چرے څۀ واجبیدے نو هغوی به دلته فرمائیلے وو. او په دے باندے خو اجماع ده چه عامد او هیرو والا انسان په دے کښې برابر دے. بیا د چا په نز چه قربانی واجب ده او د چا په نز چه نه ده نو په دواړو باندے نشته صرف دومره فرق دے چه قصداً کولو والائے په خلاف کولو د سنت سره ګنهګاریږی او هیریدونکے ګنهګار نۀ دے. او دا چه کوم راغلے دی چه حضرت ﷺ په اوښه باندے سور او دریدو لکه چه د عبد الله په روایت کښې پورته ذکر شو دد ے نه ثابته شوه چه د ضرورت په وخت په سورلۍ باندے کیښناستل روا دی. اګر کۀ چرته تلل منظور نۀ وی. او خطبه اولوسته حضرت ﷺ د قربانۍ په ورځ او د حج خطبے د شافعیو په نز ځلور دی. او په مکه مکرمه کښې کعبے ته نژدے د ذی الحجے په اووم تاریخ. دویم په نمره د عرفے په ورځ. دریمه په منی کښې د قربانۍ په ورځ. ځلورمه بیا په منی کښې د ایام تشریق په دویمه ورځ. او دا ټول په یوه خطبه کښې دی. او روستو د ماسپخین د مانځۀ نه سوا د دے خطبے کومه چه په نمره ده چه دا دا په خطبه کښې دی او مخکښې د ماسپخین د مانځۀ نه دی او روستو د زوال نه. او دلائل د هغوی ما د صحیح احادیثو نه په شرح مهذب کښې بیان کړے دی. داسے وئیلے دی نووی د مسلم په شرح کښې.

وئیلې دي مسلمؒ چه نوم د ابوعبد الرحیم خالد بن ابو یزید دے او هغه ماما دے د محمد بن سلمه او روایت کړے دے هغوی ته وکیع او حجاج اعور.

بَاب اسْتِحْبَابِ كَوْنِ حَصَى الْجِمَارِ بِقَدْرِ حَصَى الْخَذْفِ

باب: ګیټئ د متړ د دانې برابر کیدل مستحب دي

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَى الْجَمْرَةَ بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه ما رسول الله ﷺ لیدلے دے چه هغوی جمره په داسې ګیټو ویشتله چه په تینګرئ غورځولے شوے[1].

بَاب بَيَانِ وَقْتِ اسْتِحْبَابِ الرَّمْيِ

باب: د رمي دپاره کوم وخت مستحب دے

عَنْ جَابِرٍ قَالَ رَمَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ ضُحًى وَأَمَّا بَعْدُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ

د جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ګیټئ اوویشتے په جمره باندے د نحر یعنی قربانئ په ورځ د څاښت په وخت کښې. او د هغې نه پس په نورو ورځو کښې چه کله به نمر زوال اوموندو[2].

---

[1]: نوويؒ فرمائیلي دي چه دا دے نه ثابته شوه چه مستحب دي چه ګیټئ د لوبیا د دانې برابر وي او که د دے نه لوئې اولي هم روا دي مګر مکروه دي.

[2]: نووي فرمائیلي دي چه دغه مستحب دي چه په لسم تاریخ د څاښت په وخت جمره اولي. او د ایام تشریق نه په دوه ورځو یعنی په یولسم تاریخ نے د نمر د زوال موندو نه پس اولي. او په دیارلسم تاریخ هم دغه شان اوکړي. او مذهب د شافعي او مالك او احمد او جمهورو علماؤ دا دے چه په دے دریو ورځو د تشریق کښې مخکښې د زوال نه ویشتل د جمرو روا نۀ دي. او سنت د هغوی دا حدیث دے. او د طاؤسؒ او عطاءؒ قول دے چه په دے درے ورځو کښې هم مخکښې د زوال نه روا دي. او ابوحنیفه او اسحق بن راهویهؒ وئیلي دي چه البته په دریمه ورځ مخکښې روا دي. او دلیل د شافعيؒ خو دغه روایت دے. او رسول الله خو فرمائیلي دي چه طریقے د حج خما نه ایزده کړئ. پس په کوم وخت چه هغوی کړے دي هغه اولي دے. او جمرے درے دي او مستحب دي چه هر کله رومبئ جمره اولي نو لږ ساعت به مخ په قبله اودریږي دُعا به اوغواړي او د دریمے جمرے د ویشتلو نه پس به نۀ حصاریږي. داسې مروي شوي دي په صحیح روایت کښې د ابن عمر نه او دغه مضمون دي په بخاري کښې او په دغه دُعا کښې رفع یدین یعنی لاسونه پورته کول مستحب دي. او د شافعي او جمهورو علماؤ مذهب دے. او د امام مالك قول دے چه کۀ چا دغه وقوف او دُعا پریخودله نو څۀ ګناه پرے نشته مګر د ثوري نه منقول دي چه هغه به په چا فقیر باندے غله اوخوروي یا به یوه قرباني اوکړي. او وئیلي دي مسلم چه روایت کړے دے

بَاب بَيَانِ أَنَّ حَصَى الْجِمَارِ سَبْعٌ

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الِاسْتِجْمَارُ تَوٌّ وَرَمْيُ الْجِمَارِ تَوٌّ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ تَوٌّ وَالطَّوَافُ تَوٌّ وَإِذَا اسْتَجْمَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَجْمِرْ بِتَوٍّ

باب: د گیتو شمار اووهٔ دے

د جابرؓ نه روایت دے چه رسول اللهؐ فرمائیلے دی چه لوټے اخستل د استنجا دپاره طاق دی. او گیټی د جمرو طاق دی. او سعی د صفا او مروه طاق ده او طواف د کعبے طاق دے یعنی دا درے واړه اووهٔ اووهٔ دی، او دا دے دپاره ضروری ده چه څوك د استنجا دپاره لوټے اخلی نو چه طاق اخلی (یعنی درے یا پنځهٔ په کومه چه پاکوالے بنهٔ راشی یعنی کهٔ پاکوالے په څلورو راشی نو هم د ورسره پنځمه ملگری کړی چه طاق شی) او خنوبے وقوفو د سفهاؤ په نوم فقهاؤ چه کوم دا لیکلی دی چه لوټے به د ځیل طهارت په وخت دری خله ښندے دا بدعت او بے اصل او لغوه حرکت دے. او طاق اخستل د لوټو د جمهور علماؤ په نز مستحب دی.

بَاب تَفْضِيلِ الْحَلْقِ عَلَى التَّقْصِيرِ وَجَوَازِ التَّقْصِيرِ

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ قَالَ حَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَلَقَ طَائِفَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ وَقَصَّرَ بَعْضُهُمْ قَالَ عَبْدُ اللهِ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَحِمَ اللهُ الْمُحَلِّقِينَ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ قَالَ وَالْمُقَصِّرِينَ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللهِ

باب: سر خرئیل غوره دی او لنډول جائز دی

د نافعؒ نه روایت دے چه رسول اللهؐ سر اوخرئیلو او یو جماعت د هغوی د اصحابو نه هم اوخرئیلو او بعضو صرف ویښتهٔ کټ کړل. عبدالله وائی چه رسول اللهؐ اوفرمائیل چه الله د رحم اوکړی په سر د خرئیلو والا باندے یو خل ئے دُعا اوکړه یا دوه خله بیائے اوفرمائیل چه په قینچی کولو والا باندے هم.

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول اللهؐ دُعا اوکړه چه یا الله رحم اوکړه په سر خرئیلو والؤ باندے خلقو عرض اوکړو چه په قینچی کولو والا باندے یا رسول اللهؐ ؛ نو بیا حضرتؐ دُعا

مونږ ته دغه حدیث علی او خبر ورکړے دے هغوی ته عیسیٰ او خبر ورکړے دے هغوی ته ابن جریج هغوی ته ابوالزبیر چه هغوی اوریدلے دی د جابر بن عبد الله نه چه فرمائیلے وو چه مثل د ذکر شوی حدیث

قَالَ اللّٰهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللهِ
قَالَ وَالْمُقَصِّرِينَ

اوکړه چه یا الله رحمت اوکړه په سر خرئیلو والاباندے. خلقو عرض اوکړو چه په کټ کولو والاباندے هم یا رسول الله ! نو حضرت اوفرمائیل چه په کټ کولو والاباندے هم.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَحِمَ اللهُ الْمُحَلِّقِينَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ رَحِمَ اللهُ الْمُحَلِّقِينَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ رَحِمَ اللهُ الْمُحَلِّقِينَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَالْمُقَصِّرِينَ

د ابن عمر نه روایت دے چه رسول الله اوفرمائیل. الله د په سر خرونکو رحمت اوکړی. خلقو عرض اوکړو او په کټ کونکو یا رسول الله ! حضرت اوفرمائیل . الله تعالی دے په خرونکو رحمت اوکړی. خلقو عرض اوکړو او په کټ کونکو یا رسول الله ! حضرت اوفرمائیل الله د په خرونکو رحمت اوکړی. خلقو بیا عرض اوکړو او په کټ کونکو یا رسول الله ! نو حضرت اوفرمائیل په کټ کونکو باندے هم.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِينَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَلِلْمُقَصِّرِينَ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِينَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَلِلْمُقَصِّرِينَ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِينَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَلِلْمُقَصِّرِينَ قَالَ وَلِلْمُقَصِّرِينَ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله دُعا اوکړه چه یا الله بخنه اوکړه په سر د خرئیلو والاباندے . چا عرض اوکړو چه په کټ کولو والاباندے یا رسول الله ! بیائے اوفرمائیل یا الله بخښنه اوکړه سر د خرئیلو والا ته بیا عرض اوشو چه یا رسول الله په ویښتو کټ کولو والاباندے هم. بیا ئے اوفرمائیل چه یا الله بخښنه اوکړه سر خرئیلو والا ته بیا خلقو عرض اوکړو چه په ویښتو کټ کولو والا باندے هم. حضرت اوفرمائیل چه په کټ کولو والاباندے هم.

وئیلے دی مسلم روایت کړے دے ما ته امیه هغوی ته یزید، هغوی ته روح هغوی ته علاء هغوی ته د هغهٔ پلار هغوی ته ابوهریره هغوی روایت کړے دے د جناب رسول الله نه هغه مضمون کوم چه ابوزرعه د ابوهریره نه پورته روایت کړو.

عَنْ يَحْيَى بْنِ الْحُصَيْنِ عَنْ جَدَّتِهِ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ

یحیٰی د خپلے نیا نه روایت کړے دے چه هغوی په حجة الوداع کښ د نبی نه واوریدل چه هغوی دسرخرئیلو والادپاره درے خله

الْوَدَاعِ دَعَا لِلْمُحَلِّقِيْنَ ثَلَاثًا وَلِلْمُقَصِّرِيْنَ مَرَّةً وَلَمْ يَقُلْ وَكِيْعٌ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ

دعا اوکړه او د ویښتو کټ کولو والا دپاره ئے یو ځل او د وکیع په روایت کښ د حجة الوداع لفظ نشته دے[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ حَلَقَ رَأْسَهُ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ سر خرئیلے وو په حجة الوداع کښ.

بَاب بَيَانِ أَنَّ السُّنَّةَ يَوْمَ النَّحْرِ أَنْ يَرْمِيَ ثُمَّ يَنْحَرَ

باب : د قربانئ په ورځ سنت دا دی چه اول رمی اوکړی بیا قربانی اوکړی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى مِنًى فَأَتَى الْجَمْرَةَ فَرَمَاهَا ثُمَّ أَتَى مَنْزِلَهُ بِمِنًى وَنَحَرَ ثُمَّ قَالَ لِلْحَلَّاقِ خُذْ وَأَشَارَ إِلَى جَانِبِهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ الْأَيْسَرِ ثُمَّ جَعَلَ يُعْطِيْهِ النَّاسَ

د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه کله منیٰ ته تشریف راؤړو نو رومبے جمره عقبے له لاړو او په کیتوئے اوویشته بیائے خپل قیام گاه ته تشریف راوړو په منیٰ کښ کوز شو قربانی ئے اوکړه بیائے حجام ته اووے چه واخله او اشاره ئے اوکړه ښی طرفته په سر کښ او بیا کس طرفته او بیائے خلقو له ورکول شروع کړل یعنی خپل ویښته مبارك.

---

[1] : نووی وئیلے دی چه د علماؤ اجماع ده چه حلق یعنی سر خرئیل غوره دی د ویښتو کټ کول روا دی. مگر کوم چه ابن منذر د حسن بصری نه نقل کړی دی چه هغوی وائی چه رومبی په حج کښ خرئیل ضروری دی. او کټ کول روا نه دی. او کچرے دا قول د هغوی ثابت هم شی نو اجماع او نصوص صریحه دا روایات صحیحه په مخکښ مردود دے. او زمونږ مذهب دا دے چه حلق او تقصیر دواړه د حج او د عمرے د مناسکو نه دی. او د هغے د ارکانو یو رکن دے. او دغه قول دے د کافی علماؤ. او لاتدے درجه د خرئیلو او د لنډولو دپوره کیدو د امام شافعی په نز درے ویښتهٔ دی. او د امام ابوحنیفه په نز د سر څلورمه حصه ده. او د امام ابویوسف صاحب په نز پوره نیم سر دے او د مالك او احمد صاحب په نز د سر زیاته حصه ده. او د امام مالك نه په یو روایت کښ ټول سر هم راغلے دے. او د ټول سر د خرئیلو په غوره والی باندے ټول متفق دی یا کهٔ د ټول سر ویښتهٔ لنډول وی. او د ښځو په حق کښ لنډول دی خرئیل نشته دے. او کهٔ چا لیونئ او خرئیلو نو هم نسك ادا شو. خو صرف هغے ته به خرئیلی وئیلے شی. او اتفاق دے په دے باندے کهٔ حلق وی یا تقصیر وی خو روستو د شیطانانو د ویشتلو نه به وی او د قربانئ نه پس به وی کچرے قربانی ورسره وی. او د طواف افاضه نه به مخکښ وی کهٔ حاجی قارن وی یا مفرد. او ابن جهم چه کوم وئیلے دی چه قارن به حلق نهٔ کوی ترڅو پورے چی د طواف او سعی نه فارغ شوے نهٔ وی. یعنی د طواف افاضه نه خو دا قول باطل او مردود دے. او د حضرت نه د طواف افاضه نه مخکښ حلق ثابت شوے دے.

نووی وئیلے دی چه مونږ مقدمه په شرح کښ ذکر کړے ده چه ابراهیم بن سفیان چه د مسلم شاگرد دے هغهٔ نه ددے کتاب په اوریدو کښ درے مقام باقی پاتے شوے دی. چه اول مقام د هغوی نه دا دے په کتاب الحج کښ او دا ځائے هغه دے (یعنی کوم ځائے کښ په ترجمه کښ چه د ابراهیم ذکر دے هغه د مسلم بن حجاج نه روایت کوی) او مخکښ د دغه مقام نه په اول او آخر باندے تنبیه راغلے ده. عرض دا چه اول د هغه مقام دغه دے کوم ځائے نه چه د ابن عمر روایت شروع شو چه رسول الله او فرمائیل رحمت د اوکړی الله په سر خرئیلو والا باندے.

وحَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ وَابْنُ نُمَيْرٍ وَأَبُو كُرَيْبٍ قَالُوا أَخْبَرَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ عَنْ هِشَامٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ أَمَّا أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ فِي رِوَايَتِهِ لِلْحَلاَّقِ هَا وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الْجَانِبِ الأَيْمَنِ هَكَذَا فَقَسَمَ شَعَرَهُ بَيْنَ مَنْ يَلِيهِ قَالَ ثُمَّ أَشَارَ إِلَى الْحَلاَّقِ وَإِلَى الْجَانِبِ الأَيْسَرِ فَحَلَقَهُ فَأَعْطَاهُ أُمَّ سُلَيْمٍ وَأَمَّا فِي رِوَايَةِ أَبِي كُرَيْبٍ قَالَ فَبَدَأَ بِالشِّقِّ الأَيْمَنِ فَوَزَّعَهُ الشَّعَرَةَ وَالشَّعَرَتَيْنِ بَيْنَ النَّاسِ ثُمَّ قَالَ بِالأَيْسَرِ فَصَنَعَ بِهِ مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ قَالَ هَا هُنَا أَبُو طَلْحَةَ فَدَفَعَهُ إِلَى أَبِي طَلْحَةَ

روایت کړے دے مونږ ته ابوبکر بن ابوشیبه او ابن نمیر او ابو کریب درے واړه وائی چه روایت کړے دے مونږ ته حفص بن غیاث هغوی د هشام نه په دے اسناد سره اوس واورئ چه ابوبکر په خپل روایت کښې وئیلی دی چه حضرت ﷺ اشاره اوفرمائیله حجام ته دلته او اشاره ئے اوکړه پخپل لاس سره وائی چه بیائے اشاره اوکړه حجام ته د سر د ګس طرف نو د هغه طرف ویښتهٔ ئے اوخرئیل نو ام سلیم ته ئے ورکړه او د ابوکریب په روایت کښې دی چه د نبی طرفنه ئے شروع اوکړه او یو یو دوه دوه ویښتهٔ ئے په خلقو کښې تقسیم کړل بیائے ګس طرفته اشاره اوکړه او د هغے سره ئے هم داسے اوکړل یعنی اوئے خرئیل بیائے اوفرمائیل چه دلته ابوطلحه شته پس هغوی له ئے ورکړل

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْبُدْنِ فَنَحَرَهَا وَالْحَجَّامُ جَالِسٌ وَقَالَ بِيَدِهِ عَنْ رَأْسِهِ فَحَلَقَ شِقَّهُ الأَيْمَنَ فَقَسَمَهُ فِيمَنْ يَلِيهِ ثُمَّ قَالَ احْلِقِ الشِّقَّ الآخَرَ فَقَالَ أَيْنَ أَبُو طَلْحَةَ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ

د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ جمره عقبه اوویشته او بیا راغے نو اوښ ئے ذبح کړو او نائی هلته ناست وو حضرت ﷺ ورته اشاره اوفرمائیله پس ښی طرفته سر ئے اوخرئیلو او هغه ویښتو لره ئے تقسیم کړل په هغه خلقو کښې چه هغوی ته نږدے وو. بیائے اوفرمائیل چه اوس دا دویم طرف اوخریه بیائے اوفرمائیل چه ابوطلحه کوم ځائے دے؟ هغه ویښتهٔ ئے هغوی ته عنایت کړل[1].

[1]: د دے روایتونو نه معلومه شوه چه د حج د عملونو نه د قربانئ په ورځ کله چه د مزدلفے نه واپس شی منی ته راشی نو څلور عملونه ضروری دی. رومبی ویشتل د جمره عقبے ، دویم د قربانئ ذبح کول، دریم سر خرئیل یا وروکے کول، څلورم بیا مکے ته تلل او طواف افاضه کول او د هغے نه پس سعی کول کچری د طواف قدوم نه پس ئے نهٔ وی کړے او که د طواف قدوم نه پس ئے کړے وی نو دوباره مکروه بلکه بدعت دے لکه څنګه چه پورته ذکر شو. د دے څلورو عملونو لره په دغه ترتیب سره په ځائے راوړل سنت دی. او کچرے چا وړاندے روستو اوکړل دے لره نو روا دی د هغه صحیح احادیثو چه په مسلم کښې به روستو دد ے نه راشی. او دا مستحب دی چه کله منی ته راشی نو مخکښې به بل خوا نهٔ ځی بلکه د سورلئ نه به جمره عقبه اولی او بیا به په خپل منزل کښې کوز شی. او په دے شان مستحب دی چه د قربانئ نحر او ذبح د په منی کښې اوشی اګر که په حرم کښې هر چرته چه وی خو روا دے. او دا هم معلومه شوه چه سر

بَاب جَوَازِ تَقْدِيمِ الذَّبْحِ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ وَقَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُونَهُ فَجَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَمْ أَشْعُرْ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَنْحَرَ فَقَالَ اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ ثُمَّ جَاءَهُ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَمْ أَشْعُرْ فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ فَقَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ قَالَ فَمَا سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ وَلَا أُخِّرَ إِلَّا قَالَ افْعَلْ وَلَا حَرَجَ

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ يَقُولُ وَقَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ فَطَفِقَ نَاسٌ يَسْأَلُونَهُ فَيَقُولُ الْقَائِلُ مِنْهُمْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي لَمْ أَكُنْ أَشْعُرُ أَنَّ الرَّمْيَ قَبْلَ النَّحْرِ فَنَحَرْتُ قَبْلَ الرَّمْيِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ

باب : د رمي نه مخکښ ذبح جائز ده

د عبدالله بن عمرو نه روايت دے چه رسول الله ﷺ په ورځ د منٰی کښ د حجة الوداع په ورځ اوريدو چه خلق د هغوی نه مسئلے اوتپوس کوی. نو يو سړے راغے او هغه عرض اوکړو چه يا رسول اللهؐ زۀ نۀ ووم خبر او سر مے اوخر وو د قربانۍ کولو نه مخکښ. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل اوس قربانی ذبح کړه. څۀ حرج نشته. بيا يو بل راغے او هغه عرض اوکړو چه يا رسول الله ﷺ زۀ نۀ ووم خبر او قربانی مے ذبح کړه د ګيټو ويشتلو نه مخکښ. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل اوس ګيټۍ اوله څۀ پرواه نشته. غرض دا چه د هغوی نه به د کوم عمل د تقديم او تاخير تپوس اوکړے شو نو فرمائيل به ئے چه څۀ پرواه نشته اوس ئے اوکړه.

د عبد الله بن عمرو بن عاص نه روايت دے. چه رسول الله ﷺ پخپله اوښه باندے سور ولاړ وو او خلقو ترينه د مسئلو تپوسونه شروع کړل. نو يو اووے يا رسول الله ﷺ ماته پته نۀ وه چه ويشتل د قربانۍ کولو نه مخکښ ضرور دی او د جمرو ويشتلو نه مخکښ ما قربانی اوکړه. نو حضرت ﷺ وورته

خرئيل غوره دی او مستحب دی چه د ښی طرفنه ئے شروع کړی سر خرونکے خپل سر لره او دغه مذهب دے د شافعيؒ او د جمهورو په خلاف د ابوحنيفهؒ چه هغوی وائی چه سر خرئيلو والا د ګس طرف مخکښ اوخروی. او دا هم معلومه شوه چه د نبی ويښتۀ مبارک تبرک دی او دے لره ساتل جائز دی مګر په سند متصل سره چه معلوم وی چه د اخاص د هغوی ويښتۀ دی. او دا چه کوم خلق په دے زمانه کښ د ويښتو مبارکو دعوه کوی د هغوی دعوه صحيح نۀ ده. ځکه چه د هغوی سند متصل خو څۀ چه منقطع هم بلکه معطل هم نۀ دے قوی خو څۀ چه ضعيف هم نۀ دے پس د نبی نه بغير د بل چا ويښتو ته د نبی ونيل نا حق وبال په بيعه اخستل دی او ګويا غير نبی لره د نبی برابرول په خپل ميزانِ خرد کښ تلل دی. وَمَا هٰذَا اِلَّا ضَلَالٌ بَعِيدٌ. او په دے کښ اختلاف دے چه حجام څوک وو او د هغۀ نوم څۀ وو چه هغه د رسول الله خدمت کړے وو په حجة الوداع کښ نو صحيح اومشهوره خو دا ده چه دا معمر بن عبد الله عدوی دے او په بخاری کښ هم دغه دے چه خلقو ونيلے دی چه هغه معمر بن عبد الله دے. او ځنو ونيلے دی چه هغه خراش بن اميه بن ربيعه کليبی دے په پيش د کاف سره طه د کليب بن حبشيه طرفته ئے نسبت دے (نووی)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْمِ وَلَا حَرَجَ قَالَ وَطَفِقَ آخَرُ يَقُولُ إِنِّي لَمْ أَشْعُرْ أَنَّ النَّحْرَ قَبْلَ الْحَلْقِ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَنْحَرَ فَيَقُولُ انْحَرْ وَلَا حَرَجَ قَالَ فَمَا سَمِعْتُهُ يُسْأَلُ يَوْمَئِذٍ عَنْ أَمْرٍ مِمَّا يَنْسَى الْمَرْءُ وَيَجْهَلُ مِنْ تَقْدِيمِ بَعْضِ الْأُمُورِ قَبْلَ بَعْضٍ وَأَشْبَاهِهَا إِلَّا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْعَلُوا ذَلِكَ وَلَا حَرَجَ

اوفرمائیل چه اوس رمی اوکړه پروا نشته. او بل ورته اووے چه ما ته پته نۀ وه چه قربانی مخکښ د سر خرئیلو نۀ ده. او ما سر اوخروو مخکښ د قربانۍ نه. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اوس قربانی اوکړه چه هغه به د انسان هیر شوےوو نو د هغۀ په شان به حضرت ﷺ دغه اوفرمائیل چه اوس ئےاوکړه او څۀ حرج نشته دے.

امام مسلمؒ وئیلي دي . او روایت کړے دے مونږ ته حسن حلوانی هغوی ته یعقوب هغوی ته د هغۀ پلار هغوی ته صالح هغوی ته ابن شهاب په مثل د یونس د حدیث کوم چه د زهری نه مروی شو د آخره پورے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ بَيْنَا هُوَ يَخْطُبُ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ فَقَالَ مَا كُنْتُ أَحْسِبُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَّ كَذَا وَكَذَا قَبْلَ كَذَا وَكَذَا ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كُنْتُ أَحْسِبُ أَنَّ كَذَا قَبْلَ كَذَا وَكَذَا لِهَؤُلَاءِ الثَّلَاثِ قَالَ افْعَلْ وَلَا حَرَجَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه نبی ﷺ د قربانۍ په ورځ خطبه اولوستله او یو سړے اودریدو او هغۀ اووے یا رسول اللهﷺ! ما ته معلومه نۀ وه چه دا کار ددے کار نه مخکښ کول پکار وو. بیا دویم راغے او اوئےوئیل . یا رسول اللهﷺ ما دا ګنړله چه دا کار ددے دریو کارونو نه اول وو. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل اوس اوکړه او څۀ حرج نشته.

او وئیلي دي مسلم چه روایت کړے دے مونږ ته دا حدیث عبد بن حمید هغوی ته محمد بن بکر . اووئیلي دي مسلم چه روایت کړے دے مونږ سعید بن یحییٰ اموی هغوی ته د هغوی پلار او دے تولو روایت کړے د ابن جریج نه په دغه اسناد سره مګر د ابن جریج روایت په مثل د روایت د عیسیٰ دی. مګر په قول د هغوی کښی دا درے څیزونه (یعنی رمی او نحر او حلق) ذکر نۀ دی. او د یحییٰ په روایت کښی داسے دےچه یو اووے حلق اوکړو ما مخکښ د

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَتَاهُ رَجُلٌ يَوْمَ النَّحْرِ وَهُوَ وَاقِفٌ عِنْدَ الْجَمْرَةِ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ فَقَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ وَأَتَاهُ آخَرُ فَقَالَ إِنِّي ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ وَأَتَاهُ آخَرُ فَقَالَ إِنِّي أَفَضْتُ إِلَى الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ قَالَ فَمَا رَأَيْتُهُ سُئِلَ يَوْمَئِذٍ عَنْ شَيْءٍ إِلَّا قَالَ افْعَلُوْا وَلَا حَرَجَ

قربانۍ نه او نحر مے اوکړو مخکښې د رمی نهٔ او دے پښان

د عبد الله بن عمرو نه روایت دے چه اوریدلے دی ما د رسول اللهﷺ نه د قربانۍ په ورځ چه یو سړے راغلے او حضرتﷺ د جمرے په خوا کښې ولاړ وو پس هغه عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ اما سر او خروو د ګیتو د ویشتلو نه مخکښې. حضرتﷺ اوفرمائیل اوس ګیتۍ اووله او څهٔ باك نشته او بل راغے هغهٔ اووے چه ما ذبح کړے ده د رمی نه مخکښې. حضرتﷺ اوفرمائیل اوس رمی اوکړه او څهٔ باك نشته دے. دریم راغے چه ما طواف افاضه د بیت الله اوکړو د رمی کولو نه مخکښې. حضرتﷺ اوفرمائیل اوس رمی اوکړه او څهٔ باك نشته. راوی وئیلے دی چه په دغه ورځ دحضرتﷺ نه چه د کومو خیزونو چه وړاندے روستو شوی وو تپوس اوشو نوحضرتﷺ ورته اوفرمائیل چه اوس ئے اوکړه څهٔ حرج نشته[1].

[1]: د قربانۍ په ورځ څلور کارونه دی. اول ویشتل د جمرے عقبے، بیا قربانی کول، بیا سر خرئیل، طواف افاضه کول. او سنت دغه دی چه دا ټول کارونه په دغه ترتیب سره په ځائے راوړل سنت دی او دغه مذهب دے د سلفو او شافعیؤ او دلیل د هغوی دغه روایات دی او د هغوی قول دے چه کهٔ چا په دے کښې څهٔ کار لره وړاندے روستو کړو نو روا دی. او په هغهٔ باندے فدیه نشته دے. او نهٔ پرے دم. یعنی قربانی لازمیږی. او د ابوحنیفه او مالك او سعید بن جبیر او حسن بصری او قتاده دا قول دے چه قربانی په هغهٔ باندے لازم ده. او یو قول شاذ د ابن عباس هم داسے دے مګر په دے ټولو باندے باب حجت دی او ظاهر دد ے لفظ نهٔ کوم چه حضرت اوفرمائیل چه څهٔ حرج نشته دا معلومیږی چه په دهٔ نهٔ ګناه شته نه بل څهٔ خیز د قربانۍ پرے لازمیږی. یعنی واجبیږی او کهٔ چرے څهٔ واجبیدے نو هغوی به دلته فرمائیلے وو. او په دے باندے خو اجماع ده چه عامد او هیرو والا انسان په دے کښې برابر دے. بیاد چا په نز چه قربانی واجب ده او د چا په نز چه نهٔ ده نو په دواړو باندے نشته صرف دومره فرق دے چه قصداً کولو والائے په خلاف کولو د سنت سره ګنهګاریږی او هیریدونکے ګنهګار نهٔ دے. او دا چه کوم راغلے دی چه حضرتﷺ په اوښه باندے سور اودریدو لکه چه د عبد اللهؓ په روایت کښې پورته ذکر شو دد ے نه ثابته شوه چه د ضرورت په وخت په سورلۍ باندے کیښناستل روا دی. اګر کهٔ چرته تلل منظور نهٔ وی. او خطبه اولوسته حضرتﷺ د قربانۍ په ورځ او د حج خطبے د شافعیؤ په نز څلور دی. او په مکه مکرمه کښې کعبے ته نژدے د ذی الحجے په اووم تاریخ. دویم په نمره د عرفے په ورځ. دریمه په منٰی کښې د قربانۍ په ورځ. څلورمه بیا په منٰی کښې د ایام تشریق په دویمه ورځ. او دا ټول په یوه خطبه کښې دی. او روستو د ماسپخین د مانځهٔ نه سوا دد ے خطبے کومه چه په نمره ده چه دا دا په خطبه کښې دی او مخکښې د ماسپخین د مانځهٔ نه دی او روستو د زوال نه. او دلائل د هغوی ما د صحیح احادیثو نه په شرح مهذب کښې بیان کړے دی. داسے وئیلے دی نوویؒ د مسلم په شرح کښې.

بَاب اسْتِحْبَابِ طَوَافِ الْإِفَاضَةِ يَوْمَ النَّحْرِ

باب: طواف افاضه د قربانئ په ورځ په خائے راوړل مستحب دی

عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَاضَ يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ رَجَعَ فَصَلَّى الظُّهْرَ بِمِنًى قَالَ نَافِعٌ فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُفِيضُ يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ يَرْجِعُ فَيُصَلِّي الظُّهْرَ بِمِنًى وَيَذْكُرُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَهُ

نافع د ابن عمر نه روایت کړے دے چه نبی کریم ﷺ طواف افاضه اوکړو د نحر په ورځ او بیا واپس شو. او د ماسپخین مونځ ئے په منی کښې اوکړو. نافع وائی چه ابن عمر به طواف افاضه هم کولو د قربانئ په ورځ او بیا به واپس شو په منی کښې به ئے د ماسپخین مونځ کولو. او وئیل به ئے چه نبی ﷺ به هم دغه شان کول[1].

بَاب اسْتِحْبَابِ نُزُولِ الْمُحَصَّبِ يَوْمَ النَّفْرِ

باب: د تلو په ورځ په محصّب کښې کوزیدل مستحب دی

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قُلْتُ أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ عَقَلْتَهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ صَلَّى الظُّهْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ قَالَ بِمِنًى قُلْتُ فَأَيْنَ صَلَّى الْعَصْرَ يَوْمَ النَّفْرِ قَالَ بِالْأَبْطَحِ ثُمَّ قَالَ افْعَلْ مَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ

عبد العزیز بن رفیع نه روایت دے وائی چه ما د انس بن مالك نه تپوس اوکړو چه خبر راکړه ما له کچرے تاته یاد وی چه رسول الله ﷺ د ترویے په ورځ (یعنی په اتم تاریخ) د ماسپخین مونځ کوم خائے کړے وو؟ هغوی اووے چه په منی کښې. بیائے اووے چه د مازیگر مونځ ئے کوم خائے کړے وو د سفر په ورځ. هغوی اووے چه ابطح کښې. بیائے اووے چه کوئ تاسو داسے لکه چه کوی ستاسو حاکمان خلق.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ كَانُوا يَنْزِلُونَ الْأَبْطَحَ

د عبد الله نه روایت دے چه نبی ﷺ او ابوبکر او عمر به په ابطح کښې کوزیدل[2].

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَرَى التَّحْصِيبَ سُنَّةً وَكَانَ يُصَلِّي الظُّهْرَ يَوْمَ النَّفْرِ بِالْحَصْبَةِ قَالَ نَافِعٌ قَدْ حَصَّبَ رَسُولُ اللهِ

نافع د ابن عمر نه روایت کړے دے چه هغوی به په محصب کښې کوزیدل سنت گڼړلو او د کوچ په ورځ به ئے ماسپخین مونځ هلته کولو نافع وائی چه په محصب کښې کوز شوے دے رسول الله ﷺ او

---

[1]: دد ے نه معلومه شوه چه طواف افاضه د قربانئ په ورځ په اوله ورځ کښې کول پکار دی.

[2]: ابطح دغه د ے کوم ته چه محصب وئیلے شی.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْخُلَفَاءُ بَعْدَهُ

د هغوی نه پس د هغوی خلفاء.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ نُزُولُ الْأَبْطَحِ لَيْسَ بِسُنَّةٍ إِنَّمَا نَزَلَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنَّهُ كَانَ أَسْمَحَ لِخُرُوجِهِ إِذَا خَرَجَ

د عائشے صدیقے نه نه روایت دے فرمائی چه په محصب کښې کوزیدل څۀ واجب نۀ دی. او جناب رسول الله ﷺ خو صرف د دے دپاره هلته کوز شوے دے چه د هغه ځائے نه وتل آسان و هر کله چه د مکے نه هغوی راووتو.

عَنْ سَالِمٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ وَابْنَ عُمَرَ كَانُوا يَنْزِلُونَ الْأَبْطَحَ قَالَ الزُّهْرِيُّ وَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا لَمْ تَكُنْ تَفْعَلُ ذٰلِكَ وَقَالَتْ إِنَّمَا نَزَلَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ لِأَنَّهُ كَانَ مَنْزِلًا أَسْمَحَ لِخُرُوجِهِ

د سالم نه روایت دے چه ابوبکر او ابن عمر به په ابطح کښې کوزیدلو. زهری وئیلے دی چه ما ته عروه خبر راکړے دے د جناب عائشے صدیقے نه چه هغه به هلته نه کوزیدله او فرمائیل به ئے چه رسول الله ﷺ چه کوم هلته کوزیدو نو د دے دپاره چه د هغه ځائے نه روانیدل د مکے نه اسان وو.

عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَيْسَ التَّحْصِيبُ بِشَيْءٍ إِنَّمَا هُوَ مَنْزِلٌ نَزَلَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عطاء نه روایت دے چه ابن عباس فرمائیلے دی چه په محصب کښې کوزیدل څۀ سنت او واجب نۀ دی هغه خو یو منزل دے چه هلته رسول الله ﷺ به کوزیدو.

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ أَبُو رَافِعٍ لَمْ يَأْمُرْنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَنْزِلَ الْأَبْطَحَ حِينَ خَرَجَ مِنْ مِنًى وَلٰكِنِّي جِئْتُ فَضَرَبْتُ فِيهِ قُبَّتَهُ فَجَاءَ فَنَزَلَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ فِي رِوَايَةِ صَالِحٍ قَالَ سَمِعْتُ سُلَيْمَانَ بْنَ يَسَارٍ وَفِي رِوَايَةِ قُتَيْبَةَ قَالَ عَنْ أَبِي رَافِعٍ وَكَانَ عَلَى ثَقَلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د سلیمان بن یسار نه روایت دے چه ابورافع وئیلے دی چه رسول الله ﷺ ما ته حکم نۀ وو کړے چه زۀ د په ابطح کښې کوز شم هر کله چه هغوی د منی نه راووتو. مګر زۀ راغلم او هلته مے خیمه اولګوله. بیا حضرت ﷺ راغے او هلته کوز شو. د ابوبکر په روایت کښې د صالح نه داسے دی چه هغوی وائی چه واوریدل ما د سلیمان بن یسار نه او د قتیبه په روایت کښې دی چه ابورافع وئیلے دی. او ابو رافع د رسول الله ﷺ په سامان باندے مقرر وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ نَنْزِلُ غَدًا إِنْ شَاءَ اللهُ

ابوهریره د رسول الله ﷺ نه روایت کړے دے چه هغوی اوفرمائیل صبا که خدائ غواړی نو مونږ به په خیف بنی کنانه

بِخَيفِ بَنِي كِنَانَةَ حَيثُ تَقَاسَمُوا عَلَى الْكُفْرِ

کښې کوزیږو کوم ځائے چه کافرانو په خپلو کښې په کفر باندے قسم خوړلے وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ بِمِنًى نَحْنُ نَازِلُونَ غَدًا بِخَيفِ بَنِي كِنَانَةَ حَيثُ تَقَاسَمُوا عَلَى الْكُفْرِ وَذٰلِكَ إِنَّ قُرَيْشًا وَبَنِي كِنَانَةَ تَحَالَفَتْ عَلَى بَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ أَنْ لَا يُنَاكِحُوهُمْ وَلَا يُبَايِعُوهُمْ حَتَّى يُسْلِمُوا إِلَيْهِمْ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَعْنِي بِذٰلِكَ الْمُحَصَّبَ

د ابوهریره نه روایت دےچه مونږ ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه مونږ صبا[1] له په خیف بنی کنانه کښې کوزیدلو والایو کوم ځائے کښې چه کافرانو په کفر باندے قسم خوړلے وو چه د بنی هاشم او بنی عبد المطلب سره یعنی د هغوی د قبیلو سره به نۀ نکاح کوو نۀ به ورسره اخستل خرڅول کوو. د کومے پورے دوی رسول الله ﷺ لره دوی ته حواله کړی نۀ وی. او مراد د خیف بن کنانه محصب دے (تفصیل دد ے به مخکښې راشی.انشاء الله تعالیٰ)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْزِلُنَا إِنْ شَاءَ اللهُ إِذَا فَتَحَ اللهُ الْخَيْفُ حَيْثُ تَقَاسَمُوا عَلَى الْكُفْرِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی کچرے الله ته منظوره وی او فتح الله راکړه نو زمونږ د پاتے کیدو ځائے خیف دے کوم ځائے چه هغوی قسم خوړلے وو یعنی کافرانو په کفر باندے[1].

---

[1]: عرض دا چه محصب کښې کوزیدل په دے کښې د اصحابو اختلاف وو. چا به دے منزل ته اتفاقی وئیلو او دلته کوزیدل به ئے مسنون نۀ ګڼړل. او چا به دے لره د رسول الله ﷺ اقتداء ګڼړله او مستحب به ئے ګرځول. چنانچه د امام شافعی او مالك او جمهورو په نز مستحب دی په نظر د رسول الله د اقتداء او د خلفاء راشدینو رضوان الله علیهم اجمعین تابعداری. مګر په دے باندے اتفاق دے چه کچرے چا دا پریخودو نو په هغۀ باندے څۀ الزام نشته. او مستحب دی چه هلته د ماسپخین او مازیګر او د ماښام او د ماسختن مونځ ادا کړی. او کۀ د شپے څۀ حصه حصار شی یا ټوله شپه په نظر د اقتداء د رسول الله او محصب د ابطح او حصبه او بطحاء او خیف بنی کنانه دا ټول د یو مقام نومونه دی. او په اصل کښې خیف هغه زمکے ته وئیلے شی چه په نشیب یعنی د غر په لمن کښې واقع وی. او د هغه ځائے نه مدینے منورے ته نیغه لار ده. ځکه نے وئیلے دی چه د هغۀ ځائے نه وتل آسان دی. او حضرت ﷺ اوفرمائیل چه انشاء الله تعالی مونږ به هلته کوزیږو. ځکه چه د الله پاك حکم دے. وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللهُ یعنی مئوایه څۀ شی ته چه صبا به زۀ دا اوکړم مګر داسے وایه چه کۀ الله ته منظور وی. هر کله چه حضرت په مکۀ مکرّمه کښې وو نو کفارو په خپلو کښې قسمونه او خوړل چه رسول الله او بنی هاشم او بنی عبد المطلب لره د مکے نه بهر کړی د دغے خیف بنی کنانه په کنډۀ کښې او په خپلو کښې نے یوه اقرار نامه اولیکله. او قسم قسم عبث نے په هغے کښې اولیکل او په قطع رحم او کفر باندے نے ملا اوتړله او هغه اقرار نامه نے په کعبه شریفه کښې زوړنده کړه. الله پاك پرے یو وینۀ مقرر کړو او هغه ټول کاغذ نے اوخوړو سوا د الله او د رسول الله د نوم نه چه هغه پکښې پاتے شول. او جبرائیل علیه السلام رسول الله له خبر ورکړو. او هغوی خپل ترۀ ابوطالب ته خبر ورکړو او هغۀ د دغه کافرانو خواله راغے او دا امر نے ورته ظاهر کړو. بیا هغوی هغه کاغذ رابهر کړو او نے کتلو نو هم هغه شان نے اوموندو. چنانچه څنے

بَاب وُجُوبِ الْمَبِيْتِ بِمِنًى

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ الْعَبَّاسَ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ اسْتَأْذَنَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيتَ بِمَكَّةَ لَيَالِي مِنًى مِنْ أَجْلِ سِقَايَتِهِ فَأَذِنَ لَهُ

باب : په ايّام تشريق کښې په منی کښې شپه تيرول واجب دی

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه عباس اجازت اوغوښتلو د رسول الله ﷺ نه چه شپه د منی په شپو کښې په مکه کښې تيره کړی ځکه چه د هغوی په ذمه د زمزم د اوبو څکولو خدمت وو[1].

بَابُ فَضْلِ الْقِيَامِ بِالسِّقَايَةِ وَالثَّنَاءِ عَلَى أَهْلِهَا وَاسْتِحْبَابِ الشُّرْبِ مِنْهَا

عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْمُزَنِيِّ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ عِنْدَ الْكَعْبَةِ فَأَتَاهُ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ مَا لِي أَرَى بَنِي عَمِّكُمْ يَسْقُونَ

باب : په حج کښې د اُوبو د څکولو غوره والے

د عبد الله مزنی خوئے ابوبکر نه روايت دے وائی چه زهٔ د ابن عباس سره د کعبے په خواه کښې ناست وم چه يو باندیچے راغے. هغهٔ اووے څهٔ سبب دے چه زهٔ ستا د ترهٔ اولاد وينم چه هغوی د شهدو شربت او پئ

علماؤ وئيلے دی چه هلته کوزيدل د هغوی د شکر الهی په اراده سره وو چه دد ے نعمت شکريه په ځائے راوړم چه الله پاك دين ظاهر کړو او عاجزانو ته غالب کړل او کافرانو ته مغلوب اوفرمائيل دغه شان وئيلے دی نووی.

[1] دد ے روايت نه دوه مسئلے معلومے شوے . يوه دا چه منی په شپو کښې شپے لره خاص په منی کښې پاتے کيدل ضروری دی. او په دے باندے علماؤ اتفاق دے مګر په دے کښې اختلاف دے چه واجب دی کهٔ سنت. د امام شافعی په دے کښې دوه قولونه دی د تولو نه صحيح قول دا دے چه واجب دی. او د مالك او احمد دغه قول دے. دويم قول دا دے چه سنت دی او دد ے قائل دی ابن عباس او حسن او ابوحنيفه . غرض دا چه څوك ورته واجب وائی هغوی وئيلے دی چه دد ے پريخودونکی لره قربانی مستحب ده. او څومره قدرے هلته پاتے کيدل واجب دی په دے کښې هم اختلاف دے د امام شافعی په دے کښې دوه قولونه دی صحيح دا دے چه زياته حصه د شپے هلته پاتے کيدل ضروری دی .دويم دا چه يو ساعت يعنی يوه ګهنټه په هره شپه کښې. دويمه مسئله دا ده چه کوم خلق د زمزم د څکولو خدمت کوی هغوی له د شپے په منی کښې پاتے کيدل ضروری نهٔ دی. بلکه هغوی له ضروری دی چه مکے ته لاړ شی او د شپے (په خلقو) زمزم اوڅکوی او په حوضونو کښې اوبه ډکے کړی چه څکلو والاتے په فراغت سره څکی. او د امام شافعی په نز دا د عباس د اولاد سره مخصوص نهٔ دی بلکه هر څوك چه زمزم څکولو والا وی هغوی ته رخصت دی چه په منی کښې د نهٔ پاتے کيږی. او دغه شان په کوم نورے سرے د زمزم د څکولو التزام کوی هغوی ته هم رخصت دے. او بعضو وئيلے دی چه دا رخصت خاص آل عباس ته دے. او خنو وئيلی دی چه خاص عباس ته وو. او خنو وئيلے دی چه په بنی عباس کښې خاص بنی هاشم ته دے . غرض دا چه دا څلور د شافعی ملګرو اقوال دی. او صحيح په دے کښې دغه رومبے قول دے. او اوبهٔ څکول د آل عباس خاص حق دے. ځکه چه د جاهليت په ورځو کښې دا خدمت خاص وو عباس سره. او جناب رسول الله د هغوی دپاره مقرر کړے وو. او هم هميشه ددوی د اولاد په واسطه دے. نووی دغه شان وئيلے دی.

الْعَسَلَ وَاللَّبَنَ وَأَنْتُمْ تَسْقُونَ النَّبِيذَ أَمِنْ حَاجَةٍ بِكُمْ أَمْ مِنْ بُخْلٍ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْحَمْدُ لِلَّهِ مَا بِنَا مِنْ حَاجَةٍ وَلاَ بُخْلٍ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ وَخَلْفَهُ أُسَامَةُ فَاسْتَسْقَى فَأَتَيْنَاهُ بِإِنَاءٍ مِنْ نَبِيذٍ فَشَرِبَ وَسَقَى فَضْلَهُ أُسَامَةَ وَقَالَ أَحْسَنْتُمْ وَأَجْمَلْتُمْ كَذَا فَاصْنَعُوا فَلاَ نُرِيدُ تَغْيِيرَ مَا أَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

څوی او تاسو د کهجورو شربت څکوئ آیا د محتاجئ په سبب دے لره اختیار کړے دے یا د بخیلئ په سبب سره؟ نو ابن عباس اوونیل چه الحمد لله نه مونږ محتاجه یو او نه بخیلان یو اصل وجه د هغې داده چه نبی ﷺ تشریف راوړو پخپله اوښه باندے او شاته ورسره اسامه هم وو. او حضرت ﷺ اوبۀ اوغوښتے. نو مونږ ورله د کهجورے د شربت پیاله راوړه او حضرت ﷺ اوڅکله او د حضرت ﷺ نه چه څۀ پاتے شو هغه ئے په اسامه اوڅکوله او حضرت ﷺ اوفرمائیل چه تاسو ډیر ښۀ کار اوکړو. او دغه شان کوئ نو مونږ اوس هغې لره بدلول نۀ غواړو. د کومے حکم چه رسول الله ﷺ ورکړے دے[1].

بَاب فِي الصَّدَقَةِ بِلُحُومِ الْهَدْيِ

باب: د قربانئ غوښه څرمن وغیره ټول صدقه کړئ

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقُومَ عَلَى بُدْنِهِ وَأَنْ أَتَصَدَّقَ بِلَحْمِهَا وَجُلُودِهَا وَأَجِلَّتِهَا وَأَنْ لاَ أُعْطِيَ الْجَزَّارَ مِنْهَا قَالَ نَحْنُ نُعْطِيهِ مِنْ عِنْدِنَا

د حضرت علی نه روایت دے وائی چه ماته رسول الله ﷺ حکم اوکړو چه زۀ د د هغوی د قربانئ په اوښانو باندے اودریږم او د هغوی غوښه او څرمے او غولانځے خیرات کړم. او د قصاب مزدوری د هغې نه ورنۀ کړم. او حضرت علی اوفرمائیل چه د قصاب مزدوری مونږ د خپل طرفنه ورکوؤ.

عَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِمَا أَجْرُ الْجَازِرِ

د حضرت علی نه دغه مضمون مروی دے مگر په دے کښې د قصاب د مزدورئ ذکر نشته.

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ أَمَرَهُ أَنْ يَقُومَ عَلَى بُدْنِهِ وَأَمَرَهُ أَنْ يَقْسِمَ بُدْنَهُ كُلَّهَا لُحُومَهَا وَجُلُودَهَا وَجِلاَلَهَا فِي

د حضرت علی نه روایت دے چه نبی ﷺ دوی ته حکم اوکړو چه اودریږی هغه د حضرت ﷺ د قربانئ په اوښانو او حکم ئے ورکړو چه ټوله غوښه او غولانځے ددوی خیرات کړی په مسکینانو او د

[1] : دد ے حدیث نه فضیلت د څکولو ثابت شو او د څکولو والا صفت ترے هم راووتو او په آخر کښې چه کوم ابن عباس اوفرمائیل چه مونږ نۀ ئے بدلول نه غواړو الخ دد ے ثابته شوه چه اصل مذهب د صحابو دے چه هغوی نۀ غوښتل چه په څۀ امر کښې د تغیر راشی. خواه کۀ تغیر د صفات وی مثلاً د څۀ طاعت په اعداد یا اوقاتو یا په مقرر کولو کښې تغیر اوکړی. یا د یو عبادت په کار کښې څۀ صفت یا د خپل طرفنه زیات کم کړی چه دا ټول منجمله احداث دی او دغه د اهل سنت مذهب دے او طریقه ده د صحابو. او دد ے نه ټول نوی کارونه رد شو او اوامر او نواهی مبتدعه. وذلك المقصود.

الْمَسَاكِينِ وَلَا يُعْطِي فِي جِزَارَتِهَا مِنْهَا شَيْئًا

قصاب مزدوري دد ے څۀ نۀ ور کوی[1].

بَابُ الِاشْتِرَاكِ فِي الْهَدْيِ

باب : په قربانۍ کښې شريك كيدل جائز دى

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ

د جابر نه روايت د ے چه قرباني اوکړه مونږ د رسول الله ﷺ سره د حديبيے په کال اوښ د اوۀ کسانو د طرف نه او غوا د اوۀ کسانو د طرف نه.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهِلِّينَ بِالْحَجِّ فَأَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ نَشْتَرِكَ فِي الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ كُلُّ سَبْعَةٍ مِنَّا فِي بَدَنَةٍ

د جابر نه روايت د ے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د حج احرام تړلی راووتو. او حضرت ﷺ مونږ ته حکم اوکړو چه شريك شئ په اوښ او غوا کښې اوه اوه سړی زمونږ نه په يوه قربانۍ کښې.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ اشْتَرَكْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ كُلُّ سَبْعَةٍ فِي بَدَنَةٍ فَقَالَ رَجُلٌ لِجَابِرٍ أَيُشْتَرَكُ فِي الْبَدَنَةِ مَا يُشْتَرَكُ فِي الْجَزُورِ قَالَ مَا هِيَ إِلَّا مِنَ الْبُدْنِ وَحَضَرَ

د جابر نه روايت د ے چه شريك شو مونږ د رسول الله ﷺ سره په حج او عمره کښې اوۀ اوۀ سړی په يوه بدنه کښې يو سړی جابر ؓ ته اووے چه ولے په بدنه کښې هم دومره سړی شريك کيد ے شی خومره چه په جزور کښې وی؟ نو جابر اووے چه بدنه او جزور يو څيز د ے (يعنی دواړه اوښ ته وئيلے شی) او حاضر شو جابر ؓ په

---

[1] : د بُدنے استعمال اكثر په حديثو او د فقهے په كتابونو كښې په اوښ باند ے راځی. مگر د لغت خاوندانو په غوا او بزه باند ے هم دد ے اطلاق کړ ے د ے. او دد ے حديث نه څو مسئلے ثابتے شو ے. اول معلومه شوه چه د قربانۍ اوړل د ځان سره مستحب دی. دويم دا چه د هغے د ذبح او قربانۍ دپاره چا لره نائب کول صحيح دی. دريم پخپله قربانی ذبح کول مستحب دی. څلورم د غوښے او څرمنے اوغولانځے تول خيرات او تقسيمول ضروری دی. پنځم اجرت د قصاب د هغے نه نۀ ور کول پکار دی. شپږم ثابته شوه چه اجرت د قصاب حلال او صحيح د ے. او مذهب د شافعيؤ دا د ے چه خرڅول د شافعيؤ په مذهب د څرمنے صحيح نۀ دی نۀ د غوښے وغيره او نۀ د هغے نه په کور کښې نفع اخستل خواه کۀ هغه قربانی واجب وی يا مستحب او دغه قول د ے د عطاء او نخعی او مالك او احمد او د اسحق او ابن منذر ابن عمر او اسحق او احمد نه روايات دی چه په د ے کښې څۀ حرج نشته چه څرمن د هغے خرڅه کړ ے شی او د هغے قيمت خيراتی ور کړ ے شی. او ابوثور هم د خرڅولو اجازت ور کړ ے د ے. او نخعی او اوزاعی هم وئيلے دی چه دد ے په عوض کښې څۀ مضائقه نشته کۀ غلبيل او صابون او تله وغيره واخلی. او حسن بصری وئيلے دی چه قصاب له په اجرت کښې څرمن ور کول روا دی. مگر دا د سنتو خلاف دی. او دا قول د حسن بصری د حديثو خلاف د ے خکه مردود د ے. او قاضی عياض وئيلے دی چه جهول اچول په خاص اوښ باند ے دی. او سنت دی او د سلفو نه مروج دی. او مالك او شافعی وغيره وئيلے دی چه روستو د قب خيرلو نه د پر ے جهول واچولے شی چه په وينه کښې گنده نۀ شی. او وئيلے دی چه قيمت د جهول د هم د اوښ د حيثيت موافق وی يعنی د څومره قيمت چه د قربانۍ اوښ وی د هغے مناسب به جهول هم وی. څنگه چه مثل مشهور د ے شمله په مقدار د علم.

جَابِرٌ الْحُدَيْبِيَةَ قَالَ نَحَرْنَا يَوْمَئِذٍ سَبْعِينَ بَدَنَةً اشْتَرَكْنَا كُلُّ سَبْعَةٍ فِي بَدَنَةٍ

حديبيه کښې. نو هغوی اووے چه قربانی کړو مونږ او يا اوښان او په هر يو اوښ کښې اوهٔ بنيادم شريك وو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يُحَدِّثُ عَنْ حَجَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأَمَرَنَا إِذَا أَحْلَلْنَا أَنْ نُهْدِيَ وَيَجْتَمِعَ النَّفَرُ مِنَّا فِي الْهَدِيَّةِ وَذٰلِكَ حِيْنَ أَمَرَهُمْ أَنْ يَحِلُّوا مِنْ حَجِّهِمْ فِي هٰذَا الْحَدِيْثِ

د جابر بن عبد الله نه د نبی کریم ﷺ د حج په باره کښې روايت دے. وائی چه حکم اوکړو مونږ ته هغوی چه هر کله مونږ احرامونه کهلاؤ کړو او قربانی کوو نو څو سړی د زمونږ نه په يوه يوه قربانئ کښې شريك شی. او دا وخت شوے وو چه حضرت ﷺ په حجة الوداع کښې د حج په احرام عمره او کړله او کهولاؤئے کړو.[1]

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا نَتَمَتَّعُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ بِالْعُمْرَةِ فَنَذْبَحُ الْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ نَشْتَرِكُ فِيهَا

د جابر بن عبد الله نه روايت دے وائی چه مونږ په تمتع کښې د رسول الله ﷺ سره وو. نو په يوه غوا کښې به اوهٔ سړی شريك کيدل.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ ذَبَحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَائِشَةَ بَقَرَةً يَوْمَ النَّحْرِ

د جابر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د جناب عائشے صديقے د طرفنه يوه غوا د قربانئ په ورځ ذبح کړه.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ نَحَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نِسَائِهِ وَفِي حَدِيْثِ ابْنِ بَكْرٍ عَنْ عَائِشَةَ بَقَرَةً فِي حَجَّتِهِ

د جابرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د خپلو ټولو بيبيانو د طرفنه قربانی اوکړه. او د ابن بکر په روايت کښې دی چه د حضرت عائشے د طرفنه يوه غوا ذبح کړه په خپل حج کښې.

---

[1]: دد ے احاديثونه په قربانئ کښې شراکت ثابت شو او په دے کښې د علماؤ اختلاف دے. مذهب د شافعی دغه چه شراکت روا دے. خواه کهٔ قربانی واجب وی يا مستحب. او برابره خبره ده چه په ځنے شريکتيانو باندے واجب وی. او د ځنو نيت صرف د قرب الهی وی. او ځنے صرف د غوښے خوړلو اراده لری. عرض دا چه د ټولو شراکت دوست دے. او دليل د هغوی دغه حديثونه دی. او د امام احمدؒ او جمهورو او د داؤد ظاهری قول دے چه شرکت په نفلی قربانئ کښې روا دے او په واجب کښې روا نهٔ دے او دغه قول دے د ځنے مالکيؤ او مالکيه وائی چه مطلق شراکت روا نهٔ دے. مگر دا قول بالکل د صحيح احاديثو نه خلاف دے. لهٰذا مسموع نهٔ دے. او ابوحنيفه وئيلے دی چه شراکت هله روا دے چه د ټولو نيت تقرب الی الله وی. او کهٔ د ټولو نيت داسے نهٔ وی نو روا نهٔ دے (يعنی څوك په دوی کښې د غوښے خوړلو نيت والا نهٔ وی) او شراکت په بزه او گډه کښې جائز نهٔ دے. په دے کښې د ټولو اتفاق دے. او دد ے حديثونو نه معلومه شوه چه په اوښ او غوا کښې اوهٔ اوهٔ بنيادم شريك کيدے شی. او هر يو ځناور د دوی نه لکه د اوهٔ و بزو برابر د. تردے پورے چه کهٔ چرے په چا باندے اوهٔ قربانئ وی نو يو اوښ قربانی کول دد ے ټولو د پاره پوره کيږی. او د جابر د آخری روايت نه معلومه شوه چه په تمتع باندے قربانی واجب ده. او په واجب قربانئ کښې هم شراکت صحيح دے. او په دے سره د قول د امام مالك او داؤد ظاهری وغيره رد اوشو. او دد ے روايت نه دا هم معلومه شوه چه د تمتع قربانی به د عمرے نه پس ذبحه کوی. او د حج د احرام تړلو نه مخکښې او په دے کښې اختلاف هم دے مگر صحيح دا ده چه د عمرے نه پس ئے ذبحه کړی.

بَاب اسْتِحْبَابِ نَحْرِ الْإِبِلِ قِيَامًا مَعْقُولَةً

عَنْ زِيَادِ بْنِ جُبَيْرٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَتَى عَلَى رَجُلٍ وَهُوَ يَنْحَرُ بَدَنَتَهُ بَارِكَةً فَقَالَ ابْعَثْهَا قِيَامًا مُقَيَّدَةً سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بَاب اسْتِحْبَابِ بَعْثِ الْهَدْيِ إِلَى الْحَرَمِ

عَنْ عَائِشَةَ ؓ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهْدِي مِنَ الْمَدِينَةِ فَأَفْتِلُ قَلَائِدَ هَدْيِهِ ثُمَّ لَا يَجْتَنِبُ شَيْئًا مِمَّا يَجْتَنِبُ الْمُحْرِمُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

عَنْ عَائِشَةَ ؓ قَالَتْ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيَّ أَفْتِلُ قَلَائِدَ هَدْيِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهِ

عَنْ عَائِشَةَ ؓ تَقُولُ كُنْتُ أَفْتِلُ قَلَائِدَ هَدْيِ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِيَدَيَّ هَاتَيْنِ ثُمَّ لَا يَعْتَزِلُ شَيْئًا وَلَا يَتْرُكُهُ

عَنْ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ أَنَا فَتَلْتُ تِلْكَ الْقَلَائِدَ مِنْ عِهْنٍ كَانَ عِنْدَنَا فَأَصْبَحَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَلَالًا يَأْتِي مَا يَأْتِي الْحَلَالُ مِنْ أَهْلِهِ أَوْ يَأْتِي مَا يَأْتِي الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِهِ

باب : اوښ تړلے اودرولے قرباني کول مستحب دی

د زیاد نه روایت دے چه عبد الله بن عمر یو سړے اولیدو چه اوښ ئے په ناستے قرباني کړو نو ورته ئے اووے چه دے اودروه او خپے ئے اوتړه او قرباني ئے کړه. دا سنت دی ستاسو د نبی ﷺ [1].

باب : قربانئ لره حرم محترم ته لیږل مستحب دی

د حضرت عائشے ؓ نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ به د مدینے نه قربانئ لیږله او ما به د دغے په غاړه کښې هار اچولو. بیا به هغوی د څۀ څیز نه پرهیز نۀ کولو لکه څنګه چه محرم پرهیز کوی. د ابن شهاب ؒ نه په دغه اسناد سره دغه مضمون روایت کړے شوے دے.

د حضرت عائشے نه روایت دے فرمائی چه زۀ خپل ځان لره وینم چه ما به د رسول الله ﷺ قربانو ته هارونه تړل. وړاندے مضمون هغه دے کوم چه پورته تیر شو.

د حضرت عائشے نه روایت دے فرمائی چه ما به د رسول الله ﷺ قربانو ته هارونه اچول په لاسونو سره . بیا به هغوی هیڅ شے نۀ پریخودلو.

د مؤمنانو مور فرمائی چه ما به هارونه جوړول د وړئ نه چه هغه به خما سره پراتۀ وو او رسول الله ﷺ به زمونږ په مینځ کښې حلال وو (یعنی قربانی به ئے اولیږله) او د خپلو بیبیانو سره به ئے صحبت کوو لکه څنګه چه حلال خلق کوی (یعنی چا چه احرام نۀ وی تړلے)

---

[1] : ددے نه معلومه شوه چه د اوښ ګسه ړومبئ خپه تړل او قربانی کول سنت دی چه هغه په دریو خپو باندے ولاړ وی. او غوا او بزه په ملاستے ذبح کول پکار دی . او درے خپے د غوا هم تړل پکار دی . او یوه ښئ خپه به آزاده وی. او دغه مذهب دے د شافعی چه اوښ به په ولاړے ذبح کوی یعنی قربانی کوی. او د مالك او احمد او جمهورو. او د ابوحنیفه او ثوری په نز ولاړ او ناست دواړه برابر دی.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَقَدْ رَأَيْتُنِي أَفْتِلُ الْقَلَائِدَ لِهَدْيِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْغَنَمِ فَيَبْعَثُ بِهِ ثُمَّ يُقِيمُ فِينَا حَلَالًا

د حضرت عائشې ؓ نه روایت دے چه زهٔ خپل ځان لره وینم چه جوړ وو به مے هار د رسول الله ﷺ د قربانئ د بزو دپاره. او حضرت ﷺ به هغه اولیږلے او بیا به حلال اوسیدو (یعنی محرم به نهٔ وو)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَهْدَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً إِلَى الْبَيْتِ غَنَمًا فَقَلَّدَهَا

د حضرت عائشې نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ یو خل بزے اولیږلے بیت الله ته او د هغوی په غاړو کښې ئے هار واچو.

عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّ ابْنَ زِيَادٍ كَتَبَ إِلَى عَائِشَةَ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ قَالَ مَنْ أَهْدَى هَدْيًا حَرُمَ عَلَيْهِ مَا يَحْرُمُ عَلَى الْحَاجِّ حَتَّى يُنْحَرَ الْهَدْيُ وَقَدْ بَعَثْتُ بِهَدْيِي فَاكْتُبِي إِلَيَّ بِأَمْرِكِ قَالَتْ عَمْرَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ لَيْسَ كَمَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَنَا فَتَلْتُ قَلَائِدَ هَدْيِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيَّ ثُمَّ قَلَّدَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ ثُمَّ بَعَثَ بِهَا مَعَ أَبِي فَلَمْ يَحْرُمْ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ شَيْءٌ أَحَلَّهُ اللهُ لَهُ حَتَّى نُحِرَ الْهَدْيُ

د عمره بنت عبد الرّحمٰن ؓ نه روایت دے چه ابن زیاد جناب عائشې صدیقې ته اولیکل چه عبد الله ابن عباس وائی چه چا قربانی اولیږله په هغوی باندے حرام شو هغه څیزونه کوم چه په حاجی باندے حرام وی د کومے پورے چه قربانی ذبح شوے نهٔ وی. او ما قربانی لیږلے ده. پس چه څهٔ حکم وی ما ته اولیکه حضرت عائشې اووے چه ابن عباس څنګه اووے دغسے نهٔ ده. ما پخپله هارونه جوړ کړے دی د رسول الله ﷺ قربانو ته. او حضرت ﷺ به د هغوی په غاړه کښې واچولے او څما د پلار سره ئے قربانئ اولیږلے. او هیڅ څیز په هغوی باندے حرام نهٔ وو د هغے د ذبح کولو پورے چه الله پاک د هغوی دپاره حلال کړے وو.

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ وَهِيَ مِنْ وَرَاءِ الْحِجَابِ تُصَفِّقُ وَتَقُولُ كُنْتُ أَفْتِلُ قَلَائِدَ هَدْيِ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِيَدَيَّ ثُمَّ يَبْعَثُ بِهَا وَمَا يُمْسِكُ عَنْ شَيْءٍ مِمَّا يُمْسِكُ عَنْهُ الْمُحْرِمُ حَتَّى يُنْحَرَ هَدْيُهُ

د مسروق نه روایت دے وائی چه ما د جناب عائشې صدیقې نه اوریدلی دی چه هغے د پردے نه شاته دستك ورکوؤ اوفرمائیل چه ما به جوړولو هار د قربانئ دپاره پخپلو لاسونو سره او جناب رسول الله ﷺ به هغوی لره لیږلے او بیا د هغے د ذبح پورے به ئے د څهٔ څیز نه پرهیز نهٔ کوو[1].

---

[1]: دد ے تولو روایتونو نه څو مسئلے معلومے شوے.۱. قربانی لیږل حرم ته مستحب دی.۲. کهٔ څوك پخپله نهٔ شی تلے هغه دِ ئے د بل په لاس اولیږی.۳. د قربانئ په غاړه هار اچول او قب ورله زخمی کول مستحب دی. ۴. هار اچول په غاړه د بزے ،غوا، اوښ تولو کښې مستحب دی.۵ . هار جوړول او تړل مستحب دی. ٦. څوك چه قربانی اُولیږی محرم نهٔ شی کیدے. د کافه علماؤ په نز او دغه مذهب صحیح دے او چا چه خلاف کړے دے د هغهٔ قول د حدیث د مخالفت په وجه مسموع نهٔ دے. ۷. مالك او ابوحنیفه وئیلی دی چه هار

بَاب جَوَازِ رُكُوبِ الْبَدَنَةِ الْمُهْدَاةِ لِمَنْ احْتَاجَ إِلَيْهَا

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَسُوقُ بَدَنَةً فَقَالَ ارْكَبْهَا قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهَا بَدَنَةٌ فَقَالَ ارْكَبْهَا وَيْلَكَ فِي الثَّانِيَةِ أَوْ فِي الثَّالِثَةِ

عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَسُوقُ بَدَنَةً مُقَلَّدَةً

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَسُوقُ بَدَنَةً مُقَلَّدَةً قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلَكَ ارْكَبْهَا فَقَالَ بَدَنَةٌ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ وَيْلَكَ ارْكَبْهَا وَيْلَكَ ارْكَبْهَا

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ سُئِلَ عَنْ رُكُوبِ الْهَدْيِ فَقَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

باب : د قربانئ په اوښ باندے د ضرورت په وخت سوریدل جائز دی

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یو سړے اولیدو چه د قربانئ اوښ ئے ترلے دے او راکاږی ئے. حضرت ﷺ اوفرمائیل په دهٔ باندے سور شه هغه عرض اوکړو دا د قربانئ دے. حضرت ﷺ ورته بیا اوفرمائیل په دے باندے سور شه هغهٔ بیا دغه عرض اوکړو . حضرت ﷺ ورته په دویم خل یا په دریم خل اوفرمائیل خرابی ده تالره سور شه پرے[1].

د ابوالزناد نه په دے اسناد سره روایت دے. او وائی چه یو سړی د اوښ په غاړه کښې هار اچولے راکاږهٔ ئے.

ابوهریره د محمد رسول الله ﷺ نه څو احادیث روایت کړے دی چه پکښې یو دا هم وو چه یو سړی اوښ رابشکودلو او هغه اوښ مقلد وو (یعنی د هغے په غاړه کښې هار اچولے شوے وو) نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل خرابی ده تالره په دے باندے سور شه هغهٔ عرض اوکړو یا رسول الله! دا د قربانئ دے. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل سور شه خرابی ده ستا سور شه خرابی ستا.

د جابر نه روایت دے چه چا د هغوی نه د قربانئ په اوښ باندے د سوریدو متعلق تپوس اوکړو نو هغوی اووے چه ما د نبی نه

اچول صرف د اوښ او غوا په غاړه کښې اچول مستحب دی. ٨. او ابن زیاد کوم چه په پورته روایت کښې راغلے دے دا غلطی ده. صحیح زیاد بن ابی سفیان دے. او دغسے په بخاری او مؤطا او سنن ابوداؤد وغیره کښې راغلے دی. او ابن زیاد د حضرت عائشے زمانه نهٔ ده مونډلے. نووی.

[1] : ددے نه معلومه شوه چه د قربانئ په وخت په دے سوریدل جائز دی. او د شافعی په نز بغیر د ضرورت نه روا نهٔ دی. او په دے شان به سوریږی چه هغه خناور ته تکلیف نهٔ ږی او دغه وینا ده د مالك ا ود یو جماعت. او دویم روایت د مالك او قول د احمد او اسحق دا دے چه بغیر د ضرورت نه هم روا دی. او اهل ظاهر مذهب هم دغه دے. او دا حدیث د هغوی دلیل دے. او د ابو حنیفه قول دے د زیاتے مجبورئ په وخت روا دی.

وَسَلَّمَ يَقُولُ ارْكَبْهَا بِالْمَعْرُوفِ إِذَا أُلْجِئْتَ إِلَيْهَا حَتَّى تَجِدَ ظَهْرًا

اوریدلے دی چه په دے باندے په داسے شان سورېږئ چه تکلیف ورته نه وی و هر کله چه تاسو ته ضرورت وی او بله سورلی میلاؤ نه شی

بَاب مَا يَفْعَلُ بِالْهَدْيِ إِذَا عَطِبَ فِي الطَّرِيقِ

باب : هر کله چه د قربانۍ څاروے په لاره تلے نه شی نو څۀ به کوے

عَنْ مُوسَى بْنِ سَلَمَةَ الْهُذَلِيِّ قَالَ انْطَلَقْتُ أَنَا وَسِنَانُ بْنُ سَلَمَةَ مُعْتَمِرَيْنِ قَالَ وَانْطَلَقَ سِنَانٌ مَعَهُ بِبَدَنَةٍ يَسُوقُهَا فَأَزْحَفَتْ عَلَيْهِ بِالطَّرِيقِ فَعَيِيَ بِشَأْنِهَا إِنْ هِيَ أُبْدِعَتْ كَيْفَ يَأْتِي بِهَا فَقَالَ لَئِنْ قَدِمْتُ الْبَلَدَ لَأَسْتَحْفِيَنَّ عَنْ ذَلِكَ قَالَ فَأَضْحَيْتُ فَلَمَّا نَزَلْنَا الْبَطْحَاءَ قَالَ انْطَلِقْ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ نَتَحَدَّثْ إِلَيْهِ قَالَ فَذَكَرَ لَهُ شَأْنَ بَدَنَتِهِ فَقَالَ عَلَى الْخَبِيرِ سَقَطْتَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسِتَّ عَشْرَةَ بَدَنَةً مَعَ رَجُلٍ وَأَمَّرَهُ فِيهَا قَالَ فَمَضَى ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا أُبْدِعَ عَلَيَّ مِنْهَا قَالَ انْحَرْهَا ثُمَّ اصْبُغْ نَعْلَيْهَا فِي دَمِهَا ثُمَّ اجْعَلْهُ عَلَى صَفْحَتِهَا وَلَا تَأْكُلْ مِنْهَا أَنْتَ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ رُفْقَتِكَ

د موسٰی بن سلمه نه روایت دے وائی چه زۀ او سنان دواړه عمرے له لاړو او د سنان سره د قربانۍ اوښ وو او هغه رابنکودو او هغه په لاره ستړے شو او دۀ چه د هغۀ حال اولیدۀ نو عاجز شو چه کۀ دا بالکل پاتے شی نو دے به څنګه اورم. او اوئے وئیل چه کچرے زۀ ښار ته اورسیدم نو د دے حکم به په ښۀ طریقه معلوم کړم. بیا چه هر کله د څاښت وخت شو او مونږ بطحا ته اورسیدو او سنان ما ته اووے چه زمونږ سره د ابن عباس خوا له لاړ شه چه هغۀ ته د دے ذکر اوکړو. غرض دا چه هغوی له لاړو او د دے ذکر مو ورته اوکړو هغوی اووے تاسو خبردار بنده اوموندۀ. اوس واورئ جناب رسول الله ﷺ شپاړس اوښان د یو سړی سره اولیږل او هغه روان شو او بیا واپس شو او تپوس ئے اوکړو چه یا رسول الله ﷺ کچرے په دوی کښ یو ستړے شی نو څۀ به کوم؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه قربانی کړه. او د هغۀ د غاړے پیزار (کوم چه په هار کښ غوټه کړے شوے وی دا دے دپاره چه معلومه شی چه دا د قربانۍ څاروے دے) به د هغۀ په وینو کښ رنګ کړئ د هغۀ په کوب کښ به ښنه اولګوے او د هغے نه به نۀ تۀ خورے او نۀ ستا یو ملګرے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بِثَمَانَ عَشْرَةَ بَدَنَةً مَعَ رَجُلٍ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ عَبْدِ الْوَارِثِ

د ابن عباس نه روایت دے چه په دے کښ هم د رسول الله ﷺ اتلس اوښان د یو سړی سره روان کړل وړاندے مضمون د عبد الوارث د حدیث پشان دے. مګر په دے کښ د حدیث د اول سر مضمون ذکر

وَلَمْ يَذْكُرْ أَوَّلَ الْحَدِيثِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ ذُؤَيْبًا أَبَا قَبِيصَةَ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَبْعَثُ مَعَهُ بِالْبُدْنِ ثُمَّ يَقُولُ إِنْ عَطِبَ مِنْهَا شَيْءٌ فَخَشِيتَ عَلَيْهِ مَوْتًا فَانْحَرْهَا ثُمَّ اغْمِسْ نَعْلَهَا فِي دَمِهَا ثُمَّ اضْرِبْ بِهِ صَفْحَتَهَا وَلَا تَطْعَمْهَا أَنْتَ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ رُفْقَتِكَ

کړے شوے نۀ دے.

د عبد الله بن عباس نه ذویب روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ خما سره د قربانئ اوښان اولیږل او اوئے فرمائیل کۀ هر یو د دوی نه ستړے شي او د مرګ یره وی نو هغۀ لره حلالوئ یعنی قربانی کوئ د هغۀ د غاړے پیزار به په وینو کښې رنګ کړئ او د هغۀ په کوب کښې به ښنبه اوکړئ او نۀ به تۀ د هغے غوښه خورے او نۀ ستا یو ملګرے[1].

بَاب وُجُوبِ طَوَافِ الْوَدَاعِ

باب: د طواف وداع د واجب کیدو بیان

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَنْصَرِفُونَ فِي كُلِّ وَجْهٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا يَنْفِرَنَّ أَحَدٌ حَتَّى يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهِ بِالْبَيْتِ قَالَ زُهَيْرٌ يَنْصَرِفُونَ كُلَّ وَجْهٍ وَلَمْ يَقُلْ فِي

د ابن عباس نه روایت دے چه خلق اخوا دیخوا تلل را تلل چه جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یو سړے د سفر نۀ کوی د کومے پورے چه د تلو په وخت د بیت الله طواف او نۀ کړی. د زهیر په روایت کښې د فی لفظ نشته.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أُمِرَ النَّاسُ أَنْ يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهِمْ بِالْبَيْتِ إِلَّا أَنَّهُ خُفِّفَ عَنِ الْمَرْأَةِ الْحَائِضِ

د ابن عباس نه روایت دے چه خلقو ته حکم شوے دے چه په آخر کښې د بیت الله د خوانه اوکړئ او ځئ (یعنی طواف) او په حائضے باندے تخفیف اوشو (یعنی د طواف وداع دپاره).

عَنْ طَاوُسٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ إِذْ قَالَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ تُفْتِي أَنْ تَصْدُرَ الْحَائِضُ قَبْلَ أَنْ يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهَا بِالْبَيْتِ فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ

طاؤس نه روایت دے چه زۀ د ابن عباس سره وم او زید بن ثابت فتوی ورکوله چه حائضه ښځه د راوتو نه مخکښې لکه د حیض نه مخکښې طواف رخصت کوی. نو ابن عباس اووے چه کچرے ستا

[1] هر کله چه یوه قربانی په لاره مانده شي نو د هغے حکم دغه دے کوم چه ذکر شو او د هغے خوړل د قربانئ خاوند لره او د هغۀ ملګرو لره حرام دی. خواه کۀ هغه د دۀ سره د خوراك څښاك کښې شامل یعنی شریك وی یا جدا وی. او امام شافعیؒ په نز کچرے هغه قربانی د نفل وی نو خوړل څکل او خرڅول وغیره د هغے د ټول روا دی. او کۀ قربانی د نذر وی نو د هغے ذبح کول او پریخودل پکار دی. او کچرے ذبح ئے نۀ کړه او مړه شوه نو د هغے په بدله کښې قربانی کول واجب دی. او غوښه د هغے مالدارانو ته مطلقاً خوړل روا نۀ دی سوا د مسکینانو نه او مسکینان هم هغه چه هغه د دے قربانئ والا په قافله کښې نۀ وی د جمهورو قول دغه دے. او د دغے قربانئ د ضائع کیدو یره په د ے وجه سره نشته چه قافلے پر له پسے راځي دویمه قافله به راشي هغه به ئے اوخوری.

إِمَّا لَا فَسَلْ فُلَانَةَ الْأَنْصَارِيَّةَ هَلْ أَمَرَهَا بِذٰلِكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَرَجَعَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَضْحَكُ وَهُوَ يَقُوْلُ مَا أَرَاكَ إِلَّا قَدْ صَدَقْتَ

یقین نۀ وی نو د فلانئ انصاری بی بی نه تپوس اوکړه چه آیا رسول الله ﷺ هم د دے حکم ورکړے دے یا نا. پس زید بن ثابت د ابن عباس خواله واپس راغے او اوئے وئیل چه زۀ پوهه یم چه تۀ رښتیا وائے[1].

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ وَعُرْوَةَ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ حَاضَتْ صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ بَعْدَ مَا أَفَاضَتْ قَالَتْ عَائِشَةُ فَذَكَرْتُ حِيْضَتَهَا لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَحَابِسَتُنَا هِيَ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهَا قَدْ كَانَتْ أَفَاضَتْ وَطَافَتْ بِالْبَيْتِ ثُمَّ حَاضَتْ بَعْدَ الْإِفَاضَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَلْتَنْفِرْ

حضرت عائشے فرمائیلی دی چه د صفیے حیض راغے د طواف افاضے نه روستو او ما رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل. آیا هغه مونږ لره حصار کونکے ده؟ نوما عرض اوکړو چه هغے طواف افاضه ئے کړے دے. نو حائضه شوے ده. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل نوبیا بے شکه سفر کوئ.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ مِنْ صَفِيَّةَ بَعْضَ مَا يُرِيْدُ الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِهِ فَقَالُوا إِنَّهَا حَائِضٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ وَإِنَّهَا لَحَابِسَتُنَا فَقَالُوا يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهَا قَدْ زَارَتْ يَوْمَ النَّحْرِ قَالَ فَلْتَنْفِرْ مَعَكُمْ

د حضرت عائشے نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ اراده اوشوه کومه چه سړی ته د خپلے بی بی سره کیږی. نو عرض اوشو چه هغوی حائضه ده. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه تۀ مونږ لره حصارول غواړے. عرض اوشو چه هغے د قربانئ په ورځ طواف افاضه کړے دے. بیائے اوفرمائیل ستاسو سره د سفر کوی.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْفِرَ إِذَا صَفِيَّةُ عَلَى بَابِ خِبَائِهَا كَئِيْبَةً حَزِيْنَةً فَقَالَ عَقْرَى حَلْقَى إِنَّكِ لَحَابِسَتُنَا ثُمَّ قَالَ لَهَا أَكُنْتِ أَفَضْتِ يَوْمَ النَّحْرِ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ فَانْفِرِي

د حضرت عائشے نه روایت دے فرمائی چه هر کله حضرت ﷺ د سفر اراده اوکړه. صفیه د خپلے خیمے په دروازه کښې خفه ولاړه وه. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل بے اولاد سر خریلے ولے تۀ مونږ حصار وے. بیائے هغوی ته اوفرمائیل چه تا د قربانئ په ورځ طواف افاضه کړے دے؟ هغوی عرض اوکړو چه آو. حضرت ﷺ

[1] غرض دا ضروری نۀ ده چه د مخکښې نه د طواف اوکړی مخکښې د تلو نه چه کیدے شی د تلو په وخت حیض راشی بلکه حکم داد ے چه د تلو په وخت کۀ حیض نۀ وی طواف د اوکړی او کۀ حیض وی نو معاف دے.

اوفرمائیل څئ (یعنی د طواف وداع معاف)[1].

بَاب اسْتِحْبَابِ دُخُولِ الْكَعْبَةِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ دَخَلَ الْكَعْبَةَ هُوَ وَأُسَامَةُ وَبِلَالٌ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْحَجَبِيُّ فَأَغْلَقَهَا عَلَيْهِ ثُمَّ مَكَثَ فِيهَا قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَسَأَلْتُ بِلَالًا حِينَ خَرَجَ مَا صَنَعَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَالَ جَعَلَ عَمُودَيْنِ عَنْ يَسَارِهِ وَعَمُودًا عَنْ يَمِينِهِ وَثَلَاثَةَ أَعْمِدَةٍ وَرَاءَهُ وَكَانَ الْبَيْتُ يَوْمَئِذٍ عَلَى سِتَّةِ أَعْمِدَةٍ ثُمَّ صَلَّى

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَنَزَلَ بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ وَأَرْسَلَ إِلَى عُثْمَانَ بْنِ طَلْحَةَ فَجَاءَ بِالْمِفْتَحِ فَفَتَحَ الْبَابَ قَالَ ثُمَّ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِلَالٌ وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ وَأَمَرَ بِالْبَابِ فَأُغْلِقَ فَلَبِثُوا فِيهِ مَلِيًّا ثُمَّ فَتَحَ الْبَابَ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ فَبَادَرْتُ النَّاسَ فَتَلَقَّيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَارِجًا وَبِلَالٌ عَلَى إِثْرِهِ فَقُلْتُ لِبِلَالٍ هَلْ صَلَّى فِيهِ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ أَيْنَ قَالَ بَيْنَ الْعَمُودَيْنِ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ قَالَ وَنَسِيتُ أَنْ أَسْأَلَهُ كَمْ صَلَّى

باب: کعبې ته دننه تلل مستحب دي

د ابن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ او اسامه او بلال او عثمان بن طلحه ننوتل کعبې ته او دروازه ئې بنده کړه. او هغوی حصار شو. بیا ابن عمر د بلال نه تپوس اوکړو هر کله چه بهر راووتل چه څه څه اوکړل رسول الله ﷺ نو هغوی اووے چه دوه ستنې ئې د ځان نه گس طرفته کړے او یوه ئې ښی طرفته کړه او درے ئې روستو کړے او په کعبه کښې دننه په هغه ورځو شپږ ستنې وے او بیائې مونځ ادا کړو.

د ابن عمر نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ د فتح مکه په ورځ راغے. او د کعبې په میدان کښې کوز شو. او په عثمان بن طلحه پسے ئې قاصد اولیږلو او د هغۀ نه ئې کنجی راوړه او دروازه ئې کهولاو کړه او حضرت ﷺ او بلال او اسامه او عثمان بن طلحه دننه لاړل. او حکم ئې اوکړو چه دروازه بنده کړئ او لږ ساعت دننه حصار وو او بیائې دروازه کهولاو کړه. بیا د ټولو خلقو نه مخکښې زۀ د حضرت ﷺ سره میلاو شوم د کعبې نه بهر او بلال په هغوی ورپسے وو. نو ما د بلال نه تپوس اوکړو چه آیا رسول الله ﷺ په دے کښې مونځ اوکړه؟ هغوی اووے آو. ما اووے کوم کوم ځائے کښې؟ هغوی اووے چه د دوؤ ستنو په مینځ کښې خپلے مخے ته او خما هیر شو چه تپوس ترے اوکړم چه څومره رکعتونه ئې اوکړل.

---

[1] د دے روایتونو نه معلومه شوه چه طواف وداع خو حائضې ته معاف دے. او طواف افاضه رکن دے چه بغیر دد ے د ادا کولو نه حائضه چرته تلے نۀ شي. او که بغیر د طواف افاضه د ادا کو نه خپل وطن ته لاړه نو محرمه به وي. او معلومه شوه چه طواف افاضه ته زیارت ونیل هم روا دي او مالك وائي چه مکروه دي. مګر د هغوی څۀ دلیل معتبر نشته

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَقْبَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ عَلَى نَاقَةٍ لِأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ حَتَّى أَنَاخَ بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ ثُمَّ دَعَا عُثْمَانَ بْنَ طَلْحَةَ فَقَالَ ائْتِنِي بِالْمِفْتَاحِ فَذَهَبَ إِلَى أُمِّهِ فَأَبَتْ أَنْ تُعْطِيَهُ فَقَالَ وَاللهِ لَتُعْطِيْنِهِ أَوْ لَيَخْرُجَنَّ هٰذَا السَّيْفُ مِنْ صُلْبِي قَالَ فَأَعْطَتْهُ إِيَّاهُ فَجَاءَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَدَفَعَهُ إِلَيْهِ فَفَتَحَ الْبَابَ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه په کوم کال چه مکه فتح شوه نو رسول الله ﷺ د اسامه په اوښه باندے سور د کعبے انګړ ته راغے. او اوښه ئے کښینوله او عثمان ئے راوغښتو او ورته ئے اوفرمائیل چه کنجی راوړه. هغه د خپلے مور خواله لاړو او هغے د کنجئ د ورکولو نه انکار اوکړو. بیا ورته عثمان اووے چه کنجی راکړه او که نه راکوے نو دا توره به خما د سلا نه پورے اوخی. نو کنجی ئے ورکړه. او هغه ئے راوړه د حضرت ﷺ په خوا کښې حاضر شو او حضرت ﷺ ته ئے ورکړه. حضرت ﷺ دروازه کھولاؤ کړه. مخکښې هغه مضمون دے کوم چه پورته تیر شو د حماد بن زید په روایت کښې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ دَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْتَ وَمَعَهُ أُسَامَةُ وَبِلَالٌ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ فَأَجَافُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ طَوِيْلًا ثُمَّ فُتِحَ فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ دَخَلَ فَلَقِيْتُ بِلَالًا فَقُلْتُ أَيْنَ صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَيْنَ الْعَمُوْدَيْنِ الْمُقَدَّمَيْنِ فَنَسِيْتُ أَنْ أَسْأَلَهُ كَمْ صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ کعبے ته دننه لاړو او اسامه او بلال او عثمان د هغوی سره وو. او خلقو د هغوی د ننوتو نه پس دروازه بنده کړه د ډیر وخته پورے. بیائے دروازه کھولاؤ کړه نو د ټولو نه مخکښې زۀ دننه لاړم او د بلال سره میلاؤ شوم او ورته مے اووے چه کوم ځائے مونځ اوکړو رسول الله ﷺ ؟ هغوی اووے د دوؤ ستنو په مینځ کښې کومے چه مخکښې دی. او خما هیر شو چه د هغوی نه مے دا تپوس اونۀ کړو چه څومره مونځ ئے اوکړو.

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّهُ قَالَ دَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْتَ هُوَ وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَبِلَالٌ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ فَأَغْلَقُوْا عَلَيْهِمْ فَلَمَّا فَتَحُوْا كُنْتُ فِي أَوَّلِ مَنْ وَلَجَ فَلَقِيْتُ بِلَالًا

سالم د خپل پلار نه روایت کړے دے. هغوی وائی. خانه کعبے ته ننوتل رسول الله ﷺ او اسامه او بلال او عثمان بن طلحه. بیائے دروازه بنده کړه. هر کله چه دروازه کھولاؤ شوه نو د ټولو نه مخکښې ما د بلال سره ملاقات اوکړو او د هغوی نه مے تپوس اوکړو چه آیا رسول الله ﷺ په خانه کعبه

فَسَأَلْتُهُ هَلْ صَلَّى فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ صَلَّى بَيْنَ الْعَمُودَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ دَخَلَ الْكَعْبَةَ هُوَ وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَبِلَالٌ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ وَلَمْ يَدْخُلْهَا مَعَهُمْ أَحَدٌ ثُمَّ أُغْلِقَتْ عَلَيْهِمْ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ فَأَخْبَرَنِي بِلَالٌ أَوْ عُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ صَلَّى فِي جَوْفِ الْكَعْبَةِ بَيْنَ الْعَمُودَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ قُلْتُ لِعَطَاءٍ أَسَمِعْتَ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ إِنَّمَا أُمِرْتُمْ بِالطَّوَافِ وَلَمْ تُؤْمَرُوا بِدُخُولِهِ قَالَ لَمْ يَكُنْ يَنْهَى عَنْ دُخُولِهِ وَلَكِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا دَخَلَ الْبَيْتَ دَعَا فِي نَوَاحِيهِ كُلِّهَا وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ حَتَّى خَرَجَ فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ فِي قُبُلِ الْبَيْتِ رَكْعَتَيْنِ وَقَالَ هَذِهِ الْقِبْلَةُ قُلْتُ لَهُ مَا نَوَاحِيهَا أَفِي زَوَايَاهَا قَالَ بَلْ فِي كُلِّ قِبْلَةٍ مِنَ الْبَيْتِ

کښې دننه مونځ اوکړو ؟ نو هغوی اووے چه آو. د دوؤ یمانی ستنو په مینځ کښې.

سالم بن عبد الله د خپل پلار نه روایت کړے دے هغوی وائی چه اولیدو ما رسول الله ﷺ لره چه کعبے ته دننه شو او اسامهؓ او بلالؓ او عثمانؓ هم ورسره وو. او نور ورسره څوك دننه نۀ شو. بیائے دروازه بنده کړه عبداللهؓ وائی چه خبر راکړے دے ماله بلال یا عثمان چه رسول الله ﷺ په کعبه کښې دننه مونځ اوکړو د دوؤ یمانی ستنو په مینځ کښې.

د ابن جریج نه روایت دے وائی چه ما عطاء ته اووے چه تا اوریدلے دی د ابن عباس نه چه هغوی فرمائیلے وو چه تاسو ته حکم شوے دے د طواف او حکم درته نۀ دے شوے کعبے ته د ننه وتلو. عطاء وائی چه هغوی منع نۀ کوله کعبے ته د دننه تلو نه مګر ما د هغوی نه اوریدلے دی چه ویلی ئے وو چه ما ته خبر راکړے دے اسامه بن زید چه نبی ﷺ چه کله کعبے ته ننوتو نو هر طرفته ئے په هغے کښې دُعا اوکړه او مونځ ئے نۀ دے کړے په هغے کښې بیا چه هر کله بهر راووتو نو دوه رکعته ئے د قبلے مخے ته اوکړل او اوئے فرمائیل چه هم دا قبله ده. مونږ هغوی ته اووے چه څۀ حکم دے ددے د غاړو او څۀ حکم دے ددے ګوټونو ته د مخ کولو. نو هغوی اوفرمائیل چه هر طرف د بیت الله شریف ته قبله ده[1].

[1] دغه قبله ده یعنی د قیامته پورے به ددے طرفته مونځ کیږی او دا به نۀ منسوخ کیږی. لکه چه د بیت المقدس طرفته مونځ کول منسوخ شو. یا مراد دا دے چه حضرت ﷺ لکه چه د امام اوریدل خودلے وی چه امام لره مسنون دغه دی چه د کعبے مخے ته ولاړ وی او د هغے ګوټونو او غاړو ته نۀ اودریږی اګر چه مونځ هر طرفته دا دے چه قبله دغه کعبه ده نۀ ټول جماعت چه د هغے نه چاپیره جوړ دے. چه دے ټولو روایتونو کښې محدثینو د بلال د روایت نه تمسك کړے دے چه په هغے کښې په کعبه کښې د ننه د مانځۀ ذکر دے. او د اسامه د روایت نه ئے تمسك نۀ دے کړے. ځکه چه بلال یو امر زیات ثابت کړے دے چه په هغے کښې په کعبه کښې دننه د مانځۀ ذکر دے او

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْكَعْبَةَ وَفِيهَا سِتُّ سَوَارٍ فَقَامَ عِنْدَ سَارِيَةٍ فَدَعَا وَلَمْ يُصَلِّ

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ ننوتو کعبے ته او په هغے کښې شپږ ستنے وے نو د هرے ستنے سره اودریدو او دُعائے اوغوښته او مونځ ئے او نهٔ کړو[1].

عَنْ إِسْمَعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ قَالَ قُلْتُ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى صَاحِبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْتَ فِي عُمْرَتِهِ قَالَ لَا

د اسماعیل نه روایت دے چه ما د عبد الله بن اوفیؓ نه تپوس اوکړو چه هغه صحابی وو د رسول اللهؐ چه اے داخل شوے دے نبی ﷺ په بیت الله کښې د عمرے په حالت کښې. هغوی اوفرمائیل چه نهٔ دے[2].

بَاب نَقْضِ الْكَعْبَةِ وَ بِنَائِهَا

باب: د کعبے د ورانول او بیا د جوړولو بیان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا حَدَاثَةُ عَهْدِ قَوْمِكِ

د عائشے صدیقے نه روایت دے وائی چه ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل کچرے ستاسو قوم نوے نوے کفر نهٔ پریخودے نو ما

مثبت مقدم دے په نافی باندے. ځکه دے لره ترجیح ورکړے شوے ده او د مانځهٔ نه مراد دغه مونځ مقصد دے چه په هغے کښې رکوع او سجده وی او ځکه چه ابن عمر وائی چه خما هیر شو چه تپوس مے ترے کړے وے چه څومره ئے اوکړو. او د اسامه د نهٔ لیدلو سبب کیدے شی چه دا وی چه دے بله کوټ کښې وو او په دُعا کښې مشغول وو او د حضرت ﷺ نه لرے وو په خلاف د بلال چه هغه به حضرت ﷺ ته نزدے وو. او د دروازے بندیدو په وجه به تیاره هم وه. او مونځ به د هغوی هلته لږ هم وو. او د کعبے په دننه د مانځهٔ ادا کولو کښې د علمائو اختلاف دے ځنو وئیلے دی چه هر کله ئے د یو دیوال په طرف یا دروازے په طرف ادا کړی او دروازه بنده وی نو مونځ روا دے خواه کهٔ نفل وی یا فرض او دا قول د شافعی او ثوری او ابوحنیفه او د احمد او مالك وئیلے دی نفل مطلق صحیح دی. لو فرض او وتر دوه رکعته د سحر او دوه رکعته د طواف جائز نهٔ دی. او د ځنے اهل ظاهرو او اصبغ مالکی قول دے چه په هغے کښې نشته نهٔ نفل او نهٔ فرض. او د جمهورو دلیل دغه د بلال روایتونه دی. او هر کله چه نفل روا شو نو جائز دی چه فرض هم روا شی. پس مذهب د جمهورو قوی دے. او د عثمان بن طلحه نه حضرت کنجی واخسته او بنی طلحه ته ئے اوسپارله او ورته ئے اوفرمائیل چه همیشهٔ به ستا سره وی. عرض خدمت دروازه د کعبے د هغوی په خاندان کښې دے د رسول الله د زمانے نه. او د کومے پورے چه په هغوی کښې څوك لائق او قابل وی بل ته ورکول ئے روا نهٔ دی. او حضرت ﷺ د دننه تلو نه پس ئے د کعبے دروازه بنده کړه چه خلق راجمع نهٔ شی او د هغوی زړهٔ مطمئن او خاطر ته ئے سکون راشی.

[1]: د دوی روایت د مانځهٔ کولو په باره کښې څنګه قبلیدے شی ځکه چه دائے خو پخپله د رسول الله سره نهٔ وو په کعبه کښې دننه په خلاف د بلال چه هغه ورسره وو غرض د بلال روایت لره ترجیح ده چه هغه مثبت دے او دا نافی.

[2]: مراد دا دے نه عمره قضاء ده چه د هجرت په کال د فتح مکه نه مخکښې اوشوه او سبب په دغه وخت کښې د نهٔ تلو دا وو چه په کعبه کښې دننه بتان ایخودے شوی وو. او تصویرونه وو. او مشرکانو هغه لره د هغه ځائے نه اوچتولو نهٔ ورکولو. په کوم کال چه مکه فتح شوه او بتان ترے ویستلے شو نو حضرت ﷺ ورته ننوتو او مونځ ئے پکښې اوکړو او تصویرونه ئے ترے لرے کړل.

بِالْكُفْرِ لَنَقَضْتُ الْكَعْبَةَ وَلَجَعَلْتُهَا عَلَى أَسَاسِ إِبْرَاهِيمَ فَإِنَّ قُرَيْشًا حِينَ بَنَتِ الْبَيْتَ اسْتَقْصَرَتْ وَلَجَعَلْتُ لَهَا خَلْفًا

به دا کعبه ورانه کړے وه او د ابراهیم علیه السلام په بنیاد به مے جوړه کړے وه. څکه چه قریشو کله کعبه جوړه کړے ده نو وړه کړے ئے ده. او ما به په دے کښې یو درواز شاته هم جوړه کړے وه. ونیلے دی مسلم او روایت کړے دے موږ ته دغه حدیث ابوبکر بن ابوشیبه او ابوکریب دواړو روایت کړے دے د ابن نمیر نه هغوی د هشام نه دغه حدیث په دے سند سره.

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَمْ تَرَى أَنَّ قَوْمَكِ حِينَ بَنَوُا الْكَعْبَةَ اقْتَصَرُوا عَنْ قَوَاعِدِ إِبْرَاهِيمَ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلَا تَرُدُّهَا عَلَى قَوَاعِدِ إِبْرَاهِيمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا حِدْثَانُ قَوْمِكِ بِالْكُفْرِ لَفَعَلْتُ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ لَئِنْ كَانَتْ عَائِشَةُ سَمِعَتْ هٰذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ مَا أَرَى رَسُولَ اللهِ ﷺ تَرَكَ اسْتِلَامَ الرُّكْنَيْنِ اللَّذَيْنِ يَلِيَانِ الْحِجْرَ إِلَّا أَنَّ الْبَيْتَ لَمْ يُتَمَّمْ عَلَى قَوَاعِدِ إِبْرَاهِيمَ

د حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے ، فرمائی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه تاسو نۀ دی لیدلی چه کله ستاسو قوم کعبه جوړه کړه نو د ابراهیم د بنیادونو نه ئے کمه کړے ده. پس ما عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! تاسوئے ولے نۀ جوړوئ د ابراهیم په بنیاد باندے؟ پس حضرت ﷺ اوفرمائیل که ستاسو قوم نوے نوے کفر نه پریخودے نو ما به خامخا داسے کړی وو. عبدالله بن عمر وائی چه بیشکه دا به اوریدلے وی جناب عائشے صدیقے د رسول الله ﷺ نه څکه چه زۀ وینم چه رسول الله ﷺ بشکلول دد ے دواړو ګوټونو په دے وجه پریښودل چه بیت الله د ابراهیم په بنیادونو باندے نۀ وو[1].

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَوْلَا أَنَّ قَوْمَكِ حَدِيثُو عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ أَوْ قَالَ بِكُفْرٍ لَأَنْفَقْتُ كَنْزَ الْكَعْبَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ وَلَجَعَلْتُ بَابَهَا بِالْأَرْضِ

د عائشے صدیقے بی بی د رسول الله ﷺ نه روایت دے فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه کچرے ستاسو قوم نوے نوے جاهلیت نۀ وے پریخودے. یا ئے اوفرمائیل کفر لره، نو ما به د کعبے خزانه د الله په لار کښې خرج کړے وه یعنی په جهاد کښې او په دے کښې به مے دروازے د زمکے برابر جوړے کړے وے او حطیم

[1] پس کچرې دغه دواړه ئے مسحه کولے نو د پوره کعبے طواف به نۀ شو کیدے. بلکه څۀ زمکه د کعبے دننه کومه چه د حطیم په طرف کښې ده د طواف نه پاتے کیدله.

وَلَأَدْخَلْتُ فِيهَا مِنَ الْحِجْرِ

به مې د کعبې سره یو ځائې کړې وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ يَقُولُ حَدَّثَتْنِي خَالَتِي يَعْنِي عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ لَوْلَا أَنَّ قَوْمَكِ حَدِيثُو عَهْدٍ بِشِرْكٍ لَهَدَمْتُ الْكَعْبَةَ فَأَلْزَقْتُهَا بِالْأَرْضِ وَجَعَلْتُ لَهَا بَابَيْنِ بَابًا شَرْقِيًّا وَبَابًا غَرْبِيًّا وَزِدْتُ فِيهَا سِتَّةَ أَذْرُعٍ مِنَ الْحِجْرِ فَإِنَّ قُرَيْشًا اقْتَصَرَتْهَا حَيْثُ بَنَتِ الْكَعْبَةَ

د عبد الله بن زبیر نه روایت دے وائی چه ما ته خما ترور یعنی صدیقه عائشه اوفرمائیل چه نبی ﷺ اوفرمائیل چه اے عائشې که چرے ستا قوم شرك ته په زمانه کښې نزدے نه وے نو ما به کعبه ورانه کړے وه او د زمکې سره به مې یو شان کړے وه او دوه دروازے به مې پریخودے وے یوه مشرقی دروازه او یوه مغربی دروازه. او شپږ لاسه به مې د حطیم نه د زمکې سره یو ځائے کړے وے ځکه چه قریشو کله جوړه کړے وه نو دائې وړه کړے وه.

عَنْ عَطَاءٍ قَالَ لَمَّا احْتَرَقَ الْبَيْتُ زَمَنَ يَزِيدَ بْنِ مُعَاوِيَةَ حِينَ غَزَاهَا أَهْلُ الشَّامِ فَكَانَ مِنْ أَمْرِهِ مَا كَانَ تَرَكَهُ ابْنُ الزُّبَيْرِ حَتَّى قَدِمَ النَّاسُ الْمَوْسِمَ يُرِيدُ أَنْ يُجَرِّئَهُمْ أَوْ يُحَرِّبَهُمْ عَلَى أَهْلِ الشَّامِ فَلَمَّا صَدَرَ النَّاسُ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَشِيرُوا عَلَيَّ فِي الْكَعْبَةِ أَنْقُضُهَا ثُمَّ أَبْنِي بِنَاءَهَا أَوْ أُصْلِحُ مَا وَهَى مِنْهَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَإِنِّي قَدْ فُرِقَ لِي رَأْيٌ فِيهَا أَرَى أَنْ تُصْلِحَ مَا وَهَى مِنْهَا وَتَدَعَ بَيْتًا أَسْلَمَ النَّاسُ عَلَيْهِ وَأَحْجَارًا أَسْلَمَ النَّاسُ عَلَيْهَا وَبُعِثَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ لَوْ كَانَ أَحَدُكُمُ احْتَرَقَ بَيْتُهُ مَا رَضِيَ حَتَّى يُجِدَّهُ فَكَيْفَ بَيْتُ رَبِّكُمْ إِنِّي مُسْتَخِيرٌ رَبِّي

د عطاء نه روایت دے وائی چه هر کله کعبه اوسوزیده د یزید بن معاویه په زمانه کښې په هغه وخت کښې چه مکې ته شام والاد جنګ دپاره راغلی وو. او کوم حال چه د هغې سره اوشو ابن زبیر هم په هغه حال پریښوده ترڅو پورے چه خلق د حج په موسم کښې راجمع شول او دا بن زبیر اراده وه چه خلقو ته خانه کعبه اوښائی چه جرأت پکښې پیدا کړی د شام والاؤ سره په جنګ کولو باندے. یا په هغوی تجربه اوکړی چه په دوی کښې د دین څۀ حمایت شته دے یا نشته دے، بیا چه هر کله خلق راغلل. نو هغوی اووے اے خلقو مشوره راکړئ ما لره د خانه کعبې مبارکې دپاره چه زۀ دا ورانه کړم او د سر نه ئې نوے جوړه کړم یا په دے کښې چه کومه خامی راغلې ده هغه صحیح کړم. ابن عباس اووے چه ځما یو رائې ده او زۀ خو دا وایم چه په دے کښې کوم چه زوړ شوے دے د هغې مرمت اوکړه. او خانه کعبه دغسې پریږده څنګه چه د خلقو په وخت وه. او هغه کڼو لره پریږدوه په کومې دپاسه چه خلق مسلمانان شوے دی. او جناب رسول الله ﷺ راليږلے شوے دے. نو ابن زبیر اووے که چرے ستاسو نه د چا کور اوسوزی نو د هغۀ زړۀ به داسې وران

ثَلَاثًا ثُمَّ عَازِمٌ عَلَى أَمْرِيَ فَلَمَّا مَضَى الثَّلَاثُ أَجْمَعَ رَأْيَهُ عَلَى أَنْ يَنْقُضَهَا فَتَحَامَاهُ النَّاسُ أَنْ يَنْزِلَ بِأَوَّلِ النَّاسِ يَصْعَدُ فِيهِ أَمْرٌ مِنَ السَّمَاءِ حَتَّى صَعِدَهُ رَجُلٌ فَأَلْقَى مِنْهُ حِجَارَةً فَلَمَّا لَمْ يَرَهُ النَّاسُ أَصَابَهُ شَيْءٌ تَتَابَعُوا فَنَقَضُوهُ حَتَّى بَلَغُوا بِهِ الْأَرْضَ فَجَعَلَ ابْنُ الزُّبَيْرِ أَعْمِدَةً فَسَتَّرَ عَلَيْهَا السُّتُورَ حَتَّى ارْتَفَعَ بِنَاؤُهُ وَقَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ إِنِّي سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقُولُ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلَا أَنَّ النَّاسَ حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ بِكُفْرٍ وَلَيْسَ عِنْدِي مِنَ النَّفَقَةِ مَا يُقَوِّي عَلَى بِنَائِهِ لَكُنْتُ أَدْخَلْتُ فِيهِ مِنَ الْحِجْرِ خَمْسَ أَذْرُعٍ وَلَجَعَلْتُ لَهَا بَابًا يَدْخُلُ النَّاسُ مِنْهُ وَبَابًا يَخْرُجُونَ مِنْهُ قَالَ فَأَنَا الْيَوْمَ أَجِدُ مَا أُنْفِقُ وَلَسْتُ أَخَافُ النَّاسَ قَالَ فَزَادَ فِيهِ خَمْسَ أَذْرُعٍ مِنَ الْحِجْرِ حَتَّى أَبْدَى أُسًّا نَظَرَ النَّاسُ إِلَيْهِ فَبَنَى عَلَيْهِ الْبِنَاءَ وَكَانَ طُولُ الْكَعْبَةِ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ ذِرَاعًا فَلَمَّا زَادَ فِيهِ اسْتَقْصَرَهُ فَزَادَ فِي طُولِهِ عَشْرَ أَذْرُعٍ وَجَعَلَ لَهُ بَابَيْنِ أَحَدُهُمَا يُدْخَلُ مِنْهُ وَالْآخَرُ يُخْرَجُ مِنْهُ فَلَمَّا

چرته اونهٔ غواړي د کومے پورے چه ئے نوے جوړ کړے نه وي بيا ستاسو د رب کور د هغے نه څومره غوره دے او څهٔ حالئے دے. او زهٔ د خپل رب نه درے خله استخاره کوم. بيا به سمدستي د خپل کار اراده کوم. بيائے چه هر کله درے خله استخاره اوکړه نو د هغوي په رائے کښ راغله چه خانه کعبه مبارکه اونړوي او جوړه ئے کړي. او کوم خلق چه په يره کښ وو چه داسے نهٔ وي چه يو سړے مخکښ د خانه کعبے دپاسه نړولو ته اوخيژي او په هغهٔ باندے څهٔ آسماني بلا نازله نهٔ شي ددے نه معلومه شوه په مالك ددے کور پورته دے او د ټولو صحابو دغه عقيده ده تر دے پورے چه يو سړے اوختو او د هغے نه ئے يوه ګټه راوغورځوله. بيا چه هر کله خلقو اوکتل چه په دے باندے څهٔ بلا نازله نهٔ شوه نو پرله پسے ئے په نړولو شرع اوکړه او خانه مبارکه ئے د زمکے پورے اوسپړدله او ابن زبير يو څو ستنے اودرولے او په هغے باندے ئے پرده واچوله ددے دپاره چه خلق ددے پردے په طرف مونځ کوي او مقام د کعبے پيژني . او هغه په پرده کښ وے تر دے پورے چه ديوالونه د هغے اوچت شول. او ابن زبير اووے چه ما د جناب عائشے صديقے نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو چه نبي ﷺ فرمائيلي دي چه کچرے خلقو نوے نوے کفر نهٔ وے پريخودے او خما سره دومره خرچ هم نشته چه دے له جوړه کړم کني ما به پنځهٔ ګزه د حطيم نه په کعبه کښ دننه داخل کړے وے. او يوه دروازه به مے په دے کښ داسے پريخودے وه چه خلق به پرے داخليدے او بله به مے داسے جوړه کړے وه چه په هغے به بهر وتل. بيا ابن زبير اووے چه زمونږ سره نن ورځ دومره خرچ هم شته چه په دے باندے ئے خرچ کړو او د خلقو يره مو هم نشته راوي وائي چه بيا ابن زبير پنځهٔ ګزه د هغے ديوال زيات

قُتِلَ ابْنُ الزُّبَيْرِ كَتَبَ الْحَجَّاجُ إِلَى عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَرْوَانَ يُخْبِرُهُ بِذَلِكَ وَيُخْبِرُهُ أَنَّ ابْنَ الزُّبَيْرِ قَدْ وَضَعَ الْبِنَاءَ عَلَى أُسٍّ نَظَرَ إِلَيْهِ الْعُدُولُ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ عَبْدُ الْمَلِكِ إِنَّا لَسْنَا مِنْ تَلْطِيخِ ابْنِ الزُّبَيْرِ فِي شَيْءٍ أَمَّا مَا زَادَ فِي طُولِهِ فَأَقِرَّهُ وَأَمَّا مَا زَادَ فِيهِ مِنَ الْحِجْرِ فَرُدَّهُ إِلَى بِنَائِهِ وَسُدَّ الْبَابَ الَّذِي فَتَحَهُ فَنَقَضَهُ وَأَعَادَهُ إِلَى بِنَائِهِ

کړو د حطیم د طرفنه تر دے پورے چه را اووتو په خائے باندے یو بنیاد چه خلقو هغه بنۀ اولیدو او هغه بنیاد وو د حضرت ابراهیم بیائے د هغه بنیادونه دیوالونه اوچتول شروع کړل. او اوږد والے د کعبے اتلس ذراعه وو بیا چه هر کله په دے کښې زیاتے اوکړو نو وړه په نظر راغله یعنی پلن والے زیات شو نو اوږد والے ئے کم ښکاره شو. بیائے ورله اوږد والے هم لس ذراعه زیات کړو. او دروازے ئے پکښې پریخودے چه په یوه دننه ځي او په بله به راوځي. بیا چه هر کله عبد الله بن زبیر شهید شو نو حجاج عبد الملك بن مروان ته د اخبر اولیگل او ورته ئے اولیکل چه ابن زبیر چه کومه ابادی کړے ده هغه ئے په هغه بنیادونو باندے کړے ده چه د مکے معتبرو خلقو لیدلے ده (یعنی د ابراهیم په بنیادونو) نو عبد الملك په جواب کښې اولیکل چه زمونږ د ابن زبیر دلت پت کولو سره څۀ کار نشته او ته داسے اوکړه چه کومه هغوی په اوږدوالی زیاته کړے ده هغه خو پریږده او کومه چه ئے د حطیم د طرفنه زیاته کړے ده هغه اوغورځوه او بیائے په رومبی حالت جوړه کړه او هغه دروازه بنده کړه کومه چه هغوی سوا پرېخودے ده. عرض دا چه حجاج هغه ورانه کړه او د اولے ابادئ په بنیاد ئے جوړه کړه.

عَنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُبَيْدٍ وَفَدَ الْحَارِثُ بْنُ عَبْدِ اللهِ عَلَى عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَرْوَانَ فِي خِلَافَتِهِ فَقَالَ عَبْدُ الْمَلِكِ مَا أَظُنُّ أَبَا خُبَيْبٍ يَعْنِي ابْنَ الزُّبَيْرِ سَمِعَ مِنْ عَائِشَةَ مَا كَانَ يَزْعُمُ أَنَّهُ سَمِعَهُ مِنْهَا قَالَ الْحَارِثُ بَلَى أَنَا سَمِعْتُهُ مِنْهَا قَالَ

د حارث نه روایت دے چه عبد الله بن عبید وئیلی دی چه حارث وفد جوړ کړو او د عبد الملك خواله لاړو په هغه وخت کښې چه عبد الملك خلیفه وو. عرض دا چه عبد الملك حارث بن عبید الله ته اووے چه زما گمان دے چه ابو خبیب یعنی عبد الله بن زبیر چه کومه دعوه کوی چه هغوی د جناب عائشے صدیقے نه دغه حدیث اوریدلے دے (یعنی په کوم کښې چه د کعبے د جوړولو ذکر دے) نو هغه دروغ وائی هغوی څۀ نۀ دی اوریدلے. پس حارث اووے چه نه بلکه اصل خبره داده چه ما هم

سَمِعَتْهَا تَقُولُ مَاذَا قَالَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ قَوْمَكِ اسْتَقْصَرُوا مِنْ بُنْيَانِ الْبَيْتِ وَلَوْلَا حَدَاثَةُ عَهْدِهِمْ بِالشِّرْكِ أَعَدْتُ مَا تَرَكُوا مِنْهُ فَإِنْ بَدَا لِقَوْمِكِ مِنْ بَعْدِي أَنْ يَبْنُوهُ فَهَلُمِّي لِأُرِيَكِ مَا تَرَكُوا مِنْهُ فَأَرَاهَا قَرِيبًا مِنْ سَبْعَةِ أَذْرُعٍ هَذَا حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدٍ وَزَادَ عَلَيْهِ الْوَلِيدُ بْنُ عَطَاءٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَجَعَلْتُ لَهَا بَابَيْنِ مَوْضُوعَيْنِ فِي الْأَرْضِ شَرْقِيًّا وَغَرْبِيًّا وَهَلْ تَدْرِينَ لِمَ كَانَ قَوْمُكِ رَفَعُوا بَابَهَا قَالَتْ قُلْتُ لَا قَالَ تَعَزُّزًا أَنْ لَا يَدْخُلَهَا إِلَّا مَنْ أَرَادُوا فَكَانَ الرَّجُلُ إِذَا هُوَ أَرَادَ أَنْ يَدْخُلَهَا يَدَعُونَهُ يَرْتَقِي حَتَّى إِذَا كَادَ أَنْ يَدْخُلَ دَفَعُوهُ فَسَقَطَ قَالَ عَبْدُ الْمَلِكِ لِلْحَارِثِ أَنْتَ سَمِعْتَهَا تَقُولُ هَذَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَنَكَتَ سَاعَةً بِعَصَاهُ ثُمَّ قَالَ وَدِدْتُ أَنِّي تَرَكْتُهُ وَمَا تَحَمَّلَ

جناب عائشې صديقې هغه حديث اوريدلې دے. عبد الملك اووے چه ستاسو قوم څۀ اوريدلي دي؟ نو حارث اووے چه هغې فرمائيلي وو چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه ستاسو قوم د كعبې ابادي وړل كړے ده او كچرے ستاسو قوم نوے نوے شرك نۀ وے پريخودے نو ما چه څومره هغوى پريخودے ده هغه به مے جوړه كړے وه پس كچرے ستاسو د قوم اراده شوه چه داسے ئې جوړ وو (لكه څنګه چه زۀ غواړم) خما نه پس نو راشه چه اوښائيم درته هغه كومه چه هغوى پريخودے ده پس حضرت جناب عائشې صديقې ته اوښودلو چه د هغۀ تقريبًا اوۀ لاسه وو (يعنى د حطيم د طرفنه) دا خو د عبد الله بن عبيد روايت شو. او وليد بن عطاء دا مضمون نور زيات كړے دے. چه نبى ﷺ اوفرمائيل چه ما به په دے كښې دوه دروازے د زمكے سره لګيدلي پريخودے وے يوه د مشرق په طرف او بله د مغرب په طرف. او تاته پته شته چه ستاسو قوم د هغې دروازه ولې اوچته كړے ده؟ جناب عائشې صديقې عرض اوكړو ما ته پته نشته حضرت ﷺ اوفرمائيل د تكبر د وجې نه او ددے دپاره چه څوك دننه تلے نۀ شى مګر چا لره چه هغه غواړى او حال د هغوى دا وو چه هر كله به چا دننه د تلو اراده اوكړه نو هغه به ئې ورته پريخودو او هر كله چه به هغه ننوتو نو ديكه به ئې وركړه چه اوبه غورځيدو. بيا عبد الملك حارث ته اووے چه تا د جناب عائشې صديقې نه پخپله اوريدلي دي چه هغوى داسے فرمائيلي وو؟ هغوى اووے آو. بيا هغۀ پخپله امسا سره زمكه كنستل شروع كړل (څنګه چه څوك شرمنده او فكر مند شى) او بيائې اووے خما خواهش دے چه دغه شان پريخودے شى كوم څۀ چه هلته دى.

اوونيلي مسلم چه روايت كړے دے ھونږ ته دا حديث محمد بن

عمرو هغوی ته ابوعاصم. اوونیلی دی مسلم چه روایت کړے دے مونږ ته عبد بن حمید هغوی ته عبد الرزاق او ددے دواړو روایت کړے دے د ابن جریج نه په دغه اسناد سره پشان د ابی بکر د حدیث چه کوم پورته تیر شو.

عَنْ أَبِي قَزَعَةَ أَنَّ عَبْدَ الْمَلِكِ بْنَ مَرْوَانَ بَيْنَمَا هُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ إِذْ قَالَ قَاتَلَ اللهُ ابْنَ الزُّبَيْرِ حَيْثُ يَكْذِبُ عَلَى أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ يَقُولُ سَمِعْتُهَا تَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ لَوْلَا حِدْثَانُ قَوْمِكِ بِالْكُفْرِ لَنَقَضْتُ الْبَيْتَ حَتَّى أَزِيدَ فِيهِ مِنَ الْحِجْرِ فَإِنَّ قَوْمَكِ قَصَّرُوا فِي الْبِنَاءِ فَقَالَ الْحَارِثُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ لَا تَقُلْ هٰذَا يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ فَأَنَا سَمِعْتُ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ تُحَدِّثُ هٰذَا قَالَ لَوْ كُنْتُ سَمِعْتُهُ قَبْلَ أَنْ أَهْدِمَهُ لَتَرَكْتُهُ عَلَى مَا بَنَى ابْنُ الزُّبَيْرِ

د ابو قزعه نه روایت دے چه عبد الملك بن مروان طواف کولو د بیت الله شریف او اوئے وئیل چه الله د هلاك کړی ابن زبیر لره چه هغوی دروغ جوړ کړے دی د مؤمنانو په مور جناب عائشے صدیقے باندے . او وئیلے دی چه ما د هغوی نه اوریدلے دی چه جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اے عائشے کچرے ستاسو قوم نوے نوے کفر نۀ وے پریخودے نو ما به کعبه سپړدے وه او حجر لره به مے (د حطیم پورے) زیات کړے وو ځکه چه ستاسو قوم د کعبے ابادی کمه کړے ده. پس حارث اووے اے امیر المؤمنین ! داسے مۀ فرمایئ . ځکه چه ما هم د مؤمنانو د مور نه اوریدلے دی .هغه هم دغه حدیث بیان کړو. نو عبد الملك اووے کۀ د کعبے غورځولو نه مخکښ ما دا حدیث اوریدلے وے نو د ابن زبیر ؓ دغه جوړه کړے کعبه به مو قائمه ساتلے وه[1].

[1]: د حضرت عائشے د روایت نه معلومه شوه چه جناب رسول الله د مفسده قوم د یرے نه د کعبے تغیر روا نۀ ګڼړلو دے نه ثابته شوه چه په ځنے شرعی امورو کښ په نظر د شرعی مصلحت تاخیر کول روا دی. او علماؤ وئیلے دی چه کعبه پنځۀ ځله تیاره شوے ده. یو ځل فرښتو جوړه کړے وه.بیا ابراهیم علیه السلام جوړه کړه .بیا قریشو د جاهلیت په دور کښ. او دائے دریم ځل وو او د حضرت په وړاندے جوړه شوه چه دغه وخت د حضرت عمر پنځۀ دیرش یا پنځویشت کاله وو.او هم په دغے کښ د حضرت تهه بند غورځیدلے وو. نو حضرت ﷺ په زمکه باندے اوغورځیدۀ. بیا په څلورم ځل ابن زبیر جوړه کړه .او په پنځم ځل حجاج بن یوسف جوړه کړه او تر اوسه پورے د حجاج په بناء باندے موجوده ده. او بعضو وئیلے دی چه دوه ځله یا درے ځله نوره هم جوړه شوے ده. او هارون الرشید د امام مالك نه تپوس اوکړو چه دے لره اوغورځوم او د ابن زبیر په بناء باندے ئے جوړه کړم؟ نو هغوی ورته اوفرمائیل چه اے امیر المؤمنین زۀ تا له قسم درکوم چه ددے نه د بادشاهانو د لوبو ځیز مۀ جوړوئ او دا چه کوم په پورته روایت کښ راغلے دی چه ما به خرچ کړے وه د کعبے خزانه صرف د الله په لاره کښ صحیح دی مګر په نظر د مصلحت حضرت په دے کښ لاس وهل اونۀ فرمائیل چه خلق راباندے طعن اونۀ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَدْرِ أَمِنَ الْبَيْتِ هُوَ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ فَلِمَ لَمْ يُدْخِلُوهُ فِي الْبَيْتِ قَالَ إِنَّ قَوْمَكِ قَصَّرَتْ بِهِمِ النَّفَقَةُ قُلْتُ فَمَا شَأْنُ بَابِهِ مُرْتَفِعًا قَالَ فَعَلَ ذٰلِكِ قَوْمُكِ لِيُدْخِلُوا مَنْ شَاءُوا وَيَمْنَعُوا مَنْ شَاءُوا وَلَوْلَا أَنَّ قَوْمَكِ حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَخَافُ أَنْ تُنْكِرَ قُلُوبُهُمْ لَنَظَرْتُ أَنْ أُدْخِلَ الْجَدْرَ فِي الْبَيْتِ وَأَنْ أُلْزِقَ بَابَهُ بِالْأَرْضِ

د جناب عائشے صدیقےؓ نه روایت دے چه ما د رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو چه د حطیم دیوال په بیت الله کښې داخل دے؟ حضرتﷺ اوفرمائیل چه آو. ما بیا عرض اوکړو چه دائے په بیت الله کښې ولے داخل کړے نهٔ دے؟ حضرتﷺ اوفرمائیل دا ستاسو د قوم حرکت دے چه د هغوی سره خرچ کم شوے وو. بیا ما عرض اوکړو چه دروازه ولے دومره اوچته ده؟ حضرتﷺ اوفرمائیل دا هم ستاسو د قوم کار دے ددے دپاره چه ددوی خوښه وی نو خلق ورته پریږدی او کهٔ خوښه ئے نهٔ وی نهٔ ئے پریږدی ورته او کچرے ستاسو قوم نوے نوے جاهلیت نه وے پریخودے او ځما دا خیال دا نهٔ وے چه ددوی زړونه به بدل شی نو ځما دا اراده وه چه داخل کړمه دیوالونه د حطیم لره په بیت الله کښې او دروازه به مے د هغې د زمکے سره لګولے وه.

وئیلے دی مسلم او روایت کړے دے مونږ نه دا حدیث ابوبکر بن ابوشیبه هغوی ته عبید الله یعنی ابن موسیٰ هغوی ته شیبان هغوی ته اشعث هغوی ته اسود هغوی ته حضرت عائشےؓ چه هغوی وائی

لګوی. او ددغے روایتونو نه معلومه شوه چه د حطیم نه شپږ ذراعه د بیت الله په طرف کښې داخلدی. بلا خلاف او ددے نه په زیاته کښې اختلاف دے. او کچرے د حطیم نه ئے شپږ لاسه د بیت الله په طرف پریخودل او طواف ئے اوکړو نو په دے کښې دوه قولونه دی یو خو دادے چه روا دی د حسب ظواهرو ددے حدیثونو او دویم دا چه په حجر کښې دننه او کهٔ د هغې په دیوال باندے هم کچرے طواف اوکړی بیائے هم طواف صحیح نهٔ دے دکومے پورے چه د حجر د بهر نه طواف اونهٔ کړی او دغه صحیح دے او ددغے تصریح فرمائیلے ده امام شافعی او ددغے قائل دی ټول علماء مسلمین. او خلاف کړے دے ابوحنیفه او هغوی وئیلے دی چه کچرے د حطیم دننه چا طواف اوکړو او په مکه کښې وونو بیا دِ طواف اوکړی او کچرے تلے وو نو قربانی دِ ورکړی او طواف ئے دغه صحیح شوے دے. او د جمهور علماؤ سند دادے چه رسول الله د حجر نه بهر طواف اوکړو او اوئے فرمائیل څما نه واخلئ مناسك د حج خپل. او ابن زبیر چه د کومے پورے دیوالونه اوچت شوی نهٔ وو نو پردے ئے خورے کړے وے. او مذهب د امام مالك دادے چه مقصود قبلے ته د مخ کولو نه عمارت د قبلے دے نهٔ زمکه. او قاضی عیاض ددے نه تمسك کړے دے او وئیلے دی چه ابن عباس هغوی ته یعنی ابن زبیر ته د پردے اچولو مشوره ورکړے وه. او ورته ئے وئیلے وو کچرے ته دے لره راغورخوے نو خلق بغیر د قبلے نه مهٔ پریږده بلکه پرده پرے واچوه. او جابرؓ اووے چه د پردو ضرورت نشته بلکه زمانه د کعبے هم دغه قبله ده. او مذهب د شافعی وغیره دغه دے چه مونځ د کعبے د زمکے طرفته روا دے په خلاف د دے چه خواه کهٔ دیوال د هغې اوچت وی یا نهٔ وی.

تپوس اوکړو ما د رسول الله ﷺ نه په باره د حجر کښې او بیان ئې کړو حدیث د ابو الاحوص د حدیث هم معنی او په دے کښې داسے دي چه هغوی اووے دروازه دد ے دومره اوچته ولے ده چه بغیر د اندریانۍ نه ورته څوك ختلے؟ او د حضرت ﷺ په جواب کښې داسے دي چه زۀ یریږم چه د هغوی زړونه نفرت اونۀ کړي.

بَاب الْحَجِّ عَنِ الْعَاجِزِ لِزَمَانَةٍ وَهَرَمٍ وَنَحْوِهِمَا أَوْ لِلْمَوْتِ

باب: د معذور، بوډا او د مړی د طرفنه د حج کولو بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ كَانَ الْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ رَدِيفَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَجَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ خَثْعَمَ تَسْتَفْتِيهِ فَجَعَلَ الْفَضْلُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا وَتَنْظُرُ إِلَيْهِ فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَصْرِفُ وَجْهَ الْفَضْلِ إِلَى الشِّقِّ الْآخَرِ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ فَرِيضَةَ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ فِي الْحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَثْبُتَ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفَأَحُجُّ عَنْهُ قَالَ نَعَمْ وَذَلِكَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ

د عبد الله بن عباس نه روایت دے چه فضل بن عباس د رسول الله ﷺ سره روستو سور وو چه د خثعم د قبیلے یوه ښځه راغله او هغې تپوس کولو. او فضل هغې ته کتل او هغې فضل ته کتل. او رسول الله ﷺ د فضل مخ بل طرفته واړوو. غرض دا چه هغې ښځے عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! الله په خپلو بندیګانو حج فرض کړے دے هغه ځما په پلار باندے هم شو او هغه بوډا دے چه په سورلۍ باندے سورید ے نۀ شی آیا زۀ د هغۀ د طرفنه حج کولے شم؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه آو. او دا ذکر د حجة الوداع دے[1].

[1]: دد ے حدیث نه څو مسئلے ثابتے شوے.۱. په یوه سورلۍ باند ے د دوؤ کسانو کیښناستل روا دی. ۲. د پردۍ ښځے آواز د حاجت مطابق اوریدل روا دی. ۳. او د هغے طرفته کتل حرام دی. ۴. امر بالمعروف په لاس سره کول لکه چه حضرت په لاس سره د فضل مخ واړوو. ۵. د عاجز کمزوری د طرفنه د نیابت په طور حج کول صحیح دی او دغه شان د مړی د طرفنه هم حج کولے شی. ٦. د سړی د طرفنه ښځے لره حج کول صحیح دی. ۷. او د پلار مور خدمت لکه د هغوی فرض ادا کول یا د هغوی د طرفنه حج کول یا هغوی ته نفقه ورکول د خوش نصیبۍ موجب دی. ۸. واجبیدل د حج په داسے سړی باند ے چه پخپله د سفر طاقت نۀ لری مګر په بل باند ے حج کولے شی. او دغه مذهب د ے د شافعیؒ او جمهورو علماؤ. ۹. او رواکیدل د ښځے د حج بغیر د محرم نه (د امام اعظم ابوحنیفهؒ په نز د محرم نه بغیر د د ښځے دپاره د حج سفر ناجائز د ے د هغه احادیثو پیش نظر چه وړاند ے راروان دی . لهذا د امام اعظمؒ مذهب د احادیثو عین مطابق د ے. عارف) هر کله چه هغه پخپل ځان سره مطمئنه دی. او دغه مذهب د ے د شافعیؒ او د جمهورو علماؤ او جائز دی دد ے تولو په نز د مړی د طرفنه یا د عاجز د طرفنه د حج کول. او د امام مالکؒ او لیثؒ او حسن بن صالحؒ قول د ے چه حج د مړی د طرفنه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ الْفَضْلِ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ خَثْعَمَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ عَلَيْهِ فَرِيضَةُ اللهِ فِي الْحَجِّ وَهُوَ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَسْتَوِيَ عَلَى ظَهْرِ بَعِيرِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحُجِّي عَنْهُ

د عباس ؓ د خوی د فضل نه روايت دے چه يوے ښځے د قبيله خثعم اووے يا رسول الله! خما پلار بوډا دے او په هغۀ باندے فرض کړے دے الله پاك حج لره او هغه د سورلئ په شا باندے په ښه طريقه نۀ شی کيښناستے نو حضرت ﷺ اوفرمائيل تۀ هغۀ طرفنه حج اوکړه.

بَاب صِحَّةِ حَجِّ الصَّبِيِّ وَأَجْرِ مَنْ حَجَّ بِهِ

باب: د ماشوم حج صحيح دے او په هغۀ باندے د حج کونکی ثواب شته

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيَ رَكْبًا بِالرَّوْحَاءِ فَقَالَ مَنِ الْقَوْمُ قَالُوا الْمُسْلِمُونَ فَقَالُوا مَنْ أَنْتَ قَالَ رَسُولُ اللهِ فَرَفَعَتْ إِلَيْهِ امْرَأَةٌ صَبِيًّا فَقَالَتْ أَلِهَذَا حَجٌّ قَالَ نَعَمْ وَلَكِ أَجْرٌ

ابن عباس د نبی کريم ﷺ نه روايت کړے دے چه هغوی ته څۀ خلق په اوښانو سوارۀ په روحاء کښې ميلاؤ شو. او حضرت ﷺ ترے تپوس اوکړو تاسو خلق څوك يئ؟ هغوی اووے چه مسلمانان يو بيائے د حضرت ﷺ نه تپوس اوکړو تاسو څوك يئ؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل د الله پاك رسول يم نو يوے ښځے يو هلك په لاسونو کښې اوچت کړو او عرض ئے اوکړو چه دده حج صحيح دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل آو صحيح دے او ثواب دده د حج تا لره دے (يعنی مور پلار لره)[1].

بَاب فَرْضِ الْحَجِّ فِي الْعُمُرِ

باب: حج په ټول عمر کښې صرف يو ځل فرض کيږی

اونۀ د چا بل د طرفنه صحيح دے اگر کۀ مړی وصيت هم کړے وی. او دغه روايت دے د امام مالك ؒ د طرف نه مگر دا حديث په هغوی ټولو باندے حجت دے.

[1] ددے حديث نه څو مسئلے معلومے شوے. اول دا چه اصلی او صحيح او مسنون لقب زمونږ د خلقو مسلمان دے او ددےنه سوا چه کوم القاب چه اوس خوارۀ شوے دی لکه حنفی شافعی چشتی قادری وغيره دا د زياتی تعارف دپاره دی. پس مؤمن له لازم دی چه دغه لقب مسنون لره غوره کړی او القاب زائده لره مقصود اونۀ گڼړی. او دا مذهب دے د شافعی او مالك او احمد او د جماهيرو علماؤ. مگر دومره ده چه حج ئے نفل کيږی. او دا حديث د هغوی ټولو سند دے. او قاضی عياض وئيلے دی چه د هلکانو په حج جائز کيدو کښې د چا اختلاف نشته. مگر د يو جماعت مبتدعينو. او دريمه دا معلومه شوه چه دوړو معشومانو د عبادت ثواب د پلار او مور وی خکه ورو کی هلك کچرے حج اوکړو او روستو بالغ شو نو په دۀ باندے حج فرض دے. او په دے باندے د ټولو اتفاق دے مگر يو جماعت چه د هغوی په طرف علماؤ التفات نۀ دے کړے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ فَحُجُّوا فَقَالَ رَجُلٌ أَكُلَّ عَامٍ يَا رَسُولَ اللهِ فَسَكَتَ حَتَّى قَالَهَا ثَلَاثًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ ثُمَّ قَالَ ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَدَعُوهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه خطبه لوستله مونږ ته رسول اللهؐ لواونے فرمائيل چه اے خلقو. په تاسو باندے حج فرض کړے شوے دے پس حج کوئ يو سړی عرض اوکړو چه هر کال يا رسول اللهؐ! حضرتؐ چپ پاتے شو. هغۀ درے ځله دا عرض اوکړو. بيا حضرتؐ اوفرمائيل کچرے ما آو اووے نو هر کال به واجب شی چه بيا به ستاسو نۀ شی کيدے. پس تاسو ما په دومره قدرے خبره پريږدئ چه په هغے باندے زۀ تاسو پريږدم. ځکه چه مخکښني خلق په دے سبب سره هلاك شوے دی چه هغوی به د خپلو پيغمبرانوؑ نه ډير سوالونه کول او د هغوی سره به ئے ډير اختلاف کولو. بيا چه زۀ کله تاسو ته د څۀ خبرے حکم اوکړم په هغے کښ چه څومره درنه کيږی په ځائے راوړئ او کله چه مو د څۀ خبرے نۀ منع کړم هغه پريږدئ[1].

بَابُ سَفَرِ الْمَرْأَةِ مَعَ مَحْرَمٍ إِلَى حَجٍّ

باب : ښځه د حج وغيره کښ د مُحرم نه بغير سفر

---

[1] په دے حديث کښ لوئے فائدے دی او مروی دی چه دا سوال کونکے اقرع خوی د حابس وو. و اصوليانو په دے کښ اختلاف کړے دے چه امر مقتضی د تکرار دے يا نۀ دے په دے کښ درے مذهبونه دی. او دا چه مقتضی تکرار دے دويم دا چه نۀ دے. دريم دا چه محل توقف دے. او څوك چه د توقف قائل دی هغوی دد حديث نه استدلال کوی چه امر مقتضی توقف دے کله چه دغه سوال کونکی سوال اوکړو. او باقی بحث دد د اصولو په کتابونو کښ دے.

او دا چه کوم اوفرمائيل چه ما په دومره قدرے خبره باندے پريږدئ الخ دد نه ثابته شوه چه په بنديگانو باندے هيڅ يو څيز واجب نۀ دے د کومے پورے چه د شارع د طرفنه حکم نلوی راغلے. او دغه د اصوليانو رښتونے مذهب دے. ځکه چه الله تعالی فرمائی وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولًا. او دد نه ثابته شوه چه سلفو چه د څۀ په باره کښ سکوت کړے دے په هغے کښ ساکت پاتے کيدل لکه مسئله د وحدت وجود شوه. يا مسائل د کون وبروز يا تحقيق مسئله تقدير شوه يا نور ډير مزخرافات او خزعبيلات دی چه په روستو کښ د هغوی اوږدۀ اوږدۀ بحثونه کيږی. د داسے خبرو او بيهوده تقريرونو نه لرے اوسيدل پکا ردی. او په احکامو کښ حضرتؐ اوفرمائيل چه څومره درنه کيږی په ځائے راوړئ. معلومه شوه چه احکام هله فرض کيږی چه د هغوی طاقت وی په انسان کښ او په مناهی کښ هغوی دا قيد اونۀ لگوۀ د طاقت لرلو. نو دد نه په هر حال بچ کيدل ضروری دی ځکه چه د منفعت جلب د دفع مضرت نه زيات اهم دے.

غرض دا فرمائيل د حضرت چه هر کله زۀ تاسو ته حکم اوکړم الخ د جامع الکلم نۀ دی چه په زرگونو مسئلے دی مثلاً په مونځ او اودس کښ چه څومره ممکنه وی په ځائے راوړئ او په کومے باندے چه قدرت نۀ وی مثلاً قيام يا استعمال د اوبو هغه معاف دے او دغه شان په ازاله د منکرات کښ د کومے پورے چه درنه کيږی په ځائے راوړئ. او دا حديث موافق دد قول د الله تعالی دے

وَغَيْرِهِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُسَافِرِ الْمَرْأَةُ ثَلَاثًا إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ فِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ وَ قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ فِي رِوَايَتِهِ عَنْ أَبِيهِ ثَلَاثَةً إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ

عَنِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ تُسَافِرُ مَسِيرَةَ ثَلَاثِ لَيَالٍ إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ

نۀ کوی

د ابن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ښځه د سفر نۀ کوی د دریو ورځو هر کله چه د هغې سره څوك محرم نۀ وی.

د عبید الله نه په دغه سند سره د ابوبکر په روایت کښې دادی چه د دریو ورځو نه زیات او د ابن نمیر په روایت کښې د هغوی د پلار نه چه درے ورځے مگر د هغوی سره چه څوك ذو محرم وی.

د ابن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه حلال نۀ دی یوے ښځی لره چه ایمان لری چه الله تعالی باندے او په ورځ آخرت باندے چه سفر اوکری درے ورځے مگر چه د هغې سره څوك محرم وی[1].

---

[1] د ابوداؤد په روایت کښې راغلی دی چه د یو برید سفر به نۀ کوی او برید د نیمے ورځ مسافت دے. او دا اختلاف په سبب د اختلاف د سوال کونکو دے. لکه څنګه چه چا سوال کړے دے دغه شان ئے جواب موندلے دے. او دا مراد نۀ دے چه کوم د دریو ورځو نهی ذکر ده هلته یوه ورځ سفر کول جائز دی یا د یو برید چنانچه بیهقی دغه تصریح کړے ده مثلاً چا تپوس اوکړو چه د یوے ورځے سفر ښځه کولے شي؟ حضرت اوفرمائیل نه. بیا چا اووے چه دوه ورځو سفر کولے شي؟ حضرت اوفرمائیل نۀ شی کولے. او چا چه څنګه اوریدلے دی روایت کړی ئے دی. او ټول روایتونه صحیح دی. او مطلب د ټولو دغه دے چه مطلق په کومے باندے د سفر نوم راځی خواه کۀ هغه لږ وی یا ډیرے د محرم نه روا نۀ دے. او دغه مضمون دی د ابن عباس د روایت کوم چه په مسلم کښې راغلی دے چه په دے کښې د مطلقو سفر نهی راغلی ده. او په دے باندے د امت اجماع ده چه په ښځه باندے حج فرض دے هر کله چه طاقت دے وی لکه څنګه چه په سړی باندے فرض دے. خکه چه الله تعالی عام حکم فرمائیلی دے. وَعَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا مگر اختلاف په دے کښې دے چه محرم شرط دے یا نۀ دے. پس امام ابوحنیفه وئیلی دی چه د حج واجبیدو دپاره محرم شرط دے مگر هغه وخت چه د مکے او د دے په مینځ کښې د درے منزلونه مسافت کم وی او یو جماعت د محدثینو د هغوی موافق دے. او اصحاب رائے هم. او د حسن بصری او نخعی لو نورو خلقو نه هم دغه شان مروی شوی دی. او د عطاء او سعید بن جبیر او ابن سیرین او مالك او اوزاعی او شافعی مشهور روایت دادے چه محرم شرط نۀ دے بلکه دا شرط دے چه هغې ته د خپل خان امن او اطمیان وی. او شافعی ملګرو وئیلی دی چه امن حاصلیږی په دریو څیزونو سره چه یا به خاوند وی یا به بل څوك محرم وی یا به څو ښځے معتبرے د اطمینان قابلے وی او د کومے پورے چه یو په دے دریو کښې نۀ وی حج واجب نۀ دے. او کۀ یوه ښځه معتبره هغې ته میلاؤ شوه نو حج واجب نۀ دے مگر جائز دے او دغه صحیح ده. او بعضو نفل حج او سفر د تجارت لره روا کړے دے هر کله چه څو ښځے ثقه ورسره وی. او د جمهورو مذهب دادے چه جائز نۀ دی د کومے پورے چه خاوند یا محرم ورسره نۀ وی. او دا احادیث صحیحه په رو سره دغه صحیح دے. او استدلال کړے دے ملګرو د ابوحنیفه د هغه روایت نه چه په هغې کښې د درے ورځو ذکر دے خکه چه د هغوی دلته قصر هم په دغه هومره سفر کښې روا دے. روایات په دے باره

عَنْ قَزَعَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ سَمِعْتُ مِنْهُ حَدِيثًا فَأَعْجَبَنِي فَقُلْتُ لَهُ أَنْتَ سَمِعْتَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأَقُولُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَمْ أَسْمَعْ قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَشُدُّوا الرِّحَالَ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ مَسْجِدِي هَذَا وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْمَسْجِدِ الْأَقْصَى وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ لَا تُسَافِرِ الْمَرْأَةُ يَوْمَيْنِ مِنَ الدَّهْرِ إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا أَوْ زَوْجُهَا

د قزعه نه روایت دے چه ما د ابوسعید نه یو حدیث واوریدو چه خما ډیر خوښ شو. او ما هغوی ته اووے چه دا تاسو د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دے. هغوی اووے کۀ چرے ما د رسول الله ﷺ نه نۀ وے اوریدلے. نو ولے ما به د رسول الله ﷺ طرفته نسبت کوو داسے خبرے چه کومه مے د هغوی نه نۀ وی اوریدلے اوس واوره چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلے دی مۀ ترئ تاسو کجاوو لره (یعنی سفر مۀ کوئ) مګر د دریو جماعتونو په طرف. یو خما دا جماعت. دویم مسجد الحرام دریم مسجد اقصیٰ (یعنی بیت المقدس او ما د حضرت ﷺ نه اوریدلے دی چه فرمائیلے ئے وو چه یوه ښځه دوه ورځے سفر نۀ کوی د زمانے نه مګر چه د هغے سره ذومحرم وی یا د هغے خاوند[1].

کښ مختلف راغلے دی. او د ټولو مطلب مونږ پوره بیان کړے دے. او یو شان دی یعنی مطلق سفر ممنوع دے خواه کۀ لږ وی یا ډیر، او د سفر اطلاق د یو برید نه اولګوه په زیات هر څومره باندے راځی او د هغوی د شبهو جواب په دندان شکن کښ ما په ښه طریقه ورکړے دے په شرح مهذب کښ. دغه شان وئیلے دی امام نوویؒ په شرح د مسلم کښ.

[1] په دے کښ لوئے فضیلت دے د دریو جماعتونو ځکه چه دا د انبیاء علیهم السلام د لاسونو جوړ کړے شوے دی او غوره دی د هغه جماعتونو نه کوم چه نورو خلقو جوړ کړے دی او کۀ چا مسجد الحرام ته د تلو نذر اونیوو نو هغه نذر لازم شو او ضروری ده چه دے اراده اوکړی هلته د تلو د حج او د عمرے دپاره. او کۀ د دے نه سوا ددغے دوه جماعتونو نذر اوکړی یعنی د مسجد نبوی او مسجد اقصی نو په دے کښ د امام شافعی دوه قولونه دی. اصح دا دے چه اراده هغوی ته هم مستحب ده. او واجب نۀ ده. او دویم قول دا چه واجب ده او دغه قول دے د اکثرو علماؤ او دد ے نه سوا باقی څومره جماعتونه چه دی د ټولے دنیا نه د هغے قصد په نذر سره واجبیږی. او نۀ په نذر سره د هغوی د زیارت منفعت کیږی. دغه مذهب دے زمونږ او د کافه علماؤ مګر محمد بن مسلمه مالکی وئیلے دی چه هر کله نذر اوکړے شی مسجد قباء ته د تلو نو واجبیږی اراده د هغے ځکه چه نبی به همیشه په هره هفته کښ هلته تلو کله سور او کله پیاده. او مذهب د جمهورو دا دے چه سوا دد ے دریو جماعتونو کښ کۀ ئے نذر اوکړو نو منعقد کیدے نۀ شی او نۀ په دۀ باندے څۀ لازم راځی. او امام احمد وئیلے دی چه کفاره د یمین یعنی قسم په دۀ باندے واجبیږی. او علماؤ اختلاف دے دد ے دریو جماعتونونه سوا د نورو ځایونو په سفر کښ لکه د صالحینو د قبرونو زیارتونو لره یاد نورو زیاتی ګړی ځایونو د لیدو دپاره. نو شیخ ابو محمد جوینی د شافعی ملګرو نه وئیلے دی چه دغه حرام دی او په دے طرف اشاره کړے ده قاضی عیاض (نووی).

د اردو کتاب مترجم وائی دغه قول د حدیث سره مناسبت لری ځکه چه هر کله د نورو جماعتونو په طرف سوا د هغه جماعتونو نه سفر صحیح نۀ شو او نۀ نذر د هغوی صحیح شو حالانکه هغه د خداوند تعالی په نوم مبارک باندے جوړ شوے دی او د هغوی په طرف د

تلو فضائل هم په بے شماره احادیثو کښې راغلي دي چه په هر قدم باندے نیکي لیکلے شي او ګناه معاف کیږي. او زیرے ورکړے دے رسول الله د نورِ تام د جماعتونو په طرف په تیارهٔ کښې تلو نکو ته او اعتکاف کیدے شي په هغوی کښې خاص د الله دپاره او ثواب مومي د هغے صفا ساتونکے او جارو کونکے انسان او زیرے د جنت دے د هغے جوړونکي ته او د الله کور ورته ونیلے شي. بیا قبرونو د صالحینو وغیره ؤ طرفته به څنګه جائز شي په د هغوی په پوخ جوړولو والا باندے د شارع د طرفنه لعن طعن مروی شوے دے. او هر کله چه مسجد نبوی او مسجد اقصیٰ په نذر کښې د شافعي او محدثینو دوه قولونه شول نو د بل یو ځائے نذر کله صحیح کیدے شي او هر کله چه د مسجد قبا د نذر په نهٔ صحیح کیدو کښې د تولو علماؤ اتفاق راغے سوا د محمد بن مسلمهٔ نه نو بیل څوك د مقامات مقبرو نذر کله صحیح کولے شي. غرض دا چه سفر کول د اولیاؤ د قبرونو د زیارت دپاره ناجائز دي. او کومو خلقو چه دد ے خلاف کړے دے هغوی سره یو دلیل هم قوي نشته لکه چه امام الحرمین وغیره دي د علی الخصوص په دے وخت کښې چه مقبرے د اولیاؤ د اوثان او اصنام یعني د بتانو حکم پیدا کړي. یعني هلته نذرونه منلے کیږي او د نذرانے پرے ایخودلے کیږي او په هغوی باندے سجدے کولے شي طواف ترے کولے شي معاذ الله من ذلك. په نن وخت کښې هغه حکم چه اوثان کښې دے او مرتکبین د هغه امورو د بت پرستو او مشرکینو په حکم کښې دي. او هغه مقبرے او جنابذ د ختمولو او منهدم کولو قابلے دي. څکه چه حضرت به دُعا غوښتله چه اَللّٰهُمَّ لَا تَجۡعَلۡ قَبۡرِیۡ وَثَنًا یُعۡبَدُ. یا الله خما قبر لره بت مڼجوړه وه چه سجده ورته کیږي. بیا چه هر کله قبر مبارك د مشرکانو په حق کښې بت کیدے شي د شرکي کارونو په ارتکاب سره. نو د بدهو شهید او منګو پیر سره ستا څهٔ اعتقاد دے. پناه غواړم په الله سره د هغه مشرکانو ګور پرستو د باطلو عقیدو نه چه هغه د مقبرو سفر د حج نه زیات ګڼړلے دے. او د مشرکانو پشان ئے هغوی لره صنم او روښن جوړ کړے دے او لویو لویو اکابرو محدثینو او علماؤ محقیقینو د هغے د غورځولو او ختمولو فتویٰ ورکړے دي چنانچه ابن قیم په زاد المعاد کښې فرمائیلے دي چه سیزل ضروري دي د هر هغه ګناه د ځائے چه په هغے کښې د الله جل شانه او د هغهٔ د رسول نافرماني کیدے شي لکه څنګه چه اوسیزو رسول الله ﷺ مسجد ضرار لره او د هغے د غورځولو حکم ئے ورکړو حالانکه په هغے کښې مونځ کیدلو او د الله تعالیٰ نوم به پکښې اخستے شو خو جوړیدل د هغے د ضرر دپاره او مسلمانانو ته د تکلیف ورکولو دپاره واقع شوی وو. او په مسلمانانو کښې د دشمنۍ غورځولو په نیت سره او منافقانو له د ځائے ورکولو په اراده سره وو. او دد ے نه معلومه شوه چه کوم مکان په دغه نیت سره جوړ کړے شي، حکم د هغے هم دغه دے. او امام وخت او د هغه زمانے حاکم لره واجب دي د هغے بیکاره کول خواه کهٔ هغه په غورځولو سره وي یا په سیزلو سره وي یاد هغے په صورت بدلولو سره وي. او هغے لره د هغه وضع نه ویستل پکار دي د کومے دپاره چه هغه جوړ کړے شوے دے. او هر کله چه دا حال شو د مسجد ضرار نو اوس مشاهد شرك چه د هغے مجاور خلقو لره راغواړي چه هغه مشاهده لره د الله شریك اوګرځوي هغه په اوله درجه کښې د سیزلو او غورځولو لائق دي، او د هغے ختمول او ورانول د مسجد ضرار نه زیات واجب دي. او دغه حال دے د ګناه او د فسق د مقاماتو، لکه شراب خانے او سپند خانے دي او ټول هغه ځیزونه د ارباب منکراتو. او حضرت عمر یو پوره کلے سیزلے وو چه په هغے کښې به شراب خرڅیدل او د شرابو د خرڅولو د کانونه ئے خلیفه راشد اوسیزل او د هغے نوم ئے خویسق کیښودو. او د سعد محل ئے د سر نه د خپو پورے اوسیزو هر کله چه هغه په خپل محل کښې د رعیت نه په عیش عشرت کښې مشغول وو. او قوم طرفته ئے التفات نهٔ کړو. او اراده کړے وه رسول الله د هغه خلقو د کورونو د سیزلو چه هغوی به د جمعے او جمعو ته نهٔ راتلل او د هغوی کورونه حضرت صرف د ښځو او د ماشومانو د خیال د وجے نه اونهٔ سیزهٔ چه هغوی به بے قصوره اوسوزی څکه چه په هغوی باندے جماعت واجب نهٔ وو. ختم شو مضمون د زاد المعاد.

زهٔ دا وایم چه دا مقبرے اوچتے د بزرګانو او جنابزِ عالیه د صالحانو دا خو دد ے شرك دپاره جوړے کړے شوے دي چه پرستش ئے اوکړے شي او خاص ددغے دپاره د هغو ښکلیوالے او زیبائش جوړ دے چه شریکان سوا د الله اوګرځولے شي. او سوا

عَنْ قَزَعَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ قَالَ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعًا فَأَعْجَبْنَنِي وَآنَقْنَنِي نَهَى أَنْ تُسَافِرَ الْمَرْأَةُ مَسِيرَةَ يَوْمَيْنِ إِلَّا وَمَعَهَا زَوْجُهَا أَوْ ذُو مَحْرَمٍ وَاقْتَصَّ بَاقِيَ الْحَدِيثِ

د قزعه نه روایت دے چه ما د ابوسعید خدری رض نه اوریدلے دی چه هغوی وئیلے دی چه رسول الله ﷺ څلور خبرے اوفرمائیلے پس خما خوښے شوی او ښۀ راته معلومے شوی منع اوکړه حضرت ﷺ دد ے نه چه سفر کوی ښځه د دوؤ ورځو مګر هر کله چه دد ے سره خپل خاوند وی یا محرم رشتے والا. او بیان ئے کړو باقی حدیث.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُسَافِرِ الْمَرْأَةُ ثَلَاثًا إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ مِنْهَا

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه رسول خدا ﷺ اوفرمائیل چه هیڅ ځوك ښځه د دریو ورځو سفر دِ نۀ کوی تر څو پورے د هغے سره د هغے څوك محرم رشته دار نۀ وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ مُسْلِمَةٍ تُسَافِرُ مَسِيرَةَ لَيْلَةٍ إِلَّا وَمَعَهَا رَجُلٌ ذُو حُرْمَةٍ مِنْهَا

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د یوے ښځے دپاره جائز نۀ دی چه هغه د درے ورځو سفر بغیر د یو محرم رشته دار د ملګرتیا نه اوکړی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُسَافِرَ سَفَرًا يَكُونُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا إِلَّا وَمَعَهَا أَبُوهَا أَوِ ابْنُهَا أَوْ زَوْجُهَا أَوْ أَخُوهَا أَوْ ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نۀ وی حلال هغه ښځے لره چه هغه په الله تعالٰی باندے ایمان لری چه درے ورځے سفر اوکړی یا زیات دد ے نه مګر هر کله چه د هغے سره د هغے پلار وی یا ځوی یا خاوند یا رور یا بل یو داسے رشته دار چه د هغۀ سره ئے نکاح نۀ کیږی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ يَقُولُ لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ وَلَا تُسَافِرِ الْمَرْأَةُ

د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په خطبه کښ اوفرمائیل چه یو سړے دِ د یوے ښځے سره یواځے نۀ وی (مګر چه محرم ورسره وی). او نۀ د ښځه سفر کوی مګر د محرم سره پس یو سړے

دد ے غرض نه هلته بل یو غرض هدو کید ے نۀ شی. پس دا د مسجد ضرار نه په درجه اولی بدتر دی. ځکه چه شارع علیه السلام په قبرونو او چتولو او په هغے باند ے د عمارت جوړولو نه منع فرمائیلے ده.نو اوس څۀ شرعی غرض خو هلته ممکن نۀ د ے سوا د ګور پرستی نه . او د کومو مقاماتو د سیزلو ذکر چه پورته اوشو په د ے تولو کښ د یو قسم فسق وو. په هغے باند ے خلیفه راشد هغوی لره اوسیزل بیا شرك خو لوئے د کبانرو نه د ے او بئس الفسوق د ے دد ے د مکاناتو سیزل خو دا هم مهماتو.نه دی او د اوجب د واجباتو او د ضروریاتو د فرض نه دی.

إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ امْرَأَتِي خَرَجَتْ حَاجَّةً وَإِنِّي اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا قَالَ انْطَلِقْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ

پاسیدو او عرض ئې اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زما ښځه خو حج له خی او زهٔ په فلانی لښکر کښې لیکلے یم کوم چه فلانی طرفته روان دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل ته لاړ شه او د خپلې ښځې سره حج اوکړه[1].

بَاب اسْتِحْبَابِ الذِّكْرِ إِذَا رَكِبَ دَابَّتَهُ مُتَوَجِّهًا لِسَفَرِ حَجٍّ أَوْ غَيْرِهِ وَبَيَانِ الْأَفْضَلِ مِنْ ذَلِكَ

باب: مسافر لره په سورلئ باندے سوریدل دُعا غوښتل (ذکر کول) مستحب دی

عَنْ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اسْتَوَى عَلَى بَعِيرِهِ خَارِجًا إِلَى سَفَرٍ كَبَّرَ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى وَمِنْ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَإِذَا رَجَعَ قَالَهُنَّ وَزَادَ فِيهِنَّ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه به په خپل اوښ سوریدو او چرته په سفر به تلو. نو درے ځله به ئې الله اکبر اوفرمائیلو. بیا به ئې دا دُعا اولوسته د سُبحٰنَ نه د وَالاَهلِ پورے یعنی پاك دے هغه پروردګار چه هغه مسخر کړو دپاره زمونږ دے ځناور لره او نهٔ وو مونږ دے لره قابو کونکی او بیشکه مونږ خپل پروردګار طرفته واپس تلونکی یو. یا الله ﷻ مونږ غواړو ستانه په خپل سفر کښې نیکی او پرهیزګاری او داسے کار چه په هغے ته راضی کیږې یا الله اسان کړه ته په مونږ باندے دے سفر لره او د دے اوږدوالے په مونږ باندے لنډ کړه. یا الله ته ملګرے ئې په سفر کښې او ته خلیفه ئې په کور کښې. یا الله زهٔ پناه غواړم په تا سره د سفر د تکلیفونو نه او د رنځ او غم نه او په بدحال کښې د واپس راتلو نه په مال کښې او په کور والاؤ کښې (دا خو به ئې د تلو په وخت لوستل) او کله چه به واپس راغے هم به ئې (دغه دُعا لوستله) مګر په دے کښې به ئې دومره قدرے زیاتولو. د اٰئِبُونَ نه د آخره پورے یعنی

---

[1] د دے نه معلومه شوه چه هر کله دوه څیزونه په خپلو کښې جمع کړے شی او دواړه ادا کیدے نهٔ شی نو په دوی کښې چه کوم زیات ضروری وی هغه د په ځائے راوړی ځکه چه په غزا کښې بل سړے هم تلے شی. په خلاف د حج چه بل سړے د هغهٔ د ښځې سره نهٔ شی تلے

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ يَتَعَوَّذُ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ وَالْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْنِ وَدَعْوَةِ الْمَظْلُومِ وَسُوءِ الْمَنْظَرِ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ

موږ واپس کیدونکی یو او توبه کونکی او د هغهٔ تعریف کونکی یو[1].

د عبد الله بن سرجس نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ چه به کله سفر کوو نو پناه به ئے غوښته په الله تعالی سره د سفر د مشقتونو نه او په خفګان د واپس راتلو نه. او نیکئ نه پس بدئ طرفته د واپس کیدو نه. او په اهل وعیال او مال کښں د بدئ د لیدلو نه[2].

عَنْ عَاصِمٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ عَبْدِ الْوَاحِدِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَفِي رِوَايَةِ مُحَمَّدِ بْنِ خَازِمٍ قَالَ يَبْدَأُ بِالْأَهْلِ إِذَا رَجَعَ وَفِي رِوَايَتِهِمَا جَمِيعًا اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ

د عاصم نه په دغه اسناد سره دغه دعا روایت شوے ده. مګر د عبد الواحد په روایت کښں في المال والاهل دے. او د محمد بن خازم په روایت کښں داده چه د اهل لفظ ئے مخکښں وئیلے دے په هغه وخت کښں چه واپس به شو او په دواړو روایتونو کښں دالفظ دے د اَللّٰهُمَّ نه تر آخره پورے یعني یا الله! پناه غواړم په تا سره د سفر د مشقتونو نه

بَاب مَا يُقَالُ إِذَا رَجَعَ مِنْ سَفَرِ الْحَجِّ وَغَيْرِهِ

باب: د سفر د حج وغیره نه چه واپس راشی څهٔ دُعا به وائی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَفَلَ مِنَ الْجُيُوشِ أَوِ السَّرَايَا أَوِ الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ إِذَا أَوْفَى عَلَى ثَنِيَّةٍ أَوْ فَدْفَدٍ كَبَّرَ ثَلَاثًا ثُمَّ

د عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه به کله واپس شو د لښکرونو نه یا د لښکر د وړوکی جماعت نه یا د حج او عمرے نه نو هر کله چه به اورسیدو یو خټ ته یا اوچتے ګیتو والا زمکے ته نو درے خله به ئے الله اکبر اووے بیا به ئے د لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ نه دآخره پورے

---

[1]: دد ے نه معلومه شوه چه څوك په سفر باندے ځی نو دا دُعا وئیل سنت دی دد ے دپاره چه په کور کښں او سفر کښں د الله تعالی حمایت او ضمانت پیدا شی. نه چه داسے او کړی لکه چه مشرکان یے دینه کلمه ګویان مبتدعین کوی. چه د تلو په وخت د امام ضامن ضامنی وائی. او د هغوی د نور پیسه روپئ په مټ باندے تړی. دا یے لګئ خرهٔ په شکل د سرو نهٔ پوهیږی چه امام به د چا چا ضامنی کوی. هره ورځ په لکهونو بنیادم سفر کوی. او دا طریقه هغوی د مکے د مشرکانو نه ایزده کړے ده. چه هغو به په هر ځنګل کښں کله کوز شو نو وئیل به ئے چه دد ے ځنګل د پیری په پناه کښں راغلو. غرض دا چه د غیر الله د حمایت په راتلو کښں دوی او هغوی دواړه برابر دی. نعوذ بالله من هؤلاء وهؤلاء.

[2]: د نیکئ نه پس بدئ طرفته واپس کیدل دادی چه د فرمانبردارئ نه د نافرمانئ په طرف یا د ایمان نه د کفر په طرف یا د سنت نه د بدعت په طرف یا د توحید نه د شرك په طرف روان شی پناه غواړم په الله سره د داسے حالت نه

قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللّٰهُ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ

او وے یعنی څوك لائق د عبادت نشته دے سوا د الله تعالیٰ نه او نشته دے شريك دۂ لره. دۂ لره باشاهي ده او خاص دۂ لره ثنا ده. او هغه په هر څیز باندے قادر دے. مونږ واپس کیدونکی توبه ویستونکی او عبادت کونکی او سجده کونکی او د خپل رب خاص ثنا ویونکی یو. رښتونے کړه الله پاك وعدے خپلے لره. او مدد ئے اوکړو د خپل غلام او شکست ئے ورکړو لښکرونو لره هغه یو ذات.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ إِلَّا حَدِيثَ أَيُّوبَ فَإِنَّ فِيهِ التَّكْبِيرَ مَرَّتَيْنِ

ابن عمرؓ د نبی ﷺ نه د دغے مضمون روایت کړے دے. مګر د ایوب په روایت کښې د تکبیر لفظ دوه ځل مذکور دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَقْبَلْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَأَبُو طَلْحَةَ وَصَفِيَّةُ رَدِيفَتُهُ عَلٰى نَاقَتِهِ حَتّٰى إِذَا كُنَّا بِظَهْرِ الْمَدِينَةِ قَالَ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ فَلَمْ يَزَلْ يَقُولُ ذٰلِكَ حَتّٰى قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ

د انس بن مالك نه روایت دے وائی چه مونږ او ابو طلحه او رسول الله ﷺ راغلو او صفیه د حضرت ﷺ په اوښه باندے شاته سوره وه. تردے پورے چه مونږ د مدینے شاته اورسیدو. حضرت ﷺ دا فرمائیل شروع کړل دآيِبُونَ نه د حَامِدُونَ پورے. غرض دا چه د مدینے پورے په دغه لوستلو راغے.

بَابُ اسْتِحْبَابِ النُّزُولِ بِبَطْحَاءِ ذِي الْحُلَيْفَةِ وَالصَّلٰوةِ بِهَا إِذَا صَدَرَ مِنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ وَغَيْرِهَا فَمَرَّ بِهِمَا

باب: په بطحاء د ذوالحلیفه کښې د کوزیدلو او هلته د مونځ کول، هر کله د حج او عمرے وغیره نه روستو د هغه ځائے نه تیر شی، مستحب دی

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَاخَ بِالْبَطْحَاءِ الَّتِي بِذِي الْحُلَيْفَةِ فَصَلّٰى بِهَا وَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ

د عبدالله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوښ کینولو په کارجنے زمکه په ذوالحلیفه کښې. او هلته ئے مونځ ادا کړو. او عبد الله بن عمر به هم دغه شان کول.

عَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يُنِيخُ بِالْبَطْحَاءِ الَّتِي بِذِي الْحُلَيْفَةِ الَّتِي كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنِيخُ بِهَا وَيُصَلِّي بِهَا

د نافع نه روایت دے چه عبد الله بن عمر به په بطحائے ذوالحُلیفه کښې خپل اوښ کینولو او مونځ به ئے اوکړو او فرمائیل به ئے چه رسول الله ﷺ هم دغه شان کړے دی او مونځ ئے کړے دے.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ إِذَا صَدَرَ مِنَ الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ أَنَاخَ بِالْبَطْحَاءِ الَّتِي بِذِي الْحُلَيْفَةِ الَّتِي كَانَ يُنِيخُ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نافع نه روایت دے چه عبد اللهؓ چه به کله د حج یا د عمرے نه واپس شو نو په بطحائے ذوالحلیفه کښې به ئے اوښ کینوو کوم خائے چه به رسول اللهﷺ خپل اوښ کینولو.

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ فِي مُعَرَّسِهِ بِذِي الْحُلَيْفَةِ فَقِيلَ لَهُ إِنَّكَ بِبَطْحَاءَ مُبَارَكَةٍ

سالم د خپل پلار نه روایت کړے دے چه رسول اللهﷺ په آخری شپه په ذوالحلیفه کښې کوز شوے وو. چه هغوی ته اوونیلے شو چه تاسو په مبارك میدان کښې یئ.

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ وَهُوَ فِي مُعَرَّسِهِ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ فِي بَطْنِ الْوَادِي فَقِيلَ إِنَّكَ بِبَطْحَاءَ مُبَارَكَةٍ قَالَ مُوسَى وَقَدْ أَنَاخَ بِنَا سَالِمٌ بِالْمُنَاخِ مِنَ الْمَسْجِدِ الَّذِي كَانَ عَبْدُ اللهِ يُنِيخُ بِهِ يَتَحَرَّى مُعَرَّسَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ أَسْفَلُ مِنَ الْمَسْجِدِ الَّذِي بِبَطْنِ الْوَادِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ وَسَطًا مِنْ ذَلِكَ

سالم د خپل پلار عبدالله بن عمرؓ نه روایت کړے دے چه د نبیﷺ خواله یو فرښته راغله او حضرتؐ په آخری شپه د ذوالحلیفې په میدان کښې کوز شوے وو. پس هغوی ته اوونیلے شو چه تاسو په مبارك میدان کښې یئ او موسیٰ راوی وائی چه زمونږ سره سالم بن عبد اللهؒ اوښ کینوو په دغه خائے کښې ئے مونځ اوکړو کوم خائے چه عبداللهؓ اوښ کینولے وو او هغه ئے پیژندو او خیال ئے کوؤ چه د رسول اللهﷺ د کوزیدو خائے دے او هغه د هغې جماعت نه لاندے دے کوم چه په بطن وادی کښې جوړ شوے وو. او د جماعت او د قبلې په مینځ کښې هغه مقام واقع شوے دے[1].

بَابُ لَا يَحُجُّ الْبَيْتَ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ وَبَيَانِ يَوْمِ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ

باب : مشرك به د بیت الله حج نۀ کوی او په بربنډه به د بیت الله طواف نۀ کوی او د حج اکبر د ورځې بیان

[1]: دد ے تولو حدیثونو په رُو سره قاضی عیاض وئیلے دی چه کوزیدل په بطحائے ذی الحلیفه کښې اگر چه په مناسك حج کښې نۀ دے مګر د جناب رسول اللهﷺ یو فعل دے او په دے باندے د اهل مدینۍ عمل دے چه هغه برکت تلاش کوی په اثارو سره د رسول اللهﷺ او دد ے دپاره چه هغه میدان مبارك دے. او امام مالك هم دے ته مستحب وئیلی دی او هلته مونځ ادا کولو ته هم او مستحب دی چه د هغه خائے نه مخکښې لاړ نۀ شی د کومے پورې چه مونځ ادا نۀ کړی. او کچرے په داسے وخت اورسیدو چه د مانځۀ وخت نۀ وو نو هلته به حصار شی به د مانځۀ وخت راشی نو مونځ به ادا کړی او بیا به خي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَنِي أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي أَمَّرَهُ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فِي رَهْطٍ يُؤَذِّنُونَ فِي النَّاسِ يَوْمَ النَّحْرِ لَا يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَكَانَ حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يَقُولُ يَوْمُ النَّحْرِ يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ مِنْ أَجْلِ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ

د ابوهریره نه روایت دے چه زۀ ابوبکر صدیق په هغه حج کښې اولیږلم په کوم کښې چه رسول الله هغهٔ لره امیر مقرر کړے وو د حج الوداع نه مخکښې. او زۀ په هغه جماعت کښې اولیږم چه هغوی به آواز کولو د قربانۍ په ورځ چه د دے کال نه پس به اوس یو مشرک حج له نۀ راځی او نۀ به څوک د بیت الله نه په بربنډه طواف کوی (لکه څنګه چه به مشرکانو د جاهلیت په ورځو کښې کولو) ابن شهاب زهری وائی چه عبد الرّحمٰن خوی به هم دغه شان وئیلو چه د حج اکبر ورځ هم دغه د قربانۍ ورځ ده. دد ے ابوهریره د حدیث په سبب سره[1].

باب یوم عرفة

باب : د عرفے د ورځے فضیلت

عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ أَنْ يُعْتِقَ اللَّهُ فِيهِ عَبْدًا

د سعید بن مسیب نه روایت دے چه جناب عائشه صدیقه فرمائیلے دی چه رسول الله فرمائیلی دی چه د عرفے نه مخکښې یوه ورځ داسے نشته دے چه په هغے کښې الله پاک بندیګانو لره د اور نه دومره

---

[1] یعنی الله پاك حکم فرمائیلے وو د اذان من الله ورسوله الی الناس یوم الحج الاکبر یعنی اواز کول ضروری دی د الله او د هغهٔ رسول د طرفنه په تمامو خلقو کښې د حج اکبر په ورځ چه الله او د هغهٔ رسول بیزاره دی د مشرکانو نه. او د هغه قربانۍ په ورځ اووهلے شوه. نو د قران او حدیث نه ثابته شوه چه د قربانۍ دغه ورځ د حج اکبر ورځ ده. او دا په عوام کالانعام کښې مشهوره دا ده چه عرفه د جمعے په ورځ راشی او دا شیطان علیه اللعنة دوی ته ښودلی دی او په قران او حدیث کښې چرته نۀ دی راغلے. دا محض غلطی او لیونتوب د عوام دی او اکثر نیم مُلا خطرهٔ ایمان هم په دے ناپوهۍ کښې ګرفتار دی. او اختلاف دے د علماؤ چه د عرفے ورځ د حج اکبر ورځ ده یا د قربانۍ ورځ؟ امام مالك او شافعی او جمهورو وئیلے دی چه حج اکبر حج دے او حج اصغر عمره ده. او کوم چه قائل دی چه حج اکبر د عرفے په ورځ دی هغوی استدلال کړے دے نه چه په حدیث کښې راغلے دی الحج عرفة چه حج عرفه ده.

او دا چه کوم اوفرمائیل چه نن نه پس به یو مشرك حج نۀ کوی موافق دی دد ے ایت مبارك انما المشرکون نجس فلا یقربوا المسجد الحرام بعد عامهم هٰذا یعنی مشرکانو ناپاك دی پس نزدے د نۀ راځی مسجد الحرام ته دد ے کال نه پس او مراد دد مسجد حرام نه ټول حرم دے. عرض دا چه مشرکانو لره په هیڅ حال کښې په حرم کښې داخلیدل روا نۀ دی. تر دے پورے که د چا قاصد جوړ شی او راشی خو بیا هم د حرم نه به بهر اودریږی. او د هغه خائے نه به بل څوك ورا اولیږی چه د هغهٔ پیغام یوسی. او که راغی او بیمار شو او په هغه مړ شو او روستو معلومه شوه چه مشرك وو نو حکم دے چه د هغهٔ قبر به د حرم نه بهر اوکنستلے شی او مړه به ورپسے بهر یوسی او خاورے به پرے په هغه قبر کښې واروی. او په جاهلیت کښې د عربو قاعده وه چه په بربنډه به ئے طواف کولو او وئیل به ئے چه په کومو کپړو کښې مونږ ګناهونه کړے دی په هغے سره څنګه طواف اوکړو. حضرت دغه قبیح امر لره د زمکے د پردے نه ختم کړو.

مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ وَإِنَّهُ لَيَدْنُو ثُمَّ يُبَاهِي بِهِمُ الْمَلاَئِكَةَ فَيَقُولُ مَا أَرَادَ هَؤُلاَءِ

قدرے ازاد وي څومره چه د عرفې په ورځ ازاده وي او الله تعالیٰ ورته نژدے کیږي او په فرښتو باندے د بندیګانو په حال لیدو سره فخر کوي او فرمائي چه دا په کومه اراده سره جمع شوے دي؟[1].

بَابُ فَضْلِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ

باب: د حج او د عمرے د فضیلت بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلاَّ الْجَنَّةُ

ابوهریره وائي چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه د یو عمرے نه واخله د بلے عمرے پورے د مینځ د ګناهونو کفاره ده. او د حج مقبول بدله د جنت نه سوا بل څه نه ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتَى هَذَا الْبَيْتَ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَمَا وَلَدَتْهُ أُمُّهُ

د ابوهریره نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څوك دے کور ته راغے او بیهوده د شهوت بازۍ خبرے ئے او نه کړے او نه ئے ګناه اوکړه. هغه دے نه داسے واپس شو لکه چه مور اوس زیږه ولے وي (یعني د ګناه نه پاك شو)[2].

---

[1]: عبد الرزاق په خپل مسند کښ د ابن عمر نه دے حدیث لره ذکر کړے دے او په دے کښ داسے دي چه الله تعالیٰ ددنیا آسمان ته راکوزیږي او د خپلو بندیګانو فخر کوي په فرښتو باندے او فرمائي چه دا څما بندیګان دي چه ما ته حاضر شوے دي. په عاجزۍ او په دوړو ککړو مخو سره. او څم اد رحمت امید لري او څما د عذاب نه یریږي. حالانکه دوي زه لیدلے نه یم. او څه حال به وو ددوي کچرے زه دوي لیدلے وے. بیا ئے باقي حدیث ذکر کړو. او ددے حدیث نه راکوزیدل د الله تعالیٰ ددنیا په آسمان باندے ثابت شو. او ددے په ظاهر باندے مونږ ایمان راوړے دے. او کیفیت د هغے مونږ پروردګار ته سپارلے دے او تاویل نه کوو. او دغه مسلك دے د صحابو کرامو او تابعینو او د ټولو اسلاف صالحینو.

[2]: ددے باب د اول حدیث نه جمهورو استدلال کړے دے او شافعیو چه عمرے پرله پسے درے په یو کال کښ په ځانے راوړل مستحب دي. او مالك او اکثر د هغوي شاګردانو وئیلے دي چه په هر کال کښ د یوے عمرے نه زیاتے کول مکروه دي او قاضي عیاض او نورو عالمانو وئیلے دي چه په هره میاشت کښ د یوے عمرے نه زیاتے اونه کړي. او پوه شي چه ټول کال د عمرې وخت دے مګر کوم سړے چه د حج په کارونو کښ مشغول وي پس د هغه عمره صحیح نه ده د کومے پورے چه د حج نه فارغ شوے نه وي. او څوك چه حاجي نه وي د هغه دپاره عمره د عرفې په ورځ هم عمره مکروهه نه ده. او دغه نه وي او دغه شان د ټول کال په ورځو کښ. غرض دا چه په یوه ورځ هم زمونږ په نز عمره مکروه نه ده. او دغه قول دے د امام مالك او جماهیرو علماؤ چه غیر حاجي لره د عرفې او یوم نحر او ایام تشریق وغیره په ورځو باندے عمره کول مکروه نه دي. او ابوحنیفه وئیلے دي چه په پنځه ورځو کښ عمره کول مکروه دي. د عرفې په ورځ، د قربانۍ په ورځ او په درے ورځو د ایام تشریق کښ. او امام ابویوسف وئیلے دي چه په څلورو ورځو. عرفه او ایام تشریق (تاته نه معلومیدل د دلیل نشوالي لره مستلزم نه دي). او د عمرے په وجوب کښ د علماؤ اختلاف دے. د شافعي او جمهورو قول دے چه واجب ده او ددے قائل دي عمر او ابن عمر او طاؤس او عطاء او ابن المسیب او سعید بن جبیر او حسن بصري او مسروق

بَابُ النُّزُولِ لِحُجَّاجِ بِمَكَّةَ وَتَوْرِيثِ دُورِهَا

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَتَنْزِلُ فِي دَارِكَ بِمَكَّةَ فَقَالَ وَهَلْ تَرَكَ لَنَا عَقِيلٌ مِنْ رِبَاعٍ أَوْ دُورٍ وَكَانَ عَقِيلٌ وَرِثَ أَبَا طَالِبٍ هُوَ وَطَالِبٌ وَلَمْ يَرِثْهُ جَعْفَرٌ وَلَا عَلِيٌّ شَيْئًا لِأَنَّهُمَا كَانَا مُسْلِمَيْنِ وَكَانَ عَقِيلٌ وَطَالِبٌ كَافِرَيْنِ

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَيْنَ تَنْزِلُ غَدًا وَذَلِكَ فِي حَجَّتِهِ حِينَ دَنَوْنَا مِنْ مَكَّةَ فَقَالَ وَهَلْ تَرَكَ لَنَا عَقِيلٌ مَنْزِلًا

باب : د حاجيانو په مکے کښې کوزيدل او د هغوی دکورونو د وارث کيدو بيان

د اسامه بن زيد بن حارثه نه روايت دے چه موږ اووے چه يا رسول الله ﷺ ائه به په مکه کښې په خپل کور کښې کوزيږے؟ نو حضرت اوفرمائيل چه عجيبه ده عقيل زمونږ دپاره څۀ چارديوارې يا مکان پريخودے دے. او حقيقت دا دے چه عقيل او ابوطالب او جعفر او على ته د هغوی په وراثت کښې څۀ ميلاؤ نۀ شو ځکه چه دوی مسلمانان وو. او عقيل او طالب دواړه کافران وو[1].

د حضرت اسامه بن زيد نه روايت دے چه هغوی عرض اوکړو چه يا رسول الله ﷺ صبا له که خدائے غواړی او موږ اورسيدو نو تاسو به کوم ځائے کوزيږئ او دا خبره ئے د فتح مکے په ورځو کښې اوکړه. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه عقيل زمونږ دپاره يو کور هم نۀ دے پريخے.

اوغير ددوی نه. او مالك او ابوحنيفه او ابوثور وئيلے دی چه عمره سنت ده او واجب نۀ ده. او حج مقبول هغه دے چه په هغے کښې د څۀ قسم گناه مرتکب نۀ شی. او علامت د حج د قبليدو دا دے چه حاجی بيا د گناهونو طرفته مائله نۀ شی. الله تعالى دِ زمونږ تولو ته دا قبوليت نصيب کړی لکه څنګه چه د حج د توفيق ورکولو احسان اوفرمائی.

[1]: قاضي عياض وئيلے دی چه اسامه چه کوم اووے چه تاسو به په خپل کور کښې کوزيږئ مراد ددے نه دا دے چه په دے کښې د حضرت سکونت شوے وو. ځکه چه په اصل کښې خو هغه کور د ابوطالب وو او ابوطالب د حضرت د پرورش متکلفل وو. او ابوطالب د عبد المطلب مشر خوئ وو او عبد المطلب د تولجائيداد يواځے وارث وو. لکه څنګه چه د جاهليت د ورځو قاعده ده او دا هم گمان دے چه کيدے شی عقيل تول کور خرڅ کړے وی او د خپل ملکيت نه ئے ويستلے وی. لکه ابوسفيان وغيره چه د مهاجرينو کوروته تول خرڅ کړل. چنانچه دا ودی هم دغه شان څۀ وئيلے دی.

اودا چه ئے کوم اوفرمائيل چه عقيل زمونږ دپاره څۀ الخ ددے نه استدلال کړے دے شافعيؤ او د هغوی موافقينو چه مکه صلحاً فتح شوے ده. او مکان د هغوی ملکيت دے د مکان والاؤ. لکه څنګه چه د نورو ښهرونو مکانونه دی. او په هغے کښې ميراث وغيره جاری کيږی. او بيعه او گانړه او اجاره د هغه مکانونو روا ده په شان د نورو تصرفاتو او د مالك او د ابوحنيفه او اوزاعی او د نورو فقهاؤ قول دے. چه هغه جبراً او د قهر په بنا فتح شوے ده. او دا تصرفات څۀ د هغه ځائے مالکانو ته په خپلو مکانونو باندے روا نۀ دی. او ددے نه معلومه شوه چه مسلمان د کافر وارث کيدے نۀ شی. او د تولو علماؤ مذهب دے.

بَاب إقَامَةِ الْمُهَاجِرِ بِمَكَّةَ

عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ يَسْأَلُ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ يَقُولُ هَلْ سَمِعْتَ فِي الْإِقَامَةِ بِمَكَّةَ شَيْئًا فَقَالَ السَّائِبُ سَمِعْتُ الْعَلَاءَ بْنَ الْحَضْرَمِيِّ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِلْمُهَاجِرِ إِقَامَةُ ثَلَاثٍ بَعْدَ الصَّدَرِ بِمَكَّةَ كَأَنَّهُ يَقُولُ لَا يَزِيدُ عَلَيْهَا

باب : د مهاجرو په مکه کښې د اوسيدو بيان

د عمر بن عبد العزيز نه روايت دے چه هغوی د سائب بن يزيد نه تپوس اوکړو چه تا په مکه کښې د اوسيدو په باب کښې څه اوريدلي دي؟ نو هغوی اووے چه ما د علاء بن حضرمي نه اوريدلي دي چه هغه وئيلې وو چه جناب رسول الله ﷺ فرمائيلې وو چه مهاجرو ته اجازت دے د حج کولو نه پس د درے ورځو د اقامت په مکه کښې د پاتې کيدو. مراد دا وو چه دد ے نه زيات پاتې نۀ شي[1].

بَاب تَحْرِيمِ صَيْدِ مَكَّةَ وَغَيْرِهِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ لَا هِجْرَةَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا وَقَالَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ إِنَّ هَذَا الْبَلَدَ حَرَّمَهُ اللهُ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَإِنَّهُ لَمْ يَحِلَّ الْقِتَالُ فِيهِ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَلَمْ يَحِلَّ لِي إِلَّا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا يُعْضَدُ شَوْكُهُ وَلَا

باب : په مکه کښې د ښکار وغيره حراميدل

د ابن عباس نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل په کومه ورځ چه مکه فتح شوه چه د نن نه د مکے هجرت پاتې نۀ شو مګر جهاد او نيت باقي دے. او کله چه تاسو لره حاکمان جهاد ته رابلي نو راؤځئ او اوئې فرمائيل چه دا ښهر داسے دے چه بيشکه الله پاک دے ته د ادب خائے وئيلې دے په هغه ورځ چه آسمان او زمکه ئې جوړ کړے دي غرض دا چه هغه د الله تعالی د مقرر کولو نه د حرمت او د ادب خائے منلے شوے دے د قيامته پورے. او هيڅ يو کس لره په دے کښې قتال روا نۀ دے خما نه مخکښې. او ما ته هم يوه ورځ صرف د يوے ګهنټے اجازت شوے وو يعنی د جنګ او هغه بيا هم هغسے حرام شو د الله پاک په حراملو سره د قيامته پورے نۀ به دد ے غنه راوستلے شي او

---

[1]: مراد دد ے نه دا دے چه کوم خلق په مکه کښې اوسيدلو او بيا د اسلام په وجه هغوی د مکے د فتح کولو نه مخکښې مکے ته هجرت کړے وو. هغه کچرے حج له راغلي وي يا عمرے لره نو د فراغت نه پس د دريو ورځو نه زيات په مکه کښې نۀ پاتې کيږي او د دغه نه شافعيو استدلال کړے دے چه درے ورځے اقامت په حقيقت کښې په اقامت کښې د داخل نۀ وي بلکه د درے ورځو اوسيدونکے مسافر دے او کچرے يو مسافر د درے ورځو پورې دا قامت نيت اوکړي سوا د وتلو د ورځ نه پس او د ننوتلو د ورځ نه نو هغه مقيم نۀ دے او د مسافر په حکم کښې دے او رخصتونه د مسافر تول د ۀ لره روا دي لکه قصر د مانځۀ او ماتول د روژے.

يُنَفَّرُ صَيْدُهُ وَلاَ يَلْتَقِطُ إِلاَّ مَنْ عَرَّفَهَا وَلاَ يُخْتَلَى خَلاَهَا فَقَالَ الْعَبَّاسُ يَا رَسُولَ اللهِ إِلاَّ الإِذْخِرَ فَإِنَّهُ لِقَيْنِهِمْ وَلِبُيُوتِهِمْ فَقَالَ إِلاَّ الإِذْخِرَ

نهٔ به دد ے ښکار زغلولے شی او نهٔ به په دے کښې غورځیدلے څیز اوچتولے شی مګر هغه کس به ئے اوچتوی چه هغه ئے رسولے شی یعنی د چا وی هغهٔ ته ئے ورکړی او نهٔ به دد ے شنهٔ وابنهٔ وستلے کیږی پس ابن عباس اووے چه یا رسول الله ﷺ مګر اذخر یعنی دد ے اجازت راکړئ چه هغه خو د زرګرانو او لوهارانو په کار راځی او دا د کورونو په چتونو باند ے اچولے شی . حضرت ﷺ اوفرمائیل مګر اذخر یعنی دد ے د ریبلو اجازت شته[1].

عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْعَدَوِيِّ أَنَّهُ قَالَ لِعَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ وَهُوَ يَبْعَثُ الْبُعُوثَ إِلَى مَكَّةَ

ابوشریح عدوی عمرو بن سعید ته اووے چه په کوم وخت چه هغهٔ لښکرے په مکه باند ے روانولے (یعنی د عبد الله بن زبیر د قتل دپاره

---

[1]: علماؤ وئیلے دی چه هجرت د دار حرب نه د دار اسلام په طرف د قیامته پور ے باقی د ے . او دد ے حدیث په تاویل کښې دوه قولونه دی. اول دا چه مراد دا د ے چه د مکے هجرت اوس پاتے نهٔ د ے ځکه چه هغه دار الاسلام جوړ شو ورستو د فتح نه او هجرت خو د دار حرب نه کیږی او په د ے کښې پیشنګوئی او معجزه ده د رسول الله چه همیشه به دا دار الاسلام وی او دغه شان اوشوه. دویم دا چه کوم ثواب چه هجرت کښې د مکے د فتح کولو نه مخکښې وو هغه ثواب اوس نهٔ د ے پاتے اګر کهٔ هجرت باقی د ے. لکه چه الله تعالی فرمائیلے دی: لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ. یعنی چا چه رستو د فتح نه جهاد اوکړو او مال ئے خرچ کړو هغه د هغه چا برابر نهٔ دی چا چه مخکښې د فتح نه دا کار کړے د ے. مګر جهاد او نیت د ے. یعنی د تحصیل ثواب ذریعه دا ده چه جهاد کوئ او په نیک نیتئ سره اعمال صالحه په ځائے راؤړئ چه په د ے سره ثواب حاصلیږی. لکه څنګه چه په هجرت سره حاصلیدو. بیشکه الله تعالی د ے لره د ادب ځائے مقرر کړے د ے. د کومے ورځے نه چه زمکے او اسمان جوړ کړے دی. یعنی اصل حرمت خو د هغه ورځے نه د ے مګر هغه پټ شوے وو بیا د ابراهیم علیه السلام د وخت نه ظاهر شو. ځکه چه وړاند ے په مسلم کښې مروی شوے دی چه ابراهیم علیه السلام مکے لره حرم وئیلے د ے او په د ے معنی کښې په دواړو کښې تطبیق راتلے شی او روایات د باب نه ثابت شوے دی چه قتال په مکه کښې حرام د ے. چنانچه ابوحسن ماوردی په احکام سلطنیه کښې لیکلی دی چه د خصائص حرم نهٔ دی. چه د هغه ځائے د خلقو سره جنګ اونهٔ کړے شی. بیا کچرے بادشاه عادل خاوند د عدل به جنګ کولے شی. ځکه چه د باغیانو سره جنګیدل هم د الله پاک د حقوقو نه دی. او دغه قول قرین صواب د ے او په د ے باند ے شافعی تنصیص کړے د ے په کتاب اختلاف الحدیث کښې د کُتب د ام نه. او د شافعی ملګرو نه قفال مروزی وئیلے دی چه کهٔ یو تولے د کافرو هم په مکه کښې قلعه نشین شی نو موږ ته د هغوی سره جنګ کولو هم روا نهٔ دی. د کومے پور ے چه هغه په مکه کښې وی. او دا قول د قفال محض غلط د ے او هیڅ کله د قبلیدو قابل نهٔ د ے. او مجوزین قتال دد ے حدیث دا جواب ورکوی چه مراد دد ے حدیثونو نه کوم چه د قتال په تحریم کښې راغلے دی دا د ے چه د کومے پور ے بغیر د قتل نه کار کیږی د هغے پوری د خپل طرفنه د مکے د اوسیدونکو سره د جنګ نهٔ کوی او هر کله چه مجبوره شی نو بیا روا دی په خلاف د نورو ښهرونو د جنګ چه هلته په هر طور روا د ے.

ائْذَنْ لِي أَيُّهَا الْأَمِيرُ أُحَدِّثْكَ قَوْلًا قَامَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَدَ مِنْ يَوْمِ الْفَتْحِ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي وَأَبْصَرَتْهُ عَيْنَايَ حِينَ تَكَلَّمَ بِهِ أَنَّهُ حَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ مَكَّةَ حَرَّمَهَا اللهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهَا النَّاسُ فَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَسْفِكَ بِهَا دَمًا وَلَا يَعْضِدَ بِهَا شَجَرَةً فَإِنْ أَحَدٌ تَرَخَّصَ بِقِتَالِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا فَقُولُوا لَهُ إِنَّ اللهَ أَذِنَ لِرَسُولِهِ وَلَمْ يَأْذَنْ لَكُمْ وَإِنَّمَا أَذِنَ لِي فِيهَا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ وَقَدْ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالْأَمْسِ وَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَقِيلَ لِأَبِي شُرَيْحٍ مَا قَالَ لَكَ عَمْرٌو قَالَ أَنَا أَعْلَمُ بِذَلِكَ مِنْكَ يَا أَبَا شُرَيْحٍ إِنَّ الْحَرَمَ لَا يُعِيذُ عَاصِيًا وَلَا فَارًّا بِدَمٍ وَلَا فَارًّا بِخَرْبَةٍ

، چه اجازت راکړه ماته اے امیر چه زۀ یو حدیث بیان کړم چه هغه د خطبے په طور په ولاړے رسول الله ﷺ د فتح مکے په دویمه ورځ اوفرمائیل او خما غوږونو واوریدل او زړۀ مے یاد اوساتل او سترګومے اولیدل حضرت ﷺ لره هر کله چه ئے دا بیان فرمائیلو مخکښې خو حضرت ﷺ د الله حمد او ثنا اووئیله او بیائے اوفرمائیل چه مکے لره الله حرامه کړے ده. او خلقو نۀ ده حرامه کړے. پس یو بنده لره دا روا نۀ دی چه هغه په الله پاك باندے او په ورځ د آخرت باندے ایمان لری چه په دے کښې د چا وینه توئ کړی او نۀ دا حلال دی چه ددے اونے کټ کړی بیا کچرے خما د قتال په سند سره یو بنده د جنګ اجازت رااوباسی پس هغه ته اووایئ چه الله تعالی ددے خپل رسول ته اجازت ورکړے وو او تاسو ته اجازت نشته. او ماته ئے هم په ورځ کښې د یوے ګهنټے دپاره اجازت راکړے وو او بیا ددے حرمت نن هغسے واپس راغے لکه څنګه چه پرون وو او ضروری خبره ده چه دا حاضر خلق د غائبو ته دا حدیث اورسوی خلقو ابی شریح ته اووے. چه بیا عمرو تا لره څۀ جواب درکړو؟ هغوی اوفرمائیل چه هغۀ اووے چه اے ابوشریح زۀ په دے ستا نه زیات پوهه یم هائے ظالمه حرم پناه نۀ ورکوی نافرمانه ته دائے عبد الله بن زبیر ته اووے معاذ الله من ذلك او نۀ هغه چا ته چه هغه قتل کړے وی او تختیدلے وی. او نۀ هغه کس ته چه هغه غلا او فساد کړے وی او تختیدلے وی[1].

[1] : "قوله روا نۀ دی څوك چه په الله پاك باندے او په ورځ د آخرت باندے ایمان لری الخ" ددے نه استدلال کړے دے هغه خلقو چه هغه وائی کافر د فروع اسلام مخاطب نۀ دی. او صحیح مذهب د شافعی او نورو فقهاؤ دادے چه مخاطب دی د فروعو هم لکه چه مخاطب دی د اصولو. او هغوی ددے دپاره اوفرمائیل چه کلك مؤمن وی هغه د مخاطب هدو نۀ وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا فَتَحَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ قَامَ فِي النَّاسِ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللهَ حَبَسَ عَنْ مَكَّةَ الْفِيلَ وَسَلَّطَ عَلَيْهَا رَسُولَهُ وَالْمُؤْمِنِينَ وَإِنَّهَا لَنْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ كَانَ قَبْلِي وَإِنَّهَا أُحِلَّتْ لِي سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ وَإِنَّهَا لَنْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ بَعْدِي فَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهَا وَلَا يُخْتَلَى شَوْكُهَا وَلَا تَحِلُّ سَاقِطَتُهَا إِلَّا لِمُنْشِدٍ وَمَنْ قُتِلَ لَهُ قَتِيلٌ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ إِمَّا أَنْ يُفْدَى وَإِمَّا أَنْ يُقْتَلَ فَقَالَ الْعَبَّاسُ إِلَّا الْإِذْخِرَ يَا رَسُولَ اللهِ فَإِنَّا نَجْعَلُهُ فِي قُبُورِنَا وَبُيُوتِنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا الْإِذْخِرَ فَقَامَ أَبُو شَاهٍ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ فَقَالَ اكْتُبُوا لِي يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اكْتُبُوا لِأَبِي شَاهٍ قَالَ الْوَلِيدُ فَقُلْتُ لِلْأَوْزَاعِيِّ مَا قَوْلُهُ اكْتُبُوا لِي يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ هَذِهِ الْخُطْبَةَ الَّتِي سَمِعَهَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه هر کله الله تعالی خپل رسولﷺ ته د مکے فتح ورکړه نو حضرتﷺ په خلقو کښں اودریدو او د الله پاك حمد وثنائے اوکړه او بیائے اوفرمائیل چه الله جل شانه اصحاب فیل د مکے نه منع کړو. او خپل رسولﷺ او مؤمنانئے د هغے حاکمان کړل او په دے کښں هیڅ یو کس لره جنگ کول حلال نه وو خما نه مخکښں او ما ته هم د یو ساعت اجازت میلاؤ شو د ورځے نه او اوس به خما نه پس هیچا لره حلال نه وی. پس نه به شی زغلولے ښکار دد ے. او په دے کښں غوزخیدلے څیز به نه شی اوچتولے مگر هغه سړے به ئے اوچتوی چه هغه ته معلوم وی او چه د چا وی هغه ته ئے ورکړی. او د چا چه څوك بنده اووژلے شو هغه ته د دوو خبرو اختیار دے. خواه که فدیه یعنی قیمت اخلی خواه که قاتل په قصاص کښں وژنی . پس ابن عباس عرض اوکړو مگر اذخر یا رسول اللهﷺ! ځکه چه مونږ ددی لره په قبرونو کښں غورځوو او د کورونو په چتونو ئے غورځوو نو حضرتﷺ اوفرمائیل چه خیر دے سرکړے ریبئ. وبښو ته ئے اذخر اوے بیاابوشاه د یمن یو سړے پاڅیدو او عرض ئے اوکړو چه یا رسول اللهﷺ! دا ما ته اولیکه حضرتﷺ اوفرمائیل اولیکئ ابوشاه ته ولید وائی چه ما د اوزاعی نه تپوس اوکړو. چه دد ے مطلب څۀ دے؟ چه یا رسول اللهﷺ ما ته اولیکه هغوی اووے دغه خطبه کومه چه رسول اللهﷺ

قوله' الله تعالی خپل رسولﷺ ته اجازت ورکړے دے' دے نه معلومه شوه چه مکه شریفه قهرا او قتالاً فتح شوے ده نه صلحاً. او څوك چه وائی چه صلحاً فتح شوے ده هغه دد ے تا ویل داسے کوی چه مراد دد ے نه دا دے چه هغوی جنگ کولو ته تیار وو مگر ضرورت پاتے نه شو. پس تیاری په سبب د قتل وه خو اتفاقاً قتال اونه شو.

وَسَلَّمَ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ إِنَّ خُزَاعَةَ قَتَلُوا رَجُلًا مِنْ بَنِي لَيْثٍ عَامَ فَتْحِ مَكَّةَ بِقَتِيلٍ مِنْهُمْ قَتَلُوهُ فَأُخْبِرَ بِذَلِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَكِبَ رَاحِلَتَهُ فَخَطَبَ فَقَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ حَبَسَ عَنْ مَكَّةَ الْفِيلَ وَسَلَّطَ عَلَيْهَا رَسُولَهُ وَالْمُؤْمِنِينَ أَلَا وَإِنَّهَا لَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَلَنْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ بَعْدِي أَلَا وَإِنَّهَا أُحِلَّتْ لِي سَاعَةً مِنَ النَّهَارِ أَلَا وَإِنَّهَا سَاعَتِي هَذِهِ حَرَامٌ لَا يُخْبَطُ شَوْكُهَا وَلَا يُعْضَدُ شَجَرُهَا وَلَا يَلْتَقِطُ سَاقِطَتَهَا إِلَّا مُنْشِدٌ وَمَنْ قُتِلَ لَهُ قَتِيلٌ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ إِمَّا أَنْ يُعْطَى يَعْنِي الدِّيَةَ وَإِمَّا أَنْ يُقَادَ أَهْلُ الْقَتِيلِ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهُ أَبُو شَاهٍ فَقَالَ اكْتُبْ لِي يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ اكْتُبُوا لِأَبِي شَاهٍ فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ إِلَّا الْإِذْخِرَ فَإِنَّا نَجْعَلُهُ فِي بُيُوتِنَا وَقُبُورِنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا الْإِذْخِرَ

اوفرمائیله یعنی دے لره ابوشاه اولیکله چه لویه د نفع خبره وه[1].

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه خزاعه والو د قبیله بنی لیث نه یو سړے اووژلو په کوم کال چه مکه فتح شوه. او ددے خبر رسول الله ﷺ ته اوشو. نو حضرت ﷺ پخپله اوښه باندے سور شو او خطبه ئے اولوسته او اوئے فرمائیل چه الله پاک د مکے نه اصحاب فیل منع کړل او خپل رسول ﷺ او مؤمنان ئے په هغے باندے حاکم کړو. او هغه خما نه مخکښې چا لره حلال شوی نه وو او نه به خما نه روستو په چا باندے حلال شی او په ما باندے هم د یو ساعت دپاره حلال شوی وو. او اوس په دے ساعت کښې بیا هغه په ما باندے حرام شو (یعنی څنګه چه مخکښې وو) پس د دے ازغی به نه ویستے کیږی، او اونه به ئے کټ کولے شی او غورځیدلے څیز به پکښې نه شی اوچتولے مګر ښودنے والا به ئے اوچتوی. او د چا چه څوك بنده اووژلے شی نو هغهٔ ته د دوو څیزونو اختیار دے. خواه کهٔ دیت اخلی خواه کهٔ قصاص کوی ئے. بیا د یمن یو سړے راغے چه هغهٔ ته به ئے ابوشاه وئیلو او هغهٔ اووے چه ماله لیکلی راکړه یا رسول الله ﷺ. حضرت ﷺ ملګرو ته اوفرمائیل چه دهٔ لره لیکلی ورکړئ بیا یو سړی د قریشو نه اووے مګر سرګړے لره چه هغه زمونږ په کورونو او قبرونو کښې پکار راځی. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه مګر سوا د سرګړی نه.

[1] : دد ے حدیث نه امام شافعی وئیلے دی چه د مقتول ولی لره اختیار دے کهٔ غواړی قصاص د کړی او کهٔ غواړی قیمت د مړی د واخلی او دغه قول دے د سعید بن مسیب او ابن سیرین او احمد او اسحٰق او ابوثور. او امام مالك وائی چه ولی له اختیار نشته مګر د قتل کولو یا د بخښلو او د دیت اختیار نشته مګر په رضا د قاتل او دا دد ے حدیث نه خلاف دے. او د ابوشاه نوم معلوم نهٔ دے سوا د کنیت نه. او حضرت محمد ﷺ چه کوم حدیث لیکلے ورکړو دد ے نه علماؤ لره لیکل او د حدیثونو قلمبند کول او د کتابونو تصنیف کول روا شو. او دد ے جواز نور هم د کتابونو نه پیژندلے کیږی او اوس خو د امت اجماع ده دد ے په غوره والی باندے.

بَاب النَّهْيِ عَنْ حَمْلِ السِّلَاحِ بِمَكَّةَ بِلَا حَاجَةٍ

باب : په مکے کښې بغیر د ضرورت نه وسله اوچتول منع دی

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَحِلُّ لِأَحَدِكُمْ أَنْ يَحْمِلَ بِمَكَّةَ السِّلَاحَ

د جابر نه روایت دے وائی چه اوریدلے دی ما د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلے ئے وو حلال نهٔ دی هیڅ یو کس لره چه په مکه کښې وسله اوچت کړی[1].

بَاب جَوَازِ دُخُولِ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ

باب : مکے ته بغیر د احرام نه داخلیدل روا دی

عَنْ يَحْيَى وَاللَّفْظُ لَهُ قُلْتُ لِمَالِكٍ أَحَدَّثَكَ ابْنُ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ مِغْفَرٌ فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ ابْنُ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ اقْتُلُوهُ فَقَالَ مَالِكٌ نَعَمْ

د یحیٰی نه روایت دے چه هغه دا لفظ بیان کړے دے چه د مالك نه پتوس اوکړو چه ابن شهاب د انس نه روایت کړے دے چه نبی مکے ته راغے. او د هغوی په سر باندے د اوسپنے ټوپۍ وه په کوم کال چه مکه فتح شوه. بیا چه ئے هر کله د اوسپنے ټوپۍ ویستله نو یو سړے راغے او اوئے وئیل چه ابن خطل د کعبے په پردو پورے زوړند شوے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه دے اووژنئ. مالك اووے چه آو ما ته ئے دا روایت بیان کړے دے[2].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ

د جابر رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په مکه کښې داخل شو قتیبه

---

[1]: یعنی بے د ضرورت نه. او دغه مذهب دی د شافعی او د جماهیرو ، قاضی عیاض وئیلے دی چه د خاوندانو د علم په نز دا نهی محمول ده چه په دی باندے چه بے ضرورت به ئے نه اوچتوی، او دغه قول دے د مالك ا وشافعی او د عطاء . او حسن بصری مطلق وسله اچول ته مکروه وئیلے دی په نظر ظاهر د دے حدیث. او جمهوو استدلال کړے دے نه چه رسول الله ﷺ په عمرۂ قضاء کښې شرط کړے دے چه وسله به راوړی په تیکی کښې او د اوچتولو نه مراد وسله تړل دی.

[2]: په یو روایت کښې دی چه د حضرت په سر باندے تور پتکے وو او په دواړو کښې تطبیق په دے شان دے چه اول د دخول په وخت ئے د اوسپنے ټوپۍ په سر وه بیائے هغه لرے کړه او پتکے ئے اوتړو. او د دے حدیث نه سند اخستے دے هغه چا چه هغوی وئیلے دی چه په مکه کښې بغیر د احرام نه داخلیدل صحیح دی هغه چا لره چه د هغهٔ د حج او عمری اراده نهٔ وی او د بل څهٔ کار د پاره راغلے وی یا هغه چا لره روا دی چه هغهٔ همیشه خی راخی لکه لرګی یا وابنهٔ د بهر نه راوړی یا ښکار راوړلو والا یا دد ے نه سوا څهٔ بل څهٔ غرض ئے وی تو لو ته اجازت دے بے د احرام نه د داخلیدو څوك چه اراده د حج او عمرے نهٔ لری او برابره خبره ده که امن وی یا یره. او دا صحیح تر قول دے د شافعی. او دویم ئے دادے چه بغیر د احرام نه روا نهٔ دی هغه چا لره چه هغهٔ ته بیا بیا د راتلو حاجت نهٔ پیښیږی. مګر هغه چا لره چه هغه مقاتل وی یا خائف وی د قتال د چا ظالم نه چه که په ده ظاهر شي نو دهٔ ته به ضرر اورسوی او نقل کړے دے قاضی عیاض دا قول د اکثرو علماؤ نه.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ وَقَالَ قُتَيْبَةُ دَخَلَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ وَفِي رِوَايَةِ قُتَيْبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ وَقَالَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حَكِيمٍ الْأَوْدِيُّ أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ عَنْ عَمَّارٍ الدُّهْنِيِّ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ

راوی وائی د فتح مکې په ورځ داخل شو او د هغوی په سر باندې تور پټکې وو بغیر د احرام نه، او قتیبه په روایت کښې ویلې دی چه مونږ ته ابوالزبیر د جابر په واسطه حدیث بیان کړو او اوئې وئیل چه روایت کړې دې مونږ ته علی بن حکیم اودی هغوی اووئیل چه خبر راکړې دې مونږ ته شریك، هغوی ته عمار هغوی ته ابوالزبیر هغوی ته جابر بن عبد الله چه نبی کریم ﷺ داخل شو د فتح مکې په ورځ. او حضرت تور پټکې اچولې وو.

عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ خَطَبَ النَّاسَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ

د عمرو بن حریث نه روایت دې چه رسول الله ﷺ خطبه لوستله او د هغوی په سر باندې تور پټکې وو.

عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ عَلَى الْمِنْبَرِ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ قَدْ أَرْخَى طَرَفَيْهَا بَيْنَ كَتِفَيْهِ وَلَمْ يَقُلْ أَبُو بَكْرٍ عَلَى الْمِنْبَرِ

جعفر د خپل پلار نه روایت کړې دې چه زۀ لکه چه وینم رسول الله ﷺ لره په منبر باندې او د هغوی په سر د پاسه تور پټکې دې چه د هغې دواړه غاړې ئې د خپلو اوګو په مینځ کښې ځنګولې دی. د ابوبکر په روایت کښې د منبر ذکر نشته دې[1].

بَابُ فَضْلِ الْمَدِينَةِ وَدُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا بِالْبَرَكَةِ وَبَيَانِ تَحْرِيمِهَا وَتَحْرِيمِ صَيْدِهَا وَبَيَانِ حُدُودِ حَرَمِهَا

باب: د مدینې فضیلت او د نبی ﷺ د دې دپاره د برکت دُعا. او د دې حُرمت او د دې د ښکار د حرامیدو او د دې د حرم د حدودو بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَدَعَا لِأَهْلِهَا وَإِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ كَمَا حَرَّمَ إِبْرَاهِيمُ مَكَّةَ وَإِنِّي

دعبد الله نه روایت دې وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی چه ابراهیم د مکې حرم مقرر کړو (یعنی حرمت ئې د هغې ظاهر کړو ګنې حُرمت د دې د زمکې او آسمان د جوړیدو په ورځ هم وو) او د دې د خلقو دپاره ئې دُعا اوکړه. او ما

[1]: د دې روایتونو نه د تورې کپړې د اغوستلو جواز معلوم شو خواه که د خطبې په وخت کښې وی یا سوا د دې نه په بل وخت کښې وی. او اګر چه سپینه کپړه غوره ده لکه چه ښکاره په حدیث صحیح کښې راغلې دی.

دَعَوْتُ فِي صَاعِهَا وَمُدِّهَا بِمِثْلَيْ مَا دَعَا بِهِ إِبْرَاهِيمُ لِأَهْلِ مَكَّةَ

مدينې لره حرامه کړه لکه څنګه چه ابراهيم مکې لره حرامه کړې ده.او ما دُعا اوکړه د مدينې د صاع او مُد دپاره دهغې نه دوه حصې برابر لکه چه ابراهيم کړې ده د خاوندانو د مکې دپاره.

عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى بِهٰذَا الْإِسْنَادِ أَمَّا حَدِيثُ وُهَيْبٍ فَكَرِوَايَةِ الدَّرَاوَرْدِيِّ بِمِثْلَيْ مَا دَعَا بِهِ إِبْرَاهِيمُ وَأَمَّا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ وَعَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ الْمُخْتَارِ فَفِي رِوَايَتِهِمَا مِثْلَ مَا دَعَا بِهِ إِبْرَاهِيمُ

د عمرو نه په دغه اسناد سره دا مضمون مروی شو. او ليکن د وهب په روايت کښې خو دراوردی په مثل دغه دی چه ما دُعا اوکړه د ابراهيم عليه السلام د دوه حصو برابر، او د سليمان بن بلال او عبد العزيز په روايت کښې دادی چه دُعا اوکړه ما د ابراهيم عليه السلام ددُعا برابر.

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَإِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا يُرِيدُ الْمَدِينَةَ

د رافع نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ابراهيم مکې ته حرم وئيلې دی. او زۀ د دواړو تورو ګټو والا ميدانونو په مينځ حرم ګرځوم. مراد د هغوی مدينه ده.

عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ أَنَّ مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ خَطَبَ النَّاسَ فَذَكَرَ مَكَّةَ وَأَهْلَهَا وَحُرْمَتَهَا وَلَمْ يَذْكُرِ الْمَدِينَةَ وَأَهْلَهَا وَحُرْمَتَهَا فَنَادَاهُ رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ فَقَالَ مَا لِي أَسْمَعُكَ ذَكَرْتَ مَكَّةَ وَأَهْلَهَا وَحُرْمَتَهَا وَلَمْ تَذْكُرِ الْمَدِينَةَ وَأَهْلَهَا وَحُرْمَتَهَا وَقَدْ حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا وَذٰلِكَ عِنْدَنَا فِي أَدِيمٍ خَوْلَانِيٍّ إِنْ شِئْتَ أَقْرَأْتُكَهُ قَالَ فَسَكَتَ مَرْوَانُ ثُمَّ قَالَ قَدْ سَمِعْتُ بَعْضَ ذٰلِكَ

د نافع بن جبير نه روايت دے وائی چه مروان خطبه لوستله اوذکر ئې اوکړو دمکې اودهغې د اوسيدونکو نو رافع بن خديج صحابی ورته آواز اوکړو او اوئې وئيل چه دا څۀ اورم زۀ ستا نه چه تۀ ذکر کوې د مکې او د هغې د خلقو او د هغې د حرم کيدو. او نه ذکر د اونکړو د مدينې او نۀ د هغه ځائې د خلقو او نۀ د هغې د حرم کيدو، او رسول الله ﷺ حرم مقرر کړې دے د دواړو تورو ګټو والا ميدانونو په مينځ کښې او دا حديث د رسول الله ﷺ د حرم ګرځولو څما سره په يوه خولانۍ څرمن باندې ليکلې شوې دے که چرې تۀ غواړې چه زۀ ئې تاته اولولوم راوی وائی چه مروان غلې پاتې شو او اوئې وئيل چه ما هم ددې نه څۀ اوريدلې دی.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د جابرؓ نه روايت دے وائی چه نبی کريم ﷺ فرمائيلې دی چه

وَسَلَّمَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَإِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ مَا بَيْنَ لاَبَتَيْهَا لاَ يُقْطَعُ عِضَاهُهَا وَلاَ يُصَادُ صَيْدُهَا

ابراهيم حرم مقرر كړے دے د مكے او زۀ حرم مقرره وم د مدينے د دواړو تورو ګټو والا ميدانونو په مينځ كښې (يعني كوم چه د مدينے نه دواړه طرفته واقع دی) څوك دے ازغی والا بوټے نۀ پريكوی او نۀ د دۀ ښناور ښكار كوی.

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لاَبَتَيِ الْمَدِينَةِ أَنْ يُقْطَعَ عِضَاهُهَا أَوْ يُقْتَلَ صَيْدُهَا وَقَالَ الْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ لاَ يَدَعُهَا أَحَدٌ رَغْبَةً عَنْهَا إِلاَّ أَبْدَلَ اللَّهُ فِيهَا مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْهُ وَلاَ يَثْبُتُ أَحَدٌ عَلَى لأْوَائِهَا وَجَهْدِهَا إِلاَّ كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا أَوْ شَهِيدًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

عامر بن سعد د خپل پلار نه روايت كړے دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه ما حرم مقرر كړو په مينځ د دواړو تورو ګټود ميدانونو كښې چه نۀ به د هغه ځائے ازغی والا بوټي شوئ او نۀ به ښكاره وژنئ دهغه او اوئے فرمائيل چه مدينه د هغه خلقو دپاره غوره ده كاش كۀ هغوی دے لره پيژندے . دا خطاب هغه خلقو ته دے چه مدينه پريږدی او بل ځائے ته ځی يا ټول مسلمانانو ته دے نۀ پريږدی څوك مدينے لره مګر الله تعالى د هغۀ نه غوره يو بنده دی ته راوليږی او صبر نۀ كوی څوك ددے لوږه تنده او محنت مشقت باندے مګر زۀ به هغۀ لره شفاعت كونكے يا ګواهی كونكے يم د قيامت په ورځ[1].

---

[1]: ددے حديثو نه استدلال كړے دے يو جماعت د مدينے په حرم كيدو باندے او د هغه ځائے په ښكار حراميدو باندے او د اونو په نۀ ماتولو باندے. او دغه مذهب دے د امام شافعی او د امام مالك او د هغوی د موافقينو. بعض فقهاؤ د مدينے ښكار لره جائز ګرځولے دے. او احتجاج ئے كړے دے د مدينے په ښكار حلاليدو . حديث يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ نه. او نغير يوه چرچڼره ده. چه هغه د يو صحابی سره وه. حضرتﷺ د هغۀ نه تپوس اوكړو چه هغه څۀ شوه؟ حالانكه ددے حديث نه استدلال د هغوی مات او ګوډ دے. ځكه چه احتمال دے چه هغه چرچڼره مخكښې ددے حديثونو نه نيولی شوے وی. هر كله چه ښكار حرام شوے نۀ وو. دويم دا احتمال دے چه دائے د مدينے د حِل نه يعنی د حرم نه بهر نيولی وی. او راوړی ئے وی. او دا احتمال ثانی د حنفيانو په مذهب درست نۀ شی كيدے ځكه چه هغوی مذهب دے چه د حل نه بهر كوم ښكار چه اونيولے شی او حرم ته راوړے شی د هغے پريښودل واجب دی. ځكه چه ددے هم حكم د حرم د ښكار دے. او دا اصل مذهب د هغوی هم بے اصل او ضعيف او سست دے. او هر كله چه په حديث كښې احتمال اوشو نو قابل استدلال نۀ دے خصوصاً د هغه احاديثو صحيحو متصل اسناد په مخ كښې چه په هغے كښې صفا نص صريح دے د مدينے په حرم كيدو باندے. او مشهور مذهب د مالك او شافعی دادے چه د مدينے په ښكار كښې او د هغے په اونو ويستلو كښې ضمان نشته دے اګر چه حرام دی او ابن ابی ذئب او ابن ابی ليلى ونيلے دی چه په دے كښې هم جزا واجبيږی لكه د مكے د حرم په

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثُمَّ ذَكَرَ مِثْلَ حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ وَلَا يُرِيدُ أَحَدٌ أَهْلَ الْمَدِينَةِ بِسُوءٍ إِلَّا أَذَابَهُ اللهُ فِي النَّارِ ذَوْبَ الرَّصَاصِ أَوْ ذَوْبَ الْمِلْحِ فِي الْمَاءِ

د عامر نه دغه روايت دے په مثل د حديث د ابن نمير او په دے کښې ئے زياته کړه چه اراده نه وي کړې يو کس د اهل مدينې سره د بدئ کولو. مګر الله تعالى هغوى لره ويلى کوى داسے لکه څنګه چه ټانبه ويلے کيږي په اُور باندے او لکه چه مالګه ويلى کيږي په اوبو کښې.

عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ سَعْدًا رَكِبَ إِلَى قَصْرِهِ بِالْعَقِيقِ فَوَجَدَ عَبْدًا يَقْطَعُ شَجَرًا أَوْ يَخْبِطُهُ فَسَلَبَهُ فَلَمَّا رَجَعَ سَعْدٌ جَاءَهُ أَهْلُ الْعَبْدِ فَكَلَّمُوهُ أَنْ يَرُدَّ عَلَى غُلَامِهِمْ أَوْ عَلَيْهِمْ مَا أَخَذَ مِنْ غُلَامِهِمْ فَقَالَ مَعَاذَ اللهِ أَنْ أَرُدَّ شَيْئًا نَفَّلَنِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَى أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ

د عامر بن سعيد نه روايت دے وائى چه سعيد خپل کورته لاړو کوم چه په عقيق کښې وو په لاره کښې ئے يو غلام اوليدۀ چه هغه يوه اونه پريکوله يا ئے پاڼے شوکولے. نو د هغۀ نه ئے کپړے په زور په شوکولو ويستلے او د هغۀ کور والا راغلۀ هغوى ورته اووے چه تاسو دغه کپړے دۀ ته واپس ورکړئ يائے مونږ ته عنايت کړئ هغوى اوفرمائيل چه پناه غواړم په الله سره دد ے نه چه زۀ هغه څيز واپس کړم کوم چه ما ته په طريقه د انعام رسول الله ﷺ عنايت کړے دے. او هيڅ کله هغوى د هغه سامان واپس نۀ کړو[1].

ښکار او پريکولو د اونو کښې. او دغه د بعضے مالکيۀ قول دے. او د شافعى قول قديم دادے چه د هغۀ نه د کپړے او سامان په زور واخستلے شي يعنى څوك چه په مدينه کښې اونے پريکوى يا ښکار کوى. څکه چه د سعد بن ابى وقاص په روايت کښې چه هغے لره مسلم ذکر کړے دے هم دغه شان راغلے دى. او قاضى عياض وائى چه روستو د صحابۀ څوك دد ے قائل نۀ دے پاتے شوے سوا د امام شافعى نه چه د هغوى قول قديم دے. او قاضى عياض ذکر کړے دى چه د مدينے والاؤ دپاره چه ئے دا کوم اوفرمائيل چه زۀ به شفاعت کونکے يم ګواه .مراد دد ے نه دادے چه د فرمانبردارئ کونکو دپاره به ګواه يم. او د خاوندانو د خطايئ دپاره به شفيع يم او په دے کښې نور فضيلت او زيات خصوصيت راووتو د مدينے والاؤ دپاره لکه څنګه چه حضرت ﷺ د اُحد د شهيدانو اوفرمائيل چه زۀ په دغه خلقو باندے ګواه يم او دد ے نه فضيلت او بزرګى د مدينے منورے ثابت شو د هغه ځائے د اوسيدونکو.الله تعالى دِ خادم د حديثو لره سره د خپلوانو او مؤمنانو او مخلصانو دوستانو د هغه ځائے اوسيدل او مرګ عنايت اوفرمائى آمين يا رب العالمين او بُغض د ابى حنيفه دِ هم ستا د زړۀ نه اوباسى .آمين.۱۲عارف

[1]: غرض دد ے تولو صحيح احاديثو متواتر المعنى نه معلوميږى په ښۀ طريقه سره چه د مدينے د حرم حکم داسے دے لکه څنګه چه د مکے د حرم دے.امام ابن قيم وائى چه رد کړے دے سنت صريحه مخکښې لره چه په هغے باندے د شلو نه زياتو صحابۀ روايت کړے دے چه مدينه حرم دے او د هغه ځائے ښکار حرام دے. او دعوى ئے کړے ده چه دا د اصولو خلاف دے. او معارضه ئے کړے ده

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي طَلْحَةَ الْتَمِسْ لِي غُلَامًا مِنْ غِلْمَانِكُمْ يَخْدُمُنِي فَخَرَجَ بِي أَبُو طَلْحَةَ يُرْدِفُنِي وَرَاءَهُ فَكُنْتُ أَخْدُمُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّمَا نَزَلَ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ ثُمَّ أَقْبَلَ حَتَّى إِذَا بَدَا لَهُ أُحُدٌ قَالَ هٰذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ فَلَمَّا أَشْرَفَ عَلَى الْمَدِينَةِ قَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ جَبَلَيْهَا مِثْلَ مَا حَرَّمَ بِهِ إِبْرَاهِيمُ مَكَّةَ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي مُدِّهِمْ وَصَاعِهِمْ

د حضرت انس نه روایت دے واتی چه جناب رسول الله ﷺ ابوطلحه ته اوفرمائیل چه یو هلك اوګوری چه خما خدمت کوی. پس ابوطلحه زه بوتلمه او پخپله سورلئ ئے د خان سره شاته کینښنولم او ما به د رسول الله ﷺ خدمت کولو هر کله چه به حضرت ﷺ کوزیدلو. بیا حضرت ﷺ په خبرو کښې اووے. چه بیا حضرت ﷺ تشریف راوړو تر دے پورے چه هر کله د احد غر هغوی ته ښکاره شو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل دا اُحد غر مونږ لره خوښوی او مونږ اُحد لره خوښوو. بیا هر کله مدینے ته نژدے راغے. نو اوئے فرمائیل چه یاالله! زه حراموم ددے دواړو غرونو مینځ لره لکه چه ابراهیم علیه السلام حرامه کړے ده مکے لره یا الله! برکت اوکړے په دے کښې او ددوی په مُد او صاع کښې.

وئیلے دی مسلم او روایت کړے دے مونږ ته دا حدیث سعید او

ددے د رسول الله د یو متشابه قول نه. چه حضرت اوفرمائیل چه اے ابا عمیر! څهٔ حال دے د نغیر؟ او لویه د حیرانتیا خبره ده یا الله! هغه کوم اصول دی چه ددے سنن صحیح مقابل کیدے شی. حالانکه سنت اعظم اصول دی. او لازم وو چه حدیث ابو عمیر لره د هغه روایتونو د مخه کوم چه په شهرت او تصریح کښې په ډیرو درجو ددے نه زیات وو کړے ئے دے. او مونږ خو د الله پاك نه پناه غواړو ددے نه چه رد کړو د رسول الله یو سنت صحیحه لره د کومے پورې چه د هغے نص معلوم شوے نهٔ وی حالانکه د ابوعمیر په حدیث کښې څلور احتمال کیدے شی. چه په طرف یو جماعت تلے دے. اول دا چه احادیث د مدینے د حرم کیدو نه مخکښې وی او دے حدیثونو هغے لره منسوخ کړو. دویم دا چه ددے نه روستو وی او د حدیثونو نهٔ ئے منسوخ کړو. دریم دا چه نغیر د مدینے د حرم نه بهر نیولے شوے وی. لکه اکثر په ښکار ښناورو کښې داسے کیږی چه د ښار نه بهر نیولے کیږی. څلورم دا چه خاص ددغه هلك دپاره اجازت ورکړے شوے وی او د نورو دپاره نهٔ وی لکه چه ابو برده ته چه د عناق د قربانئ اجازت ورکړے شو. غرض ددے څلورو احتمالاتو په وجه سره دا حدیث نغیر متشابه شو او د هغه نصوص صریحه د رد قابل پاتے نهٔ شو. کوم چه صراحةً اشتباه دلالت کوی د مدینے په حرم کیدو باندے کَذَا فِی الرَّوْضَةِ النَّدِیَه. او امام نووی فرمائیلے دی چه چه ضمان واجبیږی په هغه بنده باندے چه هغه پانړے شوکوی یا د مدینے اونے پریکوی دا د شافعی قدیم قول دے. او ددے حدیث د سعد نه هم دغه ثابتیږی او ددے حدیث یو معارض نشته دے. او د ضمان په کیفیت کښې دوه وجهے دی. یو خو هغه ښکار کوم چه دهٔ وژلے وی یا هغه اونه کومه چه دهٔ پریکړی وی د هغے ضمانت په دهٔ باندے راتلے شی یعنی قیمت دهغے پرے لازمیږی او دویم صورت دادے چه د دغه انسان اشیاء چا چه دا حرکت کړے دے به سلب کولے شی او په دے کښې هم دوه قولونه دی. اول دا چه صرف کپړے به د هغهٔ نه ویستلے شی. او د جمهورو قول دادے چه دهغهٔ تول سامان به اخستلے کیږی. لکه څنګه د کافر مقتول تول سامان غازی قاتل اخلی په دے کښې اس او هتیار او نفقه د هغهٔ توله داخله ده او دغه قول صحیح دے او هغه تول د سالب دے چا چه د هغه نه سلب کړے دے. او دغه موافق حدیث دے.

قتیبه هغوی ته یعقوب هغوی ته عمره بن ابوعمر هغوی ته انس هغوی د جناب رسول الله ﷺ نه په مثل دد ے کوم چه پورته تیر شو مګر په دے کښې دادی چه حضرتؐ اوفرمائیل زهٔ حرام ګرځوم مینځ د دواړو تورو ګټو والامیدانونو لره.

عَنْ عَاصِمٍ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَحَرَّمَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الْمَدِينَةَ قَالَ نَعَمْ مَا بَيْنَ كَذَا إِلَى كَذَا فَمَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا قَالَ ثُمَّ قَالَ لِي هٰذِهِ شَدِيدَةٌ مَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يَقْبَلُ اللهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا قَالَ فَقَالَ ابْنُ أَنَسٍ أَوْ آوَى مُحْدِثًا

د عاصم نه روایت دے وائی چه ما انس بن مالك ته اووے آیا رسول الله ﷺ حرم ګرځولے دےمدینے لره؟ هغوی اووے آو د فلانی مقام نه د فلانی پورے. پس څوك چه په دے کښې څهٔ نوے خبره رااوباسی یعنی د ګناه نو په هغهٔ باندے لعنت دے د الله تعالی او د فرښتو او د خلقو او قبول به نهٔکړی الله پاك د قیامت په ورځ د دهٔ نه نهٔ فرض نهٔ نفل. او د انس خوی اووے. یا ځائے ئے ورکړو نوے د ګناه خبرے کونکی لره.

عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسًا أَحَرَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ قَالَ نَعَمْ هِيَ حَرَامٌ لَا يُخْتَلَى خَلَاهَا فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ

د عاصم نه روایت دے وائی چه ما د انس نه تپوس اوکړو چه ولے رسول الله ﷺ مدینےلره حرم ګرځولے دے؟ هغوی اوفرمائیل چه آو هغه حرم دے. او نهٔ به شی شوکولے شی بوټی د هغے. او څوك چه داسے کوی په هغوی باندے د الله او د فرښتو او د خلقو لعنت دے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي مِكْيَالِهِمْ وَبَارِكْ لَهُمْ فِي صَاعِهِمْ وَبَارِكْ لَهُمْ فِي مُدِّهِمْ

د حضرت انس بن مالك نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ دُعا اوکړه چه یا الله! برکت ورکړه دوی لره یعنی مدینے والاؤ لره د دوی په ناپ کښې او د دوی په صاع کښې او برکت اوکړه د دوی په مُد کښې.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ بِالْمَدِينَةِ ضِعْفَيْ مَا بِمَكَّةَ مِنَ الْبَرَكَةِ

د انس بن مالك نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ دُعا اوکړه چه یا الله ! په مدینه کښې د مکے نه دوه دومره برکت کړے.

عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ خَطَبَنَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ فَقَالَ مَنْ زَعَمَ أَنَّ عِنْدَنَا شَيْئًا نَقْرَؤُهُ إِلاَّ كِتَابَ اللهِ وَهٰذِهِ الصَّحِيفَةَ قَالَ وَصَحِيفَةٌ مُعَلَّقَةٌ فِي قِرَابِ سَيْفِهِ فَقَدْ كَذَبَ فِيهَا أَسْنَانُ الإِبِلِ وَأَشْيَاءُ مِنَ الْجِرَاحَاتِ وَفِيهَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةُ حَرَمٌ مَا بَيْنَ عَيْرٍ إِلَى ثَوْرٍ فَمَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لاَ يَقْبَلُ اللهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلاَ عَدْلاً وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ وَمَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ أَوِ انْتَمَى إِلَى غَيْرِ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لاَ يَقْبَلُ اللهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلاَ عَدْلاً وَانْتَهَى حَدِيثُ أَبِي بَكْرٍ وَزُهَيْرٍ عِنْدَ قَوْلِهِ يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ وَلَمْ يَذْكُرَا مَا بَعْدَهُ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِمَا مُعَلَّقَةٌ فِي قِرَابِ سَيْفِهِ

ابراهيم د خپل پلار نه روايت کړے دے چه خطبه اولوسته په مونږ باندے علی بن ابی طالب او اوئے فرمائيل چه څوك دا دعوی کړی چه زمونږ سره څۀ بل څيز شته يعنی د اهل بيتو سره سوا د الله د کتاب نه او د دے صحيفے نه. او راوی وائی چه يوه صحيفه زوړنده وه د هغوی د تورے په تيکی کښ. نو هغوی دروغ اووے. او په هغه صحيفه کښ د اوښانو عمرونه (يعنی د زکات متعلقات) او څۀ د زخمونو بيان وو (يعنی د هغوی د قصاص د ديتونو بيان) او په هغه صحيفه کښ دا هم وو چه جناب رسول الله ﷺ فرمائيلے دی مدينه حرم دے د عير او ثور په مينځ کښ. پس څوك چه نوے خبره رااوباسی په دے ځائے ورکړی يو ے نوے خبرے راويستونکی والالره نو په هغوی باندے لعنت دے د الله تعالی او د فرښتو او د ټولو خلقو. او قبول به نۀ کړی الله تعالی د هغۀ يو فرض نۀ سنت. او امان ورکول د هر مسلمان برابر دی چه اعتبار کولے شی د ادنی مسلمان د پناه ورکولو هم. او چا چه خپل ځان د خپل پلار نه سوا د بل چاځوئ اوګرځوو يائے د خپل مالك نه سوا د بل چا غلام ځان ته اووے. په هغۀ باندے د الله تعالی او د فرښتو او د ټولو خلقو لعنت دے او قبول به نۀ کړی الله پاك د قيامت په ورځ د هغۀ نه فرض نۀ سنت.

امام مسلم عليه الرحمة وئيلے دی چه روايت د ابوبکر او د زهير خو د دغے پورے اوشو چه د ادنی مسلمان د پناه ورکولو هم اعتبار دے. او د دے دواړو په روايت کښ دا ذکر نشته چه صحيفه د تورے په تيکی کښ زوړنده وه.

عَنِ الأَعْمَشِ بِهٰذَا الإِسْنَادِ نَحْوَ

اعمش په دغه اسناد سره دا مضمون په مثل د ابوکريب روايت کړے

حَدِيثُ أَبِي كُرَيْبٍ عَنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ إِلَى آخِرِهِ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِمَا مَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ وَلَيْسَ فِي رِوَايَةِ وَكِيعٍ ذِكْرُ يَوْمِ الْقِيَامَةِ

دے كوم چه د ابومعاويه نه مروى دے د آخره پورے بيان فرمائيلے دى. او دومره ئے پكښې زيات اووے چه جناب رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه څوك د چا مسلمان پناه ماته كړى په هغه باندې لعنت دے د الله تعالى او د فرښتو او د ټولو خلقو. قبول به نۀ كړى الله تعالى د هغۀ نه د قيامت په ورځ نۀ فرض او نۀ سنت. او د هغوى په دواړو حديثونو كښې دا مضمون نشته چه څوك خپل خان د خپل پلار نه علاوه د چا غير خوى كړى او د وكيع په روايت كښې د قيامت ورځ ذكر كړے نۀ ده[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمَدِينَةُ حَرَمٌ فَمَنْ أَحْدَثَ فِيهَا

د ابوهريره نه روايت دے چه نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه مدينه حرم دے. بيا چه څوك په دے كښې ګناه كوى يا چا ګناه كولو والا ته ځائے

---

[1] حضرت على كرم الله وجهه چه كوم خطبه كښې اوفرمائيل چه زمونږ سره د الله او د هغۀ د كتاب نه سوا هيڅ نشته الخ په دے كښې ئے رد كړے دے په باطل ګمان د رافضيانو او شيعه ګانو او دروغژن كړے ئے د دے د هغوى دى قول لره چه دوى وائى چه حضرت على ته نبى ﷺ ډير زيات وصيتونه كړى وو او اسرار علوم او قواعد دين او غوامض شريعت ئے جوړ كړے وو. او خپل وصيت ئے مقرر كړے وو. او اهل بيتو ته ئے د ځنے اشياؤ داسے تعليم وركړے وو چه د هغوى نه سوا بل څوك په هغے باندے خبر نۀ دے. غرض دا چه دد دے حديث نه په ښه طريقه معلومه شوه دا ټول دعوے باطله او خيالات فاسده دى او دد دے هيڅ اصل نشته. او دد دے دعاوى د باطلو دپاره صرف د حضرت على قول پوره دے. او دد دے نه جائز شول ليكل د علم.

او دا چه ئے كوم اوفرمائيل چه مدينه حرم دے د عير او د ثور په مينځ كښې د ثور لفظ غالبًا دلته غلط دے د راوى نه هير شوے دے ځكه چه جبل ثور خو مكے ته نزدے دے. او صحيح داده چه مدينه حرم دے د عير او أُحُد په مينځ كښې. چنانچه مازرى او ځنے علماؤ په دى باندے هم دغه وئيلے دى او كيدے شى دا هم احتمال دى چه أُحُد يا د هغے نه سوا ثور د يو بل غر نوم وى د مدينے په خواؤ شا كښې او اوس هغه نوم پټ كړے شوى وى. او دپاسه په روايتونو كښې چه كوم وارد شول چه په مينځ د دوو تورو ګټو والاميدانونو كښې د مدينے د حرم حد دے. دا بيان دے د هغۀ د حد چه د مشرق نه تر مغربه پورے دے او په دے روايت كښې چه كوم راغلل چه حد د هغے په مينځ د دواړو غرونو كښې دے. دا د جنوب او شمال حد دے. او امان وركول هر مسلمان له برابر دى مراد دد دے نه دا دے چه د ادنى نه واخله د اعلى پورى چه كوم مسلمان يو كافر لره پناه وركړه هغه د ټولو مسلمانانو په پناه كښې راغے. او يو مسلمان له دا جائز نۀ دى چه هغه ته تكليف اورسوى. او دغه مذهب دے د شافعى او د هغوى د موافقينو او متبعينو د سنتو چه كچرے يو غلام يا ښځه هم چا كافر لره پناه وركړى نو امان وركول ئے صحيح دى.

او دد دے حديث نه معلومه شوه چه حرام دى د خپل پلار نه سوا خان د بل خوئے ګرځول. يا چا چه خپل خان آزاد كړو د هغه مالك نه سوا خان د بل مالك غلام ګرځول. او وعيد په دے كښې دے هغه خلقو لره چه خپل ذات بدلوى يعنى د شيخ نه سيّد كيږى. او د نورو غلام خپل خان لره غلط ملط ګرځوى مثلاً نوم ورله كيږدى غلام محى الدين، يا غلام على يا غلام نبى. قوله: او چا چه پناه ماته كړه د يو مسلمان يعنى يو مسلمان چا كافر لره پناه وركړه. اوس چه څوك دغه كافر ته ضرر رسوى نو هغه پناه ماتوى هغه موذى ملعون دے.

حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَدْلٌ وَلَا صَرْفٌ

ورکړي په هغۀ باندے د الله او د فرښتو او د ټولو خلقو لعنت دے. او قبول به نۀ کړي الله تعالی دده نه د قیامت په ورځ نۀ فرض او نۀ نفل.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ لَوْ رَأَيْتُ الظِّبَاءَ تَرْتَعُ بِالْمَدِينَةِ مَا ذَعَرْتُهَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا حَرَامٌ

د ابوهريره نه روایت دے وائی چه کچرے زۀ يو هوسئ لره په مدینه کښې ځړيدلے اووینم نو چرته به ئے نۀ یروم. ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی چه د دواړو تورو ګټو والا میدانونو په مینځ کښې حرم دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ لَابَتَي الْمَدِينَةِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَلَوْ وَجَدْتُ الظِّبَاءَ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا مَا ذَعَرْتُهَا وَجَعَلَ اثْنَيْ عَشَرَ مِيلًا حَوْلَ الْمَدِينَةِ حِمًى

د ابوهريره نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ حرم مقرر کړو د دواړو تورو ګټو والا میدانونو په مینځ کښې چه د مدینے نه مشرق او مغرب طرفته واقع دی ابوهريره وائی چه کچرے زۀ يو ه هوسئ او مومم چه دد دے په مینځ کښې ځړيږی نو چرته به ئے اونۀ یروم. او نۀ به زغلوم هغے لره. او هغوی دولس میله ګير چاپيره د مدینے نه رمنه مقرر کړه[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ كَانَ النَّاسُ إِذَا رَأَوْا أَوَّلَ الثَّمَرِ جَاءُوا بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا أَخَذَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثَمَرِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَبْدُكَ وَخَلِيلُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنِّي عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنَّهُ دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَإِنِّي أَدْعُوكَ لِلْمَدِينَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَمِثْلِهِ مَعَهُ قَالَ ثُمَّ يَدْعُو أَصْغَرَ وَلِيدٍ لَهُ فَيُعْطِيهِ ذَلِكَ الثَّمَرَ

د ابوهريره نه روایت دے فرمائی چه د خلقو عادت وو چه کله به ئے يو ه نوے میوه اولیدله یعنی د رومبی فصل نو رسول الله ﷺ له به ئے راوړه. او حضرت ﷺ چه به هر کله هغه واخسته نو دُعا به ئے اوکړه چه یا الله ! زمونږ ښار برکتی کړے او زمونږ اوګے یعنی صاع برکتی کړے. او زمونږ مُد برکتی کړے. یا لله ابراهيم عليه السلام ستا غلام او ستا دوست او ستا نبی وو او زۀ ستا غلام او نبی یم. او هغوی دُعا کړے ده ستا نه د مکے دپاره او زۀ دُعا کوم ستا نه د مدینے دپاره د هغے برابر کومه چه هغوی د مکے دپاره کړے وه او په مثل د هغے نوره هم د هغے سره. او بیا به راواوغوښتو حضرت ﷺ خپل يو هلك او هغه میوه به ئے هغۀ ته ورکړه.

[1] رمنه هغه زمکے ته وئیلے شی چه په هغے کښې حکام او أمراء حکم کوی چه سوا زمونږ د څناورو نه پکښې بل څۀ نۀ ځړيږی نو حرم لکه چه د الله تعالی رمنه ده. چه سوا د ځنګلی څناورو نه کوم چه د هغے خائے اوسیدونکی دی بل به پکښې نۀ ځړيږی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتَى بِأَوَّلِ الثَّمَرِ فَيَقُولُ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا وَفِي ثِمَارِنَا وَفِي مُدِّنَا وَفِي صَاعِنَا بَرَكَةً مَعَ بَرَكَةٍ ثُمَّ يُعْطِيهِ أَصْغَرَ مَنْ يَحْضُرُهُ مِنَ الْوِلْدَانِ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ له چه به رومبی میوه راغله او هغوی به دُعا اوکړه چه یا الله برکت اوکړه زمونږ په دے ښار کښې او زمونږ په میوو کښې او زمونږ په صاع یعنی پیمانه کښې د برکت دپاسه برکت اوکړه. بیائے هغه میوه ورکړه چا ووړوکی هلك له کوم چه به دغه وخت حاضر وو[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ مَوْلَى الْمَهْرِيِّ أَنَّهُ أَصَابَهُمْ بِالْمَدِينَةِ جَهْدٌ وَشِدَّةٌ وَأَنَّهُ أَتَى أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ فَقَالَ لَهُ إِنِّي كَثِيرُ الْعِيَالِ وَقَدْ أَصَابَتْنَا شِدَّةٌ فَأَرَدْتُ أَنْ أَنْقُلَ عِيَالِي إِلَى بَعْضِ الرِّيفِ فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ لَا تَفْعَلِ الْزَمِ الْمَدِينَةَ فَإِنَّا خَرَجْنَا مَعَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَظُنُّ أَنَّهُ قَالَ حَتَّى قَدِمْنَا عُسْفَانَ فَأَقَامَ بِهَا لَيَالِيَ فَقَالَ النَّاسُ وَاللهِ مَا نَحْنُ هَا هُنَا فِي شَيْءٍ وَإِنَّ عِيَالَنَا لَخُلُوفٌ مَا نَأْمَنُ عَلَيْهِمْ فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا هَذَا الَّذِي بَلَغَنِي مِنْ حَدِيثِكُمْ مَا أَدْرِي كَيْفَ قَالَ وَالَّذِي أَحْلِفُ بِهِ أَوْ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَوْ إِنْ شِئْتُمْ لَا أَدْرِي أَيَّتَهُمَا قَالَ لَآمُرَنَّ بِنَاقَتِي تُرْحَلُ

د ابوسعید مولی مهری نه روایت دے چه مونږ په مدینه کښې یو ځل محنت او شامت د لوږے ته اورسیدو. او زهٔ د ابوسعید خدری خوا له لاړم او هغهٔ ته مے اووے چه زهٔ کثیر العیال یم او مونږ ته سختی رارسیدلې ده. او ما اراده کړے ده چه خپل اهل وعیال چرته ارزان او آباد مُلك ته اورسوم. ابوسعید اوفرمائیل چه مدینه مهٔ پریږده ځکه چه مونږ یو ځل د نبیﷺ سره اووتو. زهٔ گمان کوم چه هغوی اووے. تردے پورے چه عسفان ته اورسیدو نو هلته څو شپے حصار شو. پس خلقو اووے قسم دے په الله تعالی چه مونږ دلته بے کاره ناست یو او شاته راپسے عیال دے او د هغے دپاسه مونږ ته آرام نشته دے (یعنی یره ده چه څوك دشمن مو تنگ نهٔ کړی) او دا خبر جناب رسول الله ﷺ ته اورسیدو. نو حضرت ﷺ تپوس اوکړو چه دا څهٔ خبره ده؟ او اوئے وئیل قسم دے په هغه خدائے چه په جائزه قسم خورم. بیا اوفرمائیل چه قسم دے په هغه پروردگار چه خما روح د هغهٔ په لاس کښې دے. البته ما اراده اوکړه یائے اوفرمائیل کهٔ غواړئ تاسو زهٔ نهٔ پوهیږم چه څهٔ ئے اوفرمائیل په دے دواړو خبره کښې. اوئے فرمائیل چه البته حکم کوم زهٔ خپلے اوښے ته چه هغه چرته لاړه شی او بیا د هغے یوه غوټه هم نهٔ پرانزم تردے پورے چه داخل شو په مدینه کښې او

[1]: حضرت ﷺ له به ئے هغه میوه ځکه راوړله چه د حضرت ﷺ د خیر دُعاگانو میوه بیا مومی. او د برکتونو موجب شی او یو مُد یو سیر دے او صاع یعنی اوگے څلورو سیرو ته نزدے دے. اولین دین د غلو او دانو هم په دغے سره کیږی ځکه ئے په دے کښې د برکت دُعا فرمانیله. او د وړو بچو زړهٔ خوشحالول د مکارم اخلاق او محبت او مشقت باعث دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ لَا أَحُلُّ لَهَا عُقْدَةً حَتَّى أَقْدَمَ الْمَدِينَةَ وَقَالَ اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ فَجَعَلَهَا حَرَمًا وَإِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ حَرَامًا مَا بَيْنَ مَأْزِمَيْهَا أَنْ لَا يُهْرَاقَ فِيهَا دَمٌ وَلَا يُحْمَلَ فِيهَا سِلَاحٌ لِقِتَالٍ وَلَا تُخْبَطَ فِيهَا شَجَرَةٌ إِلَّا لِعَلْفٍ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا اللَّهُمَّ اجْعَلْ مَعَ الْبَرَكَةِ بَرَكَتَيْنِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنَ الْمَدِينَةِ شِعْبٌ وَلَا نَقْبٌ إِلَّا عَلَيْهِ مَلَكَانِ يَحْرُسَانِهَا حَتَّى تَقْدَمُوا إِلَيْهَا ثُمَّ قَالَ لِلنَّاسِ ارْتَحِلُوا فَارْتَحَلْنَا فَأَقْبَلْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ فَوَالَّذِي نَحْلِفُ بِهِ أَوْ يُحْلَفُ بِهِ الشَّكُّ مِنْ حَمَّادٍ مَا وَضَعْنَا رِحَالَنَا حِينَ دَخَلْنَا الْمَدِينَةَ حَتَّى أَغَارَ عَلَيْنَا بَنُو عَبْدِ اللهِ بْنِ غَطَفَانَ وَمَا يَهِيجُهُمْ قَبْلَ ذٰلِكَ شَيْءٌ

اوئې فرمائيل چه يا الله ابراهيم عليه السلام مکې لره حرم مقرر کړو لوما مدينې لره حرام اوګرځوو د دوو ميدانونو يا د دوو غرونو په مينځ کښې چه نۀ به په دے کښې وينه بيهولې شي. او نۀ په دے کښې د جنګ دپاره وسله اوچتولې شي. او نۀ به په دے کښې د يوے ونې پاڼې شوکولې شي مګر صرف د ګياه دپاره (چه په دے سره د اونې څۀ نقصان نۀ کيږي) يا الله برکت اوکړے زمونږ په ښار کښې يا الله برکت اوکړے په اوګي زمونږ کښې. يا الله برکت اوکړے په سير زمونږ کښې يا الله برکت اوکړے په پيمانه زمونږ کښې يا الله برکت اوکړے په سير زمونږ کښې يا الله برکت اوکړے په ښار زمونږ کښې يا الله د برکت سره دوه برکتونه نور ورکړه او اوئې فرمائيل قسم دے په هغه پرودګار چه څما روح د هغۀ په لاس کښې دے چه يو کنډو او يو لار د مدينې داسې نشته دے چه په هغې باندے دوه فرښتې نګرانې نۀ وي د کومې پورے چه تاسو هلته نۀ يئ رسيدلې (يعني د هغې پورې به هغه نګرانې وي) بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل سفر کوئ او مونږ کوچ اوکړو او مدينې ته راغلو. پس مونږ قسم خورو په هغه پروردګار چه په هغۀ هميشه قسم خوړلې شي يائې اووے د چا چه قسم خوړلې شي. غرض حماد ته په دے کښې شك راغې پس هر کله چه مونږ مدينې ته اورسيدو نو مونږ لاکجاوے د اوښانو نه نۀ وے کوزے کړے چه بنو عطفان په مونږ باندے ډاکه اوغورځوله او ددے نه مخکښې په دوی کښې همت نۀ وو شوے (چه هلته راغلې وے) دا تصديق شو د رسول الله ﷺ د فرمائيلو چه فرښتې هلته نګرانې دی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا وَاجْعَلْ مَعَ الْبَرَكَةِ بَرَكَتَيْنِ

د ابوسعيد خدري نه روايت دے چه جناب رسول الله ﷺ دُعا اوکړه چه يا الله برکتې کړے زمونږ مُد لره او زمونږ اوګي لره. او په يو برکت باندے دوه برکتونه نور راکړه.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ مَوْلَى الْمَهْرِيِّ أَنَّهُ جَاءَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ لَيَالِيَ الْحَرَّةِ فَاسْتَشَارَهُ فِي الْجَلَاءِ مِنَ الْمَدِينَةِ وَشَكَا إِلَيْهِ أَسْعَارَهَا وَكَثْرَةَ عِيَالِهِ وَأَخْبَرَهُ أَنْ لَا صَبْرَ لَهُ عَلَى جَهْدِ الْمَدِينَةِ وَلَأْوَائِهَا فَقَالَ لَهُ وَيْحَكَ لَا آمُرُكَ بِذَلِكَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَصْبِرُ أَحَدٌ عَلَى لَأْوَائِهَا فَيَمُوتَ إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا أَوْ شَهِيدًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِذَا كَانَ مُسْلِمًا

د ابوسعید مولی مهری نه روایت دے چه هغه د ابوسعید خدری خواله راغے د حره په شپو کښې یعنی په کومو ورځو چه په مدینه طیبه کښې یوه فتنه مشهوره شوے وه او ظالمانو مدینه طیبه په ۶۳ھ کښې لوټلے وه او مشوره ئے اوکړه د هغوی سره چه د مدینے نه چرته بل خواه لاړ شی او شکایت ئے اوکړو هغوی ته د مدینے د نرخ د ګران والی او د خپل بال بچ د ډیر والی او خبرئے کړه هغوی لره چه ځما نه صبر نه شی کیدے د مدینے په محنت او لوږه باندے. نو ابوسعید خدری او فرمائیل چه خرابی دوی تا لره زۀ تا ته لړ شان دلته کښې د اوسیدو حکم کوم بلکه ما د جناب رسول مقبول ﷺ نه اوریدلے دی چه فرمائیلے ئے وو چه صبر نۀ کوی څوك دد ے ځائے په تکلیفونو باندے مګر دد ے دپاره صبر کوی چه زۀ د هغه شفیع یا ګواه شم د قیامت په ورځ هر کله چه هغه مسلمان وی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنِّي حَرَّمْتُ مَا بَيْنَ لَابَتَيِ الْمَدِينَةِ كَمَا حَرَّمَ إِبْرَاهِيمُ مَكَّةَ قَالَ ثُمَّ كَانَ أَبُو سَعِيدٍ يَأْخُذُ وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ يَجِدُ أَحَدَنَا فِي يَدِهِ الطَّيْرَ فَيَفُكُّهُ مِنْ يَدِهِ ثُمَّ يُرْسِلُهُ

د ابوسعید ﷺ نه روایت دے چه هغوی اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلے ئے وو چه ما حرم مقرر کړے دے په مینځ د دواړو تورو ګټو د میدانونو کښې د مدینے. لکه چه حرم مقرر کړے وو ابراهیم مکے لره تردے پورے چه یو به په مونږ کښې اوموندله یا به ئے واخستله په خپل لاس کښې چرچڼړے لره او هغه به ئے جدا کړله او بیا به ئے والوزوله.

عَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ قَالَ أَهْوَى رَسُولُ اللهِ ﷺ بِيَدِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ فَقَالَ إِنَّهَا حَرَمٌ آمِنٌ

د سهل بن حنیف نه روایت دے چه رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك د مدینے په طرف بنکته کړو او اوئے فرمائیل چه هغه حرم دے او د امن ځائے دے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ وَهِيَ وَبِيئَةٌ فَاشْتَكَى أَبُو بَكْرٍ وَاشْتَكَى بِلَالٌ فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جناب عائشے صدیقے نه روایت دے وائی چه هر کله مونږ مدینے ته تشریف راوړو نو هلته وباء وه. نو ابوبکر او بلال بیمار شو. بیا چه هر کله رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو بیماری اولیده. نو دُعائے اوکړه

شَكْوٰى أَصْحَابِهِ قَالَ اللّٰهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الْمَدِينَةَ كَمَا حَبَّبْتَ مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ وَصَحِّحْهَا وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِهَا وَمُدِّهَا وَحَوِّلْ حُمَّاهَا إِلَى الْجُحْفَةِ

یا الله محبت اوکړے زمونږ د مدینے سره لکه چه محبت کړے دے تا د مکے سره یا د هغے نه هم زیات او صحت ورکړه دے اوسیدونکو لره او برکت اوکړے دپاره زمونږه په اوګی دے کښې او په سر دے کښې او دے تبے لره د جحفے په طرف واپس کړه[1].

بَابُ التَّرْغِيبِ فِي سُكْنَى الْمَدِينَةِ وَفَضْلِ الصَّبْرِ عَلَى لَأْوَائِهَا وَشِدَّتِهَا

باب: د مدینے د اوسیدو فضیلت او د هغه ځائے تکلیف او محنت باندے صبر کولو ثواب

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَبَرَ عَلَى لأْوَائِهَا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا أَوْ شَهِيدًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو څوك چه د مدینے په لوږه باندے صبر اوکړی زۀ به د هغهٔ شفیع یا ګواه یم د قیامت په ورځ.

عَنْ يُحَنَّسَ مَوْلَى الزُّبَيْرِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ كَانَ جَالِسًا عِنْدَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ فِي الْفِتْنَةِ فَأَتَتْهُ مَوْلَاةٌ لَهُ تُسَلِّمُ عَلَيْهِ فَقَالَتْ إِنِّي أَرَدْتُ الْخُرُوجَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اشْتَدَّ عَلَيْنَا الزَّمَانُ فَقَالَ لَهَا عَبْدُ اللهِ اقْعُدِي لَكَاعِ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَصْبِرُ عَلَى لَأْوَائِهَا وَشِدَّتِهَا أَحَدٌ إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَهِيدًا أَوْ شَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

یحنس د زبیر د ازاد کړے شوی غلام نه روایت دے چه هغه د عبد الله بن عمر سره ناست وو چه دهغوی یوه ازاده وینځه راغله او دوی ته ئے سلام اوکړو. او دا د فتنے ورځے وے (یعنی د حره د فتنے ورځ چه ذکر ئے اوس لږ غوندے مخکښې تیر شو او هغے اووے چه اے عبد الرحمٰن! (د عبد الله بن عمر کنیت دے) په مونږ باندے سختے ورځے دی او زۀ د مدینے نه د وتلو اراده کوم نو عبد الله بن عمر اوفرمائیل چه کښېنه اے کم عقلې! ځکه چه ما اوریدلی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو چه څوك صبر اوکړی د مدینے په لوږه تنده او مشقت باندے نو زۀ به د هغهٔ

[1]: جحفه په هغه ورځو د یهودو وطن وو. عرض په دے حدیث کښې دا اشاره ده چه بد دُعا کول په کافرانو باندے د بیمارئ او هلاکت او خُسران سره صحیح ده. او په دے کښې دُعائے راغله د مسلمانانو سره د صحت او تندرستئ. او دغه مذهب دے د کافه علماؤ چه خیرے کافرانو ته کول صحیح دی. او قول د بعضے جاهلانو صوفیانو مقبول نهٔ دے چه هغوی دے لره منع کوی. او ملګرتیا کړے ده دغه جاهلانو صوفیانو د معتزلو چه هغو هم داسې دُعا لره بے فائدے ګنړی. عرض دا چه دواړه په دے حدیث سره مردود شو. او په دے حدیث کښې لویه معجزه ده د رسول الله ترنن ورځے پورے. چه څوك اوبهٔ اوڅکی په هغه باندے ګرمه تبه راځی.

شفیع یم (یعنی کهٔ هغه گنهگار وی) یا به گواه یم (یعنی کهٔ هغه نیکو کار وی) د قیامت په ورځ.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَبَرَ عَلَى لَأْوَائِهَا وَشِدَّتِهَا كُنْتُ لَهُ شَهِيدًا أَوْ شَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَعْنِي الْمَدِينَةَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل حضرت ﷺ فرمائیل کوم سړی چه د مدینے لوږه تنده او په مشقتئے صبر اوکړو نو زهٔ به د قیامت په ورځ دهغهٔ دپاره گواه یا اوئے فرمائیل سفارش کونکے یم. مراد مدینه وه.

بَاب صِيَانَةِ الْمَدِينَةِ مِنْ دُخُولِ الطَّاعُونِ وَالدَّجَّالِ إِلَيْهَا

باب: د طاعون او د دجّال نه د مدینے طیبے محفوظ کیدل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَلَى أَنْقَابِ الْمَدِينَةِ مَلَائِكَةٌ لَا يَدْخُلُهَا الطَّاعُونُ وَلَا الدَّجَّالُ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د مدینے په کوڅو باندے فرښتے دی چه په هغے باندے دجال او طاعون نهٔ شی راتلے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْتِي الْمَسِيحُ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ هِمَّتُهُ الْمَدِينَةُ حَتَّى يَنْزِلَ دُبُرَ أُحُدٍ ثُمَّ تَصْرِفُ الْمَلَائِكَةُ وَجْهَهُ قِبَلَ الشَّامِ وَهُنَالِكَ يَهْلِكُ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مسیح الدجال به راځی د مشرق د طرفنه او اراده به د هغهٔ د مدینے وی ترد ے پورے چه د أحد د غر شاته به راکوز شی او فرښتے به د هغهٔ مخ د هغه ځائے نه د شام په طرف اوگرځوی او هلته به تباه کړے شی[2].

بَاب الْمَدِينَةِ تَنْفِي خَبَثَهَا وَتُسَمَّى طَابَةَ وَطَيْبَةَ

باب: د مدینے طابه او طیبه نوم کیدل او بدو څیزونو لره د ځان نه لرے کول

---

[1]: ددے حدیث نه دمدینے فضیلت ثابت شو او د هغه ځائے د اوسیدونکو فضیلت او درجه د هغه ځائے د اوسیدونکو ترے هم معلومه شوه.

[2]: د مسیح لفظ د جناب حضرت عیسیٰ علیه السلام په واسطه وئیلے شی. او د دجال په واسطه هم وئیلے شی. او ددے دوه معنے دی. یو معنی ئے ده مسحه کولو والا. ددے معنے په حضرت عیسیٰ علیه السلام باندے اطلاق راځی چه هغه چا لره مسحه کوی، صحیح کیږی. دویمه معنی د مسیح ممسوح هم ده. یعنی یو ځائے شوے، دباؤ شوے ددهٔ سترگو خوړندے دی، ددے وجے نه دهٔ ته مسیح وائی. یا په دے نظر سره چه هغه به هم دعوی کوی چه زهٔ مسیح یم او خلق به ددے خبیث په دهوکه کښې راشی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَدْعُو الرَّجُلُ ابْنَ عَمِّهِ وَقَرِيبَهُ هَلُمَّ إِلَى الرَّخَاءِ هَلُمَّ إِلَى الرَّخَاءِ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَخْرُجُ مِنْهُمْ أَحَدٌ رَغْبَةً عَنْهَا إِلَّا أَخْلَفَ اللهُ فِيهَا خَيْرًا مِنْهُ أَلَا إِنَّ الْمَدِينَةَ كَالْكِيرِ تُخْرِجُ الْخَبِيثَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَنْفِيَ الْمَدِينَةُ شِرَارَهَا كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول خدا ﷺ فرمائیلي دي چه یو وخت به په خلقو باندے داسے راشي چه بنده به خپل د تره خوئ ته او خپلوانو ته چغې وهي چه راشئ د آرزانئ دے ملك ته ، راشئ د آرزانئ دے ملك ته او مدینه به د هغوی دپاره بهتره وی کاش چه دوی پوهیدلے. او قسم دے په هغه پروردگار چه خما روح د هغهٔ په لاس کښې دے چه څوك سړے د مدینے نه بیزاره شوے نهٔ اوځی مگر الله تعالی د هغهٔ نه بهتر بل سړے راليږی د مدینے نه خبر شئ چه مدینه داسے څائے دے لکه د لوهار بهټئ چه اوباسی خیری لره. او قیامت به قائم نهٔ شی ترڅو پورے چه مدینه خپل شریر خلق اوباسی. لکه څنګه چه بهټئ اوباسی د اوسپنے خیری لره[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ بِقَرْيَةٍ تَأْكُلُ الْقُرَى يَقُولُونَ يَثْرِبَ وَهِيَ الْمَدِينَةُ تَنْفِي النَّاسَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما ته حکم شوے دے (یعنی د هجرت) د یو داسے کلی په طرف چه هغه به د ټولو کلو لره اوخوری. چه خلق هغې ته یثرب وائی او هغه مدینه ده او خلق داسے چانړه وی لکه څنګه چه د اوسپنے بهټئ خیرے چانړوی[2].

[1] : کیدے شی چه دا خبره د دجال په وخت اوشی. څکه چه په دے حدیث کښې راغلے دی چه دجال چه هر کله مدینے ته نژدے اورسی نو په مدینه کښې به درے ځله زلزله راشی او الله پاك به د دغه زلزلے په سبب سره هر کافر او منافق لره د مدینے نه اوباسی. یا به همیشه په مدینه کښې داسی وی.

[2] : ټول کلی به اوخوری. یعنی هلته به د اسلام لښکر جمع شی او څلورو واړو طرفو ته به خور شی. او ټولو ښارونو له به مسخر او فرمانبردار جوړ کړی د ټولو طرفونو نه به د غنیمت مالونه دے ته راوړے شی جمع به شی او د هغه ځائے د خلقو په تصرف کښې به راشی. او دائے هم اوفرمائیل چه خلق هغې ته یثرب وائی. او یثرب لره حضرت مکروه ګڼړله. څکه چه یثرب د تثریب نه وتلے دے او تثریب معنی ده رټل او ملامته کول او په مسند احمد کښې یو روایت راغلے دے په کراهت کښې د یثرب د وئیلو او په قرآن مجید کښې چه کوم یثرب واقع شوے دے هغه هم د کفارو مقوله ده یا د منافقانو د قول نه دے. او مدینه هم کوم چه په قرآن مجید کښې راغلے دے هغه د منافقانو قول نهٔ دے غرض دا چه دا دے نه معلومه شوه چه د ښهٔ شیز نوم بد ایخودل دا هم د نفاق یوه شعبه ده. او د مسلك نبوت نه خلاف دی. لکه محبت د الهی ته په شرابو سره تعبیر کول یا عشق الهی ته په لیونتوب سره یا خداوند

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَايَعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَصَابَ الْأَعْرَابِيَّ وَعْكٌ بِالْمَدِينَةِ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى فَخَرَجَ الْأَعْرَابِيُّ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْمَدِينَةُ كَالْكِيرِ تَنْفِي خَبَثَهَا وَيَنْصَعُ طَيِّبُهَا

د جابرؓ نه روایت دے وائی چه د باندے یو سړی د رسول اللهﷺ نه بیعت اوکړو او هغهٔ لره ډیره سخته تبه راغله په مدینه کښ بیا هغه د حضرتﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه یا محمدؐ! خما نه خپل بیعت واپس واخله نو حضرتﷺ انکار اوکړو. او هغه بیا راغے او عرض ئے اوکړو چه یا محمدؐ! خما نه خپل بیعت واپس واخله نو حضرتﷺ بیا انکار اوکړو. او هغه په دریم ځل بیا راغے او عرض ئے اوکړو چه یا محمدؐ! خما نه خپل بیعت واپس واخله. بیا حضرتؐ انکار اوکړو او هغه اعرابی د مدینے نه لاړو بیا جناب رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه د مدینے مثال د بهټیٔ دے چه خپل خیری لره لرے کوی. او پاک لره خاص او صفا کوی[1].

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهَا طَيْبَةُ يَعْنِي الْمَدِينَةَ وَإِنَّهَا تَنْفِي الْخَبَثَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْفِضَّةِ

زید بن ثابت د نبی کریمﷺ نه روایت کړے دے چه حضرتﷺ اوفرمائیل دا طیبه ده یعنی مدینه او د هر څه نه مخکښ دا مدینه خیرے لرے کوی. لکه چه اُور د سپینو زرو نه خیرے لے کوی[2].

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِﷺ يَقُولُ إِنَّ اللهَ تَعَالَى سَمَّى الْمَدِينَةَ طَابَةَ

د جابر نه روایت دے وائی چه واوریدل ما د رسول اللهﷺ نه چه اوئے فرمائیل چه الله جل جلاله نوم د مدینے طابه ایخودے دے.

بَاب مَنْ أَرَادَ أَهْلَ الْمَدِينَةِ بِسُوءٍ أَذَابَهُ اللهُ

باب: د مدینے والؤ سره د بد کولو اراده حرامه ده او خوک چه دا سے اوکړی خدائے به هغهٔ له سزا ورکړی

تعالی لره معاذ الله په صنم یعنی بُت یا معشوقے سره تعبیر کول یانبی لره په بت سره تعبیر کول چه اکثر د شاعرانو په ژبه وی هغه تول مردود او مذموم دی. او د تول نوی جوړ شوی او د شر کارونه دی. د دے نه پرهیز کول ضروری دی.

[1]: دغه باندیچی په اسلام باندے د حضرت سره په قیام باندے قیام کړے وو. بیا د هغے نه واپسی حضرت ځنګه فرمائیلے وو.

[2]: مدینے ته ئے طیبه اوفرمائیل یعنی پاکیزه چه د شرك د پلیتیٔ نه او د خباثت د کفر نه پاکه ده یا د عشق پاکوالے دلته حالصه ده. او طابه ئے هم په دے معنی سره اوفرمائیله لکه ځنګه چه مخکښ راغی.

عَنْ أَبِيْ عَبْدِ اللهِ الْقَرَّاظِ أَنَّهُ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَرَادَ أَهْلَ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ بِسُوْءٍ يَعْنِي الْمَدِيْنَةَ أَذَابَهُ اللهُ كَمَا يَذُوْبُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ

د ابوعبد الله قراظ نه روایت دے وائی چه زۀ گواهی ورکوم چه ابوهریرهؓ وائی چه ابوالقاسم فرمائیلے دی څوک چه اراده د دے ښار والاؤ یعنی مدینے والاؤ سره د بدئ کوی نو الله تعالی هغوی لره داسے ویلی کوی لکه څنګه چه مالګه په اوبو کښں ویلی کیږی.

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَسَعْدٍ يَقُوْلَانِ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لِأَهْلِ الْمَدِيْنَةِ فِيْ مُدِّهِمْ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ وَفِيْهِ مَنْ أَرَادَ أَهْلَهَا بِسُوْءٍ أَذَابَهُ اللهُ كَمَا يَذُوْبُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ

د ابوهریره او سعد نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ دُعا اوکړه چه یا اللهؐ برکت اوکړے د مدینے والاؤ په مُد کښں. او په دے کښں دا دی چه چا مدینے والاؤ سره د بدکولو اراده اوکړه ، الله تعالی به هغۀ لره ویلی کړی لکه څنګه چه مالګه په اُوبو کښں ویلی کیږی.

بَابُ التَّرْغِيْبِ فِي الْمَدِيْنَةِ عِنْدَ فَتْحِ الْأَمْصَارِ

باب : خلقو ته په مدینه کښں د اوسیدو ترغیب ورکول هر کله چه ښار فتح شی

عَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَبِيْ زُهَيْرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُفْتَحُ الشَّامُ فَيَخْرُجُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ قَوْمٌ بِأَهْلِيْهِمْ يَبُسُّوْنَ وَالْمَدِيْنَةُ خَيْرٌ لَّهُمْ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ثُمَّ تُفْتَحُ الْيَمَنُ فَيَخْرُجُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ قَوْمٌ بِأَهْلِيْهِمْ يَبُسُّوْنَ وَالْمَدِيْنَةُ خَيْرٌ لَّهُمْ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ثُمَّ تُفْتَحُ الْعِرَاقُ فَيَخْرُجُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ قَوْمٌ بِأَهْلِيْهِمْ يَبُسُّوْنَ وَالْمَدِيْنَةُ خَيْرٌ لَّهُمْ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ

د سفیان نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه شام به فتح شی او څۀ خلق به د مدینے نه اوځی د خپل کور والا وو سره او اوښان به راکاږی او مدینه د هغوی دپاره غوره وه کچرے پوهیدے. بیا به یمن فتح شی او راووځی یو قوم به د مدینے نه د خپلوانو سره اوښان به شړی. او مدینه د هغوی به حق کښں غوره ده کچرے هغوی پوهیدے. بیا به عراق فتح شی او راووبه وځی یو قوم دمدینےنه د خپل خاندان او اوښانو شړلو سره او مدینه د هغوی په حق کښں غوره وه کاش کۀ هغوی پوهیدے.

عَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَبِيْ زُهَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يُفْتَحُ الْيَمَنُ فَيَأْتِيْ قَوْمٌ يَبُسُّوْنَ فَيَتَحَمَّلُوْنَ

د سفیان نه روایت دے وائی چه ما اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلے وو چه یمن به فتح شی او خلق به هلته ځی او په اوښانو به ئے خپل کورونو والابار کړی او څوک چه د دوی خبره

بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ثُمَّ يُفْتَحُ الشَّامُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يَبُسُّونَ فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ثُمَّ يُفْتَحُ الْعِرَاقُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يَبُسُّونَ فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ

منی مدینه هغوی دپاره غوره وه کچرے دوی پوهیدے. بیا به شام فتح شی نو خلق به هلته خی او په اوښانو به ئے خپل اهل وعیال بار کړی وی او څوك چه د دوی خبره منی او مدینه غوره وه د هغوی دپاره کچرے هغوی پوهیدے. بیا به عراق فتح شی او خلق به هلته روان شی او اوښان به راکاږی او خپل اهل وعیال به ئے پرے بار کړی وی. او هغه څوك چه هغه د دوی خبره منی. نو مدینه طیبه د هغوی په حق کښ غوره وه کچرے دوی پوهیدے[1].

بَابُ إِخْبَارِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَرْكِ النَّاسِ الْمَدِينَةَ عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ

باب: د جناب رسولِ خُدا ﷺ خبر ورکول چه خلق به مدینه پریږدی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمَدِينَةِ لَيَتْرُكَنَّهَا أَهْلُهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ مُذَلَّلَةً لِلْعَوَافِي يَعْنِي السِّبَاعَ وَالطَّيْرَ قَالَ مُسْلِم أَبُو صَفْوَانَ هَذَا هُوَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ يَتِيمُ ابْنِ جُرَيْجٍ عَشْرَ سِنِينَ كَانَ فِي حَجْرِهِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے فرمائی چه جناب رسول الله ﷺ او فرمائیل د مدینے دپاره چه د دغه ځائے خلق به مدینه پریږدی او مدینه به د دوی دپاره غوره وی او داسے به ئے پریږدی چه وطن به شی د ځناورو او مرغو. مسلم وئیلی دی چه ابوصفوان چه د هغه نوم عبد الله بن عبد الملك دے، هغه یتیم وو او د ابن جریج په غیږه کښ ئے لس کاله پرورش موندلے وو[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَتْرُكُونَ الْمَدِينَةَ عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ لَا يَغْشَاهَا إِلَّا الْعَوَافِي يُرِيدُ عَوَافِيَ السِّبَاعِ وَالطَّيْرِ ثُمَّ يَخْرُجُ رَاعِيَانِ مِنْ مُزَيْنَةَ يُرِيدَانِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے فرمائی چه اوریدلی دی ما د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو خلق به مدینه پریږدی او هغه به غوره وی او پاتے به نه شی چه هغے کښ څوك مګر ځاروی او مرغۍ بیا به رااوځی دوه شپونکی د مزنیه قبیلے نه اراده به کړی وی دوی د مدینے او آوازونه به

---

[1] په دے حدیثونو کښ د رسول الله ﷺ څو معجزے دی اول دا چه حضرت ﷺ د شام او د عراق او یمن د فتح خبر ورکړو. او هم هغه شان اوشوه چه د خلفائے راشدینو په لاسونو باندے دا ملکونه فتح شول او مصداق د خلافت راشده دغه خلق اوګرځیدل. او مواعید الهی د هغوی په لاس باندے پوره شو. دویم دا چه خلق به دغه ملکونو ته د ابادیدو دپاره ځی او خپل اهل عیال به د ځان سره بوځی او هم دغه شان دی. دریم دا چه فتح کیدل د هغه علاقو به په دے ترتیب سره وی چه رومبے یمن بیا شام بیا عراق او هم په دے ترتیب سره دغه علاقے فتح شوے. او د روایتونو نه لوئے فضیلت د اوسیدونکو د مدینے طیبے ثابت شو.

[2] د حضرت ﷺ دا پیشن ګوئی هم ریښتونے ده او قیامت ته نزدے به دد ے ښکاره کیدل وی.

الْمَدِينَةَ يَنْعِقَانِ بِغَنَمِهِمَا فَيَجِدَانِهَا وَحْشًا حَتَّى إِذَا بَلَغَا ثَنِيَّةَ الْوَدَاعِ خَرَّا عَلَى وُجُوهِهِمَا

کوی خپلو بزو ته او اوبه مومی مدینې لره ویرانه تردے پورے چه هر کله ثنیة الوداع اورسی «دا د یو کمر نوم دے» چه ارتاو بهشی پړمخے[1].

بَاب فَضْلِ مَا بَيْنَ قَبْرِهِ ﷺ وَمِنْبَرِهِ وَ فَضْلِ مَوْضِعِ مِنْبَرِهِ

باب: د قبر مبارك او د منبر د مینځ ځائے او د منبر د ځائے د فضیلت بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ الْمَازِنِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ

د عبد الله نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ځما د کور او منبر په مینځ کښ یو چمن دے د جنت د چمندونو نه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي

د ابوهریره نه روایت دے فرمائی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ځما د کور او د منبر په مینځ کښ یو باغ دے د جنت د باغونو نه. او منبر ځما ځما په حوض دے[2].

بَاب فَضْلِ أُحُدٍ

باب: د اُحد د غر فضیلت

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَفِيهِ ثُمَّ أَقْبَلْنَا حَتَّى قَدِمْنَا وَادِيَ الْقُرَى فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي مُسْرِعٌ فَمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ فَلْيُسْرِعْ مَعِي وَمَنْ شَاءَ فَلْيَمْكُثْ

د ابوحمید نه روایت دے وائی چه اووتو مونږ د رسول الله ﷺ سره د تبوك په غزا کښ او بیان ئے کړو حدیث لره او په دے کښ ئے دا اووے چه لاړو مونږ تردے پورے چه اورسیدو وادی قری ته او رسول الله ﷺ اوفرمائیل زر تلونکے یم. د چا چه زړهٔ غواړی هغوی د لړ په قلاره راشی، پس مونږ را اووتو تردے پورے چه اولیدو مونږ مدینے لره او

[1]: دا به آخره زمانه کښ کیږی قیامت ته نزدے ، هر کله چه هغه دواړه د کمر خواته اورسی نو قیامت به راشی او هغه به په اخیر کښ وی د هغه تولو خلقو نه د هغوی حشر وی ، یعنی د تولو خلقو نه روستو به د هغوی د ژوند حشر وی ، لکه څنګه چه په بخاری شریف کښ ثابت شوی دی او دغه مطلب دد ے حدیث ظاهر او مختار دے او دا معجزه ده د رسول الله او په خنو فتنو کښ داسے هم شوے دی.

[2]: دد ے حدیث دوه معنے کید ےشی. یوه دا چه د حجرے مبارکے او منبر په مینځ کښ دغه ځائے به جنت ته ځی د قیامت په ورځ دویم دا چه دغه ځائے کښ عبادت کول جنت ته د تلو سبب دے چه چا په دغه ځائے کښ عبادت اوکړو داسے شوه لکه چه په جنت کښ داخل شو او په ځنے روایتونو کښ داسے راغلی دی چه ځما د قبر او منبر په مینځ کښ یو باغ دے د جنت ، او مطلب دد ے هم دغه دے چه قبر او حجره مبارکه یو ځائے دی ځکه چه قبر په حجره کښ دننه دے. او ځما منبر په حوض باندے دے دد ے هم دوه مراد ونه کید ے شی ، یو دا چه څوك د منبر په خواه کښ عبادت کوی هغه به د حوض نه خپله تنده ماتوی. او دویم دا چه دغه منبر مبارك به د هغوی په حوض کوثر باندے، کیښود ے شی، یا د قیامت په میدان کښ چه کوم منبر الله پاك رسول الله ته عنایت کړے وی هغه به په حوض کوثر باندے کیښود ے شی.

فَخَرَجْنَا حَتّٰى أَشْرَفْنَا عَلَى الْمَدِينَةِ فَقَالَ هٰذِهِ طَابَةُ وَهٰذَا أُحُدٌ وَهُوَ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ

حضرت ﷺ اوفرمائیل چه دا طابه ده او دا أحد دے او دا غر داسے دے چه مونږ دلره دوست گڼړو او دے مونږ لره دوست گڼړی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أُحُدًا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ

د انس نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا أحد داسے غر دے چه دے مونږ لره دوست گڼړی او مونږ دلره دوست گڼړو.

بَاب فَضْلِ الصَّلَاةِ بِمَسْجِدَيْ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ

باب: د مکے او مدینے په جماعت کښ د مونځ کولو فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِي هٰذَا أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ

د ابوهریره نه روایت دے چه هغوی دا خبره نبی کریم ﷺ پورے رسولے ده چه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه یو مونځ خما په جماعت کښ د زرو مونځونو نه او جماعتونو نه غوره دے سوا د مسجد الحرام نه یعنی د مکے د جماعت نه[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِي هٰذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِي غَيْرِهِ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه یو مونځ خما په دے جماعت کښ د زرو مونځونو نه د نورو جماعتونو نه غوره دے سوا د مسجد الحرام نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ فَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ وَإِنَّ مَسْجِدَهُ آخِرُ الْمَسَاجِدِ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ وَأَبُو عَبْدِ اللّٰهِ لَمْ نَشُكَّ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ كَانَ يَقُولُ عَنْ حَدِيثِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنَعَنَا ذٰلِكَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه یو مونځ د رسول اللهؐ په جماعت کښ غوره دے د نورو جماعتونو د زرو مونځونو نه. سوا د مسجد الحرام نه ځکه چه رسول اللهؐ آخر الانبیاء دے. او د هغوی آخری جماعت دے یعنی د انبیاؤ د لاس په جوړ شوؤ جماعتونو کښ او ابوسلمه او ابو عبد الله وئیلے دی بے شکه ابوهریرهؓ چه کومه خبره کړے ده د رسول الله ﷺ د حدیث نه به ئے وئیلے وی (ځکه چه داسے خبره ځوك د قیاس نه نۀ شی کولے) او مونږ دد حدیث د ابوهریره نه په پخه طریقه سره تپوس اونۀ کړو نو دد وجے نه چه هغوی به د

---

[1]: معلومه شوه چه د چا په زړۀ کښ د حضرت ﷺ محبت نۀ وی هغه زړۀ د گټے نه سخت او بدتر دے.

أَنْ نَسْتَثْبِتَ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنْ ذٰلِكَ الْحَدِيثِ حَتّٰى إِذَا تُوُفِّيَ أَبُو هُرَيْرَةَ تَذَاكَرْنَا ذٰلِكَ وَتَلَاوَمْنَا أَنْ لَا نَكُونَ كَلَّمْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ فِي ذٰلِكَ حَتّٰى يُسْنِدَهُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كَانَ سَمِعَهُ مِنْهُ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ جَالَسَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ قَارِظٍ فَذَكَرْنَا ذٰلِكَ الْحَدِيثَ وَالَّذِي فَرَّطْنَا فِيهِ مِنْ نَصِّ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْهُ فَقَالَ لَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَشْهَدُ أَنِّي سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ وَإِنَّ مَسْجِدِي آخِرُ الْمَسَاجِدِ

رسول الله ﷺ نه اوریدلے وی هله مونږ اووے تردے پورے چه ابوهریره وفات شو. نو مونږ په خپلو کښې ددے ذکر اوکړو. او یو بل مو ملامت کولو چه ولے مونږ تپوس نهٔ کوؤ د ابوهریره نه، ددے خبرے چه هغوی نسبت کولو ددے حدیث د رسول الله ﷺ پورے چه کچرے هغوی اوریدلے وے، غرض دا چه مونږ په دی خبرو اترو کښې وو چه د عبد الله بن ابراهیم خواله لاړو او کیناستلو او هغوی ته مو ددے ذکر اوکړو او دا وجه مو ورته بیان کړه چه ددے په سبب مونږ د ابوهریره نه د هغے تپوس نهٔ وو کړے، بیا عبد الله مونږ ته اووے چه زهٔ گواهی ورکوم چه ما د حضرت ابوهریره نه اوریدلے دی چه هغوی وئیلے وو چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه بیشکه زهٔ آخر الانبیاء یم او خما جماعت آخری د جماعتونو نه دے.

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ يَقُولُ سَأَلْتُ أَبَا صَالِحٍ هَلْ سَمِعْتَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَذْكُرُ فَضْلَ الصَّلَاةِ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ لَا وَلٰكِنْ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ قَارِظٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِي هٰذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ أَوْ كَأَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ

د یحیٰی بن سعید نه روایت دے چه ما د ابوصالح نه تپوس اوکړو چه تا د ابوهریره نه اوریدلے دی چه هغوی د جناب رسول الله ﷺ په جماعت کښې د مانځهٔ فضیلت بیان فرمائیلو، هغوی اووی چه نا مگر ماله عبد الله بن ابراهیم خبر راکړے دے چه هغوی د ابوهریره نه اوریدلے دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے وو چه مونځ خما په دے جماعت کښې غوره دے د زرو مونځونو نه او یا د هغه زرو مونځونو نه چه په نورو جماعتونو کښې ادا شی مگر سوا د مسجد حرام نه.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِي هٰذَا أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یو مونځ خما په جماعت کښې افضل دے د زرو مونځونو نه او په جماعت کښې د کولو نه سوا د مسجد حرام.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ امْرَأَةً اشْتَكَتْ

د عبد الله بن عباسؓ نه روایت دے وائی چه یوه ښځه

شَكْوَى فَقَالَتْ إِنْ شَفَانِي اللَّهُ لَأَخْرُجَنَّ فَلَأُصَلِّيَنَّ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ فَبَرَأَتْ ثُمَّ تَجَهَّزَتْ تُرِيدُ الْخُرُوجَ فَجَاءَتْ مَيْمُونَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُسَلِّمُ عَلَيْهَا فَأَخْبَرَتْهَا ذَلِكَ فَقَالَتْ اجْلِسِي فَكُلِي مَا صَنَعْتِ وَصَلِّي فِي مَسْجِدِ الرَّسُولِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ صَلَاةٌ فِيهِ أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِلَّا مَسْجِدَ الْكَعْبَةِ

ناجوړه شوه او هغې اووے کۀ الله تعالی ما ته شفا راکړه نو زۀ به خم او په بیت المقدس کښې به مونځ ادا کوم. پس هغې صحت اوموندو او بیت المقدس د تللو تیاری ئې شروع کړه. او د مؤمنانو مور حضرت میمونې بی بی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه. او هغوی ته ئې سلام اوکړو او د خپلې ارادے خبر ئې ورله ورکړو. نو هغوی ورته اوفرمائیل چه تا کومه توښه تیاره کړے ده هغه اوخوره. او د رسول الله ﷺ په مسجد مبارک کښې مونځ اوکړه ځکه چه ما د جناب رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلې ئې وو چه یو مونځ په دے کښې یعنی مسجد نبوی ؐ کښې ادا کول غوره دی په نورو جماعتونو کښې د ادا شو زر مونځونو نه سوا د مسجد د کعبې نه.

بَابُ لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ

باب: د دریو جماعتونو فضیلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ مَسْجِدِي هَذَا وَمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَسْجِدِ الْأَقْصَى.

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ اوفرمائیل چه کجاوے د نۀ شی تړلې مګر د دریو جماعتونو په طرف. یو خما دا جماعت یعنی کوم چه په مدینه کښې دے. او د مسجد حرام او مسجد اقصیٰ په طرف یعنی بیت المقدس.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يُخْبِرُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا يُسَافَرُ إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ مَسْجِدِ الْكَعْبَةِ وَمَسْجِدِي

د ابوهریره نه روایت دے خبر ورکوی چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی چه سفر د نۀ کوی څوک مګر د دریو جماعتونو په طرف. مسجد کعبه او خما مسجد او مسجد

وَمَسْجِدِ إِيلِيَاءَ

ایلیاء (یعنی بیت المقدس)[1].

بَاب بَيَانِ أَنَّ الْمَسْجِدَ الَّذِي أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى

باب: د هغه جماعت بیان چه د هغه بنیاد په تقوی باندے دے

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ مَرَّ بِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قُلْتُ لَهُ كَيْفَ سَمِعْتَ أَبَاكَ يَذْكُرُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى قَالَ قَالَ أَبِي دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِ بَعْضِ نِسَائِهِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الْمَسْجِدَيْنِ الَّذِي أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى قَالَ فَأَخَذَ كَفًّا مِنْ حَصْبَاءَ فَضَرَبَ بِهِ الْأَرْضَ ثُمَّ قَالَ هُوَ مَسْجِدُكُمْ هَذَا لِمَسْجِدِ الْمَدِينَةِ قَالَ فَقُلْتُ أَشْهَدُ أَنِّي سَمِعْتُ أَبَاكَ هَكَذَا يَذْكُرُهُ

د ابوسلمه بن عبد الرحمنؒ نه روایت دے چه څما په خوا کښ عبد الرحمن بن ابی سعید خدری تیر شو او ما هغوی ته اووے چه تاسو د خپل پلار نه څنګه اوریدلے دی چه هغه جماعت کوم یو دے چه د هغے بنا په تقوی باندے شوے ده نو هغوی اووے چه څما پلار وئیلے دی چه ننوتم زۀ د رسول اللهﷺ سره د هغوی د بیبیانو نه د یوے بی بی په کور کښ او ما عرض اوکړو چه اے د الله رسولهﷺ هغه جماعت کوم یو دے چه هغے ته الله تعالی فرمائی چه په تقوی باندے جوړ کړے شوے دے؟ پس حضرتﷺ یو موټے ګیټئ راواخستے او زمکه ئے پرے اوویشته او اوئے فرمائیل چه هغه دغه ستاسو جماعت دے د مدینے جماعت. نو زۀ هم ګواهی ورکوم چه ما هم ستا د پلار نه اوریدلے دی چه دده جماعت ئے دغه شان ذکر کوؤ[2].

---

[1]: هر کله چه د خدائے کور طرفته سفر صحیح نه شو سوا دد دریوؤ ځایونو نه نو د قبرونو د زیارت دپاره څنګه صحیح کیدے شی هغه خو خانه عباد یعنی د بندیګانو کورونه دی. او پورته دد شرح مونږ په ښه طریقه سره کړے ده چرته چه به بیان شوے دے چه ښځے لره بغیر د محرم نه صحیح نه دی.

[2]: دد روایت نه صفا ښکاره شوے ده چه په قرآن کښ الله تعالی چه کوم جماعت ته فرمائیلے دی چه په تقوی باندے جوړ شوے دے هغه مسجد نبوی دے. مسجد قبا نه دے. او دد نه رد راغے د هغه مفسرینو د قول چا چه مسجد قبا ته وئیلے دی په دواړو کښ څۀ تعارض او منافات نشته، هم دواړه جماعتونه مؤسس علی التقوی مصداق دی څنګه چه ابوداود، مسند احمد او په ابن خزیمه کښ ارشادات دوی نقل کړی دی چه ذکر کړے شوے آیت د اهل قبا په باره کښ دے. من شاء التفصیل فلیراجع الی تفسیر ابن کثیر ۱۲ عارف. او د حضرت ګیټئ اوچتول او ویشتل د تاکید په وجه سره وو چه د اوریدونکی پوخ یقین راشی چه دغه جماعت مسجد نبوی دے.

بَاب فَضْلِ مَسْجِدِ قُبَاءٍ وَفَضْلِ الصَّلَاةِ فِيهِ وَ زِيَارَتِهِ

باب : د مسجد قباء فضيلت ، او په هغې د مونځ کولو فضيلت او د هغې د زيارت ذکر

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَزُورُ قُبَاءً رَاكِبًا وَمَاشِيًا .

د عبد الله بن عمر نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ به زيارت کولو د مسجد قباء په سورلئ هم او پياده هم.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي مَسْجِدَ قُبَاءٍ رَاكِبًا وَمَاشِيًا فَيُصَلِّي فِيهِ رَكْعَتَيْنِ قَالَ أَبُو بَكْرٍ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ فَيُصَلِّي فِيهِ رَكْعَتَيْنِ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ به قباء ته تشريف راوړلو سور هم او پياده هم . او په هغې کښې به ئې دوه رکعته مونځ اوکړو .

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَأْتِي قُبَاءَ كُلَّ سَبْتٍ وَكَانَ يَقُولُ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِيهِ كُلَّ سَبْتٍ

د عبد الله بن دينار نه روايت دے چه ابن عمر به په هره هفته کښې يو ځل مسجد قبا ته تلل او وئيل به ئې چه ما رسول الله ﷺ لره ليدلے دے چه هغوی به په هره هفته کښې تلو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَأْتِي قُبَاءَ يَعْنِي كُلَّ سَبْتٍ كَانَ يَأْتِيهِ رَاكِبًا وَمَاشِيًا قَالَ ابْنُ دِينَارٍ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُهُ

د عبدالله بن عمر نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ به په هره هفته کښې قباء ته تلو او راتلو به حضرت ﷺ په سورلئ هم او پياده هم. او ابن دينار وئيلے دی چه ابن عمر به هم دغه شان کول[1].

---

[1] : ددے حديثونو نه فضيلت د قباء او فضيلت د هغه ځائے د جماعت او فضيلت د هغه د زيارت کولو معلوم شو او زيارت د هغه په سورلئ او پياده دواړو طريقو صحيح دے. او دا هم معلومه شوه چه نفل مونځ د ورځے دوه رکعته دے، او دغه مذهب زمونږ او د جمهورو دے . او معلومه شوه چه زيارت د مسجد هغه دے چه پکښې دوه رکعته اوکړی . نه دا چه ددے ګلکاری ګوری او ګرځی يا ورله خښتے شماره وی. ځکه چه دا د تماشګيرو کار دے نه د متبعان د انبياؤ. عليهم الصلوٰة والتسليم

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

كِتَابُ النِّكَاحِ

د نکاح مسئلې

نکاح په لغت کښې مطلق پیوست کید و او میلاویدو ته وئیلې شي. او کله عقد ته هم وئیلې شي او کله جماع ته هُم. او زهري وئیلې دي چه اصل د نکاح د عربو په کلام یعني خبرو کښې جماع ده. او کوژدنې ته چه کوم نکاح وئیلې شي په دے وجه چه نکاح د جماع سبب دے. او ابوقاسم زجاجي وئیلي دي چه جماع او وطی دواړه په اصل کښې نکاحونه دي. او ابوعلي فارسي یوه باریکه خبره وئیلې ده چه عرب وائي: نَكَحَ فُلَانٌ فُلَانَةَ نو هلته دا مراد شو چه عقد اوکړو فلانۍ سړي د فلانۍ ښځې سره. او هر کله چه وائي نَكَحَ فُلَانٌ امْرَأَتَه نو دا معنی راځي چه جماع اوکړه فلانۍ سړي د خپلې ښځې سره. ځکه چه د خپلې ښځې دا قرینه دلالت کوي چه دلته عقد مراد نه دے بلکه خاص جماع مراد ده. او د فقهاؤ په نکاح کښې درے قولونه دي یو جماعت وئیلي دي چه نکاح حقیقةً عقد دے او مجازاً جماع ده. د قاضي ابوطیب شافعي او متولي وغیره او د قاضي حسین د شافعي ملګرو نه او په قرانِ عزیز او احادیث نبوي کښې اکثر دغه شان راغلي دي. دویم دا چه حقیقةً جماع ده او مجازاً عقد دے او دا د امام ابوحنیفه قول دے. او دریم قول دا دے چه دواړه حقیقت دي په اشتراک سره.

بَابُ اسْتِحْبَابِ النِّكَاحِ لِمَنِ اسْتَطَاعَ

عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ عَبْدِ اللهِ بِمِنًى فَلَقِيَهُ عُثْمَانُ فَقَامَ مَعَهُ يُحَدِّثُهُ فَقَالَ لَهُ عُثْمَانُ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَلَا نُزَوِّجُكَ جَارِيَةً شَابَّةً لَعَلَّهَا تُذَكِّرُكَ بَعْضَ مَا مَضَى مِنْ زَمَانِكَ قَالَ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ لَئِنْ قُلْتَ ذَاكَ لَقَدْ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ

باب: د نکاح مستحب کیدل د هغه چا دپاره چه طاقت لري

د علقمه نه روایت دے وائي چه زهٔ د عبد الله سره په منی کښې روان وم پس د عبد الله سره حضرت عثمان میلاؤ شو او د هغوی سره اودریدو او خبرې شروع کړې. نو حضرت عثمان هغوی ته اووے چه اے ابوعبد الرحمٰن! زهٔ ستاسو نکاح د یو داسې خوانې جینۍ سره او نهٔ کړم چه هغه تاسو ته ستاسو د تیر شوے عمر نه څهٔ یاد تازه کړي. نو عبد الله هغوی ته اووے چه کچرے تهٔ دا وائې نو مونږ ته رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه اے د خوانانو ټولیه! څوك چه ستاسو نه نکاح د خرچ

مِنكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ

طاقت لري يعنی نان نفقه ورکولے شی نو پکار ده چه نکاح اوکړی ځکه چه هغه سترګو لره ښه ښکته کوی او فرج لره د زنا وغيره نه بچ کوی او څوک چه طاقت نلری (دد ے خرچ) نو روژ ے دِ نيسی. داد هغۀ دپاره لکه چه خصی کول دی[1].

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ

د عبد الله بن مسعود نه روايت د ے چه رسول الله ﷺ مونږ ته حکم اوکړو چه ا ے ځوانانو توليه ا ستاسو نه چه څوک د خرچے طاقت لري هغه د نکاح اوکړی. ځکه چه نکاح سترګو لره ښکته کوی او فرج (يعنی شرمګاه) لره د زنا وغيره نه بچ کوی. او څوک چه طاقت نۀ لری هغه د روژ ے نيسی چه لکه دا د هغۀ دپاره خصی کول دی.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَٰنِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَعَمِّي عَلْقَمَةُ وَالْأَسْوَدُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ وَأَنَا شَابٌّ يَوْمَئِذٍ فَذَكَرَ حَدِيثًا رُئِيتُ أَنَّهُ حَدَّثَ بِهِ مِنْ أَجْلِي قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ وَزَادَ قَالَ فَلَمْ أَلْبَثْ حَتَّى تَزَوَّجْتُ

د عبد الرّحمٰن بن يزيد نه روايت د ے چه زۀ او ځما تره علقمه او اسود د عبد الله بن مسعود خواله لاړو. او زۀ په دغه ورځو کښ په ځوانئ کښ وم. نو عبد الله يو حديث بيان کړو يعنی دغه کوم چه پورته تير شو. او زۀ پوه شوم چه هغوی ځما دپاره دغه حديث بيان کړو او په روايت کښ دا هم زياته ده د ابومعاويه د روايت نه. چه عبد الرّحمٰن اووے چه بيا ما په نکاح کښ څۀ ليټ والے او نۀ کړو او نکاح مے اوکړه.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ دَخَلْنَا عَلَيْهِ وَأَنَا أَحْدَثُ الْقَوْمِ بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ وَلَمْ يَذْكُرْ فَلَمْ أَلْبَثْ حَتَّى تَزَوَّجْتُ

مضمون هم دغه د ے کوم چه پورته ذکر شو. مګر په د ے کښ دا ذکر نشته د ے چه بيا ما په نکاح کولو کښ څۀ وخت نۀ د ے تير کړ ے او نکاح مے کړ ے ده.

---

[1] : دد ے حديث نه معلومه شوه چه څوک د ښځے د نان نفقے طاقت لری او ځوان هم وی نو د هغۀ دپاره ضروری ده چه نکاح اوکړی او دا امر په طريق د استحباب د ے. او د اکثرو علماؤ دغه قول د ے. داؤد ظاهری او د هغۀ د موافقينو نه علاوه چا هم نکاح ته واجب نۀ دی وئيلی. او د امام احمد په يو روايت کښ هم دغه شان دی چه هر کله د زنا ويره وی نو دغه وخت نکاح کول يا وينځه اخستل ضروری دی او د قرآن مجيد هم دغه منطوق د ے چه سړی له اختيار د ے که وينځه اخلی يا نکاح کوی. او دغه د جمهورو مذهب د ے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلُوا أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَمَلِهِ فِي السِّرِّ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا أَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا آكُلُ اللَّحْمَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا أَنَامُ عَلَى فِرَاشٍ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ فَقَالَ مَا بَالُ أَقْوَامٍ قَالُوا كَذَا وَكَذَا لَكِنِّي أُصَلِّي وَأَنَامُ وَأَصُومُ وَأُفْطِرُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي

د حضرت انس ؓ نه روایت دے وائی چه د نبی کریم ؐ څو صحابه د نبی کریم ﷺ د بیبیانو نه د هغوی د خفیه عبادت د حال تپوس اوکړو یعنی کوم عبادت چه به حضرت ؐ په کور کښ کولو. او بیا بعضو د هغوی نه اووے چه زهٔ به چرته د ښځو سره نکاح نهٔ کوم. بعضو اووے زهٔ به چرته غوښه نهٔ خورمه بعضو اووے زهٔ به چرته په بستره باندے نهٔ اوده کیږمه پس حضرت ﷺ د الله تعریف او ثنا اوونیله چه څهٔ حال دے د هغه خلقو چه داسے داسے وائی ځما خو دا حال دے چه مونځ هم کوم یعنی د شپے. او اوده کیږم هم او روژه هم نیسم او افطار هم کوم او د ښځو سره نکاح هم کوم پس څوك چه ځما د طریقے نه بے رغبتی کوی هغه ځما د امت نه نهٔ دے[1].

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ رَدَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ التَّبَتُّلَ وَلَوْ أَذِنَ لَهُ لَاخْتَصَيْنَا

د حضرت سعد بن ابی وقاص ؓ نه روایت دے چه عثمان بن مظعون چه هر کله د ښځو نه د جدا اوسیدو اراده اوکړه نو رسول الله ﷺ د هغوی خبره رد کړله او کچرے حضرت ؐ اجازت ورکړے نو مونږ ټول به خصیان شوی وو[2].

---

[1]: یعنی چا چه سنتو لره په اهانت سره پریخودل. یائے ددی نه غوره څهٔ بل کار اوګڼړو او پریخودل ئے هغه د حضرت د امت نه بهر شو. ځکه چه د رسول الله د فضیلت نه منکر او ګرځیدو. او کهٔ په دغه وجه ئے پرے نهٔ خودل نو په دهٔ باندے څهٔ ملامتیا نشته دے. لکه څنګه چه د نورو روایتونو نه معلومیږی. عرض د حضور دا قول د جوامع الکلم نه دے چه په زرګونو بدعاتو او محدثاتو لره رد کونکے دے او د خاوندانو د بدعت قطع جید (یعنی څټ) دپاره توره پریکونکے او د سنتو د تابعدارو دپاره روښانه دلیل دے.

[2]: په دے حدیث کښ اشاره ده چه هغه خلقو به پخپله رائے سره خصی کیدو لره جائز ګڼړلو. بیا چه هر کله جناب رسول الله اجازت ورنهٔ کړو نو هله ددے حرام والے ثابت شو او هغوی هغه خپل رائے لره پریخوده. او د قیامته پورے به د امت د صالحانو خلقو هم دغه طور او طریقه وی چه هر کله د رسول الله صحیح، صریح او غیر متعارض حدیث هغوی ته میلاویږی نو کهٔ خپل رائے او د رسول الله په حدیث به عمل کوی. او څوك چه په دے طریقه باندے نهٔ دی هغه د سلف صالحینو په مذهب باندے نهٔ دی. او د سړی خصی کولو ته امام نووی ؒ حرام لیکلی دی خواه کهٔ هغه په وړوکوالی کښ وی یاپه لوئے والی کښ وی. او امام بغوی ؒ

بَاب نَدْبِ مَنْ رَأَى امْرَأَةً فَوَقَعَتْ فِي نَفْسِهِ إِلَى أَنْ يَأْتِيَ امْرَأَتَهُ أَوْ جَارِيَتَهُ فَيُوَاقِعَهَا

باب: څوك چه يوې ښځې ته اوګوري او دده په زړه كښې رغبت پيدا شي نو د خپلې ښځې يا وينځې سره د جماع اوكړي

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى امْرَأَةً فَأَتَى امْرَأَتَهُ زَيْنَبَ وَهِيَ تَمْعَسُ مَنِيئَةً لَهَا فَقَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ إِنَّ الْمَرْأَةَ تُقْبِلُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ وَتُدْبِرُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ فَإِذَا أَبْصَرَ أَحَدُكُمْ امْرَأَةً فَلْيَأْتِ أَهْلَهُ فَإِنَّ ذَلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ

د حضرت جابر نه روايت دے وائي چه د رسول الله ﷺ په يوه ښځه باندے نظر پريوتو. نو حضرت ﷺ د خپلې بى بى حضرت زينب خواله تشريف راؤړو. او هغې يوه څرمنه د پخولو دپاره (يعنى دباغت دپاره) مښله بيا حضرت ﷺ د هغې نه خپل حاجت پوره كړو او بيا د خپلو صحابو په طرف راااووتو. او اوئې فرمائيل چه ښځه كله مخې ته راځى نو د شيطان په شكل كښې راځى او كله چه ځى نو د شيطان په شكل كښې ځى پس هر كله چه څوك يو د تاسو نه يوې ښځې له اووينى نو هغۀ له پكار دى چه د خپلې بى بى خواله ورشى. يعنى صحبت اوكړى په دے عمل سره به د هغۀ د زړۀ خيال ختم شى.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى امْرَأَةً فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَأَتَى امْرَأَتَهُ زَيْنَبَ وَهِيَ تَمْعَسُ مَنِيئَةً وَلَمْ يَذْكُرْ تُدْبِرُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ

د جابر بن عبدالله نه روايت دے چه نبى ﷺ يوه ښځه اوليده مخكښې ئے هغه ذكر كړل كوم چه پورته ذكر شو. مګر په دے كښې دادى چه حضرت ﷺ د خپلې بى بى زينب خواله تشريف راؤړو. او هغې يوه څرمن د دباغت وركولو دپاره مښله او دا ذكر ئے اونۀ كړو چه ښځه د شيطان په شكل كښې ځى[1].

وئيلى دى چه دغه شان كوم څناور چه حرام دى د هغوى خصى كول هم حرام دى او كوم څناور چه حلال دى هغوى له په وړوكوالى كښې خصى كول روا دى. او روستو بيا حرام دى (والله اعلم)

[1]: ددے حديث د مخه مستحب دى چه هر كله سړے يوه ښځه اووينى او دده شوق د شهوت او شى نو د خپلې بى بى خواله د راځى او كوروالى د كوى. او داسے د اوګنړى چه كوم څۀ دے ښځى سره دى هغه څما د ښځې سره هم دى. او د ښځې د شيطان په صورت كښې راتلل دادى چه دا شهوت بازئ او زنا ته شوق پيدا كوى او (په زړۀ كښې) د جماع د خوند يا د غورځوى. او دا اثر د شيطان دے. او حضرت صحابه كرامو ته په غرض د تعليم دا امر بيان كړو او ددے نه معلومه شوه چه كۀ څوك د خپلې ښځې سره د ورځې جماع كوى نو څۀ ګناه نۀ ده. او ښځې

عَنْ جَابِرٍ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا أَحَدُكُمْ أَعْجَبَتْهُ الْمَرْأَةُ فَوَقَعَتْ فِي قَلْبِهِ فَلْيَعْمِدْ إِلَى امْرَأَتِهِ فَلْيُوَاقِعْهَا فَإِنَّ ذٰلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ

د جابر نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو هر کله چه چا ته یوه ښځه حائسته معلومه شي او د هغۀ ته په زړۀ کښې د هغې خیال راشي نو پکار ده چه د خپلې ښځې سره جماع اوکړي چه په دے سره به د هغۀ د زړۀ خیال ختم شي.

بَاب نِكَاحِ الْمُتْعَةِ وَبَيَانِ أَنَّهُ أُبِيحَ ثُمَّ نُسِخَ ثُمَّ أُبِيحَ ثُمَّ نُسِخَ وَاسْتَقَرَّ تَحْرِيمُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

باب: د متعے د حلالیدو بیا د حرامیدو بیا د حلالیدو بیا د حرامیدو بیا د قیامته پورے د حرامیدو بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ كُنَّا نَغْزُوا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ لَنَا نِسَاءٌ فَقُلْنَا أَلَا نَسْتَخْصِي فَنَهَانَا عَنْ ذٰلِكَ ثُمَّ رَخَّصَ لَنَا أَنْ نَنْكِحَ الْمَرْأَةَ بِالثَّوْبِ إِلَى أَجَلٍ ثُمَّ قَرَأَ عَبْدُ اللهِ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ

د عبد الله نه روایت دے وائی چه مونږ په جهاد کښې وو د رسول الله ﷺ سره او زمونږ سره ښځې نۀ وے پس مونږ اووئیل چه آیا مونږ خان خصي کړو. پس حضرت ﷺ مونږ د دے نه منع کړو. او اجازت ئے راکړو مونږ ته چه د یوے کپړے په بدل د معلومے مودے پورے ښځې سره نکاح اوکړو. بیا عبد الله دا آیت اولوستو چه الله تعالی فرمائي چه اے مؤمنانو! مۀ حراموئ پاکو څیزونو لره په خان باندے کوم چه الله تعالی ستاسو دپاره حلال کړی دی او د حد نه مۀ تیروځئ. بیشکه الله تعالی د حد نه د تیریدونکو سره دوستي نۀ کوي.

له دا ضروری دی چه دا کله په څۀ کار کښې مشغوله وي خو هغه د پریږدي او د خاوند په بلنه باندے د حاضریږي. ځکه چه هر کله د سړي شهوت په بدن کښې حرکت اوکړي او اونۀ وځي نو یره ده چه د هغه زړۀ او بدن ته نقصان اورسي (او هم په دے وجه) اکثر نظر کمزورے کیږي. الله د تولو مسلمانانو رونړو او بیبیانو لره دا دے نیکو د حاصلولو توفیق ورکړي. او د بدئ او نافرمانئ نه دے اوساتي. (آمین)

عَنْ إِسْمٰعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْنَا هٰذِهِ الْآيَةَ وَلَمْ يَقُلْ قَرَأَ عَبْدُ اللهِ

اسماعیل بن ابوخالد ددغې په مثل روایت کړے دے وائی چه بیا ئے په مونږ باندے دا ایت اولوستو او دائے نه دی وئیلی چه عبد الله دا ایت اولوستو[1].

---

[1]: نکاح متعه داده چه د یوے مقرر شوے مودے پورے په یو مهربان دے د یوے ښځے سره نکاح اوکړی او ددغه مدے نه پس هغه نکاح ختم کړے شی او ښځه بغیر د طلاق نه د هغه د نکاح نه بهر او ګڼړلے شی. علامه مازری وئیلی دی چه په شروع د اسلام کښې دا نکاح جائز وه بیا په صحیح احادیثو سره دا دے منسوخ کیدل ثابت شو او ددے په حرام والی باندے اجماع منعقد شوه.
د اردو کتاب مترجم: بیا چه د چا په نز اجماع مقبول ده هغه ددے په حرمت باندے اجماع لره په سند کښې راوړی او د چا په نز چه اجماع حجت نه دے. هغوی ددې احادیثو نه استدلال کوی او حال د دواړو دغه یو دے (انتهٰی) سوا د یو مبتدعه جماعت نه چه هغوی ددی په حرمت باندے مخالفت نه دے کړے. او دغه مبتدعه جماعت ددے منسوخ احادیثو او ددے ایت نه استدلال کړے دے چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی: "فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ" او د ابن مسعود په روایت کښې دی "فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ اِلٰی اَجَلٍ مُّسَمًّی" او د ابن مسعود دا قراءت شاذ دے. ددے درجه نه د حدیث برابر ده نه لازم العمل ده. او امام زفر وئیلی دی چه چا متعه نکاح اوکړه د هغهٔ نکاح همیشه دپاره اوشوه. یعني بیا بغیر د طلاق ورکولو نه هغه نکاح نه شي ماتیدے. لکه دمُدے ذکر قابل اعتبار پاتے نه شو. دغه شان نور فاسد شرطونه د اعتبار لائق نه دی. مازری وئیلي دی چه په صحیح مسلم کښې راغلی دی چه حضرت په خیبر کښې د متعے نه منع اوفرمائیله او په بل روایت کښې راغلی دی چه حضرت د مکے د فتح په ورځ د متعے نه منع اوفرمائیلی. په دے کښې بعضو ته شك راغے حالانکه په دے کښې تعارض نشته دے خکه چه حضرت ﷺ بار بار ددے نه منع فرمائیلے ده. خکه چه ددے نهی مشهور کړے شی او تولو ته اورسی او چا چه نه وی اوریدلی هغه ئے هم واوری. بیا چه هر راوی په کوم وخت اوریدلی دی چه هغه وخت ئے ورله نهی بیان کړے ده. عرض په دے کښې د تعارض ګڼړلو والاخطاء ده. او قاضی عیاض وئیلی دي چه یو جماعت د جواز حدیث لره د صحابو د یو جماعت نه روایت کړے دے. او مسلم د هغوی نه ذکر کړے دے او د ابن مسعود او ابن عباس او جابر او سلمه بن اکوع او سبره بن معبد جهنی د روایتونو او په دے تولو روایتونو کښې د هغے جواز په سفر کښې ذکر دے نه په حضر کښې. او په وخت د ضرورت نه چه بے دضرورت نه. او ظاهره ده چه د عربو ملك ګرم دے او د جهاد په سفرونو کښې د ښځو د خان سره ساتل مشکل دی. او د ابن عمر په روایت کښې تصریح ده چه ددے جواز په شروع د اسلام کښې وو. لکه چه د لوږے نه د بد حالة دپاره د مردارے جواز دے. او ددے په شان نور. او د ابن عباس نه په دے شان روایت دے. او امام مسلم ددے اباحت د سلمه بن اکوع نه په روز اوطاس کښې روایت کړے دے. او د سبره د روایت نه د فتح مکے په ورځ او د هغه دواړه یو شان دی. بیا په دغه ورځ حرمت هم اوشو. او د حضرت علی په روایت کښې د متعے تحریم د خیبر په ورځ راغلے دے. او هغه د فتح مکے نه مخکښې دے. او حضرت علی نه د مسلم نه علاوه په نورو کتابو کښې مروی دے. چه ددے نه رسول الله ﷺ د تبوك په غزئ کښې منع فرمائیلے ده. ددے روایت څوك متابع نشته. بلکه دا د راوي غلطی ده. او دغے حدیث لره امام مالك په مؤطاء کښې او سفیان بن عیینه او عمری نه ئے په واسطه د یو

جماعت روایت کړے دے او دغه صحیح دے امام ابوداؤد د ربیع بن سبره نه د هغوی د پلار په واسطه روایت کړے دے چه د متعے نهی په حجة الوداع کښې شوے ده. او په دے باب کښې چه کوم روایتونه مروی دی په دغه ټولو کښې دا صحیح تر دے. او د سبره نه د دے اباحت هم په حجة الوداع کښې مروی شوے دے. بیا په دغه ورځ د قیامته پورے رسول الله ﷺ د متعے حرمت بیان فرمائیلے دے. د حسن بصری نه مروی دی چه هغوی وئیلی دی چه متعه سوا د عمرة قضاء نه چرته حلاله نه وه. او د سبره جهنی نه هم دغه مروی دی. او امام مسلمؒ د سبره په روایتونو کښې د وخت تعین نه دے بیان کړے. مګر محمد بن سعید دارمی اسحاق بن ابراهیم او د یحیی بن یحیی په روایت کښې د مکے د فتح ورځ ذکر ده. او محدثینو وئیلی دی چه روایت د اباحت د حجة الوداع په ورځ ذکر کول خطا دی خکه چه په دغه ورځو کښې نه ضرورت وو نه غربت یعنی د ښځو نه جدائی. او زیاتو خلقو د ښځو سره حج کړے وو. صحیح داده چه په حجة الوداع کښې د متعے نهی شوے ده. لکه څنګه چه په زیاتو روایتونو کښې راغلی دی. او په دغه ورځ حضرتؐ د دے نهی تجدید اوکړو چه ټول مسلمانان نن ورځ جمع شوی دی چه د دے نهی نه په ښه شان سره واقف شی او حاضرین غائبینو له خبر ورکړی. او دا خکه چه دین په دغه ورځ پوره شو او شریعت کامل شو. پس د دے نهی لره ئے هم په دغه ورځ د تازه کولو په طور سره بیان اوفرمائیله چه ټولو ته اورسی لکه څنګه چه ئےؑ د حلالو او حرامو په دغه ورځ ارشاد اوفرمائیلو. او په دغه ورځ ئے د متعے ابدی یعنی همیشه قطعی حرمت د قیامته پورے بیان اوفرمائیلو. او قاضی عیاض وئیلی دی چه د دے هم احتمال دے چه د دے تحریم په خیبر، عمره قضاء او د فتح مکے په ورځ او په ورځ د اوطاس په دے مقاماتو کښې ئے نهی په طور د تجدید وی. خکه چه د خیبر په ورځ د دے د تحریم حدیث ډیر صحیح دے. او په دے کښې څهٔ طعن نشته دے. او د دے راویان ډیر ثقه او مضبوط دی. مګر د سفیان په روایت کښې چه کوم دا ذکر دے چه حضرت ﷺ د متعے او د خرو د غوښے ته د خیبر په ورځ منع فرمائیلے ده نو د دے مطلق څنے محدثینو وئیلی دی چه د دے نه مراد داد ے چه د متعے حرمت ئے بیان کړے دے او د هغے وخت ئے نهٔ دے بیان کړے. او د خرو د حرام والی وخت ئے د خیبر په ورځ ته وئیلے دے. نو د خرو حرام والے (یعنی د غوښے خوړلو) خاص د خیبر په ورځ شوے دے. او د متعے د حرام والی وخت راوی نهٔ دے بیان کړے او په دے صورت کښې په دواړو روایتونو کښې اتفاق راتلے شی. او دا قول اشبه بالصحت دے. خکه چه د متعے حرام والے په مکه کښې شوے دے او د خرو د غوښو حرام والے خاص په خیبر کښې شوے دے. قاضی عیاضؒ وئیلے دی چه اولی هغه دے کوم چه مونږه اووے چه په دغه ځایونو کښې د حراموالی صرف تکرار شوے دے. مګر دلته یوه خبره باقی پاتے شوه او هغه دا چه د متعے اباحت چه د عمره قضاء، د مکے د فتح په ورځ، او د اوطاس په ورځ شوے دے نو په دے کښې دا احتمال دے چه د دے اباحت په نظر د ضرورت ذ حرام والی نه پس شوے وی. او بیائے همیشه حرام والے د قیامته پورے راغے. او کیدے شی داسے وی چه حضرت ﷺ متعے لره د خیبر په ورځ حرامه کړه او په عمره قضاء کښې د فتح مکے په ورځ ئے بیا د ضرورت دپاره مباح کړه. او بیا ئے د مکے د فتح کیدو په ورځ همیشه دپاره حرام اوفرمائیله. او په دے کښې د حجة الوداع حرمت ساقط کیږی. خکه چه هغه د سبره جهنیؓ نه مروی دے. او معتبرو مضبوطو راویانو د هغوی نه د دے اباحت د فتح مکے د ورځے روایت کړے دے. او په حجة الوداع کښې چه کوم د هغوی نه مروی دے هغه صرف حرام والے دے. غرګ د هغوی د روایت نه هغه خبره اخستلے کیږی چه په هغے باندے جمهور روا[illegible]

متفق دی. او د سبره نه سوا د نورو صحابو روایتونه هم ددے موافق دی او هغه خبره دغه ده چهد فتح مکے په ورځ د متعے نهی راغلے ده او دهغے تحریم چه کوم په حجة الوداع کښې شوے دے هغه صرف د تاکید او اشاعت په عرض سره وو لکه څنګه چه پورته تیر شو. او د حسن بصری کوم قول چه پورتهتیر شوے دے چه متعه سوا د عمرة القضاء نه نوره چرته حلاله نه وه. نو دا محض غلطه ده او د صحیح احادیثو نه ددےخلاف ثابتیږی. چنانچه په کومو حدیثو کښې چه ذکر دےچه ددے حراموالے د خیبر په ورځ شوے دے هغه هم ددے قول رد دے. ځکه چه غزوهٔ خیبر د عمرة القضاء نه مخکښې ده . او کوم چه ددے اباحت په فتح مکه او روزِ اوطاس کې مروی شوے دے سره ددے چه د هغے هم روایتونه د سبره جهنی نه وارد شوی دی. او ددغه نورو روایتونو هم راوی دے. پس هغه اباحت ډیر صحیح دے. او کوم چه مخالف د هغوی روایتونونه دی هغه متروك دی. او ځنو وینلی دی چه متعه یو داسے څیز دے چه په دے کښې تحریم او اباحت او نسخ دوه ځله دے. دا د قاضی عیاضؒ تقریر دے. او امام نوویؒ وئیلی دی چه صحیح او مختار قول دادےچه په هغے کښې تحریم او اباحت دوه ځله شوے دے. او هغه دا چه د خیبر نه مخکښې حلاله وه او بیا د خیبر په ورځ حرامه شوه. ددے نه پس د فتح مکے په ورځ حلاله شوه او دغه د اوطاس ورځ ده. ځکه چه دا دواړه متصل دی او بیا د هغے په دریمه ورځ همیشه دپاره حرامه شوه. او د قیامته پورے حرامه پاتے شوه. او دا نه شی کیدے چه اباحت د خیبر نه د مخکښې سره خاص وی. او حرمت ابدی دِ د خیبر په ورځ وی. او د فتح مکے په ورځ اباحت شوے وی لکه څنګه چه مازریؒ اختیار کړی دی صریح دلالت کوی چه د فتحِ مکے په ورځ مباحه شوه . او د هغے ساقط کیدل په څهٔ شان له نهٔ شو کیدے. او د باربار اباحت د وقوع څهٔ مانع نشته دے. او قاضی عیاضؒ وئیلی دی چه د علماؤ اتفاق دے چه متعه د یوے مقررے مُدے پورے نکاح وه چه نهٔ په هغے کښې میراث رسیدو او نهٔ د طلاقو ورکولو ضرورت وو. بلکه صرف د مدے د ختمیدو سره به جدائی راغله او نکاه به باقی پاتی نهٔشو. او ددے په حرام والی باندے اجماع منعقد شوے ده او د هغے نه پس د تولو علماؤ سوا د فرقه مبتدعه روافضو نه او ابن عباسؓ هم مخکښې دذے د اباحت قائل وو بیائے رجوع اوکړه او اوس په دے باندے د علماؤ اتفاق دے چه کهٔ څوك نکاح متعه کوی نو هغه فاسد دے او باطل دے خواه کهٔ دخول شوے وی یا نهٔ وی شوے. د هغے په بطلان به حکم ورکولے شی. سوا د امام زفرؒ نه چه د هغوی قول پورته ذکر شو. اوملګرو د امام مالكؒ اختلاف کړےدے چه آیا په دے نکاح سره په جماع کونکی حد لازمیږی یا نهٔ. نو د شافعیۇ مذهب دادی چه په دےباندے حد نشته ځکه چه د عقد شبهه ده او قاضی عیاضؒ وئیلی دی چه په دیباندے هم اجماع ده چه یو سړی نکاح اوکړه او ددهٔ په نیت کښې نشته دے چه دومره مُده به دے ښځے لره ساتم نو ددهٔ نکاح صحیح او حلال ده. او دا نکاح متعه نهٔ ده. نکاح متعه هغه ده چه په هغے کښې د یوے خاص مدے پورے شرط اولګولے شی. او د عقد په وخت ددغه مدے ذکرْ اوکړے شی. امام نوویؒ په شرح مسلم کښې بعینه دغه تقریر کړے دے او په دے زمانه کښې ځنے خاهلان چه لوئے علماء دی کم عقلو خلقو لره په القاء د وسواس پشان د خناس په حلال والی د متعے اوریدو سره برباده وی او د هغوی په حق کښې میلو جوړیږی. او مشرب روږد تحقیق نه ناخبره ئے په جهالت کښې آوری. الله جل شانه د د هغوی د فریب او زور نه نورانی مؤمنان بچ کړی آمین یا رب العالمین.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ وَسَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَا خَرَجَ عَلَيْنَا مُنَادِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَدْ أَذِنَ لَكُمْ أَنْ تَسْتَمْتِعُوا يَعْنِي مُتْعَةَ النِّسَاءِ

د جابربن عبد اللهؓ او سلمه بن اکوعؓ نه روايت دے وائی چه په مونږ بلندے د رسول الله ﷺ آواز کونکے رااووتو او هغه آواز اوکړو چه رسول الله ﷺ تاسو ته د ښځو سره د متعه کولو اجازت درکړے دے.

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانَا فَأَذِنَ لَنَا فِي الْمُتْعَةِ

د سلمه بن اکوعؓ او جابر بن عبد اللهؓ نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ زمونږ خوا له تشريف راوړو او مونږ ته ئے د متعے اجازت راکړو.

عَنْ عَطَاءٍ قَدِمَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ مُعْتَمِرًا فَجِئْنَاهُ فِي مَنْزِلِهِ فَسَأَلَهُ الْقَوْمُ عَنْ أَشْيَاءَ ثُمَّ ذَكَرُوا الْمُتْعَةَ فَقَالَ نَعَمْ اسْتَمْتَعْنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ

د عطاءؒ نه روايت دے وائی چه جابر بن عبد اللهؓ د عمرے دپاره راغے. او مونږ ټول د هغوی منزل ته د ملاقات دپاره لاړو. او خلقو د هغوی نه د ډيرو خبرو تپوس نه اوکړل بيائے د متعے ذکر اوکړو نو هغوی اووے آو مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې او د ابوبکرؓ او عمرؓ د خلافت په زمانه کښې متعه کړے ده[1].

امام مسلمؒ وئيلی دی چه مونږ ته دغه حديث ابوبکر بن شيبه روايت کړے دے. هغوی ته وکيع هغوی ته اسماعيل په دغه سند سره او په دے کښې ئے وئيلی دی چه مونږ خلق خوانان وُ. نو مونږ عرض اوکړو چه يا رسول الله ﷺ آيا مونږ خصيان کيدے شو. او دائے نه دی وئيلی چه مونږ جهاد کولو.

[1]: مراد دا دے چه کومو خلقو ته نسخ نه دے رسيدلے هغه خلقو به متعه کوله. او کومو ته چه نسخ رسيدلے ده هغه د حرمت قائل شوی دی او بچ شوی دی. غرض دا چه د هغه خلقو متعه کول چا ته چه د نسخ اطلاع نه ده شوے حجت نه شی کيدے. اگر که هغوی متعه د خپل عمر د آخری ورځو پورې کړے وی. بلکه فعل او قول به د هغه چا معتبر وی يعنی حجت دی چا ته چه د رسول الله آخری سفر يعنی په حجة الوداع کښې نسخ د متعے رسيدلے دے. او دا دے نه ځلور مياشتے پس آنحضرت انتقال اوفرمائيلو. او په دغه آخيری حکم باندی چه د هغے نه پس بيا چرته اباحت نه دے شوے. ځکه چه دا دے نه پس حضرت رحلت اوفرمائيلو. رجوع کول ضروری او عمل کول لازم دی. او ځنے خلقو ته چه کوم دا خيال عارض شوے دے چه د متعے حلت خو قطعی دے او دا دے حرمت ابدی ظنی دے او ظنی قطعی لره منسوخ کولے نه شی. چنانچه مقبلی وئيلی دی چه جمهورو دا دے څه معقول جواب نه دے ورکړے. خو مونږ د هغے په جواب کښې وايو چه مونږ منلی دی چه دا دے تحليل قطعی دے ځکه چه د قرآن نه مستفاد دے. او منصوص د الله کتاب دے. او هغه آيت چه د هغے نه د حلت استفاده کيږی لکه دا چه قطعی المتن دے مگر په دوو وجهو سره قطعی الدلالت نه دے اول دا چه په دغه آيت کښې عام دے او عام ظنی الدلالت وی او دا دے نه علاوه يوه خبره ده چه امام ترمذیؒ د ابن عباسؓ نه روايت کړے دے چه هغوی فرمائيلی دی. متعه د هغے پورے وه چه دا آيت نازل شوے نه وو: إِلَّا عَلَى

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُوْلُ كُنَّا نَسْتَمْتِعُ بِالْقُبْضَةِ مِنَ التَّمْرِ وَالدَّقِيْقِ الْأَيَّامَ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ حَتَّى نَهَى عَنْهُ عُمَرُ فِي شَأْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه مونږ به متعه کوله یعنی د ښځو سره د څه ورځو دپاره یو موټے کهجورے او اُوړهٔ به مو ورکړل د رسول اللهﷺ او ابوبکرؓ په زمانه کښې تر دے پورے چه حضرت عمرؓ د هغے نه منع اوکړه د عمرو بن حُریث په قصه کښې[1].

عَنْ أَبِي نَضْرَةَ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ فَأَتَاهُ آتٍ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَابْنُ الزُّبَيْرِ اخْتَلَفَا فِي الْمُتْعَتَيْنِ فَقَالَ جَابِرٌ فَعَلْنَاهُمَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نَهَانَا عَنْهُمَا عُمَرُ فَلَمْ نَعُدْ لَهُمَا

د ابونضره نه روایت دے وائی چه زهٔ د جابرؓ سره وم چه یو سړے راغے او اوئے وئیل چه ابن عباسؓ او ابن زبیرؓ په دواړو متعو (یعنی حج تمتع او د ښځو متعه) کښې اختلاف کړے دے پس جابر اووے چه مونږ د رسول اللهﷺ په زمانه کښې دواړه متعے کړے دی بیا د هغے دواړو نه حضرت عمرؓ منع کړل دہ دے نه پس مونږه دواړه متعے نهٔ دی کړی.

عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ أَوْطَاسٍ فِي الْمُتْعَةِ ثَلَاثًا ثُمَّ نَهَى عَنْهَا

ایاس بن سلمه د خپل پلار نه روایت کړے دے چه جناب رسول مقبولﷺ په عام اوطاس کښې درے ځله د متعے رخصت ورکړے دے او بیائے منع فرمائیلے ده[2].

عَنْ سَبْرَةَ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ قَالَ أَذِنَ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُتْعَةِ فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَرَجُلٌ إِلَى امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي عَامِرٍ كَأَنَّهَا بَكْرَةٌ عَيْطَاءُ فَعَرَضْنَا عَلَيْهَا أَنْفُسَنَا فَقَالَتْ مَا تُعْطِي فَقُلْتُ رِدَائِي

د سبره جهنیؓ نه روایت دے چه مونږ ته رسول اللهﷺ د متعے اجازت راکړو نو زهٔ او یو سړے دواړه را اووتو او د بنی عامر قبیلے یوه ښځه مو اولیده چه سمه لکه ځوانه اوښه وه چه د صراحئ پشان دنګه غړئ ئے وه. پس مونږ خپل ځان هغے ته پیش کړو. هغے اووے ماله به څهٔ راکوئ؟ ما اووے خما څادر

أَزْوَاجِهِمْ أَوْمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ. غرض ابن عباسؓ اوفرمائیل چه هر فرج دہ دے دوؤ نه سوا حرام دے. یعنی بی بی به وی په نکاح صحیح سره یا به وینځه وی دہ دے نه سوا ټولے حرامے دی. او دا حدیث دلالت کوی چه د متعے تحریم د قرآن نه شوے دے. لکه څنګه چه دہ دے تحلیل تاسو د قرآن نه کړے وو. پس نسخ د قطعی نه قطعی شو.

[1] حضرت عمرؓ منع اوکړه یعنی هغهٔ نسخ له کوم چه جناب رسول اللهﷺ فرمائیلے وو په حجة الوداع کښې چه هغهٔ ته رسیدلے نهٔ وو. هغوئ ته ئے اورسوو او دغه د رسول اللهﷺ آخری حکم وو او دہ دے حکم نه پس خلور میاشتے بعد حضرتؐ انتقال اوفرمائیلو.

[2] په دے حدیث کښې تصریح اوشوله چه متعه د فتح مکے په ورځ مباح شوه او دغه د اوطاس ورځ ده. او اوطاس په طائف کښې د یوے درے یعنی میدان نوم دے او د فتح مکے او اوطاس ورځ دغه یوه ده.

وَقَالَ صَاحِبِي رِدَائِي وَكَانَ رِدَاءُ صَاحِبِي
أَجْوَدَ مِنْ رِدَائِي وَكُنْتُ أَشَبَّ مِنْهُ فَإِذَا
نَظَرَتْ إِلَى رِدَاءِ صَاحِبِي أَعْجَبَهَا وَإِذَا
نَظَرَتْ إِلَيَّ أَعْجَبْتُهَا ثُمَّ قَالَتْ أَنْتَ
وَرِدَاؤُكَ يَكْفِينِي فَمَكَثْتُ مَعَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ إِنَّ
رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ
كَانَ عِنْدَهُ شَيْءٌ مِنْ هَذِهِ النِّسَاءِ الَّتِي
يَتَمَتَّعُ فَلْيُخَلِّ سَبِيلَهَا

عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ أَنَّ أَبَاهُ غَزَا مَعَ رَسُولِ
اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتْحَ مَكَّةَ قَالَ
فَأَقَمْنَا بِهَا خَمْسَ عَشْرَةَ ثَلَاثِينَ بَيْنَ لَيْلَةٍ
وَيَوْمٍ فَأَذِنَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فِي مُتْعَةِ النِّسَاءِ فَخَرَجْتُ أَنَا وَرَجُلٌ
مِنْ قَوْمِي وَلِي عَلَيْهِ فَضْلٌ فِي الْجَمَالِ وَهُوَ
قَرِيبٌ مِنَ الدَّمَامَةِ مَعَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنَّا بُرْدٌ
فَبُرْدِي خَلَقٌ وَأَمَّا بُرْدُ ابْنِ عَمِّي فَبُرْدٌ
جَدِيدٌ غَضٌّ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِأَسْفَلِ مَكَّةَ أَوْ
بِأَعْلَاهَا فَتَلَقَّتْنَا فَتَاةٌ مِثْلُ الْبَكْرَةِ الْعَنَطْنَطَةِ
فَقُلْنَا هَلْ لَكِ أَنْ يَسْتَمْتِعَ مِنْكِ أَحَدُنَا
قَالَتْ وَمَاذَا تَبْذُلَانِ فَنَشَرَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَّا
بُرْدَهُ فَجَعَلَتْ تَنْظُرُ إِلَى الرَّجُلَيْنِ وَيَرَاهَا
صَاحِبِي تَنْظُرُ إِلَى عِطْفِهَا فَقَالَ إِنَّ بُرْدَ هَذَا
خَلَقٌ وَبُرْدِي جَدِيدٌ غَضٌّ فَتَقُولُ بُرْدُ هَذَا

حاضر دے. او خما ملګری اووے خما څادر حاضر دے. او
خما د ملګری څادر خماد څادر نه ښۀ وو مګر زۀ د هغۀ په
نسبت ښۀ ځوان وم هر کله چه به هغے خما د ملګری څادر ته
کتل نو هغه به ئے خوښیدو. او هر کله چه به ئے ماته اوکتل نو زۀ
به ئے خوښ شوم. بیا هغے اووے چه تۀ اوستا څادر خما قبول
دے. او زۀ د هغے سره درے ورځے پاتے شوم. بیا رسول اللهﷺ
اوفرمائیل چه د چا سره داسے ښځه وی چه د هغے سره ئے متعه
کړے وی هغه دِ پریږدی.

د ربیع بن سبره نه روایت دے چه د هغوی پلار په فتح مکه کښ د
رسول اللهﷺ په ملګرتیا کښ جهاد اوکړو او وائی چه مونږ په مکه
کښ پنځلس یعنی شپے او ورځے یو ځائے کړے دیرش ورځے پاتے شو
او مونږ ته جناب رسول اللهﷺ د ښځو سره د متعے کولو اجازت راکړو
او زۀ او یو سړے خما د قوم دواړه راووتو او زۀ د هغۀ نه په ښکلوالی
کښ زیات وم. او هغه بد شکلئ ته نژدے وو. او زمونږ د هر یو
ملګری سره څادر وو. او خما څادر زوړ وو او خما د ترۀ د ځوئ څادر
نوے او تازه وو. تردے پورے چه هر کله مونږه مکے ته ښکته یا پورته
طرفته اورسیدو. نو مونږ ته یوه ځوانه میلاؤ شوه لکه ځوانه اوښه چه
وی دنګے غړئ والا. یعنی ځوانه ښائسته ښځه نو هغے ته مو اووے
چه آیا تاته په مونږ کښ د یو کس سره متعے کولو ته رغبت شته؟ هغے
اووے تاسو خلق به څۀ ور کړئ؟ نو په مونږ کښ هر یو خپل څادر خور
کړو نو هغے د دواړو څادرو په طرف اوکتل. او خما ملګری هغے ته د
سر نه د خپو پورے په غور سره کتل. بیا هغه سړی اووے چه دده
څادر زوړ دے او خما څادر نوے او تازه دے. او هغے به وئیل چه دده

لَا بَأْسَ بِهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ اسْتَمْتَعْتُ مِنْهَا فَلَمْ أَخْرُجْ حَتَّى حَرَّمَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په خادر مې څه پرواه نشته درې خله یا دوه خله دغه خبرې اترې اوشوې غرض دا چه ما د هغې سره متعه اوکړه او زه لاد هغې د خوانه رااوتې نه وم چه رسول الله ﷺ متعه حرامه کړه.

عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ الْجُهَنِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ إِلَى مَكَّةَ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ بِشْرٍ وَزَادَ قَالَتْ وَهَلْ يَصْلُحُ ذَاكَ وَفِيهِ قَالَ إِنَّ بُرْدَ هَذَا خَلَقٌ مَحٌّ

ربیع بن سبره جهنی د خپل پلار نه روایت کړے دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره ملګری د فتح مکې په کال رااووتو. او باقی روایت په شان د حدیث د بشر دے او په دے کښې دا زیاته ده چه هغه ئې اووے عجیبه خبره ده دا هم چرته کیدے شی. او په دے روایت کښې دا هم دی چه دغه ملګری اووے چه دده څادر پخوانے شلیدلے کم قیمته دے[1]

عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ الْجُهَنِيِّ أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي قَدْ كُنْتُ أَذِنْتُ لَكُمْ فِي الِاسْتِمْتَاعِ مِنَ النِّسَاءِ وَإِنَّ اللهَ قَدْ حَرَّمَ ذَلِكَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ مِنْهُنَّ شَيْءٌ فَلْيُخَلِّ سَبِيلَهُ وَلَا تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا

ربیع بن سبره جهنی د خپل پلار نه روایت کړے دے چه هغوی د رسول الله ﷺ سره وو. پس حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اے خلقو! ما تاسو ته د ښځو سره د متعې کولو اجازت درکړے وو. او اوس الله تعالی متعې لره د قیامته پورے حرامه کړے ده. پس د چا سره چه په متعه کښې څوک وی نو پکار ده چه هغې لره پریږدی او کوم څیز چه تاسو هغوی له ورکړے وی هغه ترے نه واپس مه اخلئ.

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عُمَرَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْبَابِ وَهُوَ يَقُولُ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ

د عبد العزیز بن عمر رح نه روایت دے په دغه اسناد سره چه هغوی وئیلی دی چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدۀ چه هغوی د رکن او باب کعبې په مینځ کښې ولاړ وو او فرمائیل ئې حدیث په مثل د حدیث د ابن نمیر یعنی کوم چه دد دے نه مخکښې تیر شو[2]

---

[1] د دے روایت نه دا هم معلومه شوه چه په متعه کښې به ګواه شاهد هم نه وو او نه پکښې د ولی ضرورت وو.

[2] په دے حدیث کښې د رسول الله ﷺ د ناسخ او منسوخ دواړو ذکر دے. او حرام والے همیشه د متعې پکښې د قیامته پورے ذکر [illegible] دے حدیث د مخه د هغه راویانو د قول تاویل ضرور او شولو چا چه وئیلی دی چه مونږ د ابوبکر او عمر د وخت پورے متعه کړے [illegible]

عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ الرَّبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ الْجُهَنِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُتْعَةِ عَامَ الْفَتْحِ حِينَ دَخَلْنَا مَكَّةَ ثُمَّ لَمْ نَخْرُجْ مِنْهَا حَتَّى نَهَانَا عَنْهَا

عبد الملك بن ربیع بن سبره جهنی د خپل پلار نه هغوی د هغهٔ د نیکه نه روایت کړے دے چه سبره وائی چه حکم راکړو مونږ ته رسول الله ﷺ د متعے د فتح مکے په کال هر کله چه مونږه په مکه کښ داخل شو بیا را اونهٔ وتو مونږه د هغے نه تر دے پورې چه منع شو مونږ د متعے نه

عَنْ رَبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِيهِ سَبْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ فَتْحِ مَكَّةَ أَمَرَ أَصْحَابَهُ بِالتَّمَتُّعِ مِنَ النِّسَاءِ قَالَ فَخَرَجْتُ أَنَا وَصَاحِبٌ لِي مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ حَتَّى وَجَدْنَا جَارِيَةً مِنْ بَنِي عَامِرٍ كَأَنَّهَا بَكْرَةٌ عَيْطَاءُ فَخَطَبْنَاهَا إِلَى نَفْسِهَا وَعَرَضْنَا عَلَيْهَا بُرْدَيْنَا فَجَعَلَتْ تَنْظُرُ فَتَرَانِي أَجْمَلَ مِنْ صَاحِبِي وَتَرَى بُرْدَ صَاحِبِي أَحْسَنَ مِنْ بُرْدِي فَآمَرَتْ نَفْسَهَا سَاعَةً ثُمَّ اخْتَارَتْنِي عَلَى صَاحِبِي فَكُنَّ مَعَنَا ثَلَاثًا ثُمَّ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفِرَاقِهِنَّ

ربیع بن سبره د خپل پلار سبره بن معبد نه روایت کوی چه نبی ﷺ د فتح مکے په کال کښ خپلو صحابؤ ته د ښځو سره د متعے کولو حکم ورکړو. هغوی وائی چه بیا زهٔ او زما یو ملګرے د قبیله بنی سلیم نه دواړه را اووتو. تر دے پورے چه مونږه د قبیله عامر یوه ځوانه ښځه اوموندهٔ چه سمه لکه ځوانه اوښه وه. پس مونږ هغے ته د متعے پیغام ورکړو. او په متعه کښ مو ورته خپل څادرونه پیش کړل. او هغے اولیدل او ما ته به ئے زما د ملګری نه زیات په مینه کتل. او زما ملګری څادر ته به ئے زما د څادر نه ښهٔ کتل او هغے په خپل زړهٔ کښ یو ساعت مشوره اوکړه او بیا هغے زهٔ غوره کړم. زما د ملګری نه د متعے ښځے زمونږ خلقو سره د درے ورځو پورې پاتے شوے. بیا رسول الله ﷺ مونږ ته حکم اوکړو د هغے د پریخودلو.

عَنْ سَبْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ نِكَاحِ الْمُتْعَةِ

د سبره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د متعے د نکاح نه.

عَنْ سَبْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ الْفَتْحِ عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ

د سبره ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د فتح مکے په ورځ د ښځو د متعے کولو نه.

عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ الْجُهَنِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ

بیع بن سبره د خپل پلار نه روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ د فتح

تاویل داسے دے چه هغوی ته به دد دے د منسوخ کیدو خبر نهٔ وو رسیدلے. او دد دے نه ثابته شوه چه کوم مهر به ښځے ته په متعه کښ ورکړے شو هغه به د هغے ملکیت شو. بیا به ترے د هغے اخستل روا نهٔ وو اګر که د متعے د مودے ختمیدو نه به ئے مخکښ هغه پریخوده

أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُتْعَةِ زَمَانَ الْفَتْحِ مُتْعَةِ النِّسَاءِ وَأَنَّ أَبَاهُ كَانَ تَمَتَّعَ بِبُرْدَيْنِ أَحْمَرَيْنِ

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ الزُّبَيْرِ قَامَ بِمَكَّةَ فَقَالَ إِنَّ نَاسًا أَعْمَى اللهُ قُلُوبَهُمْ كَمَا أَعْمَى أَبْصَارَهُمْ يُفْتُونَ بِالْمُتْعَةِ يُعَرِّضُ بِرَجُلٍ فَنَادَاهُ فَقَالَ إِنَّكَ لَجِلْفٌ جَافٍ فَلَعَمْرِي لَقَدْ كَانَتِ الْمُتْعَةُ تُفْعَلُ عَلَى عَهْدِ إِمَامِ الْمُتَّقِينَ يُرِيدُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ ابْنُ الزُّبَيْرِ فَجَرِّبْ بِنَفْسِكَ فَوَاللهِ لَئِنْ فَعَلْتَهَا لَأَرْجُمَنَّكَ بِأَحْجَارِكَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي خَالِدُ بْنُ الْمُهَاجِرِ بْنِ سَيْفِ اللهِ أَنَّهُ بَيْنَا هُوَ جَالِسٌ عِنْدَ رَجُلٍ جَاءَهُ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَاهُ فِي الْمُتْعَةِ فَأَمَرَهُ بِهَا فَقَالَ لَهُ ابْنُ أَبِي عَمْرَةَ الْأَنْصَارِيُّ مَهْلًا قَالَ مَا هِيَ وَاللهِ لَقَدْ فُعِلَتْ فِي عَهْدِ إِمَامِ الْمُتَّقِينَ قَالَ ابْنُ أَبِي عَمْرَةَ إِنَّهَا كَانَتْ رُخْصَةً فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ لِمَنِ اضْطُرَّ إِلَيْهَا كَالْمَيْتَةِ وَالدَّمِ وَلَحْمِ الْخِنْزِيرِ ثُمَّ أَحْكَمَ اللهُ الدِّينَ وَنَهَى عَنْهَا قَالَ ابْنُ

مکے په ورځو کښې د متعے نه منع اوفرمائیله د ښځو د متعے نه او د هغوی پلار سبره متعه کړے وه. (یعنی مخکښې دمنع والی نه په دوؤ سرو څادرو باندے.

د ابن شهاب زهریؒ نه روایت دے وائی چه خبر راکړے دے مالره عروه بن زبیرؒ چه عبدالله بن زبیرؓ اودریدۀ په مکه کښې (یعنی د خطبے لوستلو ته او اوئے وئیل چه دځنے خلقو زړونه الله تعالیٰ تیاره کړی دی لکه څنګه چه ئے د هغوی سترګے ړندے کړے دی (دا هغوی د ابن عباسؓ په طرف اشاره اوکړه چه هغه په آخری عمر کښې ړوند شوے وو او هغوی ته د متعے نسخ رسیدلے نۀ وو ځکه بۀ ئے د جواز فتوٰی ورکوله بیائے رجوع اوکړه هر کله چه ورته نسخ معلوم شو) چه د متعے د جواز فتوے ورکوی. او هغوی طعن کولو په یو سړی باندے (یعنی په دغه ابن عباسؓ باندے) په دے آواز اوکړو هغوی ته یو سړی (یعنی ابن عباسؓ) او ورته ئے اووے چه ته کم فَهم، بے ادبه او کم عقل ئے. او قسم دے چه متعه به کولے شوه په زمانه د امام المتقین کښې یعنی د جناب رسول اللهﷺ په زمانه مبارکه کښې. پس ابن زبیرؓ هغوی ته اووے. چه ته په خپل ځان ازموده اوکړه بیا ګوره. په الله مے دِ قسم وی کچرے تا متعه اوکړه (یعنی د متعے سره دِ صحبت اوکړو) نو بیشکه زۀ به تالره ستاسو په دغه ګټو سره اوولم. (یعنی لکه څنګه چه زنا کار ویشتلے شی) ابن شهاب وئیلی دی چه خالد بن مهاجر بن سیف الله ماته خبر راکړے دے چه زۀ د یو سړی سره ناست وم چه یو بل سړے راغے او هغۀ د متعے د فتوے تپوس اوکړو نو هغوی حکم اوکړو د متعے. نو ابی عمره انصاری اووے لږ اودریږه. هغوی اووے ولے؟ په الله مے دِ قسم وی چه ما کړے ده د امام المتقین په زمانه کښې. بیا ابن ابی عمره اووے چه په اول د اسلام کښې جائز وه د هغه چا

شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي رَبِيعُ بْنُ سَبْرَةَ الْجُهَنِيُّ أَنَّ أَبَاهُ قَالَ قَدْ كُنْتُ اسْتَمْتَعْتُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةً مِنْ بَنِي عَامِرٍ بِبُرْدَيْنِ أَحْمَرَيْنِ ثُمَّ نَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُتْعَةِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَسَمِعْتُ رَبِيعَ بْنَ سَبْرَةَ يُحَدِّثُ ذٰلِكَ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَأَنَا جَالِسٌ

دپاره چه هغه به د حد نه زیات بے قراره شو لکه څنګه چه د لوږے نه بے تابه ته مرداره او وینه او خنزیر غوښه وغیره حلاله ده. بیا الله تعالیٰ خپل دین مضبوط کړو او دے نه ئے منع اوفرمائیله ابن شهاب زهری وئیلی دی چه خبر راکړے دے ماله ربیع بن سبره جهنی چه هغوی ته د هغوی پلار وئیلی دی چه ما متعه کړے وه د نبی ﷺ په زمانه مبارکه کښې د بنی عامر د یوے ښځے سره په دوو سرو څادرو باندے بیا منع کړو مونږ دے نه رسول الله ﷺ یعنی د متعے نه وئیلی دی ابن شهاب او اوریدلی دی ما د ربیع بن سبره نه چه هغه روایت کوؤ دے حدیث لره د عمر بن عبد العزیزؒ نه او زۀ ناست وم.

عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ قَالَ حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ سَبْرَةَ الْجُهَنِيُّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُتْعَةِ وَقَالَ أَلَا إِنَّهَا حَرَامٌ مِنْ يَوْمِكُمْ هٰذَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ كَانَ أَعْطَى شَيْئًا فَلَا يَأْخُذْهُ

د عمر بن عبد العزیزؒ نه روایت دے وائی چه روایت کړے دے ما ته ربیع بن سبره جهنی او هغوی د خپل پلار نه چه رسول الله ﷺ منع اوفرمائیله د متعے نه او اوئے فرمائیل چه خبر شئ متعه د نن ورځے نه حرامه ده د قیامت د ورځے پورے. او چا چه ورله څۀ ورکړی وی یعنی د متعے په مهر کښې هغه د ترے واپس نۀ اخلی.

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ

د حضرت علیؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د متعے د ښځو نه. په ورځ د خیبر او منع کړے ده د کورنو خرو د غوښو خوړلو نه.

عَنْ مَالِكٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ سَمِعَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ يَقُولُ لِفُلَانٍ إِنَّكَ رَجُلٌ تَائِهٌ نَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ يَحْيَى عَنْ مَالِكٍ

د مالك نه په دغه اسناد سره روایت شوے دے چه حضرت علیؓ اوفرمائیل چه تۀ یو سړے خطا شوے ئے د نیغے لارے نه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د متعے نه. وړاندے هغه مضمون ذکر دے کوم چه پور ته حدیث کښې تیر شو.

عَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يُلَيِّنُ فِي مُتْعَةِ النِّسَاءِ فَقَالَ مَهْلًا يَا ابْنَ عَبَّاسٍ فَإِنَّ

د حضرت علیؓ نه روایت دے چه هغوی د ابن عباسؓ نه اوریدلی دی چه جائز کوله ئے د ښځو متعے لره نو هغوی اووے چه اودریږه

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهَا يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ

اے ابن عباسهٔ خکه چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د متعے نه د خیبر په ورځ او د کورونو خرو د غوښے نه.

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ يَقُولُ لِابْنِ عَبَّاسٍ نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ

د علی بن ابی طالب نه روایت دے چه دهٔ اوفرمائیل ابن عباس ته چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د متعے د ښځو نه د خیبر په ورځ او د ساتلے شوو خرو د غوښے نه[1].

بَاب تَحْرِيمِ الْجَمْعِ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا أَوْ خَالَتِهَا فِي النِّكَاحِ

باب: د وریرے او د ترور او خالے او د خورزے جمع کول په نکاح کښں حرام دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا وَلَا بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَخَالَتِهَا

د حضرت ابوهریرهٔ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه نهٔ دِ جمع کوی څوك یوه ښځه او د هغے د پلار خور لره او نهٔ یوه ښځه او د هغے د مور خور په یو نکاح کښں[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د ابوهریرهٔ نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د

---

[1]: دے روایتونو نه حرام والے د ساتلے شوو خرو د غوښے هم معلوم شو. او دغه مذهب دے زمونږ او مذهب دے د تولو علماؤ. مګر یو جماعت د سلفو ددے د حلال والی قائل دے. چنانچه د ابن عباسؓ او د جناب حضرت عائشے صدیقےؓ او بعضے سلفو نه ددے اباحت مروی دے. او د هغوی نهٔ ئے حرام والے هم مروی دے. او د امام مالكؒ نهٔ ئے کراهت او حرام والے مروی دے.

[2]: (الف). یعنی د چا په نکاح کښں چه یوه ښځه ده. نو دا سړے به ددغے ښځے د دواړه طرفنه تروریانے لکه د هغے د پلار خور او د مور خور به نهٔ نکاح کوی.

(ب) دغه مذهب دے د تولو علماؤ کرامو چه حرام دی جمع کول د وریرے او ترور او خورزے او خاله په نکاح کښں. برابره خبره ده کهٔ ترور حقیقی وی لکه د پلار خور یا خاله حقیقی وی لکه د مور خور یا په رشته کښں وی لکه د ښځے د نیکه خور یا د ورنیکه خور یا د درنیکهٔ خور یا د څلورم نیکهٔ خور دا تولے تروریانے حرامے دی. هر کله چه هغه ښځه د چا په نکاح کښں وی. او دغه شان د رشتے ترور هغه ده چه د نانی یعنی د مور د مور خورزه وی. او د دوی په حرام والی باندے اجماع ده د علمائے کرامو مګر یو تولی مبتدعه د خوارجو او شیعه ګانو نه ددے خلاف کړے دے او دغه جماعت ددے ایت نه احتجاج کړے دے: وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ. او جمهورو احتجاج کړے دے ددغه حدیثو نه او تخصیص کړے دے جمهورو د عموم قرآن د هغه خبر احاد نه خکه چه رسول الله د وحی مبین یعنی ظاهرونکے دے. او دغه شان حرام دی د ملكِ یمین نه جمع کول ددے تول په وطی کښں لکه څنګه چه حرام دی په نکاح کښں. او دغه حکم دے د تولو ښځو. چه د چا جمع کول په نکاح کښں منع دی هغوی په وطی کښں د ملك یمین نه هم منع دی.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَجْمَعَ الرَّجُلُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا وَبَيْنَ الْمَرْأَةِ وَخَالَتِهَا قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَنُرَى خَالَةَ أَبِيهَا وَعَمَّةَ أَبِيهَا بِتِلْكَ الْمَنْزِلَةِ

جمع کولو د یو سړی په مینځ د ښځې او د پلار د خور د هغې کښې. او په مینځ د ښځې او د مور د خور د هغې کښې. او ابن شهاب وئیلی دی چه مونږ پیژنو چه د ښځې د پلار د ترور یعنی د مور د خور او د ښځې د پلار د پلار د خور هم دغه حُکم دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَخْطُبُ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ وَلَا يَسُومُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ وَلَا تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا وَلَا عَلَى خَالَتِهَا وَلَا تَسْأَلُ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَكْتَفِئَ صَحْفَتَهَا وَلْتَنْكِحْ فَإِنَّمَا لَهَا مَا كَتَبَ اللهُ لَهَا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی یو سړے د نکاح پیغام نه لیګی د خپل رور د پیغام د پاسه (یعنی هر کله چه یو سړی پیغام لیږلے وی نو چه د کومے پورے د جینئ د کور د طرفنه د نه ورکولو خبر نه وی راغلے د هغې پورے د بل بنده هلته پیغام (یعنی قاصد) نه لیږی) او نه به بولی کوی د خپل ورور په بولئ باندے او نه به په نکاح کښې راتلے شی یوه ښځه د خپلو دواړو طرفنه تروریانو د پاسه او نه به طلاق غواړی یو ښځه د خپلې بنے دد ے دپاره چه راتوئ شی دے ته هغه څۀ چه د هغې په رکابی کښې دی (یعنی چه د هغې د حصّے نان نفقه ماته میلاؤ شی) او پکار ده چه په نکاح کښې راشی. او څۀ چه الله د هغې په قسمت کښې لیکلی دی هغه د هغې دی. (یعنی دا د نه وائی چه فلانئ ښځه ستا په نکاح کښې ده هغې له طلاق ورکړه نو زۀ به در سره نکاح اوکړم).

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُنْكَحَ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا أَوْ خَالَتِهَا أَوْ أَنْ تَسْأَلَ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَكْتَفِئَ مَا فِي صَحْفَتِهَا فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ رَازِقُهَا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دد ے نه چه په نکاح کښې راوستے شی یو ښځه د هغې د مور د خور یا د پلار د خور دپاسه. او منع ئے کړے ده دد ے نه چه طلب کړی یوه ښځه طلاق د خپلې خور چه راواړوی ځان ته هغه څۀ چه د هغې په لوښی کښې دی او الله تعالی د هغې رازق دے.

بَابُ تَحْرِيمِ نِكَاحِ الْمُحْرِمِ وَكَرَاهَةِ خِطْبَتِهِ

باب: د محرم نکاح حرام ده او پیغام ورکول ئے مکروه دی

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ

د عثمان بن عفانؓ نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ وَلَا يُنْكَحُ وَلَا يَخْطُبُ

دی چه نکاح د نهٔ کوی محرم خپل او نهٔ د نکاح کوی د بل چا لو نهٔ د خطبه ورکوی (یعنی د نکاح پیغام د هم نهٔ ورکوی)

عَنْ نُبَيْهِ بْنِ وَهْبٍ قَالَ بَعَثَنِي عُمَرُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ مَعْمَرٍ وَكَانَ يَخْطُبُ بِنْتَ شَيْبَةَ بْنِ عُثْمَانَ عَلَى ابْنِهِ فَأَرْسَلَنِي إِلَى أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ وَهُوَ عَلَى الْمَوْسِمِ فَقَالَ أَلَا أُرَاهُ أَعْرَابِيًّا إِنَّ الْمُحْرِمَ لَا يَنْكِحُ وَلَا يُنْكَحُ أَخْبَرَنَا بِذٰلِكَ عُثْمَانُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نبیه بن وهب نه روایت دے وائی چه زهٔ عمر بن عُبید الله اولیږلم او هغهٔ پیغام لیږلو د شیبه د لور سره د خپل ځوئ د نکاح نو هغوی زهٔ د ابان بن عثمان خواله اولیږلم او هغه د حجاج حاکم وو. هغوی ماته اوفرمائیل چه تا لره زهٔ ناپوهه ګنړم خکه چه محرم نه خپل نکاح کولے شی او نهٔ د بل نکاح کولے شی. او خبر راکړے دے ددے مونږ ته عثمانؓ د جناب رسول الله ﷺ نه په دے شان سره.

عَنْ نُبَيْهِ بْنِ وَهْبٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ مَعْمَرٍ أَرَادَ أَنْ يُنْكِحَ ابْنَهُ طَلْحَةَ بِنْتَ شَيْبَةَ بْنِ جُبَيْرٍ فِي الْحَجِّ وَأَبَانُ بْنُ عُثْمَانَ يَوْمَئِذٍ أَمِيرُ الْحَاجِّ فَأَرْسَلَ إِلَى أَبَانٍ إِنِّي قَدْ أَرَدْتُ أَنْ أُنْكِحَ طَلْحَةَ بْنَ عُمَرَ فَأُحِبُّ أَنْ تَحْضُرَ ذٰلِكَ فَقَالَ لَهُ أَبَانُ أَلَا أُرَاكَ عِرَاقِيًّا جَافِيًا إِنِّي سَمِعْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ

د نبیه بن وهب نه روایت دے چه عمر بن عبید الله اراده اوکړه چه نکاح اوکړی د خپل ځوی د شیبه د لور سره د حج په ورځو کښې. هغه وخت ابان بن عثمان امیر حج وو. نو عمر ابان بن عثمان ته پیغام اولیږهٔ چه ما د طلحه د نکاح اراده کړے ده او زهٔ غواړم چه تاسو په دے کښې شریك شئ. نو ابان دوی ته اووے چه زهٔ تا لره یو عراقی د عقل نه خالی وینم. ما د عثمان بن عفانؓ نه اوریدلے دی چه هغوی وئیل چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه محرم د د چا نکاح نهٔ کوی[1].

[1]: مسلمؒ اختلاف ذکر کړے دے چه نبی ﷺ چه د میمونے سره هر کله نکاح کوله نو هغوی حلال وو یا محرم؟ او علماؤ اختلاف کړے دے. چه محرم له نکاح روا ده یا نهٔ ده؟ نو د مالكؒ او شافعیؒ او احمدؒ او د جمهورو علماؤ او صحابؤ قول دے چه محرم نکاح صحیح نهٔ ده. او ددے باب په روایتونو باندے نے اعتماد کړے دے. او ابوحنیفهؒ او د کوفے علماؤ فرمائیلی دی چه نکاح د محرم جائز او صحیح ده د میمونے د حدیث نه او جواب ورکړےدے جمهورو د میمونے د حدیث چه نبی ﷺ د هغے سره نکاح په داسے حال کښې کړے ده چه هر کله هغوی حلال وو او صحیح روایت دغه دے. او دے لره روایت کړے دے اکثرو صحابؤ د رسول الله ﷺ او قاضی عیاضؒ وغیره وئیلی دی چه د احرام په حالت کښې نکاح کول د حضرت ﷺ د میمونےؓ سره د هیچا نه روایت نشته سوا د ابن عباسؓ نه. او حضرت میمونهؓ او ابورافع وغیره نور روایت کوی

عَنِ ابْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ زَادَ ابْنُ نُمَيْرٍ فَحَدَّثْتُ بِهِ الزُّهْرِيَّ فَقَالَ أَخْبَرَنِي يَزِيدُ بْنُ الأَصَمِّ أَنَّهُ نَكَحَهَا وَهُوَ حَلَالٌ

د ابن عباس نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ نکاح اوکړه او هغوی محرم وو (یعنی په حرم کښې وو) او ابن نمیر پکښې دا زیاته کړه وائی چه بیا ما زهری ته بیان کړو دغه حدیث نو هغوی اووے خبر راکړے دے مالره یزید بن اصم چه حضرت ﷺ نکاح اوکړه او هغوی حلال وو.[1]

عَنْ يَزِيدَ بْنِ الأَصَمِّ حَدَّثَتْنِي مَيْمُونَةُ بِنْتُ الْحَارِثِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهُوَ حَلَالٌ قَالَ وَكَانَتْ خَالَتِي وَخَالَةَ ابْنِ عَبَّاسٍ

د یزید بن اصم نه روایت دے. وائی چه ماته میمونه بنت حارث پخپله بیان فرمائیلے دے. چه د هغوی سره نکاح اوکړه رسول الله ﷺ او هغوی حلال وو او میمونه خما او د ابن عباس دواړو ترور وه.

بَاب تَحْرِيمِ الْخِطْبَةِ عَلَى أَخِيهِ حَتَّى يَأْذَنَ أَوْ يَتْرُكَ

باب: د یو رور د پیغام د پاسه ترڅو پورے چه هغه جوابی شوے نه وی د هغے پورے پیغام ورکول روا نه دی

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ فرمائیلی

چه نکاح کړے د حضرت د هغوی سره په داسے حالت کښې چه حضرت حلال وو. او هغوی د دے قیصے نه ښه خبر وو ځکه چه میمونه خو پخپله بی بی ده او خاص د هغے نکاح ده. او ابورافع د ابن عباس نه اضبط دے. او دویم جواب ئے دا ورکړے دے چه د ابن عباس د قول یو تاویل دا هم کیدے شی. او نکاح ئے اوکړه د هغے سره کله چه حضرت په حرم کښې وو او اګر چه حلال وو. او ځوک چه په حرم کښې وی هغوی ته هم محرم وئیلے شی. اګر کۀ په احرام کښې نۀ وی او دا لغت شائع او معروف دے. ځکه خو د عربو یو شاعر وائی. قَتَلُوا ابنَ عفَّانَ الْخَلِيفَةَ مُحْرِمًا. یعنی قتل کړو ابن عفان لره او هغه محرم وو یعنی د مدینے په حرم کښې وو. د دے ټولو روایتونو مطلب دا دے چه محرم د احرام په حالت کښې نۀ پخپله نکاح کولے شی نۀ پخپل ولایت سره د بل نکاح کولے شی کوم چه ولایت خاصه وی. لکه څنګه چه خپلوانو ته وی یا ولایت عامه وی لکه چه بادشاه ته کیږی. او دغه پوخ قول دے. او هر کله چه دا معلومه شوه نو پوهه شه چه کچرے هر چا چه د احرام په حالت کښې نکاح اوکړه په خپل ولایت سره یا پخپله ئے خپله نکاح اوکړه نو هغه باطله ده. تر دے پورے چه کۀ ښځه خاوند حلال هم وی او وکیل په هغوی کښې محرم وی بیا هم نکاح باطله ده. نووی په اختصار سره.

[1] : غرض دا چه د ابن عباس په مقابله کښې د یزید او د صحابو روایتونه راغلل او په دواړو کښې تعارض او پیژندلے شو او په دے سره هغه ساقط کړے شو. او احادیث قولی د رسول الله ﷺ واجب العمل پاتے شو.

وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ وَلَا يَخْطُبْ بَعْضُكُمْ عَلَى خِطْبَةِ بَعْضٍ

دی بیعه دِ نهٔ ښائی بعضے ستاسو نه په بیعه د بعضے نورو باندے. او نهٔ دِ پیغام ورکوی بعضے ستاسو نه د بعضے نورو په پیغام باندے[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَبِعِ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ وَلَا يَخْطُبْ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ

د ابن عمر ؓ نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه نهٔ دِ خرڅوی یو سړے د بل په بیعه دپاسه او نهٔ دِ دنکاح پیغام ورکوی د بل د نکاح د پیغام دپاسه. مگر هله چه اجازت ورکړی هغه ړومبی پیغام والا چاته. او دا روایت د عبید الله او نافع په دغه سند سره مروی شوے دے[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ أَوْ يَتَنَاجَشُوا أَوْ يَخْطُبَ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ أَوْ يَبِيعَ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ وَلَا تَسْأَلِ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَكْتَفِئَ مَا فِي إِنَائِهَا أَوْ مَا فِي صَحْفَتِهَا زَادَ عَمْرٌو فِي رِوَايَتِهِ وَلَا يَسُمِ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ

د ابوهریره ؓ نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ منع فرمائیلے ده ددے نه چه ښهر والا دِ مال خرڅ کړی د کلی والا. او منع ئے فرمائیلے ده د دے نه چه په خپلو کښ مکر فریب کوی او دِدے نه چه پیغام د نکاح ورکړی څوك د خپل رور په پیغام باندے. یا خرڅ اوکړی څوك د خپل رور په بیعه باندے. او نهٔ دِ طلاق غواړی یوه ښځه د خپلے خور په حق کښ ددے دپاره چه راتوئ کړی ځان ته هغه څهٔ چه د هغے په رکابی کښے دی. زیاته کړے ده عمرو پخپل روایت کښ

---

[1]: یعنی یو (مسلمان) رور یو څیز چرته خرڅ کړو نو بل لره دا لازم نهٔ دی چه د هغه هغه څیز واپس کړی او خپل پرے ور خرڅ کړی دغه شان چه یو کس یوے ښځے ته پیغام د نکاح اولیږو نو د کومے پورے چه هغه ددهٔ پیغام رد کړے نهٔ وی د هغے پورے دے بل سړے دِ ورپسے سوال جواب نه لیږی. او دا احادیث د پیغام په حرامیدو باندے واضح د لیلو نه دی. او د علماؤ ددے په حرامیدو باندے ددے وجے نه اجماع راغلے چه کله دغه وخت هغے ښځے اول پیغام قبول کړے وی. او ددے دپاسه پرے بل سړے نکاح اوکړی نو دا سړے گنهگار شو مگر نکاح ئے صحیح دے او فسخ کیږی به نهٔ. او دغه مذهب دے د شافعی او جمهورو علماؤ. او داؤد ظاهری وئیلی دی چه نکاح ئے فسخ دے او د امام مالك ؒ نه دوه روایتونه دی. او د یو مالکی جماعت قول دے چه مخکښ د دخول نه فسخ کیږی او د دخول نه روستو نهٔ فسخ کیږی.

[2]: په دے باندے اتفاق دے چه هر کله اول پیغام ورکونکے دویم لره اجازت ورکړی یا هغه په څهٔ خبره ستومانه شی او ددغه ښځے دغوښتلو نه قلار شی نو بیا بل لره پیغام ورکول یعنی دغے ښځے ته د غوښتلو دپاره قاصد لیږل روا دی.

أَخِيهِ

او بولی د نهٔ کوی څوك د خپل رور په بولۍ باندے[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ شِمَاسَةَ أَنَّهُ سَمِعَ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ أَخُو الْمُؤْمِنِ فَلَا يَحِلُّ لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يَبْتَاعَ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ وَلَا يَخْطُبَ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ حَتَّى يَذَرَ

د عبد الرّحمٰن بن شماسه نه روایت دے چه هغوی د عقبه بن عامرؓ نه اوریدلی دی چه هغوی په منبر باندے وئیل چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه مؤمن بنده د مؤمن رور دے. پس روا نهٔ دی یو مؤمن لره چه څهٔ خرڅ کړی د یو مؤمن په بیعه باندے. او نهٔ دا روا دی چه خطبه اوکړی. یعنی سوال جواب ور اولیږی د یو رور د سوال جواب د پاسه د کومے پورے چه هغه پریخودے نهٔ وی[2].

بَابُ تَحْرِيمِ نِكَاحِ الشِّغَارِ وَبُطْلَانِهِ

باب : د نکاحِ شغار د حرامیدو او باطلیدو بیان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الشِّغَارِ وَالشِّغَارُ أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ ابْنَتَهُ وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ

د حضرت ابن عمرؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ منع فرمائیلے ده د شغار د نکاح نه او هغه دا وو چه یو سړی به خپله لور بل ته په دے اقرار سره وادهٔ کوله چه هغه به هم خپله لور دهٔ ته وادهٔ کوی او مهر به د دواړو نهٔ وی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ

د ابن عمرؓ نه روایت دے وائی چه نبیﷺ فرمائیلی دی شغار نشته دے په اسلام کښی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهِ

ابو هریرهؓ وئیلی دی چه منع فرمائیلے ده رسول اللهﷺ د شغار نه د

---

[1] : کلی والا چه هر کله راځی نو په ښهر کښی په ارزان قیمت څیزونه خرڅوی. په دے کښی ذ ښهر والاو فائده ده. او ښهر والا چه هر کله په هغوی باندے څهٔ څیز خرڅوی نو هغه خو چونکه د ښهر د نرخ نه واقف وی نو خپله نفع کوی او ګران ئے خرڅوی. په دے کښی د یو نفع او د ډیرو نقصان وی. څکه دد ے نه حضرتﷺ منع اوفرمائیله. او مکر فریب دا دے چه په دهوکه دروغه خان د یو شی خریدار جوړ کړی د زیات قیمت لګولو د پاره چه بل هغهٔ لره خریدار اوګڼړی او قیمت زیات ادا کړی او دهوکه شی دد ۓ نه هم حضرتﷺ منع اوفرمائیله او یو بنده په یو څیز باندے قیمت اوښائی او ته پرے بولی اوکړے نو په خپلو کښی به نفسانیت یعنی کینه او حسد پیدا شی. باقی شرح پورته ذکر شوه.

[2] : د رور په قیس سره دا خبره رنړه شوه چه د کافر په پیغام باندے مسلمان پیغام ورکولے شی. مثلاً نصرانیه ښځے له یا یهودیه ښځے لره چا کافر پیغام اولیږو نو بل مسلمان دے ښځے لره پیغام لیږلے شی. په خلاف دد ے چه رومبے پیغام ورکونکے مسلمان وی.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشِّغَارِ زَادَ ابْنُ نُمَيْرٍ وَالشِّغَارُ أَنْ يَقُولَ الرَّجُلُ لِلرَّجُلِ زَوِّجْنِي ابْنَتَكَ وَأُزَوِّجُكَ ابْنَتِي أَوْ زَوِّجْنِي أُخْتَكَ وَأُزَوِّجُكَ أُخْتِي

ابن نمیر په روایت کښې دا زیاته ده چه شغار دا دے چه سړے چا ته اووائی چه ته خپله لور ما ته واده کړه زهٔ به خپله لور تا ته واده کړم یا ما ته خپله خور واده کړه چه زهٔ خپله خور تا ته واده کړم[1].

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ زِيَادَةَ ابْنِ نُمَيْرٍ

د عبید الله رضی الله عنه نه په دغه اسناد سره هم دغه مضمون روایت دے .مګر په دے کښې د ابن نمیر زیات کړے شوے مضمون ذکر نشته.

بَابُ الْوَفَاءِ بِالشُّرُوطِ فِي النِّكَاحِ

باب: د نكاح د شرطونود پوره كولو بيان

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ أَحَقَّ الشَّرْطِ أَنْ يُوفَى بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ هٰذَا لَفْظُ حَدِيثِ أَبِي بَكْرٍ وَابْنِ الْمُثَنَّى غَيْرَ أَنَّ ابْنَ الْمُثَنَّى قَالَ الشُّرُوطِ

د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی چه د ټولو شرطونو نه زيات د پوره كولو مستحق هغه شرطونه دی چه په هغے سره تاسو فرجونو لره حلال كړی دی. يعنی د نكاح شرطونه او د ابن مثنٰی په روايت كښې د شروط لفظ دے[2].

بَابُ اسْتِئْذَانِ الثَّيِّبِ فِي النِّكَاحِ بِالنُّطْقِ وَالْبِكْرِ بِالسُّكُوتِ

باب: د يو ځل نكاح شوے ښځے اجازت وركول په ژبه سره دی او د ناواده شوے جينئ په سكوت سره

---

[1]: غرض دا چه په دغه نکاح کښې به په ښځو لوني ظلم کيدلو چه د دواړو مفت خوړو خو واده اوشو او د ښځو غريبانو مهر اووهلے شو. لو دا په اجماع د امت منع دی . او د امام احمد رحمه الله او اسحق رحمه الله او د ابی عبيده نه خطابی نقل کړی دی چه کچرے څوك اوس هم دا نكاح اوكړی نو باطل ده او امام مالك رحمه الله فرمائيلي دی چه مخکښې د دخول نه هغه فسخ كيږی او په يو روايت كښې دی چه مخكښې د دخول نه فسخ دے نه روستو. او يو جماعت وئيلي دی چه نكاح ئے صحيح ده مهر مثل لازميږی په دواړو باندے او دا قول د حنفيو رحمهم الله هم دے.

[2]: د علماؤ په نيز دد ے نه هغه شرطونه مراد دی چه هغه د نكاح منافی يعنی منع كونكی نه وی. بلكه د مقاصدو د نكاح نه وی. لكه خوش خلقی كول د ښځو سره . يا د دستور موافق نان نفقه وركول او يا دا چه كپړه وركولو. او د ښځے د طرفنه د قبليدو شرط دادے چه بے د سړی د اجازت نه د كور نه بهر نه وتل . او چه داسے شرط نه وی چه په هغے كښې د چا شرعی حق اووهلے شی. او خلاف د شريعت نه نه وی. مثلاً كچرے ښځه دا شرط لګوی چه د قبرونو زيارت له به ځم. او هلته به شيرينئ وغيره خوروم. يا به په محرم كښې د تعزيت كونكو ليدو له ځم نو داسے شرط پوره كول هيڅكله ضروری نه دی كهٔ چرے داسے په زرګونو شرطونه ولے نه وی. ځكه چه په حديث كښې راغلی دی كوم شرط په كتاب د الله يعنی قرآن پاك كښې نه وی هغه باطل دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ إِذْنُهَا قَالَ أَنْ تَسْكُتَ

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه د يو خل نكاح شوے زنانه نكاح نۀ كيږی د كومے پورے چه د هغے نه اجازت اخستے شوے نۀ وی. او د ناواده شوے جينئ هم نكاح نۀ كيږی د كومے پورے چه د هغے نه اذن اخستے شوے نۀ وی خلقو عرض اوكړو يا رسول الله ! د ناواده شوے نه به اذن څنګه اخستے شی. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه اذن د هغه چپ پاتے كيدل دی[1].

عَنْ عَائِشَةَ تَقُولُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَارِيَةِ يُنْكِحُهَا أَهْلُهَا أَتُسْتَأْمَرُ أَمْ لَا فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ تُسْتَأْمَرُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ لَهُ فَإِنَّهَا تَسْتَحْيِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَلِكَ إِذْنُهَا إِذَا هِيَ سَكَتَتْ

د جناب حضرت عائشے صديقے رضی الله عنها نه روايت دے فرمائی ما د رسول الله ﷺ نه پښتنه اوكړه چه يوه جينئ داسے وی چه د هغے نكاح د هغے كور والا كوی (يعنی ولی خلق) نو آيا دے نه به هم اجازت اخستے شی؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل چه آو اجازت به اخستے شی.بيا هغوی اوفرمائيل چه كۀ هغه شرم كوی. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه اجازت د هغے دادے چه چپ پاتے شی (يعنی په ژبه سره آو ، هوں ، وئيل ضروری نۀ دی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا

د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دے فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی چه كونډه په خپل نكاه كښ د خپل ولی نه زياته حق لری. او د جينئ يعنی باكرے نه دِ د هغے په نكاح كښ اجازت اخستے شی او اجازت د هغے چپ پاتے كيدل دی.

عَنْ سُفْيَانَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ الثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ يَسْتَأْذِنُهَا أَبُوهَا فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا وَرُبَّمَا قَالَ وَصَمْتُهَا إِقْرَارُهَا

د سفيان رضی الله عنه نه په دغه سند سره روايت دے چه حضرت ﷺ اوفرمائيل كونډه دخپل ځان زياته حقداره ده د خپل ولی نه (يعنی د نكاح اختيار منده ده) او د جينئ يعنی باكرے نه به د هغے پلار د هغے د ذات دپاره اجازت اخلی. او اجازت د هغے چپ پاتے كيدل دی. او بعضے وخت

---

[1] : د يو خل نكاح شوے نه مراد دادے چه رومبی نكاح نه پس مطلقه وی يا كُنډه وی. او د باكرے نه مراد هغه جينئ ده چه نكاح نے هډو شوے نۀ وی.

راوی وئیلی دی چه د هغې چپ پاتے کیدل لکه چه اقرار کول دی[1].

بَاب جَوَازِ تَزْوِيجِ الْأَبِ الْبِكْرَ الصَّغِيرَةَ

باب : پلار له روا دی چه د ورے جینئ ناواده شوے نکاح اوکړی

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِسِتِّ سِنِينَ وَبَنَى بِي وَأَنَا بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ قَالَتْ فَقَدِمْنَا الْمَدِينَةَ فَوُعِكْتُ شَهْرًا فَوَفَى شَعْرِي جُمَيْمَةً فَأَتَتْنِي أُمُّ رُومَانَ وَأَنَا عَلَى أُرْجُوحَةٍ وَمَعِي صَوَاحِبِي فَصَرَخَتْ بِي فَأَتَيْتُهَا وَمَا أَدْرِي مَا تُرِيدُ بِي فَأَخَذَتْ بِيَدِي فَأَوْقَفَتْنِي عَلَى الْبَابِ فَقُلْتُ هَهْ هَهْ حَتَّى ذَهَبَ نَفَسِي فَأَدْخَلَتْنِي بَيْتًا فَإِذَا نِسْوَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقُلْنَ عَلَى الْخَيْرِ وَالْبَرَكَةِ وَعَلَى خَيْرِ طَائِرٍ فَأَسْلَمَتْنِي إِلَيْهِنَّ فَغَسَلْنَ رَأْسِي وَأَصْلَحْنَنِي فَلَمْ يَرُعْنِي إِلَّا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جناب عائشے صدیقے ؓ نه روایت دے د مسلمانانو مور فرمائی چه نکاح اوکړه خما سره رسول الله ؐ او زهٔ د شپږو کالو وم. او یو ځائے شو خما سره چه زهٔ د نهو کالو وم. او فرمائی چه بیا زهٔ مدینے ته راغلم او هلته په ما تبه راغله د یوے میاشتے پورے. او بیا خما ویښتهٔ د غوږونو پورے لوئے شول (یعنی روستو دے نه چه په مرض کښ ختلی وو) بیا د رومان مور خما خواله راغله (دا د جناب عائشے صدیقے ؓ مور ده) او زهٔ په تال ناسته وم او خما سره خما ملګرے هم وے او هغوی ما ته آواز اوکړو او زهٔ د هغوی خواله راغلم. او زهٔ نهٔ پوهیدم چه ما ولے راغواړی. پس هغوی خما لاس اونیوو او زهٔ ئے په دروازه کښ اودرولم او ما هاه هاه کولو (لکه څنګه چه د چا ساه راولاړه شی) تردے پوری چه خما ساه بے واره کیدل بندهٔ شو. او زهٔ هغے یو کور ته بوتلمه. او هلته د انصارو یو څو ښځے وے او هغوی اووے الله دِ خیر او برکت اوکړی او تاله د حصه وی د خیر نه غرض دا چه خما مور

---

[1] د دے روایتونو معنی شافعی ؓ او ابن لیلی ؓ او احمد ؓ او اسحق ؓ وغیره نورو دغه ورکړے ده. چه د ناواده شوے جینئ نه په نکاح کښ اجازت اخستل ضروری دی. او مامور به دے. او که ولی ئے پلار یا نیکهٔ وی نو اجازت اخستل ترے مستحب دی. او کهٔ بغیر د اجازت نه ئے نکاح اوکړه نو هم صحیح ده ځکه چه پلار او نیکهٔ ته شفقت کامله دے. پس هغوی چرته هم د خپل بچی نقصان نهٔ غواړی او د پلار نیکهٔ نه سوا د بل ولی بغیر د اجازت نه نکاح کول صحیح نهٔ دی. او اوزاعی ؓ او ابوحنیفه ؓ وئیلی دی چه اجازت واجب دے د هری ناواده شوے بالغے جینئ نه او د پیغلے نه اجازت اخستل د هغے چپ پاتے کیدل دی. لکه څنګه چه د احادیثو نه معلومه شوے ده. او کچرے پیغله جینئ نهٔ وی د هغے نه په ژبه سره اجازت اخستل ضروری دی.

ضُحًى فَأَسْلَمَتْنِي إِلَيْهِ	زهٔ هغوی ته اوسپارلم او هغوی ځما سر وینځلو او سنبال ئې کړم او ماته نوره څهٔ یره نهٔ ده محسوسه شوې. چه د څاښت په وخت کښې رسول الله ﷺ راغې او زهٔ ئې هغوی ته اوسپارلم[1].
عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تَزَوَّجَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ	د جناب عائشې صديقې رض نه روايت دے فرمائی چه ځما سره عقد

[1] : د دے حدیث نه معلومه شوه چه د وړے جینۍ نکاح صحیح ده بغیر د اجازت نه او په دے باندے اجماع ده د مسلمانانو چه پلار کچرے په وړوکوالی کښې نکاح کړے ده نو روستو د بلوغ نه جینۍ ته د فسخ کولو اختیار نشته د امام مالك او شافعی او د تولو فقهاؤ د حجاز په نز. او اهل عراق وئیلی دی چه روستو د بلوغ نه هغې ته د فسخ کولو اختیار دے. او د پلار نیکهٔ نه سوا نورو اولیاؤ ته نکاح کول د جینۍ د ماشوم والی په حالت کښې روا نهٔ دی. د امام شافعی او ثوری او مالك او ابن ابی لیلی او احمد او ثور او جمهورو په نز. بلکه دغه خلقو وئیلی دی چه کچرے د دے خلقو نکاح اوکړه نو صحیح نهٔ ده. او اوزاعی او ابوحنیفه او نورو فقهاؤ وئیلی دی چه تولو اولیاؤ لره روا دی چه په وړوکوالی کښې نکاح اوکړی. مګر هر کله چه هغه پیغلهٔ شی نو هغې ته د فسخ کولو اختیار شته. مګر د ابویوسف په نز اختیار نشته. او د جمهورو اتفاق دے چه وصیت شوے پرے سړے به په وړوکوالی کښې نکاح نهٔ کوی. او شافعی او د هغهٔ ملګرو وئیلی دی چه مستحب دی چه مخکښې د بلوغ نه نکاح او نهٔ کړی ځکه چه کیدے شی داسے نهٔ وی چه د خاوند په دام کښې اونښلی. او دا حدیث د حضرت عائشې خلاف نهٔ دے ځکه چه کهٔ څهٔ مصلحت ظاهر نهٔ وی نو څهٔ ضرورت نشته مخکښې د بلوغ نه د انکار کولو او کوم ځائے کښې چه څهٔ مصلحت وی هلته څهٔ باك نشته دے. ځکه چه پلار ته هم حکم دے چه د خپل اولاد خیر خواهی به کوی. باقی پاتے شو د زفاف یعنی یو ځائے کیدو وخت. کچرے متفق شی خاوند او د جینۍ ولی نو د وړوکوالی نه هم یو ځائے کیدل روا دی. او کچرے اختلاف ئې وی نو د احمد او ابوعبیده قول دے چه د نهو کالو په جینۍ باندے زبردستی کیدے شی د یو ځائے کیدو د پاره او نهٔ د دے نه په وړه باندے او امام مالك او شافعی وئیلی دی چه اصل حد د هغې دا دے چه هغه طاقت د جماع لری او دا طاقت د ښځو سره جدا جدا وی او په دے کښې د څهٔ کلونو قید نشته. او دغه صحیح دے. او په دے کښې روایت دے د جناب عائشې صديقې نه نهٔ څهٔ د حد مقررتیا شته او نهٔ د هغې نه منع ذکر شوے ده چه د نهو کالو نه په کم عمر کښې منع دے یا د دے نه په زیاته کښې نشته. او داؤدی وئیلی دی چه جناب د مؤمنانو مور حضرت عائشه پوره خوانه شوے وه په نهو کالو کښې. او په ځنې روایتونو کښې اووهٔ کاله هم راغلی دی د نکاح د حضرت عائشې نو تطبیق په دے کښې داسے دے چه د شپږو کالو نه ئې څهٔ زیات شوی وو نو چرته ئې کال فرمائیلے دے او زیاتوالے ئې حذف کړے دے. او چرته ئې اووهٔ فرمائیلی دے او کمے پوره شمار کړے دے. او د دے حدیث نه معلومه شوه چه د ناوے سنګارول مستحب دی او جمع کیدل د ښځو هم ځکه چه په دے کښې د نکاح اعلان هم کیدے شی. او د ښځو په میلاویدو سره دغې ناوے ته خوشحالی او محبت حاصلیږی. او هغې ته د کور والی طریقے هم ښائی. او د دے حدیث نه ثابته شوه چه کور والے د ښځو او صحبت د ورځې هم صحیح دے لکه څنګه چه د شپے دے.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا بِنْتُ سِتِّ سِنِينَ وَبَنَى بِي وَأَنَا بِنْتُ تِسْعٍ

اوکړو رسول الله ﷺ کله چه زۀ د شپږو کالو وَم. او هم بستری ئے اوکړه خما سره کله چه زۀ د نهو کالو وم.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهِيَ بِنْتُ سَبْعِ سِنِينَ وَزُفَّتْ إِلَيْهِ وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ وَلُعَبُهَا مَعَهَا وَمَاتَ عَنْهَا وَهِيَ بِنْتُ ثَمَانَ عَشْرَةَ

د حضرت عائشے صدیقے رض نه روایت دے چه عقد اوکړو د هغوی سره رسول الله ﷺ هر کله ئے چه د اوؤ کالو وه. او همبستری ئے اوکړه هر کله چه د نهو کالو وه. او ګوډئ د هغوی د هغوی سره وے. او وفات اوموند و رسول الله ﷺ هر کله چه د هغوی عمر اتلس کاله وو[1].

بَاب اسْتِحْبَابِ التَّزَوُّجِ فِي شَوَّالٍ وَاسْتِحْبَابِ الدُّخُولِ فِيهِ

باب: د عقد او د زفاف په شوال کښې مستحب کیدل

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَوَّالٍ وَبَنَى بِي فِي شَوَّالٍ فَأَيُّ نِسَاءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَحْظَى عِنْدَهُ مِنِّي قَالَ وَكَانَتْ عَائِشَةُ تَسْتَحِبُّ أَنْ تُدْخِلَ نِسَاءَهَا فِي شَوَّالٍ

د حضرت عائشے رض نه روایت دے فرمائی چه عقد اوکړو خما سره رسول الله ﷺ د وړوکی اختر په میاشت کښې. او هم بستری ئے اوکړه خما سره د وړوکی اختر په میاشت کښې پس هغه کومه بی بی وه د رسول الله ﷺ چه زیاته خوښه ئے وه خما نه رض او جناب عائشے صدیقے رض به همیشه ملګرے لزلے چه ددوی د قبیلے د ښځو سره د د وړوکی اختر په میاشت کښې همبستری اوکړے شی.

او وئیلی دی مسلم چه روایت کړے دے مونږ ته ابن نمیر او هغوی ته خپل پلار او هغوی ته سفیان په دغه اسناد سره او نۀ ئے دی ذکر کړی په دے کښې چه جناب عائشے رض به غوره ګڼړله

---

[1]: په دے حدیث کښې د هغوی د ډیرے کم عمرئ بیان دے. چه د ګوډیانو پورے ورسره وے. او د دے حدیث نه ګوډئ لوبول صحیح شو. او په بل روایت کښې راغلی دی چه حضرت هغه ګوډئ اولیدے او منع ئے او نۀ فرمائیله او په دے کښې تربیت کیدے شی د جینکو او د کورنئ د ضروریاتو په ښۀ طریقه چلولو ورته په دے سره پوهه حاصلیږی. او دا هم احتمال دے چه کیدے شی دا خاص وی د هغه احادیثو نه چه په هغے کښې د تصویرونو ساتل منع دی. او دا هم احتمال دے چه دا د ګوډو قیصه د تصویرونو د حرامیدو نه مخکښې وی او بیا چه هر کله تصویرونه حرام شول نو هغه ګوډئ هم حرامے شوے. یا چه په هغے ګوډئ باندے څۀ تصویر نۀ وی خو صرف لرګے نے په یوه چړره کښې پټ کړے وی. والله اعلم بالصواب

چه د هغې د قبیلې د ښځو سره دِ په شوال کښې همبستري اوکړې شي[1].

بَابُ نَدْبِ مَنْ اَرَادَ نِكَاحَ الْمَرْاَةِ اِلٰى اَنْ يَّنْظُرَ اِلٰى وَجْهِهَا وَكَفَّيْهَا قَبْلَ خِطْبَتِهَا

باب: کوم سړے چه د یوې ښځې سره د نکاح اراده اوکړي نو دهٔ له مستحب دي چه د هغې مخ او ورغوي ویني

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ تَزَوَّجَ امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَظَرْتَ إِلَيْهَا قَالَ لَا قَالَ فَاذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الأَنْصَارِ شَيْئًا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائي چه زهٔ د نبی ﷺ سره وم چه یو سړے راغے او حضرت ﷺ له ئې خبر ورکړو چه دهٔ عقد کړے دے د انصارو د یوې ښځې سره. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه تا هغه لیدلې هم ده؟ هغهٔ اووے نه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه لاړ شه او هغه اووینه ځکه چه د انصارو د زنانو په سترګو کښې څهٔ وي (یعني عیب).

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ نَظَرْتَ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي عُيُونِ الأَنْصَارِ شَيْئًا قَالَ قَدْ نَظَرْتُ إِلَيْهَا قَالَ عَلَى كَمْ تَزَوَّجْتَهَا قَالَ عَلَى أَرْبَعِ أَوَاقٍ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَرْبَعِ أَوَاقٍ كَأَنَّمَا تَنْحِتُونَ الْفِضَّةَ مِنْ عُرْضِ هٰذَا الْجَبَلِ مَا عِنْدَنَا مَا نُعْطِيكَ وَلٰكِنْ عَسٰى أَنْ نَبْعَثَكَ فِي بَعْثٍ تُصِيبُ مِنْهُ قَالَ فَبَعَثَ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائي چه یو سړے د نبی ﷺ خواله راغے او اوئې وئیل چه ما د انصارو د یوې ښځې سره عقد کړے دے. حضرت ورته اوفرمائیل تا به هغه لیدلې هم وه ځکه چه د انصارو په سترګو کښې څهٔ عیب هم وي. هغه سړي اووے مالیدلې ده حضرت ﷺ اوفرمائیل په څومره باندے؟ هغهٔ اووے په څلور اوقیه سپینو زرو باندے. حضرت ﷺ اوفرمائیل په څلور اوقیو باندے. لکه چه تاسو خلق د دے غر نه سپین زر کنئ او راوړئ (یعني هر کله چه تاسو دومره زیات مهر مقرره وئ) او زمونږ سره نشته دے چه مونږ ئې تاسو له درکړو مګر اوس مونږ د یو لښکر سره تا رالیږو چه په هغې کښې به تا ته د غنیمت حصه میلاؤ شي او د قبیله بني عبس په طرف حضرت ﷺ

---

[1]: د دے حدیث نه معلومه شوه چه د شوال یعني ورو کي اختر په میاشت کښې عقد او همبستري کول مستحب او مبارك دي. او ځنې جاهلان شرك شعار چه د دے نه منحوس دي هغه پخپله منحوس مکهي چوس بلکه متیاپوس دي او د هغوي عقیده د جاهلیت د ښنو نه ده

بَعَثَا اِلَى بَنِي عَبْسٍ بَعَثَ ذٰلِكَ الرَّجُلَ فِيهِمْ

بَابُ الصَّدَاقِ وَجَوَازِ كَوْنِهِ تَعْلِيمَ قُرْآنٍ وَخَاتَمَ حَدِيدٍ وَغَيْرَ ذٰلِكَ

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ جِئْتُ أَهَبُ لَكَ نَفْسِي فَنَظَرَ إِلَيْهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَعَّدَ النَّظَرَ فِيهَا وَصَوَّبَهُ ثُمَّ طَأْطَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ فَلَمَّا رَأَتِ الْمَرْأَةُ أَنَّهُ لَمْ يَقْضِ فِيهَا شَيْئًا جَلَسَتْ فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكَ بِهَا

لښکر اولیږلو او د هغې سره ئې هغه سړے هم اولیږلو[۱].

باب: د مَهر بیان او په مهر کښې د قرآن د تعلیم او د اوسپنې د کړئ وغیره د جائز کیدو بیان

د سهل بن سعد ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ له یوه ښځه راغله او عرض ئې اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زۀ ددے دپاره حاضره شوے یم چه خپل ځان تاته هبه کړم (په دے کښې دد ے آیت طرفته اشاره ده وَامْرَاَةً مُؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ. یعنی کچرے یوه مومنه ښځه لوېخښي خپل ځان نبی ﷺ ته کچرے نبی ﷺ اراده اوکړی د هغې سره د نکاح او دا خاص دی تا لره نۀ نورو مؤمنانو لره (او ددے نه جواز د هبے خاص د حضرت ﷺ دپاره ثابت شو) بیا رسول الله ﷺ هغې ته د خپو نه واخله د سر پورے ښۀ په غور سره اوکتل او بیائے سر مبارك ښکته کړو. او هر کله چه ښځے اولیدل چه حضرت ﷺ څۀ حکم اونۀ کړو نو کیښناسته او یو صحابی

---

[۱] یعنی د انصارو د ښځو سترګو کیدے شی چه وړے وی یا په هغې کښې شین والے دی. او ددے حدیث نه معلومه شوه چه د خیر خواهئ دپاره داسے خبره کول روا دی او په غیبت کښې داخل نۀ دی کوم چه منع دے. او دا هم معلومه شوه چه د کومې ښځے سره د نکاح اراده وی د هغې لیدل مستحب دی او دغه مذهب دے زموږ او د مالكؒ او ابوحنیفهؒ او تولو کوفیانو او جماهیر علماؤ د مالكؒ او احمدؒ او جمهورو دادے چه په لیدو کښې ددغه ښځی رضا ضروری نۀ ده. بلکه د غفلت یعنی بے پروایئ په وخت کښې ناکح یعنی نکاح کونکے هغې لره لیدے شی او زموږ د ملګرو په نز مستحب دی چه مخکښې د پیغام ورکولو نه هغې لره اووینی. ددے دپاره چه روستو د پیغام ورکولو نه څۀ د ناخوښئ صورت پیدا نۀ شی. او د اهم زموږ د ملګرو په نز مستحب دی. او کچرے نکاح کونکے ئې پخپله نۀ شی لیدے نو څوك معتبره ښځه د ور اولیږی چه هغه ئې پخپله اووینی او دۀ لره خبر ورکړی او دا چه کوم حضرت ﷺ اوفرمائیل چه تاسو لکه چه سپین زر په غر کښې کنئ او راوړئ دا لکه حضرت ﷺ ددغه سړی په نسبت د مهر زیاتوالے مکروه اوګڼړو ځکه چه هغه مفلس وو ددے نه معلومه شوه چه مهر د سړی د حیثیت موافق مقررول پکار دی. او نیت ئې د ادا کولو ایخودل پکار دی. نۀ داسے لکه څنګه چه زموږ په ملك کښې د جاهلانو عادت دے چه سوه من چربی د ماشی چون چون ګاډی په مهر کښې اړدی او بیا تر مرګ پورے ورنکړی دا سخت جهالت او حماقت دے. دغه شان مضمون دے د نووی ؒ سره د لنډوالی او لږ شان تغیر.

حَاجَةٌ فَزَوِّجْنِيهَا فَقَالَ فَهَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ فَقَالَ لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ اذْهَبْ إِلَى أَهْلِكَ فَانْظُرْ هَلْ تَجِدُ شَيْئًا فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللهِ مَا وَجَدْتُ شَيْئًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْظُرْ وَلَوْ خَاتِمًا مِنْ حَدِيدٍ فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ وَلَا خَاتِمًا مِنْ حَدِيدٍ وَلَكِنْ هٰذَا إِزَارِي قَالَ سَهْلٌ مَا لَهُ رِدَاءٌ فَلَهَا نِصْفُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَصْنَعُ بِإِزَارِكَ إِنْ لَبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ وَإِنْ لَبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ مِنْهُ شَيْءٌ فَجَلَسَ الرَّجُلُ حَتَّى إِذَا طَالَ مَجْلِسُهُ قَامَ فَرَآهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوَلِّيًا فَأَمَرَ بِهِ فَدُعِيَ فَلَمَّا جَاءَ قَالَ مَاذَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ قَالَ مَعِي سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا عَدَّدَهَا فَقَالَ تَقْرَؤُهُنَّ عَنْ ظَهْرِ قَلْبِكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ اذْهَبْ فَقَدْ مُلِّكْتَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ هٰذَا حَدِيثُ ابْنِ أَبِي حَازِمٍ وَحَدِيثُ يَعْقُوبَ يُقَارِبُهُ فِي اللَّفْظِ

پلسیدو او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله کچرے تلسو ته دے حاجت نه وی نو ځما سره ئے عقد اوکړئ حضرت ﷺ اوفرمائیل ستا سره څه شته؟ هغهٔ عرض اوکړو چه نشته په الله قسم دے اے د الله رسوله حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه ته خپل کور ته لاړ شه او اوګوره کیدے شی که څه درته میلاؤ شی. بیا هغه لاړو او واپس راغے او عرض ئے اوکړو چه په الله قسم دے ما خو څه اونه موندل. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه لاړ شه او ګوره اګر که د اوسپنے ګوتمه وی هغه بیا لاړو او واپس راغے او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ﷺ د اوسپنے هغه ګوته هم نشته دے. مګر دا ځما لنګ دے. سهل وائی چه د هغه غریب سره څادر هم نه وو پس نیم د هغے نه دد ے ښځے شو رسول الله ﷺ اوفرمائیل ستا لنګ به ستا څهٔ کار اوباسی چه کچرے ته هغه واغوندے نو په هغے باندے به څهٔ نهٔ وی. او کچرے هغے واغستو نو په تا باندے به څهٔ نهٔ وی. بیا هغه سړے کیښناستو (یعنی خفه شو تردے پورے چه څهٔ وخت کیښناستو نو بیا پاسیدو او رسول الله ﷺ ورته چه اوکتل نو هغه پسته روان وو. نو حضرت ﷺ حکم اوکړو او هغه ئے رااوغوښتو هر کله چه راغے نو حضرت ورته اوفرمائیل چه تا ته څهٔ قرآن یاد دے؟ هغهٔ عرض اوکړو چه ما ته فلانے فلانے سورت یاد ے. او هغه سورتونو لره شمار کړل. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ته دغه قرآن د خپلو یادو نه لوستلے شے؟ هغهٔ عرض اوکړو چه آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه خه ما دا ستا مملوك کړه (یعنی په نکاح مے کړه درته په عوض د هغه قرآن کښ کوم چه تا ته یاد دے (یعنی دا سورتونه دے ښځے ته یاده وه دا ستا مهر دے) دا روایت دے د ابن ابی حازم او د یعقوب د روایت الفاظ هم ددے نږدے نږدے دی.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ يَزِيدُ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ زَائِدَةَ قَالَ انْطَلِقْ فَقَدْ زَوَّجْتُكَهَا فَعَلِّمْهَا مِنَ الْقُرْآنِ

د سهل نه په څو سندونو سره دغه مضمون روایت شوے دے. زیاتوالے کمے بعضے د دوی نه په بعضو نورو باندے. او د زائده په روایت کښې داسے دی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل څه ما ستا عقد ددے سره اوکړو او ته دے ته قرآن اوښایه (یعنی کوم چه تا ته یاد دے)[1].

---

[1] : سُبحٰن الله ددے حدیث نه کمال د ساده ګئ او بے تکلفئ د صحابؤ معلوم شو. او خصوصیت د رسول الله کوم چه په آیت کښې پورته ذکر شو چه بغیر د مهر نه د هغوی نکاح صحیح ده. او د حضرت ﷺ نه سوا کچرے بل څوك بغیر د مهر نه نکاح اوکړی نو مهر مثل به پرے راځی. او حضرت ﷺ چه کوم د هغے طرفته اوکتل ددےنه معلومه شوه چه ناکح لره څوك چه د نکاح اراده لری هغهٔ له لیدل د هغے ښځے روا دی. او ددے نه معلومه شوه چه ښځه کهٔ چرے یو نیك او صالح سړی ته د خپل ځان د نکاح کولو دپاره عرض اوکړی نو دا مستحب دی. او دا د ټولو اُمت د عالمانو او فاضلانو دپاره عام او د صالحینو دپاره عام دی او ددے نه دا هم معلومه شوه چه هر کله څوك سوال کونکے داسے سوال اوکړی چه ستا نه د هغے پوره کیدل نهٔ شی کیدے نو چپ پاتے کیدل پکار دی. چه هغه سؤال کونکے په دے پوهه شی چه ددے سوال د پوره کیدو ددهٔ نه امکان نشته . غرض دا چه چپ کیدل د جواب ورکولو نه اولی دی خکه چه په جواب ورکولو کښې خفګان راځی. او ددے نه دا هم معلومه شوه چه د ښځے د نکاح په وخت ددے خبرے تپوس کول ضروری نهٔ دی چه هغه په عدت کښې ده یا نهٔ ده. او حضرت ﷺ چه کوم د اوسپنے د کړئ پیدا کولو اووے ددے نه معلومه شوه چه مستحب داده چه د نکاح په وخت د مهر ذکر اوکړے شی خکه چه په دے کښې د جدائئ پره باقی نهٔ پاتے کیږی. او د ښځے پرے تسلی کیږی او د ښځے دپاره نفع هم ده خکه چه کهٔ چرے مخکښې د صحبت نه طلاق ورکړے شی نو نیم مهر به دی ته میلاویږی. او معلومه شوه چه مهر لږ او ډیر هم کیدےشی خو چه په هغے ناکحین راضی شی. خکه چه د اوسپنے کړه د کمے نه کمه ده. او دغه مذهب دی د شافعیؤ او د جمهورو علماؤ د سلف نه د خلف پورے. او دغه قول دے د ربیعه او ابوالزناد او ابن ابی ذئب او یحییٰ بن سعید او لیث بن سعد او ثوری او اوزاعی او د مسلم بن خالد خنجی او ابن ابی لیلی او د داؤد او د ټولو اهل حدیث فقهاؤ او د ابن وهب چه د مالکی ملګرونه دی. او قاضی عیاض ؒ وئیلی دی چه دا مذهب د کافه علماؤ دے یعنی د حجاز والاؤ او د مصر والاؤ او کوفیانو او شامیانو وغیره نورو چه د ناوے او ځنغول راضی کیدل شرط دی په هغه مهر باندے خواه کهٔ یوه لخته یا د څپلو یوه جوړه یا د اوسپنے کړه یا د تانبے پیسه ولے نهٔ وی. او امام مالك ؒ وئیلی دی چه د څلورو دینارو نه کم نهٔ وی چه هغه نصاب سرقه دے. او قاضی عیاض ؒ وئیلی ؒ دی چه امام مالك ؒ په دے قول کښې یواځے دے او امام بوحنیفه ؒ او د هغوی ملګرو وئیلی دی چه د کم نه کم د هغے حد دوه سوه درهمه دے چه تقریباً پاؤکم دریو روپو ته نزدے کیږی. او ابن شبرمه ؒ وئیلی دی چه کم ازکم پنځهٔ درهمه دی چه د غلا نصاب دے د غل نه د لاس پریکولو ددے دواړو په نز او نخعی د څلویښتو درهمونه کم مکروه ګڼړلی دی. او یو ځل ئے لس درهمه هم وئیلی دی. او ددے نه معلومه شوه چه یوه کړئ هم د اوسپنے په مهر کښې کافی کیږی. او نهٔ شی مقابل کیدے رائے د هیچا او نهٔ قول د هیڅ چا د رسول الله ﷺ د قول او فعل سره.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ ﷺ كَمْ كَانَ صَدَاقُ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَتْ كَانَ صَدَاقُهُ لِأَزْوَاجِهِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً وَنَشًّا قَالَتْ أَتَدْرِي مَا النَّشُّ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَتْ نِصْفُ أُوقِيَّةٍ فَتِلْكَ خَمْسُ مِائَةِ دِرْهَمٍ فَهَذَا صَدَاقُ رَسُولِ اللهِ ﷺ لِأَزْوَاجِهِ

د ابوسلمه نه روایت دے وائی چه ما د حضرت عائشے صدیقے بی بی د نبی ﷺ نه تپوس اوکړو چه د رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو مهر څهٔ وو نو هغوی اوفرمائیل چه دولس اوقیه او نش. هغوی اوئیل تاته پته ده نش څهٔ شے دے نو ما اووے نه نو حضرت عائشے اوفرمائیل دا نیمه اوقیه وی نو دا پنځهٔ سوه درهمه شو. نو د امهر دے د رسول الله ﷺ د خپلو پاکو بیبیانو دپاره.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عَلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَثَرَ صُفْرَةٍ فَقَالَ مَا هَذَا قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ فَبَارَكَ اللهُ لَكَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ

د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د زیړوالی اثر په عبد الرحمٰن بن عوف باندے اولیدهٔ او اوئے فرمائیل دا څهٔ دی؟ هغوی عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ ما د یوے ښځے سره نکاح کړے ده د کهجورو د یوے دکے تو کرئ سرو زرو په مهر باندے. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی دِ ئے ستا دپاره مبارک کړی ولیمه اوکړه اګر کهٔ په یوه بزه وی[1]

د قرآن په تعلیم باندے اجرت اخستل صحیح دی

پس هیڅکله مؤمن تابعدار د سنتو له د هغه قولو نو په طرف نظر کول نهٔ دی پکار چه هغه د رسولِ معصوم ﷺ مخالف وی او دغه صحابی چه کوم عرض اوکړو چه په الله قسم دے یا رسول الله ﷺ دد ے نه معلومه شوه چه بے ضرورت او بغیر د طلب نه هم قسم خوړل صحیح دی صرف د خبری د تاکید دپاره. او دد ے نه ثابته شوه چه د مفلس نکاح کول صحیح دی. او دد ے نه ثابته شوه چه تعلیم د قرآن مهر مقررول صحیح دی. او نفع اخستل په تعلیم باندے روا دی. او دا دواړه حکمه جائز دی. او دغه مذهب دے د امام شافعی او مجتهدینو، محدثینو او د متبعین سنت. او دغه قول دے د عطاء او حسن بن صالح او مالک او اسحٰق وغیره نورو نه. او مردود دے قول د هغه خلقو چه هغه ددی نه منع کوی. او دد ے حدیث د هغوی قول رد کړے دے. او دغه شان بل حدیث چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دے چه د تولو نه زیات مستحق د اُجرت اخستلو د الله کتاب دے. او قاضی عیاض ونیلی دی اُجرت اخستل د قرآن په تعلیم باندے د تولو علماؤ په نز روا دی سوا د ابوحنیفه نه

[1]: هغه اثر وو د څهٔ خوشبوئ د زعفرانو چه هغه سړو له لګول حرام دی. او ښځو له صحیح دی. او خنو ونیلی دی چه د وادهٔ د خلعی دپاره صحیح دی او یقین دے چه هغه دیر لږ وی څاڅکے څاڅکے یا د دغے دپاره حضرت ﷺ منع نهٔ ده فرمائیلے لکه څنګه چه ئے د زعفرانو نه منع فرمائیلی ده. او دا هم احتمال دے چه کید ے شی هغه په کپړو کښې وو د هغوی په بدن باندے نهٔ وو. او مذهب د امام

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ تَزَوَّجَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ

د انس نه روایت دے وائی چه عبد الرحمٰن بن عوف وئیلی دی چه رسول الله ﷺ په ما باندے د وادهٔ خوشحالی اولیده او ما ورته عرض اوکړو چه ما نکاح کړے ده د انصارو د یوے ښځے سره په یو نواة. د اسحاق په روایت کښې دی چه یو نواة د سروزرو نه[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ تَزَوَّجَ امْرَأَةً عَلٰى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ

د انس بن مالک نه روایت دے چه جناب عبد الرحمٰن بن عوف نکاح کړے وه د یوے ښځے سره د سرو زرو د نواة په وزن.

بَابُ فَضِيْلَةِ إِعْتَاقِهِ أَمَتَهُ ثُمَّ يَتَزَوَّجُهَا

باب: خپلے وینځے لره آزادول بیا ورسره د نکاح کولو فضیلت

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ جهاد اوکړو په

مالک او د هغوی دملګرو دادے چه په جامه زعفران صحیح دی. او امام مالک دے لره د مدینے د علماؤ نه نقل کړی دی. او دغه مذهب دے د ابن عمر وغیره او د شافعی او ابوحنیفه په نزد د سړی له روا نهٔ دی.

د لفظ د نواة تحقیق او د ولیمے بیان:

د نواة وزن کوم چه په حدیث کښې راغلی دے. د نواة نه مراد یا خو د کهجورو تو کړئ ده یا یو معروف وزن دے لکه اوقیه وغیره او خنو وئیلی دی چه د نواة وزن د سرو زرو پنځهٔ درهمه دی. او قاضی عیاض وئیلی دی چه د زیاتو علماؤ دا قول دے. او احمد بن حنبل فرمائیلی دی چه هغه درے درهمه دے او د یو درهم دریمه حصه او دا هم یو قول دے چه مراد دے نه د کهجورو تو کړئ ده. او امام نووی وئیلی دی چه د سرو زرو ددغه پنځو درهمو قول صحیح دے. او حضرت ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی د، تاسو له برکت درکړی. دے نه د وادهٔ خلمی ته د برکت دعا کول مستحب شو. او دولیمے دعوت سنت مستحبه شو. او امام مالک او داؤد وغیره نورو ورته واجب وئیلی دی دد ے حدیث د ظاهر نه. او دد ے په وخت کښې قاضی وئیلی دی چه مستحب دی روستو د کور والی نه. او د یو مالکی جماعت نه منقول دی چه ولیمه د عقد په وخت مستحب ده. او د طاقت لرونکو دپاره مستحب دی چه د یوے بزے نه کمه ولیمه نهٔ کوی. او په دے باندے اجماع ده چه دد ے څهٔ مقدار معین نشته دے بلکه هر څهٔ غلهٔ چه وی ولیمه پرے صحیح او صحیح کیږی. او د حضرت صفیه ولیمه بغیر د غوښے نه شوے وه. او د حضرت زینب په ولیمه کښې د رسول الله ﷺ صحابه کرام په غوښه او ډوډئ سره ماړهٔ شوی وو. او د ولیمے تکرار د دوؤ ورځو نه زیات مکروه دے.

[1]: د نواة تحقیق اوس پورته تیر شو.

وَسَلَّمَ غَزَا خَيْبَرَ قَالَ فَصَلَّيْنَا عِنْدَهَا صَلَاةَ الْغَدَاةِ بِغَلَسٍ فَرَكِبَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكِبَ أَبُو طَلْحَةَ وَأَنَا رَدِيفُ أَبِي طَلْحَةَ فَأَجْرَى نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي زُقَاقِ خَيْبَرَ وَإِنَّ رُكْبَتِي لَتَمَسُّ فَخِذَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَانْحَسَرَ الْإِزَارُ عَنْ فَخِذِ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي لَأَرَى بَيَاضَ فَخِذِ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا دَخَلَ الْقَرْيَةَ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ قَالَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَ وَقَدْ خَرَجَ الْقَوْمُ إِلَى أَعْمَالِهِمْ فَقَالُوا مُحَمَّدٌ وَاللهِ قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ وَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ قَالَ وَأَصَبْنَاهَا عَنْوَةً وَجُمِعَ السَّبْيُ فَجَاءَهُ دِحْيَةُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَعْطِنِي جَارِيَةً مِنَ السَّبْيِ فَقَالَ اذْهَبْ فَخُذْ جَارِيَةً فَأَخَذَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ فَجَاءَ رَجُلٌ إِلَى نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللهِ أَعْطَيْتَ دِحْيَةَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ سَيِّدِ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرِ مَا تَصْلُحُ إِلَّا لَكَ قَالَ ادْعُوهُ بِهَا قَالَ فَجَاءَ بِهَا فَلَمَّا نَظَرَ إِلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُذْ جَارِيَةً

خيبر باندے او مونږ خلقو د سحر مونځ په ډيره تيارۀ کښې ادا کړو. او نبی ﷺ سور شو او سور شو ابوطلحهؓ او زۀ د ابوطلحه ردیف وم (روسته وم). او روان شو نبی ﷺ د خيبر په کوڅو کښې او څما زنګون د نبی ﷺ د رورن سره لګيدلو او لنګ د رسول الله ﷺ د هغوی د ورون نه بيرته شوے وو. او ما به د هغوی د ورون سپين والے ليدۀ. بيا چه هر کله ښهر ته دننه لاړو. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل الله اکبر خراب شو خيبر مونږ چه کله کوزيږو د يو قوم په غولی کښې نو بد يږی حال د يريدونکو خلقو. دے ايت لره. إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ. نه د اخره پورې. او په دے کښې د هغه ځائے خلق خپلو خپلو کارونو ته اووتل او هغوی اووی چه محمدؐ راغے. او عبدالعزيزؒ وئيلی دی چه زمونږ خلقو دا هم اووے چه لښکر هم راغے. راوی وئيلی دی چه عرض دا چه مونږ واخستو خيبر لره په جبر او قهر سره. او قيديان خلق موجمع کړل. او دحيه راغے او عرض ئے اوکړو چه يا رسول الله ﷺ د دغه قيديانو نه يوه وينځه ماته راکړئ. حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل چه لاړ شه او يوه وينځه ترے واخله . هغوی صفيهؓ د حيی لور واخستله. او يو سړے راغے وے وئيل چه اے د الله تعالی نبیؐ تاسو دحيه له د حيی لور ورکړه چه هغه د بنی قريظه او بنی نضير سردار دے او هغه د بل چا لائقه نۀ ده سوا ستا نه .نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه را اوغواړئ هغوی لره سره د هغے وينځے. راوی وائی چه بيا هغه د هغے وينځے سره راغے. بياچه هر کله حضرت ﷺ هغے لره اوليده نو دحيهؓ ته ئے اووے چه ته يوه بله وينځه د قيديانو نه واخله ددے نه علاوه. راوی وائی چه بيا حضرت ﷺ آزده کړه صفيےؓ لره

مِنَ السَّبْيِ غَيْرَهَا قَالَ وَأَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا فَقَالَ لَهُ ثَابِتٌ يَا أَبَا حَمْزَةَ مَا أَصْدَقَهَا قَالَ نَفْسَهَا أَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا حَتَّى إِذَا كَانَ بِالطَّرِيقِ جَهَّزَتْهَا لَهُ أُمُّ سُلَيْمٍ فَأَهْدَتْهَا لَهُ مِنَ اللَّيْلِ فَأَصْبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرُوسًا فَقَالَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ شَيْءٌ فَلْيَجِئْ بِهِ قَالَ وَبَسَطَ نِطَعًا قَالَ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِالْأَقِطِ وَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِالتَّمْرِ وَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِالسَّمْنِ فَحَاسُوا حَيْسًا فَكَانَتْ وَلِيمَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او نكاح ئې ورسره اوكړه. بيا ثابت هغوى ته اووې چه اې ابوحمزه. د هغې مهر څۀ مقرر كړو؟ هغوى اووې دغه مهر وو چه هغه ئې آزاده كړه او نكاح ئې پرې اوكړه. تر دې پورې چه دغه وخت هغوى په لاره كښې وو. نو سنګار كړه هغې لره أمّ سليم او حضرت ﷺ ته ئې په شپه كښې پيش كړه. او سحر له رسول الله ﷺ د وادۀ خلمې جوړ شوې وو. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل چه د چا سره هر څۀ چه وى (يعنى د خوراك د قسمونو نه) هغه دِ راوړى او د څرمې يو دسترخوان ئې خور كړو او چا پنير راوړل شروع كړو (د ماستو وچولو نه جوړيږى) او چا كهجورى راوړې او چا غوړى راوړل دې تولو لره ئې په مبنلو سره ښۀ ميلاؤ كړل. او دا وليمه شوه د رسول الله ﷺ [1].

[1]: خيبريانو وئيلى دى محمد والخميس يعنى محمد او لښكر راغې. او خميس لښكر ته په دې وجه وائى چه د هر لښكر پنځۀ ټكړې وى. يوه مقدمه چه هغه مخكښې روانه وى. دويمه ساقه چه هغه روستو راروانه وى. دريمه ميمنه چه دا ښى طرفته وى. او څلورمه ميسره چه دا ګس طرفته وى. پنځم قلب چه په مينځكښې وى او حاكم هم په دغې كښې وى. د صفيې نوم څنې وائى چه زينب وو بيا د قيد نه پس چونكه حضرت ﷺ په قيديانو كښې وانړوله ددې وجې نه صفيه شو (يعنى انړولې شوې) او حضرت ﷺ چه هر كله د صفيې شرافت او حسن جمال او حسب نسب اوكتلو نو اوئې فرمائيل چه بله وينځه واخله. په دې كې لوئې مصلحت دا وو چه هسې نه چه د دحيه سره حسد اوكړى. غرض ددې تولو فسادونو ختمول په دې كښې وو چه حضرت ﷺ هغې لره په خپل خدمت كښې اوساتله. او ددې حديث نه د تنقيل اجازت ثابت شو. او تنقيل دا دې چه د لښكريانو نه يو كس ته د غنيمت د حصې نه زياته په طور د انعام وركول. او آزاده ئې كړه او نكاح ئې ورسره اوكړه ددې په معنو كښې اختلاف دې يوه داده چه هغې لره ئې تبرعًا خاص د الله د رضا دپاره لزاده كړې وه. او د هغې په رضامندئ سره ئې بغير د مهر نه په نكاح كړې وه. او دا د حضرت ﷺ د خصائصو نه وه چه هغوى ته بغير د مهر نه نكاح كول جائز وو چه نۀ د عقد په وخت ئې د مهر ضرورت وو او نۀ د عقد نه پس په خلاف د نورو خلقو چه هغوى له صحيح نۀ دى. او دا معنې محققينو وئيلې دى. او نورو خلقو وئيلى دى چه شرط ئې اوكړو د هغوى سره چه مونږ به تا آزاده كړو او تۀ به زمونږ سره نكاح اوكړې. غرض دا چه په دې شرط سره چه هر كله هغوى آزاده شوه نو د شرط پوره كول ضرورى شو. او د علماؤ په دې كښې اختلاف دې چه اوس كچرې څوك خپله وينځه آزاده كړى په دې شرط باندې چه د هغې سره به نكاح كوى او دغه ازادول به د هغې مهر اوګرځوى نو ددې څۀ حكم دې؟ جمهورو وئيلى دى چه كچرې په دې شرط ئې آزاده كړى. نو هغې له دا لازم نۀ دى چه ددغه

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الَّذِي يُعْتِقُ جَارِيَتَهُ ثُمَّ يَتَزَوَّجُهَا لَهُ أَجْرَانِ

د حضرت ابوموسیٰؓ نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل څوک چه آزاده کړی خپلے وینځے لره او بیا د هغے سره نکاح اوکړی هغهٔ له دو چند ثواب دے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنْتُ رِدْفَ أَبِي طَلْحَةَ يَوْمَ خَيْبَرَ وَقَدَمِي تَمَسُّ قَدَمَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأَتَيْنَاهُمْ حِينَ بَزَغَتِ الشَّمْسُ وَقَدْ أَخْرَجُوا مَوَاشِيَهُمْ وَخَرَجُوا بِفُؤُوسِهِمْ وَمَكَاتِلِهِمْ وَمُرُورِهِمْ فَقَالُوا مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ قَالَ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ قَالَ وَهَزَمَهُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَوَقَعَتْ فِي سَهْمِ دِحْيَةَ جَارِيَةٌ جَمِيلَةٌ

د انسؓ نه روایت دے چه زهٔ د ابوطلحه ردیف وم د خیبر په ورځ او قدم به ځما د رسول اللهﷺ د قدم سره لګیدو. بیا هر کله چه نمر رااوختو نو مونږ د اهل خیبر خواه ته اورسیدو. او دغه خلقو چارپایانو لره راویستلی وو. او هغوی خپلے کُدالۍ او توکرۍ او ګینتری واخستے او وتل. او دائے وئیل چه محمد او لښکر (یعنی دواړه راغلهٔ) راوی وائی چه جناب رسول اللهﷺ اوفرامائیل خراب شو خیبر او هر کله چه مونږ کوزیږو د یو قوم په غولی کښِ نو د یریدلو خلقو ډیر بد انجام جوړیږی او الله تعالیٰ هغوی له شکست ورکړو او د دحیه په حصه کښِ یوه ښکلے وینځه راغله. او واخسته هغے لره رسول اللهﷺ د اوؤ سرو په بدله کښِ او بیائے هغے لره اُمِّ سلیم ته اوسپارله چه هغه هغے لره سنبال کړی او

سرِی سره نکاح هم اوکړی. او دا شرط صحیح نهٔ دے او د امام مالکؒ او شافعیؒ او ابوحنیفهؒ او محمد بن حسنؒ دغه قول دے او د زفر هم. چنانچه امام شافعیؒ وئیلی دی چه کچرے ده په دے شرط باندے آزاده کړه او هغے دا شرط قبول کړو نو آزاده شوه او په دغه ښځه باندے لازم نهٔ دی چه ددغه سړی سره نکاح اوکړی. بلکه ښځے له ضروری ده چه خپل قیمت ادا کړی ځکه چه هغه په خپله ازادئ باندے مفت راضی شوے نهٔ ده. بیا کچرے هغه راضی شوه او په څهٔ قدرے مهر باندے په نکاح شوه. نو په ښځه باندے د قیمت ادا کول ضروری دی او په سړی باندے مهر ادا کول کوم چه مقرر شوے وی خواه کهٔ لږ وی یا ډیر. او کهٔ د هغے په قیمت باندے ئے نکاح کړے وه او قیمت دواړو ته معلوم وو نو مهر صحیح دے نهٔ د خاوند په ذمه ادا کول شته او نهٔ د ښځے په ذمه او کهٔ قیمت معلوم نهٔ وی نو په دے کښِ دوه قولو نه دی. اول دا چه مهر ئے صحیح شو. لکه څنګه چه د معلوم په صورت کښِ وو. دویم قول دا دے چه دا مهر صحیح نهٔ دے بلکه نکاح صحیح ده او مهر مثل لازم دے. او دغه قول صحیح دے او جمهور هم دے په طرف تلی دی. او سعید بن مسیبؒ او حسنؒ او نخعیؒ او زهریؒ او ثوریؒ او اوزاعیؒ او ابو یوسفؒ او احمدؒ او اسحاقؒ وئیلی دی چه جائز دی دا په دے شرط باندے چه ددهٔ سره به نکاح کوی. او ددهٔ دغه ازادول دے مهر کیدے شی. او لازم دی په دغه ښځه باندے چه ددے سړی سره نکاح اوکړی. او دا مهر صحیح دے په ظاهر نظر دے حدیث او دغه مذهب ځما په نه نز زیات صفا غوره او قوی دے.

فَاشْتَرَاهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ بِسَبْعَةِ أَرْؤُسٍ ثُمَّ دَفَعَهَا إِلَى أُمِّ
سُلَيْمٍ تُصَنِّعُهَا لَهُ وَتُهَيِّئُهَا قَالَ وَأَحْسِبُهُ
قَالَ وَتَعْتَدُّ فِي بَيْتِهَا وَهِيَ صَفِيَّةُ بِنْتُ
حُيَيٍّ قَالَ وَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِيمَتَهَا التَّمْرَ وَالْأَقِطَ
وَالسَّمْنَ فُحِصَتِ الْأَرْضُ أَفَاحِيصَ
وَجِيءَ بِالْأَنْطَاعِ فَوُضِعَتْ فِيهَا وَجِيءَ
بِالْأَقِطِ وَالسَّمْنِ فَشَبِعَ النَّاسُ قَالَ وَقَالَ
النَّاسُ لَا نَدْرِي أَتَزَوَّجَهَا أَمِ اتَّخَذَهَا أُمَّ
وَلَدٍ قَالُوا إِنْ حَجَبَهَا فَهِيَ امْرَأَتُهُ وَإِنْ لَمْ
يَحْجُبْهَا فَهِيَ أُمُّ وَلَدٍ فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَرْكَبَ
حَجَبَهَا فَقَعَدَتْ عَلَى عَجُزِ الْبَعِيرِ فَعَرَفُوا
أَنَّهُ قَدْ تَزَوَّجَهَا فَلَمَّا دَنَوْا مِنَ الْمَدِينَةِ
دَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَدَفَعْنَا قَالَ فَعَثَرَتِ النَّاقَةُ الْعَضْبَاءُ
وَنَدَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَنَدَرَتْ فَقَامَ فَسَتَرَهَا وَقَدْ أَشْرَفَتِ
النِّسَاءُ فَقُلْنَ أَبْعَدَ اللهُ الْيَهُودِيَّةَ قَالَ
قُلْتُ يَا أَبَا حَمْزَةَ أَوَقَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِي وَاللهِ لَقَدْ وَقَعَ
قَالَ أَنَسٌ وَشَهِدْتُ وَلِيمَةَ زَيْنَبَ فَأَشْبَعَ
النَّاسَ خُبْزًا وَلَحْمًا وَكَانَ يَبْعَثُنِي فَأَدْعُو

د حضرت ﷺ دپاره هغې لره تیاره کړي. او راوي وائي چه زۀ ګمان کوم
چه حضرتؓ دا دے وئیلي دي چه هغه به په کور کښې عدت پوره کړي (یعنې د یو حیض سره چه د هغوي استبراء اوشي
کوم چه د وینځې حکم دے) او دا صفیه لور وه د حیي او رسول الله ﷺ د
هغوي ولیمه اوکړه په کهجوره او پنیر او غوړو سره. او په زمکه کښې ئې
شو دوغلي اوکنستلې (دوغلي ئې خکه اوکنستلې چه غوړي د دستر
خوان نه اخوا دیخوا او نه بهیږي) او پنیر او غوړي ئې راوړل او په هغې
کښې ئې واچول او خلقو بنه په مړه ګیډه اوخوړلو او خلقو اووے چه مونږ
پوهه نهٔ یو چه حضرتؓ د هغوي سره نکاح اوکړه یائې هغې لره اُمّ ولده
جوړه کړه. بیا خلقو اووے چه کچرے حضرت ﷺ دے لره پټه کړه نو دا
اوګنړئ چه د هغوي بي بي ده. او کهٔ پټه ئې نهٔ کړه نو پوهه شئ چه اُمّ ولده
ده. بیا چه هر کله حضرت ﷺ سوریدلو نو په هغوي باندے ئې پرده
اوکړه او هغه د اوښ په کناتو باندے کیښناسته نو خلق پوهه شو چه
نکاح ئې ورسره کړے ده. بیا چه هر کله مدینے ته نژدے اورسیدل نو زر
زر شړلو رسول الله ﷺ اوښانو لره. او مونږ هم زر زر شړل چه په دے کښې
عضباء اوښې تندك اوخوړلو. (دا د رسول الله ﷺ د اوښې نوم دے) او
رسول خدا ﷺ او صفیه اوغورځیدل. بیا حضرت ﷺ پاځیدو او په هغوي
باندے پرده اوکړه. او ښځو ورته کتل او وئیل ئې الله د لرے کړي
یهودیه لره. راوي وائي ما اووے چه اے ابوحمزه ولے رسول الله ﷺ
اوغورځیدو؟ او انس وائي چه زۀ د مؤمنانو د مور حضرت زینب په
ولیمه کښې هم حاضر وم او حضرت ﷺ خلقو لره په ډوډۍ او غوښه سره
خوشحاله کړي او ماړهٔ کړي وو. او زۀ به حضرتؐ لیږلم چه خلق دعوت
ته راواوغواړم. بیا چه هر کله حضرت ﷺ د خوړلو نه فارغ شو نو

النَّاسَ فَلَمَّا فَرَغَ قَامَ وَتَبِعْتُهُ فَتَخَلَّفَ رَجُلَانِ اسْتَأْنَسَ بِهِمَا الْحَدِيثُ لَمْ يَخْرُجَا فَجَعَلَ يَمُرُّ عَلَى نِسَائِهِ فَيُسَلِّمُ عَلَى كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ كَيْفَ أَنْتُمْ يَا أَهْلَ الْبَيْتِ فَيَقُولُونَ بِخَيْرٍ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ وَجَدْتَ أَهْلَكَ فَيَقُولُ بِخَيْرٍ فَلَمَّا فَرَغَ رَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ فَلَمَّا بَلَغَ الْبَابَ إِذَا هُوَ بِالرَّجُلَيْنِ قَدِ اسْتَأْنَسَ بِهِمَا الْحَدِيثُ فَلَمَّا رَأَيَاهُ قَدْ رَجَعَ قَامَا فَخَرَجَا فَوَاللهِ مَا أَدْرِي أَنَا أَخْبَرْتُهُ أَمْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ بِأَنَّهُمَا قَدْ خَرَجَا فَرَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي أُسْكُفَّةِ الْبَابِ أَرْخَى الْحِجَابَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ وَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى هٰذِهِ الْآيَةَ لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمُ الْآيَةَ

اودريدو او زۀ د هغوی نه روستو شوم او دوه کسان د هغوی په حجره کښې پاتې شو (يعنی کوم ځائې چه زينب وه) او هغه په خبرو سره مشغول وو او هغه را اونۀ وته بيا حضرت ﷺ د خپلو بيبيانو حجروته تلو او په هره يوه باندې به ئې سلام کولو او فرمائيل به ئې چه اې د کور خاوندانو تاسو څنګه يئ؟ هغوی به وئيل چه اې د الله رسوله موږ په خيريت سره يو او تاسو خپله بی بی څنګه اوموندله؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل چه په خير سره ده. بيا چه هر کله حضرت ﷺ د تلولو د خير او عافيت نه اوزګار شو. نو واپس شو او زۀ هم د هغوی سره واپس شوم او هر کله چه دروازې ته رااورسيدو نو اوئې کتل چه هغه دوه کسان موجود دی. او په خبرو کښې مشغول دی. بيا چه هر کله دوارو اوکتل چه حضرت ﷺ واپس شو نو اودريدل او بهر رااووتل. بيا په الله قسم دې ماته ياد نۀ دی چه ما حضرت ﷺ ته خبر ورکړو يا په هغوی باندې وحی نازله شوه چه هغه دوه کسان لاړل. او حضرت ﷺ واپس راغې (يعنی د زينب کوټې ته) او زۀ هم د هغوی سره راغلم. بيا چه هر کله حضرت ﷺ د دروازې په چوکاټ باندې خپه کيښوده نو پرده ئې اوکړه ځما او د خپل ځان په مينځ کښې. او دا ايت مبارك نازل شو: "چه مۀ داخليږئ تاسو د نبی په کور کښې مګر هر کله چه تاسو ته د هغوی د طرفنه اجازت اوشی."

عَنْ أَنَسٍ قَالَ صَارَتْ صَفِيَّةُ لِدِحْيَةَ فِي مَقْسَمِهِ وَجَعَلُوا يَمْدَحُونَهَا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَيَقُولُونَ مَا رَأَيْنَا فِي السَّبْيِ مِثْلَهَا قَالَ فَبَعَثَ إِلَى دِحْيَةَ فَأَعْطَاهُ بِهَا مَا أَرَادَ ثُمَّ دَفَعَهَا إِلَى أُمِّي فَقَالَ

د انس نه روايت دې چه هغوی وائی چه صفيه د دحيه کلبی په حصه کښې راغلې وه. او خلقو د هغې صفتونه د رسول الله ﷺ په مخکښې شروع کړل او وئيل ئې چه موږ په قيديانو کښې د دې برابر يو ښځه هم نۀ ده ليدلې. پس حضرت ﷺ دحيه ته قاصد اوليږو او د هغې په بدله کښې څۀ چه هغوی غوښتل حضرت ﷺ

أَصْلِحِيهَا قَالَ ثُمَّ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَيْبَرَ حَتَّى إِذَا جَعَلَهَا فِي ظَهْرِهِ نَزَلَ ثُمَّ ضَرَبَ عَلَيْهَا الْقُبَّةَ فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ فَضْلُ زَادٍ فَلْيَأْتِنَا بِهِ قَالَ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِفَضْلِ التَّمْرِ وَفَضْلِ السَّوِيقِ حَتَّى جَعَلُوا مِنْ ذَلِكَ سَوَادًا حَيْسًا فَجَعَلُوا يَأْكُلُونَ مِنْ ذَلِكَ الْحَيْسِ وَيَشْرَبُونَ مِنْ حِيَاضٍ إِلَى جَنْبِهِمْ مِنْ مَاءِ السَّمَاءِ قَالَ فَقَالَ أَنَسٌ فَكَانَتْ تِلْكَ وَلِيمَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا قَالَ فَانْطَلَقْنَا حَتَّى إِذَا رَأَيْنَا جُدُرَ الْمَدِينَةِ هَشِشْنَا إِلَيْهَا فَرَفَعْنَا مَطِيَّنَا وَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَطِيَّتَهُ قَالَ وَصَفِيَّةُ خَلْفَهُ قَدْ أَرْدَفَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَعَثَرَتْ مَطِيَّةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصُرِعَ وَصُرِعَتْ قَالَ فَلَيْسَ أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ يَنْظُرُ إِلَيْهِ وَلَا إِلَيْهَا حَتَّى قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَتَرَهَا قَالَ فَأَتَيْنَاهُ فَقَالَ لَمْ نُضَرَّ قَالَ فَدَخَلْنَا الْمَدِينَةَ فَخَرَجَ جَوَارِي نِسَائِهِ يَتَرَاءَيْنَهَا وَيُشْمِتْنَ بِصَرْعَتِهَا

ورکړو او صفیه ئې د هغوی نه واخسته او خما مورته ئې ورکړه (یعنی أم سلیم ته) او ورته ئې اورمائیل چه دا سنبال کړه. وائی چه بیا رااووتو رسول الله ﷺ د خیبر نه تردې پورې چه هر کله خیبر شاته پاتې شو نو کوز شو او د هغوی د پاره ئې خیمه اولګوله بیا چه هر کله سحر شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د چا سره د حاجت نه سوا توښه وی هغه خما خواله راوړی. پس چا کهجورې چه د حاجت نه چه کومې زیاتې وې راوړل شروع کړل چا ستوان راوړل شروع کړل. تردې پورې چه د ګډې وډې غلې یو ډهیرې جوړ شو. او ټولو خلقو د هغې نه خوړل شروع کړل. او اوبۀ به ئې څښکلې یو ډډې ته چه کوم حوض وو د باران د اوبو د هغې نه انس وائی دا ولیمه وه د رسول الله ﷺ په صفیه باندې. وائی چه بیا مونږ لاړو تردې پورې چه اولیدل مونږه د مدینې دیوالونه او مشتاقه شو مونږ د هغې. او مونږ خپلې سورلۍ تیزې کړې. او رسول الله ﷺ هم خپله سورلۍ په منډه کړه او صفیه د هغوی سره شاته ناسته وه. پس د رسول الله ﷺ اوښې تندك اوخوړۀ او رسول الله ﷺ اوغورځیدۀ او هغه هم اوغورځیده. او چا بنده په دغه وخت نۀ د هغوی په طرف کتل او نۀ د صفیې په طرف کتل تردې پورې چه اودریدۀ رسول الله ﷺ او هغه ئې پټه کړه. بیا مونږ خلق راغلو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل مونږ ته څۀ تکلیف نۀ دې رارسیدلې. بیا مونږ په مدینه کښې داخل شو. او چوکرې (یعنی وینځې د حضرت ﷺ د بیبیانو راووتې او صفیې ته ئې کتل او د هغې په غورځیدو ئې ملامتیا وئیله[1].

[1] په پورته روایتونو کښې چه کوم راغلی دی چه صحابه کرامو اووې چه که چرې حضرت ﷺ صفیه پټه کړه نو پوهه شه چه بی بی ې

بَاب زَوَاجِ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَنُزُولِ الْحِجَابِ وَإِثْبَاتِ وَلِيمَةِ

عَنْ أَنَسٍ وَهٰذَا حَدِيثُ بَهْزٍ قَالَ لَمَّا انْقَضَتْ عِدَّةُ زَيْنَبَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِزَيْدٍ فَاذْكُرْهَا عَلَيَّ قَالَ فَانْطَلَقَ زَيْدٌ حَتَّى أَتَاهَا وَهِيَ تُخَمِّرُ عَجِينَهَا قَالَ فَلَمَّا رَأَيْتُهَا عَظُمَتْ فِي صَدْرِي حَتَّى مَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَنْظُرَ إِلَيْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَهَا فَوَلَّيْتُهَا ظَهْرِي وَنَكَصْتُ عَلَى عَقِبِي فَقُلْتُ يَا زَيْنَبُ أَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُكِ قَالَتْ مَا أَنَا بِصَانِعَةٍ شَيْئًا حَتَّى أُوَامِرَ رَبِّي فَقَامَتْ إِلَى مَسْجِدِهَا وَنَزَلَ الْقُرْآنُ وَجَاءَ رَسُولُ

باب: نكاح د زينب رضی الله عنها او د پردے نازليدل او د وليمے بيان

د انس نه روايت دے د بهز راوی نه چه هر کله پوره شو عدت د زينب (يعنی د زيد د طلاق ورکولو نه پس) نو رسول الله ﷺ زيد ته اوفرمائيل چه د هغے سره څما ذکر اوکړه. او زيد او لاړو تر دے پورے چه د هغے خواته اورسيدو او هغے د خپلو اوړونه خمير جوړولو. زيد وائی چه ما هر کله هغه اوليده نو څما په زړه کښې د هغے لوئی تر دے پورې راغله چه ما د هغے طرفته کتلے نۀ شو څکه چه رسول الله ﷺ ياده کړے وه (دا کمال د ايمان خبره وه. او ډيره د خوش قسمتۍ خبره وه چه د زيد په زړۀ کښې په د خيال سره چه رسول الله ﷺ دے ته پيغام راکړے دے دومره قدر او عظمت او هيبت پريوتو چه کتلے ئے ورته نۀ شو (افسوس دے چه دد ے زمانے خلقو ته د رسول الله ﷺ د حديثو د لوئے والی او عظمت هډو څۀ خيال نۀ راځی او بے تکلفه د دروغو په تاويلونو کښې لګيا دی او دا خيال نۀ کوی چه دا خاص د هغه ژبے ترجمان وحی نه وتلے دے د چا په شان کښې چه "وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحٰى" نازل دے) غرض دا

ده. دد ے نه مالکی مذهب وغيره نورو استدلال کړے دے. چه نکاح بغير د ګواهانو نه هم روا ده. چه هر کله ئے اعلان اوکړے شی. څکه چه کچرے حضرت ﷺ د صفيې په نکاح باندے ګواه نيولے وے نو صحابه کرام به خبر وو و دا مذهب دے د يو جماعت د صحابو او تابعينو چه نکاح بغير د ګواهانو نه روا ده هر کله چه د هغے نه پس اعلان اوکړے شی. او دغه مذهب دے د زهری او مالك او د اهل مدينه چه هغوی اعلان ته شرط وئيلے دے نه ګواهانو ته. او د صحابه کرامو د يو جماعت او تابعينو وينا ده چه شرط د نکاح ګواهی ده نۀ اعلان. او دا مذهب دے د اوزاعی او ثوری او شافعی او ابوحنيفه او احمد وغيره نورو. او دے ټولو خلقو ګواهی د دوو عادلانو شرط کړے ده په خلاف د ابوحنيفه چه د هغوی په نز د دوو فاسقانو په ګواهئ هم نکاح صحيح کيږی. او په دے باندے د امت اجماع ده. چه کچرے په پټه ئے نکاح اوکړه بغير د ګواهئ نه يعنی نه ئے اعلان اوکړو او نۀ ئے ګواهی نو نکاح صحيح نۀ شوه. او کۀ چرے په پټه ئے نکاح اوکړه مګر دوه پکښې ګواهان شو نو د جمهورو په نز دا صحيح ده په خلاف د امام مالك چه هغه ورته صحيح نۀ وائی.

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ عَلَيْهَا بِغَيْرِ إِذْنٍ قَالَ فَقَالَ وَلَقَدْ رَأَيْتَنَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْعَمَنَا الْخُبْزَ وَاللَّحْمَ حِينَ امْتَدَّ النَّهَارُ فَخَرَجَ النَّاسُ وَبَقِيَ رِجَالٌ يَتَحَدَّثُونَ فِي الْبَيْتِ بَعْدَ الطَّعَامِ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاتَّبَعْتُهُ فَجَعَلَ يَتَتَبَّعُ حُجَرَ نِسَائِهِ يُسَلِّمُ عَلَيْهِنَّ وَيَقُلْنَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ وَجَدْتَ أَهْلَكَ قَالَ فَمَا أَدْرِي أَنَا أَخْبَرْتُهُ أَنَّ الْقَوْمَ قَدْ خَرَجُوا أَوْ أَخْبَرَنِي قَالَ فَانْطَلَقَ حَتَّى دَخَلَ الْبَيْتَ فَذَهَبْتُ أَدْخُلُ مَعَهُ فَأَلْقَى السِّتْرَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ وَنَزَلَ الْحِجَابُ قَالَ وَوُعِظَ الْقَوْمُ بِمَا وُعِظُوا بِهِ زَادَ ابْنُ رَافِعٍ فِي حَدِيثِهِ لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ إِلَى قَوْلِهِ وَاللهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ

چه ما ورته یاد کړه. او عرض مے او کړو چه اے زینبؓ رسول اللهﷺ پیغام رالیږلے دے او هغوی تا یاده وی (یعنی د نکاح پیغام ئے راکړے دے) هغوی اوفرمائیل چه زۀ یو کار هم نۀ کوم د کومے پورے چه مے د خپل پروردګار نه مشوره اخستے نۀ وی (یعنی استخاره مے نۀ وی کړی) او په دغه وخت هغوی د خپل مانځۀ په ځائے باندے اودریده واه د مسلمانانو مور الله د په تا باندے رحمت اوکړی) قرآن نازل شو او رسول اللهﷺ د هغے خواته بغیر د اجازت نه داخل شو (یعنی دا آیت نازل شو "زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ" یعنی واده کړه مونږ زینب تاته دد ے دپاره چه مؤمنانو ته حرج نۀ وی د خپلو پالونکو بیبیانو سره په نکاح کولو کښې هر کله چه هغوی خپل حاجت د هغوی نه پوره کړی) راوی وائی ما خپلو تولو خلقو ته کتل چه رسول اللهﷺ په مونږ ډوډۍ او غوښه اوخوړه ترد ے پورے چه ورځ رااوخته او خلق د خوراك څکاك نه پس بهر راووتو او څو تنه سړی دننه پاتے شو چه هغوی د خلوړلو څکلو نه پس په کور کښې خبرے کولے. او رسول اللهﷺ راووتو او زۀ هم د هغوی پسے راووتم. او حضرتﷺ به د خپلو بیبیانو حجرو ته تلو او په هغوی به ئے سلام کولو. او هغوی به عرض کولو چه یا رسول اللهﷺ تاسو خپلے بی بی لره څنګه اوموندہ (یعنی زینب لره) بیا راوی وائی چه زۀ نۀ پوهیږم چه هغوی ما خبر کړو یا هغوی زۀ خبر کړم چه هغه خلق لاړل بیا حضرتﷺ تشریف یوړو ترد ے پورے چه داخل شو په کور کښې او زۀ هم د هغوی سره دننه تلم چه هغوی خما او په خپل مینځ کښې پرده اوکړه او د پرے دے آیت نازل شو او خلقو ته نصیحت اوکړے شو او ابن رافع دا هم زیاته کړے ده په خپل روایت کښې چه دا آیت نازل شو د لَا تَدْخُلُوا نه تر آخره پورے یعنی مۀ داخلیږئ په کورونو د نبیﷺ کښې مګر هله چه

اجازت اوشی تاسو ته د خوړلو او مه نظر کوئ د هغوی لوخوته تردے پورے چه الله پاك فرمائی الله شرم نه کوی په حقه خبره کښې[1]

عَنْ أَنَسٍ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي كَامِلٍ سَمِعْتُ أَنَسًا قَالَ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ أَوْلَمَ عَلَى امْرَأَةٍ وَقَالَ أَبُو كَامِلٍ عَلَى شَيْءٍ مِنْ نِسَائِهِ مَا أَوْلَمَ عَلَى زَيْنَبَ فَإِنَّهُ ذَبَحَ شَاةً

د حضرت انس نه روایت دے. وائی چه ما نه دے لیدلے رسول الله ﷺ لره چه د یوے ښځے ولیمه ئے داسے کړے وی لکه د زینب چه ئے کړے وه. حضرت ﷺ د هغوی دپاره یوه ګډه ذبح کړے وه.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُولُ مَا أَوْلَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ مِنْ نِسَائِهِ أَكْثَرَ أَوْ أَفْضَلَ مِمَّا أَوْلَمَ عَلَى زَيْنَبَ فَقَالَ ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ بِمَا أَوْلَمَ قَالَ أَطْعَمَهُمْ خُبْزًا وَلَحْمًا حَتَّى تَرَكُوهُ

د انس نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ خومره ښځ یا اوئے فرمائیل خومره زیاته ولیمه د حضرت زینب اوکړه دومره د بلے یوې بی نه ده کړے. ثابت بنانی وائی. د څۀ څیز نه ئے ولیمه اوکړه؟ نو هغوی اووے چه غوښه او ډوډۍ ئے اوخوروله تردے پورے چه هغوی ماړۀ شو او پریخوده ئے.

---

[1]: ددے حدیث مبارك نه د سنتو تابعدارو ته څو مسئلے معلومے شوے اول دا چه یو سړے د سابقه خاوند په ذریعه سره ښځے ته د نکاح پیغام لیږلے شی. کۀ دا معلومه وی چه هغه په دے سره نلخفه کیږی لکه څنګه چه د زید حال وو. دویمه دا معلومه شوه چه د صحابو په زړۀ کښې لوئے عظمت وو د رسول الله ﷺ چه صرف یواځے په پیغام ورکولو سره د زید په زړۀ کښې د زینب هیبت او ادب ځائے اونیوو . او دغه شان عظمت پکار دے هر مؤمن لره چه هر کله د حضرت ﷺ قول وفعل او تقریر اوری چه زړۀ ئے رپیږی او سوا د درود او سلام نه ئے نور څۀ په زړۀ کښې نۀ راځی. او کچرے داسے کار نه وی نو تش د ایمان نوم دے. دریمه دا چه د استخارے مونځ مستحب دے چه هیڅوك دِ هم یو غټ کار بغیر ددے نه نۀ کوی. او دُعا د استخارے په حدیثو کښې راغلی ده هغه دِلولی چه الله تعالی په هغے کښې برکت واچوی. او په بخاری کښې روایت شوی دی چه رسول الله ﷺ به مونږ ته په هر کار کښې استخاره ښودله . څلورم دا چه صرف خولے د خونی (مُتَبنَّی) حکم غیر دے او د هغۀ ښځه په شان د غیر ښځی ده. چه پالونکی ته د هغے سره نکاح صحیح ده هر کله چه مخکښنے خاوند ورله طلاق ورکړی. پنځم فضیلت د دویم نکاح ثابت شو چه الله تعالی پخپله د هغے بانی مبانی او قاضی لاثانی شو. شپږم فضیلت د مؤمنانو د مور حضرت زینب ثابت شو چه د هغے نکاح الله تعالی پخپله د آسمانونو نه اوچت په عرش کښې اوتړله او جبرئیل امینؑ د هغے خبر راوړو. او جناب د مؤمنانو مور به اکثر په دے فخر کولو. اووم دا ثابته شوه چه د رسول الله ﷺ نکاح بغیر د ګواهانو او بغیر د ولی نه صحیح ده. ځکه چه د حضرت ﷺ دعوے ته د ګواه ضرورت نشته ځکه چه حضرت ﷺ اصدق الصادقین دے او دغه مذهب صحیح دے د شافعیو . او حضرت ﷺ پخپله ولی دے د ټولو مؤمنانو سړو او ښځو او دا خاصه وه د حضرت ﷺ .

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمَّا تَزَوَّجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ دَعَا الْقَوْمَ فَطَعِمُوا ثُمَّ جَلَسُوا يَتَحَدَّثُونَ قَالَ فَأَخَذَ كَأَنَّهُ يَتَهَيَّأُ لِلْقِيَامِ فَلَمْ يَقُومُوا فَلَمَّا رَأَى ذٰلِكَ قَامَ فَلَمَّا قَامَ قَامَ مَنْ قَامَ مِنَ الْقَوْمِ زَادَ عَاصِمٌ وَابْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى فِي حَدِيثِهِمَا قَالَ فَقَعَدَ ثَلَاثَةٌ وَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ لِيَدْخُلَ فَإِذَا الْقَوْمُ جُلُوسٌ ثُمَّ إِنَّهُمْ قَامُوا فَانْطَلَقُوا قَالَ فَجِئْتُ فَأَخْبَرْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ قَدِ انْطَلَقُوا قَالَ فَجَاءَ حَتَّى دَخَلَ فَذَهَبْتُ أَدْخُلُ فَأَلْقَى الْحِجَابَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ قَالَ وَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ إِلَى قَوْلِهِ إِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللهِ عَظِيمًا

د انس بن مالک نه روایت دے وائی چه هر کله نکاح اوکړه نبی ﷺ د زینب بنت جحش سره نو خلق ئے رااوغوښتل او غلّه ئے پرے اوخوړه. بیا هغوی کیښناستل خبرے ئے کولے. پس حضرت ﷺ به تیار شو لکه چه دے اودریږی. بیا هم هغه خلق نه پاڅیدو. بیا چه هر کله حضرت ﷺ اولیدل (چه دوی نه پاڅی) نو حضرت پاڅیدو او د هغه خلقو نه څۀ خلق پاڅیدو. او عاصم او ابن عبد الاعلی په خپلو روایتونو کښې دا خبره زیاته کړے ده چه درے سړی د هغوی نه ناست پاتے شو. او نبی ﷺ تشریف راوړو چه دننه راشی. نو اوئے لیدل چه خلق ناست دی بیا هغه خلق پاڅیدل او لاړل. او زۀ راغلم حضرت ﷺ ته مے خبر ورکړو چه هغوی لاړل. او حضرت ﷺ راغے او په کور کښې داخل شو. پس زۀ هم د هغوی سره کورته داخلیدم نو حضرت ﷺ خما او په خپل مینځ کښې پرده اوکړه. او الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو "اے ایمان والاؤ مۀ داخلیږئ په کورونو د نبی ﷺ کښې مگر هر کله چه اجازت میلاؤ شی تاسو ته د خوراک کولو. او انتظار مۀ کوئ د هغے د پخیدو د عِنْدَ اللهِ عَظِيمًا پورے. یعنی پوره آیت د عِنْدَ اللهِ عَظِيمًا پورے نازل شو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَنَا أَعْلَمُ النَّاسِ بِالْحِجَابِ لَقَدْ كَانَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ يَسْأَلُنِي عَنْهُ قَالَ أَنَسٌ أَصْبَحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرُوسًا بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ قَالَ وَكَانَ تَزَوَّجَهَا بِالْمَدِينَةِ فَدَعَا النَّاسَ لِلطَّعَامِ بَعْدَ ارْتِفَاعِ النَّهَارِ فَجَلَسَ رَسُولُ

د انس بن مالک نه روایت دے وائی چه زۀ د ټولو نه زیات د پردے د نازلیدو په باره کښې خبر یم. او ابی بن کعب به خما نه تپوس کولو بیا انس وائی چه سحر کړو رسول الله ﷺ د وادۀ زلمے جوړ شوے د زینب بنت جحش سره او د هغے سره ئے نکاح کړے وه. حضرت ﷺ په مدینه کښې او خلق ئے د خوراک دپاره رااوبلل کله چه ورځ رااوخته نو حضرت ﷺ هم کیښناستۀ او څۀ خلق هم د هغوی سره روستو ددے نه

اللهِ وَجَلَسَ مَعَهُ رِجَالٌ بَعْدَ مَا قَامَ الْقَوْمُ حَتَّى قَامَ رَسُولُ اللهِ فَمَشَى فَمَشَيْتُ مَعَهُ حَتَّى بَلَغَ بَابَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ ثُمَّ ظَنَّ أَنَّهُمْ قَدْ خَرَجُوا فَرَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ فَإِذَا هُمْ جُلُوسٌ مَكَانَهُمْ فَرَجَعَ فَرَجَعْتُ الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ حُجْرَةَ عَائِشَةَ فَرَجَعَ فَرَجَعْتُ فَإِذَا هُمْ قَدْ قَامُوا فَضَرَبَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ بِالسِّتْرِ وَأَنْزَلَ اللهُ آيَةَ الْحِجَابِ

چه ټول خلق لاړل او هغه خلق تردے پورے ناست وو چه رسول الله ﷺ پاځیدو او لاړو. او زۀ هم د هغوی سره لاړم تردے پورے چه د حضرت عائشے دروازے ته اورسیدو بیائے خیال اوکړو چه هغه خلق به تلی وی او حضرت ﷺ واپس شو او زۀ هم د هغوی سره واپس شوم نو څۀ گورو چه هغه خلق بیا هم په هغه ځائے ناست دی. حضرت ﷺ بیا واپس شو او زۀ هم په دویم ځل واپس شوم تردے پورے چه د حضرت عائشے حجرے ته اورسیدو. او بیا واپس شو او زۀ هم واپس شوم. پس څۀ گورو چه هغه خلق تلی دی. او حضرت ﷺ زما او په خپل مینځ کښې پرده واچوله او ایت د پردے نازل شو[1].

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ تَزَوَّجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ بِأَهْلِهِ قَالَ فَصَنَعَتْ أُمِّي أُمُّ سُلَيْمٍ حَيْسًا فَجَعَلَتْهُ فِي تَوْرٍ فَقَالَتْ يَا أَنَسُ اذْهَبْ بِهٰذَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْ بَعَثَتْ بِهٰذَا إِلَيْكَ أُمِّي وَهِيَ تُقْرِئُكَ السَّلَامَ وَتَقُولُ إِنَّ هٰذَا لَكَ مِنَّا قَلِيلٌ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَذَهَبْتُ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ إِنَّ أُمِّي تُقْرِئُكَ السَّلَامَ وَتَقُولُ إِنَّ هٰذَا لَكَ مِنَّا قَلِيلٌ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ ضَعْهُ ثُمَّ قَالَ اذْهَبْ فَادْعُ لِي فُلَانًا

د انس بن مالك نه روایت دے وائی چه نکاح اوکړه رسول الله ﷺ او داخل شو د خپلے بی بی خواته. او زما مور ام سلیم څۀ چُرې جوړه کړه. او په خانك کښې ئے کیښوده. او اوئے وئیل چه اے انسه دا یوسه د رسول الله ﷺ خواله (ددے نه ثابته شوه چه د وادۀ خلقو له خوراك لیږل چه هغۀ ته په ولیمه کښې مدد شی مستحب دی) او عرض اوکړه چه دا زما مور ستاسو په خدمت کښې رالیږلی دی او سلام ئے عرض کړے دے او عرض کوی چه ستاسو په خدمت کښې دا ډیره لږه هدیه ده زمونږ د طرفنه اے د الله رسوله! انس وائی بیا ما هغه رسول الله ﷺ ته اورسوله او هغوی ته مے عرض اوکړو چه زما مور ستاسو په خدمت کښې زۀ رالیږلے یم او سلام ئے وئیلے دے او عرض کوی چه دا زمونږ د

---

[1]: دا د رسول الله د اخلاقو کمال وو چه باوجود ددے چه حضرت ته د هغوی د کیښناستو سخت تکلیف اورسیدو مگر په ژبه ئے دا نه فرمائیل چه تاسو پاځئ. او خدائے خبر چه داسے تکلیفونه به هغوی ته څو ځله میلاؤ شوی وی. او هغوی به چپ وو تردے پورے چه پروردگار بندوبست اوکړو.

وَفُلَانًا وَفُلَانًا وَمَنْ لَقِيتَ وَسَمَّى رِجَالًا قَالَ فَدَعَوْتُ مَنْ سَمَّى وَمَنْ لَقِيتُ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسٍ عَدَدَ كَمْ كَانُوا قَالَ زُهَاءَ ثَلَاثِ مِائَةٍ وَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَنَسُ هَاتِ التَّوْرَ قَالَ فَدَخَلُوا حَتَّى امْتَلَأَتِ الصُّفَّةُ وَالْحُجْرَةُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَتَحَلَّقْ عَشَرَةٌ عَشَرَةٌ وَلْيَأْكُلْ كُلُّ إِنْسَانٍ مِمَّا يَلِيهِ قَالَ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا قَالَ فَخَرَجَتْ طَائِفَةٌ وَدَخَلَتْ طَائِفَةٌ حَتَّى أَكَلُوا كُلُّهُمْ فَقَالَ لِي يَا أَنَسُ ارْفَعْ قَالَ فَرَفَعْتُ فَمَا أَدْرِي حِينَ وَضَعْتُ كَانَ أَكْثَرَ أَمْ حِينَ رَفَعْتُ قَالَ وَجَلَسَ طَوَائِفُ مِنْهُمْ يَتَحَدَّثُونَ فِي بَيْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ وَزَوْجَتُهُ مُوَلِّيَةٌ وَجْهَهَا إِلَى الْحَائِطِ فَثَقُلُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَى نِسَائِهِ ثُمَّ رَجَعَ فَلَمَّا رَأَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ رَجَعَ ظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ ثَقُلُوا عَلَيْهِ قَالَ فَابْتَدَرُوا الْبَابَ فَخَرَجُوا كُلُّهُمْ وَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى

طرفنه ستاسو په جناب مبارك كښې ډيره لږه شان هديه ده. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه كيږده. او اوئې فرمائيل چه لاړ شه او فلانے فلانے سړے خما خواته راوله او څوك چه درسره ميلاويږى هغه هم راوله او د څو كسانو نومونه ئې واخستل پس ما هغه هم رااوبلل د كومو نومونه چه حضرتؐ اخستى وو. او په لار كښې چه څوك ميلاؤ شو هغه هم. ما انس ته اووے چه بيا هغوى تول په شمار كښې څومره وو؟ هغوى اووے چه درے سوؤ ته نژدے وو. او ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه اے انسؓ هغه خانك راوړه. او هغه خلق دننه راغلل تردے پورے چه صُفّه او حجره دواړه ډك شو (صفه هغه ځائے چه د كوره بهر د ميلمنو دپاره جوړ شى چه هغے ته بيټك وئيلے شى) بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د لسو لسو كسانو حلقه دِ جوړولے شى (يعنى چه هغه خوراك اوكړى بيا به نور لس كيښنئ) او پكار ده چه هر سړے دِ خپلے مخے ته خورى (يعنى د غلے سر دِنۀ ماتوى چه بركت ددغه ځائے نه نازل شوے دے) او هغه خلقو ددے پورے او خوړه چه تول ماړۀ شو. او يو جماعت به خوړه هغه به تلو او دويم به راتلو تردے پورے چه تولو خلقو اوخوړه. بيائے ما ته او فرمائيل چه انسه (لوخے) اوچته كړه. او ما چه دغه لوښے اوچتوؤ نو دا راته نۀ معلوميده چه هر كله چه ما دا لوښے ايخودو غله په كښې زياته وه يا چه كله ما اوچت كړو په دے كښې غله زياته وه. او څنے خلق په خوړو خبرو ناست وو د رسول الله ﷺ په كور كښې. او رسول الله ﷺ ناست وو او د هغوى بى بى صاحبه (يعنى د مومنانو مور زينب) د ديوال طرفته مخ كړے ناسته وه. او د هغه خلقو كيښناستل

أَرْخَى السِّتْرَ وَدَخَلَ وَأَنَا جَالِسٌ فِي الْحُجْرَةِ
فَلَمْ يَلْبَثْ إِلاَّ يَسِيرًا حَتَّى خَرَجَ عَلَيَّ
وَأُنْزِلَتْ هٰذِهِ الآيَةُ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَرَأَهُنَّ عَلَى النَّاسِ يَا
أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ
إِلاَّ أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ
وَلٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ
فَانْتَشِرُوا وَلاَ مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذٰلِكُمْ
كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ إِلَى آخِرِ الآيَةِ قَالَ الْجَعْدُ
قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَا أَحْدَثُ النَّاسِ عَهْدًا
بِهٰذِهِ الآيَاتِ وَحُجِبْنَ نِسَاءُ النَّبِيِّ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا تَزَوَّجَ النَّبِيُّ ﷺ زَيْنَبَ
أَهْدَتْ لَهُ أُمُّ سُلَيْمٍ حَيْسًا فِي تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ
فَقَالَ أَنَسٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اذْهَبْ فَادْعُ
لِي مَنْ لَقِيتَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَدَعَوْتُ لَهُ
مَنْ لَقِيتُ فَجَعَلُوا يَدْخُلُونَ عَلَيْهِ فَيَأْكُلُونَ
وَيَخْرُجُونَ وَوَضَعَ النَّبِيُّ ﷺ يَدَهُ عَلَى الطَّعَامِ
فَدَعَا فِيهِ وَقَالَ فِيهِ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُولَ وَلَمْ
أَدَعْ أَحَدًا لَقِيتُهُ إِلاَّ دَعَوْتُهُ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا
وَخَرَجُوا وَبَقِيَ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ فَأَطَالُوا عَلَيْهِ

حضرت ﷺ ته ناخوښه شو او حضرت ﷺ را اووتو او خپلو بيبيانو ته ئے سلام اوکړو او بيا واپس راغے. بيا چه هر کله دغه خلقو رسول الله ﷺ اوليدو چه په دوی باندے موښږ بوجهـ شو نو زر دروازے ته لاړل او بهر اووتل ټول. او رسول الله ﷺ راغے ترد ے پورے چه حضرت ﷺ پرده جوړه کړه او کورته داخل شو. او زۀ په حجره کښې ورته ناست وم. بيا به لږ شان ساعت شوے وو چه حضرت ﷺ څما طرفته رااووتو او دا آيتونه نازل شو. او رسول الله ﷺ بهر ته رااووتو او په خلقو باندے ئے لوستل د يَا أَيُّهَا الَّذِينَ نه واخله د آخره پورے. جعد کوم چه راوی دے هغوی وائی چه انس وئيلی دی د ټولو نه مخکښې دا آيتونه ما اوريدلی دی. او ما ته رارسيدلی دی. او په پرده کښې اوسيدل شروع کړل بيبيانو د رسول الله ﷺ [1].

د انس نه روايت دے وائی چه هر کله نکاح اوشوه د نبی ﷺ د زينب سره نو اُم سليم د هغوی دپاره چُوری په هديه کښې اوليږله د کټے په يو لوښی کښې. او انس ؓ وئيلی دی چه نبی ﷺ ما ته اوفرمائيل چه لاړ شه کوم مسلمانان چه تاته ميلاويږی هغه راوله. پس ما ته چه څوک ميلاويدل هغه مے راوستل او هغه خلق ټول راتلل او خوراک به ئے خوړو او وتل به. او نبی کريم ﷺ خپل مبارک لاس په غله باندے کيښودو او دُعائے اوکړه او اولوستل ئے په هغے باندے څۀ چه الله غوښتل. او ما هم چه څوک

[1]: په دے حديث کښې لويه معجزه ده د رسول الله ﷺ چه د يو يا دوه کسانو په غله کښې درے سوه کسان ماړه او خوشحاله شو. او لوئے فضيلت دے پکښې د مومنانو د مور زينب ؓ چه د پردے آيت د دے د عقد په زمانه کښې نازل شو.

الْحَدِيثَ فَجَعَلَ النَّبِيُّ ﷺ يَسْتَحْيِي مِنْهُمْ أَنْ يَقُولَ لَهُمْ شَيْئًا فَخَرَجَ وَتَرَكَهُمْ فِي الْبَيْتِ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ قَالَ قَتَادَةُ غَيْرَ مُتَحَيِّنِينَ طَعَامًا وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا حَتَّى بَلَغَ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ

راته میلاویدهٔ هیڅوك مے پرے نهٔ ښودهٔ ضرور مےراوستهٔ. او ټولو ښه اوخوړه تردے پورے چه ماړهٔ شو او بهر ته اووتل او یو جماعت د هغوی نه ناست پاتے شو او ډیرے اوږدے خبرے ئے شروع کړے. او نبی ﷺ به د هغوی نه شرمیدهٔ چه هغوی ته څهٔ اووائی بیا حضرت ﷺ رااووتو او هغوی ئے پکور کښې پریخودل نو الله تعالی هغه آیتونه نازل کړل کوم چه پورته ذکر شو.

بَابُ الْأَمْرِ بِإِجَابَةِ الدَّاعِي إِلَى دَعْوَةٍ

باب: د دعوت د قبلولو حکم

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کلهٔ چه چا ته د ولیمے دعوت ورکړے شی نو ضرور د راځی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيُجِبْ قَالَ خَالِدٌ فَإِذَا عُبَيْدُ اللهِ يُنَزِّلُهُ عَلَى الْعُرْسِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله په تاسو کښې څوك د ولیمے طرفته رااوغوښتے شی نو پکار ده چه قبول ئے کړی. راوی وائی چه عبید الله ددے نه د نکاح د ولیمے مراد اخلی[1].

---

[1]: نووی وئیلی دی چه د عوت د خوړلو په فتح د دال دے او دعوت د نسب په کسر د دال دے. دا قول دے د جمهورو عربو. او د ولیمے په دعوت کښې تلل مامور به. خو بالاتفاق دے. مګر دا امر د وجوب دپاره دے یا د استحباب دپاره په دے کښې اختلاف دے. او اصح مذهب د شافعیو دا دے چه هغه فرض عین دے په هر سړی باندے چا له چه دعوت ورکړے شي. مګر دومره ده چه حاضری هلته کښې معاف کیدے شی په سبب د هغه عذرونو کوم چه خلق ذکر کوی. او دویم قول دا دے چه مستحب دے. او دا حکم دے د نکاح د ولیمے. او باقی دعوتونه کوم ددے نه علاوه دی په هغے کښې دوه قولونه دی. اول دا چه هغه هم پشان د ولیمے دی. دویم دا چه هغه مستحب دی او قبلول د هغے د استحباب نه زیات یعنی مخکښې نهٔ دی. او قاضی عیاض اتفاق د علماؤ په دے باندے ذکر کړے دے چه واجب دی قبلول د ولیمے. او ددے نه سوا د امام مالك او جمهورو قول دے چه اجابت ددے واجب نهٔ دے او د اهل ظاهرو قول دے چه اجابت د هر دعوت واجب دے خواه کهٔ دعوت د ولیمے وی یا علاوه ددے نه وی. او دغه د ځنے سلفو قول کیږی دادی چه د بلونکی په مال کښې (د حرام والی) شبه وی. یا خاص د غنیانو دعوت وی. یا هلته یو داسے سړی وی چه هلته په حاضریدو

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ائْتُوا الدَّعْوَةَ إِذَا دُعِيتُمْ

د ابن عمر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه څئ تاسو د عوت له هر کله چه اوغوښتے شئ.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُولُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُجِبْ عُرْسًا كَانَ أَوْنَحْوَهُ

د نافع نه روایت دے چه ابن عمر د نبی ﷺ نه روایت کولو چه هر کله اوغواړی څوك خپل رور لره نو پکار ده چه قبوله کړی د هغهٔ بلنه کهٔ د وادهٔ وی یا د بل څهٔ کار ددے په شان وی.

عَنْ نَافِعٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَجِيبُوا هٰذِهِ الدَّعْوَةَ إِذَا دُعِيتُمْ لَهَا قَالَ وَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ يَأْتِي الدَّعْوَةَ فِي الْعُرْسِ وَغَيْرِ الْعُرْسِ وَيَأْتِيهَا وَهُوَ صَائِمٌ

د نافع نه روایت دے وائی چه ما د عبد الله بن عمر نه اوریدلی دی چه وئیل ئے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل قبلوئ تاسو دعوت لره هر کله چه اوبللے شئ. او عبد الله به دعوت له راتلو کهٔ ولیمه به وه خواه یا کهٔ غیر ولیمه اگر کهٔ روژه دار به وو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دُعِيتُمْ إِلَى كُرَاعٍ فَأَجِيبُوا

د ابن عمر نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی کچرے تاسو اوغوښتے شئ د بزی د نوك په طرف نو هم ئے قبلوئ[1].

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى طَعَامٍ فَلْيُجِبْ فَإِنْ شَاءَ طَعِمَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ الْمُثَنَّى إِلَى طَعَامٍ

د جابر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه څوك د طعام په طرف اوبللے شی نو راد شی بیائے خوښه خپله ده کهٔ خوری یا نهٔ خوری او د ابن مثنی په روایت کښ د خوراك لفظ نشته دے[2].

سره ایذا یعنی ضرر جوړیږی. یو ځائے ناسته به ددهٔ په معامله کښ ضرور کوی. یا بلونکی ددے دپاره دعوت ورکړے وی چه ددهٔ نه په څهٔ ظلم کښ مدد واخلی. یا هلته څهٔ منکرات وی لکه شراب وغیره یا ناچ رنګ یا فرش حریر یا د سرو زرو یا د سپینو زرو ئے لوښی وی. چه په دے عذرونو سره د دعوت نهٔ قبلول روا دی. او هم دغسے د هغه دعوتونو قبلول ضروری نهٔ دی چه په هغے کښ څهٔ بدعت وی. او قبلول د هغه دعوتونو حرام دی چه په هغے کښ نذر د غیر الله وی. لکه د لوئے پیر پولسم یا توښه د عبد الحق صاحب یا کندوری چه په دے کښ اکثر نذر د غیر الله وی.

[1] یعنی طعام هر څنګه قبلول ضروری دی مګر چه د حلالو وی.

[2] د دے نه معلومه شوه چه په دعوت کښ حاضریدل ضروری دی او د خوړلو اختیار دے. کهٔ خوری یا نهٔ خوری.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَلْيُجِبْ فَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيُصَلِّ وَإِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه چاته دعوت ورکړے شی نو قبلوی دے. کچرے روژه ئے وی نو دُعا د اوکړی او که روژه ئے نه وی نو اودخوری[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ بِئْسَ الطَّعَامُ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ يُدْعَى إِلَيْهِ الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْمَسَاكِينُ فَمَنْ لَمْ يَأْتِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللهَ وَرَسُولَهُ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه ناکاره خوراك د هغه ولیمے خوړل دی چه په هغے کښں مالدار رابللے شی او مسکینان نه راغواړی خو څوك چه دعوت ته حاضر نه شو هغه نافرمانی اوکړه د الله پاك او د هغه د رسول الله ﷺ

عَنْ سُفْيَانَ قَالَ قُلْتُ لِلزُّهْرِيِّ يَا أَبَا بَكْرٍ كَيْفَ هَذَا الْحَدِيثُ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْأَغْنِيَاءِ فَضَحِكَ فَقَالَ لَيْسَ هُوَ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْأَغْنِيَاءِ قَالَ سُفْيَانُ وَكَانَ أَبِي غَنِيًّا فَأَفْزَعَنِي هَذَا الْحَدِيثُ حِينَ سَمِعْتُ بِهِ فَسَأَلْتُ عَنْهُ الزُّهْرِيَّ فَقَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكٍ

د سفیان نه روایت دے وائی چه ما د زهری نه تپوس اوکړو چه دا حدیث څنګه دے چه بدتر د ټولو خوراکونو نه خوراك د غنیانو دے؟ پس هغۀ اوخندل او هغوی اووے چه هغه طعام بدتر نۀ دے. او سفیان وائی چه څما پلار غنی وو څکه ما ته په دے حدیث سره لویه پریشانی جوړه شوه هر کله چه ما واوریدل او ما د زهری نه تپوس اوکړو نو هغوی اووے چه ما ته عبد الرّحمٰن اعرج وئیلی دی چه هغوی د ابوهریره نه اوریدلی دی چه وئیلی ئے وو چه بدتر خوړل د هغه د ولیمے خوړل دی. بیائے روایت اوکړو په شان د روایت د مالك یعنی کوم چه پورته تیر شو چه هغے ته به مالداران راغوښتے شی او مسکینان به نۀ شی راغوښتے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ يُمْنَعُهَا مَنْ يَأْتِيهَا وَيُدْعَى إِلَيْهَا مَنْ يَأْبَاهَا وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللهَ وَرَسُولَهُ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه بدتر طعام د هغه ولیمے د طعام دے چه څوك هغے ته راځی هغه منع کوی. او څوك چه نۀ راځی په هغوی پسے څی راغواړی ئے. او څوك چه په دعوت سره را نۀ غے هغه نافرمانی اوکړه د الله او د هغۀ د رسول الله ﷺ[2].

---

[1]: د فَلْيُصَلِّ معنی څنو داسے وئیلے ده چه دُعا د اوکړی د صاحبِ دعوت دپاره او دغه قول قوی دے او څنو وئیلی دی چه مونځ دِ اوکړی یعنی نفل چه د کور د خاوند په کور کښں برکت شی.

[2]: یعنی داسے خلق نه راغواړی چه هغوی ته په دروغه اووائی او په رښتیا راشی. او داسے خلقو په خوشامندو پسے ګرځی راګرځی چه هغه په راتلو کښں سل نخرے کوی پوزه چونړی وی. یو ترے مفت غله خوری او بل پرے د احسان نه احسان خیژ وی.

بَابٌ لَا تَحِلُّ الْمُطَلَّقَةُ ثَلَاثًا لِمُطَلِّقِهَا حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ وَيَطَأَهَا ثُمَّ يُفَارِقَهَا وَتَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا

باب: په دريو طلاق طلاقه شوې ښځه د طلاقي دپاره حلاله نه ده ترڅو پورې هغه ښځه د بل سړي سره نكاح او كوروالې اونه كړي. د هغې نه روستو كه چرې هغه دې له طلاق وركړي او د دې عدت پوره شي نو حلاله

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَتِ امْرَأَةُ رِفَاعَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كُنْتُ عِنْدَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَنِي فَبَتَّ طَلَاقِي فَتَزَوَّجْتُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الزَّبِيرِ وَإِنَّ مَا مَعَهُ مِثْلُ هُدْبَةِ الثَّوْبِ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَتُرِيدِينَ أَنْ تَرْجِعِي إِلَى رِفَاعَةَ لَا حَتَّى تَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ وَيَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ قَالَتْ وَأَبُو بَكْرٍ عِنْدَهُ وَخَالِدٌ بِالْبَابِ يَنْتَظِرُ أَنْ يُؤْذَنَ لَهُ فَنَادَى يَا أَبَا بَكْرٍ أَلَا تَسْمَعُ هٰذِهِ مَا تَجْهَرُ بِهِ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جناب عائشې صديقې نه روايت دې وائي چه د رفاعه ښځه د نبي ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه. او عرض ئې اوكړو چه زۀ د رفاعه په نكاح كښې وم. او هغه ما ته درې طلاق راكړل بيا ما د عبد الرّحمٰن بن زبير سره نكاح اوكړه. او د هغۀ سره څۀ نشته دې سوا د كپړې د ځئ په شكل (يعنې د جماع قابل نۀ دې) پس رسول الله ﷺ نرې غوندې اوخندل (د هغې په خبره باندې چه د شرم خبره څنګه په اسانه كوي) او حضرت ﷺ اوفرمائيل چه تۀ اراده لرې چه د رفاعه په نكاح كښې بيا راشې دا خبره چرته هم نۀ كيږي د كومې پورې چه تا د دغه خاوند د جماع خوند څكلې نۀ وي او هغه ستا د جماع خوند څكلې نۀ وي جناب عائشه صديقه فرمائي چه ابوبكر د حضرت ﷺ په خواه كښې وو. او خالد بن سعيد په دروازه كښې منتظر ولاړ وو چه كۀ اجازت اوشي چه زۀ هم دننه راشم. پس خالد آواز اوكړو چه اې ابوبكر تاسو اورئ نه چه دا د رسول الله ﷺ په مخكښې څۀ چغې وهي.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْمَرْأَةِ يَتَزَوَّجُهَا الرَّجُلُ فَيُطَلِّقُهَا فَتَتَزَوَّجُ رَجُلًا فَيُطَلِّقُهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا أَتَحِلُّ لِزَوْجِهَا الْأَوَّلِ قَالَ لَا حَتَّى يَذُوقَ عُسَيْلَتَهَا

د جناب عائشې صديقې نه روايت دې فرمائي چه د رسول الله ﷺ نه چا تپوس اوكړو چه د يوې ښځې سره چا نكاح اوكړه او طلاق ئې وركړو (يعنې درې طلاق مغلظه) او بيا هغې د بل سړي سره نكاح اوكړه او هغه هم طلاق وركړو مخكښې د دخول نه. نو آيا دا په اول خاوند باندې حلاله شوه؟ يعنې د دې سره نكاح كولې شي؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل نه د

عَائِشَةَ قَالَتْ طَلَّقَ رَجُلٌ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا فَتَزَوَّجَهَا رَجُلٌ ثُمَّ طَلَّقَهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا فَأَرَادَ زَوْجُهَا الْأَوَّلُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا فَسُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ لَا حَتَّى يَذُوقَ الْآخِرُ مِنْ عُسَيْلَتِهَا مَا ذَاقَ الْأَوَّلُ

کومې پورې چه ئې د هغې شهد(خوند) نهٔ وي څکلې يعنې دويم خاوند.
د جناب عائشې صديقې نه روايت دې فرمائي چه يو سړي خپلې ښځې له درې خله طلاق ورکړل بيا د هغې ښځې چا بل کس نکاح اوکړه. او بيائې مخکښې د دخول نه طلاق ورکړو. او ړومبي خاوند ئې اراده اوکړه چه بيا ددې سره نکاح اوکړي. او د رسول الله ﷺ نه ئې معلومات اوکړل نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل نهٔ شي کيدې د کومې پورې چه دويم خاوند د هغې نه د جماع خوند نهٔ وي موندلې لکه څنګه چه ړومبي خاوند موندلې وو.[1]

بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ أَنْ يَقُولَهُ عِنْدَ الْجِمَاعِ

باب: د کوروالي په وخت څهٔ ويل مستحب دي

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْتِيَ أَهْلَهُ قَالَ بِاسْمِ اللهِ اللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا فَإِنَّهُ إِنْ يُقَدَّرْ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ فِي ذٰلِكَ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْطَانٌ أَبَدًا

د ابن عباس نه روايت دې وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه کهٔ چرې ستاسو نه څوك د جماع د ارادې په وخت د بسم الله نه د مَا رَزَقْتَنَا پورې اووائي نو کچرې الله ددۀ په تقدير کښې هلك ليکلې وي نو هغهٔ ته به شيطان ضرر نهٔ شي ورکولې. او معنې ددې دا ده چه شروع کوم په نوم د الله سره يا الله بچ کړې مونږ لره د شيطان نه او لرې اوساتې د شيطان نه زمونږ هغه اولاد نه چه ته ئې په مونږه عنايت کوې.

عَنْ مَنْصُورٍ بِمَعْنَى حَدِيثِ جَرِيرٍ غَيْرَ أَنَّ شُعْبَةَ لَيْسَ فِي حَدِيثِهِ ذِكْرُ بِاسْمِ اللهِ وَفِي رِوَايَةِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ عَنِ الثَّوْرِيِّ بِاسْمِ اللهِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ نُمَيْرٍ قَالَ مَنْصُورٌ أُرَاهُ قَالَ بِاسْمِ اللهِ

د منصور نه د جرير د حديث په شان روايت دې مګر د شعبه په روايت کښې د بسم الله لفظ نشته. او د عبدالرّزاق په روايت کښې شته. او د ابن نمير په روايت کښې دي چه منصور وئيلي دي چه زهٔ خيال کوم چه هغوي بسم الله وئيلي دي.

بَابُ جَوَازِ جِمَاعِهِ امْرَأَتَهُ فِي قُبُلِهَا مِنْ قُدَّامِهَا وَمِنْ وَرَائِهَا مِنْ غَيْرِ تَعَرُّضٍ لِلدُّبُرِ

باب: د مخکښې او روستو نه په قُبل کښې د کوروالي جواز. نهٔ چه په دُبُر کښې

[1]: دغه مذهب دې د ټولو صحابو او تابعينو او کوم چه ددوي نه پس تير شوي دي. چه چا درې طلاق ورکړل خپلې ښځې ته او هغې د بل سره نکاح اوکړه بيا چه هر کله دويم خاوند د جماع کولو نه پس طلاق نهٔ وي ورکړې تر هغې پورې د اول خاوند په نکاح کښې نهٔ شي راتلې. او کوم قول چه ددې خلاف دې شاذ او غير مقبول دې. او احاديث مخصص دي د ايت حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَه.

عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ سَمِعَ جَابِرًا يَقُولُ كَانَتِ الْيَهُودُ تَقُولُ إِذَا أَتَى الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ مِنْ دُبُرِهَا فِي قُبُلِهَا كَانَ الْوَلَدُ أَحْوَلَ فَنَزَلَتْ نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ

د ابن منكدر نه روايت دے هغه اوريدلى د جابر رضی الله عنه نه چه هغه وائى چه د يهودو قول وو چه كوم سړے جماع اوكړى د خپلے ښځے سره په قبل كښ د شا د طرفه نو ماشوم كوږ سترګے پيدا كيږى (چه يو خيز ورته دوه ښكارى) په دے باندے دا آيت نازل شو چه ښځے ستاسو پټى دى پس خپل پټى ته راتلل كوئ د كوم طرفه چه غواړئ (يعنى راتلۀ كوئ پټى ته ته او كوهى ته مۀ ورځئ او پټے هغه دے چه چرته تخم اوكړى او رااوخيژى نۀ هغه چه كوم ځائے تخم ضائع كيږى.

عَنْ جَابِرٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ وَزَادَ فِي حَدِيثِ النُّعْمَانِ عَنِ الزُّهْرِيِّ إِنْ شَاءَ مُجَبِّيَةً وَإِنْ شَاءَ غَيْرَ مُجَبِّيَةٍ غَيْرَ أَنَّ ذَلِكَ فِي صِمَامٍ وَاحِدٍ

د جابر نه دغه مضمون روايت كړے شوے دے مګر د نعمان په روايت كښ دا زيات والے دے چه د زهرى نه مروى دے چه سړے غواړى ښځے لره پړ مخے څملوى او جماع كوى يا كۀ غواړى سيدهائے څملوى مګر جماع به په يو سورى كښ كوى يعنى په قُبُل كښ[1].

بَاب تَحْرِيمِ امْتِنَاعِهَا مِنْ فِرَاشِ زَوْجِهَا

باب : په دے بيان كښ چه ښځے لره روا نۀ دى چه سړے د كوروالى نه منع كړى

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا بَاتَتِ الْمَرْأَةُ هَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ

د حضرت ابوهريره نه روايت دے چه نبى ﷺ فرمائيلى دى چه هر كله ښځه د شپے د خپل خاوند بستره پريږدى او ځانله اوده شى نو فرښتے په دغه ښځے د سحره پورے لعنت وائى[2].

---

[1]: د دے احاديثو په نظر سره او د قرآن په حكم سره چه الله تعالى فرمائى خپل پټى ته راتلۀ كوئ اتفاق كړے دے هغه ټولو علماؤ چه د هغوى اتفاق معتبر ګڼړلے شوے دے. چه په دُبر كښ جماع كول حرام دى سوا د قُبُل نه خواه كۀ حالت د حيض وى خواه كښ طهر. او په ډيرو حديثونو كښ په دُبر كښ د جماع كولو بدوالے راغلے دے. چنانچه په يو روايت كښ راغلى دى چه ملعون دے هغه كس چه هغه د خپلے ښځے خوا له ورشى د هغے په دُبر كښ . او شافعى مګرو فرمائيلى دى چه وطى په دُبر كښ مطلقًا حرام دى. خوا كۀ د سړى سره وى يا د ځاروى سره په هيڅ يو حالت كښ هم صحيح نۀ دى.

[2]: يعنى بغير د شرعى عذر نه چه د هغۀ د بسترے نه جدا اوسيږى. او په حيض كښ د بسترے نه جدا اوسيدل ضرورى نۀ دى ځكه چه خاوند لره د حيض په حالت كښ هم د نوم نه پور ته پورے د مباشرت (بدن لګول بغير د حائل نه. ۱۲) او ښكلولو اختيار شته. بيا د هغۀ د بسترے نه د جُدا اوسيدو څۀ معنى شوه.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ حَتَّى تَرْجِعَ

د شعبه نه دغه مضمون مروي دے په دے کښې دا دي چه لعنت کوي په هغې باندے فرښتے تر دے پورے چه هغه واپس د خاوند بسترے له راشي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهَا فَتَأْبَى عَلَيْهِ إِلَّا كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ سَاخِطًا عَلَيْهَا حَتَّى يَرْضَى عَنْهَا

د ابوهريره نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه قسم دے په هغه پروردګار چه څما روح د هغۀ په لاس کښې دے چه يو سړے داسے نشته چه هغه خپله ښځه خپلې بسترے طرفته رااوغواړي او هغه انکار اوکړي مګر هغه پروردګار چه هغه د آسمان دپاسه دے په دے باندے غصه کوي د کومے پورے چه هغه د دے ښځې نه راضي شوے نۀ وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَلَمْ تَأْتِهِ فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ

د ابوهريره نه روايت دے وائي چه جناب رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر کله سړے راغواړي خپلې ښځې له په خپله بستره باندے او هغه رانۀ شي او سړے غصه شي په دے باندے نو فرښتے لعنت کوي په دے باندے د سحره پورے.

بَاب تَحْرِيمِ إِفْشَاءِ سِرِّ الْمَرْأَةِ

باب: د ښځے راز ښکاره کول حرام دي

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ الرَّجُلَ يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ وَتُفْضِي إِلَيْهِ ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا

د ابوسعيد خدري نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه د ټولو نه زيات بد په خلقو کښې د الله تعالى په نز هغه سړے دے چه هغه د خپلې ښځې خواله ورشي او هغه دده خواله راشي (يعني صحبت اوکړي) او بيا د هغې راز ظاهر کړي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَعْظَمِ الْأَمَانَةِ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الرَّجُلَ يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ وَتُفْضِي إِلَيْهِ ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا وَقَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ إِنَّ أَعْظَمَ

د ابوسعيد خدري نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه لوئے امانت د الله تعالى په نز دا دے د قيامت په ورځ چه سړے د خپلې ښځې سره صحبت اوکړي او ښځه د سړي سره. او بيا هغه د هغې راز ښکاره کړي (يعني په امانتو کښې خيانت اوکړي)[1].

[1] : دد ے حديثونو نه معلومه شوه چه د صحبت په وخت چه څۀ بے تکلفي او ساده لوحي د دواړو طرفونو نه په وقوع کښې راځي او نامناسب حرکات او سکنات ښکاره کيږي د هغې ظاهرول حرام دي ځکه د اخلاف مروت او خلاف حياء دي.

بَاب حُكْمِ الْعَزْلِ

عَنِ ابْنِ مُحَيْرِيزٍ أَنَّهُ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَأَبُو صِرْمَةَ عَلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ فَسَأَلَهُ أَبُو صِرْمَةَ فَقَالَ يَا أَبَا سَعِيدٍ هَلْ سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ الْعَزْلَ فَقَالَ نَعَمْ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ بِالْمُصْطَلِقِ فَسَبَيْنَا كَرَائِمَ الْعَرَبِ فَطَالَتْ عَلَيْنَا الْعُزْبَةُ وَرَغِبْنَا فِي الْفِدَاءِ فَأَرَدْنَا أَنْ نَسْتَمْتِعَ وَنَعْزِلَ فَقُلْنَا نَفْعَلُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا لَا نَسْأَلُهُ فَسَأَلْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا عَلَيْكُمْ أَنْ لَا تَفْعَلُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ خَلْقَ نَسَمَةٍ هِيَ كَائِنَةٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا سَتَكُونُ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ قَالَ أَصَبْنَا سَبَايَا فَكُنَّا نَعْزِلُ ثُمَّ سَأَلْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ لَنَا وَإِنَّكُمْ لَتَفْعَلُونَ وَإِنَّكُمْ لَتَفْعَلُونَ وَإِنَّكُمْ لَتَفْعَلُونَ مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا هِيَ كَائِنَةٌ

عَنْ مَعْبَدِ بْنِ سِيرِينَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قُلْتُ لَهُ سَمِعْتَهُ مِنْ أَبِي سَعِيدٍ

باب : د عزل بیان

د ابن محیریز نه روایت دے چه زۀ او ابوصرمه دواړه د ابوسعید خدری خواله لاړو او ابوصرمه د هغوی نه تپوس اوکړو چه تا چرته د رسول الله ﷺ نه د عزل د ذکر کولو مطابق څۀ اوریدلی دی؟ هغوی اووے لو مونږ جهاد کړے دے د رسول الله ﷺ سره د بنی مصطلق (یعنی چه هغے ته د مریسیع غزا وائی) او د عربو د لویو شریفو کورنو ښځې قید کړے وے او مونږ ته د مودو پورے د ښځو نه جدا پاتے کیدل پریوتل. او خواهش اوکړو مونږ چه د هغه ښځو په بدله کښں د کفارو نه څۀ مال واخلو او اراده اوکړو مونږ چه د هغوی نه نفع هم اوچته کړو (یعنی صحبت اوکړو) او عزل اوکړو (یعنی انزال بهر اوکړو) دد ے دپاره چه حمل ئے نۀ شی. بیا مونږ اووے چه مونږ عزل کوو. او جناب رسول الله ﷺ زمونږ په مینځ کښں موجود دے. او مونږ د هغوی نه تپوس نۀ کوؤ چه دا څۀ خبره ده. بیا مونږ د هغوی نه تپوس اوکړو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه تاسو کچرے نۀ کوئ نو هم څۀ حرج نشته (یعنی کچرے کوئ نو هم څۀ حرج نشته) او الله تعالی چه د کوم روح پیدا کول د قیامته پورے لیکلی دی نو هغه به ضرور پیدا کیږی.

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه مونږ ته څۀ قیدیانے ښځے میلاؤ شوے نو مونږ عزل شروع کړو. بیا مونږ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو دا خامخا کوئ تاسو دا خامخا کوئ او کۀ تاسو دا نۀ کوئ او کوم روح چه پیدا کیدونکے دے د قیامته پورے هغه ضرور پیدا کیږی.

معبد بن سیرین د ابوسعید خدری نه روایت کوی. هغوی اووئیل نبی ﷺ اوفرمائیل تاسو کۀ چرے عزل نۀ کوئ نو څۀ

قَالَ نَعَمْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَلَيْكُمْ أَنْ لَا تَفْعَلُوا فَإِنَّمَا هُوَ الْقَدَرُ

حرج نشته. خکه چه دا خو د تقدير خبره ده (يعنی حمل كيدل يا نۀ كيدل)

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ بِشْرِ بْنِ مَسْعُودٍ رَدَّهُ إِلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ لَا عَلَيْكُمْ أَنْ لَا تَفْعَلُوا ذَاكُمْ فَإِنَّمَا هُوَ الْقَدَرُ قَالَ مُحَمَّدٌ وَقَوْلُهُ لَا عَلَيْكُمْ أَقْرَبُ إِلَى النَّهْيِ

عبد الرّحمٰن بن بشر د ابوسعيد خدری نه روايت كوی هغوی اووئيل چه د نبی ﷺ نه د عزل په باره كښی تپوس اوكړے شو نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه هيڅ حرج نشته كچرے عزل نۀ كوئ، خكه دا خو تقدير دے. محمد راوی وئيلی دی چه د حضرت ﷺ دا فرمائيل چه هيڅ حرج نشته كچرے عزل نۀ كوئ، دا نهی ته زيات نزدے دے (يعنی نۀ كول اولی دی)

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ بِشْرٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ فَرَدَّ الْحَدِيثَ حَتَّى رَدَّهُ إِلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ ذُكِرَ الْعَزْلُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَمَا ذَاكُمْ قَالُوا الرَّجُلُ تَكُونُ لَهُ الْمَرْأَةُ تُرْضِعُ فَيُصِيبُ مِنْهَا وَيَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ مِنْهُ وَالرَّجُلُ تَكُونُ لَهُ الْأَمَةُ فَيُصِيبُ مِنْهَا وَيَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ مِنْهُ قَالَ فَلَا عَلَيْكُمْ أَنْ لَا تَفْعَلُوا ذَاكُمْ فَإِنَّمَا هُوَ الْقَدَرُ قَالَ ابْنُ عَوْنٍ فَحَدَّثْتُ بِهِ الْحَسَنَ فَقَالَ وَاللَّهِ لَكَأَنَّ هٰذَا زَجْرٌ و

حَدَّثَنِي حَجَّاجُ بْنُ الشَّاعِرِ

عبد الرّحمٰن بن بشر انصاری د ابوسعيد خدری نه روايت كړے دے چه د رسول الله ﷺ په خواه كښی د عزل ذكر اوشو نو حضرت ﷺ اوفرمائيل تاسو دا ولے كوئ؟ صحابو عرض اوكړو چه بعضے وخت د سړی سره يوه ښځه وی او پئ ور كوی او هغه د هغے سره كوروالے كوی او يريږی چه دے ته حمل اوشی او يا كۀ د چا سره وينځه وی او هغه د هغے سره صحبت كوی او دا نۀ غواړی چه ددے د حمل اوشی. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل څۀ پرواه ده كچرے تاسو عزل نۀ كوئ. خكه چه حمل كيدل نۀ كيدل په تقدير سره دی. ابن عون وائی چه ما دا روايت حسن ته بيان كړو نو هغوی اووے چه په الله قسم په دے كښی رټنه ده په عزل كولو سره.

مسلم وئيلی دی او روايت كړے دے ماته حجاج بن شاعر هغوی ته سليمان هغوی ته حماد هغوی ته ابن عون او ابن عون وئيلی دی چه بيان كړو ما د محمد نه په واسطه د ابراهيم حديث د عبد الرّحمٰن اووے ماته هم روايت كړے دے عبد الرّحمٰن بن بشر دا حديث.

عَنْ مَعْبَدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ قُلْنَا لِأَبِي سَعِيدٍ هَلْ

د معبد نه روايت دے وائی چه ما د ابوسعيد نه تپوس

سَمِعْتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ فِي الْعَزْلِ شَيْئًا قَالَ نَعَمْ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمَعْنَى حَدِيثِ ابْنِ عَوْنٍ إِلَى قَوْلِهِ الْقَدَرُ

اوکړو چه تاسو د رسول الله ﷺ نه د عزل ذکر کولو متعلق اوریدلی دی نو هغوی اوویے آو. او د ابن عون د روایت په شان معنیٰ حدیث ئے بیان کړو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ ذُكِرَ الْعَزْلُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالَ وَلِمَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ أَحَدُكُمْ وَلَمْ يَقُلْ فَلَا يَفْعَلْ ذٰلِكَ أَحَدُكُمْ فَإِنَّهُ لَيْسَتْ نَفْسٌ مَخْلُوقَةٌ إِلَّا اللهُ خَالِقُهَا

د ابوسعید خدری نه روایت دی وائی چه د رسول الله ﷺ په مخکښې د عزل ذکر اوشو. نو اوئے فرمائیل ولے کوئی دے لره. او دائے اونۀ فرمائیل چه مۀ کوئ ځکه چه یو روح پیدا کیدو والانشته چه الله هغه نۀ پیدا کوی[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ سَمِعَهُ يَقُوْلُ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ مَا مِنْ كُلِّ الْمَاءِ يَكُوْنُ الْوَلَدُ وَإِذَا أَرَادَ اللهُ خَلْقَ شَيْءٍ لَمْ يَمْنَعْهُ شَيْءٌ

د ابوسعید خدری نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ نه د عزل په باره کښې تپوس اوشو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ولے د منۍ د ټولو اوبو نه ماشوم جوړیږی (یعنی کۀ یوه قطره هم اورسیده نو د بچی د پیدا کیدو د پاره پوره ده بیا به تاسو د کومے پورے بچ کیږئ او کوم څیز چه الله پیدا کول غواړی هغه څوک نۀ شی منع کولے.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ لِي جَارِيَةً هِيَ خَادِمُنَا وَسَانِيَتُنَا وَأَنَا أَطُوفُ عَلَيْهَا وَأَنَا أَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ فَقَالَ اعْزِلْ عَنْهَا إِنْ شِئْتَ فَإِنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا فَلَبِثَ الرَّجُلُ ثُمَّ أَتَاهُ فَقَالَ إِنَّ الْجَارِيَةَ قَدْ حَبِلَتْ فَقَالَ قَدْ أَخْبَرْتُكَ أَنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا

د جابر نه روایت دے وائی چه یو سړے د حضرت ﷺ خواله راغے. او اوئے وئیل چه ځما یوه وینځه ده. چه هغه زمونږ د کور کاروبار کوی او اوبۀ راوړی او زۀ د هغے سره صحبت کوم او زۀ نه غواړم چه هغه د حامله شی حضرت ﷺ اوفرمائیل چه کچرے ته غواړے نو عزل کوه ځکه چه راځی به کوم چه د هغے په تقدیر کښې لیکلے دی. بیا څۀ لږه موده پس هغه سړے راغے او عرض ئے اوکړو چه هغه حامله شوه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ما تا ته د مخکښې نه خبر درکړے وو چه هغه به راځی کوم چه د هغے په تقدیر کښې وی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ

د جابر نه روایت دے چه یو سړے د نبی کریم ﷺ په خدمت

[1] یعنی چا لره چه پیدا کیدل دی هغه به ضرور وی. تاسو خو زر خله عزل اوکړئ.

النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ إِنَّ عِنْدِي جَارِيَةً لِي وَأَنَا أَعْزِلُ عَنْهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ ذٰلِكَ لَنْ يَمْنَعَ شَيْئًا أَرَادَهُ اللهُ قَالَ فَجَاءَ الرَّجُلُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الْجَارِيَةَ الَّتِي كُنْتُ ذَكَرْتُهَا لَكَ حَمَلَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنَا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ

کښې حاضر شو. او اوئې وئیل چه خما یو وینځه ده او زۀ د هغې نه عزل کوم نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا څیز هغه څیز نۀ شی منع کولے کوم چه د الله اراده وی. جابر اوئیل چه هغه سړے بیا راغې او اوئې وئیل یا رسول الله ﷺ د کومې وینځې چه ما تاسو ته ذکر کړے وو هغه حامله شوه. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه زۀ د الله بنده او د هغۀ رسول یم[1].

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ زَادَ إِسْحٰقُ قَالَ سُفْيَانُ لَوْ كَانَ شَيْئًا يُنْهٰى عَنْهُ لَنَهَانَا عَنْهُ الْقُرْآنُ

دجابر نه روایت دے وائی چه مونږ عزل کولو او قرأن نازلیدو او د اسحٰق په روایت کښې دا هم دی چه سفیان وائی چه کچرے عزل بد وے نو په قرأن کښې به دد ے نهی نازله شوے وه.

عَنْ عَطَاءٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا يَقُولُ لَقَدْ كُنَّا نَعْزِلُ عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عطاء نه روایت دے چه جابر اوئې وئیل چه مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې عزل کولو.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا نَعْزِلُ عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَنْهَنَا

د حضرت جابر نه روایت دے وائی چه مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې عزل کولو. او حضرت ﷺ ته خبر اورسیدو. او هغوی مونږه منع نۀ کړو[2].

بَابُ تَحْرِيمِ وَطْئِ الْحَامِلِ الْمَسْبِيَّةِ

باب: کومه قیدی ښځه حامله وی د هغې سره د کوروالی د حرامیدو بیان

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَتٰى بِامْرَأَةٍ مُجِحٍّ عَلٰى بَابِ فُسْطَاطٍ فَقَالَ لَعَلَّهُ يُرِيدُ أَنْ يُلِمَّ بِهَا فَقَالُوا نَعَمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د ابوالدرداء نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ تیر شو د یوے خیمې په دروازه باندے او هلته ئې یوه ښځه اولیده چه حمل زیږولو ته نزدے وه. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه کیدے شی هغه سړے دد ے سره اراده د جماع لری (یعنی

[1] یعنی ما چه کومه خبره کړے وه هغه اوشوه دا د الله د بزرګئ او د هغۀ د رسول کیدو برکت دے. دد ے نه معلومه شوه چه هر کله د بنده یو تشخیص برابر راشی نو د الله د بندګئ فخر د کوی او په خپل حسن تشخیص او حسن رائے د فخر نۀ کوی.

[2] غرض دے روایتونو نه جواز د عزل سره د کراهت ثابت شو او کراهت دد ے دپاره دے چه په دے کښې د نطفې ضائع کیدل دی.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَلْعَنَهُ لَعْنًا يَدْخُلُ مَعَهُ قَبْرَهُ كَيْفَ يُوَرِّثُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ كَيْفَ يَسْتَخْدِمُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ

د چا سره چه ده، خلقو اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل ما غوښتله چه دهٔ لره داسے لعنت اوکړم چه هغه لعنت د قبر پورے ددهٔ سره وی. دے څکه د دے ماشوم وارث جوړیدے شی. حالانکه هغه دے لره حلال نه دے. او دے ماشوم له غلام څنګه جوړ وی. حالانکه هغه دهٔ لره حلال نه دے[1].

بَاب جَوَازِ الْغِيلَةِ وَهِيَ وَطْئُ الْمُرْضِعِ وَكَرَاهَةِ الْعَزْلِ

باب : د غیلے سره د کوروالی د جواز په بیان کښې او د عزل په کراهت کښې

عَنْ جُدَامَةَ بِنْتِ وَهْبٍ الْأَسَدِيَّةِ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ حَتَّى ذَكَرْتُ أَنَّ الرُّومَ وَفَارِسَ يَصْنَعُونَ ذٰلِكَ فَلَا يَضُرُّ أَوْلَادَهُمْ قَالَ مُسْلِم وَأَمَّا خَلَفٌ فَقَالَ عَنْ جُذَامَةَ الْأَسَدِيَّةِ وَالصَّحِيحُ مَا قَالَهُ يَحْيَى بِالدَّالِ

د جدامه لور د وهب نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے ما غوښته چه د غیلے نه منع کړم. بیا ما ته رایاد شو چه د روم او فارس خلق غیله کوی او د هغوی او لاد ته ضرر نهٔ رسیږی. مسلم فرمائیلی دی چه جدامه به بے نقطے دال سره صحیح دے[2].

---

[1] : یعنی د کومے پورے چه دا ښځه حامله ده نو دد ے سره جماع حرامه ده. بیا کچرے دد ے نه د شپږو میاشتو نه مخکښ ماشوم پیدا شو. نو اوس شك پریوتو چه دا هلك د هغه مسلمان دے د چا سره چه په قید کښ ده. یا د هغه کافر دے د چا سره چه دا ښځه وه د قید نه مخکښ. بیا په تقدیر دا چه هغه ماشوم دد ے مسلمان شو. دا دواړه به د یو بل وارثان وی. یا په تقدیر دا چه هغه ماشوم دهغه کافر شو نو دا دواړه به د یو بل وارثان نهٔ وی. څکه چه په دے کښ قرابت نهٔ دے شوے. او په دے صورت کښ به دد ے ماشوم نه خدمت د غلامانو په شان اخستل روا وی. نو په دے صورت کښ کهٔ چرے ده د ے هلك سره په بچی اونیوۀ او وارث ئے اوګرځوو. نو غیر لره ئے خپل وارث اوګرځوو. او په دغه رومبی صورت کښ کچرے غلام ئے جوړ کړی او د میراث نه ئے محرومه کړی. نو خپل هلك ئے محروم کړلو او خپل بچے ئے غلام اوګرځوو. غرض دا چه دد ے خرابئ نه د بچ کیدو دپاره دا ضروری ده چه د حمل د زیږیدو پورے دد ے سره صحبت حرام اوګرځولے شی چه د یو د ماشوم بل ته نسبت او نهٔ شی. او نیلی دی مسلم او دغه روایت بیان کړے دے مونږ ته ابوبکر بن شیبه هغوی ته یزید. او ونیلی دی مسلم چه دا روایت کړے مونږ ته محمد بن بشار هغوی ته ابوداود، دے دواړو روایت کړے دے د شعبه نه په دغه سند سره.

[2] : غیله د پی ورکونکے زنانه سره جماع کولو ته وئیلے شی او اکثر د پی ورکولو په ورځو کښ په جماع کولو سره پی کمیږی. او کچرے حمل او نیوے شی نو پی پیوسی کیږی او ماشوم د هغے په خوراك سره نرے او کمزورے کیږی. مګر حضرت دد ے نه منع نهٔ ده کړے څکه چه

عَنْ جُدَامَةَ بِنْتِ وَهْبٍ أُخْتِ عُكَّاشَةَ قَالَتْ حَضَرْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ فِي أُنَاسٍ وَهُوَ يَقُولُ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ فَنَظَرْتُ فِي الرُّومِ وَفَارِسَ فَإِذَا هُمْ يُغِيلُونَ أَوْلَادَهُمْ فَلَا يَضُرُّ أَوْلَادَهُمْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَأَلُوهُ عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ذَلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ زَادَ عُبَيْدُ اللهِ فِي حَدِيثِهِ عَنِ الْمُقْرِئِ وَهِيَ وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ

د جدامهؓ نه روایت دے هغوی اووے زۀ حاضره شوم د رسول الله ﷺ په خوا کښې او هلته هغه خلق هم وو. او حضرت ﷺ فرمائیل چه ما اراده کړے وه چه منع کړم د غیله نه. بیا ما په فارس او په روم سوچ اوکړو چه هغوی غیله کوی او د هغوی اولاد ته څۀ نقصان نۀ وی. بیا خلقو د حضرت ﷺ نه د عزل په باره کښې تپوس اوکړو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه وأد خفی دے. د عبید الله په روایت کښې دی د مقری نه چه حضرت ﷺ اوفرمائیل دغه ده هغه مَوءُوده چه د هغې به سوال کیږی په قیامت کښې[1].

عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ إِنِّي أَعْزِلُ عَنِ امْرَأَتِي فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ لِمَ تَفْعَلُ ذَلِكَ فَقَالَ الرَّجُلُ أُشْفِقُ عَلَى وَلَدِهَا أَوْ عَلَى أَوْلَادِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَوْ كَانَ ذَلِكَ ضَارًّا ضَرَّ فَارِسَ وَالرُّومَ و قَالَ زُهَيْرٌ فِي رِوَايَتِهِ إِنْ كَانَ لِذَلِكَ فَلَا مَا ضَارَ ذَلِكَ فَارِسَ وَلَا الرُّومَ

د سعد بن وقاص نه روایت دے چه یو سړے د حضرت ﷺ خواله راغے. او عرض ئے اوکړو چه زۀ د خپلے بی بی سره عزل کوم. حضرت ﷺ اوفرمائیل ولے کوے؟ هغۀ اوئیل چه زۀ د هغې د بچو نه یریږم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل. کۀ د ضرر یره وے نو فارس او روم ته به هم ضرر وے.

ضرر دے یقین نۀ دے. چنانچه فارس او روم والاته دے نه څۀ نقصان نشته او د جماع نه په منع کولو کښې د سړی نقصان یقینی دے چه غریب به د کومے پورے صبر کوی.

[1]: د وأد معنی د جینکو ژوندئ خخول دی لکه څنګه چه د عربو د جاهلانو عادت وو یعنی دستور وو. موؤدة هغه ژوندئ خخے شوے جینکۍ دی. نو حضرت ﷺ عزل ته وأد اوفرمائیل ځکه چه هغه هم لکه چه ضائع کول دی د اولاد ځکه چه اولاد د نطفے نه پیدا کیږی. او چا چه نطفه ضائع کړه هغه چه لکه خپل اولاد ضائع کړو. لکه څنګه چه خلق وائی تخم ضائع کول د بوټو ضائع کول دی.

كِتَابُ الرِّضَاعِ

د پیو ورکولو مسئلې

عَنْ عَمْرَةَ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عِنْدَهَا وَإِنَّهَا سَمِعَتْ صَوْتَ رَجُلٍ يَسْتَأْذِنُ فِي بَيْتِ حَفْصَةَ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ هٰذَا رَجُلٌ يَسْتَأْذِنُ فِي بَيْتِكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرَاهُ فُلَانًا لِعَمِّ حَفْصَةَ مِنَ الرَّضَاعَةِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ يَا رَسُوْلَ اللهِ لَوْ كَانَ فُلَانٌ حَيًّا لِعَمِّهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ دَخَلَ عَلَيَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ إِنَّ الرَّضَاعَةَ تُحَرِّمُ مَا تُحَرِّمُ الْوِلَادَةُ

د عمرهؒ نه روایت دے چه حضرت ﷺ عائشےؓ دے ته خبر ورکړے دےچه رسول اللهﷺ د هغې خواله تشریف وړے وو چه جناب عائشے صدیقے د یو سړی آواز واوریدو چه هغه د حفصے په دروازه باندے دننه راتلو اجازت غوښتلو. نو عائشے عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ! څوك ستاسو په کور باندے ددننه راتلو اجازت غواړی نو حضرتﷺ اوفرمائیل چه ځما خیال دے چه دا فلانے سړے دے. رضاعی ترۀ د حفصے . نو عائشے عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ! کچرے فلانے سړے (یعنی ځما ترۀ) ژوندے وے. نو ولے ځما کورته به راتلو؟ حضرتﷺ اوفرمائیل چه آو. په رضاعت سره هم دغه شان حرمت ثابتیږی لکه په ولادت سره.

عَنْ عَائِشَةَؓ قَالَتْ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ الْوِلَادَةِ

د حضرت عائشے نه روایت دے چه ما ته رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه څۀ په ولادت سره حرامیږی هغه په رضاعت سره هم حرامیږی.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّ أَفْلَحَ أَخَا أَبِي الْقُعَيْسِ جَاءَ يَسْتَأْذِنُ عَلَيْهَا وَهُوَ عَمُّهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ بَعْدَ أَنْ أُنْزِلَ الْحِجَابُ قَالَتْ فَأَبَيْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ فَلَمَّا جَاءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي صَنَعْتُ فَأَمَرَنِي أَنْ آذَنَ لَهُ عَلَيَّ

د حضرت عائشےصدیقے نه روایت دے هغه خبر ورکوی چه افلح د ابوالقعیس رور زمونږ دروازے له راغے او د دننه راتلوئے اجازت اوغوښتلو او هغه د هغوی رضاعی ترۀ وو. روستو دد ے نه چه د پردے حکم نازل شوے وو. پس ما هغوی له اجازت ورنۀ کړو بیا چه هر کله جناب رسول اللهﷺ راغے. پس ما هغوی ته خبر ورکړو حضرتﷺ ما ته حکم اوکړو چه دۀ لره خپل کور ته د راتلو اجازت ورکړه.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَتَانِي عَمِّي مِنَ الرَّضَاعَةِ أَفْلَحُ بْنُ أَبِي قُعَيْسٍ فَذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ مَالِكٍ وَزَادَ قُلْتُ إِنَّمَا أَرْضَعَتْنِي الْمَرْأَةُ وَلَمْ يُرْضِعْنِي الرَّجُلُ قَالَ تَرِبَتْ يَدَاكِ أَوْ يَمِينُكِ

د جناب عائشے صدیقےؓ نه روایت دے چه هغوی وائی زمونږ خواله افلح بن ابوالقعیس راغے. او بیائے د مالك د حدیث مضمون بیان کړو او په دے کښ دا خبره زیاته ده چه حضرت عائشے صدیقے عرض اوکړو چه په ما خو ئے ښځے پئ څښکلی دی څه سړی خو نه دی څښکولی. حضرتﷺ اوفرمائیل ستا په دواړو لاسونو کښ یائے او فرمائیل چه په ښی لاس کښ خاؤرے دکے شه[1]

عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهُ جَاءَ أَفْلَحُ أَخُو أَبِي الْقُعَيْسِ يَسْتَأْذِنُ عَلَيْهَا بَعْدَ مَا نَزَلَ الْحِجَابُ وَكَانَ أَبُو الْقُعَيْسِ أَبَا عَائِشَةَ مِنَ الرَّضَاعَةِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ وَاللَّهِ لَا آذَنُ لِأَفْلَحَ حَتَّى أَسْتَأْذِنَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ أَبَا الْقُعَيْسِ لَيْسَ هُوَ أَرْضَعَنِي وَلَكِنْ أَرْضَعَتْنِي امْرَأَتُهُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَلَمَّا دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَفْلَحَ أَخَا أَبِي الْقُعَيْسِ جَاءَنِي يَسْتَأْذِنُ عَلَيَّ فَكَرِهْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ حَتَّى أَسْتَأْذِنَكَ قَالَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ائْذَنِي لَهُ قَالَ عُرْوَةُ فَبِذَلِكَ كَانَتْ عَائِشَةُ تَقُولُ حَرِّمُوا مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا تُحَرِّمُونَ مِنَ النَّسَبِ

د عروه نه روایت دے چه حضرت عائشے صدیقے اوفرمائیل چه افلح د ابوالقعیس رور راغے. او خما نه ئے اجازت غوښتلو روستو د پردے د نازلیدلو نه. او ابوقعیس د هغوی رضاعی پلار وو (یعنی د عائشے نو عائشے اوفرمائیل چه زهٔ افلح ته اجازت د هغے پورے نهٔ ورکوم د کومے پورے چه مے د جناب رسول اللهﷺ نه د حکم تپوس کړے نهٔ وی. ځکه چه ابوالقعیس خو په ما پئ نهٔ دی څښکلی. پئ خو د هغوی ښځے په ما څښکلی دی. بیا چه هر کله جناب رسول خُداﷺ تشریف راوړو نو ما عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ د ابوالقعیس رور راغلے و او خما خواله د راتلو اجازت ئے غوښتلو. پس ما هغوی له اجازت ورکول بد ګنړلو د کومے پورے چه مے ستاسو نه تپوس نهٔ وو کړے. حضرتﷺ اوفرمائیل چه هغوی ته اجازت ورکړه. عروه وئیلی دی چه ددے دپاره حضرت عائشے فرمائیل چه حرام اوګنړئ په رضاعت سره کوم څیز چه حرام ګنړی په نسب سره.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ جَاءَ أَفْلَحُ

د زهری نه په دغه اسناد سره روایت دے چه افلح د ابوالقعیس رور

[1] : دا فرمائیل د غصے او خیرے په وجه نهٔ وو بلکه د عربو یوه دُستوری خبره ده لکه څنګه چه دلته چا ته نادان او بے عقله وئیلے شی.

أَخُو أَبِي الْقُعَيْسِ يَسْتَأْذِنُ عَلَيْهَا بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ وَفِيهِ فَإِنَّهُ عَمُّكِ تَرِبَتْ يَمِينُكِ وَكَانَ أَبُو الْقُعَيْسِ زَوْجَ الْمَرْأَةِ الَّتِي أَرْضَعَتْ عَائِشَةَ

راغے د حضرت عائشے خواله د راتلو اجازت ئے غوښتلو. ورلندے هم هغه د حديث مضمون دے. او په دے کښې دا زياته ده چه هغه ستا تره دے. ستا په ښى لاس کښې خاورے دې کے شه. او ابوالقعيس خاوند وو دهغه ښځے کومے چه حضرت عائشے له سينه ورکړے وه

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اسْتَأْذَنَ عَلَيَّ عَمِّي مِنَ الرَّضَاعَةِ أَبُو الْجَعْدِ فَرَدَدْتُهُ قَالَ لِي هِشَامٌ إِنَّمَا هُوَ أَبُو الْقُعَيْسِ فَلَمَّا جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرْتُهُ بِذَلِكَ قَالَ فَهَلَّا أَذِنْتِ لَهُ تَرِبَتْ يَمِينُكِ أَوْ يَدُكِ

د حضرت عائشے نه روايت دے وائى چه اجازت اوغوښتو خما خوله د راتلو خما رضاعى تره چه كنيت ئے ابوالجعد وو. پس ما هغوى له اجازت ورنه کړو. هشام وئيلى دى چه ابوالجعد هم دغه ابوالقعيس دے. بيا چه هر كله رسول الله ﷺ تشريف راوړو نو ما هغوى ته خبر ورکړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه تاسو هغوى له د راتلو اجازت ولے ورنه کړو ستا په ښى لاس کښې خاورے دې کے شه يائے اوفرمائيل په لاس کښې.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّ عَمَّهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ يُسَمَّى أَفْلَحَ اسْتَأْذَنَ عَلَيْهَا فَحَجَبَتْهُ فَأَخْبَرَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهَا لَا تَحْتَجِبِي مِنْهُ فَإِنَّهُ يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ

د حضرت عائشے نه روايت دے هغوى خبر ورکوى چه د هغے رضاعى تره د هغوى نه د (دننه راتلو) اجازت اوغوښتو چه دده نوم افلح وو. او ما د هغوى نه پرده اوکړه. او رسول الله ﷺ مے خبر کړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل ته د هغوى نه پرده مه کوه ځکه چه په رضاعت سره حراميږى هغه څه چه حراميږى په نسب سره[1].

---

[1]: ددے ټولو احاديثو په نظر سره د اُمت اجماع ده په دے باندے چه پئ ئے حراموى بلكه څنګه چه ئے ولادت حراموى. يعنى پئ ورکونکے د پئ خوړونکى مور جوړيږى. او په دے کښې نکاح هميشه دپاره حراميږى. او پئ خوړلو والا ته ليدل د هغے حلاليږى او خلوت او سفر کول د هغے سره صحيح كيږى. او ددے نه سوا نور احكام د مور والئ پرے نه جارى كيږى. يعنى د مور پشان دا د هلك وارث كيدے نه شى. نه هلك د هغے وارث كيدے شى. او نه د يو نفقه په بل باندے واجبيږى په شان د مور او نه د هلك ګواهى په دے منع كيدے شى او نه په رضاعى مور باندے قصاص ساقط كيږى كچرے د پئ وركولو په موقع بچے او وژنى. غرض دا چه په دے حكمونو کښې هغه دواړه په شان د پردو دى. او په دے شان اجماع ده چه حرام والے د نكاح خوريږى په مرضعه او په اولاد د رضيع کښې او په رضيع او په اولاد مُرضعه کښې او په دے حكم کښې هغه رضيع لكه د مرضعے اولاد دے. او په دے شان د مرضعے خاوند د چا په صحبت سره چه دا پئ شوى وو خواه كه خاوند نكاح وى يا د ملك يمين په لاره وى هغه د رضيع پلار كيدے شى. دغه مذهب دے د كافه علماؤ. او د هغه اولاد رضيع خور او رور جوړيږى. او د مرضعے د خاوند رور د پئ خوړونكى تره جوړيږى او د هغے خويندے د رضيع ترورياڼے جوړيږى. او د رضيع اولاد د مرضعے د خاوند اولاد جوړيږى. لو خاص په دے کښې اهل ظاهرو او ابن عليه زمونږ خلاف كړے دے. چه هغوى وئيلى دى چه حرمت د رضاع نه ثابتيږى د رضيع او د مرضعے د خاوند په مينځ کښې. او مازرى دے قول لره نقل كړے دے د ابن عمر او جناب عائشے صديقے نه او هغوى استدلال كړے دے ددے ايت

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا لَكَ تَنَوَّقُ فِي قُرَيْشٍ وَتَدَعُنَا فَقَالَ وَعِنْدَكُمْ شَيْءٌ قُلْتُ نَعَمْ بِنْتُ حَمْزَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِي إِنَّهَا ابْنَةُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ

د حضرت علیؓ نه روایت دے وائی چه ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ! څه وجه ده چه تاسو رغبت او خواهش لرئ د قریشو د ښځو او مونږ خلقو له پریږدوئ حضرت ﷺ اوفرمائیل ولے ستاسو سره څوك شته ؟ ما اووے چه آو د حمزه لور حضرت ﷺ اوفرمائیل هغوی په ما حلاله نه ده. ځکه چه هغوی زما رضاعی وریره ده.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيدَ عَلَى ابْنَةِ حَمْزَةَ فَقَالَ إِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِي إِنَّهَا ابْنَةُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ وَيَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ الرَّحِمِ

د حضرت عبد الله بن عباس نه روایت دے چه نبی ﷺ ته عرض اوکړے شو چه تاسو نکاح اوکړئ د حمزه د لور سره. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه په ما حلاله نۀ ده ځکه چه هغه زما وریره ده رضاعی او په رضاعت سره حرامیږی هغه څیز چه حرامیږی په نسب سره.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقُولُ قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ أَيْنَ أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ عَنِ ابْنَةِ حَمْزَةَ أَوْ قِيلَ أَلَا تَخْطُبُ بِنْتَ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ قَالَ إِنَّ حَمْزَةَ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ

د اُمّ سلمه بی بی د رسول الله ﷺ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړے شو چه تاسو ته د حمزه د لور څۀ خیال نشته دے؟ یا ورته اووئیلے شو چه تاسو د حمزه لور ته پیغام ولے نۀ لیږئ ؟ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه حمزه زما رضاعی رور دے.

عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ بِنْتِ أَبِي سُفْيَانَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَهُ هَلْ لَكَ فِي أُخْتِي بِنْتِ

د اُمّ حبیبه، د ابوسفیان د لور نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ زما خواله تشریف راوړو او ما عرض اوکړو چه تاسو زما خور د ابوسفیان لور نه غواړئ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه بیا به زۀ څۀ کوم ؟ ما اووے تاسو د

مبارکه نه ﴿وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ مِنَ الرَّضَاعَةِ﴾ او په دے ایت مبارکه کښې الله تعالی ذکر نۀ دے کړے د بلے لور او د بلے ترور لکه څنګه نے چه په نسب کښې ذکر کړے دے. او جمهورو د هغه احادیث صحیحه صریحه واضحه نه استدلال کړے دے او ظاهریو لۀ نے دا جواب لاکړے دے چه اګر که خداوند تعالی په دے ایت مبارکه کښې ذکر نۀ دے کړے مګر د هغه نبی نے وضاحت کړے دے. او نبی مبین یعنی د احکامو ښکاره کونکے دے لکه څنګه چه قران پاك مبین دے.

تشریح: ونیلی دی مسلم او روایت کړے دے مونږ ته زبیر او هغوی ته یحیی قطان . او ونیلی دی مسلم چه بل روایت کړے دے مونږ ته محمد بن یحیی هغوی ته بشر دے تولو روایت کړے دے د شعبه نه او ونیلی دی مسلم بل روایت کړے دے مونږ ته ابوبکر بن ابی شیبه هغوی ته علی بن مسهر هغوی ته سعید دے دواړو ته قتاده د همام سره. مګر د شعبه حدیث ددغه ځائے پورے دے چه حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه زما رضاعی وریره ده. او د سعید په روایت کښې دا هم ده چه حرامیږی په رضاعت سره هغه څۀ چه حرامیږی په نسب سره. او د بشر په روایت کښې دا دی چه اوریدلی دی ما د جابر بن زید نه.

أَبِي سُفْيَانَ فَقَالَ أَفْعَلُ مَاذَا قُلْتُ تَنْكِحُهَا قَالَ أَوَ تُحِبِّينَ ذٰلِكِ قُلْتُ لَسْتُ لَكَ بِمُخْلِيَةٍ وَأَحَبُّ مَنْ شَرِكَنِي فِي الْخَيْرِ أُخْتِي قَالَ فَإِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِي قُلْتُ فَإِنِّي أُخْبِرْتُ أَنَّكَ تَخْطُبُ دُرَّةَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ بِنْتَ أُمِّ سَلَمَةَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ لَوْ أَنَّهَا لَمْ تَكُنْ رَبِيبَتِي فِي حِجْرِي مَا حَلَّتْ لِي إِنَّهَا ابْنَةُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ أَرْضَعَتْنِي وَأَبَاهَا ثُوَيْبَةُ فَلَا تَعْرِضْنَ عَلَيَّ بَنَاتِكُنَّ وَلَا أَخَوَاتِكُنَّ

هغوی سره نکاح اوکړئ (أم حبیبهؓ ته دغه وخت دا مسئله معلومه نۀ وه چه د دوو خویندو جمع کول په نکاح کښې منع دی) بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ستا داسې کار خوښ دے؟ ما اووے چه زۀ دا غوره ګرم چه ستا د نکاح په خیر کښې د خما سره شریکه وی او هغه د خما خور وی. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه هغه په ما حلاله نۀ ده. ما اووے چه ما ته خبر رارسیدلے دے چه تا پیغام ورکړے دے د ابوسلمٰی لور لره حضرت ﷺ اوفرمائیل د أمّ سلمه لور؟ ما اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے هغې خما په غیږه کښې پرورش موندلے هم نۀ وے بیا هم هغه په ما باندے حلاله نۀ وه ځکه چه هغه خما وریره ده د رضاعت نه اوپۍ ځکولی دی په ما او د هغې په پلار (یعنی ابوسلمه لره) ثوبیې. پس تاسو خلق ما ته د خپلو لونړو او خویندو پیغام مۀ راکوئ[1].

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ ابْنِ أَبِي حَبِيبٍ نَحْوَ حَدِيثِهِ وَلَمْ يُسَمِّ أَحَدٌ مِنْهُمْ فِي حَدِيثِهِ عَزَّةَ غَيْرُ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ

د زهری نه د ابن ابی حبیب د سند نه دد ے حدیث مضمون مروی دے. او صرف د یزید بن ابی حبیب په روایت کښې د غزه نوم ذکر کړے شوے دے او بل یو کښې نشته.

---

[1]: دد ے حدیث نه داؤد ظاهری استدلال کړے دے چه ربیبه د کومے پورے چه د هغې د مور د خاوند په غیږه کښې پرورش اونۀ مومی د هغې پورې نۀ حرامیږی. یعنی اګر کۀ چا د یوے ښځې سره نکاح اوکړه. او د هغې سره یوه لور د رومبی خاوند نه شته او دے دویم خاوند ئے د هغې لور پرورش او نۀ کړو نو هغه جینۍ په دۀ حلاله ده مګر د ټولو علماؤ مذهب دد ے نه خلاف دے چه هغه ټول د حرمت ربیبه قائل دی خوا کۀ دغه دویم خاوند ئے د هغې لور پرورش کړے وی یا نۀ وی. او دا چه کوم الله تعالی فرمائیلی دی • وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ • (او حرامے دی په تاسو باندے هغه جینکۍ ستاسو د بیبیانو چه هغوی تاسو په خپله غیږه کښې پاللی وی) دد ے جواب دغه ټولو علماؤ دا ورکړے دے چه دا قید • فِي حُجُورِكُمْ • په اعتبار د اکثر احوال دے. او حرمت دواړو لره یو شان دے. خواه کۀ په حجورو کښې وی یا نۀ وی لکه • وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ • (او مه قتلوئ خپل اولاد لره د مفلسۍ د یرے نه) چه قید د مِنْ إِمْلَاقٍ په اعتبار د اکثر احوال دے چه د عربو خلقو به د مفلسۍ د یرے نه قتل کولے دا مراد نۀ دے چه هر کله د املاق یره نۀ وی نو قتل ئے روا دے. او ثوبیه وینځه وه د ابولهب هغې مخکښې د حلیمے سعدیے نه جناب رسول الله ﷺ ته پۍ ورکړی وو. او دا حدیث محمول دے په دے باندے چه هغه خلقو ته دغه وخته پورے جمع کول د دوؤ خویندو معلوم نۀ وو چه حرام دی. او دغه شان حرمت د ربیبے معلوم نۀ وو او دغه شان چا چه ترغیب ورکړو حضرت ﷺ ته د حمزه د لور د نکاح هغې ته دا معلومه نۀ وه چه رضاعی وریره حرامه ده. یا دا ورته معلومه نۀ وه چه حمزه د حضرت ﷺ رضاعی رور دے. او دواړو د یوے دایې پۍ څښلی دی. (نووی)

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَقَالَ سُوَيْدٌ وَزُهَيْرٌ إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَالْمَصَّتَانِ

د حضرت عائشې صديقې رضي الله عنها نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه حرمت د رضاعت نه ثابتيږي په يو ځل يا دوه ځله يې ځښکلو سره.

عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ قَالَتْ دَخَلَ أَعْرَابِيٌّ عَلَى نَبِيِّ اللهِ ﷺ وَهُوَ فِي بَيْتِي فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللهِ إِنِّي كَانَتْ لِي امْرَأَةٌ فَتَزَوَّجْتُ عَلَيْهَا أُخْرَى فَزَعَمَتِ امْرَأَتِي الْأُولَى أَنَّهَا أَرْضَعَتِ امْرَأَتِي الْحُدْثَى رَضْعَةً أَوْ رَضْعَتَيْنِ فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ لَا تُحَرِّمُ الْإِمْلَاجَةُ وَالْإِمْلَاجَتَانِ

د أُم الفضل نه روايت دے وائي چه د باندے يو سړے د نبي كريم ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوكړو چه اے د الله نبي! ځما يوه ښځه وه او دويم نكاح مے اوكړه. پس ړومبۍ ښځے اووے چه ما دے دويمے لره يو ځل يا دوه ځله پئ وركړي دي. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه په يو ځل يا دوه ځله راولو سره حرمت نۀ راځي.

عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَنِي عَامِرِ بْنِ صَعْصَعَةَ قَالَ يَا نَبِيَّ اللهِ هَلْ تُحَرِّمُ الرَّضْعَةُ الْوَاحِدَةُ قَالَ لَا

د أُم الفضل نه روايت دے وائي چه يو سړي د حضرت ﷺ نه تپوس اوكړو چه اے د الله تعالى نبي! ولے حرمت راتلے شي په يو ځل يا دوه ځله پئ رؤلو سره؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل نا.

عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ حَدَّثَتْ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ قَالَ لَا تُحَرِّمُ الرَّضْعَةُ أَوِ الرَّضْعَتَانِ أَوِ الْمَصَّةُ أَوِ الْمَصَّتَانِ

د أُم الفضل نه روايت دے وائي چه حضرت نبي ﷺ فرمائيلي دي په يو ځل يا دوه ځله پئ راؤلو سره حرمت نۀ راځي.

عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ سَأَلَ رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُحَرِّمُ الْمَصَّةُ فَقَالَ لَا

د أُم الفضل نه روايت دے وائي د نبي ﷺ نه يو سړي تپوس اوكړو چه په يو ځل پئ ځښلو سره حرمت راځي؟ نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه نۀ راځي.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ فِيمَا أُنْزِلَ مِنَ الْقُرْآنِ عَشْرُ رَضَعَاتٍ مَعْلُومَاتٍ يُحَرِّمْنَ ثُمَّ نُسِخْنَ بِخَمْسٍ مَعْلُومَاتٍ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَهُنَّ فِيمَا يُقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ

د حضرت عائشې صديقې نه روايت دے فرمائي چه په قران كښې نازل وو چه لس ځله ځښكل د پيو حرمت كول دي. بيا منسوخ شو او دا اولوستلے شو چه پنځۀ ځله پئ ځښكل د حرمت سبب دے او وفات شو رسول الله ﷺ او په قران كښې لوستلے شو[1].

[1] ددے روايت مطلب دا دے چه د پنځۀ رضعاتو قراءت په آخر وخت كښې منسوخ شو. مګر زمانه دهغې د نسخ د حضرت ﷺ وفات ته ډيره نژدے وه خكه ددے د نسخ كيفيت چا ته معلوم شو او چا ته معلوم نۀ شو. او د نسخ د مشهور كيدو نه روستو بيا ټولو اجماع اوكړه چه دے لره په قران كښې نۀ دي لوستل پكار. او نسخ په درے قسمه ده. يو دا چه حكم او تلاوت دواړه منسوخ شي. دويم دا چه تلاوت منسوخ شي نۀ حكم. مثال اول د لسو رضعاتو معلومات دي چه حكم او تلاوت د هغې دواړه منسوخ شو. او مثال د ويم قسم خمس رضعات دي چه حكم ئے باقي دے او تلاوت ئے منسوخ دے او په دے شان دے اَلشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهَا چه حكم د

عَنْ عَمْرَةَ أَنَّهَا سَمِعَتْ عَائِشَةَ تَقُولُ وَهِيَ تَذْكُرُ الَّذِي يُحَرِّمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ قَالَتْ عَمْرَةُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ نَزَلَ فِي الْقُرْآنِ عَشْرُ رَضَعَاتٍ مَعْلُومَاتٍ ثُمَّ نَزَلَ أَيْضًا خَمْسٌ مَعْلُومَاتٌ

د عمره نه روايت دے چه هغې د حضرت عائشې صديقې نه اوريدلى دى چه هغې ذكر كولو د هغه رضاعت چه په هغې سره حرمت ثابتيږى. پس عائشې اوفرمائيل چه په قران مجيد كښې لس خله پيَ رَوَل نازل وو بيا پنځۀ خله رَوَل نازل شو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَتْ سَهْلَةُ بِنْتُ سُهَيْلٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَرَى فِي وَجْهِ أَبِي حُذَيْفَةَ مِنْ دُخُولِ سَالِمٍ وَهُوَ حَلِيفُهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْضِعِيهِ قَالَتْ وَكَيْفَ أُرْضِعُهُ وَهُوَ رَجُلٌ كَبِيرٌ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ قَدْ عَلِمْتُ أَنَّهُ رَجُلٌ كَبِيرٌ زَادَ عَمْرٌو فِي حَدِيثِهِ وَكَانَ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ أَبِي عُمَرَ فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عائشې صديقې نه روايت دے چه سهله لور د سهيل د رسول الله ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوكړو چه يا رسول الله! زۀ د ابوحذيفه په مخ كښې څۀ خفګان وينمه هر كله چه سالم څما كور ته راځى او هغه د هغوى حليف دے. نو حضرت اوفرمائيل چه تۀ په سالم پئ اوڅكوه. هغوى اووے چه زۀ په دۀ پئ څنګه اوڅكوم؟ هغه خو ځوان سړے دے. پس حضور ﷺ په تبسم خندا كښې اوفرمائيل چه زۀ پوهه يم چه هغه ځوان سړے دے. او د عمرو په روايت كښې دا زياته ده چه هغه په بدر كښې هم حاضر شوے وو. او د ابن ابوعمرو په روايت كښې دى چه جناب رسول الله ﷺ مسكے شو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ سَالِمًا مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ كَانَ مَعَ أَبِي حُذَيْفَةَ وَأَهْلِهِ فِي بَيْتِهِمْ فَأَتَتْ تَعْنِي ابْنَةَ سُهَيْلٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عائشې صديقې نه روايت دے وائى چه سالم د ابوحذيفه غلام د ابوحذيفه سره د هغوى په كور كښې اوسيدۀ. او د سهيل لور د رسول الله ﷺ خواله راغله (يعنى د حذيفه ښځه) او عرض ئے اوكړو

رجم باقى دے او تلاوت دد ے ايت منسوخ. او دريم قسم دا دے چه حكم د هغې منسوخ كړے شى او تلاوت د هغې باقى پاتے شى. لو دا هم په قران كښې ډير دى او دد ے قسم نه دى ۔ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمُ الآية. چه حكم دد ے منسوخ دے او تلاوت ے باقى دے. او د علماؤ په دے كښې اختلاف دے. چه حرمت د رضاعت د كوم مقدار نه ثابتيږى پس د جناب عائشې صديقې او امام شافعى او د هغوى او د هغوى د ملګرو قول دے چه د پنځو خلو نه په كم كښې رضاعت نه ثابتيږى. او د جمهور علماؤ قول دے چه په يو خل كښې هم ثابتيږى. او دے قول لره ابن منذر د حضرت على او ابن مسعود او ابن عمر او ابن عباس او عطاء او طاؤس او ابن مسيب او حسن او زهرى او قتاده او حكم او حماد. او مالك او اوزاعى او ثورى او ابوحنيفه نه نقل كړى وى. او ابوثور او ابوعبيد او ابن منذر او داؤد وئيلى دى چه په د ريو خلو سره ثابتيږى او دد ے نه په كم كښې نۀ ثابتيږى. اوس واورئ چه شافعى او د هغوى موافقينو د جناب عائشې دد ے روايت نه تمسك كړے دے. او د شافعيۆ په رَد كښې چه چا د حديث المصة والمصتان جواب وركړے دے هغه جواب محض ضعيف او مردود دے او صحيح دا ده چه د عدد شرط كول ضرورى دى. (النووى بالاختصار)

فَقَالَتْ إِنَّ سَالِمًا قَدْ بَلَغَ مَا يَبْلُغُ الرِّجَالُ وَعَقَلَ مَا عَقَلُوا وَإِنَّهُ يَدْخُلُ عَلَيْنَا وَإِنِّي أَظُنُّ أَنَّ فِي نَفْسِ أَبِي حُذَيْفَةَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْضِعِيهِ تَحْرُمِي عَلَيْهِ وَيَذْهَبِ الَّذِي فِي نَفْسِ أَبِي حُذَيْفَةَ فَرَجَعَتْ فَقَالَتْ إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُهُ فَذَهَبَ الَّذِي فِي نَفْسِ أَبِي حُذَيْفَةَ

چه سالم حدد بلوغ ته اورسيدۀ او د سړو په خبرو پوهيږی. او هغه زمونږ كورته راځی. او زۀ خيال كوم چه د ابوحذيفه پهزړۀ كښی دۀ نه كراهت دے پس حضرت ﷺ هغے ته اوفرمائيل چه تۀ په سالم پئ اوڅكوه چه تۀ په هغوی باندے حرامه شے او هغه كراهت كوم چه د ابوحذيفه په زړۀ كښی دے هغه به ختم شی. بيا هغه واپس د حضرت ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوكړو چه ما په هغوی پئ اوڅكول او د ابوحذيفه كراهت ختم شو.

عَنْ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ سَهْلَةَ بِنْتَ سُهَيْلِ بْنِ عَمْرٍو جَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ سَالِمًا لِسَالِمٍ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ مَعَنَا فِي بَيْتِنَا وَقَدْ بَلَغَ مَا يَبْلُغُ الرِّجَالُ وَعَلِمَ مَا يَعْلَمُ الرِّجَالُ قَالَ أَرْضِعِيهِ تَحْرُمِي عَلَيْهِ قَالَ فَمَكَثْتُ سَنَةً أَوْ قَرِيبًا مِنْهَا لَا أُحَدِّثُ بِهِ وَهِبْتُهُ ثُمَّ لَقِيتُ الْقَاسِمَ فَقُلْتُ لَهُ لَقَدْ حَدَّثْتَنِي حَدِيثًا مَا حَدَّثْتُهُ بَعْدُ قَالَ فَمَا هُوَ فَأَخْبَرْتُهُ قَالَ فَحَدِّثْهُ عَنِّي أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْنِيهِ

حضرت عائشے قاسم بن محمد ته خبر وركړے دے چه سهله بنت سهيل بن عمرو د نبی ﷺ خوالہ راغله او عرض ئے اوكړو چه يا رسول الله ! سالم غلام د ابوحذيفه زمونږ په كور كښی زمونږ سره وو. او هغه بالغ شو او د سړو په خبرو پوهه شو نو حضرت ﷺ اوفرمائيل تۀ په سالم پئ اوڅكوه (ابن ابی مُليكه چه د حديث راوی دے) هغوی وئيلی دی چه ما د يو كال پورے دا روايت چا ته بيان نۀ كړو او دد ے نه مے يره كوله (يعنی زۀ په دے يريدم چه خلق په دے باندے څۀ اعتراض اونۀ كړی) بيا زۀ د قاسم سره ميلاؤ شوم او ما هغۀ ته اووے چه تا ما ته يو حديث بيان كړے وو چه هغه تر اوسه پورے ما چا ته نۀ دے بيان كړے. هغوی اووے هغه څۀ دے؟ ما ورله خبر وركړو نو هغوی اووے چه تۀ اوس څما روايت كوه. او وايه چه حضرت عائشے ما ته خبر راكړے دے (يعنی قاسم ته ئے خبر وركړے دے.

عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ لِعَائِشَةَ إِنَّهُ يَدْخُلُ عَلَيْكِ الْغُلَامُ الْأَيْفَعُ الَّذِي مَا أُحِبُّ أَنْ يَدْخُلَ عَلَيَّ قَالَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ أَمَا لَكِ فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

زينب ، د ام سلمه لور نه روايت دے وائی چه اُم سلمه جناب حضرت عائشے ته اووے چه ستاسو سره غلام ايفع (يعنی داسے هلك چه هغه خوانئ ته نزدے دے) راځی كوم چه زۀ نۀ غوره كوم چه څما خواله د راشی. نو حضرت عائشے صديقے ورته اوفرمائيل چه

وَسَلَّمَ أُسْوَةٌ قَالَتْ إِنَّ امْرَأَةَ أَبِي حُذَيْفَةَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ سَالِمًا يَدْخُلُ عَلَيَّ وَهُوَ رَجُلٌ وَفِي نَفْسِ أَبِي حُذَيْفَةَ مِنْهُ شَيْءٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْضِعِيهِ حَتَّى يَدْخُلَ عَلَيْكِ

ولې تاسو لره د رسول الله ﷺ تابعداري ښه نۀ ده؟ او حالانکه د ابوحذيفه ښځې عرض اوکړو چه يا رسول الله! سالم ما خوا له راځي او هغه ځوان سړے دے د ابوحذيفه په زړۀ کښې د هغۀ په راتلو سره کراهت دے نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چه ته په هغه پئ اوڅکوه چه هغه ستا خواله راتلۀ کوی.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ تَقُولُ أَبَى سَائِرُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُدْخِلْنَ عَلَيْهِنَّ أَحَدًا بِتِلْكَ الرَّضَاعَةِ وَقُلْنَ لِعَائِشَةَ وَاللهِ مَا نَرَى هٰذَا إِلَّا رُخْصَةً أَرْخَصَهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ لِسَالِمٍ خَاصَّةً فَمَا هُوَ بِدَاخِلٍ عَلَيْنَا أَحَدٌ بِهٰذِهِ الرَّضَاعَةِ وَلَا رَائِينَا

اُم سلمه د نبی کریم ﷺ بی بی فرمائيلی دی چه د نبی ﷺ ټولو بيبيانو به انکار کوو ددے نه چه په دغه طريقه پئ څښلو والا د هغوی کورته راشي. او حضرت عائشې صديقې ته به ئے وئيل چه مونږ خو دا ګڼړو چه دا خاص رخصت وو د جناب رسول الله ﷺ د سالم دپاره. او رسول الله ﷺ زمونږ په مخکښې داسې پئ څکونکې څوك نۀ دے راوستے او نۀ ئے مونږ د چا په مخکښې کړے يو[1].

د رضاعت د مودې بيان

[1]: د علماؤ په دې مسئله کښې اختلاف دے او د جناب عائشې صديقې او داؤد مذهب دا دے چه د رضاعت حرام والے ثابتيږی بالغ ته پيو ورکولو سره هم لکه چه څنګه ثابتيږی ماشوم ته په پيو ورکولو سره. او استدلال کړے دے هغوی ددے حديث نه. او د ټول جهان علماؤ د صحابه کرامو نه واخله د تابعينو او تبع تابعينو وغيره نورو ددے خلاف کړے دے او ټولو تر اوسه پورے دغه وئيلی دی چه حرمت نۀ راځي. خو هله چه په دوه کالو کښې دننه پئ ورکړے شي نو حرمت ثابتيږی. او امام اعظم ابوحنيفه وئيلی دی چه د دوه نيم کالو پورے هر کله چه پئ اوڅکولے شي حرمت ثابتيږی او زفر وئيلی دی چه د درے کالو پورے او د امام مالك نه دوه کاله او څۀ ورځې روايت دے. او جمهور علماؤ استدلال کړے دے د الله تعالی ددے قول نه چه فرمائي· وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ· يعنې ميندے به پئ ورکوی خپلو بچو لره دوه کاله پوره هغه څوك چه اراده لری د پيو د مُدے د ختمولو. او استدلال کړے دے دغه جمهورو د هغه حديث نه چه په مسلم کښې مخکښې راغلې چه رضاعت د مجاعت نه دے. او ټول احاديث مشهور او حديث سهله لره هغوی يقيناً خاص ګڼړلے دے د سهله سره. او ددے وجې نه چه خلاف کړے دے د جناب عائشې صديقې ټولو بيبيانو د رسول الله ﷺ. پس مذهب د جمهورو علماؤ صحيح او قوی دے د قرآن او حديث د مخه. او مذهب د جناب عائشې صديقې شاذ دے. او رسول الله ﷺ چه کوم حکم ورکړو چه ته په سالم باندے پئ اوڅکوه. په دے کښې قاضی عياض وئيلی دی چه کيدے شي چه هغوی په څۀ لوښی کښې پئ لوشلی وی او په هغۀ ئے څکولی وی. او کيدے شي د حضور ﷺ هم دغه مراد وو چه په دے کښې د تی راؤدلو حاجت هم رانغی. او ددے خبرې ته نووی هم غوره وئيلی ده. او دويم احتمال دا هم دے چه کيدے شي چه مسحه کول د بدن په قدر د حاجت د ضرورت په وخت کښې جائز وی. لکه څنګه چه په حالت د خوانئ کښې پئ څښل جائز دی.

عَنْ عَائِشَةَ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدِي رَجُلٌ قَاعِدٌ فَاشْتَدَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِ وَرَأَيْتُ الْغَضَبَ فِي وَجْهِهِ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ قَالَتْ فَقَالَ انْظُرْنَ إِخْوَتَكُنَّ مِنَ الرَّضَاعَةِ فَإِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الْمَجَاعَةِ

د حضرت عائشے صدیقے رضی الله عنها نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ خما کورته راغے. او ما کره یو سړے ناست وو. نو حضرت ﷺ خفه شو او په مخ باندے ئے ما غصه ولیده نو او ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ ! دا خما رضاعی رور دے . حضرت ﷺ اوفرمائیل لږ غور کوه په رضاعی رونړو کښې ځکه چه رضاعت هغه معتبر دے چه هغه د لوږے په وخت کښې وی (یعنی د رضاعت په ورځو کښې وی).

بَاب جَوَازِ وَطْءِ الْمَسْبِيَّةِ بَعْدَ الِاسْتِبْرَاءِ وَإِنْ كَانَ لَهَا زَوْجٌ انْفَسَخَ نِكَاحُهَا بِالسَّبْيِ

باب: د استبراء نه روستو د قیدی ښځے سره کوروالے کول صحیح دی اګر چه د هغې خاوند هم موجود وی. او یوائے په قید کولو سره د نکاح د ماتیدو بیان

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ بَعَثَ جَيْشًا إِلَى أَوْطَاسَ فَلَقُوا عَدُوًّا فَقَاتَلُوهُمْ فَظَهَرُوا عَلَيْهِمْ وَأَصَابُوا لَهُمْ سَبَايَا فَكَأَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَرَّجُوا مِنْ غِشْيَانِهِنَّ مِنْ أَجْلِ أَزْوَاجِهِنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي ذٰلِكَ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ أَيْ فَهُنَّ لَكُمْ حَلَالٌ إِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ

د حضرت ابوسعید خدری نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د حنین په ورځ لښکر اولیږو او هغوی د دشمن سره مقابل شو او د هغوی سره اوجنګیدو او غالب راغلو. او د هغوی ښځے ئے قید کړے راوستے. پس د رسول الله ﷺ ځنے ملګرو د هغو سره صحبت کول بد ګنړلو په دے وجه چه د هغوی خاوندان مشرکین موجود وو پس الله تعالی دا آیت نازل کړو وَالْمُحْصَنٰتُ یعنی حرامے دی ښځے خاوندوانو والا مګر کومے چه ستاسو په ملك کښې راشی. یعنی په قید کښې چه هغه پتاسو حلالے دی هر کله چه د هغوی عدت اوځی[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ أَصَابُوا سَبْيًا يَوْمَ

د ابوسعید رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه څه ښځے په قید کښې په لاس

[1] یعنی چه یو حیض ئے راشی چه یقین اوشی چه حمل ئے نشته دے. چه د یو بچی بل ته او نه لګی.

أَوْطَاسٍ لَهُنَّ أَزْوَاجٌ فَتَخَوَّفُوا فَأَنْزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ

راغلے د غازیانو د اوطاس په ورځ او د هغوی خاوندان وو (یعنی په کفارو کښې) او صحابو ددوی د صحبت نه یره کوله پس دا ایت نازل شو وَالْمُحْصَنٰتُ الخ [1]

بَابُ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَتَوَقِّي الشُّبُهَاتِ

باب : هلك د ښځے د خاوند دے یا د مالك دے او د شُبهاتو نه د بچ کیدو بیان

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ اخْتَصَمَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ وَعَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ فِي غُلَامٍ فَقَالَ سَعْدٌ هٰذَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ ابْنُ أَخِي عُتْبَةَ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَيَّ أَنَّهُ ابْنُهُ انْظُرْ إِلَى شَبَهِهِ وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ هٰذَا أَخِي يَا رَسُولَ اللّٰهِ وُلِدَ عَلَى فِرَاشِ أَبِي مِنْ وَلِيدَتِهِ فَنَظَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى شَبَهِهِ فَرَأَى شَبَهًا بَيِّنًا بِعُتْبَةَ فَقَالَ هُوَ لَكَ

د حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے وائی چه سعد ابن ابی وقاص او عبد بن زمعه دواړو جهګړه اوکړه په یو هلك باندے. سعد عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ ! دا هلك څما د رور بچے دے چه نوم څما د رور عتبه بن ابی وقاص دے او هغوی ماته وئیلی وو چه دا څما ځوئے دے. او تاسو په دهٔ کښې شباهت اوګورئ او عبد بن زمعه اووے چه یا رسول الله ﷺ دا هلك څما رور دے څما د پلار په تمبو کښې د هغهٔ د وینځے د ګیډے نه پیدا شوے دے. پس رسول الله ﷺ هغه هلك اولیدو چه په ښهٔ شان د عتبه سره مشابه دے او

د وینځ دا استبراء بیان

[1] : اوطاس طائف ته نزدے یو ځائے دے. او ددے حدیث نه معلومه شوه چه خوندانو والا ښځے د کفارو چه هر کله د غازیانو په لاس راشي او قید شي نو د هغوی نکاح ماته شوه. اوس چه د چا په ملك کښې راشي نو روستو د یو حیض نه د هغوی سره صحبت بلا تردود وخطر روا دے. او کهٔ د قید په وخت هغه حامله وی نو د حمل د زیږولو نه پس ورسره صحبت روا دے. او معلومه شوه چه مذهب دشافعي او کوم خلق چه د علماؤ نه د هغوی موافق دی دا دے چه قیدی ښځه د بت پرستو یا د هغه مشرکانو چه د هغوی سره اسمانی کتاب نشته دغه ښځه چه ترڅو پورے مسلمانه شوے نهٔ وی صحبت ورسره روا نهٔ دے. او دا ښځے کومے چه د اوطاوس په غزا کښې په لاس راغلي وے دا هم د عربو د مشرکانو وے چه اهل کتاب نهٔ وو. پس څکه شافعي او د هغوی موافقین د هغوی تاویل کوی چه مراد ددے نه دا دے چه صحابؤ ته چه کوم د هغوی په صحبت کښې تأمل راغے نو روستو د اسلام راوړلو نه راغے. او په دے کښې هم د علماؤ اختلاف دے چه یوه وینځه د یو مسلمان په نکاح کښې وه او هغه خرڅه کړه نو اوس خریدار لره د هغے سره صحبت روا دے او د هغهٔ نکاح ماته شوے ده یا نا؟ ابن عباس فرمائی چه ماته شوه څکه چه الله تعالی وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ عام فرمائیلی دی. او د باقی علماؤ مذهب دے چه نکاح باقی ده او دا ایت خاص د هغه ښځو دپاره دے چه هغه په قید کښې راغلي وی نهٔ د هغه چا دپاره چه هغه په معرض بیع کښې راشي.

يَا عَبْدُ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ وَاحْتَجِبِي مِنْهُ يَا سَوْدَةُ بِنْتَ زَمْعَةَ قَالَتْ فَلَمْ يَرَ سَوْدَةَ قَطُّ وَلَمْ يَذْكُرْ مُحَمَّدُ بْنُ رُمْحٍ قَوْلَهُ يَا عَبْدُ

اوئې فرمائيل چه اے عبد ؛ هلك د هغه چا دے چه د چا په بستره باندے پيدا وي او زناكار له بے نصيبي او محرومي ده يا ګټے. او اے سوده د زمعه لور ته دده نه ستر کوه. بيا سوده هغه لره چرته اونه ليدو. او د محمد بن رمح په روايت كښې د يا عبد لفظ نشته[1].

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ غَيْرَ أَنَّ مَعْمَرًا وَابْنَ عُيَيْنَةَ فِي حَدِيثِهِمَا الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلَمْ يَذْكُرَا وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ

د زهري نه په هغه اسناد سره دا روايت مروي دے مګر معمر او ابن عيينه په خپلو حديثو كښې وئيلي دي چه بچے د فراش دے. او د زاني ذكرئې نه دے كړے[2].

---

[1] فراش هغه ښځے ته وئيلے شي چه د هغے سره صحبت اوكړے شي خواه كۀ په نكاح سره وي يا په ملك يمين سره. عرض دا چه هر كله چه د داسے ښځے نه هلك وي په داسے موده كښې د هغے د خاوند سره يا د هغے د مالك سره ممكن وي نو د هغۀ به تصور كولے شي. او تول احكام د بچي به په دۀ باندے جاري كيږي چه پلار خوئ به دواړه د يو بل وارثان وي خواه كۀ هغه د خپل پلار مشابه وي يا نۀ وي. او هغه موده چه په كومے كښې الحاق ممكن دے شپږ مياشتے دي يعني د كوم وخت نه چه دے دواړو ميل جول شوے دے خواه كۀ په نكاح سره وي يا په ملك يمين سره. دد ے نه شپږ مياشتے پس چه كوم هلك وي هغه به د هغه سړي تصور كولے شي د چا سره چه دا ښځه ده. او فراش د ښځي په دے شان كيږي چه كچرے هغه كنده ده نو صرف په عقد د نكاح سره فراش كيږي او په دے باندے ئې اجماع نقل كړے ده مګر شرط دا دے چه روستو د ثبوت د فراش نه امكان د وطي وي. او كچرے روستو د فراش د ثبوت نه امكان د وطي (يعني كوروالي) نۀ وي مثلاً سړے په مغرب كښې دے او ښځه په مشرق كښې ده او يو پكښې خپل وطن نۀ دے پريخودے. بيا شپږ مياشتے پس يا د هغے نه روستو هلك پيدا شو نو هغه به د دغه سړي سره ملحق نۀ وي يعني د هغه به ورته نۀ شي وئيلے. دا قول دے د امام مالك او شافعي او تولو عالمانو. مګر امام ابوحنيفه دد ے نه خلاف كړے دے چه هغوي د صحبت د امكان شرط نۀ دے لګولے مګر صرف عقد د نكاح ئې په دے امر كښې كافي ګڼړلے دے. تر دے پورے چه د هغوي قول دے چه كچرے طلاق وركړے شو يوے ښځے ته د عقد نه پس او د كوروالي كيدل هيڅ كله ممكن نۀ وو. او هغے ښځے شپږ مياشتے پس ماشوم اوزيږوو. نو ماشوم د دغه طلاق وركونكي دے. او په دے حديث كښې د هغوي څۀ دليل نشته ځكه چه دا فرمائيل د هغوي چه بچے د فراش دے او زاني لره محرومي ده په اعتبار د غالب احوال دۀ. عرض د ښځي حكم خو دغه دے. او وينځه د امام شافعي او امام مالك په نز فراش كيږي په جماع سره. او صرف په ملك سره نۀ كيږي. تر دے پورے چه كچرے د مودے پورے په ملك يمين كښې پاتے شي. او مالك د هغے دد ے سره جماع نۀ كوي او نۀ اقرار كوي د جماع كولو. نو ماشوم دد ے وينځے به د هغۀ سره ملحق كولے نۀ شي. او هر كله چه ئې كوروالے اوكړو نو هغه فراش شوله. بيا اوس چه كوم هلك اوشي په دغه موده كښې چه الحاق د هغۀ ممكن وي هغه به ملحق كولے شي. او د ابوحنيفه قول دے چه هلك به دد ے د آقا سره ملحق نۀ وي. د كومے پورے چه داسے هلك نۀ وي چه هغه مالك هغۀ ته خپل او نۀ وائي. بيا چه هر كله داسے هلك يو اوشو. اوس چه څومره اولاد ئې كيږي نو تول به دده ګڼړلے شي. مګر هر كله چه هغه د يو نه انكار اوكړي. (نووي)

[2] په دے حديث كښې د عبد بن زمعه چه رسول الله ماشوم لره د زمعه سره ملحق كړو. دا محمول دے په دے باندے چه معلومه شوه چه هغه ښځه فراش وه د زمعه. او دا ثبوت كيدے شي چه د زمعه د اقرار نه شوے وي چه هغه په خپل ژوند كښې وئيلي وي. ځاځ

بَابُ الْعَمَلِ بِإِلْحَاقِ الْقَائِفِ الْوَلَدَ

باب: په الحاق د بچي كښې د قائف د خبرے اعتبار كول

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيَّ مَسْرُورًا تَبْرُقُ أَسَارِيرُ وَجْهِهِ فَقَالَ أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا نَظَرَ آنِفًا إِلَى زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ فَقَالَ إِنَّ بَعْضَ هٰذِهِ الْأَقْدَامِ لَمِنْ بَعْضٍ

د حضرت عائشے صديقے نه روايت دے فرمائي چه رسول الله ﷺ خما خواله خوشحاله خوشحاله راغے. چه مخ مبارك ئے پرقيدو. او اوئے فرمائيل چه تا اوليدل چه مخزز (دا د قيافه پيژندونكي نوم دے) اوس اوكتل د زيد بن حارثه او اسامه بن زيد په طرف او اوئے وئيل چه دد دغه خلقو خپے داسے دي چه د يو بل د جزُ نه دي.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ مَسْرُورًا فَقَالَ يَا عَائِشَةُ أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا الْمُدْلِجِيَّ دَخَلَ عَلَيَّ فَرَأَى أُسَامَةَ وَزَيْدًا وَعَلَيْهِمَا قَطِيفَةٌ قَدْ غَطَّيَا رُءُوسَهُمَا وَبَدَتْ أَقْدَامُهُمَا فَقَالَ إِنَّ هٰذِهِ الْأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ

د حضرت عائشے صديقے نه روايت دے فرمائي چه خما خواله يوه ورځ رسول الله ﷺ تشريف راوړو او ډير خوشحاله وو. او اوئے فرمائيل چه اے عائشے! ولے تا اونهٔ ليدهٔ چه مجزّز مدلجي خما خواله راغے. او أسامه او زيد دواړو ته ئے اوكتل او دواړو يو څادر په دے شان پسر كړے وو (يعني اغوستے وو) چه سرئے پټ وو او خپے ئے ښكاريدے نو هغوي اووے دا خپے د يو بل د جزُ نه دي (يعني يو د پلار دي بل د خوئ دي)

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ بِمَعْنَى حَدِيثِهِمْ وَزَادَ فِي حَدِيثِ يُونُسَ وَكَانَ مُجَزِّزٌ قَائِفًا

د زهري نه په دغه سند سره دا مضمون مروي شوے دے. د يونس راوي په حديث كښې دا زياته ده چه مجزز قيافه شناس وو[1].

حضرت تهٔ معلومه وه. او په دے حديث كښې دليل دے د شافعي او مالك په ابوحنيفه باندے څكه چه د زمعه يو ړومبے خوئ د دغه وينځي نه دد ےهلك نه سوا بل نهٔ وو. پس معلومه شوه چه شرط لګول د يو داسے هلك چه د هغهٔ الحاق مالك كړے وي صحيح نهٔ دے.

[1]: مازري وئيلي دي چه د جاهليت خلقو به د أسامه په نسب كښې طعن او بدګماني كوله. څكه چه اسامه ډير تور وو. او زيد تك سپين وو. او دا روايت كړے دے ابوداؤد د احمد بن صالحه نه. بيا چه هر كله دغه قيافه شناس اووے چه أسامه د زيد خوئ دے د مختلف رنګ باوجود. او د جاهليت خلقو به د هغوي په وينا باندے اعتماد كولو. نو حضرت خوشحاله شو. څكه چه دهغه خلقو طعن لرے شو او بدګماني لرے شوه. او د احمد بن صالحه نه سوا نورو خلقو داسے وئيلي دي چه زيد تك سپين وو او د اسامه مور أم ايمن وه او د هغے نوم بركت وو او هغه حبشه تور رنګے وه. او قاضي عياض وئيلي دي دا بركته لور وه د محصن بن ثُعلبه والله اعلم. او د عالمانو اختلاف دے د قائف په قول قبلولو كښې. پس ابوحنيفه او د هغوي ملګرو او ثوري او اسحق وئيلي دي چه په الحاق ولد كښې د قائف قول معتبر نهٔ دے. او شافعي او جمهورو عالمانو وئيلي دي چه معتبر دے. او د ازادو ښځو په اولاد كښې معتبر نهٔ دے. او يو روايت د امام مالك نه داسے هم دے چه په دواړو كښې معتبر دے. او دليل د امام شافعي د مجزز قائف دغه روايت دے او دا د هغوي په تولو

باب قَدرِ مَا تَستَحِقُّهُ البِكرُ وَالثَّيِّبُ مِن إِقَامَةِ الزَّوجِ عِندَهَا عُقبَ الزِّفَافِ

باب : د باكرے او ثيبے سره د زفاف نه روستو د خاوند د پاتے كيدو بيان

عَن أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَمَّا تَزَوَّجَ أُمَّ سَلَمَةَ أَقَامَ عِندَهَا ثَلَاثًا وَقَالَ إِنَّهُ لَيسَ بِكِ عَلَى أَهلِكِ هَوَانٌ إِن شِئتِ سَبَّعتُ لَكِ وَإِن سَبَّعتُ لَكِ سَبَّعتُ لِنِسَائِي

د أُم سلمه نه روايت دے فرمائي چه رسول الله ﷺ چه هر كله د هغوی سره نكاح اوكړه نو حضرت ﷺ درے ورځے د هغوی سره پاتے شو او بيائے اوفرمائيل چه تۀ خپل خاوند ته څۀ سپكه نۀ يې كچرے ته غواړے نو زۀ به يوه هفته ستا سره يم. او كچرے يوه هفته ستا سره پاتے شوم نو د خپلو ټولو ښځو سره به يوه يوه هفته تيروم او بيا به دد ے ټولو نه روستو ستا نمبر راځي .

عَن أَبِي بَكرِ بنِ عَبدِ الرَّحمٰنِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ حِينَ تَزَوَّجَ أُمَّ

ابوبكر ، د عبد الرّحمٰن خوئ نه روايت دے چه جناب رسول الله ﷺ چه هر كله نكاح اوكړه د اُم سلمهؓ سره او د هغوی سره ئے صبا كړو نو

مخالفينو باندے حجت دے. ځكه چه د جناب رسول الله ﷺ خوشحاليدل صفا دليل دے چه حضرت ﷺ د هغوی قول لره معتبر ګڼړلے دے. او اتفاق دے د هغه خلقو كوم چه قائف لره معتبر ګڼړي په دے باندے چه قائف عادل وی. او په دے كښې اختلاف دے چه يو قول پوره دے يا د دوه ضرورت دے. صحيح داده چه يو قول پوره دے او دا حديث هم په دے باندے دليل دے. او دغه قول دے د قاسم مالكي. او امام مالك وئيلي دي چه د دوؤ كيدل ضروري دی. او د ځنے ملګرو د شافعي هم دغه قول دے. مګر دا حديث په هغوی باندے حجت دے. او دا ضروري ده چه قائف د خبردار او تجربه كار وی. او صورت د الحاقِ ولد او ضرورت د قائف چه دے مثلاً يوه وينځه يو سړی واخسته . او مخكښې د يو حيض راتلو نه اخستونكي د هغے سره صحبت اوكړو. او خرڅونكي هم ورسره په دغه طهر كښې صحبت كړے وو. او دغه وينځے شپږ مياشتے پس يا دد ے نه په زياته باندے ماشوم اوزيږه وو د مشتری د صحبت نه او د ځلورو كالو دننه د بائع د صحبت نه. بيا د قائف په طرف مونږه رجوع اوكړه. او هغه د يو سره ملحق كړو نو هغه ماشوم د هغۀ شو. او كچرے دۀ ته شك وو او دواړو دے هلك ته وے چه زمونږ نۀ دے نو هغه به څوانئ ته د رسيدو پورې پاتے كړے شی بيا چه ئے كوم طرفته مخه اوكړه د هغۀ به ګڼړلے شي. او كۀ قائف د دواړو سره ملحق كړو نو د عمر بن خطاب او مالك او شافعي مذهب دغه دی چه هغه به د څوانئ پورې پريخود ے شي بيا چه ئے كوم طرفته ميلان وو د هغه طرف به تصور كولے شي. او ابوثور او سحنون وئيلي دي چه هغه به د دواړو بچے تصور كولے شي. او ماجشون او محمدبن سلمٰى وئيلي دی چه د كوم يو شباهت پكښې زيات موند ے شو د هغۀ به تصور كولے شي. او كوم خلق چه د قائف قول معتبر نۀ ګڼړي هغوی هلك ته متنازع فيه وائي چه د دواړو سره د ملحق كړے شي او دواړه سړي د د هغۀ پلاران تصور كړے شي او دا قول د ابوحنيفه دے. او دغه شان كچرے دوه ښځے په خپلو كښې د يو بل سره جنګ كوی نو هغوی به هم دواړه د دغه ماشوم ميندے ګڼړلے شي. او ابويوسف وئيلي دي چه د دواړو سړو سره خو د ملحق كړے شي. خو دوه ښځے كچرے جهګړه كوی نو صرف د يوے سره به ملحق كولے شي او اسحٰق وئيلي دي چه په دے دواړو كښې د خسنړے اوغور خولے شي.

سَلَمَةَ وَأَصْبَحَتْ عِنْدَهُ قَالَ لَهَا لَيْسَ بِكِ عَلَى أَهْلِكِ هَوَانٌ إِنْ شِئْتِ سَبَّعْتُ عِنْدَكِ وَإِنْ شِئْتِ ثَلَّثْتُ ثُمَّ دُرْتُ قَالَتْ ثَلِّثْ

اوئې فرمائیل چه تهٔ د خپل کور والا په نظر کښ سپکه نهٔ ئې. کچرې تهٔ غواړې نو زهٔ به یوه هفته ستا سره یم. او که ستا خوښه وی نو درې ورځې. او بیا به دوره کوم. هغوی عرض اوکړو چه درې ورځې اوسیږه

عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تَزَوَّجَ أُمَّ سَلَمَةَ فَدَخَلَ عَلَيْهَا فَأَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ أَخَذَتْ بِثَوْبِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ شِئْتِ زِدْتُكِ وَحَاسَبْتُكِ بِهِ لِلْبِكْرِ سَبْعٌ وَلِلثَّيِّبِ ثَلَاثٌ

د ابوبکر بن عبد الرحمٰن نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه هر کله د أُم سلمه سره نکاح اوکړه. او د هغې خواله راغې او اراده ئې اوکړه چه اوځم نو هغوی حضرت ﷺ او نیوؤ. نو حضرت ورته اوفرمائیل چه کچرې تهٔ غواړې نو زهٔ به ستا سره زیات پاتې شم او د هغې مودې حساب به ساتم اس د جینئ ښځې سره اووهٔ ورځې اوسیدل پکار دی. او د ثیبې ښځې سره درې ورځې.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ حُمَيْدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

د عبد الرحمٰن بن حمید نه دغه روایت په دغه سند سره مروی شوے دے.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ ذَكَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَذَكَرَ أَشْيَاءَ هٰذَا فِيهِ قَالَ إِنْ شِئْتِ أَنْ أُسَبِّعَ لَكِ وَأُسَبِّعَ لِنِسَائِي وَإِنْ سَبَّعْتُ لَكِ سَبَّعْتُ لِنِسَائِي

أُم سلمه روایت ذکر کړے دے چه هر کله رسول الله ﷺ د هغوی سره نکاح اوکړه او په هغې کښې ئې د څو څیزونو ذکر اوکړو چه یو پکښې دا هم وو چه اوئې فرمائیل چه کچرې تهٔ غواړې نو زهٔ به د اووهٔ ورځو پورې ستا سره اوسیږم. او کچرې ستا سره اووهٔ ورځې پاتې شوم نو د نورو بیبیانو سره به هم اووهٔ اووهٔ ورځې اوسیږم.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ إِذَا تَزَوَّجَ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ عَلَى الْبِكْرِ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا قَالَ خَالِدٌ وَلَوْ قُلْتُ إِنَّهُ رَفَعَهُ لَصَدَقْتُ وَلٰكِنَّهُ قَالَ السُّنَّةُ كَذٰلِكَ

د انس نه روایت دے فرمائی چه هر کله د پیغلې سره نکاح کوئ او مخکښې دد ے نه په نکاح کښې بله ښځه وی نو ددغې پیغلې سره به د اووهٔ ورځو پورې پاتې کیږی (او روستو دد ے نه به بیا نمبر مقرر کړی) او هر کله چه د یو خل وادهٔ شوې ښځې سره نکاح کوی او پیغله جینئ ددهٔ په نکاح کښ وی نو د هغې سره به رومبئ درې ورځې پاتې کیږی. خالد وئیلی دی چه کچرې زهٔ دے روایت ته مرفوع

اووایم نو هم به رښتیا وی. مګر انس رضی الله عنه وئیلی دی دا امر سنت دے[1].

بَاب الْقَسْمِ بَيْنَ الزَّوْجَاتِ وَبَيَانِ أَنَّ السُّنَّةَ أَنْ تَكُونَ لِكُلِّ وَاحِدَةٍ لَيْلَةٌ مَعَ يَوْمِهَا

باب: د ښځو په مینځ کښې نمبر مقررول، او دا چه مستحب دی چه د هرے یوے دپاره یوه شپه سره د ورځے وی

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعُ نِسْوَةٍ فَكَانَ إِذَا قَسَمَ بَيْنَهُنَّ لَا يَنْتَهِي إِلَى الْمَرْأَةِ الْأُولَى إِلَّا فِي تِسْعٍ فَكُنَّ يَجْتَمِعْنَ كُلَّ لَيْلَةٍ فِي بَيْتِ الَّتِي يَأْتِيهَا فَكَانَ فِي بَيْتِ عَائِشَةَ فَجَاءَتْ زَيْنَبُ فَمَدَّ يَدَهُ إِلَيْهَا فَقَالَتْ هَذِهِ زَيْنَبُ فَكَفَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَتَقَاوَلَتَا حَتَّى اسْتَخَبَتَا وَأُقِيمَتْ الصَّلَاةُ فَمَرَّ أَبُو بَكْرٍ عَلَى ذَلِكَ فَسَمِعَ أَصْوَاتَهُمَا فَقَالَ اخْرُجْ يَا رَسُولَ اللهِ إِلَى الصَّلَاةِ وَاحْثُ فِي أَفْوَاهِهِنَّ

د انس نه روایت دے چه د نبی ﷺ نهه بیبیانے وے او حضرت ﷺ چه به هر کله په هغوی کښې برابری کوله نو د ړومبئ بی بی خواله به ئے په نهمه ورځ تشریف ورلو. او د بیبیانو دا قاعده وه چه حضرت ﷺ به د چا په کور کښې وو د هغے کورته به نورے بیبیانے هم راتلے. یوه ورځ حضرت ﷺ د بی بی عائشے صدیقے په کور کښې وو او بی بی زینب راغله او حضرت ﷺ د هغے په طرف لاس مبارك ور اوږد کړو نو عائشه بی بی عرض اوکړو چه زینب ده پس حضرت ﷺ لاس راښکودو. او د بی بی عائشے او زینب په مینځ کښې تکرار شروع شو تردے پورے چه د دواړو آوازونه اوچت شول. اود مانځهٔ تکبیر اوشو. او ابوبکر رضی الله عنه د هغوی

---

[1]: أم سلمه درے ورځے اوسیدل د حضرت غوره اوفرمائیل ښکه چه دا درےورځے مجرانه یعنی جاری کیدل نهٔ وی او خاص د هغوی دپاره اوسیږی. او د حضرت به بیا زر یوه یوه شپه د تولو بیبیانو سره پاتے کیدل اوبیا د أم سلمه خواته به راتلل وی او اووهٔ ورځے ئے ښکه غوره نهٔ کړے ددےدپاره چه اووهٔ اووهٔ ورځے پس چه بیا حضرت ﷺ تشریف راوړی. نو ډیره موده به په جدا والی کښې تیره شی او ددے حدیث نه معلومه شوه چه د نوے ناوے حق کچرے پیغله جینئ وی نو اووهٔ ورځے دے. ددے نه پس به بیا خاوند برابر نمبر د یوےورځے مقرر کړی. او کچرے ثیبه وی (یعنی یو خل وړاندے وادهٔ شوی وی) نو دهغے حق د ددےخاوند سره ړومبئ درےورځے دے. او ثیبے ته اختیار دے چه کهٔ خاوند لره درےورځے ساتی نو د هغے قضا نشته. او بیا به نمبر د یوے یوے ورځ وی. او کچرے اووهٔ ورځے ئے اوساتی نو دهغے به قضا وی. یعنی خاوند به اووهٔ ورځے د هرے یوے ښځے سره وی. او دغه مذهب دے د شافعی او د هغوی د موافقینو لکه امام مالك او احمد او اسحق او ابوثور او ابن جریر دی. او دغه قول دے د جمهور علماؤ ددغه حدیثو د مخه.

التُّرَابَ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ الآنَ يَقْضِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ فَيَجِيءُ أَبُو بَكْرٍ فَيَفْعَلُ بِي وَيَفْعَلُ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ أَتَاهَا أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ لَهَا قَوْلاً شَدِيدًا وَقَالَ أَتَصْنَعِينَ

په خواه کښې تیر شو او عرض ئې اوکړو چه یا رسول الله ﷺ تاسو مانځهٔ ته راووځئ او د هغوی په خله کښې خاورے واچوئ. پس نبی ﷺ راااووتو. او جناب عائشې صدیقې ونیلو چه اوس به نبی ﷺ مونځ اوکړی نو حضرت ابوبکر به راشی او په ما بانده به داسې او هغسې خفه وی. بیا چه هر کله حضرت مونځ اوکړو نو ابوبکر د هغوی خواله راغے او هغوی ته ئې ډیرے سختې خبرے اوکړے او اوئې فرمائیل چه تهٔ داسې کوے (یعنی د حضرت ﷺ په مخکښې چغې وهے او آواز اوچتوے)[1].

باب جَوَازِ هِبَتِهَا نَوْبَتَهَا لِضُرَّتِهَا

باب: خپل نمبر بنے ته د بخښلو بیان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ امْرَأَةً أَحَبَّ إِلَيَّ أَنْ أَكُونَ فِي مِسْلَاخِهَا مِنْ سَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ مِنِ امْرَأَةٍ فِيهَا حِدَّةٌ قَالَتْ فَلَمَّا كَبِرَتْ جَعَلَتْ يَوْمَهَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى

حضرت عائشې صدیقې نه روایت دے فرمائی چه ما یوه ښځه داسې نهٔ ده لیدلې چه آرزو کوم زهٔ د هغې پشان د جسم کیدو د سوده نه مخکښې. هغه یوه داسې ښځه وه چه د هغې په مزاج کښې ډیره ګرمی وه. بیا چه هر کله هغوی بوډئ

---

[1]: په دے حدیث کښې څو فائدے دی. اول دا چه مستحب دی د خاوند دپاره چه د هغرے یوے ښځې په نمبر کښې به د هغې کور ته ځی. او دا غوره دی. او کچرے خپل کور ته هره یوه په نمبر نمبر راغواړی نو روا دی. دویم دا چه د کومې ښځې نمبر نهٔ وی نو خاوند لره په دغه شپه د هغې کور ته تلل منع دی. او د شافعي په نز حرام دی. مګر په ضرورت کښې لکه چه سکرات د مرګ وی یا بل سخت ضرورت وی. دریم دا چه لاس غزول د رسول الله ﷺ په دے خیال سره وو چه حضرت ﷺ دا ګنړله چه دا محترمه عائشه ده چه د هغې نمبر وو. او د شپې وخت وو او په کورونو کښې رڼړا نهٔ وه. بیا چه هر کله حضرت ته معلومه شوه چه دا هغه نهٔ ده نو لاس ئې واپس راښکودو. ددے نه تقوی او بندګی د حضرت ﷺ معلومه شوه. او څلورم دا چه داسې وئیلی دی چه داسې اتفاق به کله کله د بیبیانو په رضامندئ سره کیدلو. څلورم دا چه د جناب رسالت مآب ﷺ ښکلی اخلاق او ملاطفت ددے نه معلوم شو چه حضرت ﷺ د هغوی په آواز اوچتولو بانده زورنه ورنکړه. او ابوبکر چه کوم اوفرمائیل چه د دوی په خلهٔ کښې خاورے واچوه. دا داسې خبره ده لکه چه خلق وائی په دے خبره بانده خاورے واړوه. پنځم دا چه په دے سره فضیلت د ابوبکر صدیق ثابت شو او نظر کول د هغوی د صلح په اُمورو کښې. شپږم دا چه معلومه شوه چه روا دے په طور د مصلحت یو حکم ورکول د خپل ملګری خپل غوره سردار ته. او نهه بیبیانے د رسول الله ﷺ کومې چه د هغوی د وفات نه پس پاتې وےدادی. (۱) حضرت عائشه صدیقه چه د ټولو نه زیاته فقیهه او د رسول الله ﷺ خوښه وه. (۲) حفصه (۳) سوده (۴) زینب (۵) أم حبیبه (۶) أم سلمه (۷) میمونه (۸) جویریه (۹) صفیه.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَائِشَةَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ جَعَلْتُ يَوْمِي مِنْكَ لِعَائِشَةَ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ لِعَائِشَةَ يَوْمَيْنِ يَوْمَهَا وَيَوْمَ سَوْدَةَ

شوله نو خپل نمبر ئے عائشے ؓ ته ورکړو. او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ﷺ ما خپل نمبر عائشے ته اوبخښلۀ. پس حضرت ﷺ به د حضرت عائشے سره دوه ورځے اوسیدو یوه د هغے خپله ورځ. او یوه د حضرت سوده په ورځ کښې[1].

عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ أَنَّ سَوْدَةَ لَمَّا كَبِرَتْ بِمَعْنَى حَدِيثِ جَرِيرٍ وَزَادَ فِي حَدِيثِ شَرِيكٍ قَالَتْ وَكَانَتْ أَوَّلَ امْرَأَةٍ تَزَوَّجَهَا بَعْدِي

د هشام نه په دغه اسناد سره دغه مضمون مروی دے. او د شریك په روایت کښې دا زیاته ده چه حضرت عائشے صدیقے اوفرمائیل چه سوده ړومبئ بی بی وه چه د هغے سره څما نه پس حضرت ﷺ نکاح کړے وه.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغَارُ عَلَى اللَّاتِي وَهَبْنَ أَنْفُسَهُنَّ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَقُولُ وَتَهَبُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَلَمَّا أَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ قَالَ قُلْتُ وَاللهِ مَا أَرَى رَبَّكَ إِلَّا يُسَارِعُ لَكَ فِي هَوَاكَ

حضرت عائشه فرمائی چه ما به په هغه ښځو باندے ډیر غیرت خوړلو چا چه به خپل ځان رسول الله ﷺ ته هبه کولو. او ما به وئیلو چه ښځه خپل روح ولے هبه کوی بیا چه هر کله دا ایت نازل شو د تُرْجِيْ نه واخله د اٰخره پورے یعنی چالره چه ته غواړے اے نبی! لرےکوه ئے د ځان نه. او چا لره چه غواړے خائے ورکوه د ځان سره د هغوی نه. نو ما حضرت ته اووے چه قسم دے په الله پاك باندے چه زۀ نۀ وینم چه هغه الله تعالی مګر ستاسو د خواهش موافق ئے خلتی کړے ده په حکم کښې.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تَقُولُ أَمَا تَسْتَحِي امْرَأَةٌ تَهَبُ نَفْسَهَا لِرَجُلٍ حَتَّى أَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ فَقُلْتُ إِنَّ رَبَّكَ لَيُسَارِعُ لَكَ فِي هَوَاكَ

د حضرت عائشے نه روایت دے هغوی وئیل چه کومه ښځه خپل ځان یو سړی ته اوبخښی هغه شرمیږی نه. تر دے پورے چه الله تعالی د تُرْجِيْ نه آخره پورے نازل اوفرمایۀ. نو ما اووے بے شکه ستا رب ستاسو آرزو په پوره کولو کښې ډیره جلتی کوی.

---

[1] حضرت عائشه صدیقه فرمائلی دی چه زۀ د هغوی په جسم کښې وے. مراد د دے نه دا دے چه زۀ آرزو کوم چه د هغے پشان تیزی او ګرمی څما په مزاج کښې وے. او په دے کښې لکه هغوی د سوده وصف بیان فرمائیلے او مدح ئے کړے ده. او د دے حدیث نه خپل نمبر ورکول خپلے بنے ته جائز شو. او دا هم روا دی چه نمبر خپل زوج ته ورکړی یعنی خاوند ته ورکړی چه هغه کومه غواړی او هغے ته ئے ورکړی.

عَنْ عَطَاءٍ قَالَ حَضَرْنَا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ جَنَازَةَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَرِفَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هٰذِهِ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَفَعْتُمْ نَعْشَهَا فَلَا تُزَعْزِعُوا وَلَا تُزَلْزِلُوا وَارْفُقُوا فَإِنَّهُ كَانَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ تِسْعٌ فَكَانَ يَقْسِمُ لِثَمَانٍ وَلَا يَقْسِمُ لِوَاحِدَةٍ قَالَ عَطَاءٌ الَّتِي لَا يَقْسِمُ لَهَا صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيِّ بْنِ أَخْطَبَ

د عطاء نه روایت دے چه مونږ حاضر شو د ابن عباس سره په سرف کښې د بی بی میمونې په جنازه کښې چه د رسول الله ﷺ بی بی وه نو ابن عباس اوفرمائیل چه خیال ساتئ دا بی بی صاحبه ده د رسول الله ﷺ هر کله چه دددے جنازه مبارکه اوچته کړئ نو خوزوئ راخوزوئ ئے مه. او په ډیره نرمئ سره ئے وړئ او خبره دا چه د رسول الله ﷺ نهه بیبیانے وے په هغوی کښې د اتو دپاره نمبر مقرر وو او د یوے دپاره نه وو. او عطاء وئیلی دی چه هغه صفیه وه[1].

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ قَالَ عَطَاءٌ كَانَتْ آخِرَهُنَّ مَوْتًا مَاتَتْ بِالْمَدِينَةِ

د ابن جریج نه په دغه سند سره روایت دے چه عطاء وئیلی دی هغوی د ټولو نه په آخر کښې وفات شوے وه. اوهغوی په مدینه کښې وفات موندلے وو.

بَابُ اسْتِحْبَابِ نِكَاحِ ذَاتِ الدِّينِ

باب: د دیندارے ښځے سره د نکاح کولو بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ

د حضرت ابوهریره روایت دے نبی ﷺ فرمائیلی دی د ښځے سره په څلورو خبرو نکاح کولے شی. د هغے د مال دپاره د هغے د حُسن دپاره. او د حسب (یعنی شریف خاندان دپاره) او د دین دپاره. پس ته په دینداره باندے فتح حاصلوه ستا لاسونه د خاورو ډك شه[2].

---

[1]: عطاء ته وهم شوے دے. په حقیقت کښې هغه بی بی د چا چه نمبر نه وو جناب سوده وه. لکه څنګه چه په پورته روایتونو کښې تیر شو. او د علماؤ په دے کښې اختلاف دے. چه هغه بی بی څوك وه چا چه خپل ځان رسول الله ﷺ ته هبه کړے وو. زهری وئیلی دی چه حضرت میمونه وه. او چا وئیلی دی چه أم شریك وه او چا وئیلی دی چه زینب بنت خزیمه وه.

[2]: د دے حدیث نه مراد دادے چه د خلقو عادت دا دے چه د مال او حُسن او حسب نسب طلب کوونکی وی پس دیندار بنده لره لازم دی چه د دے ټولو خصلتونو نه دین مقدم اوګنړی چه په صحبت کښې د هغه صحبت نیك حاصل شی. او الله تعالی د هغه د نیت په برکت سره حُسن خلق او حُسن معاشرت هم عنایت کړی او په سبب د نیکۍ د دنیاوی فتنې او د أخروی فتنې نه په حفاظت کښې پاتے شی.

بَاب اسْتِحْبَابِ نِكَاحِ الْبِكْرِ

عَنْ عَطَاءٍ أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَقِيتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا جَابِرُ تَزَوَّجْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ بِكْرٌ أَمْ ثَيِّبٌ قُلْتُ ثَيِّبٌ قَالَ فَهَلَّا بِكْرًا تُلَاعِبُهَا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي أَخَوَاتٍ فَخَشِيتُ أَنْ تَدْخُلَ بَيْنِي وَبَيْنَهُنَّ قَالَ فَذَاكَ إِذَنْ إِنَّ الْمَرْأَةَ تُنْكَحُ عَلَى دِينِهَا وَمَالِهَا وَجَمَالِهَا فَعَلَيْكَ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تَزَوَّجْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ أَبِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا قُلْتُ ثَيِّبًا قَالَ فَأَيْنَ أَنْتَ مِنَ الْعَذَارَى وَلِعَابِهَا قَالَ شُعْبَةُ فَذَكَرْتُهُ لِعَمْرِو بْنِ دِينَارٍ فَقَالَ قَدْ سَمِعْتُهُ مِنْ جَابِرٍ وَإِنَّمَا قَالَ فَهَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ

باب : د پیغلې سره د نکاح مستحب کیدو بیان

د عطاء نه روایت دے وائی چه ماته جابر خبر راکړے دے چه ما نکاح اوکړه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې او زۀ د حضرت ﷺ سره میلاؤ شوم نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اے جابر! تا نکاح اوکړه. ما اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل د کُنډې سره کۀ د پیغلې سره؟ ما اووے د کُنډې سره. حضرت ﷺ اوفرمائیل د پیغلې سره دِ ولې نۀ کوؤ چه هغې ستا سره لوبې کولې او تا د هغې سره لوبې کولې. ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ! ځما یو څو خویندې دی پس ځما دا خیال وو چه چرے داسې او نۀ شی چه هغه ښځه (یعنی پیغله) ما ته د هغوی په پرورش کښې مانع شی. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه کچرے دا دِ خیال وی نو خیر دے. بیائے اوفرمائیل چه د ښځې سره نکاح کولے شی د هغې د دین دپاره. د مال دپاره. د حُسن دپاره. پس تۀ دین روبیے کوه ستا دواړه لاسونه په خاورو خړ شه

د جابر بن عبدالله نه روایت دے چه عبدالله (ځما پلار) وفات شو او نهه یا اووۀ لوریانے پاتې شوے (راوی ته شك دے چه نهه ئے اوئیل یا اووۀ) نو ما د یوې کُنډې سره نکاح اوکړه. نو ما رسول الله ﷺ اوفرمائیل. اے جابر! تا نکاح کړې ده. ما اوئې آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل. جینۍ سره یا کنډې سره. نو ما عرض اوکړو. کُنډې سره. حضرت ﷺ اوفرمائیل. د جینۍ سره دِ ولې نۀ کوله چه تا ورسره لوبې کولې او هغې ستا سره لوبې کولې یا اوئې فرمائیل تا به هغې سره خندلې او هغې به ستا سره خندلې. ما عرض اوکړو. خبره دا ده چه (ځما پلار) عبد الله وفات شو او نهه یا اووۀ لونړی ئے پریخودې (نهه یا اووۀ دا د راوی شك دے) نو ما خوښه نکړه چه زۀ ددوی برابر د یوې جینۍ سره وادۀ اوکړم. او ما اوغوښتل چه داسې ښځې راولم چه

دډوی اصلاح اوکړی او دډوی د خیر خبر اوساتی. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل. الله تعالی د تاله برکت درکړی یا ئے څۀ بله دُعا د خیر اوفرمائیله د ابوالربیع په روایت کښې د لوبو او د خندلو دواړه لفظونه دي

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ نَكَحْتَ يَا جَابِرُ وَسَاقَ الْحَدِيثَ إِلَى قَوْلِهِ امْرَأَةً تَقُومُ عَلَيْهِنَّ وَتَمْشُطُهُنَّ قَالَ أَصَبْتَ وَلَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے جابره ! آیا تا نکاح اوکړه . مخکښې هغه مضمون دے چه ما د داسے ښځے سره نکاح اوکړه چه هغه د هغوی خبر اخلی او هغوی له ئے سر ګومنزه وی او حضرت ﷺ اوفرمائیل ښۀ دے اوکړل. او دد ے نه د روستو ذکر نشته[1]

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ فَلَمَّا أَقْبَلْنَا تَعَجَّلْتُ عَلَى بَعِيرٍ لِي قَطُوفٍ فَلَحِقَنِي رَاكِبٌ خَلْفِي فَنَخَسَ بَعِيرِي بِعَنَزَةٍ كَانَتْ مَعَهُ فَانْطَلَقَ بَعِيرِي كَأَجْوَدِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنَ الْإِبِلِ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا أَنَا بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا يُعْجِلُكَ يَا جَابِرُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ فَقَالَ أَبِكْرًا تَزَوَّجْتَهَا أَمْ ثَيِّبًا قَالَ قُلْتُ بَلْ ثَيِّبًا قَالَ هَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ فَقَالَ أَمْهِلُوا

د جابر بن عبد الله نه روایت دے وائی چه مونږ په یو جهاد کښې د رسول الله ﷺ سره ملګری وو بیا چه هر کله واپس راروان شو نو ما خپل اوښ په تلوار شړلو او هغه سُست وو. پس سور بنده څما د شا د طرفنه راغے او څما اوښ له ئے په خپله لخته سره یو ګُذار ورکړو کومه چه د هغوی سره وه. او څما اوښ داسے روان شو چه لیدونکی به د هغے نه غوره نۀ لیدو او ما چه شاته اوکتل نو هغه رسول الله ﷺ وو. او حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اے جابره په تا څۀ تادی ده؟ ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ څما نوے نوے وادۀ شوے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه د کُنډے سره که د پیغلے سره؟ ما اووے کُنډے سره . حضرت ﷺ اوفرمائیل چه د پیغلے سره د ولے نۀ کوو چه تا د هغے سره لوبے کولے او هغے ستا سره. بیا چه هر کله مونږ مدینے ته راغلو، نو روان وو چه داخل شو . حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اودریږئ تردے پورے چه شپه راشی یعنی د

---

[1] دد ے حدیث نه فضیلت د پیغلے د نکاح ثابت شو او جواز د خپلے ښځے سره د لوبو او خندلو او موندے شو. او که څۀ مصلحت نوږ یو وی نو پیغلے د کنډے نه غوره ده.

حَتّٰی نَدْخُلَ لَیْلًا أَیْ عِشَاءً کَیْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِیْبَةُ قَالَ وَقَالَ إِذَا قَدِمْتَ فَالْکَیْسَ الْکَیْسَ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ غَزَاةٍ فَأَبْطَأَ بِیْ جَمَلِیْ فَأَتٰی عَلَیَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِیْ یَا جَابِرُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ مَا شَأْنُكَ قُلْتُ أَبْطَأَ بِیْ جَمَلِیْ وَأَعْیَا فَتَخَلَّفْتُ فَنَزَلَ فَحَجَنَهُ بِمِحْجَنِهِ ثُمَّ قَالَ ارْکَبْ فَرَکِبْتُ فَلَقَدْ رَأَیْتُنِیْ أَکُفُّهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَتَزَوَّجْتَ فَقُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ أَبِکْرًا أَمْ ثَیِّبًا فَقُلْتُ بَلْ ثَیِّبٌ قَالَ فَهَلَّا جَارِیَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ قُلْتُ إِنَّ لِیْ أَخَوَاتٍ فَأَحْبَبْتُ أَنْ أَتَزَوَّجَ امْرَأَةً تَجْمَعُهُنَّ وَتَمْشُطُهُنَّ وَتَقُوْمُ عَلَیْهِنَّ قَالَ أَمَا إِنَّكَ قَادِمٌ فَإِذَا قَدِمْتَ فَالْکَیْسَ الْکَیْسَ ثُمَّ قَالَ أَتَبِیْعُ جَمَلَكَ قُلْتُ نَعَمْ فَاشْتَرَاهُ مِنِّیْ بِأُوْقِیَّةٍ ثُمَّ قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَقَدِمْتُ بِالْغَدَاةِ فَجِئْتُ الْمَسْجِدَ فَوَجَدْتُهُ عَلٰی بَابِ

ماسختن وخت دده دپاره چه سر گومنز کړی هغه وېښتو والا او وېښتهٔ د نوم لاندې لرې کړی هغه ښځې چه خاوند ئې بهر تلے وی. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه کله ورشې نو بیا خو جماع ده جماع ده (یعنی د اُمت د زیاتوالی دپاره نهٔ صرف د خوند دپاره)

د حضرت جابر نه روایت دے چه زهٔ د جناب رسول الله ﷺ سره اووتم په یو جهاد کښې. او زما اوښ په قلاره روان وو. اوجناب رسول الله ﷺ زما خواله راغے او اوئې فرمائیل اے جابره! ما اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل ستا څهٔ حال دے؟ ما اووے چه زما اوښ حصاریږی او ستړے شوے دے ځکه زهٔ روستو پاتے شوم. پس حضرت ﷺ راکوز شو او حضرت ﷺ د خپل کوږ کوټ په لرگی سره هغهٔ لره یو گذار ورکړو. بیائے اوفرمائیل سور شه زهٔ سور شوم او چه ځان ته مے اوکتل چه زما اوښ دومره تیز شوے وو چه ما به هغه رامنع کوو چه د رسول الله ﷺ نه مخکښې نهٔ شی. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه تا نکاح کړے ده؟ ما عرض اوکړو چه آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه پیغله د کړے ده یا کنډه؟ ما عرض اوکړو چه کنډه. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه د پیغلې سره د ولې نهٔ کوؤ. چه تا د هغې سره لوبے کولے او هغې ستا سره. ما عرض اوکړو چه زما څو خویندے دی. ځکه ما دا غوښتله چه دداسې ښځې سره نکاح اوکړم چه هغه هغوی تولې په جمع ساتی. (یعنی خفگان له ئې نهٔ ورکوی) او د هغوی سر گومنزه وی او خدمت ئې کوی. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ته خپل کور ته تلونکے ئې پس هر کله چه کور ته اُورسې نو جماع او جماع ده. بیائے اوفرمائیل چه ته خپل اوښ خرڅوے؟ ما اووے چه آو. بیا حضرت ﷺ هغې لره د یو اوقیه سپینو زرو په عوض کښې واخستو. بیا رسول الله ﷺ راغے او زهٔ په دویمه ورځ سحر

الْمَسْجِدِ فَقَالَ الْآنَ حِينَ قَدِمْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَدَعْ جَمَلَكَ وَادْخُلْ فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ قَالَ فَدَخَلْتُ فَصَلَّيْتُ ثُمَّ رَجَعْتُ فَأَمَرَ بِلَالًا أَنْ يَزِنَ لِي أُوقِيَّةً فَوَزَنَ لِي بِلَالٌ فَأَرْجَحَ فِي الْمِيزَانِ قَالَ فَانْطَلَقْتُ فَلَمَّا وَلَّيْتُ قَالَ ادْعُ لِي جَابِرًا فَدُعِيتُ فَقُلْتُ الْآنَ يَرُدُّ عَلَيَّ الْجَمَلَ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْهُ فَقَالَ خُذْ جَمَلَكَ وَلَكَ ثَمَنُهُ

رالورسیدم او جماعت ته راغلم. او حضرت ﷺ مے د جماعت په دروازه کښې اولیدۀ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل ته راغلې ؟ ما عرض اوکړو آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل اوښ دلته پریږده او جماعت ته لاړ شه دوه رکعته مونځ ادا کړه. (دد ے نه ثابته شوه چه د سفر نه په راتلو سره مخکښې جماعت ته تلل او دوه رکعته مونځ ادا کول سنت دی) بیا زۀ لاړم او دوه رکعته مے ادا کړل او راغلم. حضرت بلال ته حکم اوکړو چه ما له یو اوقیه سپین زر تول کړه. بیا هغوی ښه درانه اوتلل. او چه هر کله څما شوه روان شوم. نو حضرت ﷺ بیا رااوغوښتم. او څما خیال شو چه اوس څما اوښ ماته واپس کوی او دد ے نه زیات ما ته دومره بل شے نا خوښه نۀ وو. نو ما ته ئے اوفرمائیل چه څه او خپل اوښ هم بوځه او قیمت مے هم تاته درکړو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا فِي مَسِيرٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا عَلَى نَاضِحٍ إِنَّمَا هُوَ فِي أُخْرَيَاتِ النَّاسِ قَالَ فَضَرَبَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ قَالَ نَخَسَهُ أُرَاهُ قَالَ بِشَيْءٍ كَانَ مَعَهُ قَالَ فَجَعَلَ بَعْدَ ذٰلِكَ يَتَقَدَّمُ النَّاسَ يُنَازِعُنِي حَتَّى إِنِّي لَأَكُفُّهُ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَتَبِيعُنِيهِ بِكَذَا وَكَذَا وَاللهُ يَغْفِرُ لَكَ قَالَ قُلْتُ هُوَ لَكَ يَا نَبِيَّ اللهِ قَالَ أَتَبِيعُنِيهِ بِكَذَا وَكَذَا وَاللهُ يَغْفِرُ لَكَ قَالَ قُلْتُ هُوَ لَكَ يَا نَبِيَّ اللهِ قَالَ وَقَالَ لِي أَتَزَوَّجْتَ بَعْدَ أَبِيكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ ثَيِّبًا أَمْ بِكْرًا قَالَ قُلْتُ ثَيِّبًا قَالَ فَهَلَّا

د جابر نه روایت د ے وائی چه مونږ په یو سفر کښې د رسول الله ﷺ سره وو او زۀ په اوبو راوړونکی اوښ باند ے سور وم. د ټولو خلقو نه روستو. پس جناب رسول الله ﷺ هغه اووهو یائے اوفرمائیل اوئے چلوۀ. زۀ گمان کوم چه په یو داسے څیز ئے اووهو کوم چه د هغوی سره وو. بیا خو هغه د ټولو خلقو نه مخکښې اووتو (دا د حضرت ﷺ معجزه وه) او څما سره به لکه جنگیدو او ما به هغۀ لره منع کوو. بیائے اوفرمائیل تاسو دا په ما راخر سوئ په دومره قیمت باند ے الله د تا اوبخښی. ما عرض اوکړو چه هغه ارزان د ے. بیائے اوفرمائیل چه تا نکاح کړ ے ده د خپل پلار نه روستو؟ ما اوو ے آو. حضرت ﷺ تپوس اوکړو چه کُنده د ے کړ ے ده یا پیغله؟ ما اوو ے کنده ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه

تَزَوَّجْتَ بِكْرًا تُضَاحِكُكَ وَتُضَاحِكُهَا وَتُلَاعِبُكَ وَتُلَاعِبُهَا قَالَ أَبُو نَضْرَةَ فَكَانَتْ كَلِمَةً يَقُولُهَا الْمُسْلِمُونَ افْعَلْ كَذَا وَكَذَا وَاللّٰهُ يَغْفِرُ لَكَ

پیغله د ولے نۀ کوله چه هغے ستا سره لوبے کولے او تا د هغے سره. ابونضره وائی چه دا د مسلمان تکیه کلام دے چه تۀ داسے اوکړه الله به تا اوبخښی (غرض دا چه په دے شان حضرت ﷺ هغوی ته هم اوفرمائیل)

بَاب الْوَصِيَّةِ بِالنِّسَاءِ

باب: د ښځو سره د خوش خلقئ کولو حکم

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِيمَ لَكَ عَلَى طَرِيقَةٍ فَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَبِهَا عِوَجٌ وَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهَا كَسَرْتَهَا وَكَسْرُهَا طَلَاقُهَا

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ښځه د پښتئ د هډوکی نه پیدا شوے ده او هغه به چرته هم ستا سره په نیغه لاره نۀ خی بیا کچرے تۀ د هغے نه کار اخلے نو اخله ترے او هغه به دغسے د کږے نه کړه وی او کچرے تۀ دے لره نیغول غواړے نو ما ته به ئے کړے. او ماتول د هغے طلاق ورکول دی[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَإِذَا شَهِدَ أَمْرًا فَلْيَتَكَلَّمْ بِخَيْرٍ أَوْ لِيَسْكُتْ وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ فَإِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ إِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا

د ابوهریرهؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی څوك چه ایمان لری په الله باندے او په ورځ د قیامت باندے هغوی لره دا ضروری ده. چه هر کله ورته یو کار مخکښں راشی نو ښه خبره د کوی کۀ داسے نۀ شی کولے نو چُپ د کینښنی. او د ښځو سره خیر خواهی کوئ ځکه چه هغه د پښتئ نه پیداده او په پښتئ کښں بیا پورته پښتئ د ټولو نه زیاته کږه ده. بیا کچرے تۀ دا نیغول غواړے نو ماته به ئے کړے. او کۀ داسے ئے پریږدے نو همیشه به کږه وی. خیر خواهی کوئ د ښځو سره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ

د ابوهریرهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه

[1] : یعنی د ښځو په کج روئ او بدمزاجئ باندے صبر کول ضروری دی. او د آدم علیه السلام د کسے پښتئ نه د حضرت حوا پیدائش دے. پس د پښتئ اثر کوږوالے دے.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ أَوْ قَالَ غَيْرَهُ

دشمني دِ نهٔ کوی یو مؤمن سړے د مؤمنې ښځې سره کچرے په هغې کښې ئے یو عادت خوښ نهٔ وی نو دویم به دِ خوښ شی. یائے دا دے نه سوا نور څهٔ اوفرمائیل.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلَا حَوَّاءُ لَمْ تَخُنْ أُنْثَى زَوْجَهَا الدَّهْرَ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے حوا نهٔ وے نو یوے ښځے به د خپل خاوند خیانت نهٔ کولو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَوْلَا بَنُو إِسْرَائِيلَ لَمْ يَخْبُثِ الطَّعَامُ وَلَمْ يَخْنَزِ اللَّحْمُ وَلَوْلَا حَوَّاءُ لَمْ تَخُنْ أُنْثَى زَوْجَهَا الدَّهْرَ

ابوهریره د رسول الله ﷺ نه روایت کړے دے چه حضرت ﷺ فرمائیلی دی کچرے بني اسرائیل نهٔ وی نو یوه غله به نهٔ سخا کیده او وه غوښه هم. او کچرے حوا نهٔ وے نو یوے ښځے به د خپل خاوند چرته هم خیانت نهٔ وو کړے[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ الدُّنْيَا مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ

د عبید الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دنیا د کار ویستلو څیز دے او بهتر دکار ویستلو څیز په دنیا کښې نیکو کاره ښځه ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّ الْمَرْأَةَ كَالضِّلَعِ إِذَا ذَهَبْتَ تُقِيمُهَا كَسَرْتَهَا وَإِنْ تَرَكْتَهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيهَا عِوَجٌ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ښځه د پښتئ په شکل ده کچرے ته دے لره نیغول غواړے نو ماته به کړے او که چرے پریږدے ئے نو ستا کار به کوی (فائده) او هغه د هم دغه شان کږه وی.

[1] حوا ته حوا ځکه وئیلے شی چه هغه د هر ژوندي مور ده. او بني اسرائیلو من او سلوی لره د یو وخت نه بل ته ساتل او هغه به سخا کیدل. او حوا د منع کړے شوے بوټی په خوړلو کښې ترغیب ورکړے وو چه د هغې اثر ئے په هره لور کښې پاتے شو.

كِتَابُ الطَّلَاقِ

د طلاقو مسئلې

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيَتْرُكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ ثُمَّ تَطْهُرَ ثُمَّ إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ بَعْدُ وَإِنْ شَاءَ طَلَّقَ قَبْلَ أَنْ يَمَسَّ فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه هغوی خپلے بی بی له طلاق ورکړو او هغه په حالت د حیض کښ وه د رسول الله ﷺ په زمانه کښ او حضرت عمر د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه دۀ ته حکم اوکړه چه رجوع اوکړی او د هغے سره اوسیږی تر دے پورے چه د حیض نه پاکه شی. او بیا ورته حیض راشی او بیا پاکه شی. بیا کۀ غواړی او دِ ئے ساتی او کۀ غواړی طلاق دِ ورکړی مخکښ ددے نه چه لاس پرے اولګوی. او دغه عدت دے د کوم په حساب سره چه الله تعالی د ښځو د طلاق ورکولو حکم کړے دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَةً لَهُ وَهِيَ حَائِضٌ تَطْلِيقَةً وَاحِدَةً فَأَمَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَاجِعَهَا ثُمَّ يُمْسِكَهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ عِنْدَهُ حَيْضَةً أُخْرَى ثُمَّ يُمْهِلَهَا حَتَّى تَطْهُرَ مِنْ حَيْضَتِهَا فَإِنْ أَرَادَ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا حِينَ تَطْهُرُ مِنْ قَبْلِ أَنْ يُجَامِعَهَا فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللهُ أَنْ يُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ وَزَادَ ابْنُ رُمْحٍ فِي رِوَايَتِهِ وَكَانَ عَبْدُ اللهِ إِذَا سُئِلَ عَنْ ذَلِكَ قَالَ لِأَحَدِهِمْ أَمَّا أَنْتَ طَلَّقْتَ امْرَأَتَكَ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنِي بِهَذَا وَإِنْ كُنْتَ طَلَّقْتَهَا ثَلَاثًا فَقَدْ

د عبد الله نه روایت دے چه دۀ طلاق ورکړو خپلے بی بی ته په حالت د حیض کښ او حکم اوکړو دۀ ته رسول الله ﷺ چه رجوع اوکړه او ساته هغے لره تر دے پورے چه د حیض نه پاکه شی. او بیا حائضه شی د هغوی سره په دویم ځل او بیا هغے له مهلت ورکړے شی تر دے پورے چه پاکه شی د دویم حیض نه بیا کچرے اراده وی د طلاق ورکولو نو طلاق دِ ورکړی هر کله چه هغه پاکه شی د جماع نه مخکښ غرض دغه عدت دے د کومے چه الله تعالی حکم کړے دے چه ددے په حساب سره دِ ښځو له طلاق ورکولے شی. او ابن رمح په خپل روایت کښ دا زیاته کړے ده. چه د عبد الله نه به هر کله چه ددے مسئلے تپوس اوکړے شو. نو هغۀ به وئیلو چه کۀ تا خپلے ښځے له یو یا دوه طلاوه ورکړی ذی (نو رجوع کیدے شی) ځکه چه رسول الله ﷺ ما ته ددے حکم کړے وو. او کچرے تا درے طلاقه ورکړی وی نو هغه ښځه پټا باندے حرامه شوه د کومے

حَرُمَتْ عَلَيكَ حَتّٰى تَنكِحَ زَوجًا غَيرَكَ وَعَصَيتَ اللهَ فِيمَا أَمَرَكَ مِنْ طَلَاقِ امرَأَتِكَ قَالَ مُسلِم جَوَّدَ اللَّيثُ فِي قَولِهِ تَطلِيقَةً وَاحِدَةً

پورے چه هغې د بل سړي سره نکاح نۀ وي کړے علاوه ستا نه او نافرماني اوکړه تا د اللهؒ د هغه طلاق په باره کښ کوم چه ئے ستا د ښځې دپاره تاته خودلی وو. مسلم فرمائیلي دي چه په دے روایت کښ د یو طلاق لفظ کوم چه لیث وئیلے ښۀ ئے وئیلے دی.

عَنِ ابنِ عُمَرَ قَالَ طَلَّقتُ امرَأَتِي عَلٰى عَهدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ حَائِضٌ فَذَكَرَ ذٰلِكَ عُمَرُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مُرهُ فَليُرَاجِعهَا ثُمَّ لِيَدَعهَا حَتّٰى تَطهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ حَيضَةً أُخرٰى فَإِذَا طَهُرَتْ فَليُطَلِّقهَا قَبلَ أَنْ يُجَامِعَهَا أَو يُمسِكهَا فَإِنَّهَا العِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللهُ أَنْ يُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ قَالَ عُبَيدُ اللهِ قُلتُ لِنَافِعٍ مَا صَنَعَتِ التَّطلِيقَةُ قَالَ وَاحِدَةٌ اعتَدَّ بِهَا

د عبد اللهبن عمر نه روایت دے چه ما خپلې بی بی ته طلاق ورکړل د رسول اللهﷺ په زمانه کښ هر کله چه هغه حائضه وه. نو عمر رسول اللهﷺ ته دد ے ذکر اوکړو نو حضرتﷺ اوفرمائیل چه هغۀ ته اووایه چه هغې ته رجوع اوکړه. بیا هغې لره پریده ترد ے پورے چه هغه پاکه شي. بیا ئے دویم حیض راشي. هر کله چه د هغې نه پاکه شي نو کۀ د جماع نه مخکښ غواړے نو طلاق ورکړه یا اوساته د خان سره هغې لره. ځکه دا وخت دے چه الله تعالی اجازت ورکړے دے چه ښځو له په دے کښ طلاق ورکړے شي. عبید الله د نافع نه تپوس اوکړو چه د هغه طلاق څۀ اوشو (یعني کوم چه ئے په حیض کي ورکړی وو) هغوی اووے چه په یو ځل طلاقو شمار کړلے شو.

عَنْ عُبَيدِ اللهِ بِهٰذَا الإِسنَادِ نَحوَهُ وَلَم يَذكُرْ قَولَ عُبَيدِ اللهِ لِنَافِعٍ قَالَ ابنُ المُثَنّٰى فِي رِوَايَتِهِ فَليَرجِعهَا وقَالَ أَبُو بَكرٍ فَليُرَاجِعهَا

د عبید الله په دغه سند سره دا مضمون مروی دے. او په دے کښ د عبید الله قول مذکور نۀ دے کوم چه په پورته روایت کښ وو.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابنَ عُمَرَ طَلَّقَ امرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَسَأَلَ عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهُ أَنْ يَرجِعَهَا ثُمَّ يُمهِلَهَا حَتّٰى تَحِيضَ حَيضَةً أُخرٰى ثُمَّ يُمهِلَهَا حَتّٰى تَطهُرَ ثُمَّ يُطَلِّقَهَا قَبلَ أَنْ يَمَسَّهَا فَتِلكَ العِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللهُ أَنْ يُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ

د نافع نه روایت دے چه عبد الله بن عمر خپلې بی بی له طلاق ورکړو او هغه حائضه وه. نو عمر د نبیﷺ نه تپوس اوکړو نو حضرتﷺ هغۀ ته د رجوع کولو حکم اوفرمایۀ او اوئے فرمائیل چه هغې له مهلت ورکړه ترد ے پورے چه د هغې دویم حیض راشي. بیا هغې له مهلت ورکړه ترد ے پورے چه هغه پاکه شي. بیا مخکښ د جماع نه هغې له طلاق ورکولے شي. نو دا هغه عدت دے چه په دے



قَالَ فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا سُئِلَ عَنِ الرَّجُلِ يُطَلِّقُ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ يَقُولُ أَمَّا أَنْتَ طَلَّقْتَهَا وَاحِدَةً أَوِ اثْنَتَيْنِ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهُ أَنْ يَرْجِعَهَا ثُمَّ يُمْهِلَهَا حَتَّى تَحِيضَ حَيْضَةً أُخْرَى ثُمَّ يُمْهِلَهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ يُطَلِّقَهَا قَبْلَ أَنْ يَمَسَّهَا وَأَمَّا أَنْتَ طَلَّقْتَهَا ثَلَاثًا فَقَدْ عَصَيْتَ رَبَّكَ فِيمَا أَمَرَكَ بِهِ مِنْ طَلَاقِ امْرَأَتِكَ وَبَانَتْ مِنْكَ

ښځو له د طلاق ورکولو الله تعالی اجازت ورکړے دے. او د ابن عمر نه به تپوس اوشو چه يو سړی په حالت د حيض کښې خپلے ښځے له طلاق ورکړی دی نو د هغے څۀ حکم دے؟ نو هغوی به فرمائيل کۀ چرے تۀ يو يا دوه طلاقه ورکړے، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دے ته رجوع اوکړه بيا ورله مهلت ورکړه تر دے پورے چه دد ے دويم حيض راشی. بيا مهلت ورکړه تر دے پورے چه هغه پاکه شی. بيا د جماع نه مخکښې طلاق ورکولے شی. او کۀ چرے تا درے طلاقه ورکړل نو تا د الله تعالی نافرمانی اوکړه او هغه ښځه ستا جدا شوه.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ طَلَّقْتُ امْرَأَتِي وَهِيَ حَائِضٌ فَذَكَرَ ذَلِكَ عُمَرُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَغَيَّظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا حَتَّى تَحِيضَ حَيْضَةً أُخْرَى مُسْتَقْبَلَةً سِوَى حَيْضَتِهَا الَّتِي طَلَّقَهَا فِيهَا فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا مِنْ حَيْضَتِهَا قَبْلَ أَنْ يَمَسَّهَا فَذَلِكَ الطَّلَاقُ لِلْعِدَّةِ كَمَا أَمَرَ اللَّهُ وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ طَلَّقَهَا تَطْلِيقَةً وَاحِدَةً فَحُسِبَتْ مِنْ طَلَاقِهَا وَرَاجَعَهَا عَبْدُ اللَّهِ كَمَا أَمَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه ما خپلے ښځے له طلاق ورکړو په هغه حالت کښې چه هغه په حيض کښې وه. نو عمر نبی ﷺ ته ذکر اوکړو نو حضرت ﷺ ډير غصه شو او هغوی ته ئے اووئے چه عبد الله ته حکم وکړه چه هغه هغے ته رجوع اوکړی تر دے پورے چه دد ے حيض نه علاوه دے ته راتلونکے حيض راشی. نو کۀ چرے هغه طلاق ورکول غواړی نو دد ے حيض نه د پاکيدو نه رستو هغے سره د لاس لګولو نه مخکښې طلاق ورکړی. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه دا هغه طلاق د عدت دے څنګه چه د الله تعالی حکم دے. عبد الله يو طلاق ورکړے وو چه د هغۀ د طلاقو نه شمار کړے شو. او عبد الله رجوع کړے وه څنګه چه هغوی ته رسول الله ﷺ حکم کړے وو.

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَرَاجَعْتُهَا وَحَسَبْتُ لَهَا التَّطْلِيقَةَ الَّتِي طَلَّقْتُهَا

د زهری نه په دغه اسناد سره دا مضمون مروی شوے دے. مګر په دے کښې دادی چه عبد الله اوئيل چه ما رجوع اوکړه. او هغه طلاق په طلاقو کښې شمار شو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ

د ابن عمر رضی الله عنه نه روايت دے چه هغوی طلاق ورکړو خپلے بی بی له

فَذَكَرَ ذٰلِكَ عُمَرُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا أَوْ حَامِلًا

حالانکه هغه حائضه وه. نو عمرؓ نبی ﷺ ته دا خبره اوکړه نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه هغوی ته حکم ورکړه چه هغه رجوع اوکړی بیا طلاق ورکړه هغې ته په حالت د طهر کښې یا په حالت د حمل کښې[1]

عَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ مَكَثْتُ عِشْرِينَ سَنَةً يُحَدِّثُنِي مَنْ لَا أَتَّهِمُ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا وَهِيَ حَائِضٌ فَأُمِرَ أَنْ يُرَاجِعَهَا فَجَعَلْتُ لَا أَتَّهِمُهُمْ وَلَا أَعْرِفُ الْحَدِيثَ حَتَّى لَقِيتُ أَبَا

د ابن سیرین نه روایت دے وائی چه د شلو کالو پورے ماته یو سړی روایت کولو چه ابن عمر خپلې ښځې له د حیض په حالت کښې درے طلاق ورکړل او ما دغه راوی لره مهتم نه ګڼړلو. بیا هغه روایت اوکړو چه حضرت ﷺ ورته حکم اوکړو چه دغې ښځې ته رجوع اوکړه او ما دۀ دے روایت لره نه مهتم کوۀ او نه مے دی حدیث لره پښته طریقه

---

[1] ذدے روایت په وجه سره د اُمت اجماع ده. چه د حیض په حالت کښې طلاق ورکول حرام دی. بغیر د زنانه د رضا نه. بیا کچرے چا ورکړو نو سخت ګناهګار شو. او طلاق پریوتل او دۀ ته د رجوع کولو حکم نشته دے لکه څنګه چه ذکر شو په دے روایت کښې. او حضرت ﷺ چه کوم د رجوع حکم اوفرمائیلو ذدے نه صفا معلومه شوه چه طلاق پریوتل. او دا رجوع کول مستحب دی د شافعی په نز د باندے واجب نه دی. او دغه قول دے د اوزاعی او ابوحنیفه او د ټولو کوفیانو او امام محمد وغیره. او د امام مالك په نز واجب دی او حضرت ﷺ چه کوم وفرمائیل چه په طلاقو کښې تاخیر اوکړه ذدے طهر نه پس د بل طهر پورے نو ددے دپاره چه رجوع د طلاق دپاره واقع نۀ شی او مقصود داوو چه د یو وخته پورے ښځه ددۀ سره پاتے شی. نو کیدے شی چه د طلاقو نه شرمنده شی او بیا د طلاقو وار را نۀ شی. او په دے موده کښې کیدے شی چه الله تعالی ئے په خپلو کښې اتفاق نصیب کړی او په دے حدیث کښې دا وضاحت دے چه طلاق د په داسے طهر کښې وی چه په هغې کښې ئے صحبت نۀ وی کړے. ځکه چه په سبب د حمل عدت اوږد نۀ شی. او د شافعی ملګرو وئیلی دی چه طلاق ورکول چه په هغې کښې صحبت شوے وی حرام دی دد ے حدیث په روی سره. او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه بیا که غواړی طلاق د ورکړی او که غواړی او د ئے ساتی. ددے نه معلومه شوه چه په طلاقو ورکولو کښې ګناه نشته مګر کراهت دے. چنانچه په مشهور حدیث کښې راغلی دی چه اَبْغَضُ حلال د الله تعالی په نز د طلاق ورکول دی. او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه دغه عدت دے د کوم دپاره چه الله تعالی د طلاق ورکولو حکم اوفرمائیلو ذدے نه استدلال کړے دے شافعیو. او مالك په دے باندے چه اقراء د عدت اطهار دی ځکه چه حضرت ﷺ حکم ورکړے دے. او دا په ښه شان سره معلومه شوه چه الله تعالی په حیض کښې د طلاق ورکولو حکم نۀ دے کړے بلکه حرام کړی ئے دی. او د لغت د خاوندانو او د فقهې او د اُصولو اجماع ده. چه د اقراء نه طهر او حیض دواړو مراد کیدے شی. او په قران کښې چه کوم راغلی دی ﴿وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ﴾ په دے کښې د ابوحنیفه او بعضو قول دے چه مراد ددے نه حیض دے او دغه مروی دی د عمر او علی او ابن مسعود نه. او د دغه یو روایت دے د امام احمد نه. او د شافعی او مالك قول دے چه مراد ددے نه طهر دے د هغوی په نز د عدت تمامیږی په دوه طهره کامل او د دریم طهر په شروع سره. او دا چه ئے کوم د اخیر په روایت کښې اوفرمائیل چه طلاق ورکوه په حالت د طهر کښې یا په حالت د حمل کښې ددے نه جائز شو حاملې ته طلاق ورکول چه د هغې حمل معلوم شوے وی او دغه مذهب دے د شافعی او ابن منذر وئیلی دی چه دغه قول دے د زیاتو علماؤ لکه طاؤس او حسن او ابن سیرین وغیره نورو هم. او بعضے مالکی علماؤ وئیلی دی چه په حالت د حمل کښې طلاق ورکول حرام دی او په یو روایت کښې د حسن بصری نه مکروه هم راغلی دی.

غَلَّابٍ يُونُسَ بْنَ جُبَيْرٍ الْبَاهِلِيَّ وَكَانَ ذَا ثَبَتٍ فَحَدَّثَنِي أَنَّهُ سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ فَحَدَّثَهُ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ تَطْلِيقَةً وَهِيَ حَائِضٌ فَأُمِرَ أَنْ يَرْجِعَهَا قَالَ قُلْتُ أَفَحُسِبَتْ عَلَيْهِ قَالَ فَمَهْ أَوَإِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ

گنړلو (چه صحیح څۀ دے) تر دے پورے چه زۀ د ابوغلاب یونس بن جبیر باهلی سره میلاؤ شوم او هغه پوخ سړے وو. پس هغوی ماته بیان اوکړو چه ما د ابن عمر نه تپوس اوکړو نو هغوی اووے چه ما یو طلاق ورکړی وو او هغه حائضه وه. او ما ته د رجعت حکم لوشو بیا ما د ابن عمر نه تپوس اوکړو (دا قول دے د یونس) چه هغه طلاق هم تاسو په حساب کښې اوساتل (یعنی کچرے دوه طلاق ورکړئ نو د هغے سره به یو جائے درے پوره شی) هغوی اووے ولے نه دے ساتلی هغه عاجز شوي احمق شو (دا عبدالله خپل خان ته پخپله اووے) یعنی کله دغه طلاق لره نۀ شمارے نو حماقت دے.

عَنْ أَيُّوبَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ فَسَأَلَ عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فَأَمَرَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا حَتَّى يُطَلِّقَهَا طَاهِرًا مِنْ غَيْرِ جِمَاعٍ وَقَالَ يُطَلِّقُهَا فِي قُبُلِ عِدَّتِهَا

د ایوب نه په دے سند سره دا حدیث دے. چه عمر د نبی ﷺ نه په دے باره کښې تپوس اوکړو نو حضرت ﷺ عبد الله لره د رجوع کولو حکم اوکړو. تر دے پورے چه طلاق ورکړه په طهر کښې بغیر د جماع نه او اوئے فرمائیل چه طلاق ورکړه د عدت په شروع کښې[1].

عَنْ يُونُسَ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ رَجُلٌ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَقَالَ أَتَعْرِفُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ فَإِنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَأَتَى عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ

یونس بن جبیر وئیلی دی چه ما د ابن عمر نه تپوس اوکړو چه یو سړی خپلے ښځے له طلاق ورکړی دی په حیض کښې نو هغوی اوفرمائیل چه آیا تۀ عبد الله بن عمر پیژنے هغۀ هم خپلے ښځے ته په حیض کښې طلاق ورکړی وو. بیا حضرت عمر د نبی کریم ﷺ خواله لاړو او تپوس ئے اوکړو نو حضرت ﷺ حکم اوکړو

---

[1] دد ے حدیث نه هم صفا معلومیږی چه اقراء د عدت طهرونه دی. او هر کله چه په طهر کښې ئے طلاق ورکړو د دغه وخت نه عدت شروع شو څکه چه طلاق ورکول په حیض کښې حرام دی. او کله په حیض کښې چا طلاق ورکړو نو هغه حیض خو بالاجماع په عدت کښې نشماریږی. او عدت هله شروع کیږی چه هر کله په طهر کښې طلاق ورکړی پس د دغه طهر نه د عدت شمار ضروری دے. امام مسلم وئیلی دی چه روایت کړے دے ماته دا حدیث محمد بن رافع هغوی ته عبدالرزاق هغوی ته ابن جریج هغوی ته ابوزبیر هغوی ته عبدالرحمن بن ایمن چه د عروه ازاد کړے غلام دے چه هغه د ابن عمر نه تپوس کولو او ابوزبیر اوریدلو. او وړاندے هغه روایت دے کوم چه پورته په سند د حجاج ذکر شو او په دے کښې څۀ مضمون زیات دے. امام مسلم فرمائی چه خطا شوے ده راوی نه چه وئیلی دی چه غلام دے د عروه او په حقیقت کښې هغه د عروه ازاد کړے غلام دے.

فَأَمَرَهُ أَنْ يَرْجِعَهَا ثُمَّ تَسْتَقْبِلَ عِدَّتَهَا قَالَ فَقُلْتُ لَهُ إِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ أَتَعْتَدُّ بِتِلْكَ التَّطْلِيقَةِ فَقَالَ فَمَهْ أَوَإِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ

چه هغې ته دِ رجوع اوکړی او بیا دِ د سر نه عدت شروع کړی بیا ما د هغوی نه تپوس اوکړو چه هر کله چا په حیض کښ طلاق ورکړو نو هغه طلاق به هم شمارولے شی. هغوی اووے چه چُپ شه. ولے هغه عاجز شوے دے یا کم عقل شوے دے چه هغه به دے لره نۀ شماری. (یعنی ضرور به شماریږی)

بَابُ طَلَاقِ الثَّلَاثِ

باب: د دریو طلاقو بیان

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ الطَّلَاقُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَسَنَتَيْنِ مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ طَلَاقُ الثَّلَاثِ وَاحِدَةً فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ إِنَّ النَّاسَ قَدِ اسْتَعْجَلُوا فِي أَمْرٍ قَدْ كَانَتْ لَهُمْ فِيهِ أَنَاةٌ فَلَوْ أَمْضَيْنَاهُ عَلَيْهِمْ فَأَمْضَاهُ عَلَيْهِمْ

د ابن عباس نه روایت دے وائی چه طلاق د رسول الله ﷺ په زمانه کښ او د ابوبکر د خلافت په زمانه کښ او د حضرت عمر د خلافت په زمانه کښ هم د دوؤ کالو پورې دغه شان وو چه هر کله به چا په یو خائے درے طلاقه ورکول نو هغه به یو شماریدلو. بیا حضرت عمر اووے چه خلقو تادی کول شروع کړو په دے کښ په کومے کښ چه هغوی ته مهلت میلاؤ وو پس مونږ د دے لره کچرے جاری کړو نو مناسب ده بیا هغوی جاری کړو. (یعنی حکم ئے اوکړو چه څوك په یو خائے درے طلاقه ورکړی. نو درے واړه به واقع کیږی.

عَنْ أَبِي الصَّهْبَاءِ قَالَ لِابْنِ عَبَّاسٍ أَتَعْلَمُ أَنَّمَا كَانَتِ الثَّلَاثُ تُجْعَلُ وَاحِدَةً عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَثَلَاثًا مِنْ إِمَارَةِ عُمَرَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَعَمْ

د ابوالصهباء نه روایت دے وائی چه ما ابن عباس ته اووے چه تا ته معلومه ده چه درے طلاقه به یو ګڼړلے شو د نبی ﷺ په زمانه کښ. او د ابوبکر په خلافت کښ او د عمر په امارت کښ هم د دریو کالو پورے نو ابن عباس اووے آو ما ته معلومه ده.

عَنْ أَبِي الصَّهْبَاءِ قَالَ لِابْنِ عَبَّاسٍ هَاتِ مِنْ هَنَاتِكَ أَلَمْ يَكُنِ الطَّلَاقُ الثَّلَاثُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَاحِدَةً فَقَالَ قَدْ كَانَ ذَلِكَ فَلَمَّا كَانَ فِي عَهْدِ

ابوالصهباء اوئیل ابن عباس ته چه ورکړه د عطیے نه. آیا نۀ وو درے طلاقه یو طلاق د رسول الله ﷺ او د ابوبکر د خلافت په زمانه کښ. نو هغوی اووے چه هم دغه شان وو. بیا چه د عمر زمانه شوه نو خلقو مسلسل داسے کول شروع

عُمَرَ تَتَايَعَ النَّاسُ فِي الطَّلَاقِ فَأَجَازَهُ عَلَيْهِمْ

کړل. نو حضرت عمرؓ هم درے جاري کړل[1].

بَابُ وُجُوبِ الْكَفَّارَةِ عَلَى مَنْ حَرَّمَ امْرَأَتَهُ وَلَمْ يَنْوِ الطَّلَاقَ

باب: د کفارے واجب کیدل په هغه چا چه خپلے ښځے ته اووے چه ته په ما حرامه ئے او نیت ئے د طلاقو نه وی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ فِي الْحَرَامِ يَمِينٌ يُكَفِّرُهَا وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

د عبدالله بن عباس نه روایت دے چه هر کله څوك خپلے ښځے ته اووائی چه ته په ما حرامه ئے نو دا قسم دے چه په دے کښں کفاره ورکول ضروری دی او حضرت ابن عباس وئیلی دی چه بیشکه ستاسو دپاره ښۀ نمونه ده په رسول اللهﷺ کښں.

عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ يُخْبِرُ أَنَّهُ سَمِعَ عَائِشَةَ تُخْبِرُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَيَشْرَبُ عِنْدَهَا عَسَلًا قَالَتْ فَتَوَاطَيْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ أَنَّ أَيَّتَنَا مَا دَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْتَقُلْ إِنِّي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ مَغَافِيرَ أَكَلْتَ مَغَافِيرَ فَدَخَلَ عَلَى إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ بَلْ شَرِبْتُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَلَنْ أَعُودَ لَهُ فَنَزَلَ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكَ إِلَى قَوْلِهِ إِنْ تَتُوبَا لِعَائِشَةَ وَحَفْصَةَ وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَى

د عبید بن عمیر نه روایت دے چه هغوی د جناب عائشے صدیقے نه اوریدلی دی چه نبیﷺ به د زینب سره حصاریدو او د هغے سره به ئے شهد څښلو پس بی بی عائشه وائی چه ما او حفصے مشوره اوکړه چه په مونږ کښں د چا خواله حضرتؐ تشریف راوړی نو هغه به ورته عرض اوکړی چه ما ته ستا د خوانه د مغافیرو بوئ محسوسیږی. پس حضرتؐ چه د یوے خواله هر کله راغی نو هغے حضرتﷺ ته دغه شان اووے. او حضرت اوفرمائیل چه ما خو د زینب په کور کښں شهد څښلے دے او اوس به چرته هم نۀ څښمه بیا دا ایت نازل شو ' لِمَ تُحَرِّمُ ' نه د آخره پورے یعنی اے نبی ولے حراموے ته په خان هغه څیز چه هغه الله ستا دپاره حلال کړے دے. او اوئے فرمائیل چه کچرے توبه کړی هغه دواړوه نو ږړونه د هغوی کاږۀ شوی دی او مراد د هغوی نه عائشه او حفصهؓ دی. او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه نبیﷺ په پټه سره یوه خبره

---

[1]: یو سرے چه خپلے ښځے ته اووائی چه په تا درے طلاقه دی. امام شافعی او مالك او ابوحنیفه او احمد او د جمهور علماؤ قول دا دے چه درے واړه طلاق په دۀ باندے پریوتل. او د طاؤس او د اهل ظاهرو مذهب دے چه نۀ پریوزی په دۀ باندے مګر یو طلاق. او دا یو روایت دے د حجاج بن ارطاۃ نه او د محمد بن اسحق نه او دغه مذهب قوی او صحیح دے د دے احادیثو د مخے او ابن قیم او محققینو محدثینو دے لره اختیار کړے دے.

بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا لِقَوْلِهِ بَلْ شَرِبْتُ عَسَلًا

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ فَكَانَ إِذَا صَلَّى الْعَصْرَ دَارَ عَلَى نِسَائِهِ فَيَدْنُو مِنْهُنَّ فَدَخَلَ عَلَى حَفْصَةَ فَاحْتَبَسَ عِنْدَهَا أَكْثَرَ مِمَّا كَانَ يَحْتَبِسُ فَسَأَلْتُ عَنْ ذٰلِكَ فَقِيلَ لِي أَهْدَتْ لَهَا امْرَأَةٌ مِنْ قَوْمِهَا عُكَّةً مِنْ عَسَلٍ فَسَقَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ شَرْبَةً فَقُلْتُ أَمَا وَاللهِ لَنَحْتَالَنَّ لَهُ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِسَوْدَةَ وَقُلْتُ إِذَا دَخَلَ عَلَيْكِ فَإِنَّهُ سَيَدْنُو مِنْكِ فَقُولِي لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ أَكَلْتَ مَغَافِيرَ فَإِنَّهُ سَيَقُولُ لَكِ لَا فَقُولِي لَهُ مَا هٰذِهِ الرِّيحُ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْتَدُّ عَلَيْهِ أَنْ يُوجَدَ مِنْهُ الرِّيحُ فَإِنَّهُ سَيَقُولُ لَكِ سَقَتْنِي حَفْصَةُ شَرْبَةَ عَسَلٍ فَقُولِي لَهُ جَرَسَتْ نَحْلُهُ الْعُرْفُطَ وَسَأَقُولُ ذٰلِكِ لَهُ وَقُولِيهِ أَنْتِ يَا صَفِيَّةُ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَى سَوْدَةَ قَالَتْ تَقُولُ سَوْدَةُ وَالَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ لَقَدْ كِدْتُ أَنْ أُبَادِئَهُ بِالَّذِي قُلْتِ لِي وَإِنَّهُ

اوکړه د خپلې یوې بی بی نه نو مراد دے نه هغه خبره وه کومه چه حضرت ﷺ فرمائیلې ده چه ما شهد څښلې دی.

د حضرت عائشې صدیقې نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ خواږه او شهد ډیر خوښ وو. پس هر کله چه به حضرت ﷺ د مازیګر مونځ اوکړو نو د خپلو بیبیانو خواله به راتلو او هرے یوے ته به نزدے کیدو پس یوه ورځ د حضرت حفصې خواله راغے او هلته د نورو ورځو نه زیات حصار شو. نو ما د حصاریدو د سبب تپوس اوکړو. معلومه شوه چه یوے بی بی نه د هغې د قوم د طرفه د شهدو یو لوښے په ډالئ کښې راغلے وو. پس هغوی په جناب رسول الله ﷺ باندے شهد څښکلی دی (څکه حصار شو) پس ما اووے چه په الله قسم زهٔ به هغوی ته یوه حیله کوم. او ما سوده ته دا خبره اوکړه او ورته مے اووے چه هر کله حضرت ﷺ ستا خواله راشی او تا ته نزدے شی نو تهٔ ورته اووایه چه یا رسول الله ﷺ ولے تا مغافیر خوړلی دی نو حضرت ﷺ به اوفرمائي چه نه بیا تهٔ هغوی ته اووایه چه بیا دا بد بوئی څنګه ده؟ او د رسول الله ﷺ عادت وو چه هغوی به ډیر نفرت کوو په خپل ځان کښ د بد بوئ موندلو نه بیا به حضرت تاسو ته دا اووائی چه په ما باندے حفصې شهد څښکلی دی پس بیا تهٔ هغوی ته اووایه چه کیدے شی چه هغه مچو د عرفط د اونے نه شهد اخستے وی (عرفط د هغې اونې نوم دے د کومے چیر چه مغافیر دی) او زهٔ به هم هغوی ته دغسے وایم. او اے صفیې تهٔ ورته هم دغه شان اووایه بیا چه هر کله حضرت ﷺ د سودے خواله راغے نو سوده فرمائی چه قسم دے په هغه الله چه څوک معبود نشته دے سوا د هغهٔ نه چه نزدے وه چه د هغوی نه بهر وتلے وے او دغه خبره مے کړے وے کومه چه تا ما ته کړے وه (اے عائشې) او

لِعَلِيِّ الْبَابِ فَرَقًا مِنْهُ فَلَمَّا دَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَكَلْتَ مَغَافِيرَ قَالَ لَا قَالَتْ فَمَا هَذِهِ الرِّيحُ قَالَ سَقَتْنِي حَفْصَةُ شَرْبَةَ عَسَلٍ قَالَتْ جَرَسَتْ نَحْلُهُ الْعُرْفُطَ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيَّ قُلْتُ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ دَخَلَ عَلَى صَفِيَّةَ فَقَالَتْ بِمِثْلِ ذَلِكَ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَى حَفْصَةَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَا أَسْقِيكَ مِنْهُ قَالَ لَا حَاجَةَ لِي بِهِ قَالَتْ تَقُولُ سَوْدَةُ سُبْحَانَ اللَّهِ وَاللَّهِ لَقَدْ حَرَمْنَاهُ قَالَتْ قُلْتُ لَهَا اسْكُتِي قَالَ أَبُو إِسْحَقَ إِبْرَاهِيمُ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ بِشْرِ بْنِ الْقَاسِمِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ بِهَذَا سَوَاءً

حضرت ﷺ په دروازه کښې وو او دا جلتي کول څما په وينا کښې ستا د يرے نه وو. بيا چه هر کله نژدے شو رسول الله ﷺ نو سودے اووے چه اے د الله رسوله آيا تا مغافير خوړلي دي؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل نه بيا سودے اووے چه دا بدبوئي د څه ده؟ نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه په ما حفصے څه لږ شان شهد څکولي دي بيا هغوي اووے چه مچئ د عرفط نه شهد اخستے دے. بيا چه هر کله څما خواله راغے نو ما هم حضرت ته دغه شان اووے (دا مقوله د حضرت عائشے ده) بيا د صفيے خواله لاړو. او هغوي ورته هم دغه شان اووے. بيا چه هر کله په دويم ځل د حفصے خواله لاړو نو هغوي عرض اوکړو چه يا رسول الله ﷺ! د هغے نه تاله شهد راوړم نو حضرت ﷺ اوفرمائيل ما ته د هغے ضرورت نشته دے. جناب عائشه صديقه فرمائي چه سودے اووے چه سبحان الله مونږ منع کړو حضرت ﷺ له د شهد د څښلو نه جناب عائشه فرمائي چه ما هغوي ته اووے چه چُپ شه ابواسحاق چه د هغۀ نوم ابراهيم دے وائي چه روايت کړے دے ما ته حسن بن بشر هغۀ ته أسامه بعينه دغه مضمون.

وَنيلي دي مسلم چه روايت کړے دے ما ته سويد بن سعيد هغوي ته علي بن مسهر هغوي ته هشام بن عروه په دے سند سره دغه حديث په شان د هغے[1].

---

[1] په دے حديث کښې دد ے ايت شان نزول معلوم شو. يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ. او هر کله چه څوك خپلے ښځے ته اووائي چه ته په ما باندے حرامه ئے نو مذهب د امام شافعي دا دے چه کچرے دۀ د طلاقو نيت کړے وي نو طلاق دي او که د ظهار نيت ئے کړے وي نو ظهار دے. او کچرے د تحريم يعني حراميدلو د هغے اراده ئے بغير د طلاق او ظهار نه اوکړه نو کفاره د قسم پرے لازميږي. او دا به يمين نۀ وي. او که څۀ نيت ئے نه وي کړے نو صحيح قول د شافعي دا دے چه کفاره د يمين پرے لازميږي. او دويم قول دا دے چه په دے کښې څۀ نه لازميږي بلکه دا قول به د هغوي لغوه وي. او قاضي عياض په دے مسئله کښې څوارلس مذهبونه نقل کړي دي چه امام نووي هغے لره په تفصيل سره په شرح مسلم کښې بيان کړي دي. او قاضي عياض وئيلي دي چه د تحريم د ايت په شان نزول بعضو وئيلي دي چه د ماريه قبطيه په تحريم کښې دد ے نزول شوے دے. او د حضرت عائشے صديقے نه قصه د شهد د څښلو مذکور ده. لکه څنګه چه روايت

بَاب بَيَانِ أَنَّ تَخْيِيرَ امْرَأَتِهِ لَا يَكُونُ طَلَاقًا إِلَّا بِالنِّيَّةِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا أُمِرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَخْيِيرِ أَزْوَاجِهِ بَدَأَ بِي فَقَالَ إِنِّي ذَاكِرٌ لَكِ أَمْرًا فَلَا عَلَيْكِ أَنْ لَا تَعْجَلِي حَتَّى تَسْتَأْمِرِي أَبَوَيْكِ قَالَتْ قَدْ عَلِمَ أَنَّ أَبَوَيَّ لَمْ يَكُونَا لِيَأْمُرَانِي بِفِرَاقِهِ قَالَتْ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا قَالَتْ فَقُلْتُ فِي أَيِّ هٰذَا أَسْتَأْمِرُ أَبَوَيَّ فَإِنِّي

باب: ښځې له د طلاق اختيار د ورکولو نه طلاق نۀ کيږي مگر هر کله چه نيت وي

د حضرت عائشې صديقې نه روايت دے چه هر کله حکم اوشو رسول الله ﷺ ته چه خپلو بيبيانو له اختيار ورکړه چه کۀ هغوی دنيا غواړی نو دنيا دِ واخلی او کۀ آخرت غواړی نو آخرت دِ واخلی. نو جناب رسول الله ﷺ رومبی ما ته دَ دے بيانول شروع کړو. او اوئے فرمائيل چه زۀ تا ته يوه خبره کول غوړم. او تۀ د هغې په جواب کښې جلتی مۀ کوه. د کومے پورے چه دِ د خپل پلار مور نه مشوره اخستے نۀ وی. بی بی عائشه وائی چه حضرتؓ ته پته وه چه خما پلار مور به چرته د رسول الله ﷺ د پريخودو حکم ما ته او نۀ کړی. بيا حضرت ﷺ اووے چه الله تعالی فرمائی يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ يعنی اے نبی اووايه تۀ خپلو بيبيانو ته چه کۀ هغوی دنيا او د هغې زينت غواړی نو راځئ چه زۀ تاسو ته برخور داری درکړم او ه ښه شان سره تاسو رخصت کړم. او کچرے تاسو د اللهؓ او د هغه د رسول اللهؓ رضا غواړئ او د آخرت کور غواړئ نو بيشکه الله تعالی ستاسو نيك بختو دپاره لوئے ثواب تيار کړے دے. جناب عائشه

شوه او الله پاك چه کومه او فرمائيله دَ دے نه معلومه شوه چه ضرور به د حضرت ﷺ نه دے ياد کړے صرف دغه ئے فرمائيلی دی چه اوس به چرته هم داسے نۀ کوم محض نامقبول دی. او د حضرت شافعی او د هغوی د ملگرو په نزد ايت معنی داده چه فرض کړے ده الله په تاسو باندے په تحريم کښې کفاره د يمين. او د مسلم په يو روايت کښې پورته ذکر شوی دی چه شهد ئے د زينب سره څښلی وو. او په دويم روايت کښې راغلو چه د حفصې سره. او روايت اول زيات صحيح دے او دغسے وئيلی دی نسائی او عقيلی او دا چه کوم په ايت کښې راغلی دی. يعنی هر کله چه په پته او کړه نبی خپلے يوے بی بی ته خبره. مراد دَ دے نه دا فرمائيل دی د رسول الله ﷺ چه ما شهد څښلے دی. او پس دَ دے به چرته هم نۀ څښم. او بی بی صاحبے ته ئے حکم او کړو چه هيڅوك دَ دے نه مۀ خبره وه. او د شرينئ نه مراد هر خوږ څيز دے. او د شهد ذکر دَ دے نه روستو د اظهارِ شرف دپاره دے. ورنه هغه هم په شيرينئ کښې داخل دے. او دَ دے حديث نه استدلال کړے دے په دے باندے چه کوم سړی نمبر ايخود ے وی په ښځو کښې هغۀ له روا دی چه د هر هغې ښځے کور ته داخل شی د کومے چه نمبر نۀ وی مگر جماع روا نۀ ده.

أُرِيدُ اللهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الآخِرَةَ قَالَتْ ثُمَّ فَعَلَ أَزْوَاجُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ مَا فَعَلْتُ

صدیقهؓ فرمائی چه ما عرض اوکړو چه په دے کښې کومه خبره داسے ده چه د هغې په باره کښې زۀ د پلار مور نه مشوره واخلمه زۀ خو غواړم اللهؐ لره او د هغۀ رسول اللهؐ لره او د آخرت کور لره. بیا ټولو بیبیانو د رسول اللهؐ دغه شان خبره اوکړه لکه څنګه چه ما کړے وه.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْذِنُنَا إِذَا كَانَ فِي يَوْمِ الْمَرْأَةِ مِنَّا بَعْدَ مَا نَزَلَتْ تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ فَقَالَتْ لَهَا مُعَاذَةُ فَمَا كُنْتِ تَقُولِينَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنَكِ قَالَتْ كُنْتُ أَقُولُ إِنْ كَانَ ذَاكَ إِلَيَّ لَمْ أُوثِرْ أَحَدًا عَلَى نَفْسِي

د حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے وائی چه رسول اللهؐ به زمونږ نه اجازت غوښتلو هر کله چه به زمونږ نه د یوے ښځے په نمبر کښې هغوی راتلل کولو. روستو ددے نه دا آیات نازل شو تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ یعنی ځانله جدا ساته ته د هغوی نه هغه چا لره چه غواړے .نو معاذه حضرت عائشے ته اووے چه تاسو به څۀ جواب ورکوؤ هر کله چه به حضرتؐ ستاسو نه اجازت غوښتلو هغوی اووے چه ما به وئیلو چه کچرے خما اختیار وے نو ما به په خپل ځان بانده چا لره نۀ وو مخکښې کړی[1].

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ قَدْ خَيَّرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ نَعُدَّهُ طَلَاقًا

د مسروق نه روایت دے وائی چه حضرت عائشے فرمائیلی دی چه مونږ ته اختیار راکړو رسول اللهؐ یعنی هر کله چه هغوی مونږ ته اختیار راکړے وو بیا هم مونږه هغے لره طلاق نۀ ګڼړلو.

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ مَا أُبَالِي خَيَّرْتُ امْرَأَتِي وَاحِدَةً أَوْ مِائَةً أَوْ أَلْفًا بَعْدَ أَنْ تَخْتَارَنِي وَلَقَدْ سَأَلْتُ عَائِشَةَ فَقَالَتْ قَدْ خَيَّرَنَا

د مسروق نه روایت دے وائی چه خما یره نشته کچرے زۀ خپلے بی بی ته اختیار ورکړم یو ځل یا سل ځله یا زر ځله هر کله هغه ما غوره کوی. او ما خو د حضرت عائشےؓ نه تپوس کړے دے چه هغوی

---

[1] یعنی هر کله چه به د یوے ښځے نمبر ختم شو او د هغے د خوا نه به د بلے خواله تلو نو اجازت به ئے غوښتلو. او جناب عائشے صدیقے فرمائیلی دی چه کچرے خما اختیار وے نو ما به حضرتؐ لره د خپل ځان نه سوا د بل چا خوا ته نلوو پریخودے. مګر الله تعالی په دے کښې حضرتؐ له اختیار ورکړے دے. او دا فرمائیل د جناب عائشے صدیقے په دے خیال سره نۀ وو چه هغے عیش او آرام غوښتلو بلکه د آخرت د فائدو په نظر سره وو چه قرب او نزدیکت د جناب رسالت مآبؐ ته نزدے کیدل وو. او سبب د نزول رحمت او وفور برکات اخروی لو مشاهده انوار وحی وه. او ددے نه او د پورته حدیث نه په کوم کښې چه حضرتؐ تقدیم کړے د آخرت په غوښتلو کښې لوئے فضیلت او تقدم ثابت شو د جناب عائشے صدیقے په ټولو بیبیانو بانده کومے چه دغه وخت موجود وے. وئیلی دی مسلم او بیان کړے دے مونږ ته دغه روایت حسن بن عیسی او هغوی ته ابن مبارك او هغوی ته عاصم د دغه اسناد نه په شان دده.

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَكَانَ طَلَاقًا.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ دَخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَسْتَأْذِنُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ النَّاسَ جُلُوسًا بِبَابِهِ لَمْ يُؤْذَنْ لِأَحَدٍ مِنْهُمْ قَالَ فَأُذِنَ لِأَبِي بَكْرٍ فَدَخَلَ ثُمَّ أَقْبَلَ عُمَرُ فَاسْتَأْذَنَ فَأُذِنَ لَهُ فَوَجَدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا حَوْلَهُ نِسَاؤُهُ وَاجِمًا سَاكِتًا قَالَ فَقَالَ لَأَقُولَنَّ شَيْئًا أُضْحِكُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ رَأَيْتَ بِنْتَ خَارِجَةَ سَأَلَتْنِي النَّفَقَةَ فَقُمْتُ إِلَيْهَا فَوَجَأْتُ عُنُقَهَا فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ هُنَّ حَوْلِي كَمَا تَرَى يَسْأَلْنَنِي النَّفَقَةَ فَقَامَ أَبُو بَكْرٍ إِلَى عَائِشَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا فَقَامَ عُمَرُ إِلَى حَفْصَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا كِلَاهُمَا يَقُولُ تَسْأَلْنَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَيْسَ عِنْدَهُ فَقُلْنَ وَاللهِ لَا نَسْأَلُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا أَبَدًا لَيْسَ عِنْدَهُ ثُمَّ اعْتَزَلَهُنَّ شَهْرًا أَوْ تِسْعًا وَعِشْرِينَ ثُمَّ نَزَلَتْ عَلَيْهِ هَذِهِ الْآيَةُ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ حَتَّى بَلَغَ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا قَالَ فَبَدَأَ بِعَائِشَةَ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ إِنِّي أُرِيدُ

فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ مونږ ته اختیار راکړو نو ولے دا طلاق شو (یعنی دا طلاق نه دی)

د جابر بن عبدالله نه روایت دے چه ابوبکر راغی او اجازت ئے اوغوښتو د رسول الله ﷺ خواته د حاضریدو او خلق ئے اولیدل چه د حضرت ﷺ په دروازه کښې جمع دی چاته د دننه تلو اجازت او نه شو. او ابوبکر ته چه هر کله اجازت میلاؤ شو نو دننه لاړو. بیا حضرت عمر راغے او اجازت میلاؤ شو او نبی ﷺ ئے اوموندو چه حضرت ناست دے او چاپیره ترے خپلے بیبیانے غمژنے ناستے دی چُپ شوے. نو حضرت عمر په خپل زړهٔ کښې اووے. چه زهٔ یو داسے خبره کوم چه نبی ﷺ اوخندوم پس هغوی عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ ! کاش تاسو اولیده د خارجه لور لره (دا د حضرت عمر بی بی ده) چه دا خما نه خرچ غواړی نو د هغې په خوا کښې اودریدو او مرئ ئے ورله خفه کړله پس رسول الله ﷺ اوخندل او اوئے فرمائیل چه دا ټولے خما نه هم چا پیره دی څنګه ئے چه ته وینے. او خما نه خرچ غواړی پس ابوبکر اودریدو د حضرت عائشے مرئ ئے خفه کوله او حضرت عمر د حفصے او دواړو وئیلو (یعنی خپلو خپلو لونړو ته) چه تاسو د رسول الله ﷺ نه هغه څیز غواړئ کوم چه د هغوی سره نشته؟ هغوی اووے چه قسم په خدائے مونږ به څر ته د رسول الله ﷺ نه داسے څیز او نه غواړو کوم چه د هغوی سره نشته دے. بیا حضرت ﷺ د هغوی نه یوه میاشت یا یو کم دیرش ورځے جُدا پاتے شو. بیا په حضرت باندے دا آیت نازل شو. یَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ نه د عَظِيمًا پورے. پس حضرت رومبئ د جناب عائشے نه د هغې تعمیل شروع کړو او هغې ته ئے اوفرمائیل چه اے عائشے زهٔ غوارمه چه تاته یوه خبره اوکړم او غوارم چه ته په هغې کښې جلتی مه کوه.

أَنْ أَعْرِضَ عَلَيْكِ أَمْرًا أُحِبُّ أَنْ لَا تَعْجَلِي فِيهِ حَتَّى تَسْتَشِيرِي أَبَوَيْكِ قَالَتْ وَمَا هُوَ يَا رَسُولَ اللهِ فَتَلَا عَلَيْهَا الْآيَةَ قَالَتْ أَفِيكَ يَا رَسُولَ اللهِ أَسْتَشِيرُ أَبَوَيَّ بَلْ أَخْتَارُ اللهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ وَأَسْأَلُكَ أَنْ لَا تُخْبِرَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِكَ بِالَّذِي قُلْتُ قَالَ لَا تَسْأَلُنِي امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ إِلَّا أَخْبَرْتُهَا إِنَّ اللهَ لَمْ يَبْعَثْنِي مُعَنِّتًا وَلَا مُتَعَنِّتًا وَلَكِنْ بَعَثَنِي مُعَلِّمًا مُيَسِّرًا

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ لَمَّا اعْتَزَلَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا النَّاسُ يَنْكُتُونَ بِالْحَصَى وَيَقُولُونَ طَلَّقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ وَذٰلِكَ قَبْلَ أَنْ يُؤْمَرْنَ بِالْحِجَابِ فَقَالَ عُمَرُ

د کومے پورے چه مشوره د نه وی اخستی د خپل پلار او مور نه هغوی عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ هغه څهٔ خبره ده؟ بیا حضرت ﷺ په هغوی باندے دا آیت اولوستو. نو هغوی عرض اوکړو چه ستاسو په مقدمه کښې زهٔ هغوی نه مشوره اخلمه بلکه اختیاروم الله لره او د هغهٔ رسول ﷺ لره او لور د آخرت لره. او زهٔ ستاسو نه سوال کوم چه تاسو یوے ښځے لره د خپلو بیبیانو نه خبر نهٔ کړئ د دے خبرے نه کومه چه ما اوکړله حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په هغوی کښې کومے بی بی خما نه تپوس اوکړو نو فوراً به هغے له خبر ورکوم. ځکه چه الله تعالی ما لره نهٔ سختی کونکے بلکه زهٔ په اسانئ سره خودونکے رالیږلے یم[1].

د عمر بن خطاب نه روایت دے وائی چه هر کله ډډه اوکړه نبی ﷺ د خپلو بیبیانو نه. حضرت عمر وائی چه زهٔ جماعت ته داخل شومه او خلق مے اولیدل چه هغوی ګیټئ اړه وی را اړه وی (لکه څنګه چه څوک په لوئے فکر او تردود کښې وی) او وائی چه طلاق ورکړو رسول الله ﷺ خپلو بیبیانو ته او دا دے وخته پورے هغوی ته په پرده کښې د اوسیدو حکم نهٔ وو شوے حضرت عمر رض وائی چه ما په خپل زړهٔ کښې

---

[1] په دے حدیث کښې چه کوم حضرت ﷺ جناب عائشے صدیقے ته اوفرمائیل چه د خپل پلار مور نه مشوره واخله نو بیا جواب راکړه دا د کمالِ شفقت په لحاظ سره وو چه د حضرت ﷺ خیال راغے چه کیدے شی دا اوس هم کم عمره ده او د دنیا تجربه نهٔ لری داسے نهٔ وی چه خما جدائئ ته تیاره شی. مګر الله پاک هغوی ته په کم عمرئ کښې هغه عقل او شعور او دینداری ورکړے وه چه هغه بوډاګانو ته هم نصیب نهٔ ده چه د آخرت د کور په غوره کولو کښې او د الله او د هغهٔ رسول لره په اختیارولو کښې هغوی اووے چه د پلار مور مشورے ته څهٔ ضرورت دے. لکه چا وئیلی دی " درکارِ خیر حاجت هیچ استخاره نیست " غرض دا چه د دے حدیث نه لوئے فضیلت د جناب عائشے صدیقے او د حضرت ابوبکر او د حضرت عمر ثابت شو. چه شیخینو د خپلو لوڼړو خیال نهٔ کوو بلکه د جناب رسالت مآب ﷺ خوشحالی او خاطرداری ئے مقدم یعنی وړاندے اوګڼله. او هغوی ته ئے تنبیهه ورکړه او حضرت ﷺ ئے خندہ وو او محفوظ ئے کړو. او دا د ایمان د کمال خبره ده. کوم خلق چه په شیخینو پسے د طعن خبرے کوی الله دِ د هغوی خلے تورے کړی او د دے احادیثو نه امام مالك او شافعی او ابوحنیفه او احمد او جمهورو علماؤ استدلال کړے دے چه کوم سړے خپلے ښځے ته اووائی چه تا ته اختیار دے که خما سره اوسیږے او که جدا اوسیږے. او هغے د خاوند سره اوسیدل اختیار کړو نو دا طلاق نهٔ دی او نهٔ په دے سره جدائی راتلے شی. او دغه صحیح مذهب دے. او د دے نه ثابته شوه چه غم خپلی لره خندول مستحب دی او هغوی ته خوشحالی رسول د تولو نه ښه ده.

فَقُلْتُ لَأَعْلَمَنَّ ذَلِكَ الْيَوْمَ قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ يَا بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ أَقَدْ بَلَغَ مِنْ شَأْنِكِ أَنْ تُؤْذِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ مَا لِي وَمَا لَكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ عَلَيْكَ بِعَيْبَتِكَ قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ فَقُلْتُ لَهَا يَا حَفْصَةُ أَقَدْ بَلَغَ مِنْ شَأْنِكِ أَنْ تُؤْذِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُحِبُّكِ وَلَوْلَا أَنَا لَطَلَّقَكِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَكَتْ أَشَدَّ الْبُكَاءِ فَقُلْتُ لَهَا أَيْنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ هُوَ فِي خِزَانَتِهِ فِي الْمَشْرُبَةِ فَدَخَلْتُ فَإِذَا أَنَا بِرَبَاحٍ غُلَامِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدًا عَلَى أُسْكُفَّةِ الْمَشْرُبَةِ مُدَلٍّ رِجْلَيْهِ عَلَى نَقِيرٍ مِنْ خَشَبٍ وَهُوَ جِذْعٌ يَرْقَى عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَنْحَدِرُ فَنَادَيْتُ يَا رَبَاحُ اسْتَأْذِنْ لِي عِنْدَكَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرَ رَبَاحٌ إِلَى الْغُرْفَةِ ثُمَّ نَظَرَ إِلَيَّ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا ثُمَّ قُلْتُ يَا رَبَاحُ اسْتَأْذِنْ لِي عِنْدَكَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ

اووے چه زۀ د نن ورځ چه حال معلوم کړم نو داخل شومه زۀ د جناب عائشے صديقے په خدمت کښ او ما هغوی ته اووے چه اے د ابوبکر لور ! ستاسو دا حال شو چه تاسو ضرر ورکوئ رسول الله ﷺ ته پس هغوی او وے چه څما ستا سره او ستا څما سره څۀ کار دے اے د خطاب ځويه! تۀ د خپلے عيبژنے خبر واخله (يعنی خپله لور حفصه پوهه کړه ما ته څۀ نصيحت کوے) بيا زۀ د حفصے خوا له ورغلم او ما هغے ته اووے چه اے حفصے ستاسو درجه دے حد ته اورسيده چه رسول الله ﷺ ته ضرر ورکوئ او په الله قسم ته خبر ئے چه جناب رسول الله ﷺ تا لره نۀ غوښته او که زۀ نۀ وے نو تا له به تر اوسه پورے طلاق درکړی وو رسول الله ﷺ او هغے ښه په سلګو سلګو اوژړل او ما هغوی ته اووے چه جناب رسول الله ﷺ چرته دے؟ هغوی اووے چه هغوی په خپله خزانه کښ په خپله کوټه ګئ کښ دی. او زۀ هلته لاړم نو ما اوليدل چه رباحه د رسول الله ﷺ مرئيے د کمرے په چوکټ باندے ناست وو او خپلے دواړه خپے ئے دپاسه د يو توګلی شوی لرګی چه هغه د کهجورے د ونړه وه. زوړند ے کړے وے. او په هغه لرګی باندے به رسول الله ﷺ ختلو او کوزيدلو. (يعنی هغه د سيړئ په ځائے په کهړکئ کښ لګيدلے وو) پس ما آواز اوکړو چه اے رباح اجازت واخله څم اد پاره د خپلے خوا چه زۀ رسول الله ﷺ ته اورسم او رباح کوټګئ طرفته اوکتل او بيائے ماته اوکتل او څۀ ئے او نۀ وے. بيا ما اووے چه اے رباح اجازت واخله څما دپاره د خپلے خوا چه زۀ رسول الله ﷺ ته اورسم بيا رباح کوټګئ ته اوکتل او ما ته ئے اوکتل او څۀ ئے اونۀ وے. بيا ما په اوچت اواز اووے چه اے رباح څما دپاره اجازت واخله د خپلے خواه چه زۀ رسول الله ﷺ ته اورسم. او زۀ ګمان کوم چه

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرَ رَبَاحٌ إِلَى الْغُرْفَةِ ثُمَّ نَظَرَ إِلَيَّ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا ثُمَّ رَفَعْتُ صَوْتِي فَقُلْتُ يَا رَبَاحُ اسْتَأْذِنْ لِي عِنْدَكَ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي أَظُنُّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظَنَّ أَنِّي جِئْتُ مِنْ أَجْلِ حَفْصَةَ وَاللّٰهِ لَئِنْ أَمَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِضَرْبِ عُنُقِهَا لَأَضْرِبَنَّ عُنُقَهَا وَرَفَعْتُ صَوْتِي فَأَوْمَأَ إِلَيَّ أَنِ ارْقَهْ فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى حَصِيرٍ فَجَلَسْتُ فَأَدْنَى عَلَيْهِ إِزَارَهُ وَلَيْسَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ وَإِذَا الْحَصِيرُ قَدْ أَثَّرَ فِي جَنْبِهِ فَنَظَرْتُ بِبَصَرِي فِي خِزَانَةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا أَنَا بِقَبْضَةٍ مِنْ شَعِيرٍ نَحْوِ الصَّاعِ وَمِثْلِهَا قَرَظًا فِي نَاحِيَةِ الْغُرْفَةِ وَإِذَا أَفِيقٌ مُعَلَّقٌ قَالَ فَابْتَدَرَتْ عَيْنَايَ قَالَ مَا يُبْكِيكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ وَمَا لِي لَا أَبْكِي وَهٰذَا الْحَصِيرُ قَدْ أَثَّرَ فِي جَنْبِكَ وَهٰذِهِ خِزَانَتُكَ لَا أَرَى فِيهَا إِلَّا مَا أَرَى وَذَاكَ قَيْصَرُ وَكِسْرَى فِي الثِّمَارِ وَالْأَنْهَارِ وَأَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

کیدے شی رسول اللهﷺ دا خیال فرمائیلے دی چه زهٔ د حفصےؓ دپاره راغلے یم. او خما د په رب قسم وی کچرے رسول اللهﷺ ما ته د هغے د څټ وهلو حکم اوکړی نو زهٔ به د هغے څټ اووهَم . (ددے نه خیال کول پکار دی د حضرت عمر ایمان او خلوص او محبت ته کوم چه نے د رسول اللهﷺ سره دے او ضروری دے دغه محبت هر مسلمان لره د رسول اللهﷺ سره) او ما خپل آواز پورته کړو پس هغوی اشاره اوکړه چه رااوخیژه راځه او زهٔ د رسول اللهﷺ خواته داخل شوم. او حضرتﷺ په یو پوزی باندے ملاست وو. او زهٔ کیښناستم. او حضرتﷺ خپل لنګ پورته کړو او د هغے نه سوا بله یوه کپړه د هغوی سره نهٔ وه. او د پوزی نشان د هغوی په اړخونو کښې جوړ شوے وو. او خپل نظر مے چا پیره اوګرځوو د حضرتﷺ په خزانه کښې نو په هغے کښې یو پیمانے ته نږدے یو څو موټی وربشے وے. او د هغے برابر د سلم د اونے پاڼے وے چه په یو ګوټ د کوټکۍ کښې پرتے وے (چه په هغے سره څرمنے پخوی) او یوه کچه څرمن زوړنده وه چه د هغے دباغت بنهٔ نهٔ وو شوے او خما سترګو چه دا اولیدل نو جوش ئے اوکړو (او ما په ژړا شروع اوکړه) نو حضرتﷺ اوفرمائیل په څهٔ خبره ژاړے اے د خطاب خویه! ما عرض اوکړو چه اے د الله نبیؐ! زهٔ به ولے نهٔ ژاړم. او حال دادے چه دے پوزکی ستا په مړوندونو مبارکو کښې نخښے جوړے کړی دی او دا ستا خزانه ده چه نهٔ وینم په دے کښې مګر دغه وربشے وینمه او دا قیصر او کسریٰ والا دی چه په میوؤ او نهرونو کښې ژوند تیروی. او تاسو د الله تعالی رسول یئ او د هغهٔ غوره کړے شوے او ستا دا خزانه ده (او هغه د الله تعالی دشمنان دی او دومره په عیش او دولتونو کښې دی) پس حضرتﷺ

وَصَفْوَتُهُ وَهٰذِهِ خِزَانَتُكَ فَقَالَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ أَلَا تَرْضٰى أَنْ تَكُوْنَ لَنَا الْاٰخِرَةُ وَلَهُمُ الدُّنْيَا قُلْتُ بَلٰى قَالَ وَدَخَلْتُ عَلَيْهِ حِيْنَ دَخَلْتُ وَأَنَا أَرٰى فِيْ وَجْهِهِ الْغَضَبَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا يَشُقُّ عَلَيْكَ مِنْ شَأْنِ النِّسَاءِ فَإِنْ كُنْتَ طَلَّقْتَهُنَّ فَإِنَّ اللّٰهَ مَعَكَ وَمَلَائِكَتَهُ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكَائِيْلَ وَأَنَا وَأَبُوْ بَكْرٍ وَالْمُؤْمِنُوْنَ مَعَكَ وَقَلَّمَا تَكَلَّمْتُ وَأَحْمَدُ اللّٰهَ بِكَلَامٍ إِلَّا رَجَوْتُ أَنْ يَكُوْنَ اللّٰهُ يُصَدِّقُ قَوْلِي الَّذِيْ أَقُوْلُ وَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ آيَةُ التَّخْيِيْرِ عَسٰى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ وَإِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلَاهُ وَجِبْرِيْلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمَلَائِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ وَكَانَتْ عَائِشَةُ بِنْتُ أَبِيْ بَكْرٍ وَحَفْصَةُ تَظَاهَرَانِ عَلٰى سَائِرِ نِسَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَطَلَّقْتَهُنَّ قَالَ لَا قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّيْ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ وَالْمُسْلِمُوْنَ يَنْكُتُوْنَ بِالْحَصٰى يَقُوْلُوْنَ طَلَّقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ أَفَأَنْزِلُ فَأُخْبِرَهُمْ أَنَّكَ لَمْ

اوفرمائیل چه اے د خطاب خویه ولے ته راضی نهٔ ئے چه زمونږ دپاره آخرت دے او د هغوی دپاره دنیا ده. ما اووے ولے رضا نه یم (یعنی راضی یم) او حضرت عمر وائی چه هر کله زهٔ داخل شوم نو دغه وخت د حضرت ﷺ په مخ منور کښ د غصے اثر وو. بیا ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ تاسو ته په بیبیانو کښ څهٔ تکلیف دے. کچرے تاسو هغوی له طلاق ورکړی دی نو الله تعالیٰ ستاسو سره دے (یعنی امداد او فتح) او د الله فرښتے او جبرائیل او میکائیل او زهٔ او ابوبکر او ټول مؤمنان ستاسو سره دی. او اکثر چه به کله ما خبرے کولے. او تعریف به مے کوو د الله تعالیٰ په کلام کښ نو دا امید مے لرلو چه الله تعالیٰ به ما رښتونے کړی او تصدیق به اوکړی خما د خبرے کومه چه ما وئیله (دا دے نه کمال د نزدیکت او حسن ظن د حضرت عمر د الله په بارگاه کښ ظاهر شو او څنګه چه د هغوی ګمان وو د خپل پروردګار سره دغه شان په ظهور کښ راغے) او دا آیت تخییر نازل شو. عَسٰی رَبُّهٗ إِنْ طَلَّقَكُنَّ نه تر آخره پورے یعنی نزدے دے پروردګار د هغوی (یعنی د نبی ﷺ) چه کچرے طلاق ورکړی هغوی تاسو ته نو په بدل کښ به ورکړ الله پاك هغوی ته بیبیانے ستاسو نه غوره او کچرے تاسو دواړه په دهٔ باندے زور کوئ نو الله پاك د هغوی ملګرے دے او جبرائیل او نیك خلق د مؤمنانو نه او ټولے فرښتے د هغے نه پس ددوی په شا ولاړے دی. او حضرت عائشے د ابوبکر لور او حفصے دے دواړو زور کړے وو د نبی ﷺ په ټولو بیبیانو باندے بیا حضرت عمر ؓ وائی چه ما عرض اوکړو چه اے د الله رسوله ولے تا هغوی له طلاق ورکړی دی حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه نه ما عرض اوکړو چه اے د الله رسوله هر کله چه زهٔ جماعت ته داخل شوم نو

تُطَلِّقْهُنَّ قَالَ نَعَمْ إِنْ شِئْتَ فَلَمْ أَزَلْ أُحَدِّثُهُ حَتَّى تَحَسَّرَ الْغَضَبُ عَنْ وَجْهِهِ وَحَتَّى كَشَرَ فَضَحِكَ وَكَانَ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ ثَغْرًا ثُمَّ نَزَلَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَزَلْتُ فَنَزَلْتُ أَتَشَبَّثُ بِالْجِذْعِ وَنَزَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّمَا يَمْشِي عَلَى الْأَرْضِ مَا يَمَسُّهُ بِيَدِهِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّمَا كُنْتَ فِي الْغُرْفَةِ تِسْعَةً وَعِشْرِينَ قَالَ إِنَّ الشَّهْرَ يَكُونُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ فَقُمْتُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ فَنَادَيْتُ بِأَعْلَى صَوْتِي لَمْ يُطَلِّقْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ وَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ فَكُنْتُ أَنَا اسْتَنْبَطْتُ ذٰلِكَ الْأَمْرَ وَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ آيَةَ التَّخْيِيرِ

مسلمانانو گیتیۍ اړولې راړولې. اوونیل ئې چه رسول الله ﷺ طلاق ورکړو خپلو بيبيانو لره. پس زۀ کوزيدم او هغوی خبروم چه تاسو هغوی له طلاق نۀ دی ورکړی. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه آو. کچرې تۀ غواړې . بیا ما د هغوی سره خبرې کولې تردې پورې چه د هغوی د مخ مبارك نه د غصې اثر لرې شو. تردې پورې چه د هغوی غاښونو نه مبارك ښكاره شو او نرئ خندائې اوكړه او د حضرت ﷺ دغاښونو نرئ خندا د ټولو خلقو نه زياته ښكلې وه. بيا رسول الله ﷺ راكوز شو او زۀ هم راكوز شوم زۀ د كهجورې هغه ونډه نيولى راكوزيدم (چه چرته ارتاؤ نۀ شم) او جناب رسول الله ﷺ بې تكليفه راكوزيدو او چرته ئې هم لاس نۀ لګولو لكه چه ځنګه په زمكه روان وو. بيا ما عرض اوكړو چه يا رسول الله ! تا په بالاخانه كښې يو كم ديرش ورځې تيرې كړې حضرت ﷺ اوفرمائيل چه مياشت د ديرشو ورځو هم وى. او زۀ د جماعت په دروازه باندې اودريدم او په اوچت آواز سره مې چغه كړه چه رسول الله ﷺ خپلو بيبيانو له طلاق نۀ دى وركړى. او دا ايت نازل شو " وَإِذَا جَاءَهُمْ الخ يعنى هر كله چه راشى هغوى ته يو خبر د آمن يا د يرې نو په دې سره مشهوره وى او كچرې واپس كړې وې دوى هغې لره رسول ته او اميرالمؤمنين خپل ته. نو پوهه شوى به وو پدې كار باندې كوم خلق چه ايستلې شى نيك له بد ځخه دوى نه كۀ نۀ وې فضل د خدائې نو تابعدارى به كړې وه تاسې د شيطان الخ او الله تعالى ايت د تخير نازل كړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ يُحَدِّثُ قَالَ مَكَثْتُ سَنَةً وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ عَنْ آيَةٍ فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَسْأَلَهُ

د عبد الله بن عباس نه روايت دې وائى چه ځما د يو كال پورې اراده وه چه د حضرت عمر نه د دې ايت په باره كښې سوال اوكړم او د هغوى د يرې نه مې نۀ شو كولې. تردې پورې چه هغه حج ته

هَيْبَةً لَهُ حَتّٰى خَرَجَ حَاجًّا فَخَرَجْتُ مَعَهُ فَلَمَّا رَجَعَ فَكُنَّا بِبَعْضِ الطَّرِيقِ عَدَلَ إِلَى الْأَرَاكِ لِحَاجَةٍ لَهُ فَوَقَفْتُ لَهُ حَتّٰى فَرَغَ ثُمَّ سِرْتُ مَعَهُ فَقُلْتُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَنِ اللَّتَانِ تَظَاهَرَتَا عَلٰى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَزْوَاجِهِ فَقَالَ تِلْكَ حَفْصَةُ وَعَائِشَةُ قَالَ فَقُلْتُ لَهُ وَاللّٰهِ إِنْ كُنْتُ لَأُرِيدُ أَنْ أَسْأَلَكَ عَنْ هٰذَا مُنْذُ سَنَةٍ فَمَا أَسْتَطِيعُ هَيْبَةً لَكَ قَالَ فَلَا تَفْعَلْ مَا ظَنَنْتَ أَنَّ عِنْدِي مِنْ عِلْمٍ فَسَلْنِي عَنْهُ فَإِنْ كُنْتُ أَعْلَمُهُ أَخْبَرْتُكَ قَالَ وَقَالَ عُمَرُ وَاللّٰهِ إِنْ كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ مَا نَعُدُّ لِلنِّسَاءِ أَمْرًا حَتّٰى أَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى فِيهِنَّ مَا أَنْزَلَ وَقَسَمَ لَهُنَّ مَا قَسَمَ قَالَ فَبَيْنَمَا أَنَا فِي أَمْرٍ أَأْتَمِرُهُ إِذْ قَالَتْ لِي امْرَأَتِي لَوْ صَنَعْتَ كَذَا وَكَذَا فَقُلْتُ لَهَا وَمَا لَكِ أَنْتِ وَلِمَا هَاهُنَا وَمَا تَكَلُّفُكِ فِي أَمْرٍ أُرِيدُهُ فَقَالَتْ لِي عَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ مَا تُرِيدُ أَنْ تُرَاجَعَ أَنْتَ وَإِنَّ ابْنَتَكَ لَتُرَاجِعُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى يَظَلَّ يَوْمَهُ غَضْبَانَ قَالَ عُمَرُ فَآخُذُ رِدَائِي ثُمَّ أَخْرُجُ مَكَانِي حَتّٰى أَدْخُلَ عَلٰى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَهَا يَا بُنَيَّةُ إِنَّكِ لَتُرَاجِعِينَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اووتو او زۀ هم د هغوی سره اووتم. پس هر کله چه واپس شو. او چرته په لاره کښې یو ځل د کیکر د اونې په طرف ښکته شو ځۀ حاجت ته او زۀ د هغوی دپاره اودریدم تردے پورے چه هغوی د خپل حاجت نه فارغ شو. او زۀ د هغوی سره روان شوم او ما اووے چه اے امیر المؤمنین هغه دواړه ښځے څوك دی د حضرت ﷺ د بيبيانو نه چه هغوی زور اچولے وو په رسول الله ﷺ باندے. نو هغوی اوفرمائيل چه هغوی حفصه او عائشه دی پس ما هغوی ته عرض اوکړو چه په الله قسم چه ځما د يو کال نه په زړۀ کښې دا دے خبرے د تپوس کولو اراده وه خو ستا د هيبت نه مے تپوس نۀ شو کولے نو هغوی اوفرمائيل داسے مۀ کوه کومه خبره چه ستا په خيال کښې راځی چه ما ته معلومه ده. د هغے تۀ ځما نه تپوس کوه کچرے ما ته معلومه وی تو تاسو ته به ئے ښايم او بيا حضرت عمر اوفرمائيل. چه په الله قسم دے چه مونږ مخکښې په جاهليت کښې گرفتار وو. او د ښځو مو څۀ حقيقت نۀ گنړلو تردے پورے چه نازل کړو الله د ښځو د حقوقو ادا کولو په باره کښې هغه څۀ چه نازل ئے کړو. د هغوی دپاره ئے حصه مقرر کړه هغه چه مقرر ئے کړه. چنانچه يوه ورځ داسے اوشو چه ما په څۀ کار کښې مشوره کوله چه ځما ښځے اووے چه تا داسے کولے هغسے دکولے نو ښه به وه. نو ما هغے ته اووے چه ستا ځما په کار کښې څۀ کار دے دکومے چه زۀ اراده لرم. پس هغوی ما ته اووے چه حيرانيږم اے د خطاب خويه! تۀ خو غوارے چه تا له د هيڅوك جواب در نۀ کړی حالانکه ستا لور رسول الله ﷺ ته جواب ورکوی ورکوی تردے پورے چه هغه توله ورځ غصه وی. حضرت عمر واټی چه بيا ما خپل څادر واخستو او د کوره اووتم او د حفصے

حَتّٰى يَظَلَّ يَوْمَهُ غَضْبَانَ فَقَالَتْ حَفْصَةُ
وَاللهِ إِنَّا لَنُرَاجِعُهُ فَقُلْتُ تَعْلَمِينَ أَنِّي
أُحَذِّرُكِ عُقُوبَةَ اللهِ وَغَضَبَ رَسُولِهِ يَا
بُنَيَّةُ لَا يَغُرَّنَّكِ هٰذِهِ الَّتِي قَدْ أَعْجَبَهَا حُسْنُهَا
وَحُبُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
إِيَّاهَا ثُمَّ خَرَجْتُ حَتّٰى أَدْخُلَ عَلَى أُمِّ
سَلَمَةَ لِقَرَابَتِي مِنْهَا فَكَلَّمْتُهَا فَقَالَتْ لِي أُمُّ
سَلَمَةَ عَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ قَدْ
دَخَلْتَ فِي كُلِّ شَيْءٍ حَتّٰى تَبْتَغِي أَنْ تَدْخُلَ
بَيْنَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَأَزْوَاجِهِ قَالَ فَأَخَذَتْنِي أَخْذًا كَسَرَتْنِي عَنْ
بَعْضِ مَا كُنْتُ أَجِدُ فَخَرَجْتُ مِنْ عِنْدِهَا
وَكَانَ لِي صَاحِبٌ مِنَ الْأَنْصَارِ إِذَا غِبْتُ
أَتَانِي بِالْخَبَرِ وَإِذَا غَابَ كُنْتُ أَنَا آتِيهِ
بِالْخَبَرِ وَنَحْنُ حِينَئِذٍ نَتَخَوَّفُ مَلِكًا مِنْ
مُلُوكِ غَسَّانَ ذُكِرَ لَنَا أَنَّهُ يُرِيدُ أَنْ يَسِيرَ إِلَيْنَا
فَقَدِ امْتَلَأَتْ صُدُورُنَا مِنْهُ فَأَتَى صَاحِبِي
الْأَنْصَارِيُّ يَدُقُّ الْبَابَ وَقَالَ افْتَحْ افْتَحْ
فَقُلْتُ جَاءَ الْغَسَّانِيُّ فَقَالَ أَشَدُّ مِنْ ذٰلِكَ
اعْتَزَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
أَزْوَاجَهُ فَقُلْتُ رَغِمَ أَنْفُ حَفْصَةَ وَعَائِشَةَ
ثُمَّ آخُذُ ثَوْبِي فَأَخْرُجُ حَتّٰى جِئْتُ فَإِذَا
رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَشْرُبَةٍ

كورته داخل شومه او هغوى ته مے اووے اے خما بچئ لورے ته جواب وركوے رسول الله ﷺ ته تردے پورے چه هغوى توله ورځ په غصه كښں وى. پس حفصے اووے چه په الله قسم چه زهٔ خو هغوى له جواب وركوم. پس ما هغے ته اووے چه ته پوهه شه زهٔ تا لره يره وم د الله تعالى د عذاب نه او د هغهٔ د رسول الله ﷺ د غضب نه اے خما لورے ته د هغه ښځے په دهوكه كښں مهٔ راځه چه هغوى خپل حسن ته او د رسول الله ﷺ محبت ته حيرانه ده. بيا زهٔ د هغه ځائے نه راووتم او ام سلمه ته راغلم په سبب د خپلولئ كومه چه خما د هغے سره وه. او ما هغے ته خبره اوكړه او ما ته ام سلمه اووے چه حيرانه يم تا ته اے د خطاب ځويه! چه ته په هر څهٔ كښں دخل لرے تردے پورے چه تهٔ غواړے چه د رسول الله ﷺ او د هغوى د بيبيانو په مينځ كښں د هم دخل اوكړے. او په ما ددوى دِدے خبرے نه داسے غم راغے چه دغه غم زهٔ د هغه نصيحت كولو نه قلار كړم. كوم چه ما كول غوښتلو. او زهٔ د هغے د خوانه راووتم. او خما يو ملګرے وو د انصارو نه چه هر كله به زهٔ غيب وم نو هغوى به ما ته خبر راكوۀ او هر كله چه به هغوى غائب وو (يعنى د رسول الله ﷺ د محفل نه) نو ما به هغوى لره خبر وو. او مونږ په دغه ورځو كښں په يره كښں وو د غسان په بادشاهانو كښں د يو بادشاه نه. او په مونږ كښں دا خوره شوے وه چه هغه زمونږ سينے ددے خيال نه ډكے شوے وے چه په دے كښں خما هغه دوست راغے او دروازه ئے اوټكوله اووئيل ئے چه بيرته كړه ما اووے چه ولے غسّانى راغے هغوى اووے چه نه ددے نه هم زياته د خفګان خبره ده. چه جناب رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو نه جدا شو. پس ما اووے چه د حفصے او عائشے په پوزه كښں

لَهُ يُرْتَقَى إِلَيْهَا بِعَجَلَةٍ وَغُلَامٌ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْوَدُ عَلَى رَأْسِ الدَّرَجَةِ فَقُلْتُ هٰذَا عُمَرُ فَأُذِنَ لِي قَالَ عُمَرُ فَقَصَصْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا الْحَدِيثَ فَلَمَّا بَلَغْتُ حَدِيثَ أُمِّ سَلَمَةَ تَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنَّهُ لَعَلَى حَصِيرٍ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ شَيْءٌ وَتَحْتَ رَأْسِهِ وِسَادَةٌ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ وَإِنَّ عِنْدَ رِجْلَيْهِ قَرَظًا مَضْبُورًا وَعِنْدَ رَأْسِهِ أُهُبًا مُعَلَّقَةً فَرَأَيْتُ أَثَرَ الْحَصِيرِ فِي جَنْبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَكَيْتُ فَقَالَ مَا يُبْكِيكَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ كِسْرَى وَقَيْصَرَ فِيمَا هُمَا فِيهِ وَأَنْتَ رَسُولُ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ لَهُمَا الدُّنْيَا وَلَكَ الآخِرَةُ

خاورے ډکے شه بیا ما خپلے کیسے راواخستے او رااووتم ترد ے پورے چه د رسول الله ﷺ په خواه کښں حاضر شوم. او حضرت ﷺ په یوه بالاخانه کښں وو چه هغے ته پورته به د کهجورے په یوے زینه سره ختلو. او یو غلام تور رنګے د رسول الله ﷺ د هغے په سر باندے وو. پس ما اووے چه دا عمر دے او ما ته اجازت راکړے شو. حضرت عمر وائی بیا ما دا ټوله قصه رسول الله ﷺ ته بیان کړه بیا چه هر کله زۀ د ام سلمهؓ خبرے ته اورسیدم نو رسول الله ﷺ نرئ خندا اوکړله او هغوی په پوزی باندے وو چه د هغوی او د پوزی په مینځ کښں بل څۀ خور شوے نۀ وو. او دهغوی د سر لاندے د څرمنے یوه تکیه وه چه د کهجورے د پټونو نه ډکه شوے وه. او د هغوی خپو طرفته څۀ پاڼړے د سلم د اونے پرتے وے (چه په هغے سره څرمنو لره پخوی) او دهغوی سر طرفته یوه کچه څرمن زوړنده شوے وه. او ما اثر او نښے د پوزی د رسول الله ﷺ په اړخ مبارکه کښں اولیدو او په ژړا شوم حضرت ﷺ اوفرمائیل چه چا اوژړوو تا لره. ما عرض اوکړو چه اے د الله رسولهؑ بیشکه کسریٰ او قیصر څومره عیشونه کوی. او تاسو د الله تعالی رسول یئ بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ولے تۀ راضی نۀئے د هغوی دپاره دنیا ده. او ستاسو دپاره آخرت دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَقْبَلْتُ مَعَ عُمَرَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ كَنَحْوِ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ قُلْتُ شَأْنُ الْمَرْأَتَيْنِ قَالَ حَفْصَةُ وَأُمُّ سَلَمَةَ وَزَادَ فِيهِ وَأَتَيْتُ الْحُجَرَ فَإِذَا فِي كُلِّ

د ابن عباس نه روایت دے چه زۀ د حضرت عمر سره راغلم او هر کله مونږ مرّ ظهران (چه نوم دے د یو ځائے) ته راغلو او وړاندے ئے اوږد حدیث بیان کړو په مثل د حدیث د سلیمان بن بلال او په دے کښں دا دی چه ما اووے حال د هغه دواړو ښځو (یعنی زۀ ستا نه معلومات کوم) حضرت عمر اوفرمائیل . حفصه او ام سلمه او په دے کښں دا هم دی چه حضرت عمرؓ اووئیل چه زۀ د کمرو خواته

بَيْتِ بُكَاءٌ وَزَادَ أَيْضًا وَكَانَ آلَى مِنْهُنَّ شَهْرًا فَلَمَّا كَانَ تِسْعًا وَعِشْرِينَ نَزَلَ إِلَيْهِنَّ

راغلم او هر کور کښ ژړا وه (یعنی د پاکو بیبیانو) او دا هم دی چه رسول الله ﷺ ددوی سره د نۀ ملاویدو د یوے میاشتے پوورے قسم خوړلے وو. بیا چه هر کله یوکم دیرش ورځے تیرے شوے نو حضرت ﷺ راکوز شو او د هغوی طرفته لاړو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ كُنْتُ أُرِيدُ أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ عَنِ الْمَرْأَتَيْنِ اللَّتَيْنِ تَظَاهَرَتَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَبِثْتُ سَنَةً مَا أَجِدُ لَهُ مَوْضِعًا حَتَّى صَحِبْتُهُ إِلَى مَكَّةَ فَلَمَّا كَانَ بِمَرِّ الظَّهْرَانِ ذَهَبَ يَقْضِي حَاجَتَهُ فَقَالَ أَدْرِكْنِي بِإِدَاوَةٍ مِنْ مَاءٍ فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَلَمَّا قَضَى حَاجَتَهُ وَرَجَعَ ذَهَبْتُ أَصُبُّ عَلَيْهِ وَذَكَرْتُ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَنِ الْمَرْأَتَانِ فَمَا قَضَيْتُ كَلَامِي حَتَّى قَالَ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ

د ابن عباس نه روایت دے چه ما غوښتله چه د حضرت عمر نه تپوس اوکړم د هغه دوؤ ښځو په باره کښ چا چه زور لګولے وو د نبی ﷺ په زمانه کښ (چه هغه کومے وے) نو ما د یو کاله پورے د هغوی نه د تپوس موقع اونۀ موندے شوه. تردے پورے چه زۀ مکے ته په تلو کښ د هغوی د سفر ملګرے شوم. هر کله چه مرظهران ته اورسیدو نو حضرت عمر د قضائے حاجت دپاره لاړۀ او ماته ئے اووے چه د اوبو بتکے راوړه. بیا ما بتکے یوړو. هر کله چه د قضائے حاجت نه فارغ شو واپس راغے نو ما هغۀ ته اوبۀ واچولے او ما ته هغه خبره راپه یاد شوه نو ما اووے اے امیر المؤمنین! هغه دوه ښځے (کومے وے) نو ما لاپوره خبره هم نۀوه کړے چه هغوی اوفرمائیل چه عائشه او حفصه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمْ أَزَلْ حَرِيصًا أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ عَنِ الْمَرْأَتَيْنِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّتَيْنِ قَالَ اللهُ تَعَالَى إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا حَتَّى حَجَّ عُمَرُ وَحَجَجْتُ مَعَهُ فَلَمَّا كُنَّا بِبَعْضِ الطَّرِيقِ عَدَلَ عُمَرُ وَعَدَلْتُ مَعَهُ بِالْإِدَاوَةِ فَتَبَرَّزَ ثُمَّ أَتَانِي فَسَكَبْتُ عَلَى يَدَيْهِ فَتَوَضَّأَ فَقُلْتُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَنِ الْمَرْأَتَانِ

د عبد الله بن عباس نه روایت دے وائی چه ما د ډیرے مُدے نه دا آرزو لره چه د حضرت عمر نه د هغه دواړو بیبیانو د حال تپوس اوکړم. د نبی ﷺ هغه بیبیانے چه د هغوی په باره کښ الله تعالی فرمائیلی دی کچرے تاسو توبه اوباسئ الله تعالی ته نو ستاسو زړونه ښکته شوی دی. تردے پورے چه حج اوکړو هغوی او ما هُم د هغوی سره. بیا مونږ په یوه لاره کښ وو چه حضرت عمر د لارے نه ډډے ته شو او زۀ هم د هغوی سره غاړے ته شوم د اوبو بتکے راسره وو. او هغوی لوئی بول اوکړل او بیا خما خواله راغے. او ما هغوی ته په لاسونو باندے اوبۀ واچولے او هغوی اودس اوکړو. او ما اووے اے امیر المؤمنین هغه

مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
اللَّتَانِ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُمَا إِنْ
تَتُوبَا إِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا قَالَ
عُمَرُ وَاعَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ
الزُّهْرِيُّ كَرِهَ وَاللهِ مَا سَأَلَهُ عَنْهُ وَلَمْ
يَكْتُمْهُ قَالَ هِيَ حَفْصَةُ وَعَائِشَةُ ثُمَّ
أَخَذَ يَسُوقُ الْحَدِيثَ قَالَ كُنَّا مَعْشَرَ
قُرَيْشٍ قَوْمًا نَغْلِبُ النِّسَاءَ فَلَمَّا قَدِمْنَا
الْمَدِينَةَ وَجَدْنَا قَوْمًا تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ
فَطَفِقَ نِسَاؤُنَا يَتَعَلَّمْنَ مِنْ نِسَائِهِمْ قَالَ
وَكَانَ مَنْزِلِي فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ
بِالْعَوَالِي فَتَغَضَّبْتُ يَوْمًا عَلَى امْرَأَتِي
فَإِذَا هِيَ تُرَاجِعُنِي فَأَنْكَرْتُ أَنْ
تُرَاجِعَنِي فَقَالَتْ مَا تُنْكِرُ أَنْ أُرَاجِعَكَ
فَوَاللهِ إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ لَيُرَاجِعْنَهُ وَتَهْجُرُهُ إِحْدَاهُنَّ
الْيَوْمَ إِلَى اللَّيْلِ فَانْطَلَقْتُ فَدَخَلْتُ
عَلَى حَفْصَةَ فَقُلْتُ أَتُرَاجِعِينَ رَسُولَ
اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ نَعَمْ
فَقُلْتُ أَتَهْجُرُهُ إِحْدَاكُنَّ الْيَوْمَ إِلَى
اللَّيْلِ قَالَتْ نَعَمْ قُلْتُ قَدْ خَابَ مَنْ
فَعَلَ ذَلِكَ مِنْكُنَّ وَخَسِرَ أَفَتَأْمَنُ
إِحْدَاكُنَّ أَنْ يَغْضَبَ اللهُ عَلَيْهَا لِغَضَبِ

کومې دوه ښځې دی د نبی ﷺ د بیبیانو نه چه د هغوی په باره کښې الله تعالی فرمائیلی دی کچرې توبه اوباسئ ته تاسو الله تعالی ته نو ستاسو زړونه ښکته شوی دی. حضرت عمر اوفرمائیل چه لویه د حیرانتیاو خبره ده اے ابن عباسه ؛ (یعنی تر اوسه پورې تا دا معلومات ولې نهٔ کول) زهری وئیلی دی چه حضرت عمر ته ددهٔ دا دومره ورځې تپوس نهٔ کول غوره نهٔ شو او ښکه غوره نهٔ شو چه دومره ورځې د دې سوال لره ولې پټ اوساتلو بیائې اوفرمائیل چه هغه حفصه او عائشه دی بیائې په حدیث بیانولو شروع اوکړه او اوئې وئیل چه مونږ د قریشو د جماعت یو داسې قوم وو چه په ښځو باندې به غالب اوسیدلو. بیا چه هر کله مدینې ته راغلو نو داسې جماعت مو اوموندو چه د هغوی ښځې په هغوی باندې غالبې وې. پس زمونږ ښځو د هغوی خصلتونه ایزده کول شروع کړل. او زما کور په دغه ورځو د مدینې په لوړه حصه د بنی اُمیّه په قبیله کښې وو. پس یوه ورځ ما په خپله ښځه باندې غصه اوکړه پس هغې ما ته جواب راکول شروع کړل او ما د هغې جواب راکول بد اونګڼل نو هغې اووې چه ته ځما جواب درکول بد ګڼړې. او په الله قسم دې چه د نبی ﷺ بیبیانې هغوی لره جواب ورکوی. او یوه یوه په هغوی کښې حضرت ﷺ لره پریږدی د ورځې نه شپې پورې. پس زهٔ لاړم او داخل شومه په حفصه او ما ورته اووې چه ته جواب ورکوې رسول الله ﷺ ته هغوی اووې چه آو. او ما اووې چه په تاسو کښې یوه یوه حضرت ﷺ لره پریږدی د ورځې نه د شپې پورې. هغوی اووې چه آو. ما اووې چه محرومې شوې ستاسو نه څوک چه داسې کوی او په لوئې نقصان کښې راغلې. ولې پتاسو کښې هره یوه یرېږی نه ددې نه چه الله تعالی په دې باندې غصه اوکړی د هغه رسول الله ﷺ ته په غصې ورکولو سره او

رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هِيَ قَدْ هَلَكَتْ لَا تُرَاجِعِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَسْأَلِيهِ شَيْئًا وَسَلِينِي مَا بَدَا لَكِ وَلَا يَغُرَّنَّكِ أَنْ كَانَتْ جَارَتُكِ هِيَ أَوْسَمَ وَأَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكِ يُرِيدُ عَائِشَةَ قَالَ وَكَانَ لِي جَارٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا فَيَأْتِينِي بِخَبَرِ الْوَحْيِ وَغَيْرِهِ وَآتِيهِ بِمِثْلِ ذَلِكَ وَكُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّ غَسَّانَ تُنْعِلُ الْخَيْلَ لِتَغْزُونَا فَنَزَلَ صَاحِبِي ثُمَّ أَتَانِي عِشَاءً فَضَرَبَ بَابِي ثُمَّ نَادَانِي فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ حَدَثَ أَمْرٌ عَظِيمٌ قُلْتُ مَاذَا أَجَاءَتْ غَسَّانُ قَالَ لَا بَلْ أَعْظَمُ مِنْ ذَلِكَ وَأَطْوَلُ طَلَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ فَقُلْتُ قَدْ خَابَتْ حَفْصَةُ وَخَسِرَتْ قَدْ كُنْتُ أَظُنُّ هَذَا كَائِنًا حَتَّى إِذَا صَلَّيْتُ الصُّبْحَ شَدَدْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي ثُمَّ نَزَلْتُ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ وَهِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ أَطَلَّقَكُنَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ناڅا په به هغه هلاکه شی (ددے نه د حضرت عمرؓ د ایمان قوت معلومیږی او کوم عظمت او شان چه د هغوی په سینه کښں د رسول اللهﷺ دے په ښهٔشان له ترے ښکاره دے) بیا حضرت عمر اووے چه ته به هیڅکه جواب نهٔ ورکوے رسول اللهﷺ ته او د هغوی نه به د څهٔ څیز طلب نهٔکوے. او څهٔ چه ستا زړهٔ غواړی د هغے به ما ته فرمائش کوے او تهٔ دهوکه مهٔخوره په هغه بی بی سره چه هغه ستا ګاونډئ یعنی ښه ده چه هغه زیاته خائسته ده ستا نه او ستا په نسبت زیاته خوږه ده رسول اللهﷺ ته (غرض تهٔ په دے بهروسه کښں مهٔ راځه چه ستا او دهغے برابری نهٔ شی کیدے. په دے کښں اقرار دے د حضرت عمر د حضرت عائشے د غوره والی او د محبوبیت) مراد اخستلو هغے حضرت عائشے لره. او حضرت عمر اووے چه زمونږ یو ګاونډی وو د انصارو نه چه مونږ او هغوی به په نمبر نمبر د رسول اللهﷺ په خدمت کښں حاضر وو. پس یوه ورځ به هغوی راتلو او یوه ورځ به زهٔ. او هغه به ما ته د وحی وغیره خبر راکوو او ما به هغهٔ ته او په مونږ کښں دا خبر خور شوے وو چه د غسان بادشاه خپلو اسونو ته نعلونه لګی او چه مونږ سره جنګ اوکړی. پس یوه ورځ خما دوست لاتدے راغے (یعنی د حضرتﷺ خواله) او بیا ماسختن خما خواله راغے. او خما دروازه ئے اوټکوله او آواز ئے اوکړو او زهٔ راااووتم. هغوی اووے لوئے غضب جوړ شو ما اووے وولے د غسان بادشاه راغے. هغهٔ اووے ددے نه هم لوئے مهم راته پیښں شو. او ډیر اوږدهٔ طلاق ورکړل رسول اللهﷺ خپلو بیبیانو ته ما اووے بے نصیبه شوه حفصه او په لوئے نقصان کښں راغله او خما د مخکښں نه یقین وو چه یوه ورځ دا سے راتلونکے ده. تر دے پورے چه هر کله ما د سحر موځ اوکړو خپلے کپړے مے واچولے او ښکته راکوز

فَقَالَتْ لَا أَدْرِي هَا هُوَ ذَا مُعْتَزِلٌ فِي
هٰذِهِ الْمَشْرُبَةِ فَأَتَيْتُ غُلَامًا لَهُ أَسْوَدَ
فَقُلْتُ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ
إِلَيَّ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ
فَانْطَلَقْتُ حَتّٰى انْتَهَيْتُ إِلَى الْمِنْبَرِ
فَجَلَسْتُ فَإِذَا عِنْدَهُ رَهْطٌ جُلُوسٌ
يَبْكِي بَعْضُهُمْ فَجَلَسْتُ قَلِيلًا ثُمَّ غَلَبَنِي
مَا أَجِدُ ثُمَّ أَتَيْتُ الْغُلَامَ فَقُلْتُ
اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَيَّ
فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ فَوَلَّيْتُ
مُدْبِرًا فَإِذَا الْغُلَامُ يَدْعُونِي فَقَالَ
ادْخُلْ فَقَدْ أَذِنَ لَكَ فَدَخَلْتُ فَسَلَّمْتُ
عَلٰى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَإِذَا هُوَ مُتَّكِئٌ عَلٰى رَمْلِ حَصِيرٍ قَدْ
أَثَّرَ فِي جَنْبِهِ فَقُلْتُ أَطَلَّقْتَ يَا رَسُولَ
اللهِ نِسَاءَكَ فَرَفَعَ رَأْسَهُ إِلَيَّ وَقَالَ لَا
فَقُلْتُ اللهُ أَكْبَرُ لَوْ رَأَيْتَنَا يَا رَسُولَ اللهِ
وَكُنَّا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ قَوْمًا نَغْلِبُ النِّسَاءَ
فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ وَجَدْنَا قَوْمًا
تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ فَطَفِقَ نِسَاؤُنَا يَتَعَلَّمْنَ
مِنْ نِسَائِهِمْ فَتَغَضَّبْتُ عَلَى امْرَأَتِي يَوْمًا
فَإِذَا هِيَ تُرَاجِعُنِي فَأَنْكَرْتُ أَنْ
تُرَاجِعَنِي فَقَالَتْ مَا تُنْكِرُ أَنْ أُرَاجِعَكَ

شوم او د حفصے ؓ خواله لاړم او هغه مے په ژړا اولیده. بیا ما اووے چه طلاق درکړو تاله رسول الله ﷺ؟ پس هغے اووے زهٔ نهٔ یم خبر او هغوی خو په دې هغه شوے په بالاخانه کښې ناست دے. بیا زهٔ د حضرت ﷺ د غلام په طرف راغلم چه هغه تور رنګے وو. او ما ورته اووے چه اجازت واخله د عمر دپاره. او هغه دننه لاړو. او بیا رااووتو او اوئے وئیل چه ما هغوی ته ستاسو ذکر اوکړو خو حضرت ﷺ هیڅ او نهٔ وے. بیا زهٔ لاړم تر دے پورے چه منبر ته اورسیدم او هلته کیښناستم. پس هر کله چه ځما په خوا کښې ډیر خلق کیښناستل او ځنو ددوی نه ژړا کوله پس کیښناستم زهٔ لږ ساعت بیا په ما غم غالب شو او بیا غلام له راغلم او ورته مے اووے چه د عمر دپاره اجازت اوغواړه. پس هغه ننوتو او بیا رااووتو ما ته اووے وئیل چه ما ستا ذکر حضرت ﷺ ته اوکړو او حضرت ﷺ چپ شو. زهٔ بیا واپس روان شوم چه ناسا په غلام رااوبللم او اوئے وئیل چه راځه ستا دپاره اجازت اوشو پس زهٔ ننوتم او رسول الله ﷺ ته مے سلام اوکړو. او حضرت ﷺ په یو ودلے شوی پوزی تکیه لګولے وه چه هغے د حضرت ﷺ په اړخ مبارک کښې نخښے کړے وے. بیا ما عرض اوکړو چه ولے تا طلاق ورکړو خپلو بیبیانو لره اے د الله رسوله؟ پس حضرت ﷺ ځما په طرف سَر اوچت کړو او اوئے فرمائیل چه نه بیا ما اووے چه الله اکبر اے دا لله رسوله کاش تاسو وینئ چه مونږ خلق قریش یو او داسے قوم وو چه غالب وو په ښځو باندے پس هر کله چه مدینے منورے ته راغلو نو مونږ داسے قوم اوموندو چه د هغوی ښځے په هغوی باندے غالبے دی او زمونږ ښځو هم د هغوی عادتونه ایزده کول شروع کړل او زهٔ پخپلے ښځه ته یوه ورځ غصه شوم نو هغے ما ته جوابونه راکول شروع کړل او ما د هغے په جواب راکولو بد اوګڼړل نو

فَوَاللهِ إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُرَاجِعْنَهُ وَتَهْجُرُهُ إِحْدَاهُنَّ الْيَوْمَ إِلَى اللَّيْلِ فَقُلْتُ قَدْ خَابَ مَنْ فَعَلَ ذٰلِكِ مِنْهُنَّ وَخَسِرَ أَفَتَأْمَنُ إِحْدَاهُنَّ أَنْ يَغْضَبَ اللهُ عَلَيْهَا لِغَضَبِ رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هِيَ قَدْ هَلَكَتْ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ دَخَلْتُ عَلٰى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَا يَغُرَّنَّكِ أَنْ كَانَتْ جَارَتُكِ هِيَ أَوْسَمُ مِنْكِ وَأَحَبُّ إِلٰى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكِ فَتَبَسَّمَ أُخْرٰى فَقُلْتُ أَسْتَأْنِسُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ نَعَمْ فَجَلَسْتُ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فِي الْبَيْتِ فَوَاللهِ مَا رَأَيْتُ فِيهِ شَيْئًا يَرُدُّ الْبَصَرَ إِلَّا أُهُبًا ثَلَاثَةً فَقُلْتُ ادْعُ اللهَ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْ يُوَسِّعَ عَلٰى أُمَّتِكَ فَقَدْ وَسَّعَ عَلٰى فَارِسَ وَالرُّومِ وَهُمْ لَا يَعْبُدُونَ اللهَ فَاسْتَوٰى جَالِسًا ثُمَّ قَالَ أَفِي شَكٍّ أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ أُولٰئِكَ قَوْمٌ عُجِّلَتْ لَهُمْ طَيِّبَاتُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَقُلْتُ اسْتَغْفِرْ لِي يَا رَسُولَ اللهِ وَكَانَ أَقْسَمَ أَنْ لَا يَدْخُلَ عَلَيْهِنَّ شَهْرًا مِنْ شِدَّةِ

هغې راته اووے چه ته ولې بد گڼړے خما جواب درکولو لره. خکه چه په الله قسم دے چه د نبی ﷺ بیبیانے هغوی ته جوابونه ورکوی او یوه یوه په هغوی کښې حضرت ﷺ لره پریږدی د ورځے نه د شپے پورے. نو ما اووے چه محرومه شوے او په نقصان کښې پریوتے چا چه د هغوی نه داسے اوکړل. ولې په تاسو کښې هره یوه بے خوفه شوے ده ددے نه چه الله تعالی به په هغې باندے غضب او غصه اوکړی په سبب د غصے د هغهٔ د رسول او هغوی به په هغه دم هلاکے شی. پس رسول الله ﷺ مسکے شو او ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زهٔ داخل شوم د حفصې کور ته. او ورته مے اووے چه ته د خپلے بن په حالت باندے دهوکه مهٔ خوره هغه ستا نه زیاته خائسته او زیاته خوږه ده رسول الله ﷺ ته نو حضرت ﷺ دوباره مسکے شو (په دے خبرو کښې کمال د حضرت عمر د ایمان ثابت شو او کمال د طرفدارئ د الله د رسول ثابت شو چه هغوی په هر شان مخکښې اوساتله رضامندی د رسول الله ﷺ او دغه د ایمان د کمال مقتضا ده) بیا ما عرض اوکړو چه څهٔ د زړهٔ د خوشحالولو خبرے اوکړه اے د الله رسوله حضرت ﷺ راته اوفرمائیل آو. نو زهٔ کیښناستم او سر مے اوچت کړو د کور په طرف نو په الله مے دِ قسم وی چه ما یو څیز هلته داسے اونهٔ لیدو چه د هغې په لیدو خما نظر خما په طرف واپس شوے وے سوا د دریو څرمنو نه بیا ما عرض اوکړو چه اے د الله رسوله د الله تعالی نه دُعا اوکړئ چه ستا امت ته فراغت او فراخی عنایت کړی (دائے د ادب د کمال خبره اوکړه چه د خپل ځان دپاره ئے نهٔ غوښته او د امت فراخی طلب کړئ چه هغه ستاسو خدمت کوی او تاسو ترے فارغ البال یئ) خکه چه الله تعالی شانه فارس او روم لره ډیره فراخی ورکړے ده. حالانکه هغه د الله تعالی عبادت نهٔ کوی

مَوْجِدَتِهِ عَلَيْهِنَّ حَتَّى عَاتَبَهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا مَضَى تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَأَ بِي. فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّكَ أَقْسَمْتَ أَنْ لَا تَدْخُلَ عَلَيْنَا شَهْرًا وَإِنَّكَ دَخَلْتَ مِنْ تِسْعٍ وَعِشْرِينَ أَعُدُّهُنَّ فَقَالَ إِنَّ الشَّهْرَ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ ثُمَّ قَالَ يَا عَائِشَةُ إِنِّي ذَاكِرٌ لَكِ أَمْرًا فَلَا عَلَيْكِ أَنْ لَا تَعْجَلِي فِيهِ حَتَّى تَسْتَأْمِرِي أَبَوَيْكِ ثُمَّ قَرَأَ عَلَيَّ الْآيَةَ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ حَتَّى بَلَغَ أَجْرًا عَظِيمًا قَالَتْ عَائِشَةُ قَدْ عَلِمَ وَاللهِ أَنَّ أَبَوَيَّ لَمْ يَكُونَا لِيَأْمُرَانِي بِفِرَاقِهِ قَالَتْ فَقُلْتُ أَوَ فِي هَذَا أَسْتَأْمِرُ أَبَوَيَّ فَإِنِّي أُرِيدُ اللهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ قَالَ مَعْمَرٌ فَأَخْبَرَنِي أَيُّوبُ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ لَا تُخْبِرْ نِسَاءَكَ أَنِّي اخْتَرْتُكَ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ أَرْسَلَنِي مُبَلِّغًا وَلَمْ يُرْسِلْنِي مُتَعَنِّتًا قَالَ قَتَادَةُ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا مَالَتْ قُلُوبُكُمَا

(بلکه اٰتش پرست او نبی پرست دی) نو رسول الله ﷺ پاځیدو لو کیښناستو او اوئے وئیلی اے ابن خطاب! ولے ته په شك کښ ئے. هغه خلق خو داسے دی چه هغوی ته طیبات ددنیا په ژوند کښ ورکړے شوی دی. بیا ما عرض اوکړو چه د الله نه څما د پاره مغفرت اوغواړه اے د الله رسوله! او کیفیت دا وو چه حضرت ﷺ قسم خوړلے وو چه دبیبیانو خواله به د یو ے میاشتے پورے نه ورځم او دا قسم ئے په هغوی باندے د زیاتے غصے په سبب سره خوړلے وو. تر دے پورے چه الله پاك په هغوی عتاب اوفرمائیلو. زهری وائی چه خبر راکړے دے ماله عروه د جناب عائشے صدیقے د خلے نه چه هر کله یو کم دیرش شپے تیرے شوے نو راغے ماله رسول الله ﷺ او مخکښ ما ته هغوی بیان کول شروع کړو (یعنی مضمون د تخییر) نو ما عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! تا خو قسم خوړلے وو چه زمونږ خواله به د یوے میاشتے پورے تشریف نه راوړے او اوس د په یو کم دیرشمه زمونږ خواله تشریف راوړو. او ما برابر شمارلے. (دا عرض کول د هغوی په دے غرض سره وو چه کیدے شی د حضرت ﷺ نه هیر شوی وی) نو حضرت ؐ اوفرمائیل چه میاشت د یو کم دیرش ورځو هم وی. بیا ئے اوفرمائیل چه اے عائشے ؓ زه تا ته یوه خبره کوم او ته د هغے په جواب راکولو کښ جلتی مه کوه تر دے پورے چه مشوره واخلے د خپل پلار مور نه نو په تا څه حرج نشته بیا حضرت ﷺ دا اٰیت اولوستو يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ یعنی اے نبی ﷺ اووایه ته خپلو بیبیانو ته د اٰخره پورے جناب عائشے صدیقه فرمائی چه حضرت ﷺ ته ښه معلومه وه چه څما پلار مور به ما ته چرته هم د حضرت ﷺ نه د جدا کیدو حکم او نه کړی بیا فرمائی چه ما عرض اوکړو چه په دے کښ څه مشوره واخلم د خپل پلار مور نه زه

بيشكه غواړم الله تعالى لره او د هغهٔ رسول ﷺ لره او د آخرت كور لره (دا كمال د ايمان او د پوهې دے د ام المؤمنين حضرت عائشې) معمر وائي چه ما ته ابوايوب خبر راكړے دے چه حضرت عائشې اوفرمائيل چه تاسو خبر مهٔ وركوئ خپلو نورو بيبيانو ته دد دے خبرے چه ما تاسو لره اختيار كړے دے نو نبي ﷺ هغوی ته اوفرمائيل چه الله تعالى زهٔ د پيغام رسولو دپاره رالیږلے یم نهٔ د مشكل جوړولو دپاره. قتاده وئيلى دی د صَغَتْ قُلُوبُكُمَا معنى داده چه بنكته شوى دى زړونه ستاسو[1]

دايلاء بيان

[1]: په دے حديث كښې ډيرے فائدے دى. اوله فائده دا چه دد دے نه حكم د ايلاء معلوم شو او ايلاء په لغت كښې مطلق قسم خوړلو ته وئيلے شى. او د فقهاؤ په اصطلاح كښې خاص دے د پريخودلو د جماع سره. او په دے باندے د ټولو عالمانو اتفاق دے چه صرف په ايلاء سره يعنى د جماع د پريخودلو په قسم خوړلو سره نهٔ في الحال طلاق پريوزى. نهٔ كفاره لازميږى او نهٔ بله څهٔ مطالبه. مگر دد دے په موده كښې اختلاف دے. د حجاز عالمانو او معظم صحابؤ او تابعينو وئيلى دى چه مُولِى هغه سړے دے چه هغه د څلورو مياشتو نه زيات قسم خوړلے دے. او كچرے د څلورو مياشتو قسم ئے اوخوړو نو هغه مُولِى يعنى ايلاء كولو والا نهٔ دے. او كوفيانو وئيلى دى چه څوك د څلورو مياشتو يا دد دے نه د زيات وخت قسم اوخورى هغه مُولِى دے. او په دے كښې د ټولو اتفاق دے چه په ښځه باندے طلاق نهٔ واجب كيږى د كومے پورے چه څلور مياشتے تيرے شوے نهٔ وى. او په دے كښې هم اتفاق دے چه هر كله ئے په دے موده كښې دننه جماع اوكړه نو ايلاء ختمه شوه او كهٔ د څلورو مياشتو پورے ئے جماع او نهٔ كړه نو د كوفيانو په نز طلاق پريوتل. او د عالمانو د حجاز او مصر او فقهاؤ محدثينو په نز دا دى چه خاوند ته اووئيلے شى چه يا جماع اوكړه يا طلاق وركړه او كهٔ هغه نهٔ منله نو قاضى به ښځے له طلاق وركړى او دغه قول دے د اهل ظاهرو. او دغه مذهب مشهور دے د امام مالك او دغه قول دے د امام شافعي او د هغه د ملگرو. او يو قول د شافعي دا دے چه قاضى به ورله طلاق نهٔ وركوى بلكه زور به پرے راولى په دے خبره چه جماع اوكړى يا طلاق وركړى. او كچرے هغه نهٔ منى نو تعزير د وركړے شى. او په كوفيانو كښې اختلاف دے چه طلاق كوم چه په دهٔ باندے په سبب د ايلاء پريوتے دى هغه بائن دى يا رجعي. او نور فقهاء ټول متفق دى چه كوم طلاق خاوند وركوى يائے قاضى وركوى هغه رجعي دى. مگر د مالك قول دے چه په دے طلاق كښې رجعت جائز نهٔ دے په عدت كښې دننه. او قاضى عياض وئيلى دى چه دا شرط د چا نه مروى نهٔ دے سوا د مالك نه او كچرے درے قروء په دغه څلورو مياشتو كښې تير شو. نو جابر بن زيد وئيلى دى چه كچرے هغه طلاق وركړى وى نو عدت ختم شو. او جمهورو وئيلى دى. چه بيا به د سره عدت شروع كوى. يعنى روستو د څلورو مياشتو نه دويمه فائده دد دے حديث داده چه جائز شول په دے سره نوكر ساتل په دروازه باندے لكه څنگه چه هغه غلام وو. د رسول ﷺ په دروازه باندے. او اكثر به د حضرت ﷺ په دروازه كښې نوكر اوسيدلو. دريمه فائده داده چه واجب دى اجازت اخستل د كور والانه اگر كهٔ معلومه وى چه هغه په كور كښې يواځې دے. څلورمه فائده دا شوه چه دوباره اجازت طلب كول روا دى اگر كهٔ يو ځل اجازت ميلاؤ نهٔ شى. پنځمه فائده دا شوه چه اولاد له تنبيهه وركول مستحب دى او ادب ورته ښودل اگر كهٔ د وادهٔ نه پس وى. شپږمه فائده زهد، د رسول الله ﷺ او قناعت د هغوى په لره دنيا باندے. اوومه فائده ئے دا شوه چه په هغه

بَابُ الْمُطَلَّقَةِ ثَلَاثًا لَا نَفَقَةَ لَهَا

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ طَلَّقَهَا الْبَتَّةَ وَهُوَ غَائِبٌ فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا وَكِيلُهُ بِشَعِيرٍ فَسَخِطَتْهُ فَقَالَ وَاللهِ مَا لَكِ عَلَيْنَا مِنْ شَيْءٍ فَجَاءَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ لَيْسَ لَكِ عَلَيْهِ نَفَقَةٌ فَامَرَهَا أَنْ تَعْتَدَّ فِي بَيْتِ أُمِّ شَرِيكٍ ثُمَّ قَالَ تِلْكِ امْرَأَةٌ يَغْشَاهَا أَصْحَابِي اعْتَدِّي عِنْدَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَعْمٰى تَضَعِينَ ثِيَابَكِ فَإِذَا حَلَلْتِ فَآذِنِينِي قَالَتْ فَلَمَّا حَلَلْتُ ذَكَرْتُ لَهُ أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ وَأَبَا جَهْمٍ خَطَبَانِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا أَبُو جَهْمٍ فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ انْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ

باب: د مطلقے بائنے دپاره د نفقے د نهٔ کیدو بیان

فاطمه د قیس د لور نه روایت دے چه ابوعمر هغوی لره طلاق ورکړو (یعنی طلاق بائن . او هغه په ښهر کښ نهٔ وو چرته بهر وتلے وو. او د هغوی په طرف ئے یو وکیل رااولیږو او څهٔ لږے وربشے ئے رااولیږلے. او فاطمه په هغے باندے غصه شوه نو وکیل اوے چه په الله قسم دے ستاسو دپاره زمونږ په ذمه هیڅ نشته (یعنی نفه وغیره) بیا د رسول الله ﷺ خواله راغله او ددے خبرے ذکرئے اوکړو. نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه ستا دپاره د هغوی په ذمه څهٔ هم نشته دے. بیائے حکم اوکړو فاطمے ته چه تهٔ د اُم شریك په کور کښ عدت پوره کړه. بیائے اوفرمائیل چه هغه داسے ښځه ده چه هلته زمونږ صحابه ډیر جمع کیږی تهٔ د ابن اُم مکتوم په کور کښ عدت پوره کړه ځکه چه هغه یو ړوند سړے دے هلته ته خپلے کپړے ویستلے شے (یعنی بے تکلیفه به اوسیږے د پټیدو او پردے کولو تکلیف به درته نهٔ وی) بیا چه هر کله ستا عدت پوره شی نو ما به خبر کړے. (فاطمه) وائی چه هر کله خما عدت پوره شو نو ما حضرت ﷺ ته ذکر اوکړو چه ما ته معاویه بن ابی سفیان او ابوجهم د نکاح پیغام رالیږلے دے. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ابو جهم خو خپله لخته د خپلو اوګونه نهٔ شی کوزولے. او

کوټو کښ چه هغے ته اندرپائے ضرورت وی اوسیدل روا دی. اتمه فائده دا ده چه چه خزانه او ګودام مقررول د کور د سامان دپاره روا دی. نهمه فائده دا ده چه حرص کول د صحابه کرامو د علم د طلب کولو دپاره چه ددے دپاره ئے نمبر مقرر وو چه هره ورځ به یو یو صحابی د حضرت ﷺ په خدمت کښ راتلی او علم به حاصلوی. لسمه فائده دا ثابته شوه چه خبر د یو سړی مقبول دے لکه چه حضرت عمر د هغه انصاری خبر قبول کړو. یولسمه فائده دا ده چه حاصلول د علم د اُوچتے درجے والا د کمے درجے والا نه لکه چه حضرت عمر چه د هغه انصاری نه روزانه علم حاصلول د هغهٔ د نمبر د ورځے. دولسمه فائده دا معلومه شوه ددے نه ادب د بزرګانو او هیبت د هغوی. لکه څنګه چه ابن عباس د یو کاله پورے د حضرت عمر نه تپوس نهٔ شو کولے. او دا د سعادت مندو ښنه ده. دیارلسمه فائده دا ده چه ترغیب ورکول په طلب د علم کښ لکه څنګه چه حضرت عمر ابن عباس ته اوفرمائیل چه تا ولے خما نه ددے مسئلے په باره کښ تپوس او معلومات نهٔ کښ نهٔ کړل.

فَكَرِهْتُهُ ثُمَّ قَالَ انْكِحِي أُسَامَةَ فَنَكَحْتُهُ فَجَعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا وَاغْتَبَطْتُ

معاویهؓ مفلس سړے دے چه د هغهٔ سره مال نشته دے ته د اُسامه بن زیدؓ سره نکاح اوکړه. او ما ته دا امر نا خوښه شو. حضرت ﷺ بیا اوفرمائیل چه د اُسامه سره نکاح اوکړه بیا ما د هغوی سره نکاح اوکړه او الله تعالیٰ په هغه کښې دومره خیر او ښهٔ والے راکړو چه ما ته به نورے ښځے خفه کیدے.

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أَنَّهُ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا فِي عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ أَنْفَقَ عَلَيْهَا نَفَقَةَ دُونٍ فَلَمَّا رَأَتْ ذَلِكَ قَالَتْ وَاللَّهِ لَأُعْلِمَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنْ كَانَ لِي نَفَقَةٌ أَخَذْتُ الَّذِي يُصْلِحُنِي وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لِي نَفَقَةٌ لَمْ آخُذْ مِنْهُ شَيْئًا قَالَتْ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا نَفَقَةَ لَكِ وَلَا سُكْنَى

د فاطمه بنت قیس نه روایت دے وائی چه د هغې خاوند هغوی له طلاق ورکړو د رسول الله ﷺ په زمانه کښې. او هغې ته ئے څهٔ لږ شان خرچ راواولیږلو پس هر کله چه هغې اولیده نو اوئے وئیل چه قسم دے زهٔ به خبروم رسول الله ﷺ له پس کچرے خما دپاره نفقه وی نو دومره به ترے اخلمه خومره چه خما دپاره پوره کیږی او کچرے خما دپاره نفقه نهٔ وی نو دد ے نه هیڅ هم نهٔ اخلمه بیا ما رسول الله ﷺ ته ذکر اوکړو او حضرت ﷺ ما ته اوفرمائیل چه نهٔ ستا دپاره نفقه شته او نهٔ مکان.

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهُ قَالَ سَأَلْتُ فَاطِمَةَ بِنْتَ قَيْسٍ فَأَخْبَرَتْنِي أَنَّ زَوْجَهَا الْمَخْزُومِيَّ طَلَّقَهَا فَأَبَى أَنْ يُنْفِقَ عَلَيْهَا فَجَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَتْهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَفَقَةَ لَكِ فَانْتَقِلِي فَاذْهَبِي إِلَى ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ فَكُونِي عِنْدَهُ فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَعْمَى تَضَعِينَ ثِيَابَكِ عِنْدَهُ

د ابوسلمه نه روایت دے وائی چه ما د فاطمے نه تپوس اوکړو نو هغوی ماله خبر راکړو چه د هغې خاوند مخزومی هغې له طلاق ورکړی دی او انکار ئے کړے دے د نفقې ورکولو نه بیا هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه. او حضرت ﷺ ته ئے خبر ورکړو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه تا له نفقه نشته. او ته د ابن اُمّ مکتوم کور ته لاړه شه ځکه چه هغه نابینا یعنی ړوند دے. هلته ته خپلے کپړے ویستلے شے پس هلته اوسیږه.

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أُخْتِ الضَّحَّاكِ بْنِ قَيْسٍ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ أَبَا حَفْصِ بْنَ الْمُغِيرَةِ

د فاطمے لور د قیس نه روایت دے هغه خبر ورکوی چه ابوحفص هغې له درے طلاق ورکړل او هغه یمن ته لاړو او د هغې خلقو فاطمےؓ ته اووے چه ستا دپاره په مونږ باندے نفقه

الْمَخْزُومِيِّ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ انْطَلَقَ إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ لَهَا أَهْلُهُ لَيْسَ لَكِ عَلَيْنَا نَفَقَةٌ فَانْطَلَقَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فِي نَفَرٍ فَأَتَوْا رَسُولَ اللهِ ﷺ فِي بَيْتِ مَيْمُونَةَ فَقَالُوا إِنَّ أَبَا حَفْصٍ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا فَهَلْ لَهَا مِنْ نَفَقَةٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَيْسَتْ لَهَا نَفَقَةٌ وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ وَأَرْسَلَ إِلَيْهَا أَنْ لَا تَسْبِقِينِي بِنَفْسِكِ وَأَمَرَهَا أَنْ تَنْتَقِلَ إِلَى أُمِّ شَرِيكٍ ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَيْهَا أَنَّ أُمَّ شَرِيكٍ يَأْتِيهَا الْمُهَاجِرُونَ الْأَوَّلُونَ فَانْطَلِقِي إِلَى ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ الْأَعْمَى فَإِنَّكِ إِذَا وَضَعْتِ خِمَارَكِ لَمْ يَرَكِ فَانْطَلَقَتْ إِلَيْهِ فَلَمَّا مَضَتْ عِدَّتُهَا أَنْكَحَهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ

نشته. او خالد د ځو تنه خلقو سره د رسول الله ﷺ خواله راغے د میمونے کورته. او عرض ئے اوکړو چه ابوحفص درے طلاقه ورکړی دی . آیا دغے ښځی لره نفقه شته؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل هغے لره نفقه نشته. او په هغے باندے عدت واجب دے. او هغے ته ئے قاصد اولیږو چه تهٔ په نکاح کښې بغیر خما د صلاح نه سبقت مهٔ کوه. او حکم ئے ورته اوکړو چه د اُم شریك کورته راشه. بیائے ورته وینا کونکے اولیږو چه د اُم شریك په کور کښې مهاجرین اولین جمع کیږی پس تهٔ د ابن امّ مکتوم روند کورته لاړه شه چه کچرے تهٔ هلته خپله لوپټه د سر نه لرے کړے نو څوك به تا نهٔ وینی. پس هغوی هغه کورته لاړه. او هر کله چه ئے موده د عدت پوره شوه نو رسول الله ﷺ هغوی اسامه بن زید ته وادهٔ کړه.

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ أَبِي عَمْرِو بْنِ حَفْصِ بْنِ الْمُغِيرَةِ فَطَلَّقَهَا آخِرَ ثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ فَزَعَمَتْ أَنَّهَا جَاءَتْ رَسُولَ اللهِ ﷺ تَسْتَفْتِيهِ فِي خُرُوجِهَا مِنْ بَيْتِهَا فَأَمَرَهَا أَنْ تَنْتَقِلَ إِلَى ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ الْأَعْمَى فَأَبَى مَرْوَانُ أَنْ يُصَدِّقَهُ فِي خُرُوجِ الْمُطَلَّقَةِ مِنْ بَيْتِهَا وَقَالَ عُرْوَةُ إِنَّ عَائِشَةَ أَنْكَرَتْ ذٰلِكَ عَلَى فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ

د فاطمے بن قیس نه روایت دے چه هغه د ابوعمرو سره وه او هغهٔ ورله درے طلاقه ورکړل. بیا فاطمه وائی چه زهٔ د جناب رسول الله ﷺ خواله راغلم او د هغو نه مے تپوس اوکړو چه د کور نه د وتلو په باره کښې خو تاسو حکم راکړے دے چه د ابن اُم مکتوم کورته لاړه شه او مروان د هغے تصدیق او نهٔ کړو د مطلقے د کور نه په وتلو کښې. او عروه وئیلی دی چه جناب عائشے صدیقے د فاطمے بنت قیس دے خبرے لره د انکار قابل ګنړله.

عَنْ أَبِي عَمْرِو بْنِ حَفْصِ بْنِ الْمُغِيرَةِ خَرَجَ مَعَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ إِلَى الْيَمَنِ فَأَرْسَلَ إِلَى امْرَأَتِهِ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ

روایت دے د ابوعمرو چه د حضرت علی سره یمن ته لاړهٔ او خپلے ښځے فاطمے ته ئے یو طلاق رااولیږو چه هغه ددے په طلاقو کښې باقی وو. (یعنی دوه ئے مخکښې ورکړی وو) او حارث او عیاش

بِتَطْلِيقَةٍ كَانَتْ بَقِيَتْ مِنْ طَلَاقِهَا وَأَمَرَ لَهَا الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ وَعَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ بِنَفَقَةٍ فَقَالَا لَهَا وَاللهِ مَا لَكِ نَفَقَةٌ إِلَّا أَنْ تَكُونِي حَامِلًا فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ لَهُ قَوْلَهُمَا فَقَالَ لَا نَفَقَةَ لَكِ فَاسْتَأْذَنَتْهُ فِي الِانْتِقَالِ فَأَذِنَ لَهَا فَقَالَتْ أَيْنَ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ إِلَى ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ وَكَانَ أَعْمَى تَضَعُ ثِيَابَهَا عِنْدَهُ وَلَا يَرَاهَا فَلَمَّا مَضَتْ عِدَّتُهَا أَنْكَحَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا مَرْوَانُ قَبِيصَةَ بْنَ ذُؤَيْبٍ يَسْأَلُهَا عَنِ الْحَدِيثِ فَحَدَّثَتْهُ بِهِ فَقَالَ مَرْوَانُ لَمْ نَسْمَعْ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا مِنَ امْرَأَةٍ سَنَأْخُذُ بِالْعِصْمَةِ الَّتِي وَجَدْنَا النَّاسَ عَلَيْهَا فَقَالَتْ فَاطِمَةُ حِينَ بَلَغَهَا قَوْلُ مَرْوَانَ فَبَيْنِي وَبَيْنَكُمُ الْقُرْآنُ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ الْآيَةَ قَالَتْ هَذَا لِمَنْ كَانَتْ لَهُ مُرَاجَعَةٌ فَأَيُّ أَمْرٍ يَحْدُثُ بَعْدَ الثَّلَاثِ فَكَيْفَ تَقُولُونَ لَا نَفَقَةَ لَهَا إِذَا لَمْ تَكُنْ حَامِلًا فَعَلَامَ تَحْبِسُونَهَا

دواړو لره ئے اولیږل چه دے ته نفقه ورکوئ هغوی دواړو اووے چه ستا نفقه نه رسی د کومے پورے چه ته حامله نه ئے بیا هغه د جناب رسول الله ﷺ خواته حاضره شوه او هغوی ته ئے د حارث وغیره د خبرے ذکر اوکړو نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل تا لره نفقه نشته. او هغوی بل کورته د تلو اجازت اوغوښتو. حضرت ﷺ اجازت ورکړو. هغوی عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زهٔ چرته لاړه شم حضرت ﷺ اوفرمائیل چه د ابن اُم مکتوم کورته لاړه شه چه هغه ړوند وو. کهٔ هلته تهٔ خپلے کپړے هم اوباسے او هغه به تا لره نهٔ وینی. بیا چه هر کله عدت پوره شو. نبی ﷺ اُسامه ته په نکاح کړله. پس د مروان د فاطمے رضی الله عنها په خدمت کښ قبیصه بن ذویب اولیږلو چه د هغے نه ددے حدیث تپوس اوکړی. پس فاطمے رضی الله عنها ورته دغه حدیث بیان کړو. پس مروان اووے نهٔ دے اوریدلے مونږ دا حدیث مګر د یوے ښځے نه او مونږ داسے قوی او معتبر امر ولے نهٔ اختیار وو چه په هغے باندے مونږ تولو خلقو لره مومو. بیا چه هر کله فاطمے رضی الله عنها ته مروان دا خبره اورسیده چه زمونږ او ستاسو په مینځ کښ قران دے. او الله تعالی فرمائیلی دی چه مهٔ اوباسئ ښځو لره د کورونو خپلو نه. نو فاطمے رضی الله عنها اووے چه دا حکم خو ددے دپاره دے چه چاته رجعت کیدے شی. او د دریؤ طلاقو نه پس بیا کومه خبره داسے نوی پیدا کیدے شی. بیا تهٔ ولے وائے چه دے لره نفقه نشته دے. هر کله چه هغه حامله نهٔ وی نو بیا هغے لره په کومه بهروسه منع کوے (یعنی نان ونفقه هم نهٔ ورکوے نو بیا ئے څنګه منع کوے)

عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ فَسَأَلْتُهَا عَنْ قَضَاءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى

د شعبی رحمه الله نه روایت دے وائی چه زهٔ د فاطمه بنت قیس رضی الله عنها خواله لاړم. او د هغے نه مے تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ د فیصلے چه د هغے په

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا فَقَالَتْ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا الْبَتَّةَ فَقَالَتْ فَخَاصَمَتْهُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السُّكْنَى وَالنَّفَقَةِ قَالَتْ فَلَمْ يَجْعَلْ لِي سُكْنَى وَلَا نَفَقَةً وَأَمَرَنِي أَنْ أَعْتَدَّ فِي بَيْتِ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ

مقدمه کښې ئې کړے وه نو هغوی اووے چه ماله خما خاوند درے طلاق راکړو. او ما خپله جهګړه د حضور ﷺ حضور ته یوړه د کور د اوسیدو او د نفقې دپاره نو هغوی ترے نه نه ماله په کور کښې اوسیدل واخستو او نه نفقه. او ما ته ئې حکم اوکړو چه ته د ابن اُم مکتوم په کور کښې عدت پوره کړه.

عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ فَأَتْحَفَتْنَا بِرُطَبِ ابْنِ طَابٍ وَسَقَتْنَا سَوِيقَ سُلْتٍ فَسَأَلْتُهَا عَنِ الْمُطَلَّقَةِ ثَلَاثًا أَيْنَ تَعْتَدُّ قَالَتْ طَلَّقَنِي بَعْلِي ثَلَاثًا فَأَذِنَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَعْتَدَّ فِي أَهْلِي

شعبی وئیلی دی چه مونږ خلق د فاطمے بنت قیس خواله لاړو او هغوی په مونږ باندے د ابن طاب تر کهجورے (د یو قسم کهجورے نوم دے) او خورولے او د جوارو ستوان ئې راباندے اوڅکول او دهغوی نه د دریو طلاقو ده حکم تپوس اوکړو چه هغوی عدت کوم ځائے تیر کړے وو. هغوی اووے چه خما خاوند ماله طلاق راکړو او رسول الله ﷺ ما ته اجازت راکړو چه زۀ د خپلو خلقو کره د عدت پوره کولو دپاره لاړه شم

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ طَلَّقَنِي زَوْجِي ثَلَاثًا فَأَرَدْتُ النُّقْلَةَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انْتَقِلِي إِلَى بَيْتِ ابْنِ عَمِّكِ عَمْرِو بْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ فَاعْتَدِّي عِنْدَهُ

د فاطمه بنت قیس نه روایت دے وائی چه خما خاوند ماله درے طلاق راکړو او خما د هغه ځائے نه د تلو اراده وه. او د حضرت ﷺ خواله راغلم. حضرت ﷺ راته اوفرمائیل چه ته د خپل د ترۀ خوی عمرو بن ام مکتوم کور ته لاړه شه.

عَنْ أَبِي إِسْحَقَ قَالَ كُنْتُ مَعَ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ جَالِسًا فِي الْمَسْجِدِ الْأَعْظَمِ وَمَعَنَا الشَّعْبِيُّ فَحَدَّثَ الشَّعْبِيُّ بِحَدِيثِ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَجْعَلْ لَهَا سُكْنَى وَلَا نَفَقَةً ثُمَّ أَخَذَ الْأَسْوَدُ كَفًّا مِنْ حَصًى فَحَصَبَهُ بِهِ فَقَالَ وَيْلَكَ تُحَدِّثُ بِمِثْلِ هٰذَا قَالَ عُمَرُ لَا نَتْرُكُ كِتَابَ اللهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِقَوْلِ امْرَأَةٍ لَا نَدْرِي

د ابواسحق نه روایت دے وائی چه زۀ د اسود بن یزید سره په لوئی جُماعت کښې ناست وم او شعبی هم زمونږ سره وو. نو شعبی د فاطمے حدیث بیان کړو چه رسول الله ﷺ هغے لره نۀ کور ترے اوغوښتو او نۀ خرچه. او اسود یو موټے ګیټئ راواخستے او دشعبی په طرف ئې اوغورځولے او اوئې وئیل چه ته د دے لره روایت کړے. دا ځۀ ستا خرابی ده. او حالانکه حضرت عمر فرمائیلی دی چه مونږ نه پریږدو د الله کتاب او سنت د خپل نبی ﷺ د یوے ښځے په قول کښې او مونږ ته معلومه نۀ ده کیدے شی چه د هغے نه هیر شوی وی یائے

لعلها حفظت أو نسيت لها السكنى والنفقة قال الله عز وجل لا تخرجوهن من بيوتهن ولا يخرجن إلا أن يأتين بفاحشة مبينة

یا دوی. او مطلقه ثلاثه ته کور ورکول پکار دی او خرچه هم چه الله تعالی فرمائیلی دی چه مهٔ اوباسئ هغوی لره د هغوی د کورونو نه مگر هر کله چه هغوی څهٔ ښکاره بے حیائی اوکړی (یعنی زنا)

عن فاطمة بنت قيس تقول إن زوجها طلقها ثلاثا فلم يجعل لها رسول الله صلى الله عليه وسلم سكنى ولا نفقة قالت قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا حللت فآذنيني فآذنته فخطبها معاوية وأبو جهم وأسامة بن زيد فقال رسول الله ﷺ أما معاوية فرجل ترب لا مال له وأما أبو جهم فرجل ضراب للنساء ولكن أسامة بن زيد فقالت بيدها هكذا أسامة أسامة فقال لها رسول الله ﷺ طاعة الله وطاعة رسوله خير لك قالت فتزوجته فاغتبطت

د فاطمه بنت قیس نه روایت دے چه د هغے خاوند هغے لره درے طلاق ورکړل. او جناب رسول الله ﷺ هغے له ترے نه اوسیدل واخستو او نهٔ خرچ. او وئیل دی فاطمے چه ما ته رسول الله اوفرمائیل چه هر کله ستا عدت پوره شی نو ما به خبر کړے. نو ما حضرت ﷺ ته خبر ورکړو. او ما ته پیغام راکړے وو. معاویه او ابوجهم او اسامه بن زید پس جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه معاویه خو مفلس دے چه د هغه سره مال نشته. او ابوجهم ښځو لره ډیر وهونکے دے مگر أسامه پس هغوی په خپل لاس سره اشاره اوکړه چه اسامه. او جناب رسول الله ﷺ هغے ته اوفرمائیل چه د الله تعالی او د هغهٔ د رسول تابعداری تا لره غوره ده. بیا ما د هغوی سره نکاح اوکړه او ښځے به ماته پسخیدے کیدے.

عن أبي بكر بن أبي الجهم قال دخلت أنا وأبو سلمة بن عبد الرحمن على فاطمة بنت قيس فسألناها فقالت كنت عند أبي عمرو بن حفص بن المغيرة فخرج في غزوة نجران وساق الحديث بنحو حديث ابن مهدي وزاد قالت فتزوجته فشرفني الله بأبي زيد وكرمني الله بأبي زيد

د ابوبکر نه روایت دے وائی چه زهٔ او ابوسلمه د فاطمے خوا له لاړو. او د هغوی نه مو د هغوی د طلاق وغیره تپوس اوکړو. هغوی اووے چه زهٔ د ابوعمرو سره وم. او هغوی غزوهٔ نجران ته لاړو مخکښئے هم دغه مضمون بیان کړو په آخر کښئے دا زیاته کړه چه الله ماته شرافت او بزرگی راکړه په ابوزید کښی.

عن البهي عن فاطمة بنت قيس قالت طلقني زوجي ثلاثا فلم يجعل لي رسول الله ﷺ سكنى ولا نفقة

بهی د فاطمے نه روایت کړے دے وائی چه خما خاوند ماله درے طلاق راکړل. او رسول الله ﷺ ترے ماله نهٔ مکان واخستو او نهٔ نفقه.

عَنۡ هِشَامٍ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ تَزَوَّجَ يَحۡيَى بۡنُ سَعِيدِ بۡنِ الۡعَاصِ بِنۡتَ عَبۡدِ الرَّحۡمٰنِ بۡنِ الۡحَكَمِ فَطَلَّقَهَا فَأَخۡرَجَهَا مِنۡ عِنۡدِهٖ فَعَابَ ذٰلِكَ عَلَيۡهِمۡ عُرۡوَةُ فَقَالُوا إِنَّ فَاطِمَةَ قَدۡ خَرَجَتۡ قَالَ عُرۡوَةُ فَأَتَيۡتُ عَائِشَةَ فَأَخۡبَرۡتُهَا بِذٰلِكَ فَقَالَتۡ مَا لِفَاطِمَةَ بِنۡتِ قَيۡسٍ خَيۡرٌ فِي أَنۡ تَذۡكُرَ هٰذَا الۡحَدِيۡثَ

د هشام نه روایت دے وائی چه ماته خما پلار ذکر اوکړو چه یحیٰی بن سعید د عبدالرّحمٰن د لور سره نکاه اوکړه او هغې له ئې اووسته عروه په دے خبره باندے الزام ورکړو نو خلقو اووے چه فاطمه خو هم د خاوند د طلاقو ورکولو نه پس د خاوند د کور نه وتلې وه. پس زهٔ د حضرت عائشے﷞ خواله لاړم او ما هغوی له خبر ورکړو. هغوی اووے چه فاطمے﷞ لره دد دے حدیث بیانول ښهٔ نهٔ دی.

عَنۡ فَاطِمَةَ بِنۡتِ قَيۡسٍ قَالَتۡ قُلۡتُ يَا رَسُوۡلَ اللهِ زَوۡجِي طَلَّقَنِي ثَلَاثًا وَأَخَافُ أَنۡ يُقۡتَحَمَ عَلَيَّ قَالَ فَأَمَرَهَا فَتَحَوَّلَتۡ

د فاطمه بنت قیس نه روایت دے وائی چه ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ خما خاوند ماله درے طلاق راکړی دی او ما ته یره ده چه هغه خلق خما سره سختی او بدمزاجی اوکړی. نو حضرت ﷺ حکم ورکړو چه د بل کور ته لاړه شه.

عَنۡ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتۡ مَا لِفَاطِمَةَ خَيۡرٌ أَنۡ تَذۡكُرَ هٰذَا قَالَ تَعۡنِي قَوۡلَهَا لَا سُكۡنٰى وَلَا نَفَقَةَ

د حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے فرمائی چه فاطمے لره دا وئیل ښهٔ نهٔ دی. چه مطلقه ثلاثه لره نهٔ مکان شته او نهٔ نفقه.

عَنۡ عَبۡدِ الرَّحۡمٰنِ بۡنِ الۡقَاسِمِ عَنۡ أَبِيۡهِ قَالَ قَالَ عُرۡوَةُ بۡنُ الزُّبَيۡرِ لِعَائِشَةَ أَلَمۡ تَرَى إِلٰى فُلَانَةَ بِنۡتِ الۡحَكَمِ طَلَّقَهَا زَوۡجُهَا الۡبَتَّةَ فَخَرَجَتۡ فَقَالَتۡ بِئۡسَمَا صَنَعَتۡ فَقَالَ أَلَمۡ تَسۡمَعِي إِلٰى قَوۡلِ فَاطِمَةَ فَقَالَتۡ أَمَا إِنَّهٗ لَا خَيۡرَ لَهَا فِي ذِكۡرِ ذٰلِكَ

عبد الرّحمٰن د خپل پلار نه روایت کړے دے چه هغوی وئیلی دی چه ابن زبیر حضرت عائشے صدیقے ته اووے چه تا اولیدو فلانۍ ښځے لره چه د هغې خاوند هغې له درے طلاق ورکړل او هغه اووتله یعنی د خاوند د کور نه هغوی اوفرمائول چه هغوی بد اوکړل. عروه بن زبیر اووے چه تاسو د فاطمے خبره نهٔ ده اوریدلے چه هغه څهٔ وائی هغوی اوفرمائیل هغے ته دد دے قول په بیانولو کښ څهٔ خیر نشته[1].

---

[1]: د فاطمے بنت قیس په دے روایتونو کښ چه کوم اختلاف واقع شوے دے چه په څهٔ کښ ذکر دی چه د هغې خاوند هغې له درے طلاق ورکړل او په څهٔ کښ طلاق البته ذکر دے. په چا کښ د مطلق طلاق ذکر دے د عدد ذکر نشته دے تطبیق په دے کښ داسے دے. چه مخکښ دد دے نه د هغې خاوند هغې له دوه طلاق ورکړی وو. او دا دریم ځل شو چه دد دے نه پس هغوی جدا شو. غرض دا چه چا چه طلاق البته ذکر کړی دی. د هغوی مراد هم دغه درے طلاق دی او علمائے کرامو په دے کښ اختلاف کړے دے. چه ښځه مطلقه بائنه چه د هغې حمل نهٔ وی هغې ته نفقه او مکان ورکول شته دے یا نشته. پس د عمر بن خطاب او ابوحنیفه او د نورو فقهاؤ قول دے چه دے لره نفقه او مکان ورکول د عدت پورے ضروری دی. او ابن عباس او احمد وئیلی دی چه نهٔ ورله نفقه شته دے او نهٔ کور. او مالك او امام شافعی وئیلی دی چه کور ورکول ورله واجب دی نهٔ نفقه او د هریو دلائل په دلائل نووی کښ مفصل ذکر دی. او هغوی ته حضرت ﷺ د ابن

بَابُ جَوَازِ خُرُوجِ الْمُعْتَدَّةِ الْبَائِنِ وَالْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا فِي النَّهَارِ لِحَاجَتِهَا

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ طُلِّقَتْ خَالَتِي فَأَرَادَتْ أَنْ تَجُدَّ نَخْلَهَا فَزَجَرَهَا رَجُلٌ أَنْ تَخْرُجَ فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَلَى فَجُدِّي نَخْلَكِ فَإِنَّكِ عَسَى أَنْ تَصَدَّقِي أَوْ تَفْعَلِي مَعْرُوفًا

باب: معتده د بائنو لره او د چا چه خاوند مړ شوے وی هغې لره د ورځې وتل د ضرورت دپاره روا دی

د جابر بن عبد الله نه روایت دے وائی چه خما ترور طلاقه کړے شوه او هغوی غوښتل چه د خپل باغ کهجورے اوشوکوی پس یو سړی هغه اورټله د هغوی په بهر وتلو باندے او هغوی د نبی ﷺ خواته حاضره شوه او حضرت ورته اوفرمائیل چه ته لاړه شه او د خپل باغ کهجورے اوشوکوه ځکه چه کیدے شی ته د هغے نه صدقه ورکړے. ته د نورو نیکی شرے) یا نوره څه نیکی کوه (چه ستا نیکی شی)[1].

أم مکتوم نابینا په کور کښې د اوسیدو چه کوم حکم کړے دے دے دے نه محض خلقو استنباط کړے دے چه ښځے له نظر کول پردی سړی طرفته جائز دی. په خلاف د سړی چه هغهٔ لره پردئ ښځے طرفته نظر کول روا نهٔ دی. او دا مذهب ضعیف دے بلکه صحیح دا دے چه دواړو لره پردی انسان ته کتل حرام دی. چنانچه دا ایت صفا په دے باندے دلیل دے چه الله پاك فرمائیلی دی "قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ" اے نبی ووایه مؤمنانو سړو ته چه ښکته کړی نظرونه خپل. او اووایه مؤمنانو ښځو ته چه ښکته کړی نظرونه خپل. او په دے باندے دلالت کوی حدیث د نبهان چه د ام سلمه غلام وو چه ام سلمه او میمونه د نبی ﷺ په خوا کښې حاضرے وے او عبد الله بن أم مکتوم حاضر شو. او نبی کریم ﷺ هغوی ته اوفرمائیل چه پټے شئ. هغوی عرض اوکړو چه دے خو ړوند دے حضرت ﷺ اوفرمائیل چه تاسو خو ړندے نهٔ یئ. او دا حدیث حسن دے چه ابوداؤد او ترمذی دے لره روایت کړے دے. او ترمذی دے ته حسن وئیلی دی. غرض په دے حدیث د فاطمے کښې دد ے اجازت نشته دے چه تهٔ د عبد الله بن ام مکتوم په طرف نظر کوه. بلکه صرف دومره خبره ده چه تا له به صرف د هغوی د نظر نه د بچ کیدو ضرورت نهٔ پیښیږی. لکه څنګه چه د بل یو بینا په کور کښې په اوسیدو سره پیښیږی. او حضرت ﷺ چه کوم د ابوجهم او معاویه حال اوفرمائیل دا په غیبت محرمه کښې داخل نهٔ دی. ځکه چه د مشورے په وخت د چا ضرورت حال بیانول روا دی. چه په دے کښې د بل خیرخواهی ده غرض په دے حدیث فاطمه کښې ډیرے فائدے دی. اوله فائده: جواز د طلاق غائب لره. دویمه فائده: جواز د توکیل حقوق په مثل د قبض اودفعے. دریمه فائده: نهٔ کیدل د نفقے د بائن دپاره او بعضو وئیلی دی چه نهٔ ورله نفقه شته دے او نهٔ کور. څلورمه فائده: جواز د اوریدو د کلام د اجنبی د مسئلے په تپوس کولو کښې. پنځمه فائده: جواز د کور نه د بهر وتلو د عدت په ورځو کښې په نظر د ضرورت. شپږمه فائده: مستحب کیدل زیارت د ښځو صالحاتو سړو لره هم. مګر په دے شان چه خلوت محرمه واقع نهٔ شی غرض په دے شان نے نورے هم ډیرے فائدے دی. چه هغه د مضمون د اوږدیدو د ډیرے نه ذکر نهٔ شوے چا ته چه ضرورت شی دلائل نووی ته د رجوع کوی.

[1] دد ے حدیث نه معلومه شوه چه معتده بائن ته د ضرورت په وخت وتل په حالت د عدت کښې روا دی. او دغه مذهب دے د مالك او شافعي او ثوری او لیث او احمد او د نورو خلقو چه دا تول قائل دی. چه د ورځے د ضرورت دپاره وتل روا دی او دغه شان په ټولو عدتونو کښې او په وفات د خاوند کښې هم د هغوی په نز روا دی. او په عدت دوفات کښې ابوحنیفه د هغوی موافق دے. نو په مطلقه بائنه کښې د

بَابُ انْقِضَاءِ عِدَّةِ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا وَغَيْرِهَا بِوَضْعِ الْحَمْلِ

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ أَبَاهُ كَتَبَ إِلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْأَرْقَمِ الزُّهْرِيِّ يَأْمُرُهُ أَنْ يَدْخُلَ عَلَى سُبَيْعَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ الْأَسْلَمِيَّةِ فَيَسْأَلَهَا عَنْ حَدِيثِهَا وَعَمَّا قَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ اسْتَفْتَتْهُ فَكَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ يُخْبِرُهُ أَنَّ سُبَيْعَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ سَعْدِ بْنِ خَوْلَةَ وَهُوَ فِي بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ وَكَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا فَتُوُفِّيَ عَنْهَا فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهِيَ حَامِلٌ فَلَمْ تَنْشَبْ أَنْ وَضَعَتْ حَمْلَهَا بَعْدَ وَفَاتِهِ فَلَمَّا تَعَلَّتْ مِنْ نِفَاسِهَا تَجَمَّلَتْ لِلْخُطَّابِ فَدَخَلَ عَلَيْهَا أَبُو السَّنَابِلِ بْنُ بَعْكَكٍ رَجُلٌ مِنْ بَنِي عَبْدِ الدَّارِ فَقَالَ لَهَا مَا لِي أَرَاكِ مُتَجَمِّلَةً لَعَلَّكِ تَرْجِينَ النِّكَاحَ إِنَّكِ وَاللهِ مَا أَنْتِ بِنَاكِحٍ حَتَّى تَمُرَّ عَلَيْكِ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ قَالَتْ سُبَيْعَةُ فَلَمَّا قَالَ لِي ذَلِكَ جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي حِينَ أَمْسَيْتُ فَأَتَيْتُ رَسُولَ

باب: د چا چه خاوند مړ شوے وی یا طلاقه شوے وی په وضع د حمل سره د هغې عدت پوره کیږی

د عبید الله بن عبد الله بن عتبه نه روایت دے وائی چه د هغوی پلار عبد الله ته اولیکل چه هغه د د سبیعه لور د حارث خواله لاړ شی او د هغوی نه دے د هغوی د حدیث معلومات اوکړی چه هغوی ته رسول الله ﷺ څۀ فرمائیلی وو هر کله چه هغوی د حضرت ﷺ نه فتوی طلب کړے وه. پس عمر بن عبد الله هغوی ته اولیکل چه سبیعه هغوی له خبر ورکړے دے چه هغه د سعد په نکاح کښې وه. او سعد د قبیله بن عامر بن لوی نه وو. او په غزوۀ بدر کښې حاضر شوے وو. او په حجة الوداع کښې هغوی وفات اوموندو او دا حامله وه. بیا څۀ وخت نۀ وو شوے د هغوی (یعنی د خاوند) د وفات چه هغې حمل اوزیږوو روستو د وفات د خاوند نه بیا چه هر کله د نفاس نه فارغه شوه. نو هغوی ځان سنګار کړو د پیغام ورکونکو دپاره او ابوالسنابل د هغوی خواله راغے. او هغه یو سړے وو د قبیله بنی عبد الدار. او هغې ته ئې اووے چه څۀ سبب دے چه زۀ تا لره سنګار کړے وینمه کیدے شی تۀ د نکاح اراده لرے؟ او په الله قسم چه تۀ نکاح نۀ شے کولے د کومے پورے چه په تا څلور میاشتے اولس ورځے تیرے شوے نۀ وی سبیعه وائی هر کله چه هغوی ما ته داسے اووے نو ما خپلے کپړے د ځان سره راغونډے کړے او ماښام د رسول الله ﷺ خواله راغلم او د هغوی نه مے تپوس اوکړو او حضرت ﷺ ماله دا فتوی راکړه چه تا هغه وخت

هغوی قول دے چه هغه به نۀ شپے اوخی او نۀ د ورځے. او د دے حدیث نه معلومه شوه چه صدقه ورکول د کهجورو نه هم مستحب دی د هغې د شو کولو په وخت او د صدقې ورکولو اشاره کول هم خاوند د کهجورو لره مستحب دی.

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذٰلِكَ فَأَفْتَانِي بِأَنِّي قَدْ حَلَلْتُ حِينَ وَضَعْتُ حَمْلِي وَأَمَرَنِي بِالتَّزَوُّجِ إِنْ بَدَا لِي قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَلَا أَرَى بَأْسًا أَنْ تَتَزَوَّجَ حِينَ وَضَعَتْ وَإِنْ كَانَتْ فِي دَمِهَا غَيْرَ أَنْ لَا يَقْرَبُهَا زَوْجُهَا حَتّٰى تَطْهُرَ

خپل عدت پوره کړے دے هر کله چه تا حمل زیږه ولے دے. او حکم ئے اوکړو ما ته د نکاح هر کله چه زۀ غواړم. ابن شهاب وئیلی دی چه زۀ په دے کښې هم څۀ پرواه نه ګڼړم چه یوه ښځه د زیږولو نه پس نکاح اوکړی په داسے وخت اګر کۀ هغه وینه د نفاس پرے جاری وی. مګر دومره خبره ضرور ده چه د هغے خاوند به د هغے سره صحبت نۀ کوی د کومے پورے چه پاکه شوے نۀ وی.

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَابْنَ عَبَّاسٍ اجْتَمَعَا عِنْدَ أَبِي هُرَيْرَةَ وَهُمَا يَذْكُرَانِ الْمَرْأَةَ تُنْفَسُ بَعْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا بِلَيَالٍ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عِدَّتُهَا آخِرُ الْأَجَلَيْنِ وَقَالَ أَبُو سَلَمَةَ قَدْ حَلَّتْ فَجَعَلَا يَتَنَازَعَانِ ذٰلِكَ قَالَ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَنَا مَعَ ابْنِ أَخِي يَعْنِي أَبَا سَلَمَةَ فَبَعَثُوا كُرَيْبًا مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ يَسْأَلُهَا عَنْ ذٰلِكَ فَجَاءَهُمْ فَأَخْبَرَهُمْ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ قَالَتْ إِنَّ سُبَيْعَةَ الْأَسْلَمِيَّةَ نُفِسَتْ بَعْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا بِلَيَالٍ وَإِنَّهَا ذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهَا أَنْ تَتَزَوَّجَ

د سلیمٰن بن یسارؒ نه روایت دے چه ابوسلمه او ابن عباسؓ دواړه د ابوهریره خواته جمع شول. او د هغے ښځے ذکر ئے شروع کړو. چه هغه د خپل خاوند د مرګ نه پس څو شپے ورستو په نفاس کښې شی یعنی حمل اوزیږوی نو ابن عباس اووے چه په دواړو عدتونو چه کوم روستے پوره شی هغه به پوره کوی او ابوسلمه اووے چه هغے دغه وخت عدت پوره کړو. او ددے دواړو په خپلو کښې تنازعه شروع شوه. پس ابوهریره اووے چه زۀ د خپل وراړه سره یم یعنی د ابوسلمه سره غرض دا چه کریب چه د ابن عباس غلام وو هغه ئے د ام سلمه خواته اولیږلو چه د هغے نه تپوس اوکړی پس هغه د هغوی خواله راغے او واپس ئے خبر راوړو چه ام سلمه وئیلی دی چه سبیٔه اسلمیه ته نفاس اوشو د هغے د خاوند د وفات نه څو شپے روستو. او بیا هغوی جناب رسول اللهﷺ ته ذکر اوکړو او حضرتﷺ هغوی له د نکاح حکم ورکړو.

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ اللَّيْثَ قَالَ فِي حَدِيثِهِ فَأَرْسَلُوا إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ وَلَمْ يُسَمِّ كُرَيْبًا

د یحیٰی بن سعید نه په دغه اسناد سره دغه مضمون مروی دے مګر د لیث په روایت کښې دادی چه ام سلمه ته ئے څوك اولیږلو. او د کریب نوم پکښې وانۀ خستۀ.

بَابُ وُجُوبِ الْإِحْدَادِ فِي عِدَّةِ

باب: د مړی غم واجب دے په هغه ښځه چه د هغے خاوند

الْوَفَاةِ وَتَحْرِيمِهِ فِي غَيْرِ ذٰلِكَ إِلَّا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ

عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ هٰذِهِ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ قَالَ قَالَتْ زَيْنَبُ دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ حَبِيبَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ أَبُوهَا أَبُو سُفْيَانَ فَدَعَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ بِطِيبٍ فِيهِ صُفْرَةٌ خَلُوقٌ أَوْ غَيْرُهُ فَدَهَنَتْ مِنْهُ جَارِيَةً ثُمَّ مَسَّتْ بِعَارِضَيْهَا ثُمَّ قَالَتْ وَاللهِ مَا لِي بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ غَيْرَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ تُحِدُّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا قَالَتْ زَيْنَبُ ثُمَّ دَخَلْتُ عَلَى زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ حِينَ تُوُفِّيَ أَخُوهَا فَدَعَتْ بِطِيبٍ فَمَسَّتْ مِنْهُ ثُمَّ قَالَتْ وَاللهِ مَا لِي بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ غَيْرَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ تُحِدُّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا قَالَتْ زَيْنَبُ سَمِعْتُ أُمِّي أُمَّ سَلَمَةَ تَقُولُ

مړشي. دد ے نه علاوه د مړي غم حرام دے مګر صرف د دریو ورځو پورے (چه دا جائز دے ، حرام نۀ دے)

د زینب بنت ابی سلمه نه روایت دے چه زۀ د مؤمنانو د مور ام حبیبه خواله لاړم هر کله چه د هغوی پلار ابوسفیان وفات شو نو ام حبیبه یوه خوشبوئ رااوغوښته چه هغه زیړه وه خلوق (یو قسم مرکب خوشبوئ ده) وو یا بله یو قسم خوشبوئی وه . او یوے جینۍ له ئے (په خپلو لاسونو سره) او لګوله بیائے لاسونه په خپلو انګو باندے راښکودل . او اوئے وئیل چه په الله قسم دے ماته د خوشبوئ حاجت نشته دے؟ مګر ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیل ئے په ممبر باندے . حلال نۀ دی هغه ښځے لره چه هغه یقین لری په الله تعالی باندے او د قیامت په ورځ باندے چه غم اوکړی په چا مړی باندے د درے ورځو نه زیات مګر ښځه به د خپل خاوند دپاره غم کوی څلور میاشتے او لس ورځے زینب وائی بیا زۀ د زینب بنت جحش خواله لاړم کله چه دهغوی رور مړ شو نو هغوی دغه خوشبوئی رااوغوښته او اوئے لګوله بیائے اووے په خدائے قسم چه څما خوشبوئ ته حاجت نۀ وو. مګر ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو په منبر باندے . چه نۀ دی حلال یوے ښځی لره چه هغه یقین لری په الله باندے او په ورځ د آخرت باندے چه غم اوکړی په یو مړی باندے د درے ورځو نه زیات . سوا د هغه ښځی نه چه د هغے خاوند مړ شی. هغه به د څلورو میاشتو او لسو ورځو پورے غم کوی. زینب وئیلی دی چه ماد خپلے مور ام المؤمنین ام سلمهؓ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی وو. یو ښځه راغله رسول الله ﷺ ته او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ﷺ

جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا وَقَدْ اشْتَكَتْ عَيْنُهَا أَفَنَكْحُلُهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا كُلَّ ذٰلِكَ يَقُولُ لَا ثُمَّ قَالَ إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعَرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ قَالَ حُمَيْدٌ قُلْتُ لِزَيْنَبَ وَمَا تَرْمِي بِالْبَعَرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ فَقَالَتْ زَيْنَبُ كَانَتْ الْمَرْأَةُ إِذَا تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا دَخَلَتْ حِفْشًا وَلَبِسَتْ شَرَّ ثِيَابِهَا وَلَمْ تَمَسَّ طِيبًا وَلَا شَيْئًا حَتَّى تَمُرَّ بِهَا سَنَةٌ ثُمَّ تُؤْتَى بِدَابَّةٍ حِمَارٍ أَوْ شَاةٍ أَوْ طَيْرٍ فَتَفْتَضُّ بِهِ فَقَلَّمَا تَفْتَضُّ بِشَيْءٍ إِلَّا مَاتَ ثُمَّ تَخْرُجُ فَتُعْطَى بَعَرَةً فَتَرْمِي بِهَا ثُمَّ تُرَاجِعُ بَعْدُ مَا شَاءَتْ مِنْ طِيبٍ أَوْ غَيْرِهِ

؛ځما د لور خاوند مړ شوے دے د هغے سترګے سوزیږی. آیا هغے له رانجۀ اولګوم؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل نه بیا هغے ښځے دوه یا درے ځله تپوس اوکړو حضرت ورته هر ځل اوفرمائیل چه نه بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اوس خو د عدت لس ورځے او څلور میاشتے دی. په جاهلیت کښې خو به ښځے د یو کاله پورے پچے ویشتلے. حمید کوم چه دد ے حدیث راوی دے هغه وائی چه ما د زینب نه تپوس اوکړو چه دد ے څۀ مطلب دے. زینبؓ اووے (د جاهلیت په زمانه کښې) هر کله چه به د یوے ښځے خاوند مړ شو نو هغه به په یو ورکوټی کوټ کښې ننوته. د خرابو نه خرابې کپړے به ئے اغوستلے. خوشبوئی به ئے نۀ لګوله تر دے پورے چه یو کال به تیر شو. بیا به یو ځناور هغے له راوستے شو. خر یا بزه یا مارغۀ چه په هغه سره به هغے خپل عدت ماتولو (هغه ځناور به ئے په خپله ځرمن پورے اومږلو یا به ئے خپل لاس په هغه باندے راښکو) داسے به ډیر کم پیښیده چه هغه ځناور به ژوندے پاتے شو. (اکثر به مړ کیدو څۀ د شیطان اثر به وو یا به د هغے په بدن څۀ ګنده خیرے د یو تنګ ځائے په اوسیدو سره زهر داره ماده ختلے وه چه په هغه ځناور به ئے اثر کوۀ) بیا به هغه بهر رااووته یوه پچه به هغے له ورکړے شوه هغه به ئے او ویشته بیا چه به ئے څۀ غوښتل خوشبوئی وغیره به ئے لګوله[1].

[1] نووی وئیلی دی دد ے حدیث نه معلومیږی چه د کومے ښځے خاوند مړ شی هغے له غم کول واجب دی او په دے باندے د عالمانو اتفاق دے. مګر دد ے په تفصیل کښې اختلاف دے. نو واجب دی چه دا غم په هر هغه ښځه باندے چه خاوند ئے مړ شی. اګر کۀ د هغے خاوند د هغے سره جماع نۀ وی کړے. یا هغه کم عمره وی. یا وینځه وی، یا کافره وی دغه مذهب دے د امام شافعی. او جمهورو عالمانو او ابوحنیفه او ابوثور او د ځنے مالکیۀ په نز کچرے ښځه د اهل کتابو نه وی نو په هغے باندے دا عدت واجب نۀ دے. بلکه عدت خاص دے د مسلمانے ښځے سره. دغه شان په وینځه او په نابالغه ښځه باندے هم عدت د وفات نشته دے. او په اُم ولد باندے خو په اجماع سره عدت نشته دے. او دغه شان په هغه وینځه باندے چه د هغے مالك مړ شی. انتهیٰ مختصراً. دد ے حدیث نه د غم والا ښځے دپاره د رانجو لګولو حرام والے ثابت شو اګر کۀ ضرورت وی. او په مؤطاء کښې یو حدیث دے چه په هغے کښې ذکر دی چه د شپے د رانجۀ لګوی او د

عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ تُوُفِّيَ حَمِيمٌ لِأُمِّ حَبِيبَةَ فَدَعَتْ بِصُفْرَةٍ فَمَسَحَتْهُ بِذِرَاعَيْهَا وَقَالَتْ إِنَّمَا أَصْنَعُ هَذَا لِأَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا حَدَّثَتْهُ زَيْنَبُ عَنْ أُمِّهَا وَعَنْ زَيْنَبَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ عَنِ امْرَأَةٍ مِنْ بَعْضِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د زینب بنت ام سلمهؓ نه روایت دے وائی چه د أم حبیبهؓ خواګ رشته دار مړ شو هغوی زیړه خوشبوئی رااوغوښته او په لاسونو باندے ئے اولګوله. اوبیائے اوفرمائیل چه دا کار دد ے دپاره کوم چه ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. کوم بنده چه یقین لری په الله تعالی باندے او په ورځ د آخرت باندے. هغوی له په یو بنده باندے د دریو ورځو نه زیات غم کول روا نهٔ دی مګر ښځه به په خپل خاوند باندے څلور میاشتے او لس ورځے غم کوی. او زینب دغه حدیث لره د خپلے مور (ام سلمه) نه نقل کړے دے. او د ام المؤمنین زینب نه یا دبلے یوے بی بی نه د رسول اللهﷺ.

عَنْ حُمَيْدِ بْنِ نَافِعٍ قَالَ سَمِعْتُ زَيْنَبَ بِنْتَ أُمِّ سَلَمَةَ تُحَدِّثُ عَنْ أُمِّهَا أَنَّ امْرَأَةً تُوُفِّيَ زَوْجُهَا فَخَافُوا عَلَى عَيْنِهَا فَأَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَأْذَنُوهُ فِي الْكُحْلِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ تَكُونُ فِي شَرِّ بَيْتِهَا فِي أَحْلَاسِهَا أَوْ فِي شَرِّ أَحْلَاسِهَا فِي بَيْتِهَا حَوْلًا فَإِذَا مَرَّ كَلْبٌ رَمَتْ بِبَعَرَةٍ فَخَرَجَتْ أَفَلَا أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا

د حمید بن نافع نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د زینب نه چه د ام سلمه لور وه هغوی اوریدلی دی د خپلے مور نه چه د یوے ښځے خاوند مړ شو او د هغے د سترګو په خلقو کښ یره شوه. او هغه راغله د رسول اللهﷺ خواله او اجازت ئے اوغوښتو د رنجو لګولو. حضرتﷺ ورته اوفرمائیل په تحقیق سره وه به یوه ستاسو نه په خپل خراب کور کښ او خرابو کپړو کښ یا خرابے جامے به ئے اغوستے وے او د کاله پورے به ناسته وه بیا چه به ئے هر کله سپے په خوا تیر شو نو په پچو به ئے اوویشتو او بهر به رااووته. آیا اوس د څلورو میاشتو اولسو ورځو پورے صبر نهٔ شی کولے.

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ وَأُمِّ حَبِيبَةَ تَذْكُرَانِ أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ لَهُ أَنَّ بِنْتًا لَهَا تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا فَاشْتَكَتْ عَيْنُهَا فَهِيَ

د ام المؤمنین ام سلمه او ام المؤمنین ام حبیبه نه روایت دے وائی چه یوه ښځه راغله د جناب رسول اللهﷺ خواله او هغے اووے څما د لور خاوند مړ شوے دے او د هغے سترګے سوزی زهٔ غوارم چه

ورځے دئے صفا کوی او په دے دوارو حدیثو کښ ئے دا جمع کړی دی چه کله چرے ضرورت نهٔ وی نو بالکل ناروا دی او که ضرورت وی نو هم د ورځے لګول ناروا دی. او د شپے روا دی. مګر غوره خبره دا ده چه باکل ئے نهٔ لګوی بهتر ده.

تُرِيدُ أَنْ تَكْحُلَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عِنْدَ رَأْسِ الْحَوْلِ وَإِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ

رانجه ورله اولګوم. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل په تحقیق سره وه به یوه ستاسو نه چه ویشتے به ئے پچو لره په پوره کیدو د یو کال باندے او دا خو څلور میاشتے او لس ورځی دی.

عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَتْ لَمَّا أَتَى أُمَّ حَبِيبَةَ نَعِيُّ أَبِي سُفْيَانَ دَعَتْ فِي الْيَوْمِ الثَّالِثِ بِصُفْرَةٍ فَمَسَحَتْ بِهِ ذِرَاعَيْهَا وَعَارِضَيْهَا وَقَالَتْ كُنْتُ عَنْ هَذَا غَنِيَّةً سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ فَإِنَّهَا تُحِدُّ عَلَيْهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا

د زینب بنت ابی سلمه نه روایت دے هر کله چه أم حبیبه ته د هغے د پلار ابوسفیان د مرګ خبر اورسیدو. هغوی په دریمه ورځ زیړه خوشبوئی رااوغوښته او په دواړو لاسونو او اننګو ئے اولګوله او اوئے وئیل ماته ددے حاجت نۀ وو مګر ما اوریدلی دی د جناب رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو . نۀ دی صحیح هغۀ لره څوک چه ایمان راوړی په الله تعالی باندے او په ورځ د قیامت باندے دا چه غم کوی د درے ورځو نه زیات. البته ښځه به په خپل خاوند باندے د څلورو میاشتو او لسو ورځو پورے غم کوی.

عَنْ حَفْصَةَ أَوْ عَنْ عَائِشَةَ أَوْ عَنْ كِلْتَيْهِمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَوْ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ إِلَّا عَلَى زَوْجِهَا

د مؤمنانو د مور حفصے یا د مؤمنانو د مور عائشے نه روایت دے یا د دواړو نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نۀ دی حلال یوے ښځے لره چه هغه ایمان راوړی په الله باندے او په ورځ د آخرت باندے یا ایمان راوړی په الله او د هغۀ په رسول باندے . غم کول په یو مړی باندے د درے ورځو نه زیات البته ښځه په خپل خاوند باندے کولے شی.

عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ اللَّيْثِ وَابْنِ دِينَارٍ وَزَادَ فَإِنَّهَا تُحِدُّ عَلَيْهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا

دام المؤمنین حفصے نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل کومه ښځه چه یقین لری په الله او د قیامت هغے لره حلال نۀ دی د یو مړی غم کول د دریو ورځو نه زیات سوا د خپل خاوند.

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُحِدُّ امْرَأَةٌ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ

د أم عطیه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک ښځه د په یو مړی باندے د درے ورځو نه زیات خفګان نۀ کوی. مګر په خپل خاوند باندے به د څلورو میاشتو او لسو ورځو پورې غم

أَشْهُرٍ وَعَشْرًا وَلاَ تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلاَّ ثَوْبَ عَصْبٍ وَلاَ تَكْتَحِلُ وَلاَ تَمَسُّ طِيبًا إِلاَّ إِذَا طَهُرَتْ نُبْذَةً مِنْ قُسْطٍ أَوْ أَظْفَارٍ

کوی او دومره ورځے به رنګینه جامه نۀ اغوندی مګر د عصب جامه او نۀ به رانجۀ لګوی. او نۀ به خوشبو لګوی مګر کله چه د حیض نه پاکه شی نو لږ شان قسط یا اظفار (دا د خوشبوګانو نوم دے) به استعمال کړی (په اراده د پاکوالی نۀ د خائست)[1].

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ كُنَّا نُنْهَى أَنْ نُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاَثٍ إِلاَّ عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا وَلاَ نَكْتَحِلُ وَلاَ نَتَطَيَّبُ وَلاَ نَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا وَقَدْ رُخِّصَ لِلْمَرْأَةِ فِي طُهْرِهَا إِذَا اغْتَسَلَتْ إِحْدَانَا مِنْ مَحِيضِهَا فِي نُبْذَةٍ مِنْ قُسْطٍ وَأَظْفَارٍ

د ام عطیه نه روایت دے هغوی وائی چه منع کولے به شو مونږ په یو مړی باندے د درے ورځو نه د زیات غم کولو نه مګر په خاوند باندے د څلورو میاشتو او لسو ورځو پورے. او نۀ به مونږ رانجۀ لګول او نۀ خوشبو او نۀ به مونږ رنګینه کپړے اغوستلے او ښځے ته اجازت وو چه هر کله چه د حیض نه پاکه شی او غسل اوکړی نو لږ شان د قسط او اظفار استعمال د کوی (د بدبوئی لرے کیدو د پاره)

ناشر: تاج کمپنی لمیټډ

[1] : عصب یمنی څادر ته وئیلے شی چه هغه کرښو والا د (سینکتا) په طور باندے وی. سور او سپین یا سپین او شین یا سپین او تور. او بعضو وئیلی دی چه عصب یوه اونه ده اغزی داره او د هغے د پاڼړو نه رنګ اوځی. او ابن منذر وئیلی دی. عالمانو اجماع کړے ده چه غم والا ښځے لره د کسم رنګ کپړے اغوستل صحیح نۀ دی نۀ د بل یو رنګ مګر د تور رنګ روا دی. دغه قول د عروه بن الزبیر او مالك او شافعی. او زهری دے ته هم مکروه وئیلی دی او عروه عصب ته هم مکروه وئیلی دی او زهری هغے ته جائز وئیلی دی. او امام مالك د عصب پیړے کپړے ته جائز وئیلی ده. او زمونږ د ملګرو په نز د هغے حرمت زیات صحیح دے او دا حدیث دلیل دے د هغه سړی چا چه جائز ګنړلے دے. او ابن منذر وئیلی دی چه تولو علماؤ سپینو کپړو ته جائز وئیلی دی. او ځنے متاخرینو مالکیؤ پاکو سپینو کپړو ته چه په هغے باندے ګلکاری وی منع کړے دی. دغه شان د مزین شوو تورو کپړو نه او زمونږ ملګرو وئیلی دی چه هغه رنګ روا دے چه په هغے د خائست اراده نۀ وی. او ریښمی کپړے اغوستل صحیح دی. او کالے د سپینو زرو یا د سرو زرو اچول صحیح نۀ دی. دغه شان د موتیانو اچول هم ناجائز دی او یو قول دا دے چه د موتیانو اچول صحیح دی (نووی)

كتابُ اللِّعَانِ

د لعان مسئلے[1]

عَنْ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ أَخْبَرَهُ أَنَّ عُوَيْمِرًا الْعَجْلَانِيَّ جَاءَ إِلَى عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ الْأَنْصَارِيِّ فَقَالَ لَهُ أَرَأَيْتَ يَا عَاصِمُ لَوْ أَنَّ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ أَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ فَسَلْ لِي عَنْ ذَلِكَ يَا عَاصِمُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَ عَاصِمٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسَائِلَ وَعَابَهَا حَتَّى كَبُرَ عَلَى عَاصِمٍ مَا سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَجَعَ عَاصِمٌ إِلَى أَهْلِهِ جَاءَهُ عُوَيْمِرٌ فَقَالَ يَا عَاصِمُ مَاذَا قَالَ لَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَاصِمٌ لِعُوَيْمِرٍ لَمْ تَأْتِنِي بِخَيْرٍ قَدْ كَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْأَلَةَ الَّتِي سَأَلْتُهُ عَنْهَا قَالَ عُوَيْمِرٌ وَاللَّهِ لَا أَنْتَهِي حَتَّى أَسْأَلَهُ عَنْهَا فَأَقْبَلَ عُوَيْمِرٌ حَتَّى أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَطَ النَّاسِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ أَمْ

د سهل بن سعد ساعدی نه روایت دے چه عویمر عجلانی د عاصم بن عدی خواله راغے. او هغوی ته ئے اووے اے عاصم! کچرے یو سړے د خپلے ښځے سره سړے اووینی. آیا هغه به وژنی کۀ بیا به تاسو هغه وژنئ یا هغه به څۀ کوی؟ تۀ د دے مسئلے تپوس اوکړه د رسول الله ﷺ نه خما دپاره. عاصم د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو. حضرت ﷺ د دے قسم سوالونو لره بدو گنړل او د دے بدی ئے بیان کړله . عاصم چه څۀ د رسول الله ﷺ نه واؤریدل هغه په دۀ باندے گرانه تمامه شوه. هر کله چه هغه خپلو خلقو ته واپس راغے. نو عویمر د هغوی خواله راغے او تپوس ئے ترے اوکړو چه اے عاصمه! رسو الله ﷺ څۀ اوفرمائیل ؟ عاصم عویمر ته اووے تا ماله ښۀ څیز نۀ وو راوړے رسول الله ﷺ ته ستا د مسئلے تپوس کول ناخوښه شو. عویمر اووے قسم په خدائے زۀ نۀ قلاریږم د کومے پورے چه د دے مسئلے تپوس د هغوی نه اونۀ کړم. بیا عُویمر راغے د رسول الله ﷺ خواله په ټولو خلقو کښ. او عرض ئے اوکړو یا رسول الله! تاسو څۀ فرمایئ چه څوك د خپلے بی بی سره پردے سړے اووینی او مړ ئے کړی بیا به تاسو دۀ لره وژنئ؛ (د هغۀ په قصاص کښ) هغه به څۀ کوی؟ حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ستا

[1] لعان وئیلے شی هغه گواهئ ته چه هغه د خاوند او ښځی نه اخستلے کیږی. هر کله چه خاوند په خپله ښځه باندے د زنا تهمت اولگوی او گواه نۀ وی. چونکه په دے کښ د لعنت لفظ وی خکه ورته لعان وئیلے شی. او د لعان حکم دا دے چه په خاوند او ښځه کښ همیشه دپاره جدائی راشی. او بیا د هغوی یو ځائے کیدل په نکاح سره نۀ شی کیدے.

كَيْفَ يَفْعَلُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ نَزَلَ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ فَاذْهَبْ فَأْتِ بِهَا قَالَ سَهْلٌ فَتَلَاعَنَا وَأَنَا مَعَ النَّاسِ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا فَرَغَا قَالَ عُوَيْمِرٌ كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ أَمْسَكْتُهَا فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يَأْمُرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَكَانَتْ سُنَّةَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ

او ستا د بی بی په باب کښې د الله حکم نازل شو (یعنی ایت د لعان) ته لاړ شه او خپله بی بی د ځان سره راوله او راشه سهل وئیلی دی چه بیا دواړو ښځې او خاوند لعان اوکړو او زۀ د خلقو سره د رسول الله ﷺ په خواه کښې موجود وم. هر کله چه هغه فارغ شو نو عویمر اووے یا رسول الله ﷺ که زۀ چرے اوس دے ښځې لره ساتم نو زۀ دروغجن یم. بیا عویمر هغې لره درے طلاق ورکړل مخکښې د رسول الله ﷺ د حکم نه. بیا د لعان کونکو دغه طریقه مقرر شوله[1].

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ عُوَيْمِرَا الْأَنْصَارِيَّ مِنْ بَنِي الْعَجْلَانِ أَتَى عَاصِمَ بْنَ عَدِيٍّ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكٍ وَأَدْرَجَ فِي الْحَدِيثِ قَوْلَهُ وَكَانَ فِرَاقُهُ إِيَّاهَا بَعْدُ سُنَّةً فِي الْمُتَلَاعِنَيْنِ وَزَادَ فِيهِ قَالَ سَهْلٌ فَكَانَتْ حَامِلًا فَكَانَ ابْنُهَا يُدْعَى إِلَى

د سهل بن سعد نه روایت دے چه عویمر انصاری چه د بنی عجلان قبیلے نه وو. د عاصم بن عدی خواله راغے. بیائے بیان کړو حدیث لره په دے شان سره لکه څنګه چه پورته ذکر شو. او په حدیث کښې ئے د ابن شهاب قول هم شریك کړو چه بیا جدائی د سړی د ښځې نه سنت شوله په لعان کونکو کښې. او دومره ئے زیات کړے دے چه سهل وائی هغه ښځه حامله وه. او د هغې ځوئ به د مور په طرف نسبت

---

[1]: نووی وئیلی دی مراد د رسول الله هغه سوال دے چه هغه یے ضرورته وی خاصکر چه په هغې کښې د مسلمانانو رُسوائی وی او کچرے د دین ضروری سوال وی نو هغه بد نه دے. او داسے سوال خو به همیشه صحابو کولو. او حضرت ﷺ به د هغې جواب ورکولو او ناخوښه به ئے نه ګڼړلو. او د عاصم د سوال د بد ګڼړلو وجه دا وه چه د دغه وخته پورے دغه قیصه واقع شوے نه وه. او نه د دے د تپوس څۀ ضرورت وو. او په دے سره د مسلمانانو رسوائی هم راتله. او کافرو ته د خوشحالئ موقعه حاصلیدله. نووی وئیلی دی علماؤ اختلاف کړے دے چه کچرے یو سړے پردے سړی لره د خپلے بی بی په خواه کښې اووینی او د زنا یقین ئے راشی او بیا هغوی لره اووژنی. او د حاکم په مخکښې دا بیان اوکړی نو په دۀ باندے قصاص شته دے یا نه. د ډیرو په نز د هغه بیان نۀ شی قبلولے او قصاص به پرے لازم وی. مګر هر کله چه د زنا ګواه قائم شی یا د مقتول وارثان د هغې اقرار اوکړی نو قصاص به ساقط کړے شی په شرط دد ے چه مقتول واده کړے وی د کوم چه سزا په ګتو ویشتل دی.

د لعان نه پس د جدایئ په طریقه کښې د عالمانو اختلاف دے. د مالك او شافعی په نز پخپله په لعان سره جدائی واقع کیږی او همیشه د پاره د دغه سړی او د دغه ښځې د یو بل سره نکاح حرامیږی. او د ابوحنیفه په نز بغیر د قاضی د حکم نه جدائی نۀ شی راتلے او کله چه خاوند خپل ځان د روغجن ثابت کړی. نو بیا هغه ښځه پرے حلالیږی. او د مالك او د شافعی په نز چرته هم حلالیدے نۀ شی انتهی مختصراً.

أُمِهِ ثُمَّ جَرَتِ السُّنَّةُ أَنَّهُ يَرِثُهَا وَتَرِثُ مِنْهُ مَا فَرَضَ اللهُ لَهَا

سره بللے شو. بیا دا طریقه جاری شوه چه داسے هلك به د خپلے مور وارث وی او هغه به دده وراثه وی د خپلے حصے موافق[1].

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ عَنِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ وَعَنِ السُّنَّةِ فِيهِمَا عَنْ حَدِيثِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَخِي بَنِي سَاعِدَةَ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا وَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ وَزَادَ فِيهِ فَتَلَاعَنَا فِي الْمَسْجِدِ وَأَنَا شَاهِدٌ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يَأْمُرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَارَقَهَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكُمُ التَّفْرِيقُ بَيْنَ كُلِّ مُتَلَاعِنَيْنِ

د ابن جریج نه روایت دے وائی چه ما ته ابن شهاب بیان کړه د متلاعنینو حال او د هغوی طریقه د سهل بن سعد د حدیث نه چه د بنی ساعده نه وو هغه وائی چه د انصارو نه یو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے. او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ﷺ څه وایئ کچرے یو سړے د خپلے بی بی سره پردے سړے اووینی او بیان ئے کړه تول قصه د حدیث او دومره ئے زیاته کړه چه بیا دواړو د جماعت دننه لعان اوکړو او زهٔ موجود وم. او په دے روایت کښ دا هم دی چه هغه سړی خپلے ښځے له درے واره طلاق ورکړل د رسول الله ﷺ د حکم کولو نه مخکښ بیا هغه جدا شو د هغے نه د حضرت ﷺ په مخکښ. حضرت ﷺ اوفرمائیل دغه جدائی ده په مینځ کښ د لعان کونکو کښ[2].

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سُئِلْتُ عَنِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ فِي إِمْرَةِ مُصْعَبٍ أَيُفَرَّقُ بَيْنَهُمَا قَالَ فَمَا دَرَيْتُ مَا أَقُولُ فَمَضَيْتُ إِلَى مَنْزِلِ ابْنِ عُمَرَ بِمَكَّةَ فَقُلْتُ لِلْغُلَامِ اسْتَأْذِنْ لِي قَالَ إِنَّهُ قَائِلٌ فَسَمِعَ صَوْتِي قَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ ادْخُلْ فَوَاللهِ مَا جَاءَ بِكَ

د سعید بن جبیر ؒ نه روایت دے ځما نه تپوس اوکړے شو د لعان کولو د مسئلے د مصعب بن زبیر د خلافت په زمانه کښ. زهٔ حیران شوم چه څهٔ جواب ورکړم نو زهٔ لاړم د عبد الله بن عمر د کور په طرف په مکه کښ. او د هغوی غلام ته مے اووے عبد الله ته ځما عرض اوکړه. هغهٔ اووے هغوی آرام کوی هغوی ځما آواز واوریدو او اوئے وئیل چه د جُبیر خوئ دے؟ ما اووے آو! هغوی اووے دننه راځه په خدائے قسم ته به د څهٔ کار دپاره راغلے ئے. زهٔ دننه لاړم نو هغوی په یو خور کړی شوی کمبل

---

[1] یعنی د لعان کړے شوے ښځے ماشوم یعنی هلك به د خپلے مور نه ترکه مومی. او هغه به دده نه ترکه مومی. اگر چه د زنا اولاد ترکه نهٔ مومی خود مور په گمان کښ خو هغه زناکار نهٔ دے. ځکه ئے میراث جاری کیږی او نسب به ئے هم د مور د طرف نه قائم وی.

[2] یعنی پخپله لعان جدائی ده د طلاق حاجت نهٔ وو او په یو روایت کښ دی چه تا لره په دے باندے هیڅ لار نشته یعنی اوس پکښ ستا ملك یعنی اختیار هډو باقی پاتے نهٔ شو نو طلاق بے موقعے دی.

هٰذِهِ السَّاعَةَ إِلَّا حَاجَةٌ فَدَخَلْتُ فَإِذَا هُوَ مُفْتَرِشٌ بَرْذَعَةً مُتَوَسِّدٌ وِسَادَةً حَشْوُهَا لِيفٌ قُلْتُ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْمُتَلَاعِنَانِ أَيُفَرَّقُ بَيْنَهُمَا قَالَ سُبْحَانَ اللهِ نَعَمْ إِنَّ أَوَّلَ مَنْ سَأَلَ عَنْ ذٰلِكَ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ أَنْ لَوْ وَجَدَ أَحَدُنَا امْرَأَتَهُ عَلَى فَاحِشَةٍ كَيْفَ يَصْنَعُ إِنْ تَكَلَّمَ تَكَلَّمَ بِأَمْرٍ عَظِيمٍ وَإِنْ سَكَتَ سَكَتَ عَلَى مِثْلِ ذٰلِكَ قَالَ فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُجِبْهُ فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ أَتَاهُ فَقَالَ إِنَّ الَّذِي سَأَلْتُكَ عَنْهُ قَدِ ابْتُلِيتُ بِهِ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ هٰؤُلَاءِ الْآيَاتِ فِي سُورَةِ النُّورِ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ فَتَلَاهُنَّ عَلَيْهِ وَوَعَظَهُ وَذَكَّرَهُ وَأَخْبَرَهُ أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ قَالَ لَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا كَذَبْتُ عَلَيْهَا ثُمَّ دَعَاهَا فَوَعَظَهَا وَذَكَّرَهَا وَأَخْبَرَهَا أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ قَالَتْ لَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنَّهُ لَكَاذِبٌ فَبَدَأَ بِالرَّجُلِ فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ

ناست وو او يوے تکيه ته ئے ډډه لګولے وه چه د کهجورو د پتونو نه ډکه وه ما اووے. اے ابو عبدالرحمٰنه په لعان کونکو کښې جدائی راتلے شي؟ هغوی اووے. سُبحٰن الله بيشکه جدائی راتلے شي. او د ټولو نه مخکښې په دے باب کښې فلانی تپوس اوکړو چه د فلانی ځوئ وو د رسول الله ﷺ نه هغهٔ اووے يا رسول الله ﷺ! تاسو څهٔ وايئ کچرے په مونږ کښې څوك خپله ښځه په بدکار کولو اووينی نو څهٔ به کوی کهٔ د هغے نه خبره اوباسی نو بده خبره به اوباسی. او کهٔ چپ پاتے کيږی نو په داسے بده خبره سره به څنګه چپ پاتے شي. رسول الله ﷺ ددے په اوريدو چپ پاتے شو او جواب ئے ورنهٔ کړو بيا هغه سړے د حضرت ﷺ خواله راغے او اوئے وئيل چه يا رسول الله ﷺ! د کومے خبرے تپوس چه ما ستا نه کړے دے په هغے کښې زهٔ پخپله پريوتے يم. پس الله تعالی دا ايتونه نازل کړل - وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ د اٰخره پورے حضرت ﷺ دا ايتونه هغه سړی ته واورول او هغهٔ ته ئے نصيحت اوکړو او پوهه ئے کړو چه د دنيا عذاب د آخرت د عذاب نه آسان دے (يعني کچرے تا د دروغو طعن ترلے وی نو اوس اووايه ده حدّ قذف اتيا کوړے به در باندے راشی مګر دا په دوزخ کښې د سيزلو نه آسانه ده) هغهٔ اووے نه قسم دے په هغه الله چه تهٔ ئے د رښتيا وينا سره راليږلے ئے ما په دے ښځه باندے طعن نهٔ دے لګولے. بيا حضرت ﷺ هغه ښځه رااوغوښته. او هغه ئے اويروله او پوهه ئے کړه او ورته ئے اوفرمائيل چه د دنيا عذاب آسان دے د آخرت د عذاب نه هغے اووے نهٔ قسم دے په هغه ذات چا چه تهٔ په رښتونے راليږلے ئے ځما خاوند دروغ وائی. بيا حضرت ﷺ شروع اوکړه د سړی نه او هغه څلور خله ګواهی ورکړه د الله تعالی د نوم سره او په پنځم ځل ئے دا اووے چه د الله تعالی لعنت د وی

وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَةَ اللهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ثُمَّ ثَنَّى بِالْمَرْأَةِ فَشَهِدَتْ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ غَضَبَ اللهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ ثُمَّ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا

په دۀ باندے کچرے دروغ وائی. بیائے ښځه را اوغوښتله او هغے د الله تعالی د نوم سره څلور گواهیانے ورکړے چه مقرر دا سړے دروغجن دے او په پنځم خلے داسے اووے چه د الله تعالی غضب د وی په دے باندے کچرے سړے رښتونے وی. ددے نه پس حضرت ﷺ ددغه دواړو په مینځ کښ جدائی راوسته[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمُتَلَاعِنَيْنِ حِسَابُكُمَا عَلَى اللهِ أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ لَا سَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَالِي قَالَ لَا مَالَ لَكَ إِنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا وَإِنْ كُنْتَ كَذَبْتَ عَلَيْهَا فَذَاكَ أَبْعَدُ لَكَ مِنْهَا قَالَ زُهَيْرٌ فِي رِوَايَتِهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ يَقُولُ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ لعان کونکو ته اوفرمائیل چه ستاسو د دواړو حساب په الله تعالی باندے دے. په تاسو کښ یو دروغژن دے. حضرت ﷺ خاوند ته اوفرمائیل ! اوس ستا څۀ وس په ښځه باندے نشته دے ولے چه هغه ستا نه همیشه دپاره جدا شوله. سړی اوے څما مال یا رسول الله ﷺ ! کوم چه دے (یعنی ښځے) اخستے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل مال تاته نه میلاویږی ولے چه کچرے ته رښتونے ئے نو مال دله حلال شوے دے. او کۀ چرے تۀ دروغژن ئے. نو مال نور هم لرے شو. (بلکه په تا نور وبال راغے د دروغو وئیلو)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ فَرَّقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَخَوَيْ بَنِي الْعَجْلَانِ وَقَالَ اللهُ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ جدائی اوکړله د بنی عجلان په ښځه او سړی کښ. او اوئے فرمائیل الله تعالی پوهه دے چه په تاسو کښ کوم یو دروغژن دے. پس ولے ستاسو نه یو توبه نۀ کوی؟

---

[1] یعنی نور چه څوك عیب لگوی په خپلو ښځو او گواه نۀ وی سوا د خپل ځان نه. نو داسے گواهی دِ ورکړی د الله په نوم سره څلور ځله چه مقرر دا سړے رښتونے دے. او په پنځم ځل دِ داسے اووائی چه د الله تعالی لعنت دِ وی په دے سړی باندے کچرے دے دروغجن وی. او هیڅ کله به نۀ وو د الله فضل په تاسو او ددے مهر او دا چه الله تعالی معاف کونکے دے. خاوند د حکمتونو هر څۀ چه وی (موضح القرآن) دا دلیل دے د ابوحنیفه چه په لعان کښ چه هر کله حاکم جدائی راولی نو دغه وخت جدائی کیدے شی. او ددے حدیث نه معلومه شوه چه رومبی خاوند لره گواهیانے ورکول پکار دی بیا ښځے لره کچرے ښځه رومبی گواهی ورکړی نو لعان به صحیح نۀ وی او ابوحنیفه په نز د صحیح دے.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ عَنِ اللِّعَانِ فَذَكَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

د سعید بن جبیرؒ نه روایت دے چه ما د ابن عمرؓ نه د لعان تپوس اوکړو. نو هغوی نقل اوکړو د جناب رسول الله ﷺ نه په داسے شان لکه څنګه چه پورته تیر شو.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ لَمْ يُفَرِّقِ الْمُصْعَبُ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ قَالَ سَعِيدٌ فَذُكِرَ ذٰلِكَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ فَقَالَ فَرَّقَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَخَوَيْ بَنِي الْعَجْلَانِ

د سعید بن جبیر نه روایت دے چه مصعب به جدائی نۀ کوله په مینځ د لعان کونکو کښې. ما دد ے ذکر اوکړو عبد الله بن عمر ته هغوی اووے چه جناب رسول الله ﷺ جدائی کړے ده د بنی عجلان د سړی او ښځے په مینځ کښې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا لَاعَنَ امْرَأَتَهُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَّقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِأُمِّهِ قَالَ نَعَمْ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه یو سړی د خپلے ښځے سره لعان اوکړو د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې بیا حضرت ﷺ جدا والے اوکړو په مینځ د دواړو کښې. او د بچی نسب ئے د مور سره اولګوؤ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَاعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَامْرَأَتِهِ وَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ لعان اوکړلو د یو انصاری سړی او د هغهٔ د ښځے په مینځ کښې او جدائے کړل دواړو لره.

عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ

د عبید الله نه په دے اسناد سره هغه مضمون دے کوم چه پورته تیر شو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ إِنَّا لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ فِي الْمَسْجِدِ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ لَوْ أَنَّ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا فَتَكَلَّمَ جَلَدْتُمُوهُ أَوْ قَتَلَ قَتَلْتُمُوهُ وَإِنْ سَكَتَ سَكَتَ عَلَى غَيْظٍ وَاللهِ لَأَسْأَلَنَّ عَنْهُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے چه زهٔ د جمعے په شپه په جماعت کښې وم چه په دے کښې یو انصاری سړے راغے او اوئے فرمائیل کچرے یو سړے د خپلے ښځے سره چا سړی لره اووینی. او بیائے د خُلے نه اوباسی یعنی خلقو ته ؤوائی نو تاسو به په هغوی کوړے لګوئ (یعنی د حد قذف) او کچرے مړۀئے کړی نو تاسو به ئے وژنئ (یعنی په قصاص کښې) او کچرے چپ پاتے شی نو په غصه قلبو کولو کښې به چپ وی قسم په خدائے چه زهٔ به د رسول الله ﷺ نه تپوس کوم دد ے مسئلے په باره کښې. په دویمه ورځ د رسول الله ﷺ خواله راغے. او د

فَسَأَلَهُ فَقَالَ لَوْ أَنَّ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا فَتَكَلَّمَ جَلَدْتُمُوهُ أَوْ قَتَلَ قَتَلْتُمُوهُ أَوْ سَكَتَ سَكَتَ عَلَى غَيْظٍ فَقَالَ اللَّهُمَّ افْتَحْ وَجَعَلَ يَدْعُو فَنَزَلَتْ آيَةُ اللِّعَانِ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ هٰذِهِ الْآيَاتُ فَابْتُلِيَ بِهِ ذٰلِكَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْنِ النَّاسِ فَجَاءَ هُوَ وَامْرَأَتُهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَلَاعَنَا فَشَهِدَ الرَّجُلُ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ثُمَّ لَعَنَ الْخَامِسَةَ أَنَّ لَعْنَةَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ فَذَهَبَتْ لِتَلْعَنَ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَهْ فَأَبَتْ فَلَعَنَتْ فَلَمَّا أَدْبَرَا قَالَ لَعَلَّهَا أَنْ تَجِيءَ بِهِ أَسْوَدَ جَعْدًا فَجَاءَتْ بِهِ أَسْوَدَ جَعْدًا

هغوی نه ئے تپوس اوکړو چه کچرے څوك د خپلے ښځے سره یو سړے اومومی او بیائے د خلے نه یعنی خلقو ته ووائی او باسی نو تاسو به پړے کوړے لګوئ او که چرے مړ ئے کړی نو تاسو به دهٔ لره هم وژنئ که چرے چپ پاتے شی نو په خپله غصه څنبلو کښ به چپ وی (دا خو هم نهٔ شی کیدے) حضرت ﷺ اوفرمائیل یا الله پرانزے (دے مسئلے لره) او دُعائے اوکړه پس د لعان ایت نازل شو ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنْفُسُهُمْ﴾ د آخره پورے. بیائے د خلقو په مخکښ د هغه سړی نه او د هغه د ښځے نه امتحان واخستو او دواړه د رسول الله ﷺ خواله راغلو او لعان ئے اوکړو. رومبئ سړی څلور خله ګواهی ورکړه چه بیشکه دے (یعنی زهٔ) رښتونے دے. او په پنځم څل ئے په لعنت سره اووے کچرے دے دروغژن وی نو په دهٔ باندے دِ د الله لعنت وی. بیا ښځه لاړه د لعان کولو دپاره. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل اودریږه (او که چرے خاوند دِ رښتونے وی نو د خپل قصور اقرار اوکړه) لیکن هغے او نهٔ منل او لعان ئے اوکړو. هر کله چه هغه په شا شوله لاړه نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چه کیدے شی دد ے ښځے بچے تور رنګے ګُر ګوتو ویختو والا پیدا شی (د هغه سړی په شکل په چا چه ئے د خاوند ګمان وو) بیا هم هغه شان تور او ګور ګوتو ویختو والا پیدا شو.

عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ وَأَنَا أُرَى أَنَّ عِنْدَهُ مِنْهُ عِلْمًا فَقَالَ إِنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَأَتَهُ بِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ وَكَانَ أَخَا الْبَرَاءِ بْنِ مَالِكٍ لِأُمِّهِ وَكَانَ أَوَّلَ رَجُلٍ لَاعَنَ فِي الْإِسْلَامِ قَالَ فَلَاعَنَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْصِرُوهَا

د محمد نه روایت دے چه ما د انس بن مالك نه تپوس اوکړو په دے خیال چه دهٔ ته معلومه ده هغوی اووے چه هلال بن امیه نسبت د زنا اوکړو خپلے ښځے ته د شریك بن سحماء سره او هلال بن اُمیه د براء بن مالك د مور خوئے رور وو. او هغه د ټولو نه مخکښ لعان اوکړو په اسلام کښ. راوی وائی چه بیا دواړو خاوند او ښځے لعان اوکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا ښځه د نظر لاندے اوساتئ

فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَبْيَضَ سَبِطًا قَضِيءَ الْعَيْنَيْنِ فَهُوَ لِهِلَالِ بْنِ أُمَيَّةَ وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَكْحَلَ جَعْدًا حَمْشَ السَّاقَيْنِ فَهُوَ لِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ قَالَ فَأُنْبِئْتُ أَنَّهَا جَاءَتْ بِهِ أَكْحَلَ جَعْدًا حَمْشَ السَّاقَيْنِ

کۀ چرے دا بچے په رنګ سپين نيغو ويختو والا او سرو سترګو والا پيدا شو نو د هلال بن اميه دے او کچرے تورو سترګو والا، ګور ګوتو ويختو والا او نرو پنډو والا پيدا شو نو د شريك بن سحماء دے. انس وائی ماته خبر راغے چه د هغے ښځے هلك تور سترګے ګور ګوتو ويښتو او نرو پنډو والا پيدا شو[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ ذُكِرَ التَّلَاعُنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَاصِمُ بْنُ عَدِيٍّ فِي ذٰلِكَ قَوْلًا ثُمَّ انْصَرَفَ فَأَتَاهُ رَجُلٌ مِنْ قَوْمِهِ يَشْكُو إِلَيْهِ أَنَّهُ وَجَدَ مَعَ أَهْلِهِ رَجُلًا فَقَالَ عَاصِمٌ مَا ابْتُلِيتُ بِهٰذَا إِلَّا لِقَوْلِي فَذَهَبَ بِهِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِالَّذِي وَجَدَ عَلَيْهِ امْرَأَتَهُ وَكَانَ ذٰلِكَ الرَّجُلُ مُصْفَرًّا قَلِيلَ اللَّحْمِ سَبِطَ الشَّعَرِ وَكَانَ الَّذِي ادَّعٰى عَلَيْهِ أَنَّهُ وَجَدَ عِنْدَ أَهْلِهِ خَدْلًا آدَمَ كَثِيرَ اللَّحْمِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ بَيِّنْ فَوَضَعَتْ شَبِيهًا بِالرَّجُلِ الَّذِي ذَكَرَ زَوْجُهَا أَنَّهُ وَجَدَهُ عِنْدَهَا فَلَاعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا فَقَالَ رَجُلٌ لِابْنِ عَبَّاسٍ فِي الْمَجْلِسِ أَهِيَ الَّتِي قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ رَجَمْتُ أَحَدًا بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ رَجَمْتُ هٰذِهِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَا تِلْكَ امْرَأَةٌ

د ابن عباس نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ په خوا کښې د لعان ذکر اوشو. عاصم بن عدی په دے کښې څۀ اووے. بيا هغوی لاړل پس د هغوی خواله د هغوی د قوم يو سړے راغے. او شکايت ئے اوکړو چه هغوی د خپلے بی بی سره يو سړے اوليدو. عاصم وائی زۀ په دے بلا کښې مبتلا شوم د خپلے خبرے په وجه سره. بيا عاصم د هغۀ سره د رسول الله ﷺ خواله راغے. او هغه سړی تول حال حضرت ﷺ ته بيان کړو د هغه سړی زيړ رنګ. د غوښے نه خوار او نيغو ويختو والا وو. او په چا چه ئے دعوه کړے وه هغه د غوښے نه آباد، پنډور، غنم رنګے او خورب وو. جناب رسول الله ﷺ اوفرمائيل يا الله ته ئے ښکاره کړه. پس هغے ښځے بچے اوزيږوو چه مشابه وو د هغه سړی چه په چا باندے تهمت وو. بيا رسول الله ﷺ د هغوی دواړو په مينځ کښې لعان اوکړو. يو سړی اووے اے ابن عباس آيا دا ښځه هغه ښځه وه د چا په باره کښې چه جناب رسول الله ﷺ فرمائيلی وو کچرے ما چا لره بغير د ګواهانو نه سنګسار کولے نو دا ښځه به مے سنګسار کړے وه. ابن عباس اووے نه هغه بله ښځه وه چه په مسلمانانو کښې په بدئ سره مشهوره وه (يعنی خلقو به

[1]: دا حضرت ﷺ په قيافه سره اوفرمائيل. او دد ے حديث نه معلومه شوه چه د قيافے علم صحيح دے. او دد ے موافق ګمان کيدے شي

كَانَتْ تُظْهِرُ فِي الْإِسْلَامِ السُّوءَ

وئيل چه دا فاحشه ده نه پرے گواه وو او نه پر چا اقرار کړے وو)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ ذُكِرَ الْمُتَلَاعِنَانِ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ اللَّيْثِ وَزَادَ فِيهِ بَعْدَ قَوْلِهِ كَثِيرَ اللَّحْمِ قَالَ جَعْدًا قَطَطًا

د ابن عباس نه د تير شوی پورته روايت په شان روايت دے. په دے کښې دومره زياته ده چه هغه سړے د چا سره چه تهمت وو شورب او سختو گورگوتو وينستو والا وو.

عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ شَدَّادٍ وَذُكِرَ الْمُتَلَاعِنَانِ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ ابْنُ شَدَّادٍ أَهُمَا اللَّذَانِ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَوْ كُنْتُ رَاجِمًا أَحَدًا بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ لَرَجَمْتُهَا فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَا تِلْكَ امْرَأَةٌ أَعْلَنَتْ قَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ فِي رِوَايَتِهِ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ

د قاسم بن محمد نه روايت دے د ابن عباس په مخکښې د لعان والا وو ذکر اوشو نو عبد الله بن شداد اووے هم په دغے کښې هغه ښځه وه د چا دپاره چه رسول الله فرمائيلی وو کچرے ما چا لره بغير د گواهانو نه رجم کولے. نو دا ښځه به مے رجم کړے وه. ابن عباس اووے نه هغه ښځه بله وه. کومه چه ښکاره بدکاره وه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ الْأَنْصَارِيَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ يَجِدُ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا قَالَ سَعْدٌ بَلَى وَالَّذِي أَكْرَمَكَ بِالْحَقِّ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَعُوا إِلَى مَا يَقُولُ سَيِّدُكُمْ

د ابوهريره نه روايت دے چه سعد بن عباده انصاري (د انصارو رئيس) وئيلی دی کچرے يو سړے د خپلے بی بی سره څوك سړے اووينی (په زنا کولو سره) آيا هغه به وژنی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيلی نه سعد اووے نه به ئے وژنی؟ قسم دے په هغه رب چا چه تا لره په رښتيا سره عزت درکړے دے (وژنی به ئے). رسول الله ﷺ اوفرمائيل (نورو صحابو ته) واورئ ستاسو سردار څهٔ وائی (يعني حيران يمه دوی ته چه داسے خبره کوی د الله تعالی د حکم په مخکښې طبيعت او غصے لره دخل ورکول نهٔ دی پکار)[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ وَجَدْتُ مَعَ امْرَأَتِي رَجُلًا أَوُمْهِلُهُ حَتَّى آتِيَ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ قَالَ نَعَمْ

د ابوهريره نه روايت دے چه سعد بن عباده اووے چه يا رسول الله ﷺ کهٔ زهٔ د خپلے ښځی سره غير سړے اووينم نو آيا هغهٔ ته به مهلت ورکوم د څلورو گواهانو د حاضرولو پورے؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل آو.

[1]: د سعد دا وئيل د مخالفت په طور سره نهٔ وو ولے چه مخالفت د پيغمبر کفر دے بلکه د طبيعت او غيرت په جوش سره وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ وَجَدْتُ مَعَ أَهْلِي رَجُلًا لَمْ أَمَسَّهُ حَتَّى آتِيَ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ قَالَ كَلَّا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنْ كُنْتُ لَأُعَاجِلُهُ بِالسَّيْفِ قَبْلَ ذٰلِكَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَعُوا إِلَى مَا يَقُولُ سَيِّدُكُمْ إِنَّهُ لَغَيُورٌ وَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللهُ أَغْيَرُ مِنِّي

د حضرت ابوهريرة نه روايت دے. چه سعد بن عباده اووے يا رسول الله ! چه زهٔ د خپلے ښځے سره څوك سړے اووينم نو زهٔ په هغه لاس نهٔ لګوم د کومے پورے چه مے څلور ګواهان نهٔ وی راوستی؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل او ! سعد اووے هر ګز نه. زهٔ خو قسم خورم په هغه ذات چا چه تهٔ په حقه سره راليږلے ئے. دا دے نه مخکښ به زر د هغه علاج په توره سره اوکړم. رسول الله ﷺ اوفرمائيل واورئ ستاسو سردار څهٔ وائي هغوی ډير غيرت والا دے اوزهٔ د هغوی نه زيات غيرتناك يم او الله ځما نه زيات غيرت لرونکے دے[1].

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ لَوْ رَأَيْتُ رَجُلًا مَعَ امْرَأَتِي لَضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ غَيْرَ مُصْفِحٍ عَنْهُ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَتَعْجَبُونَ مِنْ غَيْرَةِ سَعْدٍ فَوَاللهِ لَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللهُ أَغْيَرُ مِنِّي مِنْ أَجْلِ غَيْرَةِ اللهِ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا شَخْصَ أَغْيَرُ مِنَ اللهِ وَلَا شَخْصَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْعُذْرُ مِنَ اللهِ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ بَعَثَ اللهُ الْمُرْسَلِينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَلَا شَخْصَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللهِ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ وَعَدَ اللهُ الْجَنَّةَ

د مغيره بن شعبه نه روايت دے چه سعد بن عباده اووے چه کچرے زهٔ د خپلے بی بی سره څوك سړے اووينم نو په توره به ئے اووهم چرته به ئے هم پرينږدم. دا خبر رسول الله ﷺ ته اورسيدو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل تاسو د سعد غيرت ته حيرانيږئ. په الله قسم دے چه زهٔ د هغوی نه زيات غيرتی يم او الله ځما نه زيات غيرتی دے. حرامے کړی دی الله د بے شرمئ خبرو لره پټے او ښکاره د هغه د غيرت د وجے نه او يو سړے د الله تعالی نه زيات غيرتی نشته دے او د الله تعالی نه زيات څوك عذر خوښونکے نشته دے. ځکه الله تعالی پيغمبرانو لره راليګلی دی زيرے ورکونکی او يرونکی (دا دے د پاره چه بنديګان د سزاء نه مخکښ د هغه په درګاه کښ عذر اوکړی او توبه اوباسی) او هيڅوك د الله تعالی نه زيات تعريف پسند نشته دے ځکه الله تعالی د جنت وعده کړے ده (دا دے د پاره چه بنديګان د هغه تعريف او عبادات اوکړی او جنت حاصل کړی)

[1]: يعنی منع کوی خپلو بنديګانو لره د ګناهونو نه او بدګنری ګناهونو لره. نووی ونيلی دی دا تاويل ئے ځکه اوکړو چه غيرت د بنديګانو په حق کښ تغير او حرکت دے. او دا محال دے د الله په حق.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي فَزَارَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَمَا أَلْوَانُهَا قَالَ حُمْرٌ قَالَ هَلْ فِيهَا مِنْ أَوْرَقَ قَالَ إِنَّ فِيهَا لَوُرْقًا قَالَ فَأَنَّى أَتَاهَا ذٰلِكَ قَالَ عَسٰى أَنْ يَكُونَ نَزَعَهُ عِرْقٌ قَالَ وَهٰذَا عَسٰى أَنْ يَكُونَ نَزَعَهُ عِرْقٌ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه د بنی فزاره يو سړے د رسول اللهﷺ خواله راغے او اوئے اوئيل چه ځما ښځے يو تور بچے زيږولے دے (نو هغه ځما نه معلوميږی ولے چه زۀ تور نۀ يم) رسول اللهﷺ اوفرمائيل ستا اوښان شته؟ هغوی اووے آو. حضرتﷺ اوفرمائيل د هغوی رنګ څنګه دے؟ هغوی اووے سرخ دی حضرتﷺ اوفرمائيل په هغے کښې يو غنم رنګے هم دے؟ هغۀ اووے آو. غنم رنګے په کښې شته. حضرتﷺ اوفرمائيل بيا دا رنګ د کوم ځائے نه راغے؟ هغۀ اووے چرته يو رګ به راښکو دے وی. حضرتﷺ اوفرمائيل ستا په بچی کښې به هم چرته يو رګ دا رنګ راښکودے وی[1].

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ مَعْمَرٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ وَلَدَتِ امْرَأَتِي غُلَامًا أَسْوَدَ وَهُوَ حِينَئِذٍ يُعَرِّضُ بِأَنْ يَنْفِيَهُ وَزَادَ فِي آخِرِ الْحَدِيثِ وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ فِي الْانْتِفَاءِ مِنْهُ

زهری د ابن عيينه د حديث په شان روايت کړے دے په دے کښې دومره فرق دے چه اوئے وئيل اے د الله رسولهﷺ ځما ښځے تور هلك زيږولے دے. او ځما اراده ده چه د هغه نه انکار اوکړم او په دويم حديث کښې دومره زياته ده. چه بيا رسول اللهﷺ هغۀ ته انکار کولو اجازت ورنۀ کړو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ وَإِنِّي أَنْكَرْتُهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ مَا أَلْوَانُهَا قَالَ حُمْرٌ قَالَ فَهَلْ فِيهَا مِنْ أَوْرَقَ قَالَ نَعَمْ قَالَ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول اللهﷺ له يو اعرابی راغے او اوئے وئيل يا رسول اللهﷺ! ځما ښځے تور بچے زيږولے دے او زۀ د هغه نه انکار کوم. نو رسول اللهﷺ هغۀ ته اوفرمائيل ستاسو سره اوښان شته؟ هغه سړی ووئيل او نو رسولﷺ او فرمائيل د هغوی رنګ څنګه دے؟ هغۀ اووے سُور دے حضرتﷺ ورته اوفرمائيل چه په هغوی کښې يو تور هم شته؟ هغۀ اووے آو. نو رسول اللهﷺ ورته

[1] يعنی صرف د رنګ په مختلف کيدو سره دے خبرے يقين نۀ شی کيدے چه هلك ستا نۀ دے. د ملك او هوا په مختلف کيدو سره د بچی رنګ مختلف کيږی. او کله د نيکۀ د کورنو تاثير پرے هم پرے وځی. نووی وئيلی دی کچرے د پلار مور دواړو رنګ سپين وی او د هلك رنګ تور وی يا پلار او مور دواړه تور وی او هلك سپين وی بيا به هم د هلك نسب د پلار د طرفنه وی و د شك په قذف کولو سره قذف نۀ شی کيدے. او دغه قول دے د امام شافعی.

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنَّى هُوَ قَالَ لَعَلَّهُ يَا رَسُوْلَ اللهِ يَكُوْنُ نَزَعَهُ عِرْقٌ لَهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهٰذَا لَعَلَّهُ يَكُوْنُ نَزَعَهُ عِرْقٌ لَهُ

اوفرمائیل دا رنګ پکښې د کوم ځائے نه راغے؟ اعرابی اووے چه یا رسول الله ﷺ! چرته یو رګ به راښکو دے وی. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل دلته به هم چرته یو رګ (دا رنګ) راښکودے وی.



كِتَابُ الْعِتقِ

د غلام د آزادولو بیان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ فَكَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ قُوِّمَ عَلَيْهِ قِيمَةَ الْعَدْلِ فَأَعْطَى شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ وَعَتَقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ وَإِلَّا فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ

د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کوم بنده چه غلام آزاد کړی د خپلے حصے نه (یعنی چه هغه غلام مشترك وی او یو شراکتی خپله حصه آزاده کړی) او بیا د آزادولو والاسره دومره قدرے مال موجود وی چه هغه د غلام قیمت ته اورسی. نو دده غلام واجبی قیمت به اولګولے شی. او باقی شراکت کونکو ته به د هغوی د حصے قیمت د هغهٔ د مال نه ورکړے شی او غلام به تول د هغهٔ د طرفنه آزاد شی. او کوم چه هغه مالدار نهٔ وی نو څومره حصه چه د دغه غلام آزاده شوه دومره به آزاد اوسیږی[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الْمَمْلُوكِ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ فَيُعْتِقُ أَحَدُهُمَا قَالَ يَضْمَنُ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کوم غلام چه د دوؤ سړو مشترك وی بیا چه یو دد دے دواړو نه خپله حصه آزاده کړی نو هغه به ضامن وی د بل شریك د حصے (کهٔ مالدار وی)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا لَهُ فِي عَبْدٍ فَخَلَاصُهُ فِي مَالِهِ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی څوك چه خپله حصه په غلام کښ آزاده کړی د هغهٔ ازادول (یعنی د دویم حصه هم آزادول) به هم د هغهٔ د مال نه وی کچرے مالدار وی او کچرے مالدار نهٔ وی نو غلام به محنت او مزدوری کوی او په دهٔ باندے جبر مهٔ کوئ.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ قُوِّمَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ قِيمَةَ عَدْلٍ ثُمَّ يُسْتَسْعَى فِي نَصِيبِ الَّذِي

د سعیدؓ نه په دغه اسناد سره هغه مضمون مروی دے کوم چه پورته تیر شو. او په دے کښ دومره زیاته ده چه کچرے هغه ازادونکے مالدار نهٔ وی نو د غلام واجبی قیمت اولګوئ او محنت د کوی د خپلے باقی

[1] او د نورو دپاره به هغه غلام د محنت او مزدورئ کولو سره خپل خان آزادولے شی مګر په دهٔ باندے به ظلم نهٔ وی لکه څنګه چه په دویم روایت کښ دی. او نووی په دے کښ د عالمانو ګڼړ قولونه ذکر کړی دی.

لَم يُعتِقْ غيرَ مشقُوقٍ عليهِ

حصے دپاره کومه چه آزاده شوے نۀ ده مګر په دۀ به جبر نۀ کیږی[1]

بَاب إِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ

باب: ولاء هغه چا ته به میلاویږی څوك چه ئے آزاد کړی[2]

عَنْ قَتَادَةَ يُحَدِّثُ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ بِمَعْنَى حَدِيثِ ابْنِ أَبِي عَرُوبَةَ وَذَكَرَ فِي الْحَدِيثِ قُوِّمَ عَلَيْهِ قِيمَةَ عَدْلٍ

قتاده د ابن عروبه د حدیث په مثل روایت کړے دے او په حدیث کښں ئےدا هم ذکر کړی دی چه د هغۀ واجبی قیمت به اولګولے شی.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا أَرَادَتْ أَنْ تَشْتَرِيَ جَارِيَةً تُعْتِقُهَا فَقَالَ أَهْلُهَا نَبِيعُكِهَا عَلَى أَنَّ وَلَاءَهَا لَنَا فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا يَمْنَعُكِ ذٰلِكِ فَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے چه هغوی اراده اوکړه د یوے وینځے د آزادولو. د وینځے مالکانو اووے چه مونږ ئے په دے شرط باندے خو څوؤ چه د ولاء حق به زمونږ وی. هغوی رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل تۀ خپل کار اوکړه هغه واخله او ولاء هغه چا ته میلاویږی چه څوك ئے آزاده کړی.

عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ بَرِيرَةَ جَاءَتْ عَائِشَةَ تَسْتَعِينُهَا فِي كِتَابَتِهَا وَلَمْ تَكُنْ قَضَتْ مِنْ كِتَابَتِهَا شَيْئًا فَقَالَتْ لَهَا عَائِشَةُ ارْجِعِي إِلَى أَهْلِكِ فَإِنْ أَحَبُّوا أَنْ أَقْضِيَ عَنْكِ كِتَابَتَكِ وَيَكُونَ وَلَاؤُكِ لِي فَعَلْتُ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ بَرِيرَةُ لِأَهْلِهَا فَأَبَوْا وَقَالُوا إِنْ شَاءَتْ أَنْ تَحْتَسِبَ عَلَيْكِ فَلْتَفْعَلْ وَيَكُونَ لَنَا وَلَاؤُكِ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د عروه نه روایت دے چه بریره د مومنانو د مور حضرت عائشے خواله راغله د مدد غوښتلو دپاره په بدل کتابت کښں (او هغے د خپلو لیکلو نه څۀ ادا کړی نۀ وو (بلکه ټولے روپۍ باقی پاتے وے) حضرت عائشے هغے ته اووے تۀ د خپلو خلقو ته لاړه شه او کچرے هغوی ته منظوره وی نو زۀ به ټولے روپۍ ستا د کتابت ادا کړم خو بیا به ستا ولاء ما ته میلاویږی. بریرے خپلو مالکانو ته اووے خو هغوی او نۀ منل. او اوئے وئیل کچرے حضرت عائشه غواړی نو ستا سره دسلوك اوکړی. لیکن ولاء خو به مونږ اخلو. حضرت عائشے رض دا دے ذکر رسول الله ﷺ ته بیان کړو. حضرت ﷺ ورته

---

[1] : فرض کړه چه غلام د زید او د عمرو نیم په نیمه مشترك وو زید خپله حصه ازاده کړه نور د زید سره مال نشته نو د غلام قیمت به واجبی اولګوی. فرض کړه سل روپۍ شوے. اوس دغه غلام به محنت مزدوری اوکړی پنځوس روپۍ به عمرو ته ادا کړی نو ټول به آزاد شی ورنه څومره چه آزاد شوے دے دومره آزاد به اوسیږی.

[2] : ولاء یو شرعی حق دے چه هغه آزادونکی ته په خپل غلام باندے حاصلیږی. او هغه دا دے چه آزادونکے د خپل غلام عصبه وارث جوړیږی.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْتَاعِي فَأَعْتِقِي فَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا بَالُ أُنَاسٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَتْ فِي كِتَابِ اللهِ مَنْ اشْتَرَطَ شَرْطًا لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ فَلَيْسَ لَهُ وَإِنْ شَرَطَ مِائَةَ مَرَّةٍ شَرْطُ اللهِ أَحَقُّ وَأَوْثَقُ

اوفرمائیل ته ئې واخله او آزاده ئې کړه. ولاء هغه چا ته میلاویږی چه څوک ئې آزاده کړی. بیا رسول الله ﷺ اودریدو او اوئې فرمائیل څه حال دے د خلقو چه هغه شرطونه لګوی چه هغه د الله تعالی په کتاب کښې نشته دے. څوک چه داسې شرط کوی هغه لغوه دے اګر چه سل خله د هغې شرط اوکړی. شرط هغه صحیح او مضبوط دے کوم چه الله تعالی لګولے دے[1].

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ جَاءَتْ بَرِيرَةُ إِلَيَّ فَقَالَتْ يَا عَائِشَةُ إِنِّي كَاتَبْتُ أَهْلِي عَلَى تِسْعِ أَوَاقٍ فِي كُلِّ عَامٍ أُوقِيَّةٌ بِمَعْنَى حَدِيثِ اللَّيْثِ وَزَادَ فَقَالَ لَا يَمْنَعُكِ ذَلِكِ مِنْهَا ابْتَاعِي وَأَعْتِقِي وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے چه بریره ځما خواله راغله او اوئې وئیل چه اے عائشې ما د خپلو مالکانو سره کتابت کړے دے په نهه اوقیو باندے په هر کال کښې په یوه اوقیه (یعنی څلویښت درم) هغه شان لکه چه پورته تیر شو. په دے روایت کښې دومره زیاته ده چه جناب رسول الله ﷺ حضرت عائشې ته اوفرمائیل د هغوی په وینا سره ته خپله اراده مه پریږده واخله ئې او آزاده ئې کړه. او په دے روایت کښې دادی چه بیا جناب رسول الله ﷺ د خلقو په مینځ کښې اودریدو او د الله تعالی حمدو ثنائې اوکړه. او روستو د دے نه ئې اوفرمائیل څه حال دے د خلقو د آخره پورے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَتْ عَلَيَّ بَرِيرَةُ فَقَالَتْ إِنَّ أَهْلِي كَاتَبُونِي عَلَى تِسْعِ أَوَاقٍ فِي تِسْعِ سِنِينَ فِي كُلِّ سَنَةٍ أُوقِيَّةٌ فَأَعِينِينِي فَقُلْتُ لَهَا إِنْ شَاءَ أَهْلُكِ أَنْ أَعُدَّهَا لَهُمْ عَدَّةً وَاحِدَةً وَأُعْتِقَكِ وَيَكُونَ الْوَلَاءُ لِي

د مومنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے چه بریره ځما خواله راغله او دائې اووے ځما مالکانو زۀ مکاتبه کړے یمه په نهه اوقیو باندے. په هر کال کښې په یوه اوقیه نو ته ځما مدد اوکړه. ما اووے که چرے ستا مالک راضی وی نو زۀ به دا ټول رقم په یو ځائې درکړم او تا به آزاده کړم. لیکن ستا ولاء به زۀ اخلم. بریرے ؓ دد ے

---

[1] : کتابت وئیلے شی د غلام یا وینځې د څۀ مقرر شوو روپو په ادا کولو سره د هغوی ازادی معلق کولو ته. مثلاً دومره موده کښې ما ته راکړه نو ته آزاد ئې. اوس دغه غلام مکاتب شو. او کومې روپئ ئې چه مقرر کړی دی هغه به بدل د کتابت وی. نووی ؒ وئیلی دی چه دا حدیث ډیر لوئې حدیث دے. او د دے نه ډیر مسائل علمائې کرامو راویستلی دی. بیائې بیان کړی دے تولو په ډیر لوئې اوږد والی سره.

فَعَلَتُ فَذَكَرَتُ ذَلِكَ لِأَهْلِهَا فَأَبَوَا إِلاَّ أَنْ يَكُونَ الْوَلَاءُ لَهُمْ فَأَتَتْنِي فَذَكَرَتْ ذَلِكَ قَالَتَ فَانتَهَرَتُهَا فَقَالَتْ لَا هَا اللهِ إِذَا قَالَتَ فَسَمِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَنِي فَأَخْبَرَتُهُ فَقَالَ اشْتَرِيهَا وَأَعْتِقِيهَا وَاشْتَرِطِي لَهُمُ الْوَلَاءَ فَإِنَّ الْوَلَاءَ لِمَنْ أَعْتَقَ فَفَعَلَتُ قَالَتَ ثُمَّ خَطَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشِيَّةً فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَمَا بَالُ أَقْوَامٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَتْ فِي كِتَابِ اللهِ مَا كَانَ مِنْ شَرْطٍ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَهُوَ بَاطِلٌ وَإِنْ كَانَ مِائَةَ شَرْطٍ كِتَابُ اللهِ أَحَقُّ وَشَرْطُ اللهِ أَوْثَقُ مَا بَالُ رِجَالٍ مِنْكُمْ يَقُولُ أَحَدُهُمْ أَعْتِقْ فُلَانًا وَالْوَلَاءُ لِي إِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ

خبرے ذکر خپلو مالکانو ته اوکړو. هغوی او نه منلو. او دائے اووے چه ولاء به مونږ اخلو. بیا بریره څما خواله راغله او دا بیان ئے اوکړو ما هغه اورټله هغوی اووے قسم په خدائے کۀ داسے نۀ وی. حضرت عائشه وائی دا جناب رسول الله ﷺ واؤریدل او څمانه ئے تپوس اوکړو او ما ورته ټول حال بیان کړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل ته ئے واخله او آزاده ئے کړه او د ولاء شرط د هغوی دپاره اوکړه ولے چه ولاء هغه چا ته میلاویږی چه څوك ئے آزاده کړی. ما دغه شان اوکړل. دد ے نه پس رسول الله ﷺ د مابنام په وخت خطبه اولوسته او د الله تعالی تعریف او ثنائے بیان کړه لکه څنګه چه هغۀ لره ښائی بیائے اوفرمائیل روستو دد ے نه څۀ حال د ے د خلقو چه هغه هغه شرطونه لګوی چه هغه د الله تعالی په کتاب کښ نشته د ے. او کوم شرط چه د الله تعالی په کتاب کښ نشته د ے هغه باطل د ے. اګر کۀ سل ځله ئے شرط کړ ے وی د الله تعالی کتاب حق او د هغۀ شرط مضبوط د ے څۀ حال د ے ستاسو نه د ځنې خلقو چه وائی آزاده ئے تۀ کړه او ولاء به ئے مونږ اخلو حالانکه ولاء هغه چا ته میلاویږی چه څوك ئے آزاد کړی.

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي أُسَامَةَ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ جَرِيرٍ قَالَ وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا وَلَوْ كَانَ حُرًّا لَمْ يُخَيِّرْهَا وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِمْ أَمَّا بَعْدُ

د هشام نه په د ے اسناد سره د پورتنی حدیث مضمون روایت کړ ے شو مګر په د ے کښ دومره زیاته ده چه د بریر ے خاوند غلام وو. دد ے وجے نه رسول الله ﷺ بریر ے ته اختیار ورکړو (هر کله چه هغه آزاده شوه خواه کۀ د هغۀ سره نکاح قائم ساتی یائے فسخ کوی) هغے خپل نفس لره اختیار کړو (یعنی خاوند ئے غوره نۀ کړو) او کچر ے هغه ازاده و ے نو حضرت ﷺ به هغے ته اختیار نۀ وو ورکړ ے. او په د ے روایت کښ د اما بعد لفظ نشته د ے.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ قَضِيَّاتٍ أَرَادَ أَهْلُهَا أَنْ يَبِيعُوهَا وَيَشْتَرِطُوا وَلَاءَهَا فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اشْتَرِيهَا وَأَعْتِقِيهَا فَإِنَّ الْوَلَاءَ لِمَنْ أَعْتَقَ قَالَتْ وَعَتَقَتْ فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا قَالَتْ وَكَانَ النَّاسُ يَتَصَدَّقُونَ عَلَيْهَا وَتُهْدِي لَنَا فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَهُوَ لَكُمْ هَدِيَّةٌ فَكُلُوهُ

د مومنانو د مور حضرت عائشې ؓ نه روایت دے چه د بریرې ؓ په مقدمه کښې درې خبرې پیدا شوې. یو خو دا چه د هغې مالکانو هغې لره خرڅول غوښتل او د ولاء شرط ئې د ځان دپاره کول غوښتل. ما جناب رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو. حضرت ﷺ ما ته اوفرمائیل ته د ولاء شرط د هغوی دپاره اوکړه او آزاده ئې کړه. ولاء هغه چا ته میلاویږی چه آزاده ئې کړی. دویمه دا چه هر کله ما دا آزاده کړه نو رسول الله ﷺ دے لره اختیار ورکړو د خپل خاوند (مغیث) په باب کښې هغې خپل نفس لره اختیار کړو او خاوند ئې غوره نه کړو. دریمه دا چه خلقو به بریرې له صدقه ورکوله او هغې به مونږ ته په هدیه کښې رالیږله. ما د دے ذکر جناب رسول الله ﷺ ته اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل دا په هغې باندے صدقه ده او زمونږ دپاره هدیه ده. پس خوره دے لره.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا اشْتَرَتْ بَرِيرَةَ مِنْ أُنَاسٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَاشْتَرَطُوا الْوَلَاءَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَلَاءُ لِمَنْ وَلِيَ النِّعْمَةَ وَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا وَأَهْدَتْ لِعَائِشَةَ لَحْمًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ صَنَعْتُمْ لَنَا مِنْ هَذَا اللَّحْمِ قَالَتْ عَائِشَةُ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ فَقَالَ هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے چه هغوی بریره د انصارو د خلقو نه واخسته. او د هغې د مالکانو سره ئې د ولاء شرط اوکړو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ولاء به هغه چا ته میلاویږی چه هغه والی شی د نعمت (یعنی آزاده ئې کړی) او اختیار ورکړو جناب رسول الله ﷺ هغې ته د خپل خاوند په مقدمه کښې چه د هغې خاوند غلام وو. او بریرې د حضرت عائشې صدیقې دپاره د غوښې یو ټکړه اولیږله رسول الله ﷺ اوفرمائیل. کاش زمونږ دپاره د هم دے نه څه لږه غوښه تیاره کړے وے. حضرت عائشې اووے هغه غوښه په صدقه کښې میلاؤ ده بریرې ته (او په تا باندے صدقه حرامه ده) حضرت ﷺ اوفرمائیل په بریره باندے صدقه ده او زمونږ دپاره هدیه ده (نو مونږ لره د دے خوړل صحیح دی)

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا أَرَادَتْ أَنْ تَشْتَرِيَ

د مؤمنانو د مور د حضرت عائشې ؓ نه روایت دے چه هغوی اراده اوکړه د

بَرِيرَةَ لِلْعِتْقِ فَاشْتَرَطُوا وَلَاءَهَا فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اشْتَرِيهَا وَأَعْتِقِيهَا فَإِنَّ الْوَلَاءَ لِمَنْ أَعْتَقَ وَأَهْدَى لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَحْمٌ فَقَالُوا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ فَقَالَ هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَهُوَ لَنَا هَدِيَّةٌ وَخُيِّرَتْ فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَكَانَ زَوْجُهَا حُرًّا قَالَ شُعْبَةُ ثُمَّ سَأَلْتُهُ عَنْ زَوْجِهَا فَقَالَ لَا أَدْرِي

بریرهٔ د اخستلو او آزادولو دپاره لیکن د هغې مالکانو د ولا شرط اولګوو د خپل ځان دپاره. ما رسول الله ﷺ ته دا دې بیان اوکړو. حضرت ﷺ ماته اوفرمائیل واخله ئې او آزاده ئې کړه. ولاء هغه چا ته میلاویږي چه څوک ئې آزاده کړي. او رسول الله ﷺ له څۀ حصه د غوښې راوړے شوه خلقو اووے یا رسول الله! دا غوښه په صدقه کښې میلاو شوے ده بریره ته حضرت ﷺ اوفرمائیل د هغې دپاره صدقه ده. او زمونږ دپاره هدیه ده لو بریره ته اختیار ورکړے شوے وو د هغې د خاوند په مقدمه کښې عبد الرّحمٰن وائي د هغې خاوند آزاد و. شعبه وائي بیا ما د عبد الرّحمٰن نه د هغې د خاوند د حال تپوس اوکړو. هغوی اووے ما ته معلومات نشته. (نو د آزادیدو روایت د اعتبار قابل پاتې نۀ شو).

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ زَوْجُ بَرِيرَةَ عَبْدًا

د مومنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے وائي چه د بریرې خاوند غلام وو.[1]

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ خُيِّرَتْ عَلَى زَوْجِهَا حِينَ عَتَقَتْ وَأُهْدِيَ لَهَا لَحْمٌ فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْبُرْمَةُ عَلَى النَّارِ فَدَعَا بِطَعَامٍ فَأُتِيَ بِخُبْزٍ وَأُدُمٍ مِنْ أُدُمِ الْبَيْتِ فَقَالَ أَلَمْ أَرَ

د مومنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے چه د بریرې په وجه سره درے خبرې معلومې شوے یوه خو دا چه هغې ته اختیار میلاؤ شو د خپل خاوند په مقدمه کښې هر کله چه آزاده شوه. دویمه دا چه هغې ته غوښه میلاؤ شوه نو رسول الله ﷺ خما خواله راغې او په کټوئ کښې غوښه په اُور باندې پرته وه. او حضرت ﷺ طعام اوغوښتو نو ډوډئ او د کور کچه سالن ورته مخکښې کیښودے شو. حضرت ﷺ اوفرمائیل

---

[1]: نووي وئیلي دي چه اجماع ده د عالمانو په دې باندې چه هر کله وینځه آزاده شي او د هغې خاوند غلام وي نو وینځې له به اختیار وي کۀ غواړي نکاح فسخ کوي او کۀ باقي ئې ساتي. او کچرې د هغې خاوند آزاد وي نو وینځې ته به اختیار نۀ وي. دغه قول دے د مالك او شافعي او جمهورو عالمانو. او د ابوحنیفه په نز کچرې خاوند آزاد وي خو هم به ئې وینځې ته اختیار وي. او دلیل د ابوحنیفه هغه روایت دے د مسلم چه په هغې کښې ذکر دي چه د بریره خاوند آزاد وو. لیکن هغه روایت د اعتبار قابل نۀ دے. ځکه چه شعبه چه هر کله په دویم ځل د عبد الرّحمٰن نه تپوس اوکړو. نو هغوی اووے چه ما ته نۀ ده معلومه. او مشهور روایتونه دغه دي. چه د هغې خاوند غلام وو. حافظانو د حدیث وئیلي دي چه د هغۀ د آزادیدو روایت غلط او شاذ او مردود دے. او د مشهورو او ثقاتو د روایت نه خلاف دے (انتهی مختصراً)

بُرْمَةٌ عَلَى النَّارِ فِيهَا لَحْمٌ فَقَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ ذٰلِكَ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ فَكَرِهْنَا أَنْ نُطْعِمَكَ مِنْهُ فَقَالَ هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَهُوَ مِنْهَا لَنَا هَدِيَّةٌ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا إِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ

غوښه خو په کټوئ کښې په اُور باندے پرته وه. خلقو اووے بیشکه یا رسول الله ﷺ مګر هغه غوښه د صدقے ده چه بریره ته میلاؤ شوے ده. مونږ ته ښه نهٔ معلومیده چه دډے نه په تا اوخورو. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه د هغے دپاره صدقه ده او د هغے د طرفه زمونږ دپاره هدیه ده. دریمه دا چه هر کله رسول الله ﷺ اوفرمائیل د بریره په باب کښې چه ولاء به هغه چا ته میلاویږی چه څوك ئے آزاده کړی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَرَادَتْ عَائِشَةُ أَنْ تَشْتَرِيَ جَارِيَةً تُعْتِقُهَا فَأَبَى أَهْلُهَا إِلَّا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْوَلَاءُ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا يَمْنَعُكِ ذٰلِكِ فَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ

د ابوهریره نه روایت دے حضرت عائشے اراده اوکړه د یوے وینځے د اخستلو او آزادولو د هغے مالکانو او نهٔ منله مګر په دے شرط ئے قبوله کړه چه ولاء به د هغوی ته میلاویږی. هغوی جناب رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل ته د خپلے ارادے نه مهٔ واپس کیږه. او ولاء هغه چا ته میلاویږی چه څوك ئے آزاد کړی.

بَابُ النَّهْيِ عَنْ بَيْعِ الْوَلَاءِ وَهِبَتِهِ

باب: د ولاء د خرڅولو یا د بخښلو نه ممانعت

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنْ بَيْعِ الْوَلَاءِ وَعَنْ هِبَتِهِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د ولاء د بیعے او هبه کولو نه[1].

بَابُ تَحْرِيمِ تَوَلِّي الْعَتِيقِ غَيْرَ مَوَالِيهِ

باب: د خپل آزادونکی نه علاوه بل چا لره مَولی جوړول حرام دی

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ كَتَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى كُلِّ بَطْنٍ عُقُولَهُ ثُمَّ كَتَبَ أَنَّهُ لَا يَحِلُّ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اولیکل چه په هره قبیله باندے د د هغوی دیت واجب وی. بیائے اولیکل چه یو مسلمان له دا روا نهٔ دی چه د بل مسلمان د غلام اقا د جوړ شی

---

[1] نووی ونیلی دی دے حدیث نه د ولاء د بیعے او هبے حرام والے ښکاره شو. او دا ظاهره شوه چه د هغے بیعه او هبه صحیح صحیح نهٔ ده. او ولاء د خپل مستحق د طرفنه بل هیڅ چا ته نهٔ منتقل کیږی. بلکه ولاء یوه رشته ده د خاندان د رشتے په شکل. او د جمهورو عالمانو دغه قول دے مګر څنے سلفو ددے نقل جائز ګڼے دے. او کیدے شی دا حدیث هغوی ته نلوی رسیدلی.

لِمُسْلِمٍ أَنْ يَتَوَالَى مَوْلَى رَجُلٍ مُسْلِمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِ ثُمَّ أُخْبِرْتُ أَنَّهُ لَعَنَ فِي صَحِيفَتِهِ مَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ

بغیر د هغوی د اجازت نه (او په اجازت سره هم صحیح نه دی او د خنو په نز د صحیح دی. نووی) بیا ما ته معلومه شوه چه حضرت لعنت اوکړو په هغه چا باندے څوك چه دا سے کوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَوَلَّى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ عَدْلٌ وَلَا صَرْفٌ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چا چه بل څوك مولی اوګرځوو بغیر د خپلو مالکانو د اجازت نه په هغه باندے لعنت دے د الله او د هغه د فرښتو نه د هغه فرض قبلیږی نه نفل.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَوَلَّى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَدْلٌ وَلَا صَرْفٌ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم بنده چه مولی جوړ کړی یو قوم لره د خپلو مالکانو نه بے اجازته په هغهٔ باندے لعنت دے د الله تعالی او د فرښتو او د ټولو خلقو په ورځ د قیامت باندے. نهٔ به د هغوی فرض قبول شی او نه نفل.

عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ خَطَبَنَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ فَقَالَ مَنْ زَعَمَ أَنَّ عِنْدَنَا شَيْئًا نَقْرَؤُهُ إِلَّا كِتَابَ اللّٰهِ وَهٰذِهِ الصَّحِيفَةَ قَالَ وَصَحِيفَةٌ مُعَلَّقَةٌ فِي قِرَابِ سَيْفِهِ فَقَدْ كَذَبَ فِيهَا أَسْنَانُ الْإِبِلِ وَأَشْيَاءُ مِنَ الْجِرَاحَاتِ وَفِيهَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةُ حَرَمٌ مَا بَيْنَ عَيْرٍ إِلَى ثَوْرٍ فَمَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يَقْبَلُ اللّٰهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ

د ابراهیم تیمی ؒ نه روایت دے چه هغهٔ د خپل پلار نه اوریدلی دی چه وئیلی ئے وو. خطبه لوستله حضرت علی نو اوئے فرمائیل کوم سړے چه وائی چه زمونږ سره یو بل کتاب دے چه هغے لره مونږ (اهل بیت) لولو سوا د الله تعالی د کتاب نه او دا کتاب او د هغوی د توروپه مینځ کښ وو. نو هغه دروغ وائی. (دد ے نه د رافضیانو د خیال رد راغے چه رسول الله ﷺ حضرت علی ته هغه خبرے ښودلے دی چه هغهٔ ئے بل یو صحابی ته نهٔ دی ښودلی) په دغه کتاب کښ د اوښانو د عمرونو بیان وو او د زخمونو د دیت او په هغے کښ دا هم وو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مدینه حرم دے د عیر نه واخله د ثور پورے (ثور خو په مکے کښ دے دا غلطی ده د راوی د ثور په بدله کیدے شی أحد صحیح وی) کوم بنده چه په دے کښ نوی خبره راوباسی یا چا بدعتی له ځائے ورکوی نو په هغهٔ باندے لعنت دے د الله تعالی او د فرښتو او

وَاحِدَةٌ يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ وَمَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ أَوِ انْتَمَى إِلَى غَيْرِ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يَقْبَلُ اللهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا.

د ټولو خلقو د قيامت په ورځ الله تعالى به د هغهٔ فرض قبول نهٔ كړى نهٔ نفل او د مسلمانانو ذمه يو ده. دلته د ے درجے مسلمان هم ذمه اخستے شي. او كوم بنده چه د خپل پلار مور نه سوا بل څوك پلار مور جوړ كړى يا د خپل آقا نه سوا بل څوك آقا جوړ كړى نو په هغهٔ باند ے لعنت د ے د الله تعالى او د فرښتو او د ټولو خلقو د قيامت په ورځ نه د هغهٔ فرض قبليږي او نه نفل.[1]

بَاب فَضْلِ الْعِتْقِ

باب : د غلام د آزادولو فضيلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مُؤْمِنَةً أَعْتَقَ اللهُ بِكُلِّ إِرْبٍ مِنْهَا إِرْبًا مِنْهُ مِنَ النَّارِ

د ابوهريرهؓ نه روايت د ے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى كوم بنده چه آزاد كړى مسلمان مرئ لره الله تعالى د هغهٔ د هر اندام په بدله د آزادونكى هر اندام به ازاد كړى د دوزخ د أور نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً أَعْتَقَ اللهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهَا عُضْوًا مِنْ أَعْضَائِهِ مِنَ النَّارِ حَتَّى فَرْجَهُ بِفَرْجِهِ.

د حضرت ابوهريره نه روايت د ے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى كوم بنده چه مسلمان غلام آزاد كړى. الله تعالى به د هغهٔ د هر اندام په بدله د ازادونكى هر اندام د دوزخ د أور نه ازاد كړى. تر د ے پور ے چه شرمگاه د شرم گاه په بدله كښ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مُؤْمِنَةً أَعْتَقَ اللهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنَ النَّارِ حَتَّى يُعْتِقَ فَرْجَهُ بِفَرْجِهِ

د حضرت ابوهريره نه روايت د ے وائى چه جناب رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. كوم بنده چه آزاد كړى مسلمان غلام لره د غلام د هر اندام په بدله د جهنم د أور نه آزاد كړى. تر د ے پور ے چه د هغه شرمگاه لره هم د غلام د شرمگاه په بدله

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا امْرِئٍ مُسْلِمٍ أَعْتَقَ امْرَأً مُسْلِمًا اسْتَنْقَذَ اللهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنْهُ مِنَ النَّارِ قَالَ فَانْطَلَقْتُ حِينَ سَمِعْتُ

د حضرت ابوهريره نه روايت د ے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى كوم مسلمان چه آزاد كړى مسلمان لره الله تعالى به د هغهٔ د هر اندام په بدله د آزادونكى د هر اندام د جهنم نه خلاص كړى سعيد بن مرجانه وائى ما د ابوهريرهؓ نه دا حديث واوريدو او د على بن

[1] نووىؒ وئيلى دى دد ے حديث شرح د كتاب الحج په آخر كښ تيره شو ے ده.

الْحَدِيثَ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ فَذَكَرْتُهُ لِعَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ فَأَعْتَقَ عَبْدًا لَهُ قَدْ أَعْطَاهُ بِهِ ابْنُ جَعْفَرٍ عَشْرَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ أَوْ أَلْفَ دِينَارٍ

حسين عليه وعلى آبائه السلام خواله لاړم. او هغوی ته مے دا حديث بيان کړو. هغوی يو غلام لره آزاد کړو. د چا په بدله چه د جعفر ځوئ لس زره ديناره ورکړی وو.[1]

بَاب فَضْلِ عِتْقِ الْوَالِدِ

باب: د پلار د آزادولو فضيلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَجْزِي وَلَدٌ وَالِدًا إِلَّا أَنْ يَجِدَهُ مَمْلُوكًا فَيَشْتَرِيَهُ فَيُعْتِقَهُ

د حضرت ابوهريره نه روايت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائيلی د ځوئے د پلار حق ادا کولے نۀ شی مگر په يو صورت کښ چه پلار لره د چا غلام اووينی پس واخلی ئے او آزاد ئے کړی.[2]

مترجم: حافظ حبيب الرَّحمٰن مردان

مصحح: مولانا عبدالوافی پيښور

ناشر: تاج کمپنی لميټډ

[1]: سبحان الله اهل بيت څومره عاشقان وو د خدائے او د رسول ﷺ. نووی ؒ وئيلی دی دد ے احاديثو نه د آزادونکو فضيلت معلوميږی او دا ترے هم را اوتۀ چه ازادول د غوره عملونو نه دی. او دد ے په وجه انسان ته د جهنم د اُور نه ازادی ميلاويږی. او جنت ورته پلاس راځی. او دا هم دد ے حديث نه راااووتۀ چه د هغۀ مرئی آزادول غوره دی چه د هغۀ ټول اندامونه پوره وی نو چه خصی يا ړوند يا کوڼ يا لاس يا ښپے کټ کړے شوے نۀ وی. او د خصی وغيره په آزادولو کښ هم ثواب دے ليکن کامل فضيلت په دے کښ دے چه د مريی ټول اندامونه صحيح او سالم وی او په قيمت کښ گران وی. اوس عالمانو اختلاف کړے دے چه د مريی آزادول زيات ثواب دےيا د وينځے. ځنو وئيلی دی چه د وينځے آزادول غوره دی. او د ډيرو عالمانو په نز د مريی په ازادولو کښ زيات ثواب دے. او د مؤمنے د قيد نه معلومه شوه چه دا فضيلت د مسلمان مريی په آزادولو کښ دے. ليکن په کافر مريی آزادولو کښ هم ثواب دے خو د مسلمان مريی نه کم دے.

[2]: نووی وئيلی دی چه د ظاهر حديث نه معلوميږی چه د خپلوانو او عزيزانو په اخستو سره به هغه ازاد نۀ وی د کومے پوری چه هغوی لره آزاد نۀ کړی. او جمهورو عالمانو په نز هغۀ د اخستو سره آزاديږی او دليل د هغوی دويم حديث دے.

كِتَابُ الْبُيُوعِ

د اخستلو او خرڅولو مسئلې

بَابُ إِبْطَالِ بَيْعِ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ نُهِيَ عَنْ بَيْعَتَيْنِ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ أَمَّا الْمُلَامَسَةُ فَأَنْ يَلْمِسَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا ثَوْبَ صَاحِبِهِ بِغَيْرِ تَأَمُّلٍ وَالْمُنَابَذَةُ أَنْ يَنْبِذَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا ثَوْبَهُ إِلَى الْآخَرِ وَلَمْ يَنْظُرْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا إِلَى ثَوْبِ صَاحِبِهِ

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ نَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعَتَيْنِ وَلِبْسَتَيْنِ نَهَى عَنِ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ فِي الْبَيْعِ وَالْمُلَامَسَةُ لَمْسُ الرَّجُلِ ثَوْبَ الْآخَرِ بِيَدِهِ بِاللَّيْلِ أَوْ بِالنَّهَارِ وَلَا يَقْلِبُهُ إِلَّا

باب: بیعه ملامسه او منابذه باطله ده

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلی ده د ملامسه بیعه نه او د منابذه بیعے نه[1].

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه هغوی وائی د دوؤ بیعو نه منع والے شوے دے. یو خو د بیع ملامسه نه او دویم د بیع منابذه نه. بیع ملامسه داده چه هر یو د بل کپړے له لاس وروړی بے د سوچ سمجهـ نه (او دے کپړے له په لاس روړلو سره بیعه لازم شی) او بیع منابذه داده چه هر یو خپله کپړه د بل په طرف او غورځوی او یو د بل کپړه او نهٔ وینی.

د ابوسعید خدری نه روایت دے وائی چه منع کړی یو موږ رسول الله ﷺ د دوه قسمه بیعونه او د دوه قسمه اغوستلونه یو خوئے منع کړی یو د ملامسه نه او منابذه نه په بیعه کښ. ملامسه داده چه یو سړے د بل کپړه مس کړی په خپل لاس سره د شپے یا د ورځے او اُلته نهٔ کړی هغے لره مګر ددے دپاره. یعنی د بیعی دپاره. او

[1] نووی ونیلی دی پخپله په صحیح مسلم کښ ددے تفسیر مخکښ راغی لیکن زمونږ د ملګرو نه په بیعه ملامسه کښ درے قولو نه منقول دی. یو دا چه خرڅونکے یوه کپړه نغښتے یا په تیارهٔ کښ واخلی او راشی او خریدار د هغے ته لاس کړی خرڅولو والا دا او وائی چه ما دا کپړه ستا په لاس خرڅه کړه په دے شرط سره چه ستا په دے لاس لګول ستا د لیدو په ځائے دی. او کچرے ته نے ګورے نو تا له اختیار نشته دے. دویم دا چه په لاس وروړلو سره بیعه پخپله ورله مقرر کړے شی. مثلاً مالك د مال اخستونکی ته دا او وائی چه هر کله تا لاس روړلو ستا د لاسه پورے ستا شو. دریم دا چه په لاس وروړلو سره د مجلس اختیار قطع کړے شی او په درے واړه صورتونو کښ دا باطله ده. دغه شان د بیعے منابذے هم درے معانے دی. یو خو دا چه د کپړے غورځول بیعه قرار کړے شی دا د امام شافعی تاویل دے. دویم دا چه د غورځولو نه اختیار قطع کړے شی. دریم دا چه د غورځولو نه مراد د ګیټو غورځول دی. او ددے بیان به انشاء الله تعالی په بیع الحصاة کښ راشی. (انتهی)

بِذٰلِكَ وَالْمُنَابَذَةُ أَنْ يَنْبِذَ الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ بِثَوْبِهِ وَيَنْبِذَ الْآخَرُ إِلَيْهِ ثَوْبَهُ وَيَكُونَ ذٰلِكَ بَيْعَهُمَا مِنْ غَيْرِ نَظَرٍ وَلَا تَرَاضٍ

منابذه داده چه یو سړے خپله او بل خپله کپړه د بل په طرف اوغورځوی او بل خپله کپړه ددهٔ په طرف اوغورځوی لو دغه د دوئ بیعه شی بغیر دلیدلو اوبغیر د رضامندئ نه

بَابُ بُطْلَانِ بَيْعِ الْحَصَاةِ وَالْبَيْعِ الَّذِي فِيهِ غَرَرٌ

باب : د گیټو خرڅول او د دهوکے بیع باطله ده

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْحَصَاةِ وَعَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د گیټو د بیعے نه او د دهوکے د بیعے نه[1].

بَابُ تَحْرِيمِ بَيْعِ حَبَلِ الْحَبَلَةِ

باب : د حبل الحبله د بیعے ممانعت

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ أَنَّهُ نَهَى عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الْحَبَلَةِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د حبل الحبله د بیعے نه.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَتَبَايَعُونَ لَحْمَ الْجَزُورِ إِلَى حَبَلِ الْحَبَلَةِ وَحَبَلُ الْحَبَلَةِ أَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ ثُمَّ تَحْمِلَ الَّتِي نُتِجَتْ فَنَهَاهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ ذٰلِكَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه د جاهلیت خلقو به د اوښ غوښه خرڅوله د حبل الحبله پورې او حبل الحبله داده چه اوښه لنگه شی بیا دغه بچئ حامله شی او هغه لنگه شی نو جناب رسول الله ﷺ منع کړے ده دد ے نه[2].

---

[1]: نووئ وئیلی دی د گیټو د بیعے درے معنے دی. یو دا چه بائع داسے اووائی ما ستا په لاس هغه کپړے خرڅے کړے دی په کوم چه دا گیټئ پریوتے کومے چه زهٔ غورځوم یا ددے جائے نه اخله د کوم ځائے پورے چه دا گیټئ لاړے شی دومره اسباب به ما خرڅ کړے وی. دویم دا چه بائع دا شرط اولگوی چه د کومے پورے زهٔ گیټئ غورځوم تا ته اختیار دے روستو دد ے نه اختیار نشته دے. دریم دا چه پخپله گیټئ غورځول بیعه مقرر کړی مثلاً داسے اووائی چه هر کله زهٔ په دے کپړه گیټئ اوولم نو هغه به په دومره قیمت خرڅولے شی. او لیکن د دهوکے بیعه خو هغه یو اصل عظیم دے د کتاب البیع. او په دے کښې ډیرے مسئلے داخلے دی مثلاً بیعه د تختیدلی غلام، او د معدوم او د مجهول او د څا په تسلیمولو باندے چه قدرت نشته دے او په څا چه د بائع ملك پوره نه وی شوے. او بیعه د مهی په اوبو کښې د پیو په غلانزه کښې او بیعه د بچی په گیډه کښې. او د مرغئ په هوا کښې. د یو غیر معینے تهیلئ یا کپړے یا بزے وغیره خو دا ټولے بیعے بطلے دی ځکه چه په دے ټولو کښې دهوکه ده. (انتهٰی مختصراً)

[2]: نووی وئیلی دی د حبل الحبله دغه تفسیر مالك او شافعی اختیار کړے دے. او څنے وائی چه د حبل الحبله نه مراد اد ے چه د حاملے اوښے (د حمل په دوران کښې) د گیډے بچے خرڅ کړی احمد بن حنبل او اسحاق بن راهویه دغے لره اختیار کړے دے او دا دواړه بیعے باطلے دی. اول په وجه د جهالت د میعاد او دویم په وجه د معدوم او مجهول کیدو د بیعے.

بَاب تَحْرِيمِ بَيْعِ الرَّجُلِ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ وَسَوْمِهِ عَلَى سَوْمِهِ وَتَحْرِيمِ النَّجْشِ وَتَحْرِيمِ التَّصْرِيَةِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَبِعِ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ وَلَا يَخْطُبْ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَسُمِ الْمُسْلِمُ عَلَى سَوْمِ الْمُسْلِمِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ نَهَى أَنْ يَسْتَامَ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ وَفِي رِوَايَةِ الدَّوْرَقِيِّ عَلَى سِيمَةِ أَخِيهِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُتَلَقَّى الرُّكْبَانُ لِبَيْعٍ وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ وَلَا

باب: د خپل رور په نرخ باندے نرخ کول، د هغهٔ په بیعه باندے بیعه کول، دهوکه ورکول، ملاوټ کول، او په غلانزه کښې پئ د ک ساتل حرام دی

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك د ستاسو نه د بل په بیعه باندے بیعه نهٔ کوی.

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك د ستاسو نه د خپل رور په بیعه باندے بیعه نهٔ کوی او نهٔ د د خپل رور په خبر باندے خبر ورکوی. مګر د هغوی په اجازت سره[1].

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یو مسلمان د د بل مسلمان په بولئ د پاسه بولی نهٔ کوی[2].

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د د خپل رور په خلاصه شوے بیعه د پاسه د بیعے کولو نه.

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د قافلے سره مهٔ میلاویږئ د بیعے دپاره. او نهٔ د خرڅوی څوك ستاسو نه د بل په بیعه باندے. او مهٔ دلالی کوئ او نهٔ د خرڅوی ښهر والا د بهر والا

---

[1]: نوویؒ وئیلی دی د بیعے په بیعه باندے مثال دادے چه یو سړے بل ته اووائی تا چه کوم څیز اخستے دے دا واپس کړه زهٔ به درله دغسے څیز دده نه ارزان درکړمه یا به درله دے نه ښهٔ څیز په دغه قیمت باندے درکړمه او دا حرام دی. دغه شان د خپل رور په خرڅ دپاسه خرڅول هم حرام دی دده مثال داسے دے چه یو سړے بل ته اووائی تا چه کوم څیز خرڅ کړے دے دغه بیعه فسخ کړه زهٔ به ئے درنه دده نه په زیات قیمت باندے واخلمه. او د پیام مثال په کتاب النکاح کښې تیر شوے دے.

[2]: نوویؒ وائی دا نهی هله ده چه بائع او مشتری په بیعه باندے راضی شوے وی لیکن تر اوسه لا بیعه نهٔ وی شوے چه په دے کښې بل اووائی چه زهٔ دے څیز له په بولئ اخلم دا ناجائزه ده. لیکن هراج (یعنی په نیلام) کښې قیمت زیاتول هر یو له صحیح دی.

تَنَاجَشُوْا وَلاَ يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ وَلاَ تُصَرُّوا الإِبِلَ وَالْغَنَمَ فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدَ ذٰلِكَ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْلُبَهَا فَإِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ

مال لره. او مهٔ بند ساتئ په غولانځه کښې د اوښے یا د بزے بیا چه څوك واخلی داسے څناور لره (چه د دهوکے ورکولو دپاره) نو خریدار ته اختیار دی (هر کله چه هغه پئ اولوشی او هغهٔ ته معلومه شی چه پئ دومره او نهٔ وتل څومره چه د هغه گمان وو. کهٔ خوښه ئے شی نو اودے ساتی او کهٔ خوښه ئے نهٔ شی نو هغه څناور دِ واپس کړی او یو وڼکے د کهجورو دِ د پیو په بدله کښې واپس کړی[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ التَّلَقِّي لِلرُّكْبَانِ وَأَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ وَأَنْ تَسْأَلَ الْمَرْأَةُ طَلاَقَ أُخْتِهَا وَعَنِ النَّجْشِ وَالتَّصْرِيَةِ وَأَنْ يَسْتَامَ الرَّجُلُ عَلٰى سَوْمِ أَخِيهِ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده غله راوړونکو ته مخے له د ورتلو نه (کوم چه ښهر ته غله راوړی) او ښاری لره د بهر والا د مال خرڅولو نه. او یوه ښځه د بلے ښځه دپاره د طلاق غوښتلو نه او د دهوکه ورکولو نه او په غولانځه کښې د پیو ساتلو نه او د یو رور په قیمت اوتول باندے د قیمت کولو نه.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ النَّجْشِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د دلالئ کولو نه.

بَابُ تَحْرِيمِ تَلَقِّي الْجَلَبِ

باب: مخکښې تلل د تاجرانو سره د میلاویدو ممانعت

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى أَنْ تُتَلَقَّى السِّلَعُ حَتّٰى تَبْلُغَ الأَسْوَاقَ وَهٰذَا لَفْظُ ابْنِ نُمَيْرٍ وَقَالَ الآخَرَانِ إِنَّ النَّبِيَّ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده. د مخکښې تلو او د اسباب د تجارت سره د میلاویدو نه تر دے پورے چه هغه بازار ته راشی. او په یو روایت کښې دی چه منع ئے فرمائیلے

[1] یعنی مخے له په ورتلو سره د غلے د باروړونو د قیمت کولو دپاره د بار وړونکو سره مهٔ میلاویږئ. ولے چه په دے کښې دوه نقصانه دی. یو نقصان خو د سوداگر دے چه کیدے شی په بازار کښې ئے په زیات قیمت خرڅ اوشی. دویم نقصان د تول ښهر حق تلفی ده. چه کچرے بازار ته مال راشی نو تول خلق به ئے په صحیح قیمت واخلی یعنی هسے د نقصان ورکولو دپاره قیمت مهٔ سوا کوئ هر کله چه اخستل منظور نهٔ وی. د جابر په روایت کښې دومره زیاته ده. او پریږدوئ خلقو لره چه په خپلو کښې اخستل خرڅول اوکړی الله روزی ورکوی یو ته د یو نه. مطلب د حدیث دا دے چه کهٔ څوك د بهر نه ښهر ته مثلاً غله د خرڅولو دپاره راوړی او د بازار په بیعه د خرڅولو اراده اوکړی. او د ښهر اوسیدونکی هغهٔ ته اووائی ته ئے اوس مهٔ خرڅوه څما سره ئے کیږده زهٔ به ئے درله په زیات قیمت خرڅ کړم ددے نه حضرت ﷺ منع فرمائیلے ده. چه په کښې د خلقو نقصان دے او کچرے قحط وی نو په اتفاق د علماؤ حرام دی ورنه مکروه دی امام شافعی او جمهورو عالمانو په ظاهر د حدیث باندے عمل کړے دے.

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ التَّلَقِّي

دہ د مخې په ورتلو د ملاقات نه.

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى عَنْ تَلَقِّي الْبُيُوعِ

د عبد اللّٰہ بن عمر نه روایت دے چه منع کړے دہ رسول اللّٰہ ﷺ مخے له د ورتلو او سوداګرو سره د میلاویدو نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَلَقَّى الْجَلَبُ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول اللّٰہ ﷺ منع فرمائیلے دہ مخے له د ورتلو او د غلے راوړونکو سره د میلاویدو نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَلَقَّوُا الْجَلَبَ فَمَنْ تَلَقَّاهُ فَاشْتَرَى مِنْهُ فَإِذَا أَتَى سَيِّدُهُ السُّوقَ فَهُوَ بِالْخِيَارِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول اللّٰہ ﷺ فرمائیلی دی مه میلاویږئ په مخکښې تلو سره د مالونو د بارونو والا سره د کومے پورے چه هغوی ته د بازار نرخ معلوم نه وی، پس کچرے څوك مخے له لاړو او مال ئے واخستو. او بیا د مال مالك بازار ته راغے (او د نرخ په تپوس کولو کښ ورته معلومه شوه چه نقصان ئے شوے دے) نو دهٔ له د اختیار دے (که غواړی نو بیعه د فسخ کړی)[1].

باب تَحْرِيمِ بَيْعِ الْحَاضِرِ لِلْبَادِي

باب: ښاری لره د بهر والا مال خرڅول حرام دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ وَقَالَ زُهَيْرٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول اللّٰہ ﷺ فرمائیلی دی نهٔ د خرڅوی ښار والا د بهر والا مال. او وئیلی دی زهیر چه نبی ﷺ منع فرمائیلے دہ د خرڅولو د مقیم مال د مسافرو لره.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُتَلَقَّى الرُّكْبَانُ وَأَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ قَالَ فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ مَا قَوْلُهُ حَاضِرٌ لِبَادٍ قَالَ لَا يَكُنْ

د عبد اللّٰہ بن عباس نه روایت دے وائی چه رسول اللّٰہ ﷺ منع فرمائیلے دہ د سورو (چه هغه مال راوړی) مخے ته د وتلو د ملاقات نه. او منع کړی ئے دی د ښار اوسیدونکو لره د بهر والا د مال خرڅولو نه طاوس وئیلی دی ما د ابن عباس ؓ نه تپوس اوکړو چه دد دے څهٔ مطلب دے

---

[1] امام نووی وئیلی دی د ظاهر حدیث نه د دے حرمت معلومیږی. او دغه قول دے د امام شافعی او مالك او جمهورو عالمانو. او د ابوحنیفه او اوزاعی په نز د مخے له ورتلل صحیح دی په دے شرط چه خلقو ته نقصان نه وی. او د نقصان په صورت کښې مکروه دی. و صحیح د جمهورو مذهب دے. او څوك چه د څهٔ بل کار دپاره بهر ته ووځی او هلته ورته مال والا میلاؤ شی او مال ترے واخلی نو په دے کښې دوه قولونه دی. صحیح دا دے چه حرام دی. (انتهی مختصراً)

لَهُ سِمْسَارًا

هغوی او وے چه ښهر والا له نه دی پکار چه د بهر والا دلال جوړ شی، د هغه د مال په خرڅولو کښې بلکه هغه به ئے پخپله خرڅوی.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ دَعُوا النَّاسَ يَرْزُقِ اللهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ

د جابر نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نه د خرڅوی او سیدونکی د ښار مال د ښار نه د بهر خلقو بلکه پرېږدی د خلقو لره الله رزق ورکوی یو ته د یو نه.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ نُهِينَا أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ أَوْ أَبَاهُ

د انس بن مالك نه روایت دے مونږ منع کړے شوی یو دد ے خبر ے نه چه ښهر والا د بهر والا مال خرڅ کړی اگر که د هغه رور یا پلار وی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ نُهِينَا عَنْ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ

د انس بن مالك نه روایت دے چه منع کړے شوی یو مونږ دد ے خبر ے نه چه ښار والا د بهر والا مال خرڅ کړی[1].

بَابُ حُكْمِ بَيْعِ الْمُصَرَّاةِ

باب : د مُصرَّاة د بیعے بیان[2]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اشْتَرَى شَاةً مُصَرَّاةً فَلْيَنْقَلِبْ بِهَا فَلْيَحْلُبْهَا فَإِنْ رَضِيَ حِلَابَهَا أَمْسَكَهَا وَإِلَّا رَدَّهَا وَمَعَهَا صَاعٌ مِنْ تَمْرٍ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه د پیو ډکه شوے بزه واخلی بیا لاړ شی او د هغے نه پئ اولوشی کچرے د هغے پئ ئے خوښ شو نو اوساتی د ئے او که خوښ ئے نه شو نو بزه د واپس کړی او یو ووګے د کهجورو د ورسره ورکړی د پیو په بدل کښې.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ ابْتَاعَ شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړی چه د پیو بزه واخسته هغهٔ له د درے ورځو پورے اختیار دے. که خوښه

---

[1] نووي وائی دد ے احادیثو نه د هغه امر حرام والے ثابتیږی او دغه قول دے د شافعی او زیاتو عالمانو. او زمونږ ملګرو وئیلی دی چه مطلب د حدیث دا دے چه یو مسافر د بهر نه یا د بل ښار نه مال راوړی راشی د خرڅولو دپاره او ښار والا هغهٔ ته داسے اووائی چه ته خپل مال خما سره پرېږده زهٔ به ئے په قلاره قلاره ګران خرڅوم نو دا منع دی. او کچرے د دغه مال ښار والا وو ته حاجت نه وی نو منع نهٔ دی باوجود د مخالفت کهٔ چرے څوك ئے خرڅ کړی نو بیعه صحیح کیږی. لیکن حرامه به وی زمونږ دغه مذهب دے. او د ځنې مالکیو په نز د د بیعه فسخ کړے شی. او د عطاء او مجاهد او ابوحنیفه په نز دا بیعه صحیح ده. ولے چه په دے کښې احسان دے په بهر والا باندے او دے حدیثونو ته هغوی منسوخ وئیلی دی.

[2] : مصراة هغه ځناور ته وئیلے شی چه د هغے مالك پئ لوشل د هغے نه موقوف کړی وی دد ے دپاره چه تیو نه ئے ښه د پیو نه ډك شی چه نور خلق پرے دهوکه اوخوری دد ے بیان پورته تیر شولو.

فِيهَا بِالْخِيَارِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ إِنْ شَاءَ أَمْسَكَهَا وَإِنْ شَاءَ رَدَّهَا وَرَدَّ مَعَهَا صَاعًا مِنْ تَمْرٍ

ئې شي نو اوډِ ئې ساتي او كۀ خوښه ئې شي واپس دِ ئې كړي. او ورسره دِ د كهجورو يوه كاسه هم وركړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اشْتَرَى شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ بِالْخِيَارِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنْ رَدَّهَا رَدَّ مَعَهَا صَاعًا مِنْ طَعَامٍ لَا سَمْرَاءَ

د حضرت ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي كوم سړے چه د پيو ډكه شوے بزه واخلي هغۀ ته د درے ورځو پورے اختيار دے. پس كچرے واپس كوي ئې نو يوه پيمانه (يعني كاسه) د غلے دِ هم وركړي. ليكن غنم وركول ضروري نۀ دي[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اشْتَرَى شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ إِنْ شَاءَ أَمْسَكَهَا وَإِنْ شَاءَ رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ لَا سَمْرَاءَ

د حضرت ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي كوم بنده چه د پيو ډكه بزه واخلي نو هغۀ لره اختيار دے كۀ غواړي واپس دِ ئې كړي. او يوه كاسه دِ هم د كهجورے د دے سره وركړي نۀ غنم.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَا أَحَدُكُمُ اشْتَرَى لِقْحَةً مُصَرَّاةً أَوْ شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْلُبَهَا إِمَّا هِيَ وَإِلَّا فَلْيَرُدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ

د همام بن منبه نه روايت دے وائي چه دا هغه احاديث دي كوم چه ابوهريره بيان كړي دي د رسول الله ﷺ نه بيائې څو احاديث ذكر كړل چه په هغے كښې يو دا هم وو چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر كله چه په تاسو كښې څوك اوښه اخلي چه هغه ئې د پيو ډكه كړے وي يا داسے بزه اخلي نو هغه ته د پيو لوشلو نه پس اختيار دے چه يا خو هغه اوساتي او يائې واپس كړي او يوه كاسه د كهجورو ورسره هم وركړي[2].

---

[1]: په عربو كښې غنم ګران دي او كهجورے او نورے غلے ارزانے دي. نو فرمائيلي ئې دي چه د كهجورے يوه كاسه دِ وركړي يا د بلے بوے غلے لكه جوار مسور وغيره.

[2]: امام نووي وئيلي دي پورته تير شول چه تصريه (يعني څناور د پيو نه ډكول خلقو له د دهوكه وركولو دپاره) حرام دي او باوجود د حرام والي نه د دے احاديثو نه دا رااووته چه بيعه صحيح كيږي او اخستونكي ته به اختيار وي كۀ خوښه ئې شوه ساتي به ئې او كه خوښه ئې نۀ شوله نو واپس كوي به ئې. دغه شان د هر مكر او فريب په بيعه كښې اخستونكي ته اختيار دے. مثلاً چا بودۍ وينځے له وېښتۀ تور كړل يائې ورله ګړ ګوتي جوړ كړل يا د دے په شان بل څۀ او اختلاف كړے دے زمونږه ملګرو چه دا اختيار به د علم نه فوراً بعد وي يا به د درے ورځو پورے وي نو څنو وئيلي دي چه د درے ورځو پورے به وي. او د ټولو نه صحيح داده چه خاص د علم سره به اختيار وي. او په حديث كښې چه كوم د درے ورځو قيد مذكور دے هغه د دے دپاره چه زيات علم په درے ورځو كښې راځي. ولے چه په

بَابُ بُطْلَانِ بَيْعِ الْمَبِيعِ قَبْلَ الْقَبْضِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَأَحْسِبُ كُلَّ شَيْءٍ مِثْلَهُ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَقْبِضَهُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ

باب: د قبضے نه مخکښې خریدار لره د بل په لاس خرڅول صحیح نهٔ دی

د عبد الله بن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ثوك چه غله واخلی بیا به هغې لره نهٔ خرڅوي د کومې پورے چه دهٔ په هغې باندے قبضه نهٔ وی کړے. ابن عباس وائی زهٔ هر څیز لره په دغې باندے قیاس کوم[1].

د عبد الله بن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ثوك چه غله واخلی هغه به نهٔ خرڅوی هغې لره د کومې پورے چه ئے ناپ کړے نهٔ وی. طاؤس وائی ما د ابن عباس رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه

یوه نیمه ورځ د پیو کمو ورکولو په باره کښې د گیاه وغیره د خرابئ گمان وی. لیکن د درے ورځو نه پس یقین راځی. بیا چه هر کله داسے ښناور واپس کول غواړی کهٔ اوښه وی یا بزه یا کهٔ غوا وی پی؛ کهٔ د هغې دیر وی یا لږ په هر حال کښې د پیو په بدله یوه کاسه کهجوره ورکول کافی دی او دغه مذهب دے زمونږه او مالك او لیث او ابن ابی لیلی او ابویوسف او ابوثور او فقهاؤ محدثینو او دغه صحیح دے. او زمونږ ځنو ملګرو وئیلی دی چه په دغه ښهر کښې چه د کوم څیز په خوراك کښې رواج وی د هغې یوه کاسه دِ ورکړی دا د کهجورے سره خاص نهٔ دی. او امام حنیفه او یو تولی د اهل عراق والا او ځنې مالکیؤ دا وئیلی دی چه هغه ښناور دِ واپس کړی او یوه کاسه د کهجورو ورکول ضرورت نهٔ دی بلکه د پیو قیمت ورکول پکار دی ولے چه قاعده داده چه کچرے مثلی شے تلف کړی نو مثل دِ ورکړی ورنه قیمت دِ ورکړی. او د بل جنس ورکول د قاعدے نه خلاف دی. او جمهور علماء دا جواب ورکوی چه هر کله حدیث صفا راغلے دے. نو په عقلی قاعده سره په دے باندے اعتراض کول نهٔ دی پکار. او حکمت په دے کښې دادے چه په دغه وخت کښې د عربو خوراك کهجورے وے. او صاع یعنی پیمانه (کاسه) په هر صورت کښې مقرر کړے شوے ده په طور د حد. ددے دپاره چه جهګړه نهٔ وی. او په اکثرو کلو او باندو کښې په قیمت کښې اختلاف وی او فساد پیدا کیږی. نو شرع یوه ضابطه مقرر کړے ده. چه دا قسم جهګړے مطلق را پیدا نهٔ شی او ددے مثال په شرع کښې موجود دے مثلاً د بچی دیت یو غلام وغیره (انتهی)

[1]: او د امام شافعی مذهب دادے چه د غلے څهٔ خصوصیت نشته بلکه د هٔ یو شئ خواه کهٔ منقوله وی یا غیر منقوله وی د کومې پورے چه ئے د اخستلو قبضه پرے نهٔ وی راغلی د هغې پورے ئے خرڅول صحیح نهٔ دی. او عثمان بتی وئیلی دی د هر شی بیعه د قبضے نه مخکښې صحیح ده. او ابوحنیفه وئیلی دی چه صرف د زمکے یا مکان یا باغ وغیره منقوله څیز بیعه د قبضے نه مخکښې روسته ده او د بل یو څیز هم صحیح نهٔ ده. او امام مالك وئیلی دی چه سوا د غلے نه نوره د هر څیز بیعه د قبضے نه مخکښې صحیح ده او اکثرو علماؤ ددهٔ سره اتفاق کړے دے او ځنو وئیلی دی چه کوم څیزونه په ناپ او تول سره خرڅیږی په هغې کښې به ددے حدیث په موافق حکم وی. او د باقی څیزونو بیعه د قبضے نه مخکښې صحیحه ده. لیکن د عثمان بتی قول بالکل شاذ او متروك دے. او قابل د عمل او اعتبار نهٔ دے (نووی)

وَأَحْسِبُ كُلَّ شَيْءٍ بِمَنْزِلَةِ الطَّعَامِ

ولې دده څهٔ وجه ده؟ هغوی اووے ته نهٔ ګورې خلقو ته چه غله د سرو زرو او سپينو زرو په بدله په ميعاد باندې خرڅوی[1]

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی خوك چه غله واخلی هغه به نهٔ خرڅوی د کومے پورے چه ئے پوره وانخلی (يعنی ناپ او تول ئے وانخلی او قبضه پرے او نهٔ کړی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا فِي زَمَانِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبْتَاعُ الطَّعَامَ فَيَبْعَثُ عَلَيْنَا مَنْ يَأْمُرُنَا بِانْتِقَالِهِ مِنَ الْمَكَانِ الَّذِي ابْتَعْنَاهُ فِيهِ إِلَى مَكَانٍ سِوَاهُ قَبْلَ أَنْ نَبِيعَهُ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښ غلې اخستلې بيا به مو يو سړی له زمونږ د طرفنه ليږلے چه هغه به مونږ ته حکم کوو د غلې د هغه ځائے نه د اوچتولو کوم ځائے چه به مو اخستله د خرڅولو نه مخکښ (دده دپاره چه قبضه مو پرے راشی دده نه پس کهٔ غواړی نو د بل چا په لاس ئے بيعه کړی)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اشْتَرَى طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ قَالَ وَكُنَّا نَشْتَرِي الطَّعَامَ مِنَ الرُّكْبَانِ جِزَافًا فَنَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَبِيعَهُ حَتَّى نَنْقُلَهُ مِنْ مَكَانِهِ

د حضرت عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چا چه غلې واخستے نو بيا به هغې لره نهٔ خرڅوی د کومے پورے چه په هغې ئے قبضه نهٔ وی کړے. او مونږ به غلې اخستلې د خاوندانو د سورلو نه په ډيرو لګولو سره . بيا رسول الله ﷺ مونږ منع کړو د ډيرو د خرڅولو نه د کومے پورې چه به هغې لره مونږ بل ځائے ته نهٔ وو وړی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اشْتَرَى طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ وَيَقْبِضَهُ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښ غلې اخستلې بيا به مو يو سړی له زمونږ د طرفنه ليږلے چه هغه به مونږ ته حکم کوو د غلې د هغه ځائے نه د اوچتولو کوم ځائے چه به مو اخستله د خرڅولو نه مخکښ (دده دپاره چه قبضه مو پرے راشی دده نه پس کهٔ غواړی نو د بل چا په لاس ئے بيعه کړی)

---

[1] نو اوس کچرے دا سړے ئے د قبضے نه مخکښ خرڅ کړی نو مبيعه به د کوم ځائے نه راوړی حالانکه په بيعه کښ د مبيعے کيدل ضروری دی. کچرے دا هم په ميعاد باندے خرڅ کړی او کم ميعاد وی د رومبی ميعاد نه نو دغه قباحت دے. او کچرے زيات وی نو داسے شو لکه چه د روپۍ بيعه په روپۍ سره اوشوه. او دا بے فائدے ده او په دے کښ د سود يره ده.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُمْ كَانُوا يُضْرَبُونَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَرَوْا طَعَامًا جِزَافًا أَنْ يَبِيعُوهُ فِي مَكَانِهِ حَتَّى يُحَوِّلُوهُ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے خلقو به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وهل خوړلو په دے خبره باندے چه هغوی به د غلے ډیری اخستل او بیا به ئې په هغه ځائے باندے خرڅول هغے لره د قبضے نه مخکښې[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَدْ رَأَيْتُ النَّاسَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ابْتَاعُوا الطَّعَامَ جِزَافًا يُضْرَبُونَ فِي أَنْ يَبِيعُوهُ فِي مَكَانِهِمْ وَذَلِكَ حَتَّى يُؤْوُوهُ إِلَى رِحَالِهِمْ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه ما اولیدل خلقو لره د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې هر کله چه به هغوی د غلے ډیری واخستل او په هغه ځائے به ئې خپلو کورونو ته د وړلو نه مخکښې هغے لره خرڅول.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ يَشْتَرِي الطَّعَامَ جِزَافًا فَيَحْمِلُهُ إِلَى أَهْلِهِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه هغه به غله اخستله دغه شان ډهیرے په ډهیرے. بیا به ئې هغے لره بار کړے راوړه خپل کورته[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اشْتَرَى طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَكْتَالَهُ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ مَنِ ابْتَاعَ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. څوك چه غله واخلی پس نه به خرڅوی هغے لره د کومے پورے چه ئې ناپ کړی نه وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ لِمَرْوَانَ أَحْلَلْتَ بَيْعَ الرِّبَا فَقَالَ مَرْوَانُ مَا فَعَلْتُ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَحْلَلْتَ بَيْعَ الصِّكَاكِ وَقَدْ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الطَّعَامِ حَتَّى يُسْتَوْفَى قَالَ فَخَطَبَ مَرْوَانُ النَّاسَ فَنَهَى عَنْ بَيْعِهَا قَالَ سُلَيْمَانُ فَنَظَرْتُ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه هغوی مروان بن الحکم ته اووے (چه عامل وو د مدینے) تا صحیح کړه د سود بیعے لره مروان اووے ولے ما څهٔ اوکړو؟ ابوهریره اووے تا د سند (پروانه) بیعه جائز کړه حالانکه رسول الله ﷺ منع کړے ده د غلے د بیعے نه په هغے باندے د قبضے کولو نه مخکښې پس مروان خطبه واوروله خلقو ته او منع ئې کړو هغوی د دغې بیعے نه سلیمان کوم چه د دے حدیث راوی دے د ابوهریره نه هغوی وائی ما اولیدو څوکیدار لره هغه به

---

[1]: امام نووی ؒ وئیلی دی دا حدیث دلیل دے په هغه امر چه حاکم د اسلام فاسده بیعه کونکی والالره تعزیر ورکولے شی په وهلو سره.
[2]: امام نووی ؒ فرمائیلی دی چه د دے حدیث نه د غلے ډهیرے اخستل بغیر د ناپ او تول نه جائز شو او دغه مذهب دے د شافعی چه د غنمو یا د کهجورو ډیرے اخستل حرام نهٔ دی لیکن په کراهت کښې د دے دوه قولونه دی. صحیح دا دے چه کچرے کراهت دے نو تنزیهی دے او دویم قول دا دے چه دغه تنزیهی کراهت هم نشته دے.

إِلَى حَرَسٍ يَأْخُذُونَهَا مِنْ أَيْدِي النَّاسِ

هغه ډیرو لره د خلقو نه اخستلو[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا ابْتَعْتَ طَعَامًا فَلَا تَبِعْهُ حَتَّى تَسْتَوْفِيَهُ

د جابر بن عبد الله انصاری نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ته څۀ غله واخلې بیا مۀ خرڅوه هغې لره د کومے پورے چه د پہ هغې قبضه نۀ وی کړے.

بَاب تَحْرِيمِ بَيْعِ صُبْرَةِ التَّمْرِ الْمَجْهُولَةِ الْقَدْرِ بِتَمْرٍ

باب: د کهجورو ډهیری لره چه د هغې وزن معلوم نۀ وی د کهجورے په بدله خرڅول صحیح نۀ دی

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الصُّبْرَةِ مِنَ التَّمْرِ لَا يُعْلَمُ مَكِيلَتُهَا بِالْكَيْلِ الْمُسَمَّى مِنَ التَّمْرِ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ د کهجورے د ډهیری خرڅولو نه چه د هغې وزن معلوم نۀ وی د هغه کهجورو په بدله چه د هغې وزن معلوم وی[2].

بَاب ثُبُوتِ خِيَارِ الْمَجْلِسِ لِلْمُتَبَايِعَيْنِ

باب: بائع او مشتری دواړو لره اختیار دے ترڅو پورے په هغه مجلس کښې وی کوم ځائے چه بیع شوے وی

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَيِّعَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ عَلَى صَاحِبِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا إِلَّا بَيْعَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی چه خرڅونکی او اخستونکی دواړو ته اختیار دے (د بیع فسخ کولو) هر کله چه دواړه د یو بل نه جدا شوی نۀ وی مګر په هغه بیعه کښې

---

[1] یعنی کچرے د خلقو نه هغوی اخستی وو د هغوی د قبضے نه مخکښې. دلته مراد د هغه سندونو نه هغه ډیری دی چه هغه د حکومت نه میلاویږی. د سالانه معاش چه په هغې کښې غلے وی او روپئ وغیره. نو چه د چا په نوم انبار رااوځی هغۀ له پکار دی چه په خپله قبضه کښې ئے واخلی او خرڅوی ئے. او کچرے د قبضے نه مخکښې ئے خرڅ کړی نو په دے کښې اختِلاف دے. نووی وئیلی دی چه په تولو کښې صحیح داده چه هغه جائز دی. او یو قول دادے چه جائز نۀ دی په دلیل د قول د ابوهریره. او چا چه ورته جائز وئیلی دی هغوی د ابوهریره د قول تاویل کړے دے په دے شان خو د مروان هغه بیعه ده کومه چه اخستونکی د چا دریم سړی په لاس کړے وی د مشتری یعنی خریدار د قبضے نه مخکښې. نۀ اوله بیعه کومه چه خاوند د مال د خریدار په لاس کړے وی نو دا هم د دویمے بیعی نه ده. نۀ دا اولے بیعے نه چه د صاحب مال ملك مستقل دے او هغه مشتری نۀ دے. نو د هغۀ بیعه د قبضے نه مخکښې سحیح ده. لکه څنګه چه څوك د ترکے مال د قبضے نه مخکښې خرڅ کړی (انتهٰی)

[2] ولے چه هر کله جنس یو وی نو برابر خرڅول ئے پکار دی. او دلته احتمال دے چه د یو طرف کهجورے په ناپ کښې زیاتے وی البته کچرے د بل جنس په بدله ئے خرڅے کړی نو څۀ قباحت پکښې نشته دے.

الْخِيَارِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِذَا تَبَايَعَ الرَّجُلَانِ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا وَكَانَا جَمِيعًا أَوْ يُخَيِّرُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ فَإِنْ خَيَّرَ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ فَتَبَايَعَا عَلَى ذٰلِكَ فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ وَإِنْ تَفَرَّقَا بَعْدَ أَنْ تَبَايَعَا وَلَمْ يَتْرُكْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا الْبَيْعَ فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَبَايَعَ الْمُتَبَايِعَانِ بِالْبَيْعِ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ مِنْ بَيْعِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا أَوْ يَكُونُ بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ فَإِذَا كَانَ بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ فَقَدْ وَجَبَ زَادَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ نَافِعٌ فَكَانَ إِذَا بَايَعَ رَجُلًا فَأَرَادَ أَنْ لَا يُقِيلَهُ قَامَ فَمَشَى هُنَيَّةً ثُمَّ رَجَعَ

چه په کومے کښې چه د اختيار شرط شوے دے[1].

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر کله چه دوه سړي اخستل خرڅول کوي نو هر يو ته اختيار دے (د معاملے ماتولو) د کومے پورې چه دواړه جدا شوي نه وي لو په يو ځائے وي يا يو بل ته اختيار ورکړي (د معاملے د نافذ کولو او د بيعے د پوره کولو اوس کچرے يو اختيار ورکړو بل ته او اوئے وئيل چه بيعه نافذه کړه) بيا دواړه د بيع په نفاذ باندے راضي شو نو بيعه لازمه شوه. او کۀ بيعے نه روستو دواړو جدا شو او يو پکښې هم بيعه فسخ نۀ کړه بيا هم بيعه لازم شوه.

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي هر کله چه دوه سړي په خپلو کښې اخستل او خرڅول کوي نو هر يو ته به اختيار وي د کومے پورے چه جدا شوي نۀ وي يا د هغوي بيعه په خيار شرط وي بيا کچرے بيعے له اختيار کړي نو بيعه لازميږي د ابن ابي عمرؓ په روايت کښې دومره زياته ده چه نافع وائي عبد الله بن عمرؓ چه به کله بيعه کوله د چا سړي سره او دا به ورته منظوره شوه چه بيعه د فسخ نۀ شي نو لږ شان لرے به لاړو (د بيعے نه پس دد ے

[1] : په دے کښې د جدا کيدو نه پس هم اختيار باقي پاتے دے د مقرر شوے مودے پورے. نوويؒ وائي دد ے حديث نه دليل اخستے شوے دے د مجلس د اختيار په ثبوت باندے. د بائع او مشتري دواړو دپاره. تردے پورے چه هغه دواړه د بيعے د مجلس نه جدا شي. (يعني د هغه ځائے نه چرته بل خوا لاړشي د خپل جسم نه جدا شي) او د جهمور صحابۇ او تابعينو دغه قول دے. او دد ے په طرف تلي دي علي بن ابي طالب او ابن عمر او ابن عباس او ابوهريره او ابوبرزه اسلمي او طاوس او سعيد بن المسيب او عطاء او شريح او حسن بصري او شعبي او اوزاعي او ابن ابي ذئب او سفيان بن عيينه او شافعي او ابن مبارك او علي بن المديني او احمد بن حنبل او اسحق بن راهويه او ابوثور او ابوعبيد او بخاري او ټول محدثين او امام ابوحنيفه او مالكؒ رحمهم الله وئيلي دي چه د مجلسؒ اختيار ځله شے نۀ دے بلکه هر کله چه په ژبه سره ايجاب او قبول اوشي نو بيعه لازم شوه. او ربيعهؒ هم داسے وئيلي دي او د نخعيؒ نه هم دغه شان منقول دي او د ثوريؒ نه و روايت داسے هم دے.

إِلَيهِ

دپاره چه جدائی راشی، بیا به واپس راځی د هغه خواله[1]

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ بَيِّعَيْنِ لَا بَيْعَ بَيْنَهُمَا حَتَّى يَتَفَرَّقَا إِلَّا بَيْعَ الْخِيَارِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یوه بیعه نهٔ لازمیږی ترڅو چه بائع او مشتری جدا شوی نهٔ وی مګر په بیع خیار کښې[2]

عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا وَإِنْ كَذَبَا وَكَتَمَا مُحِقَ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا

د حکیم بن حزام نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بائع او مشتری دواړو ته اختیار دے ترڅو پورے چه جدا شوی نهٔ وی. بیا کچرے هغه دواړه رښتیا وائی او بیان کړی (چه کوم څهٔ عیب وی په څیز کښې یا په قیمت کښې) نو د هغوی په بیعه کښې به برکت وی او څوك چه دروغ وائی او پټوی (عیب لره) نو د هغوی د بیعے برکت به ختم کړے شی. او ددوی تجارت به چرته وده نهٔ کوی (په حقیقت کښې تجارت وی یا زراعت وی یا نوکری ایمانداریٔ او استبازی هغه شے دے چه دد ے په وجه په هر څیز کښې د ورځے دوچند او د شپے څلور چنده ترقی کیږی)

عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ قَالَ مُسْلِمُ بْنُ الْحَجَّاجِ

د حکیم بن حزامؓ نه دا روایت هم دغسے دے څنګه چه پورته تیر شو. امام مسلمؒ وائی چه حکیم بن حزامؓ چه راوی دے د دے حدیث هغه

---

[1] امام نوویؒ وئیلی دی چه دا روایت دلیل دے د هغه امر چه د جدایئ نه مراد د بدنونو جدائی ده. نهٔ د ایجاب او قبول سره جدائی ده. لکه چه څنوئے دغه تاویل کړے دے.

[2] نوویؒ وائی دا چه کومه استثنی په حدیث کښې منقول ده "إِلَّا بيع الخيار" دد ے په تفسیر کښې درے قولونه دی. یو دا چه مراد هغه خیار دے چه هغه روستو د پوره کیدو د عقد نه وی دمجلس د جدایئ نه مخکښې. او مطلب دا دے چه دواړو ته به اختیار وی د کومے پورے چه جدا شوے نهٔ وی. مګر په دے صورت کښې چه هم په دغه مجلس کښې دا اختیار ختم کړی. مثلاً دواړه په یو ځائے بیعے لره نافذه کړی نو بیعه به لازم شی او د اختیار باقی پاتے کیدل به د جدایئ پورے نهٔ وی. دویم دا چه مراد د مستثنی نه هغه بیعه ده چه په هغے کښې د اختیار شرط مقرر شوے وی د درے ورځو پورے یا دد ے نه کم نو په دے بیعه کښې به د جدایئ سره اختیار به نهٔ ختمیږی. بلکه د شرط کړے شوے مودے پورے به باقی پاتے وی. دریم دا چه مراد هغه بیعه ده چه په هغے کښې د خیار د نفعے شرط وی. په دے صورت کښې به بیعه خاص په مجلس کښې لازمیږی او اختیار به نهٔ وی. او دا د اخیر تفسیر به د هغه سړی په مذهب باندے صحیح وی چه هغه دد ے شرط سره بیعے لره جائز ګڼری. او صحیح زمونږ د ملګرو په نزد دا ده چه په دے شرط سره بیعه باطلیږی. (انتهی)

وَلِدَ حَكِيمُ بْنُ حِزَامٍ فِي جَوْفِ الْكَعْبَةِ وَعَاشَ مِائَةً وَعِشْرِينَ سَنَةً

خاص د کعبې دننه پیدا شوے وو او د شپږو شلو کالو پورے ژوندے وو.

بَاب مَنْ يُخْدَعُ فِي الْبَيْعِ

باب : کوم سړے چه په بیعه کښې دهوکه اوخوری

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ ذَكَرَ رَجُلٌ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يُخْدَعُ فِي الْبُيُوعِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَايَعْتَ فَقُلْ لَا خِلَابَةَ فَكَانَ إِذَا بَايَعَ يَقُولُ لَا خِيَابَةَ

د حضرت عبد اللّٰه بن عمر نه روایت دے چه د رسول اللّٰه ﷺ په مخکښې د یو سړی ذکر اوشو چه هغهٔ له خلق دهوکه ورکوی په بیعه کښې. نو حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه سړی ته چه چه هر کله ته د څه بیعه کوے نو وایه ورته چه فریب نشته دے (یعنی څما سره دهوکه مهٔ کوه کچرے تهٔ دهوکه کوے نو هغه بیعه په ما بانده لازم نهٔ وی) بیا به هغه هر کله چه بیعه کوله نو دغه به ئے وئیلو (مگر د لا خلابة په ځائے به د هغه د ځلے نه لا خیابة وتلو ولے چه هغه لام نهٔ شو وئیلے)

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِهِمَا فَكَانَ إِذَا بَايَعَ يَقُولُ لَا خِيَابَةَ

د عبد اللّٰه بن دینار نه هم دغه شان روایت مروی دے مگر په دے روایت کښې دا نشته دے چه هر کله به ئے خرخ کوو نو خیابته به ئے وئیلو[1].

---

[1] : نووی وئیلی دی په څنو نسخو کښې لا خیانة دے مگر هغه تصحیف دےاو په څنو نسخو کښې لا خذابة دے. خو صحیح دغه دے لا خیابة. او د هغه سړی نوم حسان بن منقذ بن عمرو انصاری وو. چه پلار دے د یحیٰی او واسع بن حبان د احد په جنګ کښې شریك وو. او څنو وئیلی دی چه د هغهٔ پلار منقذ وو چه د هغهٔ عمر یو سل دیرش کاله شوے وو او په یو جنګ کښې د هغهٔ سر په ګټه زخمی شوے وو دے په وجه د هغهٔ په عقل او ژبه دواړو کښې تتوالے راغلے وو. او دار قطنی وئیلی دی چه هغه ړوند وو. او په یو روایت کښې دی چه ثابت نهٔ دی چه جناب رسول اللّٰه ﷺ هغهٔ ته دا فرمائیلی وو چه تهٔ وایه ما ته اختیار دے د درے ورځو پورے (روایت کړے دے لره حاکم په مستدرك کښې او بیهقی په کتاب المعرفة کښې او ابن ماجه په سنن کښې او دار قطنی او بخاری په تاریخ وسط کښې او په تاریخ کبیر کښې او طبرانی په اوسط کښې. او ابن ابی شیبه په مصنف کښې او عبد الرزاق په مصنف کښې او عبد الحق په احکام کښې) اوس اختلاف کړے دے عالمانو په دے حدیث کښې. څنو دا اختیار خاص کړے دے ددغه سړی سره. او وئیلی دی چه نورو خلقو لره اگر کهٔ د هغوی نقصان وی په بیعه کښې دا اختیار نشته دے او دغه مذهب دے د امام شافعی او امام ابوحنیفه او دغه صحیح روایت دے د مالك نه. او د بغداد مالکیه وائی چا ته چه غبن ورکړے شی هغهٔ ته اختیار دے ددے حدیث په رو سره په دے شرط چه هغه غبن د قیمت دریمے حصے ته رسی. ددے نه په کم کښې به دا اختیار نهٔ وی او صحیح اول مذهب دے ولے چه اختیار د صحیح روایت نه ثابت نهٔ شو. انتهی مختصراً

بَابُ النَّهْيِ عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ قَبْلَ بُدُوِّ صَلَاحِهَا بِغَيْرِ شَرْطِ الْقَطْعِ

باب: میوه ترڅو پورې د هغې د صلاحیت یقین نۀ وی په اونه کښې خرڅول صحیح نۀ دی هر کله چه د شوکولو شرط نۀ وی

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهَا نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُبْتَاعَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے رسول الله ﷺ منع کړے ده د میوو د خرڅولو نه (په اونو کښې) تر هغې پورې چه د هغې د صلاحیت یقین نۀ وی راغلے. منع کړے ئے دے خرڅونکے د خرڅولو نه او اخستونکے د اخستلو نه.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتَّى يَزْهُوَ وَعَنِ السُّنْبُلِ حَتَّى يَبْيَضَّ وَيَأْمَنَ الْعَاهَةَ نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُشْتَرِيَ

د عبدالله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د کهجورو د خرڅولو نه د کومے پورے چه هغه سرے یا زیړے شوے نۀ وی (ځکه چه هر کله سور والے یا زیړ والے پکښې اولګی نو د سلامتیٔ یقین پرے اوشی) دغه شان منع ئے فرمائیلے ده د اوربی د خرڅولو نه د کومے پورے چه سپین شوی نۀ وی او د آفت یره ترے تلی نۀ وی. او منع ئے کړے ده بائع لره د خرڅولو نه او خریدار لره د اخستلو نه

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبْتَاعُوا الثَّمَرَ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ وَتَذْهَبَ عَنْهُ الْآفَةُ قَالَ يَبْدُوَ صَلَاحُهُ حُمْرَتُهُ وَصُفْرَتُهُ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مۀ خرڅوئ میوے لره په (اونه کښې) تر هغې پورے چه د هغې د آفت د لرے کیدو او د سلامتیٔ د معلومیدو یقین راشي. د سلامتیٔ د معلومیدو نه غرض دا دے چه سور والے یا زیړ والے پکښې ښکاره شي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبِيعُوا الثَّمَرَ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مۀ خرڅوئ میوے لره د کومے پورے چه د هغې سلامتی معلومه نۀ وی.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِي حَدِيثِ شُعْبَةَ فَقِيلَ لِابْنِ عُمَرَ مَا صَلَاحُهُ قَالَ تَذْهَبُ عَاهَتُهُ

د عبد الله بن دینار ؒ نه هم د دغه رایت پشان روایت دے کوم چه پورته ذکر شو په دے کښې دومره زیاته ده چه خلقو اووے عبد الله بن عمر ته د میوے د سلامتیٔ نه ځۀ مراد دے هغوی اووے چه د هغې آفت ختم شي.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى أَوْ نَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د حضرت جابر ؓ نه روایت دے منع کړی دی مونږ لره جناب رسول الله ﷺ

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ حَتَّى يَطِيبَ

دمیوؤ د خرڅولو نه د کومې پورې چه هغه پاکې نۀ شی (یعنی د آفت نه).

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ

د حضرت جابر بن عبد الله انصاری نه روایت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ په اونه کښې د میوے خرڅولو نه تر دے پورے چه د هغې صلاحیت ظاهر شی.

عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ بَيْعِ النَّخْلِ فَقَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتَّى يَأْكُلَ مِنْهُ أَوْ يُؤْكَلَ وَحَتَّى يُوزَنَ قَالَ فَقُلْتُ مَا يُوزَنُ فَقَالَ رَجُلٌ عِنْدَهُ حَتَّى يُحْزَرَ

د ابوالبُختری نه روایت دے (د دوی نوم سعید بن عمران وو) چه ما د ابن عباس نه تپوس اوکړو د کهجورو د اونې د بیعې په باره کښې (یعنی د میوے د خرڅولو) هغوی اووے منع کړے ده رسول الله ﷺ د کهجورو د بیعې نه هر کله چه هغه د خوړلو لائقې شی او هر کله چه هغه د شوکولو او ایخودو لائقې شی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبْتَاعُوا الثِّمَارَ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهَا

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مۀ خرڅوئ میوؤ لره د کومې پورے چه د هغې صلاحیت معلوم نۀ وی[1].

بَابُ تَحْرِيمِ بَيْعِ الرُّطَبِ بِالتَّمْرِ إِلَّا فِي الْعَرَايَا

باب: لمدے کهجورے د اوچو کهجورو په بدله کښې خرڅول حرام دی مګر په عریه کښې صحیح ده[2]

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د

---

[1]: نووی وئیلی دی دا ممانعت په هغه صورت کښې دے چه هر کله د شوکولو شرط نۀ وی په بیعه کښې. لیکن زمونږه ملګرو وئیلی دی چه کچرے د شوکولو شرط اوکړے شی. او بیائے دے او نۀ شوکوی بیا هم صحیح کیدے شی. او بائع به زور کوی په اخستونکی د شوکولو دپاره. البته کۀ دواړه راضی وی په اونه کښې د پریخودلو دپاره نو جائز دی. او څوك چه ئے په دے شرط خرڅ کړی چه په اونه کښې ئے د غسے خرڅه کړی نو په اجماع سره دا بیعه باطله ده. ځکه چه کله میوه تلف کیږی نو خرڅونکے به د خپل رور مال مفت والوزوی او دا منع دی. دغه شان کۀ بغیر د شرط نه ئے خرڅ کړی بیا هم زمونږ او د جمهورو عالمانو په نز دا بیعه باطله ده. او روستو د صلاحیت معلومیدو نه په هر شان سره بیعه صحیح ده.

[2]: عریه دادے چه د باغ مالكُ د خپلو اونو نه څۀ اونے چا غریب له ورکړی او په دغه اونو کښې شنه میوه لګیدلے وی بیا دے میوے لره هغه غریب د چا بل په لاس یا پخپله د مالك په لاس د اوچے میوے په بدله خرڅه کړی. رسول الله دے ته جائز وئیلی دی د دے دپاره چه غریبانو ته تکلیف نۀ وی. او ځنو وئیلی دی عریه داده چه غریب سړے چه د هغۀ سره نغدے روپۍ نۀ وے هغه پخپله او د خپل اهل وعیال د خوراك دپاره د اوچو کهجوو په بدله کښې په اونو کښې شنے کجورے واخلی نو جائز دی. په دے شرط چه د پنځۀ وسقو نه کم وی او یو وسق شپیتۀ کاسے وی. او دے ته مزابنه وئیلے شی کومه چه ممنوع ده. مګر عریه لره ترے حضرت مستثنی کړے دے.

وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ التَّمْرِ حَتّٰى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ وَعَنْ بَيْعِ التَّمْرِ بِالتَّمْرِ قَالَ ابْنُ عُمَرَ وَحَدَّثَنَا زَيْدُ ابْنُ ثَابِتٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ رَخَّصَ فِيْ بَيْعِ الْعَرَايَا زَادَ ابْنُ نُمَيْرٍ فِيْ رِوَايَتِهِ اَنْ تُبَاعَ

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَبْتَاعُوا الثَّمَرَ حَتّٰى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ وَلَا تَبْتَاعُوا الثَّمَرَ بِالتَّمْرِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَحَدَّثَنِيْ سَالِمُ ابْنُ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنَ عُمَرَ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ مِثْلَهُ سَوَاءً

عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ الْمُزَابَنَةِ وَالْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةُ اَنْ يُبَاعَ ثَمَرُ النَّخْلِ بِالتَّمْرِ وَالْمُحَاقَلَةُ اَنْ يُبَاعَ الزَّرْعُ بِالْقَمْحِ وَاسْتِكْرَاءُ الْاَرْضِ بِالْقَمْحِ قَالَ وَاَخْبَرَنِيْ سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ لَا تَبْتَاعُوا الثَّمَرَ حَتّٰى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ وَلَا تَبْتَاعُوا الثَّمَرَ بِالتَّمْرِ وَ قَالَ سَالِمٌ اَخْبَرَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ رَخَّصَ بَعْدَ ذٰلِكَ فِيْ بَيْعِ الْعَرِيَّةِ بِالرُّطَبِ اَوْ بِالتَّمْرِ وَلَمْ يُرَخِّصْ فِيْ غَيْرِ ذٰلِكَ

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ رَخَّصَ

میوؤ د خرڅولو نه د کومے پورے چه د هغے صلاحیت معلوم نۀ وی. او په اونه کښې شنے کهجورے د اوچو کهجورو په بدله کښې د خرڅولو نه ابن عمر وئیلی دی چه زید بن ثابت مونږ ته حدیث بیان کړو چه رسول الله ﷺ رخصت ورکړے دے د عرایا په بیعه کښې (عرایا جمع د عریه ده چه معنی ئے پورته ذکر شوه)

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مۀ خرڅوئ په اونه کښې میوے د کومے پورے چه د هغے صلاحیت ظاهر شوے نۀ وی او مۀ خورڅوئ د اونو کهجورے د اوچو کهجورو په بدل کښې.

ابن شهاب روایت کړے دے د سعید بن المسیب نه چه رسول الله ﷺ منع کړے ده مزابنه نه او محاقله نه. مزابنه دا ده چه په اونه کښې کهجورے د اوچو کهجورو په بدله خرڅے کړے شی او محاقله داده چه په وږی کښې غنم د غنمو د ډهیری په بدله خرڅ کړے شی او منع کړے ده حضرت ﷺ د زمکے په کرایه باندے د ورکولو نه د غنمو په بدله (یعنی د هغه غنمو په بدله کوم چه په دے زمکه کښې پیدا کیږی) ابن شهاب وئیلی دی ما ته سالم بن عبد الله بیان اوکړو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مۀ خرڅوئ میوے هر کله چه د هغے صلاحیت معلوم نۀ وی. او مۀ خرڅوئ په اونه کښې کهجورے د اوچو کهجورو په بدله. او سالم وئیلی دی ما ته عبد الله بیان کړے دے هغوی اوریدلی دی د زید بن ثابت نه هغوی اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه حضرت ﷺ رخصت ورکړو دے نه پس په عریه کښې. او سوا د عریه نه د بل هیڅ شی اجازت نشته دے.

د زید بن ثابتؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اجازت ورکړے دے

لِصَاحِبِ الْعَرِيَّةِ أَنْ يَبِيعَهَا بِخَرْصِهَا مِنَ التَّمْرِ

عريه والا ته د هغې د خرځولو د كهجورو په بدل كښې په اندازه سره.

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِي الْعَرِيَّةِ يَأْخُذُهَا أَهْلُ الْبَيْتِ بِخَرْصِهَا تَمْرًا يَأْكُلُونَهَا رُطَبًا

د زيد بن ثابت نه روايت دے چه رسول الله ﷺ رخصت وركړے دے په عُريه كښې او مراد د عُريه نه دادے چه د يو كور خلق په اندازه سره كهجورے وركړي او د هغې په بدله كښې په اونه كښې شنې كهجورے خوراك له واخلي.

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَالْعَرِيَّةُ النَّخْلَةُ تُجْعَلُ لِلْقَوْمِ فَيَبِيعُونَهَا بِخَرْصِهَا تَمْرًا

د يحيٰى بن سعيد نه دغه شان مروى دے. په دے كښې دادي چه عُريه هغه اونه ده د كهجورے چه هغه چاله وركړے شي. بيا هغه په اندازه د هغې ميوے لره د اوچو كهجورو په بدله خرڅې كړي.

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرِيَّةِ بِخَرْصِهَا تَمْرًا قَالَ يَحْيَى الْعَرِيَّةُ أَنْ يَشْتَرِيَ الرَّجُلُ ثَمَرَ النَّخَلَاتِ لِطَعَامِ أَهْلِهِ رُطَبًا بِخَرْصِهَا تَمْرًا

د زيد بن ثابت نه روايت دے چه رسول الله ﷺ رخصت وركړے دے د عُريه په بيعه كښې د اندازے كولو د كهجورے په بدله. يحيٰى وائى عريه داده چه يو سړے په څو اونو كښې ميے د خپل كور والاد خوراك دپاره واخلى د اوچې كهجورے په بدله كښې په اندازه سره.

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِي الْعَرَايَا أَنْ تُبَاعَ بِخَرْصِهَا كَيْلًا

د زيد بن ثابت نه روايت دے چه رسول الله ﷺ رخصت وركړے دے په عُرايه كښې په اندازه د خرڅولو د ناپ نه.

عَنْ نَافِعٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا بِخَرْصِهَا

د نافع نه مروى دے په دغه سند سره چه رسول الله ﷺ اجازت وركړے دے د عُرايا د بيعے په اندازه كولو سره.

عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ مِنْ أَهْلِ دَارِهِمْ مِنْهُمْ سَهْلُ بْنُ أَبِي حَثْمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ وَقَالَ ذٰلِكَ الرِّبَا تِلْكَ الْمُزَابَنَةُ إِلَّا أَنَّهُ رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرِيَّةِ النَّخْلَةِ وَالنَّخْلَتَيْنِ يَأْخُذُهَا أَهْلُ الْبَيْتِ بِخَرْصِهَا تَمْرًا يَأْكُلُونَهَا

بشير بن يسار د رسول الله ﷺ د څنې صحابوْ نه روايت كړے دے كوم چه د هغوى په كور كښې اوسيدلو چه په هغوى كښې يو سهل بن ابى حثمه وو. چه رسول الله ﷺ منع كړے ده په اونه كښې د لګيدلو كهجورو د اوچو كهجورو په بدل د خرڅولو نه او فرمائيلى ئې دى د غه سود دے دغه مزابنه ده. مگر حضرت ﷺ اجازت وركړے دے د عريه په بيعه كښې چه د يوے اونے يا د دوؤ اونو كهجورے څوك كور والا (د خپل بال بچ د خوراك دپاره) واخلى او د هغې په بدل كښې په

رُطَبًا

اندازه سره اوچے کهجورے ورکړی د شنو کهجورو خوراك له

عَنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ قَالُوا رَخَّصَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِي بَيْعِ الْعَرِيَّةِ بِخَرْصِهَا تَمْرًا

د رسول الله ﷺ د صحابوؓ نه روایت دے. هغوی وئیلی دی رسول الله ﷺ اجازت ورکړو د عریه د بیعے په اندازه کولو.

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ وَسَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ حَدَّثَاهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُزَابَنَةِ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ إِلَّا أَصْحَابَ الْعَرَايَا فَإِنَّهُ قَدْ أَذِنَ لَهُمْ

د رافع بن خدیج او سهل بن ابی حثمه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د مزابنه نه. یعنی د اونے شنے کهجورے په بدل د اوچو کهجورو د خرڅولو نه مګر عُرایه والا ته ئے د هغے اجازت ورکړے دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا بِخَرْصِهَا فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ أَوْ فِي خَمْسَةٍ يَشُكُّ دَاوُدُ قَالَ خَمْسَةٌ أَوْ دُونَ خَمْسَةٍ قَالَ نَعَمْ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اجازت ورکړے دے د عُرایا په بیعه کښ په اندازے سره په دے شرط چه د پنځهٔ وسق نه کم وی یا د پنځهٔ وسقه پورے. شك دے داؤد بن الحصین ته چه راوی دے دد دے حدیث.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْمُزَابَنَةُ بَيْعُ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا وَبَيْعُ الْكَرْمِ بِالزَّبِيبِ كَيْلًا

د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د مزابنه نه. او مزابنه وئیلے شی په اونه کښ کهجورو لره د اوچو کهجورو په بدله خرڅولو ته په ناپ سره. او په اونه کښ انګورو لره د اوچو انګورو په بدله کښ خرڅولو ته په ناپ سره.

عَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُزَابَنَةِ بَيْعِ ثَمَرِ النَّخْلِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا وَبَيْعِ الْعِنَبِ بِالزَّبِيبِ كَيْلًا وَبَيْعِ الزَّرْعِ بِالْحِنْطَةِ كَيْلًا

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د مزابنه نه او مزابنه وئیلے شی په بدله خرڅولو ته او په اونه کښ انګور د اوچو انګورو په بدله خرڅولو ته په ناپ سره (په اټکل او اندازه کولو سره) او پټے د غنمو د غنمو په بدله خرڅولو ته (دے ته محاقله هم وئیلے شی)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْمُزَابَنَةُ بَيْعُ ثَمَرِ النَّخْلِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا وَبَيْعُ الزَّبِيبِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ د مزابنه نه. او مزابنه بیعه ده په اونه کښ کهجورې د اوچو کهجورو سره د

بِالْعِنَبِ كَيْلًا وَعَنْ كُلِّ ثَمَرٍ بِخَرْصِهِ

ناپ کولو او په اونه کښې انګور د اوچو انګورو سره په ناپ کول وسره په دے شان هره میوه په اندازے سره د هغې میوے په بدله

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْمُزَابَنَةُ أَنْ يُبَاعَ مَا فِي رُءُوسِ النَّخْلِ بِتَمْرٍ بِكَيْلٍ مُسَمًّى إِنْ زَادَ فَلِي وَإِنْ نَقَصَ فَعَلَيَّ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده د مزابنه نه او مزابنه داده چه د اونې کهجورے د اوچو کهجورو په بدله خرڅے کړے شي. یعني د اوچو کهجورو ناپ به معین وي (مثلاً څلور اوړي یا پنځۀ اوړي د اوچو کهجوو په بدلہ او اخستونکے دا اووائي چه د اونې کهجورے کچرے زیاتے اوختے نو څما به وي او کۀ کمے شوے نو څما به نقصان وي.

عَنْ أَيُّوبَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

د ایوب نه په دے اسناد سره دغسے مضمون دے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُزَابَنَةِ أَنْ يَبِيعَ ثَمَرَ حَائِطِهِ إِنْ كَانَتْ نَخْلًا بِتَمْرٍ كَيْلًا وَإِنْ كَانَ كَرْمًا أَنْ يَبِيعَهُ بِزَبِيبٍ كَيْلًا وَإِنْ كَانَ زَرْعًا أَنْ يَبِيعَهُ بِكَيْلِ طَعَامٍ نَهَى عَنْ ذَلِكَ كُلِّهِ وَفِي رِوَايَةِ قُتَيْبَةَ أَوْ كَانَ زَرْعًا

د عبد الله نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ مزابنه نه او هغه داده چه د خپل باغ میوه کۀ کهجوره وي نو د اوچے کهجورو په بدلهٔ ئے خرڅے کړي په ناپ سره. او کچرے انګور وي نو د اوچو انګورو په بدله ئے خرڅے کړي په ناپ سره. او کچرے فصل وي نو د اوچے غلے په بدله ئے خرڅ کړي په ناپ سره. حضرت ﷺ د دے ټولو خبرونه منع کړے ده (ځکه چه په دے ټولو کښې احتمال دے د کمي او زیاتي)

بَابُ مَنْ بَاعَ نَخْلًا وَعَلَيْهَا ثَمَرٌ

باب: څوك د کهجورے اُونه خرڅه کړي او په هغې کښې کهجورے وي (د هغې حکم)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ بَاعَ نَخْلًا قَدْ أُبِّرَتْ فَثَمَرَتُهَا لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ

د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چا چه د کهجورے اونه خرڅه کړه د څوکے پیوند کولو نه پس مګر په هغې باندے میوه د خرڅونکي ده مګر هر کله چه ئے خریدار شرط واخلي[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

---

[1] چه میوه به زۀ اخلم او بائع پرے راضي شي نو میوه به خریدار ته میلاوېږي. د مالك او شافعي او لیث او د زیاتو عالمانو مذهب د دے حدیث موافق دے. او هغوی وائي چه کچرے د دغې اونې تیغ پیوند شوے نۀ وي نو میوه به د خریدار وي البته کچرے بائع

وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا نَخْلٍ اشْتُرِيَ أُصُولُهَا وَقَدْ أُبِّرَتْ فَإِنَّ ثَمَرَهَا لِلَّذِي أَبَّرَهَا إِلاَّ أَنْ يَشْتَرِطَ الَّذِي اشْتَرَاهَا

د عبد اللهٔ بن عمرؓ نه روایت دے چه جناب رسول اللهﷺ فرمائیلی دی د کومے اونے زیلے چه څوك واخلی او په هغے کښې تیغ پیوند شوے وی. نو میوه به د هغه چا وی چا چه پکښې تیغ (یعنی قلم) پیوند کړے وی. مګر هر کله چه خریدار ئے شرط اولګوی[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا امْرِئٍ أَبَّرَ نَخْلاً ثُمَّ بَاعَ أَصْلَهَا فَلِلَّذِي أَبَّرَ ثَمَرُ النَّخْلِ إِلاَّ أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ

د عبد اللهٔ بن عمر نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه تیغ پیوند کړی او د کهجورے هغه اونه خرڅه کړی نو میوه به هم د هغهٔ وی. مګر په هغه صورت کښې چه خریدار ترے شرط واخلی د میوے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنِ ابْتَاعَ نَخْلاً بَعْدَ أَنْ تُؤَبَّرَ فَثَمَرَتُهَا لِلَّذِي بَاعَهَا إِلاَّ أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ وَمَنِ ابْتَاعَ عَبْدًا فَمَالُهُ لِلَّذِي بَاعَهُ إِلاَّ أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ

د عبد اللهٔ بن عمر نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو څوك چه د کهجورے اونه د تابیر نه پس واخلی نو میوه به د هغے بائع ته میلاویږی مګر هر کله چه مشتری ورسره د میوے شرط اولګوی. او څوك چه یو غلام واخلی او هغه مالدار وی نو مال به ئے بائع وی. مګر هر کله چه مشتری ورسره شرط اوکړی.

عَنْ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ

د عبد اللهٔ بن عمر نه هم دغه شان دے لکه چه پورته تیر شو[2].

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ

باب: د بیعه محاقله او مزابنه او مخابره

شرط اولګوی چه میوه به زهٔ اخلم او اخستونکے پرے راضی شی نو میوه به خرخونکی ته میلاویږی. او د امام ابوحنیفه په نز به په هر صورت کښې میوه د بائع وی. او د ابن ابی لیلی په نز به دغه میوه په هر حال کښې د اخستونکی وی. (نووی مختصراً)

[1] د میوے کهٔ نے د خان دپاره شرط اولګوو نو دهٔ ته به میلاویږی. د کهجورے اونه نر او ښځه وی. د ښځے تیغ اوځیری او د نر تیغ پکښې پیوند کړی نو ډیره میوه نیسی. په عربئ کښې دے ته تابیر وئیلے شی. او مُؤَبَّر هغه اونے ته وئیلے شی د کومے سره چه دا عمل کړے شوے وی.

[2] امام نووی وئیلی دی په دے حدیث کښې دلالت دے د امام مالك او شافعی د قدیم مذهب کهٔ چرے مالك خپل غلام لره د مال مالك کړی نو د هغهٔ ملك کیدے شی. لیکن بیا چه هر کله مالك دغه غلام خرخوی نو هغه به د مال مالك کیږی. او نوے قول د امام شافعی او د امام ابوحنیفه مذهب داد ے چه غلام د څهٔ څیز مالك کیدے نهٔ شی. او د حدیث نه مقصود داد ے چه کوم مال د غلام په قبضه کښې وی نهٔ د هغهٔ په ملك کښې هغه مال به د بائع وی تردے پورے چه کومے کپړے چه ذے غلام اغوستے وی هغه هم.

وَالْمُزَابَنَةِ وَعَنِ الْمُخَابَرَةِ وَبَيْعِ الثَّمَرَةِ قَبْلَ بُدُوِّ صَلَاحِهَا وَعَنْ بَيْعِ الْمُعَاوَمَةِ وَهُوَ بَيْعُ السِّنِينَ

ممانعت او د میوے خرڅول مخکښ د صلاحیت نه او د بیعه معاومه نه منع کیدل[1]

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَالْمُخَابَرَةِ وَعَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ وَلَا يُبَاعُ إِلَّا بِالدِّينَارِ وَالدِّرْهَمِ إِلَّا الْعَرَايَا

د حضرت جابر بن عبد الله نه روایت دے رسول الله ﷺ منع کړے ده د محاقله نه او مزابنه نه او مخابره نه او د میوؤ د بیعے نه د کومے پورے چه د هغے صلاحیت معلوم شوے نهٔ وی. او نهٔ دِ شی خرڅولے میوے مګر د روپو یا اشرفو په بدل کښ البته د عُرایا بیعه صحیح ده[2].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُخَابَرَةِ وَالْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَعَنْ بَيْعِ الثَّمَرَةِ حَتَّى تُطْعِمَ وَلَا تُبَاعُ إِلَّا بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ إِلَّا الْعَرَايَا قَالَ عَطَاءٌ فَسَّرَ لَنَا جَابِرٌ قَالَ أَمَّا الْمُخَابَرَةُ فَالْأَرْضُ الْبَيْضَاءُ يَدْفَعُهَا الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ فَيُنْفِقُ فِيهَا ثُمَّ يَأْخُذُ مِنَ الثَّمَرِ وَزَعَمَ أَنَّ الْمُزَابَنَةَ بَيْعُ الرُّطَبِ فِي النَّخْلِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا وَالْمُحَاقَلَةَ فِي الزَّرْعِ عَلَى نَحْوِ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د مخابره او محاقله او مزابنه نه او د میوے د بیعے نه د کومے پورے چه هغه د خوراك لائقے نهٔ وی. او نهٔ دِ شی خرڅولے مګر د دینار او درهم په بدله سره البته عرایا صحیحه ده. عطاء وائی جابر ؓ ددے لفظونو معنے بیان کړے نو اوئے وئیلی چه مخابره داده چه خالی زمکه یو سړے بل سړی ته ورکړی او هغه په دے کښ خرچ اوکړی او د پیداور نهٔ حصه واخلی. او مزابنه د شنو کهجورو بیعه ده چه هغه په اونه کښ لګیدلی وی د اوچو کهجورو په بدله په پیمانه سره او محاقله په پټی کښ هم دغسے ده. یعنی ولاړ فصل د غلے په

---

[1]: امام نووی وئیلی دی مخابره او مزابنه او د میوے بیعه مخکښ د صلاحیت نه ددے ذکر خو پورته ذکر شو اوس مخابره او مزارعه مزارعه دواړه نژدے نژدے دی. او ددے معانے دادی چه زمکے لره په کرایه باندے ورکول د هغے د پیداوار په یوه حصه باندے مثلاً په دریمه حصه یا څلورمه او یا په نیمه باندے. لیکن په مزارعت کښ تخم د زمکے د مالك وی او په مخابره کښ تخم د زمیندار وی. دغه شان وئیلی دی زمونږ زیاتو ملګرو . او د امام شافعی ظاهر نص دغه دے. او دخنو ملګرو زمونږه. او یو جماعت دا وئیلی دی چه مزارعت او مخابرت دواړه یو شان دی او معاومه داده چه یو سړے د خپلے اونے میوه د دوؤ دریؤ کالو دپاره خرڅه کړی او دا باطله ده په اجماع سره ځکه چه په دے کښ دهوکه ده. کیدے شی هغه اونه میوه اونهٔ نیسی. یا څهٔ بل څهٔ افت پرے راشی. (انتهی)

[2]: ددے تولو لفظونو معنے پورته بیان شوے.

ذٰلِكَ بَيْعُ الزَّرْعِ الْقَائِمِ بِالْحَبِّ كَيْلًا

عوض خرخول په ناپ سره.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَالْمُخَابَرَةِ وَأَنْ تُشْتَرَى النَّخْلُ حَتّٰى تُشْقِهَ وَالْإِشْقَاهُ أَنْ يَحْمَرَّ أَوْ يَصْفَرَّ أَوْ يُؤْكَلَ مِنْهُ شَيْءٌ وَالْمُحَاقَلَةُ أَنْ يُبَاعَ الْحَقْلُ بِكَيْلٍ مِنَ الطَّعَامِ مَعْلُوْمٍ وَالْمُزَابَنَةُ أَنْ يُبَاعَ النَّخْلُ بِأَوْسَاقٍ مِنَ التَّمْرِ وَالْمُخَابَرَةُ الثُّلُثُ وَالرُّبُعُ وَأَشْبَاهُ ذٰلِكَ قَالَ زَيْدٌ قُلْتُ لِعَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ أَسَمِعْتَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَذْكُرُ هٰذَا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی ده د محاقله او مزابنه او مخابره نه او د کهجورے د اونے د خرخولو نه د کومے پورے چه د هغې میوه سره شوے یا زیړه شوے نه وی یا د خوراك لائقه نه وی. او محاقله داده چه ولاړ فصل د غلے په بدله خرخ کړے شی کوم چه معین دے. او مزابنه داده چه د کهجورے اونه د کهجورو په بدله خرخه کړے شی. او مخابره داده چه په دریمه یا څلورمه حصه پیداوار باندے زمکه ورکړی (چه هغے ته زمونږ په ملك کښ ګانړه وئیلے شی) زید وائی ما د عطاء بن ابی رباح نه تپوس اوکړو آیا تا دا حدیث د جابر نه اوریدلے دے چه هغوی روایت کوؤ د رسول الله ﷺ نه؟ هغوی اووے آو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْمُحَاقَلَةِ وَالْمُخَابَرَةِ وَعَنْ بَيْعِ الثَّمَرَةِ حَتّٰى تُشْقِحَ قَالَ قُلْتُ لِسَعِيْدٍ مَا تُشْقِحُ قَالَ تَحْمَارُّ وَتَصْفَارُّ وَيُؤْكَلُ مِنْهَا

د جابر بن عبد الله نه روایت دے وائی چه منع فرمائیلی ده رسول الله ﷺ د مزابنه نه او محاقله او مخابره نه او د میوؤ د بیعے نه د کومے پورے چه هغه سره شوے او زیړے شوے نه وی. او د خوړلو قابلے شوے نه وی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَالْمُعَاوَمَةِ وَالْمُخَابَرَةِ قَالَ أَحَدُهُمَا بَيْعُ السِّنِيْنَ هِيَ الْمُعَاوَمَةُ وَعَنِ الثُّنْيَا وَرَخَّصَ فِي الْعَرَايَا

د جابر بن عبدالله نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د محاقله او مزابنه او معاومه او مخابره نه دده حدیث په دوؤ راویانو کښ یو وائی چه معاومه هغه بیعه ده د څو کالو دپاره (دخپلے اونے دمیوے) او منع کړے ده حضرت ﷺ د استثناء کولو نه (یعنی د یو مجهول مقدار د ویستلو نه. لکه داسے اووائی ما په تا دا د غلے ډهیری خرخ کړل مګر لږه به دده نه اوباسمه یا دا باغ مے خرخ کړو مګر په دے کښ مے څنے اونے نه دی درخرخے کړے ولے چه په دے صورت کښ بیعه باطلیږی. او کومه استثناء چه معلومه وی لکه داسے اووائی

دا ډېرې د غلې خرخوم مګر څلورمه حصه به د دې نه اوباسم نو صحيح ده په اتفاق سره) او اجازت ورکړې دې حضرت ﷺ د عرايا.

بَاب كِرَاءِ الأَرْضِ

باب: زمکې لره په کرايه بانديې د ورکولو بيان

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ كِرَاءِ الأَرْضِ وَعَنْ بَيْعِهَا السِّنِينَ وَعَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ حَتَّى يَطِيبَ

د جابر بن عبد الله انصاري نه روايت دې چه منع کړې ده رسول الله ﷺ زمکې لره په کرايه بانديې د ورکولو نه. او د څو کالو د پاره د بيعې کولو نه. او د ميوې د خرڅولو نه (کومې چه په اونه کښې وي، د کومې پورې چه هغه پخې دو ته نژدې شوې نه وي[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنْ كِرَاءِ الأَرْضِ

د جابر بن عبد الله نه روايت دې رسول الله ﷺ منع کړې ده زمکې لره په کرايه بانديې د ورکولو نه.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا فَإِنْ لَمْ يَزْرَعْهَا فَلْيُزْرِعْهَا أَخَاهُ

د جابر بن عبد الله نه روايت دې وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي د چا سره چه زمکه خالي وي نو هغه د پکښې زميندارہ کوي او کچرې پخپله نۀ کوي نو بل چا ته دې ئې ورکړي (په طور د عاريت بغير کرايه) چه هغه پکښې زميندارې اوکړي.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ لِرِجَالٍ فُضُولُ أَرَضِينَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ

د جابر بن عبد الله نه روايت دې وائي چه د رسول الله ﷺ د ځنې صحابو سره زمکې وې چه خالي وې بيکاره (يعني په هغې کښې زميندارې نۀ کيده) نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل د چا

---

[1] : نووي وئيلي دي عالمانو په دې مسئله کښې اختلاف کړې دې. نو طاؤس او حسن بصري وئيلي دي چه د زمکې کرايه ورکول مطلقًا صحيح نۀ دي. خواه کۀ د غلې په بدل کرايه ورکوي يا د سرو زرو سپينو زرو خواه کۀ د پيداوار په څۀ حصه بانديې وي او د امام شافعي او امام ابوحنيفه او د اکثرو علماؤ په نيز د زمکې په کرايه بانديې ورکول په سپينو زرو او سرو زرو او په پارچه او د اشياؤ په بدل صحيح ده. ليکن پخپله د دغې زمکې د پيداوار د يوې حصې په بدل صحيح نۀ دې. چه ورته مخابره وئيلې شي (او په هندئ کښې ورته دهقاني وائي) او ربيعه وئيلي دي صرف د سروزرو او د سپينو زرو په بدل صحيح ده. او امام مالك وئيلي دي چه د سروزرو او سپينو زرو او د نورو څيزونو په بدل صحيح ده مګر د غلې په بدل صحيح نۀ ده. او د امام احمد او ابويسف او امام محمد او د يو مالکي جماعت په نيز د سرو زرو او سپينو زرو په بدل او د پيداوار د يوې حصې په بدل هم صحيح ده. او دغې ته مزارعت وئيلې شي. او ابن شرع او ابن خزيمه او خطابي او زمونږ محققينو ملګرو دغې لره اختيار کړې دې. او دغه راجح دې. او د ممانعت د حديث ئې دا تاويل کړې دې چه دا مخالفت په طور د کراهت تنزيهي دې. او په واسطه د رغبت ورکولو دې په مفت ورکولو کښې. ختم شو کلام د نووي.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ فَضْلُ أَرْضٍ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ لِيَمْنَحْهَا أَخَاهُ فَإِنْ أَبَى فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ

سره چه د ضرورت نه زیاته زمکه وی هغه د پکښې فصل کری یا د ځان خپل مسلمان رور له ورکړی (د فصل دپاره) کچرے هغه ئے نۀ اخلی نو زمکه د پخپل خائے نیولے پریږدی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُؤْخَذَ لِلْأَرْضِ أَجْرًا أَوْ حَظًّا

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د زمکے د کرائے یا د فائدے اخستلو نه.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَزْرَعَهَا وَعَجَزَ عَنْهَا فَلْيَمْنَحْهَا أَخَاهُ الْمُسْلِمَ وَلَا يُؤَاجِرْهَا إِيَّاهُ

د حضرت جابر نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د چا سره چه زمکه وی هغه د پکښې فصل اوکری او کۀ پخپله پکښې د فصل کولو طاقت نۀ لری نو خپل بل رور مسلمان له د ئے ورکړی او د هغۀ نه د کرایه نۀ اخلی.

عَنْ هَمَّامٍ قَالَ سَأَلَ سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى عَطَاءً فَقَالَ أَحَدَّثَكَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ لِيُزْرِعْهَا أَخَاهُ وَلَا يُكْرِهَا قَالَ نَعَمْ

د همام نه روایت دے وائی چه سلیمٰن بن موسٰی د عطاء نه تپوس اوکړو چه آیا تاته جابر بن عبد الله دا حدیث بیان کړے دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د چا سره چه زمکه وی هغه د په هغے کښې فصل کری یا د ئے خپل رور لره د فصل دپاره ورکړی. او هغے لره د په کرایه باندے نۀ ورکوی؟ هغوی اووے چه آو.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُخَابَرَةِ

د حضرت جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د مخابره نه (د مخابره معنٰی پورته تیره شوے ده)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ لَهُ فَضْلُ أَرْضٍ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ لِيُزْرِعْهَا أَخَاهُ وَلَا تَبِيعُوهَا فَقُلْتُ لِسَعِيدٍ مَا قَوْلُهُ وَلَا تَبِيعُوهَا يَعْنِي الْكِرَاءَ قَالَ نَعَمْ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د چا سره چه زیاتی زمکه وی هغه د په هغے کښې فصل کری یا خپل رور له د ئے د فصل دپاره ورکړی او نۀ د خرڅوی هغے لره. سلیم بن حیان وائی چه ما د سعید بن میناء نه تپوس اوکړو د خرڅولو نه څۀ مراد دے. آیا په کرایه ورکول؟ هغوی اووے. آو.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا نُخَابِرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جابر نه روایت دے چه مونږه به مخابره (زمینداری کوله) د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې نو حصه به مو اخستله د هغے غلے نه

فَنُصِيبُ مِنَ الْقِصْرِيِّ وَمِنْ كَذَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ فَلْيَحْرُثْهَا أَخَاهُ وَإِلَّا فَلْيَدَعْهَا

کومه چه د تکولو نه پس په خوشو کښې پاتې کیږي د هغې نه بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل د چا سره چه زمکه وي هغه دِ په هغې کښې فصل کري او یا دِ ئې خپل رور (مسلمان) ته د فصل دپاره ورکړي. او که نه وي نو دغسې دِ ئې پریږدي (یعنې په کرایه دِ ئې نه ورکوي)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ كُنَّا فِي زَمَانِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَأْخُذُ الْأَرْضَ بِالثُّلُثِ أَوِ الرُّبُعِ بِالْمَاذِيَانَاتِ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذٰلِكَ فَقَالَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا فَإِنْ لَمْ يَزْرَعْهَا فَلْيَمْنَحْهَا أَخَاهُ فَإِنْ لَمْ يَمْنَحْهَا أَخَاهُ فَلْيُمْسِكْهَا

د جابر بن عبدالله نه روایت دے هغوي وائي چه مونږ به نهري زمکه په دریمه یا څلورمه حصه پیداوار باندے (په ګانړه سره) اخستله پس رسول الله ﷺ اودریدو او اوئې فرمائیل. د چا سره چه زمکه وي هغه دِ پخپله په هغې کښې فصل کري. که نه کري نو خپل رور له دِ ئې مفت ورکړي که هغه هم نه کري نو بیا دِ ئې هم دغسې پریږدي (او په ګانړه دِ ئې نه ورکوي)

عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَهَبْهَا أَوْ لِيُعِرْهَا

د جابر نه روایت دے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چه فرمائیلي ئې وو د چا سره چه زمکه وي هغه دِ هغې لره هبه کړي یا دِ ئې په عاریت ورکړي.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ فَلْيُزْرِعْهَا رَجُلًا

د اعمش نه هم دغه اسناد سره دا مضمون دے (کوم چه تیر شو) مګر په دے کښې داسې دي چه پخپله دِ پکښې فصل کري یا دِ ئې بل چا ته د فصل کرلو دپاره ورکړي.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ قَالَ بُكَيْرٌ وَحَدَّثَنِي نَافِعٌ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ كُنَّا نُكْرِي أَرْضَنَا ثُمَّ تَرَكْنَا ذٰلِكَ حِينَ سَمِعْنَا حَدِيثَ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د زمکے په کرایه باندے د ورکولو نه بکیر وئیلي دي حدیث بیان کړے ما ته نافع هغوي اوریدلي دي د عبد الله بن عمر نه هغوي وائي چه مونږ به خپله زمکه په کرایه باندے ورکوله. بیا پریخودے مونږ هغې لره هر کله چه د رافع بن خدیج حدیث مونږ واوریدو (چه مخکښې راغی)

عَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْأَرْضِ الْبَيْضَاءِ سَنَتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا

د جابر نه روایت دے وائي چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د خالي زمکے د خرڅولو نه د دوه یا درېو کالو دپاره.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ السِّنِينَ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ أَبِي شَيْبَةَ عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ سِنِينَ

د حضرت جابرؓ نه روايت دے وائی چه منع کړے ده رسول اللهﷺ د شوکالو دپاره د بيعے کولو نه يعنی اونو لره يا زمکے لره او د ابن ابی شيبه په روايت کښ دی چه منع ئے کړے ده د ميوو د بيعے نه د شو کالو دپاره

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ لِيَمْنَحْهَا أَخَاهُ فَإِنْ أَبَى فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ

د حضرت ابوهريره نه روايت دے وائی چه جناب رسول اللهﷺ فرمائيلی دی د چا سره چه زمکه وی هغه د هغے کښ فصل کری يا دئے خپل رور له مفت ورکړی که هغه ئے نه اخلی نو خپله زمکه د هم دغسے شره پريږدی.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْحُقُولِ فَقَالَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْمُزَابَنَةُ الثَّمَرُ بِالتَّمْرِ وَالْحُقُولُ كِرَاءُ الْأَرْضِ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے هغوی اوريدلی دی د رسول اللهﷺ نه چه منع ئے فرمائيله د مزابنے او حقول نه. جابر وئيلی دی مزابنه خو د کهجورو بيعه ده (کومے چه په اونه کښ وی) د کهجورو په بدله. او حقول وئيلے شی زمکے لره په کرايه باندے ورکولو ته.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِﷺ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ

د ابوهريره نه روايت دے وائی چه منع فرمائيلے ده رسول اللهﷺ د محاقلے او مزابنے نه.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللَّهِﷺ عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةُ اشْتِرَاءُ الثَّمَرِ فِي رُءُوسِ النَّخْلِ وَالْمُحَاقَلَةُ كِرَاءُ الْأَرْضِ

د حضرت ابوسعيد الخدری نه روايت دے منع کړے ده رسول اللهﷺ د مزابنه او محاقله نه. نو مزابنه د کهجورو خرڅول دی په اونه کښ. او محاقله زمکے لره په کرايه باندے ورکول دی.

عَنْ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ كُنَّا لَا نَرَى بِالْخِبْرِ بَأْسًا حَتَّى كَانَ عَامُ أَوَّلَ فَزَعَمَ رَافِعٌ أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهُ

د عمرو بن دينار نه روايت دے وائی چه ما د عبد الله بن عمر نه اوريدلی دی چه هغوی وئيلی وو مونږ به په مخابره کښ څه بدی نه ګنړله تر دے پورے چه اول کال شو نو رافع اووے چه رسول اللهﷺ منع کړے ده د دے نه.

عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَزَادَ فِي حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ فَتَرَكْنَاهُ مِنْ

د عمرو بن دينار نه په دے اسناد سره د پورتنی حديث پشان روايت کړے شوے دے. په دے کښ دومره زياته ده چه عبد الله بن عمرؓ

أَجَلِهِ

اووے چه دد ے حدیث په وجه سره مونږ مخابره پریخوده.

عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ لَقَدْ مَنَعَنَا رَافِعٌ نَفْعَ أَرْضِنَا

د مجاهد نه روایت دے وائی چه عبد الله بن عمر اووے چه منع کړو مونږه رافع زمونږ د زمکے د امدنی نه.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُكْرِي مَزَارِعَهُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي إِمَارَةِ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ مُعَاوِيَةَ حَتَّى بَلَغَهُ فِي آخِرِ خِلَافَةِ مُعَاوِيَةَ أَنَّ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ يُحَدِّثُ فِيهَا بِنَهْيٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ عَلَيْهِ وَأَنَا مَعَهُ فَسَأَلَهُ فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْ كِرَاءِ الْمَزَارِعِ فَتَرَكَهَا ابْنُ عُمَرَ بَعْدُ وَكَانَ إِذَا سُئِلَ عَنْهَا بَعْدُ قَالَ زَعَمَ رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهَا

د نافع نه روایت دے چه ابن عمر به خپله د کروندے زمکه په کرایه باندے ورکوله (خلقو ته د فصل دپاره او د هغوی نه به ئے د زمکے کرایه اخستله) د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې او د حضرت ابوبکر او حضرت عمر او دحضرت عثمان رضی الله عنهم په زمانه د خلافت په شروع کښې تر دے پورے چه معاویه ته د خپل خلافت په اخر دور کښې خبر اورسیدو چه نافع بن خدیج دد ے منع والے بیانوی د رسول الله ﷺ نه. نو هغوی لاړل او زهٔ هم ورسره وم. او د هغوی نه مونږ تپوس اوکړو. رافع اووے چه رسول الله ﷺ به منع فرمائیله زمکو لره په کرایه باندے د ورکولو نه دد ے په اوریدو سره عبد الله بن عمر په کرایه باندے ورکول پریخودل. بیا دد ے نه پس چه به هر کله چا د هغوی نه تپوس اوکړو (دد ے مسئلے په باره کښې) نو هغوی به وئیل چه د خدیج ځوئ وائی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دد ے نه.

عَنْ أَيُّوبَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَزَادَ فِي حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ قَالَ فَتَرَكَهَا ابْنُ عُمَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَكَانَ لَا يُكْرِيهَا

د ایوب نه په دے اسناد سره د پورته حدیث پشان روایت کړے شوے دے. او په دے کښې دومره زیاته ده چه بیا عبد الله بن عمر هغے لره پریخوده او په کرایه به ئے نهٔ ورکولے د فصل زمکو لره.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَأْجُرُ الْأَرْضَ قَالَ فَنُبِّئَ حَدِيثًا عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ فَانْطَلَقَ بِي مَعَهُ إِلَيْهِ قَالَ فَذَكَرَ عَنْ بَعْضِ عُمُومَتِهِ ذَكَرَ فِيهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ نَهَى عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ قَالَ

د نافع نه روایت دے وائی چه زهٔ د عبدالله بن عمر سره لاړم د رافع بن خدیج خواله تر دے پورے چه هغه راغے د هغوی خواله په بلاط کښې (دا د مسجد نبوی سره په خوا کښې د یو مقام نوم دے) پس هغوی اووے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د فصل زمکو لره په

فَتَرَكَهُ ابْنُ عُمَرَ فَلَمْ يَأْخُذْهُ

کرایه باندے د ورکولو نه.

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يُكْرِي أَرْضَهُ حَتَّى بَلَغَهُ أَنَّ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ الْأَنْصَارِيَّ كَانَ يَنْهَى عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ فَلَقِيَهُ عَبْدُ اللهِ فَقَالَ يَا ابْنَ خَدِيجٍ مَاذَا تُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كِرَاءِ الْأَرْضِ قَالَ رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ لِعَبْدِ اللهِ سَمِعْتُ عَمَّيَّ وَكَانَا قَدْ شَهِدَا بَدْرًا يُحَدِّثَانِ أَهْلَ الدَّارِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ قَالَ عَبْدُ اللهِ لَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الْأَرْضَ تُكْرَى ثُمَّ خَشِيَ عَبْدُ اللهِ أَنْ يَكُونَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْدَثَ فِي ذَلِكَ شَيْئًا لَمْ يَكُنْ عَلِمَهُ فَتَرَكَ كِرَاءَ الْأَرْضِ

د سالم بن عبد الله بن عمر نه روایت دے چه عبدالله بن عمر به خپلو زمکو لره په کرایه باندے ورکولے تردے پورے چه هغوی ته خبر اورسیدو چه رافع بن خدیج انصاری ددے نه منع کوی. نو عبدالله د هغوی سره میلاؤ شو او ورته ئے اووے. اے د خدیج ځویه! دا ته حدیث بیانوے د رسول الله ﷺ نه د زمکے په کرایه د ورکولو په باره کښ. رافع بن خدیج اووے ما د خپلو دوارو ترونو نه اوریدلی دی او هغوی د بدر په جنګ کښ شریك وو هغه کور والاؤ ته حدیث بیانولو چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده زمکے لره په کرایه باندے د ورکولو نه. عبدالله وائی چه زۀ پوهه یم چه د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښ به زمکه په کرایه باندے ورکولے شوه. بیا عبد الله اویریدو چه چرته داسے نۀ وی چه رسول الله ﷺ په دے باب کښ څۀ نوے حکم ورکړے وی. چه د هغے خبر دوی ته نۀ وی شوے. نو هغوی زمکے لره په کرایه باندے ورکول پریخودل.

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ كُنَّا نُحَاقِلُ الْأَرْضَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنُكْرِيهَا بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ وَالطَّعَامِ الْمُسَمَّى فَجَاءَنَا ذَاتَ يَوْمٍ رَجُلٌ مِنْ عُمُومَتِي فَقَالَ نَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَمْرٍ كَانَ لَنَا نَافِعًا وَطَوَاعِيَةُ اللهِ وَرَسُولِهِ أَنْفَعُ لَنَا نَهَانَا أَنْ نُحَاقِلَ بِالْأَرْضِ فَنُكْرِيَهَا عَلَى الثُّلُثِ وَالرُّبُعِ

د رافع بن خدیج نه روایت دے مونږ به محاقله کوله د رسول الله ﷺ په زمانه کښ نو په کرایه به مو ورکوله زمکے لره په دریمه یا څلورمه حصه پیداوار باندے او معین د غلے د پاسه. پس یو ورځ زمونږ خواله یو د ترونو نه راغے او اوئے وئیلی چه رسول الله ﷺ منع کړو مونږ د هغه کار نه چه په هغے کښ زمونږ فائده وه. لیکن د الله او رسول ﷺ په خوشحالئ کښ مونږ لره زیاته فائده ده. منع ئے کړو مونږ د محاقله نه یعنی زمکے لره په کرایه باندے د ورکولو نه په دریمه حصه یا څلورمه حصه پیداوار باندے. او حکم ئے اوفرمائیلو چه د زمکے

وَالطَّعَامِ الْمُسَمّٰى وَأَمَرَ رَبَّ الْأَرْضِ أَنْ يَزْرَعَهَا أَوْ يُزْرِعَهَا وَكَرِهَ كِرَاءَهَا وَمَا سِوٰى ذٰلِكَ

مالك به پخپله په هغے کښې فصل کری یا به ئے بل له "بغیر کرایه" د فصل د پاره ورکوی. او د بد گنړلو حضرت ﷺ په کرایه باندے ورکول یا په بل څۀ طریقه باندے.

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ كُنَّا نُحَاقِلُ بِالْأَرْضِ فَنُكْرِيهَا عَلَى الثُّلُثِ وَالرُّبُعِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ عُلَيَّةَ

د رافع بن خدیج نه روایت دے مونږ به محاقله کوله یعنی کرایه به مونږ ورکوله زمکے لره په دریمه حصه یا څلورمه حصه پیداوار باندے. بیائے بیان کړو حدیث په دے شان لکه چه پورته تیر شو.

عَنْ رَافِعٍ أَنَّ ظُهَيْرَ بْنَ رَافِعٍ وَهُوَ عَمُّهُ قَالَ أَتَانِي ظُهَيْرٌ فَقَالَ لَقَدْ نَهٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَمْرٍ كَانَ بِنَا رَافِقًا فَقُلْتُ وَمَا ذَاكَ مَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهُوَ حَقٌّ قَالَ سَأَلَنِي كَيْفَ تَصْنَعُونَ بِمَحَاقِلِكُمْ فَقُلْتُ نُؤَاجِرُهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ عَلَى الرَّبِيعِ أَوِ الْأَوْسُقِ مِنَ التَّمْرِ أَوِ الشَّعِيرِ قَالَ فَلَا تَفْعَلُوا ازْرَعُوهَا أَوْ أَزْرِعُوهَا أَوْ أَمْسِكُوهَا

د رافع نه روایت دے چه ظهیر بن رافع هغوی ته یو حدیث بیان کړو او ظهیر د رافع تره وو رافع وائی ظهیر بن رافع څما خواله راغړاو اوئے وئیلی چه رسول الله ﷺ منع اوفرمائیله دداسے کار نه چه په هغے کښې زمونږ فائده وه. ما اووے هغه کار څۀ دے؟ اورسول الله ﷺ چه څۀ فرمائیلی دی هغه حق دی . هغوی اووے حضرت ﷺ څما نه تپوس اوکړو چه تاسو د خپلو پټو سره څۀ کوئ؟ مونږ اووے یا رسول الله ﷺ اهغے لره په کرایه باندے ورکوؤ. او هغه کرایه داده چه په نهر باندے چه کوم پیداوار وی هغے لره اخلو یا څو وسقه د کهجورو یا د وربشو حضرت ﷺ اوفرمائیل داسے مۀ کوئ. یا خو تاسو پخپله په هغے کښې فصل کرئ یائے بل چا ته بے د کرایۓ نه د فصل د پاره ورکوئ یائے هم دغسے (بغیر د کرایه نه) پریدوئ.

عَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ قَيْسٍ أَنَّهُ سَأَلَ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ فَقَالَ نَهٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ قَالَ فَقُلْتُ أَبِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ فَقَالَ أَمَّا بِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ فَلَا بَأْسَ بِهِ

د حنظله بن قیس نه روایت دے چه هغوی د رافع بن خدیج نه تپوس اوکړو چه زمکه په کرایه باندے ورکول څنګه دی. هغوی اووے منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ زمکے لره په کرایه باندے د ورکولو نه ما اووے د سرو زرو او سپینو زرو په عوض کښې هم کرایه ورکول منع دی. هغوی اووے د سرو زرو او د سپینو زرو په بدل کښې خو قباحت نشته

عَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ قَيْسٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ

د حنظله بن قیس انصاری نه روایت دے وائی چه ما د رافع بن خدیجؓ نه

سَأَلْتُ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ عَنْ كِرَاءِ الْأَرْضِ بِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ فَقَالَ لَا بَأْسَ بِهِ إِنَّمَا كَانَ النَّاسُ يُؤَاجِرُونَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمَاذِيَانَاتِ وَأَقْبَالِ الْجَدَاوِلِ وَأَشْيَاءَ مِنَ الزَّرْعِ فَيَهْلِكُ هٰذَا وَيَسْلَمُ هٰذَا وَيَسْلَمُ هٰذَا وَيَهْلِكُ هٰذَا فَلَمْ يَكُنْ لِلنَّاسِ كِرَاءٌ إِلَّا هٰذَا فَلِذٰلِكَ زُجِرَ عَنْهُ فَأَمَّا شَيْءٌ مَعْلُومٌ مَضْمُونٌ فَلَا بَأْسَ بِهِ

تپوس اوکړو چه زمکه د سروزرو او سپینو زرو په بدله په کرایه ورکول څنګه دی؟ هغوی اووے چه په دے کښں څۀ قباحت نشته دے خلقو به د رسول الله ﷺ په زمانه کښں د نهر په غاړو باندے او د نالو په سرونو باندے په کوم پیداوار چه به ئے زمکه په کرایه ورکوله نو بعضے وخت به یو څیز تلف شو دویم به بچ شو او کله به دے تلف شو هغه بل به بچ شو. بیا به خو ته څۀ کرایه نۀ میلاویده مګر هغه چه کومه به بچ شوه. په دے وجه حضرت ﷺ منع اوفرمائیله دا دے نه لیکن که د کرایۍ په بدل کښں یو معین څیز (لکه روپۍ اشرفۍ غله وغیره) چه د هغے ذمه واری مقرر کیدے شی. نو په دے کښں څۀ قباحت نشته دے.

عَنْ حَنْظَلَةَ الزُّرَقِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ يَقُولُ كُنَّا أَكْثَرَ الْأَنْصَارِ حَقْلًا قَالَ كُنَّا نُكْرِي الْأَرْضَ عَلَى أَنَّ لَنَا هٰذِهِ وَلَهُمْ هٰذِهِ فَرُبَّمَا أَخْرَجَتْ هٰذِهِ وَلَمْ تُخْرِجْ هٰذِهِ فَنَهَانَا عَنْ ذٰلِكَ وَأَمَّا الْوَرِقُ فَلَمْ يَنْهَنَا

د حنظله زرقی نه وایت دے هغوی اوریدلی دی د رافع بن خدیج نه چه هغوی وئیلو په ټولو انصارو کښں زمونږ دلته محاقله زیاته وه مونږ به زمکه په کرایه باندے ورکوله او ورته به مونږ وئیلی چه دا دے ځائے پیداوار به زمونږه وی او د هغه ځائے به ستاسو وی بیا به کله دلته زرغونه اوشوه او هلته به اونۀ شوه نو رسول الله ﷺ منع کړو مونږ له دا دے نه لیکن د سپینو زرو په بدل په کرایه باندے ورکول خو دا دے نۀ ئے منع نۀ ده کړے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَعْقِلٍ عَنِ الْمُزَارَعَةِ فَقَالَ أَخْبَرَنِي ثَابِتُ بْنُ الضَّحَّاكِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُزَارَعَةِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ أَبِي شَيْبَةَ نَهَى عَنْهَا وَقَالَ سَأَلْتُ ابْنَ مَعْقِلٍ وَلَمْ يُسَمِّ عَبْدَ اللهِ

د عبد الله بن السّائب نه روایت دے چه ما د عبد الله بن معقل نه تپوس اوکړي د مزارعت په باره کښں هغوی اووے ما ته بیان کړے دے ثابت بن ضحاك چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د مزارعت نه او د ابن ابی شیبه په روایت کښں دی چه دا دے نه ئے منع اوفرمائیله او وے وئیل چه ما د ابن معقل نه تپوس اوکړو. او عبد الله ئے نۀ دے یاد کړے.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ مَعْقِلٍ فَسَأَلْنَاهُ عَنِ الْمُزَارَعَةِ

د عبد الله بن السائب نه روایت دے وائی چه مونږ د عبد الله بن معقل خواله لاړو او د هغوی نه مونږ د مزارعت (دهقانۍ) په باره کښں تپوس

فَقَالَ زَعَمَ ثَابِتٌ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُزَارَعَةِ وَأَمَرَ بِالْمُؤَاجَرَةِ وَقَالَ لَا بَأْسَ بِهَا

اوکړو. هغوی اووے ثابت وئیلی دی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلی ده د مزارعت نه او حکم ئې کړے دے د مواجرة (یعنی په روپو اشرفو باندے د کرائے ورکولو) او اوئې فرمائیل چه په دے کښې څۀ قباحت نشته

عَنْ عَمْرٍو أَنَّ مُجَاهِدًا قَالَ لِطَاوُسٍ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى ابْنِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ فَاسْمَعْ مِنْهُ الْحَدِيثَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَانْتَهَرَهُ قَالَ إِنِّي وَاللهِ لَوْ أَعْلَمُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهُ مَا فَعَلْتُهُ وَلَكِنْ حَدَّثَنِي مَنْ هُوَ أَعْلَمُ بِهِ مِنْهُمْ يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَأَنْ يَمْنَحَ الرَّجُلُ أَخَاهُ أَرْضَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهَا خَرْجًا مَعْلُومًا

د عمرو نه روایت دے چه مجاهد طاؤس ته اووے چه زمونږ سره لاړ شه د رافعبن خدیج خواله او د هغوی نه حدیث واوره کوم چه هغوی د خپل پلار نه نقل کوی چه هغوی اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه. نو طاؤس مجاهد اورټلو او ورته ئې اووے خما خو په الله قسم دے که چرے زۀ ددے نه خبر وے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د مزارعت نه نو چرته به مے نۀ وو کړے. لیکن ما ته حدیث بیان کړے دے هغه سړی چه هغه زیات خبر دار وو د نورو نه په صحابو کښې یعنی ابن عباس چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے پتاسو کښې څوك خپل رور ته زمکه هبه کړی نو غوره ده دا د هغه نه د کرایۍ د اخستلو نه[1].

عَنْ عَمْرٍو وَابْنِ طَاوُسٍ عَنْ طَاوُسٍ أَنَّهُ كَانَ يُخَابِرُ قَالَ عَمْرٌو فَقُلْتُ لَهُ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ لَوْ تَرَكْتَ هَذِهِ الْمُخَابَرَةَ فَإِنَّهُمْ يَزْعُمُونَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُخَابَرَةِ فَقَالَ أَيْ عَمْرُو أَخْبَرَنِي أَعْلَمُهُمْ بِذَلِكَ يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْهَ عَنْهَا إِنَّمَا قَالَ يَمْنَحُ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهَا خَرْجًا مَعْلُومًا

د عمرو او ابن طاؤس نه روایت دے. عمرو اووے چه اے اباعبد الرحمٰن (دا د طاؤس کنیت دے) غوره به وی کچرے تاسو پریږدوئ مخابره لره ولے چه خلق وائی چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د مخابره نه. طاؤس اووے اے عمرو ما ته بیان کړے دے هغه سړی چه هغه په صحابو کښې زیات خبر دار وو یعنی ابن عباس چه رسول الله ﷺ د مخابره نه منع نۀ ده کړے بلکه داسے ئې فرمائیلی دی چه که چرے ستاسو نه څوك خپل رور ته مفت زمکه ورکړی نو غوره ده په کرایه اخستو سره د ورکولو نه

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د ابن عباس ؓ نه دا روایت هم د پورتنی راویانو په شان حدیث روایت

[1]: نو معلومه شوه چه په کرایه باندے ورکول منع نۀ دی لیکن مفت ورکول او په خپل رور مسلمان باندے احسان کول زیات افضل دی.

وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ

کړے دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَأَنْ يَمْنَحَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ أَرْضَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهَا كَذَا وَكَذَا لِشَيْءٍ مَعْلُومٍ قَالَ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ الْحَقْلُ وَهُوَ بِلِسَانِ الْأَنْصَارِ الْمُحَاقَلَةُ

د حضرت ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے ستاسو نه څوك خپل رور ته خپله زمکه مفت ورکړی نو غوره ده د هغے نه چه کرایه واخلی دومره دومره په یو شی معلوم سره. ابن عباس وائی دا حقل دے او حقل وئیلے شی د انصارو په ژبه کښں محاقله ته (او د محاقله معنیٰ پور ته تیره شوه)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَإِنَّهُ أَنْ يَمْنَحَهَا أَخَاهُ خَيْرٌ

د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په تاسو کښں چه د چا سره زمکه وی هغه کۀ ئے چرے خپل رور له مستعار (بغیر کرایے) ورکړی نو د هغۀ دپاره غوره ده.

كِتَابُ الْمُسَاقَاتِ وَالْمُزَارَعَةِ

د مُساقات او مزارعت مسئلے[1]

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَلَ أَهْلَ خَيْبَرَ بِشَطْرِ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا مِنْ ثَمَرٍ أَوْ زَرْعٍ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ معامله کړے وه د خیبر والاؤ سره (هر کله چه خیبر فتح شو نو حضرت ﷺ یهودیانو لره د هغه ځائے نه ویستل غوښتل. هغوی اووے مونږ دلته پریږدئ او څنګه چه ستاسو خوښه وی زمونږ سره معامله اوکړئ بیا حضرت ﷺ دا معامله اوکړه) چه کوم پیداوار وی میوه یا غله په هغے کښ به نیم زمونږه او نیم ستاسو[2].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَعْطَى رَسُولُ اللهِ ﷺ خَيْبَرَ بِشَطْرِ مَا يَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٍ أَوْ زَرْعٍ فَكَانَ يُعْطِي أَزْوَاجَهُ كُلَّ سَنَةٍ مِائَةَ وَسْقٍ ثَمَانِينَ وَسْقًا مِنْ تَمْرٍ وَعِشْرِينَ وَسْقًا مِنْ شَعِيرٍ فَلَمَّا وَلِيَ عُمَرُ قَسَمَ خَيْبَرَ خَيَّرَ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ ﷺ أَنْ يُقْطِعَ لَهُنَّ الْأَرْضَ وَالْمَاءَ أَوْ يَضْمَنَ لَهُنَّ الْأَوْسَاقَ كُلَّ عَامٍ فَاخْتَلَفْنَ فَمِنْهُنَّ مَنِ اخْتَارَ الْأَرْضَ وَالْمَاءَ وَمِنْهُنَّ مَنِ اخْتَارَ الْأَوْسَاقَ كُلَّ عَامٍ فَكَانَتْ

د عبد الله بن عمر روایت دے چه رسول الله ﷺ خیبر حواله کړو (خیبر والاؤ ته) په دے شرط باندے چه څۀ پیدا کیږی میوه یا غله هغه به نیمه زمونږه وی او نیمه ستاسو. نو حضرت ﷺ خپلو بیبیانو ته به هر کال سل وسق ورکولو. اتیا وسقه د کهجورے او شل وسقه د وربشو. هر کله چه حضرت عمر په خپل خلافت کښ خیبر لره تقسیم کړو نو د جناب رسول الله ﷺ بیبیانو لره ئے اختیار ورکړو چه یا خو تاسو هم د زمکے او اوبو حصه واخلئ. نو څنو زمکه او اوبۀ واخستلے او څنو وسق اخستل منظور کړل. حضرت عائشے او

---

[1]: د مزارعت معنی پورته تیره شوے ده. او مساقات دا دے چه خپله اونه چاله ورکړی او دا اورته اووائی چه دا اوبۀ کوه او خدمت ئے کوه. او میوه چه کومه حاصلیږی په خپلو کښ به ئے ویشو. نیم په نیمه یا په دریمه یا په څلورمه حصه یا په شان دد ے. نووی وئیلی دی چه مساقات جائز دے او دغه قول دے د مالك او ثوری او لیث او شافعی او احمد او د ټولو فقهاؤ محدثینو او اهل ظاهرو او د جمهورو علماؤ. او د ابوحنیفه په نز جائز نۀ دے. اوس اختلاف کړے دے عالمانو چه مساقات په اونو کښ صحیح دے. او داؤد وئیلی دی صرف د کهجورے په اونو کښ صحیح دے. او شافعی وئیلی دی چه په کهجورو او په انګورو کښ. او مالك وئیلی دی چه په ټولو اونو کښ مساقات صحیح دے. انتهی مختصراً.

[2]: نو په میوه کښ د مساقات او په غله کښ مزارعت شو. دد ے حدیث نه استدلال کړے دے امام شافعی او د هغۀ ملګرو چه مزارعت بشمول د مساقات صحیح دے (یعنی د مساقات سره یو ځائے) او جدا صحیح نۀ دے. او د امام مالك په نز مزارعت مطلقاً صحیح نۀ دے مګر په هغه زمکه کښ چه هغه د اونو په مینځ کښ وی. او امام ابوحنیفه او زفر وئیلی دی چه مزارعت او مساقات دواړه صحیح نۀ دی.

عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ مِمَّنِ اخْتَارَتَا الْأَرْضَ وَالْمَاءَ

حضرت حفصے زمکه او اوبه اخستی وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَلَ أَهْلَ خَيْبَرَ بِشَطْرِ مَا خَرَجَ مِنْهَا مِنْ زَرْعٍ أَوْ ثَمَرٍ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ عَلِيِّ بْنِ مُسْهِرٍ وَلَمْ يَذْكُرْ فَكَانَتْ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ مِمَّنِ اخْتَارَتَا الْأَرْضَ وَالْمَاءَ وَقَالَ خَيَّرَ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقْطِعَ لَهُنَّ الْأَرْضَ وَلَمْ يَذْكُرِ الْمَاءَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د اهل خیبر سره معامله اوکړه په نیم پیداوار باندے کوم چه د زمکے نه اوشی یا میوه وغیره وی. مخکښې د پورتنی حدیث پشان ئے روایت کړو مگر په دے کښې دا ذکر نشته چه حضرت عائشے او حضرت حفصے زمکے او اوبو لره اختیار کړل بلکه دادی چه حضرت عمر د رسول الله ﷺ بیبیانو له اختیار ورکړو کۀ غواړی نو هغوی د زمکه اخلی او د اوبو ذکرئے نۀ دے کړے.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا افْتُتِحَتْ خَيْبَرُ سَأَلَتْ يَهُودُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقِرَّهُمْ فِيهَا عَلَى أَنْ يَعْمَلُوا عَلَى نِصْفِ مَا خَرَجَ مِنْهَا مِنَ الثَّمَرِ وَالزَّرْعِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُقِرُّكُمْ فِيهَا عَلَى ذَلِكَ مَا شِئْنَا ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ ابْنِ نُمَيْرٍ وَابْنِ مُسْهِرٍ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ وَزَادَ فِيهِ وَكَانَ الثَّمَرُ يُقْسَمُ عَلَى السُّهْمَانِ مِنْ نِصْفِ خَيْبَرَ فَيَأْخُذُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخُمُسَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے هر کله چه خیبر فتح شو نو یهودو رسول الله ﷺ ته اووے تاسو مونږ ددےځائے نه مۀ شړئ او کوم پیداوار چه وی د میوے یا د غلے د هغے نه نیم تاسو اخلئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده تاسو ته زمکه درکوؤ مونږ په دے شرط باندے مگر د کومے پورے چه مونږ غواړو (او کله چه مونږ غواړو تاسو به اوباسو) بیائے بیان کړو حدیث په دغه شان لکه چه مخکښې تیر شو. دومره زیات دے چه میوے به ئے دوه حصے کولے پنځمه حصه به دهغے نه رسول الله ﷺ ویستله د خپلو بیبیانو د مصارف په واسطه او باقی به ئے په ټولو مسلمانانو باندے تقسیمول.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ دَفَعَ إِلَى يَهُودِ خَيْبَرَ نَخْلَ خَيْبَرَ وَأَرْضَهَا عَلَى أَنْ يَعْتَمِلُوهَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَلِرَسُولِ اللهِ ﷺ شَطْرُ ثَمَرِهَا

د عبد الله بن عمر نه روایت دے. رسول الله ﷺ د خیبر اونو او زمکے لره د یهودو حواله کړله چه هغو به د هغے خدمت کوی په خپل مال سره او رسول الله ﷺ ته نه نیمه میوه (د هغے نه) ورکوی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَجْلَى

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه حضرت عمر یهود او نصارٰی د

الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ وَأَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ظَهَرَ عَلَى خَيْبَرَ أَرَادَ إِخْرَاجَ الْيَهُودِ مِنْهَا وَكَانَتِ الْأَرْضُ حِينَ ظُهِرَ عَلَيْهَا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ وَلِلْمُسْلِمِينَ فَأَرَادَ إِخْرَاجَ الْيَهُودِ مِنْهَا فَسَأَلَتِ الْيَهُودُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقِرَّهُمْ بِهَا عَلَى أَنْ يَكْفُوا عَمَلَهَا وَلَهُمْ نِصْفُ الثَّمَرِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُقِرُّكُمْ بِهَا عَلَى ذٰلِكَ مَا شِئْنَا فَقَرُّوا بِهَا حَتّٰى أَجْلَاهُمْ عُمَرُ إِلَى تَيْمَاءَ وَأَرِيحَاءَ

حجاز د ملك نه اوویستل او رسول الله ﷺ چه هر کله په خیبر باندے غالب شو نو حضرت ﷺ دا غوښتل چه یهود ترے اوباسی ولے چه هر کله په دغه زمکه باندے حضرت ﷺ غالب شو نو هغهٔ د الله او د هغهٔ د رسول او د مسلمانانو شوله. خکه حضرت ﷺ ترے هغوی ویستل غوښتل. لیکن هغوی اووے چه تاسو ترے مونږ مهٔ اوباسئ. مونږ به دلته محنت کوو او نیمه به اخلو او نیمه به تاسو له درکوو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل ښه ده مونږ تاسو اوسیدو ته پریږدو او هر کله چه مونږه اوغواړو نو تاسو به اوباسو. بیا هغوی هلته پاتے شو. اوبیا دحضرت عمر په خلافت کښې اوویستلے شول د تیماء یا ریحاء په طرف[1].

بَابُ فَضْلِ الْغَرْسِ وَالزَّرْعِ

باب: د اونو د لګولو او د فصل کرلو فضیلت

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا إِلَّا كَانَ مَا أُكِلَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ وَمَا سُرِقَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ مِنْهُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ وَمَا أَكَلَتِ الطَّيْرُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ وَلَا يَرْزَؤُهُ أَحَدٌ إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةٌ

د حضرت جابر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه کوم مسلمان اونه اولګوی او بیا د هغے نه څوك اوخوری نو لګونکی ته د صدقے ثواب میلاویږی او څهٔ چه ترے په غلا یوړلے شی په هغے هم د صدقے ثواب میلاویږی او څهٔ چه ترے مرغئ اوخوری په هغے هم د صدقے ثواب میلاویږی.او نهٔ شی کمیدے د دنهٔ څهٔ شے مګر د صدقے ثواب ئے کیږی[2].

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ

د جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د اُم مبشر انصاریه خواله لاړو

---

[1]: تیماء او ریحاء دواړه کلی دی اګر چه هغه د عربو په ملك کښې دی لیکن په حجاز کښې نهٔ دی. او د جناب رسول الله ﷺ مقصد هم دغه وو چه کفار د جحاز نه اوویستلے شی حضرت عمر هم دغسے اوکړل.

[2]: امام نووی وئیلی دی دد ے حدیث نه او د راتلونکو حدیثونه د اونو لګولو او د فصل کرلو فضیلت معلومیږی. او دا هم ثابت شوے ده چه د هغے ثواب همیشه جاری وی د کومے چه هغه اونه او فصل قائم وی. او د قیامته پورے به د هغے نه فائده رسیږی او عالمانو اختلاف کړے دے چه پاکیزه ګټه کومه ده. خنو وئیلی دی چه تجارت دے او خنو وئیلی دی چه صنعت یعنی په لاسونو سره یو کار کول او خنو زمینداری وئولی ده او دغه صحیح دے.

عَلَى أُمِّ مُبَشِّرٍ الْأَنْصَارِيَّةِ فِي نَخْلٍ لَهَا فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَرَسَ هَذَا النَّخْلَ أَمُسْلِمٌ أَمْ كَافِرٌ فَقَالَتْ بَلْ مُسْلِمٌ فَقَالَ لَا يَغْرِسُ مُسْلِمٌ غَرْسًا وَلَا يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ وَلَا دَابَّةٌ وَلَا شَيْءٌ إِلَّا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً

د هغه د كهجورو په باغ كښې نو حضرت ﷺ اوفرمائيل دااونې د كهجورو چا لګولي دي؟ مسلمان يا كفر؟ هغوي اووے مسلمان بني كريم ﷺ اوفرمائيل كوم مسلمان چه اونې اولګوي يا فصل بيا د هغې نه څوك بنده يا څاروي يا بل څۀ شے خوراك اوخوري نو دۀ ته د صدقے ثواب ميلاويږي.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَغْرِسُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ غَرْسًا وَلَا زَرْعًا فَيَأْكُلَ مِنْهُ سَبُعٌ أَوْ طَائِرٌ أَوْ شَيْءٌ إِلَّا كَانَ لَهُ فِيهِ أَجْرٌ وَقَالَ ابْنُ أَبِي خَلَفٍ طَائِرٌ شَيْءٌ كَذَا

د جابر بن عبد الله نه ورايت ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه چه هغوي فرمائيلي وو كوم مسلمان چه اونه اولګوي يا فصل اوكړي بيا د هغې نه څۀ ځناور يا مرغۍ يا بل څۀ څيز خوراك اوكړي نو دۀ ته به اجر ميلاويږي.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُمِّ مَعْبَدٍ حَائِطًا فَقَالَ يَا أُمَّ مَعْبَدٍ مَنْ غَرَسَ هَذَا النَّخْلَ أَمُسْلِمٌ أَمْ كَافِرٌ فَقَالَتْ بَلْ مُسْلِمٌ قَالَ فَلَا يَغْرِسُ الْمُسْلِمُ غَرْسًا فَيَأْكُلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ وَلَا دَابَّةٌ وَلَا طَيْرٌ إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةً إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے رسول الله ﷺ د أم معبد باغ ته لاړو. او اوئې فرمائيل اے ام معبد دا د كهجورے اونې چا لګولي دي؟ مسلمان يا كافر ؟ هغوي اووے مسلمان. حضرت ﷺ او فرمائيل بيا مسلمان خو چه څۀ اونه اولګوي او د هغې نه څوك بنده يا ځناور يا مرغۍ ترے څۀ اوخوري نو هغۀ ته د صدقے ثواب ميلاويږي د قيامت د ورځے پورے.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ

د انس نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي كوم مسلمان چه اونه اولګوي يا فصل اوكړي بيا د هغې نه څۀ مرغۍ يا بنيادم يا ځناور اوخوري. نو هغۀ ته د صدقے ثواب ميلاويږي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ نَخْلًا لِأُمِّ مُبَشِّرٍ امْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَرَسَ هَذَا النَّخْلَ أَمُسْلِمٌ أَمْ كَافِرٌ قَالُوا مُسْلِمٌ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ

د انس بن مالك نه روايت دے رسول الله ﷺ د أم مبشر باغ ته لاړو چه هغه د انصارو نه يوه ښځه وه. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چا نعلے كړے دي دے د كهجورو اونو لره؟ مسلمان يا كافر؟. خلقو اووے مسلمان. د آخر د حديث پورے لكه څنګه چه پورته تير شو.

بَاب وَضْعِ الْجَوَائِحِ

باب: د آفت نه چه کوم نقصان اوشي هغې له مجرا ورکول

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ بِعْتَ مِنْ أَخِيكَ ثَمَرًا فَأَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ فَلَا يَحِلُّ لَكَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا بِمَ تَأْخُذُ مَالَ أَخِيكَ بِغَيْرِ حَقٍّ

د جابر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے ته په خپل رور باندے میوه خرڅه کړے. او بیا په هغې څۀ آفت راشی (چه په هغې سره میوه ختمه شی) نو اوس تا له حلال نۀ دی د هغۀ نه څۀ اخستل تۀ د څۀ خیز په بدله د خپل رور مال اخلے؟ ولے په ناحقه ئے اخلے[1].

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ ثَمَرِ النَّخْلِ حَتَّى تَزْهُوَ فَقُلْنَا لِأَنَسٍ مَا زَهْوُهَا قَالَ تَحْمَرُّ وَتَصْفَرُّ أَرَأَيْتَكَ إِنْ مَنَعَ اللهُ الثَّمَرَةَ بِمَ تَسْتَحِلُّ مَالَ أَخِيكَ

د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د کهجورو د بیع نه په اونه کښں د کومے پورے چه هغے رنګ نیولے نۀ وی حمید وائی مونږ خلقو تپوس اوکړو چه د رنګ نیولو څۀ معنی ده؟ انس اووے چه سُور یا زیړه شوے نۀ وی. خبردار! الله تعالی منع کړی میوۀ لره (یعنی پخے نۀ شی او تلف شی) نو تۀ به د څۀ شی په بدل د خپل رور مال حلالوے.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ الثَّمَرَةِ حَتَّى تُزْهِيَ قَالُوا وَمَا تُزْهِيَ قَالَ تَحْمَرُّ فَقَالَ إِذَا مَنَعَ اللهُ الثَّمَرَةَ فَبِمَ تَسْتَحِلُّ مَالَ أَخِيكَ

د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د میوے د بیع نه تر کومے پورے چه هغے رنګ نیولے نۀ وی. عرض اوشو د رنګ نیولو نه څۀ مراد دے؟ حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ترڅو چه سُور شوے نۀ وی او اوئے فرمائیل هر کله چه الله تعالی منع کړے میوے لره. نو بیا د څۀ شی په بدله ستاسو نه څوك د خپل رور مال حلالوی؟

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنْ لَمْ يُثْمِرْهَا اللهُ فَبِمَ يَسْتَحِلُّ أَحَدُكُمْ مَالَ أَخِيهِ

د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے الله تعالی میوے زرغونے نۀ کړی. نو تاسو به د څۀ په بدله د خپل رور مال لره اخلئ؟

---

[1] امام نووی ونیلی دی کچرے میوه د صلاحیت د معلومیدو نه پس خرڅه کړے شی او خرڅونکے ئے اخستونکی ته حواله کړی. بیا د موقعے نه مخکښں هغه میوه د څۀ آفت په وجه تلف کړے شی نو په خرڅونکی به د نقصان ورکول وی یا کۀ نۀ به وی په دے کښں د عالمانو اختلاف دے. د شافعی او ابوحنیفه او لیث په نز دا نقصان به په خریدار یعنی اخستونکی باندے وی. او د خرڅونکی سره ئے څۀ غرض نشته لیکن مستحب داده چه خرڅونکے د نقصان هومره قیمت واپس کړی او د امام شافعی یو زوړ قول او د علماؤ د یوے طائفے مذهب دا دے چه خرڅونکی له د نقصان قیمت ورکول لازم دی. او د امام مالك په نز د کچرے نقصان یو د دریو نه کم وی نو قیمت ورکول ضروری نۀ دی او کۀ څلورمه خصه یا زیات وی نو قیمت ورکول واجب دی.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِوَضْعِ الْجَوَائِحِ

د حضرت جابرؓ نه روایت دے. رسول خدا ﷺ حکم ورکړے دے د اقت د نقصان د قیمت ورکولو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ أُصِيبَ رَجُلٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثِمَارٍ ابْتَاعَهَا فَكَثُرَ دَيْنُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَصَدَّقُوا عَلَيْهِ فَتَصَدَّقَ النَّاسُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَبْلُغْ ذٰلِكَ وَفَاءَ دَيْنِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِغُرَمَائِهِ خُذُوا مَا وَجَدْتُمْ وَلَيْسَ لَكُمْ إِلَّا ذٰلِكَ

د ابوسعید خدری نه روایت دے چه یو سړی د رسول الله ﷺ په زمانه کښې میوه په اونه کښې واخستله او په هغه باندے قرض ډیر زیات شو (د میوے په تلف کیدو یا د بلے څۀ وجے نه) بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل دۀ لره صدقه ورکړئ خلقو هغه له صدقه ورکړله بیا هم د هغه قرض پوره نۀ شو. آخر جناب رسول الله ﷺ د هغۀ د قرض خواهانو ته اوفرمائیل. بس اوس چه درته څۀ میلاؤ شو نو واخلئ او دد ے نه علاوه نور څۀ نشته[1].

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْوَضْعِ مِنَ الدَّيْنِ

باب: د قرض نه څۀ معاف کول مستحب دی (کۀ چرے قرضداری ته تکلیف وی)

عَنْ عَائِشَةَ تَقُولُ سَمِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَوْتَ خُصُومٍ بِالْبَابِ عَالِيَةٍ أَصْوَاتُهُمَا وَإِذَا أَحَدُهُمَا يَسْتَوْضِعُ الْآخَرَ وَيَسْتَرْفِقُهُ فِي شَيْءٍ وَهُوَ يَقُولُ وَاللهِ لَا أَفْعَلُ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمَا فَقَالَ أَيْنَ الْمُتَأَلِّي عَلَى اللهِ لَا يَفْعَلُ الْمَعْرُوفَ قَالَ أَنَا يَا رَسُولَ اللهِ فَلَهُ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په دروازه باندے د جهګړے آواز واوریدو دواړه آوازونه اوچت وو. یو وئیلو چه ما معاف کړه او څما سره رعایت اوکړه. دویم اوئیل چه په الله قسم دے چرته به د معاف نۀ کړم. بیا رسول الله ﷺ بهر تشریف راوړو او اوئے فرمائیل هغه څوك دے چه په الله ئے قسم اوخوړو په نیکئ نۀ کولو باندے. هغه سړی اووے زۀ یم یا رسول الله ﷺ. حضرت ﷺ اوفرمائیل دۀ ته اختیار دے څنګه

[1] نووی وئیلی دی چه دد ے روایت نه دا اووتل چه د نیکئ او احسان دپاره مدد کول پکار دی. او د محتاج د زړۀ ساتنه او اعانت ضروری دے. او څوك چه قرضدارے شی هغۀ ته صدقه ورکول ضروری دی. او قرض دار چه هر کله مفلس شی نو په هغه باندے تقاضات صحیح نۀ دی نۀ د هغه ګرفتاری نۀ قید. او دغه قول دے د شافعی او مالك او د جمهورو عالمانو. او د ابن شریح نه دا منقول دی چه دے به قید کوی تر هغے پورے چه هغه قرض ادا کړی. او د ابوحنیفه نه دا منقول دی چه قرض خواه به د هغۀ نګرانی کوی. او دا هم ثابته شوه چه د مفلس ټول مال علاوه د ضروری کپړو وغیره نه به قرض خواهانو ته حواله کولے شی.

أَيَّ ذٰلِكَ أَحَبَّ

چه غواړي[1].

عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَخْبَرَهُ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ تَقَاضَى ابْنَ أَبِي حَدْرَدٍ دَيْنًا كَانَ لَهُ عَلَيْهِ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي الْمَسْجِدِ فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا حَتَّى سَمِعَهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ وَهُوَ فِي بَيْتِهِ فَخَرَجَ إِلَيْهِمَا رَسُولُ اللهِ ﷺ حَتَّى كَشَفَ سِجْفَ حُجْرَتِهِ وَنَادَى كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ فَقَالَ يَا كَعْبُ فَقَالَ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ فَأَشَارَ إِلَيْهِ بِيَدِهِ أَنْ ضَعِ الشَّطْرَ مِنْ دَيْنِكَ قَالَ كَعْبٌ قَدْ فَعَلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قُمْ فَاقْضِهِ

د كعب بن مالك نه روايت دے چه هغه تقاضا اوكړه د ابوحدرد د خوئ نه د خپل قرض د رسول الله ﷺ په زمانه مباركه كښې په جماعت كښې. نو اوچت شو آوازونه د دواړو تردے پورے چه رسول الله ﷺ واوريدل. حضرت ﷺ په كور كښې وو. حضرت ﷺ بهر راووتو لو د هغوی دواړو خواله راغے او د حجرے پرده ئے اوچته كړه لو آواز ئے اوكړو اے كعب! هغوی اووے حاضريم يا رسول الله حضرت ﷺ په لاس سره اشاره اوفرمائيله چه نيمه قرضه معاف كړه. كعب اووے ما معاف كړله يا رسول الله! يا حضرت ابن حدرد ته اووے پاسه او ددهٔ قرضه ادا كړه.

عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ كَانَ لَهُ مَالٌ عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي حَدْرَدٍ الْأَسْلَمِيِّ فَلَقِيَهُ فَلَزِمَهُ فَتَكَلَّمَا حَتَّى ارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا فَمَرَّ بِهِمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا كَعْبُ فَأَشَارَ بِيَدِهِ كَأَنَّهُ يَقُولُ النِّصْفَ فَأَخَذَ نِصْفًا مِمَّا عَلَيْهِ وَتَرَكَ نِصْفًا

د كعب بن مالك نه روايت دے د هغوی قرض راغلے وو په عبد الله بن حدرد باندے هغوی په لاره كښې ميلاؤ شو نو كعب هغوی لره اونيوو. بيا دواړو خبرے شروع كړے. تردے پورے چه آوازونه ئے اوچت شول پس رسول الله ﷺ د هغوی په خواه كښې تيريدو او اوئے اوكړه په خپل لاس مبارك سره د نيم قرض د پريخودلو پس كعب: حضرت ﷺ د اشارے موافق) نيم قرض واخستو او نيم ئے معاف كړو.

بَاب مَنْ أَدْرَكَ مَا بَاعَهُ عِنْدَ الْمُشْتَرِي وَقَدْ أَفْلَسَ فَلَهُ الرُّجُوعُ

باب: كهٔ اخستونكے غريب شي او خرڅونكے د اخستونكي سره خپل څيز بجنسه اوموعی نو واپس ئے ترے اخستے شي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی يا ما

[1] يعنی په نيكئ كښې څهٔ زور زياتے نشته مګر د حديث نه دا راووځی چه په نيكئ نهٔ كولو باندے قسم خوړل مكروه دی او څوك چه ئے اوخوري نو غوره داده چه مات ئے كړی او كفارة وركړی لكه څنګه چه په دويم حديث كښې دی.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ مَنْ أَدْرَكَ مَالَهُ بِعَيْنِهِ عِنْدَ رَجُلٍ قَدْ أَفْلَسَ أَوْ إِنْسَانٍ قَدْ أَفْلَسَ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ

اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلو ئے کوم سړے چه خپل مال بجنسه د چا سړی یا بنده سره اوومومی او هغه مفلس شوے وی. نو زیات حقدار دے د هغه مال د نورو نه[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّجُلِ الَّذِي يُعْدِمُ إِذَا وُجِدَ عِنْدَهُ الْمَتَاعُ وَلَمْ يُفَرِّقْهُ أَنَّهُ لِصَاحِبِهِ الَّذِي بَاعَهُ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د هغه سړی په باره کښی چه هغه نا چاره شی. هر کله چه د هغهٔ سره مال د هغه جنس نه وی (کوم چه ده اخستے وو) او هغه په هغے کښی څهٔ تصرف نهٔ وی کړے. نو هغه به د بائع وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَفْلَسَ الرَّجُلُ فَوَجَدَ الرَّجُلُ مَتَاعَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ

د ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه یو سړے مفلس شی او خپل مال بعینه بل یو سړے د هغه سره اوومومی. نو هغه زیات حقدار دے د هغے (په نسبت د نورو قرض غوښتونکو)

عَنْ قَتَادَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ مِنَ الْغُرَمَاءِ

د قتاده نه پشان د دے پورته حدیث روایت دے په دے کښی دا دی چه زیات حقدار دے هغه د نورو قرض خواهانو نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَفْلَسَ الرَّجُلُ فَوَجَدَ الرَّجُلُ عِنْدَهُ سِلْعَتَهُ بِعَيْنِهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. هر کله چه څوك نا چاره شی بیا بل سړے خپل اسباب د هغه سره اوومومی. نو هغه زیات حقدار دے د هغے.

بَابُ فَضْلِ إِنْظَارِ الْمُعْسِرِ وَالتَّجَاوُزِ فِي الِاقْتِضَاءِ مِنَ الْمُوسِرِ وَالْمُعْسِرِ

باب: غریب ته د مهلت ورکولو او د قرض په وصولولو کښی د آسانئ فضیلت

---

[1] نووی ؒ ویلی دی علماؤ اختلاف کړے دے په دے مسئله کښی چه یو سړی څهٔ مال واخستو بیا هغه مفلس شو یا مړ شو د هغے د قیمت د ادا کولو نه مخکښی. او د دهٔ سره دومره روپئ یا مال نشته چه د هغے قیمت ته پوره شی. او هغه مال کوم چه ئے اخستے وو بجنسه موجود وی. نو د امام شافعی او د علماء د یوے جماعت مذهب دا دے چه بائع ته به اختیار وی کهٔ دغه مال پریږدی او د تولو قرض خواهانو سره په سر شکن کښی شریکیږی. او کهٔ خوښه ئے وی نو خپل مال دِ بجنسه واپس واخلی. او امام ابوحنیفه وئیلی دی چه بائع به د نورو قرض خواهانو برابر په سر شکن کښی شریك وی د مال واپس اخستلو دهٔ ته اختیار نشته. او امام مالك وئیلی دی چه د ناچارئ په وجه مال واپس اخستے شی او د مرگ په صورت کښی به د تولو قرض خواهانو برابر وی. د امام شافعی دلیل دا حدیث دے. او په مرگ کښی هغه حدیث دے کوم چه په سنن ابوداؤد کښی مروی دے. والله اعلم

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَقَّتِ الْمَلَائِكَةُ رُوحَ رَجُلٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَقَالُوا أَعَمِلْتَ مِنَ الْخَيْرِ شَيْئًا قَالَ لَا قَالُوا تَذَكَّرْ قَالَ كُنْتُ أُدَايِنُ النَّاسَ فَآمُرُ فِتْيَانِي أَنْ يُنْظِرُوا الْمُعْسِرَ وَيَتَجَاوَزُ عَنِ الْمُوسِرِ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ تَجَوَّزُوا عَنْهُ

د حذیفه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی فرښتے ستاسو نه مخکښ د یو بنده روح واخستو اولاړه نو د هغهٔ نه تپوس اوشو تا څهٔ نیك كار كړے دے؟ هغهٔ اووے نه فرښتو اووے رایاد ئے كړه. هغهٔ اووے ما به خلقو له قرض وركولو او بیا به مے خپلو خوانانو ته حكم اوكړو چه كوم بنده نا چاره وی هغهٔ ته مهلت وركوئ د هغهٔ نه تقاضا مهٔ كوئ. او كوم بنده چه مالدار وی په هغهٔ باندے آسانی كوئ (نرمی كوئ یا په لږ نقصان باندے خیال مهٔ كوئ مثلاً روپئ شلیدلے وی نو اخلئ سختی ډیره مهٔ كوئ) الله اوفرمائیل (فرښتو ته) تاسو هم په دهٔ باندے آسانی كوئ (او د دهٔ ګناهونه اوبخښئ)[1]

عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ قَالَ اجْتَمَعَ حُذَيْفَةُ وَأَبُو مَسْعُودٍ فَقَالَ حُذَيْفَةُ رَجُلٌ لَقِيَ رَبَّهُ فَقَالَ مَا عَمِلْتَ قَالَ مَا عَمِلْتُ مِنَ الْخَيْرِ إِلَّا أَنِّي كُنْتُ رَجُلًا ذَا مَالٍ فَكُنْتُ أُطَالِبُ بِهِ النَّاسَ فَكُنْتُ أَقْبَلُ الْمَيْسُورَ وَأَتَجَاوَزُ عَنِ الْمَعْسُورِ فَقَالَ تَجَاوَزُوا عَنْ عَبْدِي قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ هَكَذَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د ربعی بن خراش نه روایت دے حذیفه او ابومسعود دواړه میلاؤ شو نو حذیفه اووے چه یو سړے میلاؤ شو د خپل پروردګار سره. نو پروردګار ترے تپوس اوكړو چه تا څهٔ عمل كړے دے؟ هغهٔ اووے ما هیڅ نیكی نهٔ ده كړے. مګر دا چه زهٔ مالدار سړے وم نو د خلقو نه به مے خپل قرض غوښتلو. څوك چه به مالدار وو د هغهٔ د وینا مطابق به مے بیعه ماتوله (یعنی په كومه معامله كښ چه به هغهٔ ته نقصان معلومیدو او هغه به دا غوښته چه معامله د فسخ شی نو ما به فسخ كوله د خپلے نفع د پاره به مے د هغهٔ نقصان نهٔ كوو) او څوك چه به غریب وو هغه به مے معاف كوؤ. نو پروردګار (فرښتو ته) اوفرمائیل تاسو هم معافی اوكړئ. څما بنده ته ابومسعود اووے ما د رسول الله ﷺ نه هم دغسے اوریدلی دی.

---

[1] ولې چه دغهٔ څما په بندیګانو باندے آسانی كوله. سبحان الله! د خداوند كریم څومره عنایت دے په خپلو بندیګانو باندے چه په لږه شان نیكئ باندے ورته لوئ ګناهونه آسان كړو اصل دا دے چه خلوص او عجز او بندګی پكار ده. د خدمت د پاره خو په لكونو كروړو نو داسے غلامان موجود دی چه چرته هم نهٔ ستړے كیږی. بیا كچرے خدمت هم وی نو سبحان الله څهٔ به اووے. خو چه د غرور او تكبر او ریا نوم نهٔ وی ګنی هغه خدمت تول بے فائدے دے. دداسے عبادت نهٔ كوم چه په غرور سره اوشی هغه ګناه غوره ده چه په هغے باندے بنده د خپل مالك په مخكښ په ملامت سره اوژاړی او عاجزی اوكړی.

عَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلًا مَاتَ فَدَخَلَ الْجَنَّةَ فَقِيلَ لَهُ مَا كُنْتَ تَعْمَلُ قَالَ فَإِمَّا ذَكَرَ وَإِمَّا ذُكِّرَ فَقَالَ إِنِّي كُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ فَكُنْتُ أُنْظِرُ الْمُعْسِرَ وَأَتَجَوَّزُ فِي السِّكَّةِ أَوْ فِي النَّقْدِ فَغُفِرَ لَهُ فَقَالَ أَبُو مَسْعُودٍ وَأَنَا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حذیفةؓ نه روایت دے جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یو سړے مړ شو. پس جنت ته داخل شو. او اوونیلے شو هغهٔ ته چه تا به څهٔ عمل کوؤ پس هغه پخپله یاد کړو یا ورته یاد کړے شو. هغهٔ اووے. ما به (په دنیا کښ) مال خرخولو نو ناچاره ته به مے مهلت ورکولو او په سکه یا نقدو کښ به مے ورته معافی کوله (د هغې به نقصان یا عیب سره او قبولوله به مې) دد ے وجے نه هغه او بخښلے شو ابو مسعود وئیلی دی ما داسے اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ أُتِيَ اللهُ بِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِهِ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَقَالَ لَهُ مَاذَا عَمِلْتَ فِي الدُّنْيَا قَالَ وَلَا يَكْتُمُونَ اللهَ حَدِيثًا قَالَ يَا رَبِّ آتَيْتَنِي مَالَكَ فَكُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ وَكَانَ مِنْ خُلُقِي الْجَوَازُ فَكُنْتُ أَتَيَسَّرُ عَلَى الْمُوسِرِ وَأُنْظِرُ الْمُعْسِرَ فَقَالَ اللهُ أَنَا أَحَقُّ بِذَا مِنْكَ تَجَاوَزُوا عَنْ عَبْدِي فَقَالَ عُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ الْجُهَنِيُّ وَأَبُو مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيُّ هَكَذَا سَمِعْنَاهُ مِنْ فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حذیفه نه روایت دے الله عزوجل له به د هغهٔ یو بنده راوستے شی چه هغهٔ له اللهؓ مال ورکړےوو نو الله تعالی نه د هغهٔ نه تپوس اوکړی تا به په دنیا کښ څهٔ عمل کوو. ابوحذیفه اووئیل. او د الله تعالی نه یوه خبره هم نهٔ شی پټیدے. بنده اوبه ووائی اے څما مالکه تا خپل مال ماله راکړےوو او ما به په خلقو باندے خرخولو او څما د پریخودولو عادت وو (او د معافئ کولو) نو ما به آسانی کوله په مالدار باندے او مهلت به مے ورکولو غریب ته پس الله تعالی به اوفرمائی بیا خوزهٔ زیات لائق یم د معاف کولو دپاره ستا نه چه تا معافی کړے ده څما بنده ته بیا عقبه بن عامر جهنی او ابومسعود انصاری وائی. مونږ دغه شان اوریدلی دی د رسول الله ﷺ د خلے مبارکے نه

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُوسِبَ رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَلَمْ يُوجَدْ لَهُ مِنَ الْخَيْرِ شَيْءٌ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ يُخَالِطُ النَّاسَ وَكَانَ مُوسِرًا فَكَانَ يَأْمُرُ غِلْمَانَهُ أَنْ يَتَجَاوَزُوا عَنِ الْمُعْسِرِ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ نَحْنُ أَحَقُّ بِذَلِكَ مِنْهُ تَجَاوَزُوا عَنْهُ

د حضرت ابی مسعود نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ستاسو نه مخکښ د یو سړی حساب اوشو نو د هغهٔ یوه نیکی رااونهٔ وته. مګر دومره چه هغه د خلقو سر معامله کوله او مالدار وو. نو خپلو غلامانو ته به ئے حکم کوو د غریب د معاف کولو. بیا الله تعالی اوفرمائیل مونږ زیات حق لرو د معاف کولو ستا نه. او حکم ئے اوکړو چه معاف کړئ دده ګناهونو لره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يُدَايِنُ النَّاسَ فَكَانَ يَقُولُ لِفَتَاهُ إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِرًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ لَعَلَّ اللهَ يَتَجَاوَزُ عَنَّا فَلَقِيَ اللهَ فَتَجَاوَزَ عَنْهُ

د ابوهريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه يو سړی به خلقو له قرض ورکولو. او خپلو نوکرانو ته به ئے وئيل چه څوك غريب وی هغه معاف کوئ. کيدے شی چه الله تعالی دد ے په بدله کښې مونږ معاف کړی. بيا هغه د الله پاك سره ميلاؤ شو او الله تعالی هغه اوبخښلو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ طَلَبَ غَرِيمًا لَهُ فَتَوَارَى عَنْهُ ثُمَّ وَجَدَهُ فَقَالَ إِنِّي مُعْسِرٌ فَقَالَ آللهِ قَالَ آللهِ قَالَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُنْجِيَهُ اللهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ أَوْ يَضَعْ عَنْهُ

د عبد الله بن ابی قتاده نه روايت دے چه ابوقتادهؓ د خپل يو قرضدارے لټون کوو نو هغه پټ شو. بيائے هغه اوموندو نو هغهٔ اووے زهٔ غريب يم. ابو قتاده اووے په الله قسم دے هغهٔ اوے په الله مے د قسم وی (چه غريب يم) ابوقتاده اووے ما اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلی ئے وو چه کهٔ چاته دا خوښه وی چه الله خلاصے ورکړی د قيامت په ورځ د سختونه نو هغه دے مهلت ورکوی غريب لره يا دے معاف کوی هغهٔ لره.

بَابُ تَحْرِيمِ مَطْلِ الْغَنِيِّ وَصِحَّةِ الْحَوَالَةِ وَاسْتِحْبَابِ قَبُولِهَا إِذَا أُحِيلَ عَلَى مَلِيٍّ

باب: کوم سړے چه مالدار وی هغهٔ لره په قرض ادا کولو کښې روستے والے کول حرام دی. او هر کله چه يوه مالدار د قرض حواله کړے شی نو قرض غوښتونکی لره قبلول مستحب دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ وَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيءٍ فَلْيَتْبَعْ

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی کوم سړے چه مالدار وی (يعنی د دومره قرضے د ادا کولو طاقت لری) بيا هم هغه په قرض ادا کولو کښې سُستی کوی نو هغه ظالم دے. او هر کله چه څوك ستاسو نه اولګولے شی په مالدار باندے نو په هغهٔ پسے د ځی[1].

[1]: اولګولے شی يعنی حواله کړے شی مثلاً زيد د عمرو مقروض دے. زيد عمرو لره حواله کړو بکر ته. يعنی په بکر باندے ئے خپله قرضه اوغورځوله د هغهٔ په رضامندئ سره. او د عمرو ليګل ئے اوکړلهٔ نو عمرو لره قبلول پکار دی کچرے بکر مالدار دےاو په بکر

بَاب تَحْرِيمِ بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ الَّذِي يَكُونُ بِالْفَلَاةِ وَيُحْتَاجُ إِلَيْهِ لِرَعْيِ الْكَلَإِ وَتَحْرِيمِ مَنْعِ بَذْلِهِ وَتَحْرِيمِ بَيْعِ ضِرَابِ الْفَحْلِ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ ضِرَابِ الْجَمَلِ وَعَنْ بَيْعِ الْمَاءِ وَالْأَرْضِ لِتُحْرَثَ فَعَنْ ذَلِكَ نَهَى النَّبِيُّ ﷺ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

باب: كومے اوبۀ چه په ځنګل كښې د ضرورت نه زياتے وى د هغے خرڅول حرام دى هر كله چه خلقو ته د هغے حاجت وى د ګاړے په څرولو كښې او د هغے د خرچ كولو نه منع كول حرام دى. او د نر په دنګولو په بنخه مزدورى اخستل حرام دى

د جابر بن عبد الله نه روايت دے وائى چه منع فرمائيلے ده رسول الله ﷺ د هغه اوبو د خرڅولو نه كومے چه د ضرورت نه زياتے وى[1].

د حضرت جابر بن عبد الله نه روايت دے چه منع فرمائيلے ده رسول الله ﷺ د نسلى اوښ د نسل خرڅولو نه او د اوبو د خرڅولو نه او د زمكے د خرڅولو نه د فصل دپاره[2].

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى مۀ

پسے تلل پكار دى. اوس دا قبول مستحب دى. او څنو عالمانو وئيلى دى چه مباح دى. او څنو وئيلى دى چه واجب دى په وجه د ظاهر حديث او دغه مذهب دے د داؤد ظاهرى (نووى)

[1]: امام نووى وئيلى دى چه په بل روايت كښې داسے دى چه منع ئے فرمائيلے ده د زياتو اوبو د بندولو نه دد ے دپاره چه دد ے په وجه زيات واښۀ او نۀ شى. او په يو روايت كښې داسے دى چه زياتے اوبۀ مۀ خرڅوئ چه دد ے په وجه زياته زمكه شنه شى. او دد ے مطلب دا د ے چه د يو سړى په ځنګل كښې كوهے وى. او په هغے كښې دد ۀ د ضرورت نه زياتے اوبۀ را اوخى او په هغه ځنګ كښې ورشو هم وى. ليكن اوبۀ سوا د دغه كوهى نه بل ځائے چرته نۀ وى. نو ښارو والا به خپل ښاروى په دغه ځنګل كښې نۀ شى څرولے بغير د دغه كوهى د اوبو د څښلو نه او س كۀ كوهى والا د دغه كوهى اوبۀ څښلو ته نۀ وركوى يا د هغے قيمت اخلى. او دد ے په بهانه سره لكه د وښو د څريدو هم قيمت اخلى نو دا حرام دى. زمونږ ملګرو وئيلى دى چه د ضرورت نه زياتے كومے اوبۀ چه په ځنګل كښې وى هغه په څو شرطونو سره مفت وركول پكار دى يو دا چه هلته بل ځائے اوبۀ نۀ وى. دويم دا چه د ښناورو د څښلو دپاره وركړے شى نۀ د فصل دپاره. دريم دا چه د مالك هغے ته حاجت نۀ وى. او مذهب صحيح دا دے چه څوك پخپله ملكى زمكه كښې كوهے يا چينه اوكنى نو اوبۀ به هم دد ۀ ملك وى. او څنو وئيلى دى چه اوبۀ به دد ۀ ملك نۀ وى. ليكن هر كله چه اوبۀ په خپل لوښى كښې واخلى نو هغه به دد ۀ ملك كيد ے شى. او دغه صواب د ے. او بعضو په د ے باند ے اجماع نقل كړے ده. انتهى بالاختصار.

[2]: يعنى د هغے د اجرت اخستلو نه. نووى رحمه الله وئيلى دى چه عالمانو اختلاف كړے د ے په د ے كښې چه د اوښ يا بل څۀ ښناور د نسل په حركت اجرت اخستل څنګه دى. نو د امام شافعى او امام ابوحنيفه او ابوثور مذهب دا د ے چه په د ے اُجرت اخستل حرام دى. او په ماده والا باند ے څۀ وركول واجب نۀ دى. او يو جماعت د صحابو او تابعينو او مالك د ے ته جائز وئيلى دى د يو ے مد ے معلوم ے او ضربات معين دپاره او د ے ته ئے تنزيهى خودلے د ے يعنى د مزارعت نه او دد ے مفصل بيان پورته تير شو ے د ے.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُمْنَعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُمْنَعَ بِهِ الْكَلَأُ

منع کوئ زیاتے شوے او به دد ے دپاره چه منع شی دد ے په وجه سره ورشو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَمْنَعُوا فَضْلَ الْمَاءِ لِتَمْنَعُوا بِهِ الْكَلَأَ

د حضرت ابوهريره نه روايت د ے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل مهٔ منع کوئ هغه اوبهٔ چه ستاسو د ضرورت نه زیاتے وی د ورشو نه د منع کولو دپاره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُبَاعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُبَاعَ بِهِ الْكَلَأُ

د ابوهريره نه روايت د ے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نهٔ د شی خرخولے شی هغه اوبهٔ کومے چه د ضرورت نه زیاتے وی دد ے دپاره چه ورشو خرخه کړی.

بَاب تَحْرِيمِ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ وَمَهْرِ الْبَغِيِّ وَالنَّهْيِ عَنْ بَيْعِ السِّنَّوْرِ

باب : د سپی قیمت او د نجومی متهائی او د رنډئ د گټے او د پیشو خرڅ حرام د ے

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَمَهْرِ الْبَغِيِّ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ

د ابومسعود انصاری نه روايت د ے وائی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلی دی د سپی د قیمت نه او د رنډئ فاحشے ښځے د گټے نه او د نجومی د متهایئ نه[1].

---

[1] : دد ے نه معلومه شوه چه د سپی بیعه حرامه ده. او هغه صحیح نهٔ ده او د هغهٔ قیمت هم حرام د ے او ځوك چه یو سپے مړ کړی اګر کهٔ دا تعلیم یافته وی خو بیا هم په دهٔ باند ے د قیمت تاوان نشته. او د جمهور علماء لکه ابوهريره او حسن بصری او ربیعه او اوزاعی او حکم او حماد او شافعی او احمد او داؤد او ابن منذر وغیره نورو دغه قول د ے. او د ابوحنیفه په نز د هغه سپو بیعه صحیح ده چه د هغے نه نفع رسیږی او د هغے په وژلو والا باند ے د قیمت تاوان شته د ے.او ابن منذر د جابر او عطاء او نخعی نه د ښکاری سپی د بیع جواز نقل کړے د ے نهٔ د بل سپی. او د امام مالك نه په د ے باره کښ څو روایتونه دی. یو خو دا چه د هغه بیع جائز نهٔ ده. لیکن په تلف کونکی ئے د قیمت تاوان شته د ے. دویم دا چه بیع ئے جائز ده و په تلف کونکی باند ے تاوان هم. دریم دا چه بیعه ئے ناجائزه او په تلف کولو والا باند ے تاوان هم نشته د ے. د جمهورو دلیل دا حدیث د ے او کوم چه دد ے نه پس راځی او کوم چه هغه حدیث د ے چه منع کړے ده حضرت ﷺ د سپی د قیمت نه مګر د ښکاری سپی د قیمت نه. او حضرت عثمان د یو سړی نه د سپی په تاوان کښ شل اوښان غوښتلی وو. او د عمرو بن العاص خوئ د سپے په وژلو کښ د هغے تاوان ورکړے وو. نو دا ټول روایتونه ضعیف دی په اتفاق د حدیث د امامانو او ماد ے لره په تفصیل سره ه شرح مهذب کښ بیان کړی دی. (نووی) او کوم څهٔ چه هغه د زنا په اجرت کښ اخلی هغه حرام دی په اجماع د اهل اسلام.

فائده: او د نجومی د متهایئ نه کوم چه د غیبو په خبرو ښودلو باند ے هغهٔ ته مزدوری میلاویږی او داخل دی په د ے کښ پنډت، او رمال او جفار کوم چه د غیبو خبر ے ښائی د هغوی ګټه ټوله حرامه ده. نووی وئیلی دی چه بغوی او قاضی عیاض وئیلی دی چه اتفاق کړے د ے اهل اسلام : کاهن د مزدورئ حرامیدو باند ے. ولے چه هغه عوض د ے د حرام کار او خوړل دی د خلقو مال لره په

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ شَرُّ الْكَسْبِ مَهْرُ الْبَغِيِّ وَثَمَنُ الْكَلْبِ وَكَسْبُ الْحَجَّامِ

د رافع بن خدیج نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو. بده ګټه ده د رنډۍ فاحشے ګټه او د سپی قیمت او د ښکر لګولو والامزدوری[1].

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَمَنُ الْكَلْبِ خَبِيثٌ وَمَهْرُ الْبَغِيِّ خَبِيثٌ وَكَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيثٌ

رافع بن خدیج د رسول الله ﷺ نه روایت کړے دے چه حضرت اوفرمائیل د سپی قیمت خبیث دے او د ښکر لګولو والا ګټه خبیثه ده.

عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ سَأَلْتُ جَابِرًا عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ قَالَ زَجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ

د ابوالزبیر نه روایت دے وائی چه ما د جابر نه د سپی او د پیشو د قیمت په باره کښ تپوس اوکړو. هغوی اووے منع کړے ده رسول الله ﷺ دد ے نه[1].

دهوکه او د روغو سره دغه شان اجرت د سندر غاړے او په مړی باندے د نوحه کونکے ښځے. او دا چه کوم په صحیح مسلم کښ راغلی دی چه د وینځو د ګټے نه حضرت ﷺ منع فرمائیلے ده دے نه مراد هغه ګټه ده چه هغه په زنا سره شوے وی نۀ هغه ګټه چه هغه په ګنډلو یا کټ کولو سره وی خطابی وئیلی دی د عراف ګټه هم حرامه ده. او په نجومی او عراف کښ دا فرق دے. چه نجومی د راتلونکی وخت خبرے بنائی او د اسرار د معرفت دعوه کوی او عراف د غلا شوی مال او د ورك شوی څیز پته بنائی دا خطابی د ابوداؤد په کتاب البیوع کښ لیکلی دی. او په آخر د کتاب کښ ئے دا لیکلی دی چه کاهن هغه څوك دے چه هغه د غیب دانئ دعوه کوی. او خلقو ته د راتلونکی ژوند خبرے بنائی او په عربو کښ څۀ خلق کاهن وو چه هغوی به دعوه کوله د ډیرو خبرو نه د واقف کیدلو. څنو به د هغوی نه دا وئیل چه د هغوی سره د جناتو نه یو ملګرے دے یا یو جن د هغوی تابع دے چه هغه ورله خبرونه راوړی. څنو به دا وئیل چه د هغوی سره داسے پوهه ده چه په هغے سره دوی مخے ته راتلونکے خبرے پیژنی. او بعضو ته د هغوی نه به ئے عراف وئیلو دا هغه خلق وو چه د اسبابو په لیدلو سره به ئے د مقدماتو نه مطلب وېستلو مثلاً څۀ څیز به ورك یا غلا شو نو ګمان والا به ئے اوئیلو او څنو به منجم ته کاهن وئیلو او په دے حدیث کښ دغه ټول خلق شامل دی او په دے حدیث سره د دغه خلقو خبره منل او په هغے باندے یقین کول منع دی. لیکن طبیب ته به ئے هم کاهن یا عراف وئیلو خو هغه په دے نهی کښ داخل نۀ دی. ختم شو کلام د خطابی. امام ابو الحسن ماوردی د خپل کتاب احکام سلطانیه په آخر کښ لیکلی دی چه محتسب لره منع کول پکار دی د داسے خلقو د ګټے نه لکه نجومی یا بل یو بازیګر والا. سزا ورکول پکار دی ورکونکی ته او اخستونکی ته والله اعلم. انتهی.

[1] نووی وئیلی دی په دے حدیث کښ دلیل دے د هغه سړی چه هغه د ښکر لګولو قیمت حرام ګڼړی. او په دے کښ د عالمانو اختلاف دے اکثر د سلفو او خلفو په نز دا مزدوری حرام نۀ ده. او دغه مشهور مذهب دے د امام احمد. او په یو روایت کښ د هغوی نه دادی چه دا حرام دی آزاد لره نۀ غلام کړے دے بخاری او مسلم چه حضرت ﷺ ښکر لګولے دے او مزدوری ئے ورکړے ده ښکر لګولو والا ته. او دا حدیث محمول دے په تنزیه باندے او د هغے مطلب دا دے چه د ښکر لګولو کسب یو ذلیل کسب دے حتی المقدور بل کسب لره اختیارول غوره دی.

بَاب الْأَمْرِ بِقَتْلِ الْكِلَابِ وَ بَيَانِ نَسْخِهِ وَ بَيَانِ تَحْرِيمِ اقْتِنَائِهَا إِلَّا لِصَيْدٍ أَوْ زَرْعٍ أَوْ مَاشِيَةٍ وَنَحْوِ ذٰلِكَ

باب: د سپو د وژلو حکم بیا د هغې منسوخ کیدل او د دے امر بیان چه د سپی ساتل حرام دی مګر د ښکار یا د فصل یا د خاروو د حفاظت دپاره یا د دغسې بل کار دپاره

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ

د عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ حکم کړے د سپو د وژلو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ فَأَرْسَلَ فِي أَقْطَارِ الْمَدِينَةِ أَنْ تُقْتَلَ

د عبد الله بن عمر روایت دے چه رسول الله ﷺ حکم کړے دے د سپو د وژلو بیا اولیږل حضرت خلقو لره د مدینې په هر طرف د سپو د وژلو دپاره.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِقَتْلِ الْكِلَابِ فَنَنْبَعِثُ فِي الْمَدِينَةِ وَأَطْرَافِهَا فَلَا نَدَعُ كَلْبًا إِلَّا قَتَلْنَاهُ حَتَّى إِنَّا لَنَقْتُلُ كَلْبَ الْمُرَيَّةِ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ يَتْبَعُهَا

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه رسول الله حکم فرمائیلے وو د سپو د قتل نو وروسته شو مونږ د مدینې په ښهر کښې او د هغې خلور طرفته. بیا یو سپے هم مونږ داسے پریخودے نه وو چه هغه مونږ مړ کړے نه وو. تردے پورے چه د پیو والا اوښو سره چه به کوم سپی او سیدل په بانډو کښې هغه مو هم اووژل[٢].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ حکم اوکړو د سپو

---

[١]: نووی ونیلی دی دپیشو د قیمت نه ئے په دے وجه منع فرمائیلی ده چه هغه بے کاره ده یا دا نهی تنزیهی ده د دےدپاره چه خلق دد ے بچی خلقو له مفت ورکوی په دے باندے هم کچرے دد ے نه منفعت وی او څوک ئے خرڅه کړی نو بیعه ئے صحیح ده. او زر ثمن حلال دے. دا زمونږه مذهب او د اکثرو عالمانو مذهب دے. مګر ابن منذر د ابوهریره او طاوس او مجاهد او جابر بن زید نه نقل کړی دی چه دد ے بیعه جائز نه ده. او حجت د هغوی دا حدیث دے.

[٢]: نووی ونیلی دی عالمانو اتفاق کړے دے چه چیچولو والا سپے وژل پکار دی. لیکن اختلاف ئے کړے دے د هغه سپی په وژلو کښې چه د هغې نه څهٔ نقصان نهٔ وی. نو زمونږ د ملګرو نه امام الحرمین دا ونیلی دی چه رسول الله ﷺ اول د ټولو سپو د وژلو حکم کړے وو بیا هغه حکم منسوخ شو او حضرت ﷺ منع اوفرمائیله د سپو د قتل نه مګر هغه سپے چه هغه تک تور وی. بیا دا قاعده مقرر شوه چه د هر سپی قتل منع دے خواه که هغه تور وی یا د بل یو رنګ وی کوم چه نقصان نهٔ ورکوی . او قاضی عیاض ونیلی دی چه ډیرو علماؤ د دغه حدیثونه تمسک کړے دے کوم چه د سپو د قتل په باره کښې راغلی دی. لیکن مستثنی کړی ئے دی دد ے نه ښکاری سپو لره او دغه مذهب دے د امام مالك او د هغهٔ د ملګرو. انتهی مختصراً

وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ كَلْبَ غَنَمٍ أَوْ مَاشِيَةٍ فَقِيلَ لِابْنِ عُمَرَ إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ أَوْ كَلْبَ زَرْعٍ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ إِنَّ لِأَبِي هُرَيْرَةَ زَرْعًا

د وژلو. مګر د ښكارۍ سپي يا د ګډو چيلو د رمې د سپي يا د نورو څناورو د حفاظت د سپي. خلقو عبد الله بن عمر ته اووے چه ابوهريره د فصل سپي لره هم مستثنٰى كړي دي. عبد الله بن عمر اووے. بيشكه د ابوهريره فصل هم شته[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ حَتَّى إِنَّ الْمَرْأَةَ تَقْدَمُ مِنَ الْبَادِيَةِ بِكَلْبِهَا فَنَقْتُلُهُ ثُمَّ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِهَا وَقَالَ عَلَيْكُمْ بِالْأَسْوَدِ الْبَهِيمِ ذِي النُّقْطَتَيْنِ فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے وائي چه جناب رسول الله ﷺ مونږ ته حكم كړے دے د سپو د وژلو تر دے پورے چه ښځه به د جنګل نه راتله او خپل سپے به ورسره وو نو مونږ هغه هم وژلو. بيا حضرت منع اوكړه د سپو د قتل نه او اوئے فرمائيل چه وژنئ يو شان تور سپي لره چه د هغۀ په سترګه باندے دوه سپين ټاكي وي هغه شيطان وي[2].

عَنِ ابْنِ الْمُغَفَّلِ قَالَ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ ثُمَّ قَالَ مَا بَالُهُمْ وَبَالُ الْكِلَابِ ثُمَّ رَخَّصَ فِي كَلْبِ الصَّيْدِ وَكَلْبِ الْغَنَمِ

د ابن مغفل نه روايت دے حكم كړے دے رسول الله ﷺ د سپو د وژلو. بيائے اوفرمائيل سپي څۀ ورانوي د هغوي. بيائے اجازت وركړو د ښكارۍ سپي او د رمے د سپي د ساتلو.

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ ابْنُ حَاتِمٍ فِي حَدِيثِهِ

د شعبه نه په دغه اسناد سره كوم چه پورته تير شو دا روايت دے. په

---

[1] امام نووي وئيلي دي دا دے حديث نه د ابوهريره تحقير منظور نۀ دے. او نۀ د هغوي په روايت كښې څۀ شك وو. بلكه دا دے مطلب دا دے چه د ابوهريره سره چونكه پټے وو او هغوي ته د هغے د حفاظت دپاره د سپي ساتل ضروري وو. څكه هغوي د رسول الله ﷺ نه دا لفظ ياد كړے وو او ما ته ياد نۀ وو. او حاصل دا دے چه د پټي لفظ څۀ يواځے د ابوهريره نه نقل نۀ دے بلكه د صحابو يو جماعت نقل كړے دے. او كچرے يواځے ابوهريره نقل كړے وے بيا به هم د هغوي روايت مقبول او كافي وو څكه چه صحابهؓ ټول ثقه دي. او د سپو په ساتنه كښې زمونږ مذهب دا دے چه بغير د ضرورت نه سپے ساتل حرام دي. او د ښكار يا د پټي يا د ګډو بزو د رمے د حفاظت دپاره صحيح دي. او د كور د حفاظت دپاره په ساتلو كښې د سپي اختلاف دے. د ټولو نه صحيح قول دا دے چه په دغے باندے د قياس كولو د وجے نه جائز دي (انتهٰى مخلصاً)

[2] يعني شرير وي اكثر دا سپے چيچل كوي تكليف وركوي. او امام احمد او زمونږه څنے ملګرو وئيلي دي چه دا سپے ښكار هم صحيح نۀ دے ولے چه هغه شيطان دے. او د شافعي او مالك او د جمهورو عالمانو په نز د هغۀ ښكار هم صحيح دے او حكم د هغۀ په مثل د نورو سپو دے. (نووي)

عَنْ يحيى ورخص فِي كَلْبِ الْغَنَمِ وَالصَّيْدِ وَالزَّرْعِ

دے کښې دادی چه اجازت ورکړے دے حضرت ﷺ د بزو د سپی او د ښکاری سپی او د فصل د سپی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْ ضَارِي نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چا چه یو سپے اوساتلو سوا د هغه سپی نه کوم چه د څناورو د حفاظت دپاره وی یا ښکاری وی نو د هغهٔ ثواب هره ورځ ددوه قیراطو برابر کمولے شی[1].

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ مَاشِيَةٍ نَقَصَ مِنْ أَجْرِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی کوم بنده چه سپے اوساتی په شرط د دے چه هغه سپے ښکاری یا د څناورو د حفاظت دپاره نهٔ وی نو د هغهٔ د ثواب نه هره ورځ دوه قیراطه ثواب کمیږی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ ضَارِيَةٍ أَوْ مَاشِيَةٍ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه سپے اوساتی سوا د ښکاری سپی یا د کنډك د سپی نه. نو د هغهٔ د عمل نه هره ورځ دوه قیراطه کمیږی.

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْ كَلْبَ صَيْدٍ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ قَالَ عَبْدُ اللهِ وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَوْ كَلْبَ حَرْثٍ

د سالم بن عبد الله روایت دے هغوی اوریدلی دی د خپل پلار عبد الله بن عمر چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه د څناورو د حفاظت او ښکاری سپی نه علاوه سپے اوساتی نو د هغهٔ د عمل نه هره ورځ یو قیراط کمیږی. عبد الله وائی ابوهریره ورسره د فصل دپاره سپے زیات کړے دے.

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ ضَارٍ أَوْ مَاشِيَةٍ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ

سالم روایت کړے دے د خپل پلار عبد الله بن عمر نه هغوی د جناب رسول الله ﷺ نه چه هغوی اوفرمائیل څوك چه د ښکار یا د څناورو د حفاظت نه علاوه سپے اوساتی نو د هغهٔ د عمل نه هره ورځ دوه قیراطه

---

[1] یو قیراط د پنځهٔ وریشو وی. اوس عالمانو اختلاف کړے دے چه دا نقصان به د تیرو شوو عملونو د ثواب نه وی او کهٔ د راتلونکو عملونو او یو قیراط به د شپے د عملونو نه کټ کیږی او کهٔ د ورځے یا د یو فرضو نه کهٔ د یو نفلونه. او د هغے وجه داده چه په سپی ساتلو سره د فرښتو په راتلو کښې حرج راځی یا راتلونکو او تلونکو والاته د هغهٔ د خپلو نه تکلیف وی. یا د سپی ساتلو والاد کپړو او لوښو د پلیتیدو د وجے نه. نووی

قِيرَاطَانِ قَالَ سَالِمٌ وَكَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يَقُولُ أَوْكَلْبَ حَرْثٍ وَكَانَ صَاحِبَ حَرْثٍ

کمیږي. سالم وائي ابوهریره به وئیل چه یا د فصل د حفاظت دپاره نه وي او د هغهٔ پټي هم وو (دده وجې نه دا لفظ د هغوي یاد وو)

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا أَهْلِ دَارٍ اتَّخَذُوا كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْ كَلْبَ صَائِدٍ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِمْ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ

سالم بن عبد الله د خپل پلار نه روایت کړےدے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي کوم د کور خاوند چه سپے اوساتهٔ علاوه د څناورو د حفاظت یا د ښکارې نه. د هغهٔ د عمل نه هره ورځ دوه قیراطه کمیږي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اتَّخَذَ كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ زَرْعٍ أَوْ غَنَمٍ أَوْ صَيْدٍ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي څوک چه سپے ساتي مګر هغه د فصل یا د بزو یا د ښکار سپے نهٔ وي. نو د هغهٔ د ثواب نه هره ورځ د یو قیراط برابر ثواب کمیږي[1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا لَيْسَ بِكَلْبِ صَيْدٍ وَلَا مَاشِيَةٍ وَلَا أَرْضٍ فَإِنَّهُ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ قِيرَاطَانِ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ أَبِي الطَّاهِرِ وَلَا أَرْضٍ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي څوک چه سپے اوساتي او هغه د ښکار دپاره نهٔ وي نه د زمکے (یعني پټي دپاره) وي.نو د هغهٔ د ثواب نه هره ورځ دوه قیراطه نقصان کیږي. او د ابوالطاهر په روایت کښې د وَلَا أَرْضٍ لفظ نشته.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اتَّخَذَ كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْ صَيْدٍ أَوْ زَرْعٍ انْتَقَصَ مِنْ أَجْرِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَذُكِرَ لِابْنِ عُمَرَ قَوْلُ أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ يَرْحَمُ اللهُ أَبَا هُرَيْرَةَ كَانَ صَاحِبَ زَرْعٍ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے وائي چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلي دي څوک چه سپے اوساتي مګر سپے د رمے یا د ښکار یا د پټي دپاره (ددے نه علاوه چه ئے ساتي) نو د هغهٔ په ثواب کښې هره ورځ د یو قیراط ثواب کمیږي. زهري وئیلي دي ابن عمر نه ذکر اوشو د ابوهریره د قول چه هغه د پټي سپي لره هم مستثنی کوي نو هغوی اووے رحم د اوکړي الله په ابوهریره باندے هغوی پټي والا وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د حضرت ابوهریره نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي

[1] نووي وئیلي دي د چا په روایت کښې یو قیراط دے د چا په روایت کښې دوه قیراطه دي. کیدے شي مطلب دا وي چه کهٔ په مدینه کښې ئے اوساتي نو دوه قیراطه نقصان به ئے وي ولے چه مدینه منوره متبرکه ده او غوره والے لري او په نورو ښهرونو فضیلت لري. پس هلته بے ضرورته سپے ساتل زیات ګناه ده او کهٔ د مدینے نه بهر اوساتلے شي نو یو قیراط ثواب به ئے کمیږي. او څنو وئیلي دي چه دا اختلاف د سپو په قسمونو باندے کوم سپے چه زیات ضرر رسونکے وي په دے کښې به ئے دوه قیراطه نقصان وي ګني یو قیراط به وي.

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَمْسَكَ كَلْبًا فَإِنَّهُ يَنْقُصُ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ إِلَّا كَلْبَ حَرْثٍ أَوْ مَاشِيَةٍ

دی څوك چه سپے اوساتی د هغهٔ د عمل نه هره ورځ يو قيراط ثواب كمولے شی. مگر د پټی د سپی يا د ګډو د رمے (د حفاظت دپاره صحيح دی).

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اتَّخَذَ كَلْبًا لَيْسَ بِكَلْبِ صَيْدٍ وَلَا غَنَمٍ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ

د ابوهريره نه روايت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی څوك چه د ښكار نۀ يا د بزو د حفاظت نه علاوه سپے ساتی نو د هغهٔ د عمل نه هره ورځ د يو قيراط نقصان كيږی.

عَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَبِي زُهَيْرٍ وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ شَنُوءَةَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ اقْتَنَى كَلْبًا لَا يُغْنِي عَنْهُ زَرْعًا وَلَا ضَرْعًا نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ قَالَ آنْتَ سَمِعْتَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِي وَرَبِّ هَذَا الْمَسْجِدِ

د سفيان بن ابی زهير نه روايت دے او هغه يو سړےوو د شنوه قبيلے نه او صحابی وو د رسول اللهﷺ هغوی وائی ما د جناب رسول اللهﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو څوك چه سپےاوساتی او هغه په كار نۀ راځی د هغهٔ د پټی د فصل يا د غلانځی (يعنی د څناورو د حفاظت دپاره) نو د هغهٔ د عمل نه هره ورځ د يو قيراط كمے كيږی. ثائب بن يزيد تپوس اوكړو چه تا دا حديث د رسول اللهﷺ نه اوريدلے دے. هغوی اووے آو. قسم دے ددے جُماعت په رب باندے.

بَابُ حِلِّ أُجْرَةِ الْحِجَامَةِ

باب : د ښكر د لګولو مزدوری حلاله ده

عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ كَسْبِ الْحَجَّامِ فَقَالَ احْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَمَهُ أَبُو طَيْبَةَ فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعَيْنِ مِنْ طَعَامٍ وَكَلَّمَ أَهْلَهُ فَوَضَعُوا عَنْهُ مِنْ خَرَاجِهِ وَقَالَ إِنَّ أَفْضَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الْحِجَامَةُ أَوْ هُوَ مِنْ أَمْثَلِ دَوَائِكُمْ

د حميد نه روايت دے وائی چه د انس نه خلقو تپوس اوكړو د ښكر لګولو والا د ګټے په باره كښ. هغوی اووے رسول اللهﷺ ښكر اولګوو د ابوطيبه په لاس سره بيا حكم اوكړو حضرتﷺ هغهٔ له د دوه اوګی غلےوركولو هغوی بيان كړو دا خپلو خلقو ته نو هغوی كم كړو د هغوی محصول لره (يعنی هغه خراج لره كوم چه ئےد هغوی نه اخستلو) او اوئےفرمائيل غوره د دوايانو نه چه په هغےسره تاسو علاج كوئ ښكر لګول دی.

عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسٌ عَنْ كَسْبِ

د حميد نه روايت دے د انسؓ نه تپوس اوكړے شو چه د حجام ګټه

الْحَجَّامِ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ أَفْضَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الْحِجَامَةُ وَالْقُسْطُ الْبَحْرِيُّ وَلَا تُعَذِّبُوا صِبْيَانَكُمْ بِالْغَمْزِ

خنګه ده؟ بیائے بیان کړو حدیث لره په دے شان لکه چه پورته تیر شو په دے کښې دا دی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی غوره په هغه څیزونو کښې چه په هغے سره تاسو دوائی کوئ حجامت دے (یعنی ښکر لګول) او ضرر مه رسوئ خپلو بچو ته په حلق دباوولو سره[1].

عَنْ أَنَسٍ يَقُولُ دَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا لَنَا حَجَّامًا فَحَجَمَهُ فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعٍ أَوْ مُدٍّ أَوْ مُدَّيْنِ وَكَلَّمَ فِيهِ فَخُفِّفَ عَنْ ضَرِيبَتِهِ

د حمید نه روایت دے ما د انس نه اوریدلی دی چه هغه وئیل چه رسول الله ﷺ زمونږ یو غلام راوغوښتو او هغه حجام وو (یعنی ښکر به ئے لګولو) بیا هغوی په حضرت ﷺ ښکر اولګوؤ او حضرت ﷺ حکم اوکړو هغوی ته د یو اوګی یا یو مُد یا ددوه مده غلے ورکولو. او خبرے اترے اوشولے په دے باب کښې نو کم کړے شو محصول.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ وَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ وَاسْتَعَطَ

د حضرت ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ښکر اولګوو او حجام له ئے د هغے مزدوری ورکړه. او په پوزه مبارکه کښې ئے دوائی واچوله.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ حَجَمَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدٌ لِبَنِي بَيَاضَةَ فَأَعْطَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْرَهُ وَكَلَّمَ سَيِّدَهُ فَخَفَّفَ عَنْهُ مِنْ ضَرِيبَتِهِ وَلَوْ كَانَ سُحْتًا لَمْ يُعْطِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ته ښکر اولګوو د نبی بیاضه (دا په انصارو کښې یوه قبیله ده) یو غلام بیا حضرت ﷺ هغهٔ له مزدوری ورکړه. هغوی خپل مالك ته د دے ذکر اوکړو نو هغوی د هغهٔ محصول کم کړو (کوم چه هره ورځ ددهٔ نه مقرر وو دے ته مخارجه وائی او دا جائز دی) او کچرے د ښکر لګولو مزدوری حرامه وے نو حضرت ﷺ به هیڅ کله هٔ ته نهٔ وو ورکړے.

بَابُ تَحْرِيمِ بَيْعِ الْخَمْرِ

باب: شراب خرڅول حرام دی

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ بِالْمَدِينَةِ

د حضرت ابوسعید خدری نه روایت دے چه ما واوریدل د رسول الله ﷺ نه چه په خطبه کښې ئے اوفرمائیل په مدینه منوره کښې چه اے

---

[1]: کومے ته چه عود هندی ونیلے شی ګرم او اوچ دی معده او زړهٔ او د ماغو لره فائده ورکوی او د یخنئ په بیمارو کښې زیات فائده مند دے. غدره یعنی د حلق د درد په بیماریٔ کښې بلکه عود هندی لګول کافی دی یا خوړل.

قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُعَرِّضُ بِالْخَمْرِ وَلَعَلَّ اللهَ سَيُنْزِلُ فِيهَا أَمْرًا فَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ مِنْهَا شَيْءٌ فَلْيَبِعْهُ وَلْيَنْتَفِعْ بِهِ قَالَ فَمَا لَبِثْنَا إِلاَّ يَسِيرًا حَتَّى قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى حَرَّمَ الْخَمْرَ فَمَنْ أَدْرَكَتْهُ هٰذِهِ الآيَةُ وَعِنْدَهُ مِنْهَا شَيْءٌ فَلاَ يَشْرَبْ وَلاَ يَبِعْ قَالَ فَاسْتَقْبَلَ النَّاسُ بِمَا كَانَ عِنْدَهُ مِنْهَا فِي طَرِيقِ الْمَدِينَةِ فَسَفَكُوهَا

خلقو! الله تعالى اشاره كوي د شرابو د حرام والي او كيدے شي څۀ حكم دد ے په باره كښې نازل شي. پس د چا سره چه شراب وي هغه د ئے خرخ كړي او د هغے د قيمت نه د فائده اوچته كړي. ابوسعيد وائي څو ورځے پس جناب رسول الله ﷺ اوفرمائيل الله تعالى حرام كړل شرابو لره اوس چه د چا سره شراب وي او هغوى ته دد ے حرمت ايت اورسي. نو هغه دِ نۀ څښي او نۀ دِ ئے خرڅوي. ابوسعيد وائي بيا چه د كومو خلقو سره شراب وو هغوى هغے لره د مدينے لار ے ته راوړل او توئ ئے كړل[1]

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ وَعْلَةَ السَّبَإِيِّ مِنْ

د عبد الرّحمٰن بن وعله سبائى نه روايت د ے چه د مصر

---

[1]: هر كله چه جناب رسول الله مدينے ته تشريف راوړو ددغه وخته پور ے شراب حرام نۀ وو خلقو به څښل. څنے خلقو د حضرت ﷺ نه تپوس اوكړو نو دا ايت نازل شو "يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ" د آخره پور ے. په د ے ايت كښې ئے دا اوفرمائيل چه په شرابو كښې اگرچه فائده ده مگر ضرر ئے زيات د ے په د ے سره خلقو شراب څښل پريښود ل نو بل يو سخت ايت نازل شو "لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَأَنْتُمْ سُكٰرٰى" د آخره پور ے. په د ے ايت مباركه كښې ئے د نشے په حالت كښې د مونځ كولو نه منع فرمائيلے ده مگر صفا ئے شراب څښل نۀ دي حرام كړي. ليكن جناب رسول الله ﷺ ته چه دا معلومه شوه چه اوس آينده كښې د الله اراده چه شراب بالكل حرام كړي نو هله حضرت ﷺ دا حديث اوفرمائيۀ

نووي وئيلي دي دد ے حديث نه دا معلومه شوه چه د كومے پور ے د يو څيز په باره كښې څۀ حكم نۀ وي نازل شو ے د هغے پور ے د هيڅ شان تكليف نشته . او په د ے مسئله كښې خلاف د ے د اصولو د عالمانو كوم چه مشهور د ے. صحيح دا د ے چه د شرع راتلو نه مخكښې نۀ حكم د ے نۀ تكليف ولے چه الله تعالى فرمائيلي دي "وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا" دويم قول دا د ے چه په اصل اشياء كي حرمت د ے د كومے پور ے چه شرع وارد نۀ وي. دريم قول دا د ے چه په اصل اشياء كښې اباحت د ے. څلورم قول دا د ے چه توقف كول پكار دي (انتهٰى) بيا نووي وئيلي دي چه شراب خرڅول بالاجماع حرام دي او علت د هغے د امام شافعي په نز دا د ے چه شراب نجس دي. او هيڅ يو مباح منفعت دد ے نه نۀ شي حاصليد ے. نو پشان د نورو پليتو لكه غُل او د كوترو د غُلو دد ے هم بيع حرامه ده. دغه شان د هغه درنده ځناورو چه د هغے څۀ فائده نشته. نۀ هغه د ښكار په كار راځي لكه نولے مار وغيره چه ددوي بيع هم ناجائزه ده. او دا چه كوم په بل حديث كښې راغلي دي چه الله تعالى هر كله چه په يو قوم باند ے د يو څيز خوړل حرام كړي نو د هغے قيمت هم حرام كړي. مراد دد ے نه هغه څيزونه دي چه هغه د خوراك د پاره وي په خلاف د هغه څيزونو چه هغه د نور كار د پاره وي. لكه غلام ، خچر، خر ، چه د دوي خوړل حرام دي خو خرڅول ئے حرام نۀ دي. او دد ے حديث نه دا هم معلومه شوه چه د شرابو سركه خوړل صحيح نۀ دي. او كچر ے صحيح و ے نو حضرت ﷺ به حكم فرمائيلے وو بلكه منع به ئے نۀ كوله د ضائع كولو نه لكه مخكښې د حرمت نه چه حضرت ﷺ حكم فرمائيلے وو د هغے د خرڅولو. او لكه څنگه چه ئے د مړے بزے مالكانو ته فرمائيلي وو چه تاسو د هغے مړے بزے د څرمنے نه فائده ولے اوچته نۀ كړه . دغه قول د ے د شافعي او احمد او ثوري او د مالك په صحيح تر روايت كښې او جائز كړي دي د ے لره اوزاعي او ليث او ابوحنيفه او مالك په يو روايت كښې.

أَهْلِ مِصْرَ أَنَّهُ سَأَلَ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ عَمَّا يُعْصَرُ مِنَ الْعِنَبِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّ رَجُلًا أَهْدَى لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاوِيَةَ خَمْرٍ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ عَلِمْتَ أَنَّ اللهَ قَدْ حَرَّمَهَا قَالَ لَا فَسَارَّ إِنْسَانًا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَ سَارَرْتَهُ فَقَالَ أَمَرْتُهُ بِبَيْعِهَا فَقَالَ إِنَّ الَّذِي حَرَّمَ شُرْبَهَا حَرَّمَ بَيْعَهَا قَالَ فَفَتَحَ الْمَزَادَةَ حَتَّى ذَهَبَ مَا فِيهَا

اوسیدونکے وو. هغوی تپوس اوکړو د عبد الله بن عباس ؓ نه د انګورو د شیرے په باره کښې. ابن عباس اووے یو سړی د رسول الله ﷺ دپاره د شرابو یو مشك په تحفه کښې راوړو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ته نه ئے خبر چه الله تعالی حرام کړی دی دے لره. بیا هغوی د بل یو کس سره په غوږ کښې خبره اوکړه حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو څۀ خبره اوکړه ؟ هغوی اووے ما اووے چه خرڅ کړه دے لره. حضرت ﷺ اوفرمائیل چا چه د دے څښل حرام کړی دی هغۀ د دے خرڅول هم حرام کړی دی .د دے په اوریدو سره هغه سړی د مشك خُلۀ کهولاؤ کړه او څۀ چه په هغے کښې وو تول اوبهیدل.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا نَزَلَتِ الْآيَاتُ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَاقْتَرَأَهُنَّ عَلَى النَّاسِ ثُمَّ نَهَى عَنِ التِّجَارَةِ فِي الْخَمْرِ

د مومنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے هر کله چه د سورة بقره آخری ایتونه نازل شو نو رسول الله ﷺ رااووتۀ او هغه ایتونه ئے خلقو ته واورول او منع ئے کړل هغوی لره د شرابو د سودا ګیرئ نه[1].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا أُنْزِلَتِ الْآيَاتُ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي الرِّبَا قَالَتْ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِلَى الْمَسْجِدِ فَحَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الْخَمْرِ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے هر کله چه د سورة بقره اخری ایتونه نازل شو د سود په باره کښې نو رسول الله ﷺ د جُماعت په طرف رااووتو او حرام ئے کړه د شرابو سوداګیرئ لره.

بَابُ تَحْرِيمِ بَيْعِ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيرِ وَالْأَصْنَامِ

باب : د شرابو او د مردارے او خنزير او د بتانو خرڅول حرام دی

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے هغوی اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه په کوم کال چه مکه فتح شوه نو حضرت ﷺ اوفرمائیل په مکه

[1] قاضی عیاض ونیلی دی د شرابو حرمت خو په سورة المائده کښې دے او هغه د سود د ایت نه ډیر مخکښې نازل دے ولے چه د سود ایت د تولو نه په آخر کښې نازل شوے دے نو احتمال دے چه دا ممانعت د تحریم نه پس وی یا د شرابو د حرام والی په وخت حضرت ﷺ تجارت د شرابو هم حرام کړے وی. بیائے په دویم خل بیان کړو د دے دپاره چه ښه مشهور شی. او کیدے شی چه دغه مجلس کښې داسے خلق وو چه هغوی ته د شرابو د تجارت د حرام والی خبر نه وو شوے.

بِمَكَّةَ إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيرِ وَالْأَصْنَامِ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ فَإِنَّهُ يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ فَقَالَ لَا هُوَ حَرَامٌ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عِنْدَ ذَلِكَ قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمَّا حَرَّمَ عَلَيْهِمْ شُحُومَهَا أَجْمَلُوهُ ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ

کښې چه الله تعالی او د هغهٔ رسول حرام کړې دی شراب او خنزیر او د بتانو بیع لره. خلقو عرض اوکړو چه یا رسول الله! د مردارے چربۍ خو په کشتو کښې لګولې شي. او د څرمنے سره شریکه وی او خلق د هغے نه رڼړا کوی. حضرت ﷺ اوفرمائیل الله تعالی د تباه کړی یهودو لره هر کله چه الله تعالی په هغوی باندے چربۍ حرامه کړه (یعنی خوړل د هغے) نو هغوی هغے لره ویلی کړه بیائے خرڅه کړه او د هغے قیمتئے اوخوړو.[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَلَغَ عُمَرَ أَنَّ سَمُرَةَ بَاعَ خَمْرًا فَقَالَ قَاتَلَ اللَّهُ سَمُرَةَ أَلَمْ يَعْلَمْ

د حضرت ابن عباس نه روایت دے چه حضرت عمر ته خبر اورسیدو چه سمره شراب خرڅ کړل. هغوی اووے الله د اووژنی

[1]: نووی وئیلی دی دا چه کوم حضرت ﷺ اوفرمائیل چه (نه هغه حرام دی) دد ے مطلب دادے چه دد ے دا خیال په هیڅ حال کښې صحیح نهٔ دے. ولے چه د هغے بیعه حرامه ده نهٔ دا چه د چربۍ نه ئے نفع اوچتول حرام دی. او د شافعی او د هغه د ملګرو مذهب ددغه دے د مردارے د چربۍ نه نفع اخستل جائز دی لکه په کشتو کښې لګول یا په ډیوه کښې رڼړا کول وغیره. کوم چه په خوراك کښې داخل نهٔ دی او نهٔ د بنیادم د بدن سره لګی. او دغه قول دے د عطاء بن رباح او د محمد بن جریر طبری. او د جمهور علماؤ په نز دد ے نه یو منفعت اخستل صحیح نهٔ دی ولے چه د مردارے نه د نفع اخستلو ممانعت مطلق دے مګر هغه چه خاص کړے شوی دی لکه د باغت کړے شوے څرمن. او که چرے تیل یا غوړی پلیت شی نو دهغے نه په رڼړا کولو کښې یا په بل څهٔ استعمال کښې سوا د خوړلو یا په بدن کښې د لګولو نه لکه په صابون جوړولو یا د ځناورو په خوړلو کښې د سلفو اختلاف دے. لیکن په صحیح مذهب (دا د لامذهب رائے ده مذاهب د تواتر د امت سره منقول زاروان دی) کښې هغه جائز دی او قاضی عیاض دے لره نقل کړی دی د امام مالك او ډیرو صحابؤ نه او شافعی او ثوری او ابوحنیفه او د هغوی د ملګرو او لیث بن سعد نه. او وئیلی دی چه دغه شان منقول دی د حضرت علی او ابن عمر او ابو موسیٰ او قاسم بن محمد او سالم بن عبد الله بن عمر نه. او د هغوی ملګرو او لیث وغیره هم د پلیتو تیلو خرڅول هر کله چه د هغے پلیتی بیان کړی جائز کړی دی. او د عبد الملك بن ماجشون او احمد بن حنبل او احمد بن صالح په نز په دوی کښې د یو څیز نه نفع اوچتول صحیح نهٔ دی. والله اعلم. عالمانو وئیلی دی چه د مردارے په بیعه کښې د کافر د لاش بیعه هم داخله ده هر کله چه هغه په جنګ کښې اوژلے شی او کافران هغے لره اخستل غواړی او په حدیث کښې راغلی دی چه نوفل بن عبد الله لره مسلمانونو په جنګ خندق کښې وژلے وو. بیا کافرو د هغهٔ د لاش د پاره لس زره درهمه رسول الله ﷺ ته وړاندے کړل لیکن حضرت ﷺ وانهٔ خستل او لاش ئے هغوی ته حواله کړو. نو علت ددغه څیزونو د بیع نه د منع کیدو پلیتوالے دے. بیا د هر ناپاکه څیز بیعه ناجائزه ده. او د بت د خرڅولو نه ممانعت څکه دے چه دد ے نه څهٔ منفعت نشته دے. بیا کچرے د هغے د ماتو تکړو نه څهٔ منفعت کیږی نو د هغے په بیعه کښې اختلاف دے. د بعضو په نز په وجه د نهی د اطلاق منع دے. او د بعضو په نز د منفعت په صورت کښې جائز دے هر کله چه څهٔ منفعت نهٔ وی لیکن د مردارے او شرابو او د خنزیر بیعه خو په اجماع د اهل اسلام حرامه ده. انتهی

أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللهُ الْيَهُوْدَ حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الشُّحُوْمُ فَجَمَلُوْهَا فَبَاعُوْهَا

سمره لره ده ته خبر نشته چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی لعنت کړے دے الله پاك په یهودو باندے چه په هغوی باندے د چربئ خوړل حرام شونو چربئ ئے ویلی کړه او بیائے هغے لره خرخه کړه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَاتَلَ اللهُ الْيَهُوْدَ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمُ الشُّحُوْمَ فَبَاعُوْهَا وَأَكَلُوْا أَثْمَانَهَا

د حضرت ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی د یهود تباه کړی الله تعالی حرام کړل په هغوی باندے وازدے خوړل نو وازدے بهٔ ئے ویلی کولے بیا بهٔ ئے خرڅولے.

بَابُ الرِّبَا

باب : د سُود بیان[1]

عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبِيْعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَلَا تُشِفُّوْا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ وَلَا تَبِيْعُوا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَلَا تُشِفُّوْا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ وَلَا تَبِيْعُوْا مِنْهَا غَائِبًا بِنَاجِزٍ

د ابوسعید الخدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل مهٔ خرڅوئ سرهٔ زر په سروزرو سره مګر برابر برابر او کم زیات مهٔ خرڅوئ او مهٔ خرڅوئ سپین زر په بدله د سپینو زرو مګر برابر برابر او کمے زیاتے مهٔ کوئ او په قرض ئے مهٔ خرڅوئ.

عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ لَهُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي لَيْثٍ إِنَّ أَبَا سَعِيْدٍ الْخُدْرِيَّ يَأْثُرُ هٰذَا عَنْ رَسُوْلِ اللهِ

د نافع نه روایت دے د بنی لیث یو سړی عبد الله بن عمر ته اووے چه ابو سعید دهٔ لره نقل کوی د رسول الله ﷺ نه د قتیبه په روایت

---

[1] نووی وئیلی دی . مسلمانو د ربا یعنی د سود په حرام والی باندے اجماع کړے ده. اګر چه د هغے په جزئیات کښې ئے اختلاف کړے دے. الله تعالی فرمائیلی دی . وَأَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا . یعنی حلاله کړے ده الله پاك بیعے لره او حرام کړے دے سود لره. او حدیثونه په دے باره کښې ډیر او مشهور دی. او رسول الله ﷺ په دغه حدیثو کښې نص کړے دے د سود په حرام والی باندے په شپږو څیزونو کښې سره زر او سپین زر او غنم او وربشو او کهجورو او مالګه کښې. او د اهل ظاهرو دا قول دے چه سوا د دے څیزونو نه په بل یو شی کښې هم سود نشته دے. ولے چه د هغوی په نز قیاس نهٔ شی کیدے. او باقی ټولو عالمانو دا وئیلی دی چه سود د دے شپږو څیزونو سره خاص نهٔ دے بلکه چرته چه د حرمت علت موندے شی هلته به حرام وی. او اختلاف کړے دے هغوی په علت کښې. نو د شافعی په نز علت ثمن او طعم دے. او د مالك په نز ثمن او اذخار دے. او د ابوحنیفه په نز وزن او کیل او د سعید بن المسیب او احمد او د امام شافعی په نز طعم او وزن یا کیل په دے صورت کښې خربوزه یا سفرجل یا په نورو میوو کښې چه هغه په ناپ او تول نه خرڅیږی سود به حرام نهٔ وی. اوس اجماع کړے ده عالمانو چه بیع سودی د بل سودی په بدله هر کله چه علت مختلف وی نو کمے زیاتے په دواړو طریقو صحیح دے. مثلاً بیعه د سروزرو د غنمو په بدله یا د سپینو زرو د وربشو په بدله. او کوم جنس چه یو وی نو کمے او بیشے او قرض دواړه صحیح نهٔ دے. او کله چه جنس مختلف وی لیکن علت یو وی. لکه د سروزرو بیعه د سپینو زرو په بدله یا د غنمو بیعه د وربشو په بدله نو قرض صحیح نهٔ دے لیکن کمے زیاتے صحیح دے. انتهی مختصراً

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رِوَايَةِ قُتَيْبَةَ فَذَهَبَ عَبْدُ اللهِ وَنَافِعٌ مَعَهُ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ رُمْحٍ قَالَ نَافِعٌ فَذَهَبَ عَبْدُ اللهِ وَأَنَا مَعَهُ وَاللَّيْثِيُّ حَتَّى دَخَلَ عَلَى أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ فَقَالَ إِنَّ هٰذَا أَخْبَرَنِي أَنَّكَ تُخْبِرُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ الْوَرِقِ بِالْوَرِقِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَعَنْ بَيْعِ الذَّهَبِ بِالذَّهَبِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ فَأَشَارَ أَبُو سَعِيدٍ بِإِصْبَعَيْهِ إِلَى عَيْنَيْهِ وَأُذُنَيْهِ فَقَالَ أَبْصَرَتْ عَيْنَايَ وَسَمِعَتْ أُذُنَايَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ وَلَا تَبِيعُوا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَلَا تُشِفُّوا بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ وَلَا تَبِيعُوا شَيْئًا غَائِبًا مِنْهُ بِنَاجِزٍ إِلَّا يَدًا بِيَدٍ

كښې دي. دد ے په اوريدو سره عبدالله بن عمر لاړو. او نافع د هغوی سره وو. او د ابن رمح په روايت كښې دي نافع وائي چه عبد الله بن عمر لاړو او زهٔ د هغوی سره وم او د بني ليث هغه سړے هم راسره وو. ترد ے پوری چه د ابوسعيد خدری خواته اورسيدو. عبد الله اووے ما ته د ے سړی اووے چه رسول الله ﷺ منع كړے ده سپين زر د سپينو زرو په بدله د خرڅولو نه مگر برابر برابر او سروزرو لره د سروزرو په بدله د خرڅولو نه مگر برابر برابر. دد ے په اوريدو سره ابوسعيد په خپلو گوتو سره د خپلو سترگو او غوږونو په طرف اشاره اوكړه بيائے اووے څما سترگو ليدلی دی او څما غوږونو اوريدلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائيل مهٔ خرڅوئ سروزرو لره د سروزرو په بدله او نهٔ سپينو زرو لره د سپينو زرو په بدله مگر برابر برابر او كم زيات مهٔ خرڅوئ او قرض ئے مهٔ خرڅوئ مگر لاس په لاس.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ وَلَا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ إِلَّا وَزْنًا بِوَزْنٍ مِثْلًا بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ

د ابوسعيد خدری نه روايت د ے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل مهٔ خرڅوئ سروزرو لره د سروزرو په بدله كښې سپينو زرو لره په بدله د سپينو زرو كښې مگر په وزن باند ے برابر برابر ټهيك ټهيك.

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ لَا تَبِيعُوا الدِّينَارَ بِالدِّينَارَيْنِ وَلَا الدِّرْهَمَ بِالدِّرْهَمَيْنِ

د عثمان بن عفان نه روايت د ے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی مهٔ خرڅوئ يو دينار لره د دوه دينارو په بدله. او نهٔ يو درم لره د دوه درمو په بدله[1].

عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ أَنَّهُ قَالَ أَقْبَلْتُ أَقُولُ مَنْ يَصْطَرِفُ الدَّرَاهِمَ فَقَالَ

د مالك بن اوس بن حدثان نه روايت د ے وائی چه زهٔ راغلم په د ے وئيلو سره چه څوك خرڅوی روپو لره د سروزرو په بدله. نو طلحه بن

---

[1]: ولے چه جنس دغه يو د ے او په داسے حالت كښې كمے اوزياتے حرام د ے. اگر كهٔ يو مال كهره وی او بل كهوټه وی. او كهٔ ضرورت پيښ شی نو سپين زر د سروزرو په بدله كښې خرڅ كړه بيا د سروزرو په بدله هغه سپين زر واخله.

طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ وَهُوَ عِنْدَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَرِنَا ذَهَبَكَ ثُمَّ ائْتِنَا إِذَا جَاءَ خَادِمُنَا نُعْطِكَ وَرِقَكَ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ كَلَّا وَاللهِ لَتُعْطِيَنَّهُ وَرِقَهُ أَوْ لَتَرُدَّنَّ إِلَيْهِ ذَهَبَهُ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْوَرِقُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ

عبید الله (رض) اووے او هغهٔ د حضرت عمر (رض) سره ناست وو او اوئے وئیل چه خپل سرهٔ زر ماته راکړه. بیا لږ ساعت پس راشه هر کله چه خما نوکر راشي نو روپۍ به ستا درکړی حضرت عمر اووے هیڅکله نه. ته د دهٔ روپۍ به دے وخت ورکړه یا ددهٔ سرهٔ زر واپس کړه څکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د سپینو زرو خرڅول د سروزرو په بدل سود دی مګر لاس په لاس او د غنمو خرڅول د غنمو په بدل سود دے مګر لاس په لاس او د وربشو خرڅول د وربشو په بدل سود دے مګر لاس په لاس او د کهجورو خرڅول د کهجورو په بدل سود دے مګر لاس په لاس[1]

عَنْ أَبِي قِلَابَةَ قَالَ كُنْتُ بِالشَّامِ فِي حَلْقَةٍ فِيهَا مُسْلِمُ بْنُ يَسَارٍ فَجَاءَ أَبُو الْأَشْعَثِ قَالَ قَالُوا أَبُو الْأَشْعَثِ أَبُو الْأَشْعَثِ فَجَلَسَ فَقُلْتُ لَهُ حَدِّثْ أَخَانَا حَدِيثَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ نَعَمْ غَزَوْنَا غَزَاةً وَعَلَى النَّاسِ مُعَاوِيَةُ فَغَنِمْنَا غَنَائِمَ كَثِيرَةً فَكَانَ فِيمَا غَنِمْنَا آنِيَةٌ مِنْ فِضَّةٍ فَأَمَرَ مُعَاوِيَةُ رَجُلًا أَنْ يَبِيعَهَا فِي أَعْطِيَاتِ النَّاسِ فَتَسَارَعَ النَّاسُ فِي ذَلِكَ فَبَلَغَ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ فَقَامَ فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْ بَيْعِ الذَّهَبِ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرِّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرِ بِالشَّعِيرِ وَالتَّمْرِ بِالتَّمْرِ

د حضرت ابو قلابه نه روایت دے وائی چه زهٔ په شام کښې د څهٔ خلقو په مینځ کښې ناست وم په دیکښې ابو الاشعث راغے. او کیناستهٔ. ما هغوی ته اووے ته خما د رور نه د عباده بن صامت حدیث بیان کړه. هغوی اووے ډیره ښه ده. مونږ یو جهاد او کړو چه په هغے کښې معاویه زمونږ سردار وو نو ډیر څیزونه مونږ په غنیمت کښې حاصل کړل چه پکښې د سپینو زرو یو لوښے هم وو. حضرت معاویه حکم اوکړو د هغے د خرڅولو د خلقو په تنخواه باندے او خلقو جلتی کوله د هغے په اخستلو کښې. دا خبر عباده بن صامت ته اورسیدو هغوی اودریدل او دائے اووے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه هغوی منع فرمائیله سروزرو لره د سروزرو په بدله کښې د خرڅولو نه او سپین زرو لره د سپینو زرو په بدله او غنمو لره د غنمو په بدله او وربشو لره د وربشو په بدله او کهجورو له د کهجورو په بدله او مالګے لره د مالګے په بدله مګر برابر برابر ، نقد نقد. پس هر

[1] یعني ددواړو طرفونه مال نقد ورکول پکار دی په دغه مجلس کښې او قرض ناجائز دے.

وَالْمِلْحِ بِالْمِلْحِ إِلَّا سَوَاءً بِسَوَاءٍ عَيْنًا بِعَيْنٍ فَمَنْ زَادَ أَوِ ازْدَادَ فَقَدْ أَرْبَى فَرَدَّ النَّاسُ مَا أَخَذُوا فَبَلَغَ ذَلِكَ مُعَاوِيَةَ فَقَامَ خَطِيبًا فَقَالَ أَلَا مَا بَالُ رِجَالٍ يَتَحَدَّثُونَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَادِيثَ قَدْ كُنَّا نَشْهَدُهُ وَنَصْحَبُهُ فَلَمْ نَسْمَعْهَا مِنْهُ فَقَامَ عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ فَأَعَادَ الْقِصَّةَ ثُمَّ قَالَ لَنُحَدِّثَنَّ بِمَا سَمِعْنَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ كَرِهَ مُعَاوِيَةُ أَوْ قَالَ وَإِنْ رَغِمَ مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَصْحَبَهُ فِي جُنْدِهِ لَيْلَةً سَوْدَاءَ قَالَ حَمَّادٌ هَذَا أَوْ نَحْوَهُ

هغه چا چه زیاته واخسته یائے زیاته ورکړه نو سود شو. دد ے خبر ے په اوریدو چه خلقو څۀ اخستی وو واپس ئے کړل. پس معاویه ته دا خبر اورسیدو هغه اودریدو او خطبه ئے اولوسته چه څۀ حال د ے د خلقو چه د رسول الله ﷺ نه هغه حدیثونه روایت کوی چه هغه مونږ نۀ دی اوریدلی او مونږ به د هغوی په صحبت کښې هر وخت حاضر وو. بیا عباده پاڅیدو او قصه ئے بیان کړه روستو د هغے نه ئے اوو ے چه مونږ خو به هغه حدیث ضرور بیانوو کوم چه مونږ د رسول خدا ﷺ نه اوریدلے د ے. اګر کۀ معاویه بدګنړی یائے داسے اوو ے اګر کۀ د معاویه رسوائی وی زۀ پرواه نکوم اګر کۀ د هغۀ سره نۀ شم د هغۀ په لښکر کښې په تیارۀ شپه کښې. حماد وئیلی دی یائے دغه شان اوو ے[1].

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ يَدًا بِيَدٍ فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الْأَصْنَافُ فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ

د عباده بن صامت نه روایت د ے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خرخوئ سروزرو لره په بدل د سروزرو او سپین زر په بدل د سپینوزرو او غنمو لره په بدل د غنمو او وربشو لره په بدل د وربشو او کهجورو لره په بدل د کهجورو او مالګے لره په بدل د مالګے برابر برابر تهیك تهیك نقد نقد. بیا چه هر کله قسم بدل شی (مثلاً غنم د وربشو په بدله) نو څنګه چه غواړئ خرخوئ (په کمی زیاتی) خو نقد کیدل ضروری دی[2].

---

[1] یعنی هر کله چه د صدقاتو نه حصه میلاو شی نو قیمت به د هغے اخلی غرض دا چه د قرض خوښولو حکم ئے اوکړو. د معاویه دا دلیل پوره نۀ د ے ولے چه د حاضر پاتے کیدو او صحبت ساتلو سره د هر ے خبر ے اوریدل ضروری نۀ دی او دد ے وجے نه ډیر داسے حدیثونه به یو صحابی اوریدلی وی چه بل به نۀ وی اوریدلی.

[2] امام نووی وئیلی دی دد ے حدیث نه ثابتیږی چه وربشے او غنم جدا جدا قسم دی. او دغه مذهب د ے د شافعی او ابوحنیفه او ثوری او د فقهاء محدثینو. او د مالك او لیث او اوزاعی او د اکثرو عالمانو د مدینے. او د شام د متقدمینو عالمانو په نز دغه دواړه یو قسم دی او دغه منقول دی د عمر او سعد او سلفو نه. او اتفاق کړے د ے علماؤ چه باجرا یو قسم د ے او جوار بل قسم د ے او وربشے دریم قسم د ے. مګر د لیث او ابن وهب په نز دا در ے واړه په یو قسم کښې داخل دی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ يَدًا بِيَدٍ فَمَنْ زَادَ أَوِ اسْتَزَادَ فَقَدْ أَرْبَى الْآخِذُ وَالْمُعْطِي فِيهِ سَوَاءٌ

د ابوسعيد خدريؓ نه روايت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي خرخوئ سرۀ زر په بدل د سروزرو كښې او سپين زر په بدل د سپينو زرو كښې او غنمو لره په بدل د غنمو كښې او وربشو لره په بدل د وربشو كښې او كهجورو لره په بدل د كهجورو كښې او مالگے لره په بدل د مالگے كښې برابر برابر نقد نقد. پس څوك چه زيات وركوي يا زيات اخلي نو سود شو اخستونكے او وركونكے برابر دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْحِنْطَةُ بِالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ يَدًا بِيَدٍ فَمَنْ زَادَ أَوِ اسْتَزَادَ فَقَدْ أَرْبَى إِلَّا مَا اخْتَلَفَتْ أَلْوَانُهُ

د حضرت ابوهريره نه روايت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي. خرخوئ كهجورے لره د كهجورو په بدله او غنمو لره د غنمو په بدله او وربشو لره د وربشو په بدله او مالگے لره د مالگے په بدله برابر برابر نقد نقد. بيا چه څوك زيات وركوي يا اخلي نو سود شو مگر هر كله چه قسم بدل شي (نو زياتے او كمے صحيح دے)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَزْنًا بِوَزْنٍ مِثْلًا بِمِثْلٍ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَزْنًا بِوَزْنٍ مِثْلًا بِمِثْلٍ فَمَنْ زَادَ أَوِ اسْتَزَادَ فَهُوَ رِبًا

د حضرت ابوهريره نه روايت دے وائي چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي خرخوئ سونے لره د سونے په بدل په وزن سره برابر برابر او چاندئ لره د چاندئ په بدل په وزن سره برابر برابر. پس څوك چه زيات وركوي يا زيات اخلي نو سود شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدِّينَارُ بِالدِّينَارِ لَا فَضْلَ بَيْنَهُمَا وَالدِّرْهَمُ بِالدِّرْهَمِ لَا فَضْلَ بَيْنَهُمَا

د ابوهريره نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي دينار د دينار په بدله خرخوئ او چه يو زيات نۀ وي په دے دواړو كښې او درهم په بدل د درهم او چه يو زيات نۀ وي د يو بل نه.

عَنْ أَبِي الْمِنْهَالِ قَالَ بَاعَ شَرِيكٌ لِي وَرِقًا بِنَسِيئَةٍ إِلَى الْمَوْسِمِ أَوْ إِلَى الْحَجِّ فَجَاءَ إِلَيَّ فَأَخْبَرَنِي فَقُلْتُ هَذَا أَمْرٌ لَا يَصْلُحُ قَالَ قَدْ بِعْتُهُ فِي السُّوقِ فَلَمْ يُنْكِرْ ذَلِكَ عَلَيَّ أَحَدٌ فَأَتَيْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ

د ابوالمنهال نه روايت دے څما يو شريك سپين زر خرڅ كړو په قرض د حج د موسمه پورے هغه څما نه د تپوس كولو دپاره راغے ما اووے چه دا خو روا نۀ دي. هغۀ اووے چه ما په بازار كښې خرڅ كړل او هيچا منع نۀ كړم. بيا زۀ د براء بن عازب خواله راغلم او د هغوی نه مے تپوس اوكړو. هغوی اووے رسول اللهﷺ مدينے ته

قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَنَحْنُ نَبِيعُ هٰذَا الْبَيْعَ فَقَالَ مَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ فَلَا بَأْسَ بِهِ وَمَا كَانَ نَسِيئَةً فَهُوَ رِبًا وَائْتِ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ فَإِنَّهُ أَعْظَمُ تِجَارَةً مِنِّي فَأَتَيْتُهُ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ

تشریف راوړو او مونږ به داسې بیعې کولې. حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرې نقدا نقد وی نو څۀ قباحت نشته. او کۀ قرض وی نو سود دے. او ته د زید بن ارقم خواله لاړ شه د هغۀ سوداګری خما نه زیاته ده (نو هغه به د دے مسئلې نه ښه خبر وی) زۀ د هغوی خواله لاړم او د هغوی نه مې تپوس اوکړو نو هغوی هم دغه شان اووے.

عَنْ أَبِي الْمِنْهَالِ يَقُولُ سَأَلْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ عَنِ الصَّرْفِ فَقَالَ سَلْ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ فَهُوَ أَعْلَمُ فَسَأَلْتُ زَيْدًا فَقَالَ سَلِ الْبَرَاءَ فَإِنَّهُ أَعْلَمُ ثُمَّ قَالَا نَهٰى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْوَرِقِ بِالذَّهَبِ دَيْنًا

د ابوالمنهال نه روایت دے وائی چه ما د براء بن عازب نه تپوس اوکړو د صرف په باره کښې (یعنې د سپینو زرو یا سروزرو په بدله سپین زر یا سرۀ زر بدلول څنګه دی؟) هغوی اووے د زید بن ارقم نه تپوس اوکړه هغۀ زیات پوهه دے. ما د زید نه تپوس اوکړو. هغوی اووے د براء نه تپوس اوکړه هغه زیات پوهه دے. بیا دواړو اووے منع فرمائیلې ده رسول الله ﷺ سپینو زرو لره د سروزرو په بدل د قرض خرڅولو نه[1].

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ نَهٰى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْفِضَّةِ بِالْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ بِالذَّهَبِ إِلَّا سَوَاءً بِسَوَاءٍ وَأَمَرَنَا أَنْ نَشْتَرِيَ الْفِضَّةَ بِالذَّهَبِ كَيْفَ شِئْنَا وَنَشْتَرِيَ الذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ كَيْفَ شِئْنَا قَالَ فَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَدًا بِيَدٍ فَقَالَ هٰكَذَا سَمِعْتُ

د ابوبکره نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ چاندئ لره د چاندئ په بدله او سونے لره د سونے په بدله د خرڅولو نه مګر برابر برابر. او حکم ئے اوکړو مونږ ته د چاندئ اخستلو د سونے په بدله څنګه چه مونږ غواړو. او د سونے اخستلو د چاندئ په بدل څنګه چه مونږ غواړو. یو سړی د هغوی نه تپوس اوکړو او اوئے وئیل نقدا نقد هغوی اووے ما دغه شان اوریدلی دی.

عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ يَقُولُ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِخَيْبَرَ بِقِلَادَةٍ فِيهَا خَرَزٌ وَذَهَبٌ وَهِيَ مِنَ الْمَغَانِمِ تُبَاعُ فَأَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالذَّهَبِ الَّذِي فِي الْقِلَادَةِ فَنُزِعَ وَحْدَهُ ثُمَّ قَالَ لَهُمْ رَسُولُ

د فضاله بن عبید انصاری نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په خیبر کښې تشریف فرما وو. حضرت ﷺ ته یو هار راوړے شو چه په هغې کښې غمې هم وو او سرۀ زر هم وو. هغۀ د غنیمت مال وو چه خرڅیدلو. حضرت ﷺ حکم اوکړي د دے نه سرۀ زر جدا کړئ. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اوس سروزرو لره د سروزرو په بدل خرڅ

[1] کچرے لاس په لاس وی نو څۀ قباحت نشته دے لکه چه پورته تیر شو.

اللهِ ﷺ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَزْنًا بِوَزْنٍ

کړئ په برابر وزن سره[1].

عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ اشْتَرَيْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ قِلَادَةً بِاثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا فِيهَا ذَهَبٌ وَخَرَزٌ فَفَصَّلْتُهَا فَوَجَدْتُ فِيهَا أَكْثَرَ مِنَ اثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا تُبَاعُ حَتّٰى تُفَصَّلَ

د حضرت فضاله بن عبید نه روایت دے وائی چه ما د خیبر په ورځ یو هار واخستو په دولسو اشرفو کښ. چه په هغے کښ سونا (سرهٔ زر) وه او رنګ وو. هر کله چه ما ترے سونا جدا کړه نو په هغے کښ د دولسو اشرفو نه زیات سونا رااووته. ما دا خبره رسول الله ﷺ ته بیان کړه . هغوی اوفرمائیل هار نهٔ شی خرڅیدے د کومے پورے چه د هغے نه سونا جدا شوے نهٔ وی.

عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ نُبَايِعُ الْيَهُودَ الْوُقِيَّةَ الذَّهَبَ بِالدِّينَارَيْنِ وَالثَّلَاثَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ إِلَّا وَزْنًا بِوَزْنٍ

د فضاله بن عبید نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو د خیبر په ورځ او د یهودیانو سره مونږ معامله کوله یوه اوقیه (څلوېښت درهم) د سونے د دوو یا درے دینارو په بدله . پس جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل مهٔ خرڅوئ سونا د سونے په بدله مګر په تول (برابر برابر)

عَنْ حَنَشٍ أَنَّهُ قَالَ كُنَّا مَعَ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ فِي غَزْوَةٍ فَطَارَتْ لِي وَلِأَصْحَابِي قِلَادَةٌ فِيهَا ذَهَبٌ وَوَرِقٌ وَجَوْهَرٌ فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهَا فَسَأَلْتُ فَضَالَةَ بْنَ عُبَيْدٍ فَقَالَ

د حنش نه روایت دے وائی چه زهٔ د فضاله بن عبید سره وم په یو جهاد کښ نو ځما او ځما د ملګرو په حصه کښ یو هار راغے چه په هغے کښ سرهٔ زر او جواهر تهول وو ما هغے لره اخستل غوښتلو او د فضاله نه مے تپوس اوکړو هغوی اووے چه دد ے

---

[1] نووی وئیلی دی دد ے حدیث نه دا رااوخی چه هر کله سرهٔ زر د یو بل څیز سره لګیدلی وی نو د هغے خرڅول د سروزرو په بدل صحیح نهٔ دی د کومے پورے چه سرهٔ زر ترے جدا شوے نهٔ وی. اوس سونے لره د سونے په بدل برابر برابر په تول سره خرڅول پکار دی. او د هغهٔ دویم څیز (کوم چه د سونے نه جدا کړے شو) مالك ته اختیار دے چه په څومره قیمت باندے غواړی خرڅ دِئے کړی. دغه حکم دے هر کله چه په یو څیز کښ سپین زر لګیدلی وی. او هغه د سپینو زرو په بدله خرڅ کړے شی او دغه منقول دی د حضرت عمر او ابن عمر او د سلفو د جماعت نه. او دغه قول دے د شافعی او احمد او اسحق. او د ابوحنیفه او ثوری او حسن بن صالح په نز دد ے جدا کول ضروری نهٔ دی . او د هغے بیعه د دغے سونے نه د زیاتے په بدله کښ څومره چه په دغه شی کښ لګیدلے ده یا د هغه سپین زرو نه د زیات په بدله کښ څومره چه په هغے کښ لګیدلی وی صحیح دی. او د هغے نه کم یا برابر د سونے او د چاندئ په بدل صحیح نهٔ دی. او د امام مالك په نیز کچرے سونا یا چاندی دریمه حصه یا د دریمے حصے نه کم وی نو هغه به تابع کیږی او د هغے بیعه په هره طریقه صحیح ده. او د حماد بن ابی سلیمان په نز په هر حال کښ صحیح ده. (انتهی مختصراً)

انزع ذهبها فاجعله في كفة واجعل ذهبك في كفة ثم لا تأخذن إلا مثلا بمثل فإني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فلا يأخذن إلا مثلا بمثل

سرۀ زر جدا کړه او د تلې په يو چابړی کښې ئې کېږده. او خپل سرۀ زر په بل چابړی کښې کېږده بیا مۀ اخله مګر برابر برابر. ولې چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه هغوی فرمائیلی وو څوك چه ایمان لره په الله تعالی او په ورځ د قیامت باندې پس هغوی به نۀ اخلی مګر برابر برابر.

عن معمر بن عبد الله أنه أرسل غلامه بصاع قمح فقال بعه ثم اشتر به شعيرا فذهب الغلام فأخذ صاعا وزيادة بعض صاع فلما جاء معمرا أخبره بذلك فقال له معمر لم فعلت ذلك انطلق فرده ولا تأخذن إلا مثلا بمثل فإني كنت أسمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول الطعام بالطعام مثلا بمثل قال وكان طعامنا يومئذ الشعير قيل له فإنه ليس بمثله قال إني أخاف أن يضارع

د معمر بن عبد الله نه روایت دے چه هغوی خپل غلام لره یو ووګے غنم ورکړل او اوئې لیږو او ورته ئې اووے چه دا خرڅ کړه او وربشې راوړه. هغه غلام واخستو او لاړو او یو ووګے او څۀ لږې زیاتې وربشې ئې واخستې هر کله چه د معمر خواله راغې او هغۀ ئې خبر کړو. نو معمر اووے تا داسې ولې اوکړل. لاړ شه او واپس ئې کړه راشه او مۀ اخله مګر برابر برابر. ولې چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه هغوی فرمائیلی وو د غلې په بدله غله برابر ورکوئ او په دغه ورځو کښې زمونږه غله وربشې وې. خلقو اووے چه په غنمو او وربشو کښې فرق دے (نو کمې زیاتې جائز دے) هغوی اووے زۀ یریږم کۀ چرته دواړه د یو جنس حکم لری[1].

عن أبي هريرة وأبي سعيد الخدري حدثاه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث أخا بني عدي الأنصاري فاستعمله على خيبر فقدم

د ابوهریره او ابوسعید خدری نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ د بنی عدی نه یو سړے د خیبر عامل کړو هغه جنیب (یعنی د ښۀ قسم کهجورے) واخستے او راغې. پس رسول الله ﷺ د هغوی نه

[1]: امام نووی وئیلی دی چه امام مالك دد دے روایت نه دلیل اخستے دے چه غنم او وربشې یو جنس دے او هر کله چه دا د یو بل په بدله خرڅولے شی نو په دے کښې کمې ناجائز دے. او زمونږه او د جمهورو عالمانو دا قول دے چه غنم او وربشې دواړه جدا جدا قسمونه دی. او په دے کښې کمې او زیاتې صحیح دے لکه په غنمو او وریجو کښې. او دلیل زمونږه هغه دے کوم چه وړاندې تیر شوے دے چه حضرت ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه قسمونه بدل شی نو څنګه چه غواړئ خرڅوئ. او ابوداؤد او نسائی د عباده بن صامت نه روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه غنم د وربشو په بدله خرڅولو کښې اګر کۀ وربشې زیاتې وی قباحت نشته. په دے شرط چه لاس په لاس وی. او د معمر دا روایت د حجت لائق نۀ دے ولې چه په دے کښې دا کوم ځائې دی چه غنم او وربشې یو جنس دے بلکه معمر احتیاطًا د یرے دد دے نه پرهیز کړے دے.

بِتَمْرٍ جَنِيبٍ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكُلُّ تَمْرِ خَيْبَرَ هٰكَذَا قَالَ لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا لَنَشْتَرِي الصَّاعَ بِالصَّاعَيْنِ مِنَ الْجَمْعِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَفْعَلُوا وَلٰكِنْ مِثْلًا بِمِثْلٍ أَوْ بِيعُوا هٰذَا وَاشْتَرُوا بِثَمَنِهِ مِنْ هٰذَا وَكَذٰلِكَ الْمِيزَانُ

تپوس اوکړو آيا په خيبر کښ ټولې کهجورې داسې وی. هغوی اووے نه. قسم په خدائے يا رسول الله ﷺ مونږ دا کهجورے يوه پيمانه (د خراب قسم کهجورو) جمع کړو او دوه پيمانې ورکړو اخلوئے حضرت ﷺ اوفرمائيل داسې مۀ کوه بلکه برابر ئے خرڅوه يا يوه خرڅه کړه او د هغې د قيمت په بدل بله واخله. او کچرے دغه شان ئے په تول باندے خرڅوے نو هم ئے برابر خرڅوه[1].

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَ رَجُلًا عَلَى خَيْبَرَ فَجَاءَهُ بِتَمْرٍ جَنِيبٍ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ أَكُلُّ تَمْرِ خَيْبَرَ هٰكَذَا فَقَالَ لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا لَنَأْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هٰذَا بِالصَّاعَيْنِ وَالصَّاعَيْنِ بِالثَّلَاثَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فَلَا تَفْعَلْ بِعِ الْجَمْعَ بِالدَّرَاهِمِ ثُمَّ ابْتَعْ بِالدَّرَاهِمِ جَنِيبًا

د ابوسعيد خدری او ابوهريره نه روايت دے چه رسول الله ﷺ يو سړی لره د خيبر حاکم کړو. نو هغۀ خائسته کهجورے راوړلې. نو رسول الله ﷺ د هغۀ نه تپوس اوکړو چه د خيبر ټولې کهجورے دغه شان وی. هغۀ اووے په خدائے قسم نه يا رسول الله ﷺ مونږ د يو صاع دے د دوو صاعو په بدله او دوه صاعه د دريو په بدله اخلو بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل داسې مۀ کوئ جمع (د کهجورو يے کاره قسم) لره د روپو په بدله خرڅوئ بيا په روپو جنيب (د اعلی قسم کهجورے) اخلئ.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ يَقُولُ جَاءَ بِلَالٌ بِتَمْرٍ بَرْنِيٍّ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَيْنَ هٰذَا فَقَالَ بِلَالٌ تَمْرٌ كَانَ عِنْدَنَا رَدِيءٌ

د ابوسعيد نه روايت دے. حضرت بلال برنی (يو بنۀ قسم دے د کهجورو) کهجورے واخستې او راپوړے جناب رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل دا د د کوم ځائے نه راوړے؟ بلال رضی اوو ے ځما سره د

---

[1] امام نووی وئيلی دی کيدے شی هغه عامل ته ددغه وخته پورے دد ے بيعے حرمت معلوم شوے نۀ وو. ولے چه د سود د حراميدو رومبئ ورځے وے. يا د بلے څۀ وجے نه. او په د ے روايت سره زمونږ ملګرو دليل ورکړے دے چه د عيينه بيعه حرامه نۀ ده. او هغه يوه حيله ده چه په هغې سره د سود غرض حاصليږی. او هغه دا ده چه يو سړی ته سل روپۍ اخستل منظور وی. او د سود سره دوه سوه ورکول وی. نو هغه په صفا طور باندے سل روپۍ قرض نۀ اخلی بلکه په دوه سوه روپۍ به يو شے د مهاجن (يعنی روپۍ ورکونکی) نه واخلی په قيمت باندے. او په سل روپۍ به ئے بيا په هغه باندے خرڅ کړی. او هغه سل روپۍ به په خپل کار راولی . او دوه سوه روپۍ به مهاجن ته په خپل ميعاد باندے ادا کوی. او دا بيعه د شافعی او نورو عالمانو په نزد حرامه نۀ ده ليکن امام مالك او احمد ورته حرامه وئيلی دی.

د اردو کتاب مترجم وائی د شافعی دا مذهب صحيح نۀ دے. او په نورو حديثونو کښ د عيينه په بيعه باندے وعيد راغلے دے او هغه د سود خورو ايجاد دے او حيله د الله تعالی جل جلاله په مخکښ مفيد نۀ ده هغه په نيت او اراده بنۀ پوهيږی.

فَبِعْتُ مِنْهُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ لِمَطْعَمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ عِنْدَ ذٰلِكَ أَوَّهْ عَيْنُ الرِّبَا لَا تَفْعَلْ وَلٰكِنْ إِذَا أَرَدْتَ أَنْ تَشْتَرِيَ التَّمْرَ فَبِعْهُ بِبَيْعٍ آخَرَ ثُمَّ اشْتَرِ بِهِ لَمْ يَذْكُرِ ابْنُ سَهْلٍ فِي حَدِيْثِهِ عِنْدَ ذٰلِكَ

خراب قسم کهجورے وے. نو ما د هغے دوه پیمانے ورکړے او یوه پیمانه مے ددے ستا د خوراك دپاره واخسته. جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل افسوس دا خو عین سود دے داسے مهٔ کوه. لیکن هر کله چه تهٔ کهجورے اخستل غواړے نو خپلے کهجورے خرڅے کړه بیا د هغے د قیمت په بدله نورے کهجورے واخله.

عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ أُتِيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ فَقَالَ مَا هٰذَا التَّمْرُ مِنْ تَمْرِنَا فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ بِعْنَا تَمْرَنَا صَاعَيْنِ بِصَاعٍ مِنْ هٰذَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ هٰذَا الرِّبَا فَرُدُّوْهُ ثُمَّ بِيْعُوْا تَمْرَنَا وَاشْتَرُوْا لَنَا مِنْ هٰذَا

د ابوسعید نه روایت دے رسول الله ﷺ له کهجوره راوړے شو حضرت ﷺ اوفرمائیل دا کهجوره زمونږ د کهجورو نه ډیره مزیداره ده یو سړی اووے یا رسول الله ﷺ دا مونږ د خپلو کهجورو دوه پیمانے ورکړے او یوه پیمانه مونږ اخستے ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل دا خو سود شو. دے لره واپس کړه او ړومبئ زمونږ کهجورے خرڅے کړه او بیا د هغے په قیمت سره دا کهجورے زمونږ دپاره واخله

عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ كُنَّا نُرْزَقُ تَمْرَ الْجَمْعِ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الْخِلْطُ مِنَ التَّمْرِ فَكُنَّا نَبِيْعُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا صَاعَيْ تَمْرٍ بِصَاعٍ وَلَا صَاعَيْ حِنْطَةٍ بِصَاعٍ وَلَا دِرْهَمٍ بِدِرْهَمَيْنِ

د حضرت ابوسعید نه روایت دے مونږ ته به جمع کهجورے ملاویدے د جناب رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې او په هغے کښې به تولے کهجورے ملاویدے نو مونږ به دوه صاع د هغے د یو صاع بدله کښې خرڅولے. دا خبر جناب رسول الله ﷺ ته اورسیدهٔ. حضرت ﷺ اوفرمائیل د کهجورو دوه صاع د یو صاع په بدله نهٔ دی خرڅول پکار. دغسے د غنمو دوه پیمانے دوه صاع د یو صاع په بدله او یو درهم د دوو درهمو په بدله نهٔ دی خرڅول پکار.

عَنْ أَبِي نَضْرَةَ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنِ الصَّرْفِ فَقَالَ أَيَدًا بِيَدٍ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَلَا بَأْسَ بِهِ فَأَخْبَرْتُ أَبَا سَعِيْدٍ فَقُلْتُ إِنِّي سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنِ الصَّرْفِ فَقَالَ أَيَدًا بِيَدٍ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ

د ابونضره نه روایت دے وائی چه ما د ابن عباس نه تپوس اوکړو د صرف په باره کښې (یعنی د سونے چاندئ بیعے لره د سونے ، چاندئ په بدله) هغوی اووے په نقدا نقد کښې ما ووے آو. هغوی اووے په نقدا نقد کښې څهٔ قباحت نشته دے. ما ابوسعید ته اووے چه ما د ابن عباس نه تپوس کړے وو په باره د صرف کښې. هغوی اووے په نقدا نقد کښې.

فَلَا بَأْسَ بِهِ قَالَ أَوْ قَالَ ذٰلِكَ إِنَّا
سَنَكْتُبُ إِلَيْهِ فَلَا يُفْتِيكُمُوهُ قَالَ فَوَاللّٰهِ
لَقَدْ جَاءَ بَعْضَ فِتْيَانِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ فَأَنْكَرَهُ فَقَالَ كَأَنَّ
هٰذَا لَيْسَ مِنْ تَمْرِ أَرْضِنَا قَالَ كَانَ فِي
تَمْرِ أَرْضِنَا أَوْ فِي تَمْرِنَا الْعَامَ بَعْضُ
الشَّيْءِ فَأَخَذْتُ هٰذَا وَزِدْتُ بَعْضَ
الزِّيَادَةِ فَقَالَ أَضْعَفْتَ أَرْبَيْتَ لَا
تَقْرَبَنَّ هٰذَا إِذَا رَابَكَ مِنْ تَمْرِكَ شَيْءٌ
فَبِعْهُ ثُمَّ اشْتَرِ الَّذِي تُرِيدُ مِنَ التَّمْرِ
عَنْ أَبِي نَضْرَةَ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ
وَابْنَ عَبَّاسٍ عَنِ الصَّرْفِ فَلَمْ يَرَيَا بِهِ
بَأْسًا فَإِنِّي لَقَاعِدٌ عِنْدَ أَبِي سَعِيدٍ
الْخُدْرِيِّ فَسَأَلْتُهُ عَنِ الصَّرْفِ فَقَالَ
مَا زَادَ فَهُوَ رِبًا فَأَنْكَرْتُ ذٰلِكَ لِقَوْلِهِمَا
فَقَالَ لَا أُحَدِّثُكَ إِلَّا مَا سَمِعْتُ مِنْ
رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَهُ
صَاحِبُ نَخْلِهِ بِصَاعٍ مِنْ تَمْرٍ طَيِّبٍ
وَكَانَ تَمْرُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
هٰذَا اللَّوْنَ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّى لَكَ هٰذَا قَالَ انْطَلَقْتُ
بِصَاعَيْنِ فَاشْتَرَيْتُ بِهِ هٰذَا الصَّاعَ
فَإِنَّ سِعْرَ هٰذَا فِي السُّوقِ كَذَا وَسِعْرَ

ما اووے آو. هغوی اووے په نقدا نقد کښې څهٔ قباحت نشته ابوسعید ؓ اووے. آیا ابن عباس داسے وئیلے دی؟ مونږ ته به نیکی هغوی تلسو ته داسے فتویٰ نهٔ شی در کولے او اوئے وئیل قسم په خدائے. یو کس د خوانانو نه د رسول الله ﷺ دپاره کهجورے راوړے راغے. حضرت ﷺ هغے لره نوے اوکتلے او اوئے فرمائیل دا خو زمونږ د ملك نهٔ دی هغوی اووے سخکال زمونږ د ملك په کهجورو کښې نقصان وو نو ما دا کهجورے واخستے او ددے په بدله کښې مے زیاتے کهجورے ورکړے. حضرت ﷺ اوفرمائیل تا زیاتے ورکړے سود د ورکړو. اوس د هغهٔ خواله مهٔ څه هر کله چه تاته په خپلو کهجورو کښې څهٔ نقصان معلوم وی نو هغے لره خرڅ وه او بیا چه د کومے کهجورے خوښے هغه اخله

د ابونضره نه روایت دے وائی چه ما د ابن عمر او د ابن عباس نه تپوس اوکړو د صرف په باره کښې هغوی په دے کښې څهٔ قباحت نهٔ وو لیدلے (اگر کهٔ کمے زیاتے وی په دے شرط چه نقدا نقد وی) بیا زهٔ د ابوسعید خدری سره ناست وم نو د هغهٔ نه مے د صرف په باره کښې تپوس اوکړو. هغوی اووے کوم چه زیات وی هغه سود دے. ما ددے نه په وجه د ابن عمر او ابن عباس ؓ د وینا انکار اوکړو. هغوی اووے زهٔ تاته نهٔ بیانوم مگر څهٔ چه ما اوریدلی دی د جناب رسول الله ﷺ نه چه هغوی ته یو کهجورے والا یو صاع ښے کهجورے راوړے. او د رسول الله ﷺ کهجورے په دغه قسم وے. نو رسول خدا ﷺ تپوس اوکړو دا کهجورے د د کوم ځائے نه راوړے. هغهٔ اووے ما دوه صاع د خپلو کهجورو ورکړے او یو صاع ددے کهجورو مے واخستے. ځکه ددے نرخ په بازار کښې داسے دے او د هغے داسے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل خرابی د وی تا لره دا خو تا سُود ورکړو هر کله چه تهٔ داسے کول غواړے

هٰذَا كَذَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلَكَ أَرْبَيْتَ إِذَا أَرَدْتَ ذٰلِكَ فَبِعْ تَمْرَكَ بِسِلْعَةٍ ثُمَّ اشْتَرِ بِسِلْعَتِكَ أَيَّ تَمْرٍ شِئْتَ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ فَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ أَحَقُّ أَنْ يَكُونَ رِبًا أَمِ الْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ قَالَ فَأَتَيْتُ ابْنَ عُمَرَ بَعْدُ فَنَهَانِي وَلَمْ آتِ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ فَحَدَّثَنِي أَبُو الصَّهْبَاءِ أَنَّهُ سَأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْهُ بِمَكَّةَ فَكَرِهَهُ

عَنْ أَبِي صَالِحٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ الدِّينَارُ بِالدِّينَارِ وَالدِّرْهَمُ بِالدِّرْهَمِ مِثْلًا بِمِثْلٍ مَنْ زَادَ أَوِ ازْدَادَ فَقَدْ أَرْبَى فَقُلْتُ لَهُ إِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ غَيْرَ هٰذَا فَقَالَ لَقَدْ لَقِيتُ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ أَرَأَيْتَ هٰذَا الَّذِي تَقُولُ أَشَيْءٌ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ وَجَدْتَهُ فِي كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَقَالَ لَمْ أَسْمَعْهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ أَجِدْهُ فِي كِتَابِ اللهِ وَلٰكِنْ حَدَّثَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ

نو خپلې کهجورې د څۀ شي په بدله خرڅې کړه بیا د هغه شي په بدله چه کومه کهجوره تۀ غواړې واخله ابوسعید اووے نو کهجورې چه کله د کهجورو په بدله کښې ورکړے شي او په هغې کښې سود وي نو سپین زر چه کله د سپینو زرو په بدله ورکړے شي (کم یا زیات) نو په دے کښې به سود ضرور وي (اگر کۀ نقدا نقد وي) ابونضره وائي بیا زۀ د ابن عمر خواله راغلم دے نه پس نو هغوی هم منع اوکړه دے نه (کیدے شي هغۀ ته د ابوسعید حدیث رسیدلے وي) او د ابن عباس خواله زۀ لاڅه رم. لیکن ما ته ابو الصّهباء حدیث بیان کړو چه هغوی تپوس کړے وو د ابن عباس نه نو هغوی ورته مکروه وئیلی وو[1].

د ابوصالح نه روایت دے وائي چه ما د ابوسعید خدری نه اوریدلی دی چه هغوی وئیل چه دینار په بدل د دینار او درهم په بدل د درهم برابر برابر خرڅول پکار دی. او څوك چه زیات ورکوی یا زیات اخلي نو سُود دے. ما اووے ابن عباس خو نور څۀ وائي. هغوی اووے زۀ د ابن عباسؓ سره میلاؤ شوم او ورته مے اووے تۀ چه دا څۀ وائے نو آیا دا تا د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی یا د په قرآن کښې موندلی دی؟ هغوی اووے نۀ مے د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی او نۀ مے په قرآن مجید کښې موندلی دی. بلکه ما ته حدیث بیان کړے دُے اُسامه بن زید چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی سُود په قرض کښې دے (نو ددے نه ما دا اوگنړله چه کۀ چرے نقدا نقد د کمی او زیاتی سره هم

---

[1]: مخکښې د ابن عمر او ابن عباس دا مذهب وو چه هر کله نقدا نقد بیعه وی نو په کمی او بیشی سره سُود نۀ راځي. اگر کۀ یو جنس وی او جائز به ئے گنړله د یو درهم بیعه د دوه درهمو په بدله. او د یو دینار د دوو دینارو په بدله. او یوے پیمانے کهجورو لره په بدله د دوو پیمانو د کهجورو. او دغه شان غنم او په ټولو ربوی اجناسو کښې به هغوی کم او زیات خرڅول جائز گنړل په دے شرط چه لاس په لاس وی او کچرے په قرض وی نو سود به ئے گنړلو. بیا دغه دوارو ملگرو د خپل قول نه رجوع کړے ده او په یو جنس کښې د کم او زیات خرڅولو د حرام والی قائل شوی دی.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرِّبَا فِي النَّسِيئَةِ

وی خو سُود نهٔ دے)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا الرِّبَا فِي النَّسِيئَةِ

د ابن عباس نه روایت دے وائی چه ما ته اُسامه بن زید بیان کړے دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه سُود په قرض کښې دے.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا رِبًا فِيمَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ

د عبد الله بن عباس د اُسامه بن زیدؓ نه روایت کړے دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی سُود نشته په نقدا نقد کښې.

عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ لَقِيَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ لَهُ أَرَأَيْتَ قَوْلَكَ فِي الصَّرْفِ أَشَيْئًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْ شَيْئًا وَجَدْتَهُ فِي كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَلَّا لَا أَقُولُ أَمَّا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْتُمْ أَعْلَمُ بِهِ وَأَمَّا كِتَابُ اللهِ فَلَا أَعْلَمُهُ وَلَكِنْ حَدَّثَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا إِنَّمَا الرِّبَا فِي النَّسِيئَةِ

د عطاء بن ابی رباح نه روایت دے ابوسعید خدری د ابن عباس سره میلاؤ شو او د هغوی نه ئے تپوس اوکړو چه ته څهٔ د بیع صرف په باب کښې وائے نو آیا دا تا اوریدلی دی د رسول اللهﷺ نه. یا دِ د الله تعالیٰ په کلام مجید کښې موندلی دی؟ حضرت ابن عباس اووے هر گز نه زهٔ تا ته نهٔ شم وئیلے. رسول اللهﷺ خو تهٔ خما نه زیات پیژنے او د الله تعالیٰ په کتاب زهٔ نهٔ پوهیږم (دائے د عاجزئ په طور باندے اووے) لیکن ما ته اُسامه بن زید حدیث بیان کړے دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه سُود په قرض کښې دے[1].

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا وَمُؤْكِلَهُ قَالَ قُلْتُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ قَالَ إِنَّمَا نُحَدِّثُ بِمَا سَمِعْنَا

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے وائی لعنت کړے دے رسول اللهﷺ په سُود خوړلو والا باندے او په سُود خورولو والا باندے. راوی وائی ما تپوس اوکړو د سُود په حساب لیکونکی باندے او د هغے په گواهانو باندے. نو هغوی اووے مونږ دومره حدیث بیانوؤ څومره چه مونږه اوریدلے دی.

[1] نووی وائی چه څنې علماؤ وئیلی دی چه د اُسامه دا روایت منسوخ دے په نورو حدیثو سره او اجماع کړے ده اهل اسلام چه هغه متروک العمل دے. او بعضو د دے تاویل کړے دے چه هغه محمول دے په هغه مالونو باندے چه هغه ربوی نهٔ دی لکه بیع د دین (یعنی قرضے) سره د دین په میعاد باندے په دے طریقه باندے چه یو کپړه معلوم الصفت قرض وی بیا هغے لره د یو غلام معلوم الصفت په بدله خرڅه کړی نو کچرے نقد نے خرڅه کړی خو جائز ده. یا هغه محمول دے په اجناس مختلفه باندے ولے چه په دے کښې کمے زیاتے سود نهٔ بنائی بلکه قرض سُود دے. یا هغه مجمل دے او د ابوسعید او عباده حدیث مبین دے او عمل په مبین باندے واجب دے انتهی مختصراً

عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا وَمُؤْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ وَقَالَ هُمْ سَوَاءٌ

د حضرت جابر نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ لعنت وئيلے دے په سُود خوړونكي باندے او په سُود خورونكي باندے. او د سُود په ليكونكي باندے او د سُود په گواهانو باندے اوفرمائيلي ئے دي چه هغه ټول برابر دي[1].

بَاب أَخْذِ الْحَلَالِ وَتَرْكِ الشُّبُهَاتِ

باب : د حلالو د حاصلولو او د شك والا ثيزونو د پريخودو بيان

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَأَهْوَى النُّعْمَانُ بِإِصْبَعَيْهِ إِلَى أُذُنَيْهِ إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ كَالرَّاعِي يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيهِ أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ

د نعمان بن بشير نه روايت دے وائي چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي (او اشاره اوكړه) نعمان په خپلو گوتو سره ددواړو غوږونو په طرف چه حضرت ﷺ فرمائيلي دي چه بيشكه حلال ښكاره دي او حرام هم ښكاره دي. ليكن د حرامو او حلالو په مينځ كښ داسے ثيزونه دي چه هغه د دواړو سره ميلاويږي يعني په هغے شبهه دے چه ډير خلق ئے نۀ پيژني. پس څوك چه د شبهو نه بچ پاتےشو هغه خپل دين او آبرو سلامته يوړه او څوك چه په شبهو كښ پريوتۀ هغه آخر په حرامو كښ هم پريوتو لكه هغه څرونكے چه رمه د يوے ممنوعه زمكےپه خواؤشا كښ څروي نو د هغۀ څاروي به پۀ دغه ممنوعه زمكه كښ هم څريږي خبردار د هر بادشاه يوه ورشو وي خبردار د الله تعالى ورشو د هغۀ حرام كړي شوي ثيزونه دي. پوهه شئ چه بيشكه په بدن كښ د غوښے يوه ټكړه ده. كچرے هغه ښائسته وه نو ټول بدن به ښائسته وي او كچرے هغه خرابه شوه نو ټول بدن خراب شو ياد

[1] يعني په گناه كښ معاذ الله. نووي وئيلي دي چه دد دے حديث نه دا معلومه شوه چه په باطل او حرامو باندے مدد كول هم حرام دي اوس چه كوم مولوي او منصف د سود فيصله كوي. او سود وركوي. يا چه كوم اهلكار او منشي چه د سُود حساب كتاب ليكي هغه هم ملعون او مردود دي دد دے نه هغوي لره توبه كول پكار دي او په داسے نوكرئ باندے خاورے اچول پكار دي.

ساتۍ هغه ټکړه زړهٔ دے[1].

عَنْ نُعْمَانِ بْنِ بَشِيرِ بْنِ سَعْدٍ صَاحِبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ النَّاسَ بِحِمْصَ وَهُوَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ زَكَرِيَّاءَ عَنِ الشَّعْبِيِّ

د نعمان بن بشير بن سعد نه روايت دے چه صحابي وو د رسول الله ﷺ او هغهٔ خطبه اوروله خلقو ته په حمص کښې (دا د يو ښهر نوم دے په شام کښې) او اوئے وئيل چه ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلي ئے وو حلال ښکاره دي او حرام هم ښکاره شوي دي بيائے بيان کړو حديث په دغه شان لکه چه پورته تير شو. يُوشِكُ اَنْ

[1] نووي وئيلي دي علماؤ اجماع کړے ده چه دا حديث د ډير لوئے کار دے په دے کښې ډيرے فائدے دي. او دا په هغه حديثونو کښې يو حديث دے چه په هغے باندے د اسلام مدار دے. او يو جماعت وئيلي دي چه دا حديث د اسلام دريمه حصه ده. او دوه په دريو کښې دا دوه حديث دي اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ ، مِنْ حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَالَا يَعْنِيْهِ. او ابوداؤد سجستاني وئيلي دي چه د اسلام مدار په څلورو حديثونو باندے دے دريے دغه چه بيان شو او څلورم دا حديث دے "لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يُحِبَّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِه. او ځنو څلورم دا حديث وئيلے دے "اِزْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللهُ وَازْهَدْ مَا فِي اَيْدِي النَّاسِ يُحِبَّكَ النَّاسُ. علمائے کرامو د دے حديث د عظمت سبب دا بيان کړے دے چه رسول الله ﷺ په دے کښې د خوړلو څښلو او جامو وغيره د ټولو صحيح والے بيان کړے دے. او دائے هم فرمائيلي دي چه د شبهے د څيزونو نه پرهيز کول پکار دي ولے چه په دے سره د دين او د عزت دواړو سلامتي ده. او په شبهو کښې د غورځيدو نه ئے يره ورکړے ده او د هغے مثال ئے په ورشو سره ورکړے دے. بيائے بيان اوفرمائيلو د هغه څيز چه د انسان په بدن کښې د ټولو څيزونو نه لوئے دے هغه څهٔ دے؟ "زړهٔ" د دے په رنړا سره ټول بدن صحيح کيږي او د دے په ورانيدو سره ټول بدن ورانيږي. او دا چه کوم حضرت ﷺ اوفرمائيل چه مقرر حلال ښکاره دي. د دے مطلب دا دے چه په دنيا کښې درے قسمه کارونه او څيزونه دي. يو خو دا چه هغه صفا او ښکاره په ښکاره حلال دي. لکه ډوډۍ، ميوه، د خوړنو تيل، شهد، پئ د حلال ځناور، اګئ د حلال مارغهٔ وغيره او د دے نه سوا حلال خوراکونه دغه شان خبرے کول ليدل تلل وغيره دا ټول حلال دي. او د دے په حلال والي کښې څهٔ شك نشته دے. دويم هغه چه هغه صفا او ښکاره په ښکاره حرام دي. لکه شراب، او خنزير، مرداره، متيازے، بهيدلے وينه دغه شان زنا او دروغ او غيبت او چغلخوري، او پردئ ښځے ته کتل يا پردي سړي ته کتل او د دے پشان نور چه کوم کارونه دي. دريم هغه چه نه ښکاره حلال دي او نهٔ صفا صفا حرام دي په دے واسطه ډيرو خلقو ته د هغے علم نشته دے لکه عوامو ته. ليکن علماء د هغے حلت يا حرمت په څهٔ دليل سره رااوباسي بيا چه هر کله يو شے داسے وي او په هغے کښې څهٔ نص يا اجماع نهٔ وي نو مجتهد د هغے دپاره اجتهاد کوي. بيا هغے لره د حلالو سره ميلاو وي يا د حرامو سره په څهٔ دليل شرعي باندے. پس کچرے د حلالو سره ميلاؤ شو خو هغه شے حلال شو. او کله د حلت دليل داسے وي چه په هغے کښې احتمال وي نو تقوىٰ دا ده چه هغه شے پريږدے او هغه په دغه مضمون کښې داخل دے چه چا د شبهے څيزونو يا کارونو لره پريخوده هغه خپل دين او عزت سلامت يوړه. او په کومے کښې چه د مجتهد څهٔ خبره نهٔ وي ښکاره نو هغه به حلال وي يا حرام يا به په هغے کښې توقف وي. په دے باب کښې درے مذهبونه دي چه هغے لره قاضي عياض نقل کړي دي. او ظاهر دا دے چه په دے کښې به هغه حکم وي کوم چه په نورو اشياؤ کي دے. مخکښې د شرع د وارد کيدو نه. او په دے کښې څلور مذهبونه دي. صحيح مذهب دا دے چه نهٔ به دے ته حرام وئيلے شي نهٔ حلال او نهٔ مباح ولے چه د حق د خاوندانو په نز تکيف خاص د شرع نه ثابتيږي. دويم مذهب دا دے چه هغه حرام دے. دريم دا دے چه مباح دے. څلورم توقف. انتهىٰ ما قال النووي

اِلٰى قَوْلِهٖ يُوْشِكُ اَنْ يَّقَعَ فِيْهِ

يَقَعَ فِيْهِ پورے.

بَاب بَيْعِ الْبَعِيْرِ وَاسْتِثْنَاءِ رُكُوْبِهٖ

باب : د اوښ خرڅول او د سورلئ شرط كول

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّهٗ كَانَ يَسِيْرُ عَلٰى جَمَلٍ لَهٗ قَدْ اَعْيَا فَاَرَادَ اَنْ يُّسَيِّبَهٗ قَالَ فَلَحِقَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا لِيْ وَضَرَبَهٗ فَسَارَ سَيْرًا لَمْ يَسِرْ مِثْلَهٗ قَالَ بِعْنِيْهِ بِوُقِيَّةٍ قُلْتُ لَا ثُمَّ قَالَ بِعْنِيْهِ فَبِعْتُهٗ بِوُقِيَّةٍ وَاسْتَثْنَيْتُ عَلَيْهِ حُمْلَانَهٗ اِلٰى اَهْلِيْ فَلَمَّا بَلَغْتُ اَتَيْتُهٗ بِالْجَمَلِ فَنَقَدَنِيْ ثَمَنَهٗ ثُمَّ رَجَعْتُ فَاَرْسَلَ فِيْ اَثَرِيْ فَقَالَ اَتُرَانِيْ مَاكَسْتُكَ لِاٰخُذَ جَمَلَكَ خُذْ جَمَلَكَ وَدَرَاهِمَكَ فَهُوَ لَكَ

د جابر بن عبدالله نه روايت دے هغه روان وو په يو اوښ باندے چه ستړے شوے وو. هغوى غوښتل هغۀ لره آزادول (يعنى پريخودل په ځنګل كښې) جابر وائى رسول الله ﷺ ځما سره راغے ميلاؤ شو او ځما دپاره ئے دُعا اوكړه او اوښ ئے اووهو. بيا هغه داسے روان وو چه دلته چرته نۀ وو تلے (دا د هغوى معجزه وه) حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل دا په ما راخرڅ كړه په يوه اوقيه باندے (په بل روايت كښې پنځۀ اوقيے دى او يوه اوقيه ئے زياته وركړه. او په يو روايت كښې دوه اوقيے او يو درهم يا دوه درهمه دى. او په يو روايت كښې د سونے يوه اوقيه او په يو روايت كښې څلور ديناره. او بخارى په يو روايت كښې اته سوه درهم او په يو روايت كښې شل ديناره او په يو روايت كښې ئے څلور اوقيے نقل كړے دى) ما اووے نه بيا هغوى اوفرمائيل دا په ما را خرڅ كړه په يوه اوقيه باندے. پس په هغوى ئے ورخرڅ كړو او دا شرط ئے ورسره اوكړو چه زۀ به پرے د كوره پورے سورلى كوم. هر كله چه زۀ خپل كورته رااورسيدم نو اوښ مے د هغوى خواته راوستۀ او راغلم. حضرت ﷺ د هغے قيمت ماته حواله كړو او زۀ واپس شوم. بيا هغوى په ما پسے قاصد رااوليږو او اوئے فرمائيل ولے ما ستا نه قيمت كمولو ستا د اوښ د اخستو دپاره خپل اوښ واخله او روپۍ هم ستا شوے[1].

---

[1]: دا ادنى نمونه ده د حضرت ﷺ د سخاوت او احسان. امام نووى وئيلى دى چه امام احمد او د هغوى موافقينو د دے حديث نه دليل نيولے دے چه د څناور بيعه په دے شرط سره صحيح ده چه مالك خپله سورلى په هغۀ باندے كيږدى. او د امام مالك په نز دا شرط جائز دے. هر كله چه فاصله د سورلئ لږه وى. او د شافعى او ابوحنيفه او د باقى علماؤ په نز دا شرط جائز نۀ دے خواه كۀ مسافت لږ وى يا ډير او د جابر د حديث ئے دا تاويل كړے دے چه حضرت ﷺ ته اخستل منظور نۀ وو صرف په جابر باندے احسان كول ورته منظور وو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَلَاحَقَ بِي وَتَحْتِي نَاضِحٌ لِي قَدْ أَعْيَا وَلَا يَكَادُ يَسِيرُ قَالَ فَقَالَ لِي مَا لِبَعِيرِكَ قَالَ قُلْتُ عَلِيلٌ قَالَ فَتَخَلَّفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَزَجَرَهُ وَدَعَا لَهُ فَمَا زَالَ بَيْنَ يَدَيِ الْإِبِلِ قُدَّامَهَا يَسِيرُ قَالَ فَقَالَ لِي كَيْفَ تَرَى بَعِيرَكَ قَالَ قُلْتُ بِخَيْرٍ قَدْ أَصَابَتْهُ بَرَكَتُكَ قَالَ أَفَتَبِيعُنِيهِ فَاسْتَحْيَيْتُ وَلَمْ يَكُنْ لَنَا نَاضِحٌ غَيْرُهُ قَالَ فَقُلْتُ نَعَمْ فَبِعْتُهُ إِيَّاهُ عَلَى أَنَّ لِي فَقَارَ ظَهْرِهِ حَتَّى أَبْلُغَ الْمَدِينَةَ قَالَ فَقُلْتُ لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي عَرُوسٌ فَاسْتَأْذَنْتُهُ فَأَذِنَ لِي فَتَقَدَّمْتُ النَّاسَ إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى انْتَهَيْتُ فَلَقِيَنِي خَالِي فَسَأَلَنِي عَنِ الْبَعِيرِ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا صَنَعْتُ فِيهِ فَلَامَنِي فِيهِ قَالَ وَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِي حِينَ اسْتَأْذَنْتُهُ مَا تَزَوَّجْتَ أَبِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا فَقُلْتُ لَهُ تَزَوَّجْتُ ثَيِّبًا قَالَ أَفَلَا تَزَوَّجْتَ بِكْرًا تُلَاعِبُكَ وَتُلَاعِبُهَا فَقُلْتُ لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ تُوُفِّيَ وَالِدِي أَوِ اسْتُشْهِدَ وَلِي

د جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے ما جهاد کوو د رسول اللهﷺ سره نو هغوی خما سره میلاؤ شو (په لاره کښې) او خما په سورلئ کښې یو اوښ وو د اوبو هغه ستړے شوے وو او بالکل نۀ شو تلے. حضرتﷺ تپوس اوکړو ستا اوښ له څۀ شوی دی؟ ما عرض اوکړو چه هغه بیمار دے. د دے په اوریدو سره رسول اللهﷺ روستو راواګرځیدو او هغه اوښ ئے وتومبل (ووهل) او د هغه دپاره ئے دُعا اوکړه. بیا به هغه همیشه د ټولو اوښانو نه مخکښې روان وو. پس حضرتﷺ اوفرمائیل اوس ستا اوښ څنګه دے؟ ما اووے ښۀ دے ستاسو د دُعا په برکت سره. حضرتﷺ اوفرمائیل په ما ئے راخرڅوے. ماله شرم راغے. او خما سره بل یو اوښ د اوبو د راوړو دپاره نۀ وو آخر ما اووے آو. خرڅوم ئے. بیا ما هغه اوښ په هغوی باندے خرڅ کړو په دے شرط چه زۀ به پرے د مدینے پورے سورلی کوم. بیا ما عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ ما اوس اوس وادۀ کړے دے ما ته اجازت راکړه (د خلقو نه مخکښې مدینے ته د تلو) حضرتﷺ اجازت راکړو او زۀ د خلقو نه مخکښې شوم مدینے ته راورسیدم. هلته خما سره خما ماما میلاؤ شو او د اوښ د حال تپوس ئے اوکړو. ما ورته ټول حال بیان کړو. هغوی زۀ ملامته کړم چه دغه یو اوښ وو ستا سره او کور والا ډیر دی او هغه هم تا خرڅ کړو (او هغوی ته دا معلومه نۀ وه چه الله تعالی ته د جابر فائده منظوره ده) جابر فرمائی کله چه ما د حضرتﷺ نه اجازت غوښتو نو حضرتﷺ اوفرمائیل چه تا جینئ وادۀ کړے ده یا نکاح شوے؟ ما اووے نکاح شوے. حضرتﷺ اوفرمائیل جینئ دِ ولے نۀ کوله؟ چه هغے ستا سره لوبے کولے او تا د هغے سره. ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ خما پلار مړ دے یا شهید شوے دے. خما خوئندے وړے وړے پاتے دی.

أَخَوَاتٌ صِغَارٌ فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَزَوَّجَ إِلَيْهِنَّ مِثْلَهُنَّ فَلَا تُؤَدِّبُهُنَّ وَلَا تَقُومُ عَلَيْهِنَّ فَتَزَوَّجْتُ ثَيِّبًا لِتَقُومَ عَلَيْهِنَّ وَتُؤَدِّبَهُنَّ قَالَ فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ غَدَوْتُ إِلَيْهِ بِالْبَعِيرِ فَأَعْطَانِي ثَمَنَهُ وَرَدَّهُ عَلَيَّ

نو ماته بده معلومیده چه زهٔ دِ وادهٔ اوکړم او یوه جینئ دِ کورته راولم د هغوی برابر چه هغه خو نهٔ هغوی ته ادب خودلے شی او نهٔ ئے دباو ولے شی ځکه ما د یوے نکاح شوے سره وادهٔ اوکړو دے دپاره چه دوی ته ادب او تمیز اوښائی. جابر وائی بیا چه هر کله رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راوړو نو ما ورله اوښ سحر وختی اورسوو. حضرت ﷺ د هغے قیمت ما ته راکړو. او اوښ ئے راته هم واپس کړو.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَقْبَلْنَا مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاعْتَلَّ جَمَلِي وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ وَفِيهِ ثُمَّ قَالَ لِي بِعْنِي جَمَلَكَ هٰذَا قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ هُوَ لَكَ قَالَ لَا بَلْ بِعْنِيهِ قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ هُوَ لَكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ لَا بَلْ بِعْنِيهِ قَالَ قُلْتُ فَإِنَّ لِرَجُلٍ عَلَيَّ أُوقِيَّةَ ذَهَبٍ فَهُوَ لَكَ بِهَا قَالَ قَدْ أَخَذْتُهُ فَتَبَلَّغْ عَلَيْهِ إِلَى الْمَدِينَةِ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبِلَالٍ أَعْطِهِ أُوقِيَّةً مِنْ ذَهَبٍ وَزِدْهُ قَالَ فَأَعْطَانِي أُوقِيَّةً مِنْ ذَهَبٍ وَزَادَنِي قِيرَاطًا قَالَ فَقُلْتُ لَا تُفَارِقُنِي زِيَادَةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَكَانَ فِي كِيسٍ لِي فَأَخَذَهُ أَهْلُ الشَّامِ يَوْمَ الْحَرَّةِ

د حضرت جابر نه روایت دے مونږ خلق د مکے نه مدینے ته د رسول الله ﷺ سره راغلو نو ځما اوښ بیمار شو او بیان ئے کړو حدیث لره د پورے قصے سره. او په دے روایت کښې دادی چه بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په ما باندے دا خپل اوښ راخرڅ کړه. ما اووے هغه ستاسو دے یا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائیل نه په مائے راخرڅ کړه. ما اووے نه هغه ستاسو دے یا رسول الله! حضرت ﷺ اوفرمائیل نه په ما باندے ئے راخرڅ کړه. ما اووے. په ما باندے د یو سړی یو اوقیه سرهٔ زر دی. تاسو د یوے اوقیے سروزرو په بدله دا اوښ واخلئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل ما واخستو پس چه ته اورسے په دے باندے د مدینے پورے. جابر وائی هر کله چه زهٔ مدینے ته راغلم نو جناب رسول الله ﷺ بلال ته اوفرمائیل ده له یوه اوقیه د سونے ورکړه او څهٔ زیات ورله ورکړه نو بلال ماته یوه اوقیه د سونے راکړه او یو قیراط ئے زیات راکړو. ما اووے دا کوم چه رسول الله ﷺ ما ته زیات راکړی دی دا به همیشه ځما سره وی (په طور د تبرک) نو په یوه تهیلئ کښې هغه ځما سره وو تر دے پورے چه شام والاؤ یوم الحره واخستو[1]

[1] یوم الحره هغه ورځ ده هر کله چه د شام د ملك اوسیدونکو د یزید بادشاهئ کښې په مدینه منوره حمله اوکړه او مدینے والاؤ لره ئے قتل او لوټ کړی وو. دا واقعه په کال ٦٣ هجری کښې شوی وه.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَتَخَلَّفَ نَاضِحِي وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَقَالَ فِيهِ فَنَخَسَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ لِي ارْكَبْ بِاسْمِ اللهِ وَزَادَ أَيْضًا قَالَ فَمَا زَالَ يَزِيدُنِي وَيَقُولُ وَاللهُ يَغْفِرُ لَكَ

د جابر بن عبد الله رضه نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو په سفر کښې نو زما اوښ ورستو پاتے شو او بیان ئې کړو حدیث لره اووائی په دے کښې سُوك ورکړو هغهٔ ته رسول الله ﷺ. بیائے ما ته اووے د الله تعالی نوم واخله سور شهٔ او دائے هم زیاته کړے ده چه حضرت ﷺ به ما ته زیات راکولو او په تلو کښې به ئې فرمائیل الله دِ اوبخښی تا لره.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا أَتَى عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ أَعْيَا بَعِيرِي قَالَ فَنَخَسَهُ فَوَثَبَ فَكُنْتُ بَعْدَ ذٰلِكَ أَحْبِسُ خِطَامَهُ لِأَسْمَعَ حَدِيثَهُ فَمَا أَقْدِرُ عَلَيْهِ فَلَحِقَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بِعْنِيهِ فَبِعْتُهُ مِنْهُ بِخَمْسِ أَوَاقٍ قَالَ قُلْتُ عَلَى أَنَّ لِي ظَهْرَهُ إِلَى الْمَدِينَةِ قَالَ وَلَكَ ظَهْرُهُ إِلَى الْمَدِينَةِ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ أَتَيْتُهُ بِهِ فَزَادَنِي وُقِيَّةً ثُمَّ وَهَبَهُ لِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر نه روایت دے وائی چه کله رسول الله ﷺ زما خواله راغے. او زما اوښ کمزورے شوے وو حضرت ﷺ هغهٔ له ګزار ورکړو هغه په توپونو شو ددے نه پس به ما د هغهٔ واګے راښکودے چه د حضرت ﷺ خبرے اورم.لیکن هغه مے قابو کولے نهٔ شو (دومره تیز تلو) آخر رسول الله ﷺ زما سره راغے میلاؤ شو او دائے اوفرمائیل دا په ما راخرڅ کړه ما د هغوی په لاس خرڅ کړو په پنځهٔ اوقیه باندے او ما ورسره دا شرط اوکړو چه د مدینے منورے پورے به زهٔ په دهٔ باندے سورلی کوم حضرت ﷺ اوفرمائیل د مدینے پورے پرے تهٔ سور لاړ شه. هر کله چه زهٔ مدینے ته اورسیدم نو هغه اوښ مے د حضرت ﷺ په خدمت کښې راوستو راغلم حضرت ﷺ یوه اوقیه بله زیاته راکړه. او اوښ ئې راته هم اوبخښلو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَافَرْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ أَظُنُّهُ قَالَ غَازِيًا وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ وَزَادَ فِيهِ قَالَ يَا جَابِرُ أَتَوَفَّيْتَ الثَّمَنَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ لَكَ الثَّمَنُ وَلَكَ الْجَمَلُ لَكَ الثَّمَنُ وَلَكَ الْجَمَلُ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے وائی چه ما سفر اوکړو د رسول الله ﷺ سره.راوی وائی چه جابر کیدے شی چه د جهاد سفر کړے وی بیا ئې بیان کړه تول قصه دومره پکښې زیاته ده چه حضرت ﷺ اوفرمائیل اے جابر تا قیمت اوموندو. جابر اووے آو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل قیمت واخله او اوښ هم واخله قیمت واخله او اوښ هم واخله

عَنْ جَابِرِ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ اشْتَرَى مِنِّي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعِيرًا بِوُقِيَّتَيْنِ وَدِرْهَمٍ أَوْ دِرْهَمَيْنِ قَالَ فَلَمَّا قَدِمَ صِرَارًا أَمَرَ بِبَقَرَةٍ فَذُبِحَتْ فَأَكَلُوا مِنْهَا فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ أَمَرَنِي أَنْ آتِيَ الْمَسْجِدَ فَأُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ وَوَزَنَ لِي ثَمَنَ الْبَعِيرِ فَأَرْجَحَ لِي

د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ یو اوښ خما نه واخستو په دوه اوقیه او په یو درهم یا په دوه درهمه بیا چه هر کله حضرت ﷺ صراء (دا د یو مقام نوم دے د مدینے منورے په خوا کښې او خطابی وئیلی دی هغه یو کوهے دے د مدینے نه درے میلمیره ته د عراق په لاره باندے او څنو دے لره په ضرار ضادِ معجمه سره لوستلے دے او هغه خطا دے) ته اورسیدو نو د یوے غوا د ذبح کولو حکم ئے اوکړو. هغه ذبح شوه او ټولو خلقو د هغے غوښه اوخوړه. هر کله چه حضرت مدینے منورے ته راغے نو حکم ئے اوکړو ما ته جماعت ته د تلو او دوه رکعته مونځ کولو. او د اوښ قیمت ئے ماته تول کړو او زیات ئے راکړو.[1]

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَاشْتَرَاهُ مِنِّي بِثَمَنٍ قَدْ سَمَّاهُ وَلَمْ يَذْكُرِ الْوُقِيَّتَيْنِ وَالدِّرْهَمَ وَالدِّرْهَمَيْنِ وَقَالَ أَمَرَ بِبَقَرَةٍ فَنُحِرَتْ ثُمَّ قَسَمَ لَحْمَهَا

د جابر بن عبد الله نه روایت دے دغه قصه کومه چه پورته تیره شوه په دے کښې دادی چه رسول الله ﷺ هغه اوښ خما نه واخستو په هغه قیمت باندے کوم چه هغوی مقرر کړے وو. او نۀ ئے د اوقیے ذکر کړے دے نۀ د یو درهم نۀ د دوه درهمو او وئیلی ئے دی چه حضرت ﷺ حکم اوکړو د یوے غوا د قربانۍ کولو او بیائے د هغے غوښے (په ټولو) اووېشلے.

عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لَهُ قَدْ أَخَذْتُ جَمَلَكَ

د جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائیل ما ستا اوښ په

---

[1]: نووی وائی د دے حدیث نه معلومه شوه چه غوا ذبح کول اولی دی د نحر نه او نحر یعنی قربانی هم جائز ده. او دا هم معلومه شوه چه څوك د سفر نه واپس راشی هغۀ له مخکښې جماعت ته تلل او دوه رکعته مونځ ادا کول مستحب دی. او دا هم معلومه شوه چه د ورځے هم د نفلو دغه دوه رکعتونه کول پکار دی لکه څنګه چه د شپے. او زمونږه او د جمهورو دغه قول دے. او د دے بیان په کتاب الصلوة کښې تیر شوے دے. او د دے حدیثونو نه ډیرے فائدے معلومے شوے. یو خو لویه معجزه د رسول الله ﷺ چه کمزورے او مانده اوښ ئے په یو دم د الله په حکم چاق او چست کړو. دویم سوال کول د بیع د شی د مالك نه. (چه د فلانی وخته یا څائے پورے به خما وی). دریم د خپلو ما تحت خلقو د حال تپوس کول او د هغوی حالت معلومول او هغوی له نیکه مشوره ورکول. پنځم د جینۍ سره نکاح مستحب کیدل (چه مخکښې ئے نکاح نۀ وی شوے). شپږم د خپلے بی بی سره د لوبو کولو استحباب. اووم د جابر فضیلت چه هغوی د خپل نفس خواهش پریخودو او د خویندو تعلیم ئے مد نظر اوساتو. اتم د سفر نه د راتلو په موقع رومبے جماعت ته د تلو او دوه رکعته نفل مونځ کولو استحباب. نهم د نیکے لارے د خودنے استحباب. لسم د معاملے د فیصلے نه پس زیات قیمت ورکولو ثواب. یوولسم د ثمن د وزن اجرت په بائع باندے کیدل. دولسم د صالحینو د اثر نه د برکت د حاصلولو جواز. دیارلسم د لښکر څنے خلقو نه د اجازت اخستلو او واپس کیدو جواز. څوارلسم د وکالت جواز د حقوقو په ادا کولو کښې. انتهٰی ما قال النووی.

بِأَرْبَعَةِ دَنَانِيرَ وَلَكَ ظَهْرُهُ إِلَى الْمَدِينَةِ

څلور دیناره واخستو او ته په دے باندے سورلۍ شه د مدینے پورے

بَابُ جَوَازِ اقْتِرَاضِ الْحَيَوَانِ وَاسْتِحْبَابِ تَوْفِيَتِهِ خَيْرًا مِمَّا عَلَيْهِ

باب : د څناورو قرض اخستل صحیح دی او د هغے نه ښهٔ ورکول مستحب دی

عَنْ أَبِي رَافِعٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَسْلَفَ مِنْ رَجُلٍ بَكْرًا فَقَدِمَتْ عَلَيْهِ إِبِلٌ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ فَأَمَرَ أَبَا رَافِعٍ أَنْ يَقْضِيَ الرَّجُلَ بَكْرَهُ فَرَجَعَ إِلَيْهِ أَبُو رَافِعٍ فَقَالَ لَمْ أَجِدْ فِيهَا إِلَّا خِيَارًا رَبَاعِيًا فَقَالَ أَعْطِهِ إِيَّاهُ إِنَّ خِيَارَ النَّاسِ أَحْسَنُهُمْ قَضَاءً

د ابورافع نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د یو سړی نه د اوښ بچے قرض واخستو (یعنی د شپږو کالونه کم) بیا حضرت ﷺ له د صدقے اوښان راغلل. حضرت ﷺ ابورافع ته حکم اوکړو دهغهٔ د اوښ د ادا کولو. ابورافع د حضرت ﷺ خواله واپس په جلتئ راغے او اوئے وئیل چه د صدقے په اوښانو کښې (د هغے شان یو بچے) نشته د هغے نه بهتر پوره د اوؤ کالو اوښان دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل دغه دهٔ له ورکړه. ښهٔ هغه خلق دی چه هغه قرض په ښهٔ طریقه ادا کړی.

عَنْ أَبِي رَافِعٍ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْتَسْلَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكْرًا بِمِثْلِهِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَإِنَّ خَيْرَ عِبَادِ اللهِ أَحْسَنُهُمْ قَضَاءً

د ابورافع نه روایت دے چه ازاد کړے غلام وو د رسول الله ﷺ وائی چه رسول الله ﷺ د یو اوښ ځوان بچے قرض واخستو. بیائے بیان اوکړو د وړاندے په شان په دے کښې دادي چه حضرت ﷺ اوفرمائیل غوره بندیگان د الله هغه دی چه هغه په ښهٔ شان سره قرض ادا کړی[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ لِرَجُلٍ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقٌّ فَأَغْلَظَ لَهُ فَهَمَّ بِهِ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا فَقَالَ لَهُمْ

د ابوهریره نه روایت دے د یو سړی په رسول الله ﷺ باندے قرض وو. هغهٔ حضرت ﷺ ته په سخته اووے. صحابوؓ هغهٔ ته د سزا ورکولو اراده اوکړه. حضرت ﷺ اوفرمائیل بیشکه د صاحب حق دپاره وینا پکار ده (دا اخلاق دلیل دے د نبوت) بیا حضرت ﷺ خپلو صحابوؓ ته اوفرمائیل یو اوښ

[1] نووی وئیلی دی چه د څناور په قرض اخستو کښې درے مذهبه دی. یو خو د شافعي او مالك او د جمهور علماؤ دے چه د ټولو څناورو قرض اخستل صحیح دی. مګر وینځے د هغه سړی لره قرض اخستل صحیح نهٔ دی چه هغه د هغے سره جماع کوی. او چه جماع نهٔ دی کړے لکه د هغے محرم یا ښځه خنثی نو صحیح دی. او دویم مذهب د مزنی او ابن جریر او د داوؤد دے چه وینځے له قرض ورکول هم صحیح دی. دغه شان د ټولو حیواناتو. دریم مذهب د ابوحنیفه او اهل کوفو چه د یو څناور قرض اخستل صحیح نهٔ دی دا دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د قرض ادا کولو په وخت د هغے نه زیات ورکول مستحب دی او یو ښکلے صفت دے او دا منع نهٔ دی ولې چه بلا شرط دی. او منع هغه دی چه په هغے کښې شرط اوکړے شی. انتهی مختصراً

اشْتَرُوا لَهُ سِنًّا فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ فَقَالُوا إِنَّا لَا نَجِدُ إِلَّا سِنًّا هُوَ خَيْرٌ مِنْ سِنِّهِ قَالَ فَاشْتَرُوهُ فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ فَإِنَّ مِنْ خَيْرِكُمْ أَوْ خَيْرَكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً

واخلئ دهٔ اهوړ کړئ هغوی لوو ے. مونږ سره خو ددهٔ د اوښ نه غوره د ے حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه واخلئ او دهٔ له ورکړئ ځکه چه بهتر په تاسو کښې هغه خلق دی چه هغه قرض په ښه طریقه ادا کړی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ اسْتَقْرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِنًّا فَأَعْطَى سِنًّا فَوْقَهُ وَقَالَ خِيَارُكُمْ مَحَاسِنُكُمْ قَضَاءً

د حضرت ابوهریره نه روایت د ے چه رسول الله ﷺ یو اوښ قرض واخستو. بیائے د هغهٔ نه غټ اوښ ورکړو. او و ے فرمائیل چه بهتر په تاسو کښې هغه خلق دی چه هغه په ښه طریقه قرض ادا کوی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ يَتَقَاضَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعِيرًا فَقَالَ أَعْطُوهُ سِنًّا فَوْقَ سِنِّهِ وَقَالَ خَيْرُكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً

د ابوهریره نه روایت د ے وائی چه یو سړے د جناب رسول الله ﷺ خواله د خپل اوښ تقاضا کونکے راغے. حضرت ﷺ اوفرمائیل د هغے نه غوره اوښ دهٔ له ورکړئ او اوئے فرمائیل ښهٔ په تاسو کښې هغه د ے چه هغه قرض په ښهٔ طریقه ادا کړی.

بَابُ جَوَازِ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ مِنْ جِنْسِهِ مُتَفَاضِلًا

باب: د یو جنس ځناور د ځناور په بدل کم زیات خرڅول صحیح دی

عَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَ عَبْدٌ فَبَايَعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَلَمْ يَشْعُرْ أَنَّهُ عَبْدٌ فَجَاءَ سَيِّدُهُ يُرِيدُهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعْنِيهِ فَاشْتَرَاهُ بِعَبْدَيْنِ أَسْوَدَيْنِ ثُمَّ لَمْ يُبَايِعْ أَحَدًا بَعْدُ حَتَّى يَسْأَلَهُ أَعَبْدٌ هُوَ

د جابر نه روایت د ے وائی چه یو غلام راغے. او هغه بیعت د رسول الله ﷺ نه په هجرت باند ے اوکړو. حضرت ﷺ ته معلومه وه چه دا غلام د ے. بیا د هغهٔ مالك راغے د هغهٔ د اخستو دپاره. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل دهٔ لره په ما راخرڅ کړه. حضرت ﷺ دوه تور غلامان ورکړل او هغه ئے واخستو. د د ے نه پس به د هیچا نه حضرت ﷺ بیعت نهٔ اخستو د کوم پور ے چه به ئے تر ے داتپوس نهٔ وو کړ ے چه غلام د ے (یا آزاد د ے) هغه[1]

---

[1] نووی وئیلی دی د هغهٔ مالك به هم مسلمان وو ځکه چه هغهٔ د دوو نورو غلامانو په بدله خرڅ کړل او ظاهر دا ده چه هغه غلام به هم مسلمان وو او ناجائز ده د مسلمان غلام بیع د کافر په لاس. او احتمال د ے چه د هغهٔ مالك کافر وو. او دغه دواړو تور غلامان هم کافر وو او دد ے نه د حضرت ﷺ د اخلاقو کمال ثابتیږی. حضرت ﷺ دا غوره نهٔ کړه چه هغه غلام چا چه بیعت کړ ے وو او د حضرت ﷺ صحبت ئے غوښتو ناأمیده واپس کړ ے شی. او دا هم ثابته شوه چه د یو غلام بیعه د دوه غلامانو په بدله صحیح ده. خواه کهٔ قیمت ئے برابر وی یا کم زیات. او په د ے باند ے اجماع ده د علماؤ هر کله چه لاس په لاس بیعه وی. او دغه حکم د ے د ټولو ځناورو. او کهٔ څوك ئے قرض خرڅ کړی نو خم جائز دی د شافعی او جمهورو علماؤ په نز. او د ابوحنیفه او اهل کوفو په نز جائز نهٔ دی.

بَابُ الرَّهْنِ وَجَوَازِهِ فِي الْحَضَرِ كَالسَّفَرِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اشْتَرَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ يَهُودِيٍّ طَعَامًا بِنَسِيئَةٍ فَأَعْطَاهُ دِرْعًا لَهُ رَهْنًا

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اشْتَرَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ يَهُودِيٍّ طَعَامًا وَرَهَنَهُ دِرْعًا مِنْ حَدِيدٍ

باب : گانړه ايخودل په سفر او حضر دواړو كښې جائز دى

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې صديقې نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ د يو يهودى نه غله واخسته په قرض. بيا حضرت ﷺ زغره د هغۀ سره گانړه كيښوده.

د مؤمنانو د مور حضرت عائشې صديقې نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ د يو يهودى نه غله واخسته. او خپله د اوسپنې زغره ئې د هغۀ سره گانړه كيښوده[1].

بَابُ السَّلَمِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَهُمْ يُسْلِفُونَ فِي الثِّمَارِ السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ فَقَالَ مَنْ أَسْلَفَ فِي تَمْرٍ فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ وَوَزْنٍ

باب : د بيع سلم بيان[2]

د عبد الله بن عباس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ مدينې ته تشريف راوړو او خلقو به سلف كولو په ميوۀ كښې د يو كال دوو دپاره. پس حضرت ﷺ اوفرمائيل څوك چه سلف كوى په كهجورو كښې نو سلف د كوى په مقرر ناپ (پيمانه) كښې يا په تول كښې د

---

[1] نووى وئيلى دى ددے حديث نه دا معلومه شوه چه د ذمى كافرانو سره معامله كول صحيح دى. او كوم مال چه د هغوى په لاس كښې دے هغه به د هغوى په ملك كښې وى. او دا هم بيان دے كوم چه رسول الله ﷺ ته ددنيا كمے وو. او فقيرئ ته ئې رغبت وو. او دا هم معلومه شوه چه رهن يعنى گانړه ايخودل جائز دى. دغه شان جنگى سامان د ذمى كافرانو سره رهن كول جائز دى. او رهن په حالت د حضر كښې جائز دى. او دغه قول دے د شافعى او مالك او ابوحنيفه او احمد او د اكثرو علماؤ. مگر مجاهد او داؤد دا وئيلى دى چه رهن صرف په سفر كښې صحيح دے په دليل ددے ايت " وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَى سَفَرٍ " د آخره پورے. او د جمهورو دليل دا حديث دے. او د يهودى سره ددے معاملے كولو وجه دغه وه چه جواز ددے معلوم وى. يا به د نورو صحابؤ سره په دغه وخت د هغوى د حاجت نه زيات غله نۀ وه. او خنو وئيلى دى. ددے وجے نه چه صحابه كرامو د هغوى رهن نۀ قبلوۀ او د هغوى نه ئې قيمت نۀ اخستو. څكه حضرت ﷺ د يهودى سره معامله كړے وه. او اجماع كړے ده مسلمانانو د اهل ذمه سره د معاملے كولو په جواز باندے. ليكن مسلمان له روا نۀ دى د حربى كافرانو په لاس اسلحه او د جنگ سامان خرڅول نۀ د قرآن هديه كول. نۀ مسلمان غلام د كافر په لاس خرڅول.

[2] سلم او سلف او قرض هغه بيعے ته وئيلے شى چه په هغے كښې قيمت پيشكى وركولے شى او د مال وركولو دپاره يو معينه موده وى. يا په دغه وخت اخستلے كيږى او اتفاق كړے دے اهل اسلام ددے په جواز باندے.

مَعلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعلُومٍ

میعاده پوره[1].

عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ يُسلِفُونَ فَقَالَ لَهُم رَسُولُ اللهِ ﷺ مَن أَسلَفَ فَلَا يُسلِفُ إِلَّا فِي كَيلٍ مَعلُومٍ وَوَزنٍ مَعلُومٍ

د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ تشریف راوړو او خلقو سلف کولو .نو حضرت ﷺ اوفرمائیل دوی ته چه څوك سلف کوی هغه د په معین ناپ کښې او معین تول کښې کوی.

بَاب تَحرِيمِ الاِحتِكَارِ فِي الأَقوَاتِ

باب: احتکار (ذخیره اندوزی کول دپاره د خرڅولو) د انسان او د څناورو په خوراك کښې حرام دے[2]

عَن يَحيَى وَهُوَ ابنُ سَعِيدٍ قَالَ كَانَ سَعِيدُ بنُ المُسَيَّبِ يُحَدِّثُ أَنَّ مَعمَرًا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَنِ احتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ فَقِيلَ لِسَعِيدٍ فَإِنَّكَ تَحتَكِرُ قَالَ سَعِيدٌ إِنَّ مَعمَرًا الَّذِي كَانَ يُحَدِّثُ هَذَا الحَدِيثَ كَانَ يَحتَكِرُ

د یحیی بن سعید نه روایت دے چه سعید ابن المسیب روایت کولو چه معمر بیان کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه احتکار کوی هغه ګنهګار دے. خلقو سعید بن المسیب ته اووے چه ته خو پخپله احتکار کوے. هغوی اووے. معمر چا چه دا حدیث روایت کړے دے هغوی هم احتکار کولو[3].

عَن مَعمَرِ بنِ عَبدِ اللهِ عَن رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ لَا يَحتَكِرُ إِلَّا خَاطِئٌ

د معمر بن عبد الله نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی احتکار به نۀ کوی مګر ګنهګار.

---

[1]: یعنی سلم جائز دے په دے شرط چه د کوم مال دپاره سلم اوکړے شی چه د هغے مقدار معلوم وی په ناپ یا تول یا ګز یا شمار سره ناپ تول په میوؤ او غلو وغیره کښې. ګز په کپړو کښې. او شمار په څناورو کښې. دغه شان کۀ میعاد مقرر کړی نو چه هغه هم معلوم وی دے نه دا غرض نۀ دے چه د میعاد کیدل په سلم کښې ضروری دے. بلکه بے د میعاد نه هم سلم صحیح دے. د شافعی دغه قول دے او د امام مالك او ابوحنیفه په نز د میعاد کیدل ضروری دی. (نووی مختصراً)

[2]: د احتکار معنی غله یا وابنۀ دانه وغیره اخستل بیا هغے لره ایخودل د ګرانئ په وخت کښې د خرڅولو دپاره. دا حرام دی په هغه څیزونو کښې چه هغه د څناورو یا د بنیادمو خوراك دی په دے شرط چه د ګرانئ په زمانه کښې ئے واخلی او د تجارت دپاره ئے واخلی. او څوك چه ئے د خپل کور والاؤ دپاره واخلی نو حرام نۀ دی. دغه شان په هغه څیزونو کښې چه هغه د خوراك نۀ دی (نووی مختصراً)

[3]: ابن عبد البر وئیلی دی دے دواړو سړو به د تیلو احتکار کولو او هغه حرام نۀ دے یا ئے هغه احتکار کوو چه کوم جائز دے. مثلاً هغه وخت چه ګرانی یا احتیاج نۀ وی ځکه چه د زخیره اندوزئ د حرمت علت دغه دے چه عام مخلوق ته تکلیف نۀ وی. اوس کۀ د یو سړی سره غله وی او د خلقو هغے ته حاجت وی مثلاً د دغے نه سوا نور چرته هم غله نۀ میلاویږی او هغه ئے نۀ خرڅوی نو حاکم د وخت به ئے ترے په زور خرڅوی.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْحَلْفِ فِي الْبَيْعِ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ الْحَلِفُ مَنْفَقَةٌ لِلسِّلْعَةِ مَمْحَقَةٌ لِلرِّبْحِ

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِيَّاكُمْ وَكَثْرَةَ الْحَلِفِ فِي الْبَيْعِ فَإِنَّهُ يُنَفِّقُ ثُمَّ يَمْحَقُ

باب : په بيعه كښې د قسم خوړلو ممانعت

د حضرت ابوهريره نه روايت دے چه ما اوريدلى دى د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلى ئے وو قسم د اسباب چلونكے دے ختمونكے دے د نفع[1].

د ابوقتاده نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل بچ شئ تاسو د ډيرو قسمونو خوړلو نه په بيعه كښې ځكه چه هغه د مال نكاسى كوى او ورانوى بركت لره.

بَاب الشُّفْعَةِ

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ لَهُ شَرِيكٌ فِي رَبْعَةٍ أَوْ نَخْلٍ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَبِيعَ حَتَّى يُؤْذِنَ شَرِيكَهُ فَإِنْ رَضِيَ أَخَذَ وَإِنْ كَرِهَ تَرَكَ

باب : د شفعے بيان

د جابر بن عبدالله نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى د چا سره چه څوك شريك وى په زمكه كښې يا په باغ كښې نو هغۀ له خپله حصه خرخول صحيح نۀ دى (د بل په لاس) د كومے پورے چه خپل شراكتى له خبر ورنۀكړى پس كچرے هغه راضى وو نو واخلى به ئے او كۀ ناراضه وو نو پريږدى به ئے[2].

---

[1] يعنى اگر چه په قسم خوړلو سره اخستونكے په دهوكه كښې راشى او مال خرڅ شى خو د داسے سړى بركت نۀ نصيب كيږى. او آئنده ئے نے د نفع په ځائے به نقصان كيږى. كاروبار او دكان به ئے برباديږى.

[2] : نووى وئيلى دى شراكتى لره د تولو په نز د شفعے استحقاق دے د كومے پورے چه د جائيداد د تقسيم نۀ وى شوے. او شفعه خاص ده د جائيداد غير منقوله سره. او نشته دے شفعه په څناور يا كپړه او مال يا متاع كښې. قاضى عياض وئيلى دى دا قول شاذ دے چه شفعه په اسباب كښې ده. او دغه روايت دے د عطاء نه . او په هر يو شى كښې ترد ے پورى چه په كپړه كښې هم او د ابن منذر د عطاء نه نقل كړى دى او په تقسيم شوى جائيداد كښې شفعه په جِوار سره ثابتيږى. يا نه. په دے كښې اختلاف دے. د امام شافعى او احمد او مالك او د جمهورو علماء مذهب دا دے چه په جوار سره شفعه نۀ كيږى. او ابن منذر د عمرابن خطاب او عثمان بن عفان او د سعيد بن المسيب او سليمان بن يسار او د عمر بن عبد العزيز او زهرى او يحيىٰ انصارى او ابوالزناد او ربيعه او مالك او اوزاعى او مغيره او احمد او اسحق او ابوثور رحمهم الله عنهم نه دغه شان نقل كړى دى. او د ابوحنيفه او ثورى په نز په جِوار سره شفعه ثابتيږى او زمونږ ملګرو دے حديث نه دليل نيولے دے چه شفعه په دغه عقار كښې ده كوم چه قابل قسمت وى نو په وړوكى حمام يا جرنده كښې شفعه نشته . او هغه سړى ترے هم دليل اخستے دے كوم چه په غير قابل قسمت كښې هم د شفعے قائل شوے دے. او د شريك لفظ عام دے شامل دے. مسلمان او كافر او ذمى لره په مسلمان باندے دعوه د شفعے كيدے شى. دغه شان مسلمان لره په ذمى باندے .دغه قول دے د شافعى او مالك او ابوحنيفه او جمهورو علماؤ. او د شعبى او حسن او احمد په نز ذمى لره په مسلمان باندے شفعه نشته دے. او باندېچى لره شفعه شته لكه څنګه چه ښارى لره ده . دغه قول دے د شافعى او ثورى او ابوحنيفه او احمد او اسحق او ابن منذر او

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالشُّفْعَةِ فِي كُلِّ شِرْكَةٍ لَمْ تُقْسَمْ رَبْعَةٍ أَوْ حَائِطٍ لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَبِيعَ حَتَّى يُؤْذِنَ شَرِيكَهُ فَإِنْ شَاءَ أَخَذَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ فَإِذَا بَاعَ وَلَمْ يُؤْذِنْهُ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ

د جابر نه روایت دے چه حکم اوکړو رسول الله ﷺ د شفعے په هر مشترك مال کښې چه ویشلے شوے نه وی که زمکه وی یا باغ. یو شریك له صحیح نه دی چه د بل شریك د خبرولو نه بغیر خپله حصه خرڅه کړی. بیا بل شریك ته اختیار دے که غواړی واخلی ئے او که غواړی نه ئے اخلی. اوس کچرے بغیر د اطلاع نه ئے خرڅ کړی نو هغه شریك زیات حقدار دے (د بل سړی نه ئے په دغه قیمت پخپله اخستلے شی)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشُّفْعَةُ فِي كُلِّ شِرْكٍ فِي أَرْضٍ أَوْ رَبْعٍ أَوْ حَائِطٍ لَا يَصْلُحُ أَنْ يَبِيعَ حَتَّى يَعْرِضَ عَلَى شَرِيكِهِ فَيَأْخُذَ أَوْ يَدَعَ فَإِنْ أَبَى فَشَرِيكُهُ أَحَقُّ بِهِ حَتَّى يُؤْذِنَهُ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. شفعه په هر یو مشترك مال کښې ده. په زمکه او کور او باغ کښې. پس یو شراکتی له روا نه دی چه خپله حصه خرڅه کړی او دویم شریك ته ئے وئیلی نه وی پس چه هغه ئے واخلی یائے پریږدی او کچرے ورته او نه وائی نو بیا خو دویم شریك زیات حقدار دے د کومے پورے چه هغهٔ ته خبر نه وی (او هغه پریخودے نه وی)

بَابُ غَرْزِ الْخَشَبِ فِي جِدَارِ الْجَارِ

باب: د ګاونډی په دیوال کښې لرګے ټکوهل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَمْنَعْ أَحَدُكُمْ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَةً فِي جِدَارِهِ قَالَ ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ مَا لِي أَرَاكُمْ عَنْهَا مُعْرِضِينَ وَاللهِ لَأَرْمِيَنَّ بِهَا بَيْنَ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نهٔ د منع کوی یو د تاسو نه خپل ګاونډی لره پخپل دیوال کښې د لرګی ټکوهلو نه (ولے چه دا د مروت نه خلاف ده او خپل څهٔ نقصان نهٔ دے بلکه کچرے ګاونډی هلته چت اوغورځوی نو نور د دیوال حفاظت دے) زهٔ وینم تاسو لره چه مخ اړوئ د دے حدیث نه قسم

جمهور علماؤ. او شعبی ونیلی دی څوك چه په بنهر کښې نه اوسیږی هغهٔ لره شفعه نشته او دا چه کوم حضرت ﷺ فرمائیلی دی چه د کومے پورے اطلاع ورنه کړی. نو اطلاع ورکول زمونږ په نز مستحب دی. او بغیر د خبرولو نه ئے خرڅول مکروه تنزیهی دی حرام نه دی. او چه د اطلاع ورکولو نه پس شریك اجازت ورکړو نو بیا د شفعے دعوه کولے شی. دغه قول دے د شافعی او مالك او ابوحنیفه او د هغوی دملګرو. او د حکم او ثوری او ابوعبید او د محدثینو د یو جماعت په نز بیا دعوه نه شی کولے. او د امام احمد نه دوه روایتونه دی د دواړو مذهبونو موافق. والله اعلم (نووی)

أَكْنَافِكُمْ

بَاب تَحْرِيمِ الظُّلْمِ وَغَصْبِ الْأَرْضِ وَغَيْرِهَا

عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اقْتَطَعَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا طَوَّقَهُ اللهُ إِيَّاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ

عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ أَنَّ أَرْوَى خَاصَمَتْهُ فِي بَعْضِ دَارِهِ فَقَالَ دَعُوهَا وَإِيَّاهَا فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ بِغَيْرِ حَقِّهِ طُوِّقَهُ فِي سَبْعِ أَرَضِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اللَّهُمَّ إِنْ كَانَتْ كَاذِبَةً فَأَعْمِ بَصَرَهَا وَاجْعَلْ قَبْرَهَا فِي دَارِهَا قَالَ فَرَأَيْتُهَا

مے د په الله وی چه زۀ به دے لره بیانوم په تاسو خلقو کښې[1]

باب: ظلم کول او د نورو زمکه وغیره نیول حرام دی

د سعید بن زید بن عمرو بن نفیل نه روایت دے چه رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه یو لویشت برابر زمکه په ظلم سره واخلی. الله به هغۀ لره د قیامت په ورځ د اوو زمکو طوق ورپغاړه کړی[2].

د سعید بن زید بن نفیل نه (چه لوئے صحابی دے او د عشر مبشره نه دے) راضی د شی الله تعالی د هغوی نه روایت دے چه د هغوی سره اروی بنت اویس جهګړه اوکړه د کور په زمکه. پس هغوی اووے پریږدوه. او ورکړے دے ته (د کوم چه دعوه کوی) ځکه چه ما اوریدلی دی رسول الله ﷺ نه چه هغوی فرمائیلی وو چا چه یو لویشت زمکه په ناحقه اونیوه الله به هغۀ ته د اوؤ زمکو طوق په غاړه کښې واچوی د قیامت په ورځ. یا الله کۀ چرے اروی دروغژنه وی نو تۀ د دے سترګے ړندے کړه او دا کور د دے قبر اوګرځوه. راوی

---

[1] اصل ترجمه داده چه زۀ به اچوم دا حدیث ستاسو په متو کښې یا ستاسو په اطرافو کښې کچرے اکنافکم په نوم سره اولوستلے شی. اوس اختلاف کړے دے علماؤ په دے کښې چه آیا دا حکم د وجوب دپاره دے یا داستحباب دپاره دے. ډیر صحیح داد ےچه استحبابًا دے او دغه قول دے د ابوحنیفه او اهل کوفۀ. او د احمد او ابوثور او د اصحاب حدیث په نز باندے واجب دی.

[2] نووی وئیلی دی دد ے حدیث نه معلومیږی چه زمکه هم اووۀ طبقے ده لکه څنګه چه آسمانو نه اووۀ دی او فرمائیلی دی الله تعالی: سبع سموٰتٍ وَّمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ او د مماثلت تاویل د هیأت یا شکل نه خلاف دے په ظاهر کښې په دے شان سره د اوؤ زمکو نه مراد اوؤ اقلیمونه مراد اخستل. دا لرے ده ورنه د یو اقلیم د یو لویشت برابر زمکه به غصب کولو سره د اوؤ اقلیمو د زمکے د طوق جوړولو څۀ وجه نۀ وه بر خلاف دد ے هر کله چه د زمکے اوۀ طبقے وی. ولے چه د یو لویشت برابر به هم اوۀ طبقے وی چه هغه به تابع وی دد ے. او د طوق جوړیدلو نه دا غرض دے چه هغه له به تکلیف ورکولے شی د هغے د اوچتولو او د څټ د طوق پشان به ورته اغوستولے شی. او د هغۀ څټ به اوږدولے شی. والله اعلم

عَمْيَاءَ تَلْتَمِسُ الْجُدُرَ تَقُولُ أَصَابَتْنِي دَعْوَةُ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ فَبَيْنَمَا هِيَ تَمْشِي فِي الدَّارِ مَرَّتْ عَلَى بِئْرٍ فِي الدَّارِ فَوَقَعَتْ فِيهَا فَكَانَتْ قَبْرَهَا

وئیلی دی بیا ما اروی لره اولیدله چه ړنده شوے وه دیوالونه به ئے نیول او وئیل به ئے چه د سعید خیرے ما ته لگیدلے دی. یوه ورځ هغه روانه وه په خپل کور کښی کوهی ته اوغورځیده او هغه کوهے د هغے قبر شو. (معاذ الله د ظلم او تکلیف رسولو دغه سزا ده)

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ أَرْوَى بِنْتَ أُوَيْسٍ ادَّعَتْ عَلَى سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ أَخَذَ شَيْئًا مِنْ أَرْضِهَا فَخَاصَمَتْهُ إِلَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ فَقَالَ سَعِيدٌ أَنَا كُنْتُ آخُذُ مِنْ أَرْضِهَا شَيْئًا بَعْدَ الَّذِي سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَمَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا طُوِّقَهُ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ فَقَالَ لَهُ مَرْوَانُ لَا أَسْأَلُكَ بَيِّنَةً بَعْدَ هَذَا فَقَالَ اللَّهُمَّ إِنْ كَانَتْ كَاذِبَةً فَعَمِّ بَصَرَهَا وَاقْتُلْهَا فِي أَرْضِهَا قَالَ فَمَا مَاتَتْ حَتَّى ذَهَبَ بَصَرُهَا ثُمَّ بَيْنَا هِيَ تَمْشِي فِي أَرْضِهَا إِذْ وَقَعَتْ فِي حُفْرَةٍ فَمَاتَتْ

د هشام بن عروه نه روایت دے هغوی د خپل پلار نه اوریدلی دی چه اروی بنت اویس دعوه اوکړه په سعید بن زید باندے چه هغوی څما د زمکے څۀ حصه نیولے ده. بیا ئے مروان بن حکم ته جهگړه یوړه (چه د مدینے حاکم وو) سعید اووے. عجیبه خبره ده زۀ دد دے زمکه نیسم. او ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه. مروان تپوس اوکړو تا څۀ اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه هغوی اووے ما اوریدلی دی چه هغوی فرمائیلی وو چاچه د یوے لویشتے برابر زمکه د چا نه په ظلم سره اونیوه نو الله تعالی به هغۀ ته د اووۀ زمکو پورے طوق پغاړه کړی. مروان اووے اوس زۀ ستا نه گواه نۀ غواړم. دد دے نه پس سعید اووے. یا الله کچرے اروی دروغژنه وی نو دد دے سترگے ړندے کړه. او دد دے په زمکه کښی دا مړه کړه. راوی وائی بیا اروی مړه نۀ شوه تر دے پورے چه ړنده شوله او یوه ورځ هغه پخپله زمکه کښی روانه وه چه کندے ته اوغورځیده او مړه شوه.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا فَإِنَّهُ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ

د سعید بن زید نه روایت دے چه ما اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه چه اوئے فرمائیل څوک چه د یوے لویشتے برابر زمکه په ظلم سره قبضه کړی الله تعالی به هغۀ له طوق جوړ کړی د اووۀ زمکو نه د قیامت په ورځ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هیڅ

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَأْخُذُ أَحَدٌ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ بِغَيْرِ حَقِّهِ إِلَّا طَوَّقَهُ اللّٰهُ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

یو کس د د لویشت برابر زمکه په ناحقه سره نهٔ اخلی ورنه الله تعالی به د هغې طوق جوړ کړی (پغاړه ددهٔ کښې) د اوؤ زمکو پورے د قیامت په ورځ.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ أَنَّ أَبَا سَلَمَةَ حَدَّثَهُ وَكَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَوْمِهِ خُصُومَةٌ فِي أَرْضٍ وَأَنَّهُ دَخَلَ عَلَى عَائِشَةَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهَا فَقَالَتْ يَا أَبَا سَلَمَةَ اجْتَنِبِ الْأَرْضَ فَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ ظَلَمَ قِيدَ شِبْرٍ مِنَ الْأَرْضِ طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ

د محمد بن ابراهیم نه روایت دے چه ابوسلمه هغوی ته بیان کړے دے چه د هغهٔ او د هغوی د قوم په مینځ کښې جهګړه وه په یوه زمکه باندے هغوی د حضرت عائشے خواله لاړو. او هغوی ته ئے ددے ذکر اوکړو. هغوی اووے اے ابوسلمه ! ځان اوساته د زمکے نه (یعنی په ناحقه د چا د زمکے د قبضه کولو نه) ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه د یو لویشت د زمکے برابر ظلم اوکړی الله تعالی به ددهٔ ته د اوؤ زمکو طوق پغاړه کړی.

بَابُ قَدْرِ الطَّرِيقِ إِذَا اخْتَلَفُوا فِيهِ

باب: هر کله چه په لار کښې اختلاف وی نو څونه لار پریخودل پکار دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اخْتَلَفْتُمْ فِي الطَّرِيقِ جُعِلَ عَرْضُهُ سَبْعَ أَذْرُعٍ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه تاسو په لار کښې اختلاف اوکړئ نو د هغې پلن والے اوؤ ګزا کیدوئ[1]

[1] ځکه چه دومره اندازه کافی دے د انسان او د څناور د تیریدو دپاره. نووی وئیلی دی چه دا د اختلاف په صورت ده. لیکن کهٔ زمکے زمکے والا په خپل مینځ کښې متفق شی نو څنګه چه غواړی لار د اوباسی. په دوی به څهٔ اعتراض نهٔ وی.

كِتَابُ الْفَرَائِضِ

يعنى د ورثے بيان

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا يَرِثُ الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ

د أسامه بن زيد ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. نه وارث كيږى كافر د مسلمان او نۀ مسلمان د كافر[1].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ

د عبد الله بن عباس نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. حصے والاؤ لره د هغوى حصے ورکړئ بيا چه کوم پاتے شى هغه د هغه سړى دے چه د ټولو نه زيات مړى ته نژدے وى[2].

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا فَمَا تَرَكَتِ الْفَرَائِضُ فَلِأَوْلَى

د حضرت ابن عباس نه روايت دے. رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. په اصحاب الفرائض کښې مال تقسيم کړئ د الله تعالى د کتاب مطابق بيا چه د هغوى نه څۀ پاتے شى، هغه د نژدے سړى حصه ده (مثلا د

---

[1] : امام نووى وئيلى دى چه اجماع ده په دے باندے چه کافر به د مسلمان وارث نۀ وى. ليکن مسلمان او مسلمان به هم د کافر وارث کيږى نه د جمهورو علماؤ په نز. او د يو ډلے په نز وارث به وى. او دغه مذهب دے د معاذ بن جبل او د معاويه او د سعيد بن المسيب. او صحيح د جمهورو قول دے. او مرتد به هم د مسلمان وارث نۀ وى دغسے مسلمان د مرتد . د امام شافعى او د امالك او د ربيعه او د ابن ابى ليلى په نز بلکه دده مال به د مسلمانانو په غنيمت کښې شريك کيږى. او د امام ابوحنيفه او د اهل کوفه او د اوزاعى او د اسحق په نز مسلمان به د مرتد وارث وى او دا مروى دى د على او د ابن مسعود او د سلفو د جماعت نه. ليکن د ثورى او د ابوحنيفه په نز کوم مال چه دۀ د ارتداد په حالت کښې ګټلے دے هغه به د مسلمان وى. او نورو علماؤ په نز ټول به دده وارثان وى کوم چه مسلمانان دى ليکن کافران به په خپل مينځ کښې د يو بل وارثان وى . څنګه چه يهودى د نصرانى او نصرانى د يهودى او مجوسى د يهودى يا د نصرانى. او د امام مالك په نز به نۀ وى. امام شافعى وئيلى دى چه حربى به د ذمى وارث نۀ وى، نۀ ذمى به د حربى. دغسے کۀ چرے دوه حربيان په دوؤ مختلفو ملکونو کښې وى ، هغوى هم به په خپل مينځ کښې وارثان نۀ وى هر کله چه په دغه دواړو ملکونو کښې جنګ وى. انتهى مختصراً

[2] : يعنى عصبه [illegible] ورکړئ. ليکن عصبه قريب چه وى نو عصبه بعيد به وارث نۀ وى. حصے والا يعنى اصحاب الفرائض هغه خلق [illegible] کومو حصے چه الله تعالى په خپل کتاب کښې مقرر کړے دى. لکه لور، مور، پلار، خاوند ، ښځه، خور وغيره. اوس د مړى مال روستو د ادا کولو د قرض او د وصيت نه کوم چه پاتے شى د دوؤ حصو برمطابق اول هغه وارثانو ته ملاويږى . دد ے نه روستو کوم چه پاتے شى هغه به نژدے عصبه ته ورکړے کيږى. په دے د مسلمانانو اجماع ده. او د نژدے عصبه چه وى نو لرے والا به وارث نۀ وى. مثلا د چا لور، رور او ترۀ وى. لور ته به نيم ملاويږى . او باقى به رور ته. او ترۀ ته به څۀ نۀ ملاويږى.

رَجُلٍ ذَكَرٍ

خوی یا نمسی. دد ے نه روستو د پلار، دد ے نه روستو د رور یا د نیکهٔ دد ے نه روستو د ورارهٔ یا د خورئي د خامنو یا د نمسو. دد ے نه روستو د ترهٔ، دد ے نه روستو د ترهٔ د خامنو، ددهٔ نه روستو د پلار د ترهٔ. ددهٔ نه پس د دوی د خامنو. دد ے نه روستو د نیکهٔ د ترهٔ. دد ے نه روستو د هغهٔ د خامنو. دد ے نه روستو د پلار د نیکهٔ د ترهٔ. دد ے نه روستو ددهٔ د خامنو. علی هٰذا القیاس. او حقیقی به مخکښ وی په علاتی باند ے. او علاتی رور به په حقیقی ورارهٔ باند ے مقدم وی،

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ مَرِضْتُ فَأَتَانِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ يَعُوْدَانِي مَاشِيَيْنِ فَأُغْمِيَ عَلَيَّ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ صَبَّ عَلَيَّ مِنْ وَضُوئِهِ فَأَفَقْتُ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ أَقْضِي فِي مَالِي فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ شَيْئًا حَتّٰى نَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ

د جابر بن عبدالله نه روایت د ے زهٔ بیمار شوم نو جناب رسول الله ﷺ او ابوبکر دواړه پیاده څما تپوس له راغلل. زهٔ بیهوشه شوم نو جناب رسول الله ﷺ اودس اوکړو. بیا د اودس اوبهٔ په ما راواړولے، زهٔ په هوش کښ راغلم. ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ زهٔ د خپل مال څهٔ فیصله اوکړم. حضرت ﷺ څهٔ جواب ورنکړو. تر د ے پور ے چه د میراث آیت راغے. "يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ". د اخیره پور ے[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ عَادَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ فِي بَنِي سَلِمَةَ يَمْشِيَانِ فَوَجَدَنِي لَا أَعْقِلُ فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ رَشَّ عَلَيَّ مِنْهُ فَأَفَقْتُ فَقُلْتُ

د جابر بن عبد الله نه روایت د ے بیمار پرسی اوکړه جناب رسول خدا ﷺ او ابوبکر بنو سلمه ته پیاده راغلل نو زهٔ ئے بیهوشه اولیدم. حضرت ﷺ اوبهٔ راغوښتے او اودس ئے اوکړو. بیا د هغه اوبو نه لګے په ما ترمکیا کړے. زهٔ په هوش کښ راغلم. ما عرض اوکړو. یا

---

[1] امام نووی ونیلی دی چه دد ے حدیث نه د بیمار پُرسئ فضیلت ثابت شو. او دا معلومه شوه چه د بیمار پُرسئ دپاره پیدل تلل غوره دی. او د اودس د اوبو نه غورخولو نه دا خبره راواوته د صالحینو د آثارو نه برکت اخستل صحیح دی. لکه د هغوی د پاتے شوے خوراك یا اوبهٔ وغیره نه او د هغوی سره د خوراك څکاك نه. او زمونږ ملګرو دد ے نه دلیل اخستے د ے چه مستعملے اوبهٔ د اودس یا د غسل پاکے دی. او رد کړے د ے د ابویوسف د قول چه هغه د دد ے د پلیتئ قائل دی. حالانکه دا اعتراض کید ے شی چه مراد د اودس د اوبو نه هغه دی کومے چه په لوښی کښ د اودس نه پاتے شوے وی. لیکن زیات برکت خو په هغه اوبو کښ به وی کومے چه د حضرت ﷺ د اندامو مبارکو نه په اودس کښ لګیدلے وی. او دد ے حدیث نه دا هم راووته چه د مریض وصیت جائز د ے اګر چه بعض وخت د هغهٔ عقل لاړ شی. په د ے شرط سره چه وصیت په حالت د صحت او د هوش کښ وی. انتهٰی مختصراً

كَيْفَ أَصْنَعُ فِي مَالِي يَا رَسُولَ اللهِ فَنَزَلَتْ يُوصِيكُمُ اللهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ

رسول اللهﷺ زۀ د خپل مال سره څۀ اوکړم. (یعنی څنګه ئے تقسیم کړم) بیا دا ایت نازل شو "یُوصِیکُمُ اللهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ" د اخره پورے.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ عَادَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَرِيضٌ وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ مَاشِيَيْنِ فَوَجَدَنِي قَدْ أُغْمِيَ عَلَيَّ فَتَوَضَّأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَبَّ عَلَيَّ مِنْ وَضُوئِهِ فَأَفَقْتُ فَإِذَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ أَصْنَعُ فِي مَالِي فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ شَيْئًا حَتَّى نَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے رسول اللهﷺ ځما عیادت اوکړو او زۀ بیمار ووم. د حضرتﷺ سره ابوبکر وو. او دواړه پیدل راغلل زۀ ئے بیهوشه اوموندم نو جناب رسول خداﷺ اودس اوکړو او د خپل اودس اوبۀ ئے په ما راواچولے. زۀ په هوش کښں راغلم. اومے کتل نو رسول اللهﷺ موجود دے. ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ! زۀ په مال کښں څۀ اوکړم. حضرتﷺ څۀ جواب رانکړو تردے پورے چه د میراث ایت نازل شو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَرِيضٌ لَا أَعْقِلُ فَتَوَضَّأَ فَصَبُّوا عَلَيَّ مِنْ وَضُوئِهِ فَعَقَلْتُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّمَا يَرِثُنِي كَلَالَةٌ فَنَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ فَقُلْتُ لِمُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ قَالَ هٰكَذَا أُنْزِلَتْ

د حضرت جابر بن عبد الله نه روایت دے رسول الله ځما خواله راغے او زۀ بیمار وم بیهوشه. حضرتﷺ اودس اوکړو. خلقو د حضرتﷺ د اودس اوبۀ په ما راواړولے. زۀ په هوش شوم. ما عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ! ځما ترکه خو به د کلاله وی (کلاله هغه دے چه نۀ ئے اولاد وی او نۀ پلار. د دے تفسیر مخکښں راغے) بیا د میراث ایت راغے. شعبه وئیلی دی ما محمد بن منکدر ته اووے: "یَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللهُ یُفْتِیكُمْ فِي الْكَلَالَةِ". هغوی اووے هم دغه شان نازل شو.

عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ خَطَبَ يَوْمَ جُمُعَةٍ فَذَكَرَ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ أَبَا بَكْرٍ ثُمَّ قَالَ إِنِّي لَا أَدَعُ بَعْدِي شَيْئًا أَهَمَّ عِنْدِي مِنَ الْكَلَالَةِ مَا رَاجَعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَيْءٍ مَا رَاجَعْتُهُ فِي الْكَلَالَةِ

د معدان بن ابی طلحه نه روایت دے حضرت عمر خطبه اولوسته د جمعے په ورځ نو ذکر ئے اوکړو د جناب رسول خداﷺ. او ذکر ئے اوکړو د ابوبکر. بیا ئے اوئیل زۀ د خپل ځان روسته یو مسئله داسے مشکله نۀ پریږدم پشان د کلاله د مسئلے. او ما یو مسئله داسے باربار نۀ ده تپوسلے د رسول خداﷺ لکه د کلاله مے تپوسلے ده. او حضرتﷺ هم دومره سختی په یو خبره کښں ما سره نۀ ده کړے لکه د کلاله په مسئله

وَمَا أَغْلَظَ لِي فِي شَيْءٍ مَا أَغْلَظَ لِي فِيهِ حَتَّى طَعَنَ بِإِصْبَعِهِ فِي صَدْرِي وَقَالَ يَا عُمَرُ أَلَا تَكْفِيكَ آيَةُ الصَّيْفِ الَّتِي فِي آخِرِ سُورَةِ النِّسَاءِ وَإِنِّي إِنْ أَعِشْ أَقْضِ فِيهَا بِقَضِيَّةٍ يَقْضِي بِهَا مَنْ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَمَنْ لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ

کښې ترډیر پورې چه خپله ګوته مبارکه ئې خما په سینه کښې راواومنډله او اوئې فرمائیل اے عمر تالره هغه ایت کافی نۀ دے چه د ګرمئ په موسم د سورۀ نساء په آخر کښې نازل شوے. بیائې اووے حضرت عمر کۀ چرے زۀ ژوندے وم نو زۀ به د کلاله په باب کښې دغسے صاف صاف کوم چه دد ے مطابق به هر سړے فیصله کوی څوک چه قران لولی او څوک ئې نۀ لولی.[1]

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ آخِرُ آيَةٍ أُنْزِلَتْ مِنَ الْقُرْآنِ يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ

د براء بن عازب نه روایت دے. آخری ایت چه نازل شو داد ے. يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ.

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ يَقُولُ آخِرُ آيَةٍ أُنْزِلَتْ آيَةُ الْكَلَالَةِ وَآخِرُ سُورَةٍ أُنْزِلَتْ بَرَاءَةُ

براء بن عازب به وئیل اخیر ایت چه نازل شوے دے د کلاله ایت دے. او اخیر سورت چه نازل شوے دے سورۀ براءت دے.

عَنِ الْبَرَاءِ أَنَّ آخِرَ سُورَةٍ أُنْزِلَتْ تَامَّةً سُورَةُ

د براء بن عازب نه روایت دے اخیرنے سورت چه پوره نازل شوے دے

---

[1] حضرت عمر د کلاله په فیصله کښې روسته والے اوکړو. دد ے وجے نه چه هغوی ښۀ سوچ به نۀ وو کړے. او د هغوی رائے به ترهغې پورے قائمه شوے نۀ وه. او رسول الله ﷺ د هغوی سره سختی اوکړه دد ے دپاره چه اعتماد اونۀ کړی په د ے چه وارد شوے دے، په نص کښې او استنباط او غور او فکر پرے نۀ دی. ځکه چه نصوص سریحه ډیر لږ دی. او کۀ چرے استنباط پرے دی نو په ډیرو واقعاتو کښې به فیصله کول مشکله شی. اوس د کلاله په اشتقاق کښې خلقو اختلاف کړے دے. د اکثرو په نز هغه د تکلل نه راوتے دے. چه د هغے معنی یو طرف کښې پریوتل. مثلا د ترۀ خوے هغه کلاله دے. ځکه چه د نسب د لکیرے نه یو طرفته پریوتے دے. او بعضو وئیلی دی د تکلل معنی ده راګیرول. او دد ے نه دے اکلیل چه سر لره راګیروی او بعضو وئیلی دی کَلَّ الشَّئُ نه وتلے دے. هر کله چه هغه شے لرے وی. او اختلاف کړے دے علماؤ د کلاله سره په ایت کښې څۀ مراد دے په څو قولونو باندے. یو داد ے چه د کلاله نه مراد وراثت دے هر کله چه د مړی اولاد نۀ وی او نۀ پلار. دویم دا کلاله د هغه مړی نوم دے چه د هغۀ نۀ خوے وی او نۀ پلار. خواه کۀ هغه مړے سړے وی یا ښځه. دریم دا چه کلاله هغه وارثانو ته وائی چه په هغوی کښې نۀ ولد وی او نۀ والد. څلورم دا چه کلاله هغه مالِ موروث ته وائی. شیعه ګان وائی چه کلاله هغه دے چه اولاد ئې نۀ وی اګر کۀ د هغۀ پلار یا نیکۀ وی نو هغوی رونړو ته میراث ورکوی د پلار سره. قاضی عیاض وئیلی دی او دا منقول دی د ابن عباس نه. لیکن دا روایت باطل دے، صَحیح نۀ دے. صحیح هغه دے چه د علماؤ جماعت ویلے دے. او څنو علماؤ اجماع نقل کړے ده په دے چه کلاله هغه دے چه د هغۀ نۀ اولاد وی او نۀ پلار. کچرے په وارثانو کښې نیکۀ هم وی نو هغه به کلاله وی یا نۀ به وی. په دے کښې اختلاف دے. او هر کله چه په وارثانو کښې لور وی نو هغوی به کلاله وی د جمهورو علماؤ په نز. ځکه د رور خور لور سره وارث کیږی. او ابن عباس په نز د لور سره سره خور ته څۀ نۀ ملاویږی. ځکه الله تعالی فرمائیلی دی "لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ أُخْتٌ". او دا مذهب دے د داؤد. او شیعه ګانو وئیلی دی چه د لور په کیدو وارث کلاله کیږی نه. ځکه چه د هغوی په نز د لور په کیدو خویندو ته هیڅ نۀ ملاویږی. او ټول مال د لور دے. (نووی مختصراً)

التَّوبَةِ وأَنَّ آخِرَ آيَةٍ أُنزِلَتْ آيَةُ الْكَلَالَةِ

سورۀ توبه دے او اخیرنی ایت چه نازل شوے دے د کلاله ایت دے.

عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ آخِرُ آيَةٍ أُنزِلَتْ يَسْتَفْتُونَكَ

براء بن عازب وئیلی دی اخیرنی ایت چه نازل شوے دے يَسْتَفْتُونَكَ دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتَى بِالرَّجُلِ الْمَيِّتِ عَلَيْهِ الدَّيْنُ فَيَسْأَلُ هَلْ تَرَكَ لِدَيْنِهِ مِنْ قَضَاءٍ فَإِنْ حُدِّثَ أَنَّهُ تَرَكَ وَفَاءً صَلَّى عَلَيْهِ وَإِلَّا قَالَ صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ فَلَمَّا فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ الْفُتُوحَ قَالَ أَنَا أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ فَمَنْ تُوُفِّيَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ فَعَلَيَّ قَضَاؤُهُ وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَهُوَ لِوَرَثَتِهِ

د ابوهریره نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ خواله به جنازه راتله او هغه به قرضدارے وو نو حضرت ﷺ به تپوس کوو چه ددهٔ دومره مال پاتے شوے دے چه ددهٔ قرضے لره کافی کیږی. کهٔ چرے خلقو به اووے چه پریخے دے نو مونځ به ئے پرے اوکړو. او کهٔ چرے نه نو خلقو ته به ئے اوفرمائیل تاسو په خپل ملګری جنازه اوکړئ بیا هر کله چه الله تعالی کھولاوے کړے (دروازے) په هغوی د مال. هغوی اوفرمائیل زهٔ زیات نژدے یم مومنانو ته د هغوی د ځانونو نه (دا انتهائی محبت دے چه پخپله د هغوی نه زیات د هغوی دوست شو) اوس چه کوم قرضدارے مړ شی نو د قرض ادا کول ځما په ذمه دی. او څوك چه مال پریږدی مړ شی نو هغهٔ د هغهٔ د وارثانو دے[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنْ عَلَى الْأَرْضِ مِنْ مُؤْمِنٍ إِلَّا أَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِهِ فَأَيُّكُمْ مَا تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَأَنَا مَوْلَاهُ وَأَيُّكُمْ تَرَكَ مَالًا فَإِلَى الْعَصَبَةِ مَنْ كَانَ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی قسم په هغهٔ خدائے چه د چا په لاس کښ د محمد روح دے په زمکه داسے مؤمن نشته چه هغهٔ ته د ټولو نه زیات زهٔ نژدے نهٔ یم. نو په تاسو کښ چه څوك قرضه یا بال بچی پریږدی، زهٔ د هغهٔ مددګار یم (یعنی دهغهٔ قرض اداکول او دهغهٔ بچو پرورش ځما په ذمه دے) او تاسو

---

[1] : نووی وئیلی دی. حضرت ﷺ به په قرضداری څکه مونځ نهٔ کوو ددے دپاره چه نور خلق چه ژوندی دی ددوی یره پیدا شی. او هغوی د قرض په ورکولو کښ کوشش اوکړی. داسے نهٔ وی چه مړهٔ شی او رسول الله ﷺ په هغوی مونځ اوکړی. دا د اسلام په ابتداء کښ وه هر کله چه حضرت ﷺ سره دومره مال نهٔ وو چه د خلقو قرض د خپل طرفنه ادا کړی. دا حدیث هم د حضرت ﷺ د نبوت یو لوئی دلیل دے. سوا ددوی نه په بل چا کښ دومره جرأت نشته چه د خلقو قرض په خپله ذمه واخلی او مال د هغوی وارثانو له ورکړی. بعضو وئیلی دی چه رسول الله ﷺ به دا قرض د مسلمانانو د مال نه ورکوو. او بعضو وئیلی دی چه خاص د خپل مال نه او بعضو وئیلی دی دا فعل په حضرت ﷺ باندے واجب وو. بعضو وئیلی دی چه حضرت ﷺ تبرعًا به کوو. او زمونږ ملګرو اختلاف کړے دے چه څوك قرضدارے مړ شی د هغهٔ قرضه د بیت المال نه د ادا کړے شی یا نه. نووی مختصراً.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِالْمُؤْمِنِينَ فِي كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَأَيُّكُمْ مَا تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيْعَةً فَادْعُونِي فَأَنَا وَلِيُّهُ وَأَيُّكُمْ مَا تَرَكَ مَالًا فَلْيُؤْثَرْ بِمَالِهِ عَصَبَتُهُ مَنْ كَانَ

کښې چه څوک مال پریږدی نو د هغۀ دوارث دے چه څوک وی.

د همام بن منبه نه روایت دے فرمائی چه هغه دا حدیث دے کوم حدیث چه مونږ ته ابوهریره د رسول الله ﷺ نه بیان کړه او نورئے هم بیان کړل څو حدیثونه په هغې کښې یو دا هم وو چه او فرمائیل رسول الله ﷺ زۀ زیات نزدے یم هغه مؤمنانو ته پخپله د هغوی د ځانونو نه (په وجه د دے ایت اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ) بیا په تاسو کښې چه څوک قرض یا بال بچی پریږدی، ما را اوغواړے زۀ د هغوی ذمه دار یم. او څوک چه په تاسو کښې مال پریږدی نو د هغۀ عصبه د واخلی څوک چه وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِلْوَرَثَةِ وَمَنْ تَرَكَ كَلًّا فَإِلَيْنَا

د ابوهریره نه روایت دے رسول خدا ﷺ او فرمائیل څوک چه مال پریږدی هغه د هغۀ د وارثانو دے. او څوک چه څۀ بوج پریږدی (قرض یا بال بچی) هغه زمونږ د طرفنه دی.

كِتَابُ الْهِبَاتِ

د هبې او د صدقې مسئلې

بَاب كَرَاهَةِ شِرَاءِ الْإِنْسَانِ مَا تَصَدَّقَ بِهِ مِمَّنْ تُصُدِّقَ عَلَيْهِ

باب: چا له د څه څیز صدقه ورکړو. بیا د هغه نه هغه څیز اخستل مکروه دی

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ عَتِيقٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَأَضَاعَهُ صَاحِبُهُ فَظَنَنْتُ أَنَّهُ بَائِعُهُ بِرُخْصٍ فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ لَا تَبْتَعْهُ وَلَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ

د حضرت عمر نه روایت دے ما یو ښۀ اس د خدائے په لار کښې ورکړو. بیا مې چه چاله ورکړے وو هغۀ هغه تباه کړے وو. ما ګمان اوکړو چه دا به دے اوس ارزان خرڅوی ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغې لره مۀ اخله او مۀ راګرځوه خپلې صدقې لره څکه چه صدقې راواپس کولو والا د سپی په شان دے چه قے اوکړی بیا هغې لره اوخوری[1].

عَنْ عُمَرَ أَنَّهُ حَمَلَ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَوَجَدَهُ عِنْدَ صَاحِبِهِ وَقَدْ أَضَاعَهُ وَكَانَ قَلِيلَ الْمَالِ فَأَرَادَ أَنْ يَشْتَرِيَهُ فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ لَا تَشْتَرِهِ وَإِنْ أُعْطِيتَهُ بِدِرْهَمٍ فَإِنَّ مَثَلَ الْعَائِدِ فِي صَدَقَتِهِ كَمَثَلِ الْكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ

د حضرت عمر نه روایت دے چه هغوی یو اس ورکړو د الله تعالیٰ په لار کښې. بیائې چه اولیدو نو هغه چه د چا سره وو هغوی تباه کړے وو (د وښو او دانې د بې خبرئ د وجې نه) او هغه نادار یعنی کمزوری وو. نو حضرت عمر دا غوښتل چه بیائې واخلي. او د رسول الله ﷺ خواله راغې. او هغوی ته ئې ذکر اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل مۀ اخله دے لره اګر که په یو درهم باندے میلاویږی ولې چه مثال دد دے د خپلې صدقې د واپس کولو دے. او مثال ئې پشان د سپی دے چه قے اوکړی او بیائې خوری.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ حَمَلَ

د حضرت عبد الله بن عمر نه روایت دے چه حضرت عمر

[1] نووی وئیلی دی دا نهی، تنزیهی ده نۀ تحریمی او صدقه واپس کول صحیح نۀ دی البته کچرے خپل اولاد ته ئې هبه کړی نو رجوع ورته کولے شي.

عَلٰى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَوَجَدَهُ يُبَاعُ فَأَرَادَ أَنْ يَبْتَاعَهُ فَسَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ لَا تَبْتَعْهُ وَلَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ

یو آس ورکړو د خدائے په لار کښ . بیائے اولیدو چه هغه آس خرڅیدو . حضرت عمر هغے لره اخستل غوښتل نو د رسول الله ﷺ نه ئے تپوس اوکړو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل مۀ اخله دے لره او مۀ واپس کوه خپلے صدقے لره.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ مَالِكٍ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه حضرت عمر یو آس ورکړو د الله په لار کښ. بیا اولیدۀ چه خرڅیدۀ. نو هغوی اراده اوکړه د هغے د اخستو نو د نبی ﷺ نه ئے تپوس اوکړو نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل. مۀ واپس کیږه خپلے صدقے ته اے عمر!

بَابُ تَحْرِيمِ الرُّجُوعِ فِي الصَّدَقَةِ

باب : ورکړے صدقه واپس کول حرام دی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الَّذِي يَرْجِعُ فِي صَدَقَتِهِ كَمَثَلِ الْكَلْبِ يَقِيءُ ثُمَّ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ فَيَأْكُلُهُ

د حضرت عبد الله بن عباس نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مثال د هغه کس چه هغه واپس کوی خپلے صدقے لره مثال ئے پشان د سپی دے چه هغه قے اوکړی او بیا هغے لره اوخوری.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّمَا مَثَلُ الَّذِي يَتَصَدَّقُ بِصَدَقَةٍ ثُمَّ يَعُودُ فِي صَدَقَتِهِ كَمَثَلِ الْكَلْبِ يَقِيءُ ثُمَّ يَأْكُلُ قَيْئَهُ

د حضرت ابن عباس نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلو ئے مثال د هغه سړی چه هغه صدقه ورکړی او بیائے واپس اخستل غواړی پشان د سپی دے چه هغه قے اوکړی او بیا اوخوری هغے لره.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ الْعَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ

د حضرت ابن عباس نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په هبه کښ د واپس کوول والا مثال د سپی دے چه هغه قے اوکړی او بیائے خوری.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَقِيءُ ثُمَّ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ

د عبد الله بن عباس نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هبے لره واپس کونکے په مثال د سپی دے چه هغه قے اوکړی او بیا هغے خپل قی لره خوری.

بَاب كَرَاهَةِ تَفْضِيلِ بَعْضِ الْأَوْلَادِ فِي الْهِبَةِ

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ أَبَاهُ أَتَى بِهِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي نَحَلْتُ ابْنِي هٰذَا غُلَامًا كَانَ لِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكُلَّ وَلَدِكَ نَحَلْتَهُ مِثْلَ هٰذَا فَقَالَ لَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْجِعْهُ

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ وَقَدْ أَعْطَاهُ أَبُوهُ غُلَامًا فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا هٰذَا الْغُلَامُ قَالَ أَعْطَانِيهِ أَبِي قَالَ فَكُلَّ إِخْوَتِهِ أَعْطَيْتَهُ كَمَا أَعْطَيْتَ هٰذَا قَالَ لَا قَالَ فَرُدَّهُ

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ تَصَدَّقَ عَلَيَّ أَبِي بِبَعْضِ مَالِهِ فَقَالَتْ أُمِّي عَمْرَةُ بِنْتُ رَوَاحَةَ لَا أَرْضَى حَتّٰى تُشْهِدَ رَسُولَ اللهِ ﷺ فَانْطَلَقَ أَبِي إِلَى النَّبِيِّ ﷺ لِيُشْهِدَهُ عَلٰى صَدَقَتِي فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَفَعَلْتَ

باب : بعضے اولاد ته كم وركول او بعضے ته زيات وركول مكروه دي

د نعمان بن بشير نه روايت دے هغوى وائى چه زۀ خپل پلار بشير د ځان سره د رسول الله ﷺ خواله راوستم. او اوئے وئيل ما دے خپل هلك ته يو غلام هبه كړے دے. حضرت ﷺ ترے تپوس اوكړو تا خپلو نورو هلكانو له هم دغه شان يو يو غلام وركړے دے؟ هغوى اووے نه حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل نو ددۀ نه ئے هم واپس واخله.

د نعمان بن بشير نه روايت دے چه د هغوى پلار هغوى ته يو غلام وركړے وو. رسول الله ﷺ ترے تپوس اوكړو دا څنګه غلام دے؟ هغوى اووے دا ځما پلار ماته راكړے دے. حضرت ﷺ د هغوى پلار ته اووے. آيا تا د نعمان ټولو رونړو ته هم دغسے غلام وركړے دے لكه څنګه چه د نعمان ته وركړے دے. هغوى اووے نه. حضرت ﷺ اوفرمائيل ته ئے د هغۀ نه هم واپس كړه.

د نعمان بن بشير نه روايت دے وائى چه ځما پلار خپل څۀ مال ماته هبه كړلو. ځما مور عمره بنت رواحه اووے. زۀ به هله خوشحاله شم چه تۀ په دے باندے رسول الله ﷺ ګواه كړے. ځما پلار د رسول الله ﷺ خواله لاړو. حضرت ﷺ ترے تپوس اوكړو تا خپل ټول اولاد ته دغه شان وركړے دے؟

[1] د دے حديث نه دا معلومه شوه چه خپل اولاد ته صدقه وركړے د هغۀ نه ئے بيا واپس كولے شے. او هغه منع نۀ دى. نووى وئيلى دى د دے حديث نه دا خبره راووتله چه اولاد ته په وركولو كښ برابرى كول پكار دى. او هلك جينئ دواړه برابر دى. او ځنو د هلك دوه حصے كړے دى او د ج[illegible]ى يوه. كچرے يو ته زيات وركړى او بل ته كم نو د امام شافعى او مالك او د ابوحنيفه به نز دا مكروه دى او حرام نۀ دى او هبه صحيح ده. او طاؤس او عروه او مجاهد او نووى او احمد او د اسحق په نز حرام دى او هبه باطله ده.

هٰذَا بِوَلَدِكَ كُلِّهِمْ قَالَ لَا قَالَ اتَّقُوا اللهَ وَاعْدِلُوا فِي أَوْلَادِكُمْ فَرَجَعَ أَبِي فَرَدَّ تِلْكَ الصَّدَقَةَ

هغوی اووے نه. حضرت ﷺ اوفرمائیل د خدائے تعالی نه اویریږه او انصاف اوکړه په خپل مال کښې بیا خما پلار هغه هبه واپس واخسته.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ أَنَّ أُمَّهُ بِنْتَ رَوَاحَةَ سَأَلَتْ أَبَاهُ بَعْضَ الْمَوْهِبَةِ مِنْ مَالِهِ لِابْنِهَا فَالْتَوَى بِهَا سَنَةً ثُمَّ بَدَا لَهُ فَقَالَتْ لَا أَرْضَى حَتَّى تُشْهِدَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَا وَهَبْتَ لِابْنِي فَأَخَذَ أَبِي بِيَدِي وَأَنَا يَوْمَئِذٍ غُلَامٌ فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أُمَّ هٰذَا بِنْتَ رَوَاحَةَ أَعْجَبَهَا أَنْ أُشْهِدَكَ عَلَى الَّذِي وَهَبْتُ لِابْنِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بَشِيرُ أَلَكَ وَلَدٌ سِوَى هٰذَا قَالَ نَعَمْ فَقَالَ أَكُلَّهُمْ وَهَبْتَ لَهُ مِثْلَ هٰذَا قَالَ لَا قَالَ فَلَا تُشْهِدْنِي إِذًا فَإِنِّي لَا أَشْهَدُ عَلَى جَوْرٍ

د نعمان بن بشیر نه روایت دے چه د هغوی مور د رواحه لور د هغوی د پلار نه سوال اوکړو چه د خپل مال نه د هغوی ځوئ ته (یعنی نعمان ته) څۀ هبه کړی لیکن بشیر د یو کاله پورے په دے خبره څۀ غور اونۀ کړو. بیا هغوی تیار شو هیے کولو ته نو د نعمان مور اووے زۀ راضی نۀ یم تر هغے پورے چه تۀ گواه نۀ کړے رسول الله ﷺ لره په دے هبه باندے نو خما پلار زۀ د لاسه اونیوم او زۀ په دغه ورځو هلك وم. او د جناب رسول الله ﷺ خواله راغلو خما پلار عرض اوکړو یا رسول الله! ددۀ مور بنت رواحه دا غوښتلی دی چه تاسو گواه شئ په دے هبه باندے کومه چه ما دے هلك له کړے ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل اے بشیر! ددۀ نه سوا ستا نور هلکان شته دے؟ بشیر اووےآو! حضرت ﷺ اوفرمائیل هغوی ته هم دغه شان هبه تا کړے ده؟ بشیر اووے نه. حضرت ﷺ اوفرمائیل بیا خو ما مۀ گواه کوه ولے چه زۀ په ظلم باندے گواه نۀ شم کیدے.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَكَ بَنُونَ سِوَاهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَكُلَّهُمْ أَعْطَيْتَ مِثْلَ هٰذَا قَالَ لَا قَالَ فَلَا أَشْهَدُ عَلَى جَوْرٍ

د حضرت نعمان بن بشیر نه روایت دے جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل. آیا ستا ددۀ نه سوا نور ځامن شته؟ بشیر اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نورو ځامنو ته هم تا دغه شان ورکړی دی. بشیر اووے نه. حضرت ﷺ اوفرمائیل نو بیا زۀ گواه نۀ شم کیدے په ظلم باندے.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى

د حضرت نعمان بن بشیر نه روایت دے جناب رسول الله ﷺ

اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَبِيهِ لَا تُشْهِدْنِي عَلَى جَوْرٍ

اوفرمائیل د هغوی پلار ته مۀ گواه کوه ما لره په ظلم باندے.

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ انْطَلَقَ بِي أَبِي يَحْمِلُنِي إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اشْهَدْ أَنِّي قَدْ نَحَلْتُ النُّعْمَانَ كَذَا وَكَذَا مِنْ مَالِي فَقَالَ أَكُلَّ بَنِيكَ قَدْ نَحَلْتَ مِثْلَ مَا نَحَلْتَ النُّعْمَانَ قَالَ لَا قَالَ فَأَشْهِدْ عَلَى هٰذَا غَيْرِي ثُمَّ قَالَ أَيَسُرُّكَ أَنْ يَكُونُوا إِلَيكَ فِي الْبِرِّ سَوَاءً قَالَ بَلَى قَالَ فَلَا إِذًا

د حضرت نعمان بن بشیر نه روایت دے وائی چه خما پلار زۀ اوچت کړم او د رسول خدا ﷺ خواله ئے یوړمه او اوئے وئیل چه یا رسول الله ﷺ تاسو گواه شئ چه ما نعمان لره فلانے فلانے شے د خپل مال نه هبه کړے دے. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل اے تا ټولو ځامنو ته دغه شان ورکړی دی لکه څنگه چه نعمان ته ورکوے؟ خما پلار اووے نه. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه بیا ماله مۀ گواه کوه. بل څوك گواه کړه. او دا دے نه پس ئے اوفرمائیل. آیا تۀ خوشحاله ئے په دے سره چه ټول د برابر وی ستا سره په نیکئ کولو کښې. خما پلار اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نو بیا داسے مۀ کوه (یعنی چه یوله ورکوے او بل له نۀ ورکوے)

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ نَحَلَنِي أَبِي نُحْلًا ثُمَّ أَتَى بِي إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لِيُشْهِدَهُ فَقَالَ أَكُلَّ وَلَدِكَ أَعْطَيتَهُ هٰذَا قَالَ لَا قَالَ أَلَيسَ تُرِيدُ مِنْهُمُ الْبِرَّ مِثْلَ مَا تُرِيدُ مِنْ ذَا قَالَ بَلَى قَالَ فَإِنِّي لَا أَشْهَدُ قَالَ ابْنُ عَوْنٍ فَحَدَّثْتُ بِهِ مُحَمَّدًا فَقَالَ إِنَّمَا تَحَدَّثْنَا أَنَّهُ قَالَ قَارِبُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ

د نعمان بن بشیر نه روایت دے وائی چه خما پلار ماته څۀ هبه راکړه بیائے د رسول الله ﷺ خواله بوتلم حضرت ﷺ لره د گواه جوړولو دپاره. حضرت ﷺ تپوس اوکړو. آیا تا خپلو ټولو ځامنو له دغه شان ورکړی دی. خما پلار اووے نه حضرت ﷺ اوفرمائیل ولے تۀ نۀ غواړے چه ستا ټول ځامن د نیکان شی لکه څنگه چه دا هلك غواړے؟ هغوی اووے ولے نه. حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ نۀ گواه کیږم. ابن عون وائی ما دا حدیث محمد" ته بیان کړو. هغوی اووے ما ته نعمان دا بیان کړے دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل برابری کوئ خپل اولاد ته په ورکولو کښې.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَتِ امْرَأَةُ بَشِيرٍ انْحَلِ ابْنِي

د جابر" نه روایت دے وائی چه د بشیر ښځے خپل خاوند ته

غُلَامَكَ وَأَشْهِدْ لِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ ابْنَةَ فُلَانٍ سَأَلَتْنِي أَنْ أَنْحَلَ ابْنَهَا غُلَامِي وَقَالَتْ أَشْهِدْ لِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَهُ إِخْوَةٌ قَالَ نَعَمْ قَالَ أَفَكُلَّهُمْ أَعْطَيْتَ مِثْلَ مَا أَعْطَيْتَهُ قَالَ لَا قَالَ فَلَيْسَ يَصْلُحُ هٰذَا وَإِنِّي لَا أَشْهَدُ إِلَّا عَلَى حَقٍّ

اووے. چه دا غلام خما خوئ ته هبه کړه او گواه کړه په دے باندے جناب رسول الله ﷺ لره. هغوی د رسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه د فلانی لور ماته دا وئیلی دی چه زۀ د هغے خوئ ته خپل غلام هبه کړم او تاسو لره گواه کړم. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ددۀ نور هم رونړه شته؟ هغوی اووے آو شته. حضرت ﷺ اوفرمائیل تا هغوی ټولو ته دغه شان ورکړے دے کوم چه دِ دۀ تا ورکړو؟ هغوی اووے نه. حضرت ﷺ اوفرمائیل بیا خو دا صحیح نۀ دی. او زۀ خو گواه نۀ جوړیږم مگر په حق باندے.

بَابُ الْعُمْرَى

باب: د عمرىٰ بیان[1]

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى

د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ

---

[1] نووی وئیلی دی عمرىٰ وئیلے شی داسے وئیلو ته چه دا کور ما تا ته د عمر دپاره درکړو یا د ټول ژوند دپاره یا د کومے پورے چه ته ژوندے ئے. یا باقی پاتے ئے. زمونږ ملگرو وئیلی دی چه د عمرىٰ درے حالتونه دی. یو خو چه داسے اووائی چه دا کور ما تا له د ټول عمر دپاره درکړو بیا هر کله چه ته مړ شے نو ستا نه پس به ستا د وارثانو یا پس مانده گانو وی. دا عمرىٰ خو د خلاف نه بغیر صحیح ده او په مثل د هبے ده. په دے صورت کښې به د موهوب له د وفات نه پس هغه کور د هغۀ د وارثانو وی او کچرے وارث نۀ وی نو په بیت المال کښې به داخلیږی خو عمرىٰ کولو والا ته به بیا نۀ میلاویږی. دویم قسم دا ده چه داسے اووائی چه ما تا له د ټول عمر دپاره درکړو صرف دومره قدرے نور څۀ اونۀ وائی. په دے کښې د شافعی دوه قولونه دی ډیر صحیح دا دے چه دا هم صحیح دے او ددے حکم هم د اول پشان دے. او دویم قول ئے دا دے چه دا عقد باطل دے او زمونږ ځنے ملگرو وئیلی دی چه د شافعی قول قدیم دا دے چه دغه کور به د هغۀ د ژوند پورے د هغۀ په قبضه کښې وی او د هغۀ د وفات نه پس به عمرىٰ کولو والا ته میلاویږی. او کچرے هغه نۀ وی نو د هغه وارثانو ته به میلاویږی. او ځنو وئیلی دی چه قول قدیم ئے دا دے چه هغه به د عاریت په مثل وی هر کله چه عمرىٰ ورکولو والا غواړی واپس کولے به ئے شی. او کله هغه مړ شی نو دا حق به د هغۀ وارثانو حاصل وی. دریم دا چه داسے اووائی چه دا کور ما تا ته د عمر دپاره درکړو خو هر کله چه ته مړ شے نو دا کور به خما یا خما د وارثانو وی. ددے په صحت کښې اختلاف دے د بعضو په نزد دا عمرىٰ باطله ده. او ډیره صحیح دا ده چه دا عقد هم صحیح دے. او ددے حکم هم د اول په شان دے. او دلیل ددے احادیث صحیحه دی. او شروط فاسده لغوه دی. او چا ته چه عمرىٰ ورکړے مطلق صحیح ده او وخت مقررول پکښې صحیح نۀ دی. او د امام مالك په نزد په ټولو صورتونو کښې په عمرىٰ سره د نفع اخستلو حق به معمر له ته حاصل وی. او ملك د عمرىٰ کولو والا به په خپل دستور قائم وی. او د امام ابوحنیفه په نزد د عمرىٰ صحیح ده. او د هغوی مذهب هغه دے کوم چه د شافعی دے او دغه قول دے د ثوری او حسن بن صالح او د ابو عبید انتهیٰ بلفظه

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا رَجُلٍ أَعْمِرَ عُمْرَى لَهُ وَلِعَقِبِهِ فَإِنَّهَا لِلَّذِي أُعْطِيَهَا لَا تَرْجِعُ إِلَى الَّذِي أَعْطَاهَا لِأَنَّهُ أَعْطَى عَطَاءً وَقَعَتْ فِيهِ الْمَوَارِيثُ

فرمائیلی دی کوم سړی چه عمرٰی اوکړه د چادپاره او د هغهٔ د وارثانو دپاره (یعنی داسے اووائی چه دا کور ماتاته د تول عمر دپاره درکړو او ستا نه پس ستا وارثانو ته) نو هغه د هغه چا شو چا ته چه عمرٰی ورکړے شو. (یعنی د معمر له) او د ورکونکی په طرف به نهٔ واپس کیږی. ځکه چه دهٔ ورکړو په دے شان چه په هغے کښې ترکه راغله (یعنی د ارثانو حق اوګرځیدو).

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ أَعْمَرَ رَجُلًا عُمْرَى لَهُ وَلِعَقِبِهِ فَقَدْ قَطَعَ قَوْلُهُ حَقَّهُ فِيهَا وَهِيَ لِمَنْ أُعْمِرَ وَلِعَقِبِهِ غَيْرَ أَنَّ يَحْيَى قَالَ فِي أَوَّلِ حَدِيثِهِ أَيُّمَا رَجُلٍ أُعْمِرَ عُمْرَى فَهِيَ لَهُ وَلِعَقِبِهِ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے هغوی وائی ما اوریدلی دی د جناب رسول اللهﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو. څوک چه عمرٰی اوکړی د چا دپاره او د هغهٔ د وارثانو دپاره نو دهٔ خپل حق ضائع کړو اوس به هغه د معمر له وی او د هغهٔ د وارثانو به وی. د یحیٰی په روایت کښې داسے دی چه څوک عمرٰی اوکړی نو هغه د معمر له دے او د هغهٔ د وارثانو.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا رَجُلٍ أَعْمَرَ رَجُلًا عُمْرَى لَهُ وَلِعَقِبِهِ فَقَالَ لَهُ قَدْ أَعْطَيْتُكَهَا وَعَقِبَكَ مَا بَقِيَ مِنْكُمْ أَحَدٌ فَإِنَّهَا لِمَنْ أُعْطِيَهَا وَإِنَّهَا لَا تَرْجِعُ إِلَى صَاحِبِهَا مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ أَعْطَى عَطَاءً وَقَعَتْ فِيهِ الْمَوَارِيثُ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه جناب رسول اللهﷺ اوفرمائیل کوم سړے چه عمرٰی ورکړی بل لره د هغهٔ د ژوندون پورے او د هغهٔ نه پس د هغهٔ وارثانو ته او داسے اووائی چه دا ما تاسو له درکړو او ستاسو نه روستو ستا وارثانو لره. دکومے پورے چه په هغوی کښې یو ژوندے پاتے وی نو د هغهٔ به وی چا ته عمرٰی ورکړے شوے ده. او عمرٰی ورکولو والا ته به نهٔ میلاویږی. ځکه چه دهٔ په دے شان ورکړو چه په هغے کښې میراث راغے.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ إِنَّمَا الْعُمْرَى الَّتِي أَجَازَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقُوْلَ هِيَ لَكَ وَلِعَقِبِكَ فَأَمَّا إِذَا قَالَ هِيَ لَكَ مَا عِشْتَ فَإِنَّهَا تَرْجِعُ إِلَى صَاحِبِهَا قَالَ مَعْمَرٌ

د حضرت جابر نه روایت دے. هغه عمرٰی کومه چه جائز کړے ده جناب رسول اللهﷺ داده چه عمرٰی ورکونکے داسے اووائی چه دا ستا ده او ستا د وارثانو ده. او څوک چه داسے اووائی چه داستا دے د کومے پورے چه تهٔ ژوندے ئے. نو

وَكَانَ الزُّهْرِيُّ يُفْتِي بِهِ

هغه به دده د مرګ نه پس عمرٰی ورکونکی ته لاړ شی معمر وائی چه زهری به هم دغسے فتوٰی ورکوله.

عَنْ جَابِرٍ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَضٰى فِيمَنْ أُعْمِرَ عُمْرٰى لَهُ وَلِعَقِبِهِ فَهِيَ لَهُ بَتْلَةً لَا يَجُوزُ لِلْمُعْطِي فِيهَا شَرْطٌ وَلَا ثُنْيَا قَالَ أَبُو سَلَمَةَ لِأَنَّهُ أَعْطٰى عَطَاءً وَقَعَتْ فِيهِ الْمَوَارِيثُ فَقَطَعَتِ الْمَوَارِيثُ شَرْطَهُ

د جابرؓ بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ حکم اوکړو هغه څوك چه عمرٰی ورکړی یو سړی لره. او د هغهٔ نه پس د هغهٔ وارثانو لره نو قطعی د مُعمرله ملك کیږی. اوس څهٔ شرط یا استثناء د عمرٰی ورکولو والا به جائز نهٔ وی. ابوسلمه وائی ځکه چه دهٔ هغه ورکړه چه په هغے کښ میراث راغے. او میراث د هغهٔ شرط لره ختم کړو.

عَنْ جَابِرٍ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعُمْرٰى لِمَنْ وُهِبَتْ لَهُ

د حضرت جابر نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی عمرٰی هغه چا ته میلاویږی چا لره چه ورکړے شی.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْسِكُوْا عَلَيْكُمْ أَمْوَالَكُمْ وَلَا تُفْسِدُوهَا فَإِنَّهُ مَنْ أَعْمَرَ عُمْرٰى فَهِيَ لِلَّذِي أُعْمِرَهَا حَيًّا وَمَيِّتًا وَلِعَقِبِهِ

د حضرت جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی او نیسئ تاسو مالونو خپلو لره او مهٔ فاسد کوئ هغے لره ځکه چه څوك عمرٰی ورکړی هغه به د هغهٔ چا وی چا له چه ورکړے شی. کهٔ ژوندے وی یا مړ او د هغهٔ وارثانو لره.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰى حَدِيثِ أَبِي خَيْثَمَةَ وَفِي حَدِيثِ أَيُّوبَ مِنَ الزِّيَادَةِ قَالَ جَعَلَ الْأَنْصَارُ يُعْمِرُونَ الْمُهَاجِرِينَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَمْسِكُوْا عَلَيْكُمْ أَمْوَالَكُمْ

د جابر نه د ابی خیثمه راوی د حدیث د یوے معنے روایت کړے شوے دے. او د ایوب راوی په حدیث کښ دا زیاته ده چه انصارو عمرٰی کول شروع کړل د مهاجرینو دپاره. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل منع کړئ خپلو مالونو لره.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَعْمَرَتِ امْرَأَةٌ بِالْمَدِينَةِ حَائِطًا لَهَا ابْنًا لَهَا ثُمَّ تُوُفِّيَ وَتُوُفِّيَتْ بَعْدَهُ وَتَرَكَتْ وَلَدًا وَلَهُ إِخْوَةٌ بَنُونَ لِلْمُعْمِرَةِ

د جابر نه روایت دے. یوے ښځے په مدینه کښ خپل ځوی لره یو باغ ورکړو د عمرٰی په طور باندے. بیائے هغه ځوئ مړ شو د هغهٔ نه پس هغه ښځه مړه شوه او اولاد ئے پریخودهٔ

فَقَالَ وَلَدُ الْمُعْمِرَةِ رَجَعَ الْحَائِطُ إِلَيْنَا وَقَالَ بَنُو الْمُعْمَرِ بَلْ كَانَ لِأَبِينَا حَيَاتَهُ وَمَوْتَهُ فَاخْتَصَمُوا إِلَى طَارِقٍ مَوْلَى عُثْمَانَ فَدَعَا جَابِرًا فَشَهِدَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعُمْرَى لِصَاحِبِهَا فَقَضَى بِذَلِكَ طَارِقٌ ثُمَّ كَتَبَ إِلَى عَبْدِ الْمَلِكِ فَأَخْبَرَهُ ذَلِكَ وَأَخْبَرَهُ بِشَهَادَةِ جَابِرٍ فَقَالَ عَبْدُ الْمَلِكِ صَدَقَ جَابِرٌ فَأَمْضَى ذَلِكَ طَارِقٌ فَإِنَّ ذَلِكَ الْحَائِطَ لِبَنِي الْمُعْمَرِ حَتَّى الْيَوْمِ

او رورو. نو د ښځې اولاد اووے باغ بیا زمونږ په طرف راغے. او د هغهٔ خوئ اووے باغ ځما د پلار وو د هغهٔ په ژوند او مرګ کښ. بیا دواړو جهګړه اوکړه د طارق سره چه کوم ازاد کړے غلام وو د عثمان بن عفان هغوی جابر رااوغوښتو او جابر ګواهي ورکړه د رسول الله ﷺ په فرمائیلو باندے چه عمرٰی د هغه چا ده چا له چه ورکړے شی. بیا دغه حکم اوکړو طارق او پس ددے نه ئے عبد الملك بن مروان ته اولیکل چه جابر دغسے ګواهي ورکړے ده. عبد الملك اووے جابر ربنتیا وائی. بیا طارق هغه حکم جاری کړو. او هغه باغ د نن ورځے پورے د هغے هلك د اولاد سره دے.

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ طَارِقًا قَضَى بِالْعُمْرَى لِلْوَارِثِ لِقَوْلِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د سلیمان بن یسار نه روایت دے طارق فیصله اوکړه د عمرٰی د معمرله د وارث دپاره په وجه د جابر د حدیث کوم چه هغوی د رسول ا ﷺ نه روایت کړو. الله

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ الْعُمْرَى جَائِزَةٌ

د جابر بن عبد الله نه روایت دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه عمرٰی جائز ده.

عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ الْعُمْرَى مِيرَاثٌ لِأَهْلِهَا

د حضرت جابر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی عمرٰی میراث دے د هغه چا چاته چه عمرٰی ورکړے شوے وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعُمْرَى جَائِزَةٌ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه عمرٰی جائز ده.

كِتَابُ الْوَصِيَّةِ

د وصيّت بيان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْءٌ يُرِيدُ أَنْ يُوصِيَ فِيهِ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي مسلمان لره لائق نه دي چه د هغه سره څه څيز وي چه د هغے دپاره هغه لره وصيت كول غواړي او دوه شپے تيرے كړي بے د وصيت ليكلو نه په تر د هغے[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ يَبِيتُ ثَلَاثَ لَيَالٍ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ عِنْدَهُ مَكْتُوبَةٌ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ مَا مَرَّتْ عَلَيَّ لَيْلَةٌ مُنْذُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذٰلِكَ إِلَّا وَعِنْدِي وَصِيَّتِي

د عبدالله بن عمر نه روايت دے . هغوی اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه نه دی لائق چا مسلمان لره چه د هغه سره څه شے د وصيت كولو قابل وی او په هغه درے شپے تيرے شی. مگر د هغے وصيت د هغه سره ليكلے پكار دے. عبدالله بن عمر وائی ما چه د كله نه دا حديث د رسول الله ﷺ نه اوريدلے دے د هغے ورځے نه پس په ما يوه شپه هم داسے نه ده تيره شوے چه ځما سره د ځما وصيت نه وی[2].

عَنْ سَعْدٍ قَالَ عَادَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ مِنْ وَجَعٍ أَشْفَيْتُ مِنْهُ عَلَى الْمَوْتِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ بَلَغَنِي مَا تَرَى مِنَ الْوَجَعِ وَأَنَا ذُو مَالٍ وَلَا يَرِثُنِي إِلَّا ابْنَةٌ لِي وَاحِدَةٌ أَفَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِي قَالَ لَا قَالَ قُلْتُ

د سعد بن ابی وقاص نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ ځما تپوس له راغے په حجة الوداع كښ. او زه په داسے درد كښ مبتلا وم چه مرگ ته نزدے شوے وم. ما عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ ما ته چه څنگه درد دے تا ته پته ده. او زه مالدار سړے يم او ځما وارث سوا د يوے لور نه نور څوك نشته دے. آيا زه په دريو كښ دوه حصے مال خيرات كړم حضرت ﷺ اوفرمائيل نه ما اووے نيم مال خيرات كړم . حضرت ﷺ

[1] يعنی د كوم بنده سره چه حقوق يا مالونه وی او هغه لره وصيت ضروری وی نو غوره دا ده چه وصيت ليكلے هر وخت د خپل خان سره ساتی. داسے نه وی چه مرگ راشی او وصيت اونه ليكلے شی.

[2] نووی ونيلی دی اجماع كړے ده مسلمانانو يعنی اهل اسلام چه وصيت مامور به دے. ليكن زمونږ او د جمهور علماؤ مذهب دا دے چه وصيت مستحب دے واجب نه دے. او داؤد او اهل ظاهر وائی چه واجب دے. ليكن كچرے په چا بنده باندے قرض وی يا څه حق وی يا ورسره د چا امانت وی نو بيا په اتفاق سره واجب دے. او غوره دا دے چه اونے ليكی او په هغے باندے گواه اونيسی. اوكوم امر چه نوے وی هغے لره درج كوی. ليكن دا ضروری نه ده چه هره خبره د، ليكی بلكه د اهمو خبرو ليكل كافی دی.

أَفَأَتَصَدَّقُ بِشَطْرِهِ قَالَ لَا الثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ إِنَّكَ أَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ وَلَسْتَ تُنْفِقُ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللهِ إِلَّا أُجِرْتَ بِهَا حَتَّى اللُّقْمَةُ تَجْعَلُهَا فِي فِي امْرَأَتِكَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أُخَلَّفُ بَعْدَ أَصْحَابِي قَالَ إِنَّكَ لَنْ تُخَلَّفَ فَتَعْمَلَ عَمَلًا تَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللهِ إِلَّا ازْدَدْتَ بِهِ دَرَجَةً وَرِفْعَةً وَلَعَلَّكَ تُخَلَّفُ حَتَّى يَنْفَعَ بِكَ أَقْوَامٌ وَيُضَرَّ بِكَ آخَرُونَ اللَّهُمَّ أَمْضِ لِأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ وَلَا تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ لَكِنِ الْبَائِسُ سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ قَالَ رَثَى لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَنْ تُوُفِّيَ بِمَكَّةَ

اوفرمائيل نه په دريو كښې يوه حصه خيرات كړه او دا يوه حصه هم ډيره ده. كچرې ته خپلو وارثانو لره مالدار پريږدې نو غوره ده ددې نه چه ته هغوى لره محتاج پريږدې چه د خلقو په مخكښې خوارۀ لاسونه گرځي. او ته چه كوم خرچ كوې د الله د رضامندۍ دپاره او د هغې ثواب به تاته ميلاويږي تر دې پورې چه د هغۀ نمرئ هم كومه چه ته د خپلې ښځې په خلۀ كښې اوغورځوې. ما اووې يا رسول الله ﷺ ولې زۀ به رستو پاتې شم د خپلو ملگرو نه. حضرت ﷺ اوفرمائيل كچرې ته روستو پاتې شوې (يعني ژوند وې) بيا داسې عمل كوې چه په هغې سره د الله خوشحالي منظور وي نو ستا درجه به اوچتيږي او زياتيږي به او كيدې شي چه تۀ ژوندې پاتې شې چه فائده به وي ستا نه ځنې خلقو ته او نقصان به وي ستا نه ځنې خلقو ته يا الله ځما د صحابو هجرت پوره كړه او مۀ گرځوه هغوى لره په پوندو د هغوى باندې ليكن ناچاره سعد بن خوله دې. د هغوى دپاره خفگان اوكړو رسول الله ﷺ ددې وجې نه چه هغه مړ شو په مكه كښې[1].

---

[1]: نووي ونيلي دي ددې حديث نه دا معلومه شوه چه تپوس (يعني بيمار پُرسي) د مريض مستحب ده. او مال جمع كول جائز دي. زمونږ ملگرو ونيلي دي چه كچرې وارث مالدار وي نو په دريو كښې يوه حصه مال كښې وصيت كوي او كچرې محتاج وي نو د دريمې حصې نه په كم كښې وصيت كول مستحب دي. او اجماع كړې ده علماؤ چه د كوم سړي وارث موجود وي د هغۀ وصيت د دريمې حصې نه په زياته كښې به نا جاري كيږي. مگر د وارثانو په اجازت سره. او د چا چه وارث نشته د هغۀ هم وصيت د دريمې حصې مال نۀ په زياته كښې صحيح نۀ دې. زمونږ او د جمهور علماؤ په نز. او د ابوحنيفه او اسحق او احمد په نز په يو روايت كښې صحيح دې. ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چه په عزيز باندې احسان كول نور زيات ثواب دې او د عملونو ثواب په نيت سره دې. هر كله چه د الله د تابعدارۍ نيت وي نو په مباح كښې هم ثواب دې. بلكه خوړل د غلې د عبادت د طاقت دپاره. او اوده كيدل د عبادت دپاره د ويخيدو په واسطه. او د بي بي سره صحبت كول د زنانه د بچ كيدو دپاره. يعني كۀ زۀ پاتې شم سعد او يريدو چه چرته په مكه كښې پاتې نۀ شم حالانكه د هغه ځائې نه ئې هجرت كړې وو. او صحابو په مكه كښې مړه كيدل مكروه گڼړلو. د چا دپاره ئې هغې لره پريخودې وه د الله تعالى دپاره. قاضي عياض ونيلي دي ددې نه معلومه شوه چه د هجرت حكم د مكې د فتح كولو نه روستو هم باقي وو او بعضو ونيلي دي چه دا حكم د هغه خلقو دپاره دې چا چه د مكې د فتح نه روستو هجرت كړې وو. ليكن چا چه روستو هجرت كړې دې د هغوى دپاره دا حكم نشته. د آنحضرت ﷺ دا فرمائيل صحيح اوختل او سعد ژوندې پاتې شو تر دې پورې چه عراق ئې فتح كړو. او

عَنْ سَعْدٍ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيَّ يَعُودُنِي فَذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَعْدِ بْنِ خَوْلَةَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَكَانَ يَكْرَهُ أَنْ يَمُوتَ بِالْأَرْضِ الَّتِي هَاجَرَ مِنْهَا

د سعد نه روايت دے چه نبی ﷺ د بيمار پُرسئ دپاره خما خواله تشريف راوړو. وړاندے د زهری د حديث پشان مضمون دے مگر په دے کښې د سعد بن خوله په باره کښې د حضرت ﷺ قول ذکر شوے نهٔ دے. مگر په دے کښې دی چه سعد بن ابی وقاص بد گنړل په هغه زمکه باندے د مړتو نه چه هجرت کړے دے.

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ مَرِضْتُ فَأَرْسَلْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ دَعْنِي أَقْسِمْ مَالِي حَيْثُ شِئْتُ فَأَبَى قُلْتُ فَالنِّصْفُ فَأَبَى قُلْتُ فَالثُّلُثُ قَالَ فَسَكَتَ بَعْدَ الثُّلُثِ قَالَ فَكَانَ بَعْدُ الثُّلُثُ جَائِزًا

مصعب بن سعد د خپل پلار نه روايت کړے دے وائی چه زهٔ ناجوړه شوم نو ما رسول الله ﷺ ته قاصد اوليږو چه ماله اجازت راکړه د خپل مال د ويشلو چاله چه غواړم حضرت ﷺ او نهٔ منل. ما اووے د نيم مال د ويشلو اجازت راکړه حضرت ﷺ اونهٔ منل. ما اووے د دريمے حصّے مال اجازت راکړه. حضرت ﷺ چپ پاتے شو. بيا د دے نه د دريمه حصه مال ويشل جائز شو.

عَنْ سِمَاكٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فَكَانَ بَعْدُ الثُّلُثُ جَائِزًا

د سماك نه د دغه پورته حديث پشان روايت دے. په دے کښې دا نشته دے چه بيا د دے نه پس دريمه حصه ويشل جائز شو.

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ عَادَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ أُوصِي بِمَالِي كُلِّهِ قَالَ لَا قُلْتُ

د سعد نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ خما تپوس له راغے. ما عرض اوکړو چه زهٔ وصيت اوکړم د خپل ټول مال دپاره حضرت ﷺ اوفرمائيل نه بيا ما عرض اوکړم چه وصيت اوکړم د خپل نيم مال

هم دغسے اوشوه مسلمانانو ته فائده اوشوه د سعد نه هم د دين او هم د دنيا. او کافرانو ته نقصان اوشو چه هغه مړه شول او قيد شول او د هغوی ښځے وينځے جوړے شوے. قاضی عياض وئيلی دی مهاجر کهٔ په مکه کښې مړ شی نو د هغهٔ هجرت باطل نهٔ وی. په دے شرط چه په ضرورت سره وی او خنو وئيلی دی باطليږی. او خنو وئيلی دی هجرت خاص په اهل مکه باندے فرض شوے وو. دا د راوی قول دے حديث نهٔ دے. حديث د دے ځائے پورے دے چه بيچاره سعد بن خوله دے. او د سعد بن ابی وقاص کلام دے يا د زهری. دا سعد بن خوله هغه سړے دے چه دهٔ هجرت نهٔ وو کړے د مکے نه او هم هلته مړ شو. او بخاری وئيلی دی چه دهٔ هجرت کړے وو او د بدر په جنگ کښې شريك وو بيا مکے ته راغے او مړ شو. ابن هشام وئيلی دی چه دهٔ دويم هجرت د حبشے په طرف کړے وو او په بدر کښې شريك وو بيا په مکه کښې مړ شو. په حجة الوداع کښې په کال ١٠هـ يا ٧هـ کښې. نو د هغهٔ د تباهئ سبب دغه دے چه د هغهٔ هجرت خراب شو او د کوم ځائے نه چه نے هجرت کړے وو هلته مړ شو. اگر چه مرگ د هغهٔ په اختيار کښې نهٔ وو. دد نه معلومه شوه چه د کوم ځائے نه هجرت اوکړے شی بيا هلته مړ کيدل ښه نهٔ دی او په دے سره د هجرت په ثواب کښې خلل پريوځی.

فَالنِّصْفُ قَالَ لَا فَقُلْتُ أَبِالثُّلُثِ فَقَالَ نَعَمْ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ

عَنْ ثَلَاثَةٍ مِنْ وَلَدِ سَعْدٍ كُلُّهُمْ يُحَدِّثُهُ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى سَعْدٍ يَعُودُهُ بِمَكَّةَ فَبَكَى قَالَ مَا يُبْكِيكَ فَقَالَ قَدْ خَشِيتُ أَنْ أَمُوتَ بِالْأَرْضِ الَّتِي هَاجَرْتُ مِنْهَا كَمَا مَاتَ سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ اشْفِ سَعْدًا اللَّهُمَّ اشْفِ سَعْدًا ثَلَاثَ مِرَارٍ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي مَالًا كَثِيرًا وَإِنَّمَا يَرِثُنِي ابْنَتِي أَفَأُوصِي بِمَالِي كُلِّهِ قَالَ لَا قَالَ فَبِالثُّلُثَيْنِ قَالَ لَا قَالَ فَالنِّصْفُ قَالَ لَا قَالَ فَالثُّلُثُ قَالَ الثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ إِنَّ صَدَقَتَكَ مِنْ مَالِكَ صَدَقَةٌ وَإِنَّ نَفَقَتَكَ عَلَى عِيَالِكَ صَدَقَةٌ وَإِنَّ مَا تَأْكُلُ امْرَأَتُكَ مِنْ مَالِكَ صَدَقَةٌ وَإِنَّكَ أَنْ تَدَعَ أَهْلَكَ بِخَيْرٍ أَوْ قَالَ بِعَيْشٍ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَدَعَهُمْ يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ وَقَالَ بِيَدِهِ

دپاره. حضرت ﷺ اوفرمائیل نه. ما عرض اوکړو د دریمے حصے دپاره. حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. او دریمه هم ډیره ده.

د سعد درے واړو خامنو د خپل پلار سعدبن ابی وقاص نه روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ تشریف راوړو مکے ته د هغهٔ د بیمار پُرسئ دپاره. هغوی په ژړا شو حضرت ﷺ ترے تپوس اوکړو ولے ژاړے؟ سعد اووے زهٔ یریږم چه چرته مړ نهٔ شم په هغهٔ زمکه کښ چه د هغے ما هجرت کړے وو. لکه څنګه چه سعد بن خوله مړ شو. جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل یا الله شفا ورکړے سعد لره. درے ځله ئے داسے اووے. بیا سعد اووے یا رسول الله ﷺ ځما سره ډیر مال دے او ځما وارثه یوه لور ده. آیا زهٔ د ټول مال وصیت اوکړم (د فقراء او مساکینو دپاره) حضرت ﷺ اوفرمائیل نه ما عرض اوکړو بنه ده په دریو کښ د دوه حصے مال. حضرت ﷺ وفرمائیل. ما اووے بنه د نیم مال. حضرت ﷺ اوفرمائیل نه. ما عرض اوکړو د دریمے حصے. حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. دریمه او دریمه حصه ډیره ده. او تهٔ چه کومه صدقه ورکوے د خپل مال نه هغه صدقه ده. او کوم څهٔ چه خرچ کوی په خپل بال بچ باندے هغه هم صدقه ده. او څهٔ چه ستا بی بی خوری ستا د مال نه هغه هم صدقه ده. او څهٔ چه تهٔ خپلو خلقو ته پریږدے د نیکئ او آرام سره (یعنی مالدار او غنی والے) نو دا غوره ده ددے نه چه تهٔ پریږدے هغوی لره د خلقو په مخکښ خوارهٔ لاسونه. او اشاره اوکړه حضرت ﷺ په خپل لاس مبارک سره.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَوْ أَنَّ النَّاسَ غَضُّوا مِنَ الثُّلُثِ إِلَى الرُّبُعِ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ الثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ وَفِي حَدِيثِ وَكِيعٍ كَبِيرٌ أَوْ كَثِيرٌ

د ابن عباس نه روایت دے وائی چه کاش خلقو د دریمے نه کمه کړے وے او په څلورمه حصه کښې ئے وصیت کولے. ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ثُلُث ډیر دے[1].

بَابُ وُصُولِ ثَوَابِ الصَّدَقَاتِ إِلَى الْمَيِّتِ

باب: د صدقے ثواب مړی ته رسی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَبِي مَاتَ وَتَرَكَ مَالًا وَلَمْ يُوصِ فَهَلْ يُكَفِّرُ عَنْهُ أَنْ أَتَصَدَّقَ عَنْهُ قَالَ نَعَمْ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه یو سړی رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه خما پلار مړ شو او مال ئے پریخودو او وصیت ئے نه دے کړے. آیا د هغهٔ ګناهونه به اوبخښلے شی کچرے زهٔ د هغهٔ د طرفنه صدقه ورکړم. حضرت ﷺ اوفرمائیل آو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أُمِّيَ افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَإِنِّي أَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ فَلِي أَجْرٌ أَنْ أَتَصَدَّقَ عَنْهَا قَالَ نَعَمْ

د مومنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے یو سړی رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه خما مور ناڅاپه مړه شوه او زمونږ ګمان دے چه کچرے هغے خبرے کړے وے نو ضرور به ئے صدقه ورکړے وه. نو ما ته به ثواب میلاویږی کچرے زهٔ د هغے د طرفنه صدقه ورکړم؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل آو.

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أُمِّيَ افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَلَمْ تُوصِ وَأَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ أَفَلَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا قَالَ نَعَمْ

د مومنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے چه یو سړے رسول الله ﷺ له راغے او اوئے وئیل یا رسول الله ﷺ! خما مور ناڅاپه مړه شوه. او وصیت ئے اونهٔ کړو. او خما یقین دے کچرے خبرے ئے کړے وے نو ضرور به ئے صدقه ورکړے وے. آیا هغے ته به ثواب میلاویږی کچرے زهٔ د هغے د طرفنه

---

[1] نو د ثُلُث نه په کمه کښې وصیت کول نور زیات غوره دی او دغه قول دے د جمهورو علماؤ. حضرت ابوبکر او حضرت علی په پنځمه حسه کښې وصیت کړے وو. او ابن عمر او اسحق په څلورمه حصه کښې وصیت کړے وو. او خنو په شپږمه او خنو په لسمه حصه کښې وصیت کړے دے. او د حضرت علی او ابن عباس او د عائشے نه منقول دی چه د چا وارثان ډیر وی هغهٔ له بالکل وصیت نه کول مستحب دی هر کله چه مال لږ وی.

صدقه ورکړم؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. میلاویږی[1].

بَابُ مَا يَلْحَقُ الْإِنْسَانَ مِنَ الثَّوَابِ بَعْدَ وَفَاتِهِ

باب : د مرګ نه روستو انسان ته د څۀ ثواب رسی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ

د ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه بنیادم مړ شی نو د هغۀ عمل موقوف شی مګر د دریو څیزونو ثواب ئے جاری وی. یو د صدقے جارئیے بل د علم چه د هغے نه خلقو ته فائده رسی دریم نیك بخت اولاد چه هغه دُعا کوی د هغۀ دپاره[2].

بَابُ الْوَقْفِ

باب : د وقف بیان

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَصَابَ عُمَرُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه جناب حضرت عمر ته یوه زمکه میلاؤ شوه په خیبر کښ نو هغه په دے باب کښ د رسول

---

[1] : امام نووی وائی ددے حدیثونو نه دا معلومه شوه چه د مړی د طرفنه صدقه ورکول مستحب دی او هغۀ ته ئے ثواب رسی. او صدقه ورکونکی لره هم ثواب دے. او دا حدیثونه خاص کوی دے ایت لره "وَاَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى" او اجماع کړے ده مسلمانانو چه په وارث باندے د مړی د طرفنه صدقه واجب نۀ ده بلکه مستحب ده. او کوم چه قرض وی په مړی باندے د هغۀ د ترکے نه ادا کول ئے په وارث باندے واجب دی. خواه کۀ مړی وصیت کړے وی یا نۀ. او دا قرض به د مال د سَر نه ورکولے شی. اوس خواه کۀ هغۀ قرض د الله وی یا د بنده. لکه د زکوٰة او حج او نذر او کفاره او د روژے فدیه. او کچرے ترکه ئے نۀ وی نو په وارث باندے ئے ادا کول واجب نۀ دی بلکه مستحب دی.

[2] : نووی وائی عالمانو وئیلی دی چه مطلب ددے دادے چه هر کله بنیادم مړ شی نو د هغۀ عمل موقوف شی. او اوس نوے ثواب هغۀ ته نۀ میلاویږی. مګر ئے ددے دریو څیزونو نه ولے چه مړے د هغے سبب پریوځی. اولاد خو خاص ددۀ ګټه ده. دغه شان هغه علم چه هغه ئے په دنیا کښ پریخودے تعلیم وی یا تصنیف وی. دغه رنګه صدقه جاریه لکه وقف. او ددے حدیث نه لوئے فضیلت را اووتو د هغه نکاح چه هغه د ولد صالح په أمید سره اوشی. او په دے کښ د صحت وقف او د هغے د زیات ثواب دلیل دے او بیان دے د علم د فضیلت او ترغیب دے د هغے د حاصلولو او خورولو او په دنیا کښ د پریخودو په تعلیم یا تصنیف یا شرح سره. او ضروری ده چه په تولو علمونو کښ هغه علم اختیار کړی چه د هر څۀ نه زیات مفید دے. بیا د هغے نه روستو بیا د هغے نه روستو. او دا هم ثابته شوه چه د دعاء ثواب مړی ته رسیږی. دغه شان د صدقے او دغه شان د قرض د ادا کولو. او په دے باندے اجماع ده. او په دے کښ اختلاف دے او روژه د مړی ولی د هغۀ د طرفنه نیولے شی. لیکن قرآن لوستل او ثواب د هغے مړی ته رسول یا مونځ کول. نو د امام شافعی او د جمهور علماؤ مذهب دادے چه ددے څیزونو ثواب مړی ته نۀ شی رسیدے او په دے کښ اختلاف دے او ددے بیان پورته تیر شوے دے. (د احنافو په نز د قرآن او د مونځ دواړو ثواب تولو ته رسی. عارف)

يَسْتَأْمِرُهُ فِيهَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَصَبْتُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ لَمْ أُصِبْ مَالاً قَطُّ هُوَ أَنْفَسُ عِنْدِي مِنْهُ فَمَا تَأْمُرُنِي بِهِ قَالَ إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا قَالَ فَتَصَدَّقَ بِهَا عُمَرُ أَنَّهُ لاَ يُبَاعُ أَصْلُهَا وَلاَ يُبْتَاعُ وَلاَ يُورَثُ وَلاَ يُوهَبُ قَالَ فَتَصَدَّقَ عُمَرُ فِي الْفُقَرَاءِ وَفِي الْقُرْبَى وَفِي الرِّقَابِ وَفِي سَبِيلِ اللهِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَالضَّيْفِ لاَ جُنَاحَ عَلَى مَنْ وَلِيَهَا أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا بِالْمَعْرُوفِ أَوْ يُطْعِمَ صَدِيقًا غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ فِيهِ قَالَ فَحَدَّثْتُ بِهَذَا الْحَدِيثِ مُحَمَّدًا فَلَمَّا بَلَغْتُ هَذَا الْمَكَانَ غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ فِيهِ قَالَ مُحَمَّدٌ غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ مَالاً قَالَ ابْنُ عَوْنٍ وَأَنْبَأَنِي مَنْ قَرَأَ هَذَا الْكِتَابَ أَنَّ فِيهِ غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ مَالاً

الله ﷺ سره مشورے كولو ته راغے. هغوی اووے یا رسول الله! ما ته په خیبر کښې یوه زمکه میلاؤ شوے ده. داسے مزیدار مال ما ته چرته نۀ دے میلاؤ شوے. تاسو د هغے په باب کښې څۀ حکم کوئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے تۀ غواړے د زمکے ملکیت منع اوساته (یعني اصل زمکے لره) او صدقه ورکړه هغے لره (یعني د هغے نفع لره) بیا حضرت عمر هغے لره صدقه کړه په دے شرط باندے چه اصل زمکه دِنه خرڅولے شي او نه د اخستلے شي او نه دِ هغه د چا په میراث کښې راځي او نه به هبه کولے شي. او صدقه ئے کړه هغے لره په فقیرانو او رشته دارانو او غلامانو کښې (یعني د هغوی په ازادولو کښې د مدد ورکولو دپاره) او په مسافرو کښې او کمزورو خلقو کښې (یا د میلمه په میلمستیا کښې) او څوك چه دد دے انتظام کوی هغه د دد دے نه د دستور موافق خوری. یا دِ په چا دوست باندے خوروی لیکن مال دِ نۀ جمع کوی (یعني د روپو یو ځائے کولو په نیت سره به په دے تصرف نۀ کوی)[1].

بَاب تَرْكِ الْوَصِيَّةِ لِمَنْ لَيْسَ لَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ

باب: د چا سره چه څۀ شے قابل د وصیت نۀ وی هغۀ لره وصیت نۀ کول صحیح دی

عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى هَلْ أَوْصَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

د طلحه بن مصرف نه روایت دے چه ما د عبدالله بن اوفی نه تپوس اوکړو چه آیا رسول الله ﷺ وصیت کړے دے (د مال وغیره په باره کښې) هغوی اووے نه. ما اووے بیا په مسلمانانو باندے

[1] نووی وئیلی دی په دے حدیث کښې دلیل دے د هغه باب چه وقف صحیح دے. او دغه زمونږ او د جمهورو علماؤ مذهب دے. او اجماع ده د مسلمانانو د جماعتونو په وقف او د سقایو په وقف باندے. او د وقف کونکی شرطونه صحیح دی او د وقف بیعه یا هبه یا میراث صحیح نۀ دے. او وقف صدقه جاریه ده.

لَا قُلْتُ فَلِمَ كُتِبَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ الْوَصِيَّةُ أَوْ فَلِمَ أُمِرُوا بِالْوَصِيَّةِ قَالَ أَوْصَى بِكِتَابِ اللهِ

ولې وصیت فرض شوے دے یا هغوی ته ولې د وصیت حکم شوے دے. هغوی اووے حضرت ﷺ وصیت کړے دے د الله تعالی په کتاب باندے د عمل کولو[1].

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَلَا شَاةً وَلَا بَعِيرًا وَلَا أَوْصَى بِشَيْءٍ

د مؤمنانو د مور د حضرت عائشې نه روایت دے وائی نه دے پریخودے رسول الله ﷺ دینار او نۀ درهم او نۀ بزه او نۀ اوښ او نۀ ئې وصیت کړے دے (د څۀ مال دپاره)

عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ ذَكَرُوا عِنْدَ عَائِشَةَ أَنَّ عَلِيًّا كَانَ وَصِيًّا فَقَالَتْ مَتَى أَوْصَى إِلَيْهِ فَقَدْ كُنْتُ مُسْنِدَتَهُ إِلَى صَدْرِي أَوْ قَالَتْ حَجْرِي فَدَعَا بِالطَّسْتِ فَلَقَدِ انْخَنَثَ فِي حَجْرِي وَمَا شَعَرْتُ أَنَّهُ مَاتَ فَمَتَى أَوْصَى إِلَيْهِ

د اسود بن یزید نه روایت دے وائی چه خلقو د مومنانو د مور حضرت عائشې په خوا کښې ذکر اوکړو چه حضرت علی وصی وو د رسول الله ﷺ. هغوی اووے حضرت ﷺ هغوی لره د خپلې سینې سره لګولے ناسته وم یا هغوی څما په غیږه کښې وو چه په دے کښې حضرت ﷺ طشت (لاس لونے) او غوښتو. بیا حضرت اوغورځیدو څما په غیږه کښې او زۀ پوهه نۀ شوم چه حضرت وفات شو. بیا علی ته ئې څنګه وصیت اوکړو[2].

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَوْمُ الْخَمِيسِ وَمَا يَوْمُ الْخَمِيسِ ثُمَّ بَكَى حَتَّى بَلَّ دَمْعُهُ

د سعید بن جبیر نه روایت دے وائی چه ابن عباس اووے د جمعرات ورځ بیائې اوژړل تر دے پورے چه د اوښکو نه ئې ګیټئ لوندے شولې. ما اووے اے ابن عباس! د جمعرات د

---

[1]: نووی وئیلی دی. دا چه ئې کوم اووے چه رسول الله ﷺ وصیت نۀ دے کړے دد ے مطلب دادے چه دریمے حصے د مال یا د نور څۀ قدرے مال وصیت ئې نۀ دے کړے ځکه چه د هغوی سره مال نۀ وو. یا مطلب دادے چه حضرت علی یا بل چا لره ئې خپل وصي نۀ دے جوړ کړے. لکه څنګه چه شیعه ګمان کوی. او هغه کومه چه د هغوی زمکه په خیبر او فدك کښې وه. نو هغې لره خو حضرت ﷺ په خپل ژوند مبارك کښې د مسلمانانو دپاره وقف کړے وه. او دا څۀ چه دویم حدیث کښې دی چه حضرت ﷺ وصیت کړے دے د الله په کتاب باندے د عمل کولو دپاره. یا د اهل بیتو سره دښۀ سلوك کولو. یا مشرکانو لره د جزیرۀ عرب نه نۀ دی په دے صورت کښې به مخالفت نۀ کیږی. (انتهی)

[2]: شیعه وائی چه حضرت ﷺ جناب امیر لره خپل وصي او جانشین جوړ کړے وو. او دد ے نه غرض دادے چه د جناب امیر خلافت بلا فصل ثابت کړئ. اهل سنت لره د جناب امیر د فضیلت او بزرګئ او قرابت د رسول الله ﷺ نه انکار نشته دے. مګر کوم کار چه د حدیث صحیح نه ثابت نۀ وی هغه څنګه قبول کړی.

الْحَصٰى فَقُلْتُ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ وَمَا يَوْمُ الْخَمِيسِ قَالَ اشْتَدَّ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعُهُ فَقَالَ ائْتُونِي أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَا تَضِلُّوا بَعْدِي فَتَنَازَعُوا وَمَا يَنْبَغِي عِنْدَ نَبِيٍّ تَنَازُعٌ وَقَالُوا مَا شَأْنُهُ أَهَجَرَ اسْتَفْهِمُوهُ قَالَ دَعُونِي فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ أُوصِيكُمْ بِثَلَاثٍ أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ قَالَ وَسَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ أَوْ قَالَهَا فَأُنْسِيتُهَا قَالَ أَبُو إِسْحٰقَ إِبْرَاهِيمُ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ بِشْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بِهٰذَا الْحَدِيثِ

ورځے نه څۀ غرض دے. هغوی اووے په جناب رسول اللهﷺ باندے د بیمارئ سخته شوه . پس حضرتﷺ اوفرمائیل. ماله راورئ (دوات او تختئ) چه زۀ تاسو ته یو کتاب اولیکم ددے دپاره چه تاسو څما نه روستو گمراه نۀ شئ. ددے په اوریدو خلق په جهگړه شو او د پیغمبرؑ په خوا کښ جهگړه نۀ ده پکار. او اوئے وئیل د حضرتﷺ څۀ حال دے ولے د هغوی نه هم لغوه صادر کیدے شی. بیا ځان پوهه کړئ د هغوی نه. حضرتﷺ اوفرمائیل لرئ شئ څما د خوانه. زۀ چه په کوم کار کښ مشغول یم هغه بهتر دے (د هغے نه په کوم کښ چه تاسو مشغول یئ د جهگړے او د بك بك نه) زۀ تاسو ته د دریو خبرو وصیت کوم. یو خو دا چه د جزیرۀ عرب نه مشرکان اوباسئ. دویم کوم سفارتونه چه راځی د هغوی خاطر په داسے شان کوئ لکه څنگه چه ما کولو (ددے دپاره چه قومونه خوشحاله وی او دریمه خبره ابن عباس نه ده کړے یا سعیدؒ وائی چه څما هیر شو [1].

---

[1] د مسلم په روایت کښ أَهَجَرَ دے په همزه استفهام او دا صحیح دے د هغۀ روایت نه چه په هغے کښ هجر یا یهجر دے په اصل کښ معنی د هجر په ضم د ها سره هذیان او فحش گوئی ده. او دا امر د صحابؓو نه بعید دے چه د حضرت په نسبت داسے کلمه د خلے نه اوباسی او خصوصاً د حضرت عمر نه. نو معنی د أَهَجَرَ دا ده چه ولے د حضرتﷺ نه هم هذیان کیدے شی یعنی نۀ شی کیدے. دا استفهام انکاری دی نو په ښۀ شان پوهه شه چه په دے صورت کښ مقصود د حضرت عمر رد کول رو په هغه خلقو باندے چا چه د حضرتﷺ د مبارك حکم تعمیل او نۀ کړو. او دا خیال ئے اوکړو چه په حضرتؐ باندے د بیمارئ سختی ده معلومه نۀ ده چه دا وخت حضرتﷺ څۀ فرمائی چه ستاسو دا خیال لغوه دے. او د حضرتﷺ نه هذیان صادر کیدل محال دی. نووی وئیلی دی کچرے د هجر روایت بغیر همزه نه صحیح وی نو د ویونکی خطا ده هغه بغیر د خیال او فکر نه داسے لفظ وئیلے دے. او دا لرے نۀ ده د پریشانئ او تکلیف او رنځ په حالت کښ د رسول اللهﷺ د بیمارئ د وجے نه خو پکار وو داسے وئیل دا د بیمارئ سختی ده. لیکن د هجر لفظ ئے د ژبے نه وتلے دے. په نهایه کښ دی اهجر یعنی ولے د حضرتﷺ خبرے بدلے شوے دی په وجه د بیمارئ نو دا استفهام دے نۀ اخبار چه د هغے معنی د فحش او هذیان کیږی. ولے چه دا د حضرت عمر قول دے او د هغوی سره دا گمان نۀ شی کیدے چه هغه داسے لفظ د رسول اللهﷺ دپاره اووائي. او په مجمع البحار کښ اهجر دے چه د هغے معنی دا هم کیدے شی ولے حضرتﷺ تاسو پریخودئ. نو هجر ضد

دے د وصل او په یو روایت کښې أهجراً دے. انتهى. امام نووی ونولی دی دا خبره پیژندل پکار دی چه حضرت ﷺ پاک دے د دروغو نه یا د تغیر د احکام شرعیه نه په حالت د صحت او مرض دواړو کښې. او معصوم دے ددے نه چه د کوم امر د رسولوهغوی ته حکم اوشی او هغوی ئے او نۀ رسوی لیکن دبیمارئ او تکلیف او درد نه معصوم نۀ دے چه په دے کښې د څۀ قسم نقص یا د حضرت ﷺ د درجے انحطاط نۀ وی. او نۀ د شریعت فساد وی. او هر کله چه په هغوی باندے سحر شوے وو نو د حضرت ﷺ به دا خیال وو چه ما دا. فلانے کار کړے دے حالانکه هغه به ئے نۀ وو کړے مگر دا نۀ ده شوی چه هغوی د رومبو احکامو په خلاف څۀ حکم ورکړے وی. هر کله چه د دا خبره او پیژنده نو اوس واوره چه علماؤ اختلاف کړے دے په هغه کتاب کښې چه حضرت ﷺ ته څۀ لیکل منظور وو. خنو دا ونیلی دی چه په راتلونکی وخت کښې جهګړه او فساد نۀ وی. او خنو دا ونیلی دی چه د حضرت ﷺ غرض دا وو چه ددین د ضروریاتو خلاصه اولیکی چه په راتلونکی وخت کښې د هغوی په نسبت اختلاف نۀ وی او ټول خلق متفق پاتے شی په منصوص باندے او مخکښې حضرت ﷺ د هغه کتاب د لیکلو اراده اوکړه. هر کله چه ورته معلومه شوه چه په دغه کتاب د لیکلو اراده اوکړه. هر کله چه ورته معلومه شوه چه په دغه کښې مصلحت دے چه کتاب او نۀ لیکلے شی. نو حضرت ﷺ هغه حکم او اراده په خائے پاتے کړه. او حضرت عمر چه کوم دغه وخت اووے چه په رسول الله ﷺ باندے د بیمارئ شدت دے. او ستاسو سره قرآن موجود دے او کافی دے مونږ لره د الله تعالی کتاب. دا دلیل دے د حضرت عمر د زیاتے پوهے او باریک بینئ په دے واسطه چه هغوی دا خیال اوکړو چه چرے داسے نۀ وی چه حضرت ﷺ خنے داسے مشکلے خبرے اولیکی چه د هغے تعمیل د صحابؤ نه نۀ شی کیدے او گنهګار شی. نو هغوی اووے پوره دے مونږ لره د الله تعالی کتاب. او الله تعالی پخپله فرمائی مونږ په کتاب کښې یوه خبره نۀ ده پریخودے. او فرمائی نن ما ستاسو دین پوره کړو. نو هغوی ته معلومه وه چه الله تعالی خپل دین پوره کړے دے او د حضرت ﷺ ټول امت به نۀ ګمراه کیږی. ددے دپاره چه هغوی رسول الله ﷺ ته آرام ورکول غوښتلو. دداسے تکلیف په حالت کښې. او حضرت عمر د ابن عباس نه زیات پوهه وو. امام بیهقی د دلائل النبوة په آخر کښې لیکلی دی چه د حضرت عمر نیت رسول الله ﷺ ته راحت ورکول وو د بیمارئ په حالت کښې. او کچرے حضرت ﷺ ته دا منظوره وے چه کتاب د اولیکلے شی نو ضرور به ئے لیکلے وو. او د صحابو په اختلاف سره به ئے د الله حکم نۀ موقوف کوو. ولے چه الله تعالی فرمائیلی دی دی بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ. لکه څنګه چه حضرت ﷺ ددین په ټولو خبرو رسولو کښې د چا مخالف د مخالفت یا د دشمن د دشمنئ خیال نۀ دے کړے. او لکه څنګه چه د هغه خبرو حکم حضرت ﷺ پخپله ورکړے دے چه مشرکانو لره د جزیره عرب نه اوباسئ وغیره وغیره. بیهقی وائی سفیان بن عیینه د علم د خاوندانو نه نقل کړی دی چه حضرت ﷺ اراده اوکړه چه ابوبکر د خلافت دپاره اولیکی. لیکن هر کله چه حضرت ﷺ ته معلومه شوه چه تقدیر د الهی دغسے دے نو حضرت لیکل پاتے کړو. لکه څنګه چه د بیمارئ په شروع کښې هم هغوی لیکل غوښتلی وو. بیائے اوفرمائیل هائے شر او لیکل ئے پریخودو. او اوئے فرمائیل انکار کوی الله تعالی او انکار کوی مومنان مګر ابوبکر لره. او په ګوته ئے کړو حضرت ابوبکر لره د خپل خلافت دپاره ئے هغوی لره په مانځۀ کښې امام کړو. بیهقی وئیلی دی چه کچرے غرض د حضرت ﷺ دے نه احکامو لیکل وے نو حضرت عمر دا خیال اوکړو چه احکام ددین خو پخپله الله پوره کړی دی. او فرمائی: اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ. او څۀ واقعه به د قیامته پورے داسے نۀ وی چه د هغے دپاره صراحةً یا اشارةً په قرآن او حدیث کښې بیان نۀ وی. نو ددغه کار دپاره حضرت عمر حضرت ﷺ ته تکلیف ورکول مناسب نۀ ګڼرل دداسے بیمارئ په حالت کښې. او په دے کښې دا غرض هم وو چه د اجتهاد او استنباط دروازه بنده نۀ شی. او پخپله رسول الله ﷺ فرمائیلی وو هر کله چه حاکم په سوچ سره حکم ورکړی او

بیانئے تھیک کړی نو د هغه دپاره دوه اجرونه دی او کوم په غلطی کوی نو یو اجر دے. دا دلیل د هغه امر چه حضرت ﷺ ډیرو کارونو لره د علماؤ په رائے باندے پریخودی دی نو حضرت عمر هم د هغے پریخودل په داسے حال کښ مناسب اوګنړل ولے چه په دے کښ درجه میلاویده علماؤ ته او رسول الله ﷺ ته هم آرام حاصلیدو. او حضرت هم په دغه امر کښ په حضرت عمر باندے انکار اونۀ کړو او خاموش پاتے شو. دا دلیل دے د هغوی د رائے سره د موافقت کولو خطابی وئیلی دی د حضرت عمر قول په دے امر باندے محمول کول نۀ دی پکار چه هغوی د غلطئ خیال کړے دے په رسول الله ﷺ باندے یائے څۀ بل قسم ګمان کړے دے چه د هغوی سره لائق نۀ دے. مګر هر کله چه هغوی اولیدل چه په حضرت ﷺ باندے د مرض ډیره سختی ده او وفات نےډیر نزدے دے.نو د هغوی سره یره پیدا شوه چه کیدے شی حضرت ﷺ دا خبرےد بیمارئ په حالت کښ بغیر د ارادے نه کوی. نو منافقانو ته په دین کښ به د اعتراض کولو موقع میلاؤ شی. او د حضرت ﷺ صحابؓو به د حضرت ﷺ سره خبرے اترے کولے په څنے کارونو کښ د کومے پورے چه د حضرت ﷺ اراده قطعی نۀ وه. لکه څنګه چه نے د حدیبئے په ورځ خبرے اترے اوکړے او د قریشو سره نے په صلحه کولو کښ خبرے اترے اوکړے. البته هر کله چه به حضرت ﷺ د څۀ کار په حتمی طور باندے حکم کولو نو چا لره به د خبرو اتر مجال نۀ وو. او اکثر علماء په دے طرف دی چه د حضرت ﷺ نه په په هغه کارونو کښ خطا کیدے شی چه هغه صرف پخپل رائےسره ورکړی او د الله پاك د طرفنه په هغے کښ څۀ حکم نازل نۀ وی. لیکن په دے باندے اجماع ده چه حضرت ﷺ په دغه خطا باندے ثابت قدم نۀ شی پاتے کیدے. او دا خبره معلومه ده چه الله تعالی د هغوی درجه د ټولو مخلوقات نه زیاته کړے ده. په دے باندے چه حضرت سره د بشریت لوازمات پیښیدل لکه په مانځۀ کښ حضرت ﷺ ته سهوه اوشوه. پس ګمان کیدے شی چه په بیمارئ کښ هم داسے څۀ خبره پیدا شی. په دغه خیال سره حضرت عمر دوباره د تپوس کولو حکم اوکړو. خطابی وئیلی دی او د حضرت ﷺ نه مروی دے چه حضرت ﷺ فرمائیلی دی. خما دامت اختلاف رحمت دے. نو حضرت عمر دغے لره بهتر ګنړلو. او په دے حدیث باندے صرف دوه سړو اعتراض کړے دے. یو خو یے.دینه وو یعنی جاحظ او دویم په حماقت کښ مشهور یعنی اسحاق بن ابراهیم موصلی دۀ د خپل کتاب " اغانی " په شروع کښ د محدثینو بد وئیلی دی ا ودائے وئیلی دی چه هغه داسے احادیث روایت کوی چه په هغے پخپله نۀ پوهیږی. او ددے دواړو اعتراض دادے چه کچرے اختلاف رحمت وی نو اتفاق به د عذاب وی. او د هغے جواب دادے چه د اختلاف په رحمت کیدو سره د عذاب اتفاق کیدل ضروری نۀ دی. او د داسے لزوم قائل به هم هغه وی کوم چه جاهل دے. الله تعالی فرمائیلی دی چه شپه مے ستاسو دپاره رحمت کړو نو ولےددے نه به ورځ عذاب وی. خطابی وئیلی دی اختلاف په درے قسمه دے یو خو اختلاف اثبات صانع او د هغۀ په توحید کښ او د هغے نه انکار کفر دے. دویم د هغۀ په صفات او مشیت کښ او د هغے نه انکار بدعت دے. دریم په فروعی احکامو کښ لکه د یو شی په پاکوالی یا پلیتئ یا په حدث یا غیر حدث کښ اختلاف پس دے لره الله تعالی رحمت کړے دے او دغه اختلاف مراد دے په دے حدیث کښ دی "اِخْتِلَافُ أُمَّتِيْ رَحْمَةٌ". مازری وئیلی دی کۀ څوك اعتراض کوی چه صحابؤلره د آنحضرت ﷺ سره اختلاف په داسے موقعه کښ څنګه جائز شو حالانکه حضرت ﷺ صفا حکم اوکړو چه ماله دوات او کاغذ راوړئ چه زۀ یو کتاب اولیکم نو دا اختلاف نافرمانی ده د جناب رسول الله ﷺ او هغه حرامه ده. ددے جواب دادے چه هر یو امر د وجوب دپاره نۀ وی او د قرائنو نه دا خبره معلومیدے شی. نو صحابؤ ته د هغوی قرینه معلومه شوےوه چه د حضرت ﷺ دا حکم اختیاری وو نۀ وجوبی. بیا هغوی اختیار کړو نۀ لیکلو لره. او د حضرت عمر رائے دغےلره مقتضی شو. او کیدے شی هغوی دا ګنړلے وی چه دا حکم د حضرت ﷺ نه بے ارادے مصمم صادر شو او دغه مراد دے د هجر نه. انتهٰی ملخصاً.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ يَوْمُ الْخَمِيسِ وَمَا يَوْمُ الْخَمِيسِ ثُمَّ جَعَلَ تَسِيلُ دُمُوعُهُ حَتّٰى رَأَيْتُ عَلٰى خَدَّيْهِ كَأَنَّهَا نِظَامُ اللُّؤْلُؤِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ائْتُونِي بِالْكَتِفِ وَالدَّوَاةِ أَوِ اللَّوْحِ وَالدَّوَاةِ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ أَبَدًا فَقَالُوا إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَهْجُرُ

د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دے هغوی اووے د زیارت ورځ او څۀ ده د زیارت ورځ بیا د هغوی اوښکے روانے شوے په دوارو انتگو باندے لکه د ملغرو لړۍ هغوی اووے نبی ﷺ اوفرمائیل ماله هډوکے او دوات راوړئ یا تخته او دوات راوړئ زۀ ستاسو دپاره یو کتاب لیکم چه تاسو گمراه نۀ شئ روستو خما نه هیڅرے. پس خلقو اووئیل رسول الله ﷺ د بیمارۍ په تکلیف کښ بے اختیاره څۀ وائی.

د اردو کتاب مترجم وئیلی دی چه دا حدیث ډیر نازك حدیث دے او شیعه گانو دے لره دلیل گرځولے دے په حضرت عمر باندے د طعن کولو دپاره. حالانکه کچرے تسلیم کړے شی چه د حضرت عمر نه خطا شوے ده نو په دے کښ څۀ استبعاد دے. ولے چه مونږ حضرت عمر لره د خطا نه معصوم نۀ گڼړو. او داسے خطا خصوصاً د داسے غم او پریشانۍ په حالت لکه څنگه چه د حضرت ﷺ په بیمارۍ کښ په صحابو وو باعث د طعن نۀ شی کیدے. اکثر چه کله انسان په غم او مصیبت کښ بد حواسه شی نو زړۀ ئے په قابو کښ نۀ پاتے کیږی. د ژبے ذکر څۀ دے. پس په داسے یوه محتمل خبره سره چه د هغے تاویل صحیح هم کیدے شی. د حضرت عمر فضائل او مناقب متعدده پریخودل او په هغوی باندے ملامته وئیل د انتها درجه بے دینی او ناخدا ترسی ده. والله علی ذلك شهید.

نووی وائی اصمعی وئیلی دی جزیره عرب د عدن د آخری سر نه واخله د عراقه پورے دے په اوگدوالی کښ. او په پلنوالی د جدے نه واخله د شام د اطرافو پورے دے . او هروی د مالك نه نقل کړی دی چه د جزیره عرب نه مدینه مراد ده. او صحیح او مشهور د مالك نه دا دے چه مکه مدینه او یمامه او یمن ترے مراد دے. او د دے حدیث نه دلیل اخستے دے مالك او شافعی او علماء او هغوی د کافرانو ویستلو ته واجب وئیلی دی د عربو نه. او وئیلی ئے دی چه کافرانو ته په عربو کښ د اوسیدو اجازت نۀ دی ورکول پکار. لیکن شافعی رحمه الله د دے حدیث لره خاص کړے دے د جزیره عرب د یوے حصے سره او هغه د حجاز حصه ده. چه په هغے کښ مکه او مدینه او یمامه داخل دے نۀ یمن وغیره. او علماء وئیلی دی چه کفارو لره د عربو د مسافرۍ کولو نه دِ نۀ شی منع کولے لیکن هلته د درے ورځو نه د زیاتو اوسیدو نه دِ منع کولے شی. حضرت امام شافعی وئیلی دی چه د دے نه مکه او حرم مکه مستثنی دی. هلته به کافرو ته د داخلیدو هم اجازت نۀ شی ورکولے. او کچرے هلته مړ شی او دفن کړے شی نو د هغۀ لاش به راویستلے شی او لرے کولے به شی د کومے پورے چه پکښ تغیر نۀ وی راغلے. دغه قول دے د جمهور فقهاؤ او امام ابوحنیفه کافر لره په حرم کښ د داخلیدو اجازت ورکړے دے. او دلیل د جمهورو قول دے د الله تعالی. فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا

علماء اختلاف کړے دے چه هغه دریمه خبره څۀ وه بعضو وئیلی دی چه هغه د اسامه د لښکر سامان ورکول دی. او قاضی عیاض رحمه الله وئیلی دی هغه دریمه خبره دا وه چه خما قبر لره وثن مۀ جوړوئ. لکه څنگه چه د بتانو پرستش کیږی دغه شان خما د قبر پرستش او نۀ کړئ. او څنو وئیلی دی چه هغه د یهودو ویستل وو.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا حُضِرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَفِي الْبَيْتِ رِجَالٌ فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلُمَّ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَا تَضِلُّونَ بَعْدَهُ فَقَالَ عُمَرُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَدْ غَلَبَ عَلَيْهِ الْوَجَعُ وَعِنْدَكُمُ الْقُرْآنُ حَسْبُنَا كِتَابُ اللهِ فَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْبَيْتِ فَاخْتَصَمُوا فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ قَرِّبُوا يَكْتُبْ لَكُمْ رَسُولُ اللهِ ﷺ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ مَا قَالَ عُمَرُ فَلَمَّا أَكْثَرُوا اللَّغْوَ وَالِاخْتِلَافَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قُومُوا قَالَ عُبَيْدُ اللهِ فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ إِنَّ الرَّزِيَّةَ كُلَّ الرَّزِيَّةِ مَا حَالَ بَيْنَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ أَنْ يَكْتُبَ لَهُمْ ذٰلِكَ الْكِتَابَ مِنِ اخْتِلَافِهِمْ وَلَغَطِهِمْ

د ابن عباسؓ نه روایت دے هر کله چه د رسول الله ﷺ د وفات وخت رانژدے شو. نو دغه وخت په حجره دننه څو تنه سړی وو چه پکښ حضرت عمر هم وو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل راشئ زۀ تاسو ته یو کتاب لیکم چه تاسو گمراه نۀ شئ دد ے نه پس. حضرت عمر اووے چه په رسول الله ﷺ باندے د بیمارئ تکلیف دےاو ستاسو سره قرآن موجود دے. کافی دےمونږ لره د الله کتاب. او په کور کښ چه کوم خلق وو هغوی اختلاف اوکړو چا اووے دوات وغیره راوړئ چه رسول الله ﷺ کتاب اولیکی چه د هغے نه پس تاسو گمراه نۀ شئ او څنو د حضرت عمر د رائے مطابق اووے هر کله چه ددغه خلقو شور زیات شو او اختلاف ډیر شو د رسول الله ﷺ په مخکښ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل پاسئ ځئ. عبید الله وائی ابن عباس اوو‌ئیل لوئے مصیبت جوړ شو لوئے مصیبت جوړ شو دا چه رسول الله ﷺ د هغه خلقو د اختلاف او شور د وجے نه کتاب اونۀ لیکلو[1].

---

[1] دا د حضرت عمر رائے ده چه هغوی د حضرت ﷺ د حال په لیدو سره ظاهره کړه او د هغوی تکلیف ئے برداشت نۀ کړو. ورنه الله تعالی پخپله پخپل کلام مجید کښ فرمائی. مَا اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا. د الله کتاب مونږ ته د رسول الله ﷺ د اطاعت او تابعدارئ کولو دپاره حکم کوی. او په یو بل حدیث کښ دی چه او نۀ مومم زۀ په تاسو کښ چا لره تکیه کړے شوے په خپل چپرکټ خو چه څما حکم هغۀ ته اورسی او هغه دا اووائی چه زۀ نۀ یم خبر خو ما چه څۀ د الله په کتاب کښ موندل د هغے پیروی مے کړے ده. او په بل حدیث کښ دی چه ما د درکړی شوی قرآن مجید او پشان د هغے او په دے کښ څۀ شك نشته کچرے دغه کتاب ئے لیکلے وے نو دد ے نه به هدایت کیدو. خو چه الله تعالی ته څۀ منظوره وه هغسے اوشوه. او په دے کښ به څۀ ښۀ وی.

كِتَابُ النَّذْرِ

د نذر مسئلې

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ اسْتَفْتَى سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَذْرٍ كَانَ عَلَى أُمِّهِ تُوُفِّيَتْ قَبْلَ أَنْ تَقْضِيَهُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَاقْضِهِ عَنْهَا

د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه سعد بن عباده رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه د یوے مسئلې تپوس اوکړو. چه خما په مور باندے نذر وو. او هغوی د هغې د ادا کولو وړاندے مړه شوله حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل د هغې د طرفه ئے ته ادا کړه [1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا يَنْهَانَا عَنِ النَّذْرِ وَيَقُولُ إِنَّهُ لَا يَرُدُّ شَيْئًا وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الشَّحِيحِ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے وائی چه یوه ورځ رسول الله ﷺ مونږ منع کولو د نذر نه اوفرمائیلو ئے نذر یوے بلاء لره نه واپس کوی (کومه چه په تقدیر کښې راتلونکی وی) لیکن د نذر په وجه د بخیل د طرفنه مال رااوځی [2].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ النَّذْرُ لَا يُقَدِّمُ شَيْئًا وَلَا يُؤَخِّرُهُ وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ

د حضرت عبد الله بن عمر نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل نذر څه شی لره نه مخکښې کولے شی او نه ئے روستو کولے شی (بلکه کوم وخت چه د کوم کار د پاره په تقدیر کښې لیکلے وی نو هم په هغه وخت

---

[1] : نووی ونیلی دی چه اجماع کړے ده مسلمانانو د نذر په صحت باندے او د هغې د پوره کولو په وجوب باندے کچرے نذر عبادت وی. او د ګناه یا مباح نذر به منعقد نه وی او نه په هغې باندے کفاره شته دے. او دغه د اکثر علماؤ قول دے او د امام احمد او یو تولی په نز باندے په هغې کښې د قسم کفاره ده. او د مړی د طرفنه مالی حقوق په اتفاق د هغه وارث ادا کولے شی. او په بدنی کښې اختلاف دے. خو د مالك حقوقو ادا کول په هره طریقه واجب دی خواه که مړی وصیت کړے وی یا نه. د امام شافعی دغه قول دےاو د امام مالك او امام ابوحنیفه په نز که وصیت ئے کړے وی نو واجب دی. او که وصیت ئے نه وی کړے نو واجب نه دی. او د سعد د مور نذر مطلق وو. یا د روژے نذر وو یا عتق وو یا صدقه په دے کښې اختلاف دے. لیکن په هر حال کښې په وارث باندے ایفائے نذر ادا کول هغه وخت واجب دے هر کله چه مړی مال پریخودے وی او کچرے مال ئے نه وی پریخودے نو مستحب دی.

[2] : یعنی مؤمن لره پکار دی چه عبادت خالص د الله تعالی د رضامندئ د پاره اوکړی نه د خپلو مطلبونو او مرادونو په عوض کښې دا خو یو تجارت اوګرځیدو . او په تقدیر به یقین لری دا اعتقاد به نه لری چه په نذر سره تقدیر بد لیږی. هر کله چه د الله تعالی د نذر دا حال شو چه دد ے نه حضرت ﷺ منع کوله. نو د نورو بزرګانو نذر به معاذ الله څنګه صحیح شی او په دے سره به څنګه بلا رَد شی. دا د جاهلانو خیال دے الله تعالی د مونږ د هغوی نه بچ اوساتی.

به کیږي، بلکه نذر د بخیل د زړۀ نه مال اوباسي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى عَنِ النَّذْرِ وَقَالَ إِنَّهُ لَا يَأْتِي بِخَيْرٍ وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ

د حضرت عبد الله بن عمر نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ منع اوفرمائیله د نذر نه. او اوئے فرمائیل دا دے نه څۀ فائده نۀ وی (یعنی یوه راتلونکے بلا نۀ شی منع کولے او تقدیر نۀ شی بدلولے) بلکه د بخیل د زړۀ نه مال د نذر په سبب سره رااوخی (یعنی بخیل هسے خو خیرات نۀ کوی خو هر کله چه څۀ آفت راځی نو هم د نذر په بهانه روپۍ ورکوی او مسکینانو ته فائده وی)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ لَا تَنْذِرُوا فَإِنَّ النَّذْرَ لَا يُغْنِي مِنَ الْقَدَرِ شَيْئًا وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل نذر مۀ کوئ ولے چه په نذر سره تقدیر نۀ بدلیږی. صرف د بخیل نه مال جُدا کیږی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى عَنِ النَّذْرِ وَقَالَ إِنَّهُ لَا يَرُدُّ مِنَ الْقَدَرِ وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د نذر نه او فرمائیل ئے دی په دے سره تقدیر نه واپس کیږی. بلکه په دے سره د بخیل نه مال وتلے شی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ النَّذْرَ لَا يُقَرِّبُ مِنَ ابْنِ آدَمَ شَيْئًا لَمْ يَكُنِ اللهُ قَدَّرَهُ لَهُ وَلَكِنِ النَّذْرُ يُوَافِقُ الْقَدَرَ فَيُخْرَجُ بِذَلِكَ مِنَ الْبَخِيلِ مَا لَمْ يَكُنِ الْبَخِيلُ يُرِيدُ أَنْ يُخْرِجَ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نذر یو داسے څیز لره بنیادم ته نۀ نزدے کوی کوم چه الله تعالی د هغه په تقدیر کښې نۀوی لیکلی. لیکن نذر د تقدیر موافق کیږی. پس اوخی د نذر په وجه سره د بخیل نه هغه مال چه هغے لره هغه ویستل نه غواړی.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ كَانَتْ ثَقِيفُ حُلَفَاءَ لِبَنِي عُقَيْلٍ فَأَسَرَتْ ثَقِيفُ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَسَرَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د عمران بن حصین نه روایت دے په ثقیف او بنی عقیل کښې دوستی وه د حلف سره. نو ثقیف د رسول الله ﷺ په صحابو کښې دوه سړی قید کړل. او د رسول الله ﷺ صحابوؤ بنی عقیل نه یو سړے گرفتار کړو او عضباء (دا نوم دے د حضرت د اوښې) ئے هم دهغه سره اونیوه. بیا رسول الله ﷺ د هغه خواله راغے. هغه تړلے

وَسَلَّمَ رَجُلًا مِنْ بَنِي عُقَيْلٍ وَأَصَابُوا مَعَهُ الْعَضْبَاءَ فَأَتَى عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الْوَثَاقِ قَالَ يَا مُحَمَّدُ فَأَتَاهُ فَقَالَ مَا شَأْنُكَ فَقَالَ بِمَ أَخَذْتَنِي وَبِمَ أَخَذْتَ سَابِقَةَ الْحَاجِّ فَقَالَ إِعْظَامًا لِذَلِكَ أَخَذْتُكَ بِجَرِيرَةِ حُلَفَائِكَ ثَقِيفَ ثُمَّ انْصَرَفَ عَنْهُ فَنَادَاهُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِيمًا رَقِيقًا فَرَجَعَ إِلَيْهِ فَقَالَ مَا شَأْنُكَ قَالَ إِنِّي مُسْلِمٌ قَالَ لَوْ قُلْتَهَا وَأَنْتَ تَمْلِكُ أَمْرَكَ أَفْلَحْتَ كُلَّ الْفَلَاحِ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَادَاهُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ فَأَتَاهُ فَقَالَ مَا شَأْنُكَ قَالَ إِنِّي جَائِعٌ فَأَطْعِمْنِي وَظَمْآنُ فَأَسْقِنِي قَالَ هَذِهِ حَاجَتُكَ فَفُدِيَ بِالرَّجُلَيْنِ قَالَ وَأُسِرَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَأُصِيبَتِ الْعَضْبَاءُ فَكَانَتِ الْمَرْأَةُ فِي الْوَثَاقِ وَكَانَ الْقَوْمُ يُرِيحُونَ نَعَمَهُمْ بَيْنَ يَدَيْ بُيُوتِهِمْ فَانْفَلَتَتْ ذَاتَ لَيْلَةٍ مِنَ الْوَثَاقِ فَأَتَتِ الْإِبِلَ فَجَعَلَتْ إِذَا دَنَتْ مِنَ الْبَعِيرِ رَغَا فَتَتْرُكُهُ حَتَّى تَنْتَهِيَ إِلَى الْعَضْبَاءِ فَلَمْ تَرْغُ قَالَ وَنَاقَةٌ مُنَوَّقَةٌ فَقَعَدَتْ فِي

شوے وو. هغهٔ اووے یا محمد یا محمد. حضرت ﷺ د هغه خواله راغے او تپوس ئے ترے اوکړو. څهٔ وائیے. هغه اووے تاسو زهٔ په کوم قصور کښې نیولے یم. او د حاجیانو سردار (یعنی عضباء لره) مو په کوم قصور کښې نیولی ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل لوئے قصور دے او ماته نیولے ئے ستا د دوست ثقیف د قصور په بدله کښې.دے وینا سره حضرت ﷺ روان شو هغه بیا آواز اوکړو یا محمد یا محمد! او حضرت ﷺ زیات رحم دل او مهربانه وو حضرت ﷺ بیا واپس شو د هغه په طرف. او تپوس ئے تر اوکړو څهٔ وائے. هغهٔ اووے زهٔ مسلمان یم .حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے تا هغه وخت دا وئیلے وے کله چه ته د خپل کار مختار وے (یعنی گرفتار شوے نهٔ وے) نو بالکل خلاصے به دِ موندلے وو. بیا حضرت ﷺ واپس شو. هغهٔ ورته بیا آواز اوکړو یا محمد یا محمد . حضرت ﷺ بیا راغے او تپوس ئے اوکړو تاسو څهٔ وایئ. هغهٔ اووے زهٔ اوګے شوے یم په ما غله اوخوروه او تږے یم اوبهٔ راباندے اوڅکوه. حضرت ﷺ اوفرمائیل دا واخله (یعنی غله اوبهٔ ئے ورته ورکړے) بیائے د هغه دواړو سړو په بدله پریخودو کوم چه ثقیف قید کړی وو. راوی وائی په انصارو کښې یوه ښځه قید شوه او عضباء هم قید شوله. بیا هغه ښځه په بند کښې وه او کافر خپلو څناورو لره د خپل کور مخے ته آرام ورکوؤ. هغه یوه شپه اوتختیده د قید نه اووتله او د اوښانو خواله راغله . هغه چه به د کوم اوښ خواله ورتله هغه به آواز کوؤ هغے به هغه پریخودو تردے پورے چه د عضباء خواله راغله هغے آواز او نهٔ کړو. ا وهغه ډیره غریبه اوښه وه. ښځه د هغے په شا باندے کیښناسته او اووهله ئے هغے

عَجُزِهَا ثُمَّ زَجَرَتْهَا فَانْطَلَقَتْ وَنَذِرُوا بِهَا فَطَلَبُوهَا فَأَعْجَزَتْهُمْ قَالَ وَنَذَرَتْ لِلَّهِ إِنْ نَجَّاهَا اللَّهُ عَلَيْهَا لَتَنْحَرَنَّهَا فَلَمَّا قَدِمَتِ الْمَدِينَةَ رَآهَا النَّاسُ فَقَالُوا الْعَضْبَاءُ نَاقَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنَّهَا نَذَرَتْ إِنْ نَجَّاهَا اللَّهُ عَلَيْهَا لَتَنْحَرَنَّهَا فَأَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ بِئْسَمَا جَزَتْهَا نَذَرَتْ لِلَّهِ إِنْ نَجَّاهَا اللَّهُ عَلَيْهَا لَتَنْحَرَنَّهَا لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةٍ وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ الْعَبْدُ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ حُجْرٍ لَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ

لره نو هغه روانه شوه. كافرانو ته خبر اوشو. هغو په عضباء پسے روستو راروان شول (په خپله خپله اوښه باندے سوارۀ) ليكن غضباء هغو لره ستړى كړل (يعني چا هم اونۀ نيوه عضباء داسے تيز رفتاره وه) هغے ښځے د الله نذر اوكړو چه كچرے عضباء ما صحيح اورسوله نوزۀ به دا قرباني كوم . هر كله چه هغه ښځه مدينے ته راغله او خلقو اوليده. نو هغوى اووے دا خو عضباء ده د رسول الله ﷺ اوښه. هغے ښځے اووے ما نذر كړے ده. چه كچرے په عضباء باندے ماله الله تعالى خلاصے راكړى نو زۀ به دا قرباني كوم . ددے په اوريدو صحابه ؓ د رسول الله ﷺ خواله راغلل. او حضرت ﷺ ته ئے بيان اوكړو .حضرت ﷺ (په حيرانتياسره) اوفرمائيل سبحٰن الله څۀ بده بدله وركړه دغه ښځے عضباء لره (يعني عضباء خو د هغے روح بچ كړو او هغه د عضباء روح اخستل غواړى) هغے نذر كړے چه كۀ الله پاك د عضباء په شا باندے هغے له خلاصے وركړو نو هغه به هم دغه عضاء قرباني كوى. كوم نذر چه د ګناه دپاره اوكړے شى هغه به نۀ شى پوره كولے او نۀ هغه نذر چه د هغے انسان مالك نۀوى. او د ابن حجر په روايت كښې دى چه نشته دے نذر د الله تعالى په نافرمانۍ كښې [1].

[1]: نووى ونيلى دى ددے حديث نه دا معلومه شوه. چه كۀ چرے يو كافر قيد وى او بيا مسلمان شى نو هغه به نۀ شى قتلولے. ليكن هغه به غلام كوى يا به د هغه په بدل روپۍ يا بل سړے اخلى. يائے مفت پرېخودل صحيح دى. او كوم چه د قيد نه مخكښې مسلمان وى. نو هغه به د نورو مسلمانانو په شان بالكل آزاد وى. په دے موقعه باندے نقل ما ته ياد راغلے دى. يو كس د چا عالم نه تول علم حاصل كړو. هر كله چه فارغ شو نو يوه ورځ ئے چاړۀ تيره كړه. او د خپل استاد خواله په يواخوالى كښې اورسيدو. او ورته ئے اووے. تاسو په ما باندے دومره لوئے احسان كړے دے چه د هغے بدله په دنيا كښې څۀ نۀ شى كيدے. مګر يوه بدله ما دډير سوچ نه پس غوره كړے ده. استاد اووے هغۀ څۀ ده؟ شاګرد اووے زۀ په دے چاړه سره تاله شهيد كوم. تاسو به په مزه سره جنت ته اوسپارلے شئ او زۀ به دوزخى اوګنړلے شم. استاد ډير ګهبراؤ شو او د ډير سوچ نه پس ئے اووے چه تدبير خو تا ډير ښه سوچ كړے دے . ليكن لږ صبر اوكړه چه زۀ غسل اوكړم او كپړے بدلے كړم.

عَنْ أَيُّوبَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَفِي حَدِيثِ حَمَّادٍ قَالَ كَانَتِ الْعَضْبَاءُ لِرَجُلٍ مِنْ بَنِي عُقَيْلٍ وَكَانَتْ مِنْ سَوَابِقِ الْحَاجِّ وَفِي حَدِيثِهِ أَيْضًا فَأَتَتْ عَلَى نَاقَةٍ ذَلُولٍ مُجَرَّسَةٍ وَفِي حَدِيثِ الثَّقَفِيِّ وَهِيَ نَاقَةٌ مُدَرَّبَةٌ

د ايوب نه په دے اسناد سره په شان د هغے روايت دے او د حماد په روايت كښې دي چه عضباء د بني عقيل د يو سړي وه. او د حاجيانو سره چه به كومے اوښے مخكښې تلے د هغوی نه وه. او په دے روايت كښې دادي چه هغه ښځه د يوے اوښے خواله راغله چه هغه نرم مزاجه او غريبه وه. او د ثقفي په روايت كښې دي او هغه اوښه وه غريبه .

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى شَيْخًا يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ فَقَالَ مَا بَالُ هٰذَا قَالُوا نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ عَنْ تَعْذِيبِ هٰذَا نَفْسَهُ لَغَنِيٌّ وَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ

د حضرت انس نه روايت دے چه جناب رسول اللهﷺ يو بوډا اوليدو چه د خپلو دواړو ځامنو په مينځ كښې تكيه لګولے روان وو. حضرتﷺ تپوس اوكړو دده څه حال دے؟ خلقو اووے. دهٔ نذر كړے دے د پيدل تلو. حضرتﷺ اوفرمائيل الله تعالٰی بے پرواه دے ددے عذاب وركولو نه او حكم ئے اوكړو هغهٔ ته د سوريدو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَدْرَكَ شَيْخًا يَمْشِي بَيْنَ ابْنَيْهِ يَتَوَكَّأُ عَلَيْهِمَا فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ مَا شَأْنُ هٰذَا قَالَ ابْنَاهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَانَ عَلَيْهِ نَذْرٌ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ ارْكَبْ أَيُّهَا الشَّيْخُ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكَ وَعَنْ

د ابوهريره نه روايت دے چه جناب رسول اللهﷺ يو بوډا اوليدو چه د خپلو دوه ځامنو په مينځ كښې په تكيه روان وو. حضرتﷺ اوفرمائيل څه شوی دهٔ لره. د هغهٔ ځامنو اووے يا رسول اللهﷺ په دهٔ باندے نذر دے (پيدل حج له د تلو) جناب رسول اللهﷺ اوفرمائيل سور شه اے بوډا ولے

شاګرد اووے ډيره ښه ده او د حجرے نه بهر راووتو استاذ د حجرے دروازه بنده كړه او چغے ئے شروع كړے. چه يا خلقه راشئ ماوژنی . د كلي خلق را جمع شو او هغه شاګرد ئے ملامته كړو. هغهٔ اووے واه عجيبه ألته زمانه ده. ما خو د استاذ سره د نيكئ دپاره د خپل خان جهنمي كيدل قبول كړي وو چه د هغه عقل داسے التهه دے نو څما څهٔ غرض دے چه دهٔ ته د شهيد درجه وركوم. اګر چه ښناور قرباني كول څهٔ ګناه نهٔ ده خو دا د اخلاقو نه لرے خبره ده چه هغه ښناور د د سورلئ وي او مزيداره سورلي وركوي او د وخت مطابق په كار راځي هم هغه د قرباني كوي. ددے نه علاوه عضباء د رسول اللهﷺ اوښه وه. هغه دد غے ښځے ملك نهٔ وو. بيا د پردي ښناور قرباني كول په ګناه كښې داخل دي. نووي وائي ددے حديث نه دا معلومه شوه چه كوم بنده د ګناه كولو نذر اوكړي لكه د شرابو څښلو نو هغه نذر باطل دے. او په هغے كښې كفاره وغيره څهٔ نشته دے. د مالك او شافعي او ابوحنيفه او داؤد او جمهور علماء دغه قول دے . او د امام احمد په نز په هغے كښې د قسم كفاره ده.

نَذْرِكِ وَاللَّفْظُ لِقُتَيْبَةَ وَابْنِ حُجْرٍ

چه الله تعالی محتاجه نه دے ستااوستا د نذر ورکولو ته.

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّهُ قَالَ نَذَرَتْ أُخْتِي أَنْ تَمْشِيَ إِلَى بَيْتِ اللهِ حَافِيَةً فَأَمَرَتْنِي أَنْ أَسْتَفْتِيَ لَهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَفْتَيْتُهُ فَقَالَ لِتَمْشِ وَلْتَرْكَبْ

د عقبه بن عامر نه روایت دے چه خما خور نذر اوکړو چه د بیت الله پورے به خپے ابله خپے ځم نو حکم ئے اوکړو ما ته د رسول الله ﷺ نه د تپوس کولو. ما تپوس اوکړو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل پیدل دِ هم ځی او سوره دِ هم ځی[1].

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَفَّارَةُ النَّذْرِ كَفَّارَةُ الْيَمِينِ

د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د نذر کفاره هم هغه ده کومه چه د قسم کفاره ده[2].

---

[1]: نووي وئیلی دی چه بوڈا حدیث خو محمول دے په دے باندے چه څوك عاجز شی د تلو نه نو هغه د سور شی او یوه قربانی به اوکړی. او د عقبه د خور د حدیث مطلب دادے چه د کومے پورے چه طاقت وی نو پیدل دِ ځی بیا چه هر کله ستړے شی نو سوره دِ شی. په دے حدیث کښې به هم دم ورکوی. او دغه قول دے د شافعی او د یو جماعت او د خپے ابله خپو تلو په صورت کښې پیزار په خپلو کول صحیح دی.

[2]: نووي وئیلی دی زمونږ د صحابو په نز دا محمول دے نذر په الحاج باندے د هغے صورت دادے. مثلاً څوك اووائی چه که ما د زید سره خبرے اوکړے نو یو حج کول د خدائے دپاره په ما لازم دی. او بیا ورسره خبرے اوکړی نو دهٔ لره اختیار دے خوا کهٔ د قسم کفاره ورکوی یا نذر په ځائے راوړی. او د امام احمد په نز نذر محمول دے په معصیت باندے. لکه څوك نذر اوکړی د شرابو څښلو یا د بل څهٔ گناه نو هغه به کفاره ورکوی په شان د کفارے د قسم. او د یو جماعت د فقهاؤ د محدثینو مذهب دادے چه په هر نذر کښې دهٔ ته اختیار شته خواه کهٔ نذر پوره کوی خواه کهٔ کفاره ورکوی.

كِتَابُ الأَيْمَانِ

د قسمونو بیان

بَاب النَّهْيِ عَنِ الحَلِفِ بِغَيْرِ اللهِ تَعَالَى

باب: د الله تعالی نه سوا په بل چا د قسم خوړلو ممانعت

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ قَالَ عُمَرُ فَوَاللهِ مَا حَلَفْتُ بِهَا مُنْذُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهَا ذَاكِرًا وَلَا آثِرًا

د حضرت عمر بن خطاب نه روایت دے جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله تعالی منع کوی تاسو لره د پلار نیکهٔ د قسم خوړلو نه. حضرت عمر اووے قسم دے په الله باندے چه ما قسم نهٔ دے خوړلے د پلار نیکهٔ هر کله چه ما دا اوریدلی د رسول الله ﷺ نه. نهٔ د خپل طرف نه نهٔ د بل د طرفنه[1].

عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمَرَ وَهُوَ يَحْلِفُ بِأَبِيهِ بِمِثْلِ رِوَايَةِ يُونُسَ وَمَعْمَرٍ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ واوریدل د عمر نه قسم خوړل په خپل پلار سره بیائے بیان کړے دے حدیث لره پشان د روایت د یونس او معمر.

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَدْرَكَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فِي رَكْبٍ وَعُمَرُ يَحْلِفُ بِأَبِيهِ فَنَادَاهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا إِنَّ اللهَ عَزَّ

د عبد الله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ او موندو حضرت عمر لره په څو تنه سورو کښې او هغهٔ قسم خوړلو په خپل پلار باندے. نو رسول الله ﷺ ورته آواز اوکړو خبردار شه. الله تعالی منع کړی دی تاسو لره د خپل پلار نیکهٔ د قسم خوړلو نه. پس څوك چه

[1]: علمائے کرامو وئیلی دی حکمت د دے ممانعت دا دے چه په قسم سره عظمت یعنی لوئے والے راځی د هغه سړی په چا چه قسم اوخوړے شی. او لوئے والے په حقیقت کښې خاص الله لره دے پس نهٔ به شی مشابه کولے د الله سره هیڅوك. او د ابن عباس نه منقول دی چه کچرے زهٔ په الله قسم سل پیرے اوخورم او پوره ئے نهٔ کړم نو غوره ده د دے نه چه په بل چا قسم اوخورم او پوره ئے کړم. او کهٔ څوك اووائی چه یو حدیث کښې پخپله رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ' أَفْلَحَ وَأَبِيهِ إِنْ صَدَقَ ' او د هغهٔ په پلار ئے قسم خوړلے دے. جواب د دے دا دے چه دا په طور د عادت ئے د خُلے نه وتلی وو. او هلته ئے د قسم نیت نهٔ وو. او الله تعالی چه کوم پخپل مخلوق باندے قسم خوری هغه د دے وجے نه چه د الله تعالی نه اوچت څوك نشته دے. پس هغه شرف ورکوی خپل مخلوق لره په یو بل باندے په قسم خوړلو سره. نووی وئیلی دی زمونږ د علماؤ په نزد په غیر الله قسم خوړل مکروه دی حرام نهٔ دی.

وَجَلَّ يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ فَمَنْ كَانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ أَوْ لِيَصْمُتْ

ستاسو نه قسم خوړل غواړي هغه د په الله قسم خوري یا د چپ پاتے کیږي (یعنی هډو قسم د نه خوري ضرورت څه دے).

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ حَالِفًا فَلَا يَحْلِفُ إِلَّا بِاللهِ وَكَانَتْ قُرَيْشٌ تَحْلِفُ بِآبَائِهَا فَقَالَ لَا تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ

د عبدالله بن عمر نه روایت دے جناب رسول الله ﷺ فرمائیلي دي کوم بنده چه قسم خوړل غواړي هغه د قسم نه خوري مګر په الله تعالی باندے. قریشو به په خپل پلارانو او نیکونو باندے قسم خوړلو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل مه خورئ قسم په خپل پلار نیکه باندے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ مِنْكُمْ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ بِاللَّاتِ فَلْيَقُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ

د ابوهریره نه روایت دے جناب رسول الله ﷺ فرمائیلي دي څوك چه ستاسو نه قسم اوخوري په لات (او په عزّی) باندے (دا دواړه بتان وو د جاهلیت په زمانه کښ به ورته خلقو سجدے کولے) نو هغه د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اووائي. او څوك چه خپل ملګري ته اووائي راځه چه جواري اوکړو نو هغه د صدقه ورکړي[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحْلِفُوا بِالطَّوَاغِي وَلَا بِآبَائِكُمْ

د عبد الرّحمٰن بن سَمُره نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي مه خورئ قسم په بتانو او نه په خپلو پلارانو نیکونو.

بَاب نَدْبِ مَنْ حَلَفَ يَمِينًا فَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا أَنْ يَأْتِيَ الَّذِي هُوَ

باب: څوك چه په یو کار قسم اوخوري. بیا د هغے خلاف غوره اوګنړي، نو هغه د اوکړي او د قسم

[1] ولے چه دا هغه کار اوکړو کوم چه کافر کوي او د بتانو تعظیم کول کفر دے. نووي وئیلي دي هر کله چه څوك قسم اوخوري په لات او عزی باندے یا د بل یو بت یا داسے اووائي کچرے ما داسے اوکړل نو زهٔ به یهودي یم یا به نصراني یم یا به د اسلام نه وتلے یم. یا به د رسول الله ﷺ نه منکر یم نو د هغهٔ قسم به هډو منعقد نهٔ وي. او هغهٔ لره استغفار کول او کلمه لوستل پکار دي. او کفاره به پرے لازم نهٔ وي. او د ابوحنیفه په نز کفاره لازمیږي. مګر مبتدع یا بری مِنَ النبی ﷺ یا د یهودي یا نصراني په صورت کښ د دے دپاره چه هغه کفاره شي د ګناه. خطابي وئیلي دي دومره صدقه به ورکوي څومره چه جوارئ کولو والا ورکوي. مګر صحیح داده چه د مقدار څهٔ خصوصیت نشته. څومره چه ترے کیدے شي دومره صدقه دِ ورکړي. قاضي عیاض وئیلي دي د دے حدیث نه د جمهور علماؤ مذهب صحیح کیږي. چه ګناه هر کله په زړهٔ کښ جمع شي نو هغه هم ګناه کیږي. او د دے بیان د کتاب په شروع کښ په تفصیل سره تیر شوے دے. (نووي)

خَيْرٌ وَيُكَفِّرُ عَنْ يَمِينِهِ

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ مِنَ الْأَشْعَرِيِّينَ نَسْتَحْمِلُهُ فَقَالَ وَاللهِ لَا أَحْمِلُكُمْ وَمَا عِنْدِي مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ قَالَ فَلَبِثْنَا مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ أُتِيَ بِإِبِلٍ فَأَمَرَ لَنَا بِثَلَاثِ ذَوْدٍ غُرِّ الذُّرَى فَلَمَّا انْطَلَقْنَا قُلْنَا أَوْ قَالَ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ لَا يُبَارِكُ اللهُ لَنَا أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْتَحْمِلُهُ فَحَلَفَ أَنْ لَا يَحْمِلَنَا ثُمَّ حَمَلَنَا فَأَتَوْهُ فَأَخْبَرُوهُ فَقَالَ مَا أَنَا حَمَلْتُكُمْ وَلَكِنَّ اللهَ حَمَلَكُمْ وَإِنِّي وَاللهِ إِنْ شَاءَ اللهُ لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ ثُمَّ أَرَى خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا كَفَّرْتُ عَنْ يَمِينِي وَأَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ أَرْسَلَنِي أَصْحَابِي إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْأَلُهُ لَهُمُ الْحُمْلَانَ إِذْ هُمْ مَعَهُ فِي جَيْشِ الْعُسْرَةِ وَهِيَ غَزْوَةُ تَبُوكَ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ إِنَّ

کفاره د ورکړې

د حضرت ابوموسیٰ اشعری نه روایت دے وائی چه زهٔ د جناب رسول اللهﷺ خواله د څو اشعریانو سره د حضرتﷺ نه د سورلئ غوښتلو دپاره راغلم. حضرتﷺ اوفرمائیل په خدائے قسم دے تاسو له سورلئ نهٔ شم درکولے او څما سره یوه سورلئ نشته چه تاسو له ئے درکړم بیا حصار شو مونږ څومره چه الله ته منظوره وه. د دے نه پس جناب رسول اللهﷺ له اوښان راغلل. حضرتﷺ حکم اوکړو د سپین کوهان د درے اوښان د راکولو. هر کله چه مونږ روان شو نو مونږ او وے یا څنو زمونږ نه او وے چه الله برکت را نهٔ کړو مونږ ته چه مونږ د رسول اللهﷺ خواله راغلو او سورلئ مو اوغوښته نو حضرتﷺ قسم اوخوړو چه مونږ ته سورلئ نهٔ میلاویږی. بیا حضرتﷺ مونږ ته سورلئ راکړه. خلق راغے او رسول اللهﷺ ته ئے او وے. حضرتﷺ اوفرمائیل ما تاسو نه یئ سوارهٔ کړی مګر الله تعالی سوارهٔ کړئ. او زهٔ خو کهٔ الله غواړی د یوے خبرے قسم به نهٔ خورمه. بیا د هغے نه غوره بل کار اووینم مګر د خپل قسم کفاره به ورکوم او هغه کار به کوم کوم چه غوره دے[1].

د ابوموسیٰ نه روایت دے وائی چه څما ملګرو زهٔ اولیږلم په رسول اللهﷺ پسے د سورلئ غوښتلو دپاره. ځکه چه دا صحابه د هغوی سره تلی وو په جیش العُسره یعنی په غزوهٔ تبوک کښ. ما عرض اوکړو اے د الله نبیؐ څما ملګرو زهٔ رالیږلے یم ستاسو نه د سورلئ

[1] نووی وائی د دے حدیث نه او د دے نه پس چه کوم حدیثونه راځی دا معلومیږی چه د قسم خوړلو نه پس کچرے د هغے ماتول غوره معلوم شی نو مات د ئے کړی او کفاره د ورکړی او په دے باندے د علمائے کرامو اتفاق دے. او کفاره د قسم ماتولو نه مخکښ نهٔ واجبیږی. او د ماتولو نه پس کفاره ورکول صحیح دی لیکن د قسم نه مخکښ کفاره صحیح نهٔ ده په دے باندے هم اتفاق دے. او اختلاف دے په دے کښ چه د ماتولو نه مخکښ کفاره ورکول روا دی یا نه. نو د مالك او اوزاعی او ثوری په نز روا دی. او د امام ابوحنیفه په نز روا نهٔ دی.

أَصْحَابِي أَرْسَلُونِي إِلَيْكَ لِتَحْمِلَهُمْ فَقَالَ وَاللهِ لَا أَحْمِلُكُمْ عَلَى شَيْءٍ وَوَافَقْتُهُ وَهُوَ غَضْبَانُ وَلَا أَشْعُرُ فَرَجَعْتُ حَزِينًا مِنْ مَنْعِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمِنْ مَخَافَةِ أَنْ يَكُونَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ عَلَيَّ فَرَجَعْتُ إِلَى أَصْحَابِي فَأَخْبَرْتُهُمُ الَّذِي قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ أَلْبَثْ إِلَّا سُوَيْعَةً إِذْ سَمِعْتُ بِلَالًا يُنَادِي أَيْ عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسٍ فَأَجَبْتُهُ فَقَالَ أَجِبْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُوكَ فَلَمَّا أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُذْ هَذَيْنِ الْقَرِينَيْنِ وَهَذَيْنِ الْقَرِينَيْنِ وَهَذَيْنِ الْقَرِينَيْنِ لِسِتَّةِ أَبْعِرَةٍ ابْتَاعَهُنَّ حِينَئِذٍ مِنْ سَعْدٍ فَانْطَلِقْ بِهِنَّ إِلَى أَصْحَابِكَ فَقُلْ إِنَّ اللهَ أَوْ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْمِلُكُمْ عَلَى هَؤُلَاءِ فَارْكَبُوهُنَّ قَالَ أَبُو مُوسَى فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِي بِهِنَّ فَقُلْتُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْمِلُكُمْ عَلَى هَؤُلَاءِ وَلَكِنْ وَاللهِ لَا أَدَعُكُمْ حَتَّى يَنْطَلِقَ مَعِي بَعْضُكُمْ إِلَى مَنْ سَمِعَ مَقَالَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ سَأَلْتُهُ لَكُمْ وَمَنْعَهُ فِي أَوَّلِ مَرَّةٍ ثُمَّ

غوښتلو دپاره. حضرت ﷺ اوفرمائیل قسم په خدائے زهٔ تاسو لره سورلئ نهٔ درکوم. او اتفاقی خبره وه چه هر کله ما دا اووے حضرت ﷺ په غصه کښې وو. ما ته معلومه نهٔ وه زهٔ په خفګان سره واپس شوم. او په دوه خبرو زهٔ ډیر خفه وم. یو خو د رسول الله ﷺ په انکار. او دویم په دے خیال سره چه چرته حضرت ﷺ خما نه خفه شوے نهٔ وی. زهٔ د خپلو ملګرو خواله راغلم. او هغوی د جناب رسول الله ﷺ فرمائیل اوریدلی وو. لږ ساعت تیر نهٔ وو چه د بلال آواز مے واوریدو چه اے عبد الله بن قیس؛ (دا نوم دے د ابوموسیٰ اشعری) ما جواب ورکړو. هغوی اووے لاړ شه رسول الله ﷺ تالره غواړی. زهٔ د حضرت ﷺ خواله راغلم حضرت ﷺ اوفرمائیل دا جوړه واخله او دا جوړه او دا جوړه د اوښانو ټول شپږ اوښان چه هغے لره حضرت ﷺ د سعد نه اخستی وو. او دا بوځه خپلو یارانو له او ورته اووایه. الله تعالیٰ یاد هغهٔ رسول ﷺ دا سورلئ تاسو له درکړی دی. تهٔ سور شه په دے باندے. ابوموسیٰ وائی ما اوښان روان کړل او د خپلو ملګرو خواله لاړم او هغوی ته مے اووے. رسول الله ﷺ تاسو له دا سورلئ راکړی دی.لیکن زهٔ تاسو نهٔ پریږدم د کومے پورے چه ستاسو نه څهٔ خلق خما سره د هغه خلقو خواله لاړ نهٔ شی چا چه د رسول الله ﷺ ړومبے انکار اوریدلے دے. بیا ورکول د هغوی خو چه تاسو دا ګمان او نهٔ کړئ چه ما تاسو ته څئوئیلی وو هغه رسول الله ﷺ نهٔ وو فرمائیلی. (چونکه ړومبے رسول الله ﷺ ابوموسیٰ ته د سورلئ ورکولو نه انکار اوکړو او هغوی خپلو ملګرو ته اووے. روستو ددے نه حضرتؐ سورلئ ورکړے نو ابوموسیٰ اویریدهٔ چه چرته خما ملګری داسے او نهٔ ګنړی چه دهٔ د خپل طرفنه انکار کړے.

إِعْطَاءَهُ إِيَّايَ بَعْدَ ذٰلِكَ لَا تَظُنُّوا أَنِّي حَدَّثْتُكُمْ شَيْئًا لَمْ يَقُلْهُ فَقَالُوا لِي وَاللّٰهِ إِنَّكَ عِنْدَنَا لَمُصَدَّقٌ وَلَنَفْعَلَنَّ مَا أَحْبَبْتَ فَانْطَلَقَ أَبُو مُوسٰى بِنَفَرٍ مِنْهُمْ حَتّٰى أَتَوُا الَّذِينَ سَمِعُوا قَوْلَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْعَهُ إِيَّاهُمْ ثُمَّ إِعْطَاءَهُمْ بَعْدُ فَحَدَّثُوهُمْ بِمَا حَدَّثَهُمْ بِهِ أَبُو مُوسٰى سَوَاءً

عَنْ أَبِي قِلَابَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ أَبِي مُوسٰى فَدَعَا بِمَائِدَتِهِ وَعَلَيْهَا لَحْمُ دَجَاجٍ فَدَخَلَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَيْمِ اللّٰهِ أَحْمَرُ شَبِيهٌ بِالْمَوَالِي فَقَالَ لَهُ هَلُمَّ فَتَلَكَّأَ فَقَالَ هَلُمَّ فَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ مِنْهُ فَقَالَ الرَّجُلُ إِنِّي رَأَيْتُهُ يَأْكُلُ شَيْئًا فَقَذِرْتُهُ فَحَلَفْتُ أَنْ لَا أَطْعَمَهُ فَقَالَ هَلُمَّ أُحَدِّثْكَ عَنْ ذٰلِكَ إِنِّي أَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ مِنَ الْأَشْعَرِيِّينَ نَسْتَحْمِلُهُ فَقَالَ وَاللّٰهِ لَا أَحْمِلُكُمْ وَمَا عِنْدِي مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ فَلَبِثْنَا مَا شَاءَ اللّٰهُ فَأُتِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَهْبِ إِبِلٍ فَدَعَا بِنَا فَأَمَرَ لَنَا بِخَمْسِ ذَوْدٍ غُرِّ الذُّرٰى قَالَ فَلَمَّا انْطَلَقْنَا قَالَ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ أَغْفَلْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

وو او رسول الله ﷺ څکه ئې مخامخ کول اوغوښتل. څما ملګرو اووے په خدائے قسم دے چه ته زمونږ په تر رښتونې ئې. او څنګه چه ته وائے دغسے به مونږ کوؤ (يعني ستاسو سره به څو) بيا ابوموسیٰ د هغوی نه څو کسان د ځان سره د هغه خلقو خواله بوتلو چا چه د رسول الله ﷺ رومبے انکار او بيا د اوښانو ورکول اوريدلی وو. او هغوی هم هغسے بيان اوکړو. د ابوموسیٰ ملګرو ته لکه څنګه چه ابوموسیٰ هغوی ته بيان کړے وو.

د ابوقلابه نه روايت دے وائی چه زۀ د ابوموسیٰ سره وم هغوی خپل دسترخوان رااوغوښتو چه په هغے باندے د چرګ غوښه وه. يو سړے راغے د بنی تيم الله نه سور رنګ والا لکه څنګه چه غلام وی. ابوموسیٰ هغۀ ته اووے راځه (يعني زمونږ سره خوراك كښې شريك شه) هغه حصار شو. بيا ابوموسیٰ اووے راځه ولے چه ما رسول الله ﷺ لره په دے غوښه خوړلو ليدلے دے. هغه سړی اووے ما چرګ لره په څۀ خوړلو اوليدو (يعني ګندګئ وغيره باندے) نو ما ته كركه راغله او قسم مے اوخوړو چه اوس به ددے غوښه نۀ خورمه. ابوموسیٰ اووے راشه شريك شته. زۀ تاته د قسم حديث هم بيا نوم. چه زۀ د رسول الله ﷺ خواله راغلم د خپلو څو اشعری ملګرو سره د سورلئ غوښتلو دپاره حضرت ﷺ اوفرمائيل څما سره سورلئ نشته دے. او په الله قسم دے چه زۀ تاسو ته سورلئ نۀ درکوم. بيا د کومے پورے چه الله ته منظوره وه مونږ حصار شو. ددے نه پس رسول الله ﷺ ته د اوښانو لوټ راغے. حضرت ﷺ په مونږ پسے قاصد رااوليږۀ او د سپين قُب پنځۀ اوښان ئې راكړل. هر كله چه مونږ روان شو نو يو بل ته مو اووے چه د رسول الله ﷺ هير شو هغه قسم چه هغوی خوړلے وو (چه مونږ تاسو ته سورلئ نۀ

وَسَلَّمَ يَمِينَهُ لَا يُبَارَكُ لَنَا فَرَجَعْنَا إِلَيْهِ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا أَتَيْنَاكَ نَسْتَحْمِلُكَ وَإِنَّكَ حَلَفْتَ أَنْ لَا تَحْمِلَنَا ثُمَّ حَمَلْتَنَا أَفَنَسِيتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِنِّي وَاللهِ إِنْ شَاءَ اللهُ لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ فَأَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ وَتَحَلَّلْتُهَا فَانْطَلِقُوا فَإِنَّمَا حَمَلَكُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ

درکوؤ او مونږه هغوی ته یا دنۀ کړل نو برکت به نۀ وی مونږ ته بیا مونږ واپس هغوی له لاړو او عرض مو اوکړو یا رسول اللهؐ مونږ راغلی وو ستاسو نه د سورلئ غوښتلو دپاره نو تاسو قسم خوړلے وو چه تاسو ته سورلئ نۀ درکوؤ. بیا تاسو مونږ ته سورلئ راکړے او یا رسول اللهؐ خپل قسم دِ هیر وو. حضرتﷺ اوفرمائیل ځما خو په الله قسم دے کۀ الله تعالی غواړی یو قسم به او نۀ خورمه بیا چه د هغے نه غوره بله خبره اووینم نو کومه چه غوره خبره وی هغه کوم او خپل قسم ماتوم. پس تاسو ځئ تاسو له الله سورلئ درکړی دی (دغه شان تۀ هم خپل قسم مات کړه او د چرك غوښه چه حلاله ده خوره هغے لره)

عَنْ زَهْدَمٍ الْجَرْمِيِّ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى أَبِي مُوسَى وَهُوَ يَأْكُلُ لَحْمَ دَجَاجٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ وَزَادَ فِيهِ قَالَ إِنِّي وَاللهِ مَا نَسِيتُهَا

زهدم جرمی وئیلی دی چه زۀ د ابوموسیٰ خواله لاړم او هغوی د چرګ غوښه خوړه. وړاندے د تیر شوی حدیث پشان حدیث بیان کړو. مګر په دے کښ دومره زیاته ده چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل. په خدائے قسم چه ما قسم هیر کړے نۀ وو.

عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْتَحْمِلُهُ فَقَالَ مَا عِنْدِي مَا أَحْمِلُكُمْ وَاللهِ مَا أَحْمِلُكُمْ ثُمَّ بَعَثَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَلَاثَةِ ذَوْدٍ بُقْعِ الذُّرَى فَقُلْنَا إِنَّا أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْتَحْمِلُهُ فَحَلَفَ أَنْ لَا يَحْمِلَنَا فَأَتَيْنَاهُ فَأَخْبَرْنَاهُ فَقَالَ إِنِّي لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ أَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ

د ابوموسیٰ نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول اللهﷺ خواله راغلو د سورلئ غوښتلو دپاره. حضرتﷺ اوفرمائیل ځما سره سورلئ نشته دے. او زۀ تاسو ته قسم په خدائے سورلئ نۀ درکوم. بیا جناب رسول اللهﷺ مونږ ته درے اوښان رااولیږل چه د هغے قبونه ډیر اوچت وو. مونږه اووے مونږ خو د حضرتﷺ خواله ورغلی وو د سورلئ غوښتو دپاره. نو هغوی قسم خوړلے وو چه مونږ له سورلئ نه راکوی. بیا مونږ د هغوی خواله لاړو او هغوی ته مو بیان اوکړو. حضرتﷺ اوفرمائیل زۀ به په یوه خبره قسم نۀ خورم. بیا چه بله خبره غوره او وینم. نو هغه غوره کار کوم (او د قسم کفاره ورکوم)

عَنْ أَبِي مُوسٰى قَالَ كُنَّا مُشَاةً فَأَتَيْنَا نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْتَحْمِلُهُ بِنَحْوِ حَدِيْثِ جَرِيْرٍ

د ابوموسیٰ نه روایت دے مونږ پیدل وو په سفر کښې نو د رسول الله ﷺ نه د سورلئ غوښتلو دپاره راغلو. بیائے بیان کړو حدیث لره په دغه شان لکه چه پورته تیر شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَعْتَمَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ فَوَجَدَ الصِّبْيَةَ قَدْ نَامُوا فَأَتَاهُ أَهْلُهُ بِطَعَامِهِ فَحَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ أَجْلِ صِبْيَتِهِ ثُمَّ بَدَا لَهُ فَأَكَلَ فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيَأْتِهَا وَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ

د ابوهریره نه روایت دے وائی چه یو سړی د رسول الله ﷺ سره (په مجلس کښې) ډیر ساعت تیر کړو. بیا چه هغه خپل کور ته لاړو نو بچی ئے اوده شوی وو. د هغهٔ ښځی غله راوړه. هغهٔ قسم اوخوړو چه زهٔ نهٔ خورم د خپلو بچو د وجے نه بیا هغهٔ ته نهٔ خوړل نامناسب معلوم شو. او هغهٔ اوخوړه. دد ے نه پس بیا د رسول الله خواله راغے او هغوی ته ئے بیان اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل کوم بنده چه قسم اوخوری په څهٔ خبره باندے بیا بله خبره د هغے نه غوره اوګنړی نو او دئے کړی او د قسم کفاره دِ ورکړی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ وَلْيَفْعَلْ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی چا چه قسم اوخوړو په څهٔ خبره باندے بیائے بله خبره د هغے نه غوره اوګنړله نو د قسم دِ کفاره ورکړی. او هغه غوره خبره دِ اوکړی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ وَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوک چه قسم اوخوری په څهٔ خبره. بیا د هغے خلاف ورته غوره ښکاره شی نو کوم چه ورته غوره ښکاری هغه دِ اوکړی او د قسم دِ کفاره ورکړی.

عَنْ سُهَيْلٍ فِي هٰذَا الْإِسْنَادِ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ مَالِكٍ فَلْيُكَفِّرْ يَمِيْنَهُ وَلْيَفْعَلِ الَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ

د سهیل نه په دغه اسناد سره روایت دے په دے کښې دادی چه کفاره دِ ورکړی د قسم او کوم کار چه غوره دے هغه دِ اوکړی.

عَنْ تَمِيمِ بْنِ طَرَفَةَ قَالَ جَاءَ سَائِلٌ إِلَى عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ فَسَأَلَهُ نَفَقَةً فِي ثَمَنِ خَادِمٍ أَوْ فِي بَعْضِ ثَمَنِ خَادِمٍ فَقَالَ لَيْسَ عِنْدِي

د تمیم بن طرفه نه روایت دے وائی چه یو فقیر د عدی بن حاتم خواله راغے او سوال ئے اوکړو د هغوی نه د یو غلام د قیمت یا د هغهٔ د قیمت د څهٔ حصے عدی اووے څماسره څهٔ نشته دے مګر یوه

مَا أُعطِيكَ إِلاَّ دِرْعِي وَمِغْفَرِي فَأَكْتُبُ إِلَى أَهْلِي أَنْ يُعْطُوكَهَا قَالَ فَلَمْ يَرْضَ فَغَضِبَ عَدِيٌّ فَقَالَ أَمَا وَاللهِ لاَ أُعطِيكَ شَيْئًا ثُمَّ إِنَّ الرَّجُلَ رَضِيَ فَقَالَ أَمَا وَاللهِ لَوْلاَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ ثُمَّ رَأَى أَتْقَى لِلّٰهِ مِنْهَا فَلْيَأْتِ التَّقْوَى مَا حَنَّثْتُ يَمِينِي

زغره او د اوسپنے د توپئ نه خو زهٔ خپل کور والاته لیکم تاله د درکولو دپاره هغه پدے راضی نهٔ شو. عدی غصه شو او وے ورته ئے اوے قسم په خدائے زهٔ تاته هیڅ نهٔ درکوم بیا هغه سړے راضی شو. عدی اووے کچرے ما د رسول الله ﷺ نه دا نهٔ وے اوریدلے چه هغوی فرمائیلی دی کوم بنده چه قسم اوخوری او بیا بله خبره د هغے نه زیاته د پرهیز ګاریٔ اوګنړی نو هغه خبره دِ اوکړی. نو ما به خپل قسم نهٔ وو مات کړے (او تاته به مے څهٔ نهٔ وو درکړی)

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ وَلْيَتْرُكْ يَمِينَهُ

د عدی بن حاتم نه روایت دے وائی چه جناب رسولِ خدا ﷺ فرمائیلی دی څوك چه قسم اوخوری او بیا د هغے خلاف کول غوره اوګنړی نو هغه دِ اوکړی. او قسم دِ پریږدی.

عَنْ عَدِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَلَفَ أَحَدُكُمْ عَلَى الْيَمِينِ فَرَأَى خَيْرًا مِنْهَا فَلْيُكَفِّرْهَا وَلْيَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ

د عدی بن حاتمؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه څو قسم وکړی د یو کار او د هغے نه غوره وګوری نو د قسم کفاره دے ورکړی او هغه غوره کار دِ وکړی.

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ وَأَتَاهُ رَجُلٌ يَسْأَلُهُ مِائَةَ دِرْهَمٍ فَقَالَ تَسْأَلُنِي مِائَةَ دِرْهَمٍ وَأَنَا ابْنُ حَاتِمٍ وَاللهِ لاَ أُعطِيكَ ثُمَّ قَالَ لَوْلاَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ ثُمَّ رَأَى خَيْرًا مِنْهَا فَلْيَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ

د عدی بن حاتم نه روایت دے چه یو سړے د هغوی خواله راغے او سل درهمهٔ ئے اوغښتل هغوی اووے ته څما نه سل درهمه غواړے او زهٔ د حاتم خوئ یم قسم په خدائے چه زهٔ ئے تاله نهٔ درکوم. بیائے اووے ما به داسے کړے وے (یعنی تا ته به مے نهٔ وے ورکړے) کچرے ما د رسول الله ﷺ نه دا نهٔ وے اوریدلے چه فرمائیلی ئے وو څوك چه قسم اوخوری د څهٔ کار او بیا د هغے نه بهتر بل کار اوګنړی نو کوم چه غوره دے هغه دِ اوکړی.

عَنْ تَمِيمِ بْنِ طَرَفَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَدِيَّ بْنَ حَاتِمٍ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَهُ فَذَكَرَ مِثْلَهُ وَزَادَ وَلَكَ أَرْبَعُمِائَةٍ فِي عَطَائِي

د تمیم بن طرفه نه روایت دے وائی چه ما د عدی بن حاتم نه اوریدلی دی چه یو سړی د هغوی نه سوال اوکړو بیائے بیان کړو حدیث په دغه شان لکه چه پورته تیر شو. په دے کښ دا دی چه

عدی اووے تۀ څلور سوه درهمه واخله څما د تنخواه نه.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ لِيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ سَمُرَةَ لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ فَإِنَّكَ إِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا وَإِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا وَإِذَا حَلَفْتَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَيْتَ غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَكَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ وَائْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ

د عبد الرّحمٰن بن سمره نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ ما ته اوفرمائیل اے عبد الرّحمٰن بن سمره! د حکومت خواهش مۀ کوه ولے چه کۀ په درخواست باندے تاته حکمت میلاو شی نو الله تعالی به ستا مدد نۀ کوی. او چه بغیر د خواهش یعنی غوښتلو نه میلاؤ شی نو الله تعالی به ستا مددګار وی او هر کله چه تۀ په څۀ کار باندے قسم اوخورے او بیا د هغے نه خلاف غوره اوګنړے نو د قسم کفاره ورکړه او کوم کار چه غوره دے هغه اوکړه.

بَابُ يَمِينِ الْحَالِفِ عَلَى نِيَّةِ الْمُسْتَحْلِفِ

باب: د قسم ورنکی د نیت مطابق به قسم وی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمِينُكَ عَلَى مَا يُصَدِّقُكَ عَلَيْهِ صَاحِبُكَ وَقَالَ عَمْرٌو يُصَدِّقُكَ بِهِ صَاحِبُكَ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی قسم به ستا په هغه مطلب باندے وی په کوم چه ستا ملګرے تا لره رښتونے اوګنړی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَمِينُ عَلَى نِيَّةِ الْمُسْتَحْلِفِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے وائی چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی د قسم مطلب د قسم خوړونکی د نیت موافق وی[1].

بَابُ الْإِسْتِثْنَاءِ فِي الْيَمِينِ وَغَيْرِهَا

باب: په قسم کښې انشاء الله وئیل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ لِسُلَيْمَانَ سِتُّونَ امْرَأَةً فَقَالَ لَأَطُوفَنَّ عَلَيْهِنَّ اللَّيْلَةَ فَتَحْمِلُ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ فَتَلِدُ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ غُلَامًا فَارِسًا يُقَاتِلُ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے وائی چه د حضرت سلیمان علیه السلام شپیتۀ بیبیانے وے. هغوی اووے زۀ به ددے ټولو سره په یوه شپه کښې میلاویږم او ټولے به حملدارے کیږی بیا به هره یوه د هغوی نه یو یو هلك راوړی چه هغه به غتیږی او د الله تعالی په لار کښې به جهاد

[1]: ددے حدیثونو مطلب دادے چه هر کله قاضی یا بل څوك چا له قسم ورکړی او هغه د مکاریٔ نه د خپل ځان د ګناه نه د بچ کولو دپاره قسم اوخوری او د هغے مطلب بل شان وی نو دا مکرو ته فائده نۀ ورکوی او دا قسم به په دۀ پریوځی او په دے باندے اجماع ده. (نووی)

فِي سَبِيلِ اللهِ فَلَمْ تَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلَّا وَاحِدَةٌ فَوَلَدَتْ نِصْفَ إِنْسَانٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ اسْتَثْنَى لَوَلَدَتْ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ غُلَامًا فَارِسًا يُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللهِ

کوی (بیا حضرت سلیمان علیه السلام د هغوی تولو سره کوروالے اوکړو) لیکن یوه هم حامله نۀ شوه سوا د یوے ښځے نه چه هغے هم نیم بچے اوزیږوو (چه د هیڅ کار نۀ وو) جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کچرے سلیمان انشاء الله وئیلے وے نو هرے یوے ښځے به یو هلك زیږولے وو او شاهسوار به وو د الله تعالی په لاره کښې به ئے جهاد کوؤ [1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ نَبِيُّ اللهِ لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى سَبْعِينَ امْرَأَةً كُلُّهُنَّ تَأْتِي بِغُلَامٍ يُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللهِ فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ أَوِ الْمَلَكُ قُلْ إِنْ شَاءَ اللهُ فَلَمْ يَقُلْ وَنَسِيَ فَلَمْ تَأْتِ وَاحِدَةٌ مِنْ نِسَائِهِ إِلَّا وَاحِدَةٌ جَاءَتْ بِشِقِّ غُلَامٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ لَمْ يَحْنَثْ وَكَانَ دَرَكًا لَهُ فِي حَاجَتِهِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی حضرت سلیمان بن داؤد علیه السلام پیغمبر اووے زۀ به په دے شپه د اویاؤ ښځو سره یو ځائے کیږم (په یو روایت کښې لس اتیا دی په یو کښې یو کم سل او په یو کښې سل دی) هره یوه به د هغوی نه یو هلك زیږوی چه هغه به جهاد کوی په لاره د الله تعالی کښې. د هغوی ملګرے فرښتے اووے اووایه انشاء الله تعالی. لیکن هغوی اونۀ وے هیر ئے شو. پس یوے ښځے هم او نۀ زیږه وو. البته یوے ښځے او زیږه وو هغه هم نیم بچے. رسول الله ﷺ اوفرمائیل کچرے هغوی انشاء الله وئیلے وے نو د هغوی خبره به نۀ وه بے ځایه شوے. او د هغوی مطلب به پوره شوے وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ لَأُطِيفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى سَبْعِينَ امْرَأَةً تَلِدُ كُلُّ امْرَأَةٍ مِنْهُنَّ غُلَامًا يُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللهِ فَقِيلَ لَهُ قُلْ إِنْ شَاءَ اللهُ فَلَمْ يَقُلْ فَأَطَافَ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے هغوی وئیلی دی حضرت سلیمان بن داؤد علیهما الصلوة السلام اووے زۀ به د شپے د اویا ښځو سره میلاویږم او هره یوه به یو هلك زیږه وی چه هغه به د الله په لاره کښې جهاد کوی. هغے ته اووئیلے شو انشاء الله اووایه هغوی او

[1] نووی وائی په دے حدیث کښې څو فائدے دي. یوه خو دا چه کوم کار د آینده کولو دپاره وائی نو د انشاء الله سره د وائی. دویم دا چه هر کله د حلف سره انشاء الله اووئیلے شی نو حلف نۀ ماتیږی. ولے چه حلف هډو منعقد کیږی نه. او څوك چه روستو اووائی نو جائز به نۀ وی. او د طاؤس او حسن نه منقول دی چه په دغه مجلس کښې ئے وئیلے شی. او سعید بن جبیر وائی چه د څلورو میاشتو پورے ئے وئیلے شی او د ابن عباس نه نقل دے چه همیشه دپاره ئے وئیلے شی. هر کله چه ورته یاد شی دغه شان کچرے په طلاق یا عتاق کښې انشاء الله اولګوی نو طلاق او عتاق نۀ واقع کیږی او ضروری ده چه په ژبه سره ئے اووائی او د ځنے مالکیؤ په نز د زړۀ په نیت سره هم کافی ذے. (نووی)

بِهِنَّ فَلَمْ تَلِدْ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ نِصْفَ إِنْسَانٍ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ لَمْ يَحْنَثْ وَكَانَ دَرَكًا لِحَاجَتِهِ

نۀ وئیلو. او شپې له د ټولو سره یو ځاے شو. پس یوے هم او نۀ زیږه وو مګر یوے ښځے اوزیږه وو هغه هم نیم بچے. پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل کچرے هغوی انشاء الله وئیلی وے نو خبره به ئے نۀ وه بے ځایه شوے او د هغوی مطلب به پوره شوے وو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى تِسْعِينَ امْرَأَةً كُلُّهَا تَأْتِي بِفَارِسٍ يُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللهِ فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ قُلْ إِنْ شَاءَ اللهُ فَلَمْ يَقُلْ إِنْ شَاءَ اللهُ فَطَافَ عَلَيْهِنَّ جَمِيعًا فَلَمْ تَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ فَجَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ وَايْمُ الَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ لَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللهِ فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی حضرت سلیمان بن داؤد علیهما الصلوٰة والسلام اووے زۀ به په دے شپه د لس اتیا بیبیانو سره میلا یږم د هرے یوے به یو یو هلك پیدا کیږی چه هغه به شاهسوار او د الله په لاره کښې به جهاد کوی. د هغوی ملګری (سړے به وو یا فرښته) اووے چه انشاء الله اووایه هغوی او نۀ وے (هیر ئے شو) بیا هغوی د ټولو ښځو سره میلاؤ شو لیکن یوه هم حامله نۀ شوه. یوه حامله شوه هغے هم یوه ټکړه د بنیادم اوزیږوله. قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه د محمد روح دے که چرے هغوی انشاء الله وئیلی وے نو ټولو (ښځو به زیږولی وو او ټولو هلکانو) به جهاد په سورلئ کوؤ په لاره د الله تعالی کښې په جمع سره.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْإِصْرَارِ عَلَى الْيَمِينِ فِيمَا يَتَأَذَّى بِهِ أَهْلُ الْحَالِفِ مِمَّا لَيْسَ بِحَرَامٍ

باب : هر کله چه د قسم نه کور والاؤ ته نقصان وی نو قسم نۀ ماتول منع دی. په شرط د دے سره چه هغه کار حرام نۀ وی

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللهِ لَأَنْ يَلَجَّ أَحَدُكُمْ بِيَمِينِهِ فِي أَهْلِهِ آثَمُ لَهُ عِنْدَ اللهِ مِنْ

د همام بن منبه نه روایت دے وائی چه دا احادیث بیان کړی مونږ ته ابوهریره د رسول الله ﷺ نه چه په هغے کښې یو دا حدیث دے چه فرمائیلی دی رسول الله ﷺ قسم په خدائے چه مقرر ستاسو نه د چا کلك اوسیدل په خپل قسم باندے چه د خپل کور والا په حق کښې ئے خوړلے وی زیات ګناه ده د هغۀ دپاره د الله په نیز د قسم د کفارے

أَنْ يُعْطِيَ كَفَّارَتَهُ الَّتِي فَرَضَ اللهُ

بَاب نَذْرِ الْكَافِرِ وَمَا يَفْعَلُ فِيهِ إِذَا أَسْلَمَ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ لَيْلَةً فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ قَالَ فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ حَدَّثَهُ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِالْجِعِرَّانَةِ بَعْدَ أَنْ رَجَعَ مِنَ الطَّائِفِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ يَوْمًا فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَكَيْفَ تَرَى قَالَ اذْهَبْ فَاعْتَكِفْ يَوْمًا قَالَ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَعْطَاهُ جَارِيَةً مِنَ الْخُمُسِ فَلَمَّا أَعْتَقَ رَسُولُ اللهِ ﷺ سَبَايَا النَّاسِ سَمِعَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَصْوَاتَهُمْ يَقُولُونَ أَعْتَقَنَا رَسُولُ اللهِ

ورکولو نه. کومه چه الله تعالی مقرر کړې ده [1].

باب: کافر کۀ کفر په حالت کښ څۀ نذر اوکړی، بیا مسلمان شی نو د هغې نذر به څۀ کوی

د عبدالله بن عمر نه روایت دے چه حضرت عمر اووے یا رسول الله! ما د جاهلیت په زمانه کښ نذر منلے وو چه د کعبے د جماعت د ته یو شپه اعتکاف کوم. حضرت ﷺ اوفرمائیل پس پوره کړه خپل نذر لره [2].

د عبدالله بن عمر نه روایت دے چه حضرت عمر د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو ا وحضرت ﷺ په جعرانه (چه د یو مقام نوم دے) کښ وو. د طائف د واپس کیدو نه پس. نو اوئے وئیل یا رسول الله ما په جاهلیت کښ نذر کړے وو چه زۀ به یوه ورځ په مسجد حرام کښ اعتکاف کوم. نو تاسو څۀ فرمایئ؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه لاړ شه او اعتکاف اوکړه. یوه ورځ حضرت عمر وائی چه رسول الله ﷺ د خمس نه یوه وینځه هغوی ته عنایت کړے وه. هر کله چه حضرت ﷺ ټولو قیدیانو لره آزاد کړل نو حضرت عمر د هغوی آوازونه واوریدل چه وئیل نے رسول الله ﷺ مونږ آزاد کړو. حضرت عمر تپوس اوکړو دا څۀ

[1] یعنی د هر قسم قسم پوره کول غوره دی لیکن په کوم کښ چه د خهل کور والاؤ نقصان وی داسے قسم ماتول ضروری دی او څوک چه نے نۀ ماتوی هغه به گنهگار وی په دے شرط چه د قسم ماتول څۀ د گناه خبره نۀ وی. مثلاً داسے اووائی چه زۀ به د خپلے بی بی سره روټئ نۀ خورم یا به ورسره خبرے نۀ کوم یا به د بازار نه دے دپاره څۀ څیز نۀ راوړم. دداسے قسمونو ماتول او کفاره نے ورکول غوره دی او هغه چه د هغې ماتول گناه وی مثلا داسے اووائی چه زۀ د خپلے ښځے سره شراب نۀ څښم یا جواری نۀ کوم نو دداسے قسم پوره کول ضروری دی

[2] نووی وئیلی دی چه د مالك او ابوحنیفه او زمونږ د زیاتو ملگرو په نز د کافرو نذر هډو صحیح نۀ دے. او د ځنو په نز صحیح دے په دلیل دد دے حدیث او دا هم معلومه شوه چه اعتکاف بغیر د روژے نه صحیح دے او دغه قول دے د شافعی او حسن بصری او ابوثور او داؤد او د ابن منذر او دغه اصح روایت دے د احمد نه

فَقَالَ مَا هٰذَا فَقَالُوا أَعْتَقَ رَسُولُ اللهِ ﷺ سَبَايَا النَّاسِ فَقَالَ عُمَرُ يَا عَبْدَ اللهِ اذْهَبْ إِلَى تِلْكَ الْجَارِيَةِ فَخَلِّ سَبِيلَهَا

وائی؟ خلقو اووے رسول الله ﷺ آزاد کړی دی قیدیانو لره. حضرت عمر رض خپل خوئ ته ، اووے. اے عبدالله ، د هغه وینځے خواله لاړ شه. او هغه هم آزاده کړه.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا قَفَلَ النَّبِيُّ مِنْ حُنَيْنٍ سَأَلَ عُمَرُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَذْرٍ كَانَ نَذَرَهُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ اعْتِكَافِ يَوْمٍ ثُمَّ ذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيثِ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ

د ابن عمر نه روایت دے وائی چه هر کله رسول الله ﷺ د حنین نه واپس شو نو حضرت عمر ﷺ د حضرت ﷺ نه تپوس اوکړو د هغه نذر په باره کښ چه هغوی په جاهلیت کښ نیولے وو. د یوے ورځ اعتکاف کولو. بیائے د غسے بیان اوکړو لکه څنګه چه پورته تیر شو.

عَنْ نَافِعٍ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ ابْنِ عُمَرَ عُمْرَةُ رَسُولِ اللهِ ﷺ مِنَ الْجِعْرَانَةِ فَقَالَ لَمْ يَعْتَمِرْ مِنْهَا قَالَ وَكَانَ عُمَرُ نَذَرَ اعْتِكَافَ لَيْلَةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ وَمَعْمَرٍ عَنْ أَيُّوبَ

د نافع نه روایت دے وائی د عبدالله بن عمر په خوا کښ د رسول الله ﷺ د عُمرے ذکر اوشو د جعرانے نه هغوی اووے حضرت ﷺ عُمره نه ده کړے د جعرانے نه[1].

بَابُ صُحْبَةِ الْمَمَالِيكِ

باب : د غلام یا وینځے سره څنګه خوئی پکار دے

عَنْ زَاذَانَ أَبِي عُمَرَ قَالَ أَتَيْتُ ابْنَ عُمَرَ وَقَدْ أَعْتَقَ مَمْلُوكًا قَالَ فَأَخَذَ مِنَ الْأَرْضِ عُودًا أَوْ شَيْئًا فَقَالَ مَا فِيهِ مِنَ الْأَجْرِ مَا يَسْوَى هٰذَا إِلَّا أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ لَطَمَ مَمْلُوكَهُ أَوْ ضَرَبَهُ فَكَفَّارَتُهُ أَنْ يُعْتِقَهُ

د زاذان ابی عمر نه روایت دے وائی چه زۀ د ابن عمر خواله راغلم هغوی یو غلام آزاد کړے وو. نو د زمکے نهٔ لرګے یا څۀ څیز اوچت کړو او اوئے وئیل په دے کښ دومره هم ثواب نشته مګر ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو کوم بنده چه خپل غلام په سپیړه اووهی یائے اووهی نو د هغے کفاره داده چه هغه غلام لره آزاد کړی[2].

عَنْ زَاذَانَ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ دَعَا بِغُلَامٍ لَهُ فَرَأَى بِظَهْرِهِ أَثَرًا فَقَالَ لَهُ أَوْجَعْتُكَ قَالَ لَا قَالَ

د زاذان نه روایت دے چه حضرت عمر خپل یو غلام رااوغوښتو لو د هغهٔ په شا باندے نخښنه اولیده. نو اوئے وئیل ما تا ته تکلیف در کړو هغهٔ

[1] نووی وئیلی دی چه عبد الله بن عمر ته کیدے شی دد ے علم نه وو. امام مسلم په کتاب الحج کښ د انس نه روایت کړے دے چه حضرت ﷺ عمره اوترله د حنین په کال د جعرانے نه او اثبات مقدم دے په نفی باندے.

[2] دا آزادول استحباباً دی نه وجوباً او په دے باندے اجماع ده. (نووی)

فَأَنْتَ عَتِيقٌ قَالَ ثُمَّ أَخَذَ شَيْئًا مِنَ الْأَرْضِ فَقَالَ مَا لِي فِيهِ مِنَ الْأَجْرِ مَا يَزِنُ هَذَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ ضَرَبَ غُلَامًا لَهُ حَدًّا لَمْ يَأْتِهِ أَوْ لَطَمَهُ فَإِنَّ كَفَّارَتَهُ أَنْ يُعْتِقَهُ

اووے نه حضرت عبدالله اووے ته آزاد ئے بیائے د زمکے نه څۀ شے اوچت کړو او اوئے وئیل چه ددۀ په آزادولو کښې دومره هم ثواب نۀ دے میلاؤ شوی څکه چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو. څوك چه په غلام بے قصوره حَد اولګوی (یعنی په ناحقه ئے اووهی) یا سپیړه ورکړی نو د هغے کفاره یعنی صدقه داده چه هغه آزاد کړی.

عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ لَطَمْتُ مَوْلًى لَنَا فَهَرَبْتُ ثُمَّ جِئْتُ قُبَيْلَ الظُّهْرِ فَصَلَّيْتُ خَلْفَ أَبِي فَدَعَاهُ وَدَعَانِي ثُمَّ قَالَ امْتَثِلْ مِنْهُ فَعَفَا ثُمَّ قَالَ كُنَّا بَنِي مُقَرِّنٍ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ لَنَا إِلَّا خَادِمٌ وَاحِدَةٌ فَلَطَمَهَا أَحَدُنَا فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَعْتِقُوهَا قَالُوا لَيْسَ لَهُمْ خَادِمٌ غَيْرُهَا قَالَ فَلْيَسْتَخْدِمُوهَا فَإِذَا اسْتَغْنَوْا عَنْهَا فَلْيُخَلُّوا سَبِيلَهَا

د معاویه بن سوید نه روایت دے وائی چه ما خپل غلام په سپیړه اووهو. او بیا زۀ اوتختیدم. او بیا زۀ د ماسپخین نه لږ غوندے مخکښې راغلم او په خپل پلار پسے مے د مانځۀ اقتداء اوکړه. هغوی هغه غلام رااوغوښتو او زۀ ئے هم رااوغوښتم. بیائے غلام ته اووے ددۀ نه بدله واخله هغۀ زۀ معاف کړم. سوید اووے چه مونږه بنی مقرن د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې وو زمونږ سره صرف یوه وینځه وه. هغې له زمونږ نه یو کس سپیړه ورکړه . دا خبر رسول الله ﷺ ته اورسیدو. حضرت ﷺ اوفرمائیل دا آزاده کړئ. خلقو اووے د دوی سره بل څوك د خدمت دپاره نشته دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده ددے نه خدمت اخلئ او هر کله چه دے ته ضرورت پاتے نۀ شی نو آزاده ئے کړئ[1].

عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ قَالَ عَجِلَ شَيْخٌ فَلَطَمَ خَادِمًا لَهُ فَقَالَ لَهُ سُوَيْدُ بْنُ مُقَرِّنٍ عَجَزَ عَلَيْكَ إِلَّا حُرُّ وَجْهِهَا لَقَدْ رَأَيْتُنِي سَابِعَ سَبْعَةٍ مِنْ بَنِي مُقَرِّنٍ مَا لَنَا خَادِمٌ إِلَّا

د هلال بن یساف نه روایت دے وائی چه یو سړی تادی اوکړه او خپله وینځه ئے په سپیړه باندے اووهله سوید بن مقرن اووے تا ته بل ځائے نۀ میلاویدو سوا ددے ښکلي مخ نه ماته اوګوره زۀ اووم خوئ وم د مقرن (یعنی مونږ اوۀ رونړه وو) او صرف یوه وینځه وه. د

---

[1] یعنی تۀ هم دے په سپیړه اووهه. سبحٰن الله . غلام او وینځه ساتل د هغه خلقو حق وو چه د اولاد پشان به ئے د هغوی تعلیم او تربیت کولو. څۀ چه به هغوی خوړلو هم هغه به ئے په هغوی خورولو. څۀ چه به دوی اغوستلو هم هغه به ئے هغوی ته اغوستل. د خپل ځان سره به ئے پرے خوړل ښنبل کولو د طاقت نه زیات به ئے د هغوی نه کار نۀ اخستلو. چرته به ئے هم وهل تکول نه. کۀ چا به د هغوی بچے اووهو نو هغه ته به هم هغه سزاء ورکوله. کومه چه په دغه غلام یا وینځے له ورکړے شوے وه. امام نووی وئیلی دی دا د غلام د زړۀ د خوشحالولو دپاره. سوید وائی چه په سپیړه کښې قصاص نشته دے صرف تعزیر ورکول واجب دی.

وَاحِدَةٌ لَطَمَهَا أَصْغَرُنَا فَأَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُعْتِقَهَا

تولو نه کشر رور زمونږه هغې لره سپیړه ورکړه او رسول الله ﷺ حکم اوکړو د هغې د آزادولو.

عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ قَالَ كُنَّا نَبِيعُ الْبَزَّ فِي دَارِ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ أَخِي النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ فَخَرَجَتْ جَارِيَةٌ فَقَالَتْ لِرَجُلٍ مِنَّا كَلِمَةً فَلَطَمَهَا فَغَضِبَ سُوَيْدٌ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ إِدْرِيسَ

د هلال بن یساف نه روایت دے مونږ کپړه خرڅوله د سوید بن مقرن په کور کښې چه د نعمان بن مقرن رور وو. یوه وینځه رااوته او هغې په مونږ کښې یو کس ته څۀ خبره اوکړه. نو هغۀ هغې وینځې له سپیړه ورکړه. سوید غصه شو او بیائې بیان کړو حدیث په دے شان لکه چه پورته د ابن ادریس په حدیث کښې تیر شو.

عَنْ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ أَنَّ جَارِيَةً لَهُ لَطَمَهَا إِنْسَانٌ فَقَالَ لَهُ سُوَيْدٌ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الصُّورَةَ مُحَرَّمَةٌ فَقَالَ لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَإِنِّي لَسَابِعُ إِخْوَةٍ لِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ وَمَا لَنَا خَادِمٌ غَيْرُ وَاحِدٍ فَعَمَدَ أَحَدُنَا فَلَطَمَهُ فَأَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ أَنْ نُعْتِقَهُ

د سوید بن مقرن نه روایت دے چه د هغوی وینځې له یو سړی سپیړه ورکړه. سوید اُووے تاته معلومه نۀ ده چه په مخ باندے وهل حرام دي. او ما ته اوګوره زۀ اووم رور وم د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې او زمونږ سره صرف یو خادم وو. هغۀ له زمونږ د رونړو نه یو کس سپیړه ورکړه. رسول الله ﷺ حکم اوکړو د هغې د آزادولو.

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيِّ كُنْتُ أَضْرِبُ غُلَامًا لِي بِالسَّوْطِ فَسَمِعْتُ صَوْتًا مِنْ خَلْفِي اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ فَلَمْ أَفْهَمِ الصَّوْتَ مِنَ الْغَضَبِ قَالَ فَلَمَّا دَنَا مِنِّي إِذَا هُوَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ يَقُولُ اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ قَالَ فَأَلْقَيْتُ السَّوْطَ مِنْ يَدِي فَقَالَ اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ أَنَّ اللَّهَ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَى هَذَا الْغُلَامِ قَالَ فَقُلْتُ لَا أَضْرِبُ مَمْلُوكًا بَعْدَهُ أَبَدًا

د ابومسعود بدری نه روایت دے چه ما خپل غلام وهلو په کوره سره یو آواز ما د روستو نه واوریدو لکه چه څوك وائی پوهه شه ابومسعود ! زۀ په غصه کښې وم څۀ پوهه نۀ شوم. هر کله چه هغه آواز رانزدے شو نو څۀ ګورم چه هغه رسول الله ﷺ دے چه فرمائیل ئے پوهه شه اے ابومسعود پوهه شه ابومسعود. ما خپله لخته د لاس نه اوغورځوله .حضرت ﷺ اوفرمائیل اے ابومسعوده پوهه شه چه الله تعالی په تا باندے زیات قدرت لری د دے نه څومره چه تۀ په دے غلام لرے. ما اووے اوس به زۀ څوك غلام نۀ وهم چرته هم.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِإِسْنَادِ عَبْدِ الْوَاحِدِ نَحْوَ حَدِيثِهِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ جَرِيرٍ فَسَقَطَ مِنْ يَدِي السَّوْطُ مِنْ هَيْبَتِهِ

د اعمش نه د پورتنی حدیث پشان روایت دے. مګر په دے کښې دادی چه د حضرت ﷺ د هیبت په وجه لخته ځما د لاس نه پریوته.

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كُنْتُ أَضْرِبُ غُلَامًا لِي فَسَمِعْتُ مِنْ خَلْفِي صَوْتًا اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ لَلّٰهُ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا هُوَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ هُوَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللهِ فَقَالَ أَمَا لَوْ لَمْ تَفْعَلْ لَلَفَحَتْكَ النَّارُ أَوْ لَمَسَّتْكَ النَّارُ

د ابومسعود انصاري نه روايت دے چه ما خپل غلام لره وهلو چه په دے كښې د شا د طرفنه مے يو آواز واوريدو پوهه شه ابومسعود بيشكه الله تعالى زيات قدرت لرى ددے نه څومره چه ته په دے غلام باندے لرے. ما چه ورته په شا اوكتل نو هغه رسول الله ﷺ دے. ما اووے يا رسول الله! هغه آزاد دے د الله دپاره حضرت ﷺ اوفرمائيل كچرے تا داسے نۀ وے كړے نو د جهنم اُور به تالره سيزلے وو يا به تاته لګيدلے وو

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ أَنَّهُ كَانَ يَضْرِبُ غُلَامَهُ فَجَعَلَ يَقُولُ أَعُوذُ بِاللهِ قَالَ فَجَعَلَ يَضْرِبُهُ فَقَالَ أَعُوذُ بِرَسُولِ اللهِ فَتَرَكَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللهِ لَلّٰهُ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ قَالَ فَأَعْتَقَهُ

د حضرت ابومسعود نه روايت دے چه هغوى خپل غلام لره وهلو. غلام اووے د الله پناه. هغوى نور هم اووهو غلام اووے د رسول الله پناه! ابومسعود هغه پريخودۀ. رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه په الله قسم دے چه الله په تا باندے دومره طاقت لرى چه ته دومره په دے غلام باندے نۀ شے لرلے. ابومسعود هغه غلام آزاد كرو

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَهُ أَعُوذُ بِاللهِ أَعُوذُ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د شعبه نه په دے اسناد سره حديث مروى دے. او په دے كښې دا نشته چه د الله تعالى پناه، د الله د رسول پناه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَذَفَ مَمْلُوكَهُ بِالزِّنَا يُقَامُ عَلَيْهِ الْحَدُّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ كَمَا قَالَ

د ابوهريره نه روايت دے وائى چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائيلى دى څوك چه په خپل غلام يا وينځه باندے د زنا تهمت اولګوى. په هغۀ به د قيامت په ورځ حد پريوځى. مګر هله چه هغه رښتونے وى [1].

عَنْ فُضَيْلِ بْنِ غَزْوَانَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَفِي حَدِيثِهِمَا سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيَّ التَّوْبَةِ

د فضيل بن غزوان نه په دغه اسناد سره د پورته پشان روايت دے او په دے حديث كښې دى چه ما اوريدلى دى د ابوالقاسم ﷺ نه چه د توبے نبى ﷺ وو. (دا د حضرت نوم دے څكه توبه د هغوى په امت

---

[1] يعنى په دنيا كښې د غلام اووينځے په قذف سره حد نشته څكه چه هغه شادى شده نۀ دى. ليكن تعزير به وركولے شى خو په آخرت كښې كچرے تهمت غلط وى نو پوره سزا به ميلاويږى

باندے آسانه شوه د نورو اُمتونو تو به به هله قبلیده هر کله چه به هغه خپل ځان او وژلو)

عَنِ الْمَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ مَرَرْنَا بِأَبِي ذَرٍّ بِالرَّبَذَةِ وَعَلَيْهِ بُرْدٌ وَعَلَى غُلَامِهِ مِثْلُهُ فَقُلْنَا يَا أَبَا ذَرٍّ لَوْ جَمَعْتَ بَيْنَهُمَا كَانَتْ حُلَّةً فَقَالَ إِنَّهُ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ مِنْ إِخْوَانِي كَلَامٌ وَكَانَتْ أُمُّهُ أَعْجَمِيَّةً فَعَيَّرْتُهُ بِأُمِّهِ فَشَكَانِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَقِيتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ سَبَّ الرِّجَالَ سَبُّوا أَبَاهُ وَأُمَّهُ قَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ هُمْ إِخْوَانُكُمْ جَعَلَهُمُ اللهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ فَأَطْعِمُوهُمْ مِمَّا تَأْكُلُونَ وَأَلْبِسُوهُمْ مِمَّا تَلْبَسُونَ وَلَا تُكَلِّفُوهُمْ مَا يَغْلِبُهُمْ فَإِنْ كَلَّفْتُمُوهُمْ فَأَعِينُوهُمْ

د معرور بن سوید نه روایت دے وائی چه مونږ د ابوذر غفاری خواله لاړو په ربذه کښې (ربذه د یو مقام نوم دے) د هغوی یو څادر پسر وو او د هغوی د غلام هم د هغې پشان څادر په سر وو. مونږ اووے اے ابوذر کچرے تا دا دواړه څادرے اخستے وے نو یوه جوړه به ترے جوړه شوے وه. هغوی اووے ځما او ځما د رور په مینځ کښې جهګړه شوه د هغهٔ مور عجمی وه. ما هغهٔ ته د مور کنځل اوکړل هغه ځما شکایت رسول الله ﷺ ته اوکړو. هر کله چه زهٔ د حضرت ﷺ سره میلاؤ شوم نو حضرت ﷺ اوفرمائیل اے ابوذره! په تا کښې جاهلیت دے (یعنی د جاهلیت د زمانے اثر در کښې باقی دے په کومه زمانه کښې چه به خلقو په خپل پلار او مور سره فخر کوول او د بل پلار او مور به ئے سپك ګڼړل ما اووے یا رسول الله! څوك چه چاته کنځل کوی خلق د هغهٔ پلار او مور ته کنځل کوی. حضرت ﷺ اوفرمائیل اے ابوذره! په تا کښې جاهلیت دے (یعنی کهٔ هغه تا ته بد رد اووے نو د هغې بدله دا وه چه تا هم هغهٔ ته بد رد وئیلے وے نهٔ د هغهٔ پلار او مور ته) هغه ستا رور دے (دے نه معلومه شوه چه هغه غلام وو مګر ابوذر هغوی ته رور اووے) الله تعالی دهٔ لره ستا ما تحت کړے دے. (یعنی ستا په ملك کښې) نو تهٔ خوروه په دهٔ باندے څهٔ چه تهٔ خورے او اغونده دهٔ ته څهٔ چه اغوندے. او د دهٔ طاقت نه زیات دهٔ لره تکلیف مهٔ ورکوه او کچرے داسے کار ترے اخلے نو تهٔ هم ورسره په هغې کښې شریك کیږه.

عَنِ الْأَعْمَشِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِي حَدِيثِ زُهَيْرٍ وَأَبِي مُعَاوِيَةَ بَعْدَ قَوْلِهِ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ

د اعمش نه هغه مروی دی کوم چه پورته تیر شو. او د زهیر راوی په حدیث کښې دومره زیاته ده چه هر کله رسول الله ﷺ اوفرمائیل په تا

جَاهِلِيَّةٌ قَالَ قُلْتُ عَلَى حَالِ سَاعَتِي مِنَ الْكِبَرِ قَالَ نَعَمْ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي مُعَاوِيَةَ نَعَمْ عَلَى حَالِ سَاعَتِكَ مِنَ الْكِبَرِ وَفِي حَدِيثِ عِيسَى فَإِنْ كَلَّفَهُ مَا يَغْلِبُهُ فَلْيَبِعْهُ وَفِي حَدِيثِ زُهَيْرٍ فَلْيُعِنْهُ عَلَيْهِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ فَلْيَبِعْهُ وَلَا فَلْيُعِنْهُ انْتَهَى عِنْدَ قَوْلِهِ وَلَا يُكَلِّفْهُ مَا يَغْلِبُهُ

کښې جاهلیت دے نو ابوذرؓ اووے په خپل بوډا والی کښې. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل آو. او په یو روایت کښې دادی چه ستا په دومره بوډا والی باندے. او په یو روایت کښې دی چه کچرے ته دهٔ لره دداسے کار تکلیف ورکوے نو دهٔ لره خرخ کړه. او په یو روایت کښې دادی چه دهٔ ته تکلیف مهٔ ورکوه د داسے کار. او په دے کښې دهٔ لره خرخ کړه یا دده د مدد کولو الفاظ نشته.

عَنِ الْمَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ رَأَيْتُ أَبَا ذَرٍّ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ وَعَلَى غُلَامِهِ مِثْلُهَا فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ قَالَ فَذَكَرَ أَنَّهُ سَابَّ رَجُلًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَيَّرَهُ بِأُمِّهِ قَالَ فَأَتَى الرَّجُلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ إِخْوَانُكُمْ وَخَوَلُكُمْ جَعَلَهُمُ اللَّهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ فَمَنْ كَانَ أَخُوهُ تَحْتَ يَدَيْهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ وَلَا تُكَلِّفُوهُمْ مَا يَغْلِبُهُمْ فَإِنْ كَلَّفْتُمُوهُمْ فَأَعِينُوهُمْ عَلَيْهِ

د معرور بن سوید نه روایت دے چه ما ابوذرؓ اولیدو چه هغهٔ یوه جوړه اغوستے وه. او د هغوی غلام هم هغه شان جوړه اغوستے وه. ما تپوس اوکړو دا څهٔ دی؟ هغوی اووے. ما د رسول الله ﷺ په زمانه کښې یو سړی ته په کنځلو د هغهٔ مور ته کنځل اوکړل (نووی وائی هغه سړے بلال وو) هغوی رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو. حضرت ﷺ ما ته اوفرمائیل په تا کښې جاهلیت دے. هغه ستا رور دے ستا غلام دے. الله تعالی دهٔ لره ستا د لاسونو نه لاندے کړے دے. بیا چه د چا رور د هغهٔ د لاسونو لاندے وی هغه به په دهٔ خوروی هغه څهٔ چه پخپله خوری. او اغوندوی به پرے هغه څهٔ چه پخپله ئے اغوندی. او هغوی ته د هغه کار مهٔ وایئ چه هغهٔ ئے نهٔ شی کولے او که ورته وایئ نو پخپله ئے مدد کوئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لِلْمَمْلُوكِ طَعَامُهُ وَكِسْوَتُهُ وَلَا يُكَلَّفُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا يُطِيقُ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی چه غلام ته غله او کپړه ورکوئ او دومر کار ترے اخلئ د خومره چه په هغهٔ کښې طاقت وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا صَنَعَ لِأَحَدِكُمْ خَادِمُهُ طَعَامَهُ ثُمَّ جَاءَهُ بِهِ وَقَدْ وَلِيَ حَرَّهُ وَدُخَانَهُ فَلْيُقْعِدْهُ مَعَهُ فَلْيَأْكُلْ فَإِنْ كَانَ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے وائی چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو نه د چا د پاره د هغوی خادم غله تیاره کړی او بیائے راوړی. او هغه د غلے پخولو ګرمی او لوګے څکلے

الطَّعَامُ مَشْفُوهًا قَلِيلاً فَلْيَضَعْ فِي يَدِهِ مِنْهُ أُكْلَةً أَوْ أُكْلَتَيْنِ قَالَ دَاوُدُ يَعْنِي لُقْمَةً أَوْ لُقْمَتَيْنِ

وي نو هغه د خپل ځان سره كيښنوئ او غله ورباندے اوخوروئ او كه چرے غله لږه وي نو يوه نمړئ يا دوه نمړئ د هغهٔ د پاره پريږدئ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا نَصَحَ لِسَيِّدِهِ وَأَحْسَنَ عِبَادَةَ اللهِ فَلَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي بنده چه كله خير خواهي كوي د خپل مالك او د الله تعالى عبادات هم په ښهٔ طريقه كوي نو د هغهٔ به دوچند ثواب وي (په نسبت د هغه سړي چه هغه آزاد وي)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبْدِ الْمَمْلُوكِ الْمُصْلِحِ أَجْرَانِ وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ لَوْلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ وَالْحَجُّ وَبِرُّ أُمِّي لَأَحْبَبْتُ أَنْ أَمُوتَ وَأَنَا مَمْلُوكٌ قَالَ وَبَلَغَنَا أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ لَمْ يَكُنْ يَحُجُّ حَتَّى مَاتَتْ أُمُّهُ لِصُحْبَتِهَا قَالَ أَبُو الطَّاهِرِ فِي حَدِيثِهِ لِلْعَبْدِ الْمُصْلِحِ

د حضرت ابوهريره نه روايت دے جناب رسول خداﷺ فرمائيلي دي كوم غلام چه نيك وي هغهٔ لره دوچند ثواب دے (يو خو د خپل مالك د خير خواهئ دويم د الله تعالى د عبادتم قسم دے په هغه ذات چه د چا په لاس كښې د ابوهريره روح دے كه چرے جهاد نهٔ وے او حج او د مور خدمت كول نو خما دا خواهش وو چه غلام شوى مړ وے. او ابوهريره حج نهٔ كوؤ او د خپلے مور خدمت ئے كوؤ تر هغے پورے چه ترڅو پورے ئے مور وفات شوے نهٔ وه[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَدَّى الْعَبْدُ حَقَّ اللهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ كَانَ لَهُ أَجْرَانِ قَالَ فَحَدَّثْتُهَا كَعْبًا فَقَالَ كَعْبٌ لَيْسَ عَلَيْهِ حِسَابٌ وَلَا عَلَى مُؤْمِنٍ مُزْهِدٍ

د حضرت ابوهريره نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلي دي هر كله چه بنده (يعني غلام) د خپلو مالكانو حق ادا كوي او د الله تعالى حق ادا كوي. نو هغهٔ ته به دوچند ثواب ميلاويږي. راوي وائي ما دا حديث كعب ته بيان كړو. هغوى اووے د هغهٔ سره حساب هم نشته. (ځكه چه د هغهٔ نيكى ډيره ده او ګناه كم) او نهٔ د هغه مومن سره چه هغه محتاج وي.

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هَذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو

همام بن منبّه وئيلي دي چه دا هغه حديث دے چه مونږ ته

[1] نووي وئيلي دي چه دد ے حديث نه دا خبره رااووته چه په غلام باندے نهٔ حج شته نهٔ جهاد او ابوهريره چه كوم حج له نهٔ وو تلے نو هغه حج نفلي وو نهٔ فرضي. ولے چه فرض حج خونے د رسول اللهﷺ سره كړے وو. او د نفل حج نه د پلار مور خدمت كول زيات ضروري دي.

هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعِمَّا لِلْمَمْلُوكِ أَنْ يُتَوَفَّى يُحْسِنُ عِبَادَةَ اللهِ وَصَحَابَةَ سَيِّدِهِ نِعِمَّا لَهُ

ابوهريرهؓ د رسول الله ﷺ نه نقل کړےدے. هغوی يو څو احاديث بيان کړل د هغے نه يو دادے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی . څۀ ښۀ دے هغه غلام چه هغه مړ شي او د الله تعالیٰ عبادت او د خپل مالك خدمت ئےپه ښۀ شان کړے وی څومره ښۀ دے هغه.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ فَكَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ قُوِّمَ عَلَيْهِ قِيمَةَ الْعَدْلِ فَأَعْطَى شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ وَعَتَقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ وَإِلاَّ فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ

د عبدالله بن عمر نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلي دی کوم سړے چه خپله حصه د شراکت په غلام کښې آزاده کړی . او ددۀ سره دومره مال وی چه د باقی حصے قیمت پوره کوی. نو ټهيك قيمت د باقی(حصےيا)حصو دخپلوشراکتيانو ته ورکړی. او غلام به ددۀ د طرفنه آزاد شي. او کۀ نۀ وی نو څومره حصه چه د هغۀ آزاده شوه دومره به وی[1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ مِنْ مَمْلُوكٍ فَعَلَيْهِ عِتْقُهُ كُلُّهُ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَهُ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے وائی چه رسول خدا ﷺ فرمائيلي دی څوك چه د شراکت په غلام کښې خپله حصه ازاده کړی په هغۀ باندے د باقی حصّے ازادول واجب دی. کچرے د هغے د قيمت برابر مال وی. ګني څومره چه آزاد شو بس دومره به آزاد وی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ آخَرَ قُوِّمَ عَلَيْهِ فِي مَالِهِ قِيمَةَ عَدْلٍ لاَ وَكْسَ وَلاَ شَطَطَ ثُمَّ عَتَقَ عَلَيْهِ فِي مَالِهِ إِنْ كَانَ مُوسِرًا

د عبدالله بن عمرؓ نه روايت دے چه جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائيل څوك چه داسےغلام آزاد کړی چه هغه د شراکت وی نو د هغۀ د ټهيك قيمت نه به نۀ کم نۀ زيات لګوی. او د هغۀ د مال نه به آزاديږی کچرے هغه مالدار وی.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه جناب رسول خدا ﷺ

[1] : نووی وئیلی دی ددے حدیثونو بیان په کتاب العتق کښې مفصل تیر شوے دے او امام مسلم د خپل عادت نه خلاف دے حدیثونو له بیا بیا بیان کړل.

وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ عَتَقَ مَا بَقِيَ فِي مَالِهِ إِذَا كَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ

فرمائیلی دی څوك چه خپله حصّه آزاده کړی په مړئ کښ نو باقی حصه به هم د هغهٔ په مال سره آزادیږی. کچرے د هغهٔ سره د باقی حصے د قیمت برابر مال وی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الْمَمْلُوكِ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ فَيُعْتِقُ أَحَدُهُمَا قَالَ يَضْمَنُ

د ابوهریره نه روایت دے چه جناب رسولِ خدا ﷺ فرمائیلی دی کوم غلام چه د شراکت وی او یو شریك خپله حصه آزاده کړی هغه به د بل د حصّے قیمت هم وکوی.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ قَالَ مَنْ أَعْتَقَ شَقِيصًا مِنْ مَمْلُوكٍ فَهُوَ حُرٌّ مِنْ مَالِهِ

د شعبه نه په دغه اسناد سره روایت دے چه څوك یوه حصه د غلام آزاده کړی نو هغه به ټول آزادیږی دهغهٔ د مال نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْتَقَ شَقِيصًا لَهُ فِي عَبْدٍ فَخَلاَصُهُ فِي مَالِهِ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے جناب رسولِ خدا ﷺ فرمائیلی دی چا چه خپله حصه په یو غلام کښ آزاده کړه نو د هغهٔ آزادول هم د هغهٔ د مال نه شو کچرے مال نهٔ وی نو په غلام به محنت مزدوری کولے شی مگر په هغهٔ باندے به زور نهٔ شی کیدے.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَجُلاً أَعْتَقَ سِتَّةَ مَمْلُوكِينَ لَهُ عِنْدَ مَوْتِهِ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرَهُمْ فَدَعَا بِهِمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَزَّأَهُمْ أَثْلاَثًا ثُمَّ أَقْرَعَ بَيْنَهُمْ فَأَعْتَقَ اثْنَيْنِ وَأَرَقَّ أَرْبَعَةً وَقَالَ لَهُ قَوْلاً شَدِيدًا

د عمران بن حصین نه روایت دے چه یو سړی د خپل وفات په وخت خپلو شپږو غلامانو لره آزاد کړل. او د هغهٔ سره سوا د هغوی نه نور هیڅ مال نهٔ وو. رسول الله ﷺ هغوی رااوغوښتل او هغهٔ ئے درے حصے کړل. او د هغے نه پس ئے خسنړے اوغورځوؤ. او د کومو دوه غلامانو په نوم چه رااوختو هغه آزاد شول. او باقی څلور غلامان پاتے شو. او حضرت ﷺ ددغه مړی په حق کښ سخت لفظ اوفرمائیل[1].

عَنْ أَيُّوبَ بِهَذَا الإِسْنَادِ أَمَّا حَمَّادٌ فَحَدِيثُهُ

هغه دے کوم چه پورته ذکر تیر شو. د ثقفی په روایت کښ

[1] نووی وئیلی دی هغه سخت لفظ دادے چه حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل که چرے مونږ داسے نهٔ گنړلے نو په دهٔ مونږ مونځ نهٔ کولو او ددے حدیث نه تمسك کړے مالك او شافعی او حمد او اسحق او داؤد او ابن جریر په داسے صورتونو کښ د قرعے اچولو د پاره او ابوحنیفه وائی چه خسنړے باطل دے. او شعبی او نخعی او شریح او حسن د ابوحنیفه سره اتفاق کړے دے. او دغه منقول دی د ابن مسیب نه، انتهی مختصراً.

كَرِوَايَةِ ابْنِ عُلَيَّةَ وَأَمَّا الثَّقَفِيُّ فَفِي حَدِيثِهِ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَوْصَى عِنْدَ مَوْتِهِ فَأَعْتَقَ سِتَّةَ مَمْلُوكِينَ

دی چه يو انصاري سړی د مرګ په وخت وصيت اوكړو او شپږ غلامان ئې آزاد كړل.

بَاب جَوَازِ بَيْعِ الْمُدَبَّرِ

باب: د مدبر بيعه صحيح ده

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَعْتَقَ غُلَامًا لَهُ عَنْ دُبُرٍ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ يَشْتَرِيهِ مِنِّي فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ عَبْدًا قِبْطِيًّا مَاتَ عَامَ أَوَّلَ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے چه د انصارو يو سړی خپل غلام لره آزاد كړو د خپل مرګ نه پس. او دده نه سوا نور څۀ مال د هغۀ سره نۀ وو. دا خبر جناب رسول الله ﷺ ته اورسيدو . حضرت اوفرمائيل دا غلام به څوك واخلی څما نه؟ نعيم بن عبدالله هغۀ لره د اتۀ سوؤ درهمو په بدله واخستو او حضرت ﷺ هغه غلام هغوی ته حواله كړو. عمرو بن دينار وائی هغه غلام قبطی وو او د عبد الله بن زبير د خلافت په رومبی كال مړ شو[1].

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ دَبَّرَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ غُلَامًا لَهُ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ فَبَاعَهُ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ قَالَ جَابِرٌ فَاشْتَرَاهُ ابْنُ النَّحَّامِ عَبْدًا قِبْطِيًّا مَاتَ عَامَ أَوَّلَ فِي إِمَارَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ

د حضرت جابر نه روايت دے چه په انصارو كښې يو سړی خپل غلام مدبر كړو. او د هغۀ سره نور څۀ مال نۀ وو. رسول الله ﷺ هغۀ لره خرڅ كړو او د نحام خوئ هغۀ لره واخستو. هغه غلام قبطی وو. او د عبد الله بن زبير د خلافت په رومبی كال مړ شو[2].

---

[1] نووی وائی د شافعی مذهب دغه دے چه د مدبر بيعه د هغۀ د مولی د مرګ نه مخكښې صحيح ده. او د امام ابوحنيفۀ او مالك په نز باندے مخكښې صحيح نۀ ده.

[2] نووی ونيلی دی د نحام خوئ چه كوم په دے روايت كښې ذكر دے. هغه غلط دے او صحيح نحام دے او نحام لقب دے د نعيم بن عبدالله . څكه چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل زۀ جنت ته لاړم نو هلته مې د نعيم نحمه واوريده او نحمه آواز ته وئيلے شي (انتهى)

كِتَابُ الْقَسَامَةِ وَالْمُحَارِبِينَ وَالْقِصَاصِ وَالدِّيَاتِ

د قسامه، جنګ، قصاص او د دِیَت مسئلے

بَابُ الْقَسَامَةِ

عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ قَالَ يَحْيَى وَحَسِبْتُ قَالَ وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ أَنَّهُمَا قَالَا خَرَجَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَهْلِ بْنِ زَيْدٍ وَمُحَيِّصَةُ بْنُ مَسْعُودِ بْنِ زَيْدٍ حَتَّى إِذَا كَانَا بِخَيْبَرَ تَفَرَّقَا فِي بَعْضِ مَا هُنَالِكَ ثُمَّ إِذَا مُحَيِّصَةُ يَجِدُ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَهْلٍ قَتِيلًا فَدَفَنَهُ ثُمَّ أَقْبَلَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ وَحُوَيِّصَةُ بْنُ مَسْعُودٍ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَهْلٍ وَكَانَ أَصْغَرَ الْقَوْمِ فَذَهَبَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ لِيَتَكَلَّمَ قَبْلَ صَاحِبَيْهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبِّرِ الْكُبْرَ فِي السِّنِّ فَصَمَتَ فَتَكَلَّمَ صَاحِبَاهُ وَتَكَلَّمَ مَعَهُمَا فَذَكَرُوا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْتَلَ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَهْلٍ فَقَالَ لَهُمْ أَتَحْلِفُونَ خَمْسِينَ يَمِينًا فَتَسْتَحِقُّونَ صَاحِبَكُمْ أَوْ قَاتِلَكُمْ قَالُوا

د قسامت بیان[1]

د سهل بن ابی حثمه نه روایت دے یحیٰی وائی کیدے شی بشیر د رافع بن خدیج نوم هم واخستو چه دے دواړو وئیلی دی. عبد الله بن سهل بن زید دواړه رااووتل هر کله چه خیبر ته اورسیدل نو جدا جدا شول. بیا محیصه څۀ ګوری چه عبد الله بن سهل چا وژلے او غورځولے دے. هغوی عبد الله دفن کړو او بیا د رسول الله ﷺ خواله هغوی او حویصه بن مسعود او عبد الرّحمٰن په تولو کښ کشر وو. هغوی خبره کول غوښتل د خپلو دواړو ملګرو نه مخکښ. جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل خوك چه په عمر کښ زیات وی د هغوی مشری اوکړئ (یعنی هغه خبرو کولو ته پریږدئ حالانکه عبد الرّحمٰن د مقتول حقیقی رور وو او محیصه او حویصه ئے د ترۀ ځامن وو. خو دلته د دعوے غرض نۀ وو صرف واقعات اوریدل وو) عبد الرّحمٰن چپ پاتے شو. او حویصه او محیصه خبرے کولے او عبد الرّحمٰن هم د هغوی سره خبرے اوکړے. بیائے بیان کړو رسول الله ﷺ ته د عبدالله بن سهل د وژلو مقام لره. حضرت ﷺ هغه درے واړو ته اوفرمائیل تاسو به پنځوس قسمونه خورئ. او د خپل مورث وینه به حاصلوئ (یعنی قصاص یا دیت او وارث خو صرف عبد الرّحمٰن وو لیکن حضرت ﷺ درے واړو طرفته خطاب اوکړو او غرض دا وو چه عبد الرّحمٰن قسم

---

[1] قسامت دا دے چه هر کله خوف د اقرار او ګواهئ سره ثابت نۀ وی. او د محلے په خلقو باندے شك وی نو هغوی به جمع کړی او قسم به ترے واخلی چه مونږه دۀ لره نۀ دے قتل کړے او نۀ مونږه ددۀ قاتل پیژنو یا د منقول د وارثانو نه قسم اخستل او د دے بیان مخکښ راغی.

وَكَيْفَ نَحْلِفُ وَلَمْ نَشْهَدْ قَالَ فَتُبْرِئُكُمْ يَهُودُ بِخَمْسِينَ يَمِينًا قَالُوا وَكَيْفَ نَقْبَلُ أَيْمَانَ قَوْمٍ كُفَّارٍ فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَى عَقْلَهُ

اوخوری، درے وارو اووے مونږه ولے قسم اوخورو د وینے په وخت خو مونږه نۀ وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نو بیا خو به یهوَد پنځوس قسمونه اوخوری او ددے الزام نه به بری شی. هغوی اووے مونږه د کافرو قسمونه څنګه قبول کړو. هر کله چه جناب رسول خدا ﷺ دا حال اولیدو نو دیت ئے ورکړو (د خپل طرف نه)[1].

عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ وَرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ أَنَّ مُحَيِّصَةَ بْنَ مَسْعُودٍ وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَهْلٍ انْطَلَقَا قِبَلَ خَيْبَرَ فَتَفَرَّقَا فِي النَّخْلِ فَقُتِلَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَهْلٍ فَاتَّهَمُوا الْيَهُودَ فَجَاءَ أَخُوهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ وَابْنَا عَمِّهِ حُوَيِّصَةُ وَمُحَيِّصَةُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَكَلَّمَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ فِي أَمْرِ أَخِيهِ وَهُوَ أَصْغَرُ مِنْهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبِّرِ الْكُبْرَ أَوْ قَالَ لِيَبْدَأِ الْأَكْبَرُ فَتَكَلَّمَا فِي أَمْرِ صَاحِبِهِمَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقْسِمُ

د سهل بن ابی حثمه او رافع بن خدیج نه روایت دے چه محیصه بن مسعود او عبد الله بن سهل دواړه د خیبر په طرف لاړل او د کهجورو په اونو کښں جدا شو. پس عبدالله بن سهل او وژلے شو. خلقو په یهودو باندے ګمان کوو (یعنی چه یهودو به وژلے وی) بیا د عبد الله رور عبد الرّحمٰن راغے. او د هغوی د ترۀ ځامن حویصه او محیصه دا ټول د رسول الله ﷺ خواله راغلل. عبد الرّحمٰن د خپل رور حال بیانول شروع کړل او د هغوی عمر په دغه دریؤ کښں کم وو. جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل د مشر مشری اوکړه یا مشر لره وئیل پکار دی. بیا حویصه او محیصه حال بیان کړو د عبدالله بن سهل. پس جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل ستاسو نه به پنځوس سړی د یهودو په یو سړی باندے قسم

[1] نووی وئیلی دی د قسامت په باب کښں دغه حدیث اصل دے او ددے نه تولو علماؤ اخذ کړے دے سوا د یو جماعت نه چه هغوی د قسامت نه انکار کړے دے. اوس اختلاف کړے دے علماؤ ددے په کیفیت کښں. او اختلاف ئے کړے دے چه په قسامت سره قصاص کیدے شی یا نۀ. د مالك او لیث او اوزاعی په نزپه دے سره قصاص کیدے شی او د شافعی قول قدیم هم دغسے دے. او د اهل کوفه په نز په دے سره قصاص نشته دے صرف دیت به پرے لازمیږی. او د شافعی هم صحیح قول دغه دے. او اختلاف دے چه په قسامت کښں به څوك قسمونه خوری. نو د مالك او شافعی او د جمهورو علماؤ په نز به د مقتول وارثان پنځوس قسمونه خوری. او که هغوی نۀ خوری نو په چا باندے چه شك وی د هغوی نه به پنځوس قسمونه اخستے شی. او د اهل کوفه په نز به قسمونه په مدعی علیه باندے وی. او جناب رسول الله د خپل طرفنه په هغه مقدمه کښں دیت ورکړو د چا دپاره چه وارث پخپله هم حلف او نۀ کړو. او نۀ په حلف اخستلو باندے راضی شو. او دا دیت حضرت تبرعاً ورکړو. په دے خیال سره چه د عبد الله خوف ضائع نۀ شی. او په یو روایت کښں دی چه د صدقے د اوښانو نه حضرت سل اوښان ورکړل او امام لره په داسے مقدماتو کښں روپۍ لګول صحیح دی.

خَمْسُونَ مِنْكُمْ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ فَيُدْفَعُ بِرُمَّتِهِ قَالُوا أَمْرٌ لَمْ نَشْهَدْهُ كَيْفَ نَحْلِفُ قَالَ فَتُبْرِئُكُمْ يَهُودُ بِأَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْهُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ قَوْمٌ كُفَّارٌ قَالَ فَوَدَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قِبَلِهِ قَالَ سَهْلٌ فَدَخَلْتُ مِرْبَدًا لَهُمْ يَوْمًا فَرَكَضَتْنِي نَاقَةٌ مِنْ تِلْكَ الْإِبِلِ رَكْضَةً بِرِجْلِهَا قَالَ حَمَّادٌ هَذَا أَوْ نَحْوَهُ

اوخوری (چه فلانے قاتل دے) هغه به د خپلے غاړے رسئ ورکړی (یعنی خپل ځان به اوسپاری تاسو ته د قتلولو دپاره) هغوی اووے هر کله چه دا واقعه کیده نو مونږ نۀ ده لیدلے. مونږه به څنګه قسم اوخورو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نو یهود به پنځوس قسمونه اخوری او خپل ځان به پاك کړی. هغوی اووے یا رسول الله هغوی خو کافر دی آخر جناب رسول الله ﷺ د خپل طرفته دیت ورکړو د عبد الله بن سهل. سهل وائی زۀ د هغه اوښانو د تړلو ځائے ته لاړم نو د هغوی نه یوے اوښے زۀ په لته اووهلم[1].

عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ وَقَالَ فِي حَدِيثِهِ فَعَقَلَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهِ وَلَمْ يَقُلْ فِي حَدِيثِهِ فَرَكَضَتْنِي نَاقَةٌ

د سهل بن ابی حثمه نه روایت دے د جناب رسول خدا ﷺ نه په دغه شان لکه چه پورته تیر شو په دے کښې دادی چه رسول الله ﷺ دهغه دیت د خپل طرفنه ورکړو او په دے کښې دا نشته چه یوے اوښے زۀ په لته باندے اووهلم.

عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَهْلِ بْنِ زَيْدٍ وَمُحَيِّصَةَ بْنَ مَسْعُودِ بْنِ زَيْدٍ الْأَنْصَارِيَّيْنِ ثُمَّ مِنْ بَنِي حَارِثَةَ خَرَجَا إِلَى خَيْبَرَ فِي زَمَانِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ يَوْمَئِذٍ صُلْحٌ وَأَهْلُهَا يَهُودُ فَتَفَرَّقَا لِحَاجَتِهِمَا فَقُتِلَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَهْلٍ فَوُجِدَ فِي شَرَبَةٍ مَقْتُولًا فَدَفَنَهُ صَاحِبُهُ ثُمَّ أَقْبَلَ إِلَى الْمَدِينَةِ فَمَشَى أَخُو الْمَقْتُولِ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةُ وَحُوَيِّصَةُ فَذَكَرُوا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د بشیر بن یسار نه روایت دے چه عبد الله بن سهل بن زید او محیصه بن مسعود بن زید انصاری چه بنی حارثه نه وو، خیبر ته لاړو. د رسول الله ﷺ په زمانه کښې او په دغه ورځو هلته امن امان وو او یهودیان هلته اوسیدل. بیا هغوی دواړه جدا شول خپلو خپلو کارونو ته نو عبد الله بن سهل اووژلے شو او په یو حوض کښې د هغوی لاش برامد یعنی او موندے شو. محیصه هغوی لره دفن کړو او بیا مدینے ته راغے. او عبد الرحمن بن سهل د مقتول رور او محیصه او حویصه (د ترۀ ځامن) دے دریواړو جناب رسول الله ﷺ ته د عبد الله رضی حال بیان کړو او کوم ځائے کښې چه قتل شوے وو. نو

[1] نووی وئیلی دی د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه په قسامت سره قصاص هم کیدے شی. ځکه خو ئے اوفرمائیل چه هغه به د خپلے غاړے رسئ تاسو ته حواله کړی. او د چا په نز چه قصاص نۀ شی کیدے هغوی داسے وائی چه مراد دا دے چه خپل ځان به حواله کړی د دیت ورکولو دپاره. والله اعلم

وَسَلَّمَ شَأْنَ عَبْدِ اللهِ وَحَيْثُ قُتِلَ فَزَعَمَ بُشَيْرٌ وَهُوَ يُحَدِّثُ عَمَّنْ أَدْرَكَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَهُمْ تَحْلِفُونَ خَمْسِينَ يَمِينًا وَتَسْتَحِقُّونَ قَاتِلَكُمْ أَوْ صَاحِبَكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ مَا شَهِدْنَا وَلَا حَضَرْنَا فَزَعَمَ أَنَّهُ قَالَ فَتُبَرِّئُكُمْ يَهُودُ بِخَمْسِينَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ نَقْبَلُ أَيْمَانَ قَوْمٍ كُفَّارٍ فَزَعَمَ بُشَيْرٌ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَلَهُ مِنْ عِنْدِهِ

بشیر روایت کړے د هغه خلقو نه چاچه د حضرت ﷺ د صحابو نه هغوی موندلے وو چه حضرت ﷺ اوفرمائیل هغوی ته تاسو پنځوس قسمونه خوړے شئ او خپل قاتل ترے اخلئ. هغوی اووے یا رسول الله ﷺ مونږ نۀ دی لیدلی او نۀ مونږ هلته موجود وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل نو بیا خو به یهود خپله صفائی اوکړی او ستاسو په الزام سره به پنځوس قسمونه اوخوری. هغوی اووے یا رسول اللهﷺ! مونږه د کافرو قسمونه څنګه قبول کړو. بشیر وائی چه آخر جناب رسول خدا ﷺ د عبدالله دیت د خپل طرفنه ورکړو.

عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ مِنْ بَنِي حَارِثَةَ يُقَالُ لَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَهْلِ بْنِ زَيْدٍ انْطَلَقَ هُوَ وَابْنُ عَمٍّ لَهُ يُقَالُ لَهُ مُحَيِّصَةُ بْنُ مَسْعُودِ بْنِ زَيْدٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ اللَّيْثِ إِلَى قَوْلِهِ فَوَدَاهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ مِنْ عِنْدِهِ قَالَ يَحْيَى فَحَدَّثَنِي بُشَيْرُ بْنُ يَسَارٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَهْلُ بْنُ أَبِي حَثْمَةَ قَالَ لَقَدْ رَكَضَتْنِي فَرِيضَةٌ مِنْ تِلْكَ الْفَرَائِضِ بِالْمِرْبَدِ

د بشیر بن یسار نه روایت دے چه د انصارو یو سړے د بنی حارثه قبیلے چه به ئے ورته عبد الله بن سهل بن یزید ویل. وړاندے د لیث راوی پشان حدیث بیان کړو چه رسو الله ﷺ د خپل طرف نه دیت ورکړو. یحیٰی وئیلی دی چه ما بشیر بن یسار بیان کړے دے چه ما ته سهل بن ابی حثمه وئیلی دی ما لره یوے اوښے د هغه اوښانو نه لته راکړه په غوجل کښ.

عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ نَفَرًا مِنْهُمُ انْطَلَقُوا إِلَى خَيْبَرَ فَتَفَرَّقُوا فِيهَا فَوَجَدُوا أَحَدَهُمْ قَتِيلًا وَسَاقَ الْحَدِيثَ وَقَالَ فِيهِ فَكَرِهَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُبْطِلَ دَمَهُ فَوَدَاهُ مِائَةً مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ

د سهل بن ابی حثمه نه روایت دے چه څۀ خلق د هغوی د قوم نه خیبر ته لاړو. او هلته جُدا جُدا شول. بیا یو په هغوی کښ قتل شوے اوموندے شو. او بیان ئے کړو حدیث لره د آخره پورے. او وائی چه جناب رسول خدا ﷺ د هغۀ وینه ضائع کیدل بد اوګڼړل. نو سل اوښان ئے ورکړو د صدقے د اوښانو نه د دیت دپاره.

عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ عَنْ رِجَالٍ مِنْ كُبَرَاءِ قَوْمِهِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةَ خَرَجَا إِلَى خَيْبَرَ مِنْ جَهْدٍ

سهل بن ابی حثمه ته خبر ورکړو د هغۀ د قوم مشرانو خلقو چه عبد الله بن سهل او محیصه دواړه خیبر طرفته لاړل د هغه تکلیف د وجے نه چه په هغوی راغلے وو نو محیصه ته

أَصَابَهُمْ فَأَتَى مُحَيِّصَةُ فَأَخْبَرَ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَهْلٍ قَدْ قُتِلَ وَطُرِحَ فِي عَيْنٍ أَوْ فَقِيرٍ فَأَتَى يَهُودَ فَقَالَ أَنْتُمْ وَاللهِ قَتَلْتُمُوهُ قَالُوا وَاللهِ مَا قَتَلْنَاهُ ثُمَّ أَقْبَلَ حَتَّى قَدِمَ عَلَى قَوْمِهِ فَذَكَرَ لَهُمْ ذٰلِكَ ثُمَّ أَقْبَلَ هُوَ وَأَخُوهُ حُوَيِّصَةُ وَهُوَ أَكْبَرُ مِنْهُ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ سَهْلٍ فَذَهَبَ مُحَيِّصَةُ لِيَتَكَلَّمَ وَهُوَ الَّذِي كَانَ بِخَيْبَرَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُحَيِّصَةَ كَبِّرْ كَبِّرْ يُرِيدُ السِّنَّ فَتَكَلَّمَ حُوَيِّصَةُ ثُمَّ تَكَلَّمَ مُحَيِّصَةُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِمَّا أَنْ يَدُوا صَاحِبَكُمْ وَإِمَّا أَنْ يُؤْذِنُوا بِحَرْبٍ فَكَتَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فِي ذٰلِكَ فَكَتَبُوا إِنَّا وَاللهِ مَا قَتَلْنَاهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحُوَيِّصَةَ وَمُحَيِّصَةَ وَعَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَتَحْلِفُونَ وَتَسْتَحِقُّونَ دَمَ صَاحِبِكُمْ قَالُوا لَا قَالَ فَتَحْلِفُ لَكُمْ يَهُودُ قَالُوا لَيْسُوا بِمُسْلِمِينَ فَوَادَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهِ فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِائَةَ نَاقَةٍ حَتَّى أُدْخِلَتْ عَلَيْهِمُ الدَّارَ فَقَالَ سَهْلٌ فَلَقَدْ رَكَضَتْنِي مِنْهَا نَاقَةٌ حَمْرَاءُ

چا اووے عبد الله بن سهل وژلے شوے دے او د هغهٔ لاش په چینه یا په کوهی کښې غورځولے شوے دے. هغوی د یهودیانو خواله راغلل او هغوی اوونیل چه په خدائے قسم تاسو دهٔ لره وژلے دے. یهودیانو اووے په خدائے قسم مونږ نهٔ دے وژلے. بیا هغوی خپل قوم ته واپس راغلل او هغوی ته ئے بیان اوکړو. بیا محیّصه او د هغوی رور حویصه چه ددهٔ مشر وو او عبد الرّحمٰن بن سهل دریواړه راغلل (جناب رسول خدا ﷺ خواله) محیصه خبره کول اوغوښتل، ځکه چه هغه خیبر ته تلے وو (د عبد الله سره) نو جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل محیّصه ته د مشر مشروالے اوګنړه او مشر خبرو کولو ته پریږده. بیا حویصه خبره اوکړه. روستو ددے محیصه ته جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل. نو یهودیان به ستاسو د ملګری قیمت درکړی یا به جنګ کوی. بیا جناب رسو الله ﷺ یهودیانو ته اولیکل ددے باره کښې. هغوی په جواب کښې اولیکل په خدائے قسم مونږ دهٔ لره نهٔ دے وژلے. بیا جناب رسول خدا ﷺ حویصه، محیصه او عبد الرحمٰن ته اوفرمائیل. تاسو قسم خورئ او د خپل ملګری بدله اخلئ. هغوی اووے نه. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل نو یهود قسم خوری ستاسو دپاره. هغوی اووے هغه مسلمانان نهٔ دی (د هغوی د قسم څهٔ اعتبار) بیا رسول الله ﷺ د هغوی دیت د خپل طرفنه ورکړو. او سل اوښانئے هغوی ته اولیږل تر دے پورے چه د هغوی کورته لاړل. سهل وائی په هغوی کښې

یو ے سر ے اوبنے زۀ په لته اووهلم.

عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْأَنْصَارِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ أَقَرَّ الْقَسَامَةَ عَلٰى مَا كَانَتْ عَلَيْهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ

د یو انصاری صحابی نه روایت د ے چه جناب رسول الله ﷺ قسامت لره په هغه طریقه باقی پریخودۀ لکه څنګه چه د جاهلیت په زمانه کښ وو[1].

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَزَادَ وَقَضٰى بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ نَاسٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فِي قَتِيْلٍ ادَّعَوْهُ عَلَى الْيَهُوْدِ

د ابن شهاب نه هم دغه شان روایت د ے خو دومره زیاته ده چه جناب رسول خدا ﷺ د قسامت حکم اوکړو په مینځ د انصارو د یو مقتول کښ چه هغوی د قتل دعوه کړ ے وه په یهودو باند ے.

بَاب حُكْمِ الْمُحَارِبِيْنَ وَالْمُرْتَدِّيْنَ

باب: د جنګیدونکو او د اسلام نه د اوړیدونکو حکم

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَاسًا مِنْ عُرَيْنَةَ

د انس بن مالك نه روایت د ے چه څۀ خلق د عرینه (یوه قبیله ده) د

---

[1] نووی وئیلی دی قسامت په اوؤ سورتونو کښ کیږی. یو خو دا چه مقتول د مرګ په وخت داسے اووائی چه زۀ فلانی مړ کړ ے یا زخمی کړ ے یم. اګر کۀ په دۀ باند ے نخښه نۀ وی دا قول د مالك اولیث د ے. دویم دا چه شبه وی لکه د یو سړی عادل ګواهی وی. یا داسے د څو خلقو چه هغه عادلان نۀوی . د مالك او لیث او شافعی په نز باند ے. دریم دا چه دوه عادلان ګواهی ورکړی چه فلانی زخمی کړ ے د ے بیا څۀ ورځے زخمے ژوند ے وی او بیا مړ شی لیکن بنۀ شو ے نۀ وی. د مالك او لیث په نز او د شافعی او ابوحنیفه په نز په د ے صورت کښ قصاص د ے. څلورم دا چه مقتول د متهم په خوا کښ میلاؤ شی یا هغۀ ته نزد ے یا متهم په هغه طرف راروان وی. او د هغۀ سر د قتل اوزار وی یا په هغۀ باند ے د وینے وغیره نخښے وی. او د ځناور هلته ګمان نۀ وی. یا څوکسه د یو سړی د خوا نه جدا شی او هغه وژلے شو ے وی په د ے صورت کښ به د مالك او شافعی په نز قسامت کیږی. پنځم دا چه دوه ډلے اوجنګیږی او په هغوی کښ یو مقتول میلاؤ شی. نو قسامت به واجبیږی د مالك او احمد او اسحق په نز او د امام مالك نه یو روایت داد ے چه هغه د کومے ډلے وی نو د هغۀ دیت به د بلے ډلے په کسانو باند ے لازم وی او کچر ے د یو ے ډلے هم نۀ وی نو په دوارو ډلو باند ے دیت لازمیږی. شپږم دا چه په ګڼره ګونړه او هجوم کښ څوك مړ شو ے میلاؤ شی د شافعی په نز هغه هدر د ے او د ثوری او اسحق په نز به د هغۀ دیت د بیت المال نه ورکولے شی. اووم دا چه د مقتول لاش په یوه محله یا قبیله یا د چا محلے والاپه جماعت کښ میلاؤ شی. نو د امام مالك او شافعی او احمد او داؤد په نز صرف په دومره خبره به قسامت نۀ وی. بلکه خون به هدر وی. ځکه چه بعضے وخت یو سړ ے بل مړ کړی او د خپلو دشمنانو په محله کښ ئے اوغورځوی. دد ے دپاره چه هغوی اونیولے شی. مګر شافعی وائی چه هر کله لاش د هغۀ د دشمنانو په محله کښ میلاؤ شی لکه څنګه چه د خیبر قصه وه چه په انصارو او یهودو کښ دشمنی وه نو قسامت واجبیږی. او د امام احمد نه هم دغه شان منقول دی. او د امام ابوحنیفه او ثوری او اهل کوفه په نز قسامت صرف په دغه صورت کښ د ے چه لاش د چا په محله یا کلی کښ میلاؤ شی او په دۀ باند ے د وهلو نخښه وی. او په بل یو صورت کښ نشته او کۀ چر ے لاش په جماعت کښ میلاؤ شی نو د محلے خاوندانو له به قسم ورکوی او دیت به د بیت المال نه ورکولے شی. او دا هله چه په محلے والا باند ے دعوه اوکړ ے شی. او اوزاعی وائی چه هر کله په محله کښ لاش میلاؤ شی نو قسامت واجبیږی اګر کۀ په هغۀ باند ے د وهلو نخښے نۀ وی. انتهی مختصراً

قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَاجْتَوَوْهَا فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ شِئْتُمْ أَنْ تَخْرُجُوا إِلَى إِبِلِ الصَّدَقَةِ فَتَشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا فَفَعَلُوا فَصَحُّوا ثُمَّ مَالُوا عَلَى الرُّعَاةِ فَقَتَلُوهُمْ وَارْتَدُّوا عَنِ الإِسْلَامِ وَسَاقُوا ذَوْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ فِي أَثَرِهِمْ فَأُتِيَ بِهِمْ فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ وَسَمَلَ أَعْيُنَهُمْ وَتَرَكَهُمْ فِي الْحَرَّةِ حَتَّى مَاتُوا

جناب رسول خدا ﷺ خواله مدينې منورې ته راغلل او په هغوی د هغه ځائې هوا موافق رانغله، او د استسقاء مرض ورته راغې. نو جناب رسول خدا ﷺ ورته اوفرمائيل کچرې ستاسو زړهٔ غواړی نو د صدقې اوښانو له ورشئ (چه هغه د ښار نه بهر په ځنګل کښې اوسيدل) او د هغوی پئ او متيازې اوڅښئ. هغوی دغه شان اوکړل او ښهٔ شول بيا د اوښانو څرونکو ته راستانهٔ شو (کوم چه مسلمانان وو) او هغهٔ ئې اووژل او د اسلام نه اوګرځيدل. او اوښان ئې اوتختول. دا خبره جناب رسول خدا ﷺ ته اورسيدهٔ. حضرت ﷺ په هغوی پسې خلق اوليږل. هغه ئې نيولې راوستل. بيا حضرت ﷺ د هغوی لاسونه او خپې کټ کړې. او د هغوی په سترګو کښې ئې سلايان اوتومبل يا ورله سترګې اوچولې او په ميدان کښې ئې اوغورځول تردې پورې چه هغوی مړهٔ شو[1]

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ نَفَرًا مِنْ عُكْلٍ ثَمَانِيَةً قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعُوهُ عَلَى الإِسْلَامِ فَاسْتَوْخَمُوا الأَرْضَ وَسَقِمَتْ

د انس نه روايت دې چه د عکل (د يوې قبيلې نوم دې) اته سړی د جناب رسول خدا ﷺ خواله راغلهٔ او د حضرت ﷺ نه ئې په اسلام باندې بيعت اوکړو. بيا په هغوی هوا برابر رانغله او د هغوی

---

[1] د مالك او احمد ملګرو ددې حديث نه استدلال کړې دې چه کوم ځناور حلال دې د هغهٔ متيازې او غوشان پاك دی. او زمونږ ملګرو وئيلی دی چه دائې د دوايئ دپاره حکم کړې دې او د دوايئ دپاره د هرې پليتئ استعمال صحيح دې سوا د شرابو او مسکرات نه انتهى ماقال النووى). دا حديث د محاربينو او مرتدينو په سزا کښې اصل دې او موافق دې ددې ايت · إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللهَ وَرَسُولَهُ · د آخره پورې. او اختلاف کړې دې علماؤ په دې خبره کښې. نو د امام مالك په نز امام له اختيار دې چه ددې سزاګانو نه کومې چه په ايت کښې ذکر دی (قتل کول، په دار ځيړول، لاسونه او خپې پريکول، قيد کول) کومه سزا غواړی ورکولې شی. مګر د قتل په صورت کښې د هغهٔ قتلول ضروری دی. او د ابوحنيفه او د ابومصعب په نز په هر صورت کښې امام له اختيار دې. او شافعی او باقی علماؤ په نز کچرې محاربينو صرف قتل کړې وی او مال ئې نهٔ وی اخستې نو هغه به قتلولې شی. او کهٔ قتل ئې هم اوکړو او مال ئې هم واخستو نو قتل کولې به شی او په دار کولې به شی. او چاچه صرف مال واخستو نو لاسونه او خپې به ترې کټ کولې شی. او چا چه صرف يرول اوکړل او دهمکی ئې ورکړه نو هغوی به راواوغواړی او سزاء به ورکړی. او د نفی نه دغه مراد دې. او دا جهګړه عامه ده کهٔ په ښهر کښې وی يا په ځنګل کښې. او د ابوحنيفه په نز په ښهر کښې به دا حکم نهٔ وی. او علماؤ وئيلی دی چه د سترګو چودل دا واقعه د مثله د ممانعت نه مخکښې وه نو منسوخ ده. او ځنې وائی منسوخ نهٔ ده. او حضرت قصاصاً داسې اوکړل. ولې چه هغوی هم د څرونکو سره دغه شان کړی وو (نووی)

أَجْسَامُهُمْ فَشَكَوْا ذٰلِكَ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَا تَخْرُجُوْنَ مَعَ رَاعِيْنَا فِيْ إِبِلِهِ فَتُصِيْبُوْنَ مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا فَقَالُوْا بَلٰى فَخَرَجُوْا فَشَرِبُوْا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا فَصَحُّوْا فَقَتَلُوا الرَّاعِيَ وَطَرَدُوا الْإِبِلَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَبَعَثَ فِيْ آثَارِهِمْ فَأُدْرِكُوْا فَجِيْءَ بِهِمْ فَأَمَرَ بِهِمْ فَقُطِعَتْ أَيْدِيْهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ وَسُمِرَ أَعْيُنُهُمْ ثُمَّ نُبِذُوْا فِي الشَّمْسِ حَتّٰى مَاتُوْا وَقَالَ ابْنُ الصَّبَّاحِ فِيْ رِوَايَتِهِ وَاطَّرَدُوا النَّعَمَ وَقَالَ وَسُمِّرَتْ أَعْيُنُهُمْ

بدنونه بیمار شو. هغوی جناب رسول خدا ﷺ ته شکایت اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو زمونږ شپنکو ته لاړ شئ د هغوی په اوښانو کښې. هلته د هغوی پې او متیازے اوڅښئ. هغوی اوو ے ډیره ښه ده. بیا هغوی لاړل او د اوښانو پې او متیازے ئے اوڅښلے او روغ شو. هغوی شپنکی مړ کړل او اوښان ئے ترے واخستل. دا خبر جناب رسول خدا ﷺ ته اورسیدۀ. حضرت ﷺ په هغوی پسے منډے والا اولیږل. او هغه ئے گرفتار کړی شوی راوستل. حضرت ﷺ حکم اوکړو ، د هغوی لاسونه او خپے پرے کړے شوے سترگے ئے ورله په سلائی اوچولے. بیائے په غرمو اوغورځول تردے پورے چه مړۀ شو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَدِمَ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْمٌ مِنْ عُكْلٍ أَوْ عُرَيْنَةَ فَاجْتَوَوُا الْمَدِيْنَةَ فَأَمَرَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلِقَاحٍ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَشْرَبُوْا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا بِمَعْنٰى حَدِيْثِ حَجَّاجِ بْنِ أَبِيْ عُثْمَانَ قَالَ وَسُمِرَتْ أَعْيُنُهُمْ وَأُلْقُوْا فِي الْحَرَّةِ يَسْتَسْقُوْنَ فَلَا يُسْقَوْنَ

د انس بن مالك نه روایت دے چه د قبیله عکل یا عرینه څۀ سړی د رسول الله ﷺ خواله راغلل. په هغوی د مدینے اوبۀ او هوا سمه رانغله او هغوی ته استسقاء اوشوه. رسول الله ﷺ هغوی ته حکم اوکړو د اوښانو د پیو او د متیازو د څښلو. وړاندے هغه مضمون دے کوم چه د حجاج راوی په روایت کښې دے. او اوئے وئیل چه د هغوی سترگے ویستلے شوے او هغوی لره په حره (دمدینے منورے یو میدان دے) کښې اوغورځول. هغوی اوبۀ غوښتے لیکن اوبۀ ورته نۀ میلاویدے[1].

عَنْ أَبِيْ قِلَابَةَ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا خَلْفَ عُمَرَ

د حضرت ابوقلابه ؒ نه روایت دے چه زۀ د عمر بن عبد العزیز ؒ نه

[1] نووی وائی چه په دے حدیث کښې دا نشته چه جناب رسول الله ﷺ داسے حکم کړے وو یائے هغوی لره د اوبو ورکولو نه منع فرمائیلے وو. قاضی عیاض وائی د مسلمانانو اجماع ده په دے مسئله باندے چه د چا دپاره د قتل حکم اوشی او هغه اوبۀ اوغواړی نو هغۀ له به اوبۀ ورکولے شی او هغۀ له به په دوه قسمه عذاب نۀ ورکوی. یو د تندے او بل د څټ د وهلو. زۀ وایم چه په صحیح روایت کښې دا دی چه هغوی څرونکو لره اووژل او د اسلام نه بهر شول اوس د هغوی څۀ خاطر پاتے شو نۀ د اوبو څښلو نه د بلے څۀ خبرے. او زمونږ ملگرو دا وئیلی دی چه د چا سره اوبۀ وی په قدر د طهارت هغه به دغه مُرتد له نۀ ورکوی کچرے د تندے نه مړ کیدلو. البته کچرے ذمی کافر یا څناور وی نو په هغه اوبو څکول واجب دی او د س کول په داسے وخت کښې صحیح نۀ دی. (نووی)

بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَقَالَ لِلنَّاسِ مَا تَقُولُونَ فِي الْقَسَامَةِ فَقَالَ عَنْبَسَةُ قَدْ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ كَذَا وَكَذَا فَقُلْتُ إِيَّايَ حَدَّثَ أَنَسٌ قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْمٌ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِ أَيُّوبَ وَحَجَّاجٍ قَالَ أَبُو قِلَابَةَ فَلَمَّا فَرَغْتُ قَالَ عَنْبَسَةُ سُبْحَانَ اللَّهِ قَالَ أَبُو قِلَابَةَ فَقُلْتُ أَتَتَّهِمُنِي يَا عَنْبَسَةُ قَالَ لَا هَكَذَا حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ لَنْ تَزَالُوا بِخَيْرٍ يَا أَهْلَ الشَّامِ مَا دَامَ فِيكُمْ هَذَا أَوْ مِثْلُ هَذَا

روستو ناست وم. نو هغوی خلقو ته اووے د قسامت په باره کښې څۀ وايئ؟ عنبسه اووے مونږ ته انس بن مالك حديث بيان کړے دے داسے ما اووے ما ته انس دا حديث بيان کړے دے چه د جناب رسول خداﷺ خواله څۀ خلق راغلل د آخره پورے. او بيان ئې کړو حديث په داسے شان لکه چه پورته تير شو. ابو قلابه وائی هر کله چه ما حديث ختم کړو نو عنبسه سبحٰن الله اووے. ما اووے ولے په ما باندے تهمت لګوے (د دروغو) نو عنبسه اووے نه ما ته هم دغه شان حديث بيان کړے دے. اے د ملك شام خلقو! تاسو به هميشه په خير سره يئ د کومے پورے چه په تاسو کښې داسے سړی موجود وی (يعنی د ابوقلابه د حفظ او د يادو تعريف ئې اوکړو)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةُ نَفَرٍ مِنْ عُكْلٍ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ وَلَمْ يَحْسِمْهُمْ

د انس بن مالك نه روايت دے چه د قبيله عکل اتۀ سړی د رسول اللهﷺ خواله راغلۀ وړاندے هغه دے کوم چه پورته تير شو. په دے کښې دا زياته ده چه حضرتﷺ هغوی ته داغ ورنکړو(څکه چه داغ د زخم بندولو د پاره ورکوی. او هلته د دے ضرورت نۀ وو)

عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَرٌ مِنْ عُرَيْنَةَ فَأَسْلَمُوا وَبَايَعُوهُ وَقَدْ وَقَعَ بِالْمَدِينَةِ الْمُومُ وَهُوَ الْبِرْسَامُ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ وَزَادَ وَعِنْدَهُ شَبَابٌ مِنَ الْأَنْصَارِ قَرِيبٌ مِنْ عِشْرِينَ فَأَرْسَلَهُمْ إِلَيْهِمْ وَبَعَثَ مَعَهُمْ قَائِفًا يَقْتَصُّ أَثَرَهُمْ

د انس بن مالك نه روايت دے چه رسول اللهﷺ له د عرينه څۀ خلق راغلۀ او مسلمانان شو. هغوی بيعت اوکړو د حضرتﷺ نه په مدينه کښې دغه وخت موم يعنی برسام بيماری وه (نووی وائی برسام بيهوشی ده يا د سَر يا د سينے پړسوب دے. په بحر الجواهر کښې دی برسام پړسوب دے د هغه پردے کومه چه د آئينے او معدے په مينځ کښې ده) بيائے بيان کړو حديث لره د هغے پشان دومره ئے پکښې زياته کړه چه حضرتﷺ د انصارو شلو ځوانانو ته نژدے وو. حضرتﷺ هغوی لره په هغو پسے اوزغلول او پيژندوکے ئے هم ورسره کړل چه هغه د هغوی د قدمونو نخښے پيژنی.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّمَا سَمَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْيُنَ أُولَئِكَ لِأَنَّهُمْ سَمَلُوا أَعْيُنَ الرِّعَاءِ

د انس نه روایت دے چه جناب رسول خدا د هغوی په سترګو کښې سلایان اومنډل ځکه چه هغوی هم د شپنکو په سترګو کښې سلایان منډلی وو[1].

بَاب ثُبُوتِ الْقِصَاصِ فِي الْقَتْلِ بِالْحَجَرِ وَغَيْرِهِ مِنْ مُحَدَّدَاتِ وَالْمُثَقَّلَاتِ وَقَتْلِ الرَّجُلِ بِالْمَرْأَةِ

باب: په کمر وغیره په درونده څیز سره په قتل کولو به قصاص لازم وی. دغه شان سړے به د ښځے په بدله کښې قتلولے شی

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ يَهُودِيًّا قَتَلَ جَارِيَةً عَلَى أَوْضَاحٍ لَهَا فَقَتَلَهَا بِحَجَرٍ قَالَ فَجِيءَ بِهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِهَا رَمَقٌ فَقَالَ لَهَا أَقَتَلَكِ فُلَانٌ فَأَشَارَتْ بِرَأْسِهَا أَنْ لَا ثُمَّ قَالَ لَهَا الثَّانِيَةَ فَأَشَارَتْ بِرَأْسِهَا أَنْ لَا ثُمَّ سَأَلَهَا الثَّالِثَةَ فَقَالَتْ نَعَمْ وَأَشَارَتْ بِرَأْسِهَا فَقَتَلَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ حَجَرَيْنِ

د انس بن مالك نه روایت دے چه یو یهودی یوه جینۍ مړه کړه د سپینو زرو د څو ټکړو دپاره نو په ګټه سره ئے هغه قتل کړه او هغه رسول الله ﷺ ته راوړلے شوه. په هغے کښې لږ شان روح باقی و. حضرت ﷺ د هغے نه تپوس اوکړو ته فلانی وژلے ئے؟ هغے اشاره په سر سره اوکړه نو. بیائے دوباره اوفرمائیل فلانی وژلے ئے؟ هغے اشاره په سر سره اوکړه نو. بیائے دریم ځل تپوس اوکړو نو هغے اووے آو. او اشاره ئے اوکړه په خپل سر سره حضرت ﷺ هغه یهودی راوغوښتو اوهغهٔ اقرار اوکړو، بیا حضرت ﷺ هغهٔ لره قتل کړو په مینځ د دوؤ ګټو کښې.

عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ إِدْرِيسَ فَرَضَخَ رَأْسَهُ بَيْنَ حَجَرَيْنِ

د شعبه نه په دغه اسناد سره هم هغه دے (کوم چه پورته تیر شو) په دے کښې دادی چه حضرت ﷺ د هغهٔ سر په دوؤ ګټو کښې اوچقه وو.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ قَتَلَ جَارِيَةً مِنَ الْأَنْصَارِ عَلَى حُلِيٍّ لَهَا ثُمَّ أَلْقَاهَا فِي الْقَلِيبِ وَرَضَخَ رَأْسَهَا بِالْحِجَارَةِ فَأُخِذَ فَأُتِيَ بِهِ

د انس نه روایت دے چه یو یهودی د انصارو یوه ماشومه قتل کړه د څهٔ کالو دپاره چه هغے اچولی وو. بیائے هغے لره کوهی ته اوغورځوله او د هغے سر ئے په ګټه سره اوچقوؤ. دد ے نه پس

---

[1] پس دا سزا سنتی او بے رحمی نهٔ ده بلکه عین عدل او انصاف دے. کچرے په بدمعاشانو او ډاکوانو باندے څوك رحم اوکړی نو هغه بے رحمی ده په مخلوق د الله باندے.

نکوئی با بداں کردن چناں ست که بد کردن بجائے نیک مرداں

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ بِهِ أَنْ يُرْجَمَ حَتَّى يَمُوتَ فَرُجِمَ حَتَّى مَاتَ

هغه اونیولے شو او د رسول الله ﷺ خواته حاضر کړے شو. حضرت ﷺ حکم اوکړو چه دے په ګټو اوولئ د مرګه پورے. هغه په ګټو اوویشتلے شو تر دے پورے چه مړ شو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ جَارِيَةً وُجِدَ رَأْسُهَا قَدْ رُضَّ بَيْنَ حَجَرَيْنِ فَسَأَلُوهَا مَنْ صَنَعَ هٰذَا بِكِ فُلَانٌ فُلَانٌ حَتَّى ذَكَرُوا يَهُودِيًّا فَأَوْمَتْ بِرَأْسِهَا فَأُخِذَ الْيَهُودِيُّ فَأَقَرَّ فَأَمَرَ بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَضَّ رَأْسُهُ بِالْحِجَارَةِ

د انس بن مالك نه روایت دے چه د یوے جینئ سر چقیدلے اوموندے شوه په دوو ګټو کښ. خلقو د هغې نه تپوس اوکړو. چا ته چقولے نے فلانی یا فلانی؟ تر دے پورے چه د یو یهودی نوم ئے واخستو هغې اشاره اوکړه په خپل سَر سره. هغه یهودی اونیولے شو او هغه اقرار اوکړو بیا رسول الله ﷺ حکم اوکړو د هغهٔ د سر د چقولو په ګټو سره[1]

بَابُ الصَّائِلِ عَلَى نَفْسِ الْإِنْسَانِ أَوْ عُضْوِهِ إِذَا دَفَعَهُ الْمَصُولُ عَلَيْهِ فَأَتْلَفَ نَفْسَهُ أَوْ عُضْوَهُ لَا ضَمَانَ

باب: هر کله چه څوك د چا په روح یا اندام حمله اوکړی او هغهٔ دهٔ لره تیل وهی او تیل وهلو کښ د حمله کونکی روح یا اندام ته نقصان اورسی نو په دهٔ به څهٔ تاوان نهٔ وی (

[1]: امام نووی وئیلی دی دد ے حدیث نه څو فائدے رااووتے. یو خو دا چه سړے به د ښځے په بدله کښ قتلولے شی او په دے باندے اجماع ده. دویمه دا چه قصداً څوك قتل اوکړی هغه به هم په هغه طریقه باندے وژلے شی په کومه طریقه چه دهٔ وژلے وی. کهٔ په توره سره ئے قتل کړے وی نو په توره به قتلولے شی. او کهٔ په لرګی یا ګټه سره ئے قتل کړےوی نو په لرګی یا ګټه به قتلولے شی. او په دے کښ د امام ابوحنیفه اختلاف دے هغوی وائی چه قصاص به صرف په توره سره اخستے شی. دریم دا چه په دروند څیز سره وژل هم قصداً عمداً قتل دے. لکه په ګټه یا غټ لرګی سره او په دے باندے قصاص شته دے. د شافعی او احمد او مالك او د جمهور علماء دغه قول دے. او د امام ابوحنیفه په نز قصاص په هغه صورت کښ دے هر کله چه ئے په دار والاڅیز سره او وژنی. کهٔ اوسپنه وی یا ګټه یا لرګے یا په هغه اله سره چه د قتل دپاره جوړه وی. لکه ګوپهن وغیره یا په اُور کښ په غورخولو سره. او کچرے په داسے الهٔ ئے قتل کړی چه هغه د قتل دپاره نهٔ وی جوړه شوے. لکه وړوکے لرګے یا لخته یا سپیره یا لینده وغیره لیکن کهٔ قصداً پرےاووهی نو هغه هم عمداً قتل دے. او د مالك او لیث په نز په دے کښ هم قصاص واجبیږی. او د شافعی او ابوحنیفه او اوازعی او ثوری او احمد او اسحاق او ابوثور په نز په دے کښ قصاص نشته دے. څلورمه دا چه مسلمان لره څوك قتل کړی په هغه باندے قصاص دے. پنځم دا چه د مجروح بیان اوریدل او د هغهٔ نه تپوس کول دد ے دپاره چه د قتل پته معلومه شی او د هغهٔ ګرفتاری اوکړے شی بیا کهٔ چرے هغه اقرار اوکړو نو قتل ثابت شو او کچرے انکار ئےاوکړو نو دهٔ لره قسم ورکول پکار دی. پس کچرے قسم اوخوری نو بری به شی. او یواځے د مجروح په وینا سره په دهٔ باندے قتل نهٔ ثابتیږی دغه د اکثرو علماؤ قول دے. او د امام مالك په نز ثابت کیدےشی. دد ے حدیث دلیل دےاو دا دلیل صحیح نهٔ دے ولے چه په دغهٔ حدیث کښ په دویم روایت کښ دی چه هغه یهودی اقرار کړے وو(انتهی ما قال النووی)

عَلَيْهِ

يعنى د خپل حفاظت اختيارى جرم نۀ دے

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَاتَلَ يَعْلَى بْنُ مُنْيَةَ أَوِ ابْنُ أُمَيَّةَ رَجُلًا فَعَضَّ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ فَانْتَزَعَ يَدَهُ مِنْ فَمِهِ فَنَزَعَ ثَنِيَّتَهُ وَ قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى ثَنِيَّتَيْهِ فَاخْتَصَمَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيَعَضُّ أَحَدُكُمْ كَمَا يَعَضُّ الْفَحْلُ لَا دِيَةَ لَهُ

د عمران بن حصين نه روايت دے يعلى بن منبه يا يعلى بن اُميه د يو سړى سره اوجنګيدو بيا يو د بل په لاس چك اولګوؤ هغه چه خپل لاس راښكودو نو د هغۀ د خلے نه غاښونه او غورځيدل. بيا دواړه په جهګړه جهګړه د رسول الله ﷺ په خدمت كښ حاضر شو. حضرت ﷺ اوفرمائيل تۀ داسے چيچل كوے لكه چه اوښ چيچل كوى. تالره ديت نشته دے[1].

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَجُلًا عَضَّ ذِرَاعَ رَجُلٍ فَجَذَبَهُ فَسَقَطَتْ ثَنِيَّتُهُ فَرُفِعَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَبْطَلَهُ وَقَالَ أَرَدْتَ أَنْ تَأْكُلَ لَحْمَهُ

د عمران بن حصين نه روايت دے چه يو سړى د بل سړى په لاس چك اولګوو. هغۀ خپل لاس راښكودو نو د (چك لګونكى) غاښ اوختل. بيا دا مقدمه رسول خدا ﷺ ته لاړه. هغوى دغه باطله كړه. او اوئے فرمائيل تا دا غوښتله چه دده غوښه اوخورے.

عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى أَنَّ أَجِيرًا لِيَعْلَى بْنِ مُنْيَةَ عَضَّ رَجُلٌ ذِرَاعَهُ فَجَذَبَهَا فَسَقَطَتْ ثَنِيَّتُهُ فَرُفِعَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَبْطَلَهَا وَقَالَ أَرَدْتَ أَنْ تَقْضَمَهَا كَمَا يَقْضَمُ الْفَحْلُ

د صفوان بن يعلى نه روايت دے چه د يعلى بن منبه يو نوكر (جهګړه اوكړه د يو سړى سره) هغه بل دده لاس په غاښونو اوچيچلو هغۀ خپل لاس راښكودو نو د هغۀ غاښونه اوغورځيدل. بيا دا مقدمه جناب رسول خدا ﷺ ته راغله. حضرت ﷺ دےلره لغوه كړه او اوئے فرمائيل. تا دا غوښتله چه دده لاس اوژوے څنګه چه اوښ ژوئيل كوى.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَجُلًا عَضَّ يَدَ رَجُلٍ فَانْتَزَعَ يَدَهُ فَسَقَطَتْ ثَنِيَّتُهُ أَوْ ثَنَايَاهُ فَاسْتَعْدَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى

د عمران بن حصين نه روايت دے چه يو سړى د بل په لاس چك اولګوؤ هغۀ خپل لاس راښكودو نو د هغۀ غاښونه اوختل. د چا چه غاښ وتلى وو هغه جناب رسول خدا ﷺ ته فرياد اوكړو. حضرت اوفرمائيل تۀ څۀ

[1] د چا چه غاښونه اوغورځيدل هغه يعلى وو يا د هغۀ نوكر بهر حال هغه ديت اوغوښتو نو رسول الله ﷺ ديت ورنۀ كړو. ځكه چه هغه بل سړى خپل لاس راښكودو. او د لاس راښكودلو حق هغۀ ته د خپل حفاظت دپاره حاصل وو. بيا د خپل حق په حاصلولو باندے د بل د نقصان تاوان وركول نۀ لازميږى.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَأْمُرُنِي تَأْمُرُنِي أَنْ آمُرَهُ أَنْ يَدَعَ يَدَهُ فِي فِيكَ تَقْضَمُهَا كَمَا يَقْضَمُ الْفَحْلُ ادْفَعْ يَدَكَ حَتَّى يَعَضَّهَا ثُمَّ انْتَزِعْهَا

غواړے. ولے ته دا غواړې چه زۀ د هغهٔ ته حکم اوکړم چه هغه خپل لاس ستا په خلهٔ کښ درکړی چه ته ئے اوژوئے. لکه څنګه چه اوښ ژوئل کوی ښه ده ته هم خپل لاس دهغهٔ په خلهٔ کښ ورکړه او بیائے راکاږه (یعنی کهٔ ستا زړهٔ غواړی نو په دے شان قصاص کیدے شی چه ته خپل لاس د هغهٔ په خلهٔ کښ ورکړه او بیائے راکاږه یا خو به د هغهٔ غاښونه هم مات شی یا به ستا لاس زخمی شی)

عَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ تَبُوكَ قَالَ وَكَانَ يَعْلَى يَقُولُ تِلْكَ الْغَزْوَةُ أَوْثَقُ عَمَلِي عِنْدِي فَقَالَ عَطَاءٌ قَالَ صَفْوَانُ قَالَ يَعْلَى كَانَ لِي أَجِيرٌ فَقَاتَلَ إِنْسَانًا فَعَضَّ أَحَدُهُمَا يَدَ الْآخَرِ قَالَ لَقَدْ أَخْبَرَنِي صَفْوَانُ أَيُّهُمَا عَضَّ الْآخَرَ فَانْتَزَعَ الْمَعْضُوضُ يَدَهُ مِنْ فِي الْعَاضِّ فَانْتَزَعَ إِحْدَى ثَنِيَّتَيْهِ فَأَتَيَا النَّبِيَّ ﷺ فَأَهْدَرَ ثَنِيَّتَهُ

د یعلی بن اُمیه نه روایت دے وائی چه ما جهاد اوکړو د رسول الله ﷺ سره په جنګ تبوك کښ او هغه د هر څهٔ نه زیات د بهروسے عمل دے څما. نو څما یو نوکر وو هغهٔ د یو سړی سره اوجنګیدو. او د دواړو نه یو د بل لاس په غاښونو سره اوچیچلو. عطاء وائی ما ته صفوان بن یعلی بیان کړے وو چه چا د چا لاس چیچلے وو. بیا چه ئے د چا لاس چیچلو هغه خپل لاس راښکودو د چیچلو والاد خلے نه د هغهٔ یو غاښ اوغورځیدو او دواړه د رسول الله ﷺ خواله راغلو. حضرت د هغهٔ غاښ لره لغوه کړو (یعنی د هغے دیت ئے ورله وانهٔ خستو)

بَاب إِثْبَاتِ الْقِصَاصِ فِي الْأَسْنَانِ وَمَا فِي مَعْنَاهَا

باب: غاښونه او کوم چه د هغے په حکم کښ وی، په هغوی کښ قصاص دے

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أُخْتَ الرُّبَيِّعِ أُمَّ حَارِثَةَ جَرَحَتْ إِنْسَانًا فَاخْتَصَمُوا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقِصَاصَ الْقِصَاصَ فَقَالَتْ أُمُّ الرَّبِيعِ يَا رَسُولَ

د حضرت انس نه روایت دے چه اُم حارثه د ربیع خور (چه د حضرت انس ترور وه) یو انسان زخمی کړو (یعنی د هغهٔ غاښ ئے مات کړو) بیا هغوی جهګړه یوړه نبی ﷺ ته حضرت ﷺ اوفرمائیل قصاص به اخستلے شی قصاص به اخستلے شی. ام ربیع اووے یا رسول الله! ولے د فلانئ نه به قصاص اخستلے شی؟ (یعنی د ام

اللهِ أَيُقْتَصُّ مِنْ فُلَانَةَ وَاللهِ لَا يُقْتَصُّ مِنْهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَانَ اللهِ يَا أُمَّ الرَّبِيعِ الْقِصَاصُ كِتَابُ اللهِ قَالَتْ لَا وَاللهِ لَا يُقْتَصُّ مِنْهَا أَبَدًا قَالَ فَمَا زَالَتْ حَتَّى قَبِلُوا الدِّيَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ

حارثهؓ نه، قسم په خدائے دے نه به قصاص نهٔ شی اخستلے. جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل سبحن الله! اے د ربیع مور د الله کتاب حکم کوی د قصاص بیا ام ربیع اووے نه قسم په خدائے دے نه به چرته هم قصاص نهٔ شی اخستلے. بیا ام ربیع هم دغه وینا کوله تردے پورے چه د چا غانښ مات شوے وو د هغهٔ خاندان والا په دیت اخستو باندے راضی شول. جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل ځنے د الله بندګان داسے دی کچرے د هغهٔ په بهروسه باندے قسم اوخوری نو الله تعالی هغه رښتونے کوی[1].

بَابُ مَا يُبَاحُ بِهِ دَمُ الْمُسْلِمِ

باب: د مسلمان قتل کله صحیح دے

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ الثَّيِّبُ الزَّانِ وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے وائی چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی مسلمان چه دا ګواهی ورکوی چه د الله تعالی نه سوا بل رښتونے معبود نشته دے او زهٔ د هغهٔ پیغمبر یم نو د هغهٔ وژل صحیح نهٔ دی مګر د دریو نه په یوه خبره باندے. یا د هغهٔ نکاح شوے وی او هغه زنا اوکړی. یا د نفس په بدله نفس (یعنی څوك قتل کړی) یا د خپل دین نه واوړی، د مسلمانانو د جماعت نه جُدا شی[2].

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى

د عبدالله بن مسعودؓ نه روایت دے جناب رسول خدا ﷺ مونږ

---

[1] په بخاری کښې دی چه زخمی کولو والا پخپله ربیع وو. او قسم انس بن النضر خوړلے وو. او ام ربیع چه کوم قسم اوخوړو په هغے سره د جناب رسول خدا ﷺ د حکم رد کیدل منظور نهٔ وو. بلکه مقصود دا وو چه حضرت سفارش اوکړی د مجروح خاندان ته او هغوی په دیت باندے راضی کړی او قسم ئے اوخوړو د الله تعالی په بهروسه باندے. او الله تعالی هغے لره رښتونے کړه. او د دے حدیث نه دا خبره معلومه شوه چه په ښځه او سړی کښې به قصاص اخستلے شی. په نفس او ما دون النفس دواړو کښې او د جمهورو دغه قول دے. او د ابوحنیفه په نزد به په نفس کښې قصاص وی او په ما دون النفس کښې به نهٔ وی او خنو په نزد به مطلق قصاص نهٔ وی. (نووی مختصراً)

[2] نووی وئیلی دی د دے حدیث نه حنفیانو استدلال کړے دے چه مسلمان به د ذمی کافر په بدله وژلے شی. او آزاد به د غلام په بدله مګر جمهور علماء د دے خلاف دی لکه مالك او شافعی او احمد او لیث. او دا چه کوم حضرت ﷺ اوفرمائیل چه د خپل دین نه اوګرځی نو شامل دی هر یو مرتد لره. بیا به هغه قتلولے شی کچرے توبه نهٔ کړی. او شامل دے هغه چا لره چه بدعت یا بغاوت اختیار کړی او د مسلمانانو د جماعت نه اوځی. لکه خوارج وغیره والله اعلم.

اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَالَّذِي لَا إِلَهَ غَيْرُهُ لَا يَحِلُّ دَمُ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَّا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ التَّارِكُ الْإِسْلَامَ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ أَوِ الْجَمَاعَةَ شَكَّ فِيهِ أَحْمَدُ وَالثَّيِّبُ الزَّانِي وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ

ته د خطبې د اورولو دپاره اودریدۀ نو اوئې فرمائیل قسم دے په هغۀ چه د هغۀ نه سوا بل معبود نشته، د مسلمان وژل صحیح نه دی چه گواهي ورکوی ددے خبرے چه سوا د الله څوک معبود نشته. او زۀ د هغۀ رالیږلے شوے یم مګر د درے سړو. یو خو هغه چه دین اسلام پریږدی او د جماعت نه جدا شی. دویم هغه چه د هغۀ نکاح شوے وی او هغه زنا اوکړی دریم هغه د نفس په بدله کښې نفس.

بَاب بَيَانِ إِثْمِ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ

باب: چا چه اول د قتل بنیاد کیخودۀ د هغۀ د گناه بیان

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُرَّةَ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا تُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا إِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الْأَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا لِأَنَّهُ كَانَ أَوَّلَ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه په ظلم سره قتل اوشی نو د آدم په رومبنی خوئی (قابیل) باندے یوه حصه ددۀ د قتل غورځیږی (یعنی د گناه) ځکه چه دۀ اول د قتل لار ویستلے ده[1].

بَاب الْمُجَازَاةِ بِالدِّمَاءِ فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّهَا أَوَّلُ مَا يُقْضَى فِيهِ بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

باب: د قیامت په ورځ به د ټولو نه مخکښې د قتل فیصله کیږی

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الدِّمَاءِ

د عبد الله بن مسعود نه روایت دے جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل د قیامت په ورځ به د ټولو نه مخکښې په خلقو کښې د قتل فیصله کیږی[2].

[1]: قابیل خپل رور په ناحقه مړ کړو. نووی وئیلی دی دا حدیث یوه قاعده ده د اسلام د قاعدونه. یعنی څوک چه ناکاره خبره اوباسی ددۀ د قیامته پورے گناه کیږی. او څوک چه ددے تابعداری کوی، ددۀ د گناه یوه حصه په دۀ پریوځی. دغسے څوک چه د نیکئ بنیاد کیږدی ددۀ به د قیامت پورے ثواب کیږی. او څوک چه ددۀ تابعداری کوی د نیکئ د بنیاد ایخودونکی هم ثواب کیږی. او دا مضمون په دویم صحیح حدیث کښې موجود دے. (انتهی)

[2]: ځکه چه د قتل مقدمه ډیره سخته ده. او دا خلاف نه ده ددے حدیث نه چه د ټولو نه مخکښې د مونځ حساب به کیږی. ځکه چه مونځ په حقوق الله کښې د ټولو نه به اول وی او قتل به په حقوق العباد کښې.

بَاب تَغْلِيظِ تَحْرِيمِ الدِّمَاءِ وَالْأَعْرَاضِ وَالْأَمْوَالِ

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ثَلَاثَةٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبٌ شَهْرُ مُضَرَ الَّذِي بَيْنَ جُمَادَى وَشَعْبَانَ ثُمَّ قَالَ أَيُّ شَهْرٍ هٰذَا قُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ أَلَيْسَ ذَا الْحِجَّةِ قُلْنَا بَلٰى قَالَ فَأَيُّ بَلَدٍ هٰذَا قُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ أَلَيْسَ الْبَلْدَةَ قُلْنَا بَلٰى قَالَ فَأَيُّ يَوْمٍ هٰذَا قُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ قُلْنَا بَلٰى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ قَالَ مُحَمَّدٌ وَأَحْسِبُهُ قَالَ وَأَعْرَاضَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِي بَلَدِكُمْ هٰذَا فِي شَهْرِكُمْ هٰذَا وَسَتَلْقَوْنَ

باب : د وینې او د عزت او د مال د حُرمت د سخت والی بیان

د حضرت ابوبکره نه روایت دے جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل . زمانه اوچورلیده په خپل اصلی حالت هغسې شو څنګه چه هغه ورځ وه هر کله چه الله تعالی زمکه او آسمان پیدا کړے وو. کال د دولسو میاشتو دے. په دے کښې څلور میاشتې حرامې دی (یعنی په دے کښې جنګیدل صحیح نه دی، درے میاشتې خو برابر لګیدلې دی ذلقعده او ذی الحجه او محرم او څلورمه رجب د مضر میاشت چه د جمادی الأخرٰی او د شعبان په مینځ کښې ده. دد ے نه روستو اوفرمائیل . دا کوم میاشت ده؟ مونږ اووے . الله تعالی او د هغۀ پیغمبر ښۀ پوهیږی. بیا حضرت ﷺ چپ شو تردے پورے چه مونږ پوهه شو چه حضرت ﷺ دد ے میاشتې څۀ بل نوم اړدی. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل . آیا د د ذی الحجې میاشت نۀ ده مونږ عرض اوکړو د ذی الحجې میاشت ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل . کوم ښار د ے؟ مونږ عرض اوکړو چه الله تعالی او د هغۀ پیغمبر ښۀ پوهیږی. هغوی بیا چپ شو. تردے پورے چه مونږ پوهه شو چه حضرت ﷺ دد ے ښار بل څۀ نوم اړدی. حضرت اوفرمائیل آیا دا ښار نۀ د ے (یعنی د مکې ښار) مونږ عرض اوکړو . آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل دا کومه ورځ ده؟ مونږ عرض اوکړو الله او د هغۀ پیغمبر ښۀ پوهیږی. حضرت چپ شو تردے پورے چه مونږ اوګڼرله چه حضرت ﷺ دد ے ورځې بل څۀ نوم اړدی. حضرت ﷺ اوفرمائیل . دا یوم النحر نۀ ده. مونږ عرض اوکړو یا رسول الله بے شك دا یوم النحر ده. حضرت ﷺ اوفرمائیل . نو ستاسو ښسونه او ستاسو مالونه او ستاسو عزتونه حرام دی په تاسو څنګه چه دا ورځ حرامه ده په

رَبَّكُمْ فَيَسْأَلُكُمْ عَنْ أَعْمَالِكُمْ فَلَا تَرْجِعُنَّ بَعْدِي كُفَّارًا أَوْ ضُلَّالًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ أَلَا لِيُبَلِّغْ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَلَعَلَّ بَعْضَ مَنْ يُبَلِّغُهُ يَكُونُ أَوْعَى لَهُ مِنْ بَعْضِ مَنْ سَمِعَهُ ثُمَّ قَالَ أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ قَالَ ابْنُ حَبِيبٍ فِي رِوَايَتِهِ وَرَجَبُ مُضَرَ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ فَلَا تَرْجِعُوا بَعْدِي

دے بنار كښې په دے مياشت كښې. (چه ددے په حُرمت كښې د چا شك نشته. دغه شان د مسلمان نفس، عزت او مال هم حرام دی. ددے اخستل بغير د شرعی وجے نه صحيح نه دی) او ترډے ده تاسو به ملاويږئ د خپل پروردګار سره. هغه به ستاسو نه ستاسو عملونه تپوسی. بيا خما نه روسته بے لارے كيږئ مۀ چه د يو بل څټونه اووهئ (يعنی په خپل مينځ كښې اوجګيږئ او يو بل مړۀ كړئ. دا د حضرت ﷺ آخری نصيحت وو او ډير لوئی او بنۀ نصيحت وو. افسوس دے چه مسلمانانو ډير لګے ورځے په دے عمل اوكړو. آخر په مصيبت كښې ګرفتار شو او عُقبی جدا تباه شوه) څوك چه حاضر دی هغوی دا حكم غائب ته اورسوئ. ځكه بعض هغه سړے چه هغۀ ته اورسوی زيات ياد لرونكے به وی ددے وخت د اوريدونكی نه بيا ئے اوفرمائيل. اوګورئ ما د الله حكم اورسوو[1].

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَمَّا كَانَ ذَلِكَ الْيَوْمُ قَعَدَ عَلَى بَعِيرِهِ وَأَخَذَ إِنْسَانٌ بِخِطَامِهِ فَقَالَ أَتَدْرُونَ أَيَّ يَوْمٍ هَذَا قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ حَتَّى ظَنَنَّا

د ابی بكره نه روايت دے هر كله چه يوم النحر شوه نو حضرت ﷺ هم په اوښ سور شو او يو سړی د اوښ پيزوان اونيوو. حضرت ﷺ اوفرمائيل. تاسو ته معلومه ده دا كومه ورځ ده. هغوی اووے. الله او د هغۀ پيغمبر بنۀ پوهيږی. ترډے پورے چه مونږ اوګنړل چه حضرت ﷺ به ددے

---

[1]: ددے څلورو مياشتو حرمت د پخوانه راروان دے. نو د مكے د كافرو دا رواج وو چه هر كله به دوی جنګيدل يا واپس كيدل منظور وو نو دے مياشتو لره به ئے بدلولے. لكه چه په محرم كښې به جنګيدل نو صفر لره به ئے محرم كړله. دغسے هغه كم بختو مياشتے ګډے وډے كړے وے. يوه مياشت هم تهيك نۀمعلومے ده. په كوم كال چه جناب رسول خدا ﷺ په اخير عمر كښې حجة الوداع اوكړه نو د ذی الحجے مياشت په دواړو حسابونو برابر راغله. په اصل حساب سره هم او د كافرو په حساب سره هم بيا حضرت ﷺ د حج په موسم كښې د عرفے په ورځ د زرګونو خلقو د وړاندے دا حديث اوفرمايلۀ. يعنی اوس زمانے ګردش اوخوړو په اصل حساب سره تهيك شوه. اوس د څوك دے حساب لره نۀ وړانوی. او دا ئے اوفرمائيل د مضر رجب، نو مضر يو قوم دے په عربو كښې. د هغوی رجب هم وو چه د جمادی الأخری او د شعبان په مينځ كښې دے. ددوی په مقابل كښې يو بل قوم وو ربيعه هغوی د رمضان مياشت ته رجب وے. نو حضرت ﷺ اوفرمائيل چه رجب هغه صحيح دے چه هغے ته مضر رجب وائی. او بعضو وئيلی دی. مضر په نسبت د نورو قومونو د رجب به ئے ډير تعظيم كولو. ددے وجے نه رجب دوی ته منسوب شو. والله اعلم

أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ سِوَى اسْمِهِ فَقَالَ أَلَيْسَ بِيَوْمِ النَّحْرِ قُلْنَا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَأَيُّ شَهْرٍ هٰذَا قُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ أَلَيْسَ بِذِي الْحِجَّةِ قُلْنَا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَأَيُّ بَلَدٍ هٰذَا قُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ سِوَى اسْمِهِ قَالَ أَلَيْسَ بِالْبَلْدَةِ قُلْنَا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِي شَهْرِكُمْ هٰذَا فِي بَلَدِكُمْ هٰذَا فَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ قَالَ ثُمَّ انْكَفَأَ إِلَى كَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ فَذَبَحَهُمَا وَإِلَى جُزَيْعَةٍ مِنَ الْغَنَمِ فَقَسَمَهَا بَيْنَنَا

ورځې بل نوم اخلی. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل. آیا دا یوم النحر نۀ دہ.مونږ اووے بے شکه دا یوم النحر دہ یا رسول الله حضرت ﷺ اوفرمائیل. دا کومه میاشت ده. مونږ اووے. الله او د هغۀ پیغمبر ښۀ پوهیږی. حضرت ﷺ اوفرمائیل. آیا دا ذی الحجه نۀ ده؟ مونږ اووے بے شکه ذی الحجه ده یا رسول الله. حضرت ﷺ اوفرمائیل. دا کوم ښار دے. مونږ اووے. الله او د هغۀ پیغمبر ښۀ پوهیږی. تردے پورے چه مونږ اوګنړل چه حضرت ﷺ به ددے بل څۀ نوم اخلی. حضرت ﷺ اوفرمائیل. یا دا ښار نۀ دے (مکه د عربو خلقو به ښار صرف مکے ته وے) مونږ عرض اوکړو. بیشکه ښار دے یا رسول الله حضرت ﷺ اوفرمائیل نو ستاسو نفسونه او ستاسو مالونه، او ستاسو عزتونه حرام دی ددے ورځې پشان په دے میاشت کښې په دے ښار کښې حرام دی. خوك چه حاضر دی هغه دے غائب ته دا خبره اورسوی بیا حضرت ﷺ متوجے شو هغه ګډانو طرفته چه لمنو والا وو. او هغۀ ذبح کړل او د یوے رمے د چیلو طرفته. هغۀ په مونږ خلقو تقسیم کړل

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَالَ أَيُّ يَوْمٍ هٰذَا وَسَاقُوا الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ عَوْنٍ غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَذْكُرُ وَأَعْرَاضَكُمْ وَلَا يَذْكُرُ ثُمَّ انْكَفَأَ إِلَى كَبْشَيْنِ وَمَا بَعْدَهُ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِي شَهْرِكُمْ هٰذَا فِي بَلَدِكُمْ هٰذَا إِلَى يَوْمِ تَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ قَالُوا نَعَمْ قَالَ اللّٰهُمَّ اشْهَدْ

د حضرت ابوبکره نه روایت دے جناب رسول خدا ﷺ په یوم النحر خطبه اولوسته. وے فرمائیل دا کومه ورځ ده؟ او بیان ئے کړو دا حدیث کوم چه پورته تیر شو. مګر په دے کښې د عزتونو ذکر نشته نۀ د دوؤ ګډو د ذبح کولو. او ددے نه روستو مضمون په دے روایت کښې دادے څنګه ستاسو ددے ورځ د حُرمت ددے میاشتے او په دے ښار کښې د هغے ورځې پورے ترڅو پورے میلاؤ شے د خپل پروردګار سره. خبر شئ ما اورسول؟ صحابه کرامو اووے آو اودے رسوؤ (د الله حکم لره) حضرت ﷺ اوفرمائیل اے الله ته ګواه شه.

بَاب صِحَّةِ الإِقْرَارِ بِالْقَتْلِ وَتَمْكِينِ وَلِيِّ الْقَتِيلِ مِنَ الْقِصَاصِ وَاسْتِحْبَابِ طَلَبِ الْعَفْوِ مِنْهُ

عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ حَدَّثَهُ أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ قَالَ إِنِّي لَقَاعِدٌ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ يَقُودُ آخَرَ بِنِسْعَةٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هٰذَا قَتَلَ أَخِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَتَلْتَهُ فَقَالَ إِنَّهُ لَوْ لَمْ يَعْتَرِفْ أَقَمْتُ عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ قَالَ نَعَمْ قَتَلْتُهُ قَالَ كَيْفَ قَتَلْتَهُ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَهُوَ نَخْتَبِطُ مِنْ شَجَرَةٍ فَسَبَّنِي فَأَغْضَبَنِي فَضَرَبْتُهُ بِالْفَأْسِ عَلَى قَرْنِهِ فَقَتَلْتُهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَكَ مِنْ شَيْءٍ تُؤَدِّيهِ عَنْ نَفْسِكَ قَالَ مَا لِي مَالٌ إِلَّا كِسَائِي وَفَأْسِي قَالَ فَتَرَى قَوْمَكَ يَشْتَرُونَكَ قَالَ أَنَا أَهْوَنُ عَلَى قَوْمِي مِنْ ذَاكَ فَرَمَى إِلَيْهِ بِنِسْعَتِهِ وَقَالَ دُونَكَ صَاحِبَكَ فَانْطَلَقَ بِهِ الرَّجُلُ فَلَمَّا وَلَّى قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ قَتَلَهُ فَهُوَ مِثْلُهُ فَرَجَعَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّكَ قُلْتَ إِنْ قَتَلَهُ فَهُوَ مِثْلُهُ

باب : د قتل اقرار صحیح دے او قاتل به د مقتول د ولی په حواله کیږی. او د هغهٔ نه د معافئ درخواست کول مستحب دی

د علقمه بن وائل نه روایت دے د هغوی پلار اووئیل. زهٔ د جناب رسول خدا ﷺ سره ناست وم. په دے کښې یو سړے راغے بل لړه ئے په تسمه اووخه. او اوئے وئیل. خما رور ئے وژلے دے. رسول الله ﷺ اوفرمائیل. تا هغهٔ لره قتل کړے دے؟ وے وئیل کهٔ دا اقرار نهٔ کوی نو زهٔ به په دهٔ گواه راولم. بیا هغه سړی اووے. بیشك ما هغهٔ لره قتل کړے دے. حضرت اوفرمائیل. تا ولے قتل کړے دے؟ هغهٔ اووے. ما او هغهٔ دواړو د اونے پاڼړے راسنډلے، په دے کښې هغهٔ ما ته کنځل اوکړل. ما له غصه راغله. ما د هغهٔ سر په تبر اووهۀ هغه مړ شو. جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل ستا سره څهٔ مال شته چه د خپل ځان په بدله کښې ورکړے؟ هغهٔ اووے ما سره ددے څادر او د تبر نه سوا هیڅ هم نشته. حضرت ﷺ اوفرمائیل. ستا قوم به تا خلاص کړی؟ هغهٔ اووے خما دومره قدر نشته د هغوی سره. بیا ئے هغه تسمه د مقتول وارث طرفته ورگزار کړه. هغهٔ واخسته او لاړهٔ. هر کله چه شا ئے کړه نو حضرت ﷺ اوفرمائیل. کهٔ چرے هغه دهٔ لره قتل کړی نو د هغهٔ برابر به شی (یعنی نهٔ به هغهٔ ته څهٔ درجه میلاویږی، نهٔ به دهٔ ته څهٔ مرتبه حاصلیږی ځکه چه دهٔ خپل حق په دنیا کښې وصول کړودا ئے واوریدل هغه راواپس شو او اوئےوئیل یا رسول الله ما ته خبر راورسیدهٔ چه تاسو اوفرمائیل کهٔ چرے زهٔ دهٔ لره قتل کړم نو د

وَأَخَذْتَهُ بِأَمْرِكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تُرِيدُ أَنْ يَبُوءَ بِإِثْمِكَ وَإِثْمِ صَاحِبِكَ قَالَ يَا نَبِيَّ اللهِ لَعَلَّهُ قَالَ بَلَى قَالَ فَإِنَّ ذَاكَ كَذَاكَ قَالَ فَرَمَى بِنِسْعَتِهِ وَخَلَّى سَبِيلَهُ

عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ قَتَلَ رَجُلًا فَأَقَادَ وَلِيَّ الْمَقْتُولِ مِنْهُ فَانْطَلَقَ بِهِ وَفِي عُنُقِهِ نِسْعَةٌ يَجُرُّهَا فَلَمَّا أَدْبَرَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ فَأَتَى رَجُلٌ الرَّجُلَ فَقَالَ لَهُ مَقَالَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَلَّى عَنْهُ قَالَ إِسْمَعِيلُ بْنُ سَالِمٍ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِحَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ فَقَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَشْوَعَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا سَأَلَهُ أَنْ يَعْفُوَ عَنْهُ فَأَبَى

هغهٔ برابر به شي او ما خو دهٔ ستاسو په حکم نیولے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل. ته دا نغوارے چه هغه ستا او ستا د رور ګناه راغونډه کړي. هغهٔ اوئیل . دغه شان به وي. حضرت ﷺ اوفرمائیل. آو هغهٔ اووے کهٔ چرے داسے وي نو خیر دے او د هغهٔ تسمهٔ ئے اوغورځوله او هغهٔ ئے پریخودهٔ [1].

د علقمه بن وائل نه روایت دے هغهٔ اوریدلی دی د خپل پلار نه. وئیلی دی چه د جناب رسول خدا ﷺ خواله یو سړے راوستے شوچا چه وژلے وو هغه سړے. حضرت ﷺ اجازت ورکړو د مقتول وارث ته ددهٔ نه د قصاص د اخستو. او ددهٔ په مرئ کښې یو تسمه وه چه هغه دهٔ راخکوده. هر کله چه هغهٔ شا کړه لاړهٔ نو حضرت ﷺ اوفرمائیل. قاتل او مقتول دواړه به جهنم ته ځي. یو سړے لاړهٔ ددهٔ سره میلاؤ شو. او جناب رسول خدا ﷺ چه فرمائیلي وو هغه ئے ورته بیان کړل. هغهٔ قاتل پریخودهٔ. اسماعیل بن سالم اووے. ما دا حبیب بن ثابت ته بیان کړو هغوی اووے ما ته ابن اشوع وئیلی دی چه جناب رسول خدا ﷺ هغهٔ ته فرمائیلے وود معاف کولو لیکن دهٔ انکار اوکړو [2].

---

[1] نووي وئیلي دي دد ے حدیث نه دومره خبرے اوځي. مجرمان تړل، هغوی حاضرول ، د حاکم د وړاندے مدعی د مدعی علیه نه اول جواب دعوی اخستل. کهٔ چرے هغه اقرار اوکړي نو د ګواهانو ضرورت به نهٔ وي. د حاکم درخواست کول د مقتول د وارث نه د معافئ دپاره. د معافئ صحیح کیدل. مقدمه د رجوع نه پس هم د دیت جائز کیدل. په قتل عمد کښې د اقرار صحیح کیدل. په قتل کښې قاتل لره د قصاص دپاره د مقتول د وارث په حواله کول. انتهی.

[2] مراد دا قاتل او مقتول نهٔ دي. بلکه هغه مسلمانان دي چه وسله واخلی او په خپل مینځکښې د یو بل ته د وژلو دپاره پاسي. او په دے موقع دد ے جملے د فرمائیلو دا غرضٌ وو چه د مقتول وارث خپل ځان هم په دے کښې داخل اوګنړي او په معاف کولو راضي شي څنګه چه په رومبني حدیث کښې فرمائیلي دي. کهٔ قتل اوکړي نو هغه ددهٔ مثل وي چه دد ے یو معنی دا هم کیدے شي چه هغه به هم

بَاب دِيَةِ الْجَنِينِ وَوُجُوبِ الدِّيَةِ فِي قَتْلِ الْخَطَإِ وَشِبْهِ الْعَمْدِ عَلَى عَاقِلَةِ الْجَانِي

باب: د خیتې د بچی د دیت او قتلِ خطا او د شبهِ عمد د دیت بیان

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ مِنْ هُذَيْلٍ رَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى فَطَرَحَتْ جَنِينَهَا فَقَضَى فِيهِ النَّبِيُّ ﷺ بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ

د ابوهریره نه روایت دے. د هذیل دوؤ ښځو جهګړه اوکړه. او یوے بله اووهله. او د هغے د خیتے بچے پریوتۀ. بیا جناب رسول خدا ﷺ حکم اوکړو د یو غلام یا د وینځے د ورکولو[1].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنِينِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي لَحْيَانَ سَقَطَ مَيِّتًا بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ ثُمَّ إِنَّ الْمَرْأَةَ الَّتِي قُضِيَ عَلَيْهَا بِالْغُرَّةِ تُوُفِّيَتْ فَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ بِأَنَّ مِيرَاثَهَا لِبَنِيهَا وَزَوْجِهَا وَأَنَّ الْعَقْلَ عَلَى عَصَبَتِهَا

د حضرت ابوهریره نه روایت دے. جناب رسول خدا ﷺ د بنی لحیان د ښځے د کیدے په بچی کښ د یو غلام یا د یوے وینځے حکم اوکړو. بیا د کومے ښځے دپاره چه د غلام د ورکولو حکم اوشو هغه مړه شوه. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه د دے ترکه د دے ځامنو او خاوند ته به ملاویږی. او دیت د قاتل په خاندان دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ اقْتَتَلَتْ امْرَأَتَانِ مِنْ هُذَيْلٍ فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ فَقَتَلَتْهَا وَمَا فِي بَطْنِهَا فَاخْتَصَمُوا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَضَى

د ابوهریره نه روایت دے دوؤ ښځو د هذیل (یوه قبیله ده) جهګړه اوکړه. یوے بله په ګټه اوویشته. او هم مړه شوه او د هغے بچے هم مړ شو. جناب رسول خدا ﷺ حکم اوکړو چه د دے د بچے دیت یو غلام دے یا یوه وینځه او د ښځے د

جهنم ته دغسے ځی. حالانکه دا مقصود نۀ دی. ځکه هغه خو د حضرت د حکم سره د خپل حق دپاره وژلو. په عربئ کښ داسے کار ته تعریض وائی. او دا جائز دے په یو مصلحت په دے شرط چه رښتیا وی. ځکه چه په پیغمبرانو دروغ محال دی. بلکه علماؤ وئیلی دی چه د مصلحت په لحاظ سره تعریض مستحب دے. مثلا قتل کونکے وی او دا مسئله اوتپوسی چه قاتل توبه صحیح ده. هغه دے په جواب کښ داسے اووائی. د ابن عباس نه به صحت سره منقول دی چه د قاتل توبه صحیح نۀ ده اګر چه د مفتی په نز د ابن عباس دا قول صحیح نۀ وی (نووی مختصراً)

[1]: خواه کۀ هلک وی یا جینئ. نووی وئیلی دی. دا په دے صورت کښ دے هر کله چه ماشوم مړ اوغورځیږی. او کۀ چرے ژوندے پریوتۀ بیا مړ شو نو په دے کښ پوره دیت واجب دے. یعنی سل اوښان د سړی دپاره او پنځوس د ښځے دپاره. او د اهل بصره په نز د مجرم په ذات باندے به وی. او د شافعی په نز په مجرم به کفاره هم وی. او د مالک او ابوحنیفه په نز به کفاره نۀ وی. (انتهی نووی)

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ دِيَةَ جَنِينِهَا غُرَّةٌ عَبْدٌ أَوْ وَلِيدَةٌ وَقَضَى بِدِيَةِ الْمَرْأَةِ عَلَى عَاقِلَتِهَا وَوَرَّثَهَا وَلَدَهَا وَمَنْ مَعَهُمْ فَقَالَ حَمَلُ بْنُ النَّابِغَةِ الْهُذَلِيُّ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ أَغْرَمُ مَنْ لَا شَرِبَ وَلَا أَكَلَ وَلَا نَطَقَ وَلَا اسْتَهَلَّ فَمِثْلُ ذٰلِكَ يُطَلُّ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنَّمَا هٰذَا مِنْ إِخْوَانِ الْكُهَّانِ مِنْ أَجْلِ سَجْعِهِ الَّذِي سَجَعَ

وژلو دیت د وژونکې خاندان دِ ورکړی او دد ے وارث دد ے هلك به وی او کوم وارثان چه دد ے سره دی. حمل بن نابغه اووئیل یا رسول الله ﷺ مونږ ولے تاوان ورکړو د هغه چا چه هغهٔ نهٔ څښلی نهٔ خوړلی نهٔ خبر ے کړ ے دی او نهٔ ئے ژړلی دی . دا خو لاړو راغے (یعنی لغوه د ے) پس جناب رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا د کاهنانو رور د ے . دداسے قافیه دار عبارت وئیلو په وجه [1]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ اقْتَتَلَتْ امْرَأَتَانِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ وَوَرَّثَهَا وَلَدَهَا وَمَنْ مَعَهُمْ وَقَالَ فَقَالَ قَائِلٌ كَيْفَ نَعْقِلُ وَلَمْ يُسَمِّ حَمَلَ بْنَ مَالِكٍ

د حضرت ابوهریره نه دا بل روایت هم دغسے د ے. مګر په د ے کښ دا نشته د ے چه د هغے ښځےوارث به د هغے هلك وی او کوم وارث چه د هغے سره وی . او نهٔ پکښ نوم شته د حمل بن مالك بن نابغه. بلکه دادی چه چا اووے مونږ څنګه دیت ورکړو دداسے کس چه هغه نهٔ څښلی دی نهٔ ئے خوړلی دی نهٔ ئے خبر ے کړی نهٔ ئے ژړلی دی. دا خو لاړو راغے.

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ ضَرَبَتْ امْرَأَةٌ ضَرَّتَهَا بِعَمُودِ فُسْطَاطٍ وَهِيَ حُبْلَى فَقَتَلَتْهَا قَالَ وَإِحْدَاهُمَا لِحْيَانِيَّةٌ قَالَ فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِيَةَ الْمَقْتُولَةِ عَلَى عَصَبَةِ الْقَاتِلَةِ وَغُرَّةً لِمَا فِي بَطْنِهَا فَقَالَ

د مغیره بن شعبه ؓ نه روایت د ے یو ے ښځے خپلے بنے لره دخیمے په لرګی سره اووهله . هغه حامله وه مړه شوه. په دوی کښ یوه د بنی لحیان ښځه وه. جناب رسول خدا ﷺ د مقتولے دیت د قاتلے د خاندان نه راآوغوښتو او د ګیډ ے د بچی دیت ئے یو غلام مقرر کړو. یو سړی د قاتلے د قوم نه

[1] یعنی د ګیډ ے بچے. په دویم روایت کښ دی چه ددیر ے په لرګی سره ئے اووهو. نووی وائی چه مراد تر ے وړوکے کټه او وړوکے لرګے د ے چه په هغے سره اکثر سړے نهٔ مری دغه شبه عمد د ے. په د ے کښ په خاندان والاؤ باند ے دیت لازمیږی. او په مجرم باند ے قصاص نهٔ وی او نهٔ د هغهٔ په ذات باند ے دیت راځی د امام شافعی او جمهور علماؤ دغه قول د ے. علماء وائی حضرت ﷺ د هغه بد اووے په دوه وجوه سره یو خو دا چه هغه د شرعی حکم د باطلولو دپاره داسے تقریر اوکړو. دویم دا چه په تقریر کښ ئے تکلف او کړو او بناوټ ئے اوکړو او دد ے قسم سجع مذموم ده. نهٔ هغه سجع کوم چه په حدیث کښ راغلے ده او خلاف شرعه نهٔ وی.

رَجُلٌ مِنْ عَصَبَةِ الْقَاتِلَةِ أَنَغْرَمُ دِيَةَ مَنْ لَا أَكَلَ وَلَا شَرِبَ وَلَا اسْتَهَلَّ فَمِثْلُ ذٰلِكَ يُطَلُّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَسَجْعٌ كَسَجْعِ الْأَعْرَابِ قَالَ وَجَعَلَ عَلَيْهِمُ الدِّيَةَ

اووے مونږ ولے تاوان ورکړو د هغه چا چه هغه نۀ ښنبلی وی نۀ ئے خوړلی وی و نۀ ئے ژړلی وی. دغسے لاړو راغے. حضرت ﷺ اوفرمائیل د بدویانو پشان قافیه دار عبارت لولی. او واجب ئے کړو په هغوی باندے دیت لره.

عَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ أَنَّ امْرَأَةً قَتَلَتْ ضَرَّتَهَا بِعَمُوْدِ فُسْطَاطٍ فَأُتِيَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَضٰى عَلٰى عَاقِلَتِهَا بِالدِّيَةِ وَكَانَتْ حَامِلًا فَقَضٰى فِي الْجَنِيْنِ بِغُرَّةٍ فَقَالَ بَعْضُ عَصَبَتِهَا أَنَدِيْ مَنْ لَا طَعِمَ وَلَا شَرِبَ وَلَا صَاحَ فَاسْتَهَلَّ وَمِثْلُ ذٰلِكَ يُطَلُّ قَالَ فَقَالَ سَجْعٌ كَسَجْعِ الْأَعْرَابِ

د مغیره بن شعبه نه روایت دے وائی چه یوے ښځے خپله بن د خیمے په لرګی سره اووژله بیا دا مقدمه د جناب رسول خدا ﷺ خواله راوړے شوه. حضرت ﷺ اوفرمائیل د قاتلے کور والا به دیت ورکوی او د مقتول شوے ښځے ګیډه وه. حضرت ﷺ د ګیډے د بچی دیت یو غلام مقرر کړو د قاتلے د کور والؤ نه یو سړی اووے مونږه څنګه دیت ورکړو د هغه چا چه هغه نۀ څۀ خوړلی دی نۀ ئے ښنبلی او نۀ ئے ژړلی دی او نۀ ئے آواز کړے. دا خو لاړو راغے. حضرت ﷺ اوفرمائیل د بانډه چی پشان خبرے کوی.

عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ الْآخَرَانِ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ اسْتَشَارَ النَّاسَ فِيْ إِمْلَاصِ الْمَرْأَةِ الْمُغِيْرَةُ بْنُ شُعْبَةَ فَقَالَ شَهِدْتُ النَّبِيَّ ﷺ قَضٰى فِيْهِ بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ قَالَ فَقَالَ عُمَرُ ائْتِنِيْ بِمَنْ يَشْهَدُ مَعَكَ قَالَ فَشَهِدَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ

دمسور بن مخرمه نه روایت دے وائی چه حضرت عمر مشوره واخسته د خلقو نه د ګیډے د بچی د دیت په باره کښں مغیره بن شعبه اووے. رسول الله ﷺ حکم کړے دے په دے کښں د یوے وینځے یا غلام. حضرت عمر مغیره ته اووے. بل یو سړے راوله چه ستا سره ګواهی ورکړی. بیا محمد بن مسلمه د مغیره د بیان موافق بیان کړو[1]

[1] هرچند مغیره رښتونے وو. مګر حضرت عمر احتیاطًا یوه بله ګواهی طلب کړه.

كِتَابُ الْحُدُودِ

د حدُونو مسئلې

بَاب حَدِّ السَّرِقَةِ وَنِصَابِهَا

باب : د غلا حد او د هغې د نصاب بیان

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْطَعُ السَّارِقَ فِي رُبُعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا

د مومنانو د مور حضرت عائشې نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د غل لاس په څلور دیناره یا زیات مال کښې کټ کولو [1].

عَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُقْطَعُ يَدُ السَّارِقِ إِلَّا فِي رُبُعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا

د مومنانو د مور حضرت عائشې صدیقې نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل . د غل لاس به نۀ شی کټ کولے مګر په څلورو دینارو یا د زیاتو په پټولو کښې.

عَنْ عَائِشَةَ تُحَدِّثُ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تُقْطَعُ الْيَدُ إِلَّا فِي رُبُعِ دِينَارٍ فَمَا فَوْقَهُ

د مومنانو د مور حضرت عائشې صدیقې نه روایت دے هغوی اوریدلی دی د جناب رسول خدا ﷺ نه حضرت ﷺ فرمائیل. د غل لاس به نۀ شی کټ کولے مګر په څلورمه حصه د دینار کښې یا په زیات کښې

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمْ تُقْطَعْ يَدُ سَارِقٍ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَمَنِ الْمِجَنِّ حَجَفَةٍ أَوْ تُرْسٍ وَكِلَاهُمَا ذُو ثَمَنٍ

د حضرت عائشې نه روایت دے د غل لاس د جناب رسول خدا ﷺ په زمانه کښې نۀ وو کټ شوے د ډهال نه په کم قیمت کښې کۀ حجفه وی یا ترس (دا دواړه قیمت والا دی حجفه په تقدیم د حائے مهمله مفتوحه او ترس دواړه ډهال ته وئیلے شی. دغه شان مِجَنّ هغې ته وئیلے شی چه په هغې سره پناه اخستے شی)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطَعَ سَارِقًا فِي مِجَنٍّ قِيمَتُهُ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ

د عبدالله بن عمر نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ د یو غل لاس کټ کړلو د ډهال په غلا کښې چه د هغې قیمت درے درهمه وو [1].

[1]: نووی وئیلی دی د غل لاس به په اجماع سره کټ کولے شی. لیکن د غلا په نصاب کښې د عالمانو اختلاف دے. د اهل ظاهرو په نیز څۀ نصاب شرط نۀ دے بلکه د لږ یا ډیر د هر څیز په غلا کښې به لاس کټ کولے شی. او دغه قول دے د ابن بنت شافعی او دغه منقول دے د حسن بصری او خوارجو نه او د جمهور علماؤ په نیز نصاب شرط دے. اوس اختلاف دے د هغې په مقدار کښې. نو د امام شافعی په نیز نصاب څلور دیناره دی د سرو زرو یا د دے هومره مالیت بل څۀ څیز . او د مالك او احمد او اسحق په نیز څلور دیناره یا درے درهمه او د ابن شبرمه او د ابن ابی لیلی په نیز پنځۀ درهمه او د امام ابوحنیفه په نیز لس درهمه . او صحیح د شافعی قول دے.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ اللهُ السَّارِقَ يَسْرِقُ الْبَيْضَةَ فَتُقْطَعُ يَدُهُ وَيَسْرِقُ الْحَبْلَ فَتُقْطَعُ يَدُهُ

د ابوهریره نه روایت وائی چه جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل لعنت د وی د الله تعالی په غَل باندے چه هغه پتوی اګئ لره او بیا کټ شی لاس د هغهٔ او پتوی رسئ لره بیا کټ کیږی لاس د هغهٔ[2].

بَابُ قَطْعِ السَّارِقِ الشَّرِيفِ وَغَيْرِهِ وَالنَّهْيِ عَنِ الشَّفَاعَةِ فِي الْحُدُودِ

باب: غَل اګر کهٔ شریف وی ، د هغهٔ لاس پریکول او په حدودو کښ د سفارش ممانعت

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِي سَرَقَتْ فَقَالُوا مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا وَمَنْ يَجْتَرِئُ عَلَيْهِ إِلاَّ أُسَامَةُ حِبُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ ثُمَّ قَامَ فَاخْتَطَبَ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ قَبْلَكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَايْمُ اللهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے چه دقریشو سره فکر پیدا شو د مخزومی ښځے په غَلا کولو سره (ځکه چه هغه د شریف قوم نه وه) هغوی اووے په دے باب کښ به جناب رسول خدا ﷺ ته څوك اووائی؟ خلقو اووے دومره جرأت خو په هیڅا کښ نشته. البته اُسامه چه رسول الله ﷺ ته زیات محبوب دے کهٔ هغه وائی نو وئیلے شی (ځکه چه اُسامه د زید ځوئ وو او زید د رسول خدا ﷺ پاللے ځوئے وو) آخر اُسامه جناب رسول خدا ﷺ ته اووے. حضرت ﷺ اوفرمائیل اے اُسامه تهٔ د الله تعالی په حد کښ سفارش کوے (هر کله خه د امامه پورے د حد مقدمه اورسی نو سفارش کول صحیح نهٔ دی. البته د امام د تلو نه مخکښ د بعضو په نز جائز دی. په دے شرط چه مجرم شر پسند نهٔ وی) بیا حضرت ﷺ اودریدو او خطبه ئے واوروله او اوئے فرمائیل اے خلقو! ستاسو نه مخکښ خلق په دغه رواجونو باندے تباه شوی دی. چه

---

[1]: دا حدیث دلیل دے د امام مالك او احمد او اسحق. او شافعی دد ے تاویل دا کړے دے چه په دغه وخت کښ به د درے درهمه د څلورو دینارو وو.

[2]: دد ے حدیث نه معلومه شوه چه په غیر معین باندے لعنت کول صحیح دی. لکه یو سړے اووائی لعنت د وی په ظالم باندے یا لعنت د وی په دروغژن یا په بے ایمانه باندے او د چا نوم وانخلی. او خنو په معین باندے هم لعنت لره صحیح کړے دے د کومے پورے چه په هغهٔ باندے حد نهٔ وی لګیدلے. او هر کله چه حد پرے اولږی نو صحیح نهٔ دی ځکه چه په حَد سره هغه پاکیږی.

لَقَطَعْتُ يَدَهَا وَفِي حَدِيثِ ابْنِ رُمْحٍ إِنَّمَا هَلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ

هر کله چه به یو شریف سړی په هغوی کښې غلا اوکړه نو هغه به ئې پریخودو او هر کله چه به یو کمزوری بې وسیلې داسې اوکړل نو په هغهٔ به ئې حَد قائمولو . په خدائې مې دِ قسم وی که فاطمه لور د محمد (ﷺ) غَلا کړې وې نو د هغې نه به مې هم لاس کټ کولو[1].

عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الَّتِي سَرَقَتْ فِي عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ الْفَتْحِ فَقَالُوا مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا وَمَنْ يَجْتَرِئُ عَلَيْهِ إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ حِبُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُتِيَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَهُ فِيهَا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ فَتَلَوَّنَ وَجْهُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ فَقَالَ لَهُ أُسَامَةُ اسْتَغْفِرْ لِي يَا رَسُولَ اللهِ فَلَمَّا كَانَ الْعَشِيُّ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَطَبَ فَأَثْنَى عَلَى اللهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ

د مؤمنانو مور د حضرت عائشې صدیقې نه روایت دے چه بی بی وه د جناب رسول خدا ﷺ ، د قریشو سره فکر پیدا شو د هغه ښځې په باره کښې چا چه د جناب رسول خدا ﷺ په زمانه مبارکه کښې هر کله چه مکه فتح شوه غَلا اوکړه. خلقو اووې څوك به اووائی په دے باب کښې جناب رسول خدا ﷺ ته. هغوی اووې دومره جرأت څوك کولې نهٔ شی د حضرت ﷺ په مخکښې سوا د اُسامه بن زید نه چه د جناب رسول خدا ﷺ خواته حاضر کړې شوه او اُسامه ئې سفارش اوکړو. د حضرت ﷺ د مخ مبارك رنګ بدل شو (د غصې نه) او اوئې فرمائیل تهٔ د الله تعالی په حد کښې سفارش کوې. اُسامه اووې یا رسول اللهؐ! تاسو څما دپاره د معافئ دُعا اوغواړئ پس هر کله چه ما ښام شو نو جناب رسول خدا ﷺ اودریدو او خطبه ئې اولوسته. او بیائې د الله تعالی تعریف اوکړو لکه څنګه چه د هغهٔ سره ښائی. بیائې اوفرمائیل روستو دد ے نه ستاسو نه مخکښې خلقو لره تباه کړی دی دغې خبرې. هر کله چه به په هغوی کښې

[1]: ځکه چه کومه قاعده او قانون جوړ شوے دے په هغې باندے بې لحاظه تلل پکار دی. ورنه ملك به بربادیږی او حکومت به تباه کیږی. افسوس دے چه مسلمانان کوم چهٔ د ټولو نه زیات په یوه زمانه کښې د قانون او خاصکر د قانونِ الهی پابند وو. اوس د ټولو قومونو نه زیات بې قانونه او بې قاعدے شوے دی. په دغه خلقو کښې نهٔ مذهبی قانون باقی دے نهٔ ملکی. هر سړے بې مُهاره اوښ دے. او څنې بې وقوف دے لره آزادی او حریت خیال کوی. حالانکه حُریت دغه دے چه انسان د قانون په پابندئ کښې په خپلو خپلو منافع حاصلولو کښې بلا خوف و خطر مشغول شی. او په زبردستئ سره ټول فرمانبردار او غاړه ایخودونکی د قانون شی. دا حدیث هم د عقلمندو په نز د حضرت د نبوت یو ښکاره دلیل دے دومره عدل او انصاف او داسې خالص خدا پرستی او راست بازی په داسې ناتربیت یافته قوم کښې لکه چه هغه زمانه کښې چه عرب وو بغیر د خداوند کریم د تعلیم او د هغهٔ د امداد نه په پوهه کښې نهٔ شی راتلې.

الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَإِنِّي وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا ثُمَّ أَمَرَ بِتِلْكَ الْمَرْأَةِ الَّتِي سَرَقَتْ فَقُطِعَتْ يَدُهَا قَالَ يُونُسُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَحَسُنَتْ تَوْبَتُهَا بَعْدُ وَتَزَوَّجَتْ وَكَانَتْ تَأْتِينِي بَعْدَ ذَلِكَ فَأَرْفَعُ حَاجَتَهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عزتمند سړی غلا اوکړه نو هغه به ئے پریخودو او هر کله چه به غریب او کمزوری سړی غلا اوکړه نو په هغهٔ به ئے حَد قائمولو. او ځما خو د قسم وی په هغه ذات چه د هغهٔ په لاس کښې ځما روح دے. کهٔ چرے فاطمه د محمد (ﷺ) لور هم غلا اوکړی نو د هغے لاس به کټ کوم. حضرت عائشه صدیقه فرمائی د لاس د کټ کولو نه پس هغه غلاکونکے ښځه ښه شوله او بیا هغے نکاح اوکړه. بیا به هغه ځما خواله راتله او ما به د هغے مطلب لره جناب رسول خدا ﷺ ته عرض کوؤ.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَتِ امْرَأَةٌ مَخْزُومِيَّةٌ تَسْتَعِيرُ الْمَتَاعَ وَتَجْحَدُهُ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُقْطَعَ يَدُهَا فَأَتَى أَهْلُهَا أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَكَلَّمُوهُ فَكَلَّمَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ اللَّيْثِ وَيُونُسَ

د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے چه یوه مخزومی ښځه چه اسباب به ئے په خواست سره واخستو نو بیا به پرے منکره شوه. نو جناب رسول خدا ﷺ حکم اوفرمائیلو د هغے د لاس د کټ کولو دپاره. د هغے خاندان والاؤ أسامه ته سفارش اوکړو. أسامه جناب رسول خدا ﷺ ته اووے. بیا داسے بیان اوکړو څنګه چه پورته تیر شو[1].

بَابُ حَدِّ الزِّنَى

باب: د زنا د حد بیان

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذُوا عَنِّي خُذُوا عَنِّي قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا الْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ وَنَفْيُ سَنَةٍ وَالثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَالرَّجْمُ

د عباده بن صامت نه روایت دے وائی چه جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل زده کړئ ځما نه زده کړئ ځما نه (د شرع خبرے) الله تعالی د ښځو دپاره یوه لار اوویسته هر کله چه بے وادهٔ زنا اوکړی د بے وادهٔ سره نو سل کوړے ئے اووهئ او د یو کال دپاره ئے د ملك نه بهر کړئ. او چه د وادهٔ خاوند د وادهٔ ښځے سره زنا اوکړی نو سل

[1] یعنی دا هم دهغے عادت وو نهٔ دا چه لاس ئے په دغه جرم کښې کټ شو. ځکه چه اخستل او منکریدل غلا نهٔ ده. بلکه خیانت دے. د اکثرو عالمانو هم دغه قول دے. او د احمد او اسحق په نزد به په دے کښې هم لاس کټ کولے شی.

کوړے نے اوهی او بیائے په ګټو ویشتلو سره مرکړی.[1]

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ كُرِبَ لِذٰلِكَ وَتَرَبَّدَ لَهُ وَجْهُهُ قَالَ فَأُنْزِلَ عَلَيْهِ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَقِيَ كَذٰلِكَ فَلَمَّا سُرِّيَ عَنْهُ قَالَ خُذُوا عَنِّي فَقَدْ جَعَلَ اللهُ لَهُنَّ سَبِيلًا الثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ وَالْبِكْرُ بِالْبِكْرِ الثَّيِّبُ جَلْدُ مِائَةٍ ثُمَّ رَجْمٌ بِالْحِجَارَةِ وَالْبِكْرُ جَلْدُ مِائَةٍ ثُمَّ نَفْيُ سَنَةٍ

د عباده بن صامت نه روایت دے وائی چه په جناب رسول خدا ﷺ باندے چه به کله وحی نازلیدهٔ نو حضرت ته به سختی معلومیده او په مخ مبارك به ئے د خاوړے رنګ راغے. یو ورځ په حضرت ﷺ باندے وحی نازله شوه او هغوی ته دغسے سختی محسوسه شوه هر کله چه وحی موقوف شوه نو حضرت ﷺ اوفرمائیل. زده کړئ خما نه الله تعالی د ښځو دپاره لاره جوړه کړه. کچرے ثیّب د ثیّب سره زنا اوکړی او بِکر د بِکر سره نو ثیبت به د سلو کوړو نه پس سنګسار کولے شی او بِکر به د سلو کوړو لګولو نه پس د وطن نه بهر کولے شی د یو کاله پورے.

عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِهِمَا الْبِكْرُ يُجْلَدُ وَيُنْفَى وَالثَّيِّبُ يُجْلَدُ وَيُرْجَمُ لَا يَذْكُرَانِ سَنَةً وَلَا مِائَةً

د قتاده نه هم په دغه اسناد سره روایت دے مګر په دے کښې دادی چه بِکر به کوړو وهلے کیږی او د وطن نه ویستلے شی او ثیّب به کوړو وهلے کیږی او سنګسار یږی به په دے کښې د یو کال یا د سلو کوړو ذکر نشته

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ جَالِسٌ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ قَدْ بَعَثَ

د عبد الله بن عباس نه روایت دے وائی چه حضرت عمر د جناب رسول خدا ﷺ په ممبر باندے ناست وو هغوی اووے الله محمد ﷺ رالیږلے وو د حق سره او په هغوی باندے کتاب نازل کړے وو چه په هغے کښې د رجم

[1] نووی ونیلی دی بغیر وادهٔ نه هلك چه زنا اوکړی د ناوادهٔ شوے جینۍ سره یا د وادهٔ شوے جینۍ سره نو په هر حال کښې به دغه بغیر وادهٔ نه هلك سل کوړے وهلے شی او د یو کال دپاره به وطن پریږدی. او وادهٔ شوے لره به رجم کوی. دغه شان د وادهٔ خاوند کچرے زنا اوکړی د ناوادهٔ جینۍ سره نو دغه دوادهٔ خلمے به رجم کیږی او دغه ناوادهٔ شوے جینۍ به سل کوړے وهلے شی. او د یو کاله پورے به د وطن نه ویستلے شی. او د بِکر نه مراد یعنی د ناوادهٔ شوے نه مراد هغه سړے یا ښځه ده چه هغه په صحیح نکاح سره جماع نهٔ وی کړے. او هغه آزاد او عاقل او بالغ وی اګر کهٔ کافر وی. او علماؤ اجماع کړے ده چه ناوادهٔ شوے زناکار به سل کوړے وهلے شی. او وادهٔ شوے به رجم کیږی. او په دے کښې د چا اختلاف نشته. البته د خوارجو او ځنے معتزلؤ نه منقول دی چه هغوی رجم نه انکار کړے دے. او وادهٔ شوی زناکار ته به مخکښې کوړے لګولے شی. او بیا به رجم کولے شی. د اسحق او داؤد او اهل ظاهرو هم او د ځنے شافعی ملګرو هم دغه قول دے. او د جمهورو علماؤ په نز صرف رجم کافی دے. او ناوادهٔ شوی به د یو کال دپاره جلا وطن کیږی کهٔ سړے وی یا ښځه. د امام شافعی او د جمهور علماؤ دغه قول دے او د حسن په نز نفی واجب نهٔ ده. او مالك او اوزاعی ونیلی دی چه په ښځو باندے نفی نشته دے. (انتهی مختصراً)

مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَقِّ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتَابَ فَكَانَ مِمَّا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةُ الرَّجْمِ قَرَأْنَاهَا وَوَعَيْنَاهَا وَعَقَلْنَاهَا فَرَجَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ فَأَخْشَى إِنْ طَالَ بِالنَّاسِ زَمَانٌ أَنْ يَقُولَ قَائِلٌ مَا نَجِدُ الرَّجْمَ فِي كِتَابِ اللهِ فَيَضِلُّوا بِتَرْكِ فَرِيضَةٍ أَنْزَلَهَا اللهُ وَإِنَّ الرَّجْمَ فِي كِتَابِ اللهِ حَقٌّ عَلَى مَنْ زَنَى إِذَا أَحْصَنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ إِذَا قَامَتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ الْحَبَلُ أَوِ الِاعْتِرَافُ

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ أَتَى رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَنَادَاهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ فَتَنَحَّى تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَقَالَ لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ حَتَّى ثَنَى ذَلِكَ عَلَيْهِ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا شَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ دَعَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبِكَ جُنُونٌ قَالَ لَا قَالَ فَهَلْ أَحْصَنْتَ قَالَ نَعَمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذْهَبُوا بِهِ

ایت وو (اَلشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهُمَا) لیکن د هغې تلاوت موقوف شو او حکم ئې باقي دے) مونږ دغه ایت اولوستو او یاد مو اوساتلو او پوهه پرې شو. نو رجم کړے دے جناب رسول خدا ﷺ او مونږ هم د هغوی نه روستو. زهٔ ویریږم چه د زیاتې مودې تیریدو نه پس خوك دا او نهٔ وائی چه مونږ ته د الله په کتاب کښې رجم نهٔ میلاویږی بیا به هغه گمراه شی د دے فرضو په پریخودو سره چه الله تعالی رالیږلی دی (دا وینا د حضرت عمر صحیح شوه او خوارجو د غسے اووے او گمراه شو) بیشکه رجم حق دے د الله تعالی په کتاب کښې په هغه سړی او ښځه باندے چه هغه محصن وی او زنا اوکړی. هر کله چه گواه قائم وی په زنا باندے یائې حمل ښکاره شی یا پخپله اقرار اوکړی [1]

د ابوهریره نه روایت دے یو سړے د مسلمانانو نه راغے د جناب رسول خدا ﷺ خواه له په جماعت کښې. او چغې ئې کړے حضرت ﷺ ته اوئے وئیل یا رسول الله! ما زنا کړے ده. حضرت د هغه د طرفنه مخ واړ وو. هغه د بل طرفنه راغے او اوئے وئیل چه یارسول الله ما زنا کړے ده. حضرت د هغهٔ د طرفنه مخ واړه وو. تر دے پورے چه څلور خله هغه اقرار او کړو. هر کله چه څلور خله اقرار ئې اوکړو نو حضرت ﷺ اوغوښتو او تپوس ئې ترے اوکړو چه ته لیونے خو نهٔ ئې؟ هغه اووے نه. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ته محصن ئې؟ (یعنی وادهٔ دکړے دے) هغهٔ اووے آو. بیا حضرت صحابو ته اوفرمائیل دے بوځئ او سنگسار ئې کړئ (د دے نه معلومه شوه چه د امام پخپله

[1] نووی وئیلی دی دا د حضرت عمر مذهب دے چه د ښځې هر کله چه خاوند او اقا نهٔ وی او حمل ئې ښکاره شی نو په هغې به د زنا حد لگولے شی. او د مالك هم دغه قول دے په دے شرط چه په زور جماع کول ثابت نهٔ وی. او هغه ښځه نااشنا نهٔ وی چه هغه دا اووائی چه حمل ئې د خاوند نه دے یا د اقا نه دے. او د شافعی او ابوحنیفه او جمهور علماؤ په نز صرف د حمل په ښکاره کیدو سره حد نهٔ غورځیږی د کومې پورے چه په زنا ئې گواه نهٔ وی یا د زنا اقرار پخپله او نهٔ کړی.

فَارْجُمُوهُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ فَكُنْتُ فِيمَنْ رَجَمَهُ فَرَجَمْنَاهُ بِالْمُصَلَّى فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ هَرَبَ فَأَدْرَكْنَاهُ بِالْحَرَّةِ فَرَجَمْنَاهُ وَرَوَاهُ اللَّيْثُ أَيْضًا عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ خَالِدِ بْنِ مُسَافِرٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ حِينَ جِيءَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ قَصِيرٌ أَعْضَلُ لَيْسَ عَلَيْهِ رِدَاءٌ فَشَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ أَنَّهُ زَنَى فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَعَلَّكَ قَالَ لَا وَاللهِ إِنَّهُ قَدْ زَنَى الْأَخِرُ قَالَ فَرَجَمَهُ ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ أَلَا كُلَّمَا نَفَرْنَا غَازِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ خَلَفَ أَحَدُهُمْ لَهُ نَبِيبٌ كَنَبِيبِ التَّيْسِ يَمْنَحُ أَحَدُهُمُ الْكُثْبَةَ أَمَا وَاللهِ

شریکیدل ضروری نهٔ دی، جابرؓ وائی مونږ هغهٔ لره رجم کړو په عیدګاه کښې (یا په جنازګاه کښې نوویؒ وائی دد ے نه دا معلومه شوه چه د اختر او د جناز ے د مونځ دپاره چه کوم میدان دی د هغے حکم د جماعت نهٔ د ے) هر کله چه د ګټو درد تیزی هغهٔ ته معلومه شوه نو اوتختیدو بیا مونږ هغهٔ لره په حره کښې اوموندو او هلته مو په ګټو سره اووژلو[1]

د جابر بن سمره نه روایت د ے وائی چه ما ماعز بن مالك اولیدو هر کله چه هغه د جناب رسول خداﷺ خواله راوستے شو. بند کړے شو ے لغړ په هغوی باند ے څادر نهٔ وو (یعنی په هغه وخت د هغه بدن لغړ وو) هغوی څلور خله د زنا اقرار اوکړو. نو جناب رسول خداﷺ ورته اوفرمائیل کید ےشی تا (ښکل کړی وی یا د ِ پر ے لاس لګیدلے وی) ماعز اوو ے نه قسم په خدائے چه د ے زنا کړ ے ده. هر کله چه حضرتﷺ هغوی لره رجم کړو. بیائے اوفرمائیل هر کله چه مونږ اوځو د جهاد دپاره د الله تعالی په لاره کښې نو څوك روستو پات ے شی او آواز (لکه څنګه چه بزه د جماع په وخت روانه وی) او ورکوی چا ته لږ شان پئ (یعنی جماع کوی د پیو نه مراد منی

[1] د ابوحنیفه او اهل کوفه او احمدؒ دغه قول د ے. چه زنا نهٔ شی ثابتید ے د کوم ے پور ے چه څلور خله اقرار او نهٔ کړی. او د امام مالك او شافعی په نز یو خل اقرار هم پوره د ے په دلیل د دویم حدیث او د ابن ابی لیلی په نز په څلورو مجلسونو کښې څلور خله اقرار کول پکار دی. څکه چه کید ے شی اوس هم د خپل قول نهٔ واپس شی او د مسلمان روح سلامت پات ے شی. په یو روایت کښې دی حضرتﷺ د هغهٔ د قوم والانه د هغهٔ حال تپوس اوکړو. هغوی اوو ے چه هغه ښه صحیح هوښیار سړ ے د ے. دد ے نه دا خبره معلومه شوه چه د لیونی اقرار صحیح نهٔ د ے. او نهٔ په هغه باند ے حد واجب د ے. او په د ے باند ے د امت اجماع ده. (نووی) نووی وائی د شافعی او احمد په نز چا چه د زنا اقرار کړ ے وی او هغه د ګټو ویشتلو په وخت اوتښتی. نو هغهٔ له پریخودل پکار دی. بیا کچر ے هغه د اقرار نه واپس شی نو پریږدی به ئے ورنه رجم به ئے کړی. او د مالك په نز په هغهٔ پس ے روستو تلل اووژل پکار دی. د حضرت امام شافعی دلیل هغه د ے کوم چه د ابوداؤد په روایت کښې د ے حضرتﷺ اوفرمائیل تاسو هغه لره پریخودو ولے نه کید ے شی هغه توبه ویستلے و ے او الله تعالی ئے توبه قبوله کړ ے و ے. (انتهی مختصراً)

إِنْ يُمَكِّنِّي مِنْ أَحَدِهِمْ لَأُنَكِّلَنَّهُ عَنْهُ

دہ) قسم پہ خدائے کچرے ما تہ قدرت راکړی پہ داسے چا باندے نو زۂ بہ ھغۂ لہ سزا ورکوم. (دد ے دپارہ چہ نوروتہ عبرت شی)[1].

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ يَقُولُ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ قَصِيرٍ أَشْعَثَ ذِي عَضَلَاتٍ عَلَيْهِ إِزَارٌ وَقَدْ زَنَى فَرَدَّهُ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ أَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّمَا نَفَرْنَا غَازِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ تَخَلَّفَ أَحَدُكُمْ يَنِبُّ نَبِيبَ التَّيْسِ يَمْنَحُ إِحْدَاهُنَّ الْكُثْبَةَ إِنَّ اللهَ لَا يُمَكِّنِّي مِنْ أَحَدٍ مِنْهُمْ إِلَّا جَعَلْتُهُ نَكَالًا أَوْ نَكَّلْتُهُ قَالَ فَحَدَّثْتُهُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ فَقَالَ إِنَّهُ رَدَّهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ

د جابر بن سمرہ روایت دے وائی چہ جناب رسول اللہ ﷺ تہ یو نیولے شوے سرے پہ مضبوط څادر ترلے شوے راغے. ھغۂ زنا کړے وہ. حضرت ﷺ دوہ ځلہ د ھغۂ خبرہ رد کړلہ. بیائے حکم اوکړو او ھغہ سنگسار کړے شو. دد ے نہ پس حضرت ﷺ اوفرمائیل ھر کلہ چہ مونږ اوځو پہ جھاد کښں د اللہ پہ لار کښں نو یو نہ یو ستاسو نہ روستو پاتے کیږی. او د بزے پہ شان آواز کوی. څوك ښځے تہ لږ شان پئ ورکوی بیشکہ اللہ تعالیٰ چہ ھر کلہ ځما پہ قابو کښں داسے انسان راکړو. نو زۂ بہ ھغۂ لہ داسے سزا ورکوم چہ ھغہ نصیحت وی د نورو دپارہ. راوی وائی ما دا حدیث سعید بن جبیر تہ بیان کړو ھغوی اووے حضرت ﷺ څلور ځکہ د ھغۂ خبرہ رد کړے وہ.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ أَحَقٌّ مَا بَلَغَنِي عَنْكَ قَالَ وَمَا بَلَغَكَ عَنِّي قَالَ بَلَغَنِي أَنَّكَ وَقَعْتَ بِجَارِيَةِ آلِ فُلَانٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ ثُمَّ أَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ

د عبداللہ بن عباس نہ روایت دے چہ جناب رسول خدا ﷺ د ماعز بن مالك نہ تپوس اوکړو کوم خبر چہ ما ستا مطابق اوریدلے دے ھغہ ربښتونے دے؟ ماعز اووے ھغہ څۂ خبر دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل تا جماع کړے دہ د فلانو خلقو وینځے سرہ. ماعز اووے آو. ربښتیا دی. بیا ھغوی څلور وارہ اقرار اوکړو. بیا حضرت ﷺ حکم اوکړو د ھغۂ د رجم کولو.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَسْلَمَ يُقَالُ لَهُ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي أَصَبْتُ فَاحِشَةً فَأَقِمْهُ عَلَيَّ فَرَدَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

د ابوسعیدؓ نہ روایت دے چہ د اسلم د قبیلے یو سړے چہ نوم ئے ماعز بن مالك وو د جناب رسول خدا ﷺ خوالہ راغے. او اوئے وئیل ځما نہ گناہ شوے دہ نو مالہ سزا راکړہ. جناب رسول خدا ﷺ څو ځلہ د ھغۂ خبرہ رد کړہ. بیا حضرت ﷺ د ھغۂ د قوم نہ تپوس اوکړو د ھغۂ د حال (او وایۂ

[1]. ښکل کړے بہ د وی یا بہ د لاس ور وړے وی. مقصود د حضرت دا وو چہ ھغہ د خپل اقرار نہ واپس شی. او د ھغوی روح بچ شی. دد ے حدیث نہ دا معلومہ شوہ چہ څوك د زنا اقرار اوکړی امام دِ ھغوی تہ پہ دے شان تعلیم ورکوی. کچرے ھغہ واپس شی نو د ھغۂ نہ د مواخذہ نۂ کوی او دا تعلیم پہ حقوق العباد کښں درست نۂ دے نہ واپس کیدل پہ دے کښں صحیح دی.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِرَارًا قَالَ ثُمَّ سَأَلَ قَوْمَهُ فَقَالُوا مَا نَعْلَمُ بِهِ بَأْسًا إِلاَّ أَنَّهُ أَصَابَ شَيْئًا يَرٰى أَنَّهُ لاَ يُخْرِجُهُ مِنْهُ إِلاَّ أَنْ يُقَامَ فِيهِ الْحَدُّ قَالَ فَرَجَعَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَنَا أَنْ نَرْجُمَهُ قَالَ فَانْطَلَقْنَا بِهِ إِلَى بَقِيعِ الْغَرْقَدِ قَالَ فَمَا أَوْثَقْنَاهُ وَلاَ حَفَرْنَا لَهُ قَالَ فَرَمَيْنَاهُ بِالْعَظْمِ وَالْمَدَرِ وَالْخَزَفِ قَالَ فَاشْتَدَّ وَاشْتَدَدْنَا خَلْفَهُ حَتّٰى أَتٰى عُرْضَ الْحَرَّةِ فَانْتَصَبَ لَنَا فَرَمَيْنَاهُ بِجَلاَمِيدِ الْحَرَّةِ يَعْنِي الْحِجَارَةَ حَتّٰى سَكَتَ قَالَ ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطِيبًا مِنَ الْعَشِيِّ فَقَالَ أَوَ كُلَّمَا انْطَلَقْنَا غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللهِ تَخَلَّفَ رَجُلٌ فِي عِيَالِنَا لَهُ نَبِيبٌ كَنَبِيبِ التَّيْسِ عَلَيَّ أَنْ لاَ أُوتٰى بِرَجُلٍ فَعَلَ ذٰلِكَ إِلاَّ نَكَّلْتُ بِهِ قَالَ فَمَا اسْتَغْفَرَ لَهُ وَلاَ سَبَّهُ

چه ليونے خو نه دے، هغوی اووے دا ته څه بيماری نشته دے مگر دهغه نه داسے کار شوے دے هغه پوهه دے لو څه علاج نے نشته سوا د حد قائمولو نه بيا هغه واپس راغے د رسول الله ﷺ خواله لو حضرت ﷺ حکم اوکړو د هغه د رجم کولو موږ هغه د خان سره کړو لو د بقيع الغرقد (دا د مدينے قبرستان دے. يا الله خما مدفن په بقيع کښې اوکړې) په طرف لاړو. نه موږ هغه لره اوتړو او نه مو د هغه دپاره کنده اوکنسته. موږ هغه ويشتلو په هډوکو او لوټو او کودرو سره هغه منډے کړے اوتختيدو. موږه هم ورپسے روستو منډے کړے. حتٰی چه حره ته راغے هلته را اولويدو نو موږ د حرّه په ګټو سره اوويشتو او يخ شو بيا مابنام جناب رسول خدا ﷺ خطبے لوستلو ته اودريدو او اوئے فرمائيل هر کله چه موږ خو د الله په لاره کښې د جهاد دپاره نو يو نه يو زموږ په زنانو کښې پاتے شی د بزے آواز کوی. په ما باندے ضروری ده چه کوم سړے داسے کوی او خما خواله راوستے شی نو زۀ به ورله سزا ورکوم. بيا نه حضرت ﷺ د هغۀ دپاره دُعا اوکړه او نۀئے ورته بد اووے. (دُعائے ددے دپاره او نۀ کړه چه بل څوك په دے طمع سره ددے کار دپاره پاتے نۀ شی او بد ئے ورته ځکه او نۀ وے چه د هغۀ د ګناه تدارك اوشو او توبه ئے قبوله شوه)[1].

عَنْ دَاوُدَ بِهٰذَا الإِسْنَادِ مِثْلَ مَعْنَاهُ وَقَالَ فِي

د داؤد هم په دغه اسناد سره ددغے يو معنٰی روايت دے او په دے

[1] ترل خو د هيچا په نز ضروری نۀ دی. په کنده کښې کنستو کښې د عالمانو اختلاف دے. د مالك او ابوحنيفه او احمد په نز د سړی يا د ښځے د هيچا دپاره کنده کنستل نۀ دی پکار. او د قتاده او ابوثور او ابويوسف په نز د دواړو دپاره کنده کنستل پکار دی. او د ابوحنيفه نه هم و روايت دغسے دے. او د مالکی ملګرو په نز چه د چا رجم په شهادت سره وی د هغۀ دپاره به کنده کنستلے شی او د چا رجم چه په اقرار سره وی د هغۀ دپاره به نۀ شی کنستلے. او د امام شافعی په نز به د سړی دپاره نۀ شی کنستلے. ليکن د ښځے په باره کښې درے قولونه دی. يو دا چه ښځے له د سينے پورے کنده کنستل مستحب دی ددے دپاره چه سترئے ښکاره نۀ شی. دويم قول دادے چه نۀ مستحب دی نۀ مکروه بلکه د حاکم د رائے خبره ده. دريم دا چه د ګواهئ په صورت کښې مستحب د ی. او د اقرار په صورت کښې مستحب نۀ دی. ددے دپاره چه هغے ته د تختيدو موقع ميلاؤ شی. (نووی مختصراً)

الْحَدِيثَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْعَشِيِّ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَمَا بَالُ أَقْوَامٍ إِذَا غَزَوْنَا يَتَخَلَّفُ أَحَدُهُمْ عَنَّا لَهُ نَبِيبٌ كَنَبِيبِ التَّيْسِ وَلَمْ يَقُلْ فِي عِيَالِنَا

عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ جَاءَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِي فَقَالَ وَيْحَكَ ارْجِعْ فَاسْتَغْفِرِ اللهَ وَتُبْ إِلَيْهِ قَالَ فَرَجَعَ غَيْرَ بَعِيدٍ ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْحَكَ ارْجِعْ فَاسْتَغْفِرِ اللهَ وَتُبْ إِلَيْهِ قَالَ فَرَجَعَ غَيْرَ بَعِيدٍ ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذَلِكَ حَتَّى إِذَا كَانَتِ الرَّابِعَةُ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ فِيمَ أُطَهِّرُكَ فَقَالَ مِنَ الزِّنَى فَسَأَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبِهِ جُنُونٌ فَأُخْبِرَ أَنَّهُ لَيْسَ بِمَجْنُونٍ فَقَالَ أَشَرِبَ خَمْرًا فَقَامَ رَجُلٌ فَاسْتَنْكَهَهُ فَلَمْ يَجِدْ مِنْهُ رِيحَ خَمْرٍ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَزَنَيْتَ فَقَالَ نَعَمْ فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ فَكَانَ النَّاسُ فِيهِ فِرْقَتَيْنِ قَائِلٌ يَقُولُ لَقَدْ هَلَكَ لَقَدْ أَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ وَقَائِلٌ يَقُولُ مَا تَوْبَةٌ أَفْضَلَ مِنْ تَوْبَةِ مَاعِزٍ أَنَّهُ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ

کښې دادی چه حضرت ﷺ مابنام د خطبې دپاره اودریدو نو د الله تعالی ثنا او تعریف ئې اوکړو. بیائې اوفرمائیل روستو ددے نه څه حال دے د خلقو هر کله چه مونږه جهاد له څو نو د دوی نه یو روستو پاتې کیږی او داسې آواز اوباسی لکه د بزے. د اخره پورے.

د بریده نه روایت دے وائی چه ماعز بن مالك د رسول الله ﷺ خواله راغے. او اوئے وئیل یا رسول الله ﷺ پاك کړه مالره. حضرت ﷺ اوفرمائیل عجیبه ده څۀ د الله تعالی نه بخښنه غواړه او توبه اوباسه. هغه واپس لږ غوندے لاړو بیا راغے. او اوئے وئیل یا رسول الله ! پاك کړه مالره. حضرت ﷺ ورته هم هغه شان اوفرمائیل هر کله چه په څلورم ځل راغے. نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل زۀ د څۀ نه پاك کړم تالره؟ ماعز اووے د زنا نه. جناب رسول خدا ﷺ (د خلقو نه) تپوس اوکړو، اے دے لیونے دے؟ معلومه شوه چه لیونے نۀ دے. بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل اے دۀ شراب څښلی دی. یو سړی اودریدو او د هغۀ خلهٔ ئې بوئی کړه. نو د شرابو بوئی پکښې او نۀ موندے شو بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل (ماعز ته) ولے تا زنا کړے ده؟ هغۀ اووے آو. حضرت ﷺ حکم اوکړو او هغه په کټو سره اوویشتلے شو. اوس د هغۀ په باره کښې خلق دوه ډلے شو. یوے ډلے به دا وے ماعز تباه شو او ګناه هغۀ لره ګهیر کړلو. او دویمے ډلے به دا وے چه د ماعز د توبے نه بله غوره یوه توبه نشته ځکه چه هغه د رسول الله ﷺ خواله راغے. او خپل لاس ئې د حضرت په لاس کښې کیخودۀ. او اوئے وئیل ما په کټو سره مړ کړئ. ددوۀ دریو ورځو پورے به خلقو دغه وینا کوله. رستو ددے نه جناب رسول خدا ﷺ تشریف راوړو. او صحابه ناست وو. حضرت ﷺ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَ يَدَهُ فِي يَدِهِ ثُمَّ قَالَ اقْتُلْنِي بِالْحِجَارَةِ قَالَ فَلَبِثُوا بِذَلِكَ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً ثُمَّ جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ جُلُوسٌ فَسَلَّمَ ثُمَّ جَلَسَ فَقَالَ اسْتَغْفِرُوا لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ فَقَالُوا غَفَرَ اللهُ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ أُمَّةٍ لَوَسِعَتْهُمْ قَالَ ثُمَّ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ غَامِدٍ مِنَ الْأَزْدِ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِي فَقَالَ وَيْحَكِ ارْجِعِي فَاسْتَغْفِرِي اللهَ وَتُوبِي إِلَيْهِ فَقَالَتْ أَرَاكَ تُرِيدُ أَنْ تُرَدِّدَنِي كَمَا رَدَّدْتَ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ وَمَا ذَاكِ قَالَتْ إِنَّهَا حُبْلَى مِنَ الزِّنَى فَقَالَ آنْتِ قَالَتْ نَعَمْ فَقَالَ لَهَا حَتَّى تَضَعِي مَا فِي بَطْنِكِ قَالَ فَكَفَلَهَا رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ حَتَّى وَضَعَتْ قَالَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ قَدْ وَضَعَتِ الْغَامِدِيَّةُ فَقَالَ إِذًا لَا نَرْجُمُهَا وَنَدَعُ وَلَدَهَا صَغِيرًا لَيْسَ لَهُ مَنْ يُرْضِعُهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ إِلَيَّ رَضَاعُهُ يَا نَبِيَّ اللهِ قَالَ فَرَجَمَهَا

سلام اوكړو بیا كیښناستل او اوئې فرمائیل دُعا اوغواړئ د ماعز دپاره صحابؤ اووے الله د اوبخښي ماعز بن مالك لره. جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل ماعز داسے توبه ویستلې ده چه كچرے هغه توبه د یو امت په خلقو كښې تقسیم كړے شي نو تولو ته به كافي شي.دده نه پس حضرت ﷺ ته یوه ښځه راغله دُعا مد (چه یو شاخ دے) ازد (ازد یوه مشهوره قبیله ده) او اوئې وئیل یا رسول الله! پاكه كړه مالره . حضرت ﷺ اوفرمائیل عجیبه ده څه او دُعا اوغواړه د الله نه د بخښنے او توبه اوباسه د هغهٔ په درگاه كښې ښځے اووے تاسو ما واپس كول غواړئ لكه څنگه چه تاسو ماعز واپس كړے وو. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل تاله څهٔ شوی دی؟ هغے اووے څما گیډه شوے ده د زنا نه.حضرت ﷺ اوفرمائیل ته پخپله ؟ هغے اووے آو. حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده صبر اوكړه د حمل د زیږولو پورے. (ولے چه حامله نه شي رجم كیدے او نهٔ پرے كوړے لگولے شي او په دے باندے اجماع ده. د حمل زیږولو پورے) بیا یو انصاری سړی د هغے خبر گیری په خپله ذمه واخستله هر كله چه هغے حمل اوزیږوو. نو انصاری د جناب رسول خدا ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوكړو چه غامدیه حمل زیږولے دے. حضرت ﷺ اوفرمائیل اوس خو مونږ هغے لره نهٔ شو رجم كولے او دهغے بچے به د پیو نه نهٔ شو پریخودلے. یو انصاری اووے یا رسول الله! زهٔ به بچی ته پئ وركوم. بیا حضرت ﷺ هغے لره رجم كړه [1].

---

[1]: نووي وئیلي دي چه ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه په حد سره گناه ختمیږي او دا صراحةً موجود دے. د عباده بن صامت په روایت كښې دي چه چا داسے یو گناه اوكړو او بیا په دنیا كښې هغه ته د هغے سزا میلاؤ شوه نو دغه ئے كفاره شوله. او مونږ نهٔ گنړو د چا

عَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ الْأَسْلَمِيَّ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي قَدْ ظَلَمْتُ نَفْسِي وَزَنَيْتُ وَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ تُطَهِّرَنِي فَرَدَّهُ فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَاهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي قَدْ زَنَيْتُ فَرَدَّهُ الثَّانِيَةَ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى قَوْمِهِ فَقَالَ أَتَعْلَمُونَ بِعَقْلِهِ بَأْسًا تُنْكِرُونَ مِنْهُ شَيْئًا فَقَالُوا مَا نَعْلَمُهُ إِلَّا وَفِيَّ الْعَقْلِ مِنْ صَالِحِينَا فِيمَا نُرَى فَأَتَاهُ الثَّالِثَةَ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِمْ أَيْضًا فَسَأَلَ عَنْهُ فَأَخْبَرُوهُ أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ وَلَا بِعَقْلِهِ فَلَمَّا كَانَ الرَّابِعَةَ حَفَرَ لَهُ حُفْرَةً ثُمَّ أَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ قَالَ فَجَاءَتِ الْغَامِدِيَّةُ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي قَدْ زَنَيْتُ فَطَهِّرْنِي وَإِنَّهُ رَدَّهَا فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ لِمَ تَرُدُّنِي لَعَلَّكَ أَنْ تَرُدَّنِي كَمَا رَدَدْتَ مَاعِزًا فَوَاللهِ إِنِّي لَحُبْلَى قَالَ إِمَّا لَا فَاذْهَبِي حَتَّى تَلِدِي فَلَمَّا وَلَدَتْ أَتَتْهُ بِالصَّبِيِّ فِي خِرْقَةٍ قَالَتْ هَذَا قَدْ وَلَدْتُهُ قَالَ

د حضرت بريدهؓ نه روايت دے چه ماعز بن مالكؓ اسلميؓ د جناب رسول خدا ﷺ خواله راغے او اوئے وئيل يا رسول اللهؐ! ما ظلم اوكړو په خپل ځان باندے او زنا مے اوكړه. زۀ غواړم چه تاسو ما لره پاك كړئ حضرت ﷺ هغۀ لره واپس كړو. په صباله بيا راغے او عرض ئے اوكړو يا رسول اللهؐ! ما زنا كړے ده. حضرت ﷺ هغوى لره واپس كړو او روستو ددے نه ئے د هغۀ قوم ته يو كس اوليږۀ او تپوس ئے اوكړو چه د هغوى په عقل كښ څۀ فرق شته او تاسو په كښ څۀ خبره ليدلے ده؟ هغوى اووے مونږ خو په كښ څۀ فرق نۀ دے ليدلے. د كومے پورے چه مونږ ته علم دے نو عقل ئے ډير ښه دے. په دريم ځل بيا ماعز راغے. حضرت ﷺ بيا د هغوى قوم ته قاصد اوليږو (او دغه معلومات ئے اوكړل) هغوى اووے دۀ ته څۀ بيمارى نشته او نۀ ددۀ په عقل كښ څۀ فرق شته. هر كله چه په څلورم ځل هغه راغے (او هغوى دغه اووے ما زنا كړے ده ما لره پاك كړئ حالانكه په توبه سره هم پاكيدے شو. مگر ماعز ته دا شك شو چه كيدے شى توبه قبوله نۀ شى) نو حضرت ﷺ د هغۀ دپاره يو كنده اوكنسته. بيائے حكم اوكړو او هغه رجم كړے شو. ددے نه پس د غامد ښځه راغله او عرض ئے اوكړو يا رسول الله! ما زنا كړے ده ما لره پاكه كړه. حضرت ﷺ هغے لره واپس كړه. په دويمه ورځ هغے بيا اووے يا رسول الله! تاسو ما ولے واپس كوئ. كيدے شى تاسو داسے واپس كول غواړئ لكه څنګه چه ماعز واپس شوے وو. په خدائے قسم زۀ خو حامله يم (نو اوس په زنا كښ څۀ شك دے) حضرت ﷺ اوفرمائيل ښه ده چه ته نۀ واپس كيږے (او په توبه ويستلو

اختلاف په دے كښ. او دا هم ثابته شوه چه كبيره گناه په دغه توبه سره معاف كيږى. او په دے باندے د مسلمانانو اجماع ده. او په قتل كښ د ابن عباس خلاف دے. سبحن الله! دا غامديه ښځه په همت او جرأت كښ د سړو نه زياته وه. الله تعالى د هغے لره اوبخښى.

اذْهَبِي فَأَرْضِعِيهِ حَتَّى تَفْطِمِيهِ فَلَمَّا
فَطَمَتْهُ أَتَتْهُ بِالصَّبِيِّ فِي يَدِهِ كِسْرَةُ
خُبْزٍ فَقَالَتْ هٰذَا يَا نَبِيَّ اللهِ قَدْ فَطَمْتُهُ
وَقَدْ أَكَلَ الطَّعَامَ فَدَفَعَ الصَّبِيَّ إِلَى
رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَحُفِرَ
لَهَا إِلَى صَدْرِهَا وَأَمَرَ النَّاسَ فَرَجَمُوهَا
فَيُقْبِلُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ بِحَجَرٍ فَرَمَى
رَأْسَهَا فَتَنَضَّحَ الدَّمُ عَلَى وَجْهِ خَالِدٍ
فَسَبَّهَا فَسَمِعَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ سَبَّهُ إِيَّاهَا فَقَالَ مَهْلًا يَا خَالِدُ
فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً
لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ ثُمَّ أَمَرَ
بِهَا فَصَلَّى عَلَيْهَا وَدُفِنَتْ

سره پاك كيدل نه غواړے بلكه دغه ددنيا د سزا غواړے نو خلاړه شه او د حمل زيږولو نه پس راشه هر كله چه هغه بچے پيدا شو نو هغې په يوه كپړه كښې نغښتے راوړو. حضرت ﷺ اوفرمائيل د ے لاړه تا اوزيږوو خه لاړه شه او دۀ لره پئ وركوه چه د پيو موده پوره شي بيا راشه (د شافعي او احمد او اسحق دغه قول د ے چه ښځه به د زيږولو نه پس تر هغې پور ے نۀ رجم كيږي د كوم پور ے چه ئے د بچي د پيو بندوبست شوى نۀ وى ورنه د پيو د مود ے پور ے به انتظار كوى او د امام ابوحنيفه او مالك په نز به د زيږولو سره رجم كول ے شي) هر كله چه د ماشوم د پيو موده پوره شوه نو هغه بچے ئے راواخستو او په لاس كښې ئے د ډوډۍ ټكړه نيولى راغله او عرض ئے اوكړو ا ے د الله نبي ﷺ ما دا بچے دتى نه پريكړلو اوس د ے غله خوري لگيا د ے. حضرت ﷺ هغه بچے يو مسلمان ته وركړو د پرورش دپاره. بيا ئے حكم اوكړو او يو كنده اوكنستلے شوه د هغې د سينے پور ے او خلقو ته ئے د هغې د سنگسار كولو حكم اوكړو. خالد بن وليد يوه كته راواخسته او راغے او هغه ئے په سَر باند ے اوويشته نو د وينے څاڅكے د خالد په مخ باند ے اولگيدۀ. خالد هغې ته بد اوو ے. دا بد وئيل د هغې په باره كښې رسول الله ﷺ واوريدۀ. حضرت ﷺ اوفرمائيل خبردار ا ے خالده! (داسے مۀ وايه) قسم د ے په هغه زات چه د چا په لاس كښې خماروح د ے، د ے ښځے داسے توبه ويستلے ده چه كچر ے ناجائز محصول اخستلو والا (چه هغه په خلقو باند ے ظلم كوى او په حقوق العباد كښې گرفتار وى او مسكينانو لره تنگوى) داسے توبه اوباسى نو د هغۀ گناه به هم اوبخښلے شي. (حالانكه په بل حديث كښې دى چه داسے بنده جنت ته نۀ شي تلے) بيا حكم اوكړو حضرت ﷺ او په هغې باند ے د جناز ے مونځ اوكړے

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ أَتَتْ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ حُبْلَى مِنَ الزِّنَى فَقَالَتْ يَا نَبِيَّ اللهِ أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ فَدَعَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِيَّهَا فَقَالَ أَحْسِنْ إِلَيْهَا فَإِذَا وَضَعَتْ فَأْتِنِي بِهَا فَفَعَلَ فَأَمَرَ بِهَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشُكَّتْ عَلَيْهَا ثِيَابُهَا ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَرُجِمَتْ ثُمَّ صَلَّى عَلَيْهَا فَقَالَ لَهُ عُمَرُ تُصَلِّي عَلَيْهَا يَا نَبِيَّ اللهِ وَقَدْ زَنَتْ فَقَالَ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ لَوَسِعَتْهُمْ وَهَلْ وَجَدْتَ تَوْبَةً أَفْضَلَ مِنْ أَنْ جَادَتْ بِنَفْسِهَا لِلَّهِ تَعَالَى

شو او دفن شوه [1].

د عمران بن حصین نه روایت دے چه یوه ښځه د جهینه د رسول الله ﷺ خواله راغله او هغه د زنا نه حامله وه. هغې عرض اوکړو اے د الله نبی! ما د حد کار کړے دے. تاسو په ما باندے حد اولګوئ. رسول الله ﷺ د هغې ولی راواغوښتو او ورته ئے اوفرمائیل دا ته په ښه طریقه اوساته او هر کله چه حمل اوزیږوی نو بیائے ما ته حاضره کړه. هغه داسے اوکړو. بیا رسول الله ﷺ حکم اوکړو چه دد ے ښځی کپړے مضبوطے اوتړئ (دد ے دپاره چه سترئے ښکاره نهٔ شی. نووی وائی ښځه به ناستے رجم کولے شی او سړے به په ولاړے. د جمهورو دغه قول دے. او د مالك په نز به سړے هم په ناستے رجم کوی او څنو وئیلی دی چه امام لره اختیار دے) بیا (حضرت ﷺ) حکم اوکړو او هغه رجم کړے شوه. روستو دد ے نه ئے په هغې باندے مونځ د جنازے ادا کړو. حضرت عمر اوے یا رسول الله! ته په دے باندے مونځ کوی دے خو زنا کړے وو؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل دے توبه هم ویستلے ده او داسے توبه ئے ویستلے ده چه کچرے د مدینے په اویاؤ سړو باندے تقسیم کړے شی نو ټولو ته به پوره شی. او تا دد ے نه غوره توبه کومه یوه لیدلے ده. چه دے خپل

---

[1] : نووی وئیلی دی چه دد ے حدیث نه دا ثابته شوه چه د زنا کار په توبه سره حد نهٔ ساقطیږی. او دغه شان د غَل او شرابی په توبه سره او دغه صحیح قول دے. او یو قول زمونږ د مذهب دے. او د مالك مذهب داد ےچه په توبه سره حد ساقطیږی. او ډاکو کچرے د ګرفتارئ نه مخکښ توبه اوباسی نو د ټولو په نزئے حد ساقطیږی. او د ابن عباس په نزئے حد نهٔ ساقطیږی. په بل روایت کښ دی چه حضرت پخپله په دغه ښځه باندے مونځ اوکړلو. حضرت عمر اووے یا رسول الله ! تاسو په دے باندے مونځ کوئ او دا زناکاره وه. او اختلاف کړے دے عالمانو په دے باره کښ د مالك او احمد په نز به امام او بزرګ خلق پرے د جنازے مونځ نهٔ کوی (په دغه زناکار مړی باندے) او باقی خلق به پرے کوی. او د امام شافعی په نز به پرے ټول خلق مونځ د جنازے کوی. او د زهری په نز به پرے هیڅوك مونځ د جنازے نهٔ کوی. او د قتاده په نز به په ولد زنا باندے مونځ د جنازے نهٔ کوی تردے پورے چه په فاسقانو فاجرانو او د حدودو په خاوندانو باندے هم. او دغے ښځے خو داسے کار کړے وو چه د سړو نه هم نهٔ شی کیدے. او خما په نز خو دغے ښځے درجه او مرتبه د حضور د مانځهٔ طفیل سره دد ے زمانے د اولیائے کرامو او صلحاؤ نه هم وړاندے ده. والله اعلم بالصواب

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُمَا قَالَا إِنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَعْرَابِ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْشُدُكَ اللهَ إِلَّا قَضَيْتَ لِي بِكِتَابِ اللهِ فَقَالَ الْخَصْمُ الْآخَرُ وَهُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ نَعَمْ فَاقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللهِ وَأْذَنْ لِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ قَالَ إِنَّ ابْنِي كَانَ عَسِيفًا عَلَى هٰذَا فَزَنَى بِامْرَأَتِهِ وَإِنِّي أُخْبِرْتُ أَنَّ عَلَى ابْنِي الرَّجْمَ فَافْتَدَيْتُ مِنْهُ بِمِائَةِ شَاةٍ وَوَلِيدَةٍ فَسَأَلْتُ أَهْلَ الْعِلْمِ فَأَخْبَرُونِي أَنَّمَا عَلَى ابْنِي جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ وَأَنَّ عَلَى امْرَأَةِ هٰذَا الرَّجْمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللهِ الْوَلِيدَةُ وَالْغَنَمُ رَدٌّ وَعَلَى ابْنِكَ جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ وَاغْدُ يَا أُنَيْسُ إِلَى امْرَأَةِ هٰذَا فَإِنِ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا قَالَ فَغَدَا عَلَيْهَا فَاعْتَرَفَتْ فَأَمَرَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَتْ

روح د الله جل شانه د رضا د پاره ور کړو [1].

د ابوهريره او زيد بن خالد جهني نه روايت دے دوی وائي چه يو بانډه چی د جناب رسول الله ﷺ خواله راغے. او عرض ئے اوکړو چه تاسو خما فيصله د الله د کتاب موافق اوکړئ بل د هغهٔ مخالف چه هغه ددهٔ نه زيات پوهه وو. اووے ډيره ښه ده تاسو د الله د کتاب موافق حکم اوکړئ او اجازت راکړئ ماته د خبرے کولو. حضرت ﷺ اوفرمائيل وايه هغهٔ اووے خما خوئ ددهٔ په کور کښ نوکر وو. هغهٔ زنا اوکړه ددهٔ د بی بی سره. ما ته خلقو اووے ستا په خوئ باندے رجم دے. ما د هغے بدل ورکړو سل بزے او يوه وينځه بيا ما د عالمانو نه تپوس اوکړو. هغوی اووے ستا خوئ لره سل کوړے او د يو کال د پاره جلا وطن کول پکار دی. او ددهٔ په بی بی باندے رجم دے. جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائيل زهٔ به ستاسو د دواړو موافق کوم. وينځه او بزے د واپس واخله او ستا په خوئ به سل کوړے لګولے شی او د يو کال پورے به د وطن نه بهر وی. او اے انيس (بن ضحاك اسلمی چه صحابی دے) سحر له تهٔ د هغے ښځے خواله لاړ شه کچرے هغے د زنا اقرار اوکړو نو هغے لره رجم کړه. هغه سحرله د هغے خواله لاړو (او تپوس ئے ترے اوکړو) هغے اقرار اوکړو. حضرت ﷺ حکم اوکړو او هغه رجم کړے شوه [2].

---

[1]: سبحان الله! دداسے ښځے به څهٔ اووے. الله تعالی دِ هغے لره اوبخښی او د هغے درجهٔ دِ اوچته کړی. او په خپل رحمت سره د زمونږ ګنهګارو او مختورنو هم مغفرت اوکړی.

کوم کار چه هغه ښځے کړے دے. هغه په دے وخت کښ د ښو ښو بزرګانو او عالمانو او درويشانو نه هم نهٔ شی کيدے. روح ورکول خو ډير لوئے کار دے. لږ شان بے عزتی يا ددنيا تکليف او سختی هم د دين د کار د پاره نهٔ شی برداشت کولے. او د دنياداړو په خوشامندو او چاپلوسئ کښ داسے غرق دی چه دين لره ئے په تاخ کښ ايخودے دے.

[2]: نووی وئيلی دی چه انيس لره ئے خکه اوليږو چه هغه ښځے لره خبر کړی چه دے سړی د خپل خوئ سره په تا باندے د زنا تهمت لګولے دے. او تهٔ په هغهٔ حد قذف لګولے شے. مګر هر کله چه د زنا اقرار اوکړی نو حد قذف به واجب نهٔ وی. بلکه په ښځه باندے به د

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِيَهُودِيٍّ وَيَهُودِيَّةٍ قَدْ زَنَيَا فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى جَاءَ يَهُودَ فَقَالَ مَا تَجِدُونَ فِي التَّوْرَاةِ عَلَى مَنْ زَنَى قَالُوا نُسَوِّدُ وُجُوهَهُمَا وَنُحَمِّلُهُمَا وَنُخَالِفُ بَيْنَ وُجُوهِهِمَا وَيُطَافُ بِهِمَا قَالَ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ فَجَاءُوا بِهَا فَقَرَءُوهَا حَتَّى إِذَا مَرُّوا بِآيَةِ الرَّجْمِ وَضَعَ الْفَتَى الَّذِي يَقْرَأُ يَدَهُ عَلَى آيَةِ الرَّجْمِ وَقَرَأَ مَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا وَرَاءَهَا فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ وَهُوَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْهُ فَلْيَرْفَعْ يَدَهُ فَرَفَعَهَا فَإِذَا تَحْتَهَا آيَةُ الرَّجْمِ فَأَمَرَ بِهِمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَا قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ كُنْتُ فِيمَنْ رَجَمَهُمَا فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَقِيهَا مِنَ الْحِجَارَةِ بِنَفْسِهِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه د جناب رسول خدا ﷺ خواله یو یهودي سړے راغے. او یوه یهودي ښځه راغله. دواړو زنا کړے وه. نو جناب رسول خدا ﷺ د یهودو خواله تشریف یوړو او تپوس ئے ترے اوکړو په تورات کښې د زنا څۀ سزا ده. هغوی اووے مونږه د دواړو مخ تورو وو (په اوبښ دپاسه) د یو مخ دیخوا او د بل مخ اخوا (یعنی د دواړو شاګانے میلاؤ وی ددے دپاره چه خلق د دواړو مخونه اووینی) بیا هغوی لره چکر ورکولے شی. حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده تورات راوړئ کچرے تاسو رښتیا وایئ. هغوی تورات راوړو او لوستل ئے شروع کړو. هر کله چه د رجم ایت راغے نو کوم سړی چه لوستلو هغۀ خپل لاس په دغه ایت باندے کیښودو. او لوستو. عبد الله بن سلام (د یهودیانو عالم چه مسلمان شوے وو) هغۀ د رسول الله ﷺ سره وو. هغوی اووے تاسو دے سړی ته اووایئ چه خپل لاس اوچت کړی. هغه لاس اوچت کړو نو د رجم ایت د لاس لاندے رااووتو. بیا حضرت ﷺ حکم ورکړو. او هغه دواړه رجم کړے شو. عبد الله بن عمر وائی زۀ په هغه خلقو کښې وم چا چه رجم کولو ما لیدل چه سړی به ښځے لره بچ کوله پخپل ځان سره د ګټو نه یعنی کتے به ئے پخپل ځان اخستے د محبت نه [1].

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ په زنا کښې

زنا حد اولګی. او دا تاویل ضروری د چا دپاره چه د زنا د حد دپاره د انیس لیږل ضروری نۀ وو. بلکه کچرے زناکار اقرار اوکړی بیا هم د هغۀ تعلیم وغیره مستحب دے. لکه چه پورته تیر شو.

[1] نووی وائی ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه په کافر باندے د زنا حد واجب دے. او د هغۀ سره نکاح صحیح ده. ورنه محصن به څنګه وی. او په کافرو باندے د فروع دین هم حکم دے. او د کفارو مقدمه چه هر کل مسلمان له راشی نو د شریعت موافق حکم ورکول پکار دی. او حضرت ﷺ د یهودو نه معلومات اوکړو هغوی ته د الزام ورکولو دپاره نۀ ددے وجے نه چه د هغوی تابعداری منظور وه. (انتهی مختصراً)

وَسَلَّمَ رَجَمَ فِي الزِّنَى يَهُودِيَّيْنِ رَجُلًا وَامْرَأَةً زَنَيَا فَأَتَتِ الْيَهُودُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِمَا وَسَاقُوا الْحَدِيثَ بِنَحْوِهِ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ مُرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَهُودِيٍّ مُحَمَّمًا مَجْلُودًا فَدَعَاهُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هٰكَذَا تَجِدُونَ حَدَّ الزَّانِي فِي كِتَابِكُمْ قَالُوا نَعَمْ فَدَعَا رَجُلًا مِنْ عُلَمَائِهِمْ فَقَالَ أَنْشُدُكَ بِاللهِ الَّذِي أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلَى مُوسٰى أَهٰكَذَا تَجِدُونَ حَدَّ الزَّانِي فِي كِتَابِكُمْ قَالَ لَا وَلَوْلَا أَنَّكَ نَشَدْتَنِي بِهٰذَا لَمْ أُخْبِرْكَ نَجِدُهُ الرَّجْمَ وَلٰكِنَّهُ كَثُرَ فِي أَشْرَافِنَا فَكُنَّا إِذَا أَخَذْنَا الشَّرِيفَ تَرَكْنَاهُ وَإِذَا أَخَذْنَا الضَّعِيفَ أَقَمْنَا عَلَيْهِ الْحَدَّ قُلْنَا تَعَالَوْا فَلْنَجْتَمِعْ عَلٰى شَيْءٍ نُقِيمُهُ عَلَى الشَّرِيفِ وَالْوَضِيعِ فَجَعَلْنَا التَّحْمِيمَ وَالْجَلْدَ مَكَانَ الرَّجْمِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَوَّلُ مَنْ أَحْيَا أَمْرَكَ إِذْ أَمَاتُوهُ فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ إِلٰى قَوْلِهِ إِنْ أُوتِيتُمْ هٰذَا فَخُذُوهُ يَقُولُ ائْتُوا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنْ أَمَرَكُمْ

رجم اوکړو دوه يهوديانو لره چه يو سړے وو او يوه ښځه وه. نو يهود د جناب رسول خدا ﷺ خواله راغلو. بيائے بيان کړو حديث په هغه شان لکه چه پورته تير شو.

د براء بن عازب نه روايت دے وائی چه د جناب رسول خدا ﷺ په مخکښې يو يهودی تير شو. چه په کوئيلے سره تور شوے وو او کوړے ئے خوړلے وے. حضرت ﷺ يهوديان راوغوښتل او ورته ئے اوفرمائيل. آيا ساستو په کتاب کښې د زناکار دپاره دغه سزا ده؟ هغوی اووے آو. بيا حضرت ﷺ د هغوی د عالمانو نه يو سړے راوغوښتو او ورته ئے اوفرمائيل زهٔ تاله په هغه الله قسم درکوم چا چه تورات په موسٰی عليه السلام نازل کړے دے. آيا ستاسو په کتاب کښې د زنا دغه حد دے؟ هغهٔ اووے نه. او کچرے تاسو ما ته دا قسم نهٔ وے راکړے نو ما درته نهٔ وئيلو. زمونږ په کتاب کښې خو د زنا حد رجم دے ليکن په مونږ کښې عزتمندو خلقو ډير زنا کول شروع کړو. نو هر کله چه به مونږ يو غټ سړے په زنا کښې اونيوۀ نو هغه به مو پريخودو او هر کله چه به مونږ غريب سړے اونيوو نو په هغهٔ به مو حد جاری کولو. آخر مونږه اووے چه ټول راجمع شو او يوه سزا مقرر کړو چه شريف او رذيل ټولو له ورکولے شی. بيا مونږ په کوئيله سره مخ تورول او کوړے لګول د رجم په بدله مقرر کړل. پس رسول الله ﷺ اوفرمائيل. اے الله زهٔ د هر چا نه مخکښې ستا حکم ژوندے کومه هر کله چه وژلے وی خلقو هغه لره. بيا حضرت ﷺ حکم اوکړو او هغه يهودی رجم کړے شو. بيا الله تعالٰی دا ايت نازل کړو "يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ" تر دے پورے چه اوئے فرمائيل "إِنْ أُوتِيتُمْ هٰذَا فَخُذُوهُ". يعنی يهود دا وائی چه د محمد ﷺ خواله ځئ. کچرے هغوی د مخ تورولو او کوړو

بِالتَّحْمِيمِ وَالْجَلْدِ فَخُذُوهُ وَإِنْ أَفْتَاكُمْ بِالرَّجْمِ فَاحْذَرُوا فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ فِي الْكُفَّارِ كُلُّهَا

لګولو حکم درکوي نو په هغې باندې عمل کوئ او که د رجم کولو فتوٰی درکوي نو ځان ترې اوساتئ (يعنې مه ئې منئ) بيا الله تعالٰی دا آيتونه نازل کړل. څوك چه د الله تعالٰی د رالیږلی شوي مطابق فيصله نه کوي هغه کافران دي. څوك چه د الله تعالٰی د رالیږلی شوي مطابق فيصله نه کوي هغه ظالمان دي. څوك چه د الله تعالٰی د رالیږلی شوي مطابق فيصله نه کوي هغه فاسقان دي. دا ټول آيتونه د کافرانو په حق کښې نازل شوي دي.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ رَجَمَ النَّبِيُّ ﷺ رَجُلًا مِنْ أَسْلَمَ وَرَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ وَامْرَأَتَهُ

د جابر بن عبد الله نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ د اسلم يو سړے رجم کړو. او د يهودو نه يو سړی او يوې ښځې لره[1].

عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ الشَّيْبَانِيِّ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى هَلْ رَجَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ قَالَ قُلْتُ بَعْدَ مَا أُنْزِلَتْ سُورَةُ النُّورِ أَمْ قَبْلَهَا قَالَ لَا أَدْرِي

د ابواسحٰق شيباني نه روايت دے ما د عبد الله بن ابی اوفٰی نه تپوس اوکړو آيا رسول الله ﷺ رجم کړے دے؟ هغوی اووے آو. ما اووے د سور نور د نازليدو نه روستو يا مخکښې ؟ هغوی اووے دد ے ماته علم نشته[2].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا زَنَتْ أَمَةُ أَحَدِكُمْ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ إِنْ زَنَتِ الثَّالِثَةَ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا فَلْيَبِعْهَا وَلَوْ بِحَبْلٍ مِنْ شَعَرٍ

د ابوهريره نه روايت دے وائي چه بيشکه اوريدلی دي ما د رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلی ئې وو. ستاسو کښې چه د چا وينځه زنا اوکړي او د هغې زنا ثابت شي (په ګواهانو سره يا په اقرار سره) نو هغې ته به د حد کوړے لګوئ اګر که د هغې نکاح شوي وي. ولې چه په وينځه او غلام باندې رجم نشته دے. او نه به رټئ هغوی لره بيا کچرې زنا ترې اوشوه نو بيا به پرې د حد کوړے اولګوئ او نه به رټئ هغوی لره. بيا که په دريم خل ترې زنا اوشي او د هغې زنا ثابت شي نو هغې لره خرڅه کړئ اګر که د

---

[1]: او غامديه يوې ښځې لره چه دا زد نه وه.

[2]: ابو اسحٰق دا تپوس ځکه اوکړو چه په سورة النور کښې د زنا حد سل کوړے ذکر دي. مګر مراد دد ے نه هغه زاني او زانيه دي چه هغه محصن نه وي (يعني واده نه وي شوے) ورنه رجم کولې به شي اوپه دے باند ے اجماع ده. د علماو لکه چه پورته تير شو.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ سُئِلَ عَنِ الْأَمَةِ إِذَا زَنَتْ وَلَمْ تُحْصِنْ قَالَ إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا ثُمَّ بِيعُوهَا وَلَوْ بِضَفِيرٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ لَا أَدْرِي أَبَعْدَ الثَّالِثَةِ أَوِ الرَّابِعَةِ وَقَالَ الْقَعْنَبِيُّ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَالضَّفِيرُ الْحَبْلُ

وینښتو رسئ قدرے د هغې قیمت راشی [1]

د ابوهریره نه روایت دے چه د جناب رسول خدا ﷺ نه تپوس اوکړے شو. وینځه چه وادۀ نه وی او زنا اوکړی نو څۀ سزا به ئے وی. حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه په کوړو اووهئ. کۀ بیائے زنا اوکړه نو بیا پرے کوړے اولګوئ. بیا هغې لره خرڅه کړئ اګر کۀ د یوے رسئ قیمت پرے راشی. ابن شهاب ته شك دے چه د خرڅولو حکم حضرتُ د دریم ځل نه پس ورکړو. او کۀ د څلورم ځل نه پس.

عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ خَطَبَ عَلِيٌّ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَقِيمُوا عَلَى أَرِقَّائِكُمُ الْحَدَّ مَنْ أَحْصَنَ مِنْهُمْ وَمَنْ لَمْ يُحْصِنْ فَإِنَّ أَمَةً لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَنَتْ فَأَمَرَنِي أَنْ أَجْلِدَهَا فَإِذَا هِيَ حَدِيثُ عَهْدٍ بِنِفَاسٍ فَخَشِيتُ إِنْ أَنَا جَلَدْتُهَا أَنْ أَقْتُلَهَا فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحْسَنْتَ

د ابوعبدالرحمٰن نه روایت دے وائی چه حضرت علی کرم الله وجهه خطبه لوستله نو اوئے فرمائیل. اے خلقو! په خپلو وینځو او غلامانو باندے حد لګوئ. خواه کۀ هغه محصن وی یا غیر محصن. ولے چه د رسول الله ﷺ یوے وینځے زنا اوکړو حضرت ﷺ ما ته په هغې د حد لګولو حکم اوکړو. چۀ اومے کتل نو هغې بچے زیږولے وو. زۀ اویریدم چه کچرے دا په کوړو اووهم او مړه شی. پس ما جناب رسول خدا ﷺ ته بیان اوکړو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل تا ښه اوکړل. (نو په دغه وخت ئے کوړے لګول پاتے کړے)

عَنِ السُّدِّيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ مَنْ أَحْصَنَ مِنْهُمْ وَمَنْ لَمْ يُحْصِنْ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ اتْرُكْهَا حَتّٰى تَمَاثَلَ

د سدی نه په دے اسناد سره روایت دے او په دے کښ د احصان ذکر نشته او په دے حدیث کښ دا زیاته ده چه دے لره پریږوئ هر کله هغه روغه شی (یعنی د نفاس نه پاکه وی. دا حکم دے د بیمارے. په دے به هم حد نۀ قائمیږی ترڅو پورے چه روغه نۀ وی)

---

[1] نووی وائی دا دے نه معلومه شوه چه مالك پخپله وینځه غلام حد لګولے شی. د شافعی او مالك او جمهورو علماؤ دغه قول دے. او د ابوحنیفه په نزد دا د حاکم کار دے. او د دریم ځل په زنا کښ هم حد لګول پکار دی. کچرے څو کرته ئے زنا اوکړه لیکن حد پرے او نۀ لګیده نو د دغه ټولو دپاره یو حد کافی دے. او د خرڅولو حکم د جمهورو په نز استحبابا دے. او د داؤد او اهل ظاهرو په نز واجب دے (انتهی مختصراً)

بَاب حَدِّ الْخَمْرِ

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَجَلَدَهُ بِجَرِيدَتَيْنِ نَحْوَ أَرْبَعِينَ قَالَ وَفَعَلَهُ أَبُو بَكْرٍ فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ اسْتَشَارَ النَّاسَ فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ أَخَفَّ الْحُدُودِ ثَمَانِينَ فَأَمَرَ بِهِ عُمَرُ

باب: د شرابو د حد بیان

د انس بن مالك نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ ته یو سړے حاضر کړے شو چه هغه شراب څښلي وو. حضرت ﷺ هغهٔ لره په دوؤ لختو سره څلویښت واره اووهو او دغه شان به حضرت ابوبکر هم کولو. هر کله چه د حضرت عمر زمانه شوه نو هغوی د خلقو نه مشوره واخسته.عبد الرّحمٰن بن عوف اووے په ټولو حدونو کښں لږے اتیا کوړے دی (یعنی حدِّ قذف کوم چه قران کښں راغلے دے) بیا حضرت عمر د اتیا کوړو حکم ورکوؤ (د شرابی دپاره)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَدَ فِي الْخَمْرِ بِالْجَرِيدِ وَالنِّعَالِ ثُمَّ جَلَدَ أَبُو بَكْرٍ أَرْبَعِينَ فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ وَدَنَا النَّاسُ مِنَ الرِّيفِ وَالْقُرَى قَالَ مَا تَرَوْنَ فِي جَلْدِ الْخَمْرِ فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا كَأَخَفِّ الْحُدُودِ قَالَ فَجَلَدَ عُمَرُ ثَمَانِينَ

د انس بن مالك نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ به په شراب څښلو کښں ویشتلو په ښاښونو او پیزارونو سره. بیا به ابوبکر څلویښت کوړے ورکولے. هر کله چه د حضرت عمر زمانه شوله او خلق نزدے شول ورشوګانو ته او کلو ته نو هغوی اووے ستاسو څهٔ رائے ده د شرابو په حد کښں. عبد الرحمٰن بن عوف اووے خما رائے خو داده چه تاسو دهٔ لره د ټولو نه د کمزوری حد برابر اوساتئ. بیا به حضرت عمر اتیا کوړے لګولے.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَضْرِبُ فِي الْخَمْرِ بِالنِّعَالِ وَالْجَرِيدِ أَرْبَعِينَ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِهِمَا وَلَمْ يَذْكُرِ الرِّيفَ وَالْقُرَى

د انس نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ به په شرابو کښں څلویښت ګذاره ورکول په ښاخونو او پیزارونو سره. بیائے ذکر کړو په مثل د حدیث ددے دواړو. او نهٔ ئے دی ذکر کړی ورشوګانے او کلی.

عَنْ حُضَيْنِ بْنِ الْمُنْذِرِ أَبُو سَاسَانَ قَالَ شَهِدْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ وَأُتِيَ بِالْوَلِيدِ قَدْ صَلَّى الصُّبْحَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قَالَ أَزِيدُكُمْ فَشَهِدَ عَلَيْهِ رَجُلَانِ

د حصین بن منذر نه روایت دے وائی چه زهٔ د عثمان بن عفان سره موجود وم چه ولید بن عقبه راوستے شو. هغوی د سحر دوه رکعته ادا کړی وو. بیائے اووے زهٔ زیات کوم ستاسو دپاره. نو دوه سړو په ولید باندے ګواهی ورکړه. یو خو حمران اووے چه دهٔ شراب څښلی

أَحَدُهُمَا حُمْرَانُ أَنَّهُ شَرِبَ الْخَمْرَ وَشَهِدَ آخَرُ أَنَّهُ رَآهُ يَتَقَيَّأُ فَقَالَ عُثْمَانُ إِنَّهُ لَمْ يَتَقَيَّأْ حَتَّى شَرِبَهَا فَقَالَ يَا عَلِيُّ قُمْ فَاجْلِدْهُ فَقَالَ عَلِيٌّ قُمْ يَا حَسَنُ فَاجْلِدْهُ فَقَالَ الْحَسَنُ وَلِّ حَارَّهَا مَنْ تَوَلَّى قَارَّهَا فَكَأَنَّهُ وَجَدَ عَلَيْهِ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ جَعْفَرٍ قُمْ فَاجْلِدْهُ فَجَلَدَهُ وَعَلِيٌّ يَعُدُّ حَتَّى بَلَغَ أَرْبَعِينَ فَقَالَ أَمْسِكْ ثُمَّ قَالَ جَلَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعِينَ وَجَلَدَ أَبُو بَكْرٍ أَرْبَعِينَ وَعُمَرُ ثَمَانِينَ وَكُلٌّ سُنَّةٌ وَهَذَا أَحَبُّ إِلَيَّ زَادَ عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ فِي رِوَايَتِهِ قَالَ إِسْمَعِيلُ وَقَدْ سَمِعْتُ حَدِيثَ الدَّانَاجِ مِنْهُ فَلَمْ أَحْفَظْهُ

دی. دویم دا گواهی ورکړه چه دهٔ خما په مخکښې د شرابو قے کولو. حضرت عثمان اووے. کچرے دا شراب څښلے نهٔ وے نو د شرابو قے به ئے د کوم ځائے نه کولو. پس حضرت عثمان حضرت علی ته اووے پاسه او په دهٔ حد اولګوه. (دا حضرت عثمان د حضرت علی کرم الله وجهه د عزت او عظمت د زیاتولو دپاره حکم ورکړو. او امام لره دا امر جائز دے) حضرت علی کرم الله وجهه حضرت امام حسن ته اوفرمائیل . اے حسنه! پاسه او دهٔ ته کوړے اولګوه. امام حسن اووے. حضرت عثمان د خلافت یخ والے اخستے دے نو ګرمی هم په دهٔ باندے کیږده. حضرت علی په دے خبره باندے امام حسن ته غصه شو. او اوئے وئیل اے عبد الله بن جعفره پاسه او ولید ته کوړے ورکړه. هغوی پاڅیدل او په ولید ئے کوړے اولګولے او حضرت علی کرم الله وجهه به شمارلے هر کله چه ئے څلویښت کوړے اولګولے پس حضرت علی کرم الله وجهه اووے. بس اودریږه. بیائے اووے رسول الله ﷺ څلویښت کوړے لګولے دی. او حضرت ابوبکر هم څلویښت لګولی دی. او حضرت عمر اتیا لګولے دی. او ټول سنت دی او خما په نز څلویښت لګول غوره دی [1].

---

[1]: پس د شرابو په قی باندے ګواهی ورکول لکه د شرابو په څښلو باندے ګواهی ورکول دی. نو دوه ګواهان د شرابو څښلو شول. نووی وائی په دے کښې دلیل دے د امام مالك چه کوم سړے د شرابو قے اوکړی په هغهٔ به حد لګولے شی. او زمونږ مذهب دادے چه یواځے په قی کولو سره حد نهٔ لازمیږی ولے چه احتمال دے چه دهٔ د ناپوهئ نه څښلی وی یا پرے په زور سره چا څښلی وی. او دلیل د امام مالك قوی دے. ځکه چه صحابو اتفاق اوکړو په اتفاق باندے د ځد لګولو دپاره.

یعنی د خلافت مزے دوی لوټ کړے اوس چه کومے د تکلیف خبرے دی هغه هم دوی ته پریږده. دا امام حسن د صلاح او مشورے په طور حضرت علی ته اووے. چه مونږ ته څهٔ ضرورت دے چه کوړے خو دِ مونږ ورکوُ. او د خلقو سره دشمنی دِ مونږ کوو. او د خلافت خوند دِ حضرت عثمان اوڅتوی.

نووی وائی دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه حضرت علی د حضرت عمر د احکامو ښه عظمت کولو. او د هغوی حکم او قول لره ئے سنت ګنړلو. دغه شان د حضرت ابوبکر هم . او رد راغے د شیعه ګانو چه هغه دد ے برخلاف ګنړی. او دا هم ثابته شوه چه د

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا كُنْتُ أُقِيمُ عَلَى أَحَدٍ حَدًّا فَيَمُوتَ فِيهِ فَأَجِدَ مِنْهُ فِي نَفْسِي إِلَّا صَاحِبَ الْخَمْرِ لِأَنَّهُ إِنْ مَاتَ وَدَيْتُهُ لِأَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسُنَّهُ

د حضرت علی نه روایت دے فرمائی کهٔ چرے زهٔ په چا باندے حد قائم کړم او هغه مړ شی په هغے کښې نو ځما څهٔ پرواه نهٔ وی. مګر د شرابو په حد کښې کهٔ چرے څوك مړ شی نو زهٔ د هغے دیت ورکوم ولے چه حضرت ﷺ دے لره بیان نهٔ دے فرمائیلے[1].

بَاب قَدْرِ أَسْوَاطِ التَّعْزِيرِ

باب: په تعزیر کښې د څومره پورے کوړے لګول جائز دی

خلفائے راشدینو فعل او قول د دین په خبرو کښې سنت دے اګر کهٔ مونږ ته د هغے دلیل معلوم نهٔ وی. او په بل حدیث کښې صفا راغلی دی. چه ځما په سنتو باندے عمل کوئ او د خلفائے راشدینو په سنتو باندے. او د مسلم د روایت نه ثابتیږی. چه حضرت علی ولید ته څلویښت کوړے اولګولے. لیکن د صحیح بخاری د روایت نه معلومیږی چه اتیا کوړے ئے اولګولے حالانکه دا واقعه بس دغه یوه ده. قاضی عیاض وئیلی دی مشهور مذهب د حضرت علی کرم الله وجهه دادے چه د شرابو حد اتیا کوړے دی هغوی وائی کهٔ شراب ئے لږ څښلی وی یا ډیر. په دے کښې اتیا کوړے دی او د هغوی نه منقول دی نجاشی ته اتیا کوړے لګول. او دا هم مشهوره ده چه حضرت علی حضرت عمر ته په شرابو کښې د اتیا کوړو د حد لګولو صلاح ورکړے وه. او د دے خبرو نه د بخاری روایت ته ترجیح کیږی او دا اختلاف په دے شان لرے کیدے شی چه د هغهٔ کوړے دوه سرونه وی نو د څلویښتو نه اتیا شولے. او دا هم احتمال دے چه دا د هٰذَا اَحَبُّ اِلَیَّ. چه کوم په حدیث کښې دی د دے نه مراد اتیا کوړے وی. مګر په دے صورت کښې د څلویښتو نه پس ئے د اودریدلو ولے حکم ورکوو. والله اعلم انتهٰی مع زیادة.

امام نووی وئیلی دی. چه مسلمانانو اتفاق کړے دے د شرابو په حرام والی باندے. او د هغے په څښلو والا باندے په حد لګولو کښې خواه کهٔ لږ او څښی یا ډیر. او اجماع ئے کړے ده چه شراب څکونکے به نهٔ قتلیږی. اګر کهٔ بیا بیا ئے اوڅښی. او قاضی عیاض د یو طائفه شاذه نه نقل کړی دی چه څلور ځله به ورته کوړے لګوی او په پنځم ځل به ئے وژنی. په وجه د دے حدیث چه په دے کښې فَاقْتُلُوهُ لفظ دے. او دا حدیث منسوخ دے. چه ناسخ د دے هغه حدیث دے کوم چه پورته تیر شو. "لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ" د آخره پورے. او دلالت کوی په نسخ باندے د دے په خلاف باندے اجماع کیدل. او اختلاف کړے دے علماؤ چه د شرابو حد څومره کوړے دی. نو د شافعی او ابوثور او داؤد او اهل ظاهرو څلویښت کوړے دی. او د مالك او ابوحنیفه او اوزاعی او ثوری او احمد او اسحٰق په نز اتیا کوړے دی. او اجماع کړے ده علماؤ چه دا څلویښت یا اتیا ځله خواه کهٔ په کوره سره وهی یا پیزار سره خواه کهٔ په لختے سره. خوا په کپړه سره. او خنو د کوړے نه علاوه په نورو څیزونو سره جائز نهٔ دی ګرځولی او دا غلط فاحش دے چه د صحیح احادیثو خلاف دے. (انتهٰی مختصراً)

(1) یعنی په دے کښې څهٔ حد معین نشته. نووی وائی علماؤ اجماع کړے ده چه په چا باندے د شرع حد واجب شی. بیا امام یا د هغهٔ جلاد په هغهٔ حد اولګوی او هغه پکښې مړ شی نو نهٔ ئے دیت شته نهٔ کفاره. نهٔ په امام باندے نهٔ په جلاد باندے او نهٔ په بیت المال باندے او څوك چه په تعزیر سره مړ شی نو په هغے کښې دیت او کفاره ده. لیکن دیت د امام به په عاقله باندے وی نهٔ کفاره به خاص د هغهٔ د مال نه ورکیدے شی. او د خنو په نز په تعزیر کښې هم څهٔ تاوان ورکول نشته. نهٔ په امام نهٔ د هغهٔ په عاقله او نهٔ بیت المال باندے. انتهٰی

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يُجْلَدُ أَحَدٌ فَوْقَ عَشَرَةِ أَسْوَاطٍ إِلَّا فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ

د ابوبرده رضي الله عنه نه روایت دے هغوی اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو هیڅوك د نۀ شی وهلے دلسو كوړو نه زیات مګر په یو حد كښې د الله تعالی د حدونو نه[1].

بَابُ الْحُدُودِ كَفَّارَاتٌ لِأَهْلِهَا

باب: په حد لګولو سره ګناه ختمیږی

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَجْلِسٍ فَقَالَ تُبَايِعُونِي عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللهِ شَيْئًا وَلَا تَزْنُوا وَلَا تَسْرِقُوا وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللهِ وَمَنْ أَصَابَ شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ فَعُوقِبَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ أَصَابَ شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ فَسَتَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ فَأَمْرُهُ إِلَى اللهِ إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ

د عباده بن صامت نه روایت دے چه هغه د رسول الله ﷺ سره ناست وو. حضرت ﷺ اوفرمائیل بیعت اوكړئ خما نه په دے اقرار باندے چه د الله سره به هیچا لره شریك نۀ ګرځوئ. او زنا او غلا او ناحقه وینه تویول او څۀ چه الله تعالی حرام كړی دی هغه به نۀ كوئ. پس هر هغه چا چه خپل اقرار پوره كړو د هغے ثواب به په الله تعالی باندے وی. او څوك چه یو كار د دے كارونو نه كوی هغه ته به سزا په دے دنیا كښې وركیدے شی (یعنی حد به پرے لګی) نو دغه د دۀ د ګناه كفاره ده. او چا چه په دنیا كښې د الله تعالی دے كار لره پټ كړو نو (په آخرت كښې) الله تعالی لره اختیار دے كۀ خوښه ئے شی معاف به ئے كړی او كۀ خوښه ئے شی عذاب به وركړی[2].

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِي الْحَدِيثِ فَتَلَا عَلَيْنَا آيَةَ النِّسَاءِ أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللهِ شَيْئًا الْآيَةَ

د زهری نه په دے اسناد سره هغه مضمون روایت دے كوم چه پورته ذكر شو او په دے كښې دا زیاته ده چه حضرت ﷺ د سورة نساء دا ایت اولوستۀ أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللهِ شَيْئًا د اخیره پورے.

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ أَخَذَ

د عباده بن صامت رضي الله عنه نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ زمونږ سره نه

---

[1] د امام احمد دغه مذهب دے. او د جمهور علماؤ په نیز د لسو نه زیاتے هم صحیح دی. لیكن د امام مالك په نیز د هغے څۀ حد نشته تر دے پورے چه امام ئے مناسب اوګنړی. اګر كۀ د حد نه هم زیاتے وی ولے چه حضرت عمر داسے كړی دی. او د ابوحنیفه په نیز د څلوېښتو نه زیاتے كوړے وركول روا نۀ دی. او د شافعی په نیز آزاد لره د څلویښتو نه او غلام لره د شلو نه زیات لګول صحیح نۀ دی. او صحیح د امام احمد مذهب دے.

[2] امام نووی وئیلی دی څوك چه یو كار د دے كارونو نه كوی مراد د دے نه هغه ګناهونه دی كوم چه سوا د شرك نه ذكر شو. ځكه چه د شرك بخښنه نشته د دے او نۀ د هغے څۀ كفاره شته د دے.

عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا أَخَذَ عَلَى النِّسَاءِ أَنْ لاَ نُشْرِكَ بِاللهِ شَيْئًا وَلاَ نَسْرِقَ وَلاَ نَزْنِيَ وَلاَ نَقْتُلَ أَوْلاَدَنَا وَلاَ يَعْضَهَ بَعْضُنَا بَعْضًا فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللهِ وَمَنْ أَتَى مِنْكُمْ حَدًّا فَأُقِيمَ عَلَيْهِ فَهُوَ كَفَّارَتُهُ وَمَنْ سَتَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ فَأَمْرُهُ إِلَى اللهِ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ

هم هغه شان بیعت واخستو لکه څنګه چه ئے د ښځو نه اخستے وو په دے خبرو باندے چه مونږ به د الله تعالی سره شریك نه ګرځوو هیڅ شی لره او نۀ به غلا کوو نۀ به زنا کوو او نۀ به خپل اولاد وژنو نۀ به په یو بل باندے طوفان جوړ وو (یا جادو کوو) پس هر هغه چا چه پوره کړو ستاسو نه د ے لره نو د هغے ثواب په الله تعالی باندے دے او هر هغه خوك چه ستاسو نه د څۀ حد کار اوکړی او حد اولګی په هغۀ باندے نو د غه ئے د ګناه کفاره ده. او کوم چه الله تعالی پټ کړی د هغۀ ګناه لره (نو د قیامت په ورځ) الله تعالی ته اختیار دے کۀ خوښه ئے شوه په عذاب به ئے کړی او کۀ خوښه ئے شوه او به ئے بخښی.

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّهُ قَالَ إِنِّي لَمِنَ النُّقَبَاءِ الَّذِيْنَ بَايَعُوْا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ بَايَعْنَاهُ عَلَى أَنْ لاَ نُشْرِكَ بِاللهِ شَيْئًا وَلاَ نَزْنِيَ وَلاَ نَسْرِقَ وَلاَ نَقْتُلَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ وَلاَ نَنْتَهِبَ وَلاَ نَعْصِيَ فَالْجَنَّةُ إِنْ فَعَلْنَا ذٰلِكَ فَإِنْ غَشِيْنَا مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا كَانَ قَضَاءُ ذٰلِكَ إِلَى اللهِ وَقَالَ ابْنُ رُمْحٍ كَانَ قَضَاؤُهُ إِلَى اللهِ

د عباده بن صامت نه روایت دے فرمائی چه زۀ د هغه سردارانو نه وم چا چه بیعت کړے وو د جناب رسول خدا ﷺ نه هغوی فرمائی چه مونږ بیعت کړے وو د حضرت ﷺ سره په دے شرطونو باندے چه هیڅ شے به د الله سره شریك نۀ ګرځوو. نۀ به زنا کوو نۀ غلا. نۀ به په ناحقه وینے تویوؤ چه هغے لره الله تعالی حرام کړی دی مګر د حق په بدله (یعنی په قصاص یا حد کښې) نه به لوټ کوؤ. نه به نافرمانی کوؤ د خدائے (په دے کښې تول ګناهونه راغلل) کچرے مونږ داسے کوؤ نو زمونږ دپاره جنت دے. او کچرے دد ے کارونو نه یو کار اوکړے شی نو د هغے فیصله د الله په طرف ده (کۀ هغه او غواړی معاف به ئے کړی او کۀ هغه او غواړی عذاب به ور کړی)

بَابُ جُرْحِ الْعَجْمَاءِ وَ الْمَعْدِنِ وَ الْبِئْرِ جُبَارٌ

باب: کۀ څناور څوك اووهی یا په کان یا په کوهی کښې څوك پریوځی نو د هغۀ دیت نۀ لازمیږی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ الْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ

د ابو هریره نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی. د څناورو زخمی کول لغوه دی (یعنی د هغے تاوان به په چا نۀ

وَالْبِئْرُ جُبَارٌ وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ	وی، او کوهے لغوه دے او کان لغوه دے. او په رکاز کښې پنځمه حصه ده[1].
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ قَالَ الْبِئْرُ جَرْحُهَا جُبَارٌ وَالْمَعْدِنُ جَرْحُهُ جُبَارٌ وَالْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ	د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی چه د کوهی زخم لغوه دے. او د کان زخم لغوه دے. او د ځناور زخم لغوه دے او په رکاز کښې پنځمه حصه ده.

[1]: نووی وئیلی دی ځناور کچرے نقصان اوکړی د شپے یا د ورځے لیکن د هغۀ د مالك څۀ قصور نۀ وی یا مالك د هغه ځناور سره نۀ وی نو څۀ تاوان به پرے نۀ وی لیکن کۀ د ځناور سره شړلو والا وی یا رانیولو والا یا پرے سور وی او هغه په لاس یا خپو سره څۀ نقصان اوکړی نو تاوان به وی او د داؤد اوهل ظاهرو په نز په یو حال کښې هم تاوان نشته مګر په هغه صورت کښې چه مالك پخپله ځناورو لره غصه کړی (لکه سپے چه په چا پسے اوزغلوی وغیره) او د امام مالك په نز تاوان دے او شافعیؤ هم وئیلی دی چه د کوم ځناور نقصان رسول مشهور شی په هغے کښې به تاوان وی. ولے چه په مالك باندے د هغه ځناور تړل ضروری دی. او کۀ د شپے نقصان اورسوی نو د مالك په نز پرے تاوان شته. او د امام شافعی په نز په هغه صورت کښې تاوان دے. هر کله چه مالك د هغۀ په حفاظت کښې کوتاهی اوکړی. ورنه نۀ به وی. او د ابوحنیفه په نز د ځناورو د نقصان په یو حال کښې هم تاوان نشته. خواه کۀ د شپے وی خواه کۀ د ورځے وی. او د جمهورو په نز په ورځ کښې د خوړلو ضمانت نشته. او د لیث او سحنون په نز ضمانت شته دے او د کان په باره کښې ئے چه کوم فرمائیلی دی چه لغوه دے د هغے مطلب دا دے چه کچرے څوك پخپله ملکی زمکه کښې کان اوکنی یا په بنجر زمکه کښې. او بیا څوك په لاره تلونکے په هغے کښې اوغورځیږی او مړ شی. یا مزدور په مزدورئ کولو کښې هلته هلاك شی نو د هغۀ تاوان نشته دے. دغه شان کچرے په ملکی یا بنجر زمکه کښې کوهے اوکنی او په هغے کښې څوك اوغورځیږی او هلاك شی. یا د کوهی کنستلو والا مزدور پکښې هلاك شی نو په دے کښې څۀ تاوان نشته دے. البته کچرے په لاره کښې کوهے اوکنی یا د بل چا په زمکه کښې بغیر د هغۀ د اجازت نه او په هغه کوهی کښې هلاك شی نو تاوان پرے نشته دے. او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه په رکاز کښې پنځمه حصه ده. نو رکاز به وئیلے شو د جاهلیت په زمانه کښې خزانے ته زمونږه او د حجاز د اوسیدونکو دغه مذهب دے. او د جمهورو عالمانو هغه دغه قول دے. او ابوحنیفه او د عراق اوسیدونکو وئیلی دی چه د رکاز نه مراد کان دے.

كِتَابُ الأَقْضِيَةِ

د احكامو او د فيصلو مسئلې

بَابُ الْيَمِينِ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ يُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ لَادَّعَى نَاسٌ دِمَاءَ رِجَالٍ وَأَمْوَالَهُمْ وَلَكِنَّ الْيَمِينَ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى بِالْيَمِينِ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ

باب: قَسَم په مُدّعٰی علیه باندې دې

د عبد الله بن عباس نه روايت دې چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائيلي دي كچرې خلقو ته وركړې شي هغه څۀ چه دعوه ئې كوي، نو بعضې به د نورو جان او مال واخلي. ليكن مدّعٰی له قسم خوړل پكار دي.

د حضرت عبد الله بن عباس نه روايت دې چه جناب رسول خدا ﷺ فيصله اوفرمائيله چه قسم په مدعٰی عليه دې[1].

بَابُ الْقَضَاءِ بِالْيَمِينِ وَالشَّاهِدِ

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى بِيَمِينٍ وَشَاهِدٍ

باب: په يو ګواه او په يو قَسم فيصله كول

د عبدالله بن عباس نه روايت دې چه جناب رسول الله ﷺ به فيصله كوله په يو ګواه اويو قَسم باندې[2].

---

[1] په بل روايت كښې دي چه ګواه په مدعي باندې دې. دا حديث يوه لويه قاعده كليه ده. چه په دې سره د زرګونو جهګړو فيصله كول معلوم شو. هر كله چه څوك دعوه اوكړي او مدّعٰی عليه منكر شي نو د مدّعي نه به ګواه غوښتلې شي. كچرې هغه ګواه نۀ شي پيدا كولې نو مدعی عليه له به قسم وركوي. كچرې هغه قسم اوخوري نو دعوه پاكه شوه. او كچرې قسم او نۀ خوري نو دعوه ثابته شوه. او ددې حديث نه د شافعي او جمهورو علماؤ مذهب ثابتيږي چه د هر مدّعٰی عليه نه به قسم اخستلې شي. خواه كۀ د مدعي سره ئې تعلق او احتلاط وي يا نۀ وي. او د امام مالك او د فقهاؤ سبعه د مدينې دا قول دې چه د مدعی عليه نه به هغه وخت قسم اخستې شي هر كله چه ددۀ سره او د مدعي سره څۀ معامله يا كاروبار يا تعلق وي. ورنه د هر يو سپك خويه او پاجي شريف او د لويو سړو نه كۀ بيا بيا قسم واخلي مګر ددې خبرې څۀ دليل په كتاب يا سنت يا اجماع سره نشته. (نووی)

[2] د جمهور علماؤ لكه د مالك او شافعي او احمد دغه قول دې چه هر كله د مدعي سره صرف يو ګواه وي نو قاضي به هغۀ له قسم وركړي او د هغې مطابق به فيصله اوكړي. او د ابوحنيفه او اوزاعي په نز او د ليث په نز په يو ګواه او يو قسم سره دعوه نۀ ثابتيږي. ليكن د هغوي قول مخالف دې ددې حديث او دا حديث مروي دې د حضرت علي او ابن عباس او زيد بن ثابت او جابر او ابو هريره او عماره بن حزم او سعيد بن عباده او عبد الله بن عمرو بن العاص او د مغيره بن شعبه نه. او د ټولو نه زيات صحيح د ابن عباس روايت دې او د هغې په صحت باندې اتفاق دې د محدثينو.

بَابُ الْحُكْمِ بِالظَّاهِرِ وَاللَّحْنِ بِالْحُجَّةِ

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَنْ يَكُونَ أَلْحَنَ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ فَأَقْضِي لَهُ عَلَى نَحْوِ مِمَّا أَسْمَعُ مِنْهُ فَمَنْ قَطَعْتُ لَهُ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ شَيْئًا فَلَا يَأْخُذْهُ فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ بِهِ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ جَلَبَةَ خَصْمٍ بِبَابِ حُجْرَتِهِ فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ وَإِنَّهُ يَأْتِينِي الْخَصْمُ فَلَعَلَّ بَعْضَهُمْ أَنْ يَكُونَ أَبْلَغَ مِنْ بَعْضٍ فَأَحْسِبُ أَنَّهُ صَادِقٌ فَأَقْضِي لَهُ فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِحَقِّ مُسْلِمٍ فَإِنَّمَا هِيَ قِطْعَةٌ مِنَ النَّارِ فَلْيَحْمِلْهَا أَوْ يَذَرْهَا

عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيثِ يُونُسَ وَفِي حَدِيثِ مَعْمَرٍ قَالَتْ سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَجَبَةَ خَصْمٍ بِبَابِ أُمِّ سَلَمَةَ

باب: د حاکم په فیصله سره به امر واقعی غلط نهٔ وی

د مومنانو د مور اُم سلمه نه روایت دے فرمائی چه فرمائلی دی رسول الله ﷺ تاسو ما ته مقدمه راؤړئ او ستاسو نه یو د بل نه زیاته خپله خبره ثابتوی او زهٔ د هغے موافق حکم ورکوم. پس چا ته چه زهٔ د هغهٔ د رور څهٔ حق ورکړمه (او په نفس الامر کښ هغه ددهٔ حق نهٔ وی) نو هغه دِ نهٔ اخلی ځکه چه زهٔ د دوزخ یوه ټکړه دهٔ لره ورکوم.

د مومنانو د مور اُم سلمه نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ د جهګړه کونکو شور واوریدو د خپلے حجرے د دروازے مخے ته نو راووتو او اوئے فرمائیل چه زهٔ یو بنیادم یم. او ما ته چه څوك مقدمے والا راشی. او یو د بل نه غوره خبره کوی. زهٔ دا اوګنړم چه دا رښتونے دے او د هغے موافق فیصله اوکړم. پس چا ته چه د یو مسلمان حق ورکوم. نو هغه د انکار یوه ټکړه ده کهٔ هغے لره اخلی یائے پریږدی[1].

د زهری نه په دے اسناد سره د یونس (راوی) د حدیث په شان دے او د یونس او د معمر په حدیث کښ دی چه جناب رسولِ خدا ﷺ د جهګړه کونکو شور واوریدهٔ د ام سلمه رضی الله عنها په دروازه.

---

[1] : نووی وائی دا چه څهٔ جناب رسول الله خدا اوفرمائیل چه زهٔ بنیادم یم. ددے نه دا غرض دے چه د هغوی حالت هم د نورو بنیادمو پشان وو. او هغوی ته علم غیب نهٔ وو مګر کومه خبره چه به الله تعالی هغوی ته اوښودله هغه به ورته معلومه شوه. او دا هم معلومه شوه چه په احکامو او فیصلو کښ کوم امر د نورونه کیږی هغه د حضرت نه هم کیدے شی. او حضرت به په ظاهر باندے حکم کولو. او د ټولو خبرو نه صرف الله تعالی خبر دے نو حضرت به هم ګواه او قسم باندے فیصله کوله. او چه الله تعالی به غوښتله نو په هره مقدمه کښ به ئے حضرت ته اصلی خبره ښودله. مګر منظوره داوه چه حضرت دِ هم د امت په شان په ظاهر حال باندے حکم کوی. ددے دپاره چه امت هم د هغوی تابعداری اوکړی او کومو خلقو چه د حضرت په اجتهاد کښ خطا جائز کړے ده هغه هم دا وائی چه حضرت به په خطا باندے قائم نهٔ شو پاتے کیدے. پس داسے حکم چه د دلیل موافق وی اګر کهٔ د واقعے خلاف وی خطا نهٔ ده بلکه هغه حکم صحیح دے. او ددے حدیث نه د جمهورو علماؤ لکه د مالك او شافعی او احمد مذهب ثابتیږی چه د حاکم په حکم سره په باطن حلالیږی.

بَاب قَضِيَّةِ هِنْدٍ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَتْ هِنْدٌ بِنْتُ عُتْبَةَ امْرَأَةُ أَبِي سُفْيَانَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ لَا يُعْطِينِي مِنَ النَّفَقَةِ مَا يَكْفِينِي وَيَكْفِي بَنِيَّ إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْ مَالِهِ بِغَيْرِ عِلْمِهِ فَهَلْ عَلَيَّ فِي ذَٰلِكَ مِنْ جُنَاحٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذِي مِنْ مَالِهِ بِالْمَعْرُوفِ مَا يَكْفِيكِ وَيَكْفِي بَنِيكِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَتْ هِنْدٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ وَاللهِ مَا كَانَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ أَهْلُ خِبَاءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يُذِلَّهُمُ اللهُ مِنْ أَهْلِ خِبَائِكَ وَمَا عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ أَهْلُ خِبَاءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يُعِزَّهُمُ اللهُ مِنْ أَهْلِ خِبَائِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَيْضًا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَتْ يَا

باب: د هندے د ابوسفيانؓ د بی بی فيصله

د مومنانو د مور حضرت عائشے صديقے نه روايت دے. هنده لور د عُتبه د ابوسفيان بی بی د جناب رسول خدا ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوکړو چه يا رسول اللهؐ! ابوسفيان بخيل دے ماله دومره خرچه نهٔ راکوی چه هغه ځما او ځما د بچو پوره شی. مګر زهٔ د هغهٔ د مال نه لګوم او هغه ترے خبر نهٔ وی نو آيا ددے ګناه به وی يا ما باندے؟ جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائيل تهٔ د هغهٔ د مال نه اخله د دستور موافق څومره چه ستا او ستا د بچو کافی کيږی[1].

د حضرت ام المؤمنين عائشے صديقے نه روايت دے چه هنده د ابوسفيان ښځه (چه د عتبه لور وه او لويه دشمنه وه د حضرت ﷺ د هغے پلار او ترهٔ په جنګ بدر کښ د امير حمزه په لاس وژلی شوی وو. او په دغه دشمنئ سره هغے د امير حمزه زړهٔ د اُحد په جنګ کښ ويستلے او په غاښونو سره ژوئلے وو. بيا هغه مسلمانه شوه او الله تعالی ورته هدايت نصيب کړو) د جناب رسول خدا ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوکړو يا رسول اللهؐ! په ټوله زمکه باندے د يوے ديرے خلق داسے نهٔ وو چه د هغوی په حق کښ به ما دا غوښتله چه الله د هغوی تباه کړی ساسو د ديرے والاؤ نه زيات او اوس په ټوله زمکه باندے يوے

---

[1]: نوويؒ وئيلی دی ددے حديث نه معلومه شوه چه کچرے د يو انسان په بل باندے څهٔ حق وی او هغه ئے نهٔ ورکوی يا دا چه هغه ترے خبر کړی نو نهٔ ئے شی ترے اخستے. نو د هغهٔ د مال نه بغير د هغهٔ د جازت نه د خپل حق موافق اخستل روا دی. او زمونږه مذهب هم دغه دے. او ابوحنيفه او امام مالك دے ته جائز وئيلی دی. او دا هم معلومه شوه چه د پردئ ښځے خبره اوريدل د ضرورت د فيصلے په وخت يا د حکم يا د بل څهٔ کار دپاره روا دی او د ښځے د کور نه وتل بغير د خاوند د اجازت نه روا دی هر کله چه دا معلومه وی چه خاوند ئے بد نهٔ ګڼړی. او دا هم معلومه شوه چه قضاء علی الغائب صحيح ده. خو په دے کښ د علماؤ اختلاف دے. د ابوحنيفه او هل کوفؤ په نز جائز نهٔ دی. او د شافعي او جمهورو علماؤ په نز په حقوق الناس کښ جائز دی نهٔ په حقوق الله کښ. انتهٰی مختصراً

رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ مُمْسِكٌ فَهَلْ عَلَيَّ حَرَجٌ أَنْ أُنْفِقَ عَلٰى عِيَالِهِ مِنْ مَالِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَرَجَ عَلَيْكِ أَنْ تُنْفِقِي عَلَيْهِمْ بِالْمَعْرُوْفِ

دیرے والا داسے نشته چه د هغوی په باره کښې زۀ دا غوارم چه الله د هغوی له عزت ورکړی ستاسو د دیرے والا نه زیات (مطلب دادے چه مخکښې ستا نه او ستا د ملګرو نه زیات خما څوك دشمن نۀوو اوس تاسو او ستاسو ملګری ماته د هر څۀ نه زیات خوارۀ دی) جناب رسول خدا ﷺ ورته اوفرمائیل اوس به نور هم زیات ستا زمونږ سره محبت شی (هر کله چه ستا په زړۀ کښې ځائے اونیسی) قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه خما روح دے. بیا هندے اووے یا رسول الله ! ابوسفیان بخیل دے نو آیا ماته به څۀ ګناه وی کچرے زۀ د هغۀ روپۍ د هغۀ په بال بچ باندے لګوم بغیر د هغۀ د اجازت نه؟ حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل په تا باندے څۀ ګناه نشته کچرے تۀ د دستور موافق خرچ کوے (دا نه چه د هغۀ مال لوټ کوے او بے ځایه ئے خرچ کوے)

بَاب النَّهْيِ عَنْ كَثْرَةِ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةِ الْمَالِ

باب : د ډیرو تپوسونو نه او د مال د تباه کولو نه ممانعت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يَرْضٰى لَكُمْ ثَلَاثًا وَيَكْرَهُ لَكُمْ ثَلَاثًا فَيَرْضٰى لَكُمْ أَنْ تَعْبُدُوْهُ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهِ شَيْئًا وَأَنْ تَعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَلَا تَفَرَّقُوْا وَيَكْرَهُ لَكُمْ قِيْلَ وَقَالَ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ

د حضرت ابوهریره نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی . الله تعالی خوشحالیږی ستاسو نه په درے خبرو سره. او ناراضه کیږی ستاسو نه په درے خبرو سره . خوشحالیږی ستاسو نه په دے سره چه تاسو د هغۀ بندګی کوئ او د هغۀ سره شریك مۀ ګرځوئ هیڅ شی لره. د هغۀ رسۍ ټول په جمع اونیسئ (یعنی په قرآن باندے عمل کوئ) او اختلاف مۀ اچوئ او ناراضه کیږی په بے فائدے بکواس کولو او د ډیرو تپوسونو نه (یعنی د هغه مسئلو تپوسونه کول چه د هغے ضرورت نۀ وی یا د هغه خبرو چه د هغے حاجت نۀ وی. او د هغه خبرو تپوسونه کول چه په بل بدے لګی) او د مال په تباه کولو سره (یعنی بے فائدے د مال لګولو نه چه هغه نۀ په دنیا کښې پکار راځی او نۀ په آخرت کښې

لکه په ګوډۍ خیژولو، او په آتش بازۍ وغیره کښې)

عَنْ سُهَيْلٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَيَسْخَطُ لَكُمْ ثَلَاثًا وَلَمْ يَذْكُرْ وَلَا تَفَرَّقُوا

د سهیل نه په دے اسناد سره دغه شان روایت دے مګر په دے کښې دا دي چه په دریو خبرو غصه کیږي او د اختلاف بیان ئے نۀ دے کړے.

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوقَ الْأُمَّهَاتِ وَوَأْدَ الْبَنَاتِ وَمَنْعًا وَهَاتِ وَكَرِهَ لَكُمْ ثَلَاثًا قِيلَ وَقَالَ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ

د مغیره بن شعبه نه روایت دے جناب رسول خدا ﷺ او فرمائیل چه بیشکه الله تعالی عزت او بزرګۍ والا حرام کړې دی په تاسو باندے نافرمانی د میاندو او ژوندی خښول د جینکو (لکه چه به کفارو کولو) او نۀ ور کول (هغۀ لره چا ته چه ور کول دی د مالدارۍ سره) او غوښتل (د هغه څیز چه د هغے د غوښتلو حق نشته) او ناراضه کیږي په درے خبرو باندے (لیکن دومره ګناه نۀ نشته څومره چه مخکښې په درے خبرو کښې وه یعني مکروه دی) بے فائدے خبرے کول، ډیر تپوسونه کول او بے ځایه مال بربادول.

عَنْ مَنْصُورٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَحَرَّمَ عَلَيْكُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ

د منصور نه په دے اسناد سره هغه روایت دے کوم چه پورته تیر شو مګر په دے کښې دا دي چه جناب رسول خدا ﷺ حرام کړے دی په تاسو. او دا نشته چه "الله تعالی حرام کړے دی په تاسو".

عَنِ الشَّعْبِيِّ حَدَّثَنِي كَاتِبُ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ كَتَبَ مُعَاوِيَةُ إِلَى الْمُغِيرَةِ اكْتُبْ إِلَيَّ بِشَيْءٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللهَ كَرِهَ لَكُمْ ثَلَاثًا قِيلَ وَقَالَ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ

د شعبي نه روایت دے ، ما ته مغیره بن شعبه منشي بیان کړے دے چه معاویه مغیره ته اولیکل چه ما ته داسے څۀ ولیکه چه تا اوریدلی وی د جناب رسول الله ﷺ نه نووے لیکل ورته چه ما اوریدلی دی د جناب رسول خدا ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو الله تعالی ستاسو دپاره درے خبرو لره بد ګنړي. یو بے فائدے خبرو لره (چه فلانے داسے وو او فلانے داسے دے) دویم مال تباه کولو لره. او دریم ډیرو تپوسونو لره.

عَنْ وَرَّادٍ قَالَ كَتَبَ الْمُغِيرَةُ إِلَى مُعَاوِيَةَ سَلَامٌ عَلَيْكَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ

د وراد نه روایت دے چه مغیره معاویه ته اولیکل سلام دِ وی په تاسو باندے. روستو ددے د ورته معلومه شی چه اوریدلی دی د جناب

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللهَ حَرَّمَ ثَلَاثًا وَنَهَى عَنْ ثَلَاثٍ حَرَّمَ عُقُوقَ الْوَالِدِ وَوَأْدَ الْبَنَاتِ وَلَا وَهَاتِ وَنَهَى عَنْ ثَلَاثٍ قِيلَ وَقَالَ وَكَثْرَةِ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةِ الْمَالِ ٥

رسول خدا ﷺ چه فرمائیلی ئے وو الله حرام کړی دی درے خبرو لره او منع کړی ئے دی درے خبرو لره. حرام کړی ئے دی د پلار نافرمانئ لره او د ژوندو جینکو خخولو لره او نهٔ ورکول چا ته چه ورکول دی. او غوښتل د چا نه چه نهٔ دی غوښتل پکار. او منع کړی ئے دی بے فائدے خبرو اترو لره او د ډیرو سوالونو د تپوسونو نه او د مال تباه کولو نه

بَاب بَيَانِ أَجْرِ الْحَاكِمِ إِذَا اجْتَهَدَ فَأَصَابَ أَوْ أَخْطَأَ

باب: هر کله حاکم چه په خپل اجتهاد فیصله اوکړی، صحیح وی یا غلط، هغهٔ ته به ثواب ملاویږی

عَنْ أَبِي قَيْسٍ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ

د ابوقیس نه روایت دے چه د عمرو بن العاص آزاد کړے غلام وو. هغوی اوریدلی دی د جناب رسول خدا ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو هر کله چه حاکم په سوچ سره حکم اوکړی بیائے صحیح کړی نو هغه له دوه اجرونه دی. او کچرے په سوچ سره حکم اوکړی او غلطی اوکړی نو هغهٔ له یو اجر دے[1].

بَاب كَرَاهَةِ قَضَاءِ الْقَاضِي وَهُوَ

باب: د قاضی د غصے په حالت کښ فیصله کول

---

[1]: نووی وئیلی دی مراد هغه حاکم دے چه هغه عالم وی نو د حکم لائق دے او جاهل لره حکم ورکول صحیح نهٔ دی. او کچرے هغه حکم اوکړو نو گنهگار شو. اگر کهٔ د هغهٔ حکم اتفاقاً صحیح راشی. او دغه حکم دے د مجتهد. لیکن اختلاف دے چه هر مجتهد مصیب دے یا یو مصیب دے او باقی مخطی دی لیکن مخطی لره هم یو ثواب او اجر دے. خکه چه دهٔ کوشش کړے دے او محنت ئے کړے دے د حق په حاصلولو کښ. دد ے حدیث نه ثابته شوه چه د امت محمدی علی صاحبها الصلوٰة والسلام کښ چه څومره علماء مجتهدین تیر شوی دی. لکه امام شافعی ، امام مالك، امام ابوحنیفه کوفی، امام اجل احمد بن حنبل، امام داؤد ظاهری ، امام سفیان ثوری، امام اوزاعی ، امام اسحق بن راهویه، امام بخاری، امام اشهب، امام سهنون ، امام ابن المبارك، امام ابن شبرمه، امام ابن ابی لیلی، امام وکیع، امام ابویوسف ، امام محمد ، امام زفر، امام مزنی، امام طحاوی، امام ابوثور، امام ابن منذر، امام لیث بن سعد ، امام ابن تیمیه، امام ابن جریر طبری، امام شوکانی. دد ے ټولو خلقو د پاره په هره یوه مسئله اختلافی کښ اجر او ثواب شوے دے. اگر کهٔ د هغوی نه خطا او غلطی شوی وی. دد ے وجے نه د هر یو مجتهد او امام احسان منل پکار دی چه هغوئ د خدائے د پاره په دین کښ کوشش کړے دے او په هغوی پسے د بدو وئیلو او بدگویئ نه ځان ساتل پکار دی (کاش چه غیر مقلدین هم په دے قیمتی نصیحت عمل اوکړی. او ائمه مجتهدین او د هغوی په تقلید کونکو طعن او تشنیع او د ژبے د اوږدولو نه پرهیز اوکړی او آخرت خراب نه کړی. ۱۲ عارف). راضی د وی الله د دغه ټولو بزرگانو نه. آمین یا رب العالمین.

غَضْبَانُ

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ كَتَبَ أَبِي وَكَتَبْتُ لَهُ إِلَى عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ وَهُوَ قَاضٍ بِسِجِسْتَانَ أَنْ لَا تَحْكُمَ بَيْنَ اثْنَيْنِ وَأَنْتَ غَضْبَانُ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَحْكُمْ أَحَدٌ بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ

مکروه ده

د عبد الرّحمٰن بن ابی بکره نه روایت دے خما پلار ماته وئیل او ما او لیکل عبید الله بن ابی بکره ته او هغهٔ د سجستان قاضی وو چه حکم مهٔ کوه. هر کله چه ته په غصه کښې ئے ولے چه ما اوریدلی دی د جناب رسول خدا ﷺ نه چه هغوی فرمائیلی وو. فیصله دِ نهٔ کوی څوك د دوه تنو په مینځ کښې هر کله چه هغه په غصه کښې وی[1].

بَابُ نَقْضِ الْأَحْكَامِ الْبَاطِلَةِ وَرَدِّ مُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ

باب: د غلطو خبرو او د نوے خبرو کومے چه په دین کښې راویستلے شی، د هغے باطلول

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ

د مومنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل کوم انسان چه زمونږ په دین کښې هغه خبره راوباسی چه هغه په دے کښې نهٔ وی. (یعنی بے دلیله هغه رد ده)[2].

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ

د مومنانو د مور حضرت عائشے نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل څوك چه داسے کار اوکړی چه د هغے دپاره زمونږ حکم نهٔ وی (یعنی په دین کښې داسے عمل راوباسی) نو هغه مردود دے[3].

بَابُ بَيَانِ خَيْرِ الشُّهُودِ

باب: د ښو ګواهانو بیان

---

[1]: نووی وئیلی دی او دا هم حکم دے هر کله چه وږے وی یا تږے وی یا سخت یا ئے دیره ګیده د که شوی وی یا پرے دیر غم وی یا پرے دیره خوشحالی وی. ولے چه په دے حالاتو کښې فهم صحیح نهٔ وی. او زړهٔ بل طرفته متوجه وی. په دغه حالت کښې هم کچرے فیصله اوکړے نو هغه فیصله به صحیح وی. ځکه چه حضرت هم د حره نهر فیصله کړے ده. د غصے په حالت کښې. انتهٰی

[2]: یعنی لغوه دے او مردود دے د هغے نه بچ کیدل پکار دی. او په هغے باندے عمل نهٔ دی کول پکار. دا حدیث جامع دے د ټولو بدعاتو او مخترعاتو چه خلقو په دین کښې شامل کړی دی. او په دویم حدیث کښې د دے نه هم زیات صفا دی.

[3]: یعنی هغه عمل لغوه دے په هغے څهٔ ثواب نشته بلکه عذاب دے ثواب په هغه عمل کښې دے کوم چه الله او د هغهٔ رسول خوښ دے او بند یګانو ته ئے د هغے د کولو حکم ورکړے دے. په دے حدیث سره د بدعتیانو ټوله دهانچه ماته شوله او کورنے ویران شو. ځکه چه کچرے هغوی پخپله څنے کارونه نهٔ دی راویستلی نو څهٔ کیږی د هغوی مشرانو راویستلی دی او حدیث خو په ټولو باندے رد کوی.

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَاءِ الَّذِي يَأْتِي بِشَهَادَتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا

د زید بن خالد جهنی نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل زۀ تاسو ته اونبایم چه غوره گواه ځوك دے؟ هغه چه خپله گواهی ادا کړی د تپوس کولو نه مخکښې[1]

بَاب بَيَانِ اخْتِلَافِ الْمُجْتَهِدِينَ

باب : د مجتهدینو اختلاف

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ هَذِهِ لِصَاحِبَتِهَا إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ أَنْتِ وَقَالَتِ الْأُخْرَى إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ فَتَحَاكَمَتَا إِلَى دَاوُدَ فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَام فَأَخْبَرَتَاهُ فَقَالَ ائْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَكُمَا فَقَالَتِ الصُّغْرَى لَا يَرْحَمُكَ اللهُ هُوَ ابْنُهَا فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَاللهِ إِنْ سَمِعْتُ بِالسِّكِّينِ قَطُّ إِلَّا يَوْمَئِذٍ مَا كُنَّا نَقُولُ إِلَّا الْمُدْيَةَ

د ابوهریره نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائیل دوه ښځے ناستے وے خپل خپل بچے ورسره وو. چه په دے کښې شرمخ راغے او د یوے هغه بچے ئے یوړو هغه یوے بلے ته اووے ستا خوئے ئے ویوړۀ. آخر دواړه د خپلے فیصلے کولو دپاره د داؤد خواله راغلے. هغوی هغه بچے هغه مشرے ښځے ته ورکړو (ددے وجے نه چه بچے به د هغے په شان وو. یا به د هغوی په شریعت کښې په داسے ضورت کښې مشر ته ترجیح ورکیدے شوه یا بچے د هغے په لاس کښې وو) بیا هغه دواړه د سلیمان خواله راغلے او هغوی ته ئے ټول حال بیان کړو. سلیمان اووے چاړۀ راوړئ زۀ دا بچے دوه ټکړے کوم چه تاسو دواړو لهٔ ئے درکړم (ددے خبرے نه د بچی پریکول مقصد نهٔ وو بلکه د حقیقی مور معلومول ئے مقصد وو) هغه کشرے اووے الله د پتا رحم اوکړی مهٔ پریکوه بچی لره دا ددے مشرے بچے دے. حضرت سلیمان هغه بچے کشرے ته ورکړو (نو حضرت سلیمان د داؤد خلاف حکم ورکړو ځکه چه دواړه مجتهد وو او پیغمبران وو. او مجهتد لره د بل مجتهد خلاف صحیح دے په اجتهادی مسائلو کښې اگر چه حکم ماتول صحیح نهٔ دی مگر کیدے

---

[1] : یعنی هر کله چه د چا حق د ویرېږی یائے ورنه ضایع کیږی. او حق والا ته د هغے گواه معلوم نهٔ وی. نو بے د بللو نه گواهی ورکول پکار دی. او دا حدیث د هغه حدیث خلاف نهٔ دے چه په هغے کښې راغلی دی چه قیامت ته نژدے به داسے خلق پیدا شی چه د هغوی گواهی به نهٔ شی غوښتلے کیدے او هغه به گواهی ورکوی. ځکه چه هلته مراد هغه گواهی ده چه هغه بے ضرورته وی یا د دروغو وی یا چه لائق نهٔ وی او گواهی ورکړی. والله اعلم بالصواب

شي حضرت داؤد د غه فيصله پريکړے نۀ وه. يا صرف په طور د فتوے وه) ابوهريره وئيلی دي په دے حديث کښې ما د سُکين لفظ اوريدلے دے چه هغه چړے ته وئيلے شي مونږ خو به ورته مُديه وئيله

بَابُ اسْتِحْبَابِ إِصْلَاحِ الْحَاكِمِ بَيْنَ الْخَصْمَيْنِ

باب : د حاکم دپاره په دواړو فريقو کښې صلح کول مستحب دي

عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَحَادِيثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَرَى رَجُلٌ مِنْ رَجُلٍ عَقَارًا لَهُ فَوَجَدَ الرَّجُلُ الَّذِي اشْتَرَى الْعَقَارَ فِي عَقَارِهِ جَرَّةً فِيهَا ذَهَبٌ فَقَالَ لَهُ الَّذِي اشْتَرَى الْعَقَارَ خُذْ ذَهَبَكَ مِنِّي إِنَّمَا اشْتَرَيْتُ مِنْكَ الْأَرْضَ وَلَمْ أَبْتَعْ مِنْكَ الذَّهَبَ فَقَالَ الَّذِي شَرَى الْأَرْضَ إِنَّمَا بِعْتُكَ الْأَرْضَ وَمَا فِيهَا قَالَ فَتَحَاكَمَا إِلَى رَجُلٍ فَقَالَ الَّذِي تَحَاكَمَا إِلَيْهِ أَلَكُمَا وَلَدٌ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِي غُلَامٌ وَقَالَ الْآخَرُ لِي جَارِيَةٌ قَالَ أَنْكِحُوا الْغُلَامَ الْجَارِيَةَ وَأَنْفِقُوا عَلَى أَنْفُسِكُمَا مِنْهُ وَتَصَدَّقَا

د همام بن منبه نه روايت دے دا هغه حديثونه دي کوم چه ابوهريره بيان کړي دي مونږ ته د جناب رسول خدا ﷺ نه ئے اوريدلي دي بيائے بيان کړل څو احاديث. د هغو نه يو دا هم وو چه جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائيل يو سړي د بل سړي نه زمکه واخسته. پس چا چه زمکه اخستے وه هغه د سروزرو منګوټے په هغے کښې بياموندو. پس د زمکے اخستونکی (خرڅونکی ته) اووے تۀ خپله زمکه واپس واخله ما خو ستا نه زمکه اخستے ده. سرۀ زر مے نۀ دي اخستي. چا چه دغه زمکه خرڅه کړے وه هغۀ اووے ما په تا زمکه خرڅه کړے ده او څۀ چه پکښې وو هغه هم (نو سرۀ زر هم ستا دي سبحٰن الله! خرڅونکے او اخستونکے څومره د ښۀ نيت او ايماندارئ خاوندان وو) بيا دواړو د يو بنده نه فيصله اوغوښته. هغۀ اووے ستاسو اولاد شته؟ يو اووے څما يو هلك شته. بل اووے څما يو لور شته دے هغۀ اووے ښه دے هلك نکاح د دغه جينئ سره اوکړئ. او دغه سرۀ زر به په دواړو باندے خرچه کړئ. او د خدائے تعالی په لاره کښې ئے هم ورکړئ (غرض دا چه صلحه ئے اوکړه ورله او دا مستحب دي د دے دپاره چه دواړه خوشحاله شي)

كِتَابُ اللُّقَطَةِ

د پريوتى څيز د بيامومندو مسئلے

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ اعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلَّا فَشَأْنَكَ بِهَا قَالَ فَضَالَّةُ الْغَنَمِ قَالَ لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ قَالَ فَضَالَّةُ الْإِبِلِ قَالَ مَا لَكَ وَلَهَا مَعَهَا سِقَاؤُهَا وَحِذَاؤُهَا تَرِدُ الْمَاءَ وَتَأْكُلُ الشَّجَرَ حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا قَالَ يَحْيَى أَحْسِبُ قَرَأْتُ عِفَاصَهَا

د زيد بن خالد جهنى نه روايت دے چه يو سړے د جناب رسول خدا ﷺ خواله راغے. او تپوس ئے اوكړو د لقطے په باره كښں. حضرت ﷺ اوفرمائيل چه اوښايه (اعلان وكړه) د هغے تهيلئ او د هغے سَر د يو كاله پورے. بيا كۀ څوک راشى د هغے مالک راغے نو ورته ئے كړے. ورنه تاته اختيار دے (كۀ غواړے نو ځان له ئے اولګوه) بيائے تپوس اوكړو د هيرے وركے شوے بيا موندلے بزے څۀ حكم دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل هغه خوستا دے يا ستا د رور دے يا د شرمخ دے. بيا هغه تپوس اوكړه. د ورک شوى بيا موندلى اوښ څۀ حكم دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل د هغۀ نه ستا څۀ مطلب دے د هغۀ سره د هغۀ مشک دے (په ګيډه كښں چه په هغے كښں د څو ورځو اوبۀ ډكوى) او د هغۀ پيزار هم د هغۀ سره دے. اوبۀ څښى. اونه خورى تردے پورے چه د هغۀ مالک هغۀ له راومومى[1]

[1] نووى وائى لقطه يعنى د پريوتى څيز اوچتول واجب دى يا مستحب دى په دے كښں د علماؤ اختلاف دے. ليكن صحيح دا دے چه واجب دى. او دريم قول دا دے چه كچرے هغه ځائے داسے وى چه هلته امن وى نو اوچتول ئے مستحب دى ورنه واجب دى. دا دے دپاره چه د مسلمانان مال تلف نۀ شى. او ديو كاله پورے هغے لره ښودل او شناخت كول واجب دى بالاتفاق كچرے هغه كمزورے شوے نۀ وى. او د اهله دى چه د اوچتولو والانيت د هغے د مالک كيدو وى. او كۀ صرف د حفاظت نيت ئے وى د هغے د مالک د پيدا كيدو پورى نو شناخت واجب نۀ دے. او صحيح دا ده چه په دغه صورت كښں هم واجب دے دا دے دپاره چه د هغے مالک پيدا شى. او د كمزورى شى دپاره دومره ورځے خودل كافى دى چه يقين راشى چه اوس د هغے مالک نۀ راځى او د ښودلو صورت دا دے چه كوم ځائے دغه څيز ميلاؤ شوے دے هلته او په بازارونو او جماعتونو او مجمعو كښں آواز اوكړى چه كۀ د چا نه څۀ شے ورک شوے وى هغه د ما خواله راشى. بيا كۀ څوک راشى د مودے دننه د هغے مالک راشى او خپل شے اوپيژنى نو هغه شے به هغۀ ته حواله كړے شى. دغه شان كچرے د وخت تيريدو نه پس راشى. مګر د موندلو والانه په خپل ملک كښں د داخلولو نه مخكښں كچرے په هغے كښں زياتوالے راغلے وى لكه څورب والے يا اولاد وغيره نو دے سره به ئے حواله كړى. او كچرے يو سړے راشى او خپله دعوه ثابته نۀ كړى او موندونكے ئے كچرے تصديق او نۀ كړى نو وركول ئے صحيح نۀ دى. او كۀ تصديق ئے اوكړو نو وركول ئے صحيح دى. او د كومے

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ عَرِّفْهَا سَنَةً ثُمَّ اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمَّ اسْتَنْفِقْ بِهَا فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَضَالَّةُ الْغَنَمِ قَالَ خُذْهَا فَإِنَّمَا هِيَ لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَضَالَّةُ الْإِبِلِ قَالَ فَغَضِبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ أَوِ احْمَرَّ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ مَا لَكَ وَلَهَا مَعَهَا حِذَاؤُهَا وَسِقَاؤُهَا حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا

د زید بن خالد جهنیؓ نه روایت دے چه یو سړی د جناب رسول خدا ﷺ نه د موندلی شوی څیز په باره کښې تپوس اوکړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل د یو کاله پورے د هغے خودنه کوه. بیائے اوپیژنه او کیږده ئے د هغے سَر او د هغے تهیلئ (دا دویمه پیژندګلی ده د یو کال نه پس دے دپاره کچرے مالك ئے راشي نو دا به اوپیژني نو تاوان به ورکړم او یوه پیژندګلی د موندلو نه پس ده د مالك د لټون دپاره) بیا خرچ کړه هغے لره بیا کچرے مالك ئے راشي نو ادائے کړه هغهٔ لره. یو سړی عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! د نادرکے بزے څهٔ حکم دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه اونیسه ستا دپاره ده یا ستا د رور دپاره یا د شرمخ دپاره ده. بیائے اووے څهٔ حکم دے. د اوښ په ره کښې ددے په اوریدو سره رسول الله ﷺ په غصه شو تردے پورے چه د هغوی د مخ مبارك رنګ سُور شو. روستو ددے نه ئے اوفرمائیل د اوښ سره ستا څهٔ کار دے د هغهٔ سره د هغهٔ پیزار وی مشك وی تردے پورے چه د هغهٔ مالك ته هغه میلاؤ شی.

عَنْ يَزِيدَ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ يَقُولُ أَتَى رَجُلٌ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ إِسْمَعِيلَ بْنِ جَعْفَرٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَاحْمَارَّ

د زید بن خالد جهنی نه روایت دے چه یو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے. مخکښې د اسمٰعیل راوی د حدیث پشان ذکر کړو. مګر په دے کښې دادی چه د حضرت ﷺ مخ او تندے سُور شو او حضرت ﷺ غصه

چه ګواه قائم نهٔ وی د هغه وخته پورے به موندلو والا مجبوره کولے نهٔ شی. دا هر څهٔ د هغے پورے دی چه موندلو والا د هغے مالك شوے نهٔ وی. لیکن کهٔ د کاله پورے ئے اوښائی او مالك ئے میلاؤ نهٔ شی نو موندلو والا لره اختیار دے خواه کهٔ هغے لره پخپل حفاظت کښې همیشه ساتی یا د هغے مالك جوړیږی کهٔ امیر وی یا غریب. او د مالك جوړیدلو دا شکل دے چه په ژبه سره اووائی زهٔ دے مالك شوم یا په هغے کښې تصرف اوکړی. یا صرف نیت د ملك اوکړی. اوس کهٔ ددے نه پس چرے مالك راشی نو هغه شے به د قبل زیاتوالی سره اخلی او کچرے روستو د مالك کیدو نه هغه شے د موندونکی سره تلف شی نو د هغے تاوان به لازم وی. او د داؤد په نز به لازم نهٔ وی. او په بزه او اوښ کښې حضرت فرق اوکړو د څهٔ دپاره چه بزه د حفاظت محتاجه ده او اوښ محتاج نهٔ دے. پس کچرے بزه واخلی او د کاله پورے ئے اوښائی او د هغے نه پس ئے حلاله کړه او اوئے خوړه. بیائے مالك راغے نو تاوان به ئے ورکوی. د ابوحنیفه او مالك په نز به پرے تاوان نهٔ وی (انتهٰی مختصراً)

وَجْهُهُ وَجَبِينُهُ وَغَضِبَ وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ لَمْ يَجِئْ صَاحِبُهَا كَانَتْ وَدِيعَةً عِنْدَكَ

شو. او زیات ئے کړو دا د ے نه روستو چه یو کال پور ے بنایه که چر ے دا د ے مالك راغ ے نو هغه به ستاسره امانت وی.

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ صَاحِبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اللُّقَطَةِ الذَّهَبِ أَوِ الْوَرِقِ فَقَالَ اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ لَمْ تَعْرِفْ فَاسْتَنْفِقْهَا وَلْتَكُنْ وَدِيعَةً عِنْدَكَ فَإِنْ جَاءَ طَالِبُهَا يَوْمًا مِنَ الدَّهْرِ فَأَدِّهَا إِلَيْهِ وَسَأَلَهُ عَنْ ضَالَّةِ الْإِبِلِ فَقَالَ مَا لَكَ وَلَهَا دَعْهَا فَإِنَّ مَعَهَا حِذَاءَهَا وَسِقَاءَهَا تَرِدُ الْمَاءَ وَتَأْكُلُ الشَّجَرَ حَتَّى يَجِدَهَا رَبُّهَا وَسَأَلَهُ عَنِ الشَّاةِ فَقَالَ خُذْهَا فَإِنَّمَا هِيَ لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ

د زید بن خالد جهنی نه روایت د ے چه صحابی وو د جناب رسول الله ﷺ وائی چه تپوس اوکړ ے شو د رسول الله ﷺ نه د موندلی څیز په باره کښ. حضرت ﷺ اوفرمائیل د هغ ے سر او تهیلئ د پیژندو دپاره کیږده. بیا د پوره کاله پور ے د خلقو نه ئ ے معلومات کوه. کچر ے چا اونه پیژندو نو خرچ ئ ے کړه. لیکن هغه به ستا سره امانت وی (او د لګولو نه روستو هر کله چه د هغ ے مالك راغ ے نو تاوان به ورکول وی) بیا چه هر کله د هغ ے مالك په کومه ورځ چه هم راغ ے نو هغ ه ته ئ ے ورکړه او د اوښ په باره کښ ئ ے تپوس اوکړو کوم چه نادرکه ورك شو ے وی. حضرت ﷺ اوفرمائیل د هغ ے سره ستا څ ه کار د ے؟ د هغ ه سره د هغ ه پیزار د ے مشك د ے اوب ه څښنی او د اونو پاڼ ے خوری ترد ے پور ے چه د هغ ه مالك اوموم ی هغ ه لره. او د بز ے په باره کښ حضرت ﷺ اوفرمائیل هغ ے لره اخله ول ے چه بزه خوستا ده یا ستا د رور ده یا د شرمخ ده.

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ضَالَّةِ الْإِبِلِ زَادَ رَبِيعَةُ فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِنَحْوِ حَدِيثِهِمْ وَزَادَ فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَعَرَفَ عِفَاصَهَا وَعَدَدَهَا وَوِكَاءَهَا فَأَعْطِهَا إِيَّاهُ وَإِلَّا فَهِيَ لَكَ

د زید بن خالد جهنی نه روایت د ے چه یو سړی د نبی ﷺ نه د ورك شوی اوښ په باره کښ تپوس اوکړو نو نبی ﷺ غصه شو ترد ے پور ے چه حضرت ﷺ اننګی سرۀ شو. مخکښ د پورته حدیثونو پشان حدیث د ے. او په د ے کښ دومره زیاته ده چه هر کله د د ے مالك راشی او اوئ ے پیژنی تهیلئ لره او شمار لره او پتئ لره نو ورئ ے کړه هغ ۀ له. او که چر ے اوئ ے نۀ پیژند ے شو نو هغه ستا د ے.

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ عَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ لَمْ تُعْتَرَفْ فَاعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا ثُمَّ كُلْهَا فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ

د زید بن خالد جهنی نه روایت دے. د جناب رسول خدا ﷺ نه تپوس اوکړے شو د موندلی شوی څیز په باره کښې. حضرت ﷺ اوفرمائیل د یو کاله پورے ئے معلومات کوه. بیا کچرے څوك ئے نهٔ پیژنی نو د هغے تهیلۍ او پتۍ یاده ساته. او خوره ئے (یعنی خرچ کوه ئے) هر کله چه د هغے مالك راشی نو بیا ورته ورکړه.

عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ عُثْمَانَ بِهٰذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ فَإِنِ اعْتُرِفَتْ فَأَدِّهَا وَإِلَّا فَاعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا وَعَدَدَهَا

د ضحاك بن عثمان نه په دے اسناد سره پورتنے مضمون دے او په دے حدیث کښې دا هم دی چه کچرے څوك ئے اوپیژنی نو ورئے کړه هغهٔ ته او کهٔ اونهٔ پیژندہ نو یاده ساته د هغهٔ پتۍ او د هغے تسمه او د هغهٔ تهیلۍ او د هغے شمار.

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ قَالَ سَمِعْتُ سُوَيْدَ بْنَ غَفَلَةَ قَالَ خَرَجْتُ أَنَا وَزَيْدُ بْنُ صُوحَانَ وَسَلْمَانُ بْنُ رَبِيعَةَ غَازِينَ فَوَجَدْتُ سَوْطًا فَأَخَذْتُهُ فَقَالَا لِي دَعْهُ فَقُلْتُ لَا وَلٰكِنِّي أُعَرِّفُهُ فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهُ وَإِلَّا اسْتَمْتَعْتُ بِهِ قَالَ فَأَبَيْتُ عَلَيْهِمَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ غَزَاتِنَا قُضِيَ لِي أَنِّي حَجَجْتُ فَأَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَلَقِيتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ فَأَخْبَرْتُهُ بِشَأْنِ السَّوْطِ وَبِقَوْلِهِمَا فَقَالَ إِنِّي وَجَدْتُ صُرَّةً فِيهَا مِائَةُ دِينَارٍ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُ بِهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَرِّفْهَا حَوْلًا قَالَ فَعَرَّفْتُهَا فَلَمْ أَجِدْ مَنْ يَعْرِفُهَا ثُمَّ أَتَيْتُهُ فَقَالَ عَرِّفْهَا حَوْلًا

د حضرت سلمه بن کهیل نه روایت دے چه ما د سوید بن غفله نه اوریدلی دی هغه وئیل زهٔ او زید بن صوحان او سلمه بن ربیعه جهاد ته اووتلو. ما یوه کوړه په لاره کښې پریوتے اوموندہ. هغه مے اوچته کړه. زید او سلمان اووے اوغورځوه. ما اووے نهٔ غورځوم. بلکه زهٔ به ددے معلومات کوم. پس کچرے ددے مالك راغے نو ورېئ کړم او کهٔ پیدا نشو مالك ئې نو پخپل کار کښې به ئے اولګوم. هغوی وئیل چه اوغورځوه خو مانهٔ منل. مونږ چه د جهاد نه واپس شو نو په اتفاق سره ما حج اوکړو او مدینے ته لاړم. هلته د اُبیٔ بن کعب سره میلاؤ شوم ما هغوی ته د کوړے حال بیان کړو او څهٔ چه زید او سلمان وئیلی وو. هغوی اووے ما یوه تهیلۍ اوموندہ د سلو اشرفو د جناب رسول خدا ﷺ په زمانه مبارکه کښې. ما هغے لره د حضرت ﷺ خواله راوړه. حضرت ﷺ اوفرمائیل د کاله پورے ددے د مالك معلومات کوه. ما معلومات اوکړل څوك پیژندولو والا میلاؤ نهٔ شو. بیا زهٔ د حضرت خواله راغلم. حضرت اوفرمائیل یو

فَعَرَّفْتُهَا فَلَمْ أَجِدْ مَنْ يَعْرِفُهَا ثُمَّ أَتَيْتُهُ فَقَالَ عَرِّفْهَا حَوْلًا فَعَرَّفْتُهَا فَلَمْ أَجِدْ مَنْ يَعْرِفُهَا فَقَالَ احْفَظْ عَدَدَهَا وَوِعَاءَهَا وَوِكَاءَهَا فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلَّا فَاسْتَمْتِعْ بِهَا فَاسْتَمْتَعْتُ بِهَا فَلَقِيتُهُ بَعْدَ ذَلِكَ بِمَكَّةَ فَقَالَ لَا أَدْرِي بِثَلَاثَةِ أَحْوَالٍ أَوْ حَوْلٍ وَاحِدٍ

کال ئے نور معلومات کوه. ما بیا معلومات اوکړل .څوك میلاو نه شو. آخر حضرت ﷺ اوفرمائیل دے لره شمار کره او ددے تهیلئ او سرپوخ په زړهٔ کښ یاد اوساته. پس کهٔ مالك ئے راغے نو خیر . گنی پخپل خرچ کښ ئے اولگوه. ما هغے لره خرچه کړو. راوی ته شك دے په دے حدیث کښ چه د درے کالو د معلوماتو دپاره ئے اوفرمائیل یا د یو کال دپاره.

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ أَوْ أَخْبَرَ الْقَوْمَ وَأَنَا فِيهِمْ قَالَ سَمِعْتُ سُوَيْدَ بْنَ غَفَلَةَ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ زَيْدِ بْنِ صُوحَانَ وَسَلْمَانَ بْنِ رَبِيعَةَ فَوَجَدْتُ سَوْطًا وَاقْتَصَّ الْحَدِيثَ بِمِثْلِهِ إِلَى قَوْلِهِ فَاسْتَمْتَعْتُ بِهَا قَالَ شُعْبَةُ فَسَمِعْتُهُ بَعْدَ عَشْرِ سِنِينَ يَقُولُ عَرَّفَهَا عَامًا وَاحِدًا

د سلمه بن کهیل نه روایت دے هغوی وئیلی دی چه سوید بن غفله وئیلی دی چه زهٔ د زید بن صوحان او سلمان بن ربیعه سره اووتم نو ما یو چابك اوموندهٔ. مخکښ د پورته حدیث پشان دے. شعبه وئیلی دی چه ما سلمه لره لس کاله روستو دا وئیلے واوریده چه د لسو کالو پورے دے لره ښایه[1].

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُقَطَةِ الْحَاجِّ

د عبد الرّحمٰن بن عثمان تیمی رضی الله عنه نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ منع فرمائیلے ده د حاجیانو د پریوتلی څیز د اخستلو نه[2].

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ آوَى ضَالَّةً فَهُوَ ضَالٌّ مَا لَمْ يُعَرِّفْهَا

د زید بن خالد جهنی نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی چا چه ورك شوے څیز اوساتلو نو هغه گمراه دے د کومے پورے چه ئے د هغے د مالك معلومات نهٔ وی. (ددے نه معلومه شوه چه دموندلی څیز رَسول او ښودل ضروری دی)

بَابُ تَحْرِيمِ حَلْبِ الْمَاشِيَةِ بِغَيْرِ إِذْنِ مَالِكِهَا

باب : د څاروی پئ لوشل بغیر د مالك د اجازت نه حرام دی

[1]: امام نووی وئیلی دی په کومو روایتونو کښ چه د دریو کالو پورے د معلومات کولو دپاره نقل کړے شوے دی دا د راوی غلطی ده. یا تر دریو کالو پورے معلومات کول افضل دی. مگر د علماؤ اتفاق دے په دے خبره د یو کال پورے معلومات کول کافی دی.

[2]: د ملك په وجه نه، په واسطه د حفاظت (نووی)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحْلُبَنَّ أَحَدٌ مَاشِيَةَ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِهِ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تُؤْتَى مَشْرُبَتُهُ فَتُكْسَرَ خِزَانَتُهُ فَيُنْتَقَلَ طَعَامُهُ إِنَّمَا تَخْزُنُ لَهُمْ ضُرُوعُ مَوَاشِيهِمْ أَطْعِمَتَهُمْ فَلَا يَحْلُبَنَّ أَحَدٌ مَاشِيَةَ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِهِ

د عبد الله بن عمر نه روايت دے چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائيلي دي ستاسو نه دِ څوك د بل د څاروی پئ نهٔ لوشی مګر د هغهٔ په اجازت سره. آيا په تاسو کښې څوك دا غواړی چه د هغهٔ کوټے ته دِ څوك راشی او د هغهٔ خزانه ماته کړی او د هغهٔ د خوراك غله رااوباسی يوسی. دغه شان د څاروو په غولانځه کښې د هغوی خزانے دی د خوراك دپاره. نو څوك دِ نهٔ لوشی د چا د څاروی نه پئ بغير د هغهٔ د اجازت نه (مګر څوك چه د لوږے نه مری هغه په قدر د ضرورت د بل خوراك بغير د اجازت نه خوړلے شی. ليکن د قيمت ورکول به پرے لازم وی. او د څنے سلفو او محدثينو په نزد دا نهٔ لازميږی. کچرے مرداره هم موجود وی نو په دے کښې اختلاف دے د څنو په نزد دِ مرداره اوخوری او د څنو په نزد دِ د بل خوراك لره اوخوری)

بَابُ الضِّيَافَةِ

باب: د ميلمستيا بيان

عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْعَدَوِيِّ أَنَّهُ قَالَ سَمِعَتْ أُذُنَايَ وَأَبْصَرَتْ عَيْنَايَ حِينَ تَكَلَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ جَائِزَتَهُ قَالُوا وَمَا جَائِزَتُهُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ يَوْمُهُ وَلَيْلَتُهُ وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ فَمَا كَانَ وَرَاءَ ذَلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ عَلَيْهِ وَقَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ.

د ابوشريح عدوی نه روايت دے وائی چه څما غوږونو اوريدلی دی او څما سترګو ليدلی دی. هر کله چه جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائيل. څوك چه يقين لری په الله تعالی باندے او په ورځ د قيامت باندے هغهٔ له پکار دی چه د تکلف سره د خپل ميلمه عزت مدار اوکړی. خلقو اووے تکلف به د کومے پورے کوی يا رسول الله! حضرت ورته اوفرمائيل تکلف د يوے شپے ورځے پورے دے (يعنی د يوے شپے ورځے پورے پرے د خپل طاقت مناسب ښهٔ خوراك خوړل پکار دی) او ميلمستيا د درے ورځو پورے ده (يعنی دوه ورځے پرے د معمول مطابق خوړل پکار دی) بيا د دے نه پس ميلمستيا ورکول صدقه ده. او څوك چه يقين لره په الله تعالی او په ورځ د قيامت

عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ وَجَائِزَتُهُ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ وَلَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ مُسْلِمٍ أَنْ يُقِيمَ عِنْدَ أَخِيهِ حَتَّى يُؤْثِمَهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ يُؤْثِمُهُ قَالَ يُقِيمُ عِنْدَهُ وَلَا شَيْءَ لَهُ يَقْرِيهِ بِهِ

باندے هغهٔ له پکار دی چه نیکے خبرے کوی یا چُپ پاتے شی [۱].

د ابوشریح خزاعی نه روایت دے چه جناب رسول خدا ﷺ فرمائیلی دی چه میلمستیا د درے ورځو پورے ده او تکلف ئے د یوے شپے او یوے ورځے پورے دے. او هیڅ یو مسلمان لره دا جائز نه ده. چه د خپل رور سره پاتے شی تر دے پورے چه هغه په گناه کښں اخته کړی. صحابوؓ عرض اوکړو چه یا رسول اللهؐ! څنګه به هغه ګنهګار کوی؟ حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه د هغهٔ سره حصار شی او د هغهٔ سره د خوراك دپاره څهٔ نهٔ وی [۲].

عَنْ شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيِّ يَقُولُ سَمِعَتْ أُذُنَايَ وَبَصُرَ عَيْنِي وَوَعَاهُ قَلْبِي حِينَ تَكَلَّمَ بِهِ رَسُولُ اللهِ

د شریح خزاعی نه روایت دے هغهٔ وئیل چه څما غوږونو واوریدل او څما سترګو اولیدل او څما زړهٔ یاد اوساتل د پورتنی حدیث پشان

---

[۱]: نووی وئیلی دی دا دے حدیث نه د میلمستیا تاکید وتلے دے. او د شافعی او مالك او ابوحنیفه او د جمهورو علماؤ دا قول دے. چه میلمستیا سنت ده واجب نهٔ ده. لیکن د لیث او امام احمد په نز د یوے شپے او د یوے ورځے پورے واجب ده. او امام احمدؒ وئیلی دی چه میلمستیا واجب ده د ځنګل او کلی په اوسیدونکو باندے (چه هلته مسافرو ته په بازار کښں غله نهٔ شی میلاویدے) او د ښار په اوسیدونکو باندے واجب نهٔده.

دا حدیث شریف داسے عمده دے چه په دے باندے په عمل کولو سره انسان د ټولو افتونو او بلاګانو نه محفو پاتے کیږی. او دا حدیث د اخلاقو د علم جرړه ده. د اخلاقو علم د انسان د روح صحیح کولو دپاره ضروری دے. لکه څنګه چه د طب علم د بدنی صحت د حاصلولو دپاره ضروری دے. ټولے د شر او بدے خبرے او آفتونه د انسان د حرکتونو نه پیدا کیږی. ازماست که برماست. او د حرکاتو مصدر غالباً څلور څیزونو نه دی. ژبه، لاسونه او خپے او شرمګاه. پس چا چه د دے څلورو لره د عقل سلیم او شرع مستقیم په قابو کښں اوساتلو هغه مراد ته اورسیدو او د ټولو اخلاقو خلاصه په یوه جمله کښں موجود ده. او هغه دا ده چه یو حرکت د ژبے یا د بدن علاوه د فکر او غور او د مطابقت شرعی نه او نهٔ کړے شی. د کومے پورے چه بنیادم خاموشه وی نو څهٔ فکر نشته. او چرته چه څهٔ خبره کول غواړی یا څهٔ کار کول غواړی نو مخکښں سوچ کول ضروری دی چه په دے خبره یا کار کښں څهٔ خرابی اوس یا بیا خو به نهٔ پیدا کیږی کچرے په غوره سره دا امر ثابت شی نو پرواه نشته دے په شرط د دے چه د هغے خبرے یا کار ضرورت وی ورنه په هر حال خاموشی او آرام غوره دے. بس.

[۲]: هر کله چه میلمه حصار شی او د کوربه په کور کښں څهٔ نهٔ وی نو خامخا به د دغه میلمه غیبت کوی چه غټ بے حیا انسان دے یا به د چرته نه حرام خوراك راوړی او په دهٔ به ئے خوری. په هر حال به ګنګاریږی. غرض دا چه د درے ورځو نه زیات په میلمستیا کښں پاتے کیدل جائز نهٔ دی. البته کچرے کوربه ئے پخپله خوښه پاتے کړی یا دا یقین وی چه د دے نه په زوالتو پاتے کیدو سره هغه نهٔ خفه کیږی نو بیا څهٔ قباحت نشته دے. (نووی)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيثِ اللَّيْثِ وَذَكَرَ فِيهِ وَلَا يَحِلُّ لِأَحَدِكُمْ أَنْ يُقِيمَ عِنْدَ أَخِيهِ حَتَّى يُؤْثِمَهُ بِمِثْلِ مَا فِي حَدِيثِ وَكِيعٍ

نې ذکر کړو. او په دې کښې ئې دا ذکر اوکړو په تاسو کښې هيچا له جائز نه دی د خپل رور سره (په طور د ميلمه) دومره پاتې شي چه دهٔ لره ګنهګار کړی. مخکښې د وکيع د حديث پشان دے.

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّهُ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّكَ تَبْعَثُنَا فَنَنْزِلُ بِقَوْمٍ فَلَا يَقْرُونَنَا فَمَا تَرَى فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ نَزَلْتُمْ بِقَوْمٍ فَأَمَرُوا لَكُمْ بِمَا يَنْبَغِي لِلضَّيْفِ فَاقْبَلُوا فَإِنْ لَمْ يَفْعَلُوا فَخُذُوا مِنْهُمْ حَقَّ الضَّيْفِ الَّذِي يَنْبَغِي لَهُمْ

د عقبه بن عامر نه روايت دے چه مونږ عرض اوکړو چه يا رسول اللهﷺ تاسو چه مونږ ليږئ، بيا مونږ کوز شو د يو قوم سره، هغه زمونږ ميلمستيا نهٔ کوی. حضرتﷺ اوفرمائيل. کچرے تاسو يو قوم ته راکوز شئ او هغوی ستاسو دپاره هغه سامان تيار کړی کوم چه ميلمه دپاره تيارول پکار وی نو تاسو ئې قبول کړئ. کهٔ چرے هغوی او نهٔ کړی نو د هغوی د ميلمستيا حق څنګه چه هغوی لره پکار وو ترے واخلئ[1]

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمُؤَاسَاةِ بِفُضُولِ الْمَالِ

باب: د خپل حاجت نه زياتی مال د خپل رور مسلمان رور په همدردئ کښې خرچ کول مستحب دی

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى رَاحِلَةٍ لَهُ قَالَ فَجَعَلَ يَصْرِفُ بَصَرَهُ يَمِينًا وَشِمَالًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا ظَهْرَ لَهُ وَمَنْ كَانَ لَهُ فَضْلٌ مِنْ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا زَادَ لَهُ قَالَ فَذَكَرَ مِنْ

د ابوسعيد خدری نه روايت دے فرمائی چه مونږه په سفر کښې د جناب رسول خداﷺ سره وو چه په دے کښې يو سړے په اوښه باندے سور د حضرتﷺ خواله راغے او ښی طرفته ئې کتل. جناب رسول خداﷺ اوفرمائيل د چا سره چه سوا سورلئ وی هغه دِ ورکړی هغه چا ته د چا سره چه سورلئ نشته. او د چا سره چه زياتی توښه وی هغه دِ ئې ورکړی هغه چا ته د چا سره چه توښه نشته بيا حضرتﷺ د ډير قسمه مال بيان اوکړي تر دے پورے چه مونږ په

---

[1]: امام احمد او ليث د دے حديث لره په خپل ظاهر باندے ايخے دے او جمهورو تاويل کړے دے. چه دا حديث د مضطر په باب کښې دے چه هغه د لوږے د وجے نه مر کيږی. نو د هغهٔ ميلمستيا واجب ده. کچرے خلق ئې نهٔ کوی. نو هغه د د خپل حاجت موافق د هغوی د مال نه په زور واخلی. يا مراد دا دے چه تاسو د هغوی نه حق وصول کړئ په ژبه سره د هغوی شکايت بيان کړی. يا دا حديث په اول د اسلام کښې وو د ميلمه ميلمستيا واجب وه. روستو د هغے نه شوه. حضرت صلح کړےوه د کافرو سره په دے شرط چه هغوی به ميلمستيا کوی د مسلمانانو. بيا هم دا دواړه تاويلونه کمزوری او باطل دی. ځکه چه د نسخ څهٔ دليل پکار دے. او صلح په دے شرط د حضرت عمر په زمانه کښې اوشوه نهٔ د حضرت په زمانه کښې. (نووی)

أَصْنَافِ الْمَالِ مَا ذَكَرَ حَتّٰى رَأَيْنَا أَنَّهُ لَا حَقَّ لِأَحَدٍ مِنَّا فِي فَضْلٍ

بَاب اسْتِحْبَابِ خَلْطِ الْأَزْوَادِ إِذَا قَلَّتْ وَالْمُؤَاسَاةِ فِيهَا

عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ فَأَصَابَنَا جَهْدٌ حَتّٰى هَمَمْنَا أَنْ نَنْحَرَ بَعْضَ ظَهْرِنَا فَأَمَرَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَمَعْنَا مَزَاوِدَنَا فَبَسَطْنَا لَهُ نِطَعًا فَاجْتَمَعَ زَادُ الْقَوْمِ عَلَى النِّطَعِ قَالَ فَتَطَاوَلْتُ لِأَحْزِرَهُ كَمْ هُوَ فَحَزَرْتُهُ كَرَبْضَةِ الْعَنْزِ وَنَحْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً قَالَ فَأَكَلْنَا حَتّٰى شَبِعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ حَشَوْنَا جُرُبَنَا فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَلْ مِنْ وَضُوءٍ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ بِإِدَاوَةٍ لَهُ فِيهَا نُطْفَةٌ فَأَفْرَغَهَا فِي قَدَحٍ فَتَوَضَّأْنَا كُلُّنَا نُدَغْفِقُهُ دَغْفَقَةً أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً قَالَ ثُمَّ جَاءَ بَعْدَ ذٰلِكَ ثَمَانِيَةٌ فَقَالُوا هَلْ مِنْ طَهُورٍ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

دے پوهه شو چه په مونږ کښې د یو کس حق نشته دے په هغه مال کښې چه هغه د دوی د حاجت نه سوا وی[1]

باب: هر کله چه توښے کمے وی نو تولے توښے یو ځائے کول مستحب دی

د ایاس بن سلمهؓ نه روایت دے هغوی اوریدلی دی د خپل پلار نه. هغوی فرمائی چه مونږ د جناب رسول خدا ﷺ سره اووتلو په یو جنګ (یعنی غزا کښې) هلته مونږ ته (د خوړلو څښلو) تکلیف شو تر دے پورے چه مونږ اراده اوکړه د سورلو د قربانی کولو پس نبی کریم ﷺ حکم اوکړو. نو مونږ خپلے توښے راجمع کړے او یوه څرمن مو او غوړوله او په هغے دپاسه مونږ د تولو خلقو توښه جمع کړه. سلمه وائی زهٔ وړاوړد شوم د هغے د ناپ کولو دپاره نو ناپ مے کړو هغه دومره وو لکه په څومره ځائے کښې چه بزه کیښنی. او مونږ خلق (د لښکر) څوارلس سوه کسان وو. او بیا دغه زمونږ ملګرو ښه په مړه ګیډه اوخوړه. او د خوراك نه پس ئے خپل خپل د توښے لوښی هم ډك کړلو. بیا رسول خدا ﷺ اوفرمائیل. د اودس کولو دپاره اوبهٔ شته یو سړی په یو ډول کښې لږے شان اوبهٔ راوړے راغے. حضرت ﷺ هغے لره په یو منګی کښې واچولے. او مونږ تولو خلقو په هغه اوبو سړه اودس اوکړو او ښهٔ به مو بیهولے. د څوارلس سوه کسانو د اودس نه پس اتهٔ سوه کسان نور راغلل او هغوی اوویے د اودس دپاره اوبهٔ

[1] بلکه هغه مال د هغه مسلمان حق دے چا ته چه د هغے حاجت وی او دا حکم استحباباً دے نهٔ وجوباً ځکه چه په بل حدیث شریف کښې راغلی دی چه په مال کښې د زکوٰة نه سوا بل حق نشته دے.

وَسَلَّمَ فَرَغَ الْوَضُوءُ	شته جناب رسول خدا ﷺ اوفرمائيل اودس اوشو [1]

تَمَّتِ الْجِلْدُ الثَّانِيْ بِالْخَيْرِ

۵ صفر ۱۴۳۲ھ

بمطابق ۹ جنوری ۲۰۱۱ء

پښتو مترجم

ستاسو خیر اندیش

حبيب الرحمٰن عفی عنه

پوهان کالونی مردان

ناشر: تاج کمپنی پېښور

[1] : امام نووي ونيلي دي چه په دے حديث شريف كښې د جناب نبي كريم دوه معجزے دي. يو خو د غلے زياتيدل او دويم د اوبو سوا كيدل. مازري ونيلي دي دا معجزه په دے شان سره وه چه كومجز د غلے يا د اوبو به صرف كيدو الله تعالى به د هغے عوض دويم جُز بل پيدا كولو تردے پورے چه تول خلق ماړه شول. او د حضرت معجزے په دوه قسمه دي يو خو قران مجيد چه په تواتر ثابت دے. دويم لكه غله سوا كيدل يا اوبه زياتيدل يا نورے د غسے معجزے. او دا كيچرے متواتر نه دي خو معناً متواتر دي. لكه د حاتم سخاوت. يا د احنف بن قيس صبر او بله دا چه د صحابه كرامو سكوت. د داسے معجزے د بيانيدو په وخت د هغے د صحيح والي دليل دے.